تفسیر یسیر

مشهور په

فوق الیسیر

په اسانه قندهاري پښتو ژبه

تصنیف

مولوي مراد علي صاحب رحمة الله علیه

مع بین السطور و حواشي مفیده

مولوي عبدالحق صاحب وارنگي

امیر حمزه کتب خانه
کانسي روډ شالدره کوټه





Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

تفسیر یسیر

مشهور په

فوق الیسیر

په اسانه قندهاری پښتو ژبه

تصنیف

مولوی مراد علی صاحب رحمة الله علیه

مع بین السطور و حواشی مفیده

مولوی عبدالحق صاحب دارنگی

جلد اوّل

امین حمزه کتب خانه

کاسی روډ کوئټه پاکستان

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمد لله الذی علم القرآن خلق الانسان علمه البیان کی یسبحه المسبحون فی کل زمان ویمجده الممجدون فی کل مکان ویفسر کلامه المفسرون بکل لسان والصلوٰة والسلام الاتمان الاکملان علی رسوله المبعوث باشرف الادیان محمد وعلیٰ آله واصحابه اولی الفضل والاحسان وبعد فیقول العبد الضعیف النحیف الحنفی العامی احقر عباد الله المغموم الموسوم بفقیر مراد علی الکامی ولد زبدة السالکین قدوة العارفین قبلة الکاملین کعبة الواصلین زین الابرار قطب الاعصار نور الابصار العالم الربانی العالم الصمدانی سید الجیلانی سیدنا ومولانا عبد الرحمٰن السیلانی المشتہر بفقیر صاحب قدس الله سره وافاض علینا بره الذی قیل فی شانه

گوہر دُرج سعادت اختر برج کمال
بدر اوج شرع وملت آفتاب بے مثال

عالم علم شریعت عامل علم یقین
رهنمائے خلق عالم نور شمع لایزال

زبدهٔ اہل زمان وقدوهٔ اقران خویش
قبلهٔ اہل ریاضت ماحی فسق وضلال

در شریعت بر طریق مصطفیٰ ثابت قدم
در طریقت راسخ ومخمور اندر حفظ حال

در حقیقت سر بسر غواص در بحر عمیق
شاہباز معرفت مستغرق بحر وصال

شہسوار عرصہ میدان جد واجتہاد
آنکہ خوردی کاہ کوہ ودشت گشتی ہشت سال

اسپ ہمت را بمیدان ریاضت سخت تاخت
تا کہ شست از لوح قلبش نقش غیر ذی الجلال

خالقا معمور گردان قلب این عاصی مراد
از طفیلش کن قبول از من الٰہی این سوال

قد الحّ علیّ بعض الاخوان المکرمین لدیّ بین ابناء الزمان الذین لایدعنی مجالستهم ثم لایسعنی مخالفتهم ان ارقم لهم تفسیر القرآن المجید وترجمة الفرقان الحمید باللسان السلیمانی مع اختصار المبانی لیسهل علی الطالبین ضبطه ولایصعب علی الحالبین ربطه فشرعت فیه بتوفیق الملك المنان ومنه النصر والهدایة وعلیه التکلان

ابیات

خُذْ مَا تَعِبْتُ فِیْهِ بِتَوْفِیْقِ مُسْتَعَانِ
فَاللّٰهُ اَسْتَعِیْنُ فِی انْتِفَاعِنَا بِهٖ
سَمَّیْتُهٗ اَخِیْ بِتفسیر تیسیر

تَفْسِیْرُنِ اخْتَرَعْتُ بِاُعْجُوْبَةِ اللِّسَانِ
بِالْمُصْطَفٰی عَلَیْهِ مِنَ اللّٰهِ تُحْفَتَانِ
لِلْیُسْرِ فِی الْقِیٰمَةِ بِالْاَمْنِ وَالْاَمَانِ

دارم امید آن که فهمیان روزگار
زیرا که در جهان ست تفاسیر بے شمار
افراغ سال نجم شوال شد شروع

تفسیر من قبول نماید هر زمان
لیکن نه با زبان سلیمانی اند آن
تفسیر بهر زمره افغان باین زبان

ولاړ یږه اے مراده چه شپیتم دے سود اکال
بنایي چه دے د اسعیه کړی مقبوله کردګار
کوتاه وایه الفاظ چه سی اسانه پر هر چا


منګولے دی کړه مضبوطی په تفسیراو په قران
خِلعت د مغفرت کړی در په غاړه به رضوان
تقریر کوه واضح چه فائده مند سی طالبان

فائدة:۔ اول دا معلوم ول د ضرور یا تو څخه دی چه هر کله قرآن مجید او فرقان حمید یو کتاب عزیز او خطاب وجیز راغلی وه د جناب مستطاب او خالق البریات عالم الخفیات د پاره د اکرام د احبّاؤ او د الزام د اعداؤ او دے بیا مشتمل وه پر فصاحت او بلاغت او اخلاص او توحید او پر وعد او وعید او پر او امرو او نواهیو او پر اجتناب د مناهیو پر ثواب او پر عقاب پر تکریم او پر عتاب پر قصص ماضیه وو پر خصال راضیه وو پر محکبنی حال پر علم غیب بلا شك او بلا ریب او هدا سے مصئون هم وو د طرفه د رب الجلیل د تغیره د تبدیله محروس وه د جانبه د منان د هر زیادته او نقصانه

لکه چه نازل دی إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ○ یعنی هدا مونږ نازل کړی دی
دا قرآن او بیا هم دا مونږ یې ساتونکي یو د هر تغیر او تبدیله څخه بیا اصحابو کرامو رض
د پاره د تائید د دے حفظ دیارلس شیان د دے کلام عزیز په شمار کړی دی چه د
تغیر او تبدیل او د زیادت او نقصان هیڅ لاره ورته پاته نه سی او بیا په هغه دیارلسو
کښے شپږ د پاره د حفظ د درست قرآن دی او اووه د پاره د حفظ د اوصافو د حروفو
د دے قرآن د دے هغه شپږ د حفظ د قرآن دا دی چه ټول سورتونه د قرآن شریف
یو سل او څوارلس دی او سیپارې یې دیرش دی او رکوعات یې پنځه سوه څلویښت
دی او ایات یې شپږ زره شپږ سوه شپږ شپیته دی او کلمات یې اته اویا زره شپږ سوه
پنځه دیرش او حروف یې شپږ لکه شپږ دیرش زره دوه سوه درو دیرش دی او هغه
اوصاف یې دا دی چه فتحات یې یو لک دیرش زره درے سوه شپیته دی او کسرات
یې یو پنځوس زره دوه سوه شپږ اویا دی او ضمات یې د و څلویښت زره دوه سوه شپږ
اویا دی او جزمات یې دوه شپیته زره څلور سوه دوه شپیته دی او شدّات یې څلیر ویشت
زره شپږ سوه اووه نوی دی او مدّات متصل یې دوه زره یو سل او یو دی او منفصل
یې درے زره پنځلس دی او نقطات یې یو لک پنځوس زره پنځه سوه څلور شپیته دی او دا دوارلس
د پاره د اسانی د ضبط د دے اقسامو یو جدول وضع کښیښول کړه سو چه هغه دا دی

کلمات قرآن	سور قرآن	اجزاء	رکوعات	ایات
۷۸۶۳۵	۱۱۴	۳۰	۵۴۰	۶۶۶۶
حروف	فتحات	کسرات	ضمات	جزمات
۶۳۶۲۳۳	۱۳۰۳۶۰	۵۱۲۷۶	۴۲۲۷۶	۶۲۴۶۲
شدّات	مدّات متصل	مدّات منفصل	نقطات	
۲۴۶۹۷	۲۱۰۱	۳۰۱۵	۱۵۰۵۶۴	

حروف - حرفونه ۱۲ فتحات - زورونه ۱۲ کسرات - زیرونه ۱۲ ضمات - پیښونه ۱۲ جزمات - غږوندی ۱۲
شدّات - شدونه ۱۲ مدّات - مدونه ۱۲ نقطات - ټکی ۱۲ عه وضع کړه سو یعنی جوړ کړه سو ۱۲



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ ثه ثنا چه ده یعني د هرڅه پر هرڅه باندي په هر وخت کښي په هر ځای کښي لِلّٰهِ دا ټوله خاص خدای لره ده ځکه چه تقدیر (اندازه کول او مقرر ول ۱۲) د هر خیر او د هر شر دده د طرف څخه دی لوه سه بڅه پروردګار په فاتحه کښي اووه شیان ذکر کړیدي اول ذکر د نعمت دی لکه رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱﴾ چه دی د ټولو مخلوقاتو تربیت کوونکی دی په مقتضی[1] سره د حکمت بالغه دوېیم طمعه د عطیت[2] ده. لکه اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾ چه دی ورکوونکی د روح او د بدن او د رزق دی هر متنفس[3] «ساه کښونکي» لره او د جنت او د رضوان[4] او د دیدار دی خاص و مؤمنانو ته دریم تفکر[5] د عظمت دی لکه مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۳﴾ چه دی واکدار د جزا د ورځي دی یعني د قیامت څلرم خلوص د عبادت دی لکه اِيَّاكَ خاص وتاته نَعْبُدُ موږ عبادت کوو پنځم طلب د اعانت (یعني د مدد غوښتو ۱۲) دی لکه وَاِيَّاكَ او خاص د تا څخه نَسْتَعِيْنُ ﴿۴﴾ موږ مدد او کومک غواړو په دې عبادت کښي شپږم سوال د هدایت دی لکه اِهْدِنَا وموږ ته راوښیه الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۵﴾ هغه سمه لاره صِرَاطَ الَّذِيْنَ لاره د هغو کسانو اَنْعَمْتَ چه تا پېرزوینه[6] کړېده عَلَيْهِمْ ۵ پر هغو باندي اووم امید د عصمت دی غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ پر ته د هغو کسانو د لاري څخه چه په آخر کښي غضب کړه سویدی عَلَيْهِمْ پر هغوی باندي لکه یهود وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴿۷﴾ او پرته د لاري څخه د بښکیدلو لکه نصاری «یعني د سمي لاري څخه د اوښتونکو»

ع ۱

---

[1] یعني و هر شي ته هغه په تناسب سره تربیت او پرورش ورکوي ۱۲ [2] یعني امید. واري د پیشکشي او د ښو ښو شیانو ده ۱۲ [3] رحمٰن یعني د اټول تیر سوي شیان و هر ساه کښونکي ته ورکوي ۱۲ [4] رحیم یعني د رضا کیدو د الله تعالیٰ او بیا په جنت کښي د داخلولو او بیا په جنت کښي د دیدار ورکول خاص د مؤمنانو لره دي ۱۲ [5] یعني د خدای تعالیٰ په لویۍ کښي فکر کول ۱۲ [6] مراد څني لار د دین ده ۱۲ [7] یعني مشرف کړي دي دی په دین د اسلام سره ۱۲ بیان القرآن

ایاتها (۲۸۶)　سُورَةُ البَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ　رکوعها (۴۰)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓ (1) دا الٓمّٓ سره د هغو نورو اته ویشتو[28] مقطعاتو چه په اوائلو[1] کښی د نه ویشتو[29]
سورتو راغلی دی دهغو په غرض کښی متقدمینو سکوت کړیدی او داسی یې ویلی
دی چه مَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ[2] او متأخرینو نګارنګ تأویلات پکښی کړیدی بعضو ځوك
وایي چه دا د خدای[3] نومونه دی ځکه چه حضرت علی کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ به ویل یا
كٓهٰيٰعٓصٓ یا حٰمٓ عٓسٓقٓ[4] او ځوك وایي چه دا د قرآن نومونه دی ځکه چه راغلی دی
الٓرٰ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ او الٓرٰ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ[5] او ځوك وایي چه دا د خپلو خپلو سورتو
نومونه ځکه چه راغلی دی الٓمّٓ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ[6] ○ او ځوك وایي چه دا
اشارات دی وکلماتو ته لکه الف مثلاً اشارت دی ولفظ ته د اللّٰه او لام ولفظ
ته د جبرائیل او میم ولفظ ته د محمّد صلی اللّٰه علیه وسلم یعنی دا قرآن د خدای څخه راغلی دی
په واسطه د جبرائیل علیه السلام سره پر محمد علیه الصلوٰة والسلام باندی او ځوك وایي چه دا
نومونه دی د حروفو لکه الف چه نوم د اَ او لام د لِ او میم د مُ دی نو دا نومونه
اینوول سوی دی د دی سورتو په اولو سرو کښی د پاره د څو څو فائدو چه هر
یوه دلالت کوی پر اعجاز[7] د قرآن باندی اوله فائده دا ده چه دا دی اسماء (نوم)
مسمیات چه دی مادی دی د هغه کلماتو چه کلامونه ځنی جوړیږی نو بعض د دی
اسماؤ څخه د بعضی سورتو په سر وکښی راوړه سوی دی دا دی د پاره چه ومعارض

[1] په اوائل یعنی په اول سر د کښی ۱۲ [2] یعنی نه پوهیږی په معنیٰ د اول سر د سورة چه مقطعات لری مګر هم یو
اللّٰه پاك ۱۲ [3] یعنی اے خدایه ته بس یې د هر چا ۱۲ [4] یعنی اے خدایه چه ته ساتونکے یې د هر چا نو
معلوم سوه چه دا د خدای نومونه دی ۱۲ [5] او دا چه دی کتاب دی چه محکم کړه سویدی ایاتونه د ده نو معلومه
سوه چه د قرآن نومونه دی ۱۲ [6] یعنی دا سورة چه دے ایاتونه د کتاب حکم کونکی دی نو معلومه سوه چه نومونه د
سورت دی ۱۲ [7] په اعجاز د قرآن باندی یعنے په عاجز کولو د خلګو په جوړولو د بل کلام سره په مثل د دے قرآن ۱۲
وصلے اللّٰه علے النبی الکریم وآله واصحابه مصابیح الدجیٰ ۱۲

ته[۱] د اوله ټکه دا خبره معلومه سي چه دا هغه اسمآء دي چه د مسمیا تو څخه ددے
کلماتِ د قرآن شریفِ مرکب سوي او جوړي سويدي لکه د دوي عربي چه ځني جوړ
سويدي نو کچیری دا قرآن د خدای کلام نه وي نو دوے به و لي متوله عاجز وه سره
دومره فصاحته او بلاغته څېله د جوړولو څخه دیولږ عبارت چه په قدر سره
د یوه ادنیٰ سورت د قرآن وي په فصاحت او په بلاغت کښي او په اخبار کښي د غیب
څخه دویم[۲] فائده داده چه نطق په دے اسمآؤ باندی یعني آلف بَا جیم دَال ویل
مثلاً تعلیم او تعلم غواړي او دا تکلم د محض امي څخه بیله نه ده کړي یا او ریدلو
د چا څخه معجزه ده ځکه چه خرقِ عادت دي چه دریمه فائده داده چه په فواتح
(یعني و عادت څیرونکے او ماتونکے ۱۲)
دسورو شروع، کښي د دے سورتو خدای دا سے عجائب ایښي دي چه د بندهٔ عقل پې دادراکه[۲]
هم عاجزه دي نو چیری به یې دځانه څخه جوړ کړي او بعضی د هغو عجائبو څخه دا
دي چه دا مقطعات نهٔ ویشت دے چه په نهٔ ویشتو سورتو کښي راغلے دي چه په
شمار سره د تولو حروفو هجاؤ دے لیکن چه الف ورسره حساب سی او بیا چه مکرر
ځني لیري کړه سی نو څوارلس مقطعات پاته کیږي په شمار د نیمو حروفو هجاؤ
بیله آلف څخه او بل دا چه دغه تول حروف ددے مقطعاتو اته اَویا دي او چه
تکرار ځني وغورځول سی نو دغه هم څوارلس حرفه پاته کیږے په شمار د نصف
«نیمي» د حروف هجاؤ لیکن بیله الفه او بیا دغه څوارلس حروفه ددے مقطعاتو
څخه مشتمل دے پر دیرو انصافو (نیمي حصو) باندی اوّل د لسو مهموسه[۳] حروفو پر
نصف باندی چه کرار او سوکه اداء کیږي لکه تَ ثَ خَ شَ فَ حَ سَ صَ کَ هَ چه
دغه اخرنی پنځه دي دویم د نولسو حروفو مجهوره وو پر نصف اقل باندی چه په
زور سره اداء کیږے لکه آ بَ جَ دَ زَ ضَ ظَ عَ وَ رَ طَ غَ قَ لَ مَ نَ ءَ یَ چه دغه ورستني

---

[۱] چه د معارض ته د اوله ټکه یعني وجګړه کوونکي ته د قرآن سره یعني چه دعویٰ د دي خبري کوي چه زه هم بل قرآن جوړولای سم ۱۲ منه رحمه الله تعالیٰ [۲] چه د بنده عقل پې دادراکه یعني د پوهیدلو څخه پر هغو باندی ۱۲
[۳] مهموسه ماخوذ دي د همس څخه او همس د کښنهاري ته وايي ځکه چه دا حروف کرار کرار اداکیږي ۱۲

نه حروف دے ذَالِكَ دا تو شدیده وو حروفو پر نصف باندې چه سخت اداء کیږي لکه بَ تَ جَ دَ ءَ طَ قَ كَ چه دغه اخیري څلور دي او ویشتو حروفو رخوه وو پر نصف اقل باندے چه نرم اداء کیږے لکه ثَ خَ ذَ زَ شَ ضَ ظَ غَ فَ وَ اَ حَ رَ سَ صَ عَ لَ مَ نَ هَ يَ چه دغه اخیري لس دے پنځم د څلور و مطبقه وو حروفو پر نصف باندے چه په نږدې کولو سره د ژبې د تالو سره اداء کیږي لکه ضَ ظَ صَ طَ چه دغه اخیري دوه دے شپږم د یخه ویشتو حروفو منفتحه وو پر نصف اقل باندې چه خلاص اداء کیږي لکه بَ تَ ثَ جَ خَ دَ ذَ زَ شَ غَ فَ وَ ءَ اَ رَ حَ سَ عَ قَ كَ لَ مَ نَ هَ يَ چه دغه اخیري دوولس دے اووم د دوه ویشتو مستفله وو حروفو پر نصف باندے چه کښته اداء کیږي لکه اَ بَ تَ ثَ جَ دَ ذَ سَ زَ فَ وَ حَ رَ شَ عَ كَ لَ مَ نَ هَ ءَ يَ چه دغه اخیري یوولس دے اتم دا وو مستعلیه وو حروفو پر نصف اقل باندې چه پورته اداء کیږي لکه خَ ضَ ظَ غَ صَ طَ قَ چه دغه اخیرے درے دے نهم د دوو حروفو لین پر نصف باندې چه بنه نرم اداء کیږے لکه وَ يَ چه دغه يَ ده لسم د پنځو حروفو قلقله وو پر نصف اقل باندې چه په اضطراب سره د صوت اداء کیږے لکه بَ جَ دَ طَ قَ چه دغه اخیرے دوه دے څلرم فائده داده چه په دے نه ویشتو مقطعاتو کښے درے مفردات راغلے دے په درو سورتو کښے لکه صٓ قٓ نٓ او درے یکښي ثنائیات راغلي دے په نو سورتو کښے لکه طٰهٰ یٰسٓ حٰمٓ او درے ثلاثیات یکښي راغلے دي په دیارلسو سورتو کښي لکه الٓمٓ الٓرٰ طٰسٓمٓ او دوه یکښي رباعیات راغلے دے په دوو سورتو کښي لکه الٓمٓصٓ الٓمٓرٰ او دوه یکښي خماسي دے په دوو سورتو کښے لکه کٓهٰیٰعٓصٓ حٰمٓ عٓسٓقٓ او په دې پنځو قسمو کښے اشاره ده د عربي کلمو پنځو اقساموته چه هغه هم کله احادي لکه وَ بَ تَ قسمیه او کله ثنائي وي لکه فِيْ قُلْ ذَا او کله ثلاثي وي لکه لَيْتَ ضَرَبَ زَيْدٌ او کله رباعي وے

۱ لکه چه سري د قسم اخیستلو په وخت کښي وَاللّٰهِ بِاللّٰهِ تَاللّٰهِ ووایي ۱۲ ۲ او کله ثنائي وي یعني دوه حرفه وي لکه فی او قل او ذا چه دوه حرفه لري ۱۲ ۳ او کله ثلاثي وي یعني درے حرفي وي لکه لیت او ضرب او زید چه هر یو دوي شخه دري حرفه لري ۱۲ ۴ او کله رباعي وي یعني څلور حرفه لري لکه بعثر دحرج، جعفر چه په هر یوه کښي څلور څلور حرفه دي ۱۲

او تردې زیات په مجرد وکېنې د سرهٔ نه راځي او د پاره د اساني د فهم او ضبط د دې تېرو متولو اقسامو یو جدول اینبو سوی او جوړ کړه شوی دی چه هغه دا دے :-

ے مجرد د هغې کلمې ته وایئ چه متول حروف نه یے اصلي وي ۱۲

نه ویشت حروف مقطعات	د مقطعاتو حروفو د سورتو نومونه
الٓمّٓ	البقرة
الٓمّٓ	ال عمران
الٓمّٓصٓ	اعراف
الٓر	یونس
الٓر	هود
الٓر	یوسف
الٓمّٓر	رعد
الٓر	ابراهیم
الٓر	حجر
كٓهٰيٰعٓصٓ	مریم
طٰهٰ	طٰهٰ
طٰسٓمّٓ	شعراء
طٰسٓ	نمل
طٰسٓمّٓ	قصص
الٓمّٓ	عنکبوت
الٓمّٓ	روم
الٓمّٓ	لقمٰن
الٓمّٓ	السجدة
یٰسٓ	یٰسٓ
صٓ	صٓ
حٰمٓ	مؤمن
حٰمٓ	سجده
حٰمٓ عٓسٓقٓ	شوریٰ
حٰمٓ	زخرف
حٰمٓ	دخان
حٰمٓ	جاثیه
حٰمٓ	احقاف
قٓ	قٓ
نٓ	نٓ

حروف مقطعاتو بے تکراره
ء
ل
م
ص
ر
ك
ه
ی
ع
ط
س
ح
ق
ن

د حروف هجا صفتونه	هغه حروف چه په مقطعاتو کښې ذکر سوی نه دے	هغه حروف چه په مقطعاتو کښې ذکر سویدے
مهموسه ۱۰	ت ث خ ش ف	ح س ص ک ه
مجهوره ۱۹	ا ب ج د ذ ز ض ظ غ و	ر ط ع ق ك ل م ن ء ی
شدیده ۸	ب ت ج ر	ء ط ق ک
رخوه ۲۰	ث خ ذ ز ش ض ظ غ ف و	ح ر س ص ع ل م ن ه ی
مطبقه ۴	ض ظ	ص ط
منفتحه ۲۵	ب ت ث ج خ د ذ ز ش غ ف و	ا ح ر س ع ق ك ل م ن ه ی
مستفله ۲۲	ا ب ت ث ج د ذ ز ش ف و	ح ر س ع ك ل م ن ه ء ی
مستعلیه ۷	خ ض ظ غ	ص ط ق
لین ۲	و	ی
قلقله ۵	ب ج د	ط ق

فائدہ :- دا خبره دے معلومه وی چه رب العزت جل شانه تر مقطعا تو وروسته
نونس ایاتونه رالیږلے دے چه تر یٰاَیُّهَا النَّاسُ پورے دی یوٰایت په بیان کښی د
حقیقت د قرآن دے چه هغه دا دے ذٰلِكَ الْكِتٰبُ دا قرآن چه دے لَا رَیْبَ ۛ
فِیْهِ ۛ نسته هیڅ شك دده په ثبوت کښی او دده په احکامو کښی هُدًى لِّلْمُتَّقِیْنَ (۲)
دے رهنما او لار ښوونکے دے پرهیزګارانو لره او هغه نور اتلس ایاتونه په بیان
کښی د څلورو طائفو دے چه مؤمنان د اهل اسلام و دی او مؤمنان د اهل
کتاب و دے لکه عبدالله ابن سلام او دده نور ملګرے او بله طائفه د کافرانو ده او بله
طائفه د منافقانو ده یوٰایت په بیان کښی د مؤمنانو د اهل اسلام و دی چه هغه
دا دے اَلَّذِیْنَ هغه کسان یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ چه دوے باور کوی پر نادیده باندی
یعنی پر وحدت پر رسالت پر قیامت پر حشر[1] پر حساب پر جنت پر دوزخ وَیُقِیْمُوْنَ
الصَّلٰوةَ او دوے اداء کوے لمونځ سره د هغه د ټولو حقوقو چه په کتابو کښی بیان
سویدے وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او بعضی د هغو مالونو څخه چه موږ دوے ته ورکړی دی
یُنْفِقُوْنَ (۳) ورکوی یې وحقدارانو ته لکه عیال یا قریبان[2] یا همسایګان یا سائلان
او یوٰایت په بیان کښی د مؤمنانو د اهل کتاب و دے چه هغه دا دے وَالَّذِیْنَ او هغه
کسان یُؤْمِنُوْنَ چه دوے باور کوے بِمَآ اُنْزِلَ اِلَیْكَ پر هغه کتاب چه وتا ته رالیږل
سوی دے چه قرآن دے وَمَآ اُنْزِلَ او پر هغه کتاب چه رالیږل سوی دی مِنْ قَبْلِكَ ۚ
مخکی تر تا چه تورات یا انجیل یا زبور یا نورے صحیفے دی وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ یُوْقِنُوْنَ (۴)
او پر ورځ د آخرت دوی یقین لری چه رابه سی په حقه سره او یوٰایت په بیان کښے
د عاقبت د دواړو دے چه هغه دا دے اُولٰٓئِكَ دغه کسان د دے دواړو طائفو چه
دے عَلٰی هُدًى پر سمه لار دے مِّنْ رَّبِّهِمْ ق د جانبه څخه د خپل رب وَاُولٰٓئِكَ او
هم دوے هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۵) هم دوے بریالی دے او دوه ایته په بیان کښی د احوالو د

[1] یعنی په جمع کیدلو د مخلوقاتو او په پورته کیدلو د قبرو څخه ۱۲ [2] چه ښځه او زامن او لوڼی او مور او پلار او خوریندی منه ۱۲

کافرانو او د عاقبت د دوی کښی دی چه هغه دا دی اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه هغه کسان
کَفَرُوْا چه کافران سوی دی سَوَآءٌ عَلَیْهِمْ برابره خبره ده پر دوی باندی ءَاَنْذَرْتَهُمْ
ایا چه ته دوی بیروې د عذابه څخه اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ یا ته دوی ونه بیروې لَا
یُؤْمِنُوْنَ ۝۶ دوی ایمان نه راوړی خَتَمَ اللّٰهُ خدای مهر ایښی دی عَلٰی قُلُوْبِهِمْ
پر زړو د دوی وَعَلٰی سَمْعِهِمْ او پر غوږو د دوی وَعَلٰٓی اَبْصَارِهِمْ او پر سترګو د دوی
چه ده غِشَاوَةٌ ز پرده ده نو نه حق ته فکر کوی او نه یې اوری او نه یې وینی وَّ
ع لَهُمْ او دوی لره مقرر دی عَذَابٌ عَظِیْمٌ ۝۷ لوی عذاب او آته ایا تو نه بیان
کښی د منافقانو دی چه هغه دا دی وَمِنَ النَّاسِ او بعضی د خلګو څخه مَنْ یَّقُوْلُ
هغه څوک دی چه دوی وایی اٰمَنَّا بِاللّٰهِ موږ ایمان راوړی دی پر خدای باندی
وَبِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ او پر ورځ د قیامت باندی وَمَا هُمْ او حال دا چه په واقعه کښی
دوی نه دی بِمُؤْمِنِیْنَ ۝۸ مؤمنان یُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ غلوی دوی خدای پخپل زعم
سره وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی وَمَا یَخْدَعُوْنَ او دوی
په واقعه کښی نه غلوی اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ مګر خپل ځانونه وَمَا یَشْعُرُوْنَ ۝۹ او دوی
نه پوهیږی په دی سره چه دا ضرر هم موږ ته دی ا ۔ وځکه نه پوهیږی چه
فِیْ قُلُوْبِهِمْ په زړو د دوی کښی مَّرَضٌ مرض د نفاق دی فَزَادَهُمُ اللّٰهُ نو
خدای دوی ته زیات کړه مَرَضًا د جهته د مرض وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ او دوی
لره مقرر دی دردناکه عذاب بِمَا کَانُوْا په سبب سره د دی چه دوی وه یَکْذِبُوْنَ ۝۱۰
چه درواغ یې ویل په اظهار سره د ایمان وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ او هر کله چه و دوی ته
او ویل سی لَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ چه په ځمکه کښی فساد مه کوی قَالُوْٓا نو دوی
وایی اِنَّمَا نَحْنُ بیشکه چه خبره دا ده چه موږ مُصْلِحُوْنَ ۝۱۱ برابرونکی یو د خپل
کار په خیر او په طاعت سره اَلَآ اِنَّهُمْ واوری بیشکه دوی چه دی هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ

ﻠﻪ ځکه چه پر زړه ویې مهر دی ۱۲ ﻠﻪ ځکه چه پر غوږو ویې مهر دی ۱۲ ﻠﻪ ځکه چه پر سترګو یې پرده ده ۱۲

هم دوی فساد کونکی دی وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ⑫ اولیکن دوی پخپل فساد نه پوهیږی
وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ او هر کله چه دوی ته ووېل شی اٰمِنُوْا چه ایمان راوړی كَمَآ
اٰمَنَ النَّاسُ لکه چه نورو خلکو ایمان راوړی دی یعنی مهاجرو[1] او انصارو[2] قَالُوْٓا
اَنُؤْمِنُ نو دوی وایی چه آیا مونږ ایمان راوړو وکما اٰمَنَ السُّفَهَآءُ لکه چه ایمان
راوړی دی ابلهانو بی عقلانو، اَلَآ اِنَّهُمْ واورئ چه بیشکه دوی چه دی هُمُ
السُّفَهَآءُ هغه دی ابلهان او احمقان دی وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ ⑬ اولیکن دوی نه
پوهیږی په حماقت خپل سره وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ او په هغه وخت کښی چه پېښ شی
دامنافقان پرهغو کسانو اٰمَنُوْا چه ایمان یی راوړی دی قَالُوْٓا اٰمَنَّا ج نو دوی
وایی چه مونږ هم ستاسو په شان ایمان راوړی دی وَاِذَا خَلَوْا او بیا چه دوی
گوښه شی اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ لا د شیطانانو یعنی دخپلو یارانو سره قَالُوْٓا نو دوی
وایی اِنَّا مَعَكُمْ لا بیشکه چه مونږ ستاسو سره یو اِنَّمَا نَحْنُ هدا خبره ده چه مونږ
مُسْتَهْزِءُوْنَ ⑭ مسخری کونکی یو په مؤمنانو پوری اَللّٰهُ خدای چه دی يَسْتَهْزِئُ
بِهِمْ جزا به ورکړی دوی ته دخپلو مسخرو وَيَمُدُّهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ او
مهلت ورکوی دوی ته پخپله سرکشی کښی يَعْمَهُوْنَ ⑮ په داسی حال کښی
چه دوی په دی سرکښی کښی سر گردانه وی او یو آیت په بیان کښی د دوی د
عاقبت دی چه هغه دا دی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ داهغه کسان دی اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ چه
دوی پری ناپوهی څخه اخلی او رانیسی دوی گمراهی بِالْهُدٰى په هدایت سره
یعنی کفر یی پر ایمان غوره کړی دی او شک یی پر یقین غوره کړی[3] او نفاق یی پر
اخلاص غوره کړیدی او هلاک یی پر نجات غوره کړیدی او دوزخ یی پر جنت
غوره کړیدی فَمَا رَبِحَتْ نو دوی ته هیڅ گټه ونه رسول تِّجَارَتُهُمْ سوداگری د دوی
وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ⑯ او نه دی دوی لاره پیدا کونکی و دی گټی ته او دوه آیتونه

[1] یعنی هجرت کونکو دمکی شریفی څخه و مدینی منوری ته ۱۲ [2] یعنی مدد کونکو د دی مهاجرینو او مسافرو سره ۱۲ [3] یعنی شک یی غوره کړیدی پر یقین او نفاق یی غوره کړیدی پر اخلاص او هلاکت یی غوره کړیدی پر خلاصی ۱۲

په یوه تمثیل د دوی کښې دے چه هغه دا دے مَثَلُهُمْ مثال یعنے حال د منافقانو
چه دے په اظهار د تش ایمان لسانی کښې کَمَثَلِ الَّذِی اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ د اسی دی لکه
حال د هغه سړی چه د شپې اور بل کړے دے فَلَمَّآ اَضَآءَتْ نو هر کله چه دا اور
رڼا نه کړے مَا حَوْلَهٗ هغه ځای چه د ده شا و خوا دے او دے هر شی وویني او د
تولو موذیانو (ضرر رسونکی شیانو) ځخه په امان سے ذَهَبَ اللّٰهُ نو ناګاه خدا ے واخلے بِنُوْرِهِمْ
رڼا د دے یعنی مړ کړے هغه اور د دوے په باد یا په باران سره **فائده**: دا ضمیر
د جمع راجع دے و تیر الَّذِی ته په اعتبار د معنیٰ سره ځکه چه دا الَّذِی د الَّذِیْنَ په
معنیٰ دے لکه چه په سورة برات کښې چه په خُضْتُمْ کَالَّذِی خَاضُوْا کښے چه دا الَّذِی
د اَلَّذِیْنَ په معنیٰ سره دے او همدا رنګه په راتلونکو دوارو ضمیرو کښے د تَرَکَهُمْ
او د لَا یُبْصِرُوْنَ هم وَالَّذِی ته راجع دے وَتَرَکَهُمْ فِیْ ظُلُمٰتٍ او خدا ی دوی پریږدے
په تیارو کښے چه د اور یځ تیاره ده لَّا یُبْصِرُوْنَ ⑰ چه هیڅ نه ویني همدا رنګه
حال دے د دی منافقانو چه د کفر په توره شپه او د اضلال په توره شپه کښې د
مؤمنانو د بیرے ځخه یے او د تش لسانی اقرار بل کړی دے چه د قتله ځخه په امان
سو یدی بیا دا سر سری رڼا د دوے به تر مرګه وروسته ورکه سی او دوی به
ابدًا او همیشه د حسرت او د ندامت او د عقوبت په ظلماتو (تیارو کښی) پاته سی
صُمٌّۢ کاڼه دے دوی د حق د اوریدو ځخه بُکْمٌ ګنګیان دے د اقرار ځخه پر
حق باندی عُمْیٌ ړانده دی دوے د حق د لید و ځخه فَهُمْ لَا یَرْجِعُوْنَ ⑱ نو
دوی هیڅکله بیرته نه راګرزی د دے خپلی ګمراهے ځخه او دوه ایتونه په بل
تمثیل کښې دے چه هغه دا دے اَوْ کَصَیِّبٍ یا حال د دے منافقانو د اسے دی
لکه حال د هغه خلګو چه په توره شپه کښی په چول او وچ بیابان کښے بیره
او هیبت پر راسے او په شیبو شیبو باران پر او ورېږے مِّنَ السَّمَآءِ د اسمان د

---

[1] یعنی په دے قول کښی د خدای تعالے چه بِنُوْرِهِمْ دی ۱۲ [2] یعنی خدای تعالے و دی خلګو ته وایی چه تاسی نو تا ست په ګمراهی کښی لکه چه نو تلے ده هغه پخوانی خلک ۱۲

طرف ته فِيْهِ ظُلُمٰتٌ چه وی په هغه اوریځ یا باران کښې څو څو تیارې تیارې
د شپې او تیاره د اوریځې او تیاره د باران وَّرَعْدٌ او تنا وے وَّبَرْقٌ ج او برېښنا
دی هرکله چه دا تنا سخته سی يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ ننباسے او نیسی د دی چپلے
گوتی فِيْٓ اٰذَانِهِمْ پخپلو غوږو وکښې مِّنَ الصَّوَاعِقِ د جهته د سخت اواز د تندرے
حَذَرَ الْمَوْتِ ط د ډیرے څخه د مرګه یعنی د پاره د ځان ساتنې د هلاکت څخه وَ
اللّٰهُ مُحِيْطٌ ۢ او خدای چه دی محیط دی علم او قدرت دده بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹﴾ پر
کافرانو باندے يَكَادُ الْبَرْقُ نژدی وی برېښنا يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ط چه ړندوی
سترګی ددوی كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمْ هرکله چه رڼا کړی هغه برېښنا لاره ددوی ته
مَّشَوْا فِيْهِ ق لا نو دوے روان سی په هغه رڼا کښې وَاِذَآ اَظْلَمَ او هرکله چه تیاره
سی عَلَيْهِمْ پر دوے باندی قَامُوْا ط نو حیران پر ځای ودرېږے وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ
او که اراده سوی وای د خدای د کوڼوالے او د ړوند والی ددوی لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ
نو خامخا به یې ورک کړی وه قوت سامعه «د اوریدو قوت» ددوی وَاَبْصَارِهِمْ ط او
قوت باصره «دیدو قوت» ددوے لکه چه ورک کړی یې دی د زړه غوږونه او
سترګی ددوے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ پر هر شی باندے قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾ بنه ع ۲
قادر دے هدا سے دے حال د منافقانو چه د کفر او ضلالت په توره شپه کښې
د اسلام باران پر اورېږے چه سبب د حیوٰۃ قلبی «د زړه د ژوندی کیدو» دے ځکه
چه تش اقرار لسانی یې کړیدے بیا چه هرکله حکم د جهاد نازل سی د کفارو
سره نو دوے پخپلو غوږو وګوتے ننباسے ددے ډیرے چه مبادا پر موږ هم چیرے
دا حکم ونه سی او بیا چه دوے برېښنا د غنائمو «غنیمتو» وویني نو رڼه یې ودغه
خوا ته روان سی او بیا چه یې و ریاضاتو او مجاهداتو[1] ته فکر سی نو رڼه یې
وه تړهیږے او پر ځای ودرېږے هرکله چه رب العزت د اخلوص سره

[1] یعنی خواری او کوښښ کول په عبادت کښې ۱۲

فرقے "دلی" د مکلفینو[1] بیان کړے سره د دوے د خواصو او د عواقبو نو بیا یې و
خلورو سره وو ته عام خطاب وکړے په امر سره د عبادت سره د ذکر کولو د بعضے
موجباتو "سببو" د عبادت چه هغه اووه نعمتونه دے نو ویلې ویل یٰٓاَیُّهَا
النَّاسُ اعْبُدُوْا اے خلګو بندګی کوی تو له رَبَّكُمُ الَّذِيْ د هغه رب خپل
یعنی هر کله چه دے ستاسے رب سو چه په دنیا کښی روزے درکوے او بیا په
اخرت کښي به هم وده ته حاضر کړه سی نو لائق د عبادت هم دے دی لکه
چه وايې خَلَقَكُمْ چه تاسے یې پیدا کړے یاست وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ او هغه
(۲۱) ابا؏ او اجداد ستاسے سره د نورو خلګو چه تر تاسے د مخه وه لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ
الَّذِيْ بنا یئ چه تاسے ځان وساتی د غضبه او د عذابه ځنې د هغه خدا ے چه په
خپله مهربانۍ سره یې جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ګرزولے یې ده. وتاسے ته مځکه
فِرَاشًا فرش وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً او ګرزولے یې دے اسمان ګنبده پر سر ستاسے وَّ
اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ او راورولے دی ده د اسمان د طرفه مَآءً او به یعنے باران
فَاَخْرَجَ بِهٖ نو ده راوه ایسته په دے اوبو سره چه د خاورو سره ګډ سی مِنَ
الثَّمَرٰتِ د اقسامو ځنې د میوواو د دانو رِزْقًا لَّكُمْ ۚ روزی تاسے لره فَلَا
تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ نو مه پیدا کوے وخدای ته اَنْدَادًا شریکان وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (۲۲)
او حال دا چه تاسے پو هیږے چه دوے قادر نه دے پر هغو کارو چه هغه د
خواصو ځنې د الوهیت دے بلکه پر هیڅ فعل باندے قادر نه دے وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ
رَيْبٍ او که تاسے په شك کښے یاست مِّمَّا نَزَّلْنَا د هغه قران ځنې چه موږ وارد یه
وارسولی دے عَلٰى عَبْدِنَا پر خپل بنده باندے چه محمد علیه الصلوٰة والسلام دی فَاْتُوْا
بِسُوْرَةٍ نو تاسے هم یوا دنئ سورة چه په قدر د دی کو تاه "لنډه" ایا نووے مِّنْ
مِّثْلِهٖ ص په مثل سره د دے قران په فصاحت او په بلاغت او په اخبار اتو کښی د
غیبو ځنې یا دا سے سورة فصیحه بلیغه چه ویلے وے مثل د بنده نه موږ په

[1] یعنی چه د ایمان تکلیف پر کړه سو یې ی ۱۲ [2] یعنے پلاران او نیکه ګان ستاسی ۱۲

بشریت او په اُمّیت کښې وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ او را وبولے حاضران او معاونان خپل د مدد د پاره په دے کار کښې که شعراء او که خطباء او که ستاسی خدایان د ے مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ﴿۲۳﴾ که تاسی په دے دعوه کښې چه دا کلام د بشر د ے رشتیا وینکے یاست فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا نو که د سره تا سے دا کار نه سی کولاے وَلَنْ تَفْعَلُوْا او د سره به یے و نه کړے نوهر کله چه عاجزه سوست د معارضے څخه او در ته معلومه سوه چه دا کلام د و اجب ؤ ے نو ایمان پروا نجب دے فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْ نو خپل ځان وساتی د هغه اور ه څخه وَّقُوْدُهَا النَّاسُ چه نو تی یے سرے یعنی کافران دے وَالْحِجَارَةُ او ډبرے ډکو کړ دے چه وکفار و ته بدبویے ځنی ورځی یا مراد د ډبرو څخه بتان دے ځکه چه اکثره به د تیږو څخه جوړ سوی وه یعنی دا عابدان او معبودان به د واړه خس «سلوځی چه اور به بلیږی» سی د دوږخ او دے به په تو دیږ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِیْنَ﴿۲۴﴾ چه تیار کړه سوید دا اور وکافرانو ته وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او زیرے وکړه اے رسوله پر هغو کسانو چه ایمان یے راوړے دے پر خدا ے او پر رسول او پر قران باندی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او د نیکو عملونه کوے اَنَّ لَهُمْ چه بیشکه مقرر دے دوے لره جَنّٰتٍ تَجْرِیْ باغونه ډک د هر قسم میو څخه چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندے تر ونو یا د ماڼیو د هغو څلور قسمه ولے دا وبو او د شیدو او د شرابو او د عسلو كُلَّمَا رُزِقُوْا هر کله چه روزے ورکړه سی ودے جنتیانو ته مِنْهَا د ونو څخه د هغو باغو مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا د هر قسمه میوے څخه روزے قَالُوْا نو دوے به وایی هٰذَا الَّذِیْ دا هغه میوه ده رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ چه راکړه سوی وه وموږ ته مخکی تردے په دنیا کښې وَاُتُوْا بِهٖ او را به وړه سی و دوے ته هغه میوه مُتَشَابِهًا متشابه د دنیا د میوے سره وَلَهُمْ فِیْهَآ او دوے لره په هغو باغو کښې اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ښځے د حورو او د خپله جنسه څخه پاکی کړه سوے د حیض او د نفاس او د خیرو او د بد خویه څخه وَّهُمْ

له یعنی چه سهری دی ملائکه نه دی او بیا ای هم دی چه د ها څخه په ځه زده کړی هم نه وے ۱۲

فِیۡهَا او دوے به وے په هغو باغو کښے خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۵﴾ همیشه اوسیدونکے هر کله چه کافرانو دا اوریده چه رب العزت په قران کښے مثال په مچ او په جولاگی سره ویلے دے او په نورو حقیرو شیانو سره "خوارو" نو دوے به ویل چه د خدای سره څه مناسب دی چه دا سی خسیسو "سپکو" شیانو سره مثالونه وایي نو نازل سو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائے لَا یَسۡتَحۡیٖۤ حیا نه کوی اَنۡ یَّضۡرِبَ د دے څخه چه و تړی مَثَلًا مَّا یو مثال د مثالو څخه اگرکه ممثل[1] به بَعُوۡضَةً غوماشه وے فَمَا فَوۡقَهَا "وړاندے" یا هغه شی وی چه په سپکوالے "خسّت" کښے تر دے پورته وی لکه ونر ردی یا په صورت کښی لکه مچ او عنکبوت "جولاگی" فَاَمَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا نو کم چه هغه کسان دی چه ایمان یے راوړی دے فَیَعۡلَمُوۡنَ نو دوے پوهیږی په یقین سره اَنَّهُ الۡحَقُّ چه بیشکه دا مثال حق او موافق دے د ممثل به سره چه راغلی دی مِنۡ رَّبِّهِمۡ ۚ د طرفه څخه د پروردگار د دوے وَاَمَّا الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا او هر چه کافران دی فَیَقُوۡلُوۡنَ نو دوی وایي د دیره جهله او عناده څخه مَاذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ دا څه شی دے چه خدای اراده کړی دے بِهٰذَا مَثَلًا ۘ م په دے سره د جهته د مثال یعنے په دے خسیس "سپک" مثال کښي ده څه فائده لیدلے وه نو رب العزت په جواب کښے وویل چه فائده یے دا ده یُضِلُّ بِهٖ كَثِیۡرًا الا چه گمراه کوے په دے مثال سره کافران او منافقان چه د جهل او د عناد د غلبے څخه هیڅ عبرت نه په اخلے وَّیَهۡدِیۡ بِهٖ كَثِیۡرًا ؕ او سموے پرلا ربا ندی په دے مثال سره دیر مؤمنان چه د عقل د کمال په وجه پند او عبرت په اخلے وَمَا یُضِلُّ بِهٖۤ او نه گمراه کوی په دے مثال سره اِلَّا الۡفٰسِقِیۡنَ ﴿۲۶﴾ الَّذِیۡنَ مگر هغه فاسقان یَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ چه ماتوی هغه وعده[2] د خدای چه د تولو انسانانو سره یے کړی وه د میثاق په ورځ کښے په اقرار سره د ربوبیت یا هغه وعده چه بنی اسرائیلو

---

[1] چه مثال په ده سره ویل سوی دی ۱۲ [2] هغه وعده د خدای لکه چه دا قصه رب العزت په سورة اعراف کښی په نهمه سپاره کښی په دوه ویشتمه رکوع کښی پخپله ذکر کړیده او فرمایلی یې دَ واذ اخذ ربک من بنی ادم الخ الآیة یعنی یاد کړه ای پیغمبره هغه وخت چه راخیستی وه پروردگار ستا د بنی ادم څخه او د هغو نه ایا نه یم زه ستاسی رب هغوی ټولو وویل او اقرار یے وکړی چه بیشکه ته زموږ رب یے ۱۲ منه

کړی وه په متابعت او په نصرت سره د رسولؐ مِنۢ بَعۡدِ مِيۡثَاقِهٖ ص وروسته تر محکم
والے د هغه وعدے وَيَقۡطَعُوۡنَ مَاۤ او دوی پریکوی هغه شی اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ چه خدای
په هغه سره امر کړی دے اَنۡ يُّوۡصَلَ چه هغه دے وصل او پیوند کړه سی چه هغه یا
پیوند دے د خدایؐ سره په ایمان راوړلو یا د رسولؐ سره په رسالت قبلولو یا د مؤمنانو
قربیانو سره د صله رحمیٔ په پاللو سره وَيُفۡسِدُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ ط او فساد کوی دوے
په مختلفو بے فرمانیو سره په مځکه کښی اُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۲۷﴾ داکسان چه دے
هم دوے زیانکاران دے په دنیا او په عقبیٰ کښی كَيۡفَ تَكۡفُرُوۡنَ بِاللّٰهِ څرنګه تاسے
کفر اختیاروی په خدای پورے وَكُنۡتُمۡ اَمۡوَاتًا او حال دا چه تاسی مړه واست
په هغه وخت کښی چه تاسی نطفه[1] یا علقه یا مضغه واست فَاَحۡيَاكُمۡ ۚ نو تاسے یې
ژوندے گراست په نفخ "په پوکلو او اچولو سره د روح په تاسی کښی" د روح سره ثُمَّ يُمِيۡتُكُمۡ بیا
به تاسی مړه کړے ثُمَّ يُحۡيِيۡكُمۡ بیا به تاسی ژوندی کړی په قبر یا په آخرت کښی ثُمَّ
اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۲۸﴾ بیا به هم وده ته وروستل[2] سے هُوَ الَّذِىۡ دے هغه پروردگار
دے خَلَقَ لَكُمۡ چه پیدا کړی یې دی وتاسی ته مَّا فِى الۡاَرۡضِ هغه شیان چه په
مځکه کښی دے جَمِيۡعًا ق ټول چه یه بعضو کښی تاسی له معاش دے او په بعضو کښے
تاسی له عبرت دے او په بعضو کښی استدلال دی پر وحدانیت او پر بعث[3] باندی
ثُمَّ اسۡتَوٰۤى بیا وروسته تر پیدا کولو د دے شیانو یې قصد وکړے اِلَى السَّمَآءِ داسمان
و پیدا کولو ته فَسَوّٰٮهُنَّ نو سازاو برابر یې کړه دغه مافوق او سر بیره نو تا سے سَبۡعَ
سَمٰوٰتٍ ط اووه اسمانونه بے خلله وَهُوَ بِكُلِّ شَىۡءٍ ع او دے پر هر شی عَلِيۡمٌ ﴿۲۹﴾ بنه ع ۳ ۹ ۳
دانا دے روایت دے چه هر کله پروردگار اسمانونه او مځکی پیدا کړے نو په
مځکه کښی یې پیرانان دیر کړه بیا دے پیرانانو څه موده وروسته فساد ونه پکښی

[1] یعنی تاسی د هست نطفه یعنی او به د منی د پلار په شا او د مور په سینه کښی بیا څه موده وروسته علقه سوہست یعنی چکه او سخته سوہست بیا څه موده وروسته مضغه سوہست یعنی یوه ټوټه د غوښی ۱۲ [2] وروستل سی یعنی د قبر د ځمکه او هم د ده ته به ورو گرزول سی د حساب د پاره ۱۲ [3] په بعث یعنی په پورته کیدلو کښی د قبر د ځمکه ۱۲

وکړه تو رب العزت ملائکې ورپسې راولیږلې تو دوی یې په جنګ سره وغږول او جزیروته وشړل او ملائکې په کښې پاته سولې بیا څه موده وروسته پروردګار د انسان د پیدا کولو او په ځمکه کښې د ده د کښېنولو او خلیفه کولو اراده وکړه لکه چه وایي وَاِذْ قَالَ او یاد کړه اې پیغمبره هغه چه وویل رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ رب ستا وملائکو ته اِنِّیْ جَاعِلٌ چه بیشکه زه پیدا کونکې یم فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً ؕ په ځمکه کښې یو خلف[1] یعني بدل ستاسي یا خپل نائب چه اجراء زما د احکامو او دا وامرو او د نواهیو کوي قَالُوْۤا اَتَجْعَلُ فِیْهَا تو دوی وویل چه آیا ته کښېنوې په دې ځمکه کښې مَنْ یُّفْسِدُ فِیْهَا هغه څوك چه فساد و نه به کوي په دې ځمکه کښې وَیَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ او توی به وینې په ناحقه سره او د خلګو خونریزې به کوي او موږ لیري کوي وَنَحْنُ نُسَبِّحُ او حال دا چه موږ ستا تسبیح وایو بِحَمْدِكَ سره د حمد او ثنا ستا یعنی سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ وایو وَنُقَدِّسُ لَكَ ؕ او پاکي وایو تا لره قَالَ اِنِّیْۤ اَعْلَمُ تو پروردګار وویل چه بیشکه زه ښه پوهیږم مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ په هغو اسرارو سره چه تاسو نه پوهیږئ وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ او رب وښوده ادم[2] ته وروه ښوول نومونه كُلَّهَا ټول له د علویاتو او د سفلویاتو ثُمَّ عَرَضَهُمْ بیا یې پیش او وړاندي کړه مسمّیات[3] د دې اسماؤ ((نومو)) عَلَی الْمَلٰٓئِكَةِ ۙ پر هغو ملائکو باندي چه اَتَجْعَلُ فِیْهَا یې ویلي وو فَقَالَ اَنْۢبِـُٔوْنِیْ تو ورته وې ویل چه تاسې ما خبر کړئ بِاَسْمَآءِ هٰۤؤُلَآءِ په نومو سره د دې شیانو اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۳۱﴾ که تاسې یاست رشتیا ویونکې په دې دعوی کښې چه په خلافت[4] کښې موږ برلائق یو قَالُوْا سُبْحٰنَكَ تو دوی وویل چه تا لره پاکي ده د هر نقصان څخه لَا عِلْمَ لَنَاۤ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ نسته هیڅ پوهي موږ لره مګر نه هغه چه تا په پوه کړي یو اِنَّكَ بیشکه چه ته چه یې اَنْتَ الْعَلِیْمُ الْحَكِیْمُ ﴿۳۲﴾ هم ته خاوند د علم او د حکمت یې قَالَ یٰۤاٰدَمُ تو

---

[1] خَلَف د لام په زور سره او که د لام په سکون سره سي نو بیا یې معنیٰ خرابیږي ۱۲ [2] یعني نومونه د هغو شیانو چه پورته په اسمانو کښې دي او د هغو شیانو چه کښته په ځمکه کښې دي ۱۲ [3] په خلافت یعني په باچاهي سره ۱۲ [4] په نومو یعني جثې او صورتونه د دې نومو ۱۲

بیا پروردګار وویل چه اے ادمؑ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ج دوے خبرکړه په نومو
سره ددے شیانو فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ لا نو هرکله چه ده پوه کړے ملائکې په
نوموسره ددی شیانو قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ نوپروردګار وویل چه آیا ما وتا سے
ته نه وه ویلی اِنِّیْٓ اَعْلَمُ چه بیشکه زه پوهیږم غَیْبَ السَّمٰوٰتِ په پټو سره
داسمانو وَالْاَرْضِ لا اود مځکې وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ اوزه پوهیږم په هغو شیانوسره
چه تاسے یې ښکاره کوئے وَمَا كُنْتُمْ او په هغو شیانوسره چه تاسے یاست تَكْتُمُوْنَ ﴿٣٣﴾
چه په زړه کښې یې پټوی وَاِذْ قُلْنَا او یاد کړه اے رسوله هغه چه موږ وویل لِلْمَلٰٓئِكَةِ
اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ وملائکو ته چه سجده وکړے وادمؑ ته فَسَجَدُوْٓا نو ټولو سجده وکړه
اِلَّآ اِبْلِیْسَ ط مګر عزازیل ونه کړه اَبٰی وَاسْتَكْبَرَ ق منعه یې وکړه د سجدې کولو
څخه اولوئی یې وکړه وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿٣٤﴾ اووو دے پخوا لا د خدائے په علم کښې
د کافرانو دټولی څخه وَقُلْنَا اوموږ وویل یٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اے ادم علیه السلام اوسه اَنْتَ
وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ ته او ښځه ستا دواړه په دے جنت کښې وَكُلَا مِنْهَا اوخورئ
دواړه د جنت د میوو څخه رَغَدًا حَیْثُ شِئْتُمَا ص پریمانه هرځای چه ستاسې اراده
وی وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ اومه نږدې کیږئ دواړه ودے ونې ته د غنمو یا
د انګورو فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿٣٥﴾ نو تاسې به د ظالمانو څخه سئ په بې فرمانئ سره
فَاَزَلَّهُمَا الشَّیْطٰنُ نو شیطان دواړه وښکول عَنْهَا د دې جنت[1] څخه فَاَخْرَجَهُمَا نو
دواړه یې راوه ایستل مِمَّا كَانَا فِیْهِ ص د هغه معاش څخه چه دوی وه په هغه کښې
وَقُلْنَا اهْبِطُوْا او موږ ورته وویل چه کښته سئ دجنته څخه ومځکې ته بَعْضُكُمْ
چه بعضی ستاسې به لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ج د بعضو نورو سره دښمنان وي وَلَكُمْ فِی الْاَرْضِ
اومقرر دے تاسې لره په مځکه کښې مُسْتَقَرٌّ[2] د استوګنې ځای وَّمَتَاعٌ اِلٰی حِیْنٍ ﴿٣٦﴾
اومعاش د اجل تروخته پورې فَتَلَقّٰٓی[1] اٰدَمُ نو زده کړی ادم علیه السلام مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ

[1] د دې جنت څخه یا معنا داچه په سبب سره د هغې ونې یعنی دې ښکول او هغه ونه یې په وخوړله ۱۲

دخپل رب نه څخه یوڅو کلمې چه هغه داوے رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْلَنَا
وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ لکه چه په سورة اعراف کښې راغلے دی فَتَابَ
عَلَيْهِ ط نو رب دده توبه قبوله کړه اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ بیشکه دے چه دی هم دی
توبه قبلونکے دے او بیا رجوع کونکے دی وخپلو بندګانو ته په مغفرت سره الرَّحِيْمُ ﴿۳۷﴾
مهربانی کونکے دے قُلْنَا اهْبِطُوْا بیا مونږ ورته ووئیل چه کښته سی مِنْهَا جَمِيْعًا ج
دجنته څخه ټوله فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ نو که تاسې ته راغلی مِّنِّيْ هُدًى د ما څخه رهنمائی
او هدایت یعنے رسول او کتاب فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ نو هر څوک چه زما د هدایت
پیروی یې وکړه فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ نو نه به وی پر دوی باندی هیڅ قسم بیره وَلَا هُمْ
يَحْزَنُوْنَ ﴿۳۸﴾ او نه به دوے خفه کیږی ځکه چه په جنت کښې نه بیره سته او نه
خفګان وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه کسان چه کفر یې اختیار کړی دی وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ
او نسبت د دروغو کوی زمونږ وایتو ته اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ج دوے اهل د
دوږخ دے هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۳۹﴾ دوے به په دے دوږخ کښې همیشه وی ع ۴
روایت دی چه هرکله رسول صلی اللہ علیہ وسلم ومدینی ته راغلے او هلته دوے
طائفے «دوی ډلی» دیهود وچه بنی نضیر او بنی قریظه وه دوے د ډیره عناده څخه
نعت «صفت» د رسول علیه السلام چه په تورات کښې وو بدل کړی نو نازل سو
يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا اے اولاده د یعقوب علیه السلام یاد کړے نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ
هغه نعمت زما اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ چه ما پیرزو کړے وو پر تاسے یعنی ستاسے
پرنیکه ګانو باندی چه هغه مَنّ او سلویٰ او د اوریځی سایه او د سیند «دبحر
قلزم» چاودیدل او د دوی نجات «خلاصون» او غرق د فرعون وو وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ
او وفا کوی زما په وعده سره په متابعت کولو سره د رسول او پیغمبر اُوْفِ
بِعَهْدِكُمْ ج چه زه هم وفا وکړم په وعده ستاسے په داخلولو سره د جنت و

سه یعنی ای زمونږ ربه مونږ پر خپلو ځانو ظلم کړیدی «د میوی په خوراک سره» او که ته پر مونږ باندی بخشش وه نه کړی
نو خامخا به مونږ د زیانکارانو څخه سو ۱۲

اِیَّایَ فَارْھَبُوْنَ ﴿۴۰﴾ او خاص د ما نه وبیرېږئ وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ او ایمان
راوړی پر هغه کتاب چه ما رالیږلے دی مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَکُمْ په داسے حال کښی
چه موافق دے د دین په اصولو[1] کښی د هغه کتاب سره چه د تاسے سره دی یعنی
تورات وَلَا تَکُوْنُوْٓا اَوَّلَ کَافِرٍ بِهٖ ص او تاسے مه کیږئ اول نه منونکی د قران د
اهل کتابو نه وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ او مه اخلی[2] پر ایاتونو زما چه په تورات کښی دے
ثَمَنًا قَلِیْلًا ز لږ مبلغ چه جاهلان یے درته راوړی د پاره د تبدیل "بدلولو" د نعت
د رسول علیه الصلوٰۃ والسلام چه په تورات کښی دے او تاسی یے ځنی اخلی
وَاِیَّایَ فَاتَّقُوْنِ ﴿۴۱﴾ او خاص د ما نه وبیرېږئ او دا کار مه کوئ وَلَا تَلْبِسُوا
الْحَقَّ او مه گډوی حق چه نعت صفت د رسول علیه السلام دی بِالْبَاطِلِ د دروغو سره چه
تحریف ستاسے دے وَتَکْتُمُوا الْحَقَّ او تاسے حق پټوئ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۲﴾ او
حال دا چه تاسے پوهیږئ چه دا هم هغه پیغمبر دے وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوۃَ او په ترتیب[3]
سره ادا کوی لمونځ د نورو مسلمانانو سره وَاٰتُوا الزَّکٰوۃَ او ورکوی زکوٰۃ لکه چه
ورکوی یے مسلمانان وَارْکَعُوْا مَعَ الرّٰکِعِیْنَ ﴿۴۳﴾ او لمونځ کوی د لمونځ کوونکو د تولی سره
روایت دے چه هر کله چه بعضو یهودیانو د مدینی به وهغو خپلو یارانو ته
چه مسلمانان سوی وه مدح صفت او ترغیب د احکامو د شریعت محمدی علی صاحبها التحیة
والسلام کاوی او خپل ځانونه به یے د مسلمانی نه ساتل نو د دوی په شان کښی
نازل سو اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ ایا تاسو نورو خلکو ته امر کوی بِالْبِرِّ په نیکی سره
وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَکُمْ او هیروی خپل ځانونه وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْکِتٰبَ ط او حال دا
چه تاسو تورات تلاوت کوی اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۴۴﴾ ایا نو تاسو عقل نه کوی چه تر هر چا
پر خپل ځان د یر شفقت پکار دے وَاسْتَعِیْنُوْا او مدد غواړی د خدای نه په
هر سختی کښی بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوۃِ ط په صبر وژه او په لمانځه سره وَاِنَّهَا لَکَبِیْرَۃٌ او

[1] په اصولو کښی د دین چه هغه وحدانیت د الله پاک دی ۱۲ [2] یعنی په عوض کښی زما د ایتونو مه اخلے ۱۲ منه رح [3] په ترتیب سره یعنی ادا کوی یے سره د رعایت د ټولو حقوقو د هغه د فرائضو او د واجباتو او د سنتو او د مستحباتو څخه د هغه ۱۲

بیشکه دا لمونځ چه دے خا مخا دیر سخت دی پر هر چا بانده اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿٤٥﴾
مګر نه پر هغو بیریدونکو د خدای څخه او پر هغو خوند اخیستونکو پر طاعت بانده دا
الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ هغه کسان چه یقین کوی پر دے اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ چه بیشکه
دوے مخامخ کیدونکی دی د خپل رب سره وَاَنَّهُمْ او بیشکه دوے چه دی اِلَيْهِ
٥ رٰجِعُوْنَ ﴿٤٦﴾ هم وده ته بیرته ورتلونکے او ګرځیدونکے دے يٰبَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا
اے د یعقوب علیه السلام اولاده یاد کړی نِعْمَتِىَ الَّتِىْٓ هغه نعمت زما اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ
چه ما پر تاسے پیرزو کړی وو وَاَنِّىْ فَضَّلْتُكُمْ او بل دا یاد کړی چه بیشکه زه چه
یم ما تاسی غوره کړی واست یعنی نیکه ګان ستاسی عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ د خپلے زمانے
پر خلګو بانده وَاتَّقُوْا يَوْمًا او وه بیریږے د عذابه څخه د هغه ورځی لَّا تَجْزِىْ
نَفْسٌ چه لیرے کولای به نسی هیڅوک یعنی هیڅ کافر عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا د هیڅ نفس
څخه هیڅ قدر عذاب وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ او نه به سی قبلید لای د دغه نفس
څخه زاری د هیچا وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ او نه به اخیستل کیږے د دغه نفس څخه
فدیه چه پخپل عوض کښی یے ورکړے او د عذاب څخه ځان په خلاص کړی وَّلَا
هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٨﴾ او نه به دا کافران به دغه ورځ مدد کړه سوی وی یعنی هیڅوک
به مدد او کومك نسی ور سره کولای وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ او یاد کړے هغه چه موږ خلاص
کړلاست تاسے یعنی نیکه ګان ستاسے مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ د عملی او د متعلقانو څخه د
فرعون يَسُوْمُوْنَكُمْ چه ور ساوے به یی وتاسو ته سُوْٓءَ الْعَذَابِ سخت عذاب
يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ چه ذبح کول به یے زامن ستاسے د یو خوب په سبب سره چه
فرعون لیدلی وه او نجوم ګرانو یے تعبیر کړی وه چه په بنی اسرائیلو کښی به یو هلاك
پیدا سی چه ستا باچاهی به په برهم او خرابه سی وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ او ژوندی
به یے پرینبودلے لوڼی ستاسی د خدمت د پاره وَفِىْ ذٰلِكُمْ او په دی ذبح کولو

ع ٥ ع ٧ ع ٥

ف په روژے یا په صبر سره پر هره سختی باندی چه یقین کوی پوه سه چه د اظن په معنے اسره د یقین دے
او که په معنے اخپله سره سی چه ګان دی نو معنے ئے خلاف د مقصود څخه کیږی ١٢

(۴۹) كښی د ذكور و او په ترك "پرېښولو كښی" كښی د انا نو (ښځو) بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ
محنت او ازمایښت وه د طرفه څخه د رب ستاسے د پرلوی وَاِذْ فَرَقْنَا او بيا يا دكړے
هغه چه مونږ چاود لے او دوولس كوڅے كړی وه بِكُمُ الْبَحْرَ پر تاسے باندی سيند
د قلزم په هغه وخت كښی چه تاسے زمونږ په امر سره د شپی د تښتيداست د فرعون
څخه او د فرعون شلېر ويشت لكهه لښكر د رپسی راو رسيدے او ستاسے په مخكښے
سيند "دریاب" راغلے فَاَنْجَيْنٰكُمْ نو مونږ تاسے خلاص كړلاست هم د فرعون او هم د
غرق څخه وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ او د وب كړے مونږ توله لښكر د فرعون وَاَنْتُمْ
تَنْظُرُوْنَ (۵۰) او حال دا چه تاسے ور ته كتل وَاِذْ وٰعَدْنَا مُوْسٰٓى او يادكړی هغه چه
مونږ وعده كړے وه د موسٰی علیه السلام سره ور وسته ترغرقيدو د فرعون د پاره د ور
كولو د تورات اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً څلويښت شپی ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ بيا تاسے وه نيولی
دسامری[۱] گيلگی په خدايی سره چه تولو و ويل هٰذَآ اِلٰهُكُمْ[۲] وَاِلٰهُ مُوْسٰى مِنْ بَعْدِهٖ ور وسته
د موسٰی علیه السلام تر وتلو د كوه طور ته وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ (۵۱) او تاسے ظالمان واست په سبب سره
د عبادت د نش كالبوت او د پرېښوولو د حق معبود ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ بيا مونږ عفوه
وكړه و تاسے ته ترتوبے ور وسته مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ور وسته تر دا سے شوخی او دا سے
سخت كار چه وبت ته سجده وه لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ (۵۲) د دے د پاره چه بنايی چه
تاسے شكرگذاره سی وَاِذْ اٰتَيْنَا او يا دكړے هغه چه مونږ وركړی مُوْسَى الْكِتٰبَ
و موسٰی ته كتاب چه تورات وه وَالْفُرْقَانَ او بيلونكی د حق او د باطل لَعَلَّكُمْ
تَهْتَدُوْنَ (۵۳) بنايی چه تاسے سمه لار بيا پيدا كړی په دے كتاب سره وَاِذْ قَالَ
مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ او بيا يا د كړے هغه چه موسٰی وخپل قوم ته و ويل يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ
اے زما قومه بيشكه چه تاسے ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ ظلم كړے دی تاسے پر خپلو ځانو
باندے بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ په نيولو سره ستاسے گيلگی لره په خدای سره فَتُوْبُوْٓا

[۱] سامری ديو زرگر نوم و وچه د دوی په قوم كښی وو ۱۲ [۲] يعنی دا گيلگی ستاسی او موسٰی خدای دی ۱۲

اِلٰی بَارِئِکُمۡ نو توله توبه وکاږئ وخپل خالق ته فَاقۡتُلُوۡۤا اَنۡفُسَکُمۡ ط نو مړه
کړئ خپل ځانونه ذٰلِکُمۡ خَیۡرٌ لَّکُمۡ دا ځان وژل ستاسې چه دے ډیر غوره
دے وتاسې ته عِنۡدَ بَارِئِکُمۡ ط په نزد د خالق ستاسې نو اویا زره کسانو چه
د گیلگی عابدان وه قتلولو خپل ځانونه د سهار ځخه تر ماښام د توبې په نیت سره
قتل کړه فَتَابَ عَلَیۡکُمۡ ط نو ستاسې توبه یې قبوله کړه اِنَّهٗ بیشکه دے چه دی هُوَ
التَّوَّابُ الرَّحِیۡمُ ﴿۵۴﴾ هم دے توبه قبلونکی او مهربانه دی پر توبه . کښونکو باندے
وَاِذۡ قُلۡتُمۡ یٰمُوۡسٰی او بیا یاد کړئ هغه چه تاسې وویل چه اے موسیٰ لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَكَ
دسره به موږ باور ونکړو پر تا یعني پر دے خبره چه دا د خدای راز دے حَتّٰی نَرَی
اللّٰهَ تر هغو پورے چه موږ خپله (خدای) وَوینو د سر په سترگو سره جَهۡرَةً ښکاره مخامخ
فَاَخَذَتۡکُمُ الصّٰعِقَةُ نو تاسې تندر ے ونیولاست یعني اور د اسمان د طرف ځخه
وَاَنۡتُمۡ تَنۡظُرُوۡنَ ﴿۵۵﴾ او حال دا چه تاسې ورته کتل ثُمَّ بَعَثۡنٰکُمۡ بیا تر دی وروسته
موږ تاسې ژوندی کړلاست مِّنۡۢ بَعۡدِ مَوۡتِکُمۡ وروسته ستاسې تر مرګه چه یوه ورځ
او شپه مړه پراته واست لَعَلَّکُمۡ تَشۡکُرُوۡنَ ﴿۵۶﴾ ښایي چه تاسې شکر وکاږئ او د
دے نعمت قدر دانے وکړئ وَظَلَّلۡنَا عَلَیۡکُمُ الۡغَمَامَ او یاد کړئ هغه چه سورے کړه
موږ پر تاسې او ریځ چه د تیهؑ په ځنګله کښې تاسې بے خیمو او بے سایه وانو واست
وَاَنۡزَلۡنَا عَلَیۡکُمُ الۡمَنَّ او راليږلے وو موږ پر تاسې ترنجبین چه د اسمان ځخه به
لګه واوره راوریدے د سپید وځخه تر لمر راختو پورے وَالسَّلۡوٰی ط او مړزان
تیار او سره کړه سوے چه په صحرا کښې به هر سهار تیار پراته وه او موږ ورته
وویل کُلُوۡا مِنۡ طَیِّبٰتِ مَا چه خوری دا مړزان چه که کړه سوي دی د ترنجبین
سره او نور نعمتونه هم د پاکیزه وو ځخه د هغو شیانو رَزَقۡنٰکُمۡ ط چه موږ و
تاسې ته درکړی دے او ذخیره د بلے ورځې د پاره مه کوی چه هره ورځ تازه
تازه راځې نو دوی یې فرمانے وکړه او د صبا د پاره به یې ذخیره کړه نو هغه

عه توم دیره میږان دے ۱۲ ۱۳ ۱۲ ۱۳

به متعفن سو وَمَا ظَلَمُوْنَا او دوے ظلم نه وو کړے پر موږ باندے په دی بے فرمانئ کښے وَلٰكِنْ كَانُوْٓا او لیکن دوے وه اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾ چه پخپلو ځانونې ظلم کاوے وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا او بیا یاد کړے هغه چه موږ وویه دوے ته ودیل چه ننوزی هٰذِهِ الْقَرْيَةَ ودے ښار ته د ایلیا یا داریحا فَكُلُوْا مِنْهَا نو تاسے خوری د میوو او د طعامو څخه ددے ښهر حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا په هر ځای کښے چه ستاسے اراده وسی پریمانه وَّادْخُلُوا الْبَابَ او ننوزی په دروازه دَدے ښار سُجَّدًا په داسے حال کښې چه سجده کونکی یاست او دپاره دشکر چه خدا دتیه دمځکی څخه خلاص کړو وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ او قوله وایاست چه اے ربه زموږ سوال وتاته حطة دے او حطة ددوے په ژبه معنے دا چه وبخښے زموږ ګناهونه نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ د چه وبخښو وتاسے تہ ګناهونه ستاسے په دے سجده او په دے دعا سره وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ او ژر دے چه موږ به زیات کړو نیکان فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا نو بدل کړے هغه کسانو چه ظلم یے کړے وو پر خپلو ځانو باندے قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ هغه قول چه ماموربه وو په غیرد هغه قول څخه قِيْلَ لَهُمْ چه ویل سوے وه وددوے ته یعنی دوے ماموره سوی وه د حطة په ویلوسره او دوے به حنطة وایي معنے دا چه موږ غنم غواړو او دا یے د مسخرو دپاره ویل فَاَنْزَلْنَا نو موږ راولیږے عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا پر هغو کسانو باندے چه ظلم یے کړے وو په تغیرد ماموربه قول سره رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ عذاب د اسمان د طرفه چه اوره یا طاعون وو نو خلوینت یا اویا زره مخلوق توله په یوه ساعت کښی هلاك سوه بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۵۹﴾ په سبب د دے چه وو دوی چه فسق یے اختیار کړے وه د جهته د بے فرمانے وَاِذِ اسْتَسْقٰى او یاد کړے هغه چه او به وغوښتی مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ موسیٰ د خپل قوم د پاره د تیه په ځمکه کښے فَقُلْنَا ع

له یعنی بدبویه به سوه ۱۲ ته چه توم دیوه ښار دی ۱۲ ته چه امر د رتہ کړه سوی وه په هغه سره ۱۲

اِضْرِبْ نو موږ ورته وویل چه ووهه بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ط په خپله لکړه سره دا ډبره چه
دا لکړه شعیبؑ ورده ته ورکړی وه یا هغه ډبره چه دده جامی یې وبناړته تښتولی وې
یا مطلقه ډبره وه نو هر کله چه دهٔ دا ډبره په خپله لکړه سره ووهله فَانْفَجَرَتْ نو راوخوټیدلې
مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ط دده د ډبرې څخه دوولس چینې او دا ډبره د سړی قدروه او
خلور څنګ یې وه او هر څنګ یې درې چینې راوتلې او دوی شپږ لکهه لښکر وو د
د دوولسو سبطو څخه قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ په تحقیق سره معلوم کړے وو هر سبط مَّشْرَبَهُمْ
ابخور یعنی خپله واله او موږ ورته وویل چه كُلُوْا وَاشْرَبُوْا خوری د امنّ او سلوٰی
او چینې دا او به چه دے دا دواړه مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ د خاص روزی څخه د خدای
بیله واسطے د اسبابو وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ او تعدی مه کوی تاسی په مځکه کښی
مُفْسِدِيْنَ (۶۰) په داسے حال کښی چه تاسے فساد کونکے یاست وَاِذْ قُلْتُمْ او یاد
کړے هغه چه تاسے وویل چه يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ اے موسیؑ هیڅ کله موږ صبر نه سو
کولاے عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ پر یوه قسم خوراک چه منّ او سلوٰی دی فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ
نو سوال وکړه ته موږ لره د خپل رب څخه يُخْرِجْ لَنَا چه راغونه کړی موږ لره مِمَّا
تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ د هغو شیانو څخه چه مځکه یې راشنه کوی مِنْۢ بَقْلِهَا د سبزیو څخه
دده مځکے وَقِثَّآئِهَا او د بادرنګو څخه دده وَفُوْمِهَا او دوږ ویا د غنمو
څخه دده وَعَدَسِهَا او د نسکو دده وَبَصَلِهَا ط او د پیازو څخه دده قَالَ نو موسیٰؑ
وویل چه یا پروردګاره اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِيْ آیا تاسے بدلوی هغه شی هُوَ اَدْنٰى
چه هغه ناکاره دے بِالَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ ط په هغه شی سره چه غوره دے او هر
کله چه غواړی یې نو اِهْبِطُوْا مِصْرًا کښته سی د تیه څخه وبوه ښار ته د ښارو
څخه د شام فَاِنَّ لَكُمْ نو بیشکه چه پیدا به سی وتاسے ته په هغه ښار کښی مَّا سَاَلْتُمْ ط
هغه چه تاسے یې غواړی وَضُرِبَتْ او مقرر کړه سو عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ پر دوی باندے
په سبب سره د کفران د نعمت او د نه رضا په قسمت سره خپل خواری چه جزیه

پر کښیښول سوه وَالْمَسْكَنَةُ ق او عاجزي او نا داري یعنې که څه هم دوی ماړه
او توانګر وي بیا هم ځپل ځانونه خوار ساتي دوی بېرې چه جزیه به را باندی
دو چنده سي وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ او دوی اخته سوه په غضب سره مِّنَ اللّٰهِ ط د جانبه
څخه د خدای ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ دا خواری او غضب چه دی دوی جهته وه چه بیشکه
دوی کَانُوْا یَکْفُرُوْنَ وه چه کفر یې اختیار کړی وه بِاٰیٰتِ اللّٰهِ د خدای په ایتو
پوري چه په تورات کښی راغلې وه لکه ایات د رجم او نعت د رسول علیه السلام
یا هغه معجزې چه مخکې ذکر سوی دی لکه منّ او سلوٰی او دا سې نوری سوې
وَیَقْتُلُوْنَ النَّبِیّٖنَ او وژلې وه دوی پیغمبران لکه شعیب او زکریا او یحیٰی علیهم
السلام یا نور بِغَیْرِ الْحَقِّ ط بې موجبه د قتل د دوی په زعم کښې ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا
دا کفر او قتل د دوی په هغه سبب سره وو چه دوی د خدای د فرمان څخه سرکښې
کوله وَّکَانُوْا یَعْتَدُوْنَ ﴿۶۱﴾ او دوی وه چه تجاوز یې کاوه د حده څخه د فرمان ع ۸
د عصیان په سبب سره اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه په خولو سره
یې ایمان ښکاره کړی دی او پکښې منافقان دي وَالَّذِیْنَ هَادُوْا او هغه کسان
چه یهودیان دی وَالنَّصٰرٰی او نصرانیان دی وَالصّٰبِـِٕیْنَ او هغه ښکیدلی چه
په یوه دین هم نه دي بلکه د هر دین څخه چه یې کوم حکم خوښ سوی دی هغه یې
را اخیستی دی یا عابدان د ملائکو یا د ستورو مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ هر څوک د دې
ځلورو طائفو څخه چه ایمان راوړی د زړه په صدق سره پر خدای وَالْیَوْمِ
الْاٰخِرِ او د قیامت پر ورځ وَعَمِلَ صَالِحًا او کار کوی د نیکو فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ نو
مقرر دی دوی لره اجر د عمل د دوی چه وعده ورسره سوی ده عِنْدَ رَبِّهِمْ ج
په نزد د رب د دوی وَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ او نسته هیڅ بیره پر دوی وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾
او نه به دوی خفه سي د جزا په وخت کښې وَاِذْ اَخَذْنَا مِیْثَاقَکُمْ او یاد کړې
هغه چه واخیسته موږ عهد ستاسې د متابعت د موسیٰ او د عمل په احکامو

سره د تورات وَرَفَعْنَا او موږ پورته کړے فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ط سر بېره پر سرو ستاسے
کوه طور روایت دے چه هرکله موسیٰ علیه السلام تورات راوړی او بنی اسرائیلو
سخت احکام پکښے ولیده نو د قبلولو ئې منعه وکړه نو جبرائیل ؑ کوه طور د بېخه
څخه راوه کښی او سر بېره د دوے پر سر یے ودراوی او دوی ته امر وسو چه
خُذُوْا مَآ واخلئ یعنی قبول کړی هغه احکام اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ چه درکړی دی موږ تاسے
لره په ښه کوښښ سره وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ او یاد کړے د عمل د پاره هغه احکام چه
په ده کښی دے لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾ بنا یې چه تاسے ځان وساتی د ګناهو څخه
ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ بیا تاسے شا کړه او وګرزېدلئ ست د فرمان څخه زما مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ج د
وروسته تر دے عهد او میثاق فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ نو که نه وای فضل د خدای عَلَيْكُمْ
پر تاسے وَرَحْمَتُهٗ او رحمت د ده لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۴﴾ نو خامخا به تاسے واست د
زیانکارانو څخه وَلَقَدْ او په تحقیق سره عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا معلوم دی وتاسے
ته هغه کسان چه بې فرمانی ېې کړے وه مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ د قوم څخه ستاسے
چه په ښار کښی د ایلیا وه د شنبی په ورځ کښی چه دوے په دے ورځ کښے د ښکار
کولو څخه د ماهیا نو منعه کړه سوی وه او حال دا چه په دی ورځ کښی به ماهیان
ډېر وه او په نورو ورځو کښے به نه وه نو دوے د دریاب په غاړه کښے حوضونه
جوړ کړه او ماهیان به یې په شنبه کښی حوضو ته راوړول او بیا به یې د هغو
مخ بند کړی او بیا به یې په نورو ورځو کښی نیول فَقُلْنَا لَهُمْ نو موږ ووی ته
وویل چه كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ﴿۶۵﴾ سی تاسے بیزوګان خوار خسته فَجَعَلْنٰهَا
نَكَالًا نو کړه موږ دا عقوبت او مسخ د دوے عبرت او پند لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا د
هغه خلګو د پاره چه حاضر وه د دے عقوبت په زمانه کښے وَمَا خَلْفَهَا او د پاره
د هغو خلګو چه تر دے عقوبت وروسته به وی تر قیامته پوری وَمَوْعِظَةً او پند
لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۶﴾ د پاره د پرهیزګارانو روایت دے چه هرکله په زمانه کښی د موسیٰ

یو سړي چه نوم یې عامیل وه او یې اولاده وه چه ډیر مال او دولت یې درلود

اوخپلو وریرو د میراث په طمعه مړکړی او پټ یې د ښار په دروازه کښې

واچاوی د پاره د طلب د دیت او خلق وموسٰیؑ ته راغله چه د عامیل قاتل

د ے معلوم سی لکه چه وایي وَاِذْ قَالَ او یاد کړے هغه چه وویل مُوْسٰے لِقَوْمِهٖٓ

موسٰے علیہ السلام وخپل قوم ته اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُكُمْ بیشکه چه خدای پرتاسی امر کوے

اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ د اسے چه یوه غوا حلاله کړے چه قاتل معلوم سی قَالُوْٓا

نو دوے وویل اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ آیا ته نیسی موږ ځای د مسخرو یعنی مسخری

او ټوکی راپورے کوی ځکه چه د غوا په حلالولو سره کله قاتل معلومیږی قَالَ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ نو موسٰے علیہ السلام وویل چه پناه نیسم په خدای پوری اَنْ اَكُوْنَ مِنَ

الْجٰهِلِيْنَ﴿۶۷﴾ د دے څخه چه زه سم د ناپوهانو مسخرا چیانو څخه قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ

بیا دوے وویل چه ته وبوله موږ لره خپل رب یُبَيِّنْ لَّنَا چه بیان کړی وموږ ته مَا

هِيَ ؕ چه څرنگه به وے دا عجیبه غوا چه مړی په معلومیږی او په څه عمر به وی قَالَ

اِنَّهٗ يَقُوْلُ نو موسٰےؑ وویل چه بیشکه خدای وایی اِنَّهَا بَقَرَةٌ چه بیشکه دا یوه غواده

لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ چه نه ډیره زړه ده او نه ډیره وړه ده عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ میانه

ده په مابین کښی د زوړو والے او د کوچنی والے فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ﴿۶۸﴾ نو تاسی

هغه کار وکړے چه تاسے په مأمور سوے یاست قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بیا دوی وویل

چه وبوله موږ لره خپل رب یُبَيِّنْ لَّنَا چه بیان کړی وموږ ته مَا لَوْنُهَا ؕ چه څه

رنگ دے د دی غوا قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ نو موسٰےؑ وویل چه بیشکه خدای وایی اِنَّهَا

بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ چه بیشکه دا یوه تکه زیړه غوا ده فَاقِعٌ لَّوْنُهَا چه ډیر شوخ "تیز" د

ځلوالی د رنگ دے تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ﴿۶۹﴾ چه د کتونکو زړونه خوشحاله کوی او د دوی

ته تعجب ورولی قَالُوا ادْعُ لَنَا بیا دوی وویل چه وبوله موږ لره رَبَّكَ رب خپل

یُبَيِّنْ لَّنَا چه وموږ ته بیان کړے مَا هِيَ ۙ چه دا څرنگه غوا ده کارنده ده او که

صحرائی ده اِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَيْنَا ط بې شکه دا غوا چه ده ګډه وډه سوې ده
پر موږ باندې ځکه چه ښه نه ده او ځوانې غواوې ډېرې دي وَاِنَّآ اِنْ شَآءَ
اللّٰهُ او بېشکه موږ چه یو که د خدای اراده وي لَمُهْتَدُوْنَ ﴿۷۰﴾ خامخا لاره
پیدا کونکې یو ود ې غوا او ود ې قاتل ته په حدیث شریف کښې راغلي دي
چه که یې ان شاء الله نه وای ویلې نو هیڅکله به یې دا غوا نه وای پیدا کړې
قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ نو موسیٰ ؑ وویل چه بېشکه چه خدای وایي اِنَّهَا بَقَرَةٌ چه
بېشکه دا یوه غوا ده لَّا ذَلُوْلٌ چه نه دا سې کار نه ده تُثِيْرُ الْاَرْضَ چه ځمکه
اړوې وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ ج او نه او به کوي په اړهټ سره کښت مُسَلَّمَةٌ
ساتلې سوې ده د کارو یا د عیبو یا د رنوړ ورنګو ځخه لَّا شِيَةَ فِيْهَا ط نسته
هیڅ مخالف رنګ د دې ژېړ رنګ سره په دې کښې قَالُوا الْـٰٔنَ بیا دوی وویل
چه اوس جِئْتَ بِالْحَقِّ ط ته راغلې په حق سره او په رښتیا سره او غوا دې و
موږ ته ښکاره کړه روایت دې چه په دوی کښې یو سړی وو ډېر صالح وو او
دده یو کوچنی زوی او یوه یې ګیلګی وه چه مړکیدې نو دا ګیلګی یې په
ځنګل کښې ایله کړه او سوال یې وکړې و رب ته اللّٰهم انی استودعتها
حتی تکبر یعنې اې ربه دا ګیلګی می پرتا امانت کړه ددې خپل زوی د پاره
ترڅو چه لوئیږې او بیا غوا سوه چه مذهبه یې نوموړو او دوی ځني رانیوه
په دومره پیسو سره چه ددې څرمن په ډکیږې ځکه چه بله غوا په دې صفت
سره په هغه ملک کښې نه وه فَذَبَحُوْهَا نو دا غوا دوی حلاله کړه وَمَا كَادُوْا
يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۱﴾ او دوی نه وه نږدې وو دی ته چه دا کار وکړي په سبب د ډېر ۸ ع ۱۰ ۸
قیمت ددې یا د بېړی د بې شرمی د قاتل په ښکاره کیدو سره او ددې قصې
سره په آخر کښې بیان سوی دی چه هغه دا دې وَاِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا او یاد کړی
هغه چه تاسی یو سړی مړ کړی فَادّٰرَءْتُمْ فِيْهَا ط نو بیا تاسی په خپل مینځ کښې

سره په جنګ سواست په هغه مړي کبنې چه هر یوه به وهغه بل ته ویل چه تا وژلے دے وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا او حال دا چه خدای ښکاره کونکے وه دهغه شی كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿۷۲﴾ چه واست تاسی چه تاسے پټاوی هغه شی چه د قاتل د عامیل وه فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ نو موږ وړ ته وویل چه تاسی دامقتول وهے بِبَعْضِهَا ط په یوه ټوټه سره د بدن د دے غوا چه هغه ژبه یا غوږ یا لکه وه د هغے نو هغه مقتول یے په وواهے نو هغه ژوندی سو او خپل قاتلان یے وښودل چه دوا ره یے خپل وریرونه وه او بیا هغه فی الحال مړ سو نو بیا پروردګار وایے كَذٰلِكَ همداسے لکه عامیل چه یے ژوندے کړے يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى لاژوندي به کړے خدا ے مړي په قیامت وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ او دربنیي وتاسے ته نښے د خپل قدرت لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۷۳﴾ بناپې چه تاسے عقل وکړے ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ نو بیا وروسته تر هغه بیا سخت سوه زړونه ستاسے مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وروسته تر ژوندی کیدو د عامیل یا وروسته تر دے ایا تو او معجزو چه مخکے ذکر سوی دی فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ نو دا زړونه داسے دی لکه د برے په سختی کبنی اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ط بلکه ډیر سخت دے تردے دبری هم په قسوة "سختی" کبنی ځکه چه وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ او بیشکه بعضی د تیږو ځنی چه دے لَمَا يَتَفَجَّرُ خامخا هغه دے چه راخټکیږے او بهیږے مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ط دهغے ځنی لوے لوے وَ لِیٰ وَاِنَّ مِنْهَا او بیشکه چه بعضی ددے تیږو ځنی لَمَا يَشَّقَّقُ خامخا هغه دے چه وچوی فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ نو د هغے ځنی او به راووزی یعنے چینی وَاِنَّ مِنْهَا او بیشکه بعضے د تیږو "برو" ځنی لَمَا يَهْبِطُ خامخا هغه دے چه راګیله سی دغره د سر ځنی مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ط د بیرے ځنی د خدای وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ او خدای نه دی ناخبر عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾ د هغه کارو ځنی چه تاسے یې کوے اے یهودو اَفَتَطْمَعُوْنَ ایا تاسے طمع کوی اے مؤمنا نو اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ د دے چه دا یهود به باور وکړے ستاسی په ویلو

سره یعنے ستاسے په دعوت سره به ایمان راوړے وَقَدْ كَانَ اوحال دا چه په
تحقیق سره وه د موسیٰ په زمانه کښې فَرِيقٌ مِّنْهُمْ یو ټولے د دوے د قومه
څخه يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللهِ چه دوے به بے واسطے کلام د خدای په کوه طور کښې
چه مشتمل وو په راز او پراحکامو اوریدے ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ بیا ـ تر هغه
وروسته به یې د احکم په بل شان سره کړے مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وروسته تر
هغه چه د عقل په کمال سره به یې وفهماوی یعنے چه دوی به بیا وخپل قوم ته راغله
نو دوی ته به ویې وویل چه موږ څخپله د خدای کلام واوریدے او اوامر
او نواهے دده مگر په اخر کښې بیا رب داسے وویل چه که څوك طاقت لرے
نو په دے اوامرو او نواهیو سره عمل کوی او که طاقت نه لرے نو مه یې کوے
معاف یاست یا معنیٰ دا چه دوے تورات اوری او لولی یې او وروسته
تر کمال فهم بیا تحریف پکښې کوے لکه د رجم ایت یا نعت د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ او حال دا چه دوے به پوهیده چه دا افتراء ده پر خدائے
وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ اٰمَنُوْا او چه پیښ سے دا منافقان چه په دوے کښې دے
پر مؤمنانو د اصحابو قَالُوْٓا اٰمَنَّا نو دوے وایې چه موږ هم ایمان راوړی دی
وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ او چه بیل او جلا سے بعضے د دوے چه کشران دے إِلٰى بَعْضٍ
د بعضو نورو سره چه مشران دے لکه کعب بن اشرف او حُيَيُّ بن اخطب
قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ نو دا مشران وایې چه ایا تاسے حال وایاست او اظهار
کوے و اصحابو ته بِمَا فَتَحَ اللهُ عَلَيْكُمْ په هغه خبرو چه خدای د هغه د علم
دروازے پر تاسے خلاصے کړی دے چه هغه نعت د رسول صلى الله عليه وسلم دی په تورات
کښه لِيُحَاجُّوْكُمْ بِهٖ د دے د پاره چه جهگړه او حجت بازی وکړے او حجت ونیسی پر
تاسے په هغه خبره چه د تاسے څخه یې زده کړے وی عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ په نزد د رب
ستاسے د قیامت په ورځ چه حق و تاسے ته معلوم وو په تورات کښې نو تاسے ولی

عمل نه په کاوے اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۷۶﴾ نو آیا تاسے عقل نه کوے چه دښمن ته
حجت په لاس کښے ورکوے اَوَلَا یَعۡلَمُوۡنَ آیا دا یهود نه پوهیږے اَنَّ اللّٰهَ
یَعۡلَمُ چه بیشکه خدائے پوهیږے مَا یُسِرُّوۡنَ په هر هغه شیانو سره چه دوی
یے پټوے چه هغه د رسول علیه السلام سره عداوت دے وَمَا یُعۡلِنُوۡنَ ﴿۷۷﴾ او په هغه
شیانو سره چه دوے یے ښکاره کوے چه هغه دوستی ده د رسول علیه السلام سره
وَمِنۡهُمۡ اُمِّیُّوۡنَ او بعض د دے یهودیانو څخه ناخوانده او جاهلان دی لَا یَعۡلَمُوۡنَ
الۡکِتٰبَ چه په تورات نه پوهیږے اِلَّاۤ اَمَانِیَّ مگر د خپل نفس ارزوګانے یعنے هر څه
چه یے د نفس پر هوا برابر سے هم هغه وایے او هم یے کوی وَاِنۡ هُمۡ او دوے نه دی
اِلَّا یَظُنُّوۡنَ ﴿۷۸﴾ مگر گمان خپل چلوے بیله د لیله فَوَیۡلٌ لِّلَّذِیۡنَ نو افسوس دی
هغو کسانو لره یَکۡتُبُوۡنَ الۡکِتٰبَ چه د خپله ځانه کتاب لیکی بِاَیۡدِیۡهِمۡ ته په خپلو لاسو
سره ثُمَّ یَقُوۡلُوۡنَ بیا دوے وخلکو ته وایے هٰذَا مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ چه دغه حکم د خدای
څخه راغلے دی په تورات کښی او په دے کښی یے غرض داوی لِیَشۡتَرُوۡا بِهٖ چه
واخلے په دے حکم سره چه خود ساخته "د ځانه جوړ سوی" نعت د رسول دی ثَمَنًا
قَلِیۡلًا لږ مبلغ "روپے" د جاهلانو څخه د یهودو فَوَیۡلٌ لَّهُمۡ نو افسوس دے دوی لره
مِّمَّا کَتَبَتۡ اَیۡدِیۡهِمۡ د هغه حکمه څخه چه د ځانه دوے لاسو لیکلی دی د خدائے
د حکم په عوض کښے وَوَیۡلٌ لَّهُمۡ او بیا افسوس دے دوے لره مِّمَّا یَکۡسِبُوۡنَ ﴿۷۹﴾ د
هغه کاره څخه چه دوے یے کوی وَقَالُوۡا او دوے وایی لَنۡ تَمَسَّنَا النَّارُ هیڅکله
به موږ مسه نکړے اور د دوږخ اِلَّاۤ اَیَّامًا مَّعۡدُوۡدَةً مگر یو څو ورځی په
شمار سره چه هغه څلویښت ورځے دی د جهته څخه د عبادت د گیلکی قُلۡ
اَتَّخَذۡتُمۡ ته دوے ته ووایه اے پیغمبره چه آیا تاسی اخیستی ده عِنۡدَ اللّٰهِ
عَهۡدًا د خدایه څخه د دے وعده چه عذاب به نه د رکوی ما سیوا د دے ورځو
څخه نو که یے وعده کړے وی فَلَنۡ یُّخۡلِفَ اللّٰهُ عَهۡدَهٗۤ نو خدای د سره څخه

خپله وعده نه خلافوے اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ اوکه تاسے وایاست او جوړوۍ
پر خدای باندے دروغ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۰﴾ هغه خبرے چه تاسے نه پوهیږے
داسے نه ده لکه دوے چه وائي بَلٰى مَنْ بلکه داسے ده چه هرهغه څوك کسب
سَيِّئَةً چه بدی وکړی وَّ اَحَاطَتْ بِهٖ اوراچاپیره سے پرده باندی خَطِيْٓئَتُهٗ
گناه دده یعنی کافرسے فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ نو داکسان داورا هل دے هُمْ
فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۸۱﴾ دوے به په دے دوږخ کښی همیشه وی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او
هغه کسان چه ایمان یے راوړی دے پرخدائے او پر رالیږل سوی دده وَعَمِلُوا
الصّٰلِحٰتِ او دوی نیك کارونه کوی اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ داکسان دجنت ۹ ع ۱۰ ۹
اهل دے هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۸۲﴾ دوے به په دے جنت کښی همیشه وی وَاِذْ اَخَذْنَا
او یاد کړے هغه چه موږ واخیسته مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عهد دبنی اسرائیلو
څخه لَا تَعْبُدُوْنَ چه تاسے دبل هیچا عبادت مه کوی اِلَّا اللّٰهَ تف مگر وازی دخدائے
چه هم دے لائق دے دعبادت دا نهی دے د نفی په صورت کښے وَبِالْوَالِدَيْنِ
او نیکی کوے دخپل موراو پلار سره اِحْسَانًا نیکی وَّذِي الْقُرْبٰى او دخپلوانو
سره وَالْيَتٰمٰى او دیتیمانو سره وَالْمَسٰكِيْنِ او دنا دارانو عاجزانو سره وَقُوْلُوْا
لِلنَّاسِ حُسْنًا او وخلگو ته ښه یا خوږه خبره وایاست وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ او لمونځ
کوے سره د رعایته دټولو حقوقو وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۭ او خپل زکوٰة ورکوی ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ
نو بیا وروسته ترهغه تاسو شا کړه ټولو وو دے میثاق ته اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ مگر لږ وه
دتاسے څخه یعنے د پخوانیو څخه ستاسی وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۸۳﴾ او تاسی همیشه اعراض
کونکے یاست روایت دے چه دمدینی دیهودو دوی طائفے (بل) وے یو بنی قریظه
او بله بنی نضیر وه او د مدینے خلك هم دوے طائفے وه یو اوس او بله خزرج (کومک کرنکے)
وه او د هجرت د مخه یے سره عداوت وو بنی قریظه د اوسیانو معاونان وه او
بنی نضیر د خزرجیانو معاونان وه او کله چه به دا یهود سره مخامخ سوه نو دوی

کومک کرنکے ۱۲

به هم پخپل مینځ کښې سره وژل خلاف دخپل دینه او هر خوک چه به مغلوبه سو نو هغه به یې جلا وطنه کړه او څوك چه به څنې بندی سو نو فدیه به یې ورکړه او هغه به یې راخلاص کړی نو نازل سو وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ او یاد کړې هغه چه مونږ ستاسې څخه عهد واخیستی یعنی ستاسی د نیکه گانو څخه په تورات کښی لَا تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ چه تاسې مه تویوې وینې خپلې دا هم نهی دې په صورت کښی د نفی یعنې د قریبانو یا د نورو مسلمانانو یا د هغه چا چه بیا تاسې پر قصاصیږی وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ او مه باسی خپل ځانونه یعنی خپل خپل قوم مِّنْ دِيَارِكُمْ دخپلو کورو څخه په ظلم سره ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ بیا اقرار وکړې یعنی قبول کړه نیکه گانو ستاسې دا احکام وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ (۸۴) او تاسو اې د مدینې یهود وشاهدان یاست پر دې چه داخبره ستاسې اجدادو کړې وه او ستاسې دین هم دا سې وه ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ بیا تر دې شاهدې ورسته تاسې هغه خیانتگر یاست تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ چه تاسو وژنی غریبان اقرباء، قریبان، وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ او باسې یوه ډله د تاسې څخه چه مغلوبه سی مِّنْ دِيَارِهِمْ دخپلو کورو څخه تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ یو تر بله سره متفق کیږی او ملاتړی کیږې په دې ایستو کښې پر دوې باندې بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ په گناه او په ظلم سره وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى او که دا مغلوبه کسان تاسې له راسې بندیان تُفٰدُوْهُمْ نو تاسې د بندیانو پر ځای فدیه ورکوې او دوې د بند څخه خلاصوی او اخراج «ایستل» یې هم کوی وَهُوَ مُحَرَّمٌ او حال دا چه شان دا دې چه حرام کړه سوی دې عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ پر تاسې ایستل د دوې د خپلو کورو څخه او دا هُوَ ضمیر شان دې متعلق دې په تُخْرِجُوْنَ پورې او دا په مینځ کښې جمله معترضه وی یا دا ضمیر مبهم دې او اِخْرَاجُهُمْ یې تفسیر دې عه یا راجع دې وهغه اخراج ته چه په تخرجون کښی پروت دې او دا اخراجهم یې

عه یعنی لفظ دپو مبهم دی ۱۲ عه یعنی بیان د لفظ دپو دے ۱۲

بدل دے یا بیان دے کذا قاله البیضاوی اَفَتُؤْمِنُوْنَ آیا نو تاسے ایمان راوړی بِبَعْضِ
الْكِتٰبِ پر بعض تورات چه ندیه وړکوے وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ج او کفر اختیاروئ
پر بعضو نورو چه قتل او اخراج کوے فَمَا جَزَآءُ مَنْ نو نه ده جزاء د هغه چا
يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ چه کوی داسے چه بعض منی او بعض نه منی د تاسے څخه اِلَّا خِزْيٌ
مگر شرمول دے فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ج په دے دنیا کښی چه هغه قتل دے د بنی قریظه
وو او شړل دے د بنی نضیر و وخیبر ته وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ او بیا به د قیامت
په ورځ دوے رد کړه سی اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ط وسخت عذاب ته چه دوزخ دے
وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ او نه دے خدای ناخبره عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۸۵﴾ د هغو کارو څخه چه
تاسو یے کوی اے یهودو په دے کښی التفات دے د غیبته څخه وخطاب ته
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا دا هغه کسان دی چه رانیسی دوی
بِالْاٰخِرَةِ ز دا خوار ژوند د دے جهان په بے انتهاء نعمتونو د آخرت فَلَا يُخَفَّفُ
نو سپك به نه کړه سی عَنْهُمُ الْعَذَابُ د دوی څخه عذاب نه په دنیا کښی د جزیٰ
ع ۱۰ ۴ ۱۰ په کمولو سره او نه په آخرت کښی په خروج سره (ایسته) د دوزخ څخه وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۸۶﴾
او نه به د دوے سره مدد او کومك وکړه سے په هیڅ شی کښی وَلَقَدْ اٰتَيْنَا او خامخا
په تحقیق سره موږ ورکړے وه مُوْسَى الْكِتٰبَ وموسیٰ ته تورات وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ
او پے درپے موږ را ولیږل وروسته تر ده بِالرُّسُلِ ز پیغمبران لکه یوشع او
داؤد او سلیمان او الیاس او زکریا علیهم السلام وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ
او ور کړے وے موږ وعیسیٰ ته چه زوی د بی بی مریمی دے ښکاره معجزی لکه د
مړو ژوندی کول او د اکمهٗ او د ابرص روغول او داسے نوری ډیری وَاَيَّدْنٰهُ
بِرُوْحِ الْقُدُسِ ط او موږ دے قوی کړی وه په پاکیزه روح یا په جبرائیلؑ یا په
انجیل یا په اسم اعظم سره اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُوْلٌۢ آیا نو هر کله چه وتاسے
ته راسے یو پیغمبر بِمَا لَا تَهْوٰٓى په هغو احکامو سره چه نه یے خوښوے اَنْفُسُكُمُ

عه یعنی مورزاده ړوند او پیس نیولے ۱۲

نفسونه ستاسے اَسْتَكْبَرْتُمْ ج نو لویے او کفر اختیار کړی د منلو څخه د هغه
احکامو فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ ز نو یوه فرقه د دوے درواغجن بولے لکه موسٰے او عیسٰے
علیہما السلام وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿۸۷﴾ او بله فرقه ددوے وژنے لکه زکریا او یحیٰی علیہما السلام
وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ ط او دا یهود وایے چه زمونږ زړونه په پردو کښې دے
یعنے کانه دے د قران د فهمولو او د رسولؐ د دعوت د قبلولو څخه او په واقعه
کښې داسے نه ده لکه دوی چه وایي بَلْ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ بلکه دوی خدای
ترټلی دے د خپل درګاه څخه په سبب سره د خپل کفر فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿۸۸﴾
نو لږ ددوے څخه ایمان راوړی لکه ابن سلام او دده ملګری وَلَمَّا جَآءَهُمْ
كِتٰبٌ اوهرکله چه دوی لره راغلے کتاب مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ د جانبه څخه د خدای
مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ لا په داسے حال کښے چه رشتیا بلونکے او موافق دی په
تولو اصولو کښې د دین دهغه تورات سره چه ددوی سره دی او د لَمَّا
جواب محذوف دے او هغه دادے چه دوی سره یے هم قبول نکړی وَكَانُوا
مِنْ قَبْلُ او حال داچه دوی وه مخکې تر نازلیدلو د قران يَسْتَفْتِحُونَ چه فتح
او نصرت به یے غوښتې د خدایه څخه د مشکلاتو په وخت کښې د قران او د
صاحب د قران په زوی سره او ویل به یے اللّٰهُمَّ[عه] انصرنا بنبی اخر الزمان
المنعوت فی التورٰیة عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا ج پر هغو کسانو چه کافران به وه د
عربو د طائفو څخه فَلَمَّا جَآءَهُمْ نو هرکله چه بیا راغلے دوی لره مَّا عَرَفُوا هغه
رسولؐ چه دوے په تورات کښې پیژندلے وو او عائد پکښے محذوف دی اے
عرفوه كَفَرُوا بِهٖ نو کفر یے اختیار کړی په ده پوری فَلَعْنَةُ اللّٰهِ نو د خدای
لعنت دی عَلَى الْكٰفِرِينَ ﴿۸۹﴾ پر کافرانو بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بد دی هغه شی چه
خرڅ کړے دی دوی بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ په هغه شی سره خپل ځانونه چه شے

عه یعنی اے خدایه مدد راکړی د موږ ته په پاک نبی سره چه د اخری زمانے نبی دی لکه چه په تورات کښی یے صفت کړے سوی دی ۱۲

شي داوے اَنْ یَّکْفُرُوْا چه دوے کافران کیږي بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه قران
سره چه خدای رالیږلے دی بَغْیًا اَنْ یُّنَزِّلَ اللّٰهُ د ویرے کینې او بغض څخه د
دے خبرے چه رالیږي خدای مِنْ فَضْلِهٖ د خپله فضل څخه وحی او کتاب
عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ پر هغه چا چه دده اراده وسی مِنْ عِبَادِهٖ د خپلو بندګانو
څخه فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ نو دا یهود داخته سو په یوه غضب سره عَلٰی غَضَبٍ سربیره
پر بل غضب باندی چه یو انکار دے د رسول او د قران څخه او بل انکار دی د
عیسیٰ او د انجیل څخه وَلِلْکٰفِرِیْنَ او دے کافرانو لره عَذَابٌ مُّهِیْنٌ ﴿۹۰﴾
سپکونکے عذاب وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا او هرکله چه وویل یهودانو ته وویل سے
چه ایمان راوړی بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ پر هغو کتابو چه خدای رالیږلے دی قَالُوْا
نُؤْمِنُ نو دوی وایي چه موږ ایمان راوړو بِمَآ اُنْزِلَ عَلَیْنَا پر هغه کتاب چه پر
موږ باندے رالیږل سوی دی یعنے تورات وَیَکْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ق او دوی کفر
اختیاروی پر هغه کتاب چی بیله تورات څخه دے وَهُوَ الْحَقُّ او حال دا چه
دا بیله تورات څخه هم حق دے مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ط په دا سے حال کښی چه رشتیا
کونکے دی د هغه تورات چه د دوے سره دی قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ ته ورته وواییه
اے رسوله هغه یهودو ته چه دوی وایي موږ تورات منو چه ولے به تاسو وژل
اَنْۢبِیَآءَ اللّٰهِ پیغمبران د خدای مِنْ قَبْلُ پخوا تردے اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۹۱﴾ که
تاسے ایمان راوړونکے یاست پر تورات باندی وَلَقَدْ جَآءَکُمْ او په تحقیق سره
و تاسو ته راغلے وو مُّوْسٰی بِالْبَیِّنٰتِ موسیٰؑ په ښکاره معجزو سره چه هغه نه شیان
وه لکه د سورۃ اعراف په مینځ کښي یعنے په شپاړسمه رکوع کښے راغلے دی او
خدائ فرمایلے دے فَاَرْسَلْنَا عَلَیْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ
وَالدَّمَ اٰیٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ فَاسْتَکْبَرُوْا وَکَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِیْنَ یعنے خدای پاک وایي
هرکله چه دوی ایمان راوړلو څخه منعه وکړه نو موږ پر دوی باندی طوفان

اوملغ اوسپږے اوچینگونیے اوسرے وینی اودا معجزې وے چه په تفصیل سره بیان سوې وي نو دوے دا یمان داوړلو ځخه تکبر وکړے اودوی وویسو گنهگاره قوم ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ بیا تاسے گیلگی په خدایي سره ونیوی مِنْ بَعْدِهٖ وروسته تر تللو د موسیٰ د کوه طور ته وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾ او حال دا چه تاسے ظالمان واست پرخپلو ځانو باندے وَاِذْ اَخَذْنَا مِیْثَاقَکُمْ او یاد کړے هغه چه موږ واخیستی عهد ستاسے وَرَفَعْنَا او موږ پورته کړی فَوْقَکُمُ الطُّوْرَ د سر برېره پرسر د ستاسے کوه طور او بیا موږ وویل خُذُوْا مَآ اٰتَیْنٰکُمْ واخلئ هغه تورات چه موږ تاسے ته درکړی دی بِقُوَّةٍ وَّاسْمَعُوْا ا د په کوشش او په عزم سره او دا خبره د منلو د پاره واوری قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَیْنَا دوی وویل چه موږ اوریدلی دے قول ستا او موږ نه دے منلی امرستا وَاُشْرِبُوْا او وه چیښل سو په دوے یعنې واچول سو فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ د دوی په زړو کښے گیلگے یعنې محبت دده بِکُفْرِهِمْ د په سبب سره د کفر د دوی قُلْ بِئْسَمَا ته ورته ووایه اے پیغمبره چه بد دی هغه کاریَاْمُرُکُمْ بِهٖٓ اِیْمَانُکُمْ چه امرکوی وتاسے ته په هغه کارسره چه انکاردی د رسول او د قرآن ځخه ایمان ستاسے اِنْ کُنْتُمْ که تاسے یاست مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۹۳﴾ ایمان داوړونکی پرخدای روایت دے چه هرکله یهود وویل چه جنت خاص موږ لره دے او بل هیڅوک به ور نسی نو نازل سو قُلْ اِنْ کَانَتْ ته ورته ووایه اے رسوله چه که په رشتیا سره مقرر وے په زعم ستاسے سره لَکُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ تاسے لره سراپونه او نعمتونه د هغه جهان عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً په نزد د خدای یوازی مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ بیله نورو خلگو فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ نو تاسے د مرلو ارزو و «خواهش» وکړی ځکه چه هرڅوک ځان حق شمیری نو هغه په دی محنت سرای «دنیا» کښې «تکلیف سرای» ځه غواړی اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۹۴﴾ که تاسے رشتینی یاست په دے دعوی کښے د خالص والی د جنت

کینے خپل ځان لره وَلَن یَّتَمَنَّوۡہُ اَبَدًا اود سره به دوے د مرګ ارزو ونکړی هیڅکله بِمَا قَدَّمَتۡ اَیۡدِیۡهِمۡ ط په سبب سره د هغو عملو چه دوی لاسو مخکښے لیږلے او استولے دے چه هغه قتل د انبیاؤ او تغیر د نعت د رسول دی وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌۢ بِالظّٰلِمِیۡنَ ﴿۹۵﴾ او خدای بنه خبردار دے په احوالو د ظالمانو سره وَلَتَجِدَنَّهُمۡ او خامخا به ته دا یهود پیدا کړی اَحۡرَصَ النَّاسِ ډیر حریصان که ټرټولو خلګو عَلٰی حَیٰوۃٍ ۚۛ پر ژوند باندے وَمِنَ الَّذِیۡنَ اَشۡرَکُوۡا ۚۛ او خصوصاً تر هغو کسانو چه مشرکان دے یَوَدُّ اَحَدُهُمۡ دوست ګڼی «خوښوی» او ارمان کوے یو د دے یهود څخه لَوۡ یُعَمَّرُ کاشکے چه وده ته ورکړه سوای وای عمر اَلۡفَ سَنَۃٍ ۚ زر کاله وَمَا هُوَ او نه دے دا کس بِمُزَحۡزِحِهٖ مِنَ الۡعَذَابِ چه خلاصونکے سی د عذابه څخه اَنۡ یُّعَمَّرَ داچه ډیر عمر ورکړه سی وده ته او دا هلته چه ضمیر راجع وی واحدهم ته او ان یعمر فاعل وی د مزحزحه یا راجع دے وهغه شیٔ ته چه یعمر دلالت پرکوی او ان یعمر څخه بدل دی یا هُوَ ضمیر مبهم دے او ان یعمر یے مفسر دے کذا ذکره البیضاوی وَاللّٰهُ بَصِیۡرٌۢ او خدای بنه بینا دے بِمَا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۶﴾ پر هغو کار وباندی چه دوی یے کوے روایت دی چه هرکله یهودو وویل چه جبرائیلؑ پر محمدؐ باندی پیغام راوړے او دے زموږ دښمن دے ځکه چه دے رسولؑ زموږ په اسرار و سره خبروے او بل داچه زموږ پرنیکه ګانو څه حوادث راغلی دی هغه ټوله دده څخه دے او میکائیلؑ وموږ ته هیڅ بدی نه ده راوسولے او سره دده چه دی صاحب دارزاقو «رزقو» او د عیش د فراخے هم دے نوکه ده پیغام راوړی وای نو موږ به پرابوالقاسم ایمان راوړی وای نو نازل سو قُلۡ مَنۡ کَانَ ته ورته ووایه اے رسوله هرهغه څوک چه وے عَدُوًّا لِّجِبۡرِیۡلَ دښمن د جبرائیلؑ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ نو بیشکه چه ده راوړی دے دا قرآن عَلٰی قَلۡبِکَ پرزړه ستا بِاِذۡنِ اللّٰهِ په اذن سره د خدائے مُصَدِّقًا لِّمَا بَیۡنَ یَدَیۡهِ په داسے حال کښے چه تصدیق کونکے

عه ای وما احدهم بمزحزحه من النار تعمیره ۱۲

دے د هغه کتابو چه مخکے ترد ے قرآن نازل سوید ے لکه تورات، انجیل، زبور
او نورے صحیفے وَهُدًى وَّبُشْرٰى او رهنمایي او زیرے کونکے دی لِلْمُؤْمِنِيْنَ (۹۷)
ومؤمنانو ته د رضوان او د جنت او د دیدار مَنْ كَانَ هر هغه څوك چه دے وی
عَدُوًّا لِّلّٰهِ دښمن د خدا ے وَمَلٰٓئِكَتِهٖ او د ده د ملائکو وَرُسُلِهٖ او د ده د پیغمبرانو
وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰلَ او خصوصًا د جبرائیل او میکائیل فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه چه خدا ے
عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ (۹۸) دښمن دے د کافرانو وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ او خامخا په تحقیق
سره مونږ را لیږلے دی وتا ته اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۚ ایتونه د قرآن واضح وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ
او کفر نه اختیاروی په دے ایتو سره اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ (۹۹) مگر فاسقان اَوَكُلَّمَا
ایا هر کله عٰهَدُوْا عَهْدًا چه وعده وکړے دا یهود وعده د ایمان یا د نه کولو د
معاونت د مشرکانو سره نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ۭ نو دا وعده ما ته کړے یوه ټولی
د دوی څخه بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ (۱۰۰) بلکه اکثره د دوے ایمان نه راوړی پر
تورات باندے وَلَمَّا جَآءَهُمْ او هر وخت چه دوی له راغلے رَسُوْلٌ مِّنْ
عِنْدِ اللّٰهِ رسول د خدای د طرف څخه چه محمد دے مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ دا سے
رسول چه تصدیق کونکے و . و د هغه تورات چه د دوے سره دی نَبَذَ فَرِيْقٌ
نو وه غورځاوے یوے فرقے مِّنَ الَّذِيْنَ د هغو کسانو څخه اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۙ چه
ورکړه سوی وه و دوے ته کتاب كِتٰبَ اللّٰهِ کتاب د خدای وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ
وروسته ترخپلو شا وو كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ (۱۰۱) گویا که دوی نه پوهیږ ے
چه دا رسول او دا کتاب د خدای څخه راغلے دی وَاتَّبَعُوْا مَا او دا یهود پیروی
کوے د هغه شی تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ چه وایي او لوستے به دیوانو عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ
په زمانه کښے د سلیمان علیه السلام د باچاهے روایت دی چه هر کله دیوانو د
سلیمان په زمانه کښے سحر «جادو» مشهور کړے او کاهنانو تصنیفونه یکښی
وکړل چه موجب د سبب د فتنی د عالم سو نو سلیمان هغه کتابونه سره راجمع

کړه او تر څپل تخت لاندې یې په یوه صندوق کښې دفن "پټ" کړه او بیا ددہ تر
وفات وروسته هغه کتابونه شیطانانو راوکښل او وخلګو ته یې وویل چه
سلیمانؑ دا ملك په دغه کتابو سره مسخر کړے وو نوځکه یې تر تخت لاندې دفن
کړې وه نو بیا تر دے وروسته به یهودو سلیمانؑ ته نسبت دساحر "جادوګر"
کاوے نو نازل سو وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ او کفر نه وو اختیار کړے سلیمانؑ دِ جادو
په کولو سره وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا او لیکن شیطانان کافران سوی وه د
جادو په کولو سره يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ق چه وخلګو ته به یې جادو ورزده
کاوے وَمَآ اُنْزِلَ او پیروی کوے دا یهود د هغه شي چه را لیږل سوی وو عَلَى
الْمَلَكَيْنِ پر دوو ملائکو باندې بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ د د بابل په ښهر کښې چه یو
هاروت او بل ماروت وو روایت دے چه دادریس علیہ السلام په زمانه کښې ملائکو
دانسانانو خبیث عملونه ولیدل چه اسمان ته به ورتله نو دوے وویل چه اے ربه دا
انسان دوے عصیان سره د خلافت څه لائق دے بیا رب ورته وویل چه که تاسے
ته دا نفس او شهوت درکړم نو دوی څخه به زیات ګناهونه وکړے نو دوی
دیر استبعاد وکړے نو امر وسو چه تاسے څولك غوره کړے "وټاکئ" چه حقیقت
معلوم سی نو دوے هاروت او ماروت غوره کړه د دیر صلاح په سبب سره نو
نفس بشري او اسم اعظم یې ورکړے او ځمکے ته مقرر سوه د پاره د قطع د خصومتو
نو دو ورځي به یې حکم کاوے او د شپي به اسمان ته تله یوه ورځ زهره نومے یوه
ښځه ورلره راغله چه ډیره ښایسته وه او دوے په مبتلا سوه او څپل مطلب
یې څني وغوښتے نو دنے وویل که شراب وڅیښئ او خون وکړے او وبت ته سجده
هم وکړے دوے تر دوو ورځو پورے اِبَا "منعه" کوله په دریمه ورځ یې پیالے
دشرابو ور لره راوړے او دوے وڅیښلي نومست سوه او زنا یې وکړه او ناګاه
یې هلته یو سړے ولیدے چه ولاړ وو نو د خوفه ځنے د افشاء "وبیري څخه د رسوائیه"

عه یعنے فیصلے کولو او جګړو پریکولو لره ۱۲

یې مړ کړے او بیا یې و بت ته سجده هم وکړه نو د اسمان ښځه بند سول بیا زهره ورته
وویل چه هغه چیشي وه چه تاسے په هغه سره و اسمان ته تللاست هغوی ما ته هم را
زده کړے نو اسم اعظم یې ور وښووے چه دے وه لوست نو ډیر م اسمان ته ولاړه
او ستورے سوه او دوے ادریس علیهم ته راغلل او دے یې ور ب ته شفیع کړے
نو امروسو چه یو عذاب قبول کړے دد نیا یا د اخرت نو دوے دد نیا عذاب قبول کړے
او سره د بابل په ښاکښی د سر په بیبنتا نو راځړیږ ے کذا ذکره الحلبی» او بل و دوے ته سحر
«جادو» هم ور ښوول سوے وه ځکه چه هغه زمانه کښی به ساحرانو «جادوګرانو» د پیغمبرۍ
دعوه کوله چه دوے یې و فهیمانو «پوهانو» ته ور زده کړے چه هغه بیا د ساحرانو سره
مدعیان سے او حق او باطل سره بیل او جلا سے لکه چه وایې وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ او
دوے به تعلیم نه کاوے د دے جادو وهیچا ته حَتّٰى يَقُوْلَآ ترهغو چه دوے به وویل
اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ بیشکه همدا خبره ده چه موږ ازمایښت یو د خدایه فَلَا تَكْفُرْ ط نو
ته کفر مه اختیاروه د جادو په زده کولو سره د پاره د عمل په اعتقاد کولو سره د جواز
فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا نو دوے به د دے دواړو ښځه زده کاوے مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ هغه شے
چه دوے به جدا یې اچوله په هغه سره بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ط په مابین کښی د سړے
او د ښځې د ده وَمَا هُمْ اونه وه دوے بِضَآرِّيْنَ بِهٖ هیڅ ضرر رسونکے په دې سحر
سره مِنْ اَحَدٍ وهیچا ته اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ط مګر په اذن سره د خدای وَيَتَعَلَّمُوْنَ
او دا یهود زده کوے مَا يَضُرُّهُمْ هغه شے چه و دوے ته ضرر رسوے وَلَا يَنْفَعُهُمْ ط
او نفع نه رسوے و دوی ته وَلَقَدْ عَلِمُوْا او خامخا په تحقیق سره دوے پوهیږي
لَمَنِ اشْتَرٰىهُ چه خامخا هغه څوك چه رانیسي جادو یعنې زده کوے یې مَا لَهٗ فِي
الْاٰخِرَةِ نشته ده لره په هغه جهان کښې مِنْ خَلَاقٍ ققط هیڅ حصه د نیکۍ وَلَبِئْسَ
مَا شَرَوْا او خامخا بد دے هغه شی چه دوے خرڅ کړے دی بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ط په
هغه شی سره چه سحر دے خپل ځانونه لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ که دوی وای چه

عه یعنې عقیده ستاسی داده چه دا سحر کول یو روا او ښه کار دی ۱۲ ۱۲

پوهيد لاے نوداسے به يې نه كول وَلَوْ اَنَّهُمْ اوكه بيشكه دوے اٰمَنُوْا واتَّقَوْا
ايمان راوړے واى پرَرسول او پر كتاب او پرهيزے كړے واى د سحرہ
او د يهوديته څخه لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ط نو خامخا به يې د خداى
د طرفه څخه جزاء پيدا كړے واى غوره او بهتره تر دے رشوت چه دوے يې
اخلے په تبديل سره د نعت د رسول لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ كه دوے واى چه ۱۲ ع ۷ ۱۲
پوهيد لاے نوداسے به يې نه كول روايت دے چه هركله مؤمنانو رسول
ته كلمه د راعنا ويل يعنے زمونږ رعايت وكړه په پوهولو او په اوريدلو سره
زمونږ د خبرے بيا به يهود وهم د دوے په تبع سره دا لفظ وايې مگر په بل
نيت سره ځكه چه دا لفظ په عبرانے كښے فاحشه او زرول دے نو پروردگار
دا سے لفظ ورونبووے چه معنے يې هم داوى او فحش په كښے نه وے نو نازل
سو يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا تاسے لفظ د راعنامه
واياست وَقُوْلُوا انْظُرْنَا او واياست لفظ د انْظُرْنَا وَاسْمَعُوْا ط او واورے دا امر
د زړه په غوږ وسره وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾ او مقرر دے وهغه كافرانو
ته چه دا لفظ د راعنا وايې په نيت سره د سبب "بےتحکم" دردناكه عذاب مَا يَوَدُّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دوست نه گڼي "نه خوښوي" هغه كسان چه كافران دے مِنْ اَهْلِ
الْكِتٰبِ د يهودو څخه وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ او نه مشركان اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ داچه
راوه ليږل سے پرتاسے باندے مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ط يو خير يعنے وحي او قران د ربه
ستاسے څخه وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ او خداے خاصوے پخپل رحمت سره مَنْ يَّشَآءُ
هر هغه څوك چه اراده يې وسي وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۰۵﴾ او خداى چه
خاوند دلوے فضل دے روايت دے چه هركله يهودو يا مشركانو به ويل
چه ډير تعجب دے وحهٔ ته چه وحيلوا صحابو ته يوكار د وايې او بله ورځ يې بيا

عه يعنے په بدلولو سره د نعت او د وصف د محمد صلے اللّٰه عليه واٰله وسلم ۱۲ عه يعنے انتظار وكړه او وگوره د ميو ته ۱۲

ځنې منع کړې او د مخکنی کار ځنې مخالف کار د روستو ته وو ايې نو نازل سو مَا نَنۡسَخۡ
هغه چه موږ يې منسوخ کوو مِنۡ اٰيَةٍ يو اٰيت د قرآن په خپل حکمت بالغه سره
د يو مصلحت د پاره اَوۡ نُنۡسِهَا يا يې موږ هير وو د مؤمنانو د زړه وځنې نَاۡتِ
بِخَيۡرٍ مِّنۡهَاۤ نو موږ راوړو غوره تر هغه چه ځوا لکه نسخ د لسو کافرانو او پرځای
يې دوه مقررول په غزا کښې اَوۡ مِثۡلِهَا يا د هغه په مثل سره بنا بر مصلحت
باندې لکه تحويل د بيت المقدس ځنې و کعبې ته اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ
قَدِيۡرٌ ﴿۱۰۶﴾ ايا ته نه يې پوه سوې چه په تحقيق سره خدای پر هر شي باندې
قادر دی اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ ايا نه پوهيږې ته چه بيشکه خدای چه دی لَهٗ
مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ هم ده لره ده باچاهي د اسمانو او د ځمکې وَمَا لَكُمۡ
او نسته تاسې لره مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غير د خدای ځنې مِنۡ وَّلِىٍّ هيڅوك دوست
وَّلَا نَصِيۡرٍ ﴿۱۰۷﴾ او نه هيڅوك مددگار روايت دی چه هر کله يهودو يا
مشرکانو وويل چه محمدؐ دې تيار ليکل سوې کتاب راوړي په يو وار سره
لکه و موسیٰ ته چه راغلی وو نو نازل سو اَمۡ تُرِيۡدُوۡنَ ايا تاسې اراده لرئ اَنۡ
تَسۡـَٔلُوۡا رَسُوۡلَكُمۡ د دې چه تاسې سوال وکړئ د خپله رسوله ځنې كَمَا سُئِلَ مُوۡسٰى
لکه چه سوال کړه سوی وه د موسیٰ ځنې مِنۡ قَبۡلُ د مخکی تر دې چه سوال د اَرِنَا
اللّٰهَ جَهۡرَةً وو وَمَنۡ يَّتَبَدَّلِ الۡكُفۡرَ او هغه څوك چه بدل وي کفر بِالۡاِيۡمَانِ
په ايمان سره يعني ايمان ورکوي او کفر اخلي فَقَدۡ ضَلَّ په تحقيق سره چپ سو
سَوَآءَ السَّبِيۡلِ ﴿۱۰۸﴾ د مينځ ځنې د سمې لارې وَدَّ كَثِيۡرٌ دوست گڼي «خوښوي» ډير
مِّنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ د يهودو ځنې لَوۡ يَرُدُّوۡنَكُمۡ داچه تاسې واوړي مِّنۡۢ بَعۡدِ اِيۡمَانِكُمۡ
وروسته تر ايمان راوړلو ستاسې كُفَّارًا ۚ ځې کافران لکه مخاص او يا ران دوه چه

¹ يعني لکه چه خدای فرمايلي وه چه يو مؤمن دې د لسو کافرانو ځنې نه تښتي بيا ئې مهرباني وکړه او وئې فرمايل چه
يو مؤمن دې د دوو کافرانو ځنې نه تښتي ۱۲ ² يعني مخ گرزول د بيت المقدس ځنې د کعبې شريفې ته ۱۲ ³ يعني د نبيه
د موږ ته اې موسیٰ الله تعالیٰ په ښکاره سره ۱۲

متوجه سوے وه وحذیفه[۱] او وعمار بن یاسر ته چه یهودیان سے حَسَدًا مِّنْ
عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ دجهته څخه دکینی دخپلو ځانو څخه دبل چا په ویلو سره مِّنْۢ
بَعْدِ مَا تَبَیَّنَ وروروسته ترهغه چه ښکاره سو لَهُمُ الْحَقُّ ۚ ورډوے ته حق
چه رسول او قرآن او دین د اسلام دے فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا نو تاسئ عفوه کوے
او مخ گرځوے ددوے څخه او قتال «جنگ» مه ورسره کوے حَتّٰی یَاْتِیَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ط
ترهغو پورے چه خدای خپل فرمان راولیږے په قتال «جنگ» یا په جزیه سره
اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدا ے عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۰۹﴾ پر هر شے باندے قادر دے وَاَقِیْمُوا
الصَّلٰوةَ او برپا[۲] یه لرے خپل لمونځ وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ ط او ورکوے خپل زکوٰة وَمَا تُقَدِّمُوْا
او هرهغه چه تاسے یې مخکښې ولیږے لِاَنْفُسِکُمْ مِّنْ خَیْرٍ دخپلو ځانو لپاره د
مال څخه لکه صدقه یا نفقه یا نور خیرات نو تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ط نو بیا به یې تاسے
پیدا کړے دخدا ے څخه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدا ے بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿۱۱۰﴾ پر هغو
عملو چه تاسے یې کوے ښه بینا دے وَقَالُوْا او وایې دا یهود او نصاریٰ لَنْ یَّدْخُلَ
الْجَنَّةَ دسره به داخل نه سے وجنت ته اِلَّا مَنْ کَانَ هُوْدًا مگر هغه څوک چه
یهود ے وی دا یهود وایې اَوْ نَصٰرٰی ط یا نصرانی وے دا نصاریٰ وایې تِلْکَ
اَمَانِیُّهُمْ ط دا د دوے آرزو وګانے دی قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَکُمْ نه ورته ووایه اے
رسوله چه راوړے خپل دلیل اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۱۱۱﴾ که تاسے رشتیا ویونکے
یاست په دے دعوے کښې داسے نه ده لکه دوی چه وایې بَلٰی ق مَنْ اَسْلَمَ بلکه
هرڅوک چه وسپارے وَجْهَهٗ لِلّٰهِ خپل ځان وخدای ته وَهُوَ مُحْسِنٌ اوحال
داچه دے نیکوکاره وے فَلَهٗ اَجْرُهٗ نو مقرر دے ده لره اجر دده عِنْدَ رَبِّهٖ ص په
۱۳ ع ۹ ۱۳ نزد درب دده وَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ او نه به وے هیڅ بیره پر دوے وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ﴿۱۱۲﴾
او نه دوے خفه کیږے د تصوره څخه د زوال ددے حال ترابد الابد پورې

[۱] دا دواړه د مسلمانانو او د پیغمبر د یارانو مونږ وے ۱۳ [۲] یعنے بنده په حضور سره لمونځ اداکوی سره د
اداب کولو د حقوقو دده ۱۲ منه

روایت دے چه د یهودو احبارا و د نجران نصاراے یوه ورځ مدینے ته راغله
او د رسول علیه السلام په مخکښے سره په نزاع سوه او هر یوه ابطال د دین د
هغه بل کاوے نو نازل سو وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ او ویل یهودیانو لَيْسَتِ النَّصٰرٰی
چه نه دے نصارای عَلٰی شَیْءٍ پر هیڅ شی د حق دین څخه وَّقَالَتِ النَّصٰرٰی او ویل به
نصاراو و لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ چه نه دے دا یهودیان عَلٰی شَیْءٍ لا پر هیڅ شی باندی د دین
متین څخه وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ط او حال دا چه دا دواړه طایفے دخدای کتاب
لولی "تلاوت یې کوی،، او په تورات کښے تصدیق د عیسیٰ پروت دی او په انجیل کښے
تصدیق د موسیٰ پروت دے کَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ همدا سے وایې هغه کسان هم لَا
يَعْلَمُوْنَ چه نه پوهیږے لکه مجوسیان یا مشرکان د عربو مِثْلَ قَوْلِهِمْ ج په
مثل او په شان د دوے د ویلو فَاللّٰهُ يَحْكُمُ نو خداے به حکم وکړے بَيْنَهُمْ يَوْمَ
الْقِيٰمَةِ د دوے په مینځ کښے د قیامت په ورځ فِيْمَا كَانُوْا په هغه شی کښی چه دوی
دے فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ چه په هغه شے کښی دوے اختلاف کوے وَمَنْ اَظْلَمُ او څوک
دے ډیر ظالم مِمَّنْ مَّنَعَ تر هغه چا چه منعه کوے او بندوی مَسٰجِدَ اللّٰهِ مسجدونه
د خداے اَنْ يُّذْكَرَ د دے څخه چه یاد کړه سے فِيْهَا اسْمُهٗ په هغو کښے نوم د ده یعنی
لمونځ یا تسبیح وَسَعٰی فِيْ خَرَابِهَا ط او سعے "کوښښ،، کوے دی په نړولو او ویجاړولو کښے
د دے مسجدو لکه بخت نصر یا د مکے مشرکان چه هغه مسجد اقصیٰ نړولے وه او
د دے مسجد حرام ویجاړ کړید ے د رسول علیه السلام په ایستلو سره و مدینے ته اُولٰٓئِكَ
دا کسان چه دے مَا كَانَ لَهُمْ نسته د دوے لره اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ دا چه دوی به
د دے مسجد و ته داخلیږے اِلَّا خَآئِفِيْنَ ط مگر چه دوے به بیرید ونکے وی
لَهُمْ فِي الدُّنْيَا مقرر د دے دوے لره په دے جهان کښے خِزْیٌ شرموول یعنی
رسوایی او خواری او جزیه وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ او د دے دوی لره په هغه جهان
کښے عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱۴﴾ لوے عذاب روایت دے چه اصحابو یوه ورځ

په چپاؤ سره قبله ورکه کړه او هر یو په تخمین سره لمونځ وکړے بیا چه دنا سوه
نو معلومه سوه چه تولو لمونځ چپ کړے وو بیا چه مدینے ته راغله نو د رسول علیہ السلام
څخه یې د قضایې اجازه وغوښتله نو نازل سو وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ او خاص خدائے
لره دے طرف د لمر ختو وَالْمَغْرِبُ ؕ او طرف د لمر لویدو هم فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا نو هر
طرف ته چه مخ گرزوے فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ؕ نو هم هغه جانب ته دے جهت د طاعت
د خدائے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدائے وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ فراخوونکے د مغفرت او د عطا
دے او ښه دانا دے په کار د سازے سره د مطیعانو «فرمانبردارانو» وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ
او دا یهود او نصاریٰ او مشرکان د عربو وایي چه نیولے دے خدائے وَلَدًا ۙ لا زوئے
یهود عزیرؑ وایي او نصاریٰ مسیح «عیسیٰ علیہ السلام» او مشرکان ملائکے سُبْحٰنَهٗ ؕ پاکے
ده ده لره د هر عیبه څخه داسے نه ده لکه دوے چه وایي بَلْ لَّهٗ بلکه دے ده
لره پر طریقه د مملوکیت سره مَا فِي السَّمٰوٰتِ هر هغه چه په اسمانو کښے دے که ملائکے
دے او که نور څه دے وَالْاَرْضِ ؕ او چه په مځکه کښے دی که عزیرؑ او که مسیحؑ او که
نور څوک دے كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ ټول له وده ته فرمانبرداره او مغلوبه دے
بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ نوے پیدا کوونکے د اسمانو او د مځکے دے وَاِذَا قَضٰٓى
اَمْرًا او په هغه وخت کښے چه دے د یوه کار اراده وکړے فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ نو بیشکه
همدا خبره ده چه وهغه ته وایي كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۱۱۷﴾ چه سه نو هغه سی وَقَالَ الَّذِيْنَ
او وایي هغه کسان لَا يَعْلَمُوْنَ چه نه پوهیږي که جاهلان دے او که متجاهلان
دے لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ ولے خدائے زمونږ سره پخپله خبرے نه کوے اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ ؕ یا ولے
نه راځي یو موږ ته یوه نښه ستا پر صدق باندے كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ همداسے به
ویل هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه تردوے مخکے وه یهود او نصاریٰ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ؕ
په مثل د دویلو سره د دوے چه هغو به ویل چه اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ

عہ په چپاؤ کښی یعنے په کافرانو پسے یئے چپاؤ کړے وو ۱۲ عہ یعنے په زور سره یے ځان جاهل او ناپوه
حساب کړے وی ۱۲ ۱۲ ۱۲

سره یو ځای نګه سویدی ځو نه دووی قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ په تحقیق سره مونږ بیان
کړې دی نبی د توحید او د نبوت لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ (۱۱۸) وهغه خلکوته چه د یقین
طلبګاران دی اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بیشکه مونږ چه یو لیږلے یې مونږ ته
دحق سره چه قران دے بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا لا زیرے کونکے پر مؤمنانو او بیرونکے د
کافرانو وَّلَا تُسْـَٔلُ او ته نه یو بستل کیږے عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ (۱۱۹) د دوزخیانو په
هکله وَلَنْ تَرْضٰى او هیڅکله به راضی نه شی عَنْكَ الْيَهُوْدُ له تا څخه یهود وَلَا النَّصٰرٰى
او نه نصارا حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ط ترهغو پورے چه ته د دوی د دین پیروی وکړې
قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ ته ورته ووایه چه بیشکه رهنمایی دخدای چه ده هُوَ الْهُدٰى ط
هم غه رهنمایی ده په واقعه کښې وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ او که ته پیروی وکړې
ددوی دارزوګانو د دین په کار کښې بَعْدَ الَّذِيْ جَآءَكَ وروسته ترهغه شی چه و
تاته راغلی دے مِنَ الْعِلْمِ لا دعلمه څخه یعنی دوحی او ددینه څخه مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ
نه به وی تاله دخدای څخه یعنی دعذاب څخه دده مِنْ وَّلِيٍّ یو کوم دوست
خلاصونکے وَّلَا نَصِيْرٍ (۱۲۰) او نه یو کوم مددګار اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ هغه
کسان چه مونږ ورکوی ته تورات ورکړی دی که مراد ابن سلام وی یا انجیل
که مراد اصحاب دجعفر طیار وی چه دحبشو څخه ور سره راغلی وه يَتْلُوْنَهٗ
حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ط تلاوت کوی یې "وایی" په حق تلاوت کولو "ویلو" سره اُولٰٓئِكَ
يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ط دا کسان چه دوی ایمان راوړی پروی کتاب وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ
او هغه څوک چه کافر شی په ده سره فَاُولٰٓئِكَ نو دا کافران چه دوی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ (۱۲۱) ع ۱۴ ۹ ۱۴
هم دوی زیانکاران دی يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا اے د یعقوب اولاده یاد کړی
نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ هغه زما نعمتونه چه ما پیرزو کړے وه پر تاسو
باندی وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ او بیشکه زه چه یم ما تاسو غوره کړی یاست عَلَى
الْعٰلَمِيْنَ (۱۲۲) د خپلی زمانے پر ټولو خلکو باندی وَاتَّقُوْا يَوْمًا او وه بیریږی

د عذاب به ځنې د هغې ورځې لَا تَجْزِیْ نَفْسٌ چه لیرې کولایي به نه شي هیڅ نفس کافر عَنْ نَّفْسٍ شَیْئًا د هیچا ځنې هیڅ قدر د عذاب وَّلَا یُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ او نه به قبلیږي دده کافر نفس ځنې فدیه د خپل ځان وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ او نه به نفعه رسوي وده نفس کافر ته زارې د هیچا وَّلَا هُمْ یُنْصَرُوْنَ (۱۲۳) او نه به وي دا کافران په دغه ورځ کښې چه مدد به ورسره وکړه شي وَاِذِ ابْتَلٰٓی او یاد کړه اې رسوله هغه چه وازمایه اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ ابراهیم خپل رب بِکَلِمٰتٍ په یو څو کلماتو سره دا وامرو او د نواهیو ځنې یا دحج په مناسکو سره یا په لسو کارو سره چه هغه دادي فرق ؏ د بیښتانو د سر او مضمضه او استنشاق او مسواك او قص د شاربیښو او نتف د ابطینو او تقلیم د اظفارو او حلق د عانې او استنجاء په اوبو سره او ختنه فَاَتَمَّهُنَّ ط نو دده دا اوامر پوره کړه قَالَ اِنِّیْ جَاعِلُكَ نو رب ورته وویل چه بیشکه زه ستا گرځونکیم لِلنَّاسِ اِمَامًا ط خلگو لره پیشوا ترقیامته پورې په دین کښې قَالَ وَمِنْ ذُرِّیَّتِیْ ط بیا ابراهیم وویل او بعض د اولاد ځنې زما دې هم پیشوایان وي قَالَ لَا یَنَالُ نو رب ورته وویل چه نه رسیږي عَهْدِی الظّٰلِمِیْنَ (۱۲۴) عهد د رحمت زما و ظالمانو ته یعنې وکافرانو ته وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَیْتَ او یاد کړه هغه چه موږ وگرځول کعبه مَثَابَةً لِّلنَّاسِ ځای د ثواب پیدا کولو خلگو لره وَاَمْنًا ط او ځای د امن چه هیڅوك پرچا تعدي نسي کولای وَاتَّخِذُوْا او نیسي اې مؤمنانو مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ د ځای ځنې د دریدلو د ابراهیم یا د هغه ځای ځنې چه وده ته منسوب دې مُصَلًّی ط ځای د لمانځه یا د رکعتو د طواف یا د دعا وَعَهِدْنَآ او پیغام کړې وه موږ اِلٰٓی اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِیْلَ وده دواړه پلار او زوی ته اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ دا سې چه پاکه کړې عبادتخانه زما د هر ناپاکه او هرنالائقه شي ځنې لِلطَّآئِفِیْنَ وَالْعٰکِفِیْنَ د مسافرانو او مقیمانو یاد طواف

ؑ فرق څرمن جوړول تمضمضه خوله پرېمنځل استنشاق پزه پرېمنځل قص وشاربیښو بریتونه کرچنې کول نتف دابطینو د تخرگو د بیښتانو کښل تقلیم د اظفارو پرېکول د نوکانو حلق دعانې خریل د بیښتانو د نامه لاندې او ختنه سنتول استنجاء په اوبو سره سواك دیل ۱۲

کونکو او د معتکفانو وَالرُّکَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۱۲۵﴾ او د پاره د راکعانو ساجدانو یعنې مصلیانو
وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ او یاد کړه هغه چه ابراهیمؑ وویل رَبِّ اجْعَلْ اے زما ربه ته
وګرځوه هٰذَا دا ځای چه کعبه ی یکښې واچوله بَلَدًا اٰمِنًا ښار په امان د محفوظ
او د خسف او د مسخ یا د ظلمه ځنې د ظالمانو وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ او روزی ورکه
واهل ته ددے مِنَ الثَّمَرٰتِ د هر قسم میوو ځنې مَنْ اٰمَنَ و هر هغه چا ته چه
ایمان یې راوړے وے مِنْهُمْ بِاللّٰهِ ددوے ځنې پر خدای وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ او پر
ورځ د قیامت قَالَ وَمَنْ كَفَرَ بیا رب وویل او و هغه چا ته به یې هم ورکوم
چه کافر وے ځکه چه دا رحمت عامه دے اودا مامت سوال چه تا کړے وه هغه
رحمت خاصه وه ځکه تخصیص یکښې وسو فَاُمَتِّعُهٗ قَلِیْلًا نو عیش به ورکوم ورکے
کافر ته لږ یعنې په د نیا کښې ثُمَّ اَضْطَرُّهٗٓ بیا به یې په خواری سره بوزم اِلٰی
عَذَابِ النَّارِ و عذاب ته ددوزخ وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿۱۲۶﴾ او بد ځای دی د
استوګنې فائده ددے دعا په سبب سره جبرائیلؑ په امر د رب سره د فلسطین
ځنې یو ښار راوړے چه ډیر میوه داره وه او اووه واره یې پر کعبه راوګرزاوی او
د مکې ځنې یې درے منزله لیرے کښېښوده نو ځکه یې طائف بولي او اکثره میوې
و مکې ته هم ددغه طائف ځنې راځي وَاِذْ یَرْفَعُ او یاد کړه هغه چه پورته کول به
اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ ابراهیم علیه‌السلام بیخونه د دیوالو مِنَ الْبَیْتِ د کعبې وَاِسْمٰعِیْلُ د
او اسماعیل علیه‌السلام هم چه نروی به یې تیږے "ډبرې" راوړې او پلار به یې ایښوولې
او دواړو به وویل رَبَّنَا اے زموږ ربه تَقَبَّلْ مِنَّا د قبول کړه دا خدمت د موږ
ځنې اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۱۲۷﴾ بیشکه ته چه یې هم ته بنه اورېدونکے ددُعا
یې بنه دانا یې زموږ په نیتو سره رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا اے زموږ ربه موږ دواړه
وګرځوه مُسْلِمَیْنِ لَكَ غاړه ایښوونکے وتا ته وَمِنْ ذُرِّیَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ص
او زموږ د اولاد ځنې هم داسے قولګه پیدا کړه چه وتا ته غاړه ایښوونکے وي وَاَرِنَا

مَنَاسِكَنَا اوراو ښیه ومونږ ته ځایونه داداءکولو دحج زمونږ وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ او
قبوله کړه توبه زمونږ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۲۸﴾ بیشکه ته چه یې هم
ته یې ډیر توبه قبلونکے او مهربانه رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ اے زمونږ ربه او
پیدا کړه په دوی کښې رَسُوْلًا مِّنْهُمْ رسول د دوئے څخه يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ چه تلاوت
کوي پردوي اٰيٰتِكَ ایاتونه ستا چه قران دے وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ او ورزده کوی
دوی ته قران وَالْحِكْمَةَ او امراو نهی او حلال او حرام وَيُزَكِّيْهِمْ ط او دوی
پاکوی دگناهو څخه اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۲۹﴾ بیشکه ته چه یې هم ته غالب ۱۵ ع ۱۰ ۱۵
او قادر یې پرقبلولو ددعا زمونږ خاوند د ډیر حکمت یې فائده ددے دعا په
سبب سره پروردګار رسول علیه السلام داسمٰعیلؑ د پشته څخه پیدا کړے ځکه
چه داحدیث دے انا دعوة ابراهیم یعنی زه غوښتل سوے د خپل پلار یم چه
ابراهیمؑ دے وَمَنْ يَّرْغَبُ او څوک دے چه څنګ او میل کوی عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ
د دین څخه دابراهیم علیه السلام یعنی څنګ څنی کوی اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ط مګر هغه څوک
چه خپل ځان خوار وے وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ اوخامخا په تحقیق سره مونږ غوره کړے
وه دے فِي الدُّنْيَا ۚ په دے جهان کښی په نبوّت[عه] او خلّت او په عمارت سره دبیتی
وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ او بیشکه چه دے په هغه جهان کښې لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ خامخا د
نیکانو او خاصانو څخه زما دے اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗ یاد کړه هغه چه ووده ته خپل رب
وویل اَسْلِمْ[عه] چه غاړه کښېږده زما و قضا ته قَالَ اَسْلَمْتُ نو ده وویل چه غاړه
می ایښے ده لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ ورب ته دتمام جهان نکته مناسب داسے وه د
ماقبل سره چه اَسْلَمْتُ لَكَ یې ویلي واے مګر ده عدول وکړے ولرب العٰلمین
ته نو په دے سره ده علت دوجوب د اسلام بیان کړے یعنی دے خو مربّی دی د
هرڅا او مربّی ته ګردن نهادنی "غاړه ایښول" واجب ده نو ده ته هم واجب سوه

عه یعنی نبی کړی وه مونږ او بیا خلیل کړی وه مونږ او بیا مونږ ماموره کړی وه دخانه کعبے په جوړولو سره ۱۲

عه یعنی او تاته غاړه ایښی ده ۱۲

وَوَصّٰى بِهَآ او وصیت کړے وه په دے ملت یا په کلمه سره د اسلمت اِبۡرٰهٖمُ بَنِيۡهِ
ابراهیم علیه السلام وخپلو زامنو ته وَيَعۡقُوۡبُ ؕ او یعقوب هم وخپلو زامنو ته د اسی
وصیت کړے وو چه ورته ویلے یے وه يٰبَنِىَّ اے زما زامنو اِنَّ اللّٰهَ اصۡطَفٰى بیشکه
چه خدائے غوره کړے دی لَـكُمُ الدِّيۡنَ وتاسے ته دین د اسلام فَلَا تَمُوۡتُنَّ نو گر سره
تاسے مه مری اِلَّا وَاَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ (۱۳۲) مگر چه تاسے مسلمانان اوسے په دے کینے مقصود
نهی ده د ترك شخه د اسلام د مرګ شخه لکه چه ویل کیږی لَا تُصَلِّ اِلَّا وَاَنۡتَ خَاشِعٌ
روایت دے چه یهودو ورسول علیه السلام ته د ویل چه تا ته دا معلومه ده او که نه
چه یعقوب علیه السلام و خپلو زامنو ته په وخت کبنی د نزع د یهودیت وصیت کړی وه
نو نازل سو اَمۡ كُنۡتُمۡ شُهَدَآءَ آیا تاسے حاضر واست اِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوۡبَ الۡمَوۡتُۙ
چه راغلے و یعقوب علیه السلام ته مرګ یعنے علامی د مرګ اِذۡ قَالَ لِبَنِيۡهِ هغه وخت چه
ده وخپلو زامنو ته د ویل مَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡۢ بَعۡدِىۡ ؕ چه د چا عبادت به کوی زما تر
مرګ وروسته قَالُوۡا نَعۡبُدُ اِلٰهَكَ دوی وویل چه موږ به ستا د رب عبادت
کوو وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ او د رب د پلرو ستا اِبۡرٰهٖمَ وَاِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ چه دادری
سره دے او ولره ته یے هم پلار دوویل تغلیباً اِلٰهًا وَّاحِدًا ۖۚ دا سے خدای چه
یو دے او شریك نه لرے وَّنَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ (۱۳۳) او موږ وده ته غاړه اینبوونکے
یو تِلۡكَ اُمَّةٌ دا یوه ټولی وه قَدۡ خَلَتۡ ۚ چه په تحقیق سره تیره سو لَهَا مَا كَسَبَتۡ
دے دے امت لره هغه چه دوے یی کسب کړی دے وَلَـكُمۡ مَّا كَسَبۡتُمۡ ۚ او دے
تاسے لره هغه چه تاسے یی کسب کړی دے وَلَا تُسۡـَٔـلُوۡنَ او نه به پو بنستل کیږے
عَمَّا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ (۱۳۴) د هغه کار و شخه چه دوے وه چه کول به یے هغه کارونه
وَقَالُوۡا كُوۡنُوۡا هُوۡدًا او وایی اهل کتاب و مؤمنانو ته چه یهود شئ د ایهود وایی
اَوۡ نَصٰرٰى یا نصرانیان سے د انصاری وایی تَهۡتَدُوۡا ؕ اما چه سمه لار پیدا کړے

ع یعنے لمونځ مه کوه اے لمونځ کوونکی مگر په هغه حال کښی چه ته بیریدونکے یی د خدای شخه ۱۲ ۱۲

قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ وو ايه اے رسوله چه نه يهوديت كوو او نه نصرانيت كوو
بلكه متابعت كوو د دين د ابراهيم عليه السلام حَنِيْفًا ط چه مائل وو د هر باطل
څخه وحق ته وَمَا كَانَ او دے نه وو مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ د مشركانو څخه قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا
بِاللّٰهِ واياست اے مؤمنانو چه ايمان راوړے دى موږ پر خداى باندے وَمَآ اُنْزِلَ
اِلَيْنَا او پر هغه كتاب چه راليږل سوے دے وموږ ته چه قران دى وَمَآ اُنْزِلَ
او پر هغه چه راليږل سوى دے اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وابراهيم عليه السلام ته چه هغه لس
صحيفے وے وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ او ودوے د ورسره وو ته وَالْاَسْبَاطِ او
وملسيانو ته د دوے اگر كه «كرتهم» ودوے ته عليحده كتاب نه وو راغلے مگر هركله
چه دوے عاملان وو په احكامو د صحيفو د ابراهيمؑ نو گوياكه پر دوے هم دا
صحيفے نازلى وے لكه قران چه وموږ ته هم راغلے دى وَمَآ اُوْتِىَ مُوْسٰى او پر هغه
كتاب چه وركړه سوے وه وموسٰى عليه السلام ته چه تورات دے وَعِيْسٰى او وعيسٰى
عليه السلام ته چه انجيل دے وَمَآ اُوْتِىَ النَّبِيُّوْنَ او پر هغو كتابو او معجزو باندى چه
وركړه سوے دى ولو نورو پيغمبرانو ته مِنْ رَّبِّهِمْ د طرفه څخه د دوے د خپله ربه
لَا نُفَرِّقُ موږ فرق نه كوو په اصل رسالت كښى بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ز په مينځ كښے
د يوه هم د دوے څخه چه د يهودو په شان يو منو او بل نه منو وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾
او موږ وده ته غاړه ايښو ونكے يو فَاِنْ اٰمَنُوْا نو كه دوے ايمان راوړى يعنى دا
يهود او نصارٰے بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ لكه تاسو چه ايمان راوړى دے پر هغه شى
يعنے پر ټولو رسولانو او كتابو چه فرق پكښے نه كوے او قوله منى فَقَدِ اهْتَدَوْا ج نو
په تحقيق سره بيايے سمه لاره پيدا كړه وَاِنْ تَوَلَّوْا او كه دوے شا كړه او ستاسو
په شان ايمان رانه وړى فَاِنَّمَا هُمْ فِىْ شِقَاقٍ ج نو بيشكه هدا خبره ده چه دوى
په عداوت كښى دے فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ج نو ژر دے چه دفعه كړے د تاسو څخه
شر د دے يهودو او نصارٰے وو او خداے به ستا كافى سى فائده د او وعده بيا

رب تر سره کړه په قتل سره د بني قريظه وواو په اخراج سره د بني نضيرو او
په ایښودلو سره د جزيې پر دوے او د نجران پر نصارٰی وو باندی وَهُوَ السَّمِيعُ
الْعَلِيمُ ﴿۱۳۷﴾ او دے ښه اوریدونکے دے داقوالو ددوے ښه دانا دے پر احوالوددوی
او دا دے وایئ چه مونږ قبول کړے دی صِبْغَةَ اللَّهِ ۚ رنګ د خدای يعني دين دده
او نه هغه رنګ د نصرانيت چه نصارٰی وو به وخپلو نوامنو ته ورکا دے وروسته
ترتیر یدلو د اوو ورځو تر ولادته په شروابو سره چه د بل دین څخه پاك سے
ما سیوا د دین څخه د مسیح علیه السلام او ویل به یې صبغناه بالنصرانية وَمَنْ أَحْسَنُ او څوك
دے ډیر ښایسته مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً ز تر خدا ے د جهته د رنګ وَّنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ ﴿۱۳۸﴾
او مونږ ده لره طاعت کونکے یو روایت دے چه هر کله یهود و ومؤمنانو ته وویل
چه پیغمبران قوله د بني اسرائیلو څخه وه او که دے پیغمبروانی نو دے به هم د بنے
اسرائیلو څخه وای نو نازل سو قُلْ أَتُحَاجُّونَنَا ته ورته ووایه چه ایا تاسے د مونږ
سره جګړه کوی فِي اللَّهِ د خداے په دین کښے او بل په دے کښے چه ده دے غوره کړے
دے د عرب څخه وَهُوَ رَبُّنَا او حال دا چه دے زمونږ رب دے وَرَبُّكُمْ ۚ او رب ستاسے
دے وَلَنَا أَعْمَالُنَا او ده مونږ لره جزا نو مونږ د عملو وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ ۚ او ده تاسے
لره جزا د عملو ستاسے وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ ﴿۱۳۹﴾ او مونږ ده لره خالص کونکے يو
د اعتقاد او د خپل عمل أَمْ تَقُولُونَ ایا تاسے وایاست إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ
وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ چه بیشکه دا پیغمبران او پیغمبرزادګان چه وه
كَانُوا هُودًا دوی یهودیان وه دا یهود وایے أَوْ نَصَارَىٰ ۗ یا نصرانیان وه دا نصارٰا
وایے قُلْ أَأَنتُمْ أَعْلَمُ ته ورته ووایه اے رسوله چه ایا تاسے ښه پوهیږی د
انبیاؤ پر احوالو أَمِ اللَّهُ ۗ او که خداے وَمَنْ أَظْلَمُ او څوك دے ډیر ظالم
مِمَّن كَتَمَ ز هغه چا چه پټ کړے شَهَادَةً عِندَهُ هغه شاهدے چه ثابته ده دده
څخه یعنی شاهدے د رسالت د رسول چه ده لره راغلے ده مِنَ اللَّهِ ۗ د خدای څخه

پہ تیرو کتابو کښې وَمَا اللّٰهُ اونہ دے خدائے بِغَافِلٍ ناخبرہ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۱۴۰) د
هغو کارونو څخہ چہ تاسې يې کوی پہ دے کښې التفات دے د غیبتہ څخہ خطاب
تہ تِلْكَ اُمَّةٌ دا یو ټولی دہ قَدْ خَلَتْ ۚ چہ پہ تحقیق سرہ تیرہ سوې دہ لَهَا مَا
كَسَبَتْ دوی لرہ دے هغہ چہ کسب يې کړے دی دوے وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ اودی
تاسې لرہ هغہ چہ کسب يې کړے دی تاسو وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ او نہ بہ پوښتل کیږے تاسې
ع ۱۶ / ۱۲ عَمَّا د هغہ کارونو څخہ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۱۴۱) چہ دوی وہ چہ کول بہ يې هغہ کارونہ
روایت دے چہ هر کلہ رسول د خدائے صلی اللہ علیہ وسلم ومدینی تہ راغلے او پہ دی
سرہ مامور وہ سو چہ لمونځ بیت المقدس تہ کوہ نو یهود وبہ ویل چہ اگرکہ دی
زمونږ پہ دین نہ دے مگر قبلہ خویې همدا زمونږ قبلہ دہ یا بہ يې دا سې ویل چہ
دہ پخوا دسرہ قبلہ نہ پیژندلہ اوس چہ زمونږ لمونځ يې ولیدی نو قبلہ ورتہ
معلومہ سوہ او دہ خاطر شریف پہ دے خبرہ سرہ ډیر ملال سو نو نازل سو

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ

زر دے چہ وبہ وایی دالیونے احمقان جاهلان مِنَ النَّاسِ د خلکو څخہ نکتہ پہ دے ښَ د استقبال سرہ اخبار دی د

غیبہ څخہ یعنے زر دے چہ زہ بہ تا مامور کړم پہ توجہ سرہ د کعبې او
یهود او منافقان بہ وایې پر طریقہ د طعن سرہ مَا وَلّٰهُمْ څہ شی دے چہ دا مؤمنان
يې وګرزول عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ د هغہ خپلې قبلې څخہ كَانُوْا عَلَيْهَا ۚ چہ دوے وہ پر هغہ
قبلہ باندے چہ بیت المقدس وہ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ تہ ورتہ ووایہ چہ خاص خدائے
لرہ دے مشرق چہ کعبہ دہ پکښې وَالْمَغْرِبُ ۭ او مغرب چہ بیت المقدس پکښې دی يَهْدِيْ
مَنْ يَّشَآءُ برابروے دی هغہ څوک چہ ارادہ يې وسې اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (۱۴۲) و
سمې لارے تہ چہ دین د اسلام او قبلہ دابراهیمؑ دہ وَكَذٰلِكَ او همدا سې لکہ چہ
مونږ هدایت کړے دی و تاسې تہ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا ګرزولی یاست مونږ تاسې
یو ټولی غورہ پہ علمؑ او پہ عمل او پہ عدل کښې | ؏ یعنے پوہ می درکړی دہ پہ احکامو د شریعت او بیا
مې توفیق د عمل درکړے دے پر احکامو باندی او بیا ما تاسې عادلان کړے یاست د شاهدی د پارہ ۱۲ ۱۲

لِّتَكُونُوا شُهَدَآءَ د پاره د دے چه تاسے د قیامت په ورځ شاهدان ئے د طرف محمد
د تیرو د سولانو عَلَى النَّاسِ پر هغو خلګو چه منکران وو د رسالته محمد داسے چه
تاسے به شاهد ے وواياست چه دوے پیغام د سولے وه وَيَكُونَ الرَّسُولُ او ئے
رسول علیه السلام عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ط پر تاسے شاهد یعنی مُزکی وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ
الَّتِي او نه دے کړے موږ طرف د ځ ګوښ ولوستا هغه قبله كُنْتَ عَلَيْهَآ چه ته دے
پر هغه باند ے تر هجرت مخکے چه کعبه ده إِلَّا لِنَعْلَمَ مګر د دے د پاره چه معلوم یعنی
بیل کړو موږ ذکر د ے سبب چه علم دے او مراد مخنے مسبب دے چه تمیز د ے
مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ هغه څوك چه د رسول پیروے کوی د دے قبلے په توجه کینے
مِمَّنْ يَنْقَلِبُ د هغه چا چه بیر ته ګرځے عَلَى عَقِبَيْهِ ط پر خپلو پوندو باند ے یعنے چه
کافر کیږے وَإِنْ كَانَتْ او بیشکه چه دا قبله ده یا دا جعل یا دا تحویل دے د قبلے ته
لَكَبِيرَةً خامخا دیر سخت کار دے پر تولو خلګو باندی او دا اِنْ مخفف دے د مثقل
څخه نه نافیه او دلیل یے دخول دلام دے إِلَّا عَلَى الَّذِينَ مګر نه دے سخت کار
پر هغو کسانو باند ے هَدَى اللَّهُ ط چه سمه لار خدائے ورښوولی ده . او عائد کینے
محذوف دے چه هم ضمیر د مفعول دے روایت دے چه بیا یهودو وویل تو
هغه مسلمانان چه پخوا تر تحویل مره دے هغه ګمراهان ولاړه یا اصحابو
د رسول کریم څخه سوال وکړے چه څه حکم دے د هغه اهل اسلامو زموږ
چه تر تحویل مخکے مره دے نو نازل سو وَمَا كَانَ اللَّهُ او نه دے خدای لِيُضِيعَ
إِيمَانَكُمْ ط چه خراب کړے ایمان یعنے لمنځونه ستاسے إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ بیشکه چه
خدای پر خلګو دے لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ (۱۴۳) خامخا دیر مهربانه او بخښونکے دے روایت

له او پاکونکے او بنه ویونکے ستاسی یعنے وایی به دے چه دا امت زما د رواجي نه دی بلکه رشتیا ویونکے دی ۱۲ ـه فائده په هر
ځای کینے چه په کلام ربانی کینے د نعلم لفظ راسے یعنے چه الله پاك و ځان ته اشاره کړی دی نو هغه لفظ څخه حلاکول مراد
دی نه معنے لکه چه کړي خپله واخلے نو اعتراض پر راځي یعنے پخوا موږ عالمان نه وه بلکه اکس عالمان سو لکه چه د ظاهر
لفظ څخه دا معلومیږے فافهم ۱۲ ـه یعنے هدٰی صیغه د فعل ماضی معلوم دے ده او الله فاعل دی او مفعول یے چه ضمیر د
جمع دی هغه محذوف دی د پاره د کوتاه والے د خبری ۱۲

دی چه هرکله دا طعنه[1] پرده ثقیله سوه نو تل به یې ورب ته سوال کاوی او بیا
بیا به یې مخ دوحی وطرفته گرځاوے نو نازل سو قَدْ نَرٰى په تحقیق سره مونږ وینو
تَقَلُّبَ وَجْهِكَ بیا بیا گرځول دمخ ستا فِي السَّمَآءِ ۚ داسمان وطرفته دکعبے دشوقه
څخه فَلَنُوَلِّيَنَّكَ نو خامخا به وگرځوو ضرور ربالضرور تا قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ص وهغه
قبلے ته چه ته هغه قبله خوښوے فَوَلِّ وَجْهَكَ نو ته مخ خپل وگرځوه شَطْرَ الْمَسْجِدِ
الْحَرَامِ ط وطرفته دمسجد حرام یعنے وکعبے ته روایت دے چه دهجرت په دویم کال د
بدر د ترجنگ دوے میاشتے مخکے وروسته تر هغه چه یو کال او څلور میاشتے لمونځ
وبیت المقدس ته سوی وه چه داایت راغلے ددوشنبی په ورځ درجب په میاشت او
دوه رکعته لمونځ دماپښین یې کړے وه　دبنی سلمو په مسجد کښے نو مخ یې وگرځاوے
د لمانځه په میانځ کښے وکعبے ته او بیا دوه رکعته یې وکړه نو ځکه　مسجد القبلتین بلل
کیږے او بعضے مقتدیان ورسره وگرځیدل او بعضے ولاړ پاته سوه او مرتد سول
وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ اوهرچیرے چه تاسے اوسی یعنے په شرق یا په غرب کښے یا په بر
یا په بحر کښے فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ نو گرځوئ وے خپل مخان دلمانځه په وخت کښی
شَطْرَهٗ ط وطرفته دمسجد حرام وَاِنَّ الَّذِيْنَ اوبے شکه هغه کسان اُوْتُوا الْكِتٰبَ
چه ورکړے سوے دی کتاب لَيَعْلَمُوْنَ خامخا دوی پوهیږے اَنَّهُ الْحَقُّ
چه بیشکه داتحویل یا توجه وکعبے ته حق دے چه راغلے دے مِنْ رَّبِّهِمْ ط دطرفه
څخه ددوے درب ځکه چه په تورات کښے راغلے دی چه دے به لمونځ کوی وقبلتینو
ته اووروستے قبله به یې کعبه وی وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ او خدائے غافل نه دے عَمَّا
يَعْمَلُوْنَ (۱۴۴) دهغه انکاره څخه چه دا یهود یې کوی وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ او
قسم دے که ته راوړی وهغو کسانو ته اُوْتُوا الْكِتٰبَ چه ددوے ته کتاب ورکړه سوی

[1] دا طعنه پرده ثقیله سوه یعنے هرکله چه کفارو پرده باندی داالزام ویلو لکه چه زموږ
وقبلے ته لمونځ کوی نو زموږ دین به هم اختیار کړی کرخیروی ۱۲ [2] یعنے هغه جماعت
ددوو قبلو چه دوه رکعته یې وبیت المقدس ته کړی وه او دوه رکعاته یې وکعبے ته
وکړه نو ځکه دددو قبلو مسجد ورته وایے ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

دے بِكُلِّ اٰيَةٍ هر معجزه او حجت او دلیل پر دے چه کعبه قبله ده مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ
دوی به ستا د قبلې پیروی ونه کړے یعنې د کعبې حکم چه انکاری د عناد په وجه دی
نه د جهل په وجه وَمَآ اَنْتَ او ته نه یې بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ متابعت کوونکے د دوی
د قبلې حکه چه مامور نه یې وَمَا بَعْضُهُمْ او نه دے بعض د دوی بِتَابِعٍ قِبْلَةَ
بَعْضٍ ؕ پیروی کوونکے د قبلې د بعض نورو حکه چه قبله د یهودو و مغرب ته ده چه
صخره ده او قبله د نصارٰی وو مشرق ته ده نو موافقت یې سره محال دے وَلَئِنِ
اتَّبَعْتَ او که بالفرض و التقدیر پیروی وکړے اَهْوَآءَهُمْ د ارزوگانو د دوی مِّنْ
بَعْدِ مَا وروسته تر هغه جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ چه تا ته علم راغلے دے پر دے چه قبله
د ابراهیم علیه السلام حقه ده اِنَّكَ اِذًا بیشکه چه ته په دغه وخت کښې یې لَّمِنَ　وقف لازم
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ خامخا به د جملې څخه د ظالمانو اَلَّذِيْنَ هغه کسان اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ چه
موږ ورکړے دے ته تورات ورکړے دی يَعْرِفُوْنَهٗ دوی دا رسول پیژنی كَمَا يَعْرِفُوْنَ
اَبْنَآءَهُمْ ؕ لکه چه دوی خپل زامن پیژنی یعنې ډیر ښه یې پیژنی بیشکه او شبهه
وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ او بیشکه یوه فرقه د دوی څخه چه ده لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ خامخا
پټوی حق چه د ده نعت دے وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ او حال دا چه دوی پوهیږی چه
موږ حق پټوو اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ حق دے ثابت دے د رب څخه ستا فَلَا تَكُوْنَنَّ نو　ع ۱۷
ته مه کیږه اے رسوله مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ د شك راوړونکو څخه په ظاهر کښې خطاب　۱
دے ورته او مراد پکښې امت دے لکه په دغه تیر سوی ایت کښې چه اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ
الظّٰلِمِيْنَ وَلِكُلٍّ او هر چا لره د دے اهل ادیانو څخه وِّجْهَةٌ یوه قبله ده هُوَ مُوَلِّيْهَا
چه دے مخ کوونکے دے و دغه قبله ته یا خدای ګرزوونکے د ده د مخ دے و دے
قبلې ته یا لِكُلٍّ معنی دا چه هر صنف د اصنافو څخه د بنی آدمو لره بیله بیله قبله
ده لکه په دے نظم کښې چه لیکل سوی دی

ﮦ یعنې که پیروی وکړه ستا امت د دوی د ارزوګانو یعنې د کافرانو نو بیشکه ته یعنې ستا امت به د ظالمانو څخه وي ۱۲

نظم

عالم ته فکر و نیسه بیا گوره
قبله د تن پرورو خوب خوراک
قبله د دنیا دارو سیم و زر (سپین او سره زر ۱۲)
قبله د غافلانو جاه او مال
قبله د حریصانو د مال جمع (مال جمع کول ۱۲)
قبله د سرودیانو دے رباب
قبله د گمراهانو دے تلبیس (غلطول ۱۲)
قبله د جاهلانو دے بدکار
قبله د کافرانو دے زنار
قبله د مشرکانو دے ضلال

قبله د هر چا بیله بیله وروره
قبله د عاقلانو فکر ادراک
قبله د باچا نو تاج افسر
قبله د ذاکرانو ذکر او حال
قبله د صابرانو صبر او قنع
قبله د زاهدانو دے محراب
قبله د عالمانو دے تدریس (درس ورکول ۱۲)
قبله د سالکانو دی اسرار
قبله د عاشقانو مخ دیار
قبله د عارفانو دی وصال (بندګي د خپل مولا ۱۲)

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ط نو تاسے تو تربل وړاندے کیږئ ے و طاعاتو ته او د قبول و جهاتو ته چه یوه ځنے توجه ده و کیږئ ته اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا هر چیرے چه تاسے او سے يَأْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ط را به ولے او حاضر به کړے خدائے تاسے وحشرگاه ته د جزا د تولو اعمالو د پاره یعنے مسلمانان او کافران او منافقان مطیعان او عاصیان إِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلٰی كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۴۸﴾ پر هر شی بنه توانا دے وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ او د هغه ځایه ځنه چه ته ووزی اے رسوله وسفر ته

عه یعنی چه د خپل ځان بنه پرورش کوی او بله بیا پے اسوده ساتی ۱۲ سه یعنی فکر کوی په ذات او په صفاتو او په نعمتو کښی د پروردگار او بیا پے پوره رسیږ د وهغه اشیا . و ته ۱۲ عه طاعت کونکے د الله ۱۲ صه نه طاعت کونکے د الله ۱۲

فَوَلِّ وَجْهَكَ نو خپل مخ کرځوه په لما نځه کښې شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ
د مسجد حرام و طرفته وَ اِنَّهٗ لَلْحَقُّ او بیشکه دا تحویل و کعبې ته چه دے
خا مخا حق دے حُکه چه دے راغلے دی مِنْ رَّبِّكَ ؕ د رب ستا نه ستا
وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ اوخدائے نه دے غافله عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۹﴾ د هر هغه
کار نه چه تاسے ئې کوئ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ او د هغه ځائ نه په هر
وخت کښې چه ته ووزې وسفرته فَوَلِّ وَجْهَكَ نو ته خپل مخ په لمانځه
کښې وګرځوه شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ د مسجد حرام وطرفته وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ
او هر چیرې چه اوسے اے مؤمنانو فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ نو تاسے ګرځوئ خپل
مخان شَطْرَهٗ ؕ د مسجد وجانب ته لِئَلَّا يَكُوْنَ د دے د پاره چه نه وی لِلنَّاسِ
عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۙ خلګو لره یعنې یهودو او مشرکانو لره پر تاسې باندې
حجت او جګړه چه یهود به وائې چه نه مونږ د دین څخه منکر دے او لمونځ
نه مونږ و قبلې ته کوے او مشرکان به وائې چه دعوے د دین د ابراهیم
علیه السلام کوے او مخ یې د هغه د قبلې څخه و بل طرفته ګرځولے دے
اِلَّا الَّذِيْنَ مګر هغه کسان ظَلَمُوْا مِنْهُمْ ق چه ظالمان دے د دے یهودو
او مشرکانو څخه چه یهودو به وئیل چه د خپل قوم دین یې غوره کړے او
وطن یې یاد سو او مشرکانو به وئیل چه نه مونږ دین حق ور ته ښکاره سو نو
حُکه یې بیا نه مونږ و قبلې ته مخ راوګرځاوی فَلَا تَخْشَوْهُمْ نو تاسے د دوے
څخه مه بیریږے چه طعنې به وائې وَاخْشَوْنِيْ اود ما څخه وه بیریږے او نه ما
یې فرمانې مه کوے وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ او د و یم د دے د پاره چه نه
خپل نعمت پوره کړم چه ښکاره کول دے د دین د احکامو پر تاسے باندے
وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ او دریم د دے د پاره چه ښائې چه تاسے بیا وحق ته سمه
لار پیدا کړے یا مراد په نعمتی سره نعمتونه د آخرت دے یعنې تمام به کړم پر تاسے

خپل نعمتونه په آخرت کښې كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ لکه چه موږ پرتاسې
انعام کړے وو په دنیا کښې چه موږ را لیږلے دے رَسُوْلًا مِّنْكُمْ پیغمبر په
تاسے کښې ستاسے د جنسه څخه يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا چه وایي "تلاوت کړي" پر
تاسے باندے آیتونه زموږ د قرآن وَيُزَكِّيْكُمْ او تاسے د شرك څخه پاکوے
وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ او تاسے ته قرآن او حلال او حرام درښيي وَيُعَلِّمُكُمْ
مَّا او درښيي و تاسے ته هغه شیان لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ چه تاسے نه
واست چه پخپل فکر سره په پوهید لی واست فَاذْكُرُوْنِيْٓ نو تاسے ما
یاد وے په لمانځه کښې په ذکر او په تسبیح سره اَذْكُرْكُمْ چه زه به هم
تاسے یاد کړم یعنے ثوابونه او مغفرت او جنت او زما دیدار به در لره ورلیکم
او درکړم وَاشْكُرُوْا لِيْ او شکر کذاره "شکر کښونکے" اوسے و ما ته زما پر نعمتو
۱۸ ع ۲ باندے وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿۱۵۲﴾ او زما د نعمتو بے قدرے مه کوے په عصیان
او نا فرمانے سره يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا اے مؤمنانو مدد غواړی
د خدایه څخه بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ [ط] په صبر کولو سره د مناهیو او د نفس د خواهشاتو
څخه یا په روژه او په لمانځه سره چه د عبادا تو سر دے او د رب سره مناجات
دے څکه چه راغلے دے [عه] الصلوٰة معراج المؤمنين اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدا ے
مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ د صابرانو سره دے په مدد کولو او په حفظ کښې او په
حمایت کښې روایت دے چه د بدر په جنګ کښې څوارلس اصحاب
شهیدان سوه نو مؤمنانو وویل چه غریبان مړه سوه او د دنیا د لذتو
"خوندو" او نعمتو څخه د ټروند محروم ولاړه نو نازل سو وَلَا تَقُوْلُوْا او
تاسے مه وایاست لِمَنْ يُّقْتَلُ د هغه چا ته چه وژل سوے دے فِيْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ اَمْوَاتٌ [ط] د خداے په لاره کښې یعنے چه دوی په جهاد کښې مړه دي بَلْ

[عه] د هغو شیانو څخه چه خداے ځني منعه کړي دي ۱۲ [عه] یعنې دا لمونځ چه دی معراج د مؤمن دی یعنې سبب د پورته کیدلو او ختلو د سري دی و خداے ته ۱۲ ۱۲

اَحْيَآءٌ بلکه ژوندی دی وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ (۱۵۴) او لیکن تاسی په کیفیت سره
ددی حیٰوۃ نه پوهیږی ځکه چه ستاسی تر عقل وړاندی یعنی لیری دی وَ
لَنَبْلُوَنَّكُمْ او خامخا به موږ تاسی ازمایو بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ په یو ه
شی سره د ویری د دښمن او دلوږی څخه د قحطی وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ او د
نقصان څخه د مالو په ړنګا رلو او فنا تو سره وَالْاَنْفُسِ او د نفسو په قتل
او په مرګ او په ضعف او په زړښت سره وَالثَّمَرٰتِ او د میوو په
افاتو سماوی او ارضی و وسره یا مراد خوف د خدای څخه یا لوږه د
روژې او نقصان د زکوٰۃ او امراض د بدن او موت د اولاد دی لکه چه
په حدیث قدسی کښی ولد پخپله بلل سوی دی هغه دادی چه اقبضتم ثمرۃ
قلبه الحدیث وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ (۱۵۵) الَّذِيْنَ او زیری ورکړه د طرفه څخه د پروردګار
د پیرو احسانو پر هغو صابرانو اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ لا چه ورسیږی د
دوی ته څه غم لږ یا ډیر لکه چه په حدیث شریف کښی راغلی دی کُلُّ
مَا سَآءَ الْمُؤْمِنَ فَهُوَ مُصِيْبَةٌ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ (۱۵۶) نو دوی
وایی چه بیشکه موږ مال د خدای او بندګان دده یو او بیشکه موږ خاص
دده ته بیا ورتلونکی یو په قیامت کښی اُولٰٓئِكَ دا صابران او مسترجعان
چه دی هم په خوله او هم په زړه سره عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ دی پر دوی باندی
انواع د رحمت او د مغفرت مِّنْ رَّبِّهِمْ د جانبه څخه د خپل رب وَرَحْمَةٌ

له وراه دی یعنی فکرونه او مقلونه ستاسی نه د درک سیږی ۱۲ ٢ه په ضعف یعنی اول قوی دی بیا یی ضعیف کړم ۱۲ ٣ه په زړښت په زوړ والی سره یعنی ځوانان وی بیا یې زاړه کړم ۱۲ ٤ه آفات سماویه یعنی ږلۍ یا تندر په پر راولیږم نو هلاک یې کړم ۱۲
٥ه ارضیه یعنی ملخ یا چینجی پر مسلط کړم او خراب یې کړی ۱۲ ٦ه اقبضتم الخ یعنی هر کله چه مؤمن زوی یا لور مړ سی او ملائکی روح د هغه د آسمان ته وخیژوی نو رب العزت ملائکو نه پوښتنه وکړی چه آیا تاسی د هغه د زړه میوه قبض کړه تر آخره ۲
٧ه یعنی هر هغه شی چه مؤمن سړی خفه کړی نو هغه ته مصیبت ویل کیږی که شی وی هغه یا ډیر خو چه د مؤمن ته تکلیف پر رسیږی او خفه کړی یې هغه مصیبت وی ۱۲ ٨ه مسترجعان یعنی هغه دوی آیت وایی چه انا لله وانا الیه راجعون وی او دی زړه چه هغه وایی ۱۲ ٩ه اوکیفیت یې سره ده هم په خوله او هم په زړه یعنی په خوله دا آیت وایی او هم په زړه کښی یقین ولری چه بیشکه موږ مال او ملک د خدای یو ۱۲

او مهربانے او نعمت یا جنت وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ او دوے چه دے
هم دوے لاره پیدا کونکے دے وتسلیم[1] او ورضا بالقضاء ته روایت دے
چه د جاهلیت په زمانه کښې به کفارو د صفا او مروه په مینځ کښے طواف
کاوے چه د مسجد حرام وشرقي طرفته دے او دوه بتان یے هم پراینبې وو
چه مسه کول به یے بیا چه مکه فتحه سوه او هغه بتان مات سوه نو مؤمنانو
دا طواف د کفارو د طریقه ځکه پرینښووی نو نازل سو اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ بے
شکه صفا او مروه چه دے مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ج د عبادت د نښو ځکه د یے چه حج
دے فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ نو هرخوك چه اراده[2] د بیتي وکړے د حج د پاره اَوِ اعْتَمَرَ
یا د عمرے فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ نو پروه هیڅ وبال نسته اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ط په دے
سره چه پردواړو طواف وکړے یعنے چه د دواړو په مینځ کښے او وه واره وګرځی
وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا ز او هرخوك چه په رغبت سره یو نیك کار وکړی فرض یا نفل
فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه چه خدای شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾ قدردانه جزاء ورکونکے دی ده ته
د نیکے او بنه دانا دے دده په نیت سره اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان چه
دے د یهود و د احبارو ځکه يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا چه دوے هغه شی پټوی
چه موږ په تورات کښی را لیږلے دی مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى د ښکاره احکامو
ځکه لکه د رجم[3] آیت او رهنمایي چه هغه نعت د رسول ؐ دے مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ
وروسته تر هغه چه موږ هغه هدی بیان کړی دی لِلنَّاسِ د خلګو د پاره
یعنی و بنی اسرائیلو ته فِي الْكِتٰبِ په تورات کښے اُولٰٓئِكَ دا حق پټوونکے چه
دے يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ لیرے کړی دے دوے خدای د خپله رحمته ځکه وَيَلْعَنُهُمُ
اللّٰعِنُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ او لعنت وایے پردوی باندے لعنت ویونکے د ملائکو او بیرالانو

[1] تسلیم الخ یعنے غاړه ایښوول او راضی کیدل په حکمونو سره د خدای چه یو وهغو ځکه قضاء ده یعنے حکم
کول د خدای دی په مرګ سره ۱۲ [2] اراده وکړه د بیت یعنی د تللو او حاضریدلو ارادہ وکړی و د غه بیت الله ته ۱۲
[3] د رجم یعنے سنګسارول د زنا کارانو یعنے چه ښځے او سړے د واړه واده کړی وی او بیا زنا وکړی نو سنګسار به کړے شی ۱۲

او انسانانو ټخه اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مګر هغه کسان چه وګرځیدله د شرک
ټخه یا د نعت د پټولو ټخه وَاَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا او صالح یې کړې خپل عمل
او ښکاره یې کړه هغه پټ کړی خپل فَاُولٰٓئِكَ نو دا کسان چه دی
اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ج رجوع کوم پر دوې د توبې په قبلولو سره او په رحمت سره
وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۰﴾ او هم داز یم بیا بیا قبلونکې د توبې او مهربانه
یم اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چه کافران سوی دی وَمَاتُوْا وَهُمْ
كُفَّارٌ او مړه سوی وی او حال دا چه دوی کافران وې د مرګ په وخت کښی
هم اُولٰٓئِكَ دوې چه دی عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ دې پر دوی باندې لعنت د خدای
وَالْمَلٰٓئِكَةِ او د ملائکو داهم وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۶۱﴾ او د ټولو انسانانو یا د ټولو
مؤمنانو خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ج دوی به همیشه وې په دې لعنت یا په اور کښی لَا يُخَفَّفُ
نه په سپکیږې او کمیږې عَنْهُمُ الْعَذَابُ د دوې ټخه عذاب وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۱۶۲﴾
او نه به وې چه مهلت به ورکړه سې یا د رحمت نظر پر وسی وَاِلٰهُكُمْ او خدای
ستاسې چه دې اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج یو معبود دې چه شریك نه لری لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نسته
لایق د عبادت هیڅوك مګر هم دې دې الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۳﴾ چه روزې ع ۱۹
رسانه او مهربانه دی روایت دې چه هر کله د قریشو کفارو وویل چه زموږ
درې سوه او شپیته خدایان دې او دا ټوله دیوه ښار «ښار» د مکې سرشته نسی
کولای او محمد صلی اللّٰه علیه وسلم وایي چه زما یو خدای تعالیٰ تمام عالم سرشته کوی
که دې رشتیا ویونکې وی نو پر دې باندې دې موږ لره دلیل راوړې
نو نازل سو اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ بیشکه چه په پیداکولو کښې د اسمانو
چه دا لوی اجرام عظام «لوی سرونه» یې په هوا دروله دی بیله ستنو وَالْاَرْضِ
او په پیداکولو کښې د مځکې چه دا او سیده د لکو د پاره یې فرش کړیده وَاخْتِلَافِ
الَّيْلِ وَالنَّهَارِ او په اختلاف کښی د شپې او د ورځې یعنې په تلو اد

ړاتلو کښے یا په اوږدیدو او په لنډیدو کښے یا په تیاره کیدو او په رڼا کیدو
کښے دو دے وَالْفُلْكِ الَّتِي او په هغو کښتیو او اګوټو کښے تَجْرِي فِي الْبَحْرِ
چه روانی دی په دریاب کښے بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ په هغو مالونو د تجارت چه
هغه و خلکو ته نفعه رسوے په ربح "ګټه" سره وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ او هغه چه خدائے
رالیږلے دی مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ د اسمان د طرف څخه یا د اوریځے څخه او به
فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ نوژوندے یعنې زرغونه کړے په دے سره مځکه بَعْدَ مَوْتِهَا
وروسته تر وچوالے د دے وَبَثَّ فِيهَا او خپاره کړے یے دی په دے مځکه کښے
مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ هر ډول قسمه ژنده سره وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ او په راالوزولو
کښے د څلور قسمه بادو چه قبول [عه]، دبور، شمول، جنوب دے وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ
او په هغه اوریځ کښے چه مسخره کړه سویده د رب و امر ته بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ
په مابین کښے د اسمان او د مځکے لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ (۱۶۴) خامخا د کم رکم دلیلونه
دے پر وحدانیت باندے د خدای د هغو خلکو د پاره چه عقلونه لرے او په دی
دلیلو کښے فکر کوی وَمِنَ النَّاسِ او بعضے د خلکو څخه مَنْ يَتَّخِذُ هغه څوک دی چه
نیسی مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا بیله خدایه څخه شریکان چه بُتان دی يُحِبُّونَهُمْ
كَحُبِّ اللَّهِ ط چه دوی مینه کوی پر دے بتانو باندے په مثل سره د هغی مینی
چه پر خدائے باندے یے کول بنایئے وَالَّذِينَ آمَنُوا او هغه کسان چه ایمان یې
راوړے دی أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ ط ډیر قوے دی او ثابت دے په محبت کښے خدای
لره وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا او که لیدلای وای هغو کسانو چه ظلم یے کړے د
د شریکانو په نیولو سره إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ لا په هغه وخت کښی چه دوی

[عه] قبول وهغه باد ته وائی چه د قبلے ته سمی مخ کړی نو د شا د طرف څخه راځی د لمر ختو د جانبه څخه او دبور وهغه باد ته وائی چه سری شا د قبلے ته کړی نو د شا د جانبه څخه راځی یعنی د لمر لویدو د طرف څخه او جنوب وهغه باد ته وائی چه د قبلے د راسته اړخ جانب څخه راځی او شمول وهغه باد ته وائی چه د قبلے د چپے اړخ څخه راځی والله اعلم د ابحث په بحر العجب ار نوری کتاب کښی دی ۱۲ اسعه یعنے بندګه کړه سوی او تابع کړه سوی ده ۱۲

بہ ووینی عذاب دد وزخ د قیامت پہ ورځ اَنَّ الْقُوَّةَ چہ بیشکہ غلبہ او قدرت
چہ دے لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ ټوله خاص خدای لرہ دے وَّاَنَّ اللّٰهَ او بیشکہ خدای چہ دی
شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿۱۶۵﴾ ډیر سخت دی عذاب ددہ او جواب د لَوْ محذوف دے چہ
کہ ودوی تہ دا امور معلوم وای نو بُتان بہ یې پہ خدایي سرہ نہ وہ نیولے
اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا یادکړه هغہ چہ بیزارہ بہ سے هغہ کسان چہ متبوعان
او مشران دے مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا د هغو کسانو څخہ چہ تابعان او کشران دی وَرَاَوُا الْعَذَابَ او
دوی دوارہ طائفے بہ عذاب ووینی وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿۱۶۶﴾ او پرے بہ سی پردوی باندے هغہ قوله
واسطے چہ پہ دنیا کښے وی د خپلوالے او دیارے وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا او وبہ وایې هغہ کسان چہ تابعان
وہ لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً کاشکے کہ وای موږ لرہ بیا ورتلہ ودنیا تہ فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ نو موږ بہ ددے
خپلو متبوعانو څخہ بیزارہ سوی وہ كَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ لکہ دوی چہ د موږ څخہ بیزارہ سوہ كَذٰلِكَ
همدا لکہ چہ ودوی تہ یې ورو ښولہ سختے د عذاب او بیزارہ یل څخہ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ ورو بہ ښیي خدای ودوی تہ پہ
قیامت اَعْمَالَهُمْ هغہ خبیث عملونہ ددوی حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ ؕ افسوسونہ پر دوی او دا دیرے لفظ د مفعوله غواړي
اول مفعول یې هُمْ دے او دوهم یې اعمالهم دی او دریم یې حسرات دے وَمَا هُمْ او نہ بہ وی دوی بِخٰرِجِيْنَ
مِنَ النَّارِ ﴿۱۶۷﴾ و تونکے د دوزخ داور څخہ هیڅکلہ روایت دے چہ عربو بہ د جاهلیت پہ زمانہ کښے حلال ع ۲۰
پرڅان حرام کړے وہ لکہ بحیرہ[عـہ] او سائبہ او وصیلہ او حام او داسے نور چار پایان هم او بل

عـہ بحیرہ د هغہ اوښې تہ وایې چہ غوږ یې څیرې کړہ سوی او سائبہ د هغہ اوښې تہ وایې چہ د نذر دپارہ پہ څای کښې ایلہ کړہ سوی وے او وصیلہ د هغہ پسہ تہ وایې چہ د خپل ورور سرہ پیوستہ دیو ځای سوی وے او حام د هغہ نرا وښس تہ وایې چہ حمایت کونکے او ساتونکے وی د خپلے شا روایت دی چہ د جاهلانو دا عادت وہ چہ هر اوښہ بہ چہ پنځہ وارہ لنګہ سوہ او چہ هغہ پنځم بچے بہ یې نر وہ نو د د جاهلانو بہ د هغې غوږ ورڅیرې کړی نو بیا بہ یې نو شل او بار ول او سپریدل پر منعہ کړہ او ایلہ بہ یې کړہ نو بحیرہ بہ یې ورتہ ویلہ او څوک چہ بہ ناجوړہ یا مسافر سو نو وہ بہ یې ویل کہ زہ روغ سوم یا کلہ زہ راوسیدم نو د ازما اوښہ دے سائبہ دی نو د بحیرې پہ شان بہ یې گذارہ ورسرہ کولہ یعنے لیخ کار بہ یې نہ پہ کاوی او چہ میږہ بہ اوہ وارہ لنګہ سوہ نو کہ دا اوم بہ یې نر وا لا د وہ نو حلال بہ یې کړہ او یواځې نارینہ وو بہ یې بیا خوارہ او کہ دا اوم اولا د بہ یې ښځہ وہ نو بہ څر اګاہ کښې بہ یې ایلہ کړہ او کہ بہ نر او ښځہ دوارہ وہ نو د ازبہ یې هم نہ حلالاوہ او دوے خوربہ وہ بہ یې پر یښودہ او دا خوربہ یې وصیلہ بللہ لکہ چہ ورز لگ د خپل څان سرہ وصل کړی او ذبح کولو څخہ یې خلاص کړی او چہ نارینہ او ښس بہ لس اوښې بلاربې کړې نو د بحیرے پہ شان بہ یې ایلہ کړہ او حام بہ یې ورتہ ویلہ او دا بہ یې ورتہ ویل چہ حمٰی ظہرہ یعنے چلہ شا یې وساتلہ یعنے دی پرمرہ باندې حرام سو یعنې نہ بہ یې خوبنہ خوړلہ او نہ بہ یې کار ورنہ پرکول نو خدای پاک دا نازل کړہ چہ دا شیان ورباندې حرام نہ دی لکہ چہ پہ سورۃ مائدہ کښې بہ ددے تفصیل راسے ۱۲ منہ

کښت چه د بتانو برخه به یې مقرره کړې وه او بعضی حرام به یې حلال کړی وه لکه
هغه اولاد د بحیرے او د سائبے چه مونږ یاد لے وی لکه چه په سورۃ مائده
او انعام کښے یې بیان دی نو نازل سو چه یٰاَیُّهَا النَّاسُ اے خلکو کُلُوْا مِمَّا فِی
الْاَرْضِ خورے د هغو شیانو څخه چه په ځمکه کښے حَلٰلًا طَیِّبًا[1] دوا بے شبهے
وَّلَا تَتَّبِعُوْا او پیروی مه کوے خُطُوٰتِ الشَّیْطٰنِ ط د شیطان د قدمو یعنی په شیطان
پسے مه ځی چه دده په وسوسو سره حلال حرام وی او حرام حلال وی اِنَّهٗ لَکُمْ بیشکه
چه دے تاسے لره عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ (۱۶۸) ښکاره دښمن دے اِنَّمَا یَاْمُرُکُمْ بیشکه همدا خبره
ده چه امر کوے دے و تاسے ته بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ په هغه بد سره چه عقل نفرت
ځنے کوے او په هغه ناکاره کار سره چه شرع یې قبیح بولے وَاَنْ تَقُوْلُوْا او
امر کوے دے چه و وایاست یعنی په دروغو سره تاسے و تړے عَلَی اللّٰهِ پر خدای
باندے مَا لَا تَعْلَمُوْنَ (۱۶۹) هغه خبرے چه تاسے نه پوهیږے لکه پیدا کول د شریکانو
او تحریم[1] د حلالو او تحلیل د حرامو وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ او چه وویل سے وو دوی ته اتَّبِعُوْا
مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ چه پیروی کوے د هغه کتاب چه خدای رالیږلے دی یعنی قرآن قَالُوْا نو
دوے وایی چه مونږ د قرآن پیروی نه کوو بَلْ نَتَّبِعُ مَآ بلکه مونږ پیروی کوو د هغه
شی اَلْفَیْنَا عَلَیْهِ اٰبَآءَنَا چه مونږ پر هغه شی خپل پلرونه پیدا کړے دی چه هغه
د بتانو عبادت دے او تحریم د بحائرو او د سوائبو دے نو رب العزت وایی اَوَلَوْ کَانَ
اٰبَآؤُهُمْ ایا دوے د خپلو پلرو پیروی کوی اگر که د دوے پلرونه وه لَا یَعْقِلُوْنَ شَیْئًا
چه نه پوهیدله په هیڅ شی سره د دین د احکامو څخه وَّلَا یَهْتَدُوْنَ (۱۷۰) او نه یې و
وحق ته لاره پیدا کړے وه وَمَثَلُ الَّذِیْنَ او حال د بلونکے د هغه کسانو چه دی
او داحکمه[2] چه دلته مضاف پکښے محذوف دے اے ومثل داع الذین کَفَرُوْا چه

---

[1] یعنی د حرامو لے د حلالو او د حلالو د حرامو ۱۲ [2] او داحکمه لفظ د بلونکی په معنی کښی ماخذ تیر کړی چه
دلته مضاف پکښی محذوف دی چه هغه لفظ داع دی یعنی داع مضاف او الذین یې مضاف الیه دی فافهم ۱۲

کافران سوید یعنې حال د بلنې ددوے وخدای ته کَمَثَلِ الَّذِیْ لکه د هغه غوبه یا
شپانه حال دے یَنْعِقُ بِمَا لَا یَسْمَعُ چه نارے وهے وهغه چارپایانو ته چه هیڅ[1]
نه اورے یعنې لوړ رهیخ نه فهمومے[2] داغویان او پسونه دده د نار وڅخه اِلَّا
دُعَآءً وَّنِدَآءً ط مگر تنها بلنه او تش اواز یعنې لکه غوا او پسونه چه تش اوازونه
دغوبه یاد شپانه اوري او معنیٰ نسي څخه فهمولای همدا سے کافران هم تش دعوت
د رسول اوري او تدبر او تفکر نه پکښې کوي چه مؤخبې د هدایت سے صُمٌّۢ
کانه دے داو ریدو څخه دحق بُکْمٌ گنگیان دي د تکلم[3] څخه په حق سره عُمْیٌ
ړاندہ دي دلید لو څخه دحق فَهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ (۱۷۱) نو دوے هیڅ عقل نه لرے
چه وحق ته لار پیدا کړے هرکله چه رب العزت اول خطاب وکړی وټولو
خلکوته او مثال یې هم په کفارو پورے ووایې د پاره د تنبیه د مؤمنانو نو
و مؤمنانو ته یې د خاص خطاب اراده وکړه نو ویې ویل یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا
اے مؤمنانو کُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا خوری د پاکیزه و یعنې د حلالو څخه د هغو
شیانو مَا رَزَقْنٰکُمْ چه مونږ وتاسے ته در کړے دي وَاشْکُرُوْا لِلّٰهِ او شکر گذاری
کوے خدای لره ددے نعمتو اِنْ کُنْتُمْ که تاسے یاست اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ (۱۷۲) چه
خاص هم وده ته عبادت کوی هرکله چه رب العزت فارغ سو د بیانه څخه د حلالو
نو اراده یې وکړه د بیانولو د حرامو نو ویې ویل اِنَّمَا حَرَّمَ بیشکه همدا خبره ده چه
خدائے تعالیٰ څلور شیان حرام کړیدي عَلَیْکُمُ الْمَیْتَةَ په تاسے مرداره یعنې هغه
چه مړه وے بیله ذکواته (د بیله حلالولو) ما سیوا د ما هے او ملخ څخه چه دا په حدیث
سره روا سویدي وَالدَّمَ او وینه غیر داینې او توری څخه چه دا هم په حدیث سره روا
سوی دے وَلَحْمَ الْخِنْزِیْرِ او د خنزیر غوښه او دا حرمت یې و ټولو اجزاؤ[4]

---

[1] چه نارے وهي یعنې او ازونه په زوره کوي ۱۲ [2] فهموی یعنې نه پوهیږي ۱۲ [3] د تکلمه څخه یعنې د خبرو کولو او د خوځے غوږ څخولو څخه په حق سره ۱۲ [4] یعنې هر څه د خنزیر حرام دي بیله غوښے څخه هم یعنې له د کې کلمي یې هم حرامي دي او بینیستري هم حرام دي ۱۲ منه رح

ته هم شامل دے وَمَآ اُهِلَّ او هغه مذبوحه چه بزغ سوی وی "یاد کړه سوی وی"
بِهٖ لِغَیْرِ اللّٰهِ ج پرهغه باندے غیرد خدایه ځنې یعنې د ذبحې "حلالولو" په وخت کښې د بل
چا نوم پریاد سوے وی لکه دُبتانو یا دپیغمبرانو فَمَنِ اضْطُرَّ نو هر څوك چه
اړ کړه سویا په سبب سره د لوږے یا داکراهٔ[۱] چه د هلاك خوف "ورګ بیږ" پکښے وی
او خوراك ځنې وکړے غَیْرَ بَاغٍ په داسے حال کښې چه د لذت او شهوت طالب نوی
او د معطیت نه وے وَّلَا عَادٍ او نه د شرعے ترحد تیریدونکے وے چه هغه خوراك
د حاجت په قدر سره دے یا تو رنګ[۲] راکښونکے نه وے پر بل مسلمان باندے فَلَآ اِثْمَ
عَلَیْهِ ط نو هیڅ وبال نسته پرده باندی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ (۱۷۳)
بخښونکے دی وهغه چا ته چه د ضرورت په وخت کښې داشیان خوری او ډیر مهربانه
دے چه د ضرورت په وخت کښې یے داشیان مباح کړی دی اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه
هغه کسان ... د یهودو احبار و ځنې یَکْتُمُوْنَ چه دوی پټوے د رشوت[۳] په قبلولو
سره مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ هغه چه خدای رالیږلے دی مِنَ الْکِتٰبِ د تورات ځنې وَیَشْتَرُوْنَ
بِهٖ او دوے اخلے په دی پټولو سره ثَمَنًا قَلِیْلًا لږ قیمت اُولٰٓئِكَ مَا یَاْکُلُوْنَ
داکسان چه دے نه خوری یعنې نه اچوی فِیْ بُطُوْنِهِمْ په خپلو نسو کښې اِلَّا النَّارَ
مګر اور د دوزخ یعنې موجبات د اور وَلَا یُکَلِّمُهُمُ اللّٰهُ او خبرے د منفعت به خدای نه
ورسره کوے یَوْمَ الْقِیٰمَةِ د قیامت په ورځ وَلَا یُزَکِّیْهِمْ ج او نه به یے پاك کړی وَلَهُمْ
عَذَابٌ اَلِیْمٌ (۱۷۴) او دوے ته لره دردناکه عذاب اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ
داهغه کسان دے چه دوی د ګمراهئ پیروان دے یعنې د یهودیت بِالْهُدٰی په
ایمان سره وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ج او عذاب ابدی پر بخښش ځنې دی فَمَآ اَصْبَرَهُمْ

---

[۱] اکراه یعنی چه زور پرو کړه سی یعنی چه ظالم ورته وو ایي چه ژر رسه دامر داره وخوره کنې وژنم دی ۱۲ [۲] یعنی پر مسلمان هم دده په شان وږی وی او هغه ځنې لږ قدر مرداره پیدا کړی وی چه فقط د هغه کار په کیږی نو دی ورسی او پر هغه توره راکاږی چه ژر رسه دا راکړه کنې وژنم دی ۱۲ [۳] یعنی رشوت د خلکو ځنې اخلی او قبلوی ئې او د احق پټوی ۱۲ [۴] یعنی عذاب چه همیشه به وی هیڅ انتها نلری پر بخښش د خدای چه د هسې ځنې غنی وی ۱۲

نو دوی څه شی صبرناکه کړیدی یا دوی څونه ډیر صبرناکه دی که فعل تعجب وی
عَلَى النَّارِ (۱۷۵) پر اور باندی ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ دا عذاب دوی لره په دی سبب
سره دی چه بیشکه خدای نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ رالیږلی دی دا تورات یا قرآن
په حق سره او بیا دوی یکښی سره مختلف سو چه بعضو ایمان پر راوړی او
بعضو نه پر راوړی وَاِنَّ الَّذِیْنَ اخْتَلَفُوْا او بیشکه هغه کسان چه اختلاف
کوی فِی الْكِتٰبِ په تورات یا قرآن یا په ټولو کتابو کښی لَفِیْ شِقَاقٍ بَعِیْدٍ (۱۷۶) خامخا
په داسی عناد کښی دی چه ډیر لیری دی هغه د حق د لاری څخه روایت دی
چه هر کله د دی آیاتو ترنزوله اهل کتابو داواوریدله چه و موږ ته نسبت د
شقاق سویدی نو دوی وویل چه موږ خو هم پر خدای ایمان راوړی دی او
لمونځ کووځلی قبلی ته نو په موږ کښی شقاق او ضلال څه غواړی یا دړ روسته
ترنزوله د توجه دا یا تو وکعبی ته هری طائفی به ویل چه نیکی خو خاص دا توجه
زموږ و قبلی ته ده نو د پاره د رد د دوی د قول نازل سو لَیْسَ الْبِرَّ نه ده نیکی
اَنْ تُوَلُّوْا دا کار چه تاسی ګرځوی وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ خپل مخان ای
نصاری وو په لمانځه کښی د مشرق و طرفته وَالْمَغْرِبِ او د مغرب و طرفته ای
یهودو ځکه چه دا د واړه منسوخ سوی دی وَلٰكِنَّ الْبِرَّ او لیکن نیکی چه ده یعنی
خاوند د نیکی چه دی مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ هغه څوك دی چه ایمان یی راوړی وی
پر وحدانیت د خدای باندی نه لکه یهود او نصاری چه زامن او شریکان ورلره
پیدا کوی وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ او د آخرت پر ورځ د ټولو حقوقو سره نه لکه یهود او
نصاری چه آخرت هر یو ځان لره بولی وَالْمَلٰٓئِكَةِ او پر ملائکو ټولو باندی
نه لکه دوی چه د جبرائیل علیه السلام سره بغض کوی او د نورو سره محبت کوی
وَالْكِتٰبِ او پر ټولو کتابو باندی نه لکه دوی چه بعضی منی او بعضی نه منی
وَالنَّبِیّٖنَ ۚ او پر پیغمبرانو باندی پر ټولو نه لکه دوی چه د ځینو رسالت

منی او د ځیلو دانه منی وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ او ورکوي مال په محبت سره د خدای یا سره د محبته د دې مال ذَوِى الْقُرْبٰى و خپلو نو نادارانو ته وَالْيَتٰمٰى او یتیمانو ته او خپلوان پر یتیمانو په دې سبب سره مقدم سوه چه په خپلوانو کښې دوه خیراته دې لکه چه حدیث دی چه صَدَقَتُكَ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَعَلٰى ذِى رَحِمِكَ اثْنَتَانِ صَدَقَةٌ وَّصِلَةٌ وَالْمَسٰكِيْنَ او وهغو نادارانو ته چه سوال نه کوي وَابْنَ السَّبِيْلِ او ومسافرانو ته وَالسَّآئِلِيْنَ او و سوال کونکو نادارانو ته وَفِى الرِّقَابِ او په گردنو ازادولو کښې یعنې مکاتبانو[عـه] ته یا وبندیانو ته د خلاصي د پاره وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ او خپل لمونځ کوي وَاٰتَى الزَّكٰوةَ او خپل زکوٰة مفروضه ورکوي او هغه بخکې مال ورکول چه ویل سویدي هغه هسې ثوابې دی وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ او بل وفاکونکې دې په خپله وعده سره او دا عطف پر مَنْ اٰمَنَ باندې دی اِذَا عٰهَدُوْا په هغه وخت کښې چه دوی وعده وکړي یا د خدای یا د بنده سره وَالصّٰبِرِيْنَ او افرین دې صبر کونکو لره او دا واو عاطفه نه دی بلکه ابتدائیه دی ځکه چه دا ځان ته کلام دی او دا نصب د وَالصّٰبِرِيْنَ بنا پر مدحه دې یعنې اَمْدَحُ الصّٰبِرِيْنَ فِى الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ پر سختیو د نادارې او د رنځ (ناجوړی) کښې وَحِيْنَ الْبَاْسِ او په وخت کښې د جنګ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا ذکر سوي هغه کسان دي صَدَقُوْا چه رښتي یې کړیده په دین کښې او په متابعت کښې د حق او په طلب کښې د نیکۍ وَاُولٰٓئِكَ او دوې چه دي هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿١٧٧﴾ همدوې ځان ساتونکي دي د هر ناکاره نالایقه کاره ځخه روایت دې چه هر کله په جاهلیت کښې په مابین کښې د نضیر او

عـه یعنې خیرات ستنا اې خیرات کونکې پر یوه فقیر نا داره باندې یو خیرات دی او ثواب دی دی او خیرات او نفقه ستا پر یو خپل فقیر باندې یعنې چه یو ستا خپل دی او بل فقیر هم دې نو دا دوه خیراته دی یعنې د دوه ثوابې دی یو ثواب د خیرات او بل ثواب د صلۂ رحمی دی ۱۲ عـه مکاتب هغه مریی ته وایې چه یوه مولی د خپل مریی نه د وایې چه ته و ما ته دومره روپۍ را کړه نو ته ازاد یې ۱۲ عـه چه پر فرض سوي دی و خدای د جانبه ځخه ۱۲

د قریظه وو یاد اوس او خزرج سره خونونه پور وه او یوه طائفه چه به پرهغه بله غالبه وه دے غالبے طائفے به پرخپل مریي اصیل سړے قصاص کاوے او پر ښځه به یې سړے او پر یوه سړے به یې دوه قصاصول نو بیا چه دور د اسلام سو او دواړه رسول صلی الله علیه وسلم لره پو ښتنه کولو سره را غلے نو نازل سو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو كُتِبَ عَلَیْكُمُ الْقِصَاصُ فرض کړه سوے دی یعنے فرض کړی دی ما پر تاسے قصاص یعنے مماثلة او برابرے فِی الْقَتْلٰی ؕ په وژلو سوو کښے چه عمداً اوی اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ اصیل سړے به قتل کیږ ے پر اصیل وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ او مریي پر مریي باندی وَالْاُنْثٰی بِالْاُنْثٰی ؕ او ښځه پر ښځه او دا حکم د اسلام په اول کښے وه او اوس امام اعظم په نزد منسوخ سوید ے په ایت سره د اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ الآیة فَمَنْ عُفِیَ لَهٗ نو هر څوك چه ورده ته عفوه وکړه سوه مِنْ اَخِیْهِ شَیْءٌ د قصاص څخه د خپل اسلامی ورور څخه یو لږ یا ډیر شی او په تنکیر دشی کښے ورده ته اشاره ده چه عفوه د بعض قصاص یا عفوه د بعض وارثانو مسقط د قصاص ده او جزاء د مَن شرطیه داده چه فَاتِّبَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ نو متابعت لازم دے وقاتل ته د عافی په بنه وجه سره یعنے دو دیت ورکول دے په رضا او په رغبت سره وَاَدَآءٌ اِلَیْهِ او سپارل د دیت دی دعنه عافی چه دمقتول وارث دے بِاِحْسَانٍ ؕ په نیکه وجه سره یعنے ژر او پوره یا معنیٰ دا چه عافی باندے لازم ده اتباع بالمعروف چه دیت د ے په تندے او سختے سره نه غواړ ے او پر قاتل باندے لازم ده اداء په احسان سره چه ژر او پوره دے یې ورکړے ذٰلِكَ تَخْفِیْفٌ دا عفوه او دیت سپکول دبار دے پر تاسی باندے مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ؕ د رب څخه ستاسے او مهربانی ده چه اختیار یې

عه عافی یعنی عفوه کونکے چه والی دمقتول وی ۱۲

ونا سے ته د رکړے او یو شی یے پرتا سے لازم نه کړے لکه قصاص پر یهود و او
دیت پر نصاراؤ ے و و فَمَنِ اعْتَدٰی نو هر څوك چه ظلم یے وکړے په وژلو سره
د قاتل بَعْدَ ذٰلِكَ وروسته تر دے عفوے یا دیته فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾ نو ده لره
دردناکه عذاب دے په آخرت کښی په سره او ورسره یا په دنیا کښے په قتل واجب
سره وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ او دے تا سو لره په قصاص کښے حَيٰوةٌ ژوند او
بقا ځکه چه که څوك د قتل اراده وکړے او بیا د بیرې څخه د قصاص
ځنے منعه سی نو قاصد او مقصود به دواړه ژوندی پاته سی يٰۤاُولِي الْاَلْبَابِ
اے د خالص عقلو خاوندانو لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ بناپی چه تاسے ځان وساتے
د بے موجبه قتله څخه روایت دے چه هر کله د جاهلیت په زمانه کښے
خلګو د بیګانه ګانو د پاره وصیت کاوے په ورو ے او ریا سره او والدین او اقرباء
خپل به یے محرومه کړه بیا چه د اسلام دوران غلے نو نازل سو كُتِبَ عَلَيْكُمْ
فرض کړه سوید ے پر تاسے باندے اِذَا حَضَرَ په هغه وخت کښی چه حاضر سے
اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ پر یوه د تاسے څخه علامے د مرګ اِنْ تَرَكَ خَيْرَاۨ که ده پرې ایښے
دے مطلق مال یا ډیر مال الْوَصِيَّةُ وصیت کول فرض دے لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ
د مور او پلار او د نورو خپلوانو د پاره بِالْمَعْرُوْفِ ج په انصاف سره حَقًّا
عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۸۰﴾ مقرر سو دا حکم په حقه سره پر ځان ساتونکو باندی د شرك
څخه او دا حکم بیا منسوخ سو د میراث په آیت سره فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ نو هر څوك
چه دا وصیت بدل کړے بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ وروسته تر هغه چه دا وصیت
واورے فَاِنَّمَاۤ اِثْمُهٗ نو بیشکه چه هدا خبره ده چه وبال ددی بدلولو چه
دے عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ط خاص پر هغو کسا نو دے چه د دے ایصاء وصیت
تغییر او بدلول کوے او د موصے ددے وبال څخه بیزاره دے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه
خدای سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۸۱﴾ بینه او ریدونکے دی د وصیت د موصے او د تبدیله
بدلولو څخه

څخه د مبدل "بدلوونکی" دانا دے پر احوالو د واړو فَمَنْ خَافَ نو هغه وارث یا وصی
یا قاضی یا امام چه وه بیریږی مِنْ مُّوْصٍ د وصیت کوونکی څخه جَنَفًا په وصیت
کښې د میل کولو څخه ترحق چه وصیت به وکړے د قوله مال یا د بعض مال یا و
بعضے وارثانو ته په سهوه سره اَوْ اِثْمًا یا د گناه په قصد سره چه وصیت به
وکړے زیات د ثلث[1] څخه یا غنی او عاجزو به محروم کړے فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ نو صلح
وکړے د وارثانو او د موصی لهم[2] په مابین کښې د موصی تر مرګه وروسته د
شرعې په موافقت سره فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ط نو پر دے صلحه کوونکی باندے هیڅ وبال
نشته ځکه چه اصلاح یې کړیده نه فساد اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای غَفُوْرٌ ۲۲
رَّحِیْمٌ ﴿۱۸۲﴾ بخښونکی او مهربانه دے پر هغه چا چه ډیر احتیاط کوی د ده په ع ۶
احکامو کښې يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ
فرض کړه سوېدی پر تاسو روژه كَمَا كُتِبَ لکه چه فرض کړه سوی وه عَلَى
الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ پر هغو خلگو باندے چه مخکی تر تاسو وه تر آدم علیه السلام
پورے لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ بنا پر دے چه تاسے ځان وساتی د گناهو څخه ځکه
چه روژه د نفس د تندے ماتونکی ده چه هغه بیخ دے د ټولو گناهو اَيَّامًا
مَّعْدُوْدٰتٍ ط یو څو ورځے په شمار سره چه هغه نه ویشت[29] یا دیرش[30] ورځی دی
او چا ویلی دے چه مراد په دے ایامو سره ایام بیض[3] "درې ورځې" دے او د عاشوری ورځ ده چه
په اول د اسلام کښې د یو ورځ روژه فرض وه بیا په ماه رمضان سره منسوخ
سوه فَمَنْ كَانَ نو هر څوك چه وه مِنْكُمْ مَّرِيْضًا د تاسے څخه رنځور "مریض"
چه طاقت یې د نیولو د روژے نه درلودی یا یې رنځ "مرض" په زیاتیدی
اَوْ عَلٰى سَفَرٍ یا هغه په سفر روان وے چه هغه موجب د قصر[4] وی او روژی وخوړے

[1] د ثلث یعنی د دریم حصے د مال ۱۲ [2] موصے لهم یعنی هغه کسان چه وصیت کړه سوی وی ورته ۱۲ [3] ایام
بیض یعنی په هره میاشته کښې د دیارلسمی او څوارلسمی او د پنځلسمی روژے نیول دی ۱۲ [4] چه هغه سفر سبب د کوتاه کولو د لمانځه
وی چه په مقدار د درے شپو او ورځو دے ۱۲ ۱۲

نَعِدَّۃٌ مِّنۡ اَیَّامٍ اُخَرَ نو لازم دے پر دہ روژہ نیول پہ شمار د ورځو د
افطار ولو "روژی خورلو" د نورو ورځو بیلہ ماہ رمضان "د روژی د میاشتی"، وَ عَلَى
الَّذِیۡنَ او پر هغو کسانو یُطِیۡقُوۡنَہٗ چہ طاقت لری د نیولو اوندے نیسی
اودا حکم د اسلام پہ ابتداء کښی وو بیا پہ فَلۡیَصُمۡہُ سرہ منسوخہ سو یا مراد
پہ یطیقونہ سرہ عدم طاقت دے بنا پر دے چہ لا پکښی مقدر دے یعنی
لا یطیقونہ یا همزہ د باب د افعال د سلب د پارہ دے یعنی چہ طاقت
څخہ مسلوب وی چہ شیخ فانی یا ددہ پہ مثل وی فِدۡیَۃٌ طَعَامُ مِسۡکِیۡنٍ
"بیرے کرہ سوی وی ۱۲"
فدیہ ورکول دے پہ برابرے د هرے روژی د یو مسکین خوراک چہ هغہ د
د امام اعظمؒ پہ مذهب نیم صاع دے فَمَنۡ تَطَوَّعَ خَیۡرًا نو هر څوک چہ زیات
ورکړے پخپل رغبت سرہ څہ خیر یعنی پیسے علاوہ تر دے فدیے فَهُوَ خَیۡرٌ لَّہٗ طانو دا
تطوع غورہ دے دہ لرہ وَاَنۡ تَصُوۡمُوۡا اود اچہ تاسے د رخصت "د افطار" سرہ روژہ
ونیسی خَیۡرٌ لَّکُمۡ دا غورہ دہ تاسے لرہ اِنۡ کُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ کہ تاسے یاست چہ
د روژے پہ فضیلت سرہ پوهیږی. شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِیۡۤ د روژے میاشت
هغہ دہ اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ چہ رالیږل سوی دے پہ دے کښے قران پہ شپہ
کښے د لیلۃ القدر پہ یو وار سرہ د لوح محفوظ څخہ و بیت العزت دہ او بیا د هغہ
ځایہ څخہ پورسول علیہ السلام باندے تو تہ تو تہ "لږ لږ" پہ قدر د حاجت سرہ
پہ د رویشتو کالو کښے هُدًی لِّلنَّاسِ چہ لار ښوونکے دے وخلګو تہ وَبَیِّنٰتٍ مِّنَ
الۡهُدٰی ے او ښکارہ ایتونہ دے د حلالو او حرامو د حدود واو د نورو قولو احکامو د
هبین وَالۡفُرۡقَانِ ۶ او بیلونکے د حق او د باطل دے فَمَنۡ شَهِدَ نو هر څوک چہ حاضروہ
پخپل وطن کښے یعنی مسافرنہ وو مِنۡکُمُ الشَّهۡرَ د تاسے څخہ اے مکلفینو پہ دے میاشت
کښے د اهلہ کہ الشهر مفعول فیہ سے یا معنیٰ دا چہ راحاضر سو دے و دے میاشتی تہ

عہ یعنی طاقت نہ لری د روژے نیولو ۱۲ سے مکلفینو یعنے پہ تکلیف د احکامو شرعیہ وو د دوی باندے کړہ سوی دی یعنے چہ عاقلان او بالغان یاست ۱۲
ضہ یعنی د رمضان روژہ و نیسی ۱۲

یعنې ښه ونه دې ورته روژه سیده او روغ او مقیم وه فَلْيَصُمْهُ نو بکار دې چه ددې
میاشتې روژه دې ونیسي وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا او هغه څوک چه مریض وي اَوْ عَلٰى سَفَرٍ یا
په سفر کښې وي او افطار وکړي فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ نو پوره لازم دي شمار پوره کول د نورو
ورځو ما سیوا د روژه د میاشتې دا تکرار د تصریح دپاره دې په دې چه په تیر آیت سره یواز
تخییر د مقیم منسوخ سو یئے نه دا دواړه يُرِيدُ اللّٰهُ خدای اراده لري بِكُمُ الْيُسْرَ پر تاسو د اسانۍ
چه مسافر او مریض یې مخیر کړیدې وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ او د سختۍ اراده نه لري پر تاسې وَ
لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ او بل ددې دپاره چه تاسې پوره کړې شمار د میاشتې وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ او بل چه تاسې
خدای په لویي سره یاد کړې عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ پر دې چه برابر کړې یاست ده تاسې پر سمه لار چه
(۱۸۵) دا سلام دین دې او حلال او حرام لمونځ روژه حج او زکوة یې در ته بیان کړیدي وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ
او بنایي چه تاسې شکر د کار دې یا پر رخصت یا پر اسانی یا پر ثواب روایت دې چه اصحابو سوال
وکړې د رسول علیه السلام څخه چه زموږ رب نژدې دې که لیرې که نژدې وي نو پټ او از به
ور ته کوو او که لیرې وي نو په زوره او از به ور کوو نو نازل سو وَاِذَا سَاَلَكَ او چه پوښتنه
وکړې د تا څخه اې رسوله عِبَادِيْ عَنِّيْ زما بندګان زما څخه فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ نو بیشکه چه
زه ډیر نژدې یم په علم او په اجابت سره اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ او رمرا و قبلوم سوال د بلونکي
اِذَا دَعَانِ کله چه په هغه وخت کښې چه ما و بولي فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ نو بکار ده چه دوی دي هم او رې او غوږ
دې وما ته و نیسي هر وخت چه زه یې و بولم ایمان او طاعت ته وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ او به کار دې چه چل
ایمان دې محکم لري پر ما باندې لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ (۱۸۶) بنایي چه دوی پر سمه لار باندې وي همیشه روایت
دې چه وروسته د فرض کیدلو د روژې د میاشتې په ابتدا کښې حکم دا سو وه چه تر ملرلو پورې
وروسته به وروځلې نه د ما تړولو رخصت نه وه تر هغو چه به یې د ماخوستن لمونځ کړی نه وو
یا بیده سوی به نه وه او که به یې لمونځ وکړې یا به په دې مابین کښې بیده سو نو بیا به افطار
"ماتول" تر بله غروبه ورته حرام وه نو ناچاره د بعض اصحابو څخه تر لساکه وروسته

ف یعنې د نا جوړه او د مسافر حکم یې مهنی بل دی چه دوی ته ... په هر یوه کښې ۱۲ امسه یعنې پوره ... دوی په ... سوال د
بلونکې دعا اوکسوال قبلوم ۱۲ امسه د ملرلو وبیده ورو وروسته روژه دار لره رخصت دی په دې طریقه کښې چه طعام او
جماع دې دې تر ماخوستن پورې کړي ۱۲

په غلبه د شهوت پر طریقه د نسیان سره مباشرت[1] صادر شو بیا چې په رمضان
خبر شو نو ډیر پښیمانه شو او رسول علیه السلام لره راغلی او واقعه یې ورته
بیان کړه نو نازل شو اُحِلَّ لَكُمْ حلال کړه شو تاسی ته لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ په
شپه د روژې کښې لوبی او جماع اِلٰى نِسَآئِكُمْ ط له ښځو خپلو سره هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ
دوی اغوستن یعنی لاندې بړستن (لباس) دی ستاسی د پاره وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ط
او تاسی هم اغوستن یعنی بړستن یاست د دوی لپاره عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ پوه دی خدای
په دې چې بیشکه تاسی كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ واست چې خیانت یعنی ظلم کوی
پر ځانونو خپلو فَتَابَ عَلَيْكُمْ پس رجوع یې وکړه پر تاسی په رحمت او په رخصت سره
وَعَفَا عَنْكُمْ ج او عفوه یې وکړه له تاسی څخه د تیر خیانت فَالْـٰٔنَ بَاشِرُوْهُنَّ پس
اوس مجامعت کوی له دوی سره په شپو د روژې کښې وَابْتَغُوْا مَا او غواړی هغه
شی كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ص چې لیکلی دی خدای تاسی ته په لوح محفوظ کښې یعنې اولاد
چې مقصود اصلي پکښې هم دا دی وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا او خوری او څښی حَتّٰى يَتَبَيَّنَ
تر هغو پورې چې ښکاره شي لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ تاسی ته سپین تار د صبح صادق
مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ له تور تاره د شپې څخه مِنَ الْفَجْرِ ص له صباح (سهار) څخه
ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ بیا پوره کړی روژې خپلې اِلَى الَّيْلِ ج تر شپې پورې وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ
او مجامعت[2] مه کوی له دوی سره وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ لا او حال دا چې تاسی بیا یاست
معتکفان فِى الْمَسٰجِدِ ط په مسجدونو کښې تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ دا چې دی حدونه د خدای
دي چې ده مقرر کړي دي فَلَا تَقْرَبُوْهَا ط پس مه نژدې کیږی دې حدونو ته كَذٰلِكَ
هم داسې لکه چې دا بیان یې کړه يُبَيِّنُ اللّٰهُ بیانوی خدای اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ نښې خپلې
و خلقو ته له امر او له نهی او له وعده او وعیده لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ (۱۸۷) بنا پر دې چې دوی
ځان وساتي له مخالفته څخه په دې حدودو کښې وَلَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ او مه خوری

---

[1] یعنی جماع له خپلو ښځو سره په شپه د روژې کښې هم مه کوی؛
[2] چې اراده د اعتکاف کړې وی تاسو او په مسجد کښې به ناست یاست ۱۲

مالونه خپل چې واقع دی بَیۡنَکُمۡ بِالۡبَاطِلِ په مینځ ستاسی کښې په نار واسرو یعنې بیله
اذنه د شارع دیو بل مالونه مه سره خورې لکه په غلا یا په غصب (زور زیاتی)
یا په جواری (خمار) یا په نور وعقود وفاسده ووسره وَتُدۡلُوۡا بِهَاۤ اومه غورځوئ
دا مالونه پر طریقه د رشوت سره یا شریعت ددی مالو اِلَی الۡحُکَّامِ حاکمانو
ظالمانو ته لِتَاۡکُلُوۡا فَرِیۡقًا دپاره ددی چې وخورئ په معاونت ددی حاکمانو
سره څه قدر مِّنۡ اَمۡوَالِ النَّاسِ له مالو څخه دخلکو بِالۡاِثۡمِ په ظلم سره لکه ع ۲۳
قسم یا شاهدان ددرواغو وَاَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۸۸﴾ او حال دا چې تاسی پوهیږئ
چې دا ظلم دی روایت دی چې معاذ بن جبل او ثعلبه انصاری سوال وکی له
رسول علیه السلام څخه چې څه حکمت دی چې میاشت اول مهینه (نری) وی
بیا کوار کوار زیاتیږی ترڅو چې کردی شی بیا رورو کمیږی چې ورکه شی نو
نازل شو یَسۡـَٔلُوۡنَکَ پوښتنه کوی دوی له تا څخه ای رسوله عَنِ الۡاَهِلَّةِ ؕ له
میاشتو یعنی له زیاتیدو او کمیدو څخه ددوی قُلۡ هِیَ ورته ووایه دا میاشتې
چې دی مَوَاقِیۡتُ لِلنَّاسِ وختونه دی دخلکو دپاره دمصالحو ددین او د
دنیا ددوی چې هغه هم په دی پورې موقوف دی لکه زمانه دحمل یا د
رضاع یا د عِدَّتُ یا دعقد و یا د مزدورۍ نکته دوی سوال دکمیدو
اودزیاتید وکړی وو او جواب په فائده سره راغلی دپاره داشارت ودی ته
چې تاسې لره په دی سوال کی هیڅ فائده نشته نو مناسب داسی ده چې سوال
دمقصود وکړی وَالۡحَجِّ ؕ او خصوصًا دپاره دحج لکه چې موسم دحج او دترویې
او عرفی او وقوف او رمی د جمره وو او نحر دا تول هم پردی موقوف دی
روایت دی چې په زمانه دجاهلیت کښې به چا احرام دحج یا دعمرې
وتاړی نو په دروازه به کور ته نه راتلی بلکه څولی به په با م راوختل او چابه

له کاروته ددی ۱۲ که دلی ورکولو ۱۲ سه ویشتل دجمره وو ۱۲ سه دریدل دعرفات ۱۲	دیوال سوری کی نو په دی سوری به راننوتل

اودا یې نیکي شمیرله او تارک ددی به یه فاسق بالی نو نازل شو وَلَیْسَ الْبِرُّ بِاَنْ
اونه ده نیکي په دی کښې تَاْتُوا الْبُیُوْتَ چې راشي تاسي وکورو ته مِنْ ظُهُوْرِهَا
له طرفه دشا ددوی وَلٰكِنَّ الْبِرَّ او لیکن نیکي یعنې ښتن دنیکي چې دی مَنِ اتَّقٰیۚ
هغه څوك دی چې وویریږی له قهره دخدای او ځان ساتي دجاهلیت له کارو څخه
وَاْتُوا الْبُیُوْتَ او ننوزی وکورو خپلو ته په احرام کښې یا بیله احرامه مِنْ
اَبْوَابِهَا ص له دروازو ددی کورو څخه وَاتَّقُوا اللّٰهَ او وه بیریږی له خدایه
څخه لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾ بنایې چې تاسي برَی پیدا کی روایت دی چې یو
کال رسول علیه الصّلوٰة والسّلام له څو اصحابو سره مکې ته روان شو په
نیت دعمری او حُدیبیه نومې یو ځای دی مکې ته نژدې چې هلته راغی نو
قریشو حصار که او په دی یې صلحه سره وکړه چې راتلونکی کال ته راشه دری
ورځې به مکه درته خالي کړو نو عمره ادا کړه بیا دابل کال چې روان شوه د
پاره دقضایې دتیرے عمری نو اصحاب په ویره کښې وه چې مبادا کفار جنګ
را باندی شروع نه کړی په حرمؔ او په احرام او په شهر حرام کښې او پس مونږ به
قتال حرام وی نو نازل شو وَقَاتِلُوْا او وژنۍ او جنګ کوی فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ
الَّذِیْنَ په لاره دخدای کښې هغه کسان یُقَاتِلُوْنَكُمْ چې وژنی تاسے وَلَا تَعْتَدُوْا
اومه تیریږی له حده یعنې تاسی ابتداء مه کوے په جنګ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې
خدای لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ﴿۱۹۰﴾ نه خوښوی تیرید ونکی له حده او داایت بیا
منسوخ شوے دی په ایت دسیف په دی مخکښی ایت سره چې دادی وَاقْتُلُوْهُمْ
او وژنۍ دوی حَیْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ په هرځای کښې چې تاسے پیدا کی دوی یعنې
په حرم کښې وی او که په حل کښې وَاَخْرِجُوْهُمْ او وباسی تاسی دوی مِنْ
حَیْثُ اَخْرَجُوْكُمْ له هغه ځایه چې ایستلی ئې واست تاسی یعنې له مکې وَالْفِتْنَةُ

علہ یعنې چې هر ځای دحرم دی او هم نیت دحج ترلی دی مونږ او بیا مباشته محرامه ده ۱۲ منه شرل له
وطنه خوځله یعنې تاسی یې له وطنه خوځله شي لی نے ۱۲ هذه الحاشیة متعلقة الصفحة الاٰتیة بقوله جلا وطني ده ۱۲

او شرك د دوی یا هغه محنت د دوی چې پر تاسې یې راوستلی دی چې جلاوطنی ده
اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ج ډیر سخت دی له وژلو ستاسې اګر که په حرم او په احرام او په
شهر حرام کښې وی وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ او ابتداء مه کوی په جنګ له دوی سره عِنْدَ
الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ په څنګ د مسجد حرام کښې یعنی درست حرم کښې حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ
فِيْهِ ج تر هغو چې دوی پر تاسې جنګ شروع کوی په دی حرم کښې او اول هم دوی
هتك[له] د حرمت وکی فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ پس که جنګ شروع کی دوی پر تاسې فَاقْتُلُوْهُمْ ط
پس تاسې هم وژنئ دوی كَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾ همدا رنګه ده جزاء د کافرانو
فَاِنِ انْتَهَوْا پس که منعه شوه دوی او راوګرځیدل له شرکه فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه
چې خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾ بخښونکی د تیر شرك او معصیت دی مهربان دے
جنت به ورکی وَقٰتِلُوْهُمْ او وژنئ دوی حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ تر هغو چې پاتې نشي
په عالم کښې کفر وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ط او خالص شي دین خدای لره فَاِنِ انْتَهَوْا
پس که راوګرځیدل دوی له شرکه فَلَا عُدْوَانَ پس نشته هیڅ ظلم یعنې جزاء د ظلم اِلَّا عَلَى
الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾ مګر پر ظالمانو اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ شهر حرام چې دی مقابل دی بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ
له شهر حرام سره یعنی هر کله چې دوی اول په تیر کال کښې هتك د حرمت کړی وو
چې تاسې ئې له عمرے څخه منعه کړی واست نو که په جنګ د رغله تاسې ئې هم وژنئ چې
د هغه عوض شي لکه چې وائي وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ط او حرمتونه په برابری سره دے
فَمَنِ اعْتَدٰى پس هر څوك چې تیرے وکی عَلَيْكُمْ پر تاسې په منع له بیته فَاعْتَدُوْا
عَلَيْهِ پس تیری وکړی تاسې هم پر هغه او ذکر د تعدّی[۲] ئې دلته محض د مقابلې له
رعایته دی بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ص په مقابله د هغه کښې چې تیری ئې کړی
وو پر تاسې وَاتَّقُوا اللّٰهَ او ویریږی له خدایه چې له رخصته تیری و نه کړے
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ او پوه شئ چې بیشکه خدای مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ له پرهیزګارانو سره

[له] یعنې مات کړی هغه عزت د دی حرم ۱۲ [۲] یعنی تعدی خو ظلم ته وائي نو معنی ئې داسې شوه چې تاسې هم ظلم کوی پر دوه نو د اډاره د مقابلې اغلے دی یعنې هغه اول لفظ د تعد و ونو دلته ئې هم راوړی یعنې تاسې هم جزاء د ظلم د دوی له ورکوی

مل دی وَاَنۡفِقُوۡا او ورکول کوی ای غنیا نو فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ په لاره دخدای کښی
وغازیانوته وَلَا تُلۡقُوۡا بِاَیۡدِیۡكُمۡ او مه غورځوی ځانونه خپل په لاسو خپلو سره
اِلَی التَّهۡلُكَةِ ج ۛ و هلاکت ته چی بخل[۱] دی وَاَحۡسِنُوۡا ج او نیکی کوی یعنې احسان مع ١
کوی له غازیانو سره په معاونت د مال یا د هرچا سره په هرڅه کښې اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
چې خدای یُحِبُّ الۡمُحۡسِنِیۡنَ (۱۹۵) مینه لری له نیکانو سره وَاَتِمُّوا الۡحَجَّ وَالۡعُمۡرَةَ لِلّٰهِ ط
او پوره کړے حج او عمره دواړه سره له ټولو حقوقو خدای لره نه لکه کافران چې
تلبیه[۲] به یې د بتانو په نوموکوله فَاِنۡ اُحۡصِرۡتُمۡ پس که منع کړه شولاست تا سے
له اتمامه ځنه وروسته تر احرام ترلو په سبب د دښمن یا د مرض او تاسو اراده
وکړه د وتلو له احرامه ځنه فَمَا اسۡتَیۡسَرَ پس واجب دی پر تاسے ورکول د هغه
رنده سر چې اسانه وی وتاسی ته مِنَ الۡهَدۡیِ ج له پیشکشی چې اوښ دی یا
غوا یا پسه چې حرم ته وه لیږل سے او هلته ذبح شے وَلَا تَحۡلِقُوۡا رُءُوۡسَكُمۡ
او مه خریاست اے محصرانو سرونه خپل حَتّٰی یَبۡلُغَ الۡهَدۡیُ ترهغه وخته
چې ورسیږی دا هدیه مَحِلَّهٗ ط ځای د ذبح خپلے ته او پخوا تری منع[۳] دے فَمَنۡ كَانَ
پس هرڅوک چې وی مِنۡكُمۡ مَّرِیۡضًا له تاسے رنځور (مریض) اَوۡ بِهٖۤ اَذًی یا وی په
ده پوری علت مِّنۡ رَّاۡسِهٖ له طرفه د سره دده لکه سپږی یا دانے د سرد ردی
یا پرهار او محتاج شے و سرخریلو ته فَفِدۡیَةٌ مِّنۡ صِیَامٍ پس لازمه ده پرده
فدیه له دریو ورځے نیولو[۴] دری ورځو اَوۡ صَدَقَةٍ اَوۡ نُسُكٍ ج یا له خیرات ورکولو
شپږ ومسکینانو له هر یو له نیمه صاعه یا پسه خیرات کول دی فَاِذَاۤ اَمِنۡتُمۡ پس بیا
چې په امن شوی له د ښمنه یا له رنځه فَمَنۡ تَمَتَّعَ پس هرڅوک چې نفعه اخلی
بِالۡعُمۡرَةِ په عمره سره مخکی ترحج چې هغه نفع قرب د خدای تعالیٰ دی یا ابا حت[۵] د

---

[۱] یعنې هغه شیان به نه ورکوی په لاره د خدای کښې غازیانو لره او بخل به ورسره کوی ۱۲ [۲] هغه الفاظ د حج چې لبیک لبیک دی ۱۲ [۳] ای بندکړه شو و د کولو ځنه د حج ۱۲ [۴] او مخکی د رسید لو د هدے ځنه سرخریل منع دی ۱۲ [۵] یعنې مباح کیدل د هغو شیانو چې پرده باندی منع وو کول د هغو ۱۲

ممنوعا تو دی په وتلو د احرام چی د اباحت وړلره حاصل شئ اِلَی الۡحَجِّ تر وخته د احرا-
د حج پورې پس هرڅوك چی اراده د دی اباحت وکی فَمَا اسۡتَیۡسَرَ بیې واجب ده پرده ذ
کول د هغه نر نده چی اسانه وی ورده ته مِنَ الۡهَدۡیِ ج له پیشکشی چی پس له احرام-
د حج یې ذبح کی او خیرات ئې کی او که یې دی پخپله څندی وخورې هم روادی او د
شکرانه ده د توفیق اداء کولو د دوارو عبادتو چی عمره او حج دی فَمَنۡ لَّمۡ یَجِدۡ پس هر
څوك چی نه کی پیدا هدیه فَصِیَامُ ثَلٰثَةِ اَیَّامٍ پس واجب دی پرده روژه نیول د ری
ورځې فِی الۡحَجِّ په ورځو د حج کښی په مابین د احرامینو د عمری او د حج کښی او
غوره او مه اتمه نهمه د ذی الحجی دی وَسَبۡعَةٍ او اوه ورځی بیا روژه نیول د ے
اِذَا رَجَعۡتُمۡ ط چی راوګرځی او فارغ شئ تاسی له افعالو څخه د حج تِلۡكَ عَشَرَةٌ
كَامِلَةٌ ط دا لس ورځې شوی پوره چی عوض دی له هغه هدیې څخه ذٰلِكَ لِمَنۡ
دا تمتع هغه چالره دی لَّمۡ یَكُنۡ اَهۡلُهٗ چی نه وی اهل د ده یعنی مسکن او وطن
د ده حَاضِرِی الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ ط کاونړی د مسجد حرام او هغه په نزد د امام اعظمؒ
د مکی څخه ترمیقات پورې دی ځکه چی په دی کاونړیانو تمتع او قران نشته
۲۴ وَاتَّقُوا اللّٰهَ او ووېرېږئ له خدایه په هرڅه کښی خصوصاً په احکامو د حج کښی
ع ۸ وَاعۡلَمُوۡۤا او پوه شئ اِنَّ اللّٰهَ شَدِیۡدُ الۡعِقَابِ ﴿۱۹۶﴾ چی بیشکه خدای سخت عذاب
ورکوونکی دی سرکشانو لره اَلۡحَجُّ اَشۡهُرٌ مَّعۡلُوۡمٰتٌ ج موده د حج چی ده میاشتی د ے
ښکاره چی شوال او ذوالقعدة او لس د ذی الحجی دی او دا اوّیا و رځی دی په د ے
سبب سره موده د حج ده چی څه افعال د حج چی دی هغه ټوله په دوی کښی اداء کیږی
او خارج له دوی څخه منعه دی اګرکه احرام یې د هغه هم منعقد کیږی اما سره
د کراهته فَمَنۡ فَرَضَ پس هرڅوك چه لازم کی پرخپل ځان فِیۡهِنَّ الۡحَجَّ په دی
میاشتو کښی حج په احرام یا په تلبیه یا په سوق د هدیې سره په مذهب حنفی کی

له یعنی مباح کیدل د هغه شیانو چه پرده حلال دے منعه و و کول د هغو ۱۲ ع یعنی اګرکه نیت
د حج کولو غوڅ کی او ور ومبی له دی ورځو هم تړلی کیږی لیکن مکروه دی ۱۲

فَلَا رَفَثَ پس نه دی کوی او نه یادول دجماع د ښځو په مخکښې او نه پوچه خبرې ۰
وَلَا فُسُوْقَ لا او نه دی کوی فسق یعنې گناهونه او په کار ه نوم بلل او نوره ناروا
وَلَا جِدَالَ او نه دی کوی جګړه (جنګ) له خادمه له ملګری سره لکه چې قریشو
به کول له نورو عربو سره په وقوف کښې او دا نفی په دے تیر و دری سره و و
کښې په معنیٰ د نهی دی لکه چې بیان شوه فِي الْحَجِّ ط په ایام د حج کښې او دا کارونه
اګرکه همیشه منع دی اما په حج کښې ډیر فاحش ناروا دی لکه نر تا د زاره سړی
وَمَا تَفْعَلُوْا او هغه چې کوی ئې تاسې مِنْ خَيْرٍ له نیک کاره يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ ط پوهیږي
په هغه خدای روایت دی چې اهل یمن به حج له بې توښې راتلل او ویل به یې
چې موږ متوکلان یو او بیا به پر نورو خلکو تاوان شوه نو نازل شو وَتَزَوَّدُوْا او
توښه د رسره اخلئ د حج د لارې فَاِنَّ پس بیشکه خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى زغوره د توښو
پرهیزګاری ده له سواله او له ملاله څخه د خلکو او یا له عصیانه او له نیرانه څخه د
خالق وَاتَّقُوْنِ او وویرېږی زما له عذابه څخه يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾ ای خاوندانو
د خالصو عقلو روایت دی چې بعضی حاجیانو به څه مال هم له ځانو سره
راوړی د پاره د سوداګری او بعضې به د بل چاکرایې وکړه او عربو به ورته ویل
چې دا حج "لاحاج" یعنې بې حاصل دی او حاجیان نه دی نو نازل شو لَيْسَ عَلَيْكُمْ
جُنَاحٌ نشته پر تاسې وبال اَنْ تَبْتَغُوْا ددی چې غواړی تاسې په موسم د حج
کښې فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ط روزی له رب خپله په واسطه د سوداګری یاد کرایې
په شرط ددی چې مقصود اصلی ستاسې حج وی فَاِذَآ اَفَضْتُمْ پس چې راوګرځئ
(راکښته سئ) مِّنْ عَرَفٰتٍ له عرفاته څخه فَاذْكُرُوا اللّٰهَ پس یاد کړی خدای په
تلبیه[2] په تهلیل[3] په دعا یا په یو ځای کولو د لمانځه د ماښام د لمانځه د ماخوستن
سره عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ص په مزدلفه کښې چې په مینځ د عرفات او د منی کښې ده

[1] یعنی په وخت د دریدلو د عرفات پر غونډۍ ۱۲ [2] یعنی په دی الفاظو سره چې لبیک اللّٰهم لبیک دی تر اخره پورې ۱۲ [3] او په لا اِلٰه اِلا الله ویلو سره ۱۲

وَاذْكُرُوْهُ او یادوی دی كَمَا هَدٰىكُمْ لکه چی ښوولی ئی ده تاسی ته لاره د مناسکو د
حج وَاِنْ كُنْتُمْ او بیشکه چی وی تاسی مِّنْ قَبْلِهٖ پخوا (مخکی) له هدایته یا له بعث د
رسوله لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۱۹۸﴾ هرآئینه له ناپوهانو څخه په ایمان په طاعت په ذکر په
عبادت روایت دی چه غیر له قریشو نورو تولو عربو به وقوف په عرفات
کاوی او دوی به په[۲] مزدلفه کاوی د پاره د امتیاز او لویی او فخر او ویل به ئی چی
نحن قطان حرمه فلا نخرج منه یعنی موږ او سیدونکی د حرم د خدای یو پس نه
وو د باندی (بیرون) له حرمه نو نازل شو ثُمَّ اَفِيْضُوْا پس له دی واوړی
ای قریشو خاص تاسی راکښته کیږئ تاسی هم مِنْ حَيْثُ له هم هغه ځایه
اَفَاضَ النَّاسُ چه راکوزیږی نور خلق یعنی له عرفات څخه و مزدلفی ته او څوک
وایی چه مراد په دی خطاب د افیضوا سره عام مسلمانان دی او له لفظ حیث
مزدلفه مراده ده یعنی بیا راکوز (راکښته) شئ ای مسلمانانو له مزدلفی هم
لکه چی له عرفات څخه راکوز شوی واست له هغه ځایه چه راکښته کیدل به نور
خلک وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ او بخښنه غواړی له خدایه څخه له دی مخالفت څخه په
وقوف کښی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۹﴾ بخښونکی مهربانه دے
روایت دی چه په جاهلیت کښے چی اشراف د عربو به له حج څخه فارغ شول نو
په جبل رحمت یا حرم څخه به ودریدل او فخر به ئی کاوی په لویی او په شهرت
د پلرو او نیکه گانو خپلو نو نازل شو فَاِذَا قَضَيْتُمْ پس هرکله چی ترسره کړی
تاسے مَّنَاسِكَكُمْ عبادات د حج خپل فَاذْكُرُوا اللّٰهَ پس یادوی خدای كَذِكْرِكُمْ
اٰبَآءَكُمْ لکه یادول ستاسی چی و پلرو نه خپل په جاهلیت کښی له فخره اَوْ
اَشَدَّ ذِكْرًا ط بلکه ډیر زیات یادول له هغو ځکه چی هغوی ته لویی هم ده

[۱] له یعنی پخوا له لاری پیدا کولو ودین د اسلام ته یا پخوا له لیږلو د رسول علیه السلام څخه تاسی ته[۱۲]
[۲] یعنی د پاره د جدایی له نور و خلقو څخه یعنی چه موږ خولوی لوی او غټ او غټ امیران یو
نو موږ څرنگه له دی عاجزانو سره په یو ځای کښے ودریږو ۱۲

ورکړي وه فَمِنَ النَّاسِ پس بعضی له خلکو څخه مَنْ يَّقُوْلُ هغه څوک دي چې وائي
رَبَّنَآ اٰتِنَا ای رب به زموږ راکړه وموږ ته مال اوجاه فِي الدُّنْيَا په دې جهان
کښې یعنې یوازې د نیا غواړي وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ او نشته ده لره په هغه جهان
کښې مِنْ خَلَاقٍ (۲۰۰) هیڅ برخه که دا سائل[له] کافروي یا د نوړ و مسلمانانو قدر
که دی مسلمان وی وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ او بعضې له دوی څخه هغه څوک دے
چې وائي رَبَّنَآ اٰتِنَا اے رب به زموږ راکه موږ ته فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً په دې
جهان کښې هم څه غوره برخه یعنې صحت او عافیت او علم او خلوص او توفیق
اوصالحه ښځه اوسلامتي د ایمان وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً او په هغه جهان کښې هم
غوره برخه یعنې مغفرت اورضوان اوامان له دوږخه او خلود په جنت کښې
او حورې او دیدار وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ (۲۰۱) اووه ساته موږ له عذابه څخه
داور اُولٰٓئِكَ داکسان چې دی لَهُمْ نَصِيْبٌ مقرره ده دوی لره غټه برخه
مِّمَّا كَسَبُوْا ط له هغو عملو څخه چې کړی دی دوی وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ (۲۰۲)
اوخدای ډیر زر کونکی دی په حساب کښې روایت دی چې حساب د تمام عالم
به په قدر د میږی یا بزی لوشلو یا په رپ د سترګی کی تو له وشې وَاذْكُرُوا اللّٰهَ
اویاد وی خدای یعنې تکبیر وایاست په وخت د رمی (ویشتلو) د جمارو (ګټو) کښې
او وروسته تر لمانځه فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ط په هغه ورځو کښې چې په شمار
دی چې هغه درے ورځې د تشریق دی یوولسمه دوولسمه او دیارلسمه
روایت دی چې په جاهلیت کښې به بعضو اعرابو ویل چې څوک دوے
ورځې رمی وکی او درېیمې ورځې رمی ته پاتې نشي هغه اثم (ګنهګار) دی
او بعضو به ویل چې درییمې ورځې رمی ته پاتې شي هغه اثم دی نو د پاره درد

[له] یعنې که دا سائل کافروي نو په قیامت کښې به ورلره هیڅ برخه نه وي خو په دې دنیا
کښې ئې مزې دی اوکه چیرې داسوال کونکی د دنیا مسلمان وي نو معنیٰ ئې داسې سوه چې نه
به وی د هغه مسلمان لره درجې په مثل د درجو د نورو مسلمانانو څخه چې ده چېله مزد ورته په دنیاکې اخیستے دہ ۱۲

منزل ۱

د قول د دوی نازل شو فَمَنْ تَعَجَّلَ پس هرڅوک چې تلوار وکړي د راتلو مکې ته
فِیْ یَوْمَیْنِ په دوو ورځو کښې چې یوولسمه دوولسمه ده یعنې په دې دواړو
ورځو کښې رمی وکي او دریمې ورځې رمی ته پاتې نه شي فَلَاۤ اِثْمَ عَلَیْهِ ج
پس نشته هیڅ وبال پر ده چې اکتفاء ئې وکړه په دوو ورځو اګرکه تاخیر
افضل[1] وو وَمَنْ تَاَخَّرَ او هرڅوک چې ملار شي (یعنې پاتې شي) او دریمه ورځ
هم رمي د جمارو وکي بیا مکې ته روان شي فَلَاۤ اِثْمَ عَلَیْهِ لا پس نشته هیڅ وبال
پر ده هم په دې کښې چې تاخیر ئې وکی لِمَنِ اتَّقٰی ط هغه چاته چې پرهیزئې
کړی وی له رفث له فسوق له جدال وَاتَّقُوا اللّٰهَ او وه ویریږی له خدایه
څخه وَاعْلَمُوْۤا اَنَّکُمْ او پوه شئ چې بیشکه تاسې اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ خاص
هم ده ته حاضر او جمع به کړه شی او هر څوک به جزاء د عمل خپل پید اکړی
روایت دی چې یو منافق اخنس بن شریق نوم رسول علیه الصلوٰة و
السلام له راغلې په ورین تندی به ئې خوږې خبرې کولې او خدای به ئې
شاهد کړی چې زه په زړه کښې صاف او صادق یم او بیا چې به له مدینې څخه
بیرون شو نو هلته چې به د چاکښت وو هغه به ئې په اور وسو او د مسلمانانو
څاروی به ئې هم په توره وهل نو نازل شو وَمِنَ النَّاسِ مَنْ او بعضې له
خلکو څخه هغه څوک دی یُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ چې تعجب راولی تا لره ګفتار د ده له
جهته ده یرخوږ والې فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا په باب د معاش د دنیا او په مصلحو
د ده کښې وَیُشْهِدُ اللّٰهَ او شاهد کوی دی خدای عَلٰی مَا فِیْ قَلْبِهٖ لا په هغه
نیت چې په زړه د ده کښې دی یعنې داسې دعوی کوی چې زړه او خوله مې سره
یو دی په اخلاص کښې وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾ او حال دا چې دی ډیر سخت دی

[1] یعنې پاتې کیدل دریمې ورځې ته بتبه غوره دی ۱۲ [2] یعنې ځان ئې ساتلی وی په ایام د حج کښې له جماع کولو څخه له ښځې خپلې سره او هم له یادولو د جماع د ښځو په مخکښې او هم له خرابوا و پوچو خبرو څخه ۱۲ [3] همدا رنګه ځان ئې ساتلی وی له ناروا و او خبراوکارو او همدا رنګه ځان ئې ساتلی وی د جګړی څخه ۱۲

په جګړه او په عداوت کښې وَاِذَا تَوَلّٰى او چې بېرته وګرځي له رسول سَعٰى فِى الْاَرْضِ نو جلت (شر) ګرځي په محله د مديني کښې لِيُفْسِدَ فِيْهَا د پاره د دې چې فساد وکې په دې کښې وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ط او خراب کې کښت او خاروي په سوځلو او وژلو سره وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ او حال دا چې خدای نه خوښوي معصيت او فساد وَاِذَا قِيْلَ او چې وويل سے لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ دې منافق ته چې ووېرېږه له خدايه تخنه اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ نو وه نيسي دې غضب د جاهليت په کولو د ګناه فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ط پس بس دی ده لره دوږخ د پاره د عذاب وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ او هرا يمنه بد بسترد ے دا او روايت دی چې صهيب بن سنان رومی په مکه کښې مشرکانو مرکا وی او ده ټوله مال خپل په خپله فديه کښې ور کی او مديني لره راغلے نو په مدحه دده کښې يا په مدحه د هر مجاهد کښې يا په مدحه د هر امر[1] بالمعروف او ناهي عن المنکر کښې نازل شو وَمِنَ النَّاسِ او بعض له خلکو تخنه مَنْ يَّشْرِىْ هغه څوک دی چې خرخوي نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ ځان خپل د پاره د طلب مَرْضَاتِ اللّٰهِ د رضاد خدای يعنے تيرېږي له سره او له ماله خپله په رضاد خدای کښې وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾ او خدای ډېر مهربان دی پر هغو بندګانو خپلو چې ځان فدا کوی او له خپله سره تيرېږي په رضا دده کښې روايت دی چې ابن سلام او نورو ملګرو دده پس له اسلامه هم په تورات عمل کاوی او تعظيم د شنبت[2] به يې هم کاوی او شيدی او غوښے دا وبنا نو به يې نه خوړې نو په حق د دوی کښې يا په حق د منافقانو کښې چې لسانی ايمان يې راوړی وو نازل شو يَآاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ای هغه کسانو ادْخُلُوْا چې ايمان مو راوړی دی راننوځی فِى السِّلْمِ كَآفَّةً ص په اسلام کښې يا په طاعت د خدای کښې ټوله وَلَا تَتَّبِعُوْا او پيروی مه کوی خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ط د قدمو د شيطان يعنے دده په وسوسه

[1] يعنے هر سړی چې امر کونکی دے په نيکے او منع کونکی دی له کاره او بدے تخنه ۱۲ [2] د ورځې د سبت يعنے د خالی ۱۲

یسی مه ځی اِنَّهٗ لَکُمْ بے شکه دی تاسی ته عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۲۰۸﴾ دښمن دی ښکاره
فَاِنْ زَلَلْتُمْ پس که ولغزیدی تاسے یعنی چپ سو است له قبوله د اسلامه یا له
طاعته د خدای مِّنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَتْکُمُ الْبَیِّنٰتُ چے راغلے دی تاسی ته
ښکاره دلیلونه پردی چے داحق دی فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ پس پوه شے چی بیشکه
خدای عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ ﴿۲۰۹﴾ ډیر غالب ښتن دحکمت دی چے عذاب نه ورکوی
هیچا ته بیله حقه هَلْ یَنْظُرُوْنَ آیا مَا یَنْظُرُوْنَ یعنے انتظار نه کوی دوی
اِلَّآ اَنْ یَّاْتِیَهُمُ اللّٰهُ مګر د دی چے راشی ورته خدای یعنے عذاب دده فِیْ
ظُلَلٍ په سایه وانو کښے مِّنَ الْغَمَامِ له اوریځی سپینی چے امید د باران ځندی
کیږی او ناګاه ځندی عذاب پیدا شی وَالْمَلٰٓئِکَةُ او راشی ورته ملائکی د
عذاب وَقُضِیَ الْاَمْرُ ط او ترسره شی کار دعمل ورکړی شی دوی ته وَاِلَی ۲۵ ع ۹
اللّٰهِ او خاص وخدای ته تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۲۱۰﴾ بیرته ګرځول کیږی ټول کارونه
یعنی اګر که اوس اختیار دتصرف هرچا لره دی اما په قیامت به خاص خدای لره
وی سَلْ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ وپوښته ای رسوله بنی اسرائیل یعنی یهود دمدینی
یا مؤمنان دبنی اسرائیلو کَمْ اٰتَیْنٰهُمْ چے څومره ورکړی دی موږ دوی ته
مِّنْ اٰیَةٍۭ بَیِّنَةٍ ط نښے او پیغامونه ښکاره یا آیتونه د تورات ناطق په رسالت د
محمد صلی الله علیه وسلم او په صحت د دین د اسلام یا د معجزی ښکاره لکه
عصا او ید بیضاء او من او سلوی او داسی نوری ډیرے وَمَنْ یُّبَدِّلْ او هر
څوک چی چپ او بدل کی نِعْمَةَ اللّٰهِ نعمت د خدای چے صفت د رسول دی
مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ پس له هغه چے راغلے وو دا نعمت وده ته په تورات کښی
فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چے خدای شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۱۱﴾ سخت دی عذاب دده په
دنیا کښے په قتل او په جلاوطنی سره او په آخرت کښے په عذاب ابدی سره

له یعنی هغه آیتونه چے ګویان دی د رسول والی د محمد علیه السلام ۱۲ ؎ یعنی په شمرلوله وطنه څلکه ایمان نه راوړے ۱۲

روایت دی چې اغنیاؤ د قریشو به خندل پر فقرآء و د اصحابو باندی لکه
بلال او عمار او صهیب او ابن مسعود رضی الله عنهم او ویل به یې چې دی په ډې
خوارانو ریږی زمین مسخرکوی که دده دین حق وای نو اشرافو او اکابرو به
ایمان ور باندی راوړی وو نو نازل شو زُيِّنَ لِلَّذِينَ بنایسته کړه شوی دی
هغو کسانو ته یعنی شیطان بنایسته کړی دی كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا چې
کافران شوی دے دا لرښوندونن او معاش دد ے جهان وَيَسْخَرُوْنَ او
مسخری کوی دوی مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا م پر هغو کسانو باندی چې ایمان ئې راوړی
دی وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا او هغه کسان چې ځان یې ساتلی دی له شرکه چې دا فقرآء
دی فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط د پاسه ددی کافرانو به وی په ورځ د قیامت کښې
ځکه چې فقرآء به په علیین[1] کښې وی او دا کافران به په سجین[2] کښې وی وَاللّٰهُ
يَرْزُقُ او خدای روزی ورکوی ډیره فراخه مَنْ يَّشَآءُ هغه چا ته چې اراده
ئې وشي بِغَيْرِ حِسَابٍ (۲۱۲) بې حسابه لکه قارون شداد فرعون د پاره دا استدراج
او که فراخي کرامت وای نو پر مؤمنانو باندے به ډیره فراخي وه لکه چې عبدالرحمن صاحب ولې دے

برابر به له کډ ایه سره نه شی		شهزاده او شهریار دد ے دنیا
همیشه به ئې یو پنډ د غم پر سر وی		چې په سرئے وی د ستار ددی دنیا
ترهر چا به د پیغمبر څخه وه ډیره		که څه قرب وی یا وقار ددی دنیا

كَانَ النَّاسُ وو خلګ په ابتداء کښے یعنی ادم علیه السلام او اولاد ئې اُمَّةً
وَّاحِدَةً قف یو ټولے په یو دین د حق کښے بیا سره مختلف شوه فَبَعَثَ اللّٰهُ
النَّبِيّٖنَ پس را و لیږل خدای پیغمبران لکه شیث[ع] او ادریس[ع] او دا سے نور هم
مُبَشِّرِيْنَ زیری کونکی دی پر مطیعانو د ثواب وَمُنْذِرِيْنَ ص او ویرونکی دی د
عاصیانو له عذابه یا معنے دا چې خلګ ټول یو ټولی په یوه دین د کفر وو لکه
په زمانه د نوح او د ابراهیم علیهما السلام

[1] په پورته په اسمان کښې وے ۱۲
[2] کښته له ټولو ځمکو څخه دي ۱۲

کښې پس راولیږل خدای دوی وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْکِتٰبَ اوراوی لیږل له دوی سره کتاب چې بیانوونکی د دین وو بِالْحَقِّ په حقه سره لِیَحْکُمَ بَیْنَ النَّاسِ دپاره ددی چې حکم وکی خدای یا پیغمبر په مابین د خلکو کښې فِیْمَا اخْتَلَفُوْا فِیْهِ ط په هغه شی کښې چې اختلاف کړی دی دوی په هغه کښې چې دین د اسلام دی وَمَا اخْتَلَفَ فِیْهِ او اختلاف نه دی کړی په حق یا په کتاب یا په اسلام کښې اِلَّا الَّذِیْنَ اُوْتُوْهُ مګر هم هغه کسان چې ورکړه شوی و وکتاب چې یهود او نصارٰی دی چې دوی تبدیل او تحریف پکښې کاوی مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَتْهُمُ الْبَیِّنٰتُ چې راغلی وو دوی لره ښکاره دلیلونه په صدق د دین اسلام باندې او دا اختلاف د دوی په دین کښې له جهته د اختلاف د رأی څخه نه وو بلکه بَغْیًا بَیْنَهُمْ په سبب د کینې وو چې په مینځ د دوی کښې ده فَهَدَی اللّٰهُ الَّذِیْنَ پس برابرکړه خدای هغه کسان اٰمَنُوْا چې ایمان ئې راوړی دی له دی اُمته څخه لِمَا اخْتَلَفُوْا هغه شی ته چې اختلاف کړی وو دې یهود او نصارٰی وو فِیْهِ مِنَ الْحَقِّ په هغه شی کښې چې عبارت دی له حقه څخه بِاِذْنِهٖ ط په امر خپل.

ای ظهرالله المؤمنین باذنه الحق الذی اختلف فیه الیهود والنصٰری معنیٰ دا چې ښکاره که خدای مؤمنانو ته په امر خپل سره هغه حق چې مختلف وه په هغه کښې یهود او نصارٰی حاصل دا چې پیرزو وکی خدای پر مؤمنانو هغه اشرفه قبله چې اهل کتاب پکښې مختلف وه چې یهود وو مغرب ته مخ کړی وو او نصارٰی وو مشرق ته او په واقعه کښې اشرفه کعبه وه چې په وسط کښې ده خیرالامور اوسطها. یا پیرزو وئې کړه هغه غوره ورځ چې دوی پکښې اختلاف کړی وو چې یهود و سبت غوره بلله او نصارٰی وو یکشنبه او په واقعه کښې غوره ورځ جمعه وه چې سیدالایام ده وَاللّٰهُ یَهْدِیْ او خدای برابروی مَنْ یَّشَآءُ هغه څوک چې اراده ئې وشي

له یعنی څکه چې پیغمبر د خدای فرمایلي دي چې بهتر د کارو هغه میانه د کارو دی ۱۲ که یعنی سردار د ورځو دی ۱۲

اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ (٢١٣) و سمی لاری ته روایت دی چه هر کله سختی ډیره شوه
پر فقرآء و د مهاجرینو په سبب د رنځ او د خوراك او د پوښاك او د عیال ځکه
چه مالونه یې ټول په مکه کښې پاته شوی وه او ساعت ډیرو ر باندی تنګ شوی
وو نو نازل شو اَمْ حَسِبْتُمْ ایا ګمان کوی تاسے ای مهاجرینو اَنْ تَدْخُلُوا
الْجَنَّةَ دا چه ننوزی تاسے و جنت ته وَلَمَّا یَاْتِکُمْ او حال دا چی له سره نه
ده راغلی پر تاسی سختی مَثَلُ الَّذِیْنَ په مثل د سختے د هغو کسانو خَلَوْا مِنْ
قَبْلِکُمْ ط چه تیر شوی دی پخواله تاسی څخه یعنے پیغمبران او امم مَسَّتْهُمُ
الْبَاْسَآءُ چه رسید لی وی و دوی ته سختی او لوږی او تندی او ناکا مونه
وَالضَّرَّآءُ او رنځونه وَزُلْزِلُوْا او وو به لړزول شول په ډیرو سختیو کښې
پشان د زلزلی حَتّٰی یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ تر هغو پوری چه وبه ویل پیغمبر وَالَّذِیْنَ
اٰمَنُوْا مَعَهٗ او هم هغو کسانو چه ایمان ئې راوړی وو له ده سره یعنے ټولو به په
جمع سره وو ویل مَتٰی نَصْرُ اللّٰهِ ط چه کله به وی مدد د خدای یعنی کاشکی چه ژر
راشی اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ واوری چه بیشکه مدد د خدای چه دی قَرِیْبٌ (٢١٤)
نژدی دی مؤمنانو ته روایت دی چه یو زوړ سړی وو ډیر مالدار چی
عمرو بن جموح انصاری نومیدی له رسول علیه السلام څخه سوال وکی
چه کوم شے په لاره د خدای کښې ورکړم نو نازل شو یَسْئَلُوْنَكَ پوښتنه کوی
دوی له تا څخه مَاذَا یُنْفِقُوْنَ ط چه څه شی ورکی دوی په لاره د خدای کښې
قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ ووایه دوی ته هر شے چه ورکوی مِّنْ خَیْرٍ له مال څخه
فَلِلْوَالِدَیْنِ پس مور او پلار ته دی ورکوی چه دا ډیر غوره دی نکته دوے
سوال د تعین د مال کړی وو او جواب په تعین د مصرف راغلی یعنے په هغه سوال
کښے هیڅ فائده نشته هر شے چی د چا د توانه کیږے هم هغه دی ورکوی بلکه
سوال د مصرف پکار دی چه چاته ئې ورکړو

ع یعنی خاوری دوړی کولو ۱۲

وَالْاَقْرَبِيْنَ اوخپلوانولره چې صله رحمي هم پکښې اداء شي وَالْيَتٰمٰى اويتيمانو
لره چې قادر نه دي په کسب باندې وَالْمَسٰكِيْنِ اوناداروانولره چې له قوته عاجز
وي وَابْنِ السَّبِيْلِ ط اومسافرلره چې کورته ئې ليرې دي وَمَا تَفْعَلُوْا اوهغه چې
کوئ ئې تاسو مِنْ خَيْرٍ د نيك كاره فَاِنَّ اللّٰهَ پس بيشكه چې خداى بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۱۵﴾
په هغه بنه داناده دې كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ فرض كړه شوي دي پرتاسې جنگ
کول د کفار وسره وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ج اوحال دا چې د اجنگ کول مکروه طبعي[1] دي
تاسې ته وَعَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا اوبنايي دا چې مکروه گڼئ تاسې شَيْئًا يوشي وَّهُوَ خَيْرٌ
لَّكُمْ ج اوحال دا چې هغه به ډيرغوره وي تاسې لره وَعَسٰۤى اَنْ تُحِبُّوْا اوبنايي دا
چې خوښوئ به تاسې شَيْئًا يوشي وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ط اوحال دا چې هغه به ډيربد
وي وتاسې ته وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوخداى پوهيږي په بهبود ستاسې وَاَنْتُمْ اوتاسې ع ۲۶
لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱۶﴾ نه پوهيږئ په بهبود خپل روايت دی چې د دويم کال د هجرت ۱۰
دوه مياشتې مخکې تر بدر په آخر کښې د جمادى الثانى د مياشتې رسول عليه
الصلوٰة والسلام د خپل تروړ[2] زوى چې عبدالله ابن جحش وو په چپاوکولو پر
کافرانو باندې مقرر کی بطن نخلى ته په کاروان د قريشو پسې اوجنگ وشو او
مشرکان څوك مړه شول اوڅوك بنديان شول اوكافران ئې راوستل او د
اصحابو په گمان جنگ د جمادى الاخر په مياشت کې وو او په واقعه کې غرّه د
رجب وه نوکفارو وويل چې محمد صلى الله عليه وسلم اوس شهرحرام هم
حلال کړه چې خپل لښکرئ په خون ريزى مامور کې او اصحاب په د بې
قتل سره ملال شوه او له رسول عليه الصلوٰة والسلام څخه ئې پوښتنه وکړه
يا كفارو پرسان وکړې نو نازل شو يَسْـَٔلُوْنَكَ پوښتنه كوي دوى له تا څخه
عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ له شهرحرام قِتَالٍ فِيْهِ ط د جنگ په دې کښې دا بدل اشتمال
دی له شهرحرام څخه

[1] يعنې په طبيعت کی ئې بدبولې او خوښ مو نه وي ۱۲
[2] د ترور زوی يعنې د پلار د خور زوی ۱۲

قِتَالٌ فِيْهِ وواپه ورته چې جنګ په دې کښې كَبِيْرٌ ط ډیره لویه ګناه ده او اکثرو
علماؤ ویلي دي چې دا منسوخ شوی دے په ایت دسیف سره وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ او منع کول د مشرکانو چې دي د لارې د خدای څخه لکه رسول علیه السلام
چې دوی له عمرے څخه منع کړی دی وَكُفْرٌۢ بِهٖ او نه منل د خدای لکه چې دوی
ئې نه مني وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ق او منع کول چې دي له مسجد حرامه لکه چې
دوی منع کړی دي وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ او ایستل د اهل د مسجد چې دي
له مسجده لکه چې دوی مهاجرین ایستلي دي نو دا تیر څلور واړه کارونه
چې دي اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ج ډیر لوی دي په نزد د خدای تر قتال[1] د شهر حرام څخه
وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ او شرک یا اخراج[2] یا انواع د سختیو تیر ولو چې دي پر مؤمنانو
ډیر لوی دي مِنَ الْقَتْلِ ط له قتل په شهر حرام کښې وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ
او همیشه به وي دا کفار چې جنګونه به کوي له تاسے سره حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ
تر هغې چې بیرته وګرزوي تاسي عَنْ دِيْنِكُمْ له دینه خپله اِنِ اسْتَطَاعُوْا ط که
لاس ئې ور سیږي وَمَنْ يَّرْتَدِدْ او هر څوک چې دي وګرزي مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ
له تاسې څخه له دین خپله فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ پس مړ شي او حال دا چې دي کافر وي
یعني په کفر کښې مړ شي فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چې دي حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ
خراب شوي دي تیر عملونه ددوی چې ئې کړي وو په وخت د اسلام کښې
فِي الدُّنْيَا هم په دنیا کښې چې سرونه او مالونه او ښځې ئې مباح شوي وَالْاٰخِرَةِ ج
او په اخرت کښې چې له ثوابه له جنته له دیداره محروم شو وَاُولٰٓئِكَ او دا کسان
چې دي اَصْحٰبُ النَّارِ ج اهل د دوزخ دي هُمْ فِيْهَا دوی به په دې دوزخ کښې
خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾ همیشه وي اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چې ایمان ئې
راوړی دی وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا او هغه کسان چې وطن ئې پرایښی دی دوی د

[1] یعنی اګر که جنګ کول په میاشتو حرامو کښې لویه ګناه ده لیکن د اخلور واړه کارونه
چې دي ډیره لویه ګناه ده ۱۲ [2] یعنی ویستل د مؤمنانو له کوره وخپلو څخه ۱۲

خدای د پاره وَجٰهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ لا او جهاد ئې هم کړی دی له کفار و سره په لاره د خدای کښې اُولٰٓئِكَ یَرْجُوْنَ دا کسان چې دی امید لري رَحْمَتَ اللّٰهِ ط د مهربانۍ د خدای وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدای بخښونکی دهٔ خطا او د هغې کم احتیاطۍ دی چې ترې صادره شوې وی رَّحِیْمٌ (۲۱۸) مهربانه دی چې زیاتوی اجر او ثواب روایت دی چې په شان د شرابو کښې څلور آیتونه نازل شوی دی اول په مکه کښې چې ډیر صفت ئې شوی دی په سورة نحل کښې او دویم بیا په مدینه کښې چې حضرت عمرؓ سوال وکړو له رسول علیه السلام څخه چې دا شراب ډیر ورکونکی د عقل دی مونږ ته یو امر وکښی وکه نو نازل شو یَسْئَلُوْنَكَ پوښتنه کوی دوی له تا څخه عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَیْسِرِ ط له حاله څخه د شرابو او د جواری (قمار) قُلْ فِیْهِمَآ ووایه ورته چې په دی دواړو کښې اِثْمٌ کَبِیْرٌ گناه ده لویه په سبب د جګړې او د درواغو او د پوچ ګوئې او دنړ ورلو سره وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ز او نفعی دی خلکو ته په شرابو کښې په سبب د هضم[1] د قوت او د تواضع او د[2] جرات او د سخاوت[3] او د سوداګری او په جواری (قمار) کښې په سبب د بې مشقته مالداری او خندلو پر فقرآء و باندی وَاِثْمُهُمَآ اَکْبَرُ او ضرر د دی دواړو ډیر زیات دی مِنْ نَّفْعِهِمَا ط له نفعې څخه د دی دواړو لکه مخ کښې بیا چې بیان شوی دی او هغه نور دوه آیتونه چې د حرمت قطعی دی هغه په آخر د سورة مائدې کښې ذکر دی روایت دی چې عمرو بن جموح رضؓ بیا د رسول صلی الله علیه وسلم څخه سوال چې مصارف خواوس را ته معلوم شو اما دا معلوم نه شو چې څه ورکړم نو نازل شو وَیَسْئَلُوْنَكَ او پوښتنه کوی له تا څخه مَاذَا یُنْفِقُوْنَ ط چې کوم شیز ورکه دوی په لاره د خدای کښې قُلِ الْعَفْوَ ط ورته ووایه چې زیاتی له حاجته خپله او دا په اول د اسلام کښې فرض وو بیا منسوخ په آیت د زکوٰة سره کَذٰلِكَ همداسې لکه چې د زیاتی ورکولو ئې بیان وکړو وَیُبَیِّنُ اللّٰهُ بیانوی خدای.

[1] په یعنی چې سړی شراب چښینه هغه ډیر عاجز طبع شی ۱۲ [2] ډیر زړه ور شی ۱۲ [3] او ډیر سخی شی ۱۲

لَكُمُ الْاٰيٰتِ تاسے ته ښیے د مهربانۍ خپلے لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ (۲۱۹) بنایئ چه تاسے فکر
وکړی فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ط په کاروو د دنیا او د اٰخرت کښې نو هر کار چه تاسی ته
پکښې نفعه وی په هغه کښے کوښښ کوی او چه پکښې ضرر وی د رته د هغه کار
ځنې په ډوار وکښے بوځان وساتۍ د هغه ځنې روایت دی چه هر کله اٰیت د
اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا تراٰخره پوری نازل شو نو دوی تول[1]
له یتیمانو ځنې بیزاره شوه او حال ئے رسول علیه السلام ته بیان کی نو نازل شو
وَيَسْـَٔلُوْنَكَ اوپوښتنه کوی دوی له تا ځنې عَنِ الْيَتٰمٰى ط له معاملے د یتیمانو ځنې
قُلْ ورته ووایه اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ط د چه سمول او ساتل د مال د دوی هم دوی
ته ډیر غوره دی له بیزاری د دوی ځنې وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ اوکه له ځانه سره ئے
گډ کړی دوی تاسے فَاِخْوَانُكُمْ ط پس دوی دینی ورونه دی ستاسی وَاللّٰهُ يَعْلَمُ
الْمُفْسِدَ اوخدای پیژنی خرابونکی د مال د دوی مِنَ الْمُصْلِحِ ط له ساتونکی د مال
ځنې وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده وی د خدای پاك لَاَعْنَتَكُمْ ط نو هرآیئنه سختے ته به[2]
نیولی وای تاسو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ (۲۲۰) غالب دی حکیم دے
چی په حکمت خپل معامله کوی روایت دی چه رسول علیه الصلوٰة والسلام
مرثد مکے ته ولیږی او هلته عناق نومې یوه ښځه وه راغله چه په جاهلیت کښے
دده منکوحه وه او ورته ئے وویل چه ما په نکاح کړه او دی چه مدینی ته راغے
نو د رسول علیه السلام ځنې ئی پوښتنه وکړه نو نازل شو وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ
او مه په نکاح کوی مشرکی ښځے حَتّٰى يُؤْمِنَّ ط ترهغو چه ایمان راوړی روایت
دی چی د عبدالله بن رواحه یوه توره مینځه وه چه ازاده ئی کړه او بیائی په
نکاح کړه او یوه مشرکه ډیره ښائیسته او مالداره چا ورکوله هغه ئی ونه کړه
خلکو به ئی ویل چه ښائیسته اصیله ئی ونه کړه او توره وینځه ئی وکړه نو نازل شو

---

[1] یعنی هغه کسان چه خوری مالونه د یتیمانو په ظلم سره تر اٰخره ۱۲ [2] یعنی د رته به ئے فرمایلے وو چه بلکل مال د یتیمانو ته مه نژدی کیږئ ۱۲

وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ او هرآیینه مینځه مؤمنه چه دی خَیْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ غوره
ده له مشرکی بنځی څخه وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ج او اگر که تعجب راولی تاسې له دا مشرکه
وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ او په نکاح مه ورکوی مؤمنی بنځې مشرکانو ته حَتّٰی یُؤْمِنُوْا
ترهغه چه ایمان راوړی دوی وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ او هرآیینه مؤمن مریې چه دی
خَیْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ غوره دی تر اصیل مشرك وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ط اگر که تعجب راولی تاسې
ته دا مشرك اُولٰٓئِكَ دا مشرکان او مشرکی چه دی یَدْعُوْنَ اِلَی النَّارِ ج بولی اور د
دوزخ ته وَاللّٰهُ او خدای چه دی یَدْعُوْٓا اِلَی الْجَنَّةِ بولی جنت ته وَالْمَغْفِرَةِ
بِاِذْنِهٖ ج او بخښنې ته په اراده او په توفیق خپل سره وَیُبَیِّنُ اٰیٰتِهٖ او بیانوی احکام
ع ۲۷ خپل له حلالو او له حرامو لِلنَّاسِ خلکو ته لَعَلَّهُمْ یَتَذَكَّرُوْنَ (۲۲۱) بنائی چه
دوی پند واخلی روایت دی چه د جاهلیت په زمانه کښې خلکو به له حائضه
بنځې سره خوراك او سکونت نو ځای نه کاوی لکه یهود او مجوس بیا چه دوی اسلام
شو نو ابو الدحداح له رسول علیه السلام څخه سوال وکی د معاملې کولو له حائضې
سره نو نازل شو وَیَسْئَلُوْنَكَ او پوښتنه کوی دوی له تا عَنِ الْمَحِیْضِ ط له حاله
د حیض څخه قُلْ هُوَ اَذًی لا ورته و وایه چه دا یوه پلیتی ده ضرر رسونکی چه
له نزدیکته ئې طبع نفرت کوی فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ پس په څنګ (لیری) شئ او
ځان وساتی له بنځو خپلو څخه فِی الْمَحِیْضِ لا په حال د حیض کښې وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ
او مه نژدی کیږی دوی ته یعنې جماع مه کوی ور سره حَتّٰی یَطْهُرْنَ ج ترهغو
چه پاکی شی په دریدو د وینو په اکثره موده ئې چی لس ورځی دی اگر که غسل
ئې لا نه وی کړی یا په اقله موده له لسو اما چه غسل وکی یا چه وخت د صلوٰة
کامله پر تیر شی نو په نزد د امام اعظم رح وطی ئې رواشی فَاِذَا تَطَهَّرْنَ پس
چی غسل وکی دوی یا پاکی شی فَاْتُوْهُنَّ پس راشئ دوی ته مِنْ حَیْثُ له هغه
طرفه اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ط چه امر کړی دی تاسې ته خدای چی هغه

قبول[1] دے نه دُبر[2] اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ مینه لري له بیا بیا
توبه کونکو سره وَیُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِیْنَ ﴿۲۲۲﴾ او مینه لري له ځان ساتونکو سره له
فواحشو او له جماع د حیض او د دبره روایت دے چې یهود و به ویل چې
څوك د شا له طرفه جماع وکي نو ولد ئے کوږ سترګی راځي او ددي خبرے
پو بنتنه له رسول علیه السلام څخه وه شوه نو نازل شو نِسَآؤُكُمْ بنځے ستاسو
چې دي حَرْثٌ لَّكُمْ ص ځای د کرلو د نسل ستاسی دي فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ پس راځئ
کبنت خپل ته اَنّٰى شِئْتُمْ ز په هر ځای په هر وخت په هر شان چې اراده
وشي ستاسی یعني له مخ وي او که د شا وي او که په ارخ وي او که په ولاړه
وے او که په ناسته وي په شرط ددي چې وطی په ځای د حرث کبنے وي نه د
فرث کبنے وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ ط او مخکښي ولیږی ځانو خپلو له او مفعول
ئې محذوف دے ای یجب تقدیمه یعني هرهغه چې واجب دی مخکښنے لیږل
ئے لکه نیك عملونه یا طلب د اولاد صالح یا تسمیه[3] شوه وَاتَّقُوا اللّٰهَ او وه
ویریږی له خدا یه څخه په هر وخت وَاعْلَمُوْآ او پوهـ شئ اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ ط
چې بیشکه تاسے پیښیدونکی (ملاقے کیدونکی) یاست په خدای یا په عمل خپل
وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۲۲۳﴾ او زیرے وکړه ای رسوله پر مؤمنا نو د ثواب د جنت
دد یدار روایت دی چې عبد ابن رواحه د خپلے خور له خاونده څخه
مرور شو او قسم ئې وکي چې خبری او احسان به نه ورسره کوم او له د ښمنانو
سره به ئے صلحه هم نه کرم نو نازل شو وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ او مه کرځوي
نوم د خدای عُرْضَةً لِّاَیْمَانِكُمْ مانع او بهانه د قسمونو خپلو یعني له هغه
شیانو څخه چې تاسی ځندی قسم کړی وی ځکه چې د لته ذکر د یمین دی

---

[1] چې قبل وي یعني چې وراندی (مخکی) طرف وي ۱۲ [2] نه د بر یعني د ورو سته طرف ځکه چې هغه ځای د مردارۍ او دکبنت نه دی ۱۲ [3] یا تسمیه یعني بسم الله ویل په وخت د جماع کبنے یعني چې نژدي کیږي بنځے ته نو داسے دي وائي اللّٰهم جنبنا الشیطٰن وجنب الشیطٰن فیما رزقتنا نصیبا لکه چې داسی په حدیث کبنے راغلے دی یعني مه کوه ای خدایه شیطان لره په هغه شي کبنے چې په نصیب کړی دی زما نصیب

او مراد په محلوف علیه دی په سبب د پیو ستوب دده له یمین سره حاصل دا
چې قسم کوے بیا دا قسم مانع واقع کوی اَنْ تَبَرُّوْا اله دی څخه چې احسان وکړی
له خپلو الواو دوستانو سره وَتَتَّقُوْا اوله دی څخه چې ځان وساتی له مروته او
له تکلمه ددوی سره وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ ط اوله دی چې صلح وکړی په مابین
د خلکو کښې وَاللّٰهُ اوخدای سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۴﴾ اوریدونکی د قسمو دی دانا دے
په نیتو ستاسے لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ نه نیسی تاسی خدای بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ
په ناپوهے سره په قسمو ستاسے کښې او قسم لغو په نزد دامام اعظمؒ دادی
چې څوك قسم وکی پر یو کار او دی په اعتقاد د خپل کښې رشتینی وی او په
واقعه کښې هغه کار مخالف وی له اعتقاده دده څخه وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ اولیکن
نیسی تاسی بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ط په هغه کار چې په قصد کړی وی زړونو
ستاسے وَاللّٰهُ اوخدای غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾ بخښونکی دی د هغه قسم چې
په ناپوهے سره وی صبر کونکی دی چې هیڅوك نه نیسی د ناپوهی په قسم سره
روایت دی چې د جاهلیت د خلکو به خپله ښځه خوښه نه وه نو قسم به ئے
وکی چې څوك له به ورنژدے نه شم نو ښځه به ناسته وه بیا چې دوره د اسلام
راغله نو نازل شو لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ دی هغو کسانو لره چې قسم کوی ددوی
مِنْ نِّسَآئِهِمْ له نژدیکته څخه د ښځو خپلو داخبر ومقدم او مبتداءئی داده
تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ انتظار کول د څلورو میاشتو فَاِنْ فَآءُوْ پس که
بیارجوع وکړه دوی او نژدیکت ئی وکی په د غو میاشتو کښې فَاِنَّ اللّٰهَ
پس بیشکه چې خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲۶﴾ بخښونکے د قسم ماتوکی دی په دې
ځای کښې مهربان دی په قسم ماتول ئے مباح کړی دی د لته ځکه چې رواکړی
ئی ده کفاره دیمین وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ اوکه اراده وکړه دوی د طلاق
په ترك د رجوع سره ترتمامیدو د څلورو میاشتو پورې

له یعنی هغه شی چې قسم خوری لی شوی وی په هغه سرہ ۱۲۰

فَاِنَّ اللّٰہَ پس بیشکه چه خدای سَمِیۡعٌ عَلِیۡمٌ ﴿۲۲۷﴾ اوریدونکی د قسم دی دانا په
نیت دی بیاکه څلور میاشتې پوره شوی اودوی رجوع ونه کړه نو په نزد د امام
اعظم[2] طلاق بائن[3] واقع شو وَالۡمُطَلَّقٰتُ اوطلاقې کړه شوی ښځې بالغې چې دوی
آیسې[4] اوحاملې نه وی او نژدیکت ورسره شوی وی یَتَرَبَّصۡنَ بِاَنۡفُسِهِنَّ انتظار
دی کوی په صبر کولو د نفسو خپلو سره ثَلٰثَةَ قُرُوۡٓءٍ ؕ تر دری حیضو کاملو پورې
وَلَا یَحِلُّ لَهُنَّ اوروا نه دی ښځو لره اَنۡ یَّکۡتُمۡنَ داچه پټوی به دوی مَا خَلَقَ
اللّٰهُ هغه شے چې پیدا کړی دی خدای فِیۡٓ اَرۡحَامِهِنَّ په رحمونو د دوی کښې -
ولد دے یا حیض دی دپاره د دې چې رجلاصه شے اوموده پرا اوږده نشے یا
بیا طلاق ته ئې حاجت نه شے پس له ولادته اِنۡ كُنَّ که وی دوی یُؤۡمِنَّ بِاللّٰهِ
چه ایمان ئې راوړی راوړی وے پرخدای وَالۡیَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ او پر ورځ د قیامت
وَبُعُوۡلَتُهُنَّ اومړونه ددوی چه دی اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ لائق دی په بیرته ارتینې
کولو ددوی سره فِیۡ ذٰلِكَ په دې موده د تربّص[5] کښې په رجعت سره اِنۡ اَرَادُوۡۤا
که عزم لری دامړونه په دې رجعت سره اِصۡلَاحًا ؕ د اصلاح په خپل مینځ
کښې وَلَهُنَّ او دی د غو ښځو لره حقوق پرمړو خپلو لکه مهر نفقه پوهکول په
ضروریاتو[6] د دین او خوږه معامله او ترك د ضرر مِثۡلُ الَّذِیۡ په شان د هغو
حقوقو عَلَیۡهِنَّ چه پر دوی دی د مړو لو لکه منل د امر ساتل د مال او د ناموس
ددوی اونه وتل له کوره خپله بیله اجازې ددوی او احسان له خپلوانو ددوی
سره بِالۡمَعۡرُوۡفِ په هغه وجه سره چه موافق وی هم له شرع هم له عزت سره
وَلِلرِّجَالِ عَلَیۡهِنَّ دَرَجَةٌ ؕ او ده نارینه وولره پر دی ښځو باندی مرتبه او
بهتری اوزیات دحق ځکه اختیار د نفقی او د طلاق او د رجعت او د نورو ورو

له یعنې رجوع که ونه کړی ښځو خپلو ته ۱۲ ؎[2] یعنی اگرچې بل چا په نکاح وانه خستله نو هم حلالیږی ده
لره ۱۲ ؎[3] یعنی ناامیدی له نکاح څخه په سبب د زړوالی یا د وړوکوالی (کوچنی والی) ۱۲ ؎[4] ځکه چې دوی د رو
بیا بله موده ده لکه چه ذکر به شی ۱۲ ؎[5] یعنې که په دې موده د انتظار کښې رجوع وکړی ښځو خپلو ته
؎[6] هغه شیان چه ضرور دی په دین کښې ۱۲

کار وچې ددوی په لاس کښې دی وَاللّٰهُ او خدای عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۲۸﴾ غالب دی چې حکم ئې نه ردیږې حکیم دی چې مصلحت گوری نو هغه کوی روایت دی چې په ۲۸ ع ۶ ۱۲
جاهلیت کښې به طلاق له شمار نه وو نو یوه سړی به لس طلاقه په یو وار واچول
او بیا به ئې رجوع وکړه همداسې په څو څو واره بیا چې دور داسلام شو نو یوه انصار
دخپله میړه څخه په شکایت رسول علیه السلام لره راغله چې دا میړه می څو واره
طلاقه کړې یم او بیا رجوع راته وکړی نو نازل شو اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ص طلاق رجعی
یاشرعی چې دی دوه واره اچول دے جلاجلا نه په یوه وار لکه طلاق دجلد هیلت
حُکه چې دوه یا دری طلاقه په یوه وار اچول په نزد دامام اعظم رح بدعت دے
یامعنی دا چې طلاق رجعی دوه دی او یو هم دی حُکه چې دریم شی خو بیا رجوع
نشته بې حلالې لکه را به شی او پس له هغه چې دوه طلاقه واقع شو فَاِمْسَاكٌ
بِمَعْرُوفٍ پس واجبه ده په تاسې ساتنه د مطلقې[۲] په رجعت سره په احسن وجه
او دا امر دی په صورت د اخبار اَوْتَسْرِيحٌ[۳] بِاِحْسَانٍ ط یا پریښودل دی په ښه
وجه یا په عدم د رجوع[۳] تر هغه چې بائنه شي یا په طلاق ثالث سره روایت دی
چې جمیله نومی ښځې د ثابت انصاری[۱] رسول علیه السلام لره راغله او وئی
ویل چې ماته ئې په مهر کښې یو باغ راکړی دی او اوس ئې بیرته ورکوم او ځان
خندی خلاصوم دا څرنګه دی نو نازل شو وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ او روا نه دی تاسې
لره ای خاوندانو اَنْ تَاْخُذُوْا چې واخلې تاسې مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ له هغه ماله
چې ورکړی وی تاسې دوی ته په مهر کښې شَيْئًا هیڅ شی مگر په خلع[۴] کښې روا دي
لکه چې وائی اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ مگر هلته روا دی چې ویریږی دا زوجین اَنْ لَّا يُقِيْمَا
چې و به نه ساتی دا زوجین حُدُوْدَ اللّٰهِ لا احکام نه د خدای چې پید حقوق د
زوجیت کښې دی فَاِنْ خِفْتُمْ پس که ویریدا ست ای حاکمانو قاضیانو اَنْ لَّا يُقِيْمَا

---

[۱] یعنی یوه ښځه له انصارو نه ۱۲ [۲] د هغې ښځې طلاق چې کړی شوی ۱۲ [۳] په نه کولو د رجوع سره دوی ته ۱۲
[۴] خلع دیته وائی چې سړی و ښځې ته ووائی چې ماته مثلاً سل درهمه راکړه نو تا به خلاصه کړم ۱۲

چې و به نه ساتي دا زوجين حُدُوْدَ اللّٰهِ لا حکمونه دخدای په معامله د زوجيت کښې فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا پس نشته هیڅ وبال په دواړو يعنې په خاوند د اخیستو او پر ښځې دوړ کولو فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ط په هغه شي کښې چې فديه ورکه ښځه او ځان خلاص که په هغه شي سره که له مهره وی اوکه له غیر مهره وی تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ دا طلاق او رجعت او خلع حد ونه دخدای دی فَلَا تَعْتَدُوْهَا ج پس مه تيريږئ تر يه مخالفت سره وَمَنْ يَّتَعَدَّ اوهرڅوك چې تیرشي حُدُوْدَ اللّٰهِ له حدو څخه دخدای فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾ پس دا کسان چې دی هم دوی ظالمان دي فَاِنْ طَلَّقَهَا پس که طلاقه ئې کړه بیا په دریم طلاق سره پس له هغه دوو طلاقو فَلَا تَحِلُّ لَهٗ پس نه ده روا ښځه ده لره مِنْۢ بَعْدُ پس له دی دریم طلاقه حَتّٰى تَنْكِحَ تر هغو چې په نکاح واخلي دا ښځه زَوْجًا غَيْرَهٗ ط خاوند غیر له پخواني څخه او هغه دخول ورسره وکی فَاِنْ طَلَّقَهَا پس که بیا طلاقه کړه دی دویم زوج په خپل رضا او رغبت سره فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ پس نشته هیڅ وبال پر دی پخواني زوج اَنْ يَّتَرَاجَعَآ چې بیا رجوع وکړی دواړه سره و نوی نکاح تر پس له عدته دد دویم زوج اِنْ ظَنَّآ که گمان وو دد دواړو اَنْ يُّقِيْمَا د دی چې پرځای به لري دواړه حُدُوْدَ اللّٰهِ ط احکام دخدای په دی باب کښې وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ او دا مقرری دخدای دی يُبَيِّنُهَا چې بیانوی ئې دی لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۰﴾ هغه قوم ته چې پوهیږي وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ او په هغه وخت چې طلاق کړی تاسې ښځې خپلې فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ پس ورسیږي دوی قریب وخپلې مودی ته يعنې چې عدت ئې تيريدو ته نژدی شي او دا ځکه چې لفظ د اجل لکه چې په ټول له موده واقع کيږي هم دا سې واقع کيږي پر بعض هم فَاَمْسِكُوْهُنَّ پس وساتئ دوی او رجوع وکړی ورته بِمَعْرُوْفٍ په ښه وجه نه د پاره د اضرار[1] اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ

---

[1] ضرر د سولو دوی ته ۱۲ اللّٰهم اغفر لکاتبه ولوالدیه وللمؤمنین آمین

بِمَعْرُوْفٍ ص یا خوشے کړی دوی په بنه وجه چې بې اضراره حاکم نفس شےؒ روایت
دی چې سړے به ښځه خپله طلاقه کړه او چې عدت به ئې نژدې شو نو رجوع
به ئې وکړه او بیا به ئے طلاقه کړه د پاره د اضرار او همدا سے او یزانه به ئې سا تله
نو نازل شو وَلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا او مه ساتئ دوی په رجعت سره محض د پاره
د ضرر رسولو دوی ته لِّتَعْتَدُوْا ج د پاره د دې چې ظلم وکړئ یا ئے خلع ته اړې
کړئ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ او هر څوک چې دا سې کار وکړی فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ط پس
په تحقیق ظلم ئې وکړو پر ځان خپل وَلَا تَتَّخِذُوْٓا او مه نیسئ تا سے اٰيٰتِ اللّٰهِ
هُزُوًا احکام د خدای ځای د مسخرو وَّاذْكُرُوْا او یاد کړی نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ
نعمتونه د خدای پر تا سے چې ښځو ښځې ئې درته روا کړی دی او رجعت ئې هم
درته مباح کړی دی وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ او هغه چې رالیږلے دی ده پر تاسی
مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ له قرانه او له سنته[1] يَعِظُكُمْ بِهٖ ط پند درکوی په دے
۲۹ قران سره وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا او ویریږی له خدایه او پوه شئ اِنَّ اللّٰهَ چې
ع ۲ ۱۴ ۱۳۱۷ بیشکه خدای بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۲۳۱ ع پر هر شے دانا دی روایت دی چې معقل
بن یسار رضؓ خپله خور ورکړې وه عبد الله بن عاصم ته او هغه طلاقه کړه او بیا
د عدې تر پوره کیدو څخه پښیمانه شو او اراده ئې د رجوع وکړه نو معقل قسم وکړے
چې بیا به ئې درته نه پریږدم او یادا خطاب عام دی چې دا منع دی په مؤمنانو
کښې تر قیامته موقوفه وی نو نازل شو وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ او په هغه وخت
چې طلاقې کړی تاسی ښځې خپلې فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ پس ورسیږی دوی اخر د عدت
خپل ته یعنے پس له بائن کیدو د طلاقه بیا اراده وکړی زوجین د تجدید د نکاح په خپل[2]
رغبت سره فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ پس مه منعه کوی دوی اے اولیاؤ اَنْ يَّنْكِحْنَ له
دې چې په نکاح کښیونزی دوی اَزْوَاجَهُنَّ د څخاوندانو مړو نو خپلو یا معنے دا چې
مه منعه کوی اے طلاقونکوله دې چې بل څوک میړه

[1] یعنے سنت د پیغمبر ﷺ [2] له ښځه او خاوند د نوی والی د نکاح یعنے د بیا تړلو د نکاح ۱۲

کوی د وی پس له بینو نته ستا سے اِذَا تَرَاضَوْا په هغه وخت کی چے دواړه سره راضے
شے بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ط بخپل مینځ کی په وجه شرعی سره ذٰلِكَ دامنع چے ده له بندلو
يُوْعَظُ بِهٖ پند ورکول کیږی په دی سره مَنْ كَانَ مِنْكُمْ هغه چاته چے دی له تاسے
څخه يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ چے ایمان لے راوړی دی پرخدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ط او په ورځ د
قیامت ذٰلِكُمْ داترك دمنع اوضرر چے دی اَزْكٰى لَكُمْ غوره دی تاسے ته چی له
دی گناه به خلاص سے وَاَطْهَرُ ط او پاکیزه دی چے دوی په حراموکښے اخته نشے
وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او خدای پوهیږی په بهبود ستا سے وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۲﴾ او تاسی نه
پوهیږی په بهبود خپل وَالْوَالِدٰتُ او هغه میندی چے مطلقی وی يُرْضِعْنَ
اَوْلَادَهُنَّ تی دی ورکوی اولاد خپل ته لیکن استحباناً یا وجوباً پکیږی طفل د
بل چاتے نه روی یا دائی نه پیداکیده یا ئی پلار عاجز وو له اجرت ورکولو
څخه ددائی حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ دوه کاله پوره لِمَنْ اَرَادَ هغه چا لره چے اراده لرے
اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ط ددی چے پوره کی دی موده د تی ورکولو وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ
او ده پر هغه چاچے ولد ورلره زیږ ول شوے دی یعنے پر پلار رِزْقُهُنَّ روز
ددوی وَكِسْوَتُهُنَّ او جامے ددوی بِالْمَعْرُوْفِ ط میانه حاله دطاقته دده ابلار
سره لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ نه شے مکلّف کولای هیڅوك اِلَّا وُسْعَهَا مگر په قدر دطاقت
دده لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ م ضرر دی نه رسوی مور د ولد پلار دده ته بِوَلَدِهَا
په سبب دولد خپل سره چے پس له الفت نیولو د ولد او پس له راضے کیدو ددی
په هلاك باندی بیا هلاك وغور ځوی پلار ته چے نور تے نه ورکوم یا ډیر
اجرت غوارم وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ اوضرر دِی نه رسوی پلار د ولد والدی ته
بِوَلَدِهٖ ق په سبب د ولد خپل سره چے هغه به په رضا سره تے ورکوی او دے
په زوره هغه ولد خپل ځندی آخلے یا خوراك او جامه نه ورکوی یالهاندازی
څخه کم ورکوی او داهلتة که لا تضار په صیغه د معلوم

له نه شے مکلف کولای یعنے زور نه شے کولاے پر هیچا ۱۲

سره وی او که بچهوله وی نو معنیٰ دا چې ضرر دی نه شي رسولای مور ته په
جهت د ولد د دی او پلار ته په جهت د ولد د ده وَعَلَى الْوَارِثِ او دی پر وارث
د ولد که پلار ئې مړ وو مِثْلُ ذٰلِكَ ج په مثل د دغه شیانو چې پر پلار وو او دا په
نزد د امام اعظم رح پر هغه وارث دی چې ذی رحم محرم وی فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا
پس که اراده وکړه د دے مور او پلار د پریکولو د تي څخه عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا په
هغه رضا سره چې صادره وی له دی دواړو وَتَشَاوُرٍ په مصلحت د دواړو سره
فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ط پس نشته هیڅ وبال پر دی دواړو په دی کښې چې مخکې د دوو
کالو څخه ئې پری کی یا ورو وسته وَاِنْ اَرَدْتُّمْ او که قصد لری تاسے اَنْ
تَسْتَرْضِعُوْٓا اد دی چې دایي و نیسے د پاره د تی ورکولو اَوْلَادَكُمْ اولاد خپل ته
فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ پس نسته هیڅ وبال پر تاسے اِذَا سَلَّمْتُمْ په هغه وخت کی چې
وسپاری تاسے دایي ته مَّآ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ط هغه مبلغ چې اراده کړی وی
تاسی د ورکولو د ے نه په خوشحالی سره وَاتَّقُوا اللّٰهَ او و یریږی له خدایه څخه
په ورکولو د اجرت کښې وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ او پوه شئ چې بیشکه خدای بِمَا
تَعْمَلُوْنَ پر هغو کارو چې کوی ئې تاسی بَصِيْرٌ (۲۳۳) بنده بینا دی وَالَّذِيْنَ او هغه
کسان يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ چې مره شي له تاسی وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا او پریږدی
ښځې يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ انتظار دی کوی په صبر کولو د ځان خپل سره اَرْبَعَةَ
اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ج څلور میاشتے او لس شپے سره د ورځو دا هلته که مینځه
او حامله نه وی او که مینځه وه نو عده ئې دوی میاشتی او پنځه شپی او ورځې
ده او که حامله وه نو عده لی ئې تر لنگیدو پوری ده فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ چې هر
کله ورسید لی دوی اخر د عدی خپلی ته فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ پس نشته هیڅ وبال
پر تاسے ای حاکمانو فِيْمَا فَعَلْنَ په هغه کار کښې چې کړی وی دوی فِىْٓ اَنْفُسِهِنَّ
په حق د ځان خپل کښې یا له اختیاره چې تزیین[1] او تطییب[2] خپل دی او طلب د نکاح

[1] یعنی ښایسته کول او جوړول ۱۲ [2] یعنی په ځان پوری خوشبوئی لګبنل ۱۲

دی بِالْمَعْرُوْفِ ط په وجه شرعی سره وَاللّٰهُ او خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ په هغه کارو
چه تاسی ئې کوی خَبِیْرٌ (۲۳۴) آگاه دی وَلَا جُنَاحَ عَلَیْکُمْ او نشته هیڅ وبال پر تاسے ای
طلب کار انو د نکاح فِیْمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ په هغه کار کښې چې کنایه او رمز وکړی تاسے
په هغه کار مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ له طلبه د هغو ښځو چه په عدت کښې وی اَوْ اَکْنَنْتُمْ
یا پټه ئې ساتی تاسے دا طلبګاری فِیْٓ اَنْفُسِکُمْ ط په زړونو خپلو کښې یعنی رغبت خپل
که ښکاره کوی معتدی ته او که زړه کښې ساتی په دوارو کښې باک نشته اما که
ښکاره کوی نو په کنایه وائی لکه چې ته ښه ایسته یا صالحه ئې یا ماله تا غوندے
ښځه پکار ده او تصریح مه کوی عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّکُمْ پوهیږی خدای چې بیشکه تاسی
سَتَذْکُرُوْنَهُنَّ زر دی تاسے یا دی به کړی تاسے دوی او صبر به نه ځندی و نه کړی
نو ښکاره کړی ورته رغبت خپل وَلٰکِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا او لیکن وعده
ورسره مه کوی پټه د جماع یا د نکاح اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا مګر دا سی کوی چې وائی دوی
ته قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ط خبره په رمز او په اشاره سره نه په تصریح او په عبارت سره
وَلَا تَعْزِمُوْا او اختیار مه کوی عُقْدَةَ النِّکَاحِ و تړلو د نکاح له دوی سره حَتّٰی
یَبْلُغَ الْکِتٰبُ تر هغو پورې چې ورسیږی هغه مقرری د خدای چې عده ده اَجَلَهٗ
انتهاء خپلی ته وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ او پوه شئ چې بیشکه خدای یَعْلَمُ مَا فِیْٓ اَنْفُسِکُمْ
پوهیږی په هغه شی چې په زړو ستاسے کښې دی فَاحْذَرُوْهُ ج پس ویریږی ترې
ع ۴ ۳۰ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ او بیا پوه شئ چې بیشکه خدای غَفُوْرٌ حَلِیْمٌ (۲۳۵) بخښونکی د
ګناهو دی صبر کونکی دی چې هیڅوک زر نه نیسی روایت دی چې یو سړی له
انصارو ښځه په نکاح کړه او مهر ئې مسمّٰی نه کی او مخکی تر د خول ئې طلاقه کړه
نو نازل شو لَا جُنَاحَ عَلَیْکُمْ نشته هیڅ وبال پر تاسی اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ که
طلاقے کی تاسے ښځې خپلې مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ ترڅو چې مسه کړی نه وی تاسے او مراد
له مسه په نزد د امام اعظمؒ خلوت صحیحه دی چې خالی وی له مانع د دخوله

ع یعنی په نفسو او په زړونو خپلو کښې ۱۲ ـه یعنی معین او معلوم ۱۲

اګرکه دخول ونه شي اَوۡ تَفۡرِضُوۡا لَهُنَّ تر هغه چې مسمیٰ نه کړی تاسې دوی ته اودا آو په معنیٰ د حتیٰ دې فَرِيۡضَةً ۖ مهر څکه چې د مهر مسمیٰ حکم په مخکښې دی پس طلاق کړی تاسې دوی ته وَّمَتِّعُوۡهُنَّ ۚ او څه ورکړی ور لره چې یادګاری او برخورداری وي عَلَى الۡمُوۡسِعِ قَدَرُهٗ په پرماره (مالداره) باندی په قدر د طاقت دده وَ عَلَى الۡمُقۡتِرِ قَدۡرُهٗ ۚ او پرنادار باندی په قدر د طاقت دده مَتَاعًا ۢ بِالۡمَعۡرُوۡفِ ۚ متعه ورکول دی په وجه شرعي او عرفي سره چې هغه په نزد د امام اعظمؒ قميص او پرونی او چادری دده حَقًّا عَلَى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۲۳۶﴾ چې حق واجب دی پرمسلمانانو باندی وَاِنۡ طَلَّقۡتُمُوۡهُنَّ اوکه طلاق کړی تاسې مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ تَمَسُّوۡهُنَّ مخکې تردې چې مسه کړی وی تاسې دوی وَقَدۡ فَرَضۡتُمۡ او حال دا چې مسمیٰ کړی وی تاسې لَهُنَّ فَرِيۡضَةً دوی لره مهر فَنِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ پس لازم دی پرتاسې ورکول د نیم د هغه مهر چې مسمیٰ کړے وی تاسې اِلَّاۤ اَنۡ يَّعۡفُوۡنَ مګرکه عفوه وکه دوی د توګل که عاقل وے او بالغ وی اَوۡ يَعۡفُوَا الَّذِىۡ یا عفوه وکی یعنی تول ورکی هغه سړی بِيَدِهٖ عُقۡدَةُ النِّكَاحِ چې په لاس دده کښې دہ غوټه د نکاح یعنی زوج وَاَنۡ تَعۡفُوۡۤا او دا چې عفوه وکړے اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰىؕ دا کار ډیر نږدې دی پرهیزګاری ته یعنې که ښځې تول وبخښي نو دا دوی له ډیره غوره دہ اوکه سړی تول ورکه نو دا هغوی لره ډیره غوره دہ څکه چې احسان دی له جانبینو وَلَا تَنۡسَوُا الۡفَضۡلَ اومه هیروئ مهربانۍ او احسان بَيۡنَكُمۡ ؕ سره په مینځ خپل کی یعنې سړی دِی دی ته وګوری چې دی ښځې زما څخه هیڅ نفعه وانه خیسته نو په تول مهر ئې خوشحاله کړم او ښځه دی دی ته وګوری چې دې سړی پرما هیڅ نفعه وانه خیسته نو دا مهر خو ور بخښم اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ بَصِيۡرٌ ﴿۲۳۷﴾ پرهغو کارو چې کوی ئې تاسې ښه بینا دی حٰفِظُوۡا عَلَى الصَّلَوٰتِ فهمداری کوی پر مونځونو یعنې په ورو حقوقو ئې لکه وخت، طهارت، اذان، اقامت جمع، جماعت

خلوص نیت ، حضور ، خشوع ، خضوع ، طمانیة ، قیام ، قراءت ، رکوع ، سجده، قومه
جلسه او هم دا سے نور ټول فرائض ، واجبات ، سنن ، مستحبات ځکه چې کمال د
لمانځه موقوف دی پر دی شیانو باندی وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی ق او خصوصًا په
میانځنی لمونځ کی چې په اکثرو روایاتو کښې د ماځیګر لمونځ دی ځکه چې دا وخت د
ډیر اشتغال دے ځکه چې په ځکښی شپه راځي وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ او ودریږئ خدائے
ته قٰنِتِیْنَ (۲۳۸) په ویره یا په ذکر یا په او ږده قیامه فَاِنْ خِفْتُمْ پس که چیرته بیرېدلاست
له د ښمنه تخنه یا د غلو تخنه یا د یو بل شي تخنه فَرِجَالًا اَوْ رُکْبَانًا نو ح پس اداء کوئ لمونځ
د پیاده تګه سره یا پر سور لی او په دی دواړو کښې توجه و قبلے ته شرط نه ده د
عذر په وجه فَاِذَآ اَمِنْتُمْ پس چې پرامن سواست د خوفه تخنه فَاذْکُرُوا اللّٰهَ
پس یاد وی خدای یعنی لمونځ کوئ سره له تیرو شرائطو کَمَا عَلَّمَکُمْ لکه چې درښولے
ئې دی تاسے ته مَّا لَمْ تَکُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ (۲۳۹) پر هغه شان لمونځ چې نه واست تاسے
چې په پوهیدلاست تخکی وَالَّذِیْنَ او هغه کسان یُتَوَفَّوْنَ مِنْکُمْ چې مړه شی له
تاسے تخنه وَیَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا او پریږدی ښځے وَّصِیَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ لازم
دی چې وصیت دی وکی دوی د پاره د ښځو خپلو په حال د حیلوة کښے یا دا امر
دی له خدایه تخنه مَّتَاعًا اِلَی الْحَوْلِ د متعی ورکول دی تر یوه کاله پورې چې
روزی او جامه او مسکن دی له ترکی تخنه دده غَیْرَ اِخْرَاجٍ ج بیله ایستو د خپله
کوره تخنه یعنې چی هیڅوک دی ئې نه باسے فَاِنْ خَرَجْنَ پس که پخپله ووتې دوی
له کوره اما پس له پوره کید و د کال فَلَا جُنَاحَ عَلَیْکُمْ پس نشته هیڅ وبال پر تاسے
ای اولیاؤ د مړو جریٖ فِیْ مَا فَعَلْنَ په هغه شی کښې چې دوی ئې وکی فِیْٓ اَنْفُسِهِنَّ
په حق د ځان خپل کښے یعنې زینت یا طلب د خاوند مِنْ مَّعْرُوْفٍ ط په موافقت
د شرعے سره وَاللّٰهُ او خدای عَزِیْزٌ حَکِیْمٌ (۲۴۰) غالب دی په کردن کشانو دده د

له یعنی د هغه مال تخنه چی پاته شو وی له ده تخنه ۱۲ ؎ له خپلوا نو د خاوند د دی ښځے ۱۲ ؎ له جور ول د ځان خپل ۱۲

امره ځکه حکیم دی چې مصلحت گوري هغه کوي او دا وصیت بیا منسوخ شوی
دی په ایت د میراث سره او دا کال منسوخ شوی په ځلورو میاشتو او لسو ورځو
سره وَلِلْمُطَلَّقٰتِ او دی طلاقو کړې شو ولره مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ ط نفقه په اندازه
سره حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِیْنَ ﴿۲۴۱﴾ مقرر شوی دی پرهیزګارانو لره د شرك ځکه یعنې پر مسلمانانو
كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ همدا سې لکه دا احکام چې ئې بیان کړه بیا نوی خدای لَكُمْ اٰيٰتِهٖ
تاسې ته احکام خپل لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۴۲﴾ بنا ئې چې تاسې عقل متوجه کړی احکامو ۳۱ ع ۷ ۱۵
دده ته روایت دی چې په ملك د واسط کښې یو ښار وو چې وُبا پر را غله او دوی
اته یا ځلویښت یا او یا زره مخلوق وه نو دا قول و تبتیدل او خدای قوله مره کړه او
ور وسته تراتو ورځو ئې بیا ژوندی کړه په دُعاد حزقیل سره لکه وائی چې اَلَمْ تَرَ
ایا نه وینې ته ای عبرت اخستونکی اِلَى الَّذِیْنَ خَرَجُوْا هغه کسان چې وتلی وه مِنْ
دِیَارِهِمْ له کورو خپلو وَهُمْ اُلُوْفٌ او حال دا چې دوی په زرګونو وه حَذَرَ الْمَوْتِ ص
له ویری د مرګ ځکه فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ پس وویل دوی ته خدای مُوْتُوْا اتف مره شئ
پس تو له مره شوه په یوه ساعت کښې نکته په دې کښې اشارت دی وو دی ته چې
ای مؤمنانو هر کله چې له مرګه په تیښته نه سې خلاصید است نو غوږ داده چې د امر ئې
دی په لاره د خدای کښې چې یو بنه ځای خو وینې ثُمَّ اَحْيَاهُمْ ط بیا ئې ژوندی
کړه قول اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای لَذُوْ فَضْلٍ هرائینه خاوند د مهربانی دی عَلَى
النَّاسِ پر خلکو چې داسې عجائب ورته ښکاره کوي د پاره د عبرت وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ
النَّاسِ او لیکن زیات خلك چې دی خصوصًا بنی اسرائیل چې داسې معجزې وینې
او پند نه په اخلي لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۲۴۳﴾ شکر نه باسې وَقَاتِلُوْا او جنګ کوی ای مؤمنانو
فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې وَاعْلَمُوْٓا او پوه شئ اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه خدای
سَمِیْعٌ اوریدونکی دی د اقوالو د بیرته پاته کیدونکو له جهاده عَلِیْمٌ ﴿۲۴۴﴾

سه یعنې چې وو دوی له ور وسته پاته کیدونکو له غزا ځکه چې هغه داسې وی که داور ځ نه زمون
غزا ته نه وای تللی نو نه به وه مړه شوی ۱۲

دا نادی په ښه ورنو ددوی مَنْ ذَا الَّذِیْ څوك دی هغه کس یُقْرِضُ اللّٰهَ چې قرض
ورکوی خدای ته یعنې غازیانو لره چې اسباب دغزا نلری قَرْضًا حَسَنًا ښه قرض
یعنې له پاکه ماله یا بې له منته یا بیله بدله یا ثر فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗ پس چې زیات
او غبرګه کی خدای ورلره ثواب ددی قرض اَضْعَافًا کَثِیْرَةً ط غبرګونی ډیر تر
لسو تر سلو تر اوُوسوو تر اوُونږ روپوری په تفاوت دمصارفو اود اخلاص سره
وَاللّٰهُ یَقْبِضُ او خدای تنګوی روزی دچا وَیَبْصُۜطُ ص او فراخوی دچا په مقتضٰی
دحکمت بالغه سره وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾ او همده ته بیا بیول کیږی دپاره دجزاء
داعمالو خپلو روایت دی چې جالوت نومی باد شاه وو له کفارو د عمالقو چې
بنی اسرائیلو پوسی راغلی وو او څلورسوه څلویښت مشران ئې څندی بندیان
کړه او دوی ئې له خپل وطنه څخه وشړل او اولاد ئې تری وکرزاوی نو ددوی
اراده دجنګ وکړه لکه چې وائی اَلَمْ تَرَ آیا نه وینی (نه ګوری) اِلَی الْمَلَاِ هغه
یوه ډلی ته مِنْ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ له اولاده دیعقوب ؑ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰی م پس
له وخته دموسٰی ؑ اِذْ قَالُوْا لِنَبِیٍّ چې وویل دوی یو پیغمبر ته لَّهُمُ ابْعَثْ چې
راغلی وو دوی ته چې په اصح درو ایاتو شمویل ؑ وو چې مقرر کړه لَنَا مَلِکًا موږ
له یو بادشاه نُّقَاتِلْ چې جنګ وکړو موږ په تدبیر او په اتفاق د هغه سره
فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ط په لاره د خدای کښې له جالوت کافر سره قَالَ هَلْ عَسَیْتُمْ
نو وویل شمویل ؑ چې آیا نږدی یاست تاسې وددی خبری ته چې اِنْ کُتِبَ که فرض
کړه شی عَلَیْکُمُ الْقِتَالُ پر تاسې جنګ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ط دا چې بیا به ونه کړی تاسې
جنګ یعنی ښه خودا سې ګنمه چې په ځان به ئې فرض کړی او بیا به ئې ونه کړے
قَالُوْا وَمَا لَنَآ وویل دوی او څه عارض دی موږ لره اَلَّا نُقَاتِلَ چې جنګ به نه
کوو موږ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې وَقَدْ اُخْرِجْنَا او حال دا چې په
تحقیق سره ایستل شوی یو موږ په ظلم سره مِنْ دِیَارِنَا له کورو خپلو خپلو څخه

وقف لازم

وَاَبْنَآئِنَا ط او له زامنو خپلو څخه فَلَمَّا كُتِبَ پس هر كله چې فرض كړه شو عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ
پر دوی جنګ تَوَلَّوْا انو شا كړه متولو اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ط مګر لږ. و له دوی څخه چې
دری سوه او دیارلس تنه وو وَاللّٰهُ او خدای عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ (۲۴۶) بنه دانا دے
په احوالو د ظالمانو چې جهاد ته ئې شا كړه پس له غوښتلو روایت دی چې هر
كله شمویل؏ بادشاه له خدایه وغوښت نو یوه همسا (لکړه) راغله چې دا د هرچا
پر قد برابره شوه هم هغه لائق دی د بادشاهے نو ډیر مخلوق راغلل او د هیچا په
قد برابره نه شوه ناګاه یو سړی شپون یا رنګریز یا سقاو چې شاول ئې نوم وو
او ډیر اوږد وو او طالوت بالله (بلل) كیدی چې راغلے نو هغه همسا پر برابره شوه
لكه چې وائې وَقَالَ لَهُمْ او وویل و دوی ته نَبِيُّهُمْ پیغمبر د دوی اِنَّ اللّٰهَ بیشكه
خدای چې دی قَدْ بَعَثَ لَكُمْ په تحقیق سره مقرر كړی دی تاسو ته طَالُوْتَ مَلِكًا ط
طالوت باچا قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ نو وویل دوی چې څرنګه به وی لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا
ده لره باچاهے پر موږ باندی وَنَحْنُ اَحَقُّ او حال دا چې موږ ډیر لائق یو
بِالْمُلْكِ مِنْهُ په باچاهے سره تر ده ځكه چې دی د ارازلو څخه او بل دا چې دی له
اولاده څخه د بنیامین دی او په هغو كښے نه پیغمبری شته او نه باچاهے وَلَمْ
يُؤْتَ او بل دا چې نه ده وركړه شوی ده لره سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ط فراخے د مال
یعنی دی دولت نه لری مفلس محض دی او باچاهے بی دولته ممكنه نه ده
قَالَ نو وویل دوی ته پیغمبر علیه السلام اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ چې بیشكه خدا یے
غوره كړی دی عَلَيْكُمْ پر تاسے وَزَادَهٗ بَسْطَةً او زیات كړی ئې دی له
جهته د لوئی فِی الْعِلْمِ په علم كښے یا په تدبیر د باچاهے كښے وَالْجِسْمِ ط او په
تنه كښی او بادشاهے د پوهان او جسیم څخه ښكاره ده چې په مصالحو د حكم
ښه پوهیږی او هیبت هم د هرچا ځندی كیږی وَاللّٰهُ او خدای يُؤْتِیْ مُلْكَهٗ
وركوی باچاهے خپله مَنْ يَّشَآءُ ط هغه چالره چې اراده ئې وشی كړ اللّٰهُ او

خدای وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۴۷﴾ خاوند دی دلوی فضل دانا دی لائق او نالائقه پیژنی روایت
دی چی دوی بیا سوال وکی د پیغمبره څخه چی موږ د تسلی لپاره یوه نښه غواړو
پر باچاهی دده نو دوه دربه څخه سوال وکي او نښه راغله لکه چی وائی وَقَالَ لَهُمْ
او وویل دوی ته نَبِيُّهُمْ پیغمبر د دوی إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ بیشکه نښه د باد شاهی دده
چی ده أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ داده چی را به شی تاسی ته صندوق د شمشاد و دری
ګزه اوږد دوه ګزه پلن فِيهِ سَكِينَةٌ چی په ده کښې دل ارامی ده مِنْ رَبِّكُمْ له طرفه د
رب به ستاسی یعنی په هغه لښکر کښې چی به دا صندوق وی نو هغه به په جنګ
کښې زړه ور وی او ماتی به نه کوی ځکه به موسیٰ په هر جنګ کښې دځان سره ساتی
وَبَقِيَّةٌ او پس مانده دی مِمَّا تَرَكَ له هغه شیانو څخه چی پرایښې دی آلُ مُوسَىٰ
فرزندانو د موسیٰ وَآلُ هَارُونَ او فرزندانو د هارون یا پخپله دوی خو هله که
لفظ د ال دپاره د تعظیم وی او هغه پس مانده څپلی او همسا د موسیٰ او ټکری
(لنګوټه) د هارون او څه ماتې ماتې تختې د تورات هم پکښې وی او څه ترنجبین
د تیه هم پکښې وو تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ چی را به ئې وړی ملائکی له آسمانه څخه
نو دا صندوق راکوز (راکښته) کی ملائکو او دوی په هوا کښې لیدی چی له پاسه
راغلی إِنَّ فِي ذَٰلِكَ بیشکه چی په راتلو دده صندوق کښې تاسې په دی هیئت
لَآيَةً لَكُمْ هرائینه یوه غټه نښه ده تاسې لره په باچاهی د طالوت إِنْ كُنْتُمْ
که ئې تاسې مُؤْمِنِينَ ﴿۲۴۸﴾ باور کونکی فَلَمَّا فَصَلَ پس هر کله چی را وبیرون شو
طَالُوتُ بِالْجُنُودِ لا طالوت له ښاره د ایلیا له اتیا زره لښکره سره په ایامو د
د ډیری ګرمی کښې قَالَ نو وویل طالوت إِنَّ اللَّهَ بیشکه چی خدای مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ
ازمیښت کونکی دی ستاسی په یوه واله سره چی ستاسی په مخکښې به راشی او
مطیع او عاصی به بیل شي او دی ته نهر فلسطین وائی فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ پس هر
څوک چه وڅښی او به له دی ولی څخه فَلَيْسَ مِنِّي پس هغه نه دی له ما څخه

یعنی نه ماله تابعانو وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ او هغه څوک چې ونه چښي دااو به فَاِنَّهٗ مِنِّيٓ
پس هغه بیشکه له ما څخه دی یعنی نه ما تابع دی اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ مګر هغه
څوک چې واخلي یو ورغوی او به بِيَدِهٖ ج په لاس خپل سره روایت دی چې هر کله
لښکر په دی واله راغلے او له تندی ډیر وارخطاوو نوّ له په سبب ذکرمی نونه یاتو
نسونه د لا کړه لکه چې وائي فَشَرِبُوْا مِنْهُ پس ویے چښلے دااو به په مره کید ه
له دی نهر فلسطین څخه اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ط مګر لږ وو له دوی څخه چې د ری سو
دیارلس تنه وه چې فقط یو یو ورغوی او به ئې وچښلی فَلَمَّا جَاوَزَهٗ پس هر
چې تیرشوله دوی له دی ولی څخه هُوَ وَالَّذِيْنَ طالوت او هغه کسان اٰمَنُوْا
مَعَهٗ لا چې ایمان ئے راوړی وو له ده سره قَالُوْا نو وویل د غه کسانو چې او به
ئې ډیری چښلی وی لَا طَاقَةَ لَنَا ا لْيَوْمَ نشته هیڅ طاقت موږ لره نن ورځ د
جنګ بِجَالُوْتَ له جالوت سره چې پنځه سوه مَنَه شرعے او سپینه پر بړته وه له
وسلے او هر څه او اووه نیم شله مَنَه شرعے خو ئې خول وو وَجُنُوْدِهٖ ط او لښکر
دده سره چې اته لاکهه ئې جره سواره او جنګیالی دی قَالَ الَّذِيْنَ وویل هغو
کسانو يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ چې یقین ئې وو پردی چې بیشکه دوی مُّلٰقُوا اللّٰهِ لاور
تلونکی دی خدای له چې درې سوه دیارلس وو كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ ډیری دی
دوه وتو لیو څخه چې مؤمنان مخلصان وی غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةًۢ چې غالب
شوی د ډیرو لوی لښکر باندی چې سرکشان او کافران وی بِاِذْنِ اللّٰهِ ط په اذن
او په مددګاری د خدای سره وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۲۴۹﴾ او خدای له صابرانو
سره دی وَلَمَّا بَرَزُوْا او هر کله چې وواته مؤمنان جنګ ته او صفونه ئې اراسته
کړه لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ د پاره د قتال د جالوت او د لښکر د ده قَالُوْا رَبَّنَا نو وویل
دی مؤمنانو اے ربه نه موږ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا توی کړه په موږ داسے کاسے
او مشکونه د صبر وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا او کلک که د ښمن ته قدمونه نه موږ چې توی

و رته ولاړ او سو وَانْصُرْنَا او مدد وکړه له موږ سره عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾ پر دې قوم د
کافرانو باندې روایت دې چې پلار د داؤد ایشیا نومیدی او دده اوه زامن وو کشر یکښې
داؤد وو چې سره به ئې پسونه[عه] او ایشیا له شپږ و تولو مشرانو سره په لښکرد طالوت
کښې وو شمویل[۳] ته وحی وشوې چې مرګ د جالوت د داؤد[۴] په لاس سره دی نو
دی پلار راوه بالي او په دغه لاره کښې درې و تیږو ورته وویل چې موږ د رسره واخله
یکار به دې شو نو درې سره ئې په توښه دان کښې واچولې او طالوت وویل هر چاچې
جالوت مړکې نو خپله لور به سره د نیمي باچاهۍ ورکړم او داؤد[۴] وویل چې زه و رځم
بیا چې دی له جالوت سره مخامخ شو هغه درې سره تیږې ئې په پلوغه کښې کښیښوې
چې ورو یې غورځولې نو درې سره د جالوت پر سینه ومښتې او یو ځای ورننوتې
او د شاله طرفه ئې درې ځایه ووتې او په لښکر کښې تر اخره ولاړې او درې کوځې ئې
یکښې وه ایستې چې اکثر لښکر یه تباه شو لکه چې وائي فَهَزَمُوْهُمْ پس مات ئې کړه دا
کافران بِاِذْنِ اللّٰهِ قفۃ په توفیق د خدای سره وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ او مړکی داؤد[۴] د
جالوت کافر وَاٰتٰهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ او ورکړه ورته خدای بادشاهي په اول کښې نیمه او بیا
پس مرګه د طالوت درسته وَالْحِكْمَةَ او پیغمبري وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ط او وئې ښوول ورته له
هغه شیانو څخه چې اراده ئې وه لکه سازول د زغرو او خبرې د مرغانو او چارپایانو او دلوړو
دیرو شیانو وَلَوْلَا او که نه وای دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ حصارول (دفعه کول) له طرفه د خدای د
دې خلکو بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لا بعض له دوی چې کفار دې په بعض نورو سره چې غازیان دی د
مؤمنانو لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ نو هرا ئینه خراب شوې به وو تمام روی زمین په فساد او په
ظلم او په قتل د کفارو سره وَلٰكِنَّ اللّٰهَ او لیکن خدای چې دی ذُوْ فَضْلٍ خاوند د لوی
مهربانۍ دی عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾ پر خلکو باندې تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ دا تیرې قصې د معجزاتو ځینې
د قدرت د خدای دي نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ چې لولو (تلاوت) کوو ئې موږ پر تا ای پیغمبره بِالْحَقِّ ط
په حق سره وَاِنَّكَ او بیشکه ته چې ئې لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾ هرا ئینه له رسولانو ئې ته

عه یعنې پسونه به سره څرول له (پیوله) ۱۲ سه یعنې په ګوچۍ (تیږه) ځکښی ۱۲

الجزء ۳ وقف لازم

تِلْكَ الرُّسُلُ دا پیغمبران چی ذکرشول فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ غوره کړی دی موږ بعض د دوی عَلٰی بَعْضٍ م پر بعض اګرکه په اصل درسالت کښې سره برابردی لیکن په نوړو خواصو کښې سره متفاوت دی لکه چی وائی مِنْهُمْ مَّنْ بعض له دوی څخه هغه دی کَلَّمَ اللّٰهُ عائد په کښې محذوف دی ای کَلَّمَهُ اللّٰهُ چې خبری ورسره کړی دی خدای بی واسطې چې اول ئې دادم[۱] علیه السّلام اسره او بې واسطې دموسیٰ[۲] علیه السلام سره او اخری دمحمد[۳] صلّی الله علیه وسلم سره وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ط او پورته کړی ئې دی بعض د دوی په مرتبه کښې لکه محمد صلّی الله علیه وسلم چې وده ته ئې هغه څه ورکړی دی چې د حده د شمار څخه بیرون دی وَاٰتَيْنَا او ورکړی وی موږ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ عیسیٰ ؑ ته چې زوی د بی بی مریمې دی ښکاره معجزی لکه ژوندی کول د مړو او روغول د ړندو او د برګو (پیس نیولو) وَاَيَّدْنٰهُ اوقوی کړی وو موږ دی بِرُوْحِ الْقُدُسِ ط په جبرائیل[۴] علیه السلام سره چې هرکله به و رسره ګرزیدی وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده وای د خدای مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ اختلاف به نه وو کړی چې سبب د قتل دی هغه کسانو مِنْ بَعْدِهِمْ چی پس له دی پیغمبرانو وو مِّنْ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ چې راغلی وی دوی لره ښکاره معجزی لکه چې مخکی بیان شوی دی وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا او لیکن اختلاف برپا یه که دوی فَمِنْهُمْ پس بعض له دوی مَّنْ اٰمَنَ هغه څوك دی چې ایمان ئې راوړی دی وَمِنْهُمْ او بعض د دوی څخه مَّنْ كَفَرَ ط هغه څوك دی چی کفرئې اختیار کړی دی وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اوکه اراده وای د خدای مَا اقْتَتَلُوْا تف اختلاف به نه وو کړی دوی چې موجب د قتل د دوی شو وَلٰكِنَّ اللّٰهَ او لیکن خدای يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ع ۳۳ ۱

---

[۱] لکه چې ورته ئې فرمایلی وو چې يٰاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا يعنی ای ادمه اوسه ته او بی بی ستا په دی جنت کښې او خورئ کوی له دی جنت څخه ۱۲ [۲] لکه چې په کوه طور کښې ورته فرمایلی وو يٰمُوْسٰى اِنِّیْ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ يعنی ای موسیٰ بیشکه چې هم زه الله حقیقی یم او ترتیب کوونکی د عالم یم ۱۲ [۳] لکه چې په شپه د معراج کښې ئې ور سره کړی وی ۱۲ [۴] یعنی په هر وخت او په هر ځای کښې به ور سره وو ۱۲ منه رحمه ربه

کوی په حکمت بالغه سره هغه چه اراده ئې وشي د هدايت د چا او د ګمراهۍ د چا
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اَنْفِقُوْا ورکوی مالونه په زکوٰة يا په جهاد کې
يا په نورو صدقاتو کښې چې واجب دی مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ له هغه ماله څخه چې درکړي
دی موږ وتاسے ته مِّنْ قَبْلِ اَنْ مخکې له هغه يَّاْتِيَ يَوْمٌ چې راشي هغه ورځ لَّا بَيْعٌ
فِيْهِ چې نه پکښې خرڅول او رانيول شته چې څوک ځان چېل را نيسي او له عذابه
څخه خلاص شي وَّلَا خُلَّةٌ او نه پکښې زاړی او دوستی شته چې څوک له چا
سره مدد وکړي وَّلَا شَفَاعَةٌ او نه پکښې سوال او زاری شته امّا کافر له او
هر چې مؤمن دی هغه لره شته چې د چا د پاره ئې وکي لکه انبياء او علماء او صلحاء
به ئې د مسلمانانو لپاره کوی وَالْكٰفِرُوْنَ او کافران چې دی هُمُ الظّٰلِمُوْنَ (٢٥٤) هم
دوی ظالمان دی له هری وجهې چې ايمان پر خدای نه راوړی او عبادت د بل چا
کوی او زکوٰة نه ورکوی اَللّٰهُ خدای چې دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته لايق د عبادت
هيڅوک مګر هم دی يوازی اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ چې هميشه ژوندی دی محکم
ولاړ دی په نګهبانۍ او په تدبير د مخلوق لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ نه راځي پرده پرکالی
(پريشانی د خوب) وَّلَا نَوْمٌ او نه خوب چې يو ان غافل شي د تدبيره څخه د مخلوق
لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ دی ده لره هر هغه چې په اسمانو کښې دی وَمَا فِي الْاَرْضِ او هر
هغه چې په مځکه کښې دی مَنْ ذَا الَّذِيْ څوک دی هغه يَشْفَعُ عِنْدَهٗ چې شفاعت
به کوی د ده په وړاندی په قيامت کښې نبیّ دی که عالم دی که ولی دی که صالح
دی اِلَّا بِاِذْنِهٖ مګر په اذن د ده سره يعنی بيله اذنه ئې هيڅوک خوله نشي غوړولای
لای يَعْلَمُ مَا پوهيږي په هغه احوالو د دوی بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ چې په مخکښې د دوی دی
يعنی[1] دنيوی وَمَا خَلْفَهُمْ او په هغه احوالو چې وروسته دی تر دوی يعنی اُخروی[2]

[1] يعنی د دنيا څه احوال د خلکو چې دی له غم او له خوشحاليو له نيکو او له بدو له قسمتو او له رزقو او له نورو څخو له مرګو په دی ټولو د غه الله بنه پوهيږي او پر عالم او دانا دی ۱۲ [2] يعنی د آخرت څه احوال چې دی په هغو هم دی بنه پوهيږي يعنی علم د دوی ور ته نه رسيږي ۱۲

وَلَا يُحِيْطُوْنَ اواحاطه نشی کولای دوی یعنے علم ددوی بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖ په هیڅ شی
له علمه څخه دده اِلَّا بِمَا شَآءَ ج مگر په هغه شي چې اراده شوی وی دده د خبرولو
د هغو وَسِعَ ارت او محیط دی كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ علم دده یا ئې قدرت یا ئې باچاهي
یا ئې هغه کرسی چې فلك البروج دی پر ټولو اسمانونو باندی وَالْاَرْضَ ج او پر مځکه باندی
لکه چې حدیث وارد دی مَا السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ فِي الْكُرْسِيِّ اِلَّا كَحَلْقَةٍ مُّلْقَاةٍ بِفَلَاةٍ[له]
وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ج او نه ستوما نه کوی دی ساتنه ددی اسمانو او د مځکی وَهُوَ الْعَلِيُّ
الْعَظِيْمُ ﴿۲۵۵﴾ او دی ډیر بلند شان دی په باچاهی او په غلبه خپله کښې هم ډیر لوی دی
په صفاتو د کمال کښې روایت دی چې دوه زامن د ابو الحصین انصاری نصرانیان
شوه او ده رسول علیه السلام ته وویل که ستا اجازه وی دوی به په زور ه
مسلمانان کړم نو نازل شو لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ تفلا نشته هیڅ زور او جبر په قبلولو
د دین کښې قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ په تحقیق سره ښکاره ده لارمِنَ الْغَيِّ ج له ګمراهی څخه
یعنی حق او باطل هر څوك پخپله پیژنی او دا حکم په اول د اسلام کښې وو بیا منسوخ شو
په ایت د سیف سره فَمَنْ يَّكْفُرْ پس هر څوك چې ایمان را نه وړی بِالطَّاغُوْتِ پر
شیطان یا پر بتانو وَيُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ او ایمان راوړی پر خدای فَقَدِ اسْتَمْسَكَ پس
په تحقیق سره منګولی ښخې کړی دهٔ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ق په هغه پړی محکم چې قران
دی څکه یو طرف د بنده[له] څخه دی له جهته د صفیته او بل طرف ئې د بنده څخه دی له
جهته د قرائته او د عمله لَا انْفِصَامَ لَهَا ط چې له سره نشته او میدل[۱۲] او غوڅیدل دی
پړی لره یعنی دا قران دا سے محکم او تاوکړه شوی احکام دی چې هیڅ شك او شبه پکښې

[له] یعنی نه دی دا اووه اسمانونه لوی لوی په جنت او په مقابله د کرسی کښې مگر په مثل د لوی کړی
دی یعنے وړوکی چې غورځولی شوی وی په بیابان کښې مطلب دا چې په نظر سره اسمانونو ته هغه کرسی -
ډیره لوده فافهم ۱۲ [له] یعنی یو طرف ئې د خدای څخه دی څکه چې خدای دغه لاره غوره کړی ده او خوښه
کړی ئې ده نو بیا ئې د یاره د مهربانی او پیژندنی ودی عالمانو ته بیان کړی ده نو هغه اخیر
طرف ئې گویا که د مؤمنانو څخه شو که عمل په دغی لاره وکړی یعنی ایمان یوازی پر حقیقی الله باندی راوړی ۱۲

نشته وَاللّٰهُ او خدای سَمِيعٌ اورېدونکی دی د قراءت د قرآن عَلِيمٌ ﴿۲۵۶﴾ دانا دی
په عمل کونکو په احکامو دده اَللّٰهُ خدای چي دی وَلِيُّ الَّذِينَ اٰمَنُوا لا دوست دی د
هغه کسانو چې ایمان ئې راوړی دی يُخْرِجُهُمْ راباسی دوی مِنَ الظُّلُمٰتِ له تاریکیو
څخه د کفر او د ګمراهي اِلَى النُّوْرِ ط رڼا د ایمان او د هدایت ته وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا او هغه
کسان چې کافر شوی دی اَوْلِيٰٓـئُهُمُ الطَّاغُوْتُ لا دوستان د دوی شیطانان دے
جني یا انسی يُخْرِجُوْنَهُمْ چې راباسی دا شیطانان دوی مِّنَ النُّوْرِ له رڼا د ایمان
فطري څخه اِلَى الظُّلُمٰتِ ط و تیارو د کفر عملی ته اُولٰٓئِكَ دا کسان چې ایمان فطري ئې
په کفر عملی بدل کړی دی اَصْحٰبُ النَّارِ ج ملګری دی د اور د دوزخ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵۷﴾ ۳۴ ع ۴ ۲
دوی به په دی دوزخ کښې همیشه وی روایت دی چې هرکله ابراهیم علیه السلام
بتان د کفار ومات کړه او نمرود بن کنعان بن سنحاریب په غضب شو او د پاره د سوځلو
دده ئې ډیر خس (بوټی) جمع کړه او بیا د پاره د غور ځولو ئې دی را حاضر کی نو نمرود ور
څخه پوښتنه وکړه چې ته دا زموږ خدایان نه منی او ما نوی ئې نوستا خدای څوك
دی نکه چې وائی اَلَمْ تَرَ ایا نه وینی ته (نه ګوری) اِلَى الَّذِيْ هغه احمق ته چې بیعقل
دی حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ چي جګړه او حجت بازی ئې وکړه چې نمرود دی د ابراهیم ؑ سره
فِيْ رَبِّهٖٓ په حق د رب دده کښې اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ م په بدل د دې نعمت کښې
چې ور کړی وه ور له خدای باچاهي د تمام روی زمین اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ په هغه
وخت کې چې وویل ابراهیم علیه السلام رَبِّيَ الَّذِيْ رب زما هغه قادر مطلق دی
يُحْيِيْ چې اول ژوندی کول کوی یعنی له نیستی عليه څخه عالم هستی ته راباسی وَيُمِيْتُ لا

له یعنی له رڼا څخه د ایمان چې په وخت د پیدا کیدلو کښې له دوی سره وی نو هغه هم ځندی پوسے
او بنه ئې کافر کړی لکه په حدیث کښې راغلی دی مَا مِنْ مَّوْلُوْدٍ اِلَّا يُوْلَدُ عَلَى فِطْرَةِ الْاِسْلَامِ
فَاَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهٖ اَوْ يُنَصِّرَانِهٖ اَوْ يُمَجِّسَانِهٖ الخ معنی دا چې نشته څوك له زیږول شو څخه مګر چې زیږول
شوی وی پر دین د اسلام باندی نو بیا هغه مور او پلار دده چې وی یا ئې یهودی کړی که دوی یهودیان وے
او یا ئې نصرانی کړی که دوی نصرانیان وی او یا ئې مجوسی کړی که ئے مور او پلار مجوسیان وی ۱۲ عله یعنې
له نشتوالی څخه مخلوق وشته والی ته راباسی ۱۲

او بیا وژل کوی قَالَ اَنَا اُحْيٖ نو وویل نمرود چې زه هم ژوندی کول کوم وَاُمِيْتُ د او وژل کوم نو یو بندی واجب[1] القتل ئې ازاد کی او یو بیگناه ئې مړ کی قَالَ اِبْرٰهٖمُ بیا وویل ابراهیم په لسان د حجت سره فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای چې دی يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ را خیژوی لمر مِنَ الْمَشْرِقِ د طرفه څخه د مشرق فَاْتِ بِهَا پس ته ئې را وخیژوه دا لمر مِنَ الْمَغْرِبِ د طرفه د مغرب فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ د پس حیران شو او شرمنده شو هغه چې منکر وو له خدایه څخه وَاللّٰهُ او خدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵۸﴾ لاره د حجت[2] بازی نه ښیی وه لی د ظالمانو ته چې هغه ویلی ولے چې ستاره ب دې را وخیژوی **روایت** دی چې حضرت عزیر بن شرحیا چې له اکابرو د احبارو څخه وو او تورات ئې درست په یاد وو یوه ورځ پر خراب ښار باندی راغلی چې بامونه او دیوالونه یې سره لاندی باندی پراته وو او خلق ئې تول سپین هډوکی مړه پراته وو دی پر خره سپور وو سره له خپلے توښے چې تازه اِنځر او انگور وو د خوراك لپاره او تازه شیده او شیره د انگورو وه د چیښلو لپاره چې ودی کنډوالو او کورو ته ئې وکتل نو وی ویل چې اَنّٰى يُحْيٖ لکه چې وائی اَوْ كَالَّذِيْ ایا نه وینی (گورې) ته هغه چا ته او دا ځکه چې دا کاف زائده دی او دا اَلَّذِيْ عطف دی پر تیر اَلَّذِيْ باندی یعنی اَوِالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ چې تیر شو پر یو ښار باندی چې ایلیا یا بیت المقدس دی په هغه وخت کښے چې بخت نصر خراب کړی وو او خلق ئې وژلی وو وَّهِيَ خَاوِيَةٌ او دا قریه یعنی دیوالونه د دی لویدلی پراته وه عَلٰى عُرُوْشِهَا پر بامو (چتو) خپلو باندی قَالَ نو وویل

[1] یعنی یو بندی چې واجب وه وژل د هغه یعنی چې خون یا بله لویه گناه یه کړی وه ۱۲

[2] یعنی دا لمر چې د طرفه څخه د مشرق راځی دا زه راولم نو میبا ید چې ستا سی خدای دِ پې د مغربه څخه را ولی لکه په حدیث کښی راغلی دی که داسی نمرود ویلی وای نو فی الحال به له طرفه د مغرب دا لمر راختلی وای والله اعلم ۱۲

حضرت عزیرؑ لیکن د اعتراف په ځپل قصور نه د استبعاده اَنّٰى یُحۡیٖ چې څرنګه به بیا اباده کې یا څرنګه به بیا ژوندی کې هٰذِهِ اللّٰهُ دا قریه یا اهل ددې خدای بَعۡدَ مَوۡتِهَا ج پس له مرګه د اهل ددې یا پس له خرابوالي ځنه ددې فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ پس مړ کې دی خدای مِائَةَ عَامٍ سل کاله ثُمَّ بَعَثَهٗ ط بیا یې ژوندی کې پس له دی سلو کالو ځنه قَالَ نو وویل ملکی ورده ته کَمۡ لَبِثۡتَ ط چې څومره مدار (درنګ) دی کړی دی د لته قَالَ وویل حضرت عزیرؑ لَبِثۡتُ یَوۡمًا چې مدار می کړی دی یوه ورځ سلامته ځکه چې دده روح قبض کیدی څابنت وو او بیا چې ژوندی کیدی ماځیګر وو نو دائې وویل بې التفاته او چې لمر ته یې وکتل چې لا ولاړ وو نو دا سی یې وویل اَوۡ بَعۡضَ یَوۡمٍ یا یوه حصه د ورځې چې له څابنت ځنه ترماځیګره پورې ده قَالَ بیا وویل ملکی بَلۡ لَّبِثۡتَ بلکه مدار (درنګ) دی کړی دی مِائَةَ عَامٍ سل کاله فَانۡظُرۡ اِلٰى طَعَامِكَ پس وګوره خوراك خپل ته چې اِنځر او انګور ددی وَشَرَابِكَ او شراب خپل ته چې شیده او شیره دانګور وو وه لَمۡ یَتَسَنَّهۡ ج چې هیڅ تغیر یې نه دی کړی په دومره کلو کښې ځکه چې اِنځر او انګور دواړه داسې تازه پراته وه لکه چې هغه ساعت شکیدلی وی او همدا سی شیده او شیره هم وَانۡظُرۡ اِلٰى حِمَارِكَ او وګوره خره خپل ته چې یې خوراکه او یې چینا که ژوندی او تازه روغ جوړ ترلی ولاړ دی بیا رب العزت وایې چې دا می ددی وَچې در کړه چې عبرت یه واخلې ته وَلِنَجۡعَلَكَ او بل ددی لپاره چې وګرځوو موږ تا اٰیَةً لِّلنَّاسِ نښه د قدرت خپل وخلګو ته ځکه چې پس له سلو کالو چې خپل قوم لره راغلی او ویې ویل چې زه عزیرؑ یم نو هیچا باور نه و رباندی کاوی بیا چې تورات یې په یاد ور ته تیر کړی نو باور یې وشو ځکه چې تورات د بل هیچا په یاد نه وو او بیا چې خپل کورته

عه یعنی اقرار یې وکی په خپل کوتاه فکری یعنی زما فکر دی خبری ته نه رسیږی چې خدای به دا ښهر بنه اباد کړې او دا خبره یې له جهته د استبعاده نه ده کړی یعنی چې دا ژوندی کول او اباد ول لیری او بعید ګڼی دخدای له قدرته بلکه له جهته دکوتاه فکری ځنه وو ځکه د انبیاؤ سره دا عقیده هیڅ قدری مناسب نه ده ۱۲۵ عبدالوهاب ؒ

را غلی لمسیان ئې و لیدل زاره سپین بزیری دی او دی لا هم هغسی ځوان تور بزیری
وو نو ځکه ننبه د قدرت شوه وَانظُرْ اِلَى الْعِظَامِ او وګوره هډوکی د انسانانو ته
چی اوس سپین پراته دی كَيْفَ نُنْشِزُهَا چه څرنګه راوخوږ وو (راوبنوروو) مونږ دا
هډوکی یعنی هر یو دبل وطرفته دپاره دپیوند ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ط بیا اغوند و
په دی هډوکو غوښه چی ستا تسلی وشی امادا هلته که مراد هډوکی د انسانانو
وی یا دخره وی که خرمرشوی وی فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ لا پس هر کله چی ښکاره سود احال
وده ته او معاینه ئې وکړه قَالَ اَعْلَمُ نو ئې وویل چه اوس پوهیږم په عین الیقین سره
لکه چی مخوا پوهیدم په علم الیقین سره اَنَّ اللّٰهَ چی بیشکه خدای عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ (۲۵۹)
په هر شی قادر دی وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ او دریاد که هغه چی وویل ابراهیم علیه السّلام رَبِّ
اَرِنِیْ ای ربه زما او ښیه وماته كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى ط چی څرنګه ژوندی کوی ته مړی
قَالَ نو وویل ور ته رب چی اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ط ایا ستا باور لا نشته قَالَ بَلٰى نو وویل ابراهیم
علیه السلام چی شته وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِیْ ط او لیکن چه په مشاهده سره تسلی شی
زړه زما قَالَ فَخُذْ نو وویل رب چی پس ونیسه اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ څلور د مرغانو
څخه چی طاوس او چرګ او کارګه دی څلورم ئي کبوتره یا تپوس دی فَصُرْهُنَّ
اِلَيْكَ پس را نژدی که (راوه بوله) دا څلور سره وځان ته او هر یو بیل بیل (جلا جلا)
وګوره چی یقین دی خاص شي او بیا ئي ذبحه که او د هر څه سره ئي ښه مینځه که
او بیا تول سره خلط کړه ثُمَّ اجْعَلْ بیا کښیږده عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ په هر یو غره
چه په نژدی دی تا ته مِّنْهُنَّ جُزْءًا له دوی څخه توتی توتی اوس ونه ئي د ځان
سره وساته ثُمَّ ادْعُهُنَّ بیا ئې در و بوله په نامه چی راسی په اذن دخدای سره
يَاْتِيْنَكَ سَعْيًا ط نو را به شي در ته په ځغاسته وَاعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ او پوه سه چی
ع ۳۵ بیشکه خدای عَزِيْزٌ غالب دی نو داسی خوارق ور ته اسان دی حَكِیْمٌ (۲۶۰) حکیم
دی نو هر کار ئې په حکمت سره دی

عـه یعنی لیدل ئې وکړه ددی شیا نو ۱۲

روایت دی چې هرکله رسول علیه السلام اراده د غزا د تبوك وکړه په هغه ایامو
کښې چې ډیره ګرمي او ډیره تنګدستي وه او ډیر قوي دښمن او ډیر لیرې وطن ته سفر
وو او عثمان رض زر اوښان سره له اسبابو او عبدالرحمن بن عوف رض څلور زره
درهمه وغازیانو ته ورکړه نو نازل شو مَثَلُ الَّذِيْنَ مثال د مال د هغه کسانو
يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ چې ورکوي دوی مالونه خپل فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای
کښې يعنې په غزا يا په نورو خيراتو کښې كَمَثَلِ حَبَّةٍ په شان د داني د تخم وي اَنْۢبَتَتْ
چې زرغونه کې دا دانه سَبْعَ سَنَابِلَ اووه وږي فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ په هر وږي
کښې مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ سل داني وي وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ او خدای زیاتوي لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ
وهغه چا ته چې اراده ئې وشي يعنې مثلاً يوه روپۍ به وي د يوه سړي خو په لسو
به مجرا شي او د بل دا به په سل او د بل دا به په اووه سوه او د بل دا به اووه لاکه
او دا ټول په سبب د تفاوت د اخلاص او د محبت او د محنت د هر چا دی وَاللّٰهُ
او خدای وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۶۱﴾ ارت دی فضل دده دانا دی په نيت او په قدر مبلغ
د ورکونکو اَلَّذِيْنَ هغه کسان يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ چې ورکوي مالونه خپل فِيْ
سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای يعنې په جهاد يا په بل خيرات کښې ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ بيا نه
پسې کوي دوی مَآ اَنْفَقُوْا په هغه شي پسې چې ورکړي دي دوی مَنًّا وَّلَآ اَذًى د
بار ول د احسان او نه رسول د ازار چې قولي وي يا فعلي وي لَهُمْ اَجْرُهُمْ مقرر
دی دوی لره اجر د دوی يعنې عوض د داد خپل عِنْدَ رَبِّهِمْ ج په نزد د رب خپل
وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ او نشته هيڅ ويره پر دوی د عذاب يا د نقصان د ثواب وَلَا هُمْ
يَحْزَنُوْنَ ﴿۲۶۲﴾ او نه به وي دوی چې غمجن کيږي به په فوت د ثواب سره قَوْلٌ
مَّعْرُوْفٌ خوږ جواب ورکول و سائل ته وَّمَغْفِرَةٌ او عفوه ده ته که ډير
الحاح او شور وکي خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ ډيره غوره دی له هغه خيراته يَّتْبَعُهَآ اَذًى ؕ

عه يعني نه ورته په خوله څه وايي او نه په بدن څه کار کوي ۱۲

چې ورپسې ازار رسول په منت یا په پیغور دسوال سره وَاللّٰهُ غَنِیٌّ او خدای بې
پروادی دچا دخیراتو څخه حَلِیْمٌ (۲۶۳) صبرناك دی چې ژر نه نیسي څوك په مَن
او په اذیٰ سره یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ مه خرابوی
خیراتونه خپل بِالْمَنِّ وَالْاَذٰی له په بار ولو سره د احسان او په رسولو د ازار
سره كَالَّذِیْ یُنْفِقُ په شان د هغه چا چې ورکوی مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ مال
خپل د پاره د ښودنې وخلکو ته وَلَا یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ او ایمان نه راوړی پرخدای
وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ط او په ورځ د قیامت یعنې دا سې معامله نه کوی لکه د مسلمانانو
څکه چې د امال په واقعه کښې د خدای دی او دوی ئې لګوی په هوا د نفس خپل سره
فَمَثَلُهٗ پس مثال ددہ چې دی كَمَثَلِ صَفْوَانٍ په شان د ښوی تیږی دی عَلَیْهِ تُرَابٌ
چې پرهغه خاوره پرته وی فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ پس ورسیږی دی ته سخت باران
فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ط پس پریږدی دا باران دغه تیږه پاکه صافه همداسې حال دی د
منافقانو ریاکارانو چې دوی لکه ښوی تیږه داسې دی او په داسې ریا ورکول د
دوی لکه خاوره ده نو هرکله چې باران د عدل په قیامت کې پر راسي نو د دی ورکوله
هیڅ اثر به نه سي پاته لَا یَقْدِرُوْنَ نه به قادر کیږی دوی عَلٰی شَیْءٍ پر ثواب د
هیڅ شي مِّمَّا كَسَبُوْا ط له هغه چې کسب کړی دی دوی وَاللّٰهُ او خدای لَا یَهْدِی
الْقَوْمَ الْكٰفِرِیْنَ (۲۶۴) پر لاره نه برابروی قولی د کافرانو وَمَثَلُ الَّذِیْنَ او مثال د هغا
کسانو یُنْفِقُوْنَ چې ورکوی اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مالونه خپل د پاره د طلب مَرْضَاتِ
اللّٰهِ د رضا د خدای وَتَثْبِیْتًا او د پاره د ثبات او د صدق چې پیدا شوی دی مِّنْ
اَنْفُسِهِمْ له خپلو ځانو څخه ددوی كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ په شان د هغه باغ دی چې
په لوړه ځکه وی چې لمر او باد پر چلیږی له هر اړخه په امان وی اَصَابَهَا وَابِلٌ چې
وه اوریږی پر ده سخت باران فَاٰتَتْ اُكُلَهَا پس ورکه یعنې ونیسي میوه خپله
ضِعْفَیْنِ ج دوچنده یعنی لکه بل باغ چې په دوو کالو

عه یعنې شبنم خو پرضرور راوریږی ۱۲

کبنی ئې نیسی نودی ئې په یوه کال کښې و نیسی فَاِنْ لَّمْ یُصِبْهَا پس که و نه اوریږی
پر وَابِلٌ فَطَلٌّ[1] باران پس پرخه پړاوریږی وَ اللّٰهُ او خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿۲۶۵﴾
پر هغه کار و چی کوی ئې تاسی بینادی بیا اوس رب العزت پر ریا کارانو باندی بل
مثال لکه چی وائی اَیَوَدُّ اَحَدُکُمْ ایا دوست گنی یو تا سے ځنی اَنْ تَکُوْنَ دا چی وی
لَهٗ جَنَّةٌ ده لره یو باغ مِّنْ نَّخِیْلٍ له خرما و ځنی وَّاَعْنَابٍ او له انگورو ځنی تَجْرِیْ
چی بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لا لاندی تر ونو دده ځلور قسمه[2] ولی دی لَهٗ فِیْهَا
وی ده لره په دی باغ کښې مِنْ کُلِّ الثَّمَرٰتِ لا له هر قسمه میوو ځنی وَاَصَابَهُ الْکِبَرُ
او رسیدلی وی وده ته زړښت وَلَهٗ ذُرِّیَّةٌ ضُعَفَآءُ صلے او وی ده لره اولاد
ضعیفان یعنے واړه نادار چی غیر له دی باغ ځنی ئې بله حیله نه وی فَاَصَابَهَآ
اِعْصَارٌ پس راشی پر دی باغ بریگی[3] فِیْهِ نَارٌ چی په هغه کښې اور وی فَاحْتَرَقَتْ
پس وسوزی دا باغ په شان د بیان د دی تیر بیان د جها د او د خیرات یُبَیِّنُ
ع ۳۶ ۶ ۴ اللّٰهُ بیانوی خدای لَکُمُ الْاٰیٰتِ تاسی ته نښی د مهربانی خپلی لَعَلَّکُمْ تَتَفَکَّرُوْنَ ﴿۲۶۶﴾
بنا ئې چی تاسی ښه فکر وکړی په احسانو او په نعمتو دده کښې هم داسی حال دی د
ریا کارانو چی دوی لکه هغه زوړ عیالدار دی او دا خیرات ئې لکه هغه باغ دی
چی دوی ئې د منافعو په طمع دی او حساب د قیامت لکه هغه بریگی چې دی او عدل
الٰهی په حق د دی قلف[4] خیرات کښې لکه هغه اور دی د بریگی هر کله چی پر راشی نو
داد قلف خیرات به په وسوزی او دوی به حیران پاته شی روایت دی چی اغنیاؤ
دا انصارو به غوره خرماوی پوټی کړی او بیکاره به ئې فقراؤ د مهاجرینو ته په خیرات
ورکولی او په زکوة کښې به ئې هم هغه بیکاره شی چی پیدا به لږی هغه به ئې
ورکاوی نو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا ای مؤمنانو اَنْفِقُوْا ورکوی په لاره د خدا

[1] یعنی شبنم خو پر ضرور اوریږی ۱۲ [2] یعنی واله شید وا و واله د شرابو او واله د شاتو او واله داوبو ۱۲ [3] بریگی و هغه ته وائی چی دانړا والوزی او خاوی خزلی سره پورته شی او په
تاوید وسره پورته خیژی ۱۲ [4] قلف ناکاره او نابوده نا قبوله ۱۲

کبنی مِنْ طَيِّبٰتِ مَا له پاکیزه دهغو شیانو څخه کَسَبْتُمْ چې په کسب گټلی دی تاسی په
سوداگری یا په بل څه وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ او له هغه شیانو نه چې ایستلی دی موږ
وتاسی ته مِنَ الْاَرْضِ س له مځکی څخه له دانو یا میوو یا کانو یا نورو څخه وَلَا تَيَمَّمُوا
الْخَبِيْثَ او مه اختیاروی نا کاره شی دپاره دورکولو وخدای ته مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ
چې له دی نا کاره څخه به ورکوی زکوٰة او خیرات وَلَسْتُمْ او حال دا چې نه یاست تاسې
بِاٰخِذِيْهِ اخستونکی ددی نا کاره په ځیل حق کښې هیڅ کله اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا مگر که
سترگی پوټی کړی فِيْهِ ط په اخستو ددی نا کاره کښې نو هر هغه شی چې پر ځان
ستاسی هیڅ رغبت ورته نه کیږی او هغه بیا خدای له ورکوی دا د اخلاص
دیره منافی ده وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ او پوه شی چې بیشکه خدای غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿۲۶۷﴾ بې
پروادی له نا کاره شی ستاسی څخه خوښونکی دی د غوره مال ستاسی اَلشَّيْطٰنُ
شیطان چې دی يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ ویروی تاسی له تنگدستی څخه وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ
او امر کوی تاسی ته په بخل او په منعه د خیراتو وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ او خدای وعده کوی
له تاسی سره په سخاوت ندی مَّغْفِرَةً مِّنْهُ د بخښنی دده وَفَضْلًا ط او د دیرو ورکړو
په عوض ددی زکوٰة او خیرات کښی هم په دنیا او هم په آخرت کښې وَاللّٰهُ او
خدای وَاسِعٌ دیرارت دی فضل دده پر سخیانو عَلِيْمٌ ﴿۲۶۸﴾ دانا دی په ورکړو ددوی
باندی يُّؤْتِی الْحِكْمَةَ چې ورکوی حکمت یعنی قرآن او هغه علم او عمل چې موجب د
رضا د خدای وی مَنْ يَّشَآءُ هغه چاته چې اراده ئې وشی وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ
او هر څوک چې ورکړل شی ورته حکمت فَقَدْ اُوْتِيَ پس بیشکه ورکړه شی ده ته
خَيْرًا كَثِيْرًا خیر دیر وَمَا يَذَّكَّرُ او عبرت نه اخلی په دی پندو اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۲۶۹﴾
مگر خاوندان د خالصو عقلو وَمَآ اَنْفَقْتُمْ او هر هغه چې ورکوی تاسی مِّنْ نَّفَقَةٍ
خرڅول د مال څیل لږ یا دیر په یا بنکاره فرض یا نفل په اخلاص یا په ریا
خدای له یا غیرله اَوْ نَذَرْتُمْ یا لازم کړی وی تاسی پرځان

ع ه د سرور دوا د سپینو زرو او لعلونو ۱۲

مِّنْ نَّذْرٍ له نذر څخه په شرط یا بې شرطه په طاعت یا په معصیت فَاِنَّ اللّٰهَ
پس بیشکه چې خدای یَعْلَمُهٗ ط پوهیږی په اود هغه په موافق به بیا جزا درکوی
وَمَا لِلظّٰلِمِیْنَ او نشته هغه ظالمانو لره چې انفاق او نذر په ناروا سره کوی
یا وفا په نذر سره نه کوی یا له خیراته څخه منع کوی مِنْ اَنْصَارٍ (۲۷۰) هیڅوك مدد
کونکی او ساتونکی له عذابه څخه اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ که ښکاره ورکوی خیراتونه
فَنِعِمَّا هِیَ ج پس ښه کاردی دا ځکه چې دبل چا مینه به هم ور ته پیدا شی په دې
لیدلو سره وَاِنْ تُخْفُوْهَا او که پټ یې وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ او ورکوی یې ونادارانو
ته فَهُوَ پس دا ایت ور کول خَیْرٌ لَّكُمْ ط ډیر غوره دی تاسی لره لیکن په نفلی خیراتو
کښی او هرچې فرضې دی په هغو کښی ښکاره ورکول غوره دی دپاره دد فعې دتهمت
وَیُکَفِّرُ عَنْکُمْ او وبه رژوی خدای د تاسی څخه دا استیناف دی مِّنْ سَیِّاٰتِکُمْ ط
بعض له ګناهو څخه ستاسی یعنې هغه چې د خدای او ستاسی ترمینځ دی وَاللّٰهُ او
خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ (۲۷۱) پر هغه کار وچې کوی تاسې اګاه دی روایت دی
چې هر کله قتیلې چې ښځه د صدیق اکبر وه خو مشرکه وه چې سوال یې وکی له خپلی
لور څخه چې بی بی اسماء وه اودی له رسوله اجازه وغوښته لوده منعه وکړه چې
مضطره شی او اسلام راوړی یا انصار وبه ځ کی تراسلام و یهودوته ورکړه کول
له جهته د هغه خویښیو چې ددوی په منځ کښې سره وی بیا چې دورد اسلام شونو
دوی هغه منعه کړه نو نازل شو لَیْسَ عَلَیْكَ نشته پرتا هُدٰىهُمْ پرلاره برابرول د
دوی وَلٰکِنَّ اللّٰهَ او لیکن خدای چې دی یَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ ط برابروی پرلاره هرهغه
شوك چې اراده یې وشی وَمَا تُنْفِقُوْا او هغه چې ورکوی یې تاسی مِنْ خَیْرٍ له مال څخه
فَلِاَنْفُسِکُمْ ط پس دپاره د ځان چېل مودی دا ورکول په واقعه کښی وَمَا تُنْفِقُوْنَ
او ورکول نه کوی تاسه ای مؤمنانو اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ط مګر دپاره د طلب د

له په شهادت سره یعنی نذر [illegible] کړی وی تاسی [illegible] په شرط سره [illegible] داسی تاسی ویلی وی چې که دا کار ... ما وشو نو [illegible] دی ۲ له دپاره د دفع د تهمت [illegible] مال [illegible] ورکوی او د خلکو په [illegible] نو ورکوی [illegible] په واقعه کښی [illegible] ۳ له استیناف دی [illegible] ۱۲

رضا د خدای وَمَا تُنفِقُوا اوهغه چی ورکوی ئے تاسے مِنْ خَيْرٍ له ماله يُوَفَّ إِلَيْكُمْ پوره
به در ورسول شی وتاسی ته وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿۲۷۲﴾ اوتاسے چی یاست هیڅ ظلم به ونه
کړل شی پرتاسے په کمولو د ثواب سره روایت دی چه څلور سوه مهاجرین ووچی
په یوه صفه کښی به ناست وو محض دپاره دجهاد او د تعلم د قرآن ځکه چی اصحاب
صفه بلل کیږی اودوی ډیر ناداره وه نو رب العزت اراده وکړه دبیان داستحقاق
ددوی نو نازل شو لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ دا صدقات ستاسی هغه فقراؤ لره دی یعنی دلته
مبتدا یکښی محذوفه ده چی الصَّدَقٰتُ ده أُحْصِرُوا چه حصار کړه شوی دی دوی
یعنی خپل ځان ئی پخپله بند کړی دی فِي سَبِيلِ اللَّهِ په لاره د خدای کښے یعنی په
عبادت او په جهاد کښے لَا يَسْتَطِيعُونَ چه طاقت نه لری هغوی ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ
د تلو په ځمکه کښی دپاره د سوداګری یا د بل کسب له جهته د اشتغال په عبادت
او په غزا يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ ګمان کوی پر دوی هر ناخبره په حال د دوی أَغْنِيَاءَ
دغنیانو مِنَ التَّعَفُّفِ ج په سبب د سوال نه کولو هیڅ ځنه تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ ج
پیژنے به ته دوی په نښو ددوی سره چه ژیړ رنګ اووچ صورت اوګړوپه ملاو
روانی اونښکی دی له ویری دخدای لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ خواست نه کوی دوی له خلګو
ځنه إِلْحَافًا ط په الحاح او په کوشش سره وَمَا تُنفِقُوا اوهر اینه هغه چی ورکوی ئے
تاسی مِنْ خَيْرٍ له مال ځنه فَإِنَّ اللَّهَ پس بیشکه چی خدای بِهِ عَلِيمٌ ﴿۲۷۳﴾ په هغه دانا ع ۳۷ ۵
دی جزا به پوره درکړی بیله نقصانه روایت دی چی صدیق اکبر څلویښت زره
دینار خیرات کړه داسے چی لس زره د شپی او لس زره د ورځی او لس زره پټ او
لس زره ښکاره او د علیؓ په لاس کښی څلور درهم وه او نور توان ئی نه وونو دا
هر یو درهم د شپی خیرات کی او یو د ورځی او یو پټ او یو ښکاره نو په مدحه دد
کښی نازل شو الَّذِينَ هغه کسان يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم چی ورکوی دوی مالونه
خپل دخدای په جهت بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ هم د شپی او هم د ورځی سِرًّا وَعَلَانِيَةً

هم پټ او هم ښکاره فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ پس مقرر دی دوی لره ثواب د خیرات دوی
عِنْدَ رَبِّهِمْ ج په نزد د رب د دوی وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ او نشته هیڅ ویره پر دوی له
هیڅ وجهی وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۲۷۴﴾ او نه به وی دوی چی غمجن کیږی به هیڅ کله اَلَّذِيْنَ
هغه کسان چه دی يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا چه دوی خوری سود یعنی اخلی ئے د خلګو څخه
لَا يَقُوْمُوْنَ نه به پاڅیږی دوی له قبرو څخه اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ مګر داسی لکه چه
پاڅیږی هغه څوک يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ چی رسولی وی ورته شیطان مِنَ الْمَسِّ ط
له لیونتوبه او دا کلام په زعم د عربو دی چی دوی ګمان کوی چی په هر چا چی لاس د
شیطان وه لګیږی نو لیونی شی یعنی سود خور به په قیامت کی داسی کوږ ووږ لکه
ګوزن وهلی او د عرصات خلق به ئے په دی نخښه سره پیژنی چه دا سود خور دے
ذٰلِكَ دا شړول د دوی چی دی بِاَنَّهُمْ قَالُوْا په دی دی چی بیشکه دوی وائی اِنَّمَا
الْبَيْعُ بیشکه هم دا خبره ده چی بیع چی ده مِثْلُ الرِّبٰوا م په شان د سود ده په
ګټلو د مال کښے نو بیع خوړ واده نو سود هم رواشوا او دوی ږ بوا مُمَثَّلٌ [عله] وګرزول
د باره د مبالغی وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ او حال دا چه روا کړی ده خدای بیعه وَحَرَّمَ
الرِّبٰوا ط او ناروا کړی ئے دی سود فَمَنْ جَآءَهٗ پس هر څوک چه راشی ورله ـــ
مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ پند له ربه خپله فَانْتَهٰى پس راوګرزیدی دی له سود څخه
فَلَهٗ مَا سَلَفَ ط پس دی ده لره هغه مبلغ چے تیر دی یعنی هر څه چی څوا له نهی څخه
ده اخیستی وی هغه به بیرته نه ګرزی وَاَمْرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ط او کار د ده په ائینده کښی
مفوض دی خدای ته چی دی ئے بنده او هغه ئے رب دی وَمَنْ عَادَ او هر هغه
څوک چی بیرته وګرزیدی وروا کولو د ربوا ته فَاُولٰٓئِكَ پس دا روا کونکی چی دی
اَصْحٰبُ النَّارِ ج اهل د اور د دوزخ دی هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۷۵﴾ دوی به په دی

---

[۱] یعنی داسی ئے ویلی چی په تحقیق سره بیعه په مثل د سود ده یعنی سود خو ډیر ښه شی دے او روا دی نو بیعه څکه هم روا قدری شوه او داسی ئے وله ویله چه په تحقیق سره سود په مثل د بیعی دی یعنی چه بیع خوړ واده نو سود هم رواشو د پاره د مبالغی په جهلونا روا وګڼی ۱۲
[عه] ملغوز سهارلی شوی دی ۱۲

دوږ خکبنی همیشه وی یَمۡحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا کموی خدای مال د سود یعنی برکت ختمه
واخلی اوکه لوږ مال وږ سره ګډ شی هغه به هم بی برکته شی وَیُرۡبِی الصَّدَقٰتِ ط
اوږ یا توی خیراتونه یعنی هغه مال چی زکوٰة او خیرات ځندی ورکړل شی یازیاتوی
اجراو ثواب ددی خیراتو وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ او خدای نه خوښوی کُلَّ کَفَّارٍ هرکلک په
کفر کېنی چی پس له تحریمه ئې حلال بولی اَثِیۡمٍ (۲۷۶) هغه ګنهګار چی بی باکه ږ بوا
خوږ وی اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا بی شکه هغه کسان چی ایمان ئې راوړی دی پر قولواوامرو
اونواهیو وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوعملونه کوی د نیکو وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ او برپایه کوی
لمونځ خپل وَاٰتَوُا الزَّکٰوةَ اوورکوی زکوٰة د مال خپل لَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ دی دوی له
اجر د عملو ددوی عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ج په نزد درب ددوی وَلَا خَوۡفٌ عَلَیۡهِمۡ او نشته هیڅ
ویره پر دوی د مخکښی وَلَا هُمۡ یَحۡزَنُوۡنَ (۲۷۷) او نه به وی دوی چی غمجن کیږی به پر تیرو
روایت دی چی دثقیفو له قریشو سره معامله وه د سود بیا چی مکه فتح سوه
اوږ سول علیه السلام حُرمت د ربوا بیان کی نو ثقیفو وویل چه موږ دا حکم هلته
منو چی ږ موږ تولهږ بوادی ږاکی اوله موږ څخه دی د سره نه غواړی او پردی
صلحه وشوه بیا چی ثقیفو سخت طلب برپا یه کی چی سرا و سود دواړه پردغه ځای
غواړو نو قریشو پیغام ولیږی مدینی ته نو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ
ای مؤمنانو وویریږی له خدایه څخه وَذَرُوۡا مَا بَقِیَ او پریږدی هغه مبلغ چی
پاته شوی دی مِنَ الرِّبٰوۤا له سود څخه اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ (۲۷۸) که یاست تاسی مؤمنان
په رشتیا سره فَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلُوۡا پس که ونه کی تاسی داکار یعنی پریښوول د پاته ږبوا
تاسی ونه کړه فَاۡذَنُوۡا اپس اګاه شی او خپل ځان تیارکړی بِحَرۡبٍ مِّنَ اللّٰهِ په جنګ
له طرفه د خدای وَرَسُوۡلِهٖ ج او د رسول ؐ دده وَاِنۡ تُبۡتُمۡ او که توبه ګار شی

له یعنی په قولو اوامرو اونواهیو د خدای معنیٰ داچی هغه شیان چی خدای فرمایلی د سه
کول د هغه شیانو نو هغه کوی او هغه شیان چی خدای ځندی منعه کړی ده هغه نه کوی ۱۲

له اخیستو د ربوا نو څخه فَلَكُمْ رُءُوسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ پس دی تاسو لره سرمایې د مالو

ستاسی لَا تَظْلِمُوْنَ مه ظلم کوی تاسی چې سود به هم غواړی وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۲۷۹﴾ او

نه دی ظلم وشی پر تاسی چې رأس المال به در نه څخه کړی وی څوك داد واړه امره

دی په صورت د اخبار یعنې مه تاسی سود غواړی او نه دی دوی رأس المال

کړی وی وَاِنْ کَانَ او که وو قرضدار ستاسی ذُوْعُسْرَةٍ څښتن د ناداری او وَاِنْ

کَانَ تامه دی په معنیٰ د وَقَعَ څکه ذُو مرفوع دی یعنی که واقع شوی وو غریم[له]

ستاسی ناداره فَنَظِرَةٌ اِلٰی مَيْسَرَةٍ ؕ پس کاته یعنې مهلت دی مدیون[۲] ته تر

وخته د توانګری[۳] او اسانی د ده پوری وَاَنْ تَصَدَّقُوْا او داچې بخښنه وکړی وناداره[۴]

مدیون ته د ټول رأس المال یا د بعض خَيْرٌ لَّكُمْ ډیره غوره دی تاسی ته اِنْ كُنْتُمْ

که یاست تاسی تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸۰﴾ چې پوهیږی په بهبود خپل وَاتَّقُوْا يَوْمًا او ویریږی

له هغه ورځې تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ چې بیرته بیول کیږی تاسی په هغه ورځ اِلَى اللّٰهِ[تف]

و خدای ته د پاره د حساب ثُمَّ تُوَفّٰی بیا به ورکړه شي پوره كُلُّ نَفْسٍ هر نفس ته

مَّا كَسَبَتْ جزا د هغه عمل چې کړیدی ده له نیکو یا له بدو وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۸۱﴾ او

دوی چې دی ظلم به ونشی پر دوی له هیڅ وجه نه په کمولو د نیکیو او نه په زیاتولو د

بدیو روایت دی له ابن عباس څخه چې هر کله رب العزت ربوا پر مومنانو حرام

کړه نو د هغې په عوض کې ئې سلم روا کی نو نازل شو يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا ای مومنانو

اِذَا تَدَايَنْتُمْ په هغه وخت کی چې دین[۵] داری کوی سره په خپلو کښې بِدَيْنٍ په

هغه قرض سره چې مشروط[۶] وی په عوض په عقد شرعی سره او ابن عباس[رض] ویلې

دی چې مراد له دی دین سلم دی اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ترټاکلي وخته معلومه پوری

لکه اول د رجب یا وسط د شعبان یا اخر د رمضان نه ترمنی یا ترژمی یا ترغوبله

چې سبب او موجب د نزاع[۷] کیږی فَاكْتُبُوْهُ ؕ پس وکاږی پر کاغذ دا ټوله معامله

له قرضدار ستاسی فقیر وو ۱۲ ۲ مدیون ته یعنې قرضدار ته ۱۲ ۳ توانګری یعنې تر غنی والی پوری ۱۲ ۴ ناداره مدیون ته یعنې فقیر قرضدار ته ۱۲ ۵ یعنې معامله د قرضدارۍ ۶ یعنې چې شرط کړی شوی دی هغه قرض ستاسی په عوض سره ۱۲ ۷ چې سبب د جګړې [illegible] ۱۲

یعنی هغه توک شیان چې شرطٌ دی په صحت د سلم کبنی چې هغه په نزد د امام اعظمؒ
اووه شیان دی اوّل تعینٌ له د جنس د مسلم فیه د ی مثلاً چې غنم د ی یا جواری دی
دوّیم تعین د نوع دده دی چې ابی دی یا للمی دی دریم تعین د وصف دده دی چې کره
دی یا ناکره دی او یا سره دی او یا سپین دی څلرم تعین د قدر دده دی چې خوروار
دی یا دوه نیم پنځم سپارل د مقدار د رأس المال دی چې لس روپۍ دی یا شل ـ
شپږم موده د سپارلو دہ چې میاشت ده یا دوی اووم ځای د سپارلو دی چې بصره
ده یا کوفه او که بوددی اووه شرطو پکښې ذکر نه شو نو دا ربوا شوه وَلْيَكْتُبْ او می
باید چې وه دی لیکی بَيْنَكُمْ ستاسی په مینځ کښې كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ سره یو لیکونکی په
انصاف سره یعنی واقعی دی ئ و لیکی نه کم او نه زیات وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ او منع دی
نه کوی هیڅ لیکونکی أَنْ يَكْتُبَ له دی څخه چې ولیکی كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ لکه چې ښوونه
کړی ده ورته خدای فَلْيَكْتُبْ ع پس میباید چې وه دی لیکی په هم هغه شان سره او
تغیر و تبدیل دی نه کوی وَلْيُمْلِلِ الَّذِي او میباید چې اقرار دی وکی پخپله یا دی ولیکی
په کاتب په اقرار خپل سره هغه څوک عَلَيْهِ الْحَقُّ چې پرده دینٌ دی د رب السلم
چې بله ورځ بیا هم دی مشهودٌ علیه دی وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ او میباید چې دی
وویرېږی له خدایه څخه چې رب دده دی وَلَا يَبْخَسْ او نه دی کموی په وخت د اقرار
کښې مِنْهُ شَيْئًا ط له هغه حقه چې پرده دی هیڅ شی یعنی دَی دِی هم زیادت او
نقصان او تغیر او تبدیل نکوی په اقرار کښې فَإِنْ كَانَ الَّذِي پس که وو هغه څوک
عَلَيْهِ الْحَقُّ چې دی پر هغه دین سَفِيهًا بې وقوفه یعنی لیونی یا کم عقله أَوْ ضَعِيفًا
یا عاجزه یعنی هلک یا شیخ فانی أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ یا قادر نه وو أَنْ يُمِلَّ هُوَ پردی چې
اقرار وکی دی پخپله ځکه چې ګنګ یا د بلی ژبی وو لکه عرب او ترک فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ

له یعنی معین ولــد د جنس د هغه شی چې سلم کری شوی دی په هغه کښی ۱۲ ته دین
دی د رب السلم یعنی قرض دی د هغه سړی چې هغه وده ته روپی د پاره د سلم ورکوی
عه یعنی پرده به شاهدی و پله کیږی ۱۲

پس میباید چې اقرار دی وکړی ولی دده له طرفه دده یعنی واکدار ئې که دی یې قونه
یا عاجزه وو یا وکیل ئې که دی گنګ وو یا مترجم ئې د بلی ژبی وو بِالْعَدْلِ ط په انصاف
سره یعنی واقع دی وائی نه کم او نه زیات وَاسْتَشْهِدُوْا او حاضر کړی پردی عقد
خپل شَهِيْدَيْنِ دوه شاهدان مِنْ رِّجَالِكُمْ ج له سړیو ستاسی یعنی هغه دوه تنه
چې مسلمانان، عاقلان، بالغان، اصیلان وی او شاهدی د کافر له سره قبوله نه
ده مگر په نزد د امام اعظم رح په خپل جنس کی قبوله ده یعنی په کفارو کی فَاِنْ لَّمْ
يَكُوْنَا پس که نه وه دا دواړه شاهدان یعنی په سبب د کوم عارض پیدا نه شوه
رَجُلَيْنِ سړی دواړه تنه فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ پس یو دی سړی او دوی ښځی دی
وی مِمَّنْ تَرْضَوْنَ له هغه چا څخه چې تاسی پری خوښ یاست او عائد پکښی
محذوف دی ای ترضونه مِنَ الشُّهَدَآءِ له شاهدانو او دوی ښځی دیوه سړی پر
ځای ددی دپاره مقرری شوی اَنْ تَضِلَّ که هیره کی دا شاهدی اِحْدٰىهُمَا یوله دی
دواړو څخه فَتُذَكِّرَ پس یاد به کی اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ط یوه له دوی څخه ولی ته ځکه
چې په دوی کښی عقل کم او هیره ډیره وی وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ او منعه دی نه
کوی شاهدان اِذَا مَا دُعُوْا ط په هغه وخت کښی چې راوه بلل شی دوی وتیرولو د
شاهدی ته چې لازمه ده یا شاهد کولو ته چې مستحب دی او دا ما زائد دی
وَلَا تَسْئَمُوْٓا او مه ملال کیږی ای معامله دارانو او سام وملالی ته وائی لکه چې
ویلی دی **بیت** [2] سَئِمْتُ تَكَالِيْفَ الْحَيٰوةِ وَمَنْ يَّعِشْ
ثَمَانِيْنَ حَوْلًا لَا اَبَالَكَ يَسْئَمْ
اَنْ تَكْتُبُوْهُ له دی څخه چې وه ئې لیکی صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا لږ وی او که ډیر وی دا حق
یا دا کتابت اِلٰٓى اَجَلِهٖ ط تر دی حال چې رسیدونکی وی دا حق یا دا کتابت تر هغه وعدی

[1] یعنی ددی دپاره ۱۲ [2] معنیٰ دا چې شاعر ویلی دی چې ملال شوم زه په تکلیفونو د خپل
کی او دا قاعده ده چې هر سړی چې زوندی پاته شی اتیا کاله نو خامخا یعنی ضرور بالضرور ملاله کیږی
یعنی زه گرم نه یم بلکه هر څوک چې زما عمرته ورسیږی نو هغه خفه کیږی ځکه چې ډیر عاجزه شی او هر
چا ته محتاجه وی په هر څه کښی فافهم ۱۲

یعنی خرخونکی او را نیونکی ۱۲
خپلو چې متعاقدینو مقرره کړیدهٔ او داهر یو حال دی له مفعوله ځنی د تکتبوه
ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ دا لیکل ستا سی ډیر برابر دی عِنْدَ اللّٰهِ په نزد د خدای وَاَقْوَمُ
لِلشَّهَادَةِ او ډیر محکم دی د پاره د اداء د شاهدی چې که هیر ئې شی نو هر
کله چې لیکل شوی وگوری بیا به ئې په یاد شی وَاَدْنٰۤى اَلَّا تَرْتَابُوْۤا او ډیر نژدی
دی ودی ته چې شکمند نه شی تاسی په مقدار د حق او د مودی کښی اِلَّاۤ اَنْ
تَكُوْنَ مگر که وی د امعامله ستاسی تِجَارَةً حَاضِرَةً سودا گری لاس په لاس
تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ چې اړوی ئې سره تاسی په مینځ خپل کښی فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ پس
نشته پر تاسی هیڅ وبال اَلَّا تَكْتُبُوْهَا ط په دی کښی چې و نه لیکی دا معامله
ځکه چې لاس په لاس ده نو هیره او نزاع پکښی نه راځی وَاَشْهِدُوْۤا او شاهدان
نیسی اِذَا تَبَايَعْتُمْ ص په هغه وخت کښی چې خرڅول یا رانیول سره کوی وَلَا
يُضَآرَّ كَاتِبٌ او ضرر دی نه رسول کیږی لیکونکی ته یعنی زور دی هیڅوک
نه پرکوی وَّلَا شَهِيْدٌ ط او نه شاهدی ته یعنی که معذور وی نو په زوره دی ئې
نه شاهد کوی وَاِنْ تَفْعَلُوْا او که وکړی تاسی دا ضرر رسول کاتب او شاهد ته
فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌ بِكُمْ ط پس بیشکه چې دا کار گناه ده پیوسته په تاسی پوری وَاتَّقُوا
اللّٰهَ ط او وویریږی له خدایه په مخالفت د اوامرو او د نواهیو ده وَيُعَلِّمُكُمُ
اللّٰهُ ط او ښوونه درته کوی خدای د هغه احکامو چې ستاسی د دین او د دنیا
خیر وی پکښی وَاللّٰهُ او خدای بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۸۲﴾ پر هر شی دانا دی وَاِنْ
كُنْتُمْ او که وئ است تاسی عَلٰى سَفَرٍ په سفر دا علیٰ په معنیٰ د فی دی یعنی فی سفر
وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا او بیا نه کی پیدا تاسی لیکونکی سره دا سبا بود لیکلو فَرِهٰنٌ پس
گروی ده وثیقه په هغه ځای کښی او رهٰن جمع د رهن ده یعنی که کاتب نه
وو نو گرو هم موجب دی د تسلی د زړه او د نه هیریدلو د عقد او د نه نقصا
نید لو د مال په مثل د کتابت مَّقْبُوْضَةٌ ط چې قبض کړه شوی وی ځکه چې قبض

په ګرو کښې په نزد د جمهورو شرط دی غیر له امام مالک اوپه دی کښې سفر شرط نه دی بلکه په اقامت کښې هم داسې حکم دی ځکه چې رسول علیه السلام خپله زغره ګرو ایښې وه په مدینه کښې یهودی ته په شل صاع اوربشو کښې د پاره د عیال خپل او سفر دی د پاره یاد شوی دی چې کاتب پکښې هم یافت وی فَاِنْ اَمِنَ پس که ونیساوه ئې وکړو بَعْضُكُمْ بَعْضًا بعضو ستاسو په بعضو باندې بې کتابه بې شاهدانو بې ګروهنه فَلْيُؤَدِّ الَّذِی اؤْتُمِنَ پس میبايد چې اداء دې کی هغه څوك چې باور ئې پرسویدی چې مدیون دی اَمَانَتَهٗ امانت د دائن بې انکاره بې نقصانه وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ ط او میبايد چې وویریږی دې له خدایه چې رب دده دی او خیانت دی پکښې نه کوی وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ط او مه پټوی شاهدی ای شاهدانو یا ای مدیونانو چې اقرار هم ګویا شاهدی ده پخپل ځان وَمَنْ يَّكْتُمْهَا او هر څوك چې پټه کړی شاهدی فَاِنَّهٗ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ط پس دی چې دی ګنهګاره دی زړه دده او نسبت د ګناه زړه ته وشو ځکه چې دا محل دی د پټولو وَاللّٰهُ او خدای بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸۳﴾ په هغه کارو چې کوی ئې ۳۹ ع ۲
دانا دی لِلّٰهِ خدای له دی مَا فِی السَّمٰوٰتِ هر هغه چې په اسمانو کښې دی لکه ملائکې یا ستوری یا نور ټول سماویات چې د بنده له ادراکه بیرون دی وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او هر هغه چې په ځمکه کښې دی لکه بنی ادم او حیوانات او خزنده[۱] او پرنده[۲] او عناصر[۳] او موالید[۴] او نور ټول سفلیات[۵] چې عقل ئې د احاطې څخه عاجز دی وَاِنْ تُبْدُوْا او که ښکاره کی تاسې مَا فِیْٓ اَنْفُسِكُمْ او هغه ارادی او نیتونه چې په زړونو ستاسې کښې راځی اَوْ تُخْفُوْهُ یا ئې پټ کړی چې خوله پرونه ښوروی يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ط حساب به وکی درسره خدای په هغو نیتو او عزمو لیکن چې په هغه شیانو چې د اختیاره وتلی دي لکه حدیث د نفس یا وسوسه د

[۱] پیسور و کښې ښنوتو نکی ۱۲ [۲] الوتونکی ۱۲ [۳] یعنی اور، او به، خاوره او باد ۱۲ [۴] زیږیدونکی ۱۲ [۵] کښتنی د ځمکې شیان ۱۲

شیطان فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ پس بخښنه به وکي پس له حسابه و هر هغه چاته چې اراده ئې وشي وَيُعَذِّبُ اوعذاب به ورکي مَنْ يَّشَآءُ ط وهر هغه چاته چې اراده ئې وشي وَاللّٰهُ اوخدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ (۲۸۴) پرهرشی قادر دی که غفران دی که عذاب روایت دی چې هرکله دا تیرایت نازل شو نو اصحاب بې طاقته شوه اوعرض ئې وکی چې یارسول الله کلفنا من العمل ما لانطیق به او نأخذ بکل ما حدثت به انفسنا معنیٰ داچې اے رسوله دالله پاك مکلف کړه شوي یو موږ په هغه عمل چې طاقت ئې نه لرو ایا موږ به نیول کیږ و په هرهغه شي چې زموږ په زړه کښې خطور کوي اوسره ددې چې دا داختیاره وتلې دی نو رسول ورته وویل چې تاسی هم غواړی چې د بنیٔ اسرآئیلو په شان ووایاست چې سمعنا و عصینا چې په سبب ددې قول ډیره سختې اوخواری پرراغلی وه بلکه تاسی داسی ووایاست چې سمعنا واطعنا نو دوی ټولو وویل چې سمعنا قوله واطعنا امره اوبل دا چې هرکله رب العزة په دی سورت کښې احکام اوحدود او قصے د تیر وپیغمبرانو اونبئ دخپل قدرت راولیږلے نو اراده ئې ذکره دختم دسورت په تصدیق د رسول او دمؤمنانو په دی خلوص وواړو شیانو نو نازل شو اٰمَنَ الرَّسُوْلُ ایمان راوړی دی پیغمبر او باور ئې کړی دی پرطریقه د قبلولو دخپل ځان اودرسولو ونورو خلکو ته بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ پرهغه شي چې راليږل شوي دی وده ته مِنْ رَّبِّهٖ له جانبه د رب دده چې قرآن دی وَالْمُؤْمِنُوْنَ ط اومؤمنان هم ایمان راوړی دی او باور ئې کړیدی پرطریقه د اقرار او د تصدیق سره كُلٌّ ټولو یعنې رسول او مؤمنانو دا تنوین عوض دی له ضمیره د غائبینو ای کل واحد منهم یعنې هریوله دوی څخه اٰمَنَ بِاللّٰهِ ایمان راوړی دی پرخدای چې واحد لاشریك ازلی ابدی موصوف په ټولو صفاتو

له یعنې اسرائیلو په هرحکم دخدای کښې سستی او شك او شبه کوله اوویله به ئې چې اورو وپه غوږو خبره ستا او ونه فرمانې کوو له حکمه څخه ستا نو په عذاب شول تاسے هم د هغوی په شان عذاب غواړی بلکه هرحکم دخدای چې واورې تاسو وایاست چې اورو او طاعت کوو ۱۲ ۲ه یعنې خبری دخدای او طاعت کوو دامر دخدای جل جلاله ۱۲

دکمال او پاك دی له عیبه اونقصانه وَمَلٰٓئِكَتِهٖ او پرملائکو دده چې مقرب بندګان دی دده اونه ذکور دی اونه اناث او یوطرفة العین بې فرمانی نه کوی وَكُتُبِهٖ او پر کتابو دده چې قول حق او قدیم دی ځکه چې صفات دی د قدیم او قوله دده څخه راغلی دی وَرُسُلِهٖ قف او پر رسولانو دده او معصوم دی له دروا غو څخه هر څه چې ئې راوړی دی قوله حق دی له خدایه او همداسی وائی دوی چې لَا نُفَرِّقُ فرق نه کوو موږ په اصل د رسالت کښې بَيْنَ اَحَدٍ په مابین د یوه کښې هم مِّنْ رُّسُلِهٖ قف له استازو دده څخه لکه یهود او نصاریٰ چې بعض منی او بعض نه منی وَقَالُوْا او وائی دوی یعنې هم رسول او هم مؤمنان سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ق واوریدی موږ او امر او نواهی ستا۔

غُفْرَانَكَ غواړو موږ بخښنه ستا د لته فعل پکښې مقدر دی ای نطلب غفرانك رَبَّنَا ای رب زموږ وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨٥﴾ او خاص تاته دی بیا درتله او حاضریدل دهرچا لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نه مکلف کوی خدای یعنې امر او نهی نه کوی نَفْسًا هیچا ته اِلَّا وُسْعَهَا ط مگر په قدرت د طاقت دده یعنې تاسې نه نیسی په هغه څه چې ستاسې له طاقته بیرون دی لَهَا مَا كَسَبَتْ دی دی نفس لره ثواب د هغه نیکیو چې کټلې ئې کړیدی د هغو وَعَلَيْهَا او بار دی پر دده مَا اكْتَسَبَتْ ط وبال د هغه بدیو چې په ډیر کوښښ د نفس سره کړی دی دده بیا مؤمنانو ته رب تعلیم د سوال وکی چې له ما د اشیان په دی شان غواړی چې رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اے رب زموږ مه نیسه موږ په عقوبت اِنْ نَّسِيْنَآ که په هیره کوم امر ستا فوت شوی وی له موږ څخه اَوْ اَخْطَاْنَا ج یا په خطا کوم نهی ستا صادره شوی وی له موږ څخه رَبَّنَا ای رب زموږ وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ او مه اچوه پر موږ اِصْرًا دروند بار كَمَا حَمَلْتَهٗ لکه چې اچولی وو تا بار عَلَى الَّذِيْنَ پر هغو کسانو مِنْ قَبْلِنَا چې مخکی له موږ څخه وو یعنې بنی اسرائیل چې په ډیرو سختو احکامو مأمور شوی وو لکه ځان وژل یا وطن پریښوول په قبول د توبې کښې او پریکول د پلیت (مردار) ځای د جامی او د پوستکی او بخوس لمنځونځ

په شپه[۱] او ورته کښې او پنځوس زره په کال کښې او شلرمه حصه د مال ـ
ورکول په زکوٰة کښې او سوزل د مال د غنیمت او د کوره ایستل د حایضې
او نه کیدل د لمانځه بې جماعته او نور دیر کار ونه رَبَّنَا ای ربه زموږ وَ
لَا تُحَمِّلْنَا او مه باروه موږ مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ هغه تکلیف چې نه وي هیڅ توان
موږ لره بِهٖ په اخستو د هغه وَاعْفُ عَنَّا وتفه او محوه که پخپل فضل[۲] موږ
څخه کبیره زموږ وَاغْفِرْ لَنَا وتفه او وبخښه موږ ته صغیره زموږ وَارْحَمْنَا وتفه او
مهرباني وکړه پر موږ په قبلو لو د طاعاتو زموږ اَنْتَ مَوْلٰىنَا هم ته یې بادار او مدد
ع گار زموږ فَانْصُرْنَا پس مدد وکړه له موږ سره عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸۶﴾ پر ډله د
کافرانو حدیث دی چې مَن قرء الاٰیتین من اٰخر سورة البقرة فی لیلة کفتاه یعنی
هر څوک چې ووائی دوه ایتونه له اخره د سورة بقری څخه په شپه کی نو بس به ئی
شی د دفع د هر شر لره یا د ورد وڅخه د دی شپې په بل حدیث کښې دی چې من قرء
هما بعد العشاء الاٰخرة اجزءتاه عن قیام الیل یعنی هر چا چې ولوسته دا دواړه
ایتونه پس له لمانځه د ماخوستن څخه نو کافی به شی ورلره له قولو حقوقو د شب
خیزی د دی شپې څخه روایت دی چې هر کله دا ایتونه نازل شول نو رسول
علیه السلام به وه لوستل او پس د هری کلمی څخه به ئې ویل کیدل فَعَلْتُ[۳]

آیاتها ۲۰۰	سُورَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ	رکوعاتها ۲۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓ ﴿۱﴾ تفسیر د دی مقطعاتو په سر د سورة بقرة کښې تیر سو روایت دی چې نصاری
د نجران رسول علیه الصلوٰة والسلام لره راغله نو ده وا سلام ته راوبلل او دوی
وویل چې موږ خپل دین لرو بیاده ور ته وویل چې تاسی له خپل دینه بیزاره شوي
یاست په سبب د نسبت[۴] د ښځې او د فرزندانو و خدای ته نو دوی وویل چې عیسیٰ علیه السلام

[۱] یعنی امر ورته کړه شوی وو ۱۲ [۲] یعنی وکړو او قبول کړو ما سوال ستا ۱۲ [۳] یعنی تاسې
وایاست چې بی بی مریمه ښځه د خدای ده او عیسیٰ زوی د خدای دی ۱۲

خوښوي دي د خدای څکه چه بل پلار نه لري بیا رسول علیه السلام وویل چه تا سو پخپله قائلین یاست پر دی چه عیسیٰ ع لره صورت جسمانی او خوب او خوراك او ګرځیدل او فنا شته او خدای د دی ټولو څخه منزه دی نو دوی ټوله خجل او چپ شول او د مجلس څخه ولاړ شوه نو د دی په تصدیق کښی نازل شو اَللّٰهُ خدای چه دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لا نشته لائق د عبادت هیڅوك مګر هغه دی دی یوازی بی شریکه اَلۡحَیُّ چه همیشه ژوندی دی او فنا نه لري اول هر شی فنا لري اَلۡقَیُّوۡمُ ﴿۲﴾ چه همیشه پر یوه حال دی په حیٰوة او په الوهیت او په وحدانیت خپل کښی بی تغیره او بی تبدیله او بل هر شی تغیر لري نَزَّلَ عَلَیۡكَ اَلۡكِتٰبَ را لیږلے دی ده پر تا دا قران بِالۡحَقِّ په حق سره یعنی په عدل او په صدق د اخبارو او په واضح د لیلو سره په دی چه دا قران له خدایه څخه راغلی دی مُصَدِّقًا لِّمَا بَیۡنَ یَدَیۡهِ پردی حال چه موافق دی له هغه کتابونو چه پخوا تر ده نازل شوی دی په وحدانیت په رسالت په قیامت په اصولو د دین کښی وَاَنۡزَلَ التَّوۡرٰىةَ او را لیږلے دی ده توریٰة پر موسیٰ ع وَالۡاِنۡجِیۡلَ ﴿۳﴾ او انجیل پر عیسیٰ ع مِنۡ قَبۡلُ پخوا له نزوله څخه د قران هُدًى لِّلنَّاسِ پردی حال چه راهنما وه دا دواړه یهودو او نصاریٰ وو ته وَاَنۡزَلَ الۡفُرۡقَانَ ؕ او را لیږلے دی ده هر هغه کتاب چه بیلونکی د حق او د باطل دی نکته په راوړلو د لفظ د نزّل په حق د قران کښی اشارت دی په تدریج سره ورا تلو د قران ته چه په درویشت کالو کښی پوره شوی دی او په لفظ د انزل په حق د توریٰة او انجیل کښی اشارة ده په یوه وار راتلو د دی دواړو ته تیار پر تختو لیکل شوی اِنَّ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا بی شکه هغه کسان چه کافران شوی دی بِاٰیٰتِ اللّٰهِ په ایتو د خدای باندی که قران دی او که نور کتابونه دی لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِیۡدٌ ؕ مقرر دی دوی لره عذاب ډیر سخت له جهته د کفره وَاللّٰهُ عَزِیۡزٌ او خدای ډیر غالب

عه یعنی په درجه درجه سره په سرا تلو سره ۱۲

دی په حکم خپل کښې چې حکم ئې هیڅوك نه شی رددولای ذُوانتِقَامٍ ④ خاوند د سخت عذاب دی اِنَّ اللهَ بیشکه چې خدای لَا یَخْفٰی عَلَیْهِ شَیْءٌ پټ نه یا ته کیږی پرده هیڅ شئے له مافوق العرش څخه تر ماتحت الثرے پورې فِی الْاَرْضِ نه په ځمکه کښې وَلَا فِی السَّمَآءِ ⑤ او نه په اسمان کښې او علم د عیسیٰ په بعضو باندې وو او پراکثرو نه وو او دامنافی دی له خدای سره هُوَالَّذِیْ دی هغه خدای دی یُصَوِّرُکُمْ چه ساز روی صورتونه ستاسے په قدرت کامله سره فِی الْاَرْحَامِ په رحمونو د میندو کښې کَیْفَ یَشَآءُ ط پر هر شان چې اراده و شی ده چې څوك نارینه کی او څوك ښځه کی او څوك تور کی او څوك سپین کی او څوك ښایسته کی او څوك بندرنګه کی او داسے نور هم او عیسیٰ په دی هم قادر نه وو نو دی خدای نه شو لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نشته لائق د عبادت هیڅوك مګر هم دی دی چې نه دی شریکه او درسے نه دی لکه چې نصاریٰ وایی اَلْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ⑥ دیر غالب دی او دانا دی په تدبیر کښې چې هیڅ تدبیر ئے له حکمته خالی نه وی هُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ دی هغه خدای دی چې رالیږلے دی ده عَلَیْكَ الْکِتٰبَ په تا قرآن مِنْهُ اٰیٰتٌ چې بعض له دی قرآن ایتونه دی مُّحْکَمٰتٌ چې محکم کړی شوی دی یعنے معنیٰ ئے داسی ښکاره ده چې هیڅ اجمال او خفا پکښې نشته ځکه هیڅ تاویل نه غواړی لکه اِنَّ اللهَ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ یا لَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ هُنَّ اُمُّ الْکِتٰبِ چې دا محکم ایتونه اصل دی د قرآن او اصل له دی جهته دی چې متشابهات دوی ته ردیږی وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ط او نور بعض ایتونه دی چې هغه متشابه دی یعنے درنګارنګ معنے احتمال لری لکه الرَّحْمٰنُ عَلَی الْعَرْشِ اسْتَوٰی چې شو چې استوی کله په معنیٰ د کښینستلو راځی او کله په معنیٰ د تصرف او اماره کله چې نسبت د کښیناستلو خدای ته روا نه دی ځکه چې دا خاصه د جسم ده او دی له جسم منزه دی په دلیل د محکم ایت چې لیس کمثله شیءٌ دی

عه یعنے خدای په هر څیز پوه دی ۱۲ عسه یعنے نشته په مثل د خدای هیڅ شیءٌ ۱۲ سه یعنے ګرځول کیږی ۱۲

نودا متشابه دی و محکم ته ئې دیږي او معنی د تصرف ترې مراده ده **فائده** اقسام
د محکم دري دي ځکه چې مراد ئې ښکاره وو هغه ظاهر دی اوکه څندی زیات
واضح وو هغه نص دی اوکه نور څندی هم زیات واضح وو هغه مفسر دی او هم
داسې اقسام د متشابه هم دري دي ځکه که مراد ئې ښکاره نه وو هغه خفی
دی اوکه څندی زیات پټ وو هغه مشکل دی اوکه څندی نور هم زیات
پټ وو هغه مجمل دی فَاَمَّا الَّذِیْنَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ زَیْغٌ پس هرچې هغه کسان دي چې
په زړو دوی کښې میلان دی له حقه څخه و باطل ته لکه اهل بدعت فَیَتَّبِعُوْنَ
پس پیروي کوي دوی مَا تَشَابَهَ د هغه ځای له قرآنه چې متشابه وي یعنې چې په
لفظ کښې ئې احتمال جاري کیږي او معنی ئې مشکله وي مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ له
دی قرآن څخه د پاره د طلب د فتنې یعنې د لغزولو د عوامو لکه نه ویشت (۲۹)
مقطعات چې شوه یا آیت د یَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَیْدِیْهِمْ یا اینما تولوا فثم وجه الله
یا الرحمن علی العرش استویٰ چې پخپله ئې خپل ځان لره لاس او مخ او مکان او جهت
ثابت کړي دي او هم داسې نور متشابهات هم و تعالیٰ عن ذٰلك علوًا کبیرًا ط
وَابْتِغَآءَ تَاْوِیْلِهٖ ج او د پاره د اړولو د معنیٰ د دی متشابه په خپله مقتضیٰ -
باندی او د خپل نفس په هوا بې له اذنه د شارع وَمَا یَعْلَمُ تَاْوِیْلَهٗۤ او حال دا
چې نه پوهیږي په هغه معنیٰ د دی متشابه چې حمل ئې پر هغه معنیٰ واجب دي
اِلَّا اللّٰهُ م مگر خدای او بل هیڅوك نه په پوهیږي ځکه چې مراد د هغه لفظ
چې په معنیٰ خپله ظاهر الدلالة نه وي هغه بې متکلمه بل هیچا ته معلوم نه وي
وَالرّٰسِخُوْنَ فِی الْعِلْمِ او هرچه هغه چې پاخه دي په علم کښې لکه مؤمنان د
اهل کتابو یا بل هرڅوك چې ډیر پوه وي یَقُوْلُوْنَ وائي دوی اٰمَنَّا بِهٖ لا ایمان
راوړی دی موږ پر دی متشابه په مثل د ایمان راوړو په محکم باندی کُلٌّ مِّنْ عِنْدِ
رَبِّنَا ج یعنې داالوَّل چې دی یعنې که محکم دی که متشابه دی له طرفه د رب زموږ

وقف لازم / وقف منزل

عه یعنې لوی دی خدای له مکان او جسمه او له جهته په لوی لوی لوی سره ۱۲

راغلی دی وَمَا يَذَّكَّرُ او پند نه اخلی په دی إِلَّآ أُولُوا الْأَلْبَابِ ⑦ مگر خاوندان
د عقل خالص او د ازا ستخان والی رَبَّنَا اے رب زموږ لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا مه چپوه
له حق څخه زړونه زموږ بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا پس له هغه چی پرسمه لاره برابر کړی
یو تا موږ وَهَبْ لَنَا او راکه موږ ته مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً عه خاص له خپله دربار ه
مهربانی په توفیق او استقامت سره إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ⑧ بے شکه چه هم ته یئ ډیر
ورکونکی رَبَّنَا اے ربه زموږ إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ بے شکه چی ئ ته یو ځای کونکی
د مخلوقاتو ټولو په هغه وخت کی چه پس له مرگه دی بیا ژوندی کړه لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ
فِيهِ ط د پاره د حساب د هغه ورځی چه نشته هیڅ شك او شبه په راتلو د هغې کښې
ځکه چه تاویلی دی إِنَّ السَّاعَةَ عه آتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا نو وعده حقه شوه إِنَّ اللَّهَ
بیشکه خدای چی دی لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ⑨ نه خلافوی وعده خپله او دا التفات دے
له خطاب څخه وغیبت ته روایت دی چه نصاری وو د نجران یا یهود و یا
مشرکان نو د عربو به ډیر فخر کاوی پر رسول علیه السلام دا سے چی موږ د ده څخه
غوره یو ځکه چه دی مال نه لری او نه اولاد لری او موږ هم غنیان یو چه ډیر
اولاد لرو او هم ډیر مال لرو نو نازل شو إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بے شکه هغه کسان
چه کافر دی لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ له سره به دفع نه کی د دوی څخه أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم
نه مالونه د دوی او نه اولاد د دوی مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ط له خدایه یعنی له عذابه د ده
څخه هیڅ قدر نه ډیر نه لږ نه په دنیا نه په آخرت کښې وَأُولَٰئِكَ او دوی چی دی
هُمْ وَقُودُ النَّارِ ⑩ هم دوی دی خس (خاشاك) د دوزخ یعنی دوی به په دوزخ
کښې دا سے سوځی لکه خس په اور کښی او حال د دی کفارو په نه دفع د عذاب
کښی یا په سوځلو د دوزخ یا په تکذیب ستا کښی كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ لا هسی دی
لکه حال د تابعانو د فرعون وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ط او لکه حال د هغه کسانو چی

عه یعنی بے شکه چه قیامت را تلونکی دی نشته هیڅ شك په راتلو د قیامت کښه ۱۲
صه یعنی نسبت د دی راغوښتے کولو تا ته اے محمد ص چه رسول نه ئ ۱۲

مخکی تر فرعونیانو تیر شوی دی لکه عادیان او ثمودیان او داسی نور کفار شوه
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ چې نسبت د دروغو به ئې کاوی و اٰیتونو مونږ ته فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ
پس ونیول دوی خدای په عذاب سره بِذُنُوْبِهِمْ ؕ په سبب د گناهو خپلو وَاللّٰهُ
شَدِيْدُ الْعِقَابِ ⑪ او خدای چې دی ډیر سخت دی عذاب دده روایت دی چې
هرکله رسول علیه الصلوٰة والسّلام له جنگه ځنې د بدر بیرته مدینې ته راغلی نو
یهود ئې ټول راجمعه کړه او اسلام ته ئې را وبلل نو دوی ورته وویل چې مه غره[ع]
کیږه په دی چې یو څو قریش کم فکره دی مړه کړه چې په تدبیر د جنگ هیڅ نه
پوهیده نو نازل سو. قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ووایه ای رسوله وهغه کسانو ته چې
کافران شوی دی سَتُغْلَبُوْنَ ژر دی چې مغلوب به شی تاسې یا په قتل سره لکه
بنی قریظه چې پس له جنگه ځنې د احزاب چې نه شوه جنگیالی په یوه ورځ کښی د
مدینې د خندق پرغاړه قتل شوه او اهل د دوی ټول مریان او مینځې شوی او یا په
شړلو سره د بنی نضیرو چې ټوله خیبر ته وشړل سوه او یا په هسی غلبه سره لکه ـ
خیبر او مکه چې فتحه شوه او یا په اینبوولو د جزیې سره لکه ټول کفار چې شوه
وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ او راجمعه به کړه شی ټول و دوږخ ته د پاره د تعذیب وَبِئْسَ
الْمِهَادُ ⑫ او بد بستره دی دا دوږخ او بعض مفسرین وائی چې دا تیر اٰیت په حق د
یهودو کښی نه دی بلکه په حق د اهل مکه کښې دی او دا وعده د غلبې په ستغلبون
کښی بیا په ورځ د بدر واقع شوه قَدْ كَانَ په تحقیق سره چې وو لَكُمْ اٰيَةٌ تاسې
لره ای قریشو یا ای یهودو یا ای مؤمنانو ډیر لوی عبرت فِیْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ
په هغو دوو فرقو کښې چې سره مخامخ شوی په ورځ د بدر فِئَةٌ تُقَاتِلُ یوه فرقه
وه چې جنگ ئې کاوی فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښی چې هغه رسول ووسره
له دری سوه دیارلس اصحابو چې اویا کښی مهاجر وو او نور ټول له انصارو وو او
دوه اسان او شپږ زغری او اته توری وی په تمام لښکر کښې وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ او بله

ع یعنی مه مغروره کیږه او غلبه ۱۲ ــه یعنی ئې اوزمری او لوټ او دا سی نور خپلوان او خویشان د دوی ۱۲

فرقه وه چې هغه ابوجهل وو سره له نه نیم سوه قریشو یَرَوۡنَهُمۡ چې لیدل به دې
مؤمنانو د اکفار مِّثۡلَيۡهِمۡ په دوه چنده تر خپل لښکر یعنې اګرکه دوی په واقعه
کښې نه نیم سوه وه لیکن مؤمنانو به په قدر دوه شپږ سوه او شپږ ویشت لیدل د
پاره ددې چې پر بالا دست سی ځکه چې دوی سره وعده شوی وه چې په دوه
چنده خپل به تاسې غالب سیئ او یا معنی دا چې لیدل به دې کافرانو دا مؤمنان
په دوه چنده خپل یعنې یو زر او نه سوه او یا په دوه چنده له مؤمنانو یعنې شپږ
سوه او شپږ ویشت به ئې لیدل حاصل دا چې یا دې مؤمنانو به کم لیدل دا کفار
د پاره ددې چې پرې زړور شي او یا دې کفارو به ډیر لیدل دا مؤمنان د پاره ددې
چې ورته بې زړه شي رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِ ط لیدل ښکاره بیشکه بې شبهې وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ
او خدای قوت ورکوی او زور ورکوی بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُ ط په مدد خپل هر هغه
څوك چې اراده ئې وشي د مدد له هغه سره إِنَّ فِي ذَٰلِكَ بیشکه چې په دې
کمولو او زیاتولو کښې لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ⑬ هر آئینه ډیرلوی پند دی
وخاوندانو د بصیرت لره یعنې هغه چاره چې د زړه سترګی لری زُيِّنَ لِلنَّاسِ
ښایسته کړه شوی دی وخلګو ته یعنې وکفارو ته حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مینه د مشتهیانو
د نفس یعنې د هر هغه شي چې نفس ئې غواړي مِنَ ٱلنِّسَآءِ له ښځو څخه چې لوی دام
د شیطان دی وَٱلۡبَنِينَ او له زامنو څخه چې ډیر محبوب دی طبعًا وَٱلۡقَنَٰطِيرِ
ٱلۡمُقَنطَرَةِ او له هغه قنطار و چې جمع کړه شوی یا ښخ کړه شوی وی په ځمکه کښې
او قنطار لك دینار یا ډك پوست (غرمن) د غواې یا هسې ډیر مال ته وائی مِنَ
ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ له سرو او له سپینو زرو څخه وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ او له اسانو
نښانه دار و څخه لکه غر محجل یا چاپ یار هدار وَٱلۡأَنۡعَٰمِ او له نورو څارپایانو
څخه لکه فیلان او اوښان او غوایان او وزې او پسونه وَٱلۡحَرۡثِ ط او له کښته

عه غر محجل هغه اس ته وائی چې په تندی کې ئې یو سپین داغ وی یعنې ویښتان ئې سپین وی
او یار هدار هغه اس ته وائی چې تلونکی او قدم کونکی وی پر لاره ۱۲

یا له هغه ځکې ځکه چې کښت پکښې کرل کیږي ذٰلِكَ دا شیږ سره شیان دي چې
مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ج معاش دی ددې دنیاوي ژوند وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ او خدای چې دی
ده سره حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾ خو بیایي ده د عاقبة قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ و وایه ودوی ته چې ایا
خبر کړم تاسې بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ط په غوره شی له دې شیږو شیانو ځکه چې معاش
د دنیا په سان یري لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مقرر دي و هغه کسانو له چې ویریږي له خدایه
او پرهیزکوي له ناروا ء خیزونو عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد رب ددوی جَنّٰتٌ تَجْرِيْ
باغونه چې بهیږي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندې د ونو یا د بنګلو ددوي خلور قسمه
ولی د اوبو د شودو د خمرو د شاتو چې وړه قطعه د هغې ځکې د جنت بهتره ده
له تمام دنیا سره له مَا فِيْهَا لکه حدیث دی چې لموضع سوط من الجنة خیر من
الدنیا وما فیها خٰلِدِيْنَ فِيْهَا چې همیشه به وي دوی په دې باغونو کښې
وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ او ښځې به وي دوی لره هلته هم له حور و هم ادمیانو
پاکی کړه شوی له ټولو عیبو ځکه چې په دنیا کښې ئې لرل لکه حیض او نفاس
یا له بدرنګی او بدخویي وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ط او رضامندي به وي دوی لره
له طرفه د خدای او دا رضوان دوی لره ډیر بهتره دی ترحورو او قصورو له
میوو پورو معمورو لکه ایت دی چې وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ یعنې رضا د خدای
تر هر څه بهتره ده وَاللّٰهُ او خدای بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۱۵﴾ ښه لید ونکی دی د حال د
بندګانو او اګاه دی هم په نیکی هم په بدی هم په صلاح هم په فساد ددوی
او متقیان چې دي اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ هغه کسان دي چې وائي دوی په اخلاص
د زړه سره رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا بیشکه موږ چې یو ایمان راوړی دی موږ پر تا پر رسولانو پر

عه یعنې بنه والی او ښه مزی د هغه لوی ژوندن چې اخرت دی ۱۲ عه یعنې سره له هغه نعمتو او
شیانو چې په دنیا کښې دي ۱۲ عه یعنې هر ایښنه ځای د یو کوړي ایښودلو له ځکې د جنت نه هغه
ځای بهتر دی له ټولې دنیا څخه او له هغه نعمتو څخه چې په دې دنیا کښې دي ۱۲

کتاب پر ملائکو پر حشر پر نشر پر حساب پر کتاب پر صراط پر میزان پر جنت پر دوزخ
فَاغۡفِرۡ لَنَا پس وبخښه وموږ ته ذُنُوۡبَنَا گنا هونه زموږ وَقِنَا اووساته موږ
په قیامت کښې عَذَابَ النَّارِ ⑯ له عذابه څخه داور دد وزخ اَلصّٰبِرِیۡنَ [1] افرین دی
پر هغو مؤمنانو چه صبر کونکی دی په عبادت او په سختیو د روزګار کښې وَالصّٰدِقِیۡنَ
او چه راستی کونکی دی په گفتار [2] او په کردار کښې وَالۡقٰنِتِیۡنَ او چه فرمانبرداری کونکی
دی په اوامر واو نواهیو د کردګار کښې وَالۡمُنۡفِقِیۡنَ او چه د حلال مال ورکونکی دی
په رضاد خدای په لیل او په نهار کښې وَالۡمُسۡتَغۡفِرِیۡنَ او چه بخښنه غوښتونکی دی
بِالۡاَسۡحَارِ ⑰ په هر سهار د رب په دربار کښې او داپنځه سره منصوب دی په مدح [3]

نکته　اشعار

دانکته عجیبه واوره که فهیم طلب کار　چه په دی پنځه الفاظو دی مراد پنځه اخیار
په صابر کښې اشارت دی رسول ته چه دی تل وو　د یر صابر په بارد وحی په توفیق د کردګار
په صادق کښې اشارت د صدیق ته چه فرید وو　دی په صدق او یقین کښې ځکه دی شو یار د غار
په قانت کښې اشارت د فاروق ته چه دیر وو　د خالق فرمان منونکی ځکه دی شو ځره دار
په منفق کښې اشارت د عثمان ته چه مدام وو　دی سخی په دیر ورکودد ولت دحق په لار
مستغفر کښې اشارت د حیدر ته ځکه تل وو　په طلب د مغفرت کښې د اصاحب د ذوالفقار

الٰهی د دوی تر څخه سعادت د دوارو کونو
روزی د مراد علی کړی هم نصیب ئی کړی دیدار

روایت دی چه یو څوکسه عالمان له احبارو د شام څخه مدینی ته راغله اود رسول علیه السلام
څخه ئی سوال وکړی چه بهتره کله او غوره شهادت په کلام د خدای کښې کوم دی نو نازل
شو شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ شا هدی وائی خدای یعنی بیان یا حکم کوی یا وائی چه بیشکه حال

له په جمع کولو د خلکو د پاره د حساب نشر یعنی تار په تار بهر کول د خلکو د قبرو څخه په ورځ د
حشر ۱۲ ۲له یعنی هم رشتیا وائی او هم په رشتیا سره عملونه ښه کوی ۱۲ ۳له یعنی دا پنځه سره چه دی
یعنی الصّٰبرین او الصّٰدقین او القٰنتین او المنفقین او المستغفرین چه دی دا هر یو منصوب دی بنا
بر مدح یعنی خدای وائی چه امدح الصّٰبرین یعنی زه وصف کوم د وصف کوونکو تر ا خره ۱۲

دادی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لا چه نشته لائق د عبادت هیڅوك مګر یوازی هم‌ دی دی بی شریکه وَالْمَلٰٓئِکَةُ او ملائکی هم قول په دی شان شاهدی وائی په اقرار سره وَ اُولُوا الْعِلْمِ او خاوندان د علم چه انبیاء او علماء دی هغه هم قول په همدی طریقه شاهدی وائی په ایمان راوړلو او په دلائلو ویلو سره په وحدانیت دده باندی قَآئِمًاۢ بِالْقِسْطِ ط په دی حال کی چه ولاړ دی هر یو له دی اولی العلم څخه په دی شاهدی کښی په عدل یعنی موافق له نفس الامر سره له دی جهته چی په دلائلو سره ثابت کړی دی دا وحدانیت یا معنیٰ دا چه خدای شاهدی وائی په وحدانیت خپل په دی حال چه دی شاهد یا حاکم دی په حق سره یعنی مطابق له واقع سره یا معنیٰ دا چه په دی حال چه دی مقیم او ثابت دی په عدل په بندګانو خپلو په قسمت د ارزاقو او د اجالو او د ثوابو او د عذابو او د اوامرو او د نواهیو په لائق او په احسن وجه سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ معنیٰ ئی تیره ده اوس اَلْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ﴿١٨﴾ ط چه ډیر غالب قوی دانا دی په هر څه قال علیه السلام "حدیث" مَنْ قَرَءَ هٰذِهِ الْاٰیَةَ عند منامه خلق الله منها سبعین الف خلق یستغفرون له الی یوم القیٰمة ومن قال بعدها وَ انا اشهد بما شهد الله به واستودع الله هٰذه الشهادة وهی لی ودیعة یقول الله یوم القیمه ان لعبدی عندی عهدو انا احق من وفیٰ بالعهد ادخلوا عبدی الجنة کذا ذکره صاحب المدارك اِنَّ الدِّیْنَ بیشکه قبول او غوره دین چی دی په ادیانو کښی عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ رتف په نزد د خدای دین د اسلام دی یعنی دین د محمد صلی الله علیه وسلم نه دین د یهودیت

عه یعنی هرچا چه ولوستلو دا ایت چه تیرشو په وخت د بیده کید وکښه یعنی چی بیدیږی دا ایت دی ووائی نو پیدا به کړی خدای پاك له دی څخه او یا یعنی دری نیم شلی خلاق چی هغه هر یو به بخښنه غواړی د خدای څخه دده لپاره ترو رحتی د قیامت پوری او هرڅوك چی ... ووائی پس له لوستلو ددی ایت دا عه چی زه هم شاهدی وایم په هغه شی چه شاهدی ویلی ده په هغه سره خدای او امانت ایږدم دا شاهدی د خدای سره بیا په ورځ د قیامت به خدای وائی چی په تحقیق سره ددی بنده زما د ما سره وعده او امانت شته او زه چه یم هغه لائق او وفا کوونکی یم په وعده وخپلو سره یعنی ددی بنده سره ما وعده د جنت کړی وه نو داخل کړی دا بنده زما جنت ته (دا حدیث په تفسیر مدارك کښی دی)

او د نصرانیت وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ او اختلاف نه دی کړی هغه کسانو اُوْتُوا
الْكِتٰبَ چې ورکړه شوی دی دوی لره کتاب چې یهود او نصاری دی او د ا
اختلاف یا په دین د اسلام کښې وو چې بعضو به حق باله او بعضو به باطل او بعضو
خاص باله په عرب پورې او په وحدانیت د خدای کښې وو چې یهودو به عزیر
زوی د خدای باله او نصاری وو به دری خدایان بلل او یا په رسالت د رسول
کښې وو چې چا به منلو او چا به نه منلو او یا په دری سره وو کښې اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا
مګر پس له هغه نې اختلاف کړی وو جَآءَهُمُ الْعِلْمُ چې راغله دوی لره
پوه په حقیقت د امر په واسطه د ایتو او معجزو سره یعنې پس له هغه چې
په دلائلو سره ښه ورته معلومه شوه چې د ارسول او قرآن دواړه حق دی
اما اختلاف ئې پکښې وکړی بَغْیًاۢ بَیْنَهُمْ ط محض په سبب د هغه کینې چې په دوی
کښې وه نه له جهل څخه وَمَنْ یَّكْفُرْ او هر څوك چې نه مني بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ایتونه د خدای
یعنې قرآن یا نوری معجزی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای سَرِیْعُ الْحِسَابِ ⑲ ډیر
زر کونکی دی د حساب یعنې نوموړی حساب به ور سره وکی پس له مرګه او بیا به جزا
ورکی په قدر د عمل فَاِنْ حَآجُّوْكَ پس که جګړه کوی د اکفار له تا سره پس له دی
دلائلو هم فَقُلْ اَسْلَمْتُ پس ووایه ودوی ته چې سپارلی دی ما وَجْهِیَ لِلّٰهِ
ځان خپل خدای ته او له ځان څخه ئې تعبیر وکی په وجه سره ځکه چې د ا اشرف د ټولو
اعضاو ظاهری وو دی او د قوی او د حواسو مظهر[عه] دی وَمَنِ اتَّبَعَنِ ط او هر
هغه څوك چې پیروی کوی زما هغه هم ځان سپارلی دی وَقُلْ لِّلَّذِیْنَ او ووایه
وهغه کسانو ته اُوْتُوا الْكِتٰبَ چې ورکړه شوی دی ودوی ته کتاب یعنې یهود او نصاری
وَالْاُمِّیّٖنَ او مشرکان د عرب و ته هم ووایه چې ءَ اَسْلَمْتُمْ ط ایا اسلام راوړی تاسې

عه مظهر دی یعنې ظاهر کونکی دی یعنې چې څه زیروی نو دلالت کوی په ناجوړوالی باندی
او چې سور خوشرنګه وی نو په جوړوالی باندی دلالت کوی ۱۲ صه یعنی څوك رشتینوالی ستا
کوی ای پیغمبره یعنو چې دین ستا حق دی ۱۲ سه او څوك دروا نجنوالی ستا کوی یعنې دین ستا نه منی ۱۲

او دا استفهام دامردی یعنی اسلام راوړی فَإِنْ أَسْلَمُوا ج پس که اسلام راوړی دوی
فَقَدِ اهْتَدَوا ج پس په تحقیق سره پیدا ئے کړه سمه لاره وَإِنْ تَوَلَّوْا او که ئی شا
کړه یعنی دا خبره ئی و نه منله فَإِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده چې عَلَيْكَ الْبَلَاغُ ط
دی پر تا تش رسول د پیغام وَاللَّهُ او خدای چې دی بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ⑳ ښه
بینادی پرا حوالو د بندګانو یعنې په تصدیق او په تکذیب د دوی او دا ایت بیا
منسوخ شوی دی په ایت د سیف سره روایت دی چې بنی اسرائیلو په
یو ساعت په یوه ساعت کښې د ۴۳ څلویښت پیغمبران شهیدان کړه او یوسل ۱۱۲ دولس او
عابدان چې د دوی له قومه وو دوی د دی قتله څخه منع کړه نو هغه ئے هم په
اخر د هم دغه ورځې کښې مقتول شهیدان کړل نو په حق د هغه قاتلانو او د هغه
اولاد د دوی کښې چې راضي وو په دی قتل له معاصرانو د رسول علیه السلام د هغو
وارو په حق کښې نازل شو إِنَّ الَّذِينَ بیشکه هغه کسان يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ
چې کافران شوی دی په ایتو د خدای یعنې په قران چې هغه اهل کتاب دی وَ
يَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ او وژنی دوی پیغمبران بِغَيْرِ حَقٍّ لا یعنې بې له موجبه د قتل په
اعتقاد د دوی کښې هم اګر که پیغمبرانو لره په واقعه کښې له سره موجب د قتل
نشته وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ او وژنی دوی هغه کسان يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ چې امر کوی
دوی په عدل او په انصاف سره مِنَ النَّاسِ لا له خلګو غیر له پیغمبرانو فَبَشِّرْهُمْ
پس زیری و که پر دوی بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ㉑ په عذاب دردناک سره أُولَٰئِكَ الَّذِينَ
دا هغه کسان دی حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ چې برباد شوی دی عملونه د دوی چې
په صدقه یا په صله رحمی یا په نورشه ئې حاصل کړی وو فِي الدُّنْيَا هم په
دنیا کښې چې له نعمت او له شرمندګی په خلاص نه شو وَالْآخِرَةِ ز او هم
په اخرت کښې چې له عذابه د دوزخ څخه په خلاص نه شو وَمَا لَهُمْ او نه
به وی دوی لره په قیامت کښې مِنْ نَاصِرِينَ ㉒ هیڅوك مددګونکی په دفع د

عذاب کښي روایت دی چې په یهودو کښې دوو کسانو زنا وکړه نو رسول
علیه السلام له یې راوستل او ده حکم د سنگسار ولو پروکړی نو یهود د
حکمه څخه د رجم یعنی منکر شوه چې حکم د رجم خدای هیڅیری نه دی کړی
نو تورات ئې راوړی او حکم د رجم یې پکښي ولیدی نو سنگسار یې کړل او یا
رسول علیه السلام و مدرسې ته ددوی ورغلی او دوی یې راوبلل وا سلام ته
نو نعیم او حارث نوی کافران شوی وو نو هغوی وویل چې ته په کوم دین یې ده
وویل علی ملة ابراهیم نو دوی وویل چې ابراهیم خو یهودی وو بیا رسول
علیه السلام وویل چې راځی تورات وگوره و هغه زموږ حکم دی نو دوی له دې
څخه منعه وکړه او شا یې کړه نو نازل شو اَلَمۡ تَرَ ایا نه گوری ته اِلَی الَّذِیۡنَ و
هغو کسانو ته اُوۡتُوۡا نَصِیۡبًا چې ورکړه شوی وه دوی له غټه برخه مِّنَ الۡکِتٰبِ
له تورات څخه یُدۡعَوۡنَ چې وبلل شي دوی اِلٰی کِتٰبِ اللّٰهِ وکتاب د خدای ته چې
قران یا تورات دی لِیَحۡکُمَ بَیۡنَهُمۡ د پاره ددې چې حکم وکی دا قران یا تورات د
دوی په مینځ کښې او هغه ایت د رجم یا دین د ابراهیم و دوی ته بنکاره کی
ثُمَّ یَتَوَلّٰی بیا پس له دې بللو څخه مخ وگرزاوی فَرِیۡقٌ مِّنۡهُمۡ یوه ټولی ددوی څخه
چې هغه مشران د یهودو وه وَهُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۲۳﴾ او حال دا چې دوی تل څنگ کونکی
دی له حقه ذٰلِكَ دا اعراض ددوی چې دی له حکمه د تورات څخه له دې وجهې دی
بِاَنَّهُمۡ قَالُوۡا چې بیشکه دوی وائی لَنۡ تَمَسَّنَا النَّارُ له سره به نه ورسیږی موږ
ته اور د دوزخ اِلَّاۤ اَیَّامًا مَّعۡدُوۡدٰتٍ مگر څو ورځې په شمار چې هغه څلوینت
ورځې دی په سبب د عبادت د گیلکي چې نیکه گانو ددوی کړی وو وَغَرَّهُمۡ فِیۡ دِیۡنِهِمۡ
او غره کړی دی دوی په حق د جزا موندلو د عملو خپلو کښې مَّا کَانُوۡا هغه گما نو
خپلو چې وو دوی یَفۡتَرُوۡنَ ﴿۲۴﴾ چې په دروا غونې تړلی دی پر خدای چې وائی

عه یعنی زه پر دین د ابراهیم علیه السلام یم ۱۲ عه یعنی منصف او درېم گری دی ۱۲
سه اعراض یعنې مخ گرزول او نه منل یې ۱۲

نحن ابناء الله واحباؤه فلا یعذبنا بذنوبنا الا مدةً یسیرةً یعنې موږ زامن او دوستان
د خدای یو نو عذاب به نه راکوي موږ ته پرګناوو زموږ موږ مګر لږ موده فَکَیۡفَ پس
څه حال به وی د دوی اِذَا جَمَعۡنٰهُمۡ په هغه وخت چې راجمع کړو موږ دوی لِیَوۡمٍ
د پاره د حساب د هغه ورځې لَّا رَیۡبَ فِیۡهِ تفَ چې نشته هیڅ شك په راتلو د هغې ورځې
کښې وَوُفِّیَتۡ او پوره به ورکړی شي کُلُّ نَفۡسٍ وهر شخص ته مَّا کَسَبَتۡ جزاء د هغه عمل
چې کړی وه ده وَهُمۡ لَا یُظۡلَمُوۡنَ ﴿۲۵﴾ او حال دا چې دوی چې دی هیڅ قدر ظلم به
ونه شي پر دوی نه په کمولو د نیکو او نه په زیاتولو د بدیو سره روایت دی چې هر
کله قریشو اراده د راتلو وکړه مدینې ته او رسول علیه السلام په مصلحت د سلمان
فارسي رضی الله عنه سره له ویرې د دوی خندق وکیندی او ناګاه یوه شپېه سخته پر سنبه پکښې پیدا
شوه دوی رسول ع په خبر کې نودی راغلی او دا پر سنبه ئې په پلك ووهله نو یوه پارچه
څندی بېله شوه او لو یه لمبه ئې وکړه چې غرونه د مدینې او ښارونه د مداین او کنګری
د ماڼو د کسرئ په ولیدل شوی او چې دویم وار ئې ووهله نو بیائې لویه لمبه وکړه او
ښارونه د یمن ښکاره شوه بیا رسول ع وویل چې زر دی چې زما امت به د دې لیدل
شوو ځایو متصرفان شي نو منافقانو پخپلو مینځو کښې سره وویل چې دوی له ویرې د
دښمنه په کاله کښې بې خندقه ځان نه شي ساتلای او دا ملګری ځیل تیر باسی په دې
چې فارس او روم او یمن به تاسې ونیسی نو نازل شو قُلِ اللّٰهُمَّ ووایه ته چې ای
پرور دګاره مٰلِكَ الۡمُلۡكِ اې واکداره د باچاهۍ تُؤۡتِی الۡمُلۡكَ ورکوی ته دا باچاهي
مَنۡ تَشَآءُ هر هغه چا ته چې اراده وشي ستا وَتَنۡزِعُ الۡمُلۡكَ او بیرته اخلې دا باچاهي
مِمَّنۡ تَشَآءُ ز له هر هغه چا څخه چې اراده وشي ستا وَتُعِزُّ مَنۡ تَشَآءُ او عزت ورکوی
ته هر هغه چا ته چې اراده وشي ستا په ایمان او په معرفت سره لکه رسول چې شو سره
له تابعانو خپلو وَتُذِلُّ مَنۡ تَشَآءُ او خوار او ذلیل کوی هر هغه څوك چې اراده وشي
ستا په کفر او په ذلت د هغه لکه ابوجهل سره له تابعانو خپلو

ع هر شخص ته یعنې که نارینه وی او که ښځه وی ۱۲

بِيَدِكَ الْخَيْرُ ؕ خاص ستا په قدرت کښې دی خیر اِنَّكَ بیشکه چې ته عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۶﴾
پر هر شي قادر یې هم په ورکولو هم په بیرته اخستلو او هم په عزت او هم په ذلت تُوْلِجُ
الَّيْلَ ننه باسې ته شپه فِي النَّهَارِ په ورځ کښې وَتُوْلِجُ النَّهَارَ او ننه باسې ورځ فِي الَّيْلِ
په شپه کښې یعنې په هره ورځ له یو طرفه یو یو پار چه له ورځې څخه کوې او په شپه
کښې یې کښیباسې او له بله طرفه یو پارچه له شپې څخه کوې او په ورځ کښې یې کښیباسې
ترڅو چې داڼ مانه دورځې وګرزې شپه شي او ڼ مانه دشپې وګرزې ورځ شي
وَتُخْرِجُ الْحَيَّ او باسې ته ژوندی مِنَ الْمَيِّتِ لکه مړی لکه حیوان له نطفې یا مرغه
له هوا یا وږی له دانې یا مؤمن له کافره وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ او باسې مړی مِنَ الْحَيِّ زله ژوندي
څخه لکه نطفه دحیوان څخه یا هوا د مرغه څخه یا دانه دوږی یا کافر د مؤمن څخه وَ
تَرْزُقُ مَنْ تَشَاءُ او رزق ورکوې ته وهر هغه چا ته چې اراده وشي ستا بِغَيْرِ
حِسَابٍ ﴿۲۷﴾ بې حسابه یعنې ډیره وافره روایت دی چې بعض انصارو له مشرکانو د
یهودو سره یاری درلوده او عقد د مواخات ئې سره کړې وو نو پروردګار له دې
دوستی څخه منعه وکړه او نازل شو لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ نه دی نیسي
مؤمنان کفار اَوْلِيَاءَ یاران او دوستان مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ج بې له مؤمنانو
څخه یعنې مؤمنان که یاری او دوستی کوی نو هیبا ید چې له خپلو مؤمنانو سره ئې
وکړي او دکفارو سره دې نه کوي وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ او هر څوك چې وکړي دا کار
یعنې دوستی له کفارو سره فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ پس نه دی دا شخص له دوستی دخدای
یا له دینه دده فِيْ شَيْءٍ په هیڅ شي کښې یعنې دی په دوستی یا په دین دخدای
کښې هیڅ برخه نه لري ځکه چې دوه ضدې او دوستی د دښمن دده سره منافي ده اِلَّا
اَنْ تَتَّقُوْا مگر داده دا دوستی اما په ظاهر کښې سره د بغض قلبي چې ویریږی تاسې
پر سر او پر مال خپل په سبب د غلبې ددوی او ځان ساتې مِنْهُمْ تُقٰىةً ط له دوی
یعنې له ضرره ئې په ویریدو سره وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ او ویروی تاسې خدای نَفْسَهٗ ط د

عذابه خپله یعنی له هغه عذابه چې محض له قهاریته دده څخه ولاړ شوی دی وَاِلَی
اللّٰهِ الْمَصِیْرُ ﴿۲۸﴾ او خاص خدای ته ورتله ستاسی دی نو میباید چې هروخت په
خپلو اقوالو او افعالو او احوالو فهمدار اوسی چې باید په ورځ د قیامت د خدای څخه
عذاب دربا ندی سخت نه شی قُلْ اِنْ تُخْفُوْا او ووایه ته چې که پټ وساتی تاسې
مَا فِیْ صُدُوْرِكُمْ هغه دوستی یا دښمنی له کفارو سره چې په زړو ستاسو کښې پرته
ده اَوْ تُبْدُوْهُ یا ئې ښکاره کړی تاسې یَعْلَمْهُ اللّٰهُ ط پس پوهیږی خدای په هر یوه باندې
ځکه چې پټ او ښکاره دواړه ده ته یوشان معلوم دی وَیَعْلَمُ مَا او پوهیږی دی په هر
هغه شی فِی السَّمٰوٰتِ چې په آسمانونو کښې دی له جمله د علویاتو وَمَا فِی الْاَرْضِ ط
او په هر هغه شی چې په ځمکه کښې دی له جمله د سفلویاتو وَاللّٰهُ او خدای عَلٰی
كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۲۹﴾ پر هر شی بنه قادر دی یَوْمَ تَجِدُ په هغه ورځ چې بیا به مومی
او دا تعلق نیسی له مقدره سره چې واذکر وادی یعنې ووېرېږی له هغې ورځې څخه
چې بیا به مومی كُلُّ نَفْسٍ هر نفس مَّا عَمِلَتْ هغه عمل چې کړی دی ده مِنْ خَیْرٍ له
نیکی مُّحْضَرًا ﳝ حاضر کړه شوی ده ته وَمَا عَمِلَتْ او هغه عمل چې کړی دی ده
مِنْ سُوْٓءٍ ۛ له بدی یعنې د دفترونه د نیکو او د بدو خپلو به تول په سترګو ووینی تَوَدُّ
لَوْ اَنَّ بَیْنَهَا دوست به ګڼی دا نفس او ارمان به کوی ددی چې کاشکی په مابین دده د نفس
کښې وَبَیْنَهٗۤ او په مابین ددی ورځې کښې اَمَدًۢا بَعِیْدًا ط موده وای لیری یعنې اوږده
وَیُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ او ویروی تاسې خدای نَفْسَهٗ ط له عذابه خپله څخه او دا تکرار د پاره
ع ۳/۱۰/۱۱ د تاکید دی وَاللّٰهُ او خدای رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾ ډیر مهربانه دی پر بندګانو خپلو
روایت دی چې رسول صلی اللّٰه علیه وسلم یوه ورځ په ډله د قریشو راغلی او دوی
بتانو ته سجدی کولی نو ده ورته ووېل یٰمَعْشَرَ قریش واللّٰه لقد خالفتم ملة ابیکم ابراهیم[عه]
او دوی ورته ووېل ما نعبدهم الا لیقربنا الی اللّٰه زلفیٰ او یا داچې یهود او نصاری وو

عه یعنې ای ډلې او ټولې د قریشو قسم دی وی زما په خدای چې تاسې مخالفت کړی دی له دینه د ابراهیم
خلیل اللّٰه څخه ۱۲ عسه یعنې موږ عبادت نه کوو ددوی بتانو مګر د پاره ددې چې نژدې کړی موږ وخدای ته په نژدیوالی سره ۱۲

وویل نحنُ ابناء الله واحباؤُه یعنی موږ زامن دخدای او دوستان دخدای یو نو نازل شو قُلْ اِنْ کُنْتُمْ ووایه دوی ته که یاست تاسی تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ چی محبت لری له خدایه سره فَاتَّبِعُوْنِیْ پس پیروی کوی زما یُحْبِبْکُمُ اللّٰهُ چه دوستان وګڼی تاسے خدای وَیَغْفِرْ لَکُمْ اوو به بخښی تاسے ته ذُنُوْبَکُمْ ط ګناهونه ستاسی وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ اوخدای بخښونکی دی ګناهو وتابعانو زماته رَّحِیْمٌ ﴿۳۱﴾ ډیر مهربان دی پردوی کما قیل

نظم

تعصی الاله وانت تظهر حبهٗ	هٰذا لعمری فی الفعال بدیع
لوکان حبك صادقًا لاطعتهٗ	ان المحبّ لمن یحب یطیع
ان کنت فی دعوی المحبة صادقًا	لا انّ دعوی الحُبّ منك سنیع
فاخترمتابعة الرسول فانه	مستشفعٌ ومشفعٌ و شفیع

قُلْ اَطِیْعُوا اللّٰهَ ووایه دوی ته چی فرمان ومنی دخدای په اوامرو او نواهیو دده کښی وَالرَّسُوْلَ ۚ او درسول دده په احکامو شرعیه وکښے فَاِنْ تَوَلَّوْا پس که شا کړه دوی او اطاعت دخدای او درسول ؐ ئے قبول نه کی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چی خدای لَا یُحِبُّ الْکٰفِرِیْنَ ﴿۳۲﴾ دوست نه ګڼی کافران فَائِدَۃٌ هرکله چی پروردګار بیان کی لزوم د متابعت درسولا نو او بل داچه دغه متابعت موجب دمحبت دخدای دی نو اراده ئی وکړه چی بیان کی مناقب ددوی دپاره دحرص په متابعت ددوی باندی نو نازل شو اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓی اٰدَمَ بیشکه چی خدای غوره کړی دی ادم م په نبوت په رسالت په تعلیم داسماؤ په

عه یعنی ته نافرمانی کوی له خدایه اوحال دادی چی نه ظاهروی محبت ستا له ده سره دا دعوی ستا چی ده قسم دی وی زما په عمرخپل چه په ټولو کارو کښے ډیره عجیبه نوی پیدا ده که چیری وی محبت ستا محبت له دغه خدایه سره په رشتیا هرآئینه طاعت دده به کوی ته ځکه په تحقیق سره هر عاشق دمعشوق خپلے طاعت کوی حکم ئی مني که چیری ته په دعوی دمحبت خپل کښے رشتینی ئی او دا خبره نه وی چی دعوئے دمجبت له تا څخه ناروا وی یعنی چی ته دروا غو دعوی دمحبت کوی او په واقعه کښی محبت دی نه وی نو پس غوره کړه پیروی دپیغمبر خپل ځکه چی په تحقیق سره دا پیغمبر چه دی طلب دشفاعت به کولے شی له ده څخه یعنی عالم به ده ته وائی چه ته زمونږ شفاعت وکړه او بیا شفاعت دده قبول کړه شوی دی په درګاه دخدای کښے او شفاعت هم دی دی نو متابعت ئی ضروری شو ۱۲

سجده د ملائکو په پیدا کولو بے والد ینو په ابوت د تمام بشر خصوصًا د انبیاؤ د علماؤ
د اولیاؤ د اصفیاؤ سره وَنُوۡحًا او نوح ؑ هم په نبوت په رسالت په طول د عمر
په منسوخ کولو د مخوانی شریعت سره وَّاٰلَ اِبۡرٰهِيۡمَ او ابراهیم ؑ یا آل دده لره چې
اسمٰعیل ؑ او اسحٰق ؑ او د دوی اولاد دی او رسول ؐ هم په دی آل کښې داخل دے
وَاٰلَ عِمۡرٰنَ او آل د عمران چې موسٰے ؑ او هٰرُون ؑ دی یا آل د هغه بل عمران چې د
بی بی مریم او عیسٰی ؑ دی او دوی دواړه عمرانیان په مینځ کښې یو زر اواته سوه
کاله وه عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۳۳﴾ په درست خلکو د خپلے زمانی په حال د کید وددی
دواړو آلو کښې ذُرِّيَّةً ذریة یعنې اولاد پیدا شوی دی بَعۡضُهَا مِنۡۢ بَعۡضٍ ط بعض
له دی ذریة له بعض نورو څخه لکه موسٰی او هٰرون له عمران او دی له یصهر او
دی له قاهث او دی له لاوی او دی له یعقوب ؑ او هم داسی عیسٰے له مریم
او دا له عمران او دی له ماثان او دا پیری بیا په درے دیرش په یهودا بن یعقوب
لګیږی (کذا فی البیضاوی) وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ او خدای اوریدونکی دی د هر قول عَلِيۡمٌ ﴿۳۴﴾ ع
دانا دی په هر فعل اِذۡ قَالَتِ امۡرَاَتُ عِمۡرٰنَ یاد که هغه چې وویل ښځے د عمران
چې نوم ئی حنه وو لور د فاقوذا په ایام د حمل کښې رَبِّ اِنِّىۡ ای ربه زما بیشکه زه
چې یم نَذَرۡتُ لَـكَ نذر می کیخو د تا له مَا فِىۡ بَطۡنِىۡ هغه شی چې په نس زما کښې
دی په حال د کید وده کښې مُحَرَّرًا خالص د پاره د عبادت ستا فَتَقَبَّلۡ مِنِّىۡ ۚ پس
قبول که ته له ما دا نذر اِنَّكَ بے شکه ته چې ئی اَنۡتَ السَّمِيۡعُ هم ته ئی
اوریدونکی د دی ګفتار زما الۡعَلِيۡمُ ﴿۳۵﴾ دانا په نیت زما فَلَمَّا وَضَعَتۡهَا پس هر کله
چې ئی وزیږولو او هغه نفس چې ددی په نس کښې وو قَالَتۡ نو وویل بی بی
حنے په طریقه د عذر او د خفګان سره رَبِّ اِنِّىۡ ای ربه زما بیشکه زه چې
یم وَضَعۡتُهَاۤ اُنۡثٰى ط دوه می زیږوله د ابنځه وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ او حال دا چې خدای
ښه دانا دی بِمَا وَضَعَتۡ ط په هغه چې دی وزیږاوه او دا مقوله د خدای ده
یعنی دا روستی خبره ده چې و الله اعلم بما وضعت ده ۱۲

وَلَيْسَ الذَّكَرُ اونه دی هغه نارینه فرزند چی ماغوښتی ووکالْاُنْثیٰ ع په شان ددی
ښځی چی راکړه شوی ده وما ته وَاِنِّیْ اوبیشکه زه چی یم سَمَّیْتُهَا مَرْیَمَ نوم کښېښوے
ما ددی بی بی مریم او معنیٰ ئے ددوی په ژبه داده چی مینځه د خدای وَاِنِّیْ او
بیشکه زه چی یم اُعِیْذُهَا بِكَ پناه ورکوم دی ته په تا پورې وَ ذُرِّیَّتَهَا او اولاد د
دی لره هم پناه ورکوم مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ﴿۳۶﴾ له شیطان چی ترټلی شوی دی له تا
څخه او حدیث دی چی ما من مولود یولد الا الشیطن یمسه حین یولد فیستهل
صارخا من مس الشیطن یمسه الا مریم وابنها فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا پس قبوله کړه دا
بی بی مریم رب ددی په ځای د نارینه کښې بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ په ښه قبولو سره وَّاَنْۢبَتَهَا
او زرغونه ئی کړه نَبَاتًا حَسَنًا د په ښه زرغونه کولو سره چه عیسیٰ غوندی زوی تری
پیدا شو وَّكَفَّلَهَا زَكَرِیَّا ط او کفیل یعنی ضامن کی خدای ددی بی بی مریم زکریا چه دے
و پرورش ته ئی مقرر کی په دی چه بی بی حنه پس له ولادت دا په اوړی کښې و ترله او
بیت المقدس لره راغله او متولیا نو د مسجد ته ئی وویل د ونکم هذه د النذیرة یعنی
د رواخلی دا نذرکوی نودوی په دی ډیر خوشحاله شو ځکه چی د مشرانو ئی وه
نو زکریا وویل چه زه به ئی واخلم چی تروردی دما څخه ده نودوی وویل چی بی
قرعی ئی نه د رکوو او دوی اووه ویشت تنه وو نو ټول روان لره راغله او قلمونه ئی
په اوبو کښې وغورځول نو قلم د زکریا سر بیره د اوبو پرسر و دریدی او د نورو
قلمونه په تل کښې کښیناسته نو زکریا دا خپل کور ته یوړه او تربیت به ئی ددی
کاوی تر هغه پورې چی لوشوه او چا ویلی دی چه هم هغسی لاوړه وه چی مسجد له
ئی راوسته او په مسجد کښې یوه عبادتخانه وه په هغه کښې ئی ډیره کړه د پاره د عبادت
او قلف به ئی ورپسی قلف کی او کله به ئی د ځان سره یوړه كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا هر

ع یعنی نه وی هیڅوك زیږول شوی چی زیږول شوی وی مګر شیطان ئی مسه کوی یعنی لاس
په وهی په وخت د زیږیدو کښې پس وګرزی دی او ازکونکی له دی مسه کولو د شیطان څخه چی مسه
کړی ئی وی مګر چه بی بی مریم او زوی ددی چه وارو ئی نه دی مسه کړی چی خدای له شیطان څخه په کرم سره ساتلی وو

کله چې به ورتلو دې پردې زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ لا زکریا ع په هغه محراب کښې چې د دې عبادت
خانه وه وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ج نو بیائې پیدا کې د دې سره روزي یعنې میوې به ورسره
پرتې وې د دوبي دا په شرمي کې او د شرمي دا په دوبي کې هر کله چې په خوواره ئې
و لیده نو قَالَ يٰمَرْيَمُ وویل زکریا ع چې ای مریم اَنّٰى لَكِ هٰذَا ط له کومه راغلي دي
تا لره دا میوې چې مخالف دی له میوو د دنیا څخه قَالَتْ هُوَ وویل دې چې دا رزق
مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط له طرفه د خدای دی یعنې له جنت څخه راغلي دی او په یوه روایت
کښې دا ولا ۳ وه چې دا خبره ئې وکړه د عیسیٰ پشان اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای يَرْزُقُ
مَنْ يَّشَآءُ روزي ورکوي و هر هغه چاته چې اراده ئې وشي بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾ بې
حسابه یعنې ډېره فراخه او وافره هُنَالِكَ په دغه وخت کښې چې رنګا رنګ میوې
ئې و لیدې بي بي موسمه څېل دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ج وه بالې زکریا ع رب څېل قَالَ رَبِّ نو وې
وېل ای ربه زما هَبْ لِيْ راکه وما ته مِنْ لَّدُنْكَ خاص له فضله څپله ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ج
فرزند پاك چې بي بي حنې زړې شنډې لره دې بي بي مریمه ورکړې ده او بیا بي بي
مریمې لره دې دا رنګ میوې ورکړې دي او د ذریت اطلاق پر واحد او کثیر دواړو
کیدلای شي اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۸﴾ بیشکه ته اوریدونکی د دعائې یعنې قبلونکی ئې
فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ پس ورته نارې کړې ملائکو یعنې جبرائیل ع او دا جمع د پاره
د تعظیم ده وَهُوَ قَآئِمٌ او حال دا چې ولاړ وو يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ لا چې لمونځ ئې
کاوه په عبادتخانه کښې اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ چې بیشکه خدای زیری کوي پرتا بِيَحْيٰى
په یحیٰ نومي چې به ستاسې وي په دې حال کښې چې مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ باور کونکی
یا ایمان راوړونکی به وي پر هغه کلمه مِّنَ اللّٰهِ چې له طرفه د خدای څخه ده یعنې
پر عیسیٰ ع چې اول دا ایمان پر راوړي دی او عیسیٰ ع له دې جهته کلمه بلل کیدلای
شي چې په کلمه د کُنْ سره پیدا شوی دی. ئې له پلاره وَسَيِّدًا او سردار به وی
د څېل قوم په علم په حلم په تقویٰ کښې نو څکه

ع یعنې چې ده لا هم په وړکوتوالي په ماشومو کښې غیر کړي دي ۱۲ سه ذریة پیا او لادا و ... و ... ته ... ۱۲

ئې عزم د ګناه هم نه دی کړی له سره وَحَصُوْرًا او حصار کړه شوی دی له ښځو
سره له قدرته پر جماع او یا له هره عیبه وَنَبِيًّا او پیغمبر به وی مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۳۹﴾
له توکی یا له نسل د صالحانو څخه قَالَ رَبِّ وویل زکریا ؑ چې ای رب زما اَنّٰى
يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ څنګه به پیدا شی ماله غُلٰمٌ هلك وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ او حال دا چې په
تحقیق رسیدلی دی وما ته زوړوالی ځکه چې دی د نه نوی کالو وو او بی بی یو
کال کمتری کشره وه وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ؕ او ښځه می شنډه (وچه) ده قَالَ نو وویل
جبرائیل علیه السلام كَذٰلِكَ اللّٰهُ هم دا خدای چې دی په شان د پیدا کولو د ولد له
شیخ فانی او له زړی شنډی څخه يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿۴۰﴾ کوی هغه کار چې اراده ئې
وشی که مخالف وی له عادته او که موافق وی قَالَ بیا وویل زکریا ؑ رَبِّ اجْعَلْ
ای ربه زما مقرره که لِّيْٓ اٰيَةً ؕ ماله یوه نښه د حمل چې موجبه د تسلی او د شکر
ګذاری زما شی قَالَ اٰيَتُكَ نو وویل جبرائیل ؑ نښه ستا چې ده اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ داده
چې خبری به نشی کولای ته له خلکو سره ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ دری ورځی سره له شپو چې فارغ
سے ته ذکر او شکر ته اِلَّا رَمْزًا ؕ مګر په اشاره به ئې کولای شی په لاس یا په سر یا
په سترګو سره وَاذْكُرْ رَّبَّكَ او یادوه رب خپل كَثِيْرًا د ېر ځکه چې له مجلس د خلکو
۴ به فارغ سی وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ او تسبیح وایه دده په اخر د ورځې کښې چې له زوال ه ترغروبه دے
ع ۱۱ ۱۲ وَالْاِبْكَارِ ﴿۴۱﴾ او په اول د ورځې کښې چې له طلوع د فجره څخه تر څاښت پورې دی وَاِذْ
قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ او یاد که هغه چې وویل ملائکو يٰمَرْيَمُ اے مریم اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ
بیشکه چې خدای غوره کړی ئے ته په کرامت په عبادت په تربیت خپل سره وَطَهَّرَكِ او
پاکه کړی ئې ته له بدو اقوالو او افعالو او احوالو څخه وَاصْطَفٰىكِ او غوره کړی ئې ته
عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۲﴾ پر ټولو ښځو د زمانی خپلی يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ ای مریمې فرمانبرداره
شه لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ د رب خپل او سجده کوه همیشه وده ته وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾
او رکوع کوه ورب خپل ته له نورو رکوع کونکو سره یعنې لمونځ کوه له جمع د مصلیانو سره

ذٰلِكَ دا قصه د بی بی حنی او د بی بی مریم او د زکریا او د یحییٰ چی ده مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ له اخبارو د غیبو ده چی د پاره د بنکاره کولو د معجزی ستا نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ را لیږو موږ دا قصه وتا ته وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ او نه وی ته ای رسوله حاضر د احبارو د بیت المقدس څخه اِذْ یُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ هغه وخت چی وغورځول دوی قلمونه خپل په اوبو کښې د پاره د دی چی په قرعه معلومه که اَیُّهُمْ چی کوم یو له دوی څخه یَكْفُلُ مَرْیَمَ کفیل یعنی متولی به شی د ساتنی د بی بی مریم وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ او نه وی ته د دوی سره اِذْ یَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۴﴾ په هغه وخت کښې چی دوی جګړه سره کوله د پاره د کفالی د دی اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ یا د که چی وویل ملائکو یعنی جبرائیل یٰمَرْیَمُ ای مریمی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چی خدای یُبَشِّرُكِ زیری کوی پر تا بِكَلِمَةٍ په کلمه خپله سره چی عیسیٰ دی چی راغلی ده دا کلمه مِّنْهُ ۙ له ده څخه اسْمُهُ الْمَسِیْحُ چی اسم لقب بی مسیح دی او مسیح په عبرانی په معنیٰ د مبارك دی او اسم علم بی عِیْسَى ابْنُ مَرْیَمَ عیسیٰ دی زوی د بی بی مریم وَجِیْهًا په دی حال چی محوږ به وی خدای ته فِی الدُّنْیَا هم په دنیا کښې په طاعت او په پیغمبری سره وَالْاٰخِرَةِ او هم په آخرت کښې په لویه مرتبه او په شفاعت سره وَمِنَ الْمُقَرَّبِیْنَ ﴿۴۵﴾ او له خاصانو د خدای به وی وَیُكَلِّمُ النَّاسَ او خبری به کوی له خلکو سره فِی الْمَهْدِ په زانګو کښې یا ستا په غیږ کښې یا په وخت د ټکیوالی کښې روایت دی چی عیسیٰ لا د موږ په تی کښې وو چی مجلس به بی له دی سره کاوی او چی دا به په مشغوله شوه نو ده به په زړه تسبیح ویل چی آواز به بی بیرون اوریدل کیدی وَكَهْلًا او په هغه وخت کښې چی وینبته به بی څه تور او څه سپین وی چی په دی دوار و خترکښې به یو شان خبری کوی یا مراد له کهلا څخه خبری دی پس له نزوله ـ حکم چی دی ځوان بیول شوی وو اسمانو ته وَمِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۴۶﴾ او له صالحانو څخه به وی او دادری سره حالونه دی له ضمیره د یکلم څخه قَالَتْ رَبِّ بیا وویل دی

چې ای ربه زما اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ څرنګه به پیداشي ماله وَلَدٌ زوی وَلَمْ يَمْسَسْنِيْ او حال دا چې نه یم مسه کړی زه بَشَرٌ هیڅ نارینه له ادمیانو څخه نه په نکاح اونه په سفاح سره قَالَ كَذٰلِكِ نو وویل جبرائیل هم داسی ستا په شان بیله مسه د نارینه څخه اَللّٰهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ط الله پیدا کوی هغه چې اراده ئې وشی ځکه چې اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا په هغه وخت کې چې مقرر کې دی یو کار فَاِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۷﴾ وو ائې هغه شي ته چې پیدا اشه نو پیدا شي هغه فی الحال په هغه دم بې معطله وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ او زده به کې خدای وده ته هر کتاب چې له ده څخه راغلی دی وَالْحِكْمَةَ او حکمت یعنې علوم د حلا لو او د حرامو او د نورو احکامو شرعیه وو یا مراد له کتابه کتابت دی او له حکمته بیان دی په ژبه ځکه ویلی شوی دی چې پخپله زمانه کښې ډیر خوشنویس او خوش ژبانه وو وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿۴۸﴾ او خصوصًا تورایة او انجیل تخصیص د دی دواړو دپاره د شرافت د دوی دی وَرَسُوْلًا او پیغمبر به ئې اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لا بنی اسرائیلو ته چې دوی ته به وائې اَنِّيْ قَدْ جِئْتُكُمْ بیشکه چې زه په تحقیق راغلی یم وتاسے ته بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ لا په غټه نښه له طرفه د ربه ستاسی په صدق خپل باندی او د لته مراد له ایته جنس دی نه یوایت فرد ځکه چې بیا په مخکښې (په راتلونکی کې) ئې پنځه نښې ویلی دی اوّل نښه دا چې اَنِّيْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ بیشکه زه جوړوم وتاسی ته مِّنَ الطِّيْنِ له خټو څخه كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ په مثل د شکل د مرغه فَاَنْفُخُ فِيْهِ پس پوه به کړم په دی شکل کښې فَيَكُوْنُ طَيْرًا پس شی به دا شکل په دی پوکولو سره مرغه ژوندی الوتونکی بِاِذْنِ اللّٰهِ ج په امر د خدای سره وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ او د ویم دا چې رغوم به زه ړوند مادرزاده یا هوار مخی بیله سترګو وَالْاَبْرَصَ او د ریم برلګ وَاُحْيِ الْمَوْتٰى او څلرم دا چې ژوندی کوم به مړی بِاِذْنِ اللّٰهِ ج په فرمان د خدای سره ځکه چې زه بنده یم او د اخاصی د خدای دی روایت دی چې ده څلور مړی ژوندی کړی وو

چې یو ئ سام بن نوح وو چې قریب پس له څلورزره کلو تخه ئ ژوندکړی وواو بیا
فی الحال بیرته مړشو اودوه نارینه نوراو یوه ښځه وه چې بیا ډیره موده دادری
سره پائید لی وو بلکه اولاد ئ هم شوی وو وَاُنَبِّئُكُمْ او ښځودا چې خبروم به تاسے
بِمَا تَاْكُلُوْنَ په هغه قسمه طعاموچې خوری ئ تاسے وَمَا تَدَّخِرُوْنَ لا او په هغه
چې ذ خیره کوی ئ تاسے یعنی ساتئ ئ فِي بُيُوْتِكُمْ ط په کوړو خپلو کښے اِنَّ فِي
ذٰلِكَ بیشکه چې په دی ښځو معجزو کښے لَاٰيَةً لَّكُمْ هرا ئینه غټه نښه ده تاسی لره
په صدق زما سره اِنْ كُنْتُمْ که یاست تاسی مُّؤْمِنِيْنَ (۴۹) باوړ کونکی په دی معجزو
یا ایمان راوړونکی په پیغمبری زما سره وَمُصَدِّقًا او بل راغلی یم وتاسی ته په دی
حال چې باوړ کونکی یم لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ پر هغه کتاب چې مخوا له مانه نازل شویدی
مِنَ التَّوْرٰىةِ چې عبارت دی له توراته وَلِاُحِلَّ لَكُمْ او بل راغلی یم وتاسی ته
دپاره ددی چې حلال کړم پرتاسی بَعْضَ الَّذِيْ بعض له هغو شیانو تخه حُرِّمَ
عَلَيْكُمْ چې حرام کړه شوی وو پرتاسے په شریعت دموسٰے کښے لکه وازګله او
ماهے اوغوښه داوښ او داسی نوړ ډیر شیان چې په آخر د سورة انعام کښی
ذکرشوی دی اوتعظیم کول دخالی دورځې وَجِئْتُكُمْ اوراغلی یم وتاسی ته بِاٰيَةٍ
مِّنْ رَّبِّكُمْ تن په هرهرقسم معجزو له طرفه درب ستاسی فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووېرېږئ
له خدایه په بې فرمانئ زما کښے وَاَطِيْعُوْنِ (۵۰) اوقبول کړی فرمان زما په بللو
کښے وحق ته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ رب زما اورب ستاسودے
فَاعْبُدُوْهُ ط پس عبادت کوی دده نه زما هٰذَا صِرَاطٌ داعبادت دده لاړ ده
مُّسْتَقِيْمٌ (۵۱) سمه برابره سونکی ومقصو دته فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى پس هر کله
چې وه لیدی عیسٰی علیه السلام مِنْهُمُ الْكُفْرَ له دی یهودو تخه کفرچې هغه مصلحت
وو وده ته وقتل قَالَ نو وویل ده مَنْ اَنْصَارِيْ څوك دی مددګار زما په دے
حال کښی چې زه تلونکی یم اِلَى اللّٰهِ وخدای ته قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نو وویل هغه

خاصانو دده یا رنگریزانو نَحۡنُ اَنۡصَارُ اللّٰهِ ج مونږ یو مددگاران د خدای یعنی د دین
دده اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ج ایمان راوړی دی مونږ پر خدای وَاشۡهَدۡ او شاهد ته ای عیسیٰ
بِاَنَّا مُسۡلِمُوۡنَ ﴿۵۲﴾ په دی چی بیشکه مونږ مسلمانان یو بیا حواریونو ورب ته سوال
وکی چی رَبَّنَاۤ اٰمَنَّا ای رب زمونږ ایمان راوړی دی مونږ بِمَاۤ اَنۡزَلۡتَ پر هغه
کتاب چی را لیږلی دی تا یعنی انجیل وَاتَّبَعۡنَا الرَّسُوۡلَ او پیروی کړی ده مونږ د دی
رسول چی عیسیٰ دی فَاكۡتُبۡنَا مَعَ الشّٰهِدِيۡنَ ﴿۵۳﴾ پس ولیکه مونږ له هغو خلگو سره چی
شاهدان دی په وحدانیت ستا او په حقیقت د رسولانو او د کتابو روایت دی چی
یوه شپه دی بنی اسرائیلو په مکر او په فریب سره عیسیٰ په یوه کوټه کښی حصار (بند)
کی او په داصبا قتول سره راجمع شول او خپل مشر ئے را ولیږی چی عیسیٰ را وباسه
چی په دار ئی کړو او دی لا د شپی ملائکو له زندانه څخه ایستلی وو او اسمان ته ئی
بیولی وو بیا چی هغه مشر ئی کوټی ته ننوتی نو عیسیٰ پکښی نه وو او دی خدای
د عیسیٰ په شکل کی بیا چی کله را ووتی نو دوی سره ناری کړی چی عیسیٰ دی زه وو نے
نو دار ته ئی روان کړی او ده ناری وهلی چی زه عیسیٰ نه یم ستاسی مشر یم اما په
دی هیچا باور ونه کی او په دار ئی کی لکه چی وائی وَمَكَرُوۡا او فریب ئی وکی په عیسیٰ
باندی چی په چم سره ئی په کوټه کښی بند کی وَمَكَرَ اللّٰهُ ط او جزا ددی مکر ورکړه
خدای دوی لره چی خپل مشر ئے بخپل لاس مړکی په بد رنګی سره په ګمان د عیسیٰ ركوع ٥
وَاللّٰهُ خَيۡرُ الۡمٰكِرِيۡنَ ﴿۵۴﴾ او خدای بهتر د تولو جزا ورکونکو دی مکارانو لره هم په دنیا ۱۳۰ ۱۳۱
او هم په اخرت کښی په سبب د مکر او د فریب د دوی اِذۡ قَالَ اللّٰهُ یاد که هغه چی
وویل خدای یٰعِيۡسٰۤى ای عیسیٰ اِنِّىۡ مُتَوَفِّيۡكَ چی بیشکه زه قبض کونکی د بدن ستا
یم له مځکی یا د روح ستا یم په خوب سره چی په کوټه کښی به بیده او بیا په اسمان کښی
به ویښ شے چی په ارام سره ولاړ شی بیا هم د ازه پخپله بی واسطے د بل چا قبضونکی
د روح ستا یم په خپل اجل سره او له قتله د مخلوقه دی ساتونکی یم وَرَافِعُكَ اِلَىَّ

او پورته بيوونكى ستا يم خپل ځان ته يعني اسمان ته وَمُطَهِّرُكَ او پاكونكے
ستا يم يعني ساتونكى دى يم مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا له هغوكسانو نه چې كافران دى او
طلبگار د قتل ستا دى وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ اوگرځونكى يم د هغه كسانو
چې پيروي ئې كړې ده ستا يعنې مؤمنان له امته ستا فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اسربېره
پر هغو كسانو چې كافران شوي دي پهٔ تا چې هغه يهود دي يعنى دوى به هميشه
په يهودو غالب وي اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ترورځې د قيامته پورې هم په حجت او
هم په توراتكښے ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ بيا په آخر كښے خاص ماته دى راتله ستاسے
د ټولو يعني ستا او د تابعانو او د منكرانو فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ پس حكم به وكړم ستاسى
په مينځ كښې په حق سره فِيْمَا كُنْتُمْ په هغه شي كښے چې ياست تاسى فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۵۵﴾
چې په هغه شي كښې اختلاف كوئ تاسى چې يهود يوازې موسیٰ منى او نصارىٰ
يوازې عيسیٰ منى او محمد يان قول منى فَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا پس هر چې هغه كسان
دي چې كافران شوي دي لكه يهود او نصارىٰ فَاُعَذِّبُهُمْ پس عذاب به وركړم دوى
لره عَذَابًا شَدِيْدًا عذاب سخت فِى الدُّنْيَا هم په دنيا كښے په قتل او خوارۍ او په
لزوم د جزئ سره وَالْاٰخِرَةِ ز او هم په آخرت كښے په څو څو قسمه عذابو او په خلود
د دوزخ سره وَمَا لَهُمْ او نه به وي دوى لره هيڅوك مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ له مددگارانو
په دفع د عذاب كښې وَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هر چې هغه كسان دي چې ايمان ئې
راوړى دى لكه اُمت د رسول عليه السلام چې شو وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه كوي د
نيكو فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ط پس پوره به وركى خداى دوى لره اجرونه د دوى
هم په دنيا كښے په نيكنامۍ سره او هم په عقبیٰ كښې په جنت په حورو په قصور
په انواعو د نعمتو په رضوان په ديدار سره وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۷﴾ او خداے
نه خوښوي ظالمانو ذٰلِكَ د اتير حال د پيغمبرانو چې دى نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ لولو ئې
موږ پر تا او دا قصې چې دي مِنَ الْاٰيٰتِ له نښو د پيغمبرۍ ستا دى ځكه چې اخبار

ع يعنې په هميشه والي په دوزخ كښے ۱۲

د غیبو دی وَالذِّکۡرِ الۡحَکِیۡمِ ﴿۵۸﴾ او له پند محکمه څخه دی څکه هیڅ تغیر نه لری روایت
دی چی هر کله نصاری د نجران و رسول ته وویل چی ته وایی چی عیسیٰ ځوی د خدای
نه دی نو تا څوك هم لیدلی دی چی بی پلاره پیدا شوی دی نو نازل شوای اِنَّ مَثَلَ
عِیۡسٰی بیشکه حال د عیسیٰ ؑ چی دی عِنۡدَ اللّٰهِ په نزد د خدای په بی پلار پیدا کیدلو
کښی کَمَثَلِ اٰدَمَ ؕ په شان د حال د آدم ؑ دی چی هغه بی پلاره پیدا شوی وو بلکه
آدم څخه زیات دی څکه چی هغه بی موره هم وو او سره له دی چی هغه خو تا سی
ځوی د خدای نه بولی نو دا فرق ولی سره په څه کښی دی خَلَقَهٗ مِنۡ تُرَابٍ چی جوړ
ئی کی په قالب کښی له خاوره وڅخه چی له تمام ځوی زمین څخه ئی سر سری په ملائکو
راجمع کړی وو او بیا خلوی بنت و رځی بعد ئی څخه راو کښی ثُمَّ قَالَ لَهٗ بیا ئی وویل و دی
جسم ته کُنۡ فَیَکُوۡنُ ﴿۵۹﴾ چی شه وندی شه په روح سره پس شه وندی شو نو لکه چی
خاوری ئی په کن سره آدم کړی وی همداسی ئی بادهم په کُنۡ سره عیسیٰ کی او دا
حال د عیسیٰ چی دی اَلۡحَقُّ مِنۡ رَّبِّكَ حق دی چی راغلی دی له رب ستا ای رسوله
فَلَا تَکُنۡ پس له سره مه کیږه مِّنَ الۡمُمۡتَرِیۡنَ ﴿۶۰﴾ له شك راوړنکو فَمَنۡ حَآجَّكَ
فِیۡهِ پس هر څوك چی جګړه کوی له تا سره په باب د عیسیٰ ؑ یعنی په دی کښی چی بنده
او رسول دی مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الۡعِلۡمِ پس له هغه څخه چی راغلی تا ته علم
په بنده والی د ده سره فَقُلۡ تَعَالَوۡا پس ووایه و دوی ته چی راځی د پاره د مباهلی
نَدۡعُ اَبۡنَآءَنَا چی راو بولو موږ هم زامن خپل وَاَبۡنَآءَکُمۡ او راو بولی تاسی هم
زامن خپل وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَکُمۡ او ښځی زموږ او ښځی ستاسی هم راحاضر
کوو وَاَنۡفُسَنَا وَاَنۡفُسَکُمۡ ۟ قف او خپل ځانونه هم زموږ او هم ستاسی یا وابسته
د دوار و طائفو هم را حاضر کړو په یوه میدان کښی ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ بیا به سره تباهل
وکړو د لته ذکر د افتعال دی او مراد څنی تفاعل دی او تفسیر د تباهل

مه یعنی پوکی جبرائیل ؑ په کریوان د بی بی مریم کښی ۱۲ سه څکه چی تباهل په وکی د افتعال سره
په ویلو د یوه طرف سره راځی او په وزن د تفاعل سره په ویلو د دوار و طرفو سره راځی ومقام د تفاعل دی ۱۲

دا دی چې فَنَجْعَلْ پس وبه گرځوو یعنې وبه وایو موږ لَّعْنَتَ اللّٰهِ لعنت د خدای دی عَلَى الْكٰذِبِیْنَ ﴿۶۱﴾ پر دروا غجنو په حق د عیسیٰ کښې روایت دی چې هرکله دا ایت نازل شو نو رسول ؐ نصاریٰ ومباهلی ته راوبلل اودی هم راغلی او دواړه امامانؑ ئې هم د ځان سره راوستل سره له موږ او پلاره د دوی اودی ځلور وسره ووتی ئې وویل چې هرکله ما دعاکوله نو تاسې امین کوی بیا چې نصاریٰ وو دوی و لیدل نو هیبت ئې وشوله مباهلی څخه او صلحه ئې وکړه پردې چې هرکال به دوه زره حلې درکوو إِنَّ هٰذَا بیشکه دا حال د عیسیٰؑ چې تا ته بیان شو لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ج هرائینه دا خبره ده چې عیسیٰؑ بنده او رسول دی او نه خدای او نه ئې زوی دی وَمَا مِنْ إِلٰهٍ او نشته هیڅ څوك لائق د عبادت إِلَّا اللّٰهُ ط مگر یوازی خدای دی نه عیسیٰ وَإِنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدای چې دی لَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ﴿۶۲﴾ هرائینه هم دی دیر غالب دی په انتقام اخیستو کښې محکم دی په خپل تد بیر کښې فَإِنْ تَوَلَّوْا پس که شا کړه دوی له قبلولو ددی احکامو— فَإِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای عَلِیْمٌۢ بِالْمُفْسِدِیْنَ ﴿۶۳﴾ بنه پوه دی په احوالو او به جزا د مفسدانو قُلْ یٰۤاَهْلَ الْکِتٰبِ ووایه چې اے یهودو او نصاریٰ وو د مدینې تَعَالَوْا إِلٰى کَلِمَةٍ راځئ هغه خبری ته سَوَآءٍۭ بَیْنَنَا وَبَیْنَکُمْ چې برابره متفق علیها[سے] ده زموږ او ستاسی په مینځ کښې یعنې په قرآن او په تورات او په انجیل کښې چې هغه دری شیان دی أَلَّا نَعْبُدَ اول دا چې عبادت به نه کوو دری سره طائفې إِلَّا اللّٰهَ مگر یوازی د خدای بیله عیسیٰؑ او عزیرؑ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَیْئًا او دویم دا چې شریك به نه نیسو په ده پوری هیڅ شی وَّلَا یَتَّخِذَ بَعْضُنَا او دریم دا چې نه دی نیسی بعض له موږه بَعْضًا أَرْبَابًا بعضی نور خدایان مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ط بیله خدایه لکه یهود چې د خپلو عالمانو په خوله حلال حرام او حرام حلال کوی او نه لکه نصاریٰ چې خپلو

عه یعنې امام حسنؓ او امام حسینؓ چې لمسیان د رسول علیه السلام وو ۱۲ سه یعنې چې اتفاق کړه شوی دی زموږ او ستاسی پر هغه خبره کښې ۱۲

عالمانو ته به ئې سجدې کولې د دواړو بې اذنه د شرعي فَإِنْ تَوَلَّوْا پس که شا
کړه دوی له دې د دوسره خبرو څخه چې د دې سره کتابونه پر متفق دي
فَقُولُوا اشْهَدُوا پس ووایه وو دوی ته چې شا هدان اوسی بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿۶۴﴾
پر دې چې بیشکه موږ مسلمانان یو نه تاسی ځکه چې تاسی د خپل پیغمبر حکم نه
منی يَا أَهْلَ الْكِتَابِ اے یهودو او نصارٰی وو لِمَ تُحَاجُّونَ ولې جګړه کوی فِي
إِبْرَاهِيمَ په حق د ابراهیمؑ کښې چې یهودیان ئې یهودی بولی او نصرانیان ئې
نصرانی بولی وَمَا أُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ او حال دا چې نه دی رالیږل شوی تورات
وَالْإِنْجِيلُ او انجیل هم إِلَّا مِنْ بَعْدِهِ ط مګر د پس له زمانی د ابراهیمؑ ځکه
چې دی د زمانی د موسٰیؑ څخه زر کاله مخکې وو او له عیسٰیؑ څخه دوه سوه کم
دری زره کاله مخکې وو أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿۶۵﴾ ایا پس هیڅ عقل نه لری تاسی چې دا سے
بے وقوفه خبری کوی هَا أَنْتُمْ واورئ تاسی چې یاست هَؤُلَاءِ هغه احمقان
یاست حَاجَجْتُمْ چې جګړه کړی ده تاسے له ډیره حماقته فِيمَا لَكُمْ په هغه شی
کښې چې وو تاسے لره بِهِ عِلْمٌ د پر هغه شی پوه ځکه چې تورات او انجیل د دواړو پر
بې غیدلی دی چې هغه نعت د رسولؐ دی چې تاسے پس له لیدو یه د دواړ کښې
قول بدل کړی دی فَلِمَ تُحَاجُّونَ پس ولې جګړه کوی فِيمَا لَيْسَ لَكُمْ په هغه شے
کښې چې نشته تاسے لره بِهِ عِلْمٌ د پر هغه شی پوه هیڅ قدر چې هغه حال د
ابراهیمؑ دی ځکه چې تورات او انجیل کښې د هغه هیڅ قدر بیان نشته او تاسی ئې
له خپله ځانه څخه څوك یهودی بولی او څوك ئې نصرانی بولی وَاللَّهُ يَعْلَمُ او حال
دا چې خدای ښه پوهیږی په هغه شی چې تاسی پکښې جګړه کوی وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿۶۶﴾
او تاسے نه پوهیږئ په حقیقت د حال مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ نه وو ابراهیم يَهُودِيًّا یهودی
وَلَا نَصْرَانِيًّا او نه نصرانی وَلَكِنْ كَانَ او لیکن وو دی حَنِيفًا مُسْلِمًا ط چپ له فاسدو
عقیدو پاك موحد گردن نهاده خدای ته وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿۶۷﴾ او نه وو

دی له مشرکانو یعنې له یهودو څخه چې حضرت عزیرع ورسره شریکوي او نه له نصاراے
وو څخه چې عیسیٰ ع ورسره شریکوي روایت دی چې هرکله قریشو ایلچیان
ولیږل و نجاشي ته چې دا مهاجرین موږ ته راکه او هلته ئې جعفر طیار رض سره مناظره
وکړه او ایلچیان ئې ډیر خفه کړه نو جعفر رض وویل چې خدای به د له د ابراهیم ع نه
تار په تار کوي ایلچیانو وویل چې د له د ابراهیم ع څوك دی نجاشي وویل چې دا
جعفر او ملګری دده او پیغمبر ددوی دی نو په تصدیق ددې قول د نجاشي
کښې نازل شو اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بیشکه ډیر نژدې چې دی له ټولو خلکو بِاِبْرٰهِيْمَ
ابراهیم ع ته لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ هغه ائینه هغه کسان دي چې پیروي ئې کړی ده دده
یعنې خپل امت ئې وَهٰذَا النَّبِيُّ او بل دا پیغمبر دی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ط او هغه
کسان دي چې ایمان ئې راوړی دی له امته دده وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۸﴾ او
خدای دوست دی د مؤمنانو روایت دی چې هرکله یهودو حذیفه یماني
او عمار بن یاسر او معاذ بن جبل و بلل دین د یهودیت ته نو نازل شو وَدَّتْ
طَّآئِفَةٌ عه دوست ګڼړی او ارمان کوي یوه طائفه مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له اهل
کتابو څخه یعنې له یهودو څخه لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ط ددې چې ولغزوي تاسې له خپل دین
څخه او دا لَوْ په معنیٰ د اَنْ دی وَمَا يُضِلُّوْنَ او نه لغزوي دوی په واقعه کښې
اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ مګر ځانو نه خپل ځکه چې وبال او عذاب ئې هم دوی ته راجع کیږي
وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۹﴾ او دوی نه پوهیږي په دې چې دا زیان هم زموږ دی
يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ اے یهودو او نصاری وو لِمَ تَكْفُرُوْنَ ولې کفر اختیاروی بِاٰيٰتِ
اللّٰهِ په هغه ایتو د خدای چې په تورات او په انجیل کښې راغلی دي په نعت د
رسول کښې وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۷۰﴾ او حال دا چې تاسې شاهدی وایاست په
حق والی د تورات او د انجیل يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ اے یهودو او نصاری وو لِمَ
تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ ولې ګډوی حق په دین د اسلام یا ایتونه

عه یعنې له خپله ځان جوړ کړی او فضاً ستاسې دی پیغمبر لره

د تورات دی بِالْبَاطِلِ له باطل سره چې دین د یهودیت او د نصرانیت دی یا هغه
خود ساخته نعت ستاسی دی چې مخالف هم له واقعې او هم له توراته دې ع ۸
وَتَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ او پټوی حق وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۱﴾ او حال دا چې تاسی پوهیږئ ۱۵
چې موږ حق پټوو روایت دی چې هر کله کعب بن اشرف یا خو احبار و
د خیبر داسی فریب بناء کی چې په اول د ورځی کښې به ئې دین د اسلام قبول کړو
او بیا په اخر د دی ورځی کښې به ئې بیرته پرېږدو او دا به وایو چې دا دین رانه
باطل ښکاره شو نو شاید چې بعض اصحاب رض ئې هم پرېږدی په دی چې دا خلک خو
په علم کښې پوهنده دی او منصفان هم دی ځکه ئې دا دین قبول کی او هر کله چې
دوی بیا بیرته وګرځېدل نو معلومه شوه چې دا دین باطل دی نو د پاره د ښکاره
کولو د دی فریب و مؤمنانو ته نازل شو وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ او وائی یوه طائفه
سره په خپل مینځ کښې مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ له یهودو څخه اٰمِنُوْا ایمان راوړئ
بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ پر هغه کتاب (قران) چې رالیږل شوی دی عَلَى الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا پر
هغه کسانو چې ایمان ئې راوړی دی وَجْهَ النَّهَارِ په اول د ورځی کښې چې
منصفان ورته ښکاره شئ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ او بیا ئې کافران شئ په اخر د ورځی
کښې چې دا دین ورته باطل ښکاره شی لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾ بنائې چې دوی هم
بیرته وګرځی (پرېږدی) روایت دی چې هر کله دا فریب د دوی خدای و
مؤمنانو ته ښکاره کی نو بیا ئې د مدینی و یهودو ته وویل وَلَا تُؤْمِنُوْٓا او تصدیق
خپل مه ښکاره کوی و هیچا ته اِلَّا لِمَنْ مګر و هغه چا ته او د لام زائده دی
تَبِعَ دِیْنَكُمْ چې تابع وی د دین ستاسی چې یهودیت دی قُلْ اِنَّ الْهُدٰى
وو ایه و دوی ته چې بیشکه دین د حق هُدَى اللّٰهِ هم دا دین د خدای دی چې
اسلام دی او دا جمله معترضه مقوله ده د خدای چې واقع شوی ده د فعل
او د مفعول په مینځ کښې چې فعل لا تؤمنوا دی او مفعول دا قول د یهودو دی

عه یعنی له خپله ځان جوړ کړی اوصاف ستاسی د پیغمبر لره ۱۲

چې اَنۡ یُّؤۡتٰۤی ددی خبری چې ورکړه شویدی یعنې مه بنکاره کوی تصدیق د دی خبری اَحَدٌ بل چا لره غیرله تاسې هم مِّثۡلَ مَاۤ اُوۡتِیۡتُمۡ په شان دهغه فضل اوعلم اوحکمت چې درکړه شوی دی تاسی ته اَوۡ یُحَآجُّوۡكُمۡ یا د اچې غالب شی دا مؤمنان پر تاسی په حجت باندې کښې عِنۡدَ رَبِّكُمۡ ؕ په نزد د رب ستاسې په ورځ دقیامت یعنې دا ټولې خبری هیچا ته مه بنکاره کوی غیر له خپلوهم دینانو حاصل دا چې اگرکه تاسی ته دا خبره بنه معلومه ده چې په واقعه کښې دوی لره هم علم او فضل او حکمت ورکړه شوی دی ستاسې په شان اوبل دا چې په حجت کښې به هم دوی په تاسې غالب وی په ورځ دقیامت اما دا حال ومؤمنانو ته مه بنکاره کوی چې زړور به شی دوی باندی اومشرکانو ته ئې هم مه بنکاره کوی چې مبادا د دوی دین ئې خوښ نه شی قُلۡ اِنَّ الۡفَضۡلَ ووایه چې بیشکه فضل یعنې علم اوحکمت چې دی بِیَدِ اللّٰهِ ۚ په لاس د خدای کښې دی یُؤۡتِیۡهِ مَنۡ یَّشَآءُ ؕ ورکوی ئې وهغه چا ته چې اراده ئې وشی رسول اوامت دده ته وَاللّٰهُ وَاسِعٌ اوخدای چې دی لوی دی رحمت دده عَلِیۡمٌ ﴿۷۳﴾ بنه دانادی په لائقانو د فضل یَّخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهٖ چې خاصوی په رحمت خپل سره چې اسلام یا قران یا پیغمبرد ے مَنۡ یَّشَآءُ ؕ هرهغه څوك چې اراده ئې وشی وَاللّٰهُ او خدای ذُو الۡفَضۡلِ الۡعَظِیۡمِ ﴿۷۴﴾ څښتن د لوی فضل دی پر مؤمنانو وَمِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ او بعض له اهل کتابو څخه مَّنۡ اِنۡ تَاۡمَنۡهُ هغه څوك دی چې که امین کړی ته دوی بِقِنۡطَارٍ په قنطار سره چې زر اواووه سوه اوقیې دی اوهره اوقیه څلویښت درهمه ده یُّؤَدِّهٖۤ اِلَیۡكَ ۚ نو بیرته به ئې وسپاری داټول مال وتا ته لکه عبد الله بن سلام چې شوچې قریشی یو قنطار سره زر دده سره ایښی وه بیاچې هغه ئې خندی طلب وکړی نو امانت ئې ورو سپارل بیله خیانته وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ اوبعض له دی اهل کتابو څخه هغه څوك دی اِنۡ تَاۡمَنۡهُ

بِدِيْنَارٍ چې که امین ئې کړې ته په یو دینار لَا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ نو ادا به نه که دا
دینار و تا ته اِلَّا مَا دُمْتَ مگر چې همیشه اوسې ته عَلَيْهِ قَآئِمًا د پردہ ولاړ د
پاره د غوښتلو د امانت خپل لکه یهودي چې شو چې دوی د پرخیا نتګردي یا
فنحاص بن عازورا چې یو قریشي ورته یو دینارا امانت ایښې وو بیا دی پرمنکر
شو ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ دا خیانت د دوی په دې سبب دی چې بیشکه دوی ـ
قَالُوْا وائی دوی لَيْسَ عَلَيْنَا چې نشته پرموږ فِى الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ج په
حق د دوی امیانو کښې چې اهل کتاب نه دی هیڅ ګناه او عذاب په آخرت کښې او دا به
ئې ځکه وېل چې د دوی اعتقاد دا وو چې هرڅوک چې په تورات نه پوهیږي
هغه امی دی او مال ئې پرموږ حلال دی او دوی به وېل چې په تورات کښې حکم
هم داسې دی ځکه پرورد ګار وائی وَيَقُوْلُوْنَ او وائی دوی عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ
پر خدای د رواغ دا چې تورات کښې هم داسې حکم دی وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ او
حال دا چې دوی پوهیږي پخپل د رواغو بیا پرورد ګار وائی بَلٰى ولې نشته
پر دوی عذاب بلکه شته دی پر دوی عذاب او ګناه د خیانت مَنْ اَوْفٰى
هرڅوک چې وفا وکي بِعَهْدِهٖ په هغه وعده د خدای چې په تورات کښې ئې
را لیږلې وه په متابعت د رسول یا په ادا کولو د امانت وَاتَّقٰى او پرهیز
وکي د حرامو څخه فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۷۶﴾ دوست
ګڼي پرهیزګاران روایت دی چې هرکله احبارو د یهودو نعت د رسول
علیه السلام او حکم د امانت او د رجم چې په تورات کښې وو په لړ رشوت بدل کی
نو نازل شو اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان يَشْتَرُوْنَ چې پیري او بدل اخلي
بِعَهْدِ اللّٰهِ په هغه عهد د خدای چې دوی کړی وو په ایمان راوړو د رسول او په
وفا د امانت وَاَيْمَانِهِمْ او په قسمو خپلو چې دوی کړی وو او داسې ئې وېلي وو
چې واللّٰه لنؤمنن به ولننصرنه یعني قسم دی چې به ایمان پر راوړو او مدد به

ور سره کو و ثَمَنًا قَلِیْلًا مبلغ کم چه څه قدر او ر نشی وی یا څوګزه خاماً وه
اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی لَا خَلَاقَ لَهُمْ نشته هیڅ برخه د وی لره فِی الْاٰخِرَةِ په
هغه جهان کښې وَلَا یُکَلِّمُهُمُ اللّٰهُ او خبری دخوشحالی به هم ورسره و نه کی
خدای وَلَا یَنْظُرُ اِلَیْهِمْ او نظر د رحمت به هم ونه کی دوی ته یَوْمَ الْقِیٰمَةِ په
ورځ د قیامت وَلَا یُزَکِّیْهِمْ ص او نه به ئے پاك کی له ګناهو او نه به ښه پر ووائی
وَلَهُمْ او مقرر دی دوی لره عَذَابٌ اَلِیْمٌ (۷۷) عذاب دردناك وَاِنَّ مِنْهُمْ
او بیشکه بعض له دی اهل کتابو څخه لَفَرِیْقًا هر ائینه یو ټولی دی لکه کعب بن اشرف
او مالك بن ضیف او دا سے نور احبار شول یَلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ چه اړوی دوی ژبی
خپلی بِالْکِتٰبِ په کتاب دخدای کښې یعنی ایتونه د تورات په بل مخ چیه کوی لکه ایت درجم
یا د امانت یا دنعت نبوی او له خپله ځانه عبارتونه پکښی اچوی لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ
الْکِتٰبِ د پاره د دی چه وګنی تاسے دا عبارت د دوی له کتابه (تورات) څخه وَمَا هُوَ مِنَ
الْکِتٰبِ او حال دا چه نه دی دا خود ساخته عبارت له کتابه (تورات) څخه وَیَقُوْلُوْنَ
او صرف د دهوکی ورکولو د پاره هم په د غه طریقه باندی اکتفا نه کوی بلکه په ژبه
سره هم وائی هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ چه دا لفظ یا مطلب د الله پاك د نزد څخه الفاظ یا
قواعد نازل شوی دی د هغی څخه ثابت دی وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ حالانکه هغه
په هیڅ شان د خدای د نزد څخه نه دی پس د هغوی د روغ کیدل لازم شوه وَ
یَقُوْلُوْنَ او صرف د دهوکی ورکولو د پاره هم په د غه عملی طریقه باندی اکتفاء نه
کوی بلکه په ژبه سره هم وائی عَلَی اللّٰهِ الْکَذِبَ پر خدای د رواغ چه د خپل کلام
نسبت و خدای ته کوی وَهُمْ یَعْلَمُوْنَ (۷۸) او حال دا چه دوی پوهیږی په خپلو ۔
د رواغو روایت دی چه هرکله نصاری وویل چه عیسی علیه السلام دعوه د خدائی
کړی وه او خپل امت ئی د ځان په عبادت مامور کړی و و یا کوم اصحابی ورسول
علیه السلام ته وویل چه که اذن وی چه مونږ و تا ته سجدی کو او ده په جواب

کښېنه ووېل چې لاینبغی ان یسجد لاحد من دون الله ولکن اکرموا نبیکم واعرفوا
الحق لاهله نو نازل شو مَا كَانَ لِبَشَرٍ نه ښائي هيڅ بشر لره اَنْ يُّؤْتِيَهُ الْكِتٰبَ
پس له دې چې ورکې ده لره خدای کتاب وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ د احکامو شرعيه وو او
نبوت ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ بيا پس له دې تو لو والی دی و خلکو ته كُوْنُوْا عِبَادًا
لِّيْ چې شئ عبادت کونکي ما لره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بېله خدايه وَلٰكِنْ كُوْنُوْا او ليکن
شئ تاسې رَبّٰنِيّٖنَ عالمان او عاملان بخیلان او معلمان د نورو خلکو بِمَا كُنْتُمْ
او په سبب د دې چې یاست تاسو تَدْرُسُوْنَ ﴿۷۹﴾ چې تدریس کوی یعنې و خلکو ته ښو
ونه کوی د احکامو شرعيه وو وَلَا يَاْمُرَكُمْ او نه ښائي دا چې امر وکې دا بشر تاسې
ته اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ ددې خبرې چې و نیسی تاسې ملائکې وَالنَّبِيّٖنَ او پيغمبران
اَرْبَابًا خدایان لکه مشرکان چې د ملائکو عبادت کوی او یهود د عزیر او نصارٰی د
عیسٰی اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ ايا امر کوی دا بشر تاسې ته په کافر کيد وسره بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ
پس له هغه چې یاست تاسې مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾ غاړه ايښوونکی و دين د اسلام ته ع ۸ ۹ ۱۶
روايت دی چې هر کله خدای اراده وکړه د ښکاره کولو د مرتبې او د قرب او د
شرافت او د علوشان د رسول عليه السلام په اولينو او په اخرينو په جن او
انس او په ملائکو او انبیاؤ او اصفیاؤ او په سائرو مخلوقاتو کښې نو نازل شو وَاِذْ
اَخَذَ اللّٰهُ او یاد که هغه چې واخيسته خدای مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ عهد له ټولو پيغمبرانو
او هر چې امتونه د دوی دی هغه خو تابع دی د دوی په دې خبره کښې لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ
هر اینه هغه شی چې ورکړم زه و تاسې ته مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ له کتابه او له حکمته چې
بوره ده په دې کتاب ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ بيا پس له هغه راشي و تاسې ته هغه پيغمبر
چې نوم ئې محمد دی مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ چې منونکې دی د هغه کتاب او حکمت چې
د تاسې څخه دی لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ نو هر اینه ایمان به راوړی خامخا پر ده وَلَتَنْصُرُنَّهٗ او هر اینه

عه يعني نه ښائی دا خبره چې سجده دې وکړه شي هيڅا ته بېله پروردګاره ليکن عزت او حرمت د نبي خپل دې کوی او پېژنۍ
هغه حق چې سجده کول دی اهل او لائق خپل لره يعنې سجده بېله خدايه هيڅا ته مه کوی نه ما ته او نه بل چا ته ۱۲
سه چې کتاب او حکم او نبوت دی ۱۲

مد د به کوی ور سره ضرور که ستاسے په زمانه کښے پیدا شو او که نه وو نو هر لوئے
خپل امت ته اوصاف دده ظاهر کړی او بیا دی ئې ماموره کی په مددګاری دده او دا
تیرفعلین انشا دی په صورت د اخبار قَالَ ءَ اَقْرَرْتُمْ وویل رب چه آیا اقرار وکی
تاسے وَاَخَذْتُمْ عَلٰی ذٰلِكُمْ او واخیسته تاسے په دی ایمان راوړ او په مدد کولو
د رسول باندی اِصْرِیْ د عهد او پیمان زما چه همدا سے به وکړو قَالُوْا اَقْرَرْنَا
هغوی وویل موږ اقرار وکړو قَالَ فَاشْهَدُوْا بیا وویل رب پس شاهدان شئ۔
هریو پربل باندی وَاَنَا مَعَكُمْ او زه له تاسے سره مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿۸۱﴾ له شاهدانو یم پردی
اقرار فَمَنْ تَوَلّٰی پس هر څوك چه شاکړی وو دی ایمان او نصرت ته بَعْدَ ذٰلِكَ پس له
دی عهده فَاُولٰٓئِكَ پس دغه شاکونکی چه دی هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۸۲﴾ هم دوی فاسقان
دی چه عهد ته ئې شاکړی دہ اَفَغَیْرَ دِیْنِ اللّٰهِ آیا پس له دینه د خدای یَبْغُوْنَ غواړی
دا کافران بل دین وَلَهٗٓ اَسْلَمَ او حال دا چه خاص دہ ته غاړه ایښی ده مَنْ فِی
السَّمٰوٰتِ هر هغه چا چه په اسمانو کښے دی وَالْاَرْضِ او چی په مځکه کښی دی۔
طَوْعًا وَّ کَرْهًا هم په خوښه او هم په نا خوښه وَاِلَیْهِ یُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ او بیا خاص
هم ورده ته بیرته به بیول کیږی دا طا ئعان او کارهان ټول قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ۔
وو ایه چه ایمان راوړی دی موږ پرخدای چه واحد بلا شریك دی وَمَآ اُنْزِلَ
عَلَیْنَا او پر هغه قران چی را لیږل شوی دی پر موږ وَمَآ اُنْزِلَ او پر هغه چی را
لیږل شوی وو عَلٰٓی اِبْرٰهِیْمَ پر ابراهیم چه هغه سل صحیفے وی وَاِسْمٰعِیْلَ وَاِسْحٰقَ
او په اسماعیل او په اسحاق چه دواړه دده زامن وو وَیَعْقُوْبَ او پر یعقوب
وَالْاَسْبَاطِ او پر اولاده دده فائده اگرکه دوی لره علیحده کتاب نه وو راغلے
اما هر کله چه دوی هم عمل په صحیفو د ابراهیم کاوی نو نسبت ئې دوی ته هم صحیح
دی لکه موږ چه وایو قران پرموږ راغلے دی وَمَآ اُوْتِیَ مُوْسٰی او پر هغه تورات
چه ورکړی شوی دی موسٰے علیه السلام وَعِیْسٰی او عیسٰی ته چه انجیل دی وَالنَّبِیُّوْنَ

عه هر کړدن ایښو نکی په خوښه ۱۲ عه هر کړدن ایښو نکے په نا خوښه ۱۲

او نورو پیغمبرانو ته لکه شیث؏ او ادریس؏ او شعیب؏ او داوٗد؏ چه شو چه دوی ته هم
کتابونه راغلے وو وَمِنْ رَّبِّهِمْ ص له جانبه د رب دوی لَا نُفَرِّقُ فرق نه کوو مونږ
بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ ز په مابین دیوه کښے هم له دوی څخه په ایمان راوړو کښے یعنی مونږ
پر ټولو ایمان راوړی دی او د یهودو او نصرئ وو په شان نه کوو چه بعض لره منو
او بعض لره نه منو وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُونَ ﴿۸۴﴾ او مونږ ده ته غاړه ایښوونکی یو په ټولو
اوامرو او نواهیو کښے وَمَنْ يَبْتَغِ او هر څوك چه غواړی غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا بیله دینه د
اسلام څخه بل دین فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ ج پس له سره به قبول نه کړه شے له ده څخه وَهُوَ فِي
الْآخِرَةِ او حال دا چه وی به دی په آخرت کښی مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿۸۵﴾ له زیا نکارانو څخه
په سبب د ترك د دین د اسلام روایت دی چه یو ټولی د کفارو اسلام راوړی
وو او بیا مرتد شول او له مکی څخه لاړه نو د دوی په حق کښے نازل شو كَيْفَ يَهْدِي
اللّٰهُ څرنګه به سمه لار روښانه کړی خدای قَوْمًا كَفَرُوا هغه ټولی ته چه کافر شوی دی
بَعْدَ إِيمَانِهِمْ پس له ایمانه د دوی وَشَهِدُوا او حال دا چه شاهدی ویلی وه
دوی پردی چی أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ بیشکه دا رسول حق دی وَّجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ط
او راغلی دی دوی ته ښکاره نښے یعنی قرآن یا نوری معجزی وَاللّٰهُ او خدای
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿۸۶﴾ سمه لار نه ښیی هیسے ټولی ته چه ظالمان وی په دے
چه ایمان ئی په کفر بدل کړی دی أُولٰئِكَ دا کسان چه دی جَزَاؤُهُمْ جزا د
دوی چه ده أَنَّ عَلَيْهِمْ دا ده چه بیشکه همیشه دی پردوی لَعْنَةَ اللّٰهِ لعنت د
خدای چه هغه لیری والے دی له رحمته دده وَالْمَلٰئِكَةِ او د ملائکو هم چه هغه
بلا سیٰ ده له دوی څخه وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿۸۷﴾ او د ادمیانو ټولو چه هغه ویل دی پردوی
خٰلِدِينَ فِيهَا ج همیشه، به وی دوی په دی لعنت کښے یعنی په دوزخ کښے په سبب
د دی لعنت لَا يُخَفَّفُ سپك به نه کړے شی عَنْهُمُ الْعَذَابُ له دوی څخه عذاب
د دوزخ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۸﴾ او نه به وی دوی چه مهلت به ورکړه شے دوی

لره اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مګر هغه کسان چې بیرته راوګرځي و اسلام ته مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ -
پس له دې مرتد کیدو څخه وَاَصْلَحُوْا تو اونیکي ئې اختیار کړه فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ پس
بیشکه خدای بخښونکی د تیرو ګناهو دی رَّحِيْمٌ ﴿۸۹﴾ مهربانه دی پر بندګانو خپلو اِنَّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چې کافر شوي دي له یهودو په عیسیٰ او په انجیل
بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ پس له ایمان راوړو ددوی پر موسیٰ او پر تورات ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا
بیا زیات شوي دي له جهته د کفره ددوی پر رسول علیه السلام یعنې اول ئې کفر
یکچنده وو بیا دوه چنده سو لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ج له سره به قبوله نه کړه شي
توبه ددوی وَاُولٰٓئِكَ او دا کسان چې دي هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿۹۰﴾ هم دوی دي ګمراهان
اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چې کافران دي وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ او مړه
شي او حال دا چې دوی لا هم هغسې کافران وي په وخت د مرګ کښې هم فَلَنْ يُّقْبَلَ
پس له سره به قبول نه کړه شي مِنْ اَحَدِهِمْ له یوه له دوی څخه مِلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا
ډکوالې یعنې پیمانه د تولې مځکې له سروزرو وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ او اګر که فدیه ورکړي دا
تول زر حاصل دا چې که هر یو کافر تمام روئ زمین په سروزرو پیمانه کړي او بیا
دخپل ځان په فدیه کښې ئې ورکوي نو له عذابه د دوزخ به په خلاص نه شي
اُولٰٓئِكَ دا کسان چې پر کفر مړه دي لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ مقرر دي دوی له عذابه ۹
دردناکه وَمَا لَهُمْ او نه به وي دوی لره مِنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۹۱﴾ هیڅوک له مددګارانو ع ۱۱
څخه چې له عذابه ئې خلاص کړي ۱۷

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ له سره به بیا نه مومئ تاسې نیکي کامله یا جنت حَتّٰى تُنْفِقُوْا
ترهغو پورې چې ورکړئ تاسې په جهت د خدای مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۵ له هغه ماله چې
ډیر پر مین یاست تاسې وَمَا تُنْفِقُوْا او هغه چې ورکوئ ئې تاسې مِنْ شَيْءٍ له کوم
شي څخه که لږ وي که ډیر فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۹۲﴾ پر هغه
ښه دانا دی روایت دی چې هر کله یهودو وویل رسول ته چې ته وائی زه

پر دین دا براهیم ؑ بیو او غوښې او شیدې د اوښانو چې په هغه حرام وو او ته ئې خوری
نو نازل شو كُلُّ الطَّعَامِ هر قسم طعام چې دی که اوښ که غیر دی دا تول كَانَ حِلًّا
وو حلال لِّبَنِيٓ اِسۡرَآءِيۡلَ وزامنو د یعقوب ؑ تہ اِلَّا مَا حَرَّمَ مگر هغه شے چې په خپله
حرام کړی وو اِسۡرَآءِيۡلُ یعقوب ؑ عَلٰى نَفۡسِهٖ پر خپل ځان او هغه غوښه او شیدې
وی د اوښانو مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ پخوا له هغه تُنَزَّلَ التَّوۡرٰىةُ ؕ چې رالیږل کیدی تورات
قُلۡ فَاۡتُوۡا بِالتَّوۡرٰىةِ ووایه چې راوړۍ هغه نسخه د تورات چې صحیحه ده فَاتۡلُوۡهَا
پس وی وایاست تاسې چې حرمت د دی شیانو په معلوم شے اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۹۳﴾
که یاست تاسې رشتینی او بیا یهودو اِبَا وکړه له حاضرولو ځنی د تورات نو دروغ
ئې وهرچاته ښکاره شوه فَمَنِ افۡتَرٰى پس هر چا چې و تړل عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ پر
خدای دروغ چې دا په ابراهیم ؑ هم حرام وه مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ پس له هغه چې ښکاره
شوه دا خبره چې حرمت د دی شیانو ځکې تر یعقوب ؑ نه وو فَاُولٰٓئِكَ پس دا دروغ
گویان چې دی هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿۹۴﴾ هم دوی ظالمان دی چې حق ئې پر ایښے دی
قُلۡ صَدَقَ اللّٰهُ ؕ ووایه چې رشتیا ویلی دی خدای چې دا حلال وو پر ابراهیم ؑ
او تاسې دروغ وایاست چې پر حرام وو فَاتَّبِعُوۡا مِلَّةَ اِبۡرٰهِيۡمَ پس پیروی وکړی
تول د دین د ابراهیم علیه السلام حَنِيۡفًا ؕ چې چپ عه وو له هره باطله دینه ځنې او موحد عه
وو وَمَا كَانَ اونه وو دی مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۹۵﴾ له مشرکانو ځنې روایت دی چې
هر کله یهودو وویل و مؤمنانو ته چې زموږ قبله ستاسې له قبلې ځنې پخوانۍ ده
نو نازل شو اِنَّ اَوَّلَ بَيۡتٍ بیشکه اوله کوټه د ځمکې پر سر وُّضِعَ لِلنَّاسِ چې سازه
کړه شوی ده خلگو لره د پاره د عبادت لَلَّذِىۡ بِبَكَّةَ هرآئینه هغه ده چې په مکه کښې
یعنې کعبه شریفه لکه حدیث دی چې انّ المسجد الحرام وضع قبل بیت المقدس
باربعین سنة مُبٰرَكًا په دی حال چې ځکه ده له برکته او منفعته وَّهُدًى او لار

عه چې گرځېدونکی وو له هره باطله ځنې وحق ته ۱۲ عمه یعنې خدای پاک ئې واحد لاشریك گڼلو ۱۲ عه یعنې په تحقیق سره د امسجد حرام چې دی ایښودلے شوی دی او جوړ کړه شوی دی اول له بیت المقدس ځنې څلویښت کاله ۱۲ منه ؟

د خدای یا د جنت بنوونکی ده لِلْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۶﴾ تمامو خلکو ته فِیْهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ دی په دې کښې نبې ښکاره لکه چپیدل د مرغانو له بامه ځنې د کعبې او مقهوره کیدل د هر بد اختیاره لکه اصحٰب فیل او ورکول کیدل د تیږو د رمې په منیٰ کښې او یوځای گرځیدل د لیوانو د هوسیو سره په حرم کښې او یوه غټه نښه پکښې مَقَامُ اِبْرٰهِیْمَ ځای دی د دریدلو د ابراهیمؑ او دا یوه تیږه ده چې په وخت د هسکولو (جگولو) د دیوالو د کعبې چې دی پر دریدې نو قدمونه ئې تر پرکو پکښې ښخ شوی وه وَمَنْ دَخَلَهٗ او هر څوک چې داخل شو په دی کعبه کښې کَانَ اٰمِنًا ط شی به په امان له عقوبته تر څو چې پکښې وی وَلِلّٰهِ عَلَی النَّاسِ او لازم دی خدای لره پر خلکو حِجُّ الْبَیْتِ قصد د بیت الله شریف په نیت د حج مَنِ اسْتَطَاعَ پر هر هغه چا چې طاقت لری اِلَیْهِ سَبِیْلًا دی بیت ته د لاری چې هغه په نزد د امام اعظمؒ شپږ شیان دی صحت د بدن او د بصر قدرت پر زاد او پر راحله امن د لاری چې غالب پکښې سلامتی وی نفقه د عیال خپل تر بیرته راتلو ده پوری روایت دی چې هر کله اٰیت د حج راغلی نو رسولؐ قول اهل ادیان راجمع کړل له جهته د عموم د خطابه او ورته ئې وویل چې اِنَّ اللّٰهَ کَتَبَ عَلَیْکُمُ الْحَجَّ فَحُجُّوْا نو د مؤمنانو طائفې دا امر قبول کی او باقی پنځو طائفو وویل چې نه ایمان پر راوړو او نه ورته لمونځ کوو او نه حج لره ورځو نو نازل شو وَمَنْ کَفَرَ او هر څوک چې کافر شې په فرضیت د حج باندی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه چې خدای غَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۷﴾ بې پرواه دی له درستو عالمیانو ځنې قُلْ یٰۤاَهْلَ الْکِتٰبِ ووایه چې ای اهل کتابو لِمَ تَکْفُرُوْنَ ولې کفر اختیاروی بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ق په اٰیاتو د خدای پوری چې دال دی په صدق د رسولؐ خصوصًا په باب د حج کښې وَاللّٰهُ شَهِیْدٌ او حال دا چې خدای

ع مغلوبه کیدل او په قهر اخته کیدل د هر بد او ناکاره سړی په دی کښې ۱۲ ععه یعنې هغه وړی وړی د برف چې په وخت د حج کښې په مزدلفه کښې خلقو هغه د ری سره جمری په وی نو سره د دوی چې ډیر مخلوق وی او وړی وړی د برف وُلی لیکن خدای ئې خپل قدرت سره ورکوی په هغه ځای کښې وړی نه معلومیږی لکه په حدیث شریف کښې راغلی دی چې مقبولې خدای وا سمان ته خیژوی ۱۲ ص یعنې په تحقیق سره خدای فرض کړی دی پر تاسې کلل ځانه کعبې ته پس قصد کوی تاسې ورته کعبې ته ۱۲

شاهد او خبردار دی عَلٰی مَا تَعْمَلُوْنَ (۹۸) پر هغه کار وچه کوی ئې تاسې قُلْ یٰۤاَهْلَ الْکِتٰبِ
ووایه چه ای اهل کتابو لِمَ تَصُدُّوْنَ ولې اړوی عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ له لارې د خدائ
چه دین د اسلام دی مَنْ اٰمَنَ هغه څوک چه ایمان ئې راوړی وی لکه عمار او
نور ملګری دده یا عام مسلمانان تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا په دې حال کښې چه پیدا کوی تاسې
سمې لارې د خدای له کوږوالی په تبدیل[عه] د نعت محمدی او په انکار له ډیرو احکامو او
په جنګ اچولو د مؤمنانو وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ط او حال دا چه تاسې شاهدان یاست
هم له توراته او هم له انجیله پردې چه غوره دین په ټولو ادیانو کښې اسلام دی وَمَا اللّٰهُ
بِغَافِلٍ او نه دی خدای ناخبره عَمَّا تَعْمَلُوْنَ (۹۹) له هغو کار و چه کوی ئې تاسې
روایت دی چه شاش بن قیس یهودی یو وړځ په د له د اوس او د خزرج تیر شو
او دوی خوږ مجلس سره کاوی نو یوه زلمی ئې ورولیږی او تیری دښمنی او جنګونه
او پیغورونه ئې ور یادکړل او په جنګ ئې سره واچول نو ډیر مخلوق راجمع شو او
نارې شوې السلاح او رسول[عه] ئې څخه راغی او دوی ته ئې وویل چه تاسې بیا
هغه د جاهلیت کارونه برپا یه کړه پس له راوغی او دوستی او اسلامه او زه لا هم
په مینځ کښې ناست یم نو پښیمان شو او وسلې ئې وغورځولې او سره غاړه په غاړه شو
نو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اې مؤمنانو اِنْ تُطِیْعُوْا که فرمان ومنی تاسې
فَرِیْقًا مِّنَ الَّذِیْنَ د یوې فرقې له هغو کسانو اُوْتُوا الْکِتٰبَ چه ور کړه شوې دی ورله
کتاب لکه شاش بن قیس او ملګری دده یَرُدُّوْکُمْ نو بیرته به وګرځوی تاسې بَعْدَ
اِیْمَانِکُمْ پس له ایمان راوړلو ستاسې کٰفِرِیْنَ (۱۰۰) کافران وَکَیْفَ تَکْفُرُوْنَ او څرنګه
به کفر اختیاروی تاسې وَاَنْتُمْ او حال دا چه تاسې چه یاست تُتْلٰی عَلَیْکُمْ لوستل
کیږی پر تاسې اٰیٰتُ اللّٰهِ ایتونه د خدای یعنی قران وَفِیْکُمْ رَسُوْلُهٗ ط او دی په تاسې
کښې استاذی دده وَمَنْ یَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ او هر څوک چه منګولې ئې بندې کړی په
خدای یعنې په دین یا په کتاب دده فَقَدْ هُدِیَ پس په تحقیق برابر کړې شو دی اِلٰی صِرَاطٍ

عه په بدلولو د صفت د محمد صلی الله علیه وسلم ۱۲　عه یعنی راوا خلی وسله راوا خلی وسله ۱۲

ع ۱ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۱۰۱﴾ لاری سمی او لندی ته يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ای مؤمنانو وبیریږئ
له خدایه حَقَّ تُقٰتِهٖ حق د بیری دده او علماء وائی چه دا په دری کارو سره کیږی چه تل
فرمانبرداری کوی او هیچیری گناه نه کوی او تل شکرگذاره وی او هیچیری بی قدرے
نه کوی او تل یادګاره وی او هیچیری هیرول نه کوی او دا حکم بیا په نزد د اکثرو منسوخ
شوی دی په دی ایت چه فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ یعنی پرهیزکوی چه مقدور وی ستاسے
وَلَا تَمُوْتُنَّ اوله سره مه مری تاسے اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ مگر هله چه یاست تاسی
مسلمانان اود اَنْهی په حقیقت کښے امر دی یعنے مدام په اسلام کلک او قائم اوسے چه
که هر وخت مرګ راشے پر تاسے نو په حال د اسلام کښے به ولاړ شے وَاعْتَصِمُوْا اومنګولے
بنځے کړی په رشتیا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا په پړی د خدای چه قران دی قول لکه چه حدیث
کښے راغلے دی القراٰن حبل الله المتين الخ وَّلَا تَفَرَّقُوْا اَو او مه سره مختلف کیږی لکه
اختلاف د یهود و او نصاریٰ وو یا لکه اختلاف ستاسی چه وو پخوا په زمانه د جاهلیت
کښے وَاذْكُرُوْا او یاد کړی نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ نعمت د خدای پر تاسے چه هغه اسلام او قران
او هجرت د پیغمبر تاسے ته دی او یاد کړی اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً هغه وخت چه واست تاسی
دښمنان سره پخپلو کښے په اسلام سره فَاَصْبَحْتُمْ پس سو واست تاسے بِنِعْمَتِهٖ اِخْوَانًا ج
په رحمت دده سره وروڼه په دین کښی یا لکه دیوی مور زامن په دوستی او په محبت
کښی وَكُنْتُمْ او واست تاسے عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ په غاړه د کندی مِّنَ النَّارِ له اور ه د دوزخ
په سبب د ګمراهۍ او د کفر فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا د پس خلاص ئې کړلاست تاسے له هغه کندی
یا له اوره په اسلام سره كَذٰلِكَ هم داسے لکه چی دا تیر بیان ئې وکی د عداوت او بیا د
محبت ستاسے يُبَيِّنُ اللّٰهُ بیانوی خدای لَكُمْ اٰيٰتِهٖ تاسے ته نښی د قدرت او د وحدانیت
خپل لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ بنا ئې چه تاسے محکم شی په هدایت خپل وَلْتَكُنْ او میبا ید
چه وی دی همیشه مِّنْكُمْ اُمَّةٌ له تاسے یوه تو له يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ چه بولی خلق
نیکی ته که د دین که د دنیاوی یا الفت او نفاق ته یا لما نځه ته لکه مؤذنان وَيَاْمُرُوْنَ

عه یعنے دا چه ولا تموتن دی ۱۲ عه یعنی دا قران چه دی پړی دی د خدای چی محکم دی ۱۲

بِالْمَعْرُوْفِ او امرکوی و خلکو ته په معروف سره یعنی په هغه کار چې عقل و شرع ئې دوارو
خوښوی یا له قرآنه او له حدیثه دوارو سره موافق وی وَیَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ ط او منع کوی
دوی له منکر یعنې له هغه کاره چې شرع او عقل ئې دواړه نه خوښوی یا چې له قرآن او
له حدیثه سره مخالف وی وَاُولٰٓئِکَ او دا امر او نهی کونکی چې دی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾
هم دوی بریالی دی فائدہ په اتفاق د علماوو دا ایت صریح دی په دی کښې چې امر
د معروف او نهی د منکر څخه فرض کفائی دی په سبب د مِنْ تبعیضیه سره وَلَاتَکُوْنُوْا
او مه کیږئ تاسې کَالَّذِیْنَ تَفَرَّقُوْا په مثل د هغه یهودو او نصاریٰ وو چې طائفې
شوه سره لکه سامریه او موشکائیه له یهودو او ملکائیه او نسطوریه له نصاریٰ
وو وَاخْتَلَفُوْا او مختلف شوه سره په دین کښې مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه جَآءَهُمُ
الْبَیِّنٰتُ ط چې راغلی وو دوی لره ښکاره دلیلونه په تورات او په انجیل کښې موجب
د اتفاق په کلمه د توحید وَاُولٰٓئِکَ او دا متفرقان مختلفان چې دی لَهُمْ مقرر دی
دوی لره عَذَابٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۰۵﴾ عذاب لوی یَّوْمَ تَبْیَضُّ وُجُوْهٌ په هغه ورځ چې به
سپین شي بعض مخونه یعنی د مؤمنانو وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ او تور به شي بعض مخونه د
کافرانو فَاَمَّا الَّذِیْنَ اسْوَدَّتْ پس هر چې هغه کسان چې تور شوی دی وُجُوْهُهُمْ قف
مخونه د دوی ورته و به ویل شي اَکَفَرْتُمْ بَعْدَ اِیْمَانِکُمْ ایا کافران شوی واست تاسې
پس له ایمان راوړلو ستاسې او مراد له دی څخه یا مطلق کافران دی ځکه چې ایمان
ئې په ورځ د میثاق راوړی وو او یا منافقان دی چې په ظاهر کښې خو ئې ایمان
راوړی وو اگر که په باطن کښې ئې نه وو او یا اهل کتاب دی چې پر رسول ﷺ ئې مخکې تر
ظهوره ایمان راوړی وو او بیا پس له ظهوره کافران شوه او یا مرتد شوه فَذُوْقُوا
الْعَذَابَ پس وڅکی دا عذاب د د ورځ بِمَا کُنْتُمْ په سبب د دی چې واست تاسې
تَکْفُرُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ چې کافر کیدلاست پس له ایمانه وَاَمَّا الَّذِیْنَ ابْیَضَّتْ او هر چې هغه کسان
چې سپین شوی دی وُجُوْهُهُمْ مخونه د دوی فَفِیْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ط پس په رحمت د خدای

عه یعنې بری او طلبه موندونکی دی په نفس او شیطان باندې ۱۲

کبنے به وی یعنی په جنت کبنی هُمْ فِیهَا وی به دا سپین مخی په دی رحمت پا په جنت
کبنی خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ همیشه نه به مری او نه به خُنډی وزری تِلْكَ اٰیٰتُ اللهِ دا تیر
احکام او اخبار نښے دخدای دی بعض د وَعدا او بعض د وعید او بعض د عبرت
نَتْلُوْهَا عَلَیْكَ چے لولوئ موږ پرتا په واسطه د جبرائیلؑ سره بِالْحَقِّ ط په حق یعنے په
عدل سره په جزاد نیکانو او د بدانو کبنی وَمَا اللهُ او نه دی خدای یُرِیْدُ ظُلْمًا چی اراده
لری د ظلم لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾ دپاره د عالمیانو چے بی گناه ونیسی یا عذاب پرزیات کی یا ثواب
پرکم کی وَلِلّٰهِ او خاص لره دی پرطریقه د ملکیت سره مَا فِی السَّمٰوٰتِ هرهغه چی په
اسمانو کبنے دی وَمَا فِی الْاَرْضِ او هرهغه چے په مځکه کبنی دی وَاِلَی اللهِ او خاص
خدای ته تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۱۱۰﴾ بیرته گرزول کیږی تولهٔ کارونه روایت دی چی هر ع ۱۱ ۸ ۲
کله اُبی بن کعبؓ وویل مالك بن الصیف یهودی ته چے زموږ دین غوره دی ستا سے
له دین څخه او موږ غوره یو له تا سے نو د پاره د تصدیق ددی نازل شو کُنْتُمْ واست
تا سے ای اُمته د رسولؐ لانځوا په علم د خدای کبنی یا په لوح محفوظ کبنے یا په کتابو
د تیرو پیغمبرانو کبنے او اوس هم یاست خَیْرَ اُمَّةٍ غوره د هرهغه امت اُخْرِجَتْ
چے ایستل شوی دی له عدمه وجود ته او ظاهر شوی دی لِلنَّاسِ خلکو ته فائده
غوره والی ددی اُمت په دی سبب دی چے دوی په ورځ د میثاق په جواب د
اَلَسْتُ عہ بربکم کبنے تلوار کړی دی تر نورو اُمموا و یا چے دوی د رسولؐ تر بیرغ لاندې
دی لکه چے محمد بصیری قدس الله سرّهٔ ویلے دی .　بیت

لما دعی الله داعینا لطاعته　　باکرم الرسل کنا اکرم الامم

ترجمه :- هرکله چے وبالی رسول زموږ خدای بهترد رسولانو موږ بهتر شو
دامموا و دی خدای په دی حدیث قدسی کبنے غوره بللی دی چے انك عہ خیر الرسل
وامتك خیار اممهم او یا غوره والی ددوی په هغو درو شیانو دی چے مخکبنی ذکر

عہ یعنی په ورځ د وعدی اخیستو د خدای له روحانو څخه چے الست بربکم یئ ورته ویلی وه ۱۲
عہ یعنی ته چے ئ ای محمدؐ بهترد ټولو رسولانو ئ او امت ستا بهتره د ټولو امتو دی ۱۲

دی لکه چې وائي تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ چې امرکوی پرهرچا په کولو دنیکی وَتَنْهَوْنَ عَنِ
الْمُنْكَرِ او منع کوی هرخوک له بدو څخه وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ط او ایمان راوړی پرخدای
یعني مداومت پرکوی اوهروخت ئې تجدیدکوی وَلَوْ اٰمَنَ اوکه ایمان راوړی
اَهْلُ الْكِتٰبِ بنی اسرائیلو پر رسول او پر منزّل دده چې قرآن دی اوباور ئې پروکړ
لَكَانَ نو هرا ئینه وو به دا ایمان خَيْرًا لَّهُمْ ط دیر غوره دوی لره مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ
بعض له دوی مؤمنان دی لکه ابن سلام اوملګری دده وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ (۱۱۱)
او ډیرات له دوی څخه فاسقان دی لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ له سره به ضرر نه رسوی دوی
وتاسې ته له هیڅ بابه اِلَّآ اَذًى ط مګرلږ یعنې تش دخولې بهتان یا بیرول له جنګه
یا بلل چیل دین ته وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ او که جنګ کوی له تاسې سره دوی يُوَلُّوْكُمُ
الْاَدْبَارَ قف نو به ګرځوی دوی تاسې ته شا خپله یعنې وبه تښتی درڅخه ثُمَّ لَا
يُنْصَرُوْنَ (۱۱۲) بیا به مدد ونکړه شي ورسره پس له ماتې نه د خلکو او نه دخالق
ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ مقرر کړه شوی دی پردی بهرنه وخواری یعنې جزیه یا خوف د
فقر اَيْنَ مَا ثُقِفُوْٓا هرچیری چې بیاموندای (پیداکیدای) شي دوی نو هغه خواری به ور
سره وی په هر وخت کی اِلَّا بِحَبْلٍ مګر په هغه وخت کی چې ځان ئې مُښلولی وی په
هغه پړی پوری مِّنَ اللّٰهِ چې له طرفه د خدای دی او هغه پړی عهد دی وَحَبْلٍ مِّنَ
النَّاسِ او هغه پړی پوری چې له طرفه د خلکو دی چې مؤمنان دی او هغه ذمه
ده دمؤمنانو او امان دی د دوی په اذن دخدای سره پس له قبوله د جزیې وَبَآءُوْ
بِغَضَبٍ او بیرته وګرځیدل دوی یعنې ولړل شول په قهر مِّنَ اللّٰهِ له جانبه د خدای
یعنی لائق شوه د قهر وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ط او مقرر کړه شوی دی پردوی
فقر په عوض د دی کینې چې دوی به ویل انّ الله فقیر ونحن اغنیاء[ع] یا ویره دفقر
سره له توانګری ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ دا ذلت او مسکنت او رجوع په غضب په سبب د دې
دی چې بیشکه دوی كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ وو دوی چې له ډیره عناده ئې کفر اختیارکړی وو

ع یعنی په تحقیق سره خدای فقیر دی او موږ غنیان یو ۱۲

بِاٰیٰتِ اللّٰهِ پہ ایتو دخدای یعنی پہ قران پوری یا پہ نورو معجزو پوری یا پوټول
بہ ئی ایتونہ د تورات وَیَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِیَآءَ او وژل بہ دوی پیغمبران یعنی نیکہ کانو دوی
او دوی ہم پہ راضی دی بِغَیْرِ حَقٍّ ط بی موجبہ د قتل پہ اعتقاد دوی کبنی ذٰلِكَ بِمَا
عَصَوْا دا کفر او قتل پہ سبب د دی دی چہ بی فرمانی کړیدہ دوی لہ خدایہ څخہ
وَّکَانُوْا یَعْتَدُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ او وو دوی لاړخوالہ دی څخہ چہ تیریدلہ بہ لہ حدودو څخہ
دخدای فائدہ ھر کلہ چہ بیان کی رب العزت حال داکثرو فاسقانو د اھل کتابو نو
ارادہ ئی وکړہ دبیان د حال د بعض لہ دوی چہ مؤمنان دی نو نازل شو لَیْسُوْا سَوَآءً ط نہ
دی دا قول اھل کتاب سرہ برابر مِنْ اَھْلِ الْکِتٰبِ بعض لہ اھل کتابو چہ دی اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ
یو ټولی دہ ولاړ ثابت پر دین د اسلام یا پہ حدودو دخدای یا مستقیم پر لار دخدای
او دا ټولی یا یھود دی لکہ ابن سلام او ملگری ددہ او یا نصاری دی چہ ھغہ یوسل او
څلوینبت تنہ دی چہ دوه دیرش لہ حبشو او څلوینبت لہ نجران او اته شپیته لہ رومہ
چہ امت دعیسیٰ وو او بیا ئی ایمان پر رسول ھم راوړی دی یَتْلُوْنَ اٰیٰتِ اللّٰهِ لولی
دوی ایتونہ دخدای یعنی قران اٰنَآءَ الَّیْلِ پہ ساعاتو دشپی کبنی وَھُمْ یَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾
او حال دا چہ دوی سجدہ کوی د تلاوت یا تہجد کوی یُؤْمِنُوْنَ ایمان راوړی دوی بِاللّٰهِ
پر وحدانیت دخدای وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ او پہ را تلود قیامت وَیَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ او
امر کوی و خلکو تہ پہ ایمان او پہ کولو د نیکی سرہ وَیَنْھَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ او منع کوی خلق
لہ کفرہ او لہ نورو بدیو څخہ وَیُسَارِعُوْنَ فِی الْخَیْرٰتِ ط او تلوار کوی پہ کولو د ښو
کارو کبنی وَاُولٰٓئِكَ او دا کونکی ددی تیرو کارو چہ دی مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۱۴﴾ لہ صالحانو
څخہ حساب دی دخدای پہ نزد وَمَا یَفْعَلُوْا او ھرھغہ څہ چی کوی ئی دوی مِنْ خَیْرٍ لہ
نیک کارہ فَلَنْ یُّکْفَرُوْہُ ط پس لہ سرہ بہ بے قدری ونہ کړہ شی لہ دوی سرہ پہ کمولو
دحساب وَاللّٰهُ او خدای عَلِیْمٌۢ بنہ دانا دی بِالْمُتَّقِیْنَ ﴿۱۱۵﴾ پرا حوالو د متقیانو پرہیزگارانو
اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا بیشکہ ھغہ کسان چہ کافران شویدی لَنْ تُغْنِیَ عَنْھُمْ لہ سرہ بہ دفعہ

عہ یعنی پس لہ سرہ بہ پټ نہ کړہ شی لہ دوی څخہ دغہ ښہ کار چہ ثواب بہ ئی ورنہ کړل شی ۱۲

نه کی له دوی څخه اَمْوَالُهُمْ مالونه ددوی وَلَآ اَوْلَادُهُمْ او نه فرزندان ددوی مِّنَ
اللّٰهِ شَيْئًا ط له خدایه یعنی له عذابه دده هیڅ قدر شے وَاُولٰٓئِكَ او دا کفار چه دی
اَصْحٰبُ النَّارِ ج اهل دی ددوزخ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ دوی به په دی او رکښی
همیشه وی مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ مثال دهغه مبلغ چه ورکوی ئې دا کفار یا منافقان یا
یهود فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دی واړه ژوندون کښے كَمَثَلِ رِيْحٍ په مثال دباد
دی فِيْهَا صِرٌّ چه وی په دی باد کښی ډیره یخنی اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ چه ور سیږی
دا باد کښت دهغه قوم ته چه شرك او په معاصیو سره ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ظلم ئې کړی
وی پر ځانونو خپلو فَاَهْلَكَتْهُ ط پس هلاك کی دا باد دهغه کښت وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ او
ظلم نه دی کړی پر دوی خدای وَلٰكِنْ او لیکن اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ پر ځانو خپلو
به ئې ظلم کاوه فائدہ یعنی لکه چه هغه په کښت مبلغ ولګوی او هم پکښے خپل ځان
و سولوی او بیا هیڅ قدر نفعه ځندی وانه خلی هم داسے دا کفا زهم مالونه صرفوے
په جنګو او په رشوتو کښے او هم ځانونه وژنے او نقصان دسرا و مال دوی ته هیڅ
قدر نفعه و نه رسوی روایت دی چه څو کله بعض اصحابو له یهودو سره یا له
منافقانو سره دوستے اویاری برپا په کړی وه په سبب دخپلوی یا د رضاع یا د
ګاونډیتوب نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مومنانو لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً
مه پیدا کوی پټه دوستی له هیڅ فرقے سره مِّنْ دُوْنِكُمْ پر ته له تاسے یعنی غیر
له خپلو مؤمنانو بل د هیچا سره دوستے مه کوی ځکه چه لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا د هیڅ
کمی نه کوی دوی ستاسے په دین او په دنیا کښے دفساد یعنی څوچه وسع ئې رسیږی
هو مره فساد په تاسے کښی اچوی وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ج دوست ګڼی دوی ضرر او مشقت
ستاسی قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ په تحقیق ښکاره شویده بغض او دښمنی مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ج
له خولو څخه ددوی یعنی له خولې څخه ددوی د زړه احوال معلومیږی وَمَا تُخْفِيْ

عه رضاع یعنی چه سره ئې تی یو ځای رودلی وو ۱۲ عه ګاوندی توب یعنی چی یو ځای یا نژدی
به یو د بل سره او سید ل ۱۲

صُدُوۡرُهُمۡ او هغه بغض او عداوت چه پټوي يې سينې ددوی اَكۡبَرُؕ زیات دی له هغه
چه دوی په ژبه وائي قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ الۡاٰيٰتِ په تحقیق سره بیان کړه موږ تاسو
ته آیتونه په باب د دوستۍ د مؤمنانو او د دښمنۍ د مخالف د ینوکښې اِنۡ كُنۡتُمۡ
تَعۡقِلُوۡنَ (۱۱۹) که یاست تاسې چه تعقل کولای شی د دوستی او د دښمنۍ هٰۤاَنۡتُمۡ
واوری تاسې چی یاست اُولَآءِ هغه ساده کان یاست تُحِبُّوۡنَهُمۡ چه مینه کوی پر دوی
وَلَا يُحِبُّوۡنَكُمۡ او دوی مینه نه کوی پر تاسې وَتُؤۡمِنُوۡنَ او حال دا چه تاسی ایمان
راوړی بِالۡكِتٰبِ كُلِّهٖۚ پر کتابو ټولو چه له خدایه څخه راغلی دی او دا هلته که مراد
جنس شي یا په درست کتاب ددوی وَاِذَا لَقُوۡكُمۡ او په هغه وخت کی چه پېښ شی
دوی پر تاسې قَالُوۡۤا اٰمَنَّا ۚۖ نو وائي چه ایمان راوړی دی موږ هم ستاسې په شان
وَاِذَا خَلَوۡا او په هغه وخت کی چه یوازی شي دوی سره پخپلو کښې عَضُّوۡا عَلَيۡكُمُ
الۡاَنَامِلَ نو چیچي دوی په تاسې ګوتې خپلې په سبب د دښمنۍ ستاسې مِنَ الۡغَيۡظِؕ
له ډیره قهره او بغض خپل سره قُلۡ مُوۡتُوۡا بِغَيۡظِكُمۡؕ و وایه ورته مره شئ په
سبب د غصې خپلې اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ بیشکه چه خدای ښه دانا دی بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ (۱۲۰)
په هغه کړه چه په سینوکښې وی او په هغه کینه او حسد چه په زړونوکښې وی نو جزاء د
خپل عمل به هرچا ته ورکړي اِنۡ تَمۡسَسۡكُمۡ که ورسیږي وتاسې ته حَسَنَةٌ کوم قسم
خوبائي لکه ارزاني یا فراخي یا تصرف یا غنیمت تَسُؤۡهُمۡ ز نو خفه کوی دا ستاسی
خوبائي دوی وَاِنۡ تُصِبۡكُمۡ او که ورسیږی وتاسې ته سَيِّئَةٌ کوم قسم خفګان لکه
قیمتي یا تنګي یا زخم یا هزیمت يَّفۡرَحُوۡا بِهَا ؕ نو خوشحاله شي دوی په دی خفګان ستاسې
وَاِنۡ تَصۡبِرُوۡا او که صبر وکړی تاسې په هغو سختیو چه تاسې ته له کفارو څخه ورسیږي
وَتَتَّقُوۡا او ځان وه ساتی له دوستۍ او له کړونو ددوی څخه لَا يَضُرُّكُمۡ نو ضرر به و نه
رسوی تاسې ته كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔا ؕ دا مکر او فریب د دوی هیڅ قدر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه
خدای بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ په هغه کارو چه کوی يې دوی مُحِيۡطٌ (۱۲۱) چاپیره کیدونکی دی علم

ع یعنی چه پیژنی چه دوستی له چا سره مناسبه ده او دښمنی له چا چا سره مناسبه ۱۲ منه

دده روایت دی چې هرکله ابوسفیان په دریم کال د هجرت له دری زرو لښکرسره چې
اوه سوه پکښې زغره پوش وو او دوه سوه سواره په اراده د جنګ راغله او د اُحد غر
کښته سوه او رسول علیه السلام هم وررو ان شو په ورځ د جمعې په اومه یا په دولسمه د
شوال له زرو وکسانو سره او دری سوه منافقان پر لاری خُندی راغله او اووه سوه ـ
اصحاب ور سره ولاړه د کفارو و مخې ته او عبدالله بن جبیر رض له پنځوسو تیراندازو سره
په کنډو د اُحد باندی مقرر کی چې که مونږ غالب شو او که مغلوب شو تاسو هم پردی
ځای ولاړاوسی بیا هرکله چې جنګ بنا شو او کفار مات شو او مؤمنان په لوټ ولګیده
نو دهغه کنډو خلک اکثر په لوټ پسی بی اذنه راکښته شول او کفار له هغه کنډو مخه
بیرته راوګرزیدل او اویاتنه اصحاب له امیرحمزه رض سره پکښې شهیدان شوه او
د رسول علیه السلام غابښ مبارک هم مات شو نو په بیان د دی حال کښې نازل شو وَاِذْ
غَدَوْتَ او یاد که ای رسوله چې راووتی ته چابنت مِنْ اَهْلِكَ له عیال خپله یعنی
له حجری څخه د بی بی عائشې رض تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ چې تیاروله دی مؤمنانو ته مَقَاعِدَ
لِلْقِتَالِ ط مورچې د پاره د جنګ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾ او خدای اوریدونکی دی
داقوالوستاسو بنه دانا دی په نیتو ستاسی اِذْ هَمَّتْ په هغه وخت کی چې اختیار
وکړی طَّآئِفَتٰنِ مِنْكُمْ دوو فرقو له تاسو ای انصارو چې بنو سلمه له اوس او بنو
حارثه له خزرج وو اَنْ تَفْشَلَا دادی خبری چې بی زړه شي او بیرته وګرزی له منافقو
سره اوولی به بیرته ګرزیدل وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ط او حال دا چې خدای یار او ساتونکی
د دوی دی او توکل یې ولی نه کاوی وَعَلَى اللّٰهِ او خاص پر خدای فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۲﴾
میباید چې توکل دی وکړی مؤمنان چې دی یې ناصر شي په شان د بدر لکه چې واي وَلَقَدْ
نَصَرَكُمُ اللّٰهُ او په تحقیق سره مدد کړی وو له تاسو سره خدای بِبَدْرٍ په جنګ د بدر کښې
چې ځای دی په مینځ د مکی او د مدینې کښې وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ج او حال دا چې تاسی ذلیلان
عاجزه واست په نظر د دښمنانو کښې ځکه چې تاسی دری سوه ۳۱۳ دیارلس تنه واست او

عه ـ یعنی د غنیمت په مال اخته شوه

دوی یونزٔ رجنګیالی وو فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ویره وکړی له خدایه لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ (۱۲۳)
بنائی چی تاسی شکر وکړی پر نعمتو دده اِذْ تَقُوْلُ یادکه هغه چی وویل تا په ورځ
د بدر لِلْمُؤْمِنِيْنَ ومؤمنانو ته اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ آیا بس به نشي ستاسی اَنْ يُّمِدَّكُمْ
رَبُّكُمْ دا چی مدد وکړی له تاسی سره رب ستاسی بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ په دری زرو سورو
سره مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ (۱۲۴) له ملائکو څخه چی را لیږل شوی وی له پاسه او چاویلی
دی چی دا نزول د دری زرو ملائکو او وعده د پنځو زرو په ورځ د احد وه لیکن په
شرط د صبر او د تقویٰ لکه چی وائی بَلٰٓى ولی به بس نه شی بلکه بس به شی اِنْ
تَصْبِرُوْا که صبر وکړی په جنګ کښی وَتَتَّقُوْا او پرهیز وکړی له مخالفته د رسول
وَيَاْتُوْكُمْ او راشی د امشرکان پر تاسی مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا یو ناڅاپه په دغه ساعت
بی مداره يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ نو مدد به وکړی د تاسی سره رب ستاسی بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ په
پنځه زره سورو سره مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ له ملائکو څخه مُسَوِّمِيْنَ (۱۲۵) نښه کونکی د اسانو خپلو
په سپینو وړیو په وُچولو او په لکیو یا د ځانو خپلو په سپینو پګړیو چی شملی یی پرېښا
او یزانه وی اما هر کله چی دوی صبر او پرهیز ونه کړو نو ملائکی رانه غلی وَمَا جَعَلَهُ
اللّٰهُ او نه دی ګرځولی دا امدا عه دیا انزال خدای اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ مګر محض زیری د رد
تاسی لره د فتحی وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ او دپاره د دی چی پر ارام شی زړونه ستاسی
په دی وعده د نصرت سره وَمَا النَّصْرُ او نه دی دامدد په واقعه کښی اِلَّا مِنْ عِنْدِ
اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ (۱۲۶) مګر له جانبه د هغه خدای چی ډیر غالب او پُرحکمت دی
نه له لښکروا و له ملائکو او د املائکی چی خدای رالیږلی وی په ورځ د بدر
لِيَقْطَعَ طَرَفًا د پاره د دی چی پری کړی یو څنډه مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا له هغو کسانو څخه
چی کافران دی یعنی څه څنډی مړه کی او څه څنډی بندیان کی لکه چی اویا تنه
مشرکان یی مړه کړه او اویا تنه یی بندیان کړه اَوْ يَكْبِتَهُمْ یا یی خوار او زار کی فَيَنْقَلِبُوْا
خَآئِبِيْنَ (۱۲۷) پس بیرته ولاړ شی په ماتی نا امیده له خپلی برخی روایت دی چی

عه مددګول او نازلول د ملائکو ۱۲

هر کله رسول علیه السلام له قتله او له بدرنګی څخه دخپل ترهٔ خبر شو نو په زړه کښې دا را وګرزیده چې ددې کفارو په حق کښې څه ښیرې وکړم یا چې وځولی دده مات شو نو وئی ویل کیف یفلح قوم خضبوا وجه نبیهم بالدم یعنې څرنګه به خلاص شي هغه قوم چې سور کړی ئې دی مخ د پیغمبر خپل په وینو نو نازل شو لَیْسَ لَکَ نشته تا لره مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ له دې کاره ددوی اختیار د هیڅ شي او دا یوه جمله معترضه ده چې په مینځ د معطوف علیه کښې راغلې ده دپاره د اګاهي پردې چې ته رسول ئې او بیا رسول د پیغام دې او نور کل اختیار د رب دې که ئې هلاکوی او که ئې ماتوی اَوْ یَتُوْبَ عَلَیْهِمْ یا رجوع کوی پردوی په توبه قبلو لو ددوی سره په مسلمانولو ددوی اَوْ یُعَذِّبَهُمْ یا په عذابوی ددوی نو دا هم مناسب دی ځکه چې فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ پس بیشکه چې دوی ظالمان دی وَ لِلّٰهِ او خاص خدای لره دی مَا فِی السَّمٰوٰتِ هر هغه شي چې په اسمانو کښې دی وَ مَا فِی الْاَرْضِ او هر هغه چې په ځمکه کښې دی یَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ بخښنه کوی وهر هغه چاته چې اراده ئې وشي وَ یُعَذِّبُ مَنْ یَّشَآءُ او په عذابوی هر هغه څوک چې اراده ئې وشي وَ اللّٰهُ او خدای غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲۹﴾ بخښونکی دګناهو دی مهربانه دی پر بندګانو خپلو باندې روایت دی چې په جاهلیت کښې به یوه سړی وبل ته درهم ورکړی یو په دوو ترمیاشتې پورې او بیا پس له میاشتې به ئې ورته ویل چې دا مبلغ می او س راکه او یا ته پرځای سود علاوه که او زه به موده علاوه کړم نو په منع د مطلق سود کښې خصوصًا په دې شان کښې نازل شو یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو لَا تَاْکُلُوا الرِّبٰٓوا مه خورئ او مه اخلئ سود اَضْعَافًا پردې حال چې په غبرګود وچنده سره وی او بیا هغې اضعاف مُّضٰعَفَةً م چې بیا بیا غبرګ کړی شوی وی په زړیا تولو سره یعنې بیا بیا زیاتول مه کوی وَّ اتَّقُوا اللّٰهَ او وه ویریږئ له خدایه او زیاتوالی مه کوی لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ بنائي چې تاسې خلاص شئ له قهره دده وَ اتَّقُوا النَّارَ الَّتِیْٓ او ځان وساتئ له هغه اوره اُعِدَّتْ لِلْکٰفِرِیْنَ ﴿۱۳۱﴾ چې تیار کړه شوی دی کافرانو ته

وَاَطِیْعُوا اللّٰہَ او فرمان ومنئ د خدای وَالرَّسُوْلَ او د رسول علیہ السلام لَعَلَّکُمْ تُرْحَمُوْنَ (۱۳۲)
بنائی چہ تاسی مرحوم شئ یعنے رحم درباندی وشی وَسَارِعُوْٓا اِلٰی مَغْفِرَۃٍ او تلوار
وکړئ بخښنے تہ مِّنْ رَّبِّکُمْ له رب خپله یعنی تلوار او ډیرحرص کوی په هغه کارو چې
رب پرراضی کیږی او وتاسے ته مغفرت کوی چې هغه کلمه دشهادت ده یا په
ترتیب کول د فرضو یا تکبیر اولی یا اول صف یا استغفار یا اخلاص دی وَجَنَّۃٍ او
تلوار کوی هغه جنت ته چې په فراخی کښے عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ پلنوالے د هغه او وه سره
اسمانونه دی وَالْاَرْضُ ۙ او مځکه ده یوازی پلنوالے ئې په قدر ددی تولو دی او دا
اوږدوالے ئې له سره اندازه نشته اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِیْنَ (۱۳۳) چې تیار کړه شوی دی
پرهیزگارانو لره اَلَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ هغه کسان چې ورکړه کوی د خدای په جهت فِی
السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ هم په ارزانی او هم په قیمتی کښے یا هم په توانگری او هم په
تنگدستی کښے وَالْکٰظِمِیْنَ الْغَیْظَ او چې زغمونکی د قهر وی سره له قدرته په انتقام
وَالْعَافِیْنَ عَنِ النَّاسِ ؕ او چې عفوکونکی د تقصیرا تو وی له خلکو وَاللّٰہُ یُحِبُّ
الْمُحْسِنِیْنَ (۱۳۴) او خدای خوښوی نیکی کونکی روایت دی چې یو ورځ بنهان تمار
لره یوه ښځه راغله چه ده خرما خرخوله او ده په بها نرد غوره خرما وو دننه بوتله او
هلته ئې غیږ پرورگرزول او قبله (بچه) ئې ځندی واخیسته نو دی ښځے نصیحت ورته
شروع کی چې له خدایه ووېریږه او نارواه مه کوه نو دی پښیمانه شو او رسول لره
راغلے او حال ئې ورته بیان کی او نبی ملامتیا پرو ویله او وه ئے ویل چې زه لا په تاسے
کښے ناست یم او تاسے داسے کارونه کوی نو نازل شو وَالَّذِیْنَ او هغه کسان اِذَا
فَعَلُوْا فَاحِشَۃً چې وکی دوی نا لایقه کار لکه زنا یا مطلق کبیره گناه اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ
یا ظلم وکی دوی پرځانو خپلو لکه بدگفتار یا صغیره یا مقدمات د زنا لکه لمس یا
معانقه یا تقبیل شو ۱ـ او بیا پس له کولو ددے فاحشه یا ظلم ذَکَرُوا اللّٰہَ یاد کی دوی

صه یعنی چه خرما به ئے خرخولے ځکه چه تمار ورته ویل کیږی ۱۲ عه پرومبی راولی، کارونه د زنا ۱۲
عه لاس وهل په اجنبی ښځه بالدلب ۱۲

خدای یعنی دده قهر عاصیانولره یا له مغفرته دده تائبانولره فَاسْتَغْفَرُوْا پس بخښنه
وغواړی دوی له خدایه لِذُنُوْبِهِمْ دپاره دګناهوخپلو وَمَنْ یَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ
اوڅوك دی چې بخښي ګناهونه یعنی بل هیڅوك ټول ګناهونه نه بخښی اِلَّا اللّٰهُ وَلَمْ
مګرخدای وَلَمْ یُصِرُّوْا اومداومت نه کوی دوی عَلٰی مَا فَعَلُوْا پرهغه ګناه چې کړی
ده دوی په غلبه دشیطان وَهُمْ یَعْلَمُوْنَ ⑬⑤ اوحال دا چې دوی پوهیږی چې موږ
بدکړی دی اُولٰٓئِكَ دا متقیان چې دی جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ جزادد وی بخښنه ده
مِّنْ رَّبِّهِمْ له ربه ددوی وَجَنّٰتٌ تَجْرِیْ اوباغونه دی چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا
الْاَنْهٰرُ لاندی دبنګلو یادونو ددی څلورقسمه ولی داوبو دشیدودشرابو او
دشاتو خٰلِدِیْنَ فِیْهَا چې همیشه به وی دوی په دی باغوکښی وَنِعْمَ اَجْرُ
الْعٰمِلِیْنَ ⑬⑥ اوښه دی اجر دعمل کونکو دا مغفرت اوجنت قَدْ خَلَتْ په تحقیق
سره تیرشوی دی مِنْ قَبْلِكُمْ پخوا له تاسو سُنَنٌ لاحادث په پخوانیوامموکی
لکه طوفان یا غرق یاخسف یا مسخ یا تند باد یا تند اواز فَسِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ پس
وګرځئ په ځمکه کښی فَانْظُرُوْا پس وګورئ کَیْفَ کَانَ چې څرنګه و عَاقِبَةُ الْمُکَذِّبِیْنَ ⑬⑦
اخرکار دنسبت کونکو دروغو ورسولانوته هٰذَا دا قران یا دا قصه دبدر او
داحد یادا حال دپخوانیو بَیَانٌ لِّلنَّاسِ ښوونه ده وعوامو خلګو ته وَهُدًی
اولارښو برابرول دی وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِیْنَ ⑬⑧ اوپند دی پرهیزګارانولره وَلَا
تَهِنُوْا اومه سستیږی له جهاده په سبب دشکست خپل وَلَا تَحْزَنُوْا اومه
خفه کیږی په زخم او په قتل خپل او په فوت دغنیمت وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ او
هم تاسو بریالی یاست ځکه چې په بدرکښی پردوی زیات شوی واست یاچې تاسو
سره وعده دغلبی شوی ده لکه په دی ایت کښی چې ده اِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ
یاچې ستاسو جنګ ځدای او ددوی دا شیطانی دی یا چې ستاسی مړی په جنت

عه په امت د نوح علیه السلام ۱۲ عه د و بید ل په دریاب کښی لکه قوم د فرعون ۱۲ عه د و بید ل په دچه
ځمکه کښی لکه قارون ۱۲ سه لکه پر عادیانو ۱۲ سه یعنی په تحقیق سره و له زموږ چې دهم دوی غالب دی ۲

کېنې دی د دوی دا په دوږخ کېنې دی نو سُستی مه کوی اِنْ كُنْتُمْ که یاست تا سے مُؤْمِنِيْنَ (۱۳۹) مومنان

نظم

سُستی مه کوی په جنګ کېنې
تا سے یاست د دوی د پاسه
تا سے مری د رب په لارے
دوی په لاری د شیطان مری

هم خفګان په ما اصحاب
که ایمان لری په آب
شهیدان جنت ما آب
او ړ لے ځای غوښی کباب

اِنْ يَّمْسَسْكُمْ که ورسیدی وتا سے ته قَرْحٌ ږخم په اُحد کېنې فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ پس په تحقیق سره رسیدلی وو وقوم دکفارو ته هم قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ط زخم په شان د زخم ستا سے په بدر کېنې او دوی په بے ږړه نه شو نو تا سے هم مه بے ږړه کیږی

وَتِلْكَ الْاَيَّامُ اوداوړځی د ژوندون چې دی نُدَاوِلُهَا چورلوو (ګرزوو) ئې موږ بَيْنَ النَّاسِ ج په مابین دخلګو کېنې چې کله دا غالب هغه مغلوب شی او کله هغه غالب اودا مغلوب شی - بیت:- فَيَوْمًا عَلَيْنَا وَيَوْمًا لَنَا وَيَوْمًا نُسَآءُ وَيَوْمًا نُسَرُّ

(ترجمه: کله کله پرموږ راشی او کله ږموږ شے - کله شو موږ خوشحاله کله شو خفه او کله تنګ) او چورلوو (ګرزوو) موږ دا وړځی دپاره دډیرو مصالحو وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او د پاره ددی چې معلوم کی خدای هغه کسان چې ایمان ئې راوړیدی په علم شهودی سره لکه چې معلوم وو ورته په علم غیب سره چې خومره قدر صبر او استقامت لری وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ اوبل دپاره ددی چې ونیسی خدای بعض له تا سے نه شُهَدَآءَ ط شهیدان یا شاهدان له طرفه د ټولو انبیاؤ پر امتو ددوی وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ (۱۴۰) او خدای نه خوښوی ظالمان وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او بل دپاره ددی چې پاک کی خدای مؤمنان له ګناهو ځنه په انواعو د سختیو سره وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ (۱۴۱) او هلاک کی کافران

عہ یعنی په تحقیق سره وله زموږ چې ده هم دوی غالب دی ۱۲ عہ پر هغه شی باندی چې رسیدلی دی تا سے ته له ږخمو ځنه ۱۲ سہ په رجوع کولو سره وخدای ته ۱۲ سہ یعنی شهیدان مری او جنت ستا سے ځای دی ۱۲ صہ یعنی د دوږخ لے ځای دی او غوښے به ئې په اوړ کباب یږی ۱۲

اَمۡ حَسِبۡتُمۡ ایا گمان کوی تاسې ای ما تی کړونکو په احد کښې اَنۡ تَدۡخُلُوا الۡجَنَّةَ د دې چې داخل به شی تاسې په جنت کښې وَلَمَّا یَعۡلَمِ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ او حال دا چې له سره معلوم کړی نه دی خدای هغه کسان جٰهَدُوۡا مِنۡكُمۡ چې جهاد ئې کړی دی له تاسې څخه وَیَعۡلَمَ الصّٰبِرِیۡنَ ﴿۱۴۲﴾ او نه ئې دی معلوم کړی صابران حکه چې په تاسې کښې دا دواړه طائفې نشته حاصل دا چې بیله صبره په محنت د جهاد باندی طمع مه کوی د جنت وَلَقَدۡ كُنۡتُمۡ او هرائینه په تحقیق واست تاسې ای غائبانو له جنګه څخه د بدر تَمَنَّوۡنَ الۡمَوۡتَ چې ارزو به کوله تاسې د مرګ یعنی د شهیدکید و مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ تَلۡقَوۡهُ ص مخوا له هغه چې تاسې پیښید است پردی مرګ فَقَدۡ رَاَیۡتُمُوۡهُ پس په تحقیق سره وه لیدی تاسې دا مرګ په ورځ د احد وَاَنۡتُمۡ تَنۡظُرُوۡنَ ﴿۱۴۳﴾ او حال دا چې تاسې کتل چې ستاسې ملګری پکښې شهیدان شول روایت دی چې هرکله رسول علیه السلام زخمی شو او په شهیدانو کښې ولویدی او شیطان آواز وکی چې الا ان محمداً قد قتل یعنی واورئ چې محمدؐ په تحقیق سره شهید شو او اکثر خلق وتښتید ل او هرچا چې نوی اسلام ئې راوړی و وهغو اراده وکړه د دې چې څوك ابو سفیان ته وسیله کړو چې خط د امان راله راواخلی او رسول علیه السلام نارې وهلی چې الیّ عباد الله یعنی ماله راسې ای بندګانو د خدای نو اصحابؓ ورله راغله او ده ډیر ملامت کړه چې ولی وتښتید لاست دوی وویل حکه چې موږ ستا د قتل آواز واوریدې نو نازل شو وَمَا مُحَمَّدٌ او نه دی محمد علیه السلام اِلَّا رَسُوۡلٌ ج مګر یو استاذی دی قَدۡ خَلَتۡ په تحقیق سره تیر شوی دی مِنۡ قَبۡلِهِ الرُّسُلُ د مخوا له ده څخه نور ډیر استاذی اَفَاۡئِنۡ مَّاتَ آیا پس که وفات شی دی اَوۡ قُتِلَ انۡقَلَبۡتُمۡ یا شهید کړل شی نو بیرته به وګرځئ تاسې عَلٰۤی اَعۡقَابِكُمۡ ط په پوندو خپلو یعنی بیا به کافران شئ وَمَنۡ یَّنۡقَلِبۡ او هر څوك چې بیرته وګرځی عَلٰی عَقِبَیۡهِ پر پوندو خپلو یعنی بیرته کافر شی فَلَنۡ یَّضُرَّ اللّٰهَ شَیۡـًٔا ط پس له سره به ضرر ونه رسوی دی وخدای ته د هیڅ شی بلکه خپل

ځان به خوارکی روایت دی چې هرکله ا منځ وویل که محمد علیه السلام شهید شو
نو رب خوئ شروندی دی نو همدا سے جنګ کوی لکه چې ده کاوی او توره ئې
راوه کینه او جنګ ئې وکی ترڅو چې شهید شو نو نازل شو وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ ﴿۱۴۴﴾
او شر ردی چې جزا به ورکړی خدای شکر ګذارانو ته وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ او نشته او نه بنائ
هیڅ شروندی لره أَنْ تَمُوتَ دا چې مړ شے إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ مګر په اذن د خدای سره
یعنې په هغه وخت کی چې امرو شے ملك الموت ته په قبض د روح د ده كِتَابًا مُؤَجَّلًا
چې ولیکل شے دا مرګ ئې په وخت مقرر سره چې له هغه وخته څخه نه مخکی کیږی او
نه وروسته کیږی یعنې مُت کوی په جهاد او له مرګه مه بیریږی چې مرګ ئې
بې اجله نه راځی وَمَنْ يُرِدْ او هرڅوك چې غواړی په دی جهاد سره ثَوَابَ الدُّنْيَا
حاصل د دی جهان یعنې غنیمت نُؤْتِهِ مِنْهَا ج نو ورکوو موږ هغه لره بعض له هغه
حاصله یعنې هغه قدر چې موږ ور لره مقرر کړی وی وَمَنْ يُرِدْ او هرڅوك چې
غواړی ثَوَابَ الْآخِرَةِ ثواب او جزاء د هغه جهان نُؤْتِهِ مِنْهَا ط نو ورکوو موږ
هغه لره ثواب وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ ﴿۱۴۵﴾ او شر ردی چې جزا به ورکړو شکر ګذارانو
لره وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ او ډیر تیر شوی دی له پیغمبرانو قَاتَلَ لا چې جنګونه ئې کړی
دی له کفارو سره مَعَهُ چې ولاړ به وو ده سره رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ ۚ خدائی سړی ډیر
له حده تیر لکه عالمان او عابدان او متقیان شو یا نور هسے مخلوق فَمَا وَهَنُوا
پس هیڅ قدر به نه سُستیدل دوی لِمَا أَصَابَهُمْ په سبب د هغه سختے چې رسیدل
به دوی ته لکه زخم یا قتل یا نوری سختی فِي سَبِيلِ اللَّهِ په لاره د خدای کښې
یعنې په جهاد کښې وَمَا ضَعُفُوا او نه به ضعیف کیدل په جنګ کښی وَمَا اسْتَكَانُوا
او نه به کښته کیدل و دښمن ته او تا سے په جنګ د اُحد کښې د ښمن ته هم
او بې صبره او هم سُست او هم ضعیف او هم کښته شوی وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ ﴿۱۴۶﴾
او خدای خوښوی صبر کونکی په قضاء د رب خپل وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ او نه به وو ویل

د دی مجاهدینو په وخت د جنګ کښی اِلَّآ اَنْ قَالُوْا مګر دا به وو چه ویل به دوی رَبَّنَا
اغْفِرْ لَنَا ای رب به زموږ وبخښه وموږ ته ذُنُوْبَنَا ګناهو نزموږ وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ
اَمْرِنَا او تیریدل زموږ له حده د فرمان په دی کار زموږ کښی وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا او
محکم کړه قدمونه زموږ په وخت د جنګ کښی وَانْصُرْنَا او مدد وکړه له موږ
سره عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ پر دی قولی د کافرانو باندی فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ پس
ورکړی دوی لره خدای ثَوَابَ الدُّنْيَا هم حاصل د دی جهان چه نصرت او ظفر او
غنیمت دی وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ط او هم غوره حاصل د هغه جهان چی جنت او
۱۵ ع ۶ رضا او دیدار دی وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ او خدای خوښوی نیکو کاران -
روایت دی چه هر کله منافقانو وویل ومؤمنانو ته چه پیغمبر خو شهید شو
نو تاسو اوس بیرته خپل پخوانی دین ته وګرځی لو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا
ای مؤمنانو اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ که فرمان ومنی تاسو د هغه کسانو كَفَرُوْا چه کافران دی
يَرُدُّوْكُمْ چه بیرته به وګرځوی تاسو عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ پر پوندو ستاسو یعنی تاسو به
بیرته کافران کړی فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ پس وبه ګرځی تاسو زیانکاران به شی نو د
دښمنانو خپلو یاری او فرمانبرداری مه کوی بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ج بلکه خدای یار او
مدد ګار ستاسو دی وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ او دی بهتر د ټولو مدد ګارانو دی
سَنُلْقِيْ زر دی چه وبه غورځوو موږ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ په زړو د هغو کسانو
كَفَرُوا الرُّعْبَ چه کافران دی ویره بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ په سبب د دی چی شریک
نیولی دی دوی په خدای پوری مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ هغه شی چه نه دی رالیږلی
خدای په شریک نیولو د هغه سُلْطٰنًا ج کوم دلیل وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ او ځای
د دوی اور د دوزخ دی وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ او بد ارامګاه ده دا دوزخ
د ظالمانو روایت دی چی هر کله رسول علیه السلام له احده څخه بیرته مدینی
ته راغلی نو بعض اصحابو وویل چی دا هوارې موږ ته له کومه څخه راپیښه شوه

سره له دی چې خدای وعده د نصرت کړې وه نو نازل شو وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ او هر
اَئینه په تحقیق سره رشتینی کړی وه له تاسې سره خدای وَعْدَهٗ وعده خپله د نصرت
اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ په هغه وخت کی چې وژل تاسې دوی په اول د جنګ کښې بِاِذْنِهٖ
په اذن او په نصرت دده سره حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ تر هغو چې بې زړه سواست تاسې
وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ او پخپلو کښې سره مخالف سواست په کار د جنګ کښې
وَعَصَيْتُمْ او بې فرمانی وکړه تاسو له خپله امیره چې عبد الله بن جبیر رض وو او له
خپله ځایه ژر کښته سواست نو په دی غم مبتلا سواست مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ
پس هغه چې وښوولی خدای و تاسې ته مَّا تُحِبُّوْنَ ط هغه شی چې خوښوی ئې تاسې
چې نصرت او غنیمت وو مِنْكُمْ مَّنْ بعض له تاسې هغه څوک دی يُّرِيْدُ الدُّنْيَا
چې غواړی متاع د دې جهان یعنی غنیمت ځکه چی مخالفت ئې وکړ او خپل-
بندر ئې پرېښووی وَمِنْكُمْ مَّنْ او بعض له تاسې هغه څوک دی يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ج
چې غواړی ثواب د هغه جهان ځکه چې مخالفت ئې و نه کړی او پر خپل ځای شهید شو
ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ بیا پس له غلبی ستاسې بیرته ئې راوګرځولاست تاسی له
دوی څخه او دوی ئې در باندی غالب کړه لِيَبْتَلِيَكُمْ ج د پاره د دې چې وازمائي
تاسې چې په سختی کښې صبر لری او که ئې نه لری یعنې معامله د ازمیونکیو در سره
کوی وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ط او هرآئینه په تحقیق سره عفوه ئې وکړه و تاسی ته چې پخپل
تقصیر ئې پښیمان کړه لاست یا ټول ئې په دوی قتل نه کړه لاست وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ
او خدای څښتن د فضل او د رحمت دی عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۵۲) پر مؤمنانو اِذْ تُصْعِدُوْنَ
یاد کړی هغه چې پر داګ میدان ځغاستلاست تاسې له ویری څخه د کفارو وَلَا
تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ او نه وه د ریدا ایست یو بل ته سره او هیڅ التفات نه کاوی تاسې
ورسول علیه السلام ته چی دی راؤ بیرته (ځغاسته) پاته شو وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ او
حال دا چې رسول علیه السلام بللاست تاسې فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ وروستو له تاسې چې ناری ئې

وهلی لِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ انا رسول اللّٰه فَاَثَابَكُمْ پس جزا درکړه خدای تاسو ته غَمًّا
خفگان د زخم د مرګ د ماتې بِغَمٍّ په سبب د هغه خفګان چې تاسې رسول علیه السلام ته
رسولی وو چې له بندې څخه راګرځیدلو سوا ست بیله اذنه لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا د پاره د دې چې خفه
نشی که لکیلا متعلق شي په عفا پورې یا دا چې خفه شی تاسی که متعلق شي له اثاب
پورې نو لا زائد شو عَلٰى مَا فَاتَكُمْ پر هغه شي چې فوت شویدی له تاسې څخه چې
فتح او غنیمت دی وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ط او نه په هغه شي چې رسیدلی دی و تاسې ته چې زخم
او مرګ او ماتې ده وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ او خدای بنه خبردی بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ پر هغو کارو چې
کوی یئ تاسې ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ پس له هغه را ولیږه خدای پر تاسې مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ
پس له دغه غمه اَمَنَةً نُّعَاسًا د ل ارامی چې پرکالی وه يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ لا چې
لاندې یئ که یوه ټولی د تاسې څخه چې خالص مؤمنان وه وَطَآئِفَةٌ او بله ټولی د منافقانو
چې وه قَدْ اَهَمَّتْهُمْ چې په تحقیق سره چې په غم کښې اچولی وو دوی اَنْفُسُهُمْ ځانو خپلو
يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ ګمان به یئ کاوی پر خدای غَيْرَ الْحَقِّ بیله ګمانه د حق ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ط
ګمان د خلکو د جاهلیت چې هغه دا وو چې دا دین د رسول به تر سره نشی يَقُوْلُوْنَ وائے
دوی هَلْ لَّنَا آیا شته مونږ لره مِنَ الْاَمْرِ له هغه کاره چې وعده یئ له مونږ سره
شوی وه چې هغه نصرت او غلبه وه پر کفار و مِنْ شَيْءٍ ط څه برخه یعنې هیڅ نشته
قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ ورته و وایه چې بې شکه څه کار چې دی كُلَّهٗ لِلّٰهِ ط ټول خدای له د
او دده په فرمان کښې دی که غنیمت که هزیمت دی يُخْفُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ پټوی دا
منافقان په زړو خپلو کښې مَّا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ ط هغه خبرې چې نه یئ ښکاره کوی تا ته
له ویرې د قتله يَقُوْلُوْنَ وائی دوی پټ پټ سره په خپلو کښې لَوْ كَانَ لَنَا که وی مونږ
لره مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ له دې کاره چې نصرت او غلبه ده څه برخه مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ط
نو نه به وو قتل شوی مونږ په دې جنګ د احد کښې قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ ورته و وایه که واست
تاسې فِيْ بُيُوْتِكُمْ په کورو خپلو کښې لَبَرَزَ الَّذِيْنَ نو هم ایشه راوتلی به وو میدان

عه یعنې ما لره راځئ ای بندګانو د خدای زه چې یم رسول د خدای یم ۱۲ عه یعنې ځکست له کفارو ۱۲

د جنګ نه هغه کسان كُتِبَ عَلَيۡهِمُ الۡقَتۡلُ چې مقرر کړه شوی وو پر دوی قتل په دربار
درب کښې اِلٰى مَضَاجِعِهِمۡ ج ځایو د پریوتو خپلو ته په احد کښې او پس له غمه ئې بیا
امن راوست پر تاسې یو د پاکولو ستاسې وَلِيَبۡتَلِىَ اللّٰهُ او بل د پاره ددې چې
وازمائي او که ښکاره کی خدای مَا فِىۡ صُدُوۡرِكُمۡ هغه اخلاص چې په سینو ستاسې
کښې دی وَلِيُمَحِّصَ او د پاره ددې چې لیری کی دی مَا فِىۡ قُلُوۡبِكُمۡ ط هغه وسوسې
چې په زړو ستاسې کښې دی وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ م او خدای ښه دانا دی بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۱۵۴﴾
په هغه اندېښنو چې په سینو کښې پرتې دی اِنَّ الَّذِيۡنَ بیشکه هغه کسان تَوَلَّوۡا مِنۡكُمۡ
چې شاته کړه او مات شوه له تاسې یعنې له کفارو څخه يَوۡمَ الۡتَقَى الۡجَمۡعٰنِ لا په هغه ورځ
چې مخامخ شوی سره دوی طائفې یعنې مؤمنان او کافران په احد کښې اِنَّمَا اسۡتَزَلَّهُمُ
الشَّيۡطٰنُ بیشکه هم داخبره ده چې لغزولی وو دوی شیطان بِبَعۡضِ مَا كَسَبُوۡا ج
په سبب د بعض هغه کارو چې کړی وو دوی چې هغه مخالفت وو له امره څخه د رسول ؐ
وَلَقَدۡ عَفَا اللّٰهُ او هرا ئینه په تحقیق سره چې عفوه کړی ده خدای عَنۡهُمۡ له دوی
اِنَّ اللّٰهَ غَفُوۡرٌ بیشکه چې خدای بخښونکی د ګناهو دی حَلِيۡمٌ ﴿۱۵۵﴾ ع خښتن د حلم ع ۱۶ ۷
دی چې هیڅوک په ګناه ژر نه نیسی يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا اې مؤمنانو لَا تَكُوۡنُوۡا مه
کیږی كَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا لکه هغه کسان چې پټښې کافران دی یعنې منافقان وَقَالُوۡا
لِاِخۡوَانِهِمۡ او وائي دوی په حق د هغه ورو ورونو خپلو کښې چې حسبیان یا نسبیان دی
اِذَا ضَرَبُوۡا په هغه وخت کی چې ولاړشي دا ورو نه ددوی فِى الۡاَرۡضِ په مځکه کښې د
پاره د سوداګری یا د نوړ څه او هلته مړه شي اَوۡ كَانُوۡا غُزًّى یا وی دا ورونه ددوی
غازیان یعنې جنګیدونکی له مخالف دینو سره او چا مړه کړه نو منافقان د هغو په
حق کښې وائي لَوۡ كَانُوۡا عِنۡدَنَا که وای دا مسافران او غازیان موږ سره او په سفر
او په غزا نه وای وتلی مَا مَاتُوۡا نو نه به وو دوی مړه وَمَا قُتِلُوۡا ج او نه به وای
وژل شوی لِيَجۡعَلَ اللّٰهُ د پاره ددې چې کاندی (وه ګرزوی) خدای ذٰلِكَ دا ګمان ددوی

چې په حضور د دوی خلاف نه مري حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ط غم او ارمان په زړو د دوی
کښې وَاللّٰهُ يُحْيِي او خدای ژوندی کول او ژوندی پریښودل کوي چې اراده ئې وشي
او د دوی په حضور هیڅ نه کیږي وَيُمِيتُ ط او هم دی وژل کوي نه سفر او نه جنګ
وَاللّٰهُ او خدای بِمَا تَعْمَلُونَ په هغه صبر او ثبات چې کوئ ئې تاسې بَصِيرٌ ﴿۱۵۶﴾ ښه بینا
دی وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ او هر اینه که ووژل شئ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ په لاره د خدای یعنې په
جهاد کښې أَوْ مُتُّمْ یا بغیله مړه شئ پر خپل فراش په رضا د خدای کښې لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ
اللّٰهِ نو هر اینه بخشش چې دی له جانبه د خدای وَرَحْمَةٌ او رحمت د ده چې دي
خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿۱۵۷﴾ ډیر غوره دی له هغه ماله چې جمع کوي ئې دوی وَلَئِنْ مُّتُّمْ
او هر اینه که مړه شئ بخپل مرګ ای مؤمنانو أَوْ قُتِلْتُمْ او یا ووژل شئ لَإِلَى اللّٰهِ
تُحْشَرُونَ ﴿۱۵۸﴾ نو هر اینه خدای ته به راجمع کړل شئ فَبِمَا رَحْمَةٍ پس محض په
سبب د هغه مهربانۍ چې پر تا شوې ده ای رسوله مِّنَ اللّٰهِ له خدایه لِنْتَ لَهُمْ ج
نرم کړه شوی ئې ته دوی ته وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا او که وې ته تند خویه یا سخت ګویه غَلِيظَ
الْقَلْبِ سخت دل نامهربانه لَانْفَضُّوا نو هر اینه تاربتار شوي به وو دا اصحٰب
مِنْ حَوْلِكَ ص له چاپیره ستا یعنې له سره به د رته نه ووتلینک شوي فَاعْفُ
عَنْهُمْ پس عفوه کوه له دوی هغه تقصیرات چې ستا په باب کښې ځنډي شوي وي
وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ او بخښنه غواړه له خدایه د پاره د دوی د تقصیراتو چې د رب په باب
ځنډي شوي وي وَشَاوِرْهُمْ او مصلحت کوه له دوی سره د پاره د خوشحالولو د دوی
فِي الْأَمْرِ ج په هغه کار کښې چې وحی د رته پکښې نه وي راغلې فَإِذَا عَزَمْتَ پس په
هغه کار کې چې اراده دې وکړه پس له مصلحته فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ط پس توکل وکړه
پر خدای نه پر مصلحت إِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿۱۵۹﴾ خوښوي
توکل کونکي إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللّٰهُ که مدد وکړي له تاسې سره خدای لکه په جنګ د
بدر کښې فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ج پس پیدا به نه شي هیڅوک غالب پر تاسې وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ

لَكُمْ او كه پرېږدي تاسې او مدد درسره ونه كړي فَمَنْ ذَا الَّذِيْ پس څوك دى هغه كس
يَنْصُرُكُمْ چې مدد به كوي درسره مِّنْۢ بَعْدِهٖ ط پس له ده يعني له خدلانه دده معنے دا
چې هيڅوك نشته وَعَلَى اللّٰهِ او خاص پر خداى فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ ميبايدچې توكل
دى وكړي مؤمنان روايت دى چې هركله له غنيمته څخه د بدر يو څادر ورك شو
او منافقانو وويل چې دا به پيغمبرؐ ځان لره اخيستى وى نو نازل شو وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ او نه
دى لائق هيڅ پيغمبر لره خصوصًا سردار ددواړو جهانو لره اَنْ يَّغُلَّ ط دا چې خيانت وكړي
دى په مال د غنيمت كښے وَمَنْ يَّغْلُلْ او هر څوك چې خيانت ئې وكړو په غنيمت كښے يَاْتِ
بِمَا غَلَّ نو رابه شي دا خائن له هغه شي سره چې خيانت ئې پكښې كړى وي يا هم هغه
شے بعينه يا بار د وبال د هغه يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ج په ورځ د قيامت ثُمَّ تُوَفّٰى پس له هغه
به پوره وركړه شے كُلُّ نَفْسٍ هر چا ته مَّا كَسَبَتْ جزا د هغه كار چې كړي وى دې په دنيا كښے
كه خير وى او كه شر وى وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ او دوى چې دى هيڅ ظلم به پرې ونه كړل
شے په وخت د جزاء كښې اَفَمَنِ اتَّبَعَ ايا پس هغه څوك چې پيروي وكړي دى
رِضْوَانَ اللّٰهِ د رضاد خداى لكه مهاجرين او انصار شول كَمَنْ بَآءَ په شان د هغه
چا دى چې بيرته راشے بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ لره لى په هغه قهر چې له خداى څخه دى لكه منافقان
او كافران شول وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ط او ځاى دده دوزخ دى وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶۲﴾
او بد ځاى د ورتلو دى دا دوزخ هُمْ دا پيغمبران او اهل د امانت او تابعان د رضا
د حق چې دى دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ط خيښتنان د لويو مرتبو دى د خداى څخه وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ
او خداى ښه بينا دى بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾ په هغه كار وچې كوي ئے دوى لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ
هرائينه په تحقيق سره احسان كړى دى خداى عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ پر مومنانو اِذْ بَعَثَ
په دې چې را ليږلے دى ده فِيْهِمْ رَسُوْلًا په دوى كښے پيغمبر مِّنْ اَنْفُسِهِمْ له جنسه
څخه د دوى يعني له بنى ادمو يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ چې لولے پر دوى اٰيٰتِهٖ ايتونه دده يعني
قران وَيُزَكِّيْهِمْ او پاكوى دوى په ايمان سره له بنيرى د كفره يا قبلوى زكوٰة ددوى

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ او ور ښيي ورووی ته قرآن وَالْحِكْمَةَ ج او حدیث وَاِنْ كَانُوْا او بیشکه
شان دادی چه وو دوی او دا ان مخففه دی له مثقله څخه او اسم ضمیر دی پټ کېښی
مستتر دی او دا مخکښې لام فاصل دی مِنْ قَبْلُ مخوا له بعثته د رسول لَفِيْ ضَلٰلٍ
مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ هرا ئینه په ښکاره ګمراهۍ کښې او بیا به دعوت دده سره اکثر پر لار شوه

رباعی

اول په وود باطلو په ظلمت کښې تول جهان
بیا په نور د پاک رسول سره دا دواړه شوه ورښان
لکه شپه چه وی تاریکه ښه او بد نه معلومیږی
چه لمر وخیژی نا شي نو ښکاره شي سود او زیان

اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ ایا هر کله چه ورسیدی دی وتاسي ته له کفارو څخه په جنګ د اُحُد
کښي مُّصِيْبَةٌ غم د جرح او قتل او د هزیمت قَدْ اَصَبْتُمْ او حال دا چه په تحقیق
سره رسیدلی وو تاسو په مصیبت رسولو کښې دوی ته په ورځ د بدر مِّثْلَيْهَا لا دوه
چنده له دی غمه څکه چه دوی له تاسو څخه په اُحد کښې اویا تنه وژلی دی او تاسو
له دوی څخه په بدر کښې اویا تنه وژلی وو او اویا تنه مو په بند نیولی وو قُلْتُمْ
اَنّٰى هٰذَا د نو ویل تاسو له ډیره تعجبه چه له کومی خوا راغلی دا غم مونږ له سره
دی چه مونږ مؤمنان یو او رسول علیه السلام هم په مونږ کښې حاضر دی قُلْ
هُوَ ووایه ورته دا چه مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ط ستاسو له خپله ځانه دی ځکه چه
مخالفت کړی دی تاسو چه له خپله ځایه راکښته شوی یاست و لوټ ته بیله اذنه
اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۶۵﴾ پر هر شی ښه قادر دی یعنی هم په
برئ او هم په لرئ وَمَآ اَصَابَكُمْ او هغه غم چه رسیدلی دی تاسو ته يَوْمَ الْتَقَى
الْجَمْعٰنِ په هغه ورځ چه مخامخ شو سره دواړه لښکره یعنی د مؤمنانو او د کافرانو
فَبِاِذْنِ اللّٰهِ پس دا ټول په امر د خدای سره دی وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ او بل
د پاره د دی چه معلوم او ښکاره کی خدای مؤمنان په علم شهودی سره لکه چه
ورته معلوم دی په علم غیب سره چی دوی څومره استقامت لری وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

ع یعنی غم د پر هار او د وژلو او د تیښتی ۱۲ سه یعنی هم په غلبه ورکولو هم په شکست ورکولو ۱۲

او د پاره ددی چه معلوم او ښکاره کی خدای هغه کسان نافقوا چه منافقان دی وَ
قِيلَ لَهُمْ او وویل شی ددی منافقانو ته چه پر لاره ی بیرته گرزیدلی وو ومدینی
ته تَعَالَوْا قَاتِلُوا چه راځی واحد ته او جنګ وکړی له کفارو سره فِي سَبِيلِ اللَّهِ
په لاره د خدای کښی أَوِ ادْفَعُوا یا دفع کړی دا کفار له خپله ځانه څخه یعنی راځی
زموږ سره جنګ لره یا په جهت د خدای او یا د پاره د دفع د دوی له ځانه که مدینی
لره راشی او تاسی او موږ قتول وژنی قَالُوا نو وویل دوی لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا چه که موږ
پوهیدای چه جنګ به رشتیا کیږی لَا تَّبَعْنَاكُمْ نو هرا ئینه در پسی درغلی به وو موږ
لیکن موږ پوهیږو چه جنګ هیڅوک نه کوی نو ځکه بیرته راوگرزیدو هُمْ لِلْكُفْرِ
دوی وکفر ته او دا لام په معنی د الی دی يَوْمَئِذٍ په دغه ورځ چه دا خبره ئی کوله
أَقْرَبُ مِنْهُمْ ډیر نژدی وه له دوی څخه په نسبت سره لِلْإِيمَانِ ج وایمان ته یعنی
هر کله چه نسبت د دوی کفر او ایمان دواړو ته واخلی نو دوی د کفر جانب ته ډیر نژدی
دی اگر که په ظاهر کښی ځانونه خپل مؤمنان بولی يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ وائی دوی
په خولو خپلو سره مَّا لَيْسَ هغه کلمه د توحید چه نشته ئی پر تصدیق فِي قُلُوبِهِمْ ط
په زړو د دوی کښی وَاللَّهُ أَعْلَمُ او خدای ښه پوه دی بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿۱۶۷﴾ په
هغه کفر او حسد او عداوت چه پټوی ئی دوی په زړه کښی الَّذِينَ قَالُوا هغه
منافقان چه وائی لِإِخْوَانِهِمْ وروڼو خپلو ته له منافقانو څخه وَ قَعَدُوا او حال
دا چه دوی پخپله ناست وو راپاتی شوی وو له جنګ څخه لَوْ أَطَاعُونَا که خبره
منلی وای دا احد خلکو زموږ او د دوی هم له موږ سره بیرته راغلی وی مَا قُتِلُوا
نو نه به وو قتل شوی قُلْ فَادْرَءُوا او ووایه ورته پس د دفع کړی عَنْ أَنفُسِكُمُ
الْمَوْتَ له ځانو خپلو مرګ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿۱۶۸﴾ که یاست تاسی رشتینی په
دی خبره کښی چه تاسی څخه دفع د موت شته او په کشاف کښی راغلی دی چه په
دغه ورځ او یا تنه منافقان پخپل مرګ مره شول روایت دی چه هر کله

عه یعنی باور او یقین ۱۲

شهیدانو د اُحد له ډېره افسوسه و رب ته سوال وکړو چې کاشکې دا ژوندي
مؤمنان زموږ له معاش او خوشحالۍ خبر شي چې په دې زړنو د ښمنو ما ر غا نو کښې
نه نړ واو په جنت کښې ګرځو او نعمتونه خورو او اوبه د فردوس اعلیٰ له ولو څخه
چښو او د شپې په بنا خو د طوبی کښې کښېنو چې دوی هم په جهاد د ډېر همت
وکړي نو نازل شو وَلَا تَحۡسَبَنَّ الَّذِيۡنَ او له سره مه ګڼي هغه کسان چې په صدق
د نیت سره قُتِلُوۡا وژل شوي دي دوی فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې یعنې
په جهاد کښې اَمۡوَاتًا مړه یعنې دا قسم مقتولان مړه مه ګڼي بَلۡ اَحۡيَآءٌ بلکه دوی
ژوندي دي عِنۡدَ رَبِّهِمۡ په نزد د رب خپل يُرۡزَقُوۡنَ ۝۱۶۹ چې روزي ورکوله ورکول
کیږي د میوو د جنت څخه فَرِحِيۡنَ بِمَآ پر دې حال چې خوشحاله دي دوی په هغه
شیانو اٰتٰهُمُ اللّٰهُ چې ورکړي دي دوی لره خدای مِنۡ فَضۡلِهٖ له فضله خپله چې
هغه جنت او نعمتونه او رضا دی وَ يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ او خوشحاله کیږي دوی بِالَّذِيۡنَ
په راتلو د هغه کسانو لَمۡ يَلۡحَقُوۡا بِهِمۡ چې نه دي رسیدلي او نه دي پیوسته شوي
په دین پوري مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ ۙ دوی وروستو د دوی اَلَّا خَوۡفٌ د دې خوشحالۍ چې
نشته هیڅ قدر ویره عَلَيۡهِمۡ پر دوی له هیڅ بابه وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ۝۱۷۰ او نه به دوی
غمجن کیږي هیڅېري يَسۡتَبۡشِرُوۡنَ خوشحاله کیږي بِنِعۡمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ په هغه نعمت
چې راځي دوی ته له خدایه وَفَضۡلٍ ۙ او په هغه زیاتي شي له نعمته چې رضا او
دیدار دی وَّاَنَّ اللّٰهَ او د دې چې بیشکه خدای لَا يُضِيۡعُ نه عبث کوي اَجۡرَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝۱۷۱ ع ۱۷ ۱۲ ۸
اجر د مؤمنانو غازیانو روایت دی چې هر کله ابوسفیان له اُحده بیرته روان
شو او پر لاره پښیمان شو نو اراده د رجوع ئې وکړه او رسول علیه السلام چې
په مدینه کښې په دې خبر شو نو اصحابو ته ئې ووېل چې صبا بیا په دښمن پسې
تلل دي نو صبا بیا په یکشنبه روان شو سره له دې ستوماني او ډېرو پرهرو
خوچې نه کړوه له مدینې څخه لیرې شوا و حمرآء الاسد باندې ئې وا ړول نو

ابوسفیان و بیریدی او بیرته ولاړی نو نازل شو اَلَّذِیۡنَ اسۡتَجَابُوۡا آفرین دی پر
هغو کسانو چې له ډیره صدقه ئې غاړه کښېښوه لِلّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ امر د خدای او د
رسول ته چې په دښمن پسې بیا روان شول مِنۡۢ بَعۡدِ مَاۤ پس له هغه اَصَابَهُمُ
مع ۲ الۡقَرۡحُ ۛ چې رسیدلی وو دوی ته زخم چې ټول سره غوښ غوښ وو لِلَّذِیۡنَ
اَحۡسَنُوۡا مقرر دی هغو کسانو لره چې نیکی ئې کړی ده په وفا کولو سره په عهد
مِنۡهُمۡ وَاتَّقَوۡا له دوی څخه او پرهیز ئې کړی دی له مخالفته څخه د رسول ؐ اَجۡرٌ
عَظِیۡمٌ ﴿۱۷۲﴾ اجر ډیر لوی روایت دی چې هرکله ابوسفیان له اُحد نه روان
شو نو رسول ؐ ته ئې ناری کړی چې ای محمد صلی الله علیه وسلم ستا او زموږ وعده راروان
کال ده چې موسم د بدر وو او ده په جواب کښې وویل چې ان شآء الله بیا چې
کال ته ابوسفیان له مکې څخه راروان شو نو بېنیما نه شو او نعیم نومی سړی ته
ئې لس اوښان ومنل چې ولاړ شه او رسول علیه السلام وه ویروه بیا چې نعیم راغلی
او دوی تیاری کاوی نو ورته ئې وویل چې مه ځئ د ومره مخلوق درته جمع شوی
دی چې یو به هم ځنې خلاص نه شی نو رسول صلی الله علیه وسلم قسم وکړ و چې ورځم
نو ولاړه او اته شپې ئې هلته وکړی او ټولو به ویل چې حَسۡبُنَا اللّٰهُ وَنِعۡمَ الۡوَکِیۡلُ
او هلته د مؤمنانو لاس ته ډیر مال راغی په سوداگری سره او خوشحاله بیرته
راغله نو نازل شو اَلَّذِیۡنَ هغه کسان یعنی دا غاړه ایښو ونکی هغه دی قَالَ لَهُمُ
النَّاسُ چې ویل وو دوی ته بعضِ خلکو لکه نعیم اِنَّ النَّاسَ چې بیشکه خلق چې
دی یعنی ابوسفیان او لښکر دده قَدۡ جَمَعُوۡا لَکُمۡ په تحقیق سره جمع شوی دی تاسې
ته د یاره د جنگ فَاخۡشَوۡهُمۡ پس وه بیریږئ له دوی څخه فَزَادَهُمۡ اِیۡمَانًا ۖ
پس زیات کړی دی ویرولو د نعیم د دی مؤمنانو یقین او د لا وری وَّقَالُوۡا او
ویل دی مؤمنانو حَسۡبُنَا اللّٰهُ بس دی موږ لره خدای په یاری او په مددگاری
کښې وَنِعۡمَ الۡوَکِیۡلُ ﴿۱۷۳﴾ او ښه وکیل دی دی فَانۡقَلَبُوۡا پس بیرته کورو لره راغله

عه یعنی بس دی موږ لره خدای او ښه وکیل دی ۱۲

مؤمنان بِنِعۡمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ په نعمت سره له جانبه دخدای چې هغه سلامتي ده
له دښمنه وَفَضۡلٍ او په ډیر سود (گټه) سره لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٌ لا په دي حال چې
ونه رسیدی و دوی ته هیڅ خفګان یعنې نه زخم او نه قتل او نه هزیمت وَاتَّبَعُوا
رِضۡوَانَ اللّٰهِ او پیروی وکړه دوی د مرضی د خدای په فرمانبرداری د رسول وَاللّٰهُ
او خدای ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ خښتن دلوی فضل دی إِنَّمَا بیشکه هم دا خبره د ه
ذٰلِكُمُ الشَّيۡطٰنُ چې دا آواز ګړونکی دا جتماع دکفارو تاسی ته شیطان دی يُخَوِّفُ
أَوۡلِيَآءَهُ ص چې بیروی تاسې ای مؤمنانو له دوستانو خپلو څخه چې کفار دی او
دلته مفعول اول محذوف دی ای یخوفکم کذا فی تفسیر الجلالین والجوزی فَلَا
تَخَافُوهُمۡ پس مه بیریږی له دوی څخه وَخَافُونِ او وه بیریږی له ما څخه إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٧٥﴾ که یاست تاسې مؤمنان وَلَا يَحۡزُنكَ الَّذِينَ او نه دی خفه کوی تا
هغه کسان يُسَارِعُونَ چې تلوار کوی دوی فِي الۡكُفۡرِ په مدد ګاری دکفر کښې لکه
منافقان یا مرتدان شو إِنَّهُمۡ بې شکه چې دوی لَن يَضُرُّوا اللّٰهَ له سره به هیڅ ضرر
ونه رسوی دوی خدای ته شَيۡـًٔا ط د هیڅ شي بلکه ضرر بې هم دوی ته راجع دے
له دی جهته چې يُرِيدُ اللّٰهُ اراده لری خدای أَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ ددی چې ونه
کړی دوی لره حَظًّا فِي الۡأٓخِرَةِ ج هیڅ برخه د ثواب په هغه جهان کښې وَلَهُمۡ
او مقرر دی دوی لره عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾ عذاب لوی إِنَّ الَّذِينَ بیشکه هغه کسان
اشۡتَرَوُا الۡكُفۡرَ بِالۡإِيمَانِ چې اخیستی دی دوی کفر په بدل د ایمان کښې لَن يَضُرُّوا
اللّٰهَ شَيۡـًٔا ج و به نه رسوی و خدای ته دوی ضرر د هیڅ شي وَلَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾ او دوی لره دی عذاب دردناك وَلَا يَحۡسَبَنَّ الَّذِينَ او ګمان دی نه
کوی له سره هغه کسان كَفَرُوٓا چې کافران دی له یهودو او له نصارٰی وو او له
مشرکانو او له منافقانو داسې چې إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ بیشکه دا چې مهلت ورکوو موږ
دوی لره خَيۡرٌ لِّأَنفُسِهِمۡ د غوره دی ځانو د دوی لره او په واقعه کښی داسې

نه ده بلکه اِنَّمَا نُمۡلِیۡ لَهُمۡ بیشکه مهلت ورکوو موږ دوی لره لِیَزۡدَادُوۡۤا اِثۡمًا ۚ دپاره
ددی چې زیات شی دوی له جهته دگناه وَلَهُمۡ اودی دوی لره عَذَابٌ مُّهِیۡنٌ ﴿۱۷۸﴾
عذاب سپکونکی مَا کَانَ اللّٰهُ نه دی خدای لِیَذَرَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ چې پریږدی مؤمنان
عَلٰی مَاۤ پرهغه حال اَنۡتُمۡ عَلَیۡهِ چې یاست تاسې پرهغه حال یعنې چې مخلصان او
منافقان سره گډ ووډ یاست حَتّٰی یَمِیۡزَ الۡخَبِیۡثَ ترهغه چې بیل کی پلیت مِنَ الطَّیِّبِ ؕ
له پاکه یعنی منافق له مخلصه روایت دی چې هرکله کفارو وویل چې که محمد صلی الله علیه وسلم
په رښتیا پیغمبروی نوموږ ته دی وښیي چې له موږ څخه به څوک ایمان راوړی او څوک
به ئې نه راوړی نو نازل شو وَمَا کَانَ اللّٰهُ او نه دی خدای لِیُطۡلِعَکُمۡ چې خبرکړی تاسې
عَلَی الۡغَیۡبِ په پټو اسرارو وَلٰکِنَّ اللّٰهَ اولیکن خدای چې دی یَجۡتَبِیۡ غوره کوی دپاره
داطلاع دغیب مِنۡ رُّسُلِهٖ له رسولانو خپلو څخه مَنۡ یَّشَآءُ ۪ هرهغه څوک چې اراده
ئې وشي فَاٰمِنُوۡا بِاللّٰهِ پس ایمان راوړی تاسې پرخدای وَرُسُلِهٖ ۚ او پر رسولانو دده
چې غوره بندگان دخدای دی وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا او که ایمان راوړی تاسې وَتَتَّقُوۡا او
پرهیزوکړی له بدو څخه فَلَکُمۡ پس دی تاسو لره اَجۡرٌ عَظِیۡمٌ ﴿۱۷۹﴾ اجرلوی وَلَا یَحۡسَبَنَّ
الَّذِیۡنَ او گمان دی نه کوی له سره هغه کسان یَبۡخَلُوۡنَ چې بخل کوی دوی بِمَاۤ اٰتٰهُمُ
اللّٰهُ پرهغه مال چې ورکړی دی لره خدای مِنۡ فَضۡلِهٖ له فضله خپله هُوَ خَیۡرًا لَّهُمۡ ؕ چې
دا بخل غوره دی دوی لره بَلۡ هُوَ شَرٌّ لَّهُمۡ ؕ بلکه دا بخل ډیر بد دی دوی لره —
سَیُطَوَّقُوۡنَ ژر دی چې طوق به واچول شي په گردنو ددوی کښې مَا بَخِلُوۡا بِهٖ دهغه
مال چې بخل کړی دی دوی په هغه مال یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ ؕ په ورځ دقیامت وَلِلّٰهِ
اوخاص خدای لره دی مِیۡرَاثُ السَّمٰوٰتِ میراث د اسمانو وَالۡاَرۡضِ ؕ او دمځکی
یعنې دادواړه به فنا شي اوهرڅه به ئې مالک حقیقی ته پاته شي وَاللّٰهُ او خدای
بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ پرهغه کارو چې کوی ئې تاسې خَبِیۡرٌ ﴿۱۸۰﴾ بنه خبردی نو دمتولو جزا به
درکړی روایت دی چې هرکله ایت داقرضوا الله قرضًا حسنًا راغلی نو یهود و

عه یعنې ژمکه او اسمانونه ۱۲ عه یعنې پادشاه په رښتیا سره چې الله پاک دی ۱۲

د ویل چې خدای هیڅ نه لری او محتاج دی او موږ غنیان یو ځکه دی له موږ څخه
قرض غواړی نو نازل شو لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ هرآئینه په تحقیق سره واورېدی خدای
قَوْلَ الَّذِیْنَ گفتار د هغو کسانو قَالُوْٓا چې وائی دوی اِنَّ اللّٰهَ فَقِیْرٌ بیشکه چې خدای
نادار دی وَّنَحْنُ اَغْنِیَآءُ ۘ او موږ غنیان یو ځکه دی قرض راڅخه غواړی سَنَکْتُبُ
ژر دی چې وبه لیکو په کراماً الکاتبین مَا قَالُوْا هغه چې وائی دوی وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِیَآءَ
او بل به ولیکو وژل دد دوی پیغمبرانو لره یعنې چې نیکه گانو ددوی وژلی دی بِغَیْرِ حَقٍّ لا
په ناحق په اعتماد دد دوی کښې هم وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا او وبه وایو موږ ودوی ته په
قیامت کښې چې وڅکی تاسې عَذَابَ الْحَرِیْقِ (١٨١) عذاب سېزونکی اور ذٰلِکَ دا
عذاب چې دی بِمَا قَدَّمَتْ په سبب د هغه کار دی چې مخوا لیږلی دی اَیْدِیْکُمْ
لاسونو ستاسې یعنې چې تاسې کړی دی او یا نیکه گانو ستاسې کړی دی او تاسې
په راضي یاست لکه قتل د انبیاوو یا عبادت د گیلگی یا داسې نور کار ونه شوه وَاَنَّ
اللّٰهَ او بل دا چې بیشکه خدای لَیْسَ بِظَلَّامٍ نه دی ظلم کونکی لِّلْعَبِیْدِ (١٨٢) پر بندگانو خپلو
او بل ئې واورېدی اَلَّذِیْنَ قَالُوْٓا د هغه کسانو چې وائی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای
عَهِدَ اِلَیْنَآ پیغام کړیدی وموږ ته اَلَّا نُؤْمِنَ ددی چې ایمان دی را نه وړو موږ
لِرَسُوْلٍ په هیڅ رسول حَتّٰی یَاْتِیَنَا تر هغه چې راوړی موږ لره بِقُرْبَانٍ په داسې
قربانی تَاْکُلُهُ النَّارُ ؕ چې ئې وخوړی اور او دا یوه معجزه وه د پیغمبرانو د بنی
اسرائیلو چې قربانی به ئې وکړه نو پیغمبر به ئې ودریدی په سوال وخدای ته نو اور
به راغلی له اسمانه او دا قربانی به ئې رسوه او دا به ئې د قبلید ونښه وه قُلْ قَدْ
جَآءَکُمْ ووایه ورته چې په تحقیق راغلی وو تاسې ته رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِیْ رسولان
مخوا له ما بِالْبَیِّنٰتِ په ښکاره معجزو غیر له قربانی وَبِالَّذِیْ قُلْتُمْ او په هغه معجزه
هم چې وویله تاسې چې قربانی ده فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ پس نو ولی قتلول تاسې دوی

ـه یعنې په هغه دو وملائکو چې هر سړی سره مقرر دی د پاره د لیکو د عملو ددوی
او کراماً الکاتبین ئې نوم دی ۱۲

لکه زکریا او یحییٰ یاد اسے نور شول یعنی نیکه کانو ستا سے وژلی وو او تا سے په راضی
یاست اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ (۱۸۳) که یاست تا سے رشتینی په دی کښی چی هغه پیغمبر منی تا سے
چی قربانی په او روسوځی فَاِنْ كَذَّبُوْكَ پس که دروا ئجن و بولی دوی تا ای رسوله
فَقَدْ كُذِّبَ پس په تحقیق سره دروا ئجن بلل شوی دی رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ډیر رسولان
پخواله تا جَآءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ چی راغلی وو په ښکاره معجزو وَالزُّبُرِ او په مواعظو یا په
احکامو شرعیه وو سره وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ (۱۸۴) او په دا سے کتاب چی بیانونکی دی د حلالو
او د حرامو كُلُّ نَفْسٍ هر متنفس ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ط څکونکی د مرگ دی یعنی ټول به و مری
که نیکان وی که بدان وی وَاِنَّمَا او بیشکه هم دا خبره ده تُوَفَّوْنَ چی پوره به درکړل
شی و ټولو ته هم نیکانو ته او هم بدانو ته اُجُوْرَكُمْ اجرونه د عملو خپلو د نیکو نیک او د بدو
بد يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط په ورځ د قیامت فَمَنْ زُحْزِحَ پس هر څوک چی لیری کړه شی
عَنِ النَّارِ له اوره د دوزخ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ او داخل کړه شی په جنت کښے فَقَدْ فَازَ ط
پس په تحقیق سره بریالی شو وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ او نه دی ژوندون د نړی اِلَّا
مَتَاعُ الْغُرُوْرِ (۱۸۵) مگر رخت دی د غرږ کیدو ځکه چی اوس ډیره غوره ښکاره کیږی
و خلکو ته او بیا په آخرت کښے به ډیر منا کاره و خیژی لَتُبْلَوُنَّ قسم دی چی به وازمیلی
شی تا سے خامخا فِیْٓ اَمْوَالِكُمْ په مالو خپلو کښے په امر د زکوٰۃ یا په رسیدو د آفاتو سره
وَاَنْفُسِكُمْ قف او په ځانو خپلو کښی په جهاد په قتل په زخم په بند په رنځ په لوږه سختیو سره
وَلَتَسْمَعُنَّ او هرا ئینه وا به وری تا سے ضرور بے ضرور مِنَ الَّذِيْنَ له هغه کسانو څخه اُوْتُوا
الْكِتٰبَ چی ورکړه شوی دی دوی لره کتاب مِنْ قَبْلِكُمْ مخکی له تا سے وَمِنَ الَّذِيْنَ او له هغه
کسانو اَشْرَكُوْٓا چی شریکان نیسی په خدای پوری اَذًى كَثِيْرًا ط ازار ډیر یعنی داسے
خبری به تری واوری هم د خپل ځان او هم د رسول په حق کښے چی ستا سے زړه به
په تړ خوړ کیږی وَاِنْ تَصْبِرُوْا او که صبر وکړی تا سے په دی وارو وَتَتَّقُوْا او پرهیز
وکړی له مخالفته زما فَاِنَّ ذٰلِكَ پس بیشکه دا صبر او تقویٰ چی دی مِنْ عَزْمِ

ع هر ساه اخستونکی یعنی ژوندی ۱۲

الْاُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾ له محکمو کارو وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ او یاد که هغه چې واخستی خدای مِیْثَاقَ
الَّذِیْنَ عهد له هغو کسانو اُوْتُوا الْکِتٰبَ چې ورکړه شوی دی ورته کتاب چې تورات او
انجیل دی یعنې له عالمانو د دوی په دی خبره لَتُبَیِّنُنَّهٗ چې بیانوی به تاسې دا کتاب
خاصکا خصوصًا نعت د رسول ﷺ لِلنَّاسِ خلګو ته وَلَا تَکْتُمُوْنَهٗ او نه به ئې پټوی
فَنَبَذُوْهُ پس وغورځاوه دوی دا عهد یا کتاب وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ د شا ورسته
یعنې هیڅ التفات ئې ورته وه نه کی فائده دا ایت دلیل د وجوب دی پر علماؤ چې
بیانوی دی حق وخلګو ته او نه دی پټوی د پاره دغرض فاسد چې هغه اسانی ده
پر ظالمانو یا خوشحالی ده د دوی یا د نفع یا د ضرر ځان ته یا بخل په علم کوی او په حدیث
کښې دی چې مَن کتم علمًا عن اهله اُلجم بلجام من نار یعنې هر چا چې پټ کړی علم له
اهل علم قیضه به شی په قیضه داور سره کذا فی المدارك وَاشْتَرَوْا بِهٖ او وی
پیرود په هغه عهد یا کتاب یعنې عوض ئې په واخستی ثَمَنًا قَلِیْلًا مبلغ کم فَبِئْسَ
مَا یَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ پس بد دی هغه شی چې پیری دوی روایت دی چې هر کله -
رسول علیه السلام له یهودو څخه پوښتنه وکړه دیوه شی چې په تورات کښې وو او
دوی هغه پټ کړی او وده ته ئې خلاف جواب ورکړی او په ظاهر کښې ئې وده ته
داسې وضعه ښکاره کړه چې موږ وتا ته موافق جواب درکړی دی نو موږ لائق د
مدحې یو او دوی په دی کار خوشحاله شو نو نازل شو لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ ګمان
مه کوه ای رسوله پر هغو کسانو یَفْرَحُوْنَ چې خوشحاله کیږی دوی بِمَآ اَتَوْا په
هغه کار چې کړی دی دوی چې پټول د نعت دی وَّیُحِبُّوْنَ او مینه کوی دوی فَلَا
تَحْسَبَنَّهُمْ پس له سره مه ګڼه دوی بِمَفَازَةٍ خلاصید ونکی مِّنَ الْعَذَابِ له
عذابه څخه د اخرت یا له عذابه د دنیا لکه قتل او جلا وطنی او خواری او
جزیه وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۸۸﴾ او دی دوی لره عذاب دردناك وَلِلّٰهِ او خاص
خدای لره ده مُلْكُ السَّمٰوٰتِ بادشاهی د اسمانو وَالْاَرْضِ د او د ځمکی وَ

اللہ او خدای عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۸۹﴾ پر هر شی بنه قادر دی روایت دی چی هر
کله قریشو وویل ورسول ته چی معجزه د موسیٰ علیه السلام عصا او ید بیضاء وه
او د عیسیٰ مری کول او ړانده او برګی رغول وو او ته که داکوه صفا د سرو زرو کی
نو مونږ به ستا د خدای قدرت و منو د یاره د بیان د دی چی غیر له کوه صفا نوری نښې
د قدرت هم ډیری دی دا نازل شو اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ بیشکه چه پیدا کولو د
اسمانونو سره هغه چې په دوی کښې دی وَالْاَرْضِ او د مځکې سره د هغه چې په دی کښې دی
وَاخْتِلَافِ الَّیْلِ او په مختلف کیدو د شپې کښې وَالنَّهَارِ او د ورځې کښې په کمیدو او
په زیاتیدو کښې یا په رڼا او تیاره کیدو کښې لَاٰیٰتٍ هر اٰینه څو څو قسمه نښې دی
په وجود د صانع حکیم، واحد، قدیم، قادر، علیم باندی لِّاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾ خاوندانو
د خالصو عقلونو ره ځکه چې دا نقلیات د عالم دلالت کوی پر وجود د محدث واحد قدیم
ځکه چې که قدیم نه شی نو دی به هم محتاج شی و بل محدث ته او هغه بیا و بل محدث
ته وهکذا یا به دور لازم شی او یا تسلسل او دا خو دواړه باطل دی نو لازم شو چې
دی قدیم دی ابتداء او واحد دی ځکه چې که خدای متعدد دوی نو خراب شوی به
وو دا مځکې او اسمانونه کما قال جل شانه لو کان فیهما اٰلهة الا الله لفسدتا او د خاوندان
الَّذِیْنَ هغه کسان دی یَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ چې یادوی دوی خدای قِیٰمًا وَّقُعُوْدًا هم په
ولاړی او هم په ناستی وَّعَلٰی جُنُوْبِهِمْ او هم چې په اړخو پراته وی یعنې په هر وخت
کی یادوی یا مراد دری حاله د لمانځه دی لو د صحت او د وه د مرض وَیَتَفَكَّرُوْنَ او
فکر کوی دوی پر طریقه د استدلال فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ په پیدا ایښت د اسمانونو کښې وَ
الْاَرْضِ او د مځکې کښې چې څرنګه عجائب دی پکښې چې اسمان ارت دی او مځکه تنګه

عه یعنی داغر او غونډی د صفا ۱۲ عه یعنی پیدا کونکی حکیم یعنې هر کار ئې د حکمت دی ۱۲ عه واحد چې یو دی
په بادشاهی او په خدائی کښې قادر قدرت لری عالم پوهیږی ۱۲ عه یعنی که چیری وای په دی مځکه او اسمانو
کښې معبودان او خدایان تا ثیر کونکی بیله الله نو هر اٰینه خراب شوی به وو دا مځکه او اسمانونه ۱۲ لعه
یو د صحت یعنی چې سری جوړ وی نو په ولاړی دی لمونځ کوی او چې ناجوړه وی نو په ناستی دی لمونځ
کوی او که ډیر ناجوړه وی بې طاقته وی نو په پړدلت دی لمونځ کوی ۱۲

اودی صاف دی او دا خیرنده او دے لوی دی او دا وړه ده او دی هواردی اودا
ناهواره او دی بنوی دی او دا زیږه او دی مسین دی او دا دخاورو او دی له ستوږو
ډك دی او دا خالی ده هر کله چه دا رنګارنګ تغیرات وګوری نوله ډیره حیرته
ووائی رَبَّنَا ای ربه زمونږ مَا خَلَقْتَ هٰذَا نه دی پیدا کړی تا دا تمام عالم باطلا
عبث په مسخرو سُبْحٰنَكَ پاکی ده تا لره فَقِنَا پس وساته موږ عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾
له عذابه داوړ ددوږخ څخه رَبَّنَآ ای ربه زمونږ اِنَّكَ بیشکه ته چی نی مَنْ
تُدْخِلِ النَّارَ هر څوك چی ننباسی ئی په اور د دوږخ کښی فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ دپس په
تحقیق سره وشرماوی تا دی په عالم کښی او سپك او هلاك دی کړی وَمَا
لِلظّٰلِمِيْنَ او نشته ظالمانولره یعنی کافرانولره مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ هیڅوك له یارانو او
مددګارانو رَبَّنَآ ای ربه زمونږ اِنَّنَا بیشکه موږ چه یو سَمِعْنَا مُنَادِيًا واوریدی
موږ ږغ د یو جارچی (آواز کونکی) يُّنَادِيْ چه ناری وهے او بولی خلك چی هغه رسول
علیه السلام یا قرآن دی چه ترقیامته ناری کوی په ژبه د بیان لِلْاِيْمَانِ ایمان
راوړو ته اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ یعنی داسی وائی چه ایمان راوړی ای خلګو پر رب خپل
فَاٰمَنَّا قے پس ایمان راوړی موږ رَبَّنَا ای ربه زمونږ فَاغْفِرْ لَنَا پس وبخښه موږ ته
ذُنُوْبَنَا ګناهونه زمونږ وَكَفِّرْ عَنَّا او ورژوه له موږ څخه سَيِّاٰتِنَا واړه ګناهونه
زمونږ وَتَوَفَّنَا او وفات کړه او بیا حساب کړه موږ مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾ له نیکانو سره
رَبَّنَا ای ربه زمونږ وَاٰتِنَا او راکړه موږ ته مَا وَعَدْتَّنَا هغه شیان چی وعده کړی
ده تا له موږ سره د هغو عَلٰی رُسُلِكَ په ژبه د رسولانو خپلو وَلَا تُخْزِنَا او مه
رسوا کوه موږ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ د په ورځ د قیامت په اولینو او په آخرینو کښے اِنَّكَ
لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾ بیشکه چه ته نه خلاف کوی وعده خپله او په تفسیر یسیر
کښے راغلی دی چی اول له دی پنځو رَبَّنَا رسول ویلی دی او دویم صدیق اکبر او
دریم فاروق او څلرم عثمان او پنځم مرتضیٰ نو دپاره د ښکاره کولو د قبول ددی

مه چه نه وي مکړه وګه ۱۲


سوالونه نازل شو فَاسْتَجَابَ لَهُمْ پس قبول کړه لره دوی د اسوالونه رَبُّهُمْ رب د دوی او
دا سے لئ و رته و ویل چې اِنِّىْ لَآ اُضِيْعُ بیشکه چې زه نه عبث کوم عَمَلَ عَامِلٍ
مِّنْكُمْ عمل د هیڅ عمل کوونکی له تاسے څخه مِّنْ ذَكَرٍ له نارینه څخه وی دا عمل اَوْ اُنْثٰى ج
یا له ښځو څخه وی ځکه چې بَعْضُكُمْ بعض ستاسے چې دی مِّنْۢ بَعْضٍ ج له بعضو دی
یعنی نارینه له ښځو او ښځې له نارینه و و دی او دا قول بیا په یو ه زنګ بنی ادم دی نو
زه هم په یو رنګ قبلول کوم نقل دی له امام جعفر صادق څخه چې هر چا چې غم
غالب شو او وده دا پنځه سره رَبَّنا و ویل نو خدای به لئ له غمه ژر خلاص کړی او
مراد به لئ حاصل کړی فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا پس هغه کسانو چې پری ایښی دی دوی
شرک یا وطن او خپلوان د د پاره د دین عه وَاُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ او و یستل شوی دي
په لاری زماکښې دوی له مینو (کورو) خپلو وَاُوْذُوْا فِىْ سَبِيْلِىْ او زورول شوی
دی په لاره زماکښې یعنی په سبب د دین زما وَقٰتَلُوْا او جنګونه لئ کړی دی له
کفارو سره وَقُتِلُوْا او وژل شوی دی لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ هرائینه خامخا به ورژوم
له دوی څخه سَيِّاٰتِهِمْ ګناهونه د دوی وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ او هرائینه داخل به کړم دوی
جَنّٰتٍ تَجْرِىْ په هغه باغونو کښې چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ج لاندی د قصورو یاد
ونو د هغو خلور قسمه وَلَی دا او بو د شید و د شرابو د شاتو او جزا به د نیکو ورکړو
موږ و دوی ته ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط په جزا ورکولو د نیکو سره له جانبه د خدای
وَاللّٰهُ او خدای چې دی عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ (۱۹۵) د ده څخه ده نیکه او ښه جزا
روایت دی چې هر کله مشرکانو عیشونه کول او پر فقراء و د مؤمنانو ډیره سختے
وه او د دوی په زړو کښی به راګرزیدل چې عجب کار دی چې بُت پرستان دا سی
خوشحاله دی او د خدای دوستان دا سے بد حاله دی نو د پاره د تسلی د دوی
نازل شو لَا يَغُرَّنَّكَ نه دی تیر باسے له سره تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا چورلید ل د
هغو کسانو چې کافران دی فِى الْبِلَادِ ط (۱۹۶) په دی ښارو کښې د پاره د سوداګری او د

عه یعنی ضرر ورته رسول شوی دی ۱۲ عه یعنی جدا شوی دی له وطنه ۱۲

سیلو ځکه چې دا کرن یدل د دوی مَتَاعٌ قَلِيلٌ تمتع عیش لږ دی ثُمَّ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط بیا
پس له مرګه ځای د دوی دوزخ دی وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾ او بد ځای دی د دیره کیدو دا
دوزخ لٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا لیکن هغه هغه کسان چې بیریږي رَبَّهُمْ له ربه خپله
لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ دی دوی لره باغونه چې بهیږي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د
قصوو او یا د ونو د هغو څلور قسمه ویالې خٰلِدِيْنَ فِيْهَا همیشه به وی دوی په دی
جنتو کښې نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط په دی حال کښې چې پیشکشي او مهماني به وی له
جانبه د خدای دا باغونه دی جنتیانو لره وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ او هر ائینه هغه شی چې د
خدای څخه دی خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ هغه ډیر غوره دی نیکانو لره له دی فانی عیشه
وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ او بیشکه چې بعض له اهل کتابو لَمَنْ يُّؤْمِنُ هر ائینه هغه څوک
دی چې ایمان راوړی بِاللّٰهِ پر خدای وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ او پر هغه کتاب چې رالیږل
شو یدی تاسی ته ای محمدؐ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ او پر هغه کتاب چې رالیږل شوی دی
ودوی ته چې تورات دی که مراد له اهل کتابو څخه ابن سلام او اصحاب دده وی او
انجیل دی که مراد څخه نجاشی او اصحاب دده وی خٰشِعِيْنَ په دی حال کښې چې
بیریدونکی یا تواضع کونکی وی لِلّٰهِ خدای لره لَا يَشْتَرُوْنَ نه پیری دوی بِاٰيٰتِ اللّٰهِ
په ایتو د خدای یعنی په احکامو د تورات یا په پټولو د نعت نبویؐ ثَمَنًا قَلِيْلًا ط
مبلغ لږ اُولٰٓئِكَ دا کسان چې دی له اهل کتابو چې دا کارونه کښی دی لَهُمْ اَجْرُهُمْ
دی دوی لره اجر د دوی هم د پخوانی دین او هم د دی دین محمدی عِنْدَ رَبِّهِمْ ط په
نزد د رب د دوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾ ژر کونکی دی د
حساب يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ای مؤمنانو اصْبِرُوْا صبر کوی په ادا د فرائضو یا په
جهاد کښې وَصَابِرُوْا او غالب او سی همیشه په صبر کښې پر کفارو باندی وَرَابِطُوْا
او تړلی لری همیشه تیار اسونه خپل په بندو او نو د جهاد کښی او خپل ځانونه هم

عه د قصوو یعنې بنګلو او ماڼیو ۱۲ عه مهماني میلمستیا ۱۲ صه تواضع کونکی عاجزی
کونکی ۱۲ سه نعت صفت ۱۲ سه مبلغ قیمت ۱۲

هر وخت تیار لری جهاد ته وَاتَّقُوا اللّٰهَ اووه بیریږی له خدایه لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ (۲۰)
بنائی چې تاسی بریالی شئ قال علیه السلام اقرؤا الزهراوين البقرة وسورة ال عمران عه
فانهما یاتیان یوم القیمة کانهما غمامتان اوغیابتان اوفرقان من طیر صواف تحاجان عن اصحابهما



يَاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ اے خلګو وه بیریږی تر له له ربه خپله څخه یعنی له قهره اوله
عذابه د ده څخه الَّذِیْ هغه رب چې په قدرت کامله سره خَلَقَكُمْ پیدا کړی ئی یاست تاسی
مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ له یوه شخصه چې ادم ؑ دی وَّخَلَقَ مِنْهَا او پیدا ئی کړه هم له دغه نفسه
زَوْجَهَا جفت (جوړه) د ده چې بی بی حواء وه په دی شان چې په جنت کښی یوه ورځ جبرائیل
علیه السلام وره یستی د چپه طرفه د ادم علیه السلام راوه ایسته او بی بی حواء ئی ځندی
سازه (جوړه) کړه وَبَثَّ مِنْهُمَا او خواره ئی کړه پر تمام روی زمین له دی دواړو څخه په واسطه
د تولد تناسل سره رِجَالًا كَثِيْرًا سړی ډیر وَّنِسَآءً او ښځی ډیری وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ او
وه بیریږی له خدایه چې په وخت د مدد غوښتو کښی یو له بله تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ سوال کوی
یو له بله په هغه ځای سره وَالْاَرْحَامَ د او بل بیریږی له قطع د خپلوی له اقرباء و سره
اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای كَانَ عَلَيْكُمْ دی پر تاسے رَقِيْبًا ① نګهبان نو میبا ید چې په
هیڅ وخت په هیڅ حال په هیڅ حرکت په هیڅ سکون له ده څخه غافله نه شی روایت
دی چې یوه سړی څخه د عطفان د خپل یتیم وراره ډیر مال وو چې بیا هغه بالغ شو نو
خپل مال ئی ځندی طلب کی او هغه منع وکړه نو نازل شو وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى او ورکړی اے
ولیانو یتیمانو لره اَمْوَالَهُمْ مالونه د دوی روایت دی چې دوی به خپل خوارمو ښه
او پسونه له سړی څخه و یتیمانو ته کړه او د دوی چاغ به ئی خپل ځان ته کړه او ویل به ئی

عه فرمایلی دی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې و ایاست د وه ستوری یعنی سورة بقرة او سورة
ال عمران ځکه چې را به شی دوی تر لی تی د اوریځی او یا دوی تر لی د مرغانو صف تړونکو یعنی د وه
چهتری چې جګړه به کوی له جانبه د ملګرو خپلو یعنې چې څوك ئی وائی د هغوی خلاصی به له خدایه غواړی ۱۲

چې شاته بشارة یعني پسه په پسه شو نو نازل شو وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ او بدل مه اخلئ
ناپاك بِالطَّيِّبِ ص په پاك باندی یعني مه اخلی هغه مال د یتیم چې ستاسی په حق
کښې ناپاکه دی په بدل د خپل پاك مال کښې وَلَا تَاْكُلُوْا اَمْوَالَهُمْ او مه خورئ مالونه
د دوی ګډ کړئ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ط له مالونو خپلو سره اِنَّهٗ كَانَ بې شکه چې دی دا خوړل یا
بدلول یا مال د یتیم حُوْبًا كَبِيْرًا (۲) ګناه لویه بیا هغه سړی چې دا اوړی بدل نوئ وویل
نعوذ بالله من الحوب الکبیر او مال ئې تول پرو ړه وسپاری روایت دی چې هر کله
عر بو بر له ماله د یتیم خپل ځان ساتی نو نازل شو وَاِنْ خِفْتُمْ او که و یریدلاست تاسې
اَلَّا تُقْسِطُوْا له دی چې برابری به ونه کړه شئ فِی الْيَتٰمٰى په حق د یتیمانو کښې فَانْكِحُوْا
مَا طَابَ لَكُمْ پس په نکاح واخلی تاسې هغه چې خوښې شی ستاسی مِّنَ النِّسَآءِ له ښځو
ښځه مَثْنٰى دوی دوی وَثُلٰثَ او دری دری وَرُبٰعَ ج او څلور څلور او دا دواړه -
واو ونه په معنیٰ د اَوْ دی حاصل دا چې که مال ښځه د یتیم ویره کوئ نو له نه ناهم ویره
کوی او له ښځو سره معامله په نکاح کوی نه په سفاح او له ډیرو ښځو ښځه هم ویره
وکړی او له څلورو ښځه زیاتی مه کوی فَاِنْ خِفْتُمْ پس که بیریدلاست تاسې اَلَّا تَعْدِلُوْا
له دی چې برابری به ونه کړل شئ د ډیرو ښځو په مینځ کښې فَوَاحِدَةً پس یوه اخلی اَوْ مَا
مَلَكَتْ یا هغه سړی ئې واخلی چې مالکان شوی وی د هغو اَيْمَانُكُمْ ط ښی لاسونه
ستاسی او دا کنایت دی له مالکیت ښځه یعنی که دا غواړی چې ښځې ډیری وی او قید
د عدل پکښې نه وی نو مینځې پیدا کړی چې په هغو کښې هیڅ قید نشته ذٰلِكَ دا کول
دیوی اصیلی یا د ډیرو سُرِّیُوْ چې دی اَدْنٰٓى د یر نژدی دی اَلَّا تَعُوْلُوْا (۳) ودی ته چې
میل یا ظلم و نه کړی تاسی وَاٰتُوا النِّسَآءَ او ورکړی ښځو منکوحو خپلو ته صَدُقٰتِهِنَّ
مهرونه د دوی په حال د کید و د دی مهر و کښې نِحْلَةً ط عطا له خدایه پر دوی باندی
فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ پس که د رکړی دوی تاسی له په خپله خوښه او د رتیری شی عَنْ شَيْءٍ
مِّنْهُ له کوم شی له دی مهر ښځه نَفْسًا په خوښې د خپلې طبع فَكُلُوْهُ پس خوری هغه

عه څرګرن یدل له انصاف ښځه ۱۲

درکړی شی اولګوی ئې پخپلو مصارفو هَنِیۡٓـًٔا مَّرِیۡٓـًٔا ﴿۴﴾ بی ګناه بی ضرره کذافی المدارک
وَلَا تُؤۡتُوا السُّفَهَآءَ او مه ورکوی یعنی مه سپاری لیونو او کم عقلو ته یعنی ښځو او وړه
اولادخپل ته اَمۡوَالَکُمُ الَّتِیۡ هغه مالونه خپل جَعَلَ اللّٰهُ چی کړی دی خدای دا مالونه
لَکُمۡ قِیٰمًا تاسی لره سبب د قوام د بدن او ترسره کولو د ټولو کارو یعنی هم د دنیا لکه
خوراک، څښاک، پوښاک، مسکن او باقی اسباب د معیشت شو او هم د دین لکه حج
عمره، نفقه، خیرات، ضیافت او باقی مصارف د دینیه شوه وَّارۡزُقُوۡهُمۡ او روزی
ورکوی دوی لره فِیۡهَا په دی مالو کښې وَاکۡسُوۡهُمۡ او جامه هم ورکوی دوی لره
وَقُوۡلُوۡا لَهُمۡ او وایاست و دوی ته قَوۡلًا مَّعۡرُوۡفًا ﴿۵﴾ خبره خوږه نرمه یا معنیٰ دا چې
مه سپاری ای ولیانو په لیونو او په ښځو او په یتیمانو هغه مالونه د دوی چی ستاسې
په تصرف کښې دی تر وخته د هوښیاری او د بلوغ د دوی پوری او خوراک او پوښاک
وړه ورکوی او دلاسه کوی ئې چی دا مال ستاسې دی او تاسی له ئې ساتو وَابۡتَلُوا
الۡیَتٰمٰی او وازمایاست تاسی یتیمان که نارینه وی په تمیز په بیع په شراء په حفظ د
مال سره او که ښځه وی نو په خرخ په ګنډ ولو په شربلو په پخولو په نورو کارو د کاله
سره حَتّٰۤی اِذَا تر هغه وخته بَلَغُوا النِّکَاحَ ج چی ورسیږی دوی وحد د نکاح ته یعنی
حد د بلوغ ته چې هغه په نزد د امام اعظم نارینه په احتلام یا په پوره کیدو سره
د اتلسو کالو دی او ښځې په حیض یا په حمل یا په پوره کیدو د اوولسو کلو سره دی
او فتویٰ پر هم دی ده ځکه چې عمرونه د دی زمانی کوتاه دی فَاِنۡ اٰنَسۡتُمۡ پس که بیا
ومومندی تاسې مِّنۡهُمۡ رُشۡدًا له دوی نه څخه پس له بلوغه هوښیاری په معامله
او په ساتنه د مال کښی فَادۡفَعُوۡۤا اِلَیۡهِمۡ پس و سپاری و دوی ته اَمۡوَالَهُمۡ ج
مالونه د دوی او که پس له بلوغه هم هوښیار نه شو نو له سره مال مه پر سپاری
دا په نزد د یارانو او د امام شافعی او په نزد د امام اعظم پس له پنځه ویشتو کلو
مال پر و سپاری اګر که هوښیار نشی هم وَلَا تَاۡکُلُوۡهَاۤ او مه خوری دا مالونه

سه یعنی په ځایو د لګښت ۱۲ عه یعنی دا معنی ئې په مدارک کښې راوړی ده ۱۲ سه یعنی حکم پر مذهب د یارانو کول کیږی ۱۲

دد وی إِسْرَافًا تیری له حد شرعی وَّبِدَارًا او په جلتی سره أَنْ يَّكْبَرُوْا ط له ویری د دی چی لوی به شی دوی او بیا مال به ئی نه شو خوړ لای وَمَنْ او هر هغه څوك كَانَ غَنِيًّا چه وی توا نګر فَلْيَسْتَعْفِفْ ج پس میبا ید ځان دی وساتی له خوراك څخه د مال ئی وَمَنْ او هر څوك كَانَ فَقِيْرًا چه وی دی نادار فَلْيَأْكُلْ پس میباید چی خوری دی بِالْمَعْرُوْفِ ط په انصاف یعنی په قدر د حاجت سره چه هغه ضروری خوراك او پوښاك دی فَإِذَا دَفَعْتُمْ پس په هغه وخت چی وسپاری تاسی إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ ودوی ته مالونه ددوی فَأَشْهِدُوْا پس شاهدان ونیسی عَلَيْهِمْ ط پردوی چه بیا تهمت یا جګړه یا قسم درته متوجه نه شی اوکه شاهدان نه وو نو په وخت دانکار کښی امام اعظم وائی چه قول د ولی دی سره د قسمه وَكَفٰى بِاللّٰهِ اوبس دی خدای او د ا بَ زائده ده حَسِيْبًا ⑥ حساب کونکی او بیا جزا ورکونکی روایت دی چه هرکله ښځه د اوس بن صامت انصاری رسول ته راغله چی د اوس ئی پر مال ووا وقول ئی تربورو واخستی او یوه نره اودری لوڼی ځندی یاته شوی وو او موږ ته ئی هیڅ وانه کړه بیا چه تربورونه ئی راحاضر کړه نو هغوی وویل چه نه موږ ځوانی د جاهلیت عادت دادی چه میراث قول د جنګیالی وی او د ښځو او د وړو برخه پکښی نه وی نو نازل شو لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ ده سړولره برخه که پکښی لوی وی که واړه مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ له هغه ماله چی پر ایښی وی بیرته مورا و پلار د دوی وَالْأَقْرَبُوْنَ ص او نورو اقرباؤ د دوی وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ او د ه ښځو لره برخه که پکښی لوی وی او که وړی مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ له هغه ماله چی پرایښی وی بیرته مورا و پلار ددوی وَالْأَقْرَبُوْنَ او نورو اقرباؤ د دوی مِمَّا قَلَّ مِنْهُ له هغه مبلغه چی کم وی له دی مال څخه أَوْ كَثُرَ ط یا ډیروی نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ⑦ برخه مقرر کړه شوی له خدایه بیا له نزوله ددی آیت مال د اوس ئی له تربورانو څخه بیرته طلب کړو اما هرکله چی وارث توب معلوم شو او تعین د حصو لا معلوم نه وو نو امانت ئی وساتی وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ او په هغه وخت چی حاضر شی وش

د میراث ته اُولُوا الْقُرْبٰى هغه خپلوان چې په دې میراث کښې برخه نلري وَالْیَتٰمٰى او هغه
چې بیگانه وي وَالْمَسٰكِیْنُ او نادراه محتاجان فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ پس ورکړی تاسې دوی
ته هم له دې مال څخه څه قدر وَقُوْلُوْا لَهُمْ او وایاست و دوی ته قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ⑧ خبره
خوږه او نرمه پسته چې خوشحاله ولاړشي او دا حکم بیا منسوخ شو په دې آیت د میراث
سره وَلْیَخْشَ الَّذِیْنَ او میبایدچې ودې بیریږی هغه کسان یعنی وصیان لَوْ تَرَكُوْا که
پریږدي دوی مِنْ خَلْفِهِمْ پس له مرگه خپله ذُرِّیَّةً ضِعٰفًا اولاد عاجزان خَافُوْا عَلَیْهِمْ
نو ویریږی به دوی په دې اولاد چې د تربیت ئې هیڅوک نشته نو خراب به شي لکه چې په
هغه خپل اولاد زهیریږی میباید چې په دې پردي یتیمانو دې هم داسې زهیریږی —
فَلْیَتَّقُوا اللّٰهَ پس میباید چې ودې بیریږی دوی له خدایه وَلْیَقُوْلُوْا او میباید چې ودې
وائي دوی قَوْلًا سَدِیْدًا ⑨ خبره محکمه سازه خوږه اِنَّ الَّذِیْنَ بیشکه هغه کسان —
یَاْكُلُوْنَ چې خوري دوی اَمْوَالَ الْیَتٰمٰى مالونه د یتیمانو ظُلْمًا په ظلم یعنې بې اذنه د شرع
اِنَّمَا یَاْكُلُوْنَ بیشکه هم دا خبره ده چې خوري ئې دوی یعنی اچوي فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا اور ع
په نسو خپلو کښې او وَسَیَصْلَوْنَ سَعِیْرًا ⑩ او ژر دی چې داخل به شي دوی په لمبو
د اور کښې یُوْصِیْكُمُ اللّٰهُ امر کوي وتاسې ته خدای او فرض کوي پر تاسې فِیْٓ اَوْلَادِكُمْ ت
په حق د اولاد ستاسې کښې یعنی په حق د میراث وړلو د دوی کښې داسې چې لِلذَّكَرِ یو
نارینه له مقرره ده برخه له میراث څخه مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ ج په مثل د برخې د دوو
ښځو فَاِنْ كُنَّ پس که وي دا میراث وړونکي نِسَآءً خالص ښځې فَوْقَ اثْنَتَیْنِ پوره له
دوو او ددوو هم دا حکم دی فَلَهُنَّ پس مقرر دی دوی لره ثُلُثَا مَا تَرَكَ ج دوه
برخې له دروبرخو د هغه مال چې پرایښي دی مړي وَاِنْ كَانَتْ او که وه دا ښځه وَاحِدَةً
یوه فَلَهَا النِّصْفُ ط پس دی دې لره نیم مال د ترکې وَلِاَبَوَیْهِ او مور او پلار د دې مړي
لره لِكُلِّ وَاحِدٍ هر یو له مِّنْهُمَا السُّدُسُ له دې دواړو شپږمه برخه ده مِمَّا تَرَكَ
له هغه مال څخه چې پرایښي دی میت اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ج که وو دې میت لره فرزند

عہ مال پاتہ شوی له مړی ۱۲

که نارینه وه او که ښځه فَإِن لَّمْ يَكُن پس که نه وو لَّهُ وَلَدٌ ده لره فرزند وَّوَرِثَهُ أَبَوَاهُ
او حال دا چې میراث وړی د میت خالص مور او پلار دده یعنې بل وارث ورسره نه وو
فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ پس ده مور د میت لره دریمه برخه د ترکې او باقي تول د پلار دده فَإِن
كَانَ پس که وو لَهُ إِخْوَةٌ دی میت لره وروڼه یا خوېندی اعیاني یا علاتي یا
اخیافي دوه یا زیات فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ پس ده ومور د میت لره شپږمه برخه د ترکې
اما دا تیری ټولی برخې چې دی مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ پس له اداکولو د هغه وصیت دی
يُوصِي بِهَا چې وصیت وکړی میت په هغه سره أَوْ دَيْنٍ ۗ د یا پس له اداکولو د هغه
قرض دی چې په میت د چاپاتي وی آبَاؤُكُمْ پلرونه ستاسې چې دی وَأَبْنَاؤُكُمْ او زامن
ستاسې چې دی لَا تَدْرُونَ نه پوهیږی تاسې چې أَيُّهُمْ أَقْرَبُ کوم یو له دوی ډیر نژدې
دی لَكُمْ نَفْعًا ۚ تاسې ته له جهته د نفع او خدای په پوهیږی او دا نوع قسمت فرض دی
فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ په فرض کید و له جانبه د خدای إِنَّ اللَّهَ بیشکه چې خدای كَانَ
عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١١﴾ بنه دانا دی ښښتن د حکمت دی وَلَكُمْ نِصْفُ مَا او دی تاسو لره
نیم د هغه مال تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ چې پرا ینبی وی ښځو ستاسی إِن لَّمْ يَكُن که نه
وو لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ دوی لره فرزند یو یا ډیر، نر یا ښځه له تاسې یا له بل نه وی یا لمسی
یا ورپسی کښته فَإِن كَانَ پس که وو لَهُنَّ وَلَدٌ دوی لره فرزند فَلَكُمُ الرُّبُعُ پس ده
تاسې لره څلرمه برخه مِمَّا تَرَكْنَ له هغه ماله چې پرا یښے وی دی ښځو اما دا هم مِن
بَعْدِ وَصِيَّةٍ پس له اداد هغه وصیت دی يُوصِينَ بِهَا چې وصیت وکړی دا ښځې په
هغه سره أَوْ دَيْنٍ ۚ د یا پس له هغه قرضه چې په دوی د چاپا ته وی وَلَهُنَّ الرُّبُعُ او
دی دی ازواجو (زوجاتو) ستاسې لره څلرمه برخه مِمَّا تَرَكْتُمْ له هغه ماله چې
پرا یښے وی تاسې إِن لَّمْ يَكُن که نه وو لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ تاسې لره فرزند یو یا ډیر نر یا ښځه
له دوی یا له نورو ښځو فَإِن كَانَ پس که وو لَكُمْ وَلَدٌ تاسې لره فرزند فَلَهُنَّ الثُّمُنُ

ع اعیاني وهغه ته وائي چې مور او پلار ئې یو وی او علاتي وهغه ته وائي چې پلار ئې یو وی او مور ئې بیله وی او اخیافي د هغه ته وائي چې مور ئې یوه وی او پلار ئې بیل وی ۱۲

پس دہ د وی لرہ اتمہ برخہ مِّمَّا تَرَكْتُمْ له هغه ماله چی پرا یښی وی تاسے امادا هم
مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ پس له ادا د هغه وصیت دی تُوصُونَ بِهَآ چے وصیت وکړی تاسی په
هغه سره أَوْ دَيْنٍ ؕ یا پس له هغه قرضه چی پرتاسے له بل چا یا ته وی وَإِن كَانَ اوکه وو
رَجُلٌ يُورَثُ هغه سړی چے میراث خُندی وړل کیږی یعنی میت كَلَٰلَةً بی موږه او
بی پلاره او بی اولاده وو أَوِ امْرَأَةٌ یا ښځه وه هم داسے کلاله وَلَهُۥٓ أَخٌ او حال داچے وو
دی کلاله لره یو وروړ مادری أَوْ أُخْتٌ یا خور مادری فَلِكُلِّ وَاحِدٍ پس دی هر یو لره
مِّنْهُمَا ٱلسُّدُسُ ۚ له دی ورورہ او خورہ شپږمه برخه د ترکی فَإِن كَانُوٓا۟ پس که وو دا
وروڼه یا خویندی د کلاله أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ زیات له یوه وروړه یا خورہ فَهُمْ شُرَكَآءُ
پس شریکان دی فِى ٱلثُّلُثِ په دریمه برخه د ترکی کښے اما دا هم مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ پس
له هغه وصیته دی يُوصَىٰ بِهَآ چے وصیت کړی شوی دی په هغه سره أَوْ دَيْنٍ ۙ یا پس
له هغه قرضه چے په کلاله د چا یا ته وی غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ په دی حال چے ضرر رسونکی
نه وی دا مُوصِی او مقر به دین یعنی نه دی کوی وصیت او بے موجبه اقرار په دین محض
دپاره د کمولو د حصو د وارثانو او زیات له ثلث وصیت دی هم نه کوی وَصِيَّةً مِّنَ
ٱللَّهِ ۗ دا وصیت دی یعنی امر دی تاسے ته له خدای په وصیت کولو سره وَٱللَّهُ عَلِيمٌ او
خدای ښه دانا دی په نفع په ضرر ستاسے حَلِيمٌ (۱۲) ډیر صبر کونکی دی چے هیڅوک په
گناه ژر نه نیسی فائدہ دا د معلومه وی چے وصیت په دی خلوړ وسره وو مواضعو
کښے مؤخر له دینه دے په عمل کښے اما په ایت کریمه کښے مقدم ذکر دی د پاره د اهتمام په
ادا دہ یعنی لکه په ادا دین کښے هیڅوک تغافل نه کوی هم داسے په وصیت کښے دی فی
هم نه کوی تِلْكَ دا تیر احکام چی دی د یتیمانو او د میراث او د وصیت او د دین حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ
پولے دی د احکامو د خدای وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ او هر څوک چی فرمان ومنی د خدای وَرَسُولَهُۥ او

عه یعنی وصیت کونکی ۱۲ عسه یعنی اقرار کونکی ۱۲ سه یعنی په ځاے کښه ۱۲ سه یعنی کوشش ۱۲ لعه یعنی غفلت ۱۲ صه یعنی خلا
دا چے یو سړی مړ شے او هم قرض پر پاتے شی او هم ئے وصیت کړی وی نو اول به له ماله د دہ ځنے قرض ادا کیږی
او که د قرض ځنے څه مال پاتے شو نو هلته به په وصیت عمل کول کیږی او خدای وصیت مخکی ذکر کړی دی د
پاره د دے چی خامخا وصیت د مړی بر پایه کوی او غفلت په کښے مه کوی ۱۲

د رسول دده يُدْخِلْهُ ننوداخل به کړی خدای دا فرمان منونکی جَنّٰتٍ تَجْرِیْ په هغو باغوکښی
چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لا ندی د بنګلو یا د ونو د هغو ځلور قسمه ولی خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ط
همیشه به وی دوی په دی باغوکښی وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿۱۳﴾ او دا دخول په مطیعانو په
جنت کښی پرطریقه د خلود سره بری دی دیرلوی روایت دی چی عیینه بن حصین وویل
چی زه خو میراث بنځوا و وړو (کوچنیانو) لره نه ورکوم او یوازی ئی پرجنګیالو ویشم نو نازل شو
وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ او هر څوك چی سرکشی وکړی له امره د خدای وَرَسُوْلَهٗ او له امره د رسول
دده وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ او تیرشی له پولو دده يُدْخِلْهُ نَارًا ننوداخل به ئی کړی په اور کښی
ع ۲ ۱۳ خَالِدًا فِیْهَا ص چه همیشه به وی په دی اور کښی وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِیْنٌ ﴿۱۴﴾ او دی ده لره عذاب
سپکونکی .

نظم

دا میراث می تحت اللفظ درته و وایه فی الحال	یو په دی چه په او ږ ده دی طبیعت نشی ملال
او بل دی لره چی تفصیل می په یوه نظم کښی دی کړی	که شائق ئی وی ګوره چه معلوم شی درته حال
ارثیه، نومی کتاب دی چه تاریخی دی غفار	بیا می شرحه ده پرکړی پس له متن په یوه کال
د شرحی نوم "تراثیه" ده د واړه کړی دی مراد	رب دی شی پرمهربان چی روزی ئی کړی وصال

وَالّٰتِیْ او هغه بنځی يَاْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ چه وکړی بدکار یعنی زنا مِنْ نِّسَآئِكُمْ له بنځو ستا سے
ځخه یعنی مرؤخی فَاسْتَشْهِدُوْا پس شاهدی وغواړی اے حاکمانو قاضیانو له هغه چا
ځخه چه قذف ئی ورته کړی دی چی کړی دوی عَلَیْهِنَّ پر دی بنځو اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ج څلور
عاقلان، بالغان له تاسے یعنی له مؤمنانو فَاِنْ شَهِدُوْا پس که شاهدی ادا کړه دی څلورو
وو پر زنا فَاَمْسِكُوْهُنَّ پس بندیوانی کړی تاسے دا بنځی فِی الْبُیُوْتِ په کورونو خپلو کښی حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ
الْمَوْتُ تر هغو چه قبض کړی ارواح دد وی مرګ یا ملك الموت اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ یا پیدا کی
خدای په دی مینځ کښی لَهُنَّ سَبِیْلًا ﴿۱۵﴾ دوی لره لاره د خلاصے له بنده وَالَّذٰنِ او هغه دواړه
چه دی یعنی سړی او بنځه چی لو نډان وی يَاْتِیٰنِهَا چه وکی دوی دا فاحشه یعنی زنا مِنْكُمْ
فَاٰذُوْهُمَا ج له تاسے پس ورنځوی دوی په قهر په ملامتیا ویلو پر دوی چی نه شرمیږی او له

عه یعنی خاوند داری ۱۲ عه یعنی بنځکی د زنا ۱۲ سه یعنی په حق د هغو بنځو کښی چی یو له بله سره زنا کوی یعنی بنځه په بنځه ۱۲

خدایه نه بیریږی فَاِنۡ تَابَا پس که توبه گار شوله دی وَ اَصۡلَحَا او ښه لارئی وه نیوله ۰
فَاَعۡرِضُوۡا عَنۡهُمَا پس ځنګ وکړی له دوی ځنه او هیڅ غرض مه په لری اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې
خدای کَانَ تَوَّابًا رَّحِیۡمًا ﴿۱۶﴾ دی توبه قبلونکی مهربانه او دا دواړه ایتونه بیا منسوخ شوی دی
په ایت د الزانیة والزانی او ابن بحروائی چې احسن د توجیها تو دا دی چې ایت د وَالّٰتِیۡ
یَاۡتِیۡنَ په حق د سحاقاتو کښې دی او ایت د وَالَّذَانِ په حق د دوو نارینه وو لوطیانو کښې دی
نو بنا پردی دا ایت منسوخ ندی او دا حکم په خپل حال باقی دی کذا فی التفسیر الاحمدی اِنَّمَا التَّوۡبَةُ
بیشکه هم دا خبره ده چې قبلول د توبې دی عَلَی اللّٰهِ پر خدای لیکن نه پر طریقه د وجوب بلکه پر
طریقه د وفا په وعده لِلَّذِیۡنَ خاص هغه کسانو لره دی یَعۡمَلُوۡنَ السُّوۡٓءَ چې کوی دوی بدی
یعنی ګناه بِجَهَالَةٍ په ناپوهی سره ثُمَّ یَتُوۡبُوۡنَ بیا پس له هغه توبه وکاږی دوی مِنۡ قَرِیۡبٍ
په نژدی زمانه کښې یعنی پخوا ا ځکی له حاضریدو د مرګه فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چې دی
یَتُوۡبُ اللّٰهُ عَلَیۡهِمۡ ؕ رجوع کوی خدای پر دوی په مغفرت سره وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای
عَلِیۡمًا حَکِیۡمًا ﴿۱۷﴾ ښه دانا دی په نیت د تائبانو حکم کونکی دی پر دی چې پښیمانی توبه ده وَلَیۡسَتِ
التَّوۡبَةُ او نشته قبلول د توبې لِلَّذِیۡنَ هغه کسانو لره یعنی منافقانو لره چې په ظاهر کښې
ئې ایمان راوړی وی نه په باطن کښې او چې په طریقه د اصرار سره یَعۡمَلُوۡنَ السَّیِّاٰتِ ج کوی
دوی ګناهونه حَتّٰٓی اِذَا حَضَرَ ترهغو چې حاضرشی اَحَدَهُمُ الۡمَوۡتُ یوه د دوی ته مرګ قَالَ
نو پس له هغه ووائی دی اِنِّیۡ بیشکه زه چې یم تُبۡتُ الۡـٰٔنَ توبه می وکښه اوس وَلَا الَّذِیۡنَ
او همدا سې نشته قبلول د توبې د هغه کسانو یَمُوۡتُوۡنَ چې مری دوی وَهُمۡ كُفَّارٌ ؕ او حال
دا چې دوی کافران وی په وخت د مرګ کښې هم اُولٰٓئِكَ دا کسان چې دی اَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ تیار
کړیدی موږ دوی لره عَذَابًا اَلِیۡمًا ﴿۱۸﴾ عذاب دردناك روایت دی چې عادت د جاهلیت
د خلکو دا وو چې څوك به مړ شو نو چې په ښځې به ئې کوم سړی له وارثانو یا له اقرباؤ د ده
خپل زړوکی واچاوی نو ښځه به هم د هغه شوه نو یا به ئې پخپله وکړه بی مهره او یا به ئې پر بل
چا خرڅه کړه په مهر او په اول د اسلام کښې به هم خلکو همدا سې کول بیا نازل شو ۰

ع یعنی په حق د هغو ښځو کښې چې یوه له بلې سره زنا کوی یعنی ښځه په ښځه ۱۲

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو لَا يَحِلُّ لَكُمْ روا نه دی تاسې لره اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ دا چې
په میراث واخلې تاسې ښځې كَرْهًا ط په ناخوښه بی رضا ددوی روایت دی چې هغه
خلگو به داسې کول چې خپله ښځه به د چا خوښه نه وه نو ښځې او تنګه به ئې کړه چې خلع
وکړی او له مهره څخه تېره شي نو نازل شو وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ او مه حصاروی دا ښځې۔
لِتَذْهَبُوْا د پاره ددی چې یوسی تاسې یعنی بیرته واخلی بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ بعض
له هغه ماله چې ورکړی دی تاسې ودوی ته په مهر کښې اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ مګر هلته چې راشي
دوی یعنی وکړی بِفَاحِشَةٍ کوم قسم بدکاری لکه نشوز یا زنا مُّبَيِّنَةٍ ج ښکاره یعنی که
ناشزه یا زانیه وی او تاسې طلب د خلع ځنی کوی نو باک نشته وَعَاشِرُوْهُنَّ او روزګار
کوی له دی ښځو خپلو سره بِالْمَعْرُوْفِ ج په احسن وجه قول په فعل په نفقه په مسکن کښې
فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ پس که خوښې نه وی ستاسې دا ښځې فَعَسٰٓى اَنْ پس ښائی دا تَكْرَهُوْا شَيْئًا
چې نه به خوښوی تاسې یو شي وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ او حال دا چې به کښېږدی خدای په دی شي
کښې خَيْرًا كَثِيْرًا ⑲ ثواب ډیر یا فرزند صالح روایت دی چې په جاهلیت کښې د چا چې
به کومه ښځه خوښه شوه په حسن یا په مال نو خپلې ښځې ته به ئې عذر جور کړو او تنګه
به ئې کړه چې دا مهر په خلع بیرته ځنی واخلی او په دی مبلغ بیا بله په نکاح واخلی نو
نازل شو وَاِنْ اَرَدْتُّمُ او که اراده وکړی تاسې اِسْتِبْدَالَ زَوْجٍ د بدلولو د یوی ښځې
مَّكَانَ زَوْجٍ لا په ځای د بلې ښځې یعنی چې یوه طلاق وی او بله اخلی په نکاح سره وَّاٰتَيْتُمْ
او حال دا چې ورکړی وی تاسې اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا کومی یوی ته له دوی ډیر مال په مهر کښې
فَلَا تَاْخُذُوْا پس مه اخلی تاسې بیرته مِنْهُ شَيْئًا ط له دی ماله څخه هیڅ شي اَتَاْخُذُوْنَهٗ
آیا اخلې تاسې دا مال بُهْتَانًا په د رواغو لې موجبه وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ⑳ او په ګناه ښکاره ځکه
چې مال د غیر اخلی په زور وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ او څرنګه به اخلې تاسې دا مال د مهر بیرته وَقَدْ
اَفْضٰى او حال دا چې په تحقیق سره رسیدلی دی بَعْضُكُمْ بعض ستاسې اِلٰى بَعْضٍ بعض نورو ته
پر طریقه د مباشرت سره وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ او بل اخستی دی دوی له تاسې مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ㉑

عهد کلک چی هغه ایجاب اوقبول دی روایت دی چی په جاهلیت کښی بعض بی باکانو او
نادانانو به دخپلو پلرو ښځی په نکاح اخستی نو په منع ددی کښی نازل شو وَلَا تَنْكِحُوْا او مه
اخلی په نکاح مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ هغه ښځې چی په نکاح کړی وی پلرو ستاسې او امام اعظم
وائي چې مراد له دی نکاح څخه وطی دی یعنی مه وطی کوی هغه ښځې چی وطی کړی وی پلرو
ستاسې په نکاح یا په ملک یمین یا په زنا مِّنَ النِّسَآءِ له ښځو اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ مګر په
هغه چې په تحقیق پخوا اله دی تیر شویدی یعنی هغه عفو دی اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً بیشکه
چې دا کار دی ډیر بد و عقل ته وَمَقْتًا او ډیر مبغوض شرعی ته وَسَآءَ او بدله ده دا
ع ۸ ۱۴ سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ لاره عرف ته هر کله چې په ایت دولا تنکحوا سره په بیان د محرماتو کښې شروع
وشوه نو لسان د وحی مقتضی د بیان د باقی څوارلسو قسمو محرماتو هم شو چی اوه
د ومبی نسبي واوه وروستی سببي دی نو نازل شو حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ حرام کړه شوی دی
پر تاسې اُمَّهٰتُكُمْ میندی ستاسې وَبَنٰتُكُمْ او لوڼی ستاسی او دا دواړه قسمه که بی واسطې وی
او که په واسطه سره وی لکه دواړه قسمه انا ګانی او دواړه قسمه لمسی شوی وَاَخَوٰتُكُمْ
او خویندی ستاسې وَعَمّٰتُكُمْ او خویندی د پلرو ستاسې وَخٰلٰتُكُمْ او خویندی د میندو ستاسې
وَبَنٰتُ الْاَخِ او وریری ستاسې وَبَنٰتُ الْاُخْتِ او خوریزی ستاسې او دا ټول سره وروستې
که اعیانی وی او که علاتی وی او که اخیافی وی حکم ئې یو دی او دا اووه نسبي دی وَاُمَّهٰتُكُمُ
الّٰتِيْٓ او هغه میندې ستاسې اَرْضَعْنَكُمْ چی تی ئې در کړی وی تاسې ته وَاَخَوٰتُكُمْ او خویندې ستاسې
مِّنَ الرَّضَاعَةِ له جهته د تی رودلو لقوله علیه السلام یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب وَاُمَّهٰتُ
نِسَآئِكُمْ او میندې د ښځو ستاسې یعنی خواښې وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ او هغه پرکتی ستاسې فِيْ
حُجُوْرِكُمْ چې په غیږو ستاسې کښې ئې تربیت موندلی وی او پیدا شوی وی دوی مِّنْ نِّسَآئِكُمُ
الّٰتِيْ له هغه ښځو ستاسې دَخَلْتُمْ بِهِنَّ زه چې دخول کړی وی تاسې له دوی سره فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا
پس که چیری نه واست تاسې دَخَلْتُمْ بِهِنَّ چې دخول مو کړی وی له دوی سره فَلَا جُنَاحَ

یعنی پخپله نه دی حرامې خو له یوه بل سبب څخه حرامې شوی دی ۱۲ عه معنی دا چې حرامیږی ښځې له جهته
د تی رودلو څخه د هغو پشان چې حرامیږی له جهته د نسب څخه ۱۲

عَلَيْكُمْ زیس نشته هیڅ وبال پرتاسے وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ او ښځے د هغه زامنو ستاسے مِنْ اَصْلَابِكُمْ چے له شاؤ ستاسے وی وَاَنْ تَجْمَعُوْا او بل دا حرام کړه شوی دی چے جمع وکړی بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ په مابین د دوو خویند وکی یعنی چے دوی خویندی سره یوځای په نکاح واخلے اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ط مگر چے پخواله دی تیرشوی دی یعنی هغه عفوه دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ غَفُوْرًا دی بخښونکی د گنا هو رَّحِيْمًا (۲۳) مهربانه پر بند گانو باندے

وَالْمُحْصَنٰتُ او بل حرامی دی پردی مروخے مِنَ النِّسَآءِ له ښځوڅخه اِلَّا مَا مَلَكَتْ مگر هغه مروخے چی ما لکان شوی وی د هغو اَيْمَانُكُمْ ښے لاسونه ستاسے یعنی پر دی مروخی مطلق حرامے دی پرتاسے مگر هغه مروخے چے تاسی له دارالحرب څخه په سبی راوستلی وی بی مرونو او دا حل په نزد د امام اعظمؒ په وقوع د فرقت سره دی په سبب د تباین د دارینو په سبب سره او یاران ئی په مطلق سبی سره وائی او محکم لری كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ د دا فرض د خدای چے پرتاسے لازم شوی دی په حق د محرما تو کښے وَاُحِلَّ لَكُمْ او حلال کړه شوی دی تاسی ته مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ هغه ښځے چی بغیر له دی ښځلسو اصنافو دی اَنْ تَبْتَغُوْا د پاره د دی چی و غواړی تاسے دا نا محرمی ښځی بِاَمْوَالِكُمْ په مالو خپلو سره یعنی په مهرو مُّحْصِنِيْنَ په دے حال چے ساتونکی اوسی په نکاح سره د خپل دین غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ط نه زنا کونکی فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ پس هر هغه شی چے معاش کړی وی تاسے بِهٖ مِنْهُنَّ په هغه شی له دی منکوحو خپلو څخه لکه خلوت یا ملاعبت یا قبله یا جماع فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ پس ورکړی دوی لره مهرونه د دوی فَرِيْضَةً ط په دی حال کښے چی مقرر کړه شوی دی دا مهرونه په وخت د نکاح تړلو کښے وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ او نشته گناه پرتاسے فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ په هغه شی کښی چی راضی شوی وی سره دواړه زوجین په هغه مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ط پس له کید و په نکاح تړلو سره یعنی که ښځه ئی کموی له مقرر کړه شوی څخه یا ئی خاوند زیاتوی لو باك نشته یا معنی دا چی په هرشان چی بیا راضی شی په کیفیت د نفقی او د صحبت او د مفارقت اِنَّ اللّٰهَ

عه یعنی یوځای والی په یوه کور کښے چی ښځه او خاوند دواړه یوه گوښه ځای ته شی ۱۲ عه زوجین یعنی ښځه او خاوند ۱۲ عه نفقی یعنی خرڅ خوراك ۱۲

بیشکه خدای كَانَ عَلِيْمًا دی ښه دانا په نفع ستا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾ ډیر حکمتی چه فرمایلی ئې دی وَمَنْ
لَّمْ يَسْتَطِعْ اوهرهغه څوك چې طاقت نلری مِنْكُمْ طَوْلًا له تاسو له جهته د توانګری
اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ د دی چې په نکاح واخلي اصیلی مؤمنی ښځې فَمِنْ مَّا پس
په نکاح دی واخلی کومه یوه له هغو مینځو څخه مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ چې مالکان شوی دی د هغو
ښې لاسونه ستاسې مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ط له هغو وینځو ستاسی چې مؤمنی دی او قید د
مؤمنو په نزد امام اعظم رح استحسانی دی نه وجوبی ځکه چې دی کتابیه هم روا وائی قیاس
پر اصیله وَاللّٰهُ او خدای اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ط ډیر ښه دانا دی په ایمان ستاسی بَعْضُكُمْ
مِّنْۢ بَعْضٍ ج بعض ستاسې له بعضو دی یعنی اصیلان له مریو څخه او مریان د اصیلانو څخه
پس نو له دی نکاح شرم او عار مه کوی چې قول دیوه نیکه لمسیان یاست چې آدم علیه السلام دی
فَانْكِحُوْهُنَّ پس په نکاح واخلئ د بل چا مینځې بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ په اجازه د خاوندانو د دوی سرم
وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ او ورکړی دوی ته یا مالکانو د دوی ته مهرونه د دوی بِالْمَعْرُوْفِ په
ښه وجه چې تنګی او خفګان پکښی نه وی مُحْصَنٰتٍ په دی حال چې ځان ساتونکی وی له
ناروا و څخه غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ چې نه ښکاره کونکی دی د زنا وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ج او نه
نیونکی وی د پټو یارانو فَاِذَآ اُحْصِنَّ پس په هغه وخت چې مه وخی کړه شوی وی دوی فَاِنْ
اَتَيْنَ پس که راتله وکړه دوی بِفَاحِشَةٍ په فاحشه یعنی زنا فَعَلَيْهِنَّ پس دی پر دوی
نِصْفُ مَا نیم د هغه عَلَى الْمُحْصَنٰتِ چې پر اصیلو پیغلو دی مِنَ الْعَذَابِ ط له حد چې
هغه پنځوس دُرې دی ذٰلِكَ لِمَنْ دا په نکاح اخستل د مینځو هغه چا لره دی خَشِيَ الْعَنَتَ
چې بیریږی له مشقته مِنْكُمْ ط له تاسې څخه یعنی له دی څخه چې په زنا به ګرفتار شي وَاَنْ تَصْبِرُوْا
او دا چې صبر وکی تاسې له مینځو خَيْرٌ لَّكُمْ ط ډیر غوره دی تاسی لره ځکه چې اولاد ستاسی به
ع ۴ ۱۴ نه مریان کیږی لکه حدیث دی چې الحرائر صلاح البیت والاماء هلاك البیت وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ
۱ او خدای بخښونکی دی و بې صبرو ته رَّحِيْمٌ ﴿۲۵﴾ مهربانه دی چې نکاح د مینځو ئې هم روا کړی ده
يُرِيْدُ اللّٰهُ اراده لری خدای لِيُبَيِّنَ لَكُمْ چې بیان کړی تاسو ته احکام د حلالو او د حرامو

مه معنی دا چې اصیله ښځې چې دی سبب د جو ړښت د کورونو دی او مینځې چې دی سبب د وران ولو د کورونو دی ۱۲

وَيَهْدِيَكُمْ او وبنيىي وتاسى ته سُنَنَ الَّذِيْنَ لارى دهغوكسانو مِنْ قَبْلِكُمْ چې مخكى له تاسې څخه
وو لكه پيغمبران يا صالحان چې تاسې هم دهغو په پله ولاړشى وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ ط او توفيق دتوبې
ئې دركړ وو تاسې ته وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او خداى ښه دانا دى په مصالحو ستاسې حَكِيْمٌ (۲۶) ډيرحكمتى
دى په هركاركښې روايت دى چې يهودو علاتى خويندى او وريرى او خوريرى روا
كړى وى بيا چې آيت دحرمت ددى راغلى نويهودو به ويل چې دعمانو او خالانو لونى
دى هم حرامى شى لكه چې ميندى ئې حرامى دى نو نازل شو وَاللّٰهُ يُرِيْدُ او خداى اراده لرى
اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ قف چې كوڅه دتوبې پرانزى (خلاصه كړى) پرتاسو وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ او غواړى
هغه كسان يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوٰتِ چې پيروى كوى دوى دارزو وگانو دنفس اَنْ تَمِيْلُوْا د
دى چې كاږه شئ ولارى ته دحق مَيْلًا عَظِيْمًا (۲۷) په ډيركږ يدوسره يُرِيْدُ اللّٰهُ اراده
لرى خداى اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ج ددى چې سپك كى له تاسو څخه بار دتكاليفو يا دعباداتو
وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ او پيدا كړه شوى دى آدمى ضَعِيْفًا (۲۸) كمزورى چې طاقت ددروند بار
نلرى يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ مه خورى مالونه يو بل بَيْنَكُمْ
بِالْبَاطِلِ په مينځ خپل كښې په ناروا لكه په غلا يا په جوارى يا په سود يا په زوركولو
يا په درواغو يا په تگى يا په ناحق دعوى يا په فاسدو عقد و اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً مگر
په دى وجه چې وى دا پرطريقه دسوداگرى عَنْ تَرَاضٍ په خوښه ددواړو مِنْكُمْ قف له
تاسې وَلَا تَقْتُلُوْٓا او مه وژنى اَنْفُسَكُمْ ط ځانونه خپل يعنى نورمؤمنان لان المؤمنين
كنفس واحدة يا خپل ځان مه وژنى لكه بعض نادانان يا هغه كارمه كوى چې سبب د
قتل ستاسې وى يا ځان مه هلاكوى په حرام خورى سره يا په گناهو يا په هوادنفس
يا په موجباتو دقهر دخداى اِنَّ اللّٰهَ بيشكه خداى كَانَ بِكُمْ دى پرتاسې اى اُمته درسول رَحِيْمًا (۲۹)
ډيرمهربانه ځكه تاسې اُمت مرحومه بلل كيږى وَمَنْ او هرهغه څوك يَّفْعَلْ ذٰلِكَ چې وكړى

عه يعنى په هغه كاروچې ستاسې پكښې خيرا و فائده وى ۱۲ عسه يعنى دخوينډ وريرو ۱۲ صه يعنى خوينډى د
ميند و ۱۲ سه معنى دا چې ځكه دا قول مؤمنان چې دى په مثل ديونفس دى يعنى خداى تعالىٰ وفرمايل چې مه
وژنى ځانونه خپل يعنى مه وژنى مؤمنان مسلمانان ۱۲ سه يعنى دا محمد امت چې رحمت كړه شوى دى پرتاسې له
جانبه دالله پاك ۱۲

دا کا رونه عُدْوَانًا پر طریقه د تیریدو وله حق ته وَّظُلْمًا او په ظلم سره فَسَوْفَ نُصْلِيهِ پس زر دی چې داخل به کړو موږ دی نَارًا په اور دوزخ کښې وَكَانَ ذٰلِكَ او دی دا کار عَلَى اللّٰهِ یَسِیْرًا (۳۰) پر خدای ډیر اسانه اِنْ تَجْتَنِبُوْا که ځان وساتی اوځنګ وکړی كَبَآئِرَ مَا له غټو هغو ګناهو ځنې تُنْهَوْنَ عَنْهُ چې منع شوی یاست تاسې له هغه ځنې فائده په کبیره وو کښې خلاف دی چې څوك یې دری وائی اوڅوك یې اوویا وائی لیکن غوره قول دا دی چې هره ګناه چې حد د شرعی یا اخرګند وعید پکښی راغلی وی هغه کبیره ده. غرض دا چې له کبیره وو ځان وساتی نُكَفِّرْ عَنْكُمْ نو وبه ړژوو موږ له تاسې سَيِّاٰتِكُمْ واړه ګناهو نستاسې وَنُدْخِلْكُمْ او ننه به کړو موږ تاسې مُّدْخَلًا كَرِيْمًا (۳۱) په ډیر ښه ځای کښې چې هغه جنت دی.

ځان ساتی له کبائرو او په مال د چامه بلوسی او داخل به موږ جنت کړو نوی میدان به واړه یوسی	رب ویلی مؤمنانو تل نما په ویره اوسی سیئات به در سه توی کړو تاسی پاك به لکه شوکړو	رباعی

روایت دی چې ام سلمی عرض وکړی ورسول ته چې نارینه په خدمت د جهاد مشرف دی او ښځې خندی محرومی دی او په میراث کښې هم دوی پر ښځو دو چند دی نو کاشکی زه هم نارینه وای چې په جهاد کښې می نصیب شوی وای نو نازل شو وَلَا تَتَمَنَّوْا اما او ارمان مه کوی د هغه شي فَضَّلَ اللّٰهُ چې غوره کړی دی خدای بِهٖ په هغه شي بَعْضَكُمْ بعض له تاسې چې نارینه دی عَلٰى بَعْضٍ پر بعضو ستاسې چې ښځې دی لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ د نارینه وو لره برخه مقرره له ازله مِّمَّا اكْتَسَبُوْا له ثوابه د هغه عملو چې کړی دی دوی لکه لمونځ، زکوٰة، روژه جهاد، علم، سخا سختی نفس سره یا داسی نوری نیکی وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ او د ښځو لره هم برخه مقرره له ازله مِّمَّا اكْتَسَبْنَ له ثوابه د هغه عملو چې کړی وی دوی لکه لمونځ، روژه، زکوٰة، پاکوالی، خبره منل د خاوند، ساتنه د مال دده نو یو د بل ارمان مه کوی وَسْئَلُوا اللّٰهَ او وغواړی دواړه طائفی له خدایه مِنْ فَضْلِهٖ فضل او مهربانی دده اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ دی پر هر شي عَلِيْمًا (۳۲) ښه دانا روایت دی چې په جاهلیت کښی یو سړی به بل

ع یعنی پر طریقه د تیریدلو له حق ځنې ۱۲ صه یعنی نوی میدان او مکان به قول ولکی ۱۲ سه لکه صلوٰة، زکوٰة، صوم جهاد، علم، سخا، مجاهده د نفس ۱۲ عه لکه صلوٰة، زکوٰة، صوم، عفت، اطاعت د زوج، حفظ د مال د ده ۱۲۵

په نه وي وه یوي او بیا په میراث کښي به ئې له خپل اولاد سره شریک کړي نو په منع دد وي کښې
نازل شو وَلِكُلٍّ او هرچا لره [له] تا سے جَعَلْنَا مَوَالِيَ مقرر کړي دي موږ وارثان اخستونکي د
خپلو برخو مِمَّا له هغه مال څخه تَرَكَ الْوَالِدَانِ چې پرا ایښي وي مور او پلار دده وَالْأَقْرَبُونَ او
نور خپلوانو دد وي یعني دا ترکه د وارثانو برخه ده تا سے ئې بل چا ته مه ورکوی روایت
دي چې هرکله ایتونه د میراث راغله نو اصحابو عرض وکړي و رسول ته چې له موږ څخه بعض کسان
دي چې د میراث اخستو قسمیا [عه] لري او س موږ د هغو سره څرنګه معامله وکړو نو نازل شو
وَالَّذِينَ او هغه کسان چې دي عَقَدَتْ چې غوټه کړي وي و رسره پیوند دد وستي او د
ورورولي أَيْمَانُكُمْ ښي لاسو ستا سے فَآتُوهُمْ پس ورکړي دوی لره نَصِيبَهُمْ د برخه ددوے
او صورت ئې دا دي چې یو سړی ازاد عجمي مجهول النسب [عه] وو او ئې وبل چا ته چې ته مې پخپل ځان
والي کړي په دې چې که ما جنایت [عه] وکړه نو تاوان ئې ورتا او که زه مړ شوم نو میراث مې هم ستا دے
او هغه بل دا قبول کړي نو په نزد د امام اعظم رح د میراث ورله ثابت شو به خلاف د امام
شافعي رح إِنَّ اللَّهَ بیشکه خدای كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ دی پر هر شي شَهِيدًا (۳۳) بنه خبردار [ه] ع ۵ ۸ ۲
روایت دي چې حبیبه د سعد بن ربیع ښځه له خپله خاونده ډیره سرګشته وه نو ده یوه
چپیړه پر مخ ووهله او دی خپل پلار ته و ژړل نو د وا ړه رسول ته راغله او ده حکم په
بدل اخیستو وکی نو نازل شو اَلرِّجَالُ سړي چې دي قَوَّامُونَ ګمارل شوي دي عَلَى النِّسَاءِ
پر ښځو لکه حاکمان پر رعیت له دوو جهتو چې یو عطائي [عه] دی لکه چې وائي بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ په
سبب د دې چې غوره کړي دي خدای بَعْضَهُمْ بعض له دوي چې نارینه دي عَلَىٰ بَعْضٍ پر بعضو
چې ښځې دي په عقل په علم په صبر په حلم په فکر په پوهه په عصوبت په سهم په اذان
په اقامت په جمع په امامت په جمعه په جماعت په خطبه په رفاعت په عزت په شرافت
په امارت په خلافت په رمي په قوت په جهاد په ځوانمردي په سخاوه حزم په پیغمبري په
عزم او بل کسبي [عه] دي لکه چې وائي وَبِمَا أَنْفَقُوا او په سبب د دې چې ورکوي دوی مِنْ

عه یعني چې موږ سره قسم کړي وي ۱۲ عه یعني چې نسب د ده معلوم نه وي ۱۲ عه یعني خدای تعالی ورته ورکړي وي بیله کسب کولو ۱۲ عه یعني پخپله ئې حاصل کړي دي ۱۲

اَمْوَالِهِمْ ط له مالو خپلو په ورکولو د دوی کښے او هرچے ښځې دی هغه پردوه قسمه دی لکه چے وائي فَالصّٰلِحٰتُ پس هرچے نیکانی ښځے دی قٰنِتٰتٌ فرمانبرداری دی ازواجو حٰفِظٰتٌ لِّلْغَیْبِ ساتونکی دی پټی شاه د ازواجو ځان او کور او مال د دوی بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ط په سبب د هغه شي چی ساتلی دی خدای دوی لره چے ازواج ئې مامور کړی دی په کور په نفقه په ښه خوږه معامله یعني په جلب د هر خیر او په سلب د هر شر حدیث دی چی خیر النسآء امراة اذا نظرت الیها سرّتك وان امرتها اطاعتك واذا غبت عنها حفظتك فی مالها ونفسها وَالّٰتِیْ او هرچے هغه ښځے تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ چی بیریږی تاسے له سرکشی د دوی فَعِظُوْهُنَّ پس نصیحت وکړی ورته او پوهی ئې کړی په حقوقو او په تعظیم د ازواجو وَاهْجُرُوْهُنَّ او ځان ټول کړی ځندی که نشوز ئې ښکاره کی او په نصیحت سمی نه شوی فِی الْمَضَاجِعِ په ځایو نو د خوب کښی یعنی شا کړی ورته یا اغوستن تری بیل کړی اما په یو کټ کښے یا جماع ترك کړی وَاضْرِبُوْهُنَّ ج او ووهی په بی داغ وهلو سره که په بیلتون هم سمی نه شوی او بیا دوباره نشوز ئې وکړو فائده وعظ په وخت د خوف د نشوز کښے دی او هجر په وخت د ظهور د نشوز کښے دی او ضرب په وخت د تکرار د نشوز کښی دی فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ پس که غاړه ئې کښیښوه درته فَلَا تَبْغُوْا عَلَیْهِنَّ پس مه لټوی پر دوی باندی سَبِیْلًا ط لاره یعنی بهانه د پیچش اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ عَلِیًّا كَبِیْرًا (۳۴) دی بلند شان لوی یعنی هرکله چے دی سره له دومره لوئی تاسے ته بخښنه کوی نو مناسب چے تاسے خود وی ته په طریقه اولیٰ سره عفو وکړی وَاِنْ خِفْتُمْ او که بیریږئ تاسو ای حاکمانو یا والیانو د زوجینو شِقَاقَ بَیْنِهِمَا له ناسازی ځنده په مابین د دوی د دواړو کښے فَابْعَثُوْا پس ورولاړ کړی یعنی مقرر کړی حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ مینځګړی پوهنده له خیلخانې د زوج ځنی چی دده مافی الضمیر معلوم کړی وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ج

ع معنی دا چی پیغمبر ﷺ فرمایلی دی بهتره د ښځو هغه ښځه ده چے هر وخت ته ورته نظر وکړی نو خوشحاله کړی تا یعنی ښایسته وی او که ته ورته څه کار و وائې نو اطاعت کوی ستا او هر وخت چی ځندی ولاړ شی یو چیری یعنی په سفر یا هسے بهرته نو دا ښځه ساتنه کوی ستا پر مال او په نفس خپل کښے یعنی نه مال ستا وبل چا ته ورکوی او نه زنا د چا سره کوی ۱۲

او بل مینځګړی پوهند° له خپلخانی ځخه دینځ چې هغه ددی ما فی الضمیر معلوم کړی او حکمین
ځکه له خپلوانو مقرر ی چی دوی ته احوال د دواړو بنه معلوم وو اِنۡ يُّرِيۡدَاۤ که اراده
وکی داحکمین یار و جین اِصۡلَاحًا د سازښت يُّوَفِّقِ اللّٰهُ نوموافقت به پید اکی خدای بَيۡنَهُمَا
په مابین د زوجینو کښې اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چی خدای كَانَ عَلِيۡمًا خَبِيۡرًا ﴿۳۵﴾ دی بنه دانا په مصالحو
د زوجینو بنه خبردار په مقاصدو د حکمینو وَاعۡبُدُوا اللّٰهَ اوعبادت کوی د خدای فائده
دا آیت کریمه په تمام قرآن کریم کښې ممتاز دی په باب دجمع د حقوکښې چی په ظاهره پکښې لس
حقداران ذکردی او په واقعه کښې ډیرزیات دی او اول تری پروردګار دی لکه چی وائی وَلَا
تُشۡرِكُوۡا بِهٖ اومه شریکوی له ده سره په دی عبادت کښې شَيۡـئًـا هیڅ شے نه ملائکی نه بتان
نه لمرنه سپوږمی نه اور اوڅلور خصلته محکم ونیسی چې هغه له حقوقو د بندګی دی
الوفاء بالعهود [عه] والرضاء بالموجود والحفظ للحدود والصبر علی المفقود او باقی تو احقوق
د بندګانو دی اول څندی مور او پلار ی لکه چې وائی وَّبِالۡوَالِدَيۡنِ اواحسان کوی د
مور او پلار سره اِحۡسَانًا احسان کول او حقوق ددوی ډیردی هم قولی او هم فعلی لکه
په ښوند کښې ور کړه ده په وخت د احتیاج کښې او ادب ی په کلام په مجلس په تلو کښې
او اطاعت دی په غیرمنهی عنه [عه] کښی اوپس له اوفاتو دعا او استغفار دی دوی له او
عزت دی د اشنایانو ددوی وهکذا همداسی حقوق دی د استاذ پر شاګرد او د پیر پر مرید
لا ترزیات وَّبِذِی الۡقُرۡبٰی اوله خاوند د نزدیکی سره او که د انزدیکی د قریب وی او که
دیاری دوستی وی په تقدیم د سلام په معاونت که ظلم پرکیدی په لیری کولو د بعض د
کینی له زړه اګرکه کله نزاع واقع کیږی په معامله کښې وهکذا وَالۡيَتٰمٰی اوله یتیمانو سره په
مرحمت په معاونت که ظلم پرکیدی په نه خوراک دمال دده وهکذا وَالۡمَسٰكِيۡنِ او نادارانو

عه یعنی وفا په وعدا چی له چا سره وکړی - او بل رضا کیدل او خوشحالیدل په هر هغه شي چي موجود او
پیدا شے او بل ساتل د حدود د شرع یعنی دا سے کار و نه کړی چی حد د شرع پرجاری کیږی لکه زنا، یا غلا یا
نور حدود او صبر کول دی پر ورک شوی شی چې څندی ورک شے یا ئی څوک مړ شے نو دی صبر پرکوی ۱۲ عه یعنی
بل فرمان ورل د پلار او مور دی په هر هغه شي کښې چي منعه څندی نه وی کړه شوی په روا او په نا روا
کښې او په نا روا و کښې فرمانبرداری د مور او پلار نشته ۱۲

سره په شفقت په احسان په بې پرواکولو دده له سواله وھٰکذا وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى اوله هغه ګاونډي سره چې خپل هم وي وَالْجَارِ الْجُنُبِ اوله هغه ګاونډي سره چې بې ګانه وي په مهرباني په قرض په ورکړه د طعام او د شراب او د لباس او پټ خوراك د هغه شي چې کړه نه وو په معاونت د غمو او د حادثو په نه جګولو د دیوالو خپلو چې هوا پر بنده نه شي په نه بندولو دابو دده که دناوی او که دحویلي وی وھٰکذا حدیث دی لا يدخل الجنة عبد لا يامن جاره بوائقه لیکن خپلوان مقدم دي په بیګانه وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ اوله هغه ملګری سره چې نژدې وي اړخ ته لکه زوجین هر یو له بل سره یا ملګری د سفر یا سبقي یا مجلسي یا مصلي په څنګ کښې پس حقوق د زوجې پر زوج نفقه، کسوت، سکنیٰ قسم دي که ترلوی پورته وي بل تعلیم دی د هغه احکامو چې ددی ورته احتیاج وی لکه صلوٰة، صوم، حیض، نفاس استحاضہ بل تادیب ورکول په وعظ په هجران په ضرب په سیاست وھٰکذا او حقوق د زوج اطاعت دی په هر کار د دین او د دنیا کښې بل حفظ د مال دده، نه وتل له کوره بې اذنه دده، بل نه ساتل د نفس له ده څخه مګر په منع د شارع سره وھٰکذا او حقوق د باقي ملګرو چې دی معاونت بدني او نصرت او حمایت او تعلیم او نصیحت او ترك د غیبت او عفوه د تقصیراتو دده وَابْنِ السَّبِيْلِ اوله رهروی یا له هغه میلمه سره چې بې بللو راشي په شفقت په احسان په نرم کلام په بنه طعام الیٰ ثلثة ایام وھٰکذا او دده حق تر دا بل سوی میلمه زیات دی وَمَا اوله هغه مینځو او مریو سره مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ چې مالکان شوي وي د هغوی لاسونه ستاسې په تلطف په نظر د شفقت وھٰکذا۔

نظم

دی ایت کښې لس حقوق دی اول حق د کردګار
دویم حق د والدینو یعنی حق د هوږ او پلار
دریم حق د نژدیګانو چې خپلوان وی که یا رات
بل یتیم دی بل نادار شپږم خپل چې ستاوی جار

عه معنیٰ دا چې نه به داخلیږی جنت ته هغه کس چې خلاص او بیغمه نه وی همسایه دده له حادثو او غم څخه ۱۲
عه بې مودی وینه وتل شوه ۱۲ سه لکه په وخت د حیض او د نفاس کښې ۱۲ عه تر درو ورځو پورې ی ۱۲

او ورحا ردی بیگانه بل همنشین چی وی د خلقو
لکه زوج شو یا زوجه شوه یا ملگری شو پر لار
یا ملگری د سبق شو یا د صف یا د مجلس
او نهم لی رهرو دی یا میلمه د خپل اختیار
اولسم لی دی مریونه دده لس واړه حقوق
په تفسیر احمدی کښی دی راوړی بے شمار

اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا یُحِبُّ نه خوښوی مَنْ كَانَ هغه څوک چی وی مُخْتَالًا نخره کونکی متکبر چه په دی اهل حقوقو شرمیږی او حقوق ئی نه ادا کوی فَخُوْرًا ﴿۳۶﴾ ډیر فخر کونکی خود بینه چی خپل ځان ته غره وی او نورو خلقو ئی په نظر کښی هیڅ نه راځی روایت دی چه یهودو او نصاریٰ وو به یو بل ته سره نصیحت کاوی چه رسول او مهاجرو ته هیڅ مه ورکوی چه ژر محتاج او حیران شی او له پای ځنه ولوږی نو نازل شو ـ الَّذِیْنَ نه خوښوی خدای هیڅ یهود او نصاریٰ یَبْخَلُوْنَ چه بخل کوی خپله هم وَیَاْمُرُوْنَ النَّاسَ او امر کوی نورو خلقو ته هم بِالْبُخْلِ په بخل سره وَیَکْتُمُوْنَ مَآ او پټوی دوی هغه نعمت اٰتٰهُمُ اللّٰهُ چه ورکړیدی دوی ته خدای یا هغه نعت د رسول چی په تورات کښی خدای رالیږلی وو دوی ته مِنْ فَضْلِهٖ ط له خپله فضله وَاَعْتَدْنَا او تیار کړی دی موږ ـ لِلْكٰفِرِیْنَ کافرانو ته عَذَابًا مُّهِیْنًا ﴿۳۷﴾ عذاب سپکونکی وَالَّذِیْنَ او نه خوښوی هغه کسان یعنی منافقان او مشرکان یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ چه شنډی دوی مالونه خپل او لښکری پری جمع کوی رِئَآءَ النَّاسِ د پاره د ناموس او د ښوولو خلقو ته وَلَا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ او ایمان نه راوړی دوی پر خدای وَلَا بِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ط او نه پر ورځ د قیامت وَمَنْ یَّكُنِ الشَّیْطٰنُ او هر هغه څوک چه وی شیطان لَهٗ قَرِیْنًا د ده له ره همنشین او یار په دنیا کښی فَسَآءَ قَرِیْنًا ﴿۳۸﴾ پس بد دی دا شیطان په حال د کید وده د کښی همنشین او یار په آخرت کښی هم وَمَاذَا عَلَیْهِمْ او څه زیان او وبال به وو پر دی کفارو لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ که ایمان ئی راوړی وای پر خدای

عه یعنی له خپلو پښو پر یوږی یعنی هیڅ قدر د کذران ئے نه کیږی ۱۲ سه یعنی ځان بنکاره کولو ۱۳

وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ او پر ورځ د قیامت چې جزا د عمل حقه ده وَاَنۡفَقُوۡا مِمَّا او ښند نه ئې کړې وې
له هغه ماله رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ط چې ورکړی دی ورلره خدای وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای بِهِمۡ
عَلِيۡمًا ﴿۳۹﴾ پر دوی یعنې پر اقوالو پر افعالو په احوالو د دوی ښه خبردار نو جزا به ورکې ور
لره پوره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا يَظۡلِمُ ظلم نه کوی پر هیچا مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ ج په قدر د دروند
والی د سره میږی یا د یوه بخري دګرد وَاِنۡ تَكُ او که وی د امثقال د ذرې حَسَنَةً نیکې
په دفتر د مؤمن کښې يُّضٰعِفۡهَا نو غبرګه به کړی خدای دا حسنه وَيُؤۡتِ مِنۡ لَّدُنۡهُ او ور به
کړی خاوند د دی حسنې لره خاص له خپل جا نبه بې استحقا ق محض په خپل فضل اَجۡرًا
عَظِيۡمًا ﴿۴۰﴾ ثواب ډیر لوی فَكَيۡفَ پس څرنګه به وی حال د دی کفارو اِذَا جِئۡنَا په هغه
کې چې را به ولو موږ مِنۡ كُلِّ اُمَّةٍ م له هر اُمته څخه له تیرو اممو بِشَهِيۡدٍ یو شاهد
چې شاهدی ولولې پر اقوالو او پر افعالو د دوی چې هغه به پیغمبر د وی د هغه امت
وَّجِئۡنَا بِكَ او را به ولو تا هم عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ په دی امت ستا باندی شَهِيۡدًا ﴿۴۱﴾ شاهد
پر مؤمنا نو د ایمان او پر کا فرانو د کفر او پر منافقانو د نفاق يَوۡمَئِذٍ په دغه ورځ يَوَدُّ الَّذِيۡنَ
دوست به وګڼی هغه کسان كَفَرُوۡا چې کا فران شوی دی په خدای وَعَصَوُا الرَّسُوۡلَ او
بې فرمانی ئې کړې ده له رسوله د ده لَوۡ تُسَوّٰى بِهِمُ الۡاَرۡضُ ط چې کاشکی که هواره
کړه شوی وای پر دوی مځکه یعنې دوی به ارمان وکړی چې اوس موږ د مړو په شان
په مځکه کښې ښخ پراته وی یا له مځکې سره موږ هم مځکه شوی وای چې د ا سخت عذاب را باندې
نه تیریدای وَلَا يَكۡتُمُوۡنَ اللّٰهَ او نه به شی پټولای د خدای یو څخه حَدِيۡثًا ﴿۴۲﴾ هیڅ خبره
روایت دی چې عبد الرحمٰن بن عوف بعض اصحابو لره ناری د شرابو تیار کړه په هغه
ایامو کښې چې شراب لا رواوه بیا چې ناری وشوا و شراب هم تولو وڅښل نا ګاه د ماښام
اذان شو چې یو د دوی څخه د مخه شو او قُلۡ يٰۤاَيُّهَا الۡكٰفِرُوۡنَ ئې شروع کړی نو څلور ځایه

عه یعنې په لاره د خدای کښې ئې ورکړی د وی ۱۲ عه کلمه د لا چې په معنیٰ د نیست راځې یو په لا اعبد کښې او دویم په
ولا انتم عابدون کښې او دریم په ولا انا عابد کښې مطلب دا چې ای کا فرانو موږ نستا یو ستا یې دا نه منو او تاسې زموږ
دا نه منئ او ده داسې وای چې موږ ستاسې دا منو او تاسې زموږ خدای نه منئ له وجې د بیهوشئ څخه ۱۲ (خدای ... خدای ۱۲ ... زموږ خدای ۱۲)

وقف النبی علیه السلام

ع ۶ / ۲

لا نا فيه پکښې دی هغه خلو سره ئې پرېښوده نو نازل شو يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو
لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ مه نژدې کيږی و لمانځه ته وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى او حال دا چې تاسې يئ
سوده ياست حَتّٰى تَعْلَمُوْا ترهغوچې پوه شی مَا تَقُوْلُوْنَ په هغه قرائت چې تاسې ئې
وايا ست په لمانځه کښې وَلَا جُنُبًا او نه په داسې حال کښې چې تاسې جُنب ياست اِلَّا
عَابِرِيْ سَبِيْلٍ مگر چې ياست تاسې تيريد ونکی پرلاری يعنی مسافران نه موندونکی دا بو
څکه چې حکم بيا د تيمم دی نه دغسل لکه چې په آخر د آيت کښې دی يا مراد له صلوٰة نه
موضع دصلوٰة دی يعنې مه نژدې کيږی و مسجد ته په داسې حال کښې چې تاسې يئ سوده
ياست يا جنب ياست مگر تيريدونکی په لاره د مسجد کښې يا په وخت دضرورت کښې
حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ترهغوچې غسل وکړی او بې غسله مه نژدې کيږی روايت دی چې
په غزا د بنی مصطلق کښې يوه شپه لښکر پرچول واړول بيا چې اراده د کوچ ئې وکړه د
چرګانو د اذانو پروخت چې لمونځ واو بوته ورسوو ناګاه امېل د بی بی عائشې رض ورک شو
او لښکرو ته ولاړوو او اکثر پکښې جنب وه نو قول رسول لره په شکايت راغله چې لمونځ
قضا کيږی او او به نشته نو نازل شو وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى او که واست تاسې رنځوران
په وخت دجنابت کښې او استعمال داو بو له ضرره بيريداست اَوْ عَلٰى سَفَرٍ يا په سفر
باندې روان واست اَوْ جَآءَ او يا راشی اَحَدٌ مِّنْكُمْ يو له تاسې مِّنَ الْغَآئِطِ له صحرا
گښت يعنی له بولو اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ يا جماع وکړی تاسې له ښځو سره فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً
پس پيدا نه کړی تاسې او به يعنی پر استعمال ئې قادر نه واست څکه چې يا له سره او به نه وې
يا که وی نو ليری وی يا اسباب د وصول نه وی ورته يا په مينځ کښې مانع وی ورته
لکه ماران يا ليوان يا دښمنان فَتَيَمَّمُوْا پس قصد وکړی صَعِيْدًا طَيِّبًا د خاوری پاکې
يعنی د هر هغه پاک شی چې له جنسه د مځکې وی په نزد د امام اعظم رح لکه خاوره يا شګې
يا تيږه اګرکه ګرد و رباندې نه وی يا داسې نو ر شيان شوه او دوه ضربه دی ووهې په
دواړو لاسو خپلو پرهغه صعيد طيب باندې يو ضرب د مخ لپاره او بل دواړو لاسو لره -

ع يعنی د غاړې هار

چپه لاس د بنے لاس لیاره او بنی لاس د چپه لاس لیاره لکه چے وائی فَامْسَحُوْا پس مسحه
کړی تاسے په اول ضرب سره دواړه لاسونه خپل بِوُجُوْهِكُمْ په درستو مخانو خپلو وَاَيْدِيْكُمْ ط
او په دواړو لاسو خپلو په دویم ضرب سره دواړه لاسونه تر څنګلو پوری اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای
كَانَ عَفُوًّا دی عفوه کونکی چے دا سختی ئی د رته اسانه کړی غَفُوْرًا ﴿۴۳﴾ بخښونکی چی د تیمم
رخصت ئی د رکړی اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ آیا نه ګوری ته وهغو کسانو ته اُوْتُوْا نَصِيْبًا چی ورکړه
شوی وو دوی ته برخه مِّنَ الْكِتٰبِ له علم د تورات یعنی احبار د یهودو يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ
چے رانیسی دوی ګمراهے په هدایت سره یعنی غوره کوی یهودیت پر دین د اسلام پس له یقینه
پر دی چے دا هم هغه پیغمبر دی چی اوصاف ئی په تورات کښی راغلی دی وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ
تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿۴۴﴾ او اراده لری دوی ددی چے تاسے هم ورکه کړی ای مؤمنانو لاره د
حق وَاللّٰهُ اَعْلَمُ او خدای بنه پوه دی بِاَعْدَآئِكُمْ په دښمنانو ستاسے چی یهود دی وَكَفٰى
بِاللّٰهِ او بس دی خدای او دا ب زائده ده وَلِيًّا ئی دوست او متولی ستاسے وَّكَفٰى بِاللّٰهِ
او بس دی خدای نَصِيْرًا ﴿۴۵﴾ مددګار ستاسے پر دښمنانو ستاسے باندی چی هغه دښمنان
مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا له هغو کسانو دی چے یهودیت ئی اختیار کړیدی يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ تغیر
ورکوی دوی او اړوی هغه کلمات د نعت رسول ﷺ چے په تورات کښی راغلی وی یا آیت د
رجم عَنْ مَّوَاضِعِهٖ له ځایو خپلو ځنه یعنی د الفاظو د تورات پر ځای نور الفاظ ایږدی له
خپله ځانه وَيَقُوْلُوْنَ او وائی دوی په خولو سَمِعْنَا واوریدی مونږ ګفتار ستا وَعَصَيْنَا او
ونه مانه مونږ امر ستا اما په زړه کښے وائی وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ او واوره د اویل نه مونږ
په دی حال کښے چی اورولی شوی دی نه ئی د بدو الفاظو یا د هیڅ لفظ یعنی کوڼ یا مړ شی
یا هیڅ نه اوری وَّرَاعِنَا او لفظ د راعنا وائی یعنی رعایت کوه زمونږ او په مونږ هم فهم
لره اما د اهلته که له رعایته ځنه شی او که له رعونته ځنه لو نسبت دی د نادانی او د
احمق نعوذ بِاللّٰهِ منها پس دا دواړه لفظه یا په ظاهر کښے مدح ده او پټ کښی بنیری یا
زورول دی لَيًّا م په حال د اړولو او د تاوولو د دوی د هغه الفاظو چے دوه مخلری

بِاَلْسِنَتِهِمْ په شر بوددوی وَطَعْنًا فِی الدِّیْنِ ط او په حال د طعن او د قلح د دوی په دین د اسلام کښې چې دوی وائی چې که دی رشتیا پیغمبر وی نو پوهه به نیتو به خبر شوی وو حاصل دا چې دوی په حق د رسول ص کښې هغه الفاظ وائی چې په ظاهر کښې بنه او په باطن کښې بد وی وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا او که بیشکه دوی ویلی وای سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا واورېدی موږ ویل ستا او قبول کی موږ امر ستا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا او واوره او نظر لره پر موږ او لفظ د مسمع نی ور نه ویلای لَکَانَ نو هرآئینه وو به دا ویل خَیْرًا لَّهُمْ ډېر غوره دوی لره وَ اَقْوَمَ لا او ډېر برابر وَلٰکِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ او لیکن لیری کړی دی دوی خدای له خپله رحمته بِکُفْرِهِمْ په سبب د کفر خپل فَلَا یُؤْمِنُوْنَ پس ایمان نه راوړی له دوی څخه اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۴۶﴾ مګر کم خلک لکه ابن سلام او ملګری دده یا لږ ایمان یعنې بې فائدی چې بعض رسولان منی او بعض نه منی یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ ای هغه کسانو اُوْتُوا الْکِتٰبَ چې د رکړه شویدی تاسې ته کتاب اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا ایمان راوړی پر هغه قرآن چې را لیږلی دی موږ پر محمد صلی اللہ علیہ وسلم باندی مُصَدِّقًا په دی حال چې باور کونکی او رشتینی بلونکی دی یا موافق دی په اصولو د دین کښې لِّمَا مَعَکُمْ له هغه تورات سره چې تاسې څخه دی مِّنْ قَبْلِ اَنْ پخوا له هغه وخته نَّطْمِسَ وُجُوْهًا چې هوار وو موږ مخونه یعنې چې خوله او پوزه او سترګی او ور زی څندی لیری کوو او هوار وو نی سمه تخته فَنَرُدَّهَا پس ګرځو وو بیا دا هوار مخونه عَلٰۤی اَدْبَارِهَا په شکل د شاتانو د دوی یعنې لکه شاه چې هواردی همداسې مخ به هم هوار کړو یا پخوا له هغه چې ردکو و مخونه طرف د شاتانو ته یعنې چې مخونه هوار وو او د احواس په شاه کښې پیدا کوو یا پخوا له هغه مشرانو لره یا به نی پر یباسو او خوار وو نی اَوْ نَلْعَنَهُمْ یا شرمو و او رسوا کوو موږ دا مشران یا قول اهل کتاب په تر تلو د رحمت څخه یا په مسخ کولو سره کَمَا لَعَنَّا لکه چې تر تلی او مسخ کړی وه موږ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ط ملګری د خالی چې په دی ورځ د بنکاره څخه د ماهیانو منع کړه شوی وه او دوی منع نه شوه نو قول بیزو ګان شوه وَکَانَ اَمْرُ اللّٰهِ او دی امر یا وعید د خدای مَفْعُوْلًا ﴿۴۷﴾ کیدونکی خاخا روایت دی چې یو

عه سترګی او پوزه او غوږونه او خوله ۱۲

نو وروستہ رسول علیہ السلام لرہ راغلے چی تمام عمری یہ گناھو کښی تیر شوی دی اماله شرك څخه می
ځان ساتلی دی او اوس پرهغو گناهو پښیمان یم نو نو مابه څه حال وی نو نازل شو اِنَّ
اللّٰهَ بیشکه خدای لَا یَغْفِرُ اَنْ نه بخښی هیڅ اته دا کار یُّشْرَكَ بِهٖ چی شریك ونیول شی له
ده سره څوك وَیَغْفِرُ مَا او بخښی هره گناه دُوْنَ ذٰلِكَ چه کښته وی له دغه شرکه څخه
کبیره وی که صغیره لِمَنْ یَّشَآءُ ۚ هرهغه چاته چی اراده ئې وشی وَمَنْ یُّشْرِكْ بِاللّٰهِ او هر
څوك چی شریك ونیسی په خدای پوری کوم شی فَقَدِ افْتَرٰٓی پس په تحقیق سره وئې
تړل په خدای پوری اِثْمًا عَظِیْمًا ﴿۴۸﴾ د رواغ ډیر لوی روایت دی چی بعض یهودو خپل
هلکان رسول ته راوستل چی دا طفلان گناه لری که ئې نه لری ده وویل چی نه ئې لری
نو دوی وویل چی موږ هم له گناه پاك یو د دوی پشان څکه چی گناهونه د صبا بیگاه لره
او د بیگاه صبا له راو بخښلی شی نو نازل شه اَلَمْ تَرَ اِلَی الَّذِیْنَ آیا نه وینی ته هغه
کسان یُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۭ چی پاکوی دوی ځانونه خپل او هم دا حکم دی د هر هغه
چا چی خپل ځان ستائی په نیکی په تقویٰ په طاعت سره او په واقعه کښی دا سے
خبره نه ده بَلِ اللّٰهُ یُزَكِّیْ بلکه خدای پاکوی مَنْ یَّشَآءُ هغه څوك چی اراده
ئې وشی وَلَا یُظْلَمُوْنَ او ظلم به و نه کړل شی پرمزکیانو او نه پرنزاکیانو فَتِیْلًا ﴿۴۹﴾
په قدر د پلتی د هغه خیری چی په گوته مښلو سره پیدا کیږی اُنْظُرْ كَیْفَ وگوره چی
څرنگه یَفْتَرُوْنَ تړی دوی عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ ۭ پر خدای د رواغ د بخښلو د گناهو د
صبا بیگاه ته او د بیگاه د اصبا ته وَكَفٰی بِهٖٓ او بس دی دا د رواغ اِثْمًا مُّبِیْنًا ﴿۵۰﴾ گناه ښه ع ۷/۴
ښکاره روایت دی چی کعب بن اشرف او حُیَیُّ بن اخطب له ډلی د یهود و سره مکی لره
ورغلے چی قریش قسمیان کړو او مدینی له بیرته راوان کړو د پاره د جنگ نو قریشو ورته
وویل چی تاسی او محمد صلی اللہ علیہ وسلم دواړه کتابیان یاست له موږ سره به ټگی وکړی نو اول
راشه او نر موږ و خدایانو ته چی جبت او طاغوت دی سجدہ وکړی او چا طاغوت ته
شیطان ویلی دی چی نر موږ باور وشی نو سجدہ ئې وکړه او ابو سفیان له دوی څخه

سے یعنی د گوری د ښکو کسانو ته ۱۲   عہ یعنی وېړ ول له عذابه ۱۲ ' متعلق بصفحہ گذشتہ ۲۳۶ لطائف وغیرہ ۱۲

پوښتنه وکړه چې زموږ دین غوره دی او که د محمدؐ؟ یهودوو ویل چې ستاسې دین دد وی له دین څخه غوره دی نو نازل شو اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ ایا نه گوري ته و هغو کسانو ته اُوْتُوْا چې ورکړه شویده دوی لره نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ برخه له کتابه چې تورات دی يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ ایمان راوړي دوی پر بُت چې سجده ورته کوي وَالطَّاغُوْتِ او پر شیطان چې متابعت ئې کوي وَيَقُوْلُوْنَ او وائي دوی لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا په حق د هغه کسانو کښې چې کافران دي هٰۤؤُلَآءِ داکفار د قریشو چې دي اَهْدٰى ډیر برابر دي مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا له هغه کسانو چې ایمان ئې راوړی دی پر محمدؐ باندی سَبِيْلًا ﴿۵۱﴾ له جهته د لارې۔ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا حکم کونکي چې دي په غوره والی د کفارو هغه کسان دي لَعَنَهُمُ اللّٰهُ چې لیرې کړي دي دوی خدای له خپل رحمته وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ او هر هغه څوک چې لیرې کړي دی خدای له رحمته خپله فَلَنْ تَجِدَ پس هیچیرې به نه کې پیدا لَهٗ نَصِيْرًا ﴿۵۲﴾ ده لره مددگار په دفع د عذاب کښې اَمْ لَهُمْ ایا شته دی یهودو لره نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ برخه له بادشاهۍ دد نیا یعنی نشته او که وی فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ پس په دغه وخت کښې چې بادشاهان وی هم به ورنه کړي دوی وخلگو ته یا اصحابو ته[عه] له ډیره بخله نَقِيْرًا ﴿۵۳﴾ په قدر د نقیر چې هغه پوستکی دی په زړی (تاکی) د خرما باندی او چیرې[عه] خاص چې دوی خوار او مسکینان وی اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ بلکه کینه کوی دوی له خلگو سره یعنی له رسول علیه السلام سره او له اصحابو دده سره عَلٰى مَاۤ په هغه شي اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ چې ورکړی دی دوی لره خدای چې هغه عزت او نصرت او غلبه او لوئی ده مِنْ فَضْلِهٖ ج له فضله خپله فَقَدْ اٰتَيْنَاۤ پس په تحقیق سره ورکړیدی موږ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ اولاد د ابراهیمؑ له چې موسیٰؑ او داودؑ او عیسیٰؑ وو کتاب چې تورات او زبور او انجیل وو وَالْحِكْمَةَ او نبوت یا علم د حلالو او د حرامو وَاٰتَيْنٰهُمْ او ورکړی وو موږ دوی ته مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿۵۴﴾ بادشاهي لویه لکه یوسفؑ او داودؑ او سلیمانؑ یا مراد له آل د ابراهیم څخه رسول علیه السلام دی او له کتابه قران او له حکمته

عه یعنی ملگرو خپلو لره ۱۲ عه حاصل دا چه که چیرې دوی بادشاهان شي او مالکان د خلگو شي نو هم به تا بعانو خپلو لره څه شی ورنه کړي او سره له دی چه دوی پخپله خوار او عاجزان وي نو څرنگه به چالره څه ورکړي ۱۲

شریعت او له ملکه عظیم ځخه دوامر دی شریعت دی ترقیامته فَمِنْهُمْ مَّنْ پس بعض له
یهود و هغه دی اٰمَنَ بِهٖ چې ایمان ئې راوړی دی پر رسول ﷺ یا پر دی حال د آل دابراهیم
وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعض له دوی هغه دی صَدَّ عَنْهُ ط چې څنګ ئې کړی دی له رسول ﷺ
یا له دی حال ځخه وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ او بس دی دوزخ دپاره دعذاب دکافرانو سَعِيْرًا ﴿۵۵﴾
او ر بل کړه شوی اِنَّ الَّذِيْنَ بې شکه هغه کسان كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا چې نه منی او پټوی ایتونه
زمونږ یعنی قران یا نوری معجزی سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ط ژر دی چې داخل به کړو دوی
په اور کښې كُلَّمَا نَضِجَتْ هر کله چې پاخه شي او وسوځي جُلُوْدُهُمْ پوستکي د دوی
په دی اور بَدَّلْنٰهُمْ بدل به کړو مونږ دوی له جُلُوْدًا غَيْرَهَا پوستکی غیر له هغه۔
ځخوا نو سوځل سوو یعنی داپوستکی به بیا بیا تنکی کوو په هر شپه او ورځ کښې او یا زر
واره لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ط دپاره ددی چې وڅکی دوی عذاب هرساعت تازه تازه اِنَّ
اللّٰهَ بیشکه چې خدای كَانَ عَزِيْزًا دی ډیرغالب چې هیڅوك ئې عذاب دفع کولانه شي
حَكِيْمًا ﴿۵۶﴾ پرحکمته دی هیڅ کار ئې له حکمته خالی نه دی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او هغه
کسان چې ایمان ئې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه ئې کړی دی د نیکو
سَنُدْخِلُهُمْ ژر دی چې داخل به کړو مونږ دوی جَنّٰتٍ تَجْرِيْ په هغه باغو کښې
چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د بنګلو یادونو د دوی ځلور قسمه ولی
خٰلِدِيْنَ همیشه به وی دوی فِيْهَآ اَبَدًا ط په دی باغو کښې مدام بی انتها لَهُمْ فِيْهَآ وی
به دوی لره په دی باغو کښې اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ز ښځی پاکی کړه شوی له حیضه له نفاسه
له نورو ټولو ناپاکیو ځخه وَّنُدْخِلُهُمْ او داخل به کړو مونږ دوی ظِلًّا ظَلِيْلًا ﴿۵۷﴾ په
اوږده سوری کښې یعنی په نعمت دائمی کښې ځکه چې په جنت کښې لمر نشته نو سوری
به له کومه وی روایت دی چې په ورځ دفتح د مکې کیلی دکعبې د عثمان بن طلحه سره
وه ځنډی طلب شوه دپاره ددخول د رسول علیه السلام او ده منع وکړه او ویل ئې چې که زه

ع یعنی حاصل دا چې مراد له دې سوری ځخه نعمتونه دی او سوری نه دی چې په جنت کښې به سوری نه وی فافهم ۲

پوهید لای چې رسولؐ دی تو ځندی منعه کړی به می نه وه بیا حضرت علیؓ ځندی پرزور
واخسته بیا عباسؓ رسولؐ ته وویل چې دا کیلی اوس وما ته راکه نو نازل شو اِنَّ اللّٰهَ
يَاْمُرُكُمْ بیشکه خدای امرکوی پرتاسې اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ ددی چې وسپاری پردی
امانتونه اِلٰٓى اَهْلِهَا ځښتنانو خپلو ته بیا رسول علیہ السلام کیلی بیرته عثمان ته ورکړه او دا
حکم په هر امانت کښې جاری دی ترقیامته وَاِذَا حَكَمْتُمْ او په هغه وخت کی چې حکم
کوی تاسې ای عالمانو حاکمانو بَيْنَ النَّاسِ په مابین د خلکو کښې نو بیا امرکوی خدای اَنْ
تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ط ددی چې حکم کوی په انصاف او یوه طرف ته میلان مه کوی اِنَّ اللّٰهَ
بیشکه چې خدای فرمایلی وی یو امر نِعِمَّا بنه کار دی هغه يَعِظُكُمْ بِهٖ ط چې پند درکوی
تاسې ته هغه کار چې ادا د امانت او عدل د حکومت دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ
سَمِيْعًاۢ دی بنه اوریدونکی د اقوالو ستاسی بَصِيْرًا ﴿۵۸﴾ بنه لیدونکی دی د افعالو ستا
روایت دی چې خالد بن ولیدؓ په چپاو لاړی په کفارو پسې او عمار بن یاسرؓ هم ورسره وو
بیا چې ورغله نو هغه خلک ځندی وتښتیدل مگر عمارؓ یوه سړی ته امان ورکړی نو هغه
پاته شو بیا چې چپاو راغلې نو هغه سړی نی له عیاله سره راوستی بندی عمارؓ وویل چې
وده ته ما امان ورکړی دی خالدؓ وویل چې امیر زه یم تا ولی امان ورکاوی بیا چې
رسول علیہ السلام لره راغله ده وویل چې دا امان دی قبول دی اما دوباره له خپله امیره
مخالفت مه کوی نو په تصدیق ددی حکم کښې نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ای
مؤمنانو اَطِيْعُوا اللّٰهَ فرمان ومنی د خدای په فرائضو کښې وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ او
فرمان ومنی د رسولؐ په سنتو کی وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ج اود خاوندانو د امر له تاسې
مسلمانانو یعنې د حاکمانو یا د عالمانو خپلو چې دوی له حاکمانو هم دیاسه دی فَاِنْ
تَنَازَعْتُمْ پس که په جګړه سوا ست تاسې د اولی الامر سره فِيْ شَيْءٍ په کوم کار د دین
کښې فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ پس رد کړی تاسې دا کار خدای ته یعنې قرآن ته وَالرَّسُوْلِ او رسول

ئه دا هلته که حکم د دوی مخالف نه وو له حکمه د خدای او د رسول ﷺ او که مخالف وو نو هرگز به
نه منل کیدلای اگرکه حاکم یا عالم یا پیر یا مور او پلار وی هم ۱۲

ته په حیات دده کښې او سنت ته یعنې حدیث ته پس له وفاته دده اِنۡ كُنۡتُمۡ که یاست
تاسې تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ چې ایمان راوړی پر خدای وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ؕ او په ورځ دقیامت
ذٰلِكَ خَيۡرٌ دا رجوع خدای او رسول ته ډېر غوره ده تاسې د ناقص فکره تحځ وَّاَحۡسَنُ
تَاۡوِيۡلًا ﴿۵۹﴾ او ډېره ښه ده دا رجوع له جهته دعاقبت روایت دی چې دیوه یهودی
له منافق سره جګړه وه نو یهودی به ویل چې ستا پیغمبر لره ځو او منافق به ویل چې
ستا کعب بن اشرف له ځوا خر دواړه رسول لره راغله او منافق پر (ملامت) شو بیا چې
بیرون (دباندی) راغله نو منافق وویل زه بیا په عمر شریعت کوم چې هغه لره راغلے نو یهود
وویل چې دی پیغمبر پر کړیدی منافق وویل رشتیا ده خو زه په راضی نه یم پر تانی او س
بیا کوم نو عمر کور ته ولاړ او توره ئې راوړه او د منافق ګردن ئې پریکړی نو جبرائیل راغلے
چې عمر حق او باطل سره ښه بیل کړه او رسول ورته وویل چې انت الفاروق نو نازل
شو اَلَمۡ تَرَ ایا نه ګوری ته اِلَى الَّذِيۡنَ يَزۡعُمُوۡنَ هغه کسانو ته چې وائی دوی اَنَّهُمۡ
اٰمَنُوۡا چې بیشکه دوی ایمان را وړی دی بِمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ په هغه قرآن چې رالیږلی شوی
دی وتاته وَمَاۤ اُنۡزِلَ مِنۡ قَبۡلِكَ او په هغه چې رالیږل شوی دی پخواله تا چې کتابونه
دی د نورو پیغمبرانو يُرِيۡدُوۡنَ اراده لری دوی سره له دعوی د ایمان اَنۡ يَّتَحَاكَمُوۡۤا
ددی چې وزوړی شریعت خپل اِلَى الطَّاغُوۡتِ هغه چاته چې ډېر باغی دی له خدایه
چې کعب بن اشرف دی وَقَدۡ اُمِرُوۡۤا او حال دا چې په تحقیق مامور شوی و دوی اَنۡ
يَّكۡفُرُوۡا بِهٖ ؕ په دی چې نه به منی او باور به نه کوی په دی طاغوت یعنې په حکم دده سره
وَيُرِيۡدُ الشَّيۡطٰنُ او اراده لری شیطان اَنۡ يُّضِلَّهُمۡ دا چې ګمراهان کی دوی ضَلٰلًاۢ
بَعِيۡدًا ﴿۶۰﴾ په هغه ګمراهی چې ډېره لیری وی له لاری دحق وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ او په هغه وخت
کی چې وویل شی ودوی ته تَعَالَوۡا اِلٰى مَاۤ راشئ وهغه شریعت ته اَنۡزَلَ اللّٰهُ چې رالیږلی دی
خدای په قرآن کی وَاِلَى الرَّسُوۡلِ او رسول ته دده دپاره د قطع دخصومت رَاَيۡتَ الۡمُنٰفِقِيۡنَ
نو وینې به ته دا منافقان يَصُدُّوۡنَ عَنۡكَ چې څنګ کوی دوی له تا د ډېره عناده صُدُوۡدًا ﴿۶۱﴾

؏ یعنې ای عمره ته ئې فرق کوونکی په مینځ دحق او د باطل کې ۱۲ ؏ یعنې د پاره د پریکولو او د حلا صولو د جګړو د خلکو ۱۲

پہ څنګ کولو سرہ فَكَيْفَ إِذَآ پس څہ حال بہ وی د دوی پہ هغہ وخت أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ چہ ورسیږی دوی تہ غم د قتل د منافق بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ پہ سبب د هغہ کار چہ مخوا کړی دی او لیږلی دی لاسونو د دوی چہ هغہ پہ څنګ کیدل دی لہ دہ او وړتلہ دی طاغوت تہ ثُمَّ جَآءُوكَ پس لہ هغہ بیا راشی دوی قول د پارہ د طلب د دیت د قتیل یا د پارہ د عذر يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ قسم کوی بہ خدای پہ دی خبرہ چہ إِنْ أَرَدْنَآ ارادہ نہ دہ کړی موږ بہ دی حکم د عمرؓ کښے إِلَّآ إِحْسَٰنًا مګر ښیګرہ د خصمینو وَتَوْفِيقًا ﴿۶۲﴾ او موافقت د دوی نہ مخالفت ستا أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ دا منافقان هم قسم خوارہ هغہ کسان دی يَعْلَمُ ٱللَّهُ چہ پوهیږی خدای مَا فِى قُلُوبِهِمْ تہ پہ هغہ نفاق چہ پہ زړونو د دوی کښے دی فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ پس څنګ وکړہ لہ دوی یعنی لہ قبلولو د دی باطلو عذرونو د دوی وَعِظْهُمْ او نصیحت وکړہ ورتہ چہ نفاق پریږدی او دروغ پس لہ دی تخہ وَقُل لَّهُمْ او ووایہ دوی تہ فِىٓ أَنفُسِهِمْ پہ باب د ناپاکو نفسو د دوی کښے قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴿۶۳﴾ خبرہ ښہ اثرناکہ شاید چہ تائبان شی وَمَآ أَرْسَلْنَا او نہ دی لیږلے موږ مِن رَّسُولٍ هیڅ رسول إِلَّا لِيُطَاعَ مګر د پارہ د دی چہ فرمان ومنل شی د دہ بِإِذْنِ ٱللَّهِ پہ اذن د خدای سرہ وَلَوْ أَنَّهُمْ او کہ بیشکہ دا منافقان إِذ ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ پہ هغہ وخت کی چہ ظلم کړی وو دوی پرځانو خپلو پہ انکار لہ حکمہ ستا جَآءُوكَ راغلی ولی تا لرہ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ پس بخښنہ ئی غوښتی وی لہ خدایہ وَٱسْتَغْفَرَ او بخښنہ غوښتی وای لَهُمُ ٱلرَّسُولُ دوی لرہ رسول هم لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ نو هرآئینہ پیدا کړی بہ وو دوی خدای تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿۶۴﴾ توبہ قبلونکی دعامیانو د یر مهربانہ پر تاښانو روایت دی چہ د زبیرؓ لہ حاطب سرہ جګړہ وہ پر اوبہ خور باندی او رسول علیہ السلام لرہ راغلہ نو دہ زبیرؓ تہ وویل چہ خپلہ ځمکہ اوبہ کړہ بیا اوبہ همسایہ تہ پریږدہ نو حاطب پہ غصہ شو او داسے د شوخی الفاظ ئی وویل چہ دلالت ئی کاوی پر میلان د رسولؐ جانب د زبیرؓ تہ نو نازل شو فَلَا وَرَبِّكَ پس نہ دی ایمان داسے لکہ چہ دوی ئی ګنی قسم دی پہ رب

عہ یعنی و لا ل شوے چہ هغہ منافق وو ۱۲ سہ یعنی پر ځمکہ او پر والہ باندی ۷

ستا او دالّا زائده دی چې تاکید د معنی د قسم کوی او جواب د قسم دا دی چې لَا یُؤْمِنُوْنَ
دا به نه وړی دوی واقعی ایمان حَتّٰی یُحَکِّمُوْكَ ترهغه چې حکم کی دوی تا فِیْمَا په هغه
حادثه کښې شَجَرَ بَیْنَهُمْ چې اختلاف واقع شوی وی په مابین د دوی کښې ثُمَّ لَا یَجِدُوْا
پس له هغه بیانه نه پیدا دوی فِیْٓ اَنْفُسِهِمْ په زړو خپلو کښې حَرَجًا مِّمَّا قَضَیْتَ تنګئ
دلی او شك له حکمه چې کړی وی تا اګرکه له طبع د دوی د پر مخالف وی وَیُسَلِّمُوْا
تَسْلِیْمًا (۶۵) او غاړه کېښږدی دوی حکم ستا ته په غاړه ایښودلو سره په ظاهر او په
باطن کښې روایت دی چې هرکله زبیرؓ او حاطب له محکمې څخه راووتو نومقداد -
یوبنتنه څنی وکړه چې شریعت چاوګاټه حاطب وویل چې د تروړ زوی ئې وګاټه او
یهودی هلته ولاړو وهغه وویل چې رنګه دی ورك شی دا سې خلګو چې رسول
ئې هم بولی او بیا تهمت هم پروائی موږ په یوه ګفت د موسٰی سره او یازړه خلګو چې
ګناه څندی شوی وه پر یوه ځای ځانونه سره قتل کړه او هیڅا پرچیل پیغمبر تهمت ونه
وایه نو نازل شو وَلَوْ اَنَّا او که بیشکه موږ کَتَبْنَا عَلَیْهِمْ فرض کړی وای پر دی مدعیانو
د ایمان اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَکُمْ دا چې مره کړی تاسې ځانونه خپل لکه چې بنی اسرائیلو ته
وو اَوِ اخْرُجُوْا یا وه وزی تاسې ټول مِنْ دِیَارِکُمْ له کوټیلیو له وطنو خپلو لکه چې
بنی اسرائیل وتلی وه مَّا فَعَلُوْهُ نو وبه نه کړی دوی دا کار اِلَّا قَلِیْلٌ مِّنْهُمْ مګرلږ
خلګو له دوی به کړی وو لکه ثابت بن قیسؓ او عمار بن یاسرؓ او ابن مسعودؓ چې دوی د ری
سره وو هغه یهودی ته ویلی وو چې قسم دی که ده راته وویل چې ځانونه قتل کړی نو
موږ به ئې قتل کړو وَلَوْ اَنَّهُمْ او که بیشکه دی منافقانو فَعَلُوْا مَا کړی وای هغه کار چې
پند ورکول کیږی او امر کیږی ودوی ته بِهٖ په هغه کار چې متابعت د رسولؐ دی او غاړه
ایښوول دی وحکم شرعی ته لَکَانَ خَیْرًا لَّهُمْ نو هرا ئینه وو به دا کار د یرغوره دوی
له په دُنیا او په اٰخرت کښې وَاَشَدَّ تَثْبِیْتًا (۶۶) او د یر کلك به وو دا کار له جهته د حکم
والی د ایمان وَّاِذًا لَّاٰتَیْنٰهُمْ او بیا په وخت د حصول د تثبیت کښې هرا ئینه ورکړی

عه یعنی له کوره او له وطنو خپلو ۱۲ عه یعنی په وخت د حاصلولو د ټکوالی د ایمان کښې ۱۲

به وو موږ دوی له مِنْ لَّدُنَّآ خاص له خپله جانبه اَجْرًا عَظِيْمًا (۶۷) ثواب ډیرلوی وَ
لَهَدَيْنٰهُمْ او هرائینه برابرکړی به وو موږ دوی صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا (۶۸) پرهغه لار
چې سمه ده روایت دی چې ثوبان ازادکرده د رسول علیه السلام یوه ورځ ډیرخفه وو نو
رسول علیه السلام وپوښتی چې ولی خفه یې ده وویل چې نن ورځ له تاسره نا ستیم اودیدن
دی کولای شم اوبیا په هغه جهان بدته په فردوس اعلٰی کښې اوسی او زه به خدای زده
چې چیری اوسم اوستا له دیدنه به محروم یم نو نازل شو وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ او هرڅوک چې
فرمان ومنی دخدای په ټولو اوامرو او نواهیو کښې وَالرَّسُوْلَ اود رسول په احکامو
ددین کښې فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان مَعَ الَّذِيْنَ له هغه کسانو سره به وی په هغه جهان
کښې اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ چې مهربانی کړی ده خدای پر دوی مِّنَ النَّبِيّٖنَ له پیغمبرانو
وَالصِّدِّيْقِيْنَ او له راست ګویانو وَالشُّهَدَآءِ او له شهیدانو وَالصّٰلِحِيْنَ ج اوله
هغه نیکانو چې خبری اوکارونه اوحالونه یې ټول له شرعی سره موافق وی وَحَسُنَ
اُولٰٓئِكَ اوښه بنه دی دا ښخلو سره طائفی رَفِيْقًا (۶۹) له جهته د ملګرتیا له دوی
سره ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ط دا ملګرتیا له دوی سره محض فضل دی له جانبه د خدای
۹ ع ۱۱ ۶ وَكَفٰى بِاللّٰهِ او بس دی خدای عَلِيْمًا (۷۰) له جهته د علمه په نیتو او په مطلبو ستاسې
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو خُذُوْا حِذْرَكُمْ واخلئ وسلی د پاره دجهاد د-
فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ پس ځئ په کفارو پسی ډلی ډلی له هرطرفه اَوِانْفِرُوْا جَمِيْعًا (۷۱) یا
ځئ سره له یوه طرفه وَاِنَّ مِنْكُمْ اوبیشکه بعض له تاسې لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ج چې هرائینه
ډیرتاخیرکوی او بیرته بیرته پاته کیږی چې ابن اُبی اونورمنافقان دی چې په ورځ د اُحد
پرلاری بیرته وګرزیده فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ پس که ورسیږی تاسې ته مُّصِيْبَةٌ کوم غم
لکه قتل اوماته قَالَ نو وائی دا منافق قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ په تحقیق مهربانی کړی ده
خدای پرما اِذْ لَمْ اَكُنْ له دی جهته چې نه وم زه مَّعَهُمْ شَهِيْدًا (۷۲) له دی غازیانو
سره حاضر په جنګ کښې وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ اوکه ورسیدی وتاسې ته فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ

بنیکره له طرفه د خدای چې فتح یا غنیمت دی لَیَقُوْلَنَّ نو هرآئینه وائي دی خامخا
اوداسې وضعه کوي په ظاهر کښې كَاَنْ لَّمْ تَكُنْۢ چې ګویا که نه به وائي چې نه وه بَیْنَكُمْ
وَبَیْنَهٗ په مابین ستاسې او دده کښې مَوَدَّةٌ دوستي او شناخت یعنې ځان بیخي ناګانه
ګڼي او وائي یٰلَیْتَنِیْ ای کاشکې زه كُنْتُ مَعَهُمْ چې وای زه ددې غازیانو سره په
غزا کښې فَاَفُوْزَ پس بریالی شوی به وم زه یعنې برخه به مې اخستې وه له غنیمت
څخه فَوْزًا عَظِیْمًا ﴿۷۳﴾ برخه ډیره لویه فَلْیُقَاتِلْ پس مې باید چې جنګ دې کوي له کفارو
سره فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې اَلَّذِیْنَ هغه کسان چې په بازار د معامله
کښې یَشْرُوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا خرخوي دوی دا ژوند چې لږ او ژر رفنا کیدونکی دی
بِالْاٰخِرَةِ ط په هغه آخرت چې ژوندون او نعمتونه او لذتونه ئې انتها نلري وَمَنْ
یُّقَاتِلْ او هرچا چې جنګ وکړو فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې فَیُقْتَلْ پس شهید
کړه شي اَوْ یَغْلِبْ یا غالب شي پر دښمن فَسَوْفَ نُؤْتِیْهِ پس ژر دی چې وربه کړو
موږ ده ته په هغه جهان کښې اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۷۴﴾ ثواب ډیر لوی وَمَا لَكُمْ او څه مانع
دی تاسې لره ای مسلمانانو لَا تُقَاتِلُوْنَ چې جنګ نکوی تاسې فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره
د خدای کښې وَالْمُسْتَضْعَفِیْنَ او دپاره د خلاصولو د هغه عاجزانو چې اسلام ئې
راوړی دی په مکه کښې او هجرت ته ئې هیڅوک نه پریږدي مِنَ الرِّجَالِ له سړو څخه
لکه سلمه رض، ولید رض، عباس رض، ابوجندل رض یا داسې نور شوه وَالنِّسَآءِ او له ښځو څخه لکه
ام شریک رض ام عبدالله بن عباس رض یا داسې نورې شوې وَالْوِلْدَانِ الَّذِیْنَ او له هلکانو
څخه لکه ابن عباس رض یا داسې نور شوه او هغه عاجزان یَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ چې وائي دوی له ډیر
افسوسه ای ربه زموږ اَخْرِجْنَا مِنْ وباسه موږ هٰذِهِ الْقَرْیَةِ له دې کلي څخه چې مکه
ده الظَّالِمِ اَهْلُهَا ج چې ظالمان دي اوسیدونکي ددې کلي وَاجْعَلْ لَّنَا او پیدا کړه موږ
لره مِنْ لَّدُنْكَ له خپل جانبه څخه په فضل خپل سره وَلِیًّا کوم دوست او متولي د ټولو
کارونو موږ وَّاجْعَلْ لَّنَا او بیا پیدا کړه موږ لره مِنْ لَّدُنْكَ نَصِیْرًا ﴿۷۵﴾ له خپل درباره

کوم مددگار چه له دښمنانو موږ خلاص کړی اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی پر خدای پر رسول علیہ السلام یُقَاتِلُوْنَ چی جنګونه کوی دوی فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ۚ په لاره دخدای کښې وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا او هغه کسان چه کافران دی یُقَاتِلُوْنَ جنګونه کوی دوی که مشرکان او که یهودیان او که نصرانیان دی فِیْ سَبِیْلِ الطَّاغُوْتِ په لاره دشیطان کښې چی سرد یاغیانو دی فَقَاتِلُوْٓا پس وژنی ای دوستانو دخدای اَوْلِیَآءَ الشَّیْطٰنِ ۚ دوستان دشیطان اِنَّ کَیْدَ الشَّیْطٰنِ بیشکه مکر او فریب دشیطان چه دی کَانَ ضَعِیْفًا ﴿۷۶﴾ ډیر کمزوری دی روایت دی چه بعض اصحابو لکه عبدالرحمن بن عوف او سعد بن ابی وقاص او مقداد بن اسود یاد اسے نورشوه چه دوی به په مکه کې ډیر ارمان کاوی دجهاد او بیا چه مدینې ته راغله او قتال واجب شو نو ددوی ځینو ډیره سستی بنکاره شوه نو په ملامتیا ددوی کښې نازل شو اَلَمْ تَرَ ایا نه ګوری ته اِلَی الَّذِیْنَ هغه کسانو ته قِیْلَ لَهُمْ چی وویل شو ددوی ته په مکه کښې کُفُّوْٓا اَیْدِیَکُمْ چه منع کړی تاسے لاسونه خپل له جنګه دکفارو تر هغو چه امر ندی راغلے له خدایه وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ او دروی لمونځ خپل وَاٰتُوا الزَّکٰوةَ ۚ او ورکوی زکوٰة خپل خپلو مستحقانو ته فَلَمَّا کُتِبَ پس هرکله چه ولیکل شو په مدینه کښې یعنی واجب کړه شو عَلَیْهِمُ الْقِتَالُ پر دوی جنګ له کفارو سره اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ ناګاه یوه فرقه له دوی ځنی چی ده یَخْشَوْنَ النَّاسَ بیریږی له خلګو یعنی له کفارو ځنی کَخَشْیَةِ اللّٰهِ لکه ویره له خدایه یعنی لکه چه څوک له خدایه بیریږی اَوْ اَشَدَّ خَشْیَةً ۚ بلکه ډیر زیات له ویری دخدای هم او داویره له کراهت طبعی وه له موته نه له ګردن کشی له امر دخدای وَقَالُوْا رَبَّنَا او وائی دوی اے ربه زموږ لِمَ کَتَبْتَ ولی دی واجب کړی عَلَیْنَا الْقِتَالَ ۚ پر موږ جنګ دکفارو سره لَوْلَآ اَخَّرْتَنَا ولے دی مهلت را نه کړی موږ لره اِلٰٓی اَجَلٍ قَرِیْبٍ ۭ تر نژدی اجل پوری چه ځیله مره وای موږ پر خپل فراش قُلْ ووایه ودی بیرند وکوته مَتَاعُ الدُّنْیَا معاش ددی جهان چه دی قَلِیْلٌ ۚ ډیر لږ دی نظر و هغه

عه یعنی دی مؤمنانو لره دومره فریب نشته ورکولای لکه چه خدای کافرانے لاری کوی او بے زړه کوی ئې نو تاسه ځندی مه پریږی ۱۲ عه یعنی هغه چالرمیه لائق وی د زکوٰة چه فقیر دی ۱۲

جهان ته وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ او اخرت ډیر غوره دی تر دنیا لِمَنِ اتَّقٰى ته هغه چا له چې بیریږی
له خدایه وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۷﴾ او ظلم به و نه کړه شي پر تاسې په قدر د پلتی د خیری چې
په ګوته منښلو پیدا شي اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا هر چیری چې اوسی تاسې يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ لا ند
به کړی تاسې مرګ وَلَوْ كُنْتُمْ اګر که اوسې تاسې فِيْ بُرُوْجٍ په مانیو یا په قلعو یا په برجو
داسمان کښی مُّشَيَّدَةٍ د چې محکم کړه شوی دی وَاِنْ تُصِبْهُمْ او که و رسیږی دی منافقانو
ته حَسَنَةٌ کومه ښیګړه لکه فراخی او ارزانی يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ نو وائی دوی چې دا نعمت
چې دی مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ج له جانبه دخدای دی وَاِنْ تُصِبْهُمْ او که و رسیږی و دوی ته سَيِّئَةٌ
سختی لکه تنګی او قحطی يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ نو وائی دوی چې دا زحمت چې دی مِنْ عِنْدِكَ ط له
تا محمدہ دی ځکه چې په هغه کال چې ته مدینی له راغلې نو نرخونه ټول کم شوه او میوی
کمی وشوی قُلْ كُلٌّ و وایه ور ته دا ټول چې دی که تنګی ده که فراخی ده که قحطه ده که ارزانی
ده بلکه هر خیر او شر چې دی مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط له جانبه د خدای دی فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ پس چې
څه ده پیښه دی قوم د یهودو او د منافقانو ته لَا يَكَادُوْنَ چې نه دی نږدی داسې حال
ته يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿۷۸﴾ چې پوه شي په خبره د پند مَآ اَصَابَكَ هر هغه چې و رسیده
تا ته ای پیغمبره یا بنی آدم مِنْ حَسَنَةٍ له کومی ښیګړی فَمِنَ اللّٰهِ ز پس هغه ټوله له خدایه
ده وَمَآ اَصَابَكَ او هر هغه چې و رسیده و تا ته مِنْ سَيِّئَةٍ له بلا او له سختی فَمِنْ نَّفْسِكَ ط
پس هغه نو له ستا له خپله ځانه ده چې په سبب د ګناه و ستا ده وَاَرْسَلْنٰكَ او لیږلی ئی
موږ ته اے پیغمبره لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ط خلکو ټولو ته رسول ستا ذی وَكَفٰى بِاللّٰهِ او بس دی خدای
شَهِيْدًا ﴿۷۹﴾ شاهد په رسالت ستا مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ هر هغه څوک چې فرمان ئی ومانی
د رسول عليه السلام فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ج پس په تحقیق چې فرمان ئی ومانه د خدای هم ځکه
چې دی امر نه کوی مګر په طاعت د خدای وَمَنْ تَوَلّٰى او هر څوک چې شا ئی کړه تا ته

عه دا ئی پیغمبره خدای ته وپل ۱۲ عه یعنی په اراده او په حکم د خدای سره دی که ارتوالے را او لی
او که تنګوالی ۱۲ سه چې پوه شي په خبره یعنی په قران ځکه چې که دوی پوهیدای او عقیده ئی وائی پردی
قران نو معلومه شوی به وه دوی ته چې هر څه د خدای په تحفه دی نه د بل چا څخه ۱۲

او ستا فرمان نه وړ مانی فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ پس نه ئی لیږلے مونږ ته عَلَیْهِمْ حَفِیْظًا ﴿۸۰﴾ پردوی
نګهبان له ګنا هو څخه او څوك وائی چه دا حکم په ایت د سیف سره منسوخ شوی دی وَ
یَقُوْلُوْنَ او وائی دا امنا فقان په هغه وخت کی چه ته ئی کوم کار مامور کړی طَاعَةٌ زمونږ
کار او منصب زمونږ فرمانبرداری ده لوداطاعةٌ خبر شو د مبتدا، محذوفی چه امرُنا
دی فَاِذَا بَرَزُوْا پس په هغه وخت کی چه راووځی دوی مِنْ عِنْدِكَ له تا څخه بَیَّتَ
طَآئِفَةٌ نو د شپی وائی یوه ټولی بلی ته مِّنْهُمْ له دی منافقانو څخه غَیْرَ الَّذِیْ تَقُوْلُ له
پرته له هغی خبری چه وائی دوی دو رځی تا ته یا ته وائی ودوی ته څکه چه تاته قبول
او فرمانبرداری په ښکاره وائی او په زړه کښی ئی رداو بے فرمانی ده نو لفظ د تقول
یا غائب مؤنث دی چه ضمیر د طائفی ئی فاعل دی یا مخاطب مذکر دی وَاللّٰهُ یَکْتُبُ
او خدای لیکی په لاس د ملائك په اعمالونامو د دوی کښی مَا یُبَیِّتُوْنَ ج هغه ته بیرونه
چه د شپی ئی تړی دوی تا ته فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ پس څنګ وکه له دوی چه له جهته د
لسانی اسلام حکمو دقتل پری نشته وَتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ ط او توکل وکړه یعنی ځان وسپاره
پر خدای وَکَفٰی بِاللّٰهِ او بس دی خدای وَکِیْلًا ﴿۸۱﴾ ولاړ په مصالحو د عباد و اَفَلَا
یَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ط آیا پس ولی فکر نه کوی دا منافقان په قرآن کښی پر طریقه د
فصاحت او د بلاغت او دا عجاز سره چه یقین ئی پر دی چه دا کلام د حق دی وَلَوْکَانَ
او که وای دا قرآن مِنْ عِنْدِ غَیْرِ اللّٰهِ له بل چا څخه بی له خدای یعنی کلام د مخلوق
وای لکه دوی ئی چه ګڼی لَوَجَدُوْا البته هرا ئینه موندلی به وو دوی فِیْهِ اخْتِلَافًا په دی
قرآن کښی مخالفت کَثِیْرًا ﴿۸۲﴾ ډیر یعنی تناقض[ع] په معانیو او تفاوت په الفاظو کښی له جهته د
فصاحت او د بلاغت څکه چه کلام بشری له دوی څخه ډیر کم خالی کیږی وَاِذَا جَآءَهُمْ
او په هغه وخت کښی چی راشی دی منافقانو ته اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ کوم کار له امنه څخه یعنی
خبر له قوت او له غلبه د مسلمانانو اَوِ الْخَوْفِ یا له ویری د دوی په سبب د جمع د کفار و یا له
ماتے د چپاو یانو اَذَاعُوْا بِهٖ ط نو خور کړی دوی دا امر او دا حال په ډیر شور سره په تمام

ع تناقض یعنی د یوه ایت څخه په یوه شان خبرو او د بل څخه په بل شان خبرو ۱۲

عالم کېنې پخواله تحقيقه اوداخوروول بياموجب دډيرفتنو شي وَلَوْ رَدُّوْهُ اوکه پرې اينبي واى دوى دا کار اِلَى الرَّسُوْلِ فکرمبارک د رسول علیہ السلام ته چې اعلم الناس دې وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ او خاوندانو د امر ته چې کبار د اصحابو يا اميران دچپاوودى مِنْهُمْ له دوى څخه لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ نوهرآئينه معلوم به وو تدبير ددى كارهغه كسانو ته يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ چې جلا او بيلولاى شي نيك له بدڅخه مِنْهُمْ له دوى وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ او كه نه واى فضل د خداى عَلَيْكُمْ پرتاسې په لېږلو د رسولانو وَرَحْمَتُهٗ اورحمت دده په رالېږلو دكتابو لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ نوهرآئينه پيروى به كړې وه تاسې دشيطان يعنى ټول به په فكر كېنې پاته واست اِلَّا قَلِيْلًا (۸۳) مګرلږ ولږ تاسې چې ځكې له بعثه نې پخپل فكر سره ايمان راوړى دى لكه ورقه بن نوفل او قيس بن ساعدة او زيد بن عمرو او بحيرراهب يا داسې نورشوه روايت دى چې په غزا د بدر صغرى كېنې رسول علیہ السلام خلك ماموره كړه په وتلو جنګ ته او بعض يكېنې ستوماني ښكاره كړه نو نازل شو فَقَاتِلْ پس جنګ كوه ته پوازى اى رسوله كه بل چا د سره نه كاوى فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ په لاره د خداى كېنى لَا تُكَلَّفُ نه شى مكلف كولاى ته په حق د جهاد كېنې اِلَّا نَفْسَكَ مګرخاص دځان په حق كېنې بيا چې دى بدر صغرى لره روان شونواو يا تنه ورسره ولاړه وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ اورغبت پيدا كوه دمؤمنانو په جنګ دمشركانو ځكه چې پرتا خاص ترغيب دى نه تكليف عَسَى اللّٰهُ بنا ئى چې خداى اَنْ يَّكُفَّ چې حصار كې له مؤمنانو بَاْسَ الَّذِيْنَ جنګ دهغو كسانو كَفَرُوْا چې كافران دي يعني مشركانو د قريشو وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا او خداى ډير سخت دى په هيبت كى له قريشو وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا (۸۴) او ډير سخت دى په عذاب وركولوكى مَنْ يَّشْفَعْ هرچا چې خيرخواهي وكړه په حق د بل چا كېنې شَفَاعَةً حَسَنَةً په درخواست بنا يسته سره چې هغه چا ته نفعه په ورسيږى يا ضرر ځندى په دفع شي مثلاً يَّكُنْ لَّهٗ نو وى به دى خيرخواه لره نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ برخه له دى شفاعته وَمَنْ يَّشْفَعْ او هرچا چې بدخواهي وكړه په حق د بل چا كېنى شَفَاعَةً سَيِّئَةً په درخواست ناكاره سره

چې په هغه سره ضرر چاته ورسیږي یا نفعه خندي بنده شي یَکُنۡ لَّهٗ نو وي به دې بد خواه لره کِفۡلٌ مِّنۡهَا ؕ حصه له هغه وباله د بدخواهی وَکَانَ اللّٰهُ او دی خدای عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ پر هر شي مُّقِیۡتًا ﴿۸۵﴾ نگهبان یا توانا وَ اِذَا حُیِّیۡتُمۡ او په هغه وخت کې چې پیشکشي درکړل شي وتاسې ته بِتَحِیَّةٍ په پیشکشي د دین محمدي سره چې اَلسَّلَامُ علیکم یا سلامٌ علیکم دی یعنی که څوك سلام درواچوي فَحَیُّوۡا پس پیشکشي وکړي تاسې هم هغه ته یعنی سلام ئې تاسې واخلئ بِاَحۡسَنَ مِنۡهَا په غوره عبارت له تحیې د هغه څخه یعنی تاسې ورحمت الله پر زیات کړي بلکه وبرکاته هم ورسره ضم کړی اَوۡ رُدُّوۡهَا ؕ یا وگرځوي هم هغه تحیه بیرته بې زیادته روایت دی چې سلام اچول سنت دی او رد ئې فرض کفائي دی غیر له شپږ وځایو په نزد د امام اعظم پر خطیب پر قاري د قرآن پر راوي د حدیث پر مذاکر د علم پر مؤذن پر اقامت کونکی او په نزد د نورو علماؤ ډیردی لکه هغه تیر شپږ او پر د رود ویونکی او په مابین د سنتو او د فرضو او پر شطرنج کونکی یا امثال دده او پر سرود وهونکی او پر هغه ناست پر قضاء حاجت او پر لڅ او پر کوتر باز د پاره د گټلو او پر بیگانه پیغلې او پر کافر مگر د پاره د حاجت او په هغه ځای کښې چې اچول د سلام منع دی هلته ئې رد هم نشته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای کَانَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ دی پر هر شي حَسِیۡبًا ﴿۸۶﴾ حساب کونکی یعنی حساب به د سره وکړي هم د سلام او هم د رد د سلام او د نورو اعمالو اَللّٰهُ خدای چې دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ نشته لائق د عبادت هیڅوك مگر یوازې هم دی دی لَیَجۡمَعَنَّکُمۡ قسم دی چې راجمع به کړي تاسې خامخا په محشرگاه کښې پس له ژوندونه اِلٰی یَوۡمِ الۡقِیٰمَةِ ورځې د قیامت ته لَا رَیۡبَ فِیۡهِ ؕ چې نشته هیڅ شك په دې ورځ یا په دې جمع کې وَمَنۡ اَصۡدَقُ او څوك
ع ١١ دی ډیر رشتینی مِنَ اللّٰهِ تر خدای حَدِیۡثًا ﴿۸۷﴾ له جهته د خبرې یا د وعدې روایت
٨ دی چې یو تولی د منافقانو اجازت وغوښته له رسول علیه السلام د باندې کیدو چې له مدینې ووا ته نو ولاړه او په مشرکانو گډ شوه او مؤمنان پکښې مختلف شول چا به ویل

عه چې په دوی سلام اچول نشته او که چا وراچولو نو اخسته ئې نشته ۱۲

چې مسلمانان دی او چا به ویل چې کفار دی نو نازل شو فَمَا لَكُمْ پس څه باعث دی پر
تاسې چې شوي یاست فِي الْمُنٰفِقِيْنَ په باب د دې منافقانو کښې فِئَتَيْنِ دوی طائفې
وَاللّٰهُ او خدای اَرْكَسَهُمْ رد کړي دي دوی بیرته کفر ته بِمَا كَسَبُوْا په سبب د هغه
عمل چې کړی دی دوی چې هغه لحوق دی له مشرکانو سره اَتُرِيْدُوْنَ آیا اراده لرئ
تاسې اَنْ تَهْدُوْا د دې کار چې پر لار برابر کړئ تاسې مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ د هغه څوک چې
گمراه کړی دی خدای وَمَنْ او هر هغه څوک يُّضْلِلِ اللّٰهُ چې گمراه ئې کړي خدای فَلَنْ
تَجِدَ پس نه به مومې ته لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۸۸﴾ ده لره هیڅ لاره د هدایت وَدُّوْا دوست گڼي
دا مرتدان لَوْ تَكْفُرُوْنَ دا چې کاشکې کافران شئ تاسې هم كَمَا كَفَرُوْا لکه چې کافران
شوي دي فَتَكُوْنُوْنَ پس شئ به تاسې او دوی سَوَآءً برابر سره په کفر کښې فَلَا تَتَّخِذُوْا
پس مه نیسئ تاسې هیڅوک مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ له دوی څخه دوستان حَتّٰى تر هغو چې
ایمان راوړي او ایمان به ئې هلته حساب شي يُهَاجِرُوْا چې هجرت وکړي فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
په لاره د خدای کښې فَاِنْ تَوَلَّوْا پس که شا کړه دوی له ایمانه او له هجرته فَخُذُوْهُمْ
پس نیسئ دوی او بندیان کوئ ئې وَاقْتُلُوْهُمْ او وژنئ ئې حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ
په هر ځای کښې چې بیا مومئ تاسې دوی وَلَا تَتَّخِذُوْا او مه نیسئ تاسې هیڅوک مِنْهُمْ
وَلِيًّا له دوی دوست دار وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾ او نه یار اِلَّا الَّذِيْنَ مگر مه وژنئ او مه
بندیان کوئ هغه کسان له دوی يَصِلُوْنَ چې ځان پیوند کړي او امان وروړي اِلٰى قَوْمٍ
هغه قوم ته بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ چې په مابین ستاسې او په مابین د هغه قوم کښې مِّيْثَاقٌ
یو عهد او پیمان وي لکه اسلمیان یا بکریان یا خزاعیان چې رسول علیه السلام له دوی سره
عهد کړی وو چې هر څوک چې تاسې لره راغلي هغه له ما څخه هم په امان دی اَوْ جَآءُوْكُمْ
یا امان وروړي دوی هغه قوم ته چې راغلي وي دا قوم تاسې ته حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ
په دې حال چې تنگې شوې وي سینې د دوی او بدې ئې گڼي اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ دا کار چې جنگ وکړي
دوی له تاسې سره اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ د یا جنگ وکړي دوی له قوم خپل سره چې کفار دي

یعنی چې له مینځه ناست وی چې هغه بنی مدلج وه چې له رسول علیه السلام او له قریشو
سره هم داعهد ئې کړی وو چې موږ له یوه سره هم ملانه ترو او له مینځه ناست
یو یا معنیٰ دا چې هغه څوک هم مه وژنئ تاسې چې له مینځه ناست وی او که تاسې
ته په ستوما نی راغلی وی چې نه تاسې وژنو او نه خپل قوم وژنو وَلَوْشَآءَ اللّٰهُ او که
اراده وای د خدای لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ نو هرا ئینه مسلط کړی به ئې وو دوی پر تاسې
فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ پس هرائینه جنګ به ئې کړی وو له تاسې سره فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ پس که
څنګ وکړو دوی له تاسې څخه فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ پس نه وژنی دوی تاسې وَاَلْقَوْا او
راوړاندی کړی دوی اِلَيْكُمُ السَّلَمَ لا تاسې ته صلح او امان وغواړی له تاسې فَمَا جَعَلَ
اللّٰهُ پس نه دی مقرر کړی خدای لَكُمْ عَلَيْهِمْ تاسې لره پر دوی سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾ هیڅ لاره
نه د قتل او نه داخستو د مال او دا حکم بیا منسوخ شوی دی په اٰیت د سیف سره
سَتَجِدُوْنَ ژر ردی چې بیا به مومی تاسې اٰخَرِيْنَ یو بل قوم چې غطفان یا بنی اسد دی
چې مدینی لره راغله او تش لسانی اسلام ئې راوړه يُرِيْدُوْنَ اراده لری دوی اَنْ
يَّاْمَنُوْكُمْ د دی چې په امان شی له تاسې او بیا له مدینی چې ولاړه نو بیا بېرته
کافران شو وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ط او په امان شی له خپله قومه هم کفار ردی كُلَّمَا رُدُّوْٓا هر
کله چې و باله شی دا غطفان یا بنی اسد اِلَى الْفِتْنَةِ فتنی ته چې کفر یا جنګ دی له
مؤمنانو سره اُرْكِسُوْا فِيْهَا ج نو بېرته واچول شی په دی فتنه کښی یعنې هر کله چې
خپل قوم ئې وبولی چې راځئ د مسلمانانو جنګ له نو دوی بیا ورلره راغلی وی فَاِنْ لَّمْ
يَعْتَزِلُوْكُمْ پس که کناره نه شو دوی له جنګه ستاسې وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ او راوړاند
نه کړی دوی تاسی ته صلح او طلب د امان وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ او حصار نه کا دوی لاسونه
خپل له جنګ ستاسې فَخُذُوْهُمْ پس نیسې دوی وَاقْتُلُوْهُمْ او وژنئ دوی حَيْثُ
ثَقِفْتُمُوْهُمْ ط په هر ځای کښی چې لاس بری بیا مومی تاسې پر دوی وَاُولٰٓئِكُمْ او دا تولی
چې دی جَعَلْنَا لَكُمْ د رکړی دی موږ تاسې لره عَلَيْهِمْ پر دوی سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۹۱﴾ ع حجت ښکاره ع ۱۴ ۹

روایت دی چې عیاش نومی سړی وو په مکه کښې چې مسلمان وو هغه پټ ولاړی مدینې ته او ابوجهل په چل سره بیرته راوست او تړلی ئې لمرته واچاوی بیا چې ډیرئې په عذاب کړی نو له خوفه دکفرکلمه ئې وویله بیا یوه سړی حارث نومی پیغور ورلره ورکړی چې که دین د اسلام حق وو نو ځه دی ترک کړی او که باطل وو نو ته پر باطل وی نو ده له قهرم قسم وکړی چې مړ به دی کړم او عیاش بیا مدینې له راغلی او اسلام ئې تازه کړی او حارث هم ورپسې راغلی او ده هم اسلام راوړی اما پښا لاعیاش په حارث پسې ګرزیدے بیا چې حارث پر عیاش پیښ شو نو مړے ئې کی او چې له اسلامه ئې خبر شو نو په ډیر خفګان رسول له راغلے نو نازل شو وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ او نه ښائی او نه دی روا هیڅ مؤمن له اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا د اچې مړ کی دی بل مؤمن پخپل اختیار اِلَّا خَطَأً ج مګر په قتل خطاء سره چې د اخطا بیا په قصد کښے راغلے وی لکه چې کوم شی ولی په دی ګمان سره چې دا ښکار دی او هغه په واقعه کښې آدمی وی یا کوم سړی ولی په دی ګمان سره چې حربی دی او هغه مسلم وی او که په فعل[عه] کښے راغلے وی لکه چې نښه ولی او پر آدمی ولګیږی فائده هرکله چې څوک په خطا سره چا مړ کړی نو د امقتول به یا مؤمن او یا به مؤمن غیر مهاجر وی او یا به ذمی[عه] وی که مؤمن وو نو پر قاتل دوه شیان لازمیږی لکه چې وائی وَمَنْ قَتَلَ او هرڅوک چې مړ کی مُؤْمِنًا خَطَأً کوم مؤمن په خطا سره فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ پس ازادول د داسے مریي دی مُّؤْمِنَةٍ چې مُؤْمِن وی ځکه ده څو مؤمن وژلی دی نو اوس دی مؤمن ژوندی کی او ازادول هم ژوندی کول دی چې رِق اثر د موت حکمی دی چې هغه کفر دی وَّدِيَةٌ او بل دیت دی چې هغه په نزد د امام اعظم خاص له دریو شیانو څخه ورکولای شي له ذهبو (سروزرو) یونر ردینا ره دی او له فضه وو (سپینو زرو) لس زره درهمه دی او له او ښانو سل دی چې شل ئې ابن مخاض او شل بنت مخاض یعنې یوکلنی او شل بنت لبون یعنې دوه کلنی او شل حقه یعنی دری کلنی او شل جذعی یعنې څلور کلنی او بیا په دری

عه یعنی خطا په ویشتو کی راغلے وی لکه چی نښه ولی لیکن غښه کوږ شے او پر سړی ولګیږی ۱۲ عه یعنی چې مسلمانانو ورلرو په او سید قسم امن ورکړی وی ۱۲

کالو کښې ورورسول شي کذا فی التفسیر الاحمدی مُسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ سپارل شوی وارثانو د
مقتول ته اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا د مګر که عفوه وکړه وارثانو او دا هلته که مؤمن وواوکه
مؤمن غیر مهاجر وو نو پر قاتل یو څیز لازم دی لکه چه وائی فَاِنْ كَانَ پس که وودا
مقتول مِنْ قَوْمٍ له داسې قوم څخه عَدُوٍّ لَّكُمْ چه دښمنانان ستاسې وی یعنی
حربیان وَهُوَ مُؤْمِنٌ او حال دا چه دی مؤمن وی خو هجرت ئی نه وی کړی فَتَحْرِيْرُ
رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ط پس ازادول د مؤمن مریی دی یوازی او د یت په دی قسم کښې
نشته ځکه چه دیت حق د وارث دی او دی وارث نه لری او که دی وو نو بیا قاتل
بیا ازادول او دیت دی لکه چه وائی وَاِنْ كَانَ او که وودا مقتول مِنْ قَوْمٍ له
داسې قومه بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ چه په مابین ستاسې او په مابین دهغه قوم کښې مِّيْثَاقٌ
عهد دذمی وی فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ پس یو دیت دی سپارل شوی اِلٰٓى اَهْلِهٖ وارثانو د
مقتول ته وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ج او بل ازادول د مؤمن دی فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ پس هر
څوك چه پیدا نه کړی مریی او نه د ومره مبلغ چی مریی په واخلی فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ پس
روژې نیول دی د دوو میاشتو چه پرهغه لازم دی مُتَتَابِعَيْنِ ز پرله پسې چه فرجه په
مینځ کښې رانه شي تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ط دپاره دقبلولو توبې چه له طرفه د خدای ده یعنی چی
دی پښیمانه او تائب شي خدای ته وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای عَلِيْمًا ښه دانا په حال د قاتل
او د مقتول حَكِيْمًا (۹۲) حکم کوونکی دی په دیت او کفارت سره روایت دی چه مقیس نومی
سړی خپل ورور مقتول پیدا کی په محله د بنی النجار کښې چی رسول علیه السلام ئی په خبر
کړی نو ده زهیر نومی سړی چه اصحابی وو ورسره ولیږی چه مشرانو د بنی النجار ته ووائ
چه یا قاتل پر مقیس وسپارئ او یا دیت ورکړی نو دوی سل اوښان مقیس ته ورکړه بیا
دی او مقیس مدینې لره راتله ناګاه زهیر ئی پر لاری مړ کړو او دی مکی لره ولاړ
نو نازل شو وَمَنْ يَّقْتُلْ او هر څوك چه مړ کړی مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا اکوم مؤمن په قصد او د اقتل

عه یعنی په مینځ کښې ئی قضا نه کړی ۱۲ عه یعنی دا مقیس او زهیر واړه مدینې ته روان شوه هر
کله چه نږدی شوه نو شیطانی وسوسه ورته راپورته شوه او زهیر ئی بې ګناه مړ کی او مکی ته ولاړی مرتد شو

رواګنی فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ پس جزاء ده دوزخ دی خٰلِدًا فِيهَا په دی حال کښې چی همیشه
به وی دا ر واګهونکی ددی قتل په دوزخ کښې وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ او په قهر دی خدائے
پرده وَلَعَنَهٗ او لیری کړی دی خدای دی له رحمته خپله وَاَعَدَّ لَهٗ او تیار کړی ئې دی
ده لره عَذَابًا عَظِيمًا ﴿۹۳﴾ عذاب ډیر لوی اوچا ویلی دی چی مراد له خلود څخه ډیر مُدّ
دی نو بنا پر دی مراد له قاتل په عمد سره رواګهونکی نه شو بلکه معنیٰ دا سے شوه چی ډیره
موده به وی په دوزخ کښې رواګي دی چی په یوه قوم باندی چپاو ولاړی نو هغه و تښتیدل
او په دوی کښې یو سړی وو مرداس نامے چی مسلمان وو هغه پر ځای پاته شو چی د چپاو والو
تکبیرونه ئې واوریدل نو ده هم تکبیرونه وویل پرنزول او سلام ئې هم پر دوی واچوے
او کلمه ئې هم پرنزوره وویله اوځنی له راغلے او اسامه بن زید دی مرکړی او مال ئې هم
تالا شو بیا چی رسول لره راغله نو اسامه ئې ډیر وترټلی چی مسلمان دی مړکړی او
اسامه وویل چی د توری له ویری ئې کلمه ویلی ده نو رسول علیه السلام ورته وویل هَلَّا شَقَقْتَ
قلبه نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِذَا ضَرَبْتُمْ په هغه وخت کی چی تللی
اوسے فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې په جهاد پسے فَتَبَيَّنُوْا پس بنه تحقیق کوی وَلَا
تَقُوْلُوْا او مه وایاست لِمَنْ اَلْقٰٓى هغه چا ته چی واچوی دی اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ و تاسی ته سلام
لَسْتَ مُؤْمِنًا چی نه ئی ته مؤمن او دا کلمه دی له ویری ویلی ده تَبْتَغُوْنَ غواړی تاسے
عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مال ددی فانی دنیا او که واقع غنیمت غواړی فَعِنْدَ اللّٰهِ پس
دی خدای څخه مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ غنیمتونه ډیر او که مراد س له ویری څخه کلمه ویلی وے
هم تاسے ډیر بد کړی دی ځکه چی كَذٰلِكَ كُنْتُمْ هم داسے واست مِّنْ قَبْلُ پخوا له دی یعنی په
اول کښې تاسے هم له ویری ایمان راوړی وو فَمَنَّ اللّٰهُ پس احسان او مهربانی وکړه
خدای عَلَيْكُمْ پر تاسے چی استقامت ئې درکړی پر دین کښې فَتَبَيَّنُوْا پس بنه تحقیق
کوی او دغسی مال په بهانه مه تالا کوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ دی

عه یعنی همیشه والی ۱۲ عه یعنی ډیر زنګ کول په دوزخ کښې ۱۲ سه یعنی ولی دی نه څیری زړه د هغه
چی ایمان دی پکښې کتلی وای ۱۲ ئے ځکه چی واګنی دا نا روا او حلال ګڼونکی د حرام کافر وی او کافر لره همیشه والے دی په دوزخ کښې ۱۲

پر هغه کارو چې کوی ئې تاسې خَبِيرًا ﴿٩٤﴾ بنه خبردار لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُونَ نه برابریږی
د خدای په نزد هغه کوز ناست مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ له مؤمنانو څخه بیا دا حکم نازل شو نو ابن
مکتوم فریاد وکړی چې زه خو په سترګو معذوریم نوز ما به څه حال وی نو بیا پر رسول
پر کالی د وحی راغله بیا چې رابید ارشو نو کاتب ته ئې وویل چې ولیکه غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ
بی له خاوندانو د ربخه (ضرره) او د عاجزی یعنې غیر له رنځورانو او بې قوتو وَالْمُجٰهِدُوْنَ
او جهاد کونکی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ په لار د خدای کښې بِاَمْوَالِهِمْ په مالو خپلو لکه چې په اس
یا په وسله یا په توښه یا په نور څه ئې لګوی وَاَنْفُسِهِمْ ط او په نفسو خپلو فَضَّلَ اللّٰهُ ډیره
زیاته ګوره ولی ده الله تعالیٰ الْمُجٰهِدِيْنَ هغه کسانو لره چې جهاد کوی بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ
په مالو خپلو سره او په سرو خپلو سره عَلَى الْقٰعِدِيْنَ په نسبت د کور کښې ناستونکو دَرَجَةً ط
درجه یعنې الله تعالیٰ ډیره زیاته ګوره ولی ده د هغو کسانو چې جهاد کوی په مالو او سرو سره
په نسبت د هغو کسانو چې په کور وکښې ناست دی وَكُلًّا او د ټولو سره یعنې د مجاهدینو سره هم
او قاعدینو سره هم وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ط وعده کړیده الله تعالیٰ د ښه کور وَفَضَّلَ اللّٰهُ
الْمُجٰهِدِيْنَ زیات کړیدي خدای جهاد کونکی عَلَى الْقٰعِدِيْنَ پر ناستو باندې اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٩٥﴾ لا
په ثواب لوی سره دَرَجٰتٍ پاسې دی دهر چا بیلې بیلې په آخرت کښې مِّنْهُ له جانبه د خدای
او په جنت کښې او یا پاسې دی چې د هرې پاسې ترمنځ پوری او یا کاله لار ده د ډیر تیز اس ١٣
وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ط او بخښنه او مهربانی ده وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾ ع ٥ ١٠
بخښونکی د ګناهو مهربانه پر بندګانو روایت دی چې بعض مسلمانانو هجرت نه وو کړی له
مکی سره له قدره ته لکه قیس بن فاکه او قیس بن ولید او دا سې نور شوه بیا چې جنګ د بدر
وشو نو دوی هم له مشرکانو سره بدر ته راغلی وه او هلته د مسلمانانو لاسه مړه شوه
نو نازل شو اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ چې ارواح د دوی قبضوله ملائ
ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په دی حال کښې چې ظالمان وو دوی پر ځانو خپلو په ترک د فرض سره چې هجرت
دی حکه چې په هغه وخت کښې هجرت فرض وو یعنې په ابتداء د اسلام کښې د یاره د معاونت

ع یعنې ځایونه د عزت او د کرامت دی چې بعض له بعضو څخه اوچت دی ١٢ جلالین

د مسلمانانو او شك نشته په نسخ ددې کښې او په دې زمانه کښې که نه قادر کیدی په اقامت د دین خپل په سبب د ظالمانو او د کافرانو هم پر فرض دی او که قادر کیدی نو فرض نه دی کذا فی التفسیر الاحمدی قَالُوْا فِیْمَ كُنْتُمْ ؕ دوی ویل ملائکو دوی ته چې په کوم کار کښې واست تاسې له دینه ځنه او په کومه طائفه کښې واست په موحدانو کښې او که په مشرکانو کښې قَالُوْا كُنَّا وویل دوی چې وو موږ مُسْتَضْعَفِیْنَ فِی الْاَرْضِ ؕ ضعیفان په ځمکه د مکې کښې او عاجزان له هرڅه قَالُوْا اَلَمْ تَكُنْ بیا وویل ملائکو چې آیا نه وه اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً ځمکه د خدای ارته فَتُهَاجِرُوْا فِیْهَا پس چې هجرت کړی وای تاسې په دې ځمکه کښې فَاُولٰٓئِكَ پس دا تارکان د هجرت چې دي مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ د ځای ددوی دوزخ دی وَسَآءَتْ مَصِیْرًا ﴿۹۷﴾ او بد دی دا دوزخ ځای د رجوع او د دا تارکان به تل په دوزخ کښې وي اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِیْنَ مگر هغه واقعي ضعیفان عاجزان مِنَ الرِّجَالِ له سړیو وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ او له ښځو او له هلکانو لَا یَسْتَطِیْعُوْنَ چې نه توانیږي او نه لري دوی حِیْلَةً هیڅ قدر حیله واسطه د وتلو له مکې ځنه په سبب د فقر او عاجزۍ وَّلَا یَهْتَدُوْنَ او نه پیژنې دوی سَبِیْلًا ﴿۹۸﴾ لار د مدینې یا د بیرون وتلو له مکې فَاُولٰٓئِكَ پس دا عاجزان چې دي عَسَى اللّٰهُ بنائي خدای اَنْ یَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ د چې عفوه وکړي دوی ته وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای عَفُوًّا عفوه کونکی له معذورانو غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾ بخښونکی د گناهو د دوی وَمَنْ یُّهَاجِرْ او هرڅوك چې هجرت وکړي فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لار د خدای کښې یَجِدْ فِی الْاَرْضِ نو پیدا به کړي دوی په ځمکه کښې مُرٰغَمًا كَثِیْرًا ځایونه د ارام ډیر وَّسَعَةً ؕ او فراخي د رزق یا د اظهار د دین روایت دی چې هر کله آیتونه د تهدید را غله پر ترك د هجرت او ضعیفان د مکې چې په خبر شو نو جندب بن ضمره خپلو زامنو ته وویل چې مبادا په تارکانو د هجرت کښې حساب نشم نو تاسې می په کټ کښې واخلئ او زه به لار د رته بنسیم نو زامنو په کټ کښې مدینې ته روان کړي او په لار کښې ډیر سخت په عذاب شو نو ښې لاس خپل ئې پر چپ لاس کښیښوده او وی ویل چې اے خدایه دا یو لاس

عه خلاصه معنا د آیت داده چې څوك مرشته او هجرت ئې نه وو کړی سره له دې چې قادر وو پر هجرت او منگولې ئې لگولې وې په شریعت نو دا سړی به په جهنم کښې وي ۲ عه اسباب د سفر له قوته او له ماله ځنه ۱۲

ستا پر نامه او دا بل د رسول پر نامه او هغه بیعت می د ربره وکړی چه رسول د هجره کړی
دی او وفات شو نو بعضے اصحابو وویل چه که مدینی ته رسیدلی وای نو ایمان به ئی کامل
شوی وو نو نازل شو وَمَنْ يَّخْرُجْ او هر څوك چه ووځی مِنْۢ بَيْتِهٖ له کوره خپله مُهَاجِرًا
اِلَى اللّٰهِ په دی حال کښی چه هجرت کونکی وی وخدای ته وَرَسُوْلِهٖ او ورسول د ده ته چه په
علم یا په جهاد یا په حج یا په طاعت یا په قناعت یا په زهد یا په رزق حلال طیب پسی
وتلی وی ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ پس له هغه لاندی کړی دی مرګ په مینځ د لاری کښی
مخکی تر رسید وو مطلب ته فَقَدْ وَقَعَ پس په تحقیق سره واقع یعنی لازم شو په مقرر ولو
دده سره اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ط اجر دده پر خدای په دی قول لوځاولو کښی (کذا فی المدارک) وَكَانَ اللّٰهُ ۱۴
او دی خدای غَفُوْرًا بخښونکی د ګناهو د تا خیر کونکو په هجرت کښی رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾ مهربان په ع ۱۱
سبب د ښه نیت د دوی وَاِذَا ضَرَبْتُمْ او په هغه وخت کی چه اراده وکړی تاسی د سفر
فِى الْاَرْضِ په مځکه کښی فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ پس نشته پر تاسی جُنَاحٌ هیڅ وبال اَنْ تَقْصُرُوْا په
دی کښی چه کم کړی تاسی رکعاتو نه مِنَ الصَّلٰوةِ ق له لمانځه څخه اما له رباعی نه له ثلاثی
او له ثنائی او دا په اجماع ثابت دی فائده او دا نی سفر په نزد د امام اعظم د دری ورځو
منزل دی په ډیرو لنډو ورځو کال کښی تر وخته د زوال سره له ډمو په میانه تلك
سره او تیز او کرار تلك ته هیڅ اعتبار نشته یعنی که د امسافت په یوه ورځ کښی قطع کړی
هم به لمونځ سفرانه کوی او که نیم د دی مسافت په شلو ورځو کښی قطع کړی هم به لمونځ پوره
کوی کذا فی التفسیر الاحمدی والدر المختار اِنْ خِفْتُمْ که بیرید لاست تاسی او دا قید اتفاقی
او عادی دی نه احترازی او دا قسم قید په قران کښی دی لکه وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ
اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ له دی چه قصد د قتل یا د جرح یا د اخذ ستاسی

عه لکه ما پښین او د مازیګر او د ما سخفتن ۱۲ عه لکه لمونځ د ما ښام شو ۱۲ عه لکه لمونځ د سحر ۱۲ له یعنی دا چه الله تعالیٰ فرمایلی دی چه کوتاه والی په لمانځه کښی کوی که چیری ویریږی له فتنی د کفارو پس دا قید د ویری چه دی هسی اتفاقی دی که چیری ویره وی هم تاسی قصر کوی او که ویره نه وی هم تاسی قصر کوی او دا مطلب ئی نه دی که چیری ویره وی تاسی قصر کوی او که ویره نه وی قصر مه کوی ۱۲ له الله پاك په سورة نور کښی فرمایلی دی چه نه د مه کوی تاسی ای باداران پر وینځو خپلو باندی په زنا کولو سره که چیری اراده لری دا مینځی د ګمان ساتلو له زنا څخه حاصل دا چه خپلی مینځی بالکل زنا ته مه پریږدی که د دوی رضا وی او که نه وی فافهم ۱۲ منه فکر مناسب دی په کجای کښی

به وکړي هغه کسان كَفَرُوا چې کافران دي اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ بیشکه کافران چې دي كَانُوْا لَكُمْ دې
دوی تاسې لره عَدُوًّا مُّبِيْنًا ⑩ دښمن ښکاره روایت دی چې په غزا د غطفان کښې چې
صفونه له دواړو طرفوا راسته شوه ناګاه لمونځ د ماپښین راغلې چې دوی پرلمانځه ودریدل
او کفار روڼے تماشه کوله بیا پس له سلامه کفارو ډیر ارمان وکړو چې موږ په وخت د سجدے
کښې حمله ولې نه پرو کړه لوچا په دوی کښې وویل چې یو ساعت پس به دوی بیا هم داسې کوی
خو تاسې خپل ځان ورته تیار کړي بیا ما زیګر لا نه وو راغلې چې صلوٰة خوف راغلې او نازل شو
وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ او په هغه وخت کښې چې اوسې ته په دوی کښې ای رسوله په وخت د خوف
کښې فَاَقَمْتَ پس اراده دې کړي وه د ورکولو لَهُمُ الصَّلٰوةَ دوی لره د لمانځه نو لښکر دوے
طائفې کړه فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ پس ودې دریږی یوه طائفه مِّنْهُمْ مَّعَكَ له دوی ځنې له
تا سره پر لمانځه او بله طائفه دې ستاشا ته ودریږی مخ پر دښمن وَلْيَاْخُذُوْٓا او میباید
چې دې واخلې دا طائفه چې مخ پر دښمن ولاړه ده اَسْلِحَتَهُمْ وقف وسلے خپلی تورلے یا دا
مصلیان دې واخلې هغه قدر وسلې چې لمانځه ته ئې خلل نه رسوی لکه توره یا خنجر یا
مثل د دوی فَاِذَا سَجَدُوْا پس په هغه وخت کښے چې سجده وکړه دوی یعنی یو رکعت پوره
وکړي فَلْيَكُوْنُوْا پس ولاړه دې شی دغه طائفه چې یو رکعت ئې وګذاره مِنْ وَّرَآئِكُمْ
طرف د شا ستاسې ته مخ پر دښمن د پاره د چوکیداری وَلْتَاْتِ او میباید چې دې راشی
طَآئِفَةٌ اُخْرٰى هغه بله طائفه لَمْ يُصَلُّوْا چې لمونځ ئې نه دې کړي بلکه نیت ئې لا هم
نه دی کړی فَلْيُصَلُّوْا پس میبایدچې ودې ګذاری دوی دا باقی پاته یو رکعت مَعَكَ
له تا سره وَلْيَاْخُذُوْا او میباید چې دې واخلې دا مخ پر دښمن د له حِذْرَهُمْ قول اسباب
د ساتنې د ځان خپل له دښمن لکه سپر یا زغره یا خول وَاَسْلِحَتَهُمْ ج او وسلے خپلی تولی
لکه توره او نیزه او غشے او لینده یا دا مصلیان دې واخلې هغه قدر وسلې چې لمانځه ته ئې
خلل نه رسوی او طریقه د اداء کولو د هغه یو یو رکعت چې له دواړو طائفو پاته دی په نزد د
امام اعظم رح دا سې ده چې امام به سلام وګرزوی او هغه اوله طائفه به راشی او دویم رکعت

به وکړی ځان ته بې قرائته ځکه چې دوی لاحق دی او د احکم د لاحق ترک د قرائت دی او سلام به وګرځوی او دوی به بیا ځي پردښمن ودریږی او دوهم وستی طائفه به راشي او دوهم رکعت به وکړی ځان ته اما سره له قرائته ځکه چې دوی مسبوق دی او حکم د مسبوق لوستل د قرائت دی کذا فی التفسیر الاحمدی روایت دی چې رسول علیه السلام په یوه غزا کښې کفار و وهل او بندیان ئې کړه او مالونه ئې ترې راوستل بیا یوه ورځ دی حاجت ته ولاړی نو یو کافر چې پهلوان وو او حویرث ئې نوم وو چې هغه پټ وریسې راغی او پرسر ئې ودریدې او ورته ئې وویل چې اوس به دې څوک راځنه خلاص کړی نو رسول علیه السلام وویل چې خدای او سوال ئې وکړی اللّٰهُمَّ اکفنی حویرثا بما شئت چې حویرث توره پرپورته کړه نو پرمخې راولویدې او توره ځنې پریوته (ایله سوه) او رسول علیه السلام را واخسته او حویرث ته ئې وویل چې اوس به دې څوک راځنه خلاص کړی هغه وویل چې هیڅوک نسته بیا پس له هغه امروشو په ګرزولو د وسلې سره او نازل شو وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دوست ګڼی هغه کسان چې کافران دی لَوْ تَغْفُلُوْنَ چې کاشکې که غافلان شئ تاسې عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ له وسلو خپلو وَاَمْتِعَتِكُمْ اوله رختواوله نوروا سبابو خپلو ځنه فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ پس نو حمله به وکړی دوی پر تاسې مَيْلَةً وَّاحِدَةً یو حمله وَلَا جُنَاحَ او نشته هیڅ ګناه (وبال) عَلَيْكُمْ پر تاسې اِنْ كَانَ بِكُمْ که وو په تاسې پورې اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ سختی له جهته د باران چې وسلې در نی کړی وی اَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى یا یاست تاسې رنځوران نو وبال نشته اَنْ تَضَعُوْٓا اَسْلِحَتَكُمْ چې ددی کار چې کیږدی تاسې وسلې خپلې وَخُذُوْا حِذْرَكُمْ او واخلئ په هر حال کښې اسباب د خپل ځان د ساتلو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ تیار کړیدی کافرانو لره عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۰۲﴾ عذاب سپکونکی په دې ځکښې ایت کښې تفاسیر و څلور قسمه معنې اکړیده اماد لته بالذات مقصود د اده چې وَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ

عه لاحق وو دی ته وائي چې اول رکعتونه د امام سره وګذاری او وروستي رکعتونه په څه عذر ورځنې پاتې شي نو دا پاتې رکعتونه به بې لوستلو د قرائته ګذاری او مسبوق دی ته وائي چې په وروستي رکعت کښې امام پسې راورسیږي او څه لومړئ ځندی ولاړ شي نو هغه تیر شوی لومړئ به ګذاری سره له قرائته ۱۲ عه یعنی اے خدایه وساته ما له حویرث کا فرځنه په هر شان چې ستا رضا وی ۱۲

پس په هغه وخت کې چې اراده وکړې تاسې دادا کولو د لمانځه فَاذْكُرُوا اللّٰهَ پس یادوی
خدای یعنې ګذاری د المونځ قِيٰمًا په ولاړی کړه وغ واست وَّقُعُوْدًا او په ناسته که دولاړ عه
نه واست وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ او په اړخونو خپلو که د ناستې هم نه واست فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ پس په
هغه وخت کې چې پرارام شې په سبب د ورلغوالے سره فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ پس ودروی
لمونځ یعنې پوره ئې کړی په قیامه په قعوده په رکوع په سجده سره اِنَّ الصَّلٰوةَ بیشکه لمونځ
چې دی كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ دی پر مؤمنانو كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ فرض کړه شوی مؤقت په عه
اوقاتو معلومو کښے روایت دی چې هر کله پس له جنګه د احد رسول ﷺ په ابوسفیان پسے
بیا روان شو او اصحاب رضی په سبب د ډیرو پرهرونو د نګیره وو او د زړه رغبت ئې ارام ته وو
نو نازل شو وَلَا تَهِنُوْا او سستی مه کوی اے مؤمنانو فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ط په طلب د
کفارو او په جنګ د دوی کښے اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ که یاست تاسو چې خوږیږی په پرهر
فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ پس بیشکه دوی هم خوږیږی كَمَا تَاْلَمُوْنَ ج لکه تاسې چې خوږیږئ
وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ او علاوه لا دا چې تاسې امید لری د خدای نه مَا لَا يَرْجُوْنَ ط د هغه
نصرت او ثواب چې دوی ئې امید نه لری وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای عَلِيْمًا بنه دانا په
نیتو ستاسې حَكِيْمًا ﴿۱۰۴﴾ ع حکم کونکی په اوامرو او نواهیو روایت دی چې یو سړی وو له قومه ع ۵ ۱۴ ۱۲
د بنی ظفر طعمه نومیدی د شپې له خپل ګاونډی د کوره یوه زغره چې داوړه په کوډه کې
کښے پرته وه هغه ئې له کوډی سره پټه کړه او زید بن سمین یهودی کره ئې پټه کښیښوده
او کوډی سوری وو پر دروسته لاړ او وړه خندی تری شوی وه او صبا چې زغره له طعمه
طلب شوه هغه قسم وکړی چې نه می اخستی ده او نه په خبر یم بیا د واره په کرښه پسی د زید
کره ولاړه نو هغه وویل چې بیګاه طعمه یوه زغره د اوړو په کوډی کښے رامی کړه امانت
ایښی ده او نورو یهودیانو شاهدی پرادا کړه بیا چې رسول ﷺ له راغله نو بنی ظفر وورته
وویل چې که طعمه پرشو نو مسلمانان به ډیر خجل شې او رسول ﷺ اراده وکړه د نرجر یا د قطع
د لاس د یهودی نو نازل شو اِنَّآ اَنْزَلْنَآ بیشکه موږ چې یو رالیږلے دی موږ اِلَيْكَ

عه یعنې ناجوړه وی او د ولاړی طاقت نه لری ۱۲ عه یعنې تعین کړی شوی دی په وخت پورے ۱۲

اُلْکِتٰبَ بِالْحَقِّ تا ته قرآن په حق لِتَحْکُمَ بَیْنَ النَّاسِ د پاره ددی چې حکم کوی ته په مابین
د خلکو کښې بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ په هغه طریقه سره چې ښودلی ده تا ته خدای وَلَا تَکُنْ
او مه کیږه ته لِّلْخَآئِنِیْنَ خَصِیْمًا ﴿۱۰۵﴾ د پاره د خیانتګرو جګړه کونکی له بې ګناهانو سره
وَّ اسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ او بخښنه وغواړه له خدایه له هغه ارادی چې دې کړی وه یهودی ته
اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای کَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ﴿۱۰۶﴾ دی بخښونکی د بخښنه غوښتونکو ډیر مهربانه
پر دوی وَلَا تُجَادِلْ او جګړه مه کوی له بې ګناهو سره عَنِ الَّذِیْنَ له طرفه د هغو کسانو
یَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ چې خیانت کوی دوی د ځانو خپلو سره یعنی بې ځایه طرفې بې ګناه ـ
ګنهګاروی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا یُحِبُّ مَنْ نه خوښوی هغه څوک کَانَ خَوَّانًا اَثِیْمًا ﴿۱۰۷﴾
چې وی خیانتګر ګنهګار چې مُصِروی په خیانت کښې او ډوب وی په ګناه کښې یعنی طعمه لکه
چې ویلی شوی دی دده په حق کښې چې مرتد شو په آخر کښې او بیا ولاړی مکې له او هلته
د شپې د چاکنډر نی واهه چې دیوال پرې را ولویدی او مړ شو یَسْتَخْفُوْنَ چې شرمیږی
دوی او پټوی دا خیانت مِنَ النَّاسِ له خلکو وَلَا یَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ او نه شرمیږی د خدایه
وَهُوَ مَعَهُمْ او حال دا چې دی له دوی سره دی یعنی خبر دی په قولو اقوالو افعالو احوالو
د دوی او یوه ذره هم نه ده خندی پټه اِذْ یُبَیِّتُوْنَ په هغه وخت کی چې د شپې تدبیرونه
تړی او وائی دوی مَا لَا یَرْضٰی هغه چې نه خوښوی خدای مِنَ الْقَوْلِ ؕ له خبری چې
هغه خبره دا وه چې طعمه دی زغره د شپې د زید کره وغورځوی او بیا دی قسم وکړی چې
ما نه ده پټه کړی وَکَانَ اللّٰهُ او دی خدای بِمَا یَعْمَلُوْنَ په هغه کار و چې کوی ئې دوی
مُحِیْطًا ﴿۱۰۸﴾ احاطه کونکی په علم قدیم خپل سره هٰٓاَنْتُمْ واورئ تاسې چې یاست ای بنی
ظفرو هٰٓؤُلَآءِ بیا واورئ چې هغه څوک یاست چې له ډیره جهله جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ جګړه
کوی له طرفه ددی خیانتګرو له بې ګناه سره فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا فَ په دی ژوندګی فانی
کښې فَمَنْ یُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ پس څوک دی چې جګړه به وکړی له خدای سره ددی

ع‍ه ددی آیت څخه دا معلومه شوه چې جګړه کول د طرفه د هغه چا څخه چې حقدار ی د هغه
معلومه نه وی له یو بې ګناه سره ناروا ده ۱۲

خیانتگرو له طرفه یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ په ورځ د قیامت اَمۡ مَّنۡ یَّکُوۡنُ یا څوك دی چې وی به په
ورځ د قیامت عَلَیۡهِمۡ وَکِیۡلًا ﴿۱۰۹﴾ پر دوی نگهبان یا حمایتگر د عذابه وَمَنۡ یَّعۡمَلۡ سُوۡٓءً او هر
څوك چې وکړی بدی چې ضرر ئې وبل چا ته راجع وی اَوۡ یَظۡلِمۡ نَفۡسَهٗ او یا ظلم وکړی
پر ځان خپل ثُمَّ یَسۡتَغۡفِرِ اللّٰهَ بیا پس له هغه بخښنه وغواړی له خدایه یَجِدِ اللّٰهَ نو بیا
به مومی دی خدای غَفُوۡرًا رَّحِیۡمًا ﴿۱۱۰﴾ بخښونکی مهربانه وَمَنۡ یَّکۡسِبۡ اِثۡمًا او هر څوك چې
کوی کومه گناه فَاِنَّمَا پس بیشکه هم دا خبره ده یَکۡسِبُهٗ عَلٰی نَفۡسِهٖ ط چې کوی دی دا گناه
او بار وی ئې پر ځان خپل وَکَانَ اللّٰهُ او دی خدای عَلِیۡمًا ښه دانا په حال د غله دروغ
گوی حَکِیۡمًا ﴿۱۱۱﴾ حکم کونکی په جزا او په قطع د ید سره وَمَنۡ یَّکۡسِبۡ او هر څوك چې کوی
خَطِیۡٓـَٔةً اَوۡ اِثۡمًا صغیره گناه یا کبیره ثُمَّ یَرۡمِ بیا پس له هغه وولی یعنی متهم کی دی
بِهٖ بَرِیۡٓــًٔا په دی گناه سره کوم بی گناه لکه طعمه چې خپله گناه ئې پر زید وتپله فَقَدِ
۱۶ ع ۸ ۱۳ احۡتَمَلَ پس په تحقیق سره بار ئې کړی پر ځان خپل بُهۡتَانًا د پړغتې دروغ وَّاِثۡمًا مُّبِیۡنًا ﴿۱۱۲﴾
او گناه ښکاره غتهٔ وَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ او که نه وای فضل د خدای عَلَیۡكَ پر تا چې په وحی سره
ئې له خیانته د طعمه ته خبر کړی وَرَحۡمَتُهٗ او رحمت د ده چې ستا غ ئې د دړ یده چپ کړی
لَهَمَّتۡ طَّآئِفَةٌ[1] نو هرآئینه قصد کړی وو یوی طائفې مِّنۡهُمۡ له دی بنی ظفر و اَنۡ
یُّضِلُّوۡكَ د دی چې چپ کړی تا له رښتینی حکمه څخه وَمَا یُضِلُّوۡنَ او نه چپوی دوی له
حقه په واقعه کښې اِلَّآ اَنۡفُسَهُمۡ مگر ځانونه خپل چې په بد نیت سره دا وبال تول ځان
ته راوړی وَمَا یَضُرُّوۡنَكَ او ضرر نشی رسولای دوی وتا ته مِنۡ شَیۡءٍ ط د هیڅ شی څکه
چې عصمت د خدای ستا نگهبان دی وَاَنۡزَلَ اللّٰهُ او رالیږلی دی خدای عَلَیۡكَ الۡکِتٰبَ پر
تا قرآن وَالۡحِکۡمَةَ او سنت وَعَلَّمَكَ او ښوولی ئې دی وتا ته مَا لَمۡ تَکُنۡ تَعۡلَمُ ط هغه
شیان چې نه وی ته چې په پوه شوی وای له خپله فکره وَکَانَ فَضۡلُ اللّٰهِ او دی فضل د
خدای عَلَیۡكَ عَظِیۡمًا ﴿۱۱۳﴾ پر تا باندی ډیر لوی لَا خَیۡرَ نشته هیڅ خیر فِیۡ کَثِیۡرٍ په ډیرو کښې
مِّنۡ نَّجۡوٰىهُمۡ له پټو رازو او تدبیرو د قوم د طعمه اِلَّا مَنۡ اَمَرَ مگر خیر شته په راز د هغه

[1] یعنی په پړیکولو د لاس د غله ۱۲ [2] یعنی وگرزاوی ۱۲ [3] یعنی لاره او طریقه د ابراهیم علیه السلام ۱۲

چاکښې چې امرکوي بِصَدَقَةٍ اَوْمَعْرُوْفٍ په خیرات ورکولو یا په قرض ورکولو یا په اعانت
د مظلوم یا په هر نیك کار یا مراد له صدقې زکوٰة او له معروف هسې خیرات دی او
اِصْلَاحٍ یا امرکوي په صلح کولو بَيْنَ النَّاسِ ط په ما بین د خلکو کښې وَمَنْ يَّفْعَلْ او هر
چاچې وکړي ذٰلِكَ ابْتِغَاۤءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ کوم یو له دی دریو کاروچې ذکرشود پاره
د طلب د رضا د خدای فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ پس ژر دی چې وربه کړو موږ ده لره اَجْرًا
عَظِيْمًا ﴿۱۱۴﴾ ثواب ډیرلوی وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ او هرڅوك چې مخالفت کوي له امر
د رسول مِنْۢ بَعْدِ مَا پس له هغه تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى چې ښکاره شوه ده ته سمه لاره وَيَتَّبِعْ
او پیروي وکړي د هغه لاری غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ چې غیروي د لاری د مؤمنانو چې دین
د اسلام دی نُوَلِّهٖ نوپری به بږدو موږ دی په دنیا کښې او وه به ئې سپاره وَمَا تَوَلّٰى پر هغه شي
چې ده غوره کړی دی چې کفر دی او ارتداد دی وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ط او داخل به کړو دی به
قیامت کښې په دوزخ کښې وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾ او بد دی دا دوزخ له جهته د رجوع ع ۱۷ ۱۴
روایت دی ــ چې یو زوړ سړی رسول علیه السلام لره راغلی او ورته ئې وویل چې تمام عمري
په ګناهو کښې تیرشوی دی اما له شرکه مې ځان ساتلی دی او اوس پر هغه ګناهو خپلو
پښیمان یم نو زما به څه حال وي نو نازل شو اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ بیشکه خدای نه بخښي هیڅ اته
اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ دا کار چې شریك ونیول شي له ده سره څوك وَيَغْفِرُ مَا او بخښي هغه
ګناه دُوْنَ ذٰلِكَ چې کښته وي له دی شرکه که کبیره وي که صغیره لِمَنْ يَّشَاۤءُ ط هرچا ته چې
اراده ئې وشي وَمَنْ يُّشْرِكْ او هر څوك چې شریك ونیسي کوم څیز (شی) بِاللّٰهِ له خدای
سره فَقَدْ ضَلَّ پس په تحقیق ګمراه شوی دی ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾ په هغه ګمراهۍ چې ډیره
لیری ده د لاری حقه روایت دی چې د هری قبیلې له قبائلو د عربو به یوبت وو چې هغه
به ئې په انثی د بنی فلانو بالي لکه لات او منات او عزیٰ او دا سې نور ډیر شول او دا قول
به ئې په شکل د ښځو جوړول او ویل به ئې چې دا لوڼې د خدای دی او دا به د خدای ته نزد

عه یعنی مدد کول له مظلوم سره ۱۲ عه او هرچې پردی حقونه دی ددی هم که اراده وکړه خدای
د بخښنې ئې نو د حقدار په زړه کښې به واچوی چې دا سړی وبخښه ۱۲

نه هورې شفاعت کوی او سجدی به ئې ورته کولی نوناز ل شو اِنْ يَّدْعُوْنَ نه بولی دا
مشرکان يعنی عبادت نه کوی مِنْ دُوْنِهٖٓ بيله خدايه اِلَّآ اِنٰثًا ج مگر د ښځو وَاِنْ يَّدْعُوْنَ
او نه بولے يعنی عبادت نه کوی دوی په واقعه کښے اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ مگر د هغه شيطان
چه وتلے دی له فرمانه د خدای لَّعَنَهُ اللّٰهُ م چه دی ليری کړی دی خدای له رحمته
خپله او هر کله چه دوی د اعبادت په امر دده کوی نو ځکه عبادت د بتانو عبادت د شيطان
شو وَقَالَ او وويل شيطان په وخت د ملعون کيدو کښے چه لَاَتَّخِذَنَّ هرا ئينه وابه خلم
نه خامخا مِنْ عِبَادِكَ له بندګانو ستا نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾ برخه مقرره کړه شوی مالره
چه هغه په نهه ويشتو ادمو کښے نهه سوه او نهه نوی دی او يو يکښے خدای لره دی چه حديث
کښے راغلے دی وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ او هرا ئينه گمراهان به ئې کړم خامخا وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ او هرا ئينه
په اړ دو باطلو ارزگانو کښے به ئې واچوم خامخا لکه طول د حيوٰة او تاخير د توبی او شك
په بعث په حساب په ثواب په عقاب کښی وَلَاٰمُرَنَّهُمْ او هرا ئينه امر به وکړم پر دوی خامخا
فَلَيُبَتِّكُنَّ پس هرا ئينه څيری به دوی خامخا اٰذَانَ الْاَنْعَامِ غوږونه د چارپايانو لکه چی
دوی به د هغوا وښـو چه پنځه واره به لنگی شوی او پنځم به ئې نرا وري نو د هغو غوږونه
به ئې څيری کړه او خُندی نفعه اخستل به ئې بر ځان حرام کړه وَلَاٰمُرَنَّهُمْ او هرا ئينه
امر به وکړم پر دوی خامخا فَلَيُغَيِّرُنَّ پس تغير به ور کوی دوی خامخا خَلْقَ اللّٰهِ ط
خلق د خدای لره لکه خصی کول د مريانو او شنه خالونه اينبوول پر مخ پرشونډو پر لاسو
پر پښو يا خوږ ول (استعمال) د اندامو خپلو په منهيا تو کښے او تحريم د حلالو او تحليل د حرامو
او داسے نور دی پر شوه وَمَنْ او هر څوك يَتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا چه ونيسی شيطان دوست
مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ بيله خدايه يعنی امر دده غوره کړی پر امر د خدای فَقَدْ خَسِرَ پس په تحقيق
زيان ئې وکړی خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۹﴾ په زيان ښکاره په دوارو جهانو کښے يَعِدُهُمْ وعده
کوی شيطان له دوی سره يعنی وسوسے اچوی دوی ته مخالفی له شرعے څخه چی نه جنت

عه يعنی داونه دوالے د ژوند ۱۲ عه يعنی په هغه شيانو کښی چه الله منعه ځندی کړيدی ۱۲ عه
سه حرامول د حلالو او حلالول د حرامو ۱۲

شته او نه دوزخ او نه بعث او نه حساب وَيُمَنِّيهِمْ ط او امید ورکوي دوی ته (دپیداکړی) دهغه کار چې ددوی هیڅ لاس نه پرې رسیږي وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ او وعده نه کوي له دوی سره شیطان إِلَّا غُرُورًا ﴿۱۲۰﴾ مګر په فریب یعني په هرهغه کار چې ظاهر نفع او په باطن کښې ئې ضرروي أُولٰٓئِكَ دا بت پرستان او تابعان د شیطان چې دي مَأْوٰهُمْ جَهَنَّمُ ز ځای ددوی دوزخ دی وَلَا يَجِدُونَ او نه به مومي (پیدا کړي) دوی عَنْهَا مَحِيصًا ﴿۱۲۱﴾ له دې دوزخه ځنې هیڅ ځای دخلاصې وَالَّذِينَ اٰمَنُوا او هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکوي نیك کارونه دوی سَنُدْخِلُهُمْ ژر دی چې داخل به کړو دوی جَنّٰتٍ تَجْرِي په هغه باغونو کښې چې بهیږي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندې د ماڼیو یا د ونو ددوی څلور قسمه ولې خٰلِدِينَ فِيهَا همیشه به وي دوی په دې باغونو کښې أَبَدًا دائمي بې انقطاع وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا دا وعده ده د خدای په حق سره چې هیڅ شك او شبه پکښې نشته وَمَنْ أَصْدَقُ او څوك دی زیات رشتینی مِنَ اللّٰهِ قِيلًا ﴿۱۲۲﴾ تر خدای په خبره او په وعده کښې روایت دی چې مسلمانان او یهود او نصارٰی سره جمع شوي وو یو ځای او یو پر بل ئې فخر سره کاوی نو یهود او نصارٰی وو به ویل چې پیغمبران او کتابونه زموږ مقدم دي پر پیغمبر او کتاب ستاسې او جنت له هم به بیله یهودو او نصارٰی وو بل هیڅوك نه ځي او مسلمانانو ویل چې زموږ پیغمبر خاتم الانبیآء دی او کتاب زموږ ناسخ دی دکتابو ستاسې نو جنت هم موږ لره بنائي نو نازل شو

لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ نه تر سره کیږي دا کار په ارزو ګانو ستاسې ای مؤمنانو وَلَآ أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتٰبِ ط او نه په ارزوګانو د اهل کتابو (یعنې یهودو او نصارٰی وو) چې وائي دوی نَحْنُ أَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ واحبآؤه او وائي لن تمسنا النار الا ایاما معدودة او وائي لن یدخل الجنة الامن کان هودا او نصارٰی یعنې رضا دخدای او ثواب او جنت په ارزوګانو نه حاصلیږي بلکه په محنت او په مشقت دعمل دواړه پوره کیږي لکه چې وائي مَنْ يَعْمَلْ سُوٓءًا او هر څوك چې وکړي بد

عه موږ زامن دخدای او دوستان ده یو ۱۲ عه حسبه به نه کړي او وبه نه رسیږي ومونږ ته اور ددوزخ مګر یو څو ورځې شمیرل شوي ۱۲ عه هرګز به داخل نه شي جنت ته مګر هغه څوك چې یهودي یا نصراني وي ۱۲

يُجْزَ بِهٖ لا ئو جزا به ورکړه شي ده لره په دې عمل سره په دنيا او په آخرت کښې او دا هلته
که دا حکم عام وي او حسن بصريؒ وئيلي دي چې مراد له عمل سوء څخه شرك دى څکه
ورپسي وائي وَلَا يَجِدْ لَهٗ او نه به مومي دې خپل ځان لره مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بيله خدايه
وَلِيًّا وَّ لَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ کوم دوست او نه مددګار چې دى له عذابه خلاص کړي وَمَنْ
يَّعْمَلْ او هرڅوك چې وكړي مِنَ الصّٰلِحٰتِ بعض له نيكو عملو او دا څکه چې اتيان په
تولو ماموراتو هيڅوك نشي كولاى په دليل د دې آيت كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى
له نارينه يا له ښځې وَهُوَ مُؤْمِنٌ او حال دا چې دى مؤمن وي فَاُولٰٓئِكَ پس دا نيكو
كاران چې دي يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ داخل به شي په جنت كښې وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾ او
ظلم به ونه كړى شي پسر دوى په قدر د تكي پر نړى د خرما وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا او څوك
دى ډير غوره له جهته د دينه مِّمَّنْ اَسْلَمَ له هغه چا چه سالم او خاص كړي وَجْهَهٗ
ځان خپل يا وَسولَوي وچولى (تندى) خپل په ډيرو سجدو سره لِلّٰهِ خداى لره وَهُوَ
مُحْسِنٌ او حال دا چې دى نيكو كار وي وَّاتَّبَعَ او پيروي كوي دا محسن مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ
د دين د ابراهيم عليه السلام حَنِيْفًا ط په حال د كيدو د ده كښې يا د دى محسن كښې مائل
له نورو و تولو اديانو دين د اسلام ته وَاتَّخَذَ اللّٰهُ او نيولے دى خداى اِبْرٰهِيْمَ
خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾ ابراهيمؑ خاص يار لكه په تفسير كښې ذكردي چې په زمانه د ده كښې قحط عظيم
راغلى ئوده به وړى مړول تر هغه چې غله ئې توله تمامه شوه ئو په مصر كښې د ده لو
يار وو هغه لره ئې ډيرا وښان وليږل چې غله راوليږى او د هغه د لاسه هم غله
پيدا نه شوه او او ښان ئې تش بيرته را غله بيا چې سار وان بنار ته را نژدى شو ئوده
في الحال د تسلى د مساكينو د پاره غنډى له شګو ډك كړي كورته ئې را نه ايستل او دا قصه
ئې تو له ابراهيمؑ ته وكړه ئو دى له ډيره خفګانه مسجد ته ولاړى او بي بي ساره بيدا وه ناګاه چې
ويښه شوه كاله كښې غوندى ډك پراته وو بيا چې يوئے ترے بر سيره كړه سپين پاك اوړه وو

عه يعني پوره كول د تولو امرو د خداى پاك ۱۲ عه معنى دا چې حقه ده دا خبره چې پوره او
ادا نكړل دے انسان هغه كارونه چې امر ورته كړى وو خداى پاك ۱۲

نو ده وو دی لئ خندے پخی کړی بیا چه دی راغلی نو وی ویل چه دا څیز وه بی بی وویل چی دا
او سړے دی ستا دمصر یار راللیږلے دی اوده وویل چه زما الله یار رالیږلی دی نو ځکه خلیل الله
شو وَلِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ او خاص خدای لره دی هر هغه چه په اسمانو کښے دی وَمَا فِی
الْاَرْضِ ط او هر هغه چه په ځمکه کښی دی وَكَانَ اللّٰهُ او دی خدای بِكُلِّ شَیْءٍ پر هر شے
مُّحِیْطًا (۱۲۶) احاطه کونکی په علم او په قدرت سره روایت دی چه عیینه بن حصین ع ۱۸ ۱۱ ۱۵
رسول علیه السلام لره راغلے چی هوږ او رو وچه ته لوطو او خویندو لره هم په میراث کښے حصه
ورکوی او موږ خو به یے له جنګیا لیو بل چا ته نه ورکوله نو او سرځنګه راته وائی نو نازل
شو وَیَسْتَفْتُوْنَكَ او طلب د فتویٰ کوی دوی له تا فِی النِّسَآءِ په باب د میراث ښځو
کښی قُلِ اللّٰهُ ورته ووایه چه خدای یُفْتِیْكُمْ فِیْهِنَّ لا فتویٰ درکوی یعنی بیانوی
درته حکم خپل په باب ددوی کښے وَمَا یُتْلٰی عَلَیْكُمْ او بل هغه کلام فتویٰ درکوی چی
لوستل کیږی پرتاسے فِی الْكِتٰبِ په قران کښے چه هغه یُوْصِیْكُمُ اللّٰهُ دی تر اخره پورے
یا مثل دده فِیْ یَتٰمَی النِّسَآءِ الّٰتِیْ په باب د هغه یتیمانو کښے لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ چه نه ورکوئ
تاسے دوی لره مَا كُتِبَ لَهُنَّ هغه میراث چه فرض کړه شوی دی دوی لره وَتَرْغَبُوْنَ
او میل کوی تاسے اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ دی کار ته چه په نکاح کړی تاسے دوی وَالْمُسْتَضْعَفِیْنَ
او فتویٰ درکوی تاسے ته په باب د ضعیفانو کښے مِنَ الْوِلْدَانِ لا له وړو هلکانو څخه
وَاَنْ تَقُوْمُوْا او بل دا حکم درکوی چه ودریږی تاسے لِلْیَتٰمٰی بِالْقِسْطِ ط په باب د یتیمانو
ښځو کښے په انصاف یعنی په سپاره لود مهرونو او د مالونو ددوی کښے انصاف کوی وَمَا
تَفْعَلُوْا او هر هغه چه کوی تاسے مِنْ خَیْرٍ له کومی ښیګړی په باب د یتیمانو او د هلکانو
او د بل چا کښے فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای كَانَ بِهٖ عَلِیْمًا (۱۲۷) دی په هغه خبره دانا روایت
دی چه یو سړی بهانی لیټولے د طلاق خپلی ښځے ته او ددی زړه د اولاده نه شکیده او
طلاق ئے نه خوښاوه او وړ ته ئے وویله چه ما مه طلاقه وه او هر څیزی چه ته ځی له ما
ازاد ئے نو نازل شو وَاِنِ امْرَاَةٌ او که کومه ښځه وه خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا چه ویریده

له میړه خپله نُشُوۡزًا له سرکشی او له منع د حقوقو او له ترك د صحبت دَاوۡ اِعۡرَاضًا یا
له ځنګ کولو دده له مجلسه او له خبرو له دی سره فَلَا جُنَاحَ عَلَیۡهِمَاۤ پس نشته هیڅ
وبال پردوی دواړو اَنۡ یُّصۡلِحَا له دی چې صلحه وکړی دوی دواړه بَیۡنَهُمَا صُلۡحًا
پخپل مینځ کښې سره په صلح کولو سره په دی شان چې بخښه نفقه یا مهر او بخښی
یا ټول یا بعض یا خپل وار ښځې ته ورکړی او میړه دی طلاق نه ورکوی او کناره دی هم
ځندی نه کوی او مجلس او خبری دی هم ورسره نه ترك کوی او څوك وائی چې صلح
داده چې د کاله واك دی مشری ته ورکړی او عیش دناستے ولاړی او د مباشرت
او ملاعبے دی کشری ته ورکړی وَالصُّلۡحُ خَیۡرٌ ط او صلح ډیره غوره ده له بیلتانه او
له بدی وزګاره او له جګړی وَاُحۡضِرَتِ الۡاَنۡفُسُ الشُّحَّ ط او حاضر کړه شویدی نفسونه
دهرچا بخل ته همیشه نو ښځه اعراض او بے پرواهی د میړه ته غاړه نه ایږدی او د
میړه ساتلو د ښځې ته اوادا د حقوقو د دے ته غاړه نه ایږدی وَاِنۡ تُحۡسِنُوۡا او که ساز
ګاری کوی تاسے له خپلو ښځو سره وَتَتَّقُوۡا او پرهیز کوی له نشوزه او له اعراضه او له
مؤجباتو د خصومت فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای کَانَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ دی په هغه کارونو چې
کوئی تاسے خَبِیۡرًا (۱۲۸) بنه خبردار په احسان او په خصومت ستاسے وَلَنۡ تَسۡتَطِیۡعُوۡۤا
او له سره به طاقت رانه وړی تاسے اسے د ډیرو ښځو مرو نو اَنۡ تَعۡدِلُوۡا ددی چې
برابری وکړی تاسے یعنی په هرڅه کښې بَیۡنَ النِّسَآءِ په مابین د ښځو خپلو کښې وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡ
اګرکه ډیر حرص وکړی په دی برابرولے کښې فَلَا تَمِیۡلُوۡا پس میل مه کوی یعنے ځنګ مه
کوی له یوی کُلَّ الۡمَیۡلِ په ټول میل کولو سره په دی شان چې بیخی لاس ځندی واخلئ
فَتَذَرُوۡهَا پس پریږدئ دا کَالۡمُعَلَّقَةِ ط په مثل داویزاندی چې نه طلاق ده وی او نه مړو خه
وَاِنۡ تُصۡلِحُوۡا او که لاره د صلاحیت ونیسے له ښځو سره وَتَتَّقُوۡا او پرهیز کوی له جوړه
په اختیاری کارو کښې فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای کَانَ غَفُوۡرًا دی بخښونکی د میل قلبی
رَّحِیۡمًا (۱۲۹) مهربانه چې په دی میل تاسے نه نیسی وَاِنۡ یَّتَفَرَّقَا او که بیل شی دواړه په طلاق

عه یعنی له هغه کارونو چې سبب د جګړی وی ۱۲ عه یعنے د هغه مینی چې په زړه پوری ستا کښې ده ۱۲

سره يُغْنِ اللهُ نو بې پروا به کړي خدای كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ ط هر يو له دوی له فراخۍ د جوده
خپله وَكَانَ اللهُ وَاسِعًا اودی خدای فراخ بخشنه حَكِيْمًا ﴿۱۳۰﴾ محکم کاره وَلِلّٰهِ مَا فِي
السَّمٰوٰتِ او خاص خدای لره دی هر هغه چې په اسمانونو کښې دی له علویاتو وَمَا فِي
الْاَرْضِ ط او هر هغه چې په مځکه کښې دی له سفلیاتو وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ او هر اٸینه
په تحقیق سره وصیت کړی وو موږ و هغو کسانو ته اُوْتُوا الْكِتٰبَ چې ورکړی شوی دی
دوی لره کتاب مِنْ قَبْلِكُمْ مخوا له تاسې نه وَاِيَّاكُمْ او تاسې ته هم وصیت کوو یعنې امر
کوو اَنِ اتَّقُوا اللهَ ط د دې چې ځان ساتۍ له شرکه په خدای پورې وَاِنْ تَكْفُرُوْا او که
کافران شئ فَاِنَّ لِلّٰهِ پس بیشکه خدای لره دی مَا فِي السَّمٰوٰتِ هر هغه چې په اسمانونو کښې
دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ط او هر هغه چې په مځکه کښې دی وَكَانَ اللهُ غَنِيًّا او دی خدای ډیر
بې پرواه چې د چا په کفر او په ایمان ده ته هیڅ نفع او نقصان نه رسي حَمِيْدًا ﴿۱۳۱﴾ او ستایلے
شوی دی ذات که څوک حمد وائی او که ئې نه وائے وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ او خاص خدای
لره دی هر هغه چې په اسمانونو کښې دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ط او هر هغه چې په مځکه کښې دی
وَكَفٰى بِاللهِ وَكِيْلًا ﴿۱۳۲﴾ او بس دی خدای پورې کونکی د مهمّاتو د عبادو اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ
که ئې اراده وشي نو به بوځي تاسې یعنې مړه به موکی اَيُّهَا النَّاسُ ای خلګو وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ط
او رابه ولي یعنې پیدا به کړي نور خلق وَكَانَ اللهُ او دی خدای عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿۱۳۳﴾ پر دې
کار ښه قادر مَنْ كَانَ يُرِيْدُ هر څوک چه وي چې غواړي ثَوَابَ الدُّنْيَا حاصل د دے جهان
د پاره د غنیمت فَعِنْدَ اللهِ پس د خدای سره دی ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ط هم حاصل د دے
۱۹ ع دنیا او هم د اخرت نو دوی ولې یوازې دنیا غواړي وَكَانَ اللهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۱۳۴﴾ او دی ۱۶
خدای اوریدونکی لیدونکی د ټولو اقوالو او افعالو د هر چا روایت دی چې یو انصاري
ورسول علیه السلام ته وویل چې زما پر پلار د چا حق دی او زه په خبریم اما په سبب د ناداری
د پلار خپل سے طا هر ولای نشم نو نازل شو يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای مؤمنانو كُوْنُوْا
قَوّٰمِيْنَ او سے همیشه محکم ولاړ بِالْقِسْطِ په انصاف سره شُهَدَآءَ لِلّٰهِ شاهدان د پاره

عه یعنی له ارت والے د سخاوته ۱۲ عه یعنے د مقصود و د بندګانو او د مطلبو د دوی ۱۲

دخدای وَلَوْ عَلٰٓی اَنْفُسِكُمْ اګر که وی دا شاهدی پرځانونو خپلو چه عبارت دی له اقرار څخه
اَوِالْوَالِدَیْنِ یا پرمور او پلار خپل وَالْاَقْرَبِیْنَ او پرخپلوانو اِنْ یَّكُنْ که وی دا مشهود
علیه غَنِیًّا اَوْ فَقِیْرًا توانګر یا نادار فَاللّٰهُ اَوْلٰی بِهِمَا پس خدای ډیر لایق دی په رحم
او مهربانی کولو سره پر دی غنی او فقیر یعنی خدای خو له تاسی زیات مهربان دی نو که په
ادا د دی شاهدی کښی د مصلحت نه لیدلای نو مشروعه کړی به نی نه وه دا شاهدی او
هر کله چه ده مامور کړی تاسی سره له داسی مهربانی فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓی پس پیروی مه
کوی تاسی د خواهش د نفس خپل اَنْ تَعْدِلُوْا د پاره د دی چه عدل وکړی تاسی له حقه
وَاِنْ تَلْوٗٓا او که واړوی تاسی ژبی خپلی له شاهدی اَوْ تُعْرِضُوْا یا څنګ وکړی تاسی له
ادا د دی شاهدی څخه او پټه نی کړی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه خدای كَانَ بِمَا دی په هغه عمل
او میل تَعْمَلُوْنَ چه کوی نی تاسی خَبِیْرًا (۱۳۵) بنه خبردار او د قولو جزا به درکړی یٰٓاَیُّهَا
الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا ای مؤمنانو اٰمِنُوْا ثابت لری ایمان خپل یا ای اهل کتابو پوره کړی
ایمان خپل یا ای منافقانو خالص کړی ایمان خپل بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ پر خدای او پر رسول
ده چه محمد ﷺ دی وَالْكِتٰبِ الَّذِیْ او پر هغه کتاب نَزَّلَ عَلٰی رَسُوْلِهٖ چه پارچه نی رالیږلی دی
پر رسول خپل چه هغه قرآن دی وَالْكِتٰبِ الَّذِیْٓ او پر هغه کتاب اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ د چی
غونډ نی رالیږلی دی پخوا له قرآنه چه تورات، انجیل، زبور او نوری صحیفی وَمَنْ یَّكْفُرْ
بِاللّٰهِ او هر څوك چه کفر اختیار کړی پر خدای وَمَلٰٓئِكَتِهٖ او په ملائکو ده وَكُتُبِهٖ او په کتابو
ده وَرُسُلِهٖ او په رسولانو ده وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ او په ورځ د قیامت فَقَدْ ضَلَّ پس په
تحقیق ګمراه شو ضَلٰلًاۢ بَعِیْدًا (۱۳۶) په داسی ګمراهی چی ډیره لیری ده له لاری څخه د حق
اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان نی راوړی دی اول پر موسٰی ؑ یعنی یهود
ثُمَّ كَفَرُوْا بیا کافران شوی دی په عبادت د خوسی سره ثُمَّ اٰمَنُوْا بیا نی ایمان راوړی دی
په توبه سره ثُمَّ كَفَرُوْا بیا کافران شویدی په انکار له عیسٰی ؑ څخه او په اراده د قتل د ده ثُمَّ

عه یعنی هغه څوك چه شاهدی ورلی شی پر هغه باندی ۱۲ عه یعنی روا کړی به نی نه وه دا شاهدی ۱۲
سه یعنی هغه خوسی چی سامری نومی زرګر جوړ کړی وو له کالو او زیوراتو د فرعونیانو په وخت د تلو د موسٰی ؑ د قوم کښی کوه طور ته ۱۲

اِزْدَادُوْا كُفْرًا بیا زیات شوی وی له جهته دکفر په انکار له محمد علیه السلام لَّمْ یَكُنِ اللّٰهُ نه
دی خدای لِیَغْفِرَ لَهُمْ چې بخښنه وکړی دوی ته ځکه چې اعتبار خاتمې لره دی او خاتمه
ددوی په علم د خدای کښې پر کفر ده وَلَا لِیَهْدِیَهُمْ او نه چې وښائی دوی ته سَبِیْلًا ﴿۱۳۷﴾
لاره دخلاصې یا دجنت یا مراد منافقان دی چې ایمان ئې راوړیدې په ظاهر کښې او کافران
دی په باطن کښې او داکفر ئې بیا زیات شویدې په اصرار سره تر وخته د مرګه او ددی
وروستی معنی دا قول مؤید دی بَشِّرِ الْمُنٰفِقِیْنَ زیری وکړه پر منافقانو او ذکر د
زیری دلته تهکماً دی یعنی استهزاءً معنی دا چې وویروه دوی بِاَنَّ لَهُمْ په دې چې
بیشکه دی دوی لره عَذَابًا اَلِیْمًا ﴿۱۳۸﴾ عذاب دردناك الَّذِیْنَ یعنی هغه کسان
یَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِیْنَ اَوْلِیَآءَ چې نیسی دوی کافران دوستان خپل مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِیْنَ بې
له مؤمنانو اَیَبْتَغُوْنَ ایا غواړی دا منافقان عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ ددوی څخه عزت ځکه
ورسره دوستی کوی فَاِنَّ الْعِزَّةَ پس بیشکه عزت چې دی لِلّٰهِ جَمِیْعًا ﴿۱۳۹﴾ خاص خدای
لره ټول او عزت هر چا لره هم دی ورکوی بل څوك ئې نه شی ورکولای وَقَدْ نَزَّلَ عَلَیْكُمْ
او په تحقیق سره بخوا لیږلی دی خدای پر تاسې لا چې په مکه کښې واست فِی الْكِتٰبِ په قران
کښې دا حکم اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ چې بیشکه شان دا دی په هغه وخت کی چې واوری تاسې
اٰیٰتِ اللّٰهِ ایتونه د خدای له قرانه یُكْفَرُ بِهَا چې کفر او انکار کول کیږی په دې ایتو وَ
یُسْتَهْزَاُ بِهَا او مسخری کول کیږی په هغو پوری په یوه ډله کښې فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ
پس مه کښینی له دوی سره ای مؤمنانو حَتّٰی یَخُوْضُوْا تر هغو چې مجلس بنا کړی دا
مسخره بازان فِیْ حَدِیْثٍ غَیْرِهٖٓ په هغه خبره کښې چې بله (بدله) وی له مجلسه څخه
د مسخرو اِنَّكُمْ اِذًا بیشکه تاسې په دغه وخت کښې چې ناست اوسئ له دوی سره او
مسخرې ځندی او وری مِّثْلُهُمْ ط په شان ددوی به اوسئ په وبال کښې ځکه چې نه لیرې
کیږی له دوی څخه سره دقدرت ته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای جَامِعُ الْمُنٰفِقِیْنَ یو
ځای کونکی دی د منافقانو وَالْكٰفِرِیْنَ او د کافرانو فِیْ جَهَنَّمَ جَمِیْعًا ﴿۱۴۰﴾ په دوزخ

عه یعنی دپاره د مسخرې دی په دی کفار و پلورې ۱۲

کښې دغو لو اَلَّذِیۡنَ هغه منافقان یَتَرَبَّصُوۡنَ بِکُمۡ ۚ چې همیشه منتظره وی تاسې ته
یعنی مدام ستاسې لری او بری ته گوری فَاِنۡ کَانَ لَکُمۡ پس که واقع شوه تاسې ته
فَتۡحٌ مِّنَ اللّٰهِ کشایش او بری له طرفه دخدای لکه غنیمت شه قَالُوۡۤا نو وائی دا
منافقان تاسی ته اَلَمۡ نَکُنۡ مَّعَکُمۡ زمونږ ایا نه وو موږ له تاسې سره یعنې وو نو اوس
برخه له غنیمته ځمونږ غواړو وَاِنۡ کَانَ او که وو لِلۡکٰفِرِیۡنَ نَصِیۡبٌ ۙ کافرانو لره برخه له
غلبې پر مؤمنانو قَالُوۡۤا نو وائی دوی کفارو ته اَلَمۡ نَسۡتَحۡوِذۡ عَلَیۡکُمۡ ایا غلبه نه وه کړې
موږ پر تاسې یعنی موږ پر تاسې غالب وو او پر دی قادر وو چې تاسې قتل کړو اما موږ
در باندی صرفه وکړه وَنَمۡنَعۡکُمۡ او مو خلاص کړلاست موږ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ؕ له مؤمنانو
ځکه چې موږ سستی وکړه په معاونت ددوی کښې نو تاسې پر غالب سو اوس نو
موږ هم تاسې پخپل غنیمت کښې شریکان کړی فَاللّٰهُ پس خدای یَحۡکُمُ بَیۡنَکُمۡ حکم
به وکړی ستاسې په مینځ کښې سره یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ ؕ په ورځ دقیامت وَلَنۡ یَّجۡعَلَ اللّٰهُ
او له سره به ونکړی خدای لِلۡکٰفِرِیۡنَ کافرانو لره عَلَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ پر مؤمنانو باندی ۲۰
سَبِیۡلًا ﴿۱۴۱﴾ هیڅ لاره دحجت چې په هغه سره دوی پر مؤمنانو غالب شی یا د اچې له ع ۷
سره به غلبه وه نکړی په دنیا کښې دوی پر مؤمنانو اِنَّ الۡمُنٰفِقِیۡنَ بیشکه منافقان چې ۱۷
دی یُخٰدِعُوۡنَ اللّٰهَ مکر او فریب کوی له خدای سره په اظهار د اسلام او په پټولو
د کفر سره وَهُوَ خَادِعُهُمۡ ۚ او دی جزا ورکونکی دی دوی لره ددی فریب په دې
شان چې په قیامت به اول دوی لره هم نور ورکړل شی لکه مؤمنانو لره بیا چې پر
صراط ږدی قدم کښېښنوی نو دا نور به ځندی ورک شی او په دوزخ کښې به ولویږی
او مؤمنان به د نور په رڼا تیر شی او دا حال په سورة حدید کښې مفصل بیان شوی
دی وَاِذَا قَامُوۡۤا او په هغه وخت کی چې پاسی (ولاړ سی) دا منافقان اِلَی الصَّلٰوةِ
لمانځه ته قَامُوۡا کُسَالٰی ۙ نو پاڅیږی سست کاهلان یُرَآءُوۡنَ النَّاسَ ښائی
(ښکاره کوی) خلکو ته ځان خپل چې موږ هم مسلمانان یو وَلَا یَذۡکُرُوۡنَ اللّٰهَ او نه یادوی

خدای اِلَّا قَلِیۡلًا ﴿۱۴۲﴾ مگر کم او هغه هم په حضور د خلګو کښی محض په ریا کاری -
مُذَبۡذَبِیۡنَ په دی حال کښی چه متحیران او مترددان وی دوی بَیۡنَ ذٰلِکَ ق په
مابین د کفر او د اسلام کښی لَاۤ اِلٰی هٰۤؤُلَآءِ نه له دی تولی د مؤمنانو سره دی
چه د هغه معامله ورسره وشی وَلَاۤ اِلٰی هٰۤؤُلَآءِ ط او نه له تولی د کفارو سره دی
چی د هغو معامله ورسره وشی وَمَنۡ یُّضۡلِلِ اللّٰهُ او هر څوک چه ګمراه ئی کړی خدای
فَلَنۡ تَجِدَ پس نه به مومی ته لَهٗ سَبِیۡلًا ﴿۱۴۳﴾ ده لره لار حق ته یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا
ای مؤمنانو لَا تَتَّخِذُوا الۡکٰفِرِیۡنَ مه نیسئ کافران اَوۡلِیَآءَ دوستان د منافقانو
په شان مِنۡ دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ط بیله مؤمنانو اَتُرِیۡدُوۡنَ آیا غواړی تاسی اَنۡ
تَجۡعَلُوۡا ادا کار چی پیدا کړی تاسی لِلّٰهِ عَلَیۡکُمۡ خدای لره پر ځان د عذابولو سُلۡطٰنًا
مُّبِیۡنًا ﴿۱۴۴﴾ حجت او عذر ښکاره اِنَّ الۡمُنٰفِقِیۡنَ بیشکه منافقان چه دی فِی الدَّرۡکِ
الۡاَسۡفَلِ په ډیره کښته طبقه کښی مِنَ النَّارِ ج له اوره د دوزخ وَلَنۡ تَجِدَ او له
سره به نه مومی ته لَهُمۡ نَصِیۡرًا ﴿۱۴۵﴾ دوی لره مددګار هیڅوک چه له دی عذابه ئی
خلاص کړی او منافقان به تول په دی عذاب کښی وی اِلَّا الَّذِیۡنَ تَابُوۡا مګر
هغه کسان چه توبه وکاږی له دی نفاقه وَاَصۡلَحُوۡا او لاره دا صلاح ونیسی پس
له دی وَاعۡتَصَمُوۡا بِاللّٰهِ او منګولی ښخ کړی دوی په دین د خدای وَاَخۡلَصُوۡا او
خالص کړی دوی دِیۡنَهُمۡ لِلّٰهِ دین خپل خدای لره چه عبادت نه کوی مګر خالص
خدای لره خالی د ریا فَاُولٰٓئِکَ پس دا خلوص سره کارونه کونکی چه دی چی توبه
او اصلاح او اعتصام او اخلاص دی مَعَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ ط له مؤمنانو سره به وی په
دواړو جهانو کښی وَسَوۡفَ او ژر دی یُؤۡتِ اللّٰهُ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ چه وربه کړی خدای
مؤمنانو لره اَجۡرًا عَظِیۡمًا ﴿۱۴۶﴾ ثواب ډیر لوی مَا یَفۡعَلُ اللّٰهُ څه به کوی خدای
بِعَذَابِکُمۡ په عذابولو ستاسی یعنی ولی به عذاب درکوی تاسی ته اِنۡ شَکَرۡتُمۡ

ف و یلی دی قفال چه مراد له کافرانو منافقان دی یعنی چه بیان ئی کړل تاسی ته خوبونه
د دوی پس مه نیسی له دوی څخه دوستان ۱۲

که شکر کوئ پر نعمتو دده (کارزی ١٢) وَاٰمَنۡتُمۡ ط او باور وکړی په وحدانیت دده وَكَانَ اللّٰهُ او
دی خدای شَاكِرًا اجر ورکونکی شاکرانو ته عَلِيمًا ﴿١٤٧﴾ دانا په حقوقو د شکر روایت دی
چې یو سړی په یوه قوم کے میلمه شو او دوی طعام ورلره ورنه کړو او هغه به هر چا ته
شکایت کولو د دوی د بے مروتے څخه او اصحابو ﷺ به هغه سړی ډیره ملامتیا وویله په
سبب د دی شکایت سره نو نازل شو لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ نه خوښوی خدای
ښکاره ویل بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ د بدی خبری لکه چې نه خوښوی پټ ویل د دی بد و
اما جهر ئې ډیر بد دی له هر چا څخه اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ط مگر ښکاره ویل د هغه چا چې ظلم
پر شوی وی او دی ښیرے یا زوړ لی کوی یا د ظلمه ئې خلگو ته فریاد کوی نو روادی اما
په قدر د ظلم نه علاوه چې بیا دی ظالم او هغه مظلوم نه شي وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيعًا او
دی خدای اوریدونکی د فریاد د مظلوم عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾ ښه دانا دی په ظلم د ظالم اِنْ
تُبْدُوْا خَيْرًا که ښکاره کوی تاسے نیکی او طاعت اَوْ تُخْفُوْهُ یا ئے پټ کی اَوْ تَعْفُوْا یا
عفوه کوی تاسے عَنْ سُوْٓءٍ او کوم قسم بدی چې چا د رسره کړی وی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه
خدای كَانَ عَفُوًّا دی عفوه کونکی عاصیانو ته سره له قدرته د اِنتقام قَدِيْرًا ﴿١٤٩﴾ ښه
قادر پر عذاب د ظالم او پر ثواب د مظلومو تاسے لره هم بایده ده چې په صفاتو
د ربانیو عمل کوی چې لایق د فیضان د خواصو د هغه صفاتو شي اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه
هغه کسان يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ چې کافران کیږی دوی په خدای وَ رُسُلِهٖ او په رسولانو
دده وَيُرِيْدُوْنَ او اراده لری دوی اَنْ يُّفَرِّقُوْا د دی چې بیلتون واچوی بَيْنَ اللّٰهِ
وَرُسُلِهٖ په مابین د خدای او د رسولانو دده کښې او دا حکم چې خدای منی دوی
او رسولان ئې نه منی وَيَقُوْلُوْنَ او وائے نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ چې ایمان
راوړو موږ په بعض پیغمبرانو وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ لا او کافریږو په بعض پیغمبرانو لکه
یهود چې موسیٰ ؑ منے او عیسیٰ ؑ او محمد علیهما السلام نه منی او بل نصریٰ چې لومړی دواړه منے او
محمد علیه السلام نه منے وَيُرِيْدُوْنَ او غواړی دوی اَنْ يَّتَّخِذُوْا دا کار چې ونیسی دوی بَيْنَ

عه یعنی موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام ١٢

ذٰلِكَ په مابین دکفر او د اسلام کښې سَبِيۡلًا ﴿۱۵۰﴾ بله لار دریمه او سره له دې چې بله
لار متصوره نه ده أُولٰٓئِكَ داکسان چې دریمه لار لټوی په مینځ دکفر او د اسلام
کښې هُمُ الۡكٰفِرُوۡنَ حَقًّا ۚ دوی کافران دي په حق سره ځکه چې منل دبعضو نه منل
دي د ټولو وَاَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِيۡنَ او تیار کړی دی موږ کافرانو لره عَذَابًا مُّهِيۡنًا ﴿۱۵۱﴾
عذاب سپکونکی وَالَّذِيۡنَ او هغه کسان اٰمَنُوۡا بِاللّٰهِ چې ایمان ئې راوړیدې پر خدای
وَرُسُلِهٖ او پر رسولانو دده وَلَمۡ يُفَرِّقُوۡا او بیلتون ئې نه دی کړی بَيۡنَ اَحَدٍ مِّنۡهُمۡ
په مابین د یوه کښې هم له دوی په راوړو دایمان کښې بلکه پر ټولو ایمان راوړی
أُولٰٓئِكَ دا پر ټولو ایمان راوړونکی چې دی سَوۡفَ يُؤۡتِيۡهِمۡ ژر دی چې ورکړی
۲۱ خدای دوی لره اُجُوۡرَهُمۡ هغه اجرونه ددوی چې وعده ئې ورسره کړیده وَكَانَ اللّٰهُ
ع ۲ او دی خدای غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿۱۵۲﴾ بخښونکی دګناهو ددوی مهربان په تضعیف دحسنا نو
۱ ددوی روایت دی چې احبار دیهود ولکه کعب بن اشرف او فنحاص بن عاذورع او
نور وامثالو ددوی رسول علیه السلام ته وویل چې که ته واقعی پیغمبر ئې نو موږ لره یو
کتاب راوړه تیار لیکل شوی له اسمانه یا د اسمانیانو په خط سره په شان د تورات
یا چې موږ ئې په ستر ګو وګورو چې هغه دی راکښته شي نو نازل شو يَسۡـَٔلُكَ -
سوال کوی له تا څخه اَهۡلُ الۡكِتٰبِ اهل کتاب یعنی یهود اَنۡ تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ ددې چې
راکښته کړې ته پردوی كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ یو تیار لیکل شوی کتاب له اسمانه لکه تورات
او ته په دی سوال طبیعت مه ملالوه اے رسوله ځکه چې دا چپه سوالونه یهوانی
عادت دی ددوی فَقَدۡ سَاَلُوۡا پس په تحقیق سره یهوا یو سوال کړی وو ددوی یعنی
نیکه ګانو ددوی مُوۡسٰٓی له موسیٰ څخه اَكۡبَرَ مِنۡ ذٰلِكَ دیرغټ له دی سواله فَقَالُوۡٓا
پس ویلی وو ددوی موسیٰ علیه السلام ته اَرِنَا اللّٰهَ جَهۡرَةً وه ښیه موږ ته خدای
ښکاره فَاَخَذَتۡهُمُ الصّٰعِقَةُ پس ونیول دوی تندری پر هغه ځای او وی سوځل
بِظُلۡمِهِمۡ ۚ په جهت دظلم خپل چې هغه سوال وو ددوی د دیدار دخدای په دنیا کښې

عه یعنی په دوه چند ګولو دجزا ددوی ۱۲

ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ بیا پس له هغه ونیولو دوی خسی په خدائی سره مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ
الْبَيِّنٰتُ پس له هغه چې راغلې وې ودوی ته ښکاره نښې زموږ لکه تورات او نورې معجزې
فَعَفَوْنَا پس عفوه وکړه او تیر شو موږ عَنْ ذٰلِكَ له دې گناه ددوی په خپل فضل سره
پس له پښیمانۍ ددوی وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى او ورکړې وو موږ موسیٰ ته سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۱۵۳﴾
غلبه ښکاره پر دوی څکه چې په یوه گفت دده او یاړ رو گوسا له پرستو په یوه ثابت
څانونه خپل سره قتل کړه او هیڅ یکښې گردن کشي ونه کړه وَرَفَعْنَا او پورته کړی وو
موږ فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ دپاسه دسرو ددوی کوه طور بِمِيْثَاقِهِمْ دپاره دقبلولو او
محکم کولو ددوی عهد خپل یعنې چې وه بیریږی او محکم عهد وکړی وَقُلْنَا او وویل
موږ لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ دوی ته چې ننوزی په دروازه د ایلیا بنا ر کښې سُجَّدًا په
دی حال کښې چې سرونه کښته نیوونکی او سے له تواضعه او په دی وخت کښې کوه
طور لئ دسرو دپاسه (سربیره) ولاړ وو وَقُلْنَا لَهُمْ او وویل موږ ودوی ته لَا تَعْدُوْا
فِي السَّبْتِ چې مه تیریږی له حده په خالی کښې په نیولو د ماهیانو سره وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ
او واخسته موږ له دوی څخه مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۱۵۴﴾ عهد ډیر کلک تر دی حده چې دوی
وویل سمعنا واطعنا فَبِمَا نَقْضِهِمْ پس په سبب د ماتولو ددوی مِّيْثَاقَهُمْ د عهد
خپل څو څو انواع د عقوبا تو موږ پر دوی راوستل لکه لعن او مسخه او جزیه او
دا سے نور شوه وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ او په کفر ددوی په آیتو د خدای پورې چې قرآن
تورات یا نورے معجزې دی وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ او په وژلو ددوی پیغمبران لکه
زکریا م یحییٰ م او دا سے نور شوه بِغَيْرِ حَقٍّ بیله حقه په اعتقاد ددوی کښې هم وَقَوْلِهِمْ
قُلُوْبُنَا غُلْفٌ او په ویلو ددوی دا خبره چې زړونه زموږ په پرده کښې پټ دی نو د
هیڅا وعظ او نصیحت نه اوری او دا سے نه ده لکه دوی چې وائی بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ بلکه

عه یعنې په یوه ویلو د موسیٰ م سره ۱۲ عه یعنې هغه کسانو چې دخپے عبادت ئې کړی وو ۱۲ سه طور
نوم د هغه غره دی چې موسیٰ م د خدای پاک سره خبری پر کړی وی ۱۲ صه یعنې دوی ویل چې اورو
موږ خبره ستا او اطاعت او فرمانبرداری کوو د امر ستا یعنې ستا حکم په بنده وجه سره منو ۱۲ الم یعنې
قسم قسم عذابونه ۱۲

مهرد سنګدلی وهلے دی خدای عَلَیۡهَا پرز رو ددوی بِکُفۡرِهِمۡ په سبب دکفر او انکار د
دوی د آیاتو او معجزاتو څخه فَلَا یُؤۡمِنُوۡنَ پس ایمان نه راوړی دوی اِلَّا قَلِیۡلًا ﴿۱۵۵﴾ مګر کم
لکه ابن سلام او اصحاب دده وَّبِکُفۡرِهِمۡ او په کفر ددوی وَقَوۡلِهِمۡ عَلٰی مَرۡیَمَ او په ویلو
ددوی په بی بی مریمی باندی بُهۡتَانًا عَظِیۡمًا ﴿۱۵۶﴾ دروغ دیر غټ چی نسبت د زنا دی
ورته وَّقَوۡلِهِمۡ او په ویلو ددوی دا ګفت چه اِنَّا قَتَلۡنَا الۡمَسِیۡحَ بیشکه موږ چی
یو وژلی دی موږ مسیح یعنی عِیۡسَی ابۡنَ مَرۡیَمَ عیسیٰ ع وی د بی بی مریمی رَسُوۡلَ اللّٰهِ ج
چی رالیږلے دی خدای اوکه دا مقوله ددوی وی نو استهزاده اوکه د خدای وے
نو استیناف دی وَمَا قَتَلُوۡهُ او حال دا چه نه دی وژلے دوی په واقعه کښے دی وَمَا
صَلَبُوۡهُ او نه ئی په دار کړی وو دے وَلٰکِنۡ شُبِّهَ اولیکن مشابه کړی شوی وو هغه
مقتول چه ددوی مشر وو له عیسیٰ ع سره چه نوم ئی طیطایوش وو له یهود و یعنی هغه
د عیسیٰ ع په شکل شو لَهُمۡ ط دوی ته لکه قصه ئی په آل عمران کښے تیره شوی ده وَاِنَّ
الَّذِیۡنَ اخۡتَلَفُوۡا او بیشکه هغه کسان چه مختلف دی فِیۡهِ په حق د عیسیٰ ع کښے لَفِیۡ
شَکٍّ مِّنۡهُ ط هر آئینه په شك کښی دی له ده یعنی له قتله ئی چه چا به ویل دا په دار
شوی عیسیٰ دی او طیطایوش ملك نشته اوچا به ویل چه دا ملك دی او عیسیٰ ع نشته اوچا
به ویل چه مخ ئی د عیسیٰ ع دی او نور صورت ئی د ملك دی مَا لَهُمۡ بِهٖ نشته دوی لره پر
عیسیٰ ع او په قتل دده مِنۡ عِلۡمٍ له پوهی یوه ذره په حقیقت دکار اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ج
مګر محض پیروی ده دګمان خپل وَمَا قَتَلُوۡهُ یَقِیۡنًا ﴿۱۵۷﴾ او نه دی وژلے دوی عیسیٰ ع
په یقین سره یعنی په واقعه کښی بَلۡ رَّفَعَهُ اللّٰهُ بلکه پورته کړی دی دی خدای اِلَیۡهِ ط
ځان ته یعنی اسمان ته وَکَانَ اللّٰهُ او دی خدای عَزِیۡزًا دیر غالب پر اعداؤ د عیسیٰ باندی
حَکِیۡمًا ﴿۱۵۸﴾ خاوند د حکمت دی چه دانا دی په تدبیر د خلاصے دده وَاِنۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡکِتٰبِ
او نشته هیڅوك له یهودو او له نصارٰی وو اِلَّا لَیُؤۡمِنَنَّ بِهٖ مګر قسم دی چه ایمان
به راوړی دی خامخا پر عیسیٰ ع باندی قَبۡلَ مَوۡتِهٖ ج مخوا له مرګه خپله یعنی په وخت

مه یعنی جدا او ځان لره بله جمله او خبره ده ١٢

دخکندن کښې چې سترګې ئې خیرې شې او له غیبه څخه ورته پرده لیرې شي نو دده په
یقین شې پردې چې عیسیٰؑ بنده او رسول وو اما دا ایمان به هیڅ فائده ورونه رسوی
یا پخواله مرګه د عیسیٰؑ پس له نزوله دده له اسمانه لکه حدیث دی ینزل عیسیٰ خلیفة علی
امتی یدق الصلیب ویقتل الخنازیر ویلبث اربعین سنة ویتزوج ویولد له ثم
یتوفی وکیف تهلك امة انا فی اولها وعیسیٰ فی اخرها والمهدی من اهل بیتی فی
وسطها او بیا چې دی راکوز (راکښته) شي نو دین د محمدؐ به چلوی او یهود او نصاری به هم
قوله دین د اسلام کوی وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ او بیا به ورځ د قیامت يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ وی به
عیسیٰؑ پر دوی شَهِيْدًا ﴿۱۵۹﴾ شاهد پردې چې زه یهو دو نه منلم او نصاریٰ وو د خدای زوی
بللم فَبِظُلْمٍ پس په سبب د ډیر لوی ظلم سره چې دا تیر او کارونه دی چې صادر شوی
دی مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا او له هغو کسانو چې دوی یهودیان دی حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ حرام کړی دی
مونږ پر دوی طَيِّبٰتٍ هغه پاکیزه طعامونه اُحِلَّتْ لَهُمْ چې حلال کړے شوی وو دوی ته
چې هغه په سورة انعام کښې په تفصیل سره ذکر دی چې هغه دا دی وَعَلَى الَّذِيْنَ هادوا حرمنا
کل ذی ظفر الایه وَبِصَدِّهِمْ او بل په اړولو د دوی سره عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ له لارې د خدای
یعنی له ایمان څخه كَثِيْرًا ﴿۱۶۰﴾ ډیر خلق یا ډیر اړول چې خلګو ته به ئې ویل دا هغه موعود[عه] پیغمبر
نه دی نو ایمان مه پرراوړی وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا او بل په اخستو د دوی سود له خلګو وَ
قَدْ نُهُوْا عَنْهُ او حال دا چې په تحقیق سره منع کړه شوی وو دوی له اخستو د دې ربوا په
تورات کښې وَاَكْلِهِمْ او بل په خوړلو د دوی اَمْوَالَ النَّاسِ مالونه د خلګو لره بِالْبَاطِلِ ط
په ناروا سره لکه په رشوت او په غصب او په نورو وجوه د حرامو سره وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ

عه معنے دا چې عیسیٰؑ به له اسمانه راکښته شي په دې حال کښې چې خلیفه زما به وی په امت زما کښې او دا عیسیٰؑ به مات
او ذره ذره کړی صلیب د نصاریٰ وو او مړه به کړی خنزیران او د رنګ به وکړی په ملکه کښې یعنې ژوندی به وی
څلویښت کاله او نکاح به هم وکړی او اولاد به ئې هم وشي پس له هغه به وفات کړه شي او بیا پیغمبر د خدای ویل
چې څرنګه به خراب او هلاك شي هغه امت چې زه ئې په اول او عیسیٰ ئې په اخر کښې وی او امام مهدی چې زما
د اهل بیتو به وی هغه ئې په مینځ کښې وی حاصل دا چې دا امت ډیر ښه دی فافهم ۱۲ عه یعنی هغه رسولؐ
چې وعده ئې کړه شوی ده په تورات او انجیل کښې یعنې چې یو پیغمبر به پیدا شي او محمدؐ به ئې نوم وی او کتاب به ئې قرآن وی
عبدالاحد

مِنۡهُمۡ او تیار کړی دی موږ ظالمانو لره له دوی څخه عَذَابًا اَلِيۡمًا (١٦١) عذاب دردناک
لٰكِنِ الرّٰسِخُوۡنَ لیکن پخته چې دی فِي الۡعِلۡمِ په علم شریعت کښې مِنۡهُمۡ له دوی لکه ابن
سلام او ملګری یې وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ او ایمان راوړونکی له دوی يُؤۡمِنُوۡنَ ایمان راوړي
او باور کوی بِمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ په هغه قران چې رالیږلے شوی تا ته وَمَاۤ اُنۡزِلَ او په
هغه چې رالیږلے شوی مِنۡ قَبۡلِكَ پخوا له تا چې هغه باقی قول کتب الٰهیه دی وَالۡمُقِيۡمِيۡنَ
الصَّلٰوةَ او ایمان راوړی پر تولو درونکو لمانځه چې هغه پیغمبران دی یا د النصب په مدح
دی یعنی آفرین دی پر درونکو لمانځه وَالۡمُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ او ورکونکی د زکوٰة چې دی وَ
الۡمُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ او ایمان راوړونکی چې دی پر خدای وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ او پر ورځ د قیامت.
اُولٰٓئِكَ دا کسان چې اوس یاد شول سَنُؤۡتِيۡهِمۡ ژر دی چې ورېه کړو موږ دوی لره
اَجۡرًا عَظِيۡمًا (١٦٢) ع اجر ډیر لوی چې رضا او لقاء ده اِنَّاۤ بیشکه موږ چې یو اَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡكَ ع ۲۲ ۱۰ ۲
وحی کړیده موږ تا ته كَمَاۤ اَوۡحَيۡنَاۤ لکه چې وحی کړیده موږ اِلٰى نُوۡحٍ د نوح ته وَالنَّبِيّٖنَ او نورو
پیغمبرانو ته مِنۡۢ بَعۡدِهٖ پس له ده لکه هود، صالح، لوط، شعیب او داسے نور شول وَاَوۡحَيۡنَاۤ
او وحی کړیده موږ اِلٰٓى اِبۡرٰهِيۡمَ وَاِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ و دی څلور وسره و ته وَالۡاَسۡبَاطِ
او اولاد د یعقوب ته وَعِيۡسٰى وَاَيُّوۡبَ وَيُوۡنُسَ وَهٰرُوۡنَ وَسُلَيۡمٰنَ ج او دی پنځو ته او د امذکورین
اګر که وَالنَّبِيّٖنَ من بعده کښی داخل وو اما دپاره د اظهار د شرافت د دوی نام په نام
شو وَاٰتَيۡنَا او ورکړی وو موږ دَاوٗدَ زَبُوۡرًا (١٦٣) داؤد علیه السلام ته کتاب چې نوم ئې زبور دی
وَرُسُلًا او نور پیغمبران هم لیږلے وو موږ قَدۡ قَصَصۡنٰهُمۡ چې په تحقیق سره قصه
کړیده موږ د دوی عَلَيۡكَ مِنۡ قَبۡلُ پر تا پخوا له دی څخه لکه یوسف، زکریا، یحیی، الیاس
یسع، عزیر یا داسے نور شوه وَرُسُلًا او نور پیغمبران هم رالیږلی وو موږ لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ
چې نه ده کړی موږ قصه د هغوی عَلَيۡكَ د پر تا او موږ په نام یاد کړی هم نه دی تا ته وَكَلَّمَ
اللّٰهُ او خبری به کولے خدای مُوۡسٰى تَكۡلِيۡمًا (١٦٤) له موسٰی سره په خبرو کولو سره او لیږلی
وو موږ رُسُلًا دا پیغمبران مُّبَشِّرِيۡنَ زیری کونکی پر مؤمنانو د جنت۔

عه یعنی راضے کیدل زما له دوی څخه ۱۲ عه یعنی ملاقات کول د دوی له ما سره ۱۲

د رضا د دیدار وَ مُنۡذِرِیۡنَ او بیرونکی د کافرانو او د منافقانو له دوزخ له غضب له سمو م له نر قوم له عذاب له حجاب لِئَلَّا یَکُوۡنَ د پاره د دی چې پاتہ نہ شی لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰہِ خلکو لہ پر خدای حُجَّۃٌۢ بَعۡدَ الرُّسُلِ ط هیڅ عذر او بهانہ پس له پیغمبرانو یعنې چې دوی بیا په قیامت داسې ونہ وائي چې موږ دې په دنیا کښې په دې خبر کړې نہ وو او موږ تہ ستا پیغام هیچا نہ وو راوړی چې موږ سمه لاره پیدا کړې وای او ستا په رضا پسې تللی وای وَکَانَ اللّٰہُ او دی خدای عَزِیۡزًا دیر غالب او قادر په عذابولو د منکرانو حَکِیۡمًا (۱۶۵) محکم کار په امر د نبوت او په قطع د حجت کښې.
روایت دی چې هر کله چې آیت دا نازل شو او حینا الیک راغلی نو یهودو وویل چې هیڅ حال نہ موږ په کتاب کښې نښته او موږ نہ ستا په پیغمبرۍ خبر یو او نہ شاهدی پر کوو نو نازل شو لٰکِنِ اللّٰہُ یَشۡہَدُ لیکن خدای شاهدی کوی بِمَاۤ اَنۡزَلَ اِلَیۡکَ په حقیقت د هغه قرآن چې رالیږلے دی ده تا ته اَنۡزَلَہٗ بِعِلۡمِہٖ ج رالیږلے دی ده دا قرآن په علم خپل سره ځکه چې ټول اهل فصاحت او بلاغت عاجز دی له راوړو د مثل د ده وَالۡمَلٰٓئِکَۃُ یَشۡہَدُوۡنَ ط او ملائکې هم شاهدی ورکوی په پیغمبری ستا وَکَفٰی بِاللّٰہِ شَہِیۡدًا (۱۶۶) او بس دی خدای شاهد اگرکه دوی شاهدی نہ اداکوی اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا بیشکه هغه کسان چې کافران شوی دی ستا په پیغمبرۍ یعنې یهود وَصَدُّوۡا او روی خلک عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰہِ له لارې د خدای قَدۡ ضَلُّوۡا په تحقیق گمراهان شوی دی ضَلٰلًاۢ بَعِیۡدًا (۱۶۷) په هغه گمراهۍ سره چې ډیره لیرې ده له لارې ځنې د حق اِنَّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا بیشکه هغه کسان چې کافر شوی دی وَظَلَمُوۡا او ظلم ئې کړی دی پر رسول په انکار له نبوت یا پر مؤمنانو په منع له ایمانه لَمۡ یَکُنِ اللّٰہُ نہ دی خدای لِیَغۡفِرَ لَہُمۡ چې بخښنه وکړی دوی تہ چې پر خپل کفر ولاړ دی وَلَا لِیَہۡدِیَہُمۡ او نہ چې وښیه دوی تہ طَرِیۡقًا

عہ یعنې نر یوے به ئې کولو پر مؤمنانو چې له تاسے ځنې به خدای راضي وی او دیدار به د خدای هم وکړی ۱۲ عہ له گمراهانو ځنې ۱۲ سه له خوړلو ځنې د هغه ترخې ونې چې نر قوم ئې نوم دی ۱۲ لعه یعنې په حجاب به وی له خدایه یعنې خدای به نہ وینې ۱۲ صه یعنې انسکار کونکو لره له قیامته ۱۲

هیڅ لاره اِلَّا طَرِیْقَ جَهَنَّمَ مگر لاره د دوزخ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ط همیشه به وی دوی
به دی دوزخ کښې مدام بې انقطاعه وَكَانَ ذٰلِكَ او وی دا کار عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٦٩﴾
پر خدای ډیر اسان نه یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ ای خلگو قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ په تحقیق سره راغلی
دی تاسې ته استاذی زما بِالْحَقِّ په حق سره چې قرآن یا اسلام دی مِنْ رَّبِّكُمْ له جانبه
د رب ستاسې فَاٰمِنُوْا پس ایمان راوړی پرده او وی منی او هغه کار اختیار کړی چې خَيْرًا
لَّكُمْ ط ډیر غوره دی و تاسې ته چې هغه توحید او ایمان دی وَاِنْ تَكْفُرُوْا او که کفر اختیار
کړی تاسې فَاِنَّ لِلّٰهِ پس خاص خدای لره دی مَا فِی السَّمٰوٰتِ هر هغه چې په اسمانو کښې
دی وَالْاَرْضِ ط او په ځمکه کښې دی نو ستاسې په کفر کښې ده ته هیڅ زیان نشته وَ
كَانَ اللّٰهُ عَلِیْمًا او دی خدای ښه دانا په مؤمنانو او په کافرانو حَكِیْمًا ﴿١٧٠﴾ پر حکمت په
باب د جزا دهری طائفې کښې یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ ای یهود و او نصارٰی و وَلَا تَغْلُوْا تجاوز
مه کوی له حده خپله دواړه طائفې فِیْ دِیْنِكُمْ په دین خپل کښې او تجاوز د یهود و تفریط
دی په حق د عیسٰیؑ کښې چې ولد زنا ئې بولې او تجاوز د نصارٰی و وا فراط دی په حق
د ده کښې چې زوی د خدای ئې بولی وَلَا تَقُوْلُوْا او مه وایاست عَلَى اللّٰهِ پر خدای
باندی اِلَّا الْحَقَّ ط مگر هغه چې رشتیا وی چې پاکی ده له شریک ځنه او له ولده اِنَّمَا
الْمَسِیْحُ بیشکه هم دا خبره ده چې مسیح چې دی عِیْسَى ابْنُ مَرْیَمَ یعنی عیسٰی چې زوی دے
د بی بی مریمې نه دی خدای رَسُوْلُ اللّٰهِ هغه استاذی دی د خدای وَكَلِمَتُهٗ ج او
کلمه د ده یعنی دا سې ځوک دی چې بی پلاره محض په کلمه د کُنْ سره پید اشوی دے
دا سې کلمه اَلْقٰهَآ اِلٰى مَرْیَمَ چې غورځولی وه خدای دا کلمه بی بی مریمې ته یعنې و دی
ته ئې رسولی وه چې عیسٰیؑ ئې د دی په نس کړی وَرُوْحٌ مِّنْهُ ز او روح دی له جانبه
د خدای ځکه چې مړی ژوندی کوی فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ پس ایمان راوړی تاسې پر خدای
چې یو دی وَرُسُلِهٖ قف او پر رسولانو ده چې بندگان د خدای دی او غوره کړی د ده
دی وَلَا تَقُوْلُوْا او مه وایاست ای نصارٰی و چې خدایان ثَلٰثَةٌ ط دری دی چې


عه یعنې بې خلاصید لو دو وی ۱۲

دوه مور او پلار دی یعنی بی بی مریمه او پرور دگار او یوئ زوی دی چې هغه
عیسیٰ دی نعوذ باللہ منها اِنۡتَهُوۡا واو رې له نسبته د درو او اختیار کړی هغه کار چې
هغه خَیۡرًا لَّکُمۡ ؕ ډیر غوره دی تاسې ته چې هغه توحید دی اِنَّمَا اللّٰہُ بیشکه هم داخبره
ده چې پروردگار چې دی اِلٰہٌ وَّاحِدٌ ؕ معبود یو دی یوازی بی شریکه سُبۡحٰنَہٗۤ پاك دی
دی اَنۡ یَّکُوۡنَ له دی څخه چې وی لَہٗ وَلَدٌ ۘ ده لره فرزند لَہٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ دی ده لره
هر هغه چې په اسمانونو کښې دی وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ؕ او هر هغه چې په ځمکه کښې دی وَکَفٰی بِاللّٰہِ
او بس دی خدای وَکِیۡلًا ﴿۱۷۱﴾ وکیل او حافظ او مدبر د دوارو او ولد عاجزانو لره بکار ع ۲۳ ۹ ۲
دی روایت دی چې ایلچیا نو د نجران رسول ته وویل چه ته عیسیٰ ته ولی نسبت د
عیب کوی چې بنده ئې بولی د خدای نو رسول وویل چې بندگی د خدای هیڅ ته عیب او عار
نه ده او نه ئې خوك عار گڼی نو په تصدیق د قول د ده کښی نازل شو لَنۡ یَّسۡتَنۡکِفَ الۡمَسِیۡحُ
له سره عیب او عار نه گڼی او ننگ نه کوی عیسیٰ اَنۡ یَّکُوۡنَ له دی چې وی دی عَبۡدًا لِّلّٰہِ
بنده خدای لره او هر کله چې عابدانو د ملائکو دوی په لوځو د خدای بلل او نسبت د بندگی
د دوی ئې د دوی په حق کښې عیب بالی نو ځکه ئې وویل وَلَا الۡمَلٰٓئِکَۃُ الۡمُقَرَّبُوۡنَ ؕ او نه هغه
ملائکې چې مقربې دی د درگاه لکه حاملانی د عرش پاکروبیانی چې پر عرش چاپیره دی
دا بندگی د خدای عیب او عار بولی وَمَنۡ یَّسۡتَنۡکِفۡ او هر هغه څوك چې ننگ کوی عَنۡ
عِبَادَتِہٖ له بندگۍ څخه د ده وَیَسۡتَکۡبِرۡ او سرکشی او لوئی کوی له دی بندگی څخه د ده
فَسَیَحۡشُرُہُمۡ پس ژر دی چې راجمعه به کړی خدای دوی اِلَیۡہِ جَمِیۡعًا ﴿۱۷۲﴾ خپل ځان ته
ټول یعنی دا مکلفین به ټول محشر ته را حاضر کړی فَاَمَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا پس هر چې هغه
کسان دی چې ایمان ئې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عمل کوی د نیکو فَیُوَفِّیۡہِمۡ
پس پوره به ورکړی خدای دوی ته اُجُوۡرَہُمۡ هغه اجرونه د دوی چې وعده ئې ور
سره کړی ده وَیَزِیۡدُہُمۡ او زیات به ورکړی د دوی ته مِّنۡ فَضۡلِہٖ ۚ له فضله خپله
وَاَمَّا الَّذِیۡنَ اسۡتَنۡکَفُوۡا او هر چې هغه کسان دی چې ننگ کوی وَاسۡتَکۡبَرُوۡا او

عه یعنی له سره شرم نه دریږی وعیسیٰ علیه السلام ته ۱۲

لوئی کوی له عبادته د خدای فَيُعَذِّبُهُمْ پس عذاب به ورکړی دوی ته خدای عَذَابًا اَلِيمًا ۙ
عذاب دردناک وَّلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ او نه به کی پیدا دوی خپل ځان لره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ بغیر
له خدایه وَلِيًّا دوست هیڅوک وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۷۳﴾ او نه مددګار يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ای خلکو قَدْ
جَآءَكُمْ به تحقیق سره راغلی دی تاسې ته بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ دلیل او حجت له طرفه
د ربه ستاسې چې هغه رسول علیه السلام دی وَاَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكُمْ او رالیږلی دی مونږ تاسې ته
نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿۱۷۴﴾ رڼا ښکاره چې قرآن دی فَاَمَّا الَّذِيْنَ پس هر چې هغه کسان دي اٰمَنُوْا
بِاللّٰهِ چې ایمان ئې راوړی دی پر خدای وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ او منګولې ښخې کړی دی په خدای
یا په قرآن فَسَيُدْخِلُهُمْ پس ژر ده چې داخل به کړی خدای دوی فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ
په هغه رحمت کښې چې دده له جانبه دی چې جنت دی وَفَضْلٍ ۙ او په هغه زیات شی
کښې له رحمته چې رضوان او دیدار دی وَّيَهْدِيْهِمْ او وبه ښیی خدای دوی ته اِلَيْهِ
خپل ځان ته یا دی فضل ته صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۱۷۵﴾ لاره سمه برابره چې اسلام او طاعت
دی په دنیا کښې روایت دی چې جابربن عبد الله انصاری مریض وو او رسول علیه السلام
ئې پوښتنې لره ورغلی او ده وویل چې زه کلاله یم او خوېندی لرم نو دا مال خپل
څه کړم؟ نو نازل شو يَسْتَفْتُوْنَكَ ۭ طلب د فتوٰی کوی دوی له تا څخه په میراث
د کلاله کښې قُلِ اللّٰهُ ورته ووایه چې خدای يُفْتِيْكُمْ فتوٰی درکوی یعنی حکم کوی پر
تاسې فِي الْكَلٰلَةِ ۭ په میراث د کلاله کښې اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ که یو سړی مړ شي دا سې
سړی لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ چې نه وی ده لره فرزند نارینه ځکه چې دی محروم کوونکی خور
دی وَّلَهٗۤ اُخْتٌ او وی ده لره یوه خور عینیّه یا علاتیه ځکه چې اخیافی حکم ئې
تېر شو فَلَهَا پس مقرر دی دی لره نِصْفُ مَا نیم د هغه مال تَرَكَ ۚ چې پرایښی دی
میت وَهُوَ يَرِثُهَاۤ او دا ورور چې دی میراث وړی له خوره درست مال د دی که
دا مړه شوه او ورور ئې ژوندی وو اِنْ لَّمْ يَكُنْ که نه وه لَّهَا وَلَدٌ ۭ دی لره
فرزند نارینه ځکه چې دی مسقط د ورور دی فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ پس که وی دا

خویندی دوی فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ پس مقرر دی دوی لره دوه ثلثه مِمَّا تَرَكَ ط له هغه ماله
چې پریښې دی میت وَاِنْ كَانُوْٓا اوکه وو دا وارثان اِخْوَةً ورونه او خویندی رِّجَالًا
وَّنِسَآءً نارینه او ښځې سره گډې ودې فَلِلذَّكَرِ پس مقرر دی هر نارینه لره مِثْلُ
حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ط په قدر د برخې د دوو ښځو يُبَيِّنُ اللّٰهُ بیانوی خدای لَكُمْ تاسې ته
احکام د میراث اَنْ تَضِلُّوْا ط چې مبادا خطا نشئ په دی احکامو کښې وَاللّٰهُ او خدای
ع ۲۴ ۳ بِكُلِّ شَيْءٍ پر هر شئ له مصالحو د حیات او د ممات د عبادو عَلِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾ سبه دانا
دے چې هر امر او نهی په مقتضے د حکمت بالغه سره کوی



يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مومنانو اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ط وفا کوی په ټولو عهدو سره
چې عهد د خدای دی له تاسې سره چې او امر او نواهے دی دده او بل عهد ستاسې دی له خدای
سره لکه نذرونه او قسمونه شول او بل عهد ستاسې دی له نورو خلگو سره لکه امانت
یا شرکت شو یا نور اُحِلَّتْ لَكُمْ حلال کړه شوی دی تاسې ته پس له ذبحې بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ
چارپایان د حیواناتو لکه اوښان او غوایان او پسونه او وزې شوی او همدا سې صحرائي
چارپایان هم لکه هوسۍ او سوی او دا سې نور شوه اِلَّا مَا مگر هغه قسم چاروې يُتْلٰى
عَلَيْكُمْ چې ګکښې به لوستل کیږی پر تاسې غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ په دی حال کښې چې حلال
بلونکی نه اوسې تاسې ښکار د وچې وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ط او حال دا چې تاسې احرام تړلے وی د
حج یا د عمرې اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بیشکه خدای حکم کوی په حق د حلالو او د حرامو کښې مَا
يُرِيْدُ ﴿۱﴾ په هر هغه شان چې اراده ئې وشی روایت دی چې شریح بن ضبیعه
دیمامی چې په جهل او په ناپاکی او په بیباکی سره مشهور وو رسول علیه السلام لره راغلے
چې ته دا خلق وڅه کار ته بولے ده وویل وحدانیت د رب ته او تصدیق د رسالت خپل
ته بیا شریح وویل چې زه به هم له خپلو دوستانو سره مصلحت وکړم که اجازه ئې وکړه نو

ے یعنی په ښو ښو کارو دوه واړه ځایونه ۱۲

زړه به هم ایمان راوړم بیا چې روان شو نو مدینې او بنان او نوره دنګرلۍ هم په دکه کړه او یما ی لره ئې بوتله بیا چې رسول علیه السلام قضاء راوړلو د هغه عمرې لره روان شو چې په کال د حدیبیې ئې احرام تړلے وو او کفارو د مکې مُندی حصار (بند) کړی نو اصحابو په لار کښې شریح ولیدی چې مکې ته روان وو او او بنان ئې قلاده کړی وه چې بیت الله شریفې له ئې بیوله نو دوی اراده وکړه چې دی قتل کړو او دا او بنان مُندی واخلو نو نازل شو يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے مؤمنانو لَا تُحِلُّوْا مه حلالوی او مه بے حرمته کوی شَعَآئِرَ اللّٰهِ نبنی د خدای چې هغه اعمال او مواقف دحج دی یا احکام د دین دی وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ او نه میاشته حرامه په قتال سره په دې کښې وَلَا الْهَدْيَ او نه هغه هدی یعنی پیشکشی له حیواسه چې د کعبې په نامه کړی وی اما بې قلادې وَلَا الْقَلَآئِدَ او نه هدیے چې قلاده داری وی او ذکر د قلائد و پس له ذکره د هدیې له جهته د شرافته دی او قلاده هغه شے دی چې په غاړه د حیوان کښې واچول شے مثلا څپلۍ یا د خرماوو د پوستکی ټوټه چې هیڅوک ورته غرض نه کوی وَلَا آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ او نه ورتلونکی کعبې شریفې ته د پاره د حج یا د عمرے يَبْتَغُوْنَ په دې حال کښې چې غواړی دوی فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ ثواب له ربه خپله که مسلمانان وی او سوده سوداګری کښې که کافران وی وَرِضْوَانًا او رضا مندی که مسلمانان وی او نبه معاش د دنیا که کافران وی وَاِذَا حَلَلْتُمْ او بیا چې حلال شی تاسے یعنی له احرامه و تلاست فَاصْطَادُوْا پس ښکار کوی که خواهش ئې لری وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ او نه دې باعث کوی او اړ کوی تاسے شَنَاٰنُ قَوْمٍ د ښمنی او بغض د ټولې د کفارو د قریشو اَنْ صَدُّوْكُمْ له دې جهته چې حصار کړی واستوی تاسے په کال د حدیبیې کښې عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ له طوافه د مسجد حرام د پاره د عمرې یعنې دا بغض دی تاسے نه باعث کوی اَنْ تَعْتَدُوْا ام پردې چې تیر شئ تاسے له خپله حده او حرمت د دی تیرو شیانو مات کړی او دا په تاویله اَنْ مصدری سره مفعول دی د لایجرمنکم او د دې آیت حکم تر دې ځایه پورې وقف لازم

او س منسوخ دی غیرله بنکاره وَتَعَاوَنُوْا او مددگاری کوی یو تر بله سره عَلَى الْبِرِّ په نیکی وَالتَّقْوٰى ص او په ترک د بدی وَلَا تَعَاوَنُوْا او مه کوی سره مددگاری عَلَى الْاِثْمِ پر گناه وَالْعُدْوَانِ ص او پر بدی وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او وه بیریږی له خدایه نو بے فرمانی مه کوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲﴾ خاوند د ډیر سخت عذاب دی هر کله چه رب العزت اراده د بیان د هغه حراموا شیاؤ وکړه چه وعده ئی کړی وه په الاما یتلی علیکم سره نو نازل شو حُرِّمَتْ حرام کړی شویدی عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ پر تاسے لس شیان یو مرداره چه بی ذبحی مره وی غیرله ماهی او ملخه۔ وَالدَّمُ او دوم هغه وینه چه بهید ونکی دی وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ او دریم غوښه د خنزیر او همدا سے نور اجزا ئی هم لکه وینبته، پوستکی، وازگه او هډوکی وَمَا اُهِلَّ او څلرم هغه مذبوحه چی یاد کړه شوی وی لِغَيْرِ اللّٰهِ د بل چا په نوم بے له خدایه په هغه مذبوحه لکه کفار و به چه په وخت د ذبح کینے نوم د لات او د منات او د عزیٰ پر یادول وَالْمُنْخَنِقَةُ او پنځم هغه مره چه په خفه کید لو سره ئے سا ختلے وی لکه په دام کینے چه خفه شوی وی یا چا په لاس له مری (په غاړه) خفه کړی وی لکه چه کفار به په د غه شان مری کولے او بیا به ئی خوړلی وَالْمَوْقُوْذَةُ او شپږم هغه مره چه په کوتک یا په غونډ تیږه چا وهلے وی وَالْمُتَرَدِّيَةُ او اووم هغه مره چه لوید لے وی له غره یا له کمری یا په کوهی کینے وَالنَّطِيْحَةُ او اتم هغه مره چه ډنگر په ښکرو وهلے وی وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ او نهم هغه مره چه خوړلی وی ځندی د رنده گانو ځنے قدره او بیا ځندی سا ختلی وی اِلَّا مَا مگر هغه مره له دی پنځو سره وو وره وستیو ځنے ذَكَّيْتُمْ قف چه بیا ذبح کړی وی تاسے په دی حال کینے چی سالا پکښی وی وَمَا ذُبِحَ او لسم هغه مره چه ذبحه شوی وی عَلَى النُّصُبِ پر هغه دری سوه شپیتو ولاړ و تیږو چه گرد چاپیره ولاړ وی او دوی به قربانی پر کولی دپاره د تعظیم د دوی او یا مراد ځندی مطلق بُتان دی چه د دوی د تعظیم دپاره کوم حیوان ذبح کړه شی

روایت دی چه عادت د جاهلیت د خلګو داو وچه درے غشی به ئ توبرو او بے پرو به ئے په کڅوړو کښے ساتلے وو چه په یوه غشی به لیکل شوی وو امرنی ربی او بل نهانے ربی او دریم به تش وو بیا به وخت د هر مهم کښی به ئ په کڅوړه کښے ننه ایستی نو که به ئ غشی د امرنی ربی لاس لره راغلی نو هغه کار به ئ کاوو او که به ئے د نهانی ربی راغلی نو نه به ئ کاوی او که به تش راغلے نو بیا به ئ اعاده وکړه او یا چه او بنان به ئ حلالول نو غوښے به ئ په دی غشو سره پچیلو کی سره برخه کولے بیا هر کله چه رب العزت اراده د منع وکړه له دی کاره نو نازل شو وَاَنۡ تَسۡتَقۡسِمُوۡا او بل دا حرام دی چه قسمت د خیر او شر خپل غواړی او معلوموی تاسے بِالۡاَزۡلَامِ ؕ په غشو سره دا قسمت خپل معلومول یا دا برخه کول په دی غشو چه دی ذٰلِكُمۡ فِسۡقٌ ؕ فاسق توب دی او وتل دی له طاعته در به او حکم دی په غیب چه هغه خاصه د رب ده اَلۡيَوۡمَ نن ورځ یعنے او س پس له دی يَئِسَ الَّذِيۡنَ ناامیده شوی دی هغه کسان كَفَرُوۡا چه کافران مِنۡ دِيۡنِكُمۡ له دینه ستاسے یعنی له دی چه بیا به دوی دا دین خراب کړی یا غلبه به پرو کړی فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ پس مه بیریږی له دوی څخه وَاخۡشَوۡنِ ؕ او بیریږئے له ما څخه روایت دی چه رسول علیه السلام په ورځ د حج اکبر پر عرفات ولاړ وو چه دا اخر ایت د قرآن نازل شوا لۡيَوۡمَ نن ورځ چه د حج اکبر ورځ ده اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ پوره کړی ما تاسے ته دِيۡنَكُمۡ دین ستاسے چی پس له دی به نسخ پکښے له سره نه واقع کیږی وَ اَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ او پوره کړی ما پر تاسے نِعۡمَتِىۡ نعمت خپل په پوره کولو د دین یا په هدایت او په توفیق یا په فتح د مکی او په نزولو د بیرغو د کفر سره وَرَضِيۡتُ او غوره کړو ما لَـكُمُ الۡاِسۡلَامَ تاسے ته اسلام دِيۡنًا ؕ دین او بیا تاسے می اګاه کړی په دی خبره چه غوره او قبول دین هم دا دی په توولو دیا نو کښے په دے

عه یعنی حکم کړی دی ما ته ربنا ۱۲ عه یعنی منع کړی یم نره رب خپل ۱۲ سه چه دا حج وداع وو یعنی پیغمبر د خدای پس له نازلیدلو د دی ایت او پس له دی څخه یواتیا ورځے شرونده وو او بیا ئے سفر (رحلت) وکړی له دی فانی دنیا څخه ۱۲

په دی ایت سره چې ومن یبتغ غیرالاسلام دینًا فلن یقبل منه الآیة هرکله چې رب
العزت حرمت ددی لسواشیاؤ بیان کړی نواوس ئے بیا اباحت ظاهروی لیکن په
حال دضرورت کښی نوځکه وائے فَمَنِ اضۡطُرَّ پس هرهغه څوك چې اړکړه شوفِیۡ
مَخۡمَصَةٍ په وخت دډیرے غالبے لوږی کښے اوپه قدر ددفعې دحاجت ئے
خوراك ځندی وکړی غَیۡرَ مُتَجَانِفٍ په دی حال کښے چې نږه ئے مائل شوی نه
وی لِّاِثۡمٍ ۙ گناه ته یعنی خوراك ته محض دپاره دلذت یا تیری له حاجته چې
هغه په قدرد ساتلو دسادی فَاِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای غَفُوۡرٌ بخښونکی دی
په دی بره ئے نه نیسی رَّحِیۡمٌ ③ مهربانه دی ځکه داحرام ئے په حال دضرورت
کښی مباح کړی دی روایت دی چې عدی بن حاتم اوزید بن جبل رسول علیه السلام
لره راغلے چې موږ ښکارکوو په سپیو او په مرغانواوبیا میلما نه خپل په عذرکوو
اوکله کله ښکار لاش وندی وی چې وروسیږ ونوحلال ئے کړو اوکله ئے زموږ
تر سید و دمخه لاوژلی وی نواوس په دوی کښے حلال اوحرام موږ ته بیان
کړه نونازل شو یَسۡـَٔلُوۡنَكَ پرسان (پرښتنه) کوی دوی له تا څخه مَاذَاۤ اُحِلَّ لَهُمۡ ؕ
چې کوم شے حلال کړه شویدی دوی ته دخوراك په شیانوکښے قُلۡ اُحِلَّ ووایه
ورته چې حلال کړه شوی دی لَكُمُ الطَّیِّبٰتُ ۙ لا تاسے ته هغه پاکیزه مذبوحے چې نوم
دخدای پریاد شوی وی وَمَا اوبل حلال دی نیولے دهغه ښکاریانوعَلَّمۡتُمۡ چې
ښوونه ورته کړی وی تاسے مِّنَ الۡجَوَارِحِ له څولوا قسامو ښکارکونکو څخه که
چارپایان وی لکه سپی یا چیتته اوکه مرغان وی لکه باز یا باښه یاشرخ یاشاهین
مُكَلِّبِیۡنَ په دے حال کښے چې ښوونه کونکی اوسی تاسے تُعَلِّمُوۡنَهُنَّ چې زده کوی تاسے
وددی ښکارکونکوته مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ؗ له هغه علمه چې زده کړی دی تاسے ته خدای
فَكُلُوۡا مِمَّاۤ پس خورئ له هغه ښکار څخه اَمۡسَكۡنَ عَلَیۡكُمۡ چې ساتلے دی دوی تاسے ته او
خوراك ئے ځندی نه وی کړی اگرکه ئے وژلے وی هم داهلته که ښکار دچارپای وواوکه

عه چیتته درعربے فہد ودرفارسے یوز گویند ۱۲

د مرغه وولو خوراك ئې مطلق روادی که ئې ځندی خوړ لی وی اوکه نه وی اودا معنیٰ هلته ده که دا ما موصوله وی اوکه شرطیه وی نو معنیٰ به ئې هم دا سے شی چې اوهرچې هغه دی له ښکار یا نولولی وی تاسے اوښوونه ورته تاسے کړی وی له هغه علمه چې درښودلے کړی دی تاسے ته خدای نو که کوم شی درلره ونیسی نو خوری له هغه څخه چې درلره ساتلی ئے وی نو دا سره شرط او جزا شوه وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ اویاد وی نوم د خدای عَلَيْهِ ص پر هغه ښکار باندی په وخت د ذبحې کښے یا پر هغه ښکاری حیوان باندے په وخت د آیله کولو کښے وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او بیریږی له خدایه او حرام مه خوری اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چې خدای سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۴﴾ دیر جلت (زر کونکی) دی په حساب کښے او یوه ذره ئې هم نه هیریږی اَلْيَوْمَ اُحِلَّ نن ورځ حلال کړه شوی دی لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ط تاسے ته هغه پاکیزه شیان چې حرمت ئې په خلوړ واصولو کښے نه دی پیدا شوی وَطَعَامُ الَّذِيْنَ او طعام د هغه کسانو اُوْتُوا الْكِتٰبَ چې ورکړه شوی دی کتاب وروی ته یعنی یهود او نصاریٰ حِلٌّ لَّكُمْ ص حلال دی تاسے ته که مذبوحه وی اوکه نورڅه وَطَعَامُكُمْ او همدا سے هر قسم طعام ستاسے چې دی حِلٌّ لَّهُمْ ز حلال دی دوی لره یعنی تاسے ته به ورکوا و طعام کښے ودوی ته هیڅ باك نشته وَالْمُحْصَنٰتُ او همدا سے حلالی دی تاسے ته اصیلی یا پرهیزگاری مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ له مؤمنو ښځو څخه او دا قید د محصنا تو استحبابی دی نه احترازی ځکه چې مینځې هم روادی وَالْمُحْصَنٰتُ اوهمدا سے حلالی دی تاسی ته اصیلی یا پرهیزگاری مِنَ الَّذِيْنَ له هغو کسانو څخه اُوْتُوا الْكِتٰبَ چې ورکړه شوی دی دوی ته کتاب مِنْ قَبْلِكُمْ مخکی تر تاسے اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ په هغه وخت کی چې ورکړی تاسے دوی ته اُجُوْرَهُنَّ مهرونه د دوی مُحْصِنِيْنَ په دی حال کښے چې نکاح کونکی اوسے تاسے غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ نه زناکونکی په ښکاره وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ط او نه نیونکی دیارانو په پټه وَمَنْ يَّكْفُرْ او هرچا چې کفر اختیار کړی بِالْاِيْمَانِ په ایمان پوری یعنی انکار ئې وکړی د احکامو شرعیه وو څخه فَقَدْ حَبِطَ پس په تحقیق خراب او باطل

عه یعنی چه ښکار ته ئے لیږی ۱۲ عصه څلور و دلیلو کښی چې قرآن او حدیث او اجماع او قیاس دے ۱۲

شو عَمَلُهٗ زعمل دده وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ او دی چې دی وی به په هغه جهان کښې مِنَ
ع ١ ٥ الْخٰسِرِيْنَ ⑤ له زیکارانو څخه يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِذَا قُمْتُمْ په
هر وخت کې چې ولاړ سے تاسے اِلَى الصَّلٰوةِ ولمانځه ته او بے اودسه یاست فَاغْسِلُوْا
پس مینځئ تاسے وُجُوْهَكُمْ مخونه خپل له ویښتانو څخه ترزنے پورې او د یوی نرمے
څخه د غوږ بیا تر بلے پورې وَاَيْدِيَكُمْ اولاسونه خپل اِلَى الْمَرَافِقِ ترڅنګلو پورے
وَامْسَحُوْا او مسح وکړئ بِرُءُوْسِكُمْ پرسرونو خپلو چې په نزد د امام اعظمؒ څلرمه
برخه د سر ده وَاَرْجُلَكُمْ او مینځئ پښی خپلی اِلَى الْكَعْبَيْنِ ط تر پړکوز بجلکو، پورې وَاِنْ
كُنْتُمْ جُنُبًا او که وی تاسے په جنابت کښے فَاطَّهَّرُوْا ط پس ځان بنه پاك کړئ په غسل
سره وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى او که وی تاسے رنځوران چې او بو د رته ضرر رسا وی یا ورتلا ے
نه سواست اَوْ عَلٰى سَفَرٍ یا پرسفر واست اَوْ جَآءَ یا راسے اَحَدٌ مِّنْكُمْ یو له تاسے مِّنَ
الْغَآئِطِ له ځایه څخه د بولو یعنے بولے وکړی اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ یا جماع وکړی له ښځو
سره فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً پس بیا نه کی پیدا تاسے او به ځکه چې کروه لیرې وی یا بیره وی
د دښمن یا د غلو یا د لیوانو یا د کوهے بوقه او رسی نه وی یا خرخیږی او مبلغ نه وے
فَتَيَمَّمُوْا پس عزم او قصد وکړی صَعِيْدًا طَيِّبًا د ځمکی پاکی یا د هرهغه شی چې له جنسه
څخه د ځمکی وی او یو وار وو هے پرهغه باندی دوارہ لاسونه خپل فَامْسَحُوْا پس
وه موږی د الاسونه بِوُجُوْهِكُمْ پرمخانو خپلو او دویم وار ئی بیا و وهی وَاَيْدِيْكُمْ
او وه موږئ پرلاسو خپلو مِّنْهُ ط له دغه صعید طیب څخه لیکن پرطریقه د استیعاب
سره مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اراده نه لری خدای په دی تکالیفو سره لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ چې واچوی
پرتاسے مِّنْ حَرَجٍ څه تنګوالے یا سختے وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ او لیکن اراده لری د دی لِيُطَهِّرَكُمْ
چې پاك کړی تاسے له حدثه یا له جنابته یا له ګناه ځکه چې اودس کفارت دی د ګناهو
وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ او چې پوره کی نعمت خپل عَلَيْكُمْ پرتاسے په رواکولو د تیمم سره
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ⑥ بناڼی چې تاسے شکر ګذاره شے پر نعمتو د ده وَاذْكُرُوْا او یاد

عه یعنے راګیرول د مخ او د لاسو ١٢ کبنی ایستل ١٢

کړی نِعۡمَةَ اللّٰهِ هغه نعمت د خدای چه پیرزو کړی ئې دی عَلَيۡكُمۡ پر تاسې په
اسلام سره وَمِيۡثَاقَهُ الَّذِيۡ او بل یاد کړی هغه عهد ده وَاثَقَكُمۡ بِهٖۤ لا چه
محکم عهد ئې اخیستی دی له تاسې څخه په هغه شي چې عهد دی د الست یا د لیلة
العقبة یا د بیعة الرضوان اِذۡ قُلۡتُمۡ چه وویل تاسې سَمِعۡنَا واوریده مونږ قول
ستا وَاَطَعۡنَا ز او قبول کړو مونږ فرمان ستا وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او وه بیریږئ له خدا
څخه او عهد مه ماتوئ اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلِيۡمٌ ۢ بنه خبردار دی بِذَاتِ
الصُّدُوۡرِ ⑦ پر هغه شیانو چه په سینو کښې پټ دی يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا اے
ټولیه د مؤمنانو كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ اوسی محکم و لاړ پر حق لِلّٰهِ شُهَدَآءَ خدای لره
شاهدان بِالۡقِسۡطِ ز په عدل سره وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ او نه دی اړ کوی تاسې شَنَاٰنُ قَوۡمٍ
د ښمنی او بغض د ټولے د مشرکانو یعنې نه دی باعث کوی تاسې عَلٰۤى اَلَّا تَعۡدِلُوۡا ؕ
پر دی کار چه انصاف به نه کوی په باب دد وی کښې او عهد به ما توی دا سې مه کوی
بلکه اِعۡدِلُوۡا قف عدل کوی هُوَ دا عدل چه دی اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰى ز ډیر نژدې دے پرهیزگارۍ
ته وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او وه بیریږئ له خدایه نو ظلم مه کوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای
خَبِيۡرٌ ۢ بنه خبردار دی بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ⑧ په هغه کار و چه کوی ئې تاسې که ظلم وی او
که عدل وی وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ وعده کړی ده خدای له هغه کسانو سره اٰمَنُوۡا چه ایمان ئې
راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لا او عملونه کوی د نیکو او هغه وعده دا ده چه لَهُمۡ
مَّغۡفِرَةٌ ده دوی لره بخښنه وَّاَجۡرٌ عَظِيۡمٌ ⑨ او اجر ډیر لوی وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا او
هغه کسان چه کافران شوی دی وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَاۤ او نسبت د دروغو کوی ایتونو زموږ ته
یعنې قران ته اُولٰٓـئِكَ دا کسان چه دی اَصۡحٰبُ الۡجَحِيۡمِ ⑩ ملګری د دوزخ دی روایت
دی چه رسول ؐ سره له څلورو یارانو یوه ورځ بنی قریظه وو لره راغلی د پاره د
قرض کولو او دوی وویل چه درکوو ئے کښینه بیا چه د دیوال څوا ته کښیناسته
نو عمرو بن جحاش یوه ډیره لویه پلنه تیږه راوخیسته او سر بیره پر بام راغلی چه د بام

دسره نے پرا وغوړځوی لو في الحال جبرائیل علیه السلام راغلے او دی نے دهغه ځایه
راولاړکړی نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا اے هغو کسانو چه مؤمنان یئ یادکړئ
نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ هغه نعمت د خدای پرتاسے اِذْ هَمَّ قَوْمٌ چه اختیار وکړی یو قوم
دکفارو اَنْ يَّبْسُطُوْٓا ددی چه راوغوړځوی دوی اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ تاسے ته لاسونه
خپل دپاره دقتل فَكَفَّ پس حصار کړه خدای اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ج لاسونه ددوی له تاسے
وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او وویریږئ له خدایه نو دا نعمتونه مه هیروی وَعَلَى اللّٰهِ او خاص په
خدای فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑪ بنائی چه توکل دی وکړی مؤمنان. روایت دے
چه هر کله فرعون غرق شو او موسٰے علیه السلام بیرته مصر ته راغلے نو مامور شو په ورتلو
شام ته دپاره د جنګ دایلیا او داریحاله جبارانو کفارو سره او دا دواړه ښارونه دے
دکنعان چه له توابعو دشام دی او دشام نږدے ښاره او دهر ښار به ئ زر باغونه
وو او یو وږے دانګور و به نے پنځو سړیو پورته کولای نشو او نیم قولی دانار
لاندی به نے پنځه سړی کښیناستل او دا جباران چه په عمالقه مشهور وو او ته
سوه ګزه به اوږده وو او یو پکښې عاج نومی وو چه دری زره او دری دیرش ګزه ئ
قد وو او دری زره کاله نے عمر وو چه موسٰے ؑ اریحا ته نږدی شو او له خپله قومه
ئ عهد واخستی چه جنګ به کوو له دښمن سره او تیښته به نه کندی کوو نو دوولس
کسه جاسوسان نے ورولیږل چه احوال د هغو خلکو راوړی خو یو چه دا نور به
خبر نشے بیا چه دوی بیرته راغله نو ټول خپل قوم لے په خبر کړو بیله یوشع بن نون او
کالب بن یوقنا چه دی دواړو وبل چا ته ونه ویل او دا حال چه قوم واوریدی نو هغه
عهد ئ مات کړو او ټول پرشا ولاړل لکه چه وائی وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ او په تحقیق سره
واخسته خدای مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ج عهد له بنی اسرائیلو څخه په متابعت د موسٰے[1]
او په جنګ کولو له جبارانو سره وَبَعَثْنَا او وه لیږل موږ عمالقه وو ته مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ
له دوی څخه دوولس کسه نَقِيْبًا ط مشران یو هنده له قومه دپاره د راوړلو د احوالو

[1] څه دا خطا دی عمل په کول بنه نه دی ١٢

دهغو وَقَالَ اللّٰهُ او وویل خدای اِنِّیْ مَعَکُمْ چې بیشکه زه له تاسې سره یم په مدد گار
کېنې پر دښمنا نوا و نور ئے وړته وویل لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ قسم دی که بر پای لری
تاسې لمونځ خپل سره له تولو حقوقو دهغه وَاٰتَیْتُمُ الزَّکٰوةَ او ورکوی تاسې زکوٰة
خپل مستحقانولره وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ او ایمان راوړی پر رسولانو زما وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ
او تعظیم کوی د دوی او مددگاری هم ورسره کوی وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ او قرض ورکوی
خدای ته یعنی ورکړه کوی دده په لار کېنې قَرْضًا حَسَنًا ښه ورکړه یعنی بی منته بی ضرره او
جواب دقسم دادی لَاُکَفِّرَنَّ هرائینه به ورژم عَنْکُمْ سَیِّاٰتِکُمْ له تاسې گناهونه
ستاسې وَلَاُدْخِلَنَّکُمْ او هرائینه داخل به کړم تاسې جَنّٰتٍ تَجْرِیْ په داسې باغونو کېنې
چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ج تر لاندی د ونو دهغو ولې ښلورسره قسمه داوبو
دشیدو، دشرابو، دشاتو فَمَنْ کَفَرَ پس هر څوک چې کافر شي بَعْدَ ذٰلِکَ پس له دی عهد
او میثاق څخه مِنْکُمْ له تاسې څخه فَقَدْ ضَلَّ پس په تحقیق گمراه شو او ورکه ئې کړه
سَوَآءَ السَّبِیْلِ ⑫ سمه لاره دحق بیا هرکله چې بنی اسرائیلو پر هغه عهد خپل وفا
ونه کړه نو حکم رب العزت وویل فَبِمَا نَقْضِهِمْ پس په سبب دما تولو ددوی او دا مَازائده
دی مِّیْثَاقَهُمْ عهد خپل لَعَنّٰهُمْ ورتل موږ دوی له رحمته خپله یا موږ مسخ کړه
یا جزیه پر کښینښوه موږ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ او کړه موږ زړونه ددوی قٰسِیَةً سخت
چې په هیڅ پند نه اخلی یُحَرِّفُوْنَ الْکَلِمَ چې گرزوی عبارتونه د تورات یا نعت د رسولﷺ
عَنْ مَّوَاضِعِهٖ لا له ځایو خپلو او په خپله مدعا ئې اړاروی وَنَسُوْا حَظًّا او هیره کړی دده
دوی غته برخه مِّمَّا ذُکِّرُوْا بِهٖ ج له هغه شي چې پند ورکړه شوی وو دوی ته په هغه
شي چې پند ورکړه شوی وو دوی ته په هغه شي په تورات کېنې چې هغه متابعت وو د
رسول ﷺ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ او همیشه به ئې ته چې مطلع کیږی به ته عَلٰی خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ په
خیانت لددی یهودو څخه اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْهُمْ مگر کم له دوی لکه ابن سلام او ملگری دده
فَاعْفُ عَنْهُمْ پس عفوه وکړه له دوی د تیروکار وکه له تیروتو به وویاسې او پس له دی

ایمان راوړی وَاصْفَحْ ۱۰و مخ ګرځوه ددوی نه یعنی عفو وکړه که جزیه قبلوی یا عفوه او صفح د واړه مطلق
دی او دا آیت منسوخ دی په آیت د سیف سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چی خدای یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ⑬
خوښوی نیکوکاران وَمِنَ الَّذِیْنَ او له هغه کسانو څخه او دا مِن تعلق نیسی په مخکینی اخذنا
پوری قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓی چی وائی دوی بیشکه موږ نصرانیان یو اَخَذْنَا مِیْثَاقَهُمْ اخستی
وو موږ عهد ددوی څخه لکه د یهودو فَنَسُوْا حَظًّا پس هیره کړه دوی ونډه برخه مِّمَّا
ذُكِّرُوْا بِهٖ ۪ له هغه شی چی پند ورکړه شوی وو دوی ته په هغه شی په انجیل کښی چی
هغه متابعت وو د رسولﷺ فَاَغْرَیْنَا پس واچوله موږ بَیْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ په مابین ددوی
کښی سره د ښمنی وَالْبَغْضَآءَ او بغض اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ ؕ تر ورځې د قیامت پوری په دی
شان چی دوی دری طائفی شوی یوه نسطوریه چی وائی عیسیٰ ؑ زوی د خدای دی
او دویمه یعقوبیه چی وائی دی پخپله خدای دی او دریمه ملکائیه چی وائی خدایان
دری دی او دی یئ دریم دی نعوذ باللّٰه منها او یا هغه عداوت مراد دی چی ددوی او
د یهودو په مینځ کښی دی وَسَوْفَ یُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ او ژر دی چی خبر به کړی دوی خدای
بِمَا كَانُوْا په هغه کار وچی وو دوی یَصْنَعُوْنَ ⑭ چی کول به ئی یٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ ای اهل
کتابو یعنی یهودو او نصاراؤ قَدْ جَآءَكُمْ په تحقیق راغلی دی تاسی ته رَسُوْلُنَا
استاذی زموږ یُبَیِّنُ لَكُمْ چی بیانوی تاسی ته كَثِیْرًا مِّمَّا ډیر له هغه شیانو كُنْتُمْ
تُخْفُوْنَ چی واست تاسی پټوا چی پټول مو مِنَ الْكِتٰبِ له تورات څخه لکه نعت د رسولﷺ او
آیت د رجم او هم له انجیل څخه لکه زیری د عیسیٰ په احمد سره وَیَعْفُوْا عَنْ كَثِیْرٍ ؕ
او تیریږی له ډیرو پټو ستاسی یا له تاسی ډیرو قَدْ جَآءَكُمْ په تحقیق سره راغلی دی
تاسی ته مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ له خدایه نور یعنی رڼا چی رسول دی وَّكِتٰبٌ مُّبِیْنٌ ⑮ او کتاب
واضح چی قرآن دی یَّهْدِیْ بِهِ اللّٰهُ چی ښائی په دی نور یا کتاب سره خدای مَنِ اتَّبَعَ
رِضْوَانَهٗ هر هغه چا ته چی پیروی کوی دی د رضا مندی دده سُبُلَ السَّلٰمِ لاری د
سلامتیا له عذابه یا د سلام چی نوم دی د خدای یا د جنت وَیُخْرِجُهُمْ او راوباسی دوی

مِّنَ الظُّلُمٰتِ له تاریکیو د کفر یا د شکه یا د جهله اِلَى النُّوْرِ ورنا دایمان یا د یقین یا د علم ته بِاِذْنِهٖ په اراده او په توفیق خپل سره وَيَهْدِيْهِمْ او برابروی دوی اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (۱٦) ولاری سمی ته لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ په تحقیق سره کافران شویدی هغه کسان ـ قَالُوْٓا چه وائی دوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چی دی هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ط هم دا مسیح دی زوی د بی بی مریمی ځکه چه ژوندی کول او پیدا کول او وژل د دری سره کولای شی او دا خاصه د خدای ده فائدۃ :ـ دا جاهلان په دی خپل قول پردی ځکه چه دوی بی پلاره زوی د بی بی مریمی بولی او هر زوی خو حادث وی او حادث لائق د خدائی نه دی قُلْ ووایه ورته فَمَنْ يَّمْلِكُ پس هغه څوك دی چه اختیار لری د منع مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا له خدایه د کوم شی یعنے نه ئی لری اِنْ اَرَادَ که اراده وکړی دی اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ د دی چه هلاك کړی دی مسیح زوی د مریمی وَاُمَّهٗ او مور د ده وَمَنْ فِى الْاَرْضِ او نور هم هر هغه څوك چی په ځمکه کښے دی جَمِيْعًا ط ټول وَلِلّٰهِ او خاص خدای لره ده مُلْكُ السَّمٰوٰتِ بادشاهی د اسمانو وَالْاَرْضِ او د ځمکی وَمَا بَيْنَهُمَا ط او هر هغه چه په مینځ د دوی کښی دی يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ط پیدا کوی هر هغه چه اراده ئی وشی کله له پوازی نارینه ځخه بیله ښځی لکه بی بی حوا له آدم ځخه او کله له پوازی ښځی ځخه بیله نارینه لکه عیسیٰ له بی بی مریمی ځخه او کله بے دواړو لکه بے پلاره آدم علیہ السلام شو او کله له دواړو ځخه لکه د انور خلك چی شوه وَاللّٰهُ او خدای عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ (۱۷) په هر شی بنه قادر دی وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ او وائی یهود وَالنَّصٰرٰى او نصارای هم نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ چه موږ زامن یو د خدای یعنے دی پر موږ داسے مهربانه دی لکه پلار او موږ داسے ورته ګران یو لکه زامن وَاَحِبَّآؤُهٗ ط او دوستان یو د ده قُلْ ووایه ورته فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ پس نو ولے په عذابوی تاسے بِذُنُوْبِكُمْ ط په ګناهو ستاسے په دنیا کښے په قتل او په بند سره او په آخرت کښی په دوزخ سره بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ بلکه تاسے هم آدمیان یاست پیدا شوی مِّمَّنْ خَلَقَ ط بعضی له هغه خلکو ځخه چه

ے ولے پلار خو زوی او لور ته ادب ورکوی خو په عذابوی ئی نه ۱۲ جامع البیان

پیدا کړی دی ده او اختیار هم د ده دی یَغْفِرُ بخښنه کوی لِمَنْ یَّشَآءُ هغه چا ته چې
اراده ئې وشي وَیُعَذِّبُ مَنْ یَّشَآءُ ط او په عذاب وی هغه څوک چې اراده ئې وشي
وَلِلّٰهِ او خاص خدای لره دی مُلْكُ السَّمٰوٰتِ بادشاهي د اسمانونو وَالْاَرْضِ او د ځمکې
وَمَا بَیْنَهُمَا او د هر هغه چې په مینځ د دوی کښې دی وَاِلَیْهِ الْمَصِیْرُ ﴿۱۸﴾ او خاص هم
ده ته دی بیا ورتله یٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ ای یهودو او نصاری وو قَدْ جَآءَكُمْ په تحقیق
سره راغلې دی تاسې ته رَسُوْلُنَا استاذی زموږ یُبَیِّنُ لَكُمْ چې بیانوی تاسې ته احکام
شرعیه عَلٰی فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ په وخت د قطع او د بس کیدو د رسولانو او د وحی
اَنْ تَقُوْلُوْا چې بیا ونه وایاست تاسې په ورځ د قیامت مَا جَآءَنَا چې نه وو راغلې
موږ ته مِنْ بَشِیْرٍ هیڅ څوک زیری کونکی وَّلَا نَذِیْرٍ ز او نه هیڅوک ویرونکی
فَقَدْ جَآءَكُمْ پس په تحقیق راغلې تاسې ته بَشِیْرٌ وَّنَذِیْرٌ ط هم زیرے کونکی او هم ع ۳/۸
ویرونکی وَاللّٰهُ او خدای عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ په هر شي قَدِیْرٌ ﴿۱۹﴾ ښه قادر دی وَاِذْ قَالَ
مُوْسٰی او یاد کړی هغه چې وویل موسٰی لِقَوْمِهٖ و قوم خپل ته یٰقَوْمِ اذْكُرُوْا ـ
ای قومه زما یاد کړی نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَیْكُمْ نعمت د خدای پر تاسې اِذْ جَعَلَ هغه چې
پیدا کړه ده فِیْكُمْ اَنْۢبِیَآءَ په تاسې کښې پیغمبران ډیر ځکه چې له موسٰی نه ئې تر
عیسٰی پورې زر (۱۷۰۰) او اوه سوه کاله عمر وو او په دې موده کښې یو زر پیغمبران
تیر شوی وو وَجَعَلَكُمْ او کړی ئې یاست تاسې یا کړی ئې دی په تاسې کښې یا له تاسې
مُّلُوْكًا ن بادشاهان ډیر لکه چې پیغمبران ډیر وو وَّاٰتٰىكُمْ مَّا او درکړی ئې دی تاسې
ته هغه نعمتونه لکه من او سلوٰی او سوری د اوریځې او بهیدل د اوبو له تیږی
او چاودل د ښیند لَمْ یُؤْتِ اَحَدًا چې نه ئې وو ورکړی هیچا ته مِّنَ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۰﴾
له خلکو د زمانې ستاسې یٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِیْ اے قومه زما
ځئ ننوزئ په هغه پاکه ځمکه کښې كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ چې لیکلې یعنی مقرر کړی ده خدای
تاسې له په لوح محفوظ کښې چې هغه ځمکه ده د شام او ښار د ایلیا او د اریحا

کړی دپاره دسکونت خپل وَلَا تَرْتَدُّوْا او بیرته مه ځئ عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ پر طرف د شاؤ خپلو له جنګه یا له دینه خپله یا بیرته مصرته فَتَنْقَلِبُوْا پس شئ به تاسې به دې بیرته لوسره خٰسِرِيْنَ ﴿۲۱﴾ زیانکاران قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى نو ووېل دوی اے موسٰے اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا بیشکه په هغه ځکه کښې یو قسم مخلوق دی جَبَّارِيْنَ ﷺ چې دیر متغلبا او قاهران او قوت ناکه دی نو زموږ ورته هیڅ طاقت نه کیږی وَ اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا او بیشکه موږ به له سره نه ننوځو په دغه ځکه کښې حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا تر هغه پورې چې ووزی دوی له دې ځکې فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا پس که ونړی دوی له دې ځایه بې جنګه فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿۲۲﴾ پس بیشکه چې موږ ننو توتکی یو قَالَ رَجُلٰنِ ووېل دوو سړیو مِنَ الَّذِيْنَ چې له هغو خلګو څخه وو يَخَافُوْنَ چې بیریږی له خدایه اَنْعَمَ اللّٰهُ چې مهربانی کړی وه خدای عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا پرهغو دوا روچې یوشع او کالب وو نا ګاه ننوځی عَلَيْهِمُ الْبَابَ پردوی له دروازی څخه دبنار فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ پس هغه وخت چې ننوځی تاسے په دروازه فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ؕ پس بیشکه چې تاسے به غالب یاست وَعَلَى اللّٰهِ او خاص پرخدای فَتَوَكَّلُوْٓا پس توکل کړی په دې جنګ او مقابله کښې اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۳﴾ که یاست تاسے باوړکونکی پروعدهٔ دخدای قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى بیا ووېل دوی اے موسٰے اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ بیشکه چې موږ به له سره داخل نه شو په دې بنار کښې اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا هیڅیری څو چې وی دوی په دې ځای کښې فَاذْهَبْ اَنْتَ پس ځه ته وَرَبُّكَ او رب دی چې معاون ستادی یا ته او مشرورور دی چې هارون دی فَقَاتِلَآ پس جنګ وکړی دواړه اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ بیشکه موږ دلته ناست یو قَالَ رَبِّ ووېل موسٰی ای رب زما اِنِّیْ لَآ اَمْلِكُ بیشکه زه اختیار نه لرم اِلَّا نَفْسِیْ مګر د ځان خپل وَاَخِیْ او دورور خپل فَافْرُقْ بَيْنَنَا پس بیلتون وکړه په مابین زموږ کښې وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ او په مابین کی

عه د ځان او هارون د ورور خپل یې یاد کی او هغه دوه مسلمانان یوشع او کالب یې یاد نه کړه ځکه چې په داد ومره قوم کښې دوه تنه څه شے دی نو دوی یې هم په نشته حساب کړل ۱۲ هکذا فی الوجیز

دَ دې قوم کښې چې له دا ټرې ځغې د فرمانه وتلې دی قَالَ فَاِنَّهَا نو وویل رب العزت
پس دا ځمکه مقدسه چې ده مُحَرَّمَةٌ عَلَيۡهِمۡ حرامه کړې شویده له جهته ددخوله
پر دوی اَرۡبَعِيۡنَ سَنَةً ۚ څلویښت کاله يَتِيۡهُوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ سرګردانه به ګرزی په
هم دې ځمکه کښې فَلَا تَاۡسَ پس مه خفه کیږه عَلَى الۡقَوۡمِ الۡفٰسِقِيۡنَ ﴿٢٦﴾ په دې ع ۴
تولې دفاسقانو روایت دی چې دآدم به همیشه غبرلې دوه اولاده کیدل یو
نارینه او یوه ښځه او دی په دې مامور وو چې له یوه نارینه سره زیږیدلې ښځه هغه
بل لره ورکوه حکم چې نور څوك هلته لا نه وه او دا قلیما نومې چې د قابیل جوړه وه او ډیره
ښایسته وه هابیل لره ئې مقرره کړه او لیوذا چې د هابیل جوړه وه خو ښایسته نه وه
قابیل لره ئې مقرره کړه او قابیل دا قبوله نه کړه او په غضب شو نو آدم علیه السلام ورته وویل
چې باره دواړه قربانی وکړی د هر چا دا چې قبوله شوه اقلیما د هغه ده لکه وائی وَاتۡلُ
عَلَيۡهِمۡ او ولوله پر دې اهل کتابو نَبَاَ ابۡنَيۡ اٰدَمَ قصه د دواړه ځامنو د آدم علیه السلام
چې قابیل او هابیل دی بِالۡحَقِّ م په رشتیا سره اِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانًا چې قربانی وکړه دواړو
په قربانۍ کولو سره چې هابیل یو چاغ پسه راوستی او یوه خرابه توده دغنمو ئې راوړه
او دواړه ئې د غره پر سر کښیښنوه فَتُقُبِّلَ پس قبوله کړه شوه دا قربانی مِنۡ اَحَدِهِمَا
یوه د دوی ځغې چې هابیل وو په دې شان چې اور راغلی له اسمانه او پسه ئې یووړی
وَلَمۡ يُتَقَبَّلۡ او قبوله نکړه شوه مِنَ الۡاٰخَرِ ط له هغه بله ځغې چې قابیل وو قَالَ نو وویل
قابیل له ډېره غضبه لَاَقۡتُلَنَّكَ ط قسم دی چې مړ به دې کړم خامخا قَالَ بیا وویل
هابیل پر طریقه د غدر سره اِنَّمَا بیشکه هم دا خبره ده يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ چې قبلوی ئې خدای
مِنَ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿٢٧﴾ له هغه پرهیزګارانو ځغې چې په خالص نیت سره ئې عمل کړی وي
لَئِنۡۢ بَسَطۡتَّ که دې راوغځوی تلا اِلَيَّ يَدَكَ ما ته لاس خپل لِتَقۡتُلَنِيۡ دپاره ددې چې
مړ کړې ما مَاۤ اَنَا نو زه خو نه یم بِبَاسِطٍ يَّدِيَ غځوونکی دلاس خپل اِلَيۡكَ لِاَقۡتُلَكَ ط
تا ته چې مړ کړم تا اِنِّيۡۤ اَخَافُ اللّٰهَ بیشکه زه بیریږم له خدایه رَبَّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٢٨﴾

عه او دغه جوړه نښه د قبليد وده ۱۲۰۵

چې رب د تمام عالم اِنِّیْٓ اُرِیْدُ بیشکه زه اراده لرم اَنْ تَبُوْٓاَ چې بار کړې او واخته شې
ته بِاِثْمِیْ په ګناه د قتل زما وَاِثْمِكَ او په ګناه د بې اخلاصۍ او د قلبي خیلې سره فَتَكُوْنَ
پس شې به ته مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ج له ملګرو د دوزخ وَذٰلِكَ او دا چې ده جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ (۲۹)
جزا ده د هغه ظالمانو چې خون کوي په ناحقه سره فَطَوَّعَتْ لَهٗ پس اسان کړو ده ته
یعنې قابیل ته نَفْسُهٗ نفس ده ده قَتْلَ اَخِیْهِ وژل د ورور خپل اما په وژلو ئې نه پوهیده
ځکه چې دا اول مړ ؤ وو ناګاه شیطان راغلې په شکل د مرغه او په لاس کې ئې یو مرغه
وو نو ددې مرغه سر ئې په تیږه میده کړې او قابیل ور ته کاته بیا چې هابیل بیده
شو نو ده ئې هم سر په تیږه سره میده کړې فَقَتَلَهٗ پس مړ ئې کړې د غار حرا سره
چې رسول ﷺ به ځکې له پیغمبرۍ عبادت پکښې کولو او هابیل په دې وخت کښې د شلو کالو
وو فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ (۳۰) پس شو دې له زیانکارانو هم په دنیا کښې چې پس له هغه
تر مرګه پورې مقهور او مردود به وو او هم په اٰخرت کښې چې عذاب ئې له تمامو دوزخیانو
سره برابر دے بیا ئې په ښخولو نه پوهیده ځکه چې دا اول مړے وو او یو کال ئې په غاړه
کښې اچولې وو په شا ئې ګرځاوه او لیوانو به ورپسې منډې وهلې فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا پس
راولیږه خدای یو کارګه یَّبْحَثُ فِی الْاَرْضِ چې کوغالی ئې کوله په ځمکه کښې په منګولو
خپله سره او بیا به ئې خاورې په منګولو ایستلې او یو مړ کارګه ئې راوړې او په دې
کوغالی کښې ئې کېښنوی او بیا ئې خاورې په منګولو سره پرې واچولې لِیُرِیَهٗ د پاره ددې
چې وښیې ورده ته کَیْفَ یُوَارِیْ چې څرنګه پټ کړي دې سَوْءَةَ اَخِیْهِ د خسا صورت
د خپل ورور پس له کاله قَالَ یٰوَیْلَتٰٓی ووېل قابیل اے افسوس دې ما لره اَعَجَزْتُ
ایا عاجز وم زه اَنْ اَكُوْنَ له دې څخه چې شم مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ په شان ددې کارګه ـ
فَاُوَارِیَ پس پټ کړم سَوْءَةَ اَخِیْ ج خسا صورت د ورور خپل فَاَصْبَحَ پس شو به دې
قتل سره مِنَ النّٰدِمِیْنَ (۳۱) له پښیمانی کوونکو څخه له دې جهته چې مور او پلار رټندې

ع په حدیث کښې راغلي دي چې هیڅوک نه وژل کیږي په ظلم سره مګر خو د آدم د زوی یعنې
د قابیل برابره حصه ده ور سره له ګناه ځکه اول لارې د وژلو ده ایستلې ده یعنې چوره ور ئې وژلی دی (رواه البخاري)

بیزاره شوه او درست صورت ئې تک تور شو او په شاګرد ولو د مړی ستوما نه شوا و دی
بیا خپل سړا نده ړوی مړکړی وروسته ترخو کا لو مِنۡ اَجۡلِ ذٰلِكَ ۚ په سبب ددی قتل سره ربع
كَتَبۡنَا عَلٰى بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ لیکلی وو موږ پر بنی اسرائیلو اَنَّهٗ چې بیشکه شان دادی مَنۡ
قَتَلَ نَفۡسًۢا هر چا چې مړکړی کوم شخص بِغَيۡرِ نَفۡسٍ بیله نفس یعنې بیله دی چې هغه
څوك وژلی وی او پر قصاص ئې کړی اَوۡ فَسَادٍ فِى الۡاَرۡضِ یا بیله فساده په ځمکه کښې
یعنې چې فساد ئې کړی وی لکه شرك یا لاره وهل یا زنا د محصن[عه] فَكَاَنَّمَا پس ګویا که قَتَلَ
النَّاسَ جَمِيۡعًا ؕ مړه ئې کړه ټول خلق یو په دی چې د خون بندر ئې مات کړی او بل
په دی چې په قتل د یوه سړی سره او د ډیرو سړو را وستل د غضب او د عذاب د خدای
برابر دی وَمَنۡ اَحۡيَاهَا او هر څوك چې ژوندی کړی کوم نفس یعنې سبب ئې شی د بقا
د حیٰوة د هغه چې د قصاص عفوه ورته وکړی یا له قتله څخه ئې خلاص کړی یا له بلی
کومی مهلکی څخه فَكَاَنَّمَاۤ پس ګویا که اَحۡيَا النَّاسَ جَمِيۡعًا ؕ سبب شو د حیٰوة د ټولو
خلګو وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ او په تحقیق سره راغلی وو دی بنی اسرائیلو ته رُسُلُنَا بِالۡبَيِّنٰتِ ز
رسولان زموږ په ښکاره معجزو سره ثُمَّ اِنَّ كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ بیا پس له دی بیشکه ډیر له
دوی بَعۡدَ ذٰلِكَ پس له راتلو د رسولانو او د معجزو فِى الۡاَرۡضِ په ځمکه کښې لَمُسۡرِفُوۡنَ (۳۲)
هر اینه اسراف کوونکی دی په بیباکه قتل کښې روایت دی چې په شپږم کال د هجرت یوه
ټولی د عرینه رسول علیه السلام لره راغله او اسلام ئې راوړی او هم هلته ډیره شوه بیا
چې څه موده پس ړ نګونه ئې زیړ شوه او نسونه ئې وپړسیدل نو رسول علیه السلام ته ئې
حال ووایه او ده واو ښانو د صدقی ته ولیږل چې شیدی او بولې ئې وڅښی بیا
چې وئې څیښلی او جوړ شول نو مرتد شول او ښکلس او ښانان ئې هم پټ کړل او خپل
وطن ته ولاړه او رسول علیه السلام حضرت یسار رض وروپسې وه لیږی چې ازاد کرده دده وو
له څو سړو سره او جنګ ئې وکړو او دی ئې ونیوی او د واړه لاسونه او پښی ئې څنډ
پړی کړی او شهید ئې کړو بیا حضرت جابر رض ئې وروپسې ولیږی نو ټول ئې نیولی

عه یعنې یا چې زنا وکړی هغه سړی چې نجهلد نکاح حلاله ښځه لری ۱۲

راوستل نونازل شو إِنَّمَا بیشکه هم دا خبره ده جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ چې جزاد هغو کسانو
يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ چې جنگ اختیاروی دخدای سره یعنې ددوستانو دده سره وَرَسُوْلَهٗ
اوله رسول سره دده وَيَسْعَوْنَ او منډې وهې فِي الْاَرْضِ فَسَادًا په ځمکه کښې دپاره
دفساد لکه قتل یا قطع[عه] دطریق یا د تالاکولو اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا چې مړه دی کړه شې که یوازی
قتل ئې کړی وی اَوْ يُصَلَّبُوْٓا بلکه په دار دی هم کړه شې پس له وژلو که قتل ئې کړی
وو او مال ئې هم اخستی وو اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ بلکه پرې دی کړه شې لاسونه ددوی
وَاَرْجُلُهُمْ او پښې ددوی مِّنْ خِلَافٍ سره مخالف یعنې ښی لاس او چپه پښه که
یوازې ئې مال اخستی وی اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ط بلکه ورک دی کړل شې له ځمکې څخه
په حبس سره یعنې په بندکې دې واچول شې چې بیائې نوروخلکوته ضرر نه رسیږی
که یوازې ویرول ئې کړی وی بیله قتله او بیله مال اخستو او لفظ د اَوْ په دری
سره ځایو کښې په معنیٰ د بَلْ دی او ینفوا په معنیٰ د یُحْبَسُ دی بیا پس له هغه رسول
امر وکړی نو ددوی لاسونه او پښی ئې پریکړی او په دار ئې کړل ذٰلِكَ دا تیر کاروونه
چې دی لَهُمْ خِزْيٌ دوی له خواری او بې شرمی ده فِي الدُّنْيَا په دنیا کښې وَلَهُمْ
او مقرر دی دوی لره فِي الْاٰخِرَةِ په هغه جهان کښې عَذَابٌ عَظِيْمٌ (۳۳) عذاب لوی
په سبب د لوی گناه اِلَّا الَّذِيْنَ مگر هغه کسان تَابُوْا چې توبه وکا ږی مِنْ قَبْلِ اَنْ مخکې
له هغه تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ چې قادر کیږی تاسې پر دوی نو دا حدود[عه] به څندی ساقط
شی نه حقوق د بندگانو فَاعْلَمُوْٓا پس پوه شې اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه خدای غَفُوْرٌ ع ۵
بخښونکی دی په توبه سره رَّحِيْمٌ (۳۴) مهربانه دی پر تائبانو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ای ۹
تولی د مؤمنانو اتَّقُوا اللّٰهَ وه بیریږی له خدایه وَابْتَغُوْٓا او لټوی اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ
ده ته واسطه یعنې هر هغه شی چې په هغه سره ده ته نژدې کیږی لکه کوشش شو
په ترك د معاصیو کښې او په کولو د طاعاتو کښې او په پیدا کولو د اخلاص او په رډلو
کولو د هر مخورده ته لکه پیغمبران او ملائکې مقربین او ولیان او عالمان او متقیان

عه یعنې یا وهل او شکول د لارې ۱۲ عه یعنې حدود الله پاك ۱۲

او صالحان شول وَجَاهِدُوْا او جهاد کوئ فِيْ سَبِيْلِهٖ په لاره دده کښې له اعداؤ
ظاهرؤ او باطنؤ سره لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۵﴾ بنا ئ چه تاسې خلاص شئ له هر مکروه
فائدہ :- رب العزت په دې ایت کښې څلور شیان موجب د خلاصې کړه ایمان
او تقوىٰ او وسیله نیول او جهاد نو پردې څلورو سره وو ډیر حرص پکار دی
اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بیشکه هغه کسان چه کافر دی لَوْ اَنَّ لَهُمْ که مملوك شي ددوی
مَّا فِي الْاَرْضِ هغه اقسام د اموالو چه په ځمکه کښې له اوله تر اخره له شرقه تر غربه
له شماله تر جنوبه له نقدو له جنسه له پټه له ښکاره جَمِيْعًا دا ټول وي وَّمِثْلَهٗ او په
قدر ددې مذکورلو هم وي مَعَهٗ له ده سره او دا ټول ورکې دوی لِيَفْتَدُوْا بِهٖ
له پاره ددې چه خپله فدیه ئ کړي او ځان خلاص کړي په دې مذکور سره مِنْ
عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ له عذابه د ورځې د قیامت مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ قبول به نه کړه شي
دا فدیه له دوی څخه وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۳۶﴾ او وي به دوی لره په دغه ورځ عذاب
دردناك يُرِيْدُوْنَ اراده یا امید به لري دوی اَنْ يَّخْرُجُوْا د دې چه ووزي مِنَ
النَّارِ له اوره وَمَا هُمْ او حال دا چه هیچیري به نه وي دوی بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا وتونکي
له دې اوره وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۳۷﴾ او دي دوی لره عذاب دائم وَالسَّارِقُ او
غل سړی چه دی وَالسَّارِقَةُ او غله ښځه چه ده که پټ کړي دوی ساتل شوے
مال مبلغ (مقدار) د لسو درهمو فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا پس پریکړی تاسې ښی لاسونه د
دوی جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا د پاره د جزا ورکولو په هغه عمل چه کړي دی دوی نَكَالًا
مِّنَ اللّٰهِ ط د پاره د عقوبت له خدای څخه چه نورو ته عبرت شي وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ او
خدای ډیر غالب دی په حکم خپل کښې حَكِيْمٌ ﴿۳۸﴾ خاوند د حکمت دی دا امر ئې له حکمته
کړي دی او که پټ نه وو لکه اختسل د قطع الطریق یا مال نه وو لکه شراب یا ساتلے
نه وو لکه د خپل محرم د کوره یا مملوك نه وو لکه مال د وقف یا کم وو تر لسو درهمو نو
په دې ټولو او رو کښې قطع نشته فَمَنْ تَابَ پس هر څوك له دوی څخه چه توبه وکا ږي
(ږیره وو)

دغلا څخه مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ پس له ظلمه خپله یعنې پس له غلا خپلې وَاَصْلَحَ او په سم
انجام کړی کار خپل په ردّ د مال او په عزم د نه کولو پس له دی فَاِنَّ اللّٰهَ پس بیشکه
خدای يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ قبلوی توبه دده اما قطع ځندی نه سا قطیږی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۹﴾ بخښونکی مهربان دی په محشر به ئې نه رسوا کوی اَلَمْ تَعْلَمْ
ایا نه پوهیږې ته اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه خدای چې دی لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ هم ده لره ده
باچاهي د اسمانو وَالْاَرْضِ ؕ او د ځمکی يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ په عذابوی هرهغه څوک
چې اراده ئې وشی لکه قطع د لاس دغله وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ او بخښنه کوی هرهغه چا
ته چې اراده ئې وشی لکه عفو غله ته پس له توبې یا په عذابوی کافر او بخښې مؤمن
وَاللّٰهُ او خدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ پر هر څیز قَدِيْرٌ ﴿۴۰﴾ بنه قادر دی او تعذیب ئې دلته
مقدم کړی په مغفرت ځکه چې قطع اول ذکروه يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ اے استاذی
زما لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ نه دی خفه کوی تا هغه کسان يُسَارِعُوْنَ فِى الْكُفْرِ چې چلتی لرل
کوی او ځان غورځوی په کفرکښې مِنَ الَّذِيْنَ له هغه کسانو څخه قَالُوْۤا اٰمَنَّا چې وائی ایمان
راوړی دی موږ بِاَفْوَاهِهِمْ تش په خولو خپلو وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ ۛ او حال دا چې
ایمان نه دی راوړی زړو د دوی وَمِنَ الَّذِيْنَ او بعض له هغه کسانو هَادُوْا ۛ چې یهودیان
دی یعنې بنی قریظه د مدینې سَمّٰعُوْنَ چې ډیر اوریدونکی دی د قول ستا لِلْكَذِبِ د پاره د
ګډولو د دروغو سره سَمّٰعُوْنَ ډیر اوریدونکی دی له تا لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ لا د پاره د رسولو
یوی بلی ډلی ته په طریقه د جاسوسی سره لَمْ يَاْتُوْكَ ؕ چې هغه نه دی راغلی تا ته یعنې
بنی نضیر د خیبر روایت دی چې یو عمل سری د خیبر زنا وکړه له یوی محمدی ښځې سره
او دواړه واده والا وو یهود و رجم د دوی و نه ویلو له رعایته او د مدینې یهود ولره
ئې راولیږل چې تاسے رسول علیه السلام وپوښتئ ګوندی دده په کتاب کښې رجم نه وی او فهم
لری چې څه دغه تورول اوکړے وهلے ووئیل نو دا حکم قبول کړی او که رجم ئې
و وایه نو ئې مه قبلوی بیا چې دواړه زانیان ئې مدینې لره راوستل نو ده رجم و وایه

منع ارض ع الاول ۱ جزء ۱۳

او دوی دویل چې په تورات کښې خو رجم نشته او ده وویل شته نو ابن صوریا نومی
یو لوی عالم وو د تورات هغه د وارو طائفو حکم کړو او رسول علیه السلام ورته وویل
چې مستا دی قسم وی په هغه چې سیند ئې څوولی دی او فرعون ئې پکښې غرق کړی دی
او من او سلوی ئې موسی علیه السلام ته رالیږل چې آیت د رجم په تورات کښې شته او که
نشته؟ ده وویل چې شته خو دوی له رعایته پټ کړی دی نو نازل شو یُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ
اړوی دوی په بل ځ عبارتونه د تورات یعنې پټوی آیت د رجم او د هغه پر ځای دُری
او ځ تورول لیکی مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ پس له هغه چې خدای ایښی دی پر ځایو خپلو
باندی یَقُوْلُوْنَ وائی دا یهود د خیبر اِنْ اُوْتِيْتُمْ که درکړه شی یعنې درته ووائی رسول علیه السلام
هٰذَا دا حکم د دُرو او د ځ تورولو فَخُذُوْهُ پس وائی خلی او قبول ئې کړی وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ
او که درکړل نشی دا حکم او رجم ئې ووایه فَاحْذَرُوْا پس وه بیریږی او ځان څنډی
وساتی وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ او هر هغه څوک چې اراده وکړی خدای فِتْنَتَهٗ د گمراهی یاد شرمولو
یا د هلاکولو د ده فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ پس له سره به اختیار و نه لری ته د ده د پاره چې دفع څنډی
وکړی مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا ؕ له جانبه د خدای د هیڅ شی له هغه گمراهی یا له شرمولو یا له هلاکه
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا هغه کسان دی لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ چې اراده نه لری خدای اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ
د دوی چې پاک کړی له کفره زړونه د دوی لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ښه ده دوی لره په دنیا
کښې شرمندگی منافقانو لره او جزیه یهودو لره وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ او بیا دی دوی لره
په هغه جهان کښې عَذَابٌ عَظِيْمٌ (٤١) عذاب ډیر لوی سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ ډیر اوریدونکی
د خبرو دی د پاره د ګډولو د دروغو سره اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ؕ ډیر خوړونکی دی د حرامو
یعنې د ربوا او د رشوت په حکم سره او په تبدیل د نعت محمدی سره فَاِنْ جَآءُوْكَ پس که
راشی دوی تا له د پاره د شریعت فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ پس حکم وکړه په ما بین د دوی کښې
اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ یا څنګ وکړه له دوی څخه او حکم مه کوه وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ او که
څنګ وکړی له دوی څخه او حکم و نکړی فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْئًا ؕ پس له سره به ضرر و نه

رسول شے وتا ته دهیځ خیز وَاِنْ حَکَمْتَ او که حکم کوی ته فَاحْکُمْ بَیْنَهُمْ پس حکم وکړه
په مابین د دوی کښے بِالْقِسْطِ ط په انصاف سره اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چے خدای یُحِبُّ الْمُقْسِطِیْنَ ﴿۴۲﴾
مینه لری له عدل کونکو سره په حکم کښے وَکَیْفَ یُحَکِّمُوْنَکَ او څرنګه حکم کوی دوی ته وَ
عِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ او حال دا چے دی د دوی څخه تورات فِیْهَا حُکْمُ اللّٰهِ چے په هغه کښے
دی حکم د خدای ثُمَّ یَتَوَلَّوْنَ بیا ځلېږی دوی له دی حکمه څخه ستا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِکَ ط
پس له هغه چے تا حکم کړی دی موافق له کتاب سره د دوی وَمَآ اُولٰٓئِکَ او نه دی دوی بِالْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۴۳﴾
باور کونکی په کتاب خپل با په حکم خپل اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ بیشکه رالیږلی دی موږ تورات
فِیْهَا هُدًى چے دی په هغه کښے رهنمائی وحق ته وَّنُوْرٌ ج او رڼا چے دفع کوی تاریکی د احکام
شرعیه وو یَحْکُمُ چے حکم به کاوی بِهَا النَّبِیُّوْنَ الَّذِیْنَ په دی تورات سره هغه
پیغمبران د بنی اسرائیلو اَسْلَمُوْا چے منقاد وو امر د خدای ته لِلَّذِیْنَ هَادُوْا ادباره
دهغو کسانو چے یهودیان وو وَالرَّبّٰنِیُّوْنَ او بل حکم به کاوی په عارفانو د خدای وَالْاَحْبَارُ
او بل عالمانو بِمَا اسْتُحْفِظُوْا په هغه احکامو سره چے طلب د حفظ کړه شوی وو له دوی
یعنی چی دوی مامور شوی وو په ساتنه د هغه احکامو له بدلولو چے وو هغه احکام
مِنْ کِتٰبِ اللّٰهِ له کتاب څخه د خدای چے تورات دی وَکَانُوْا او وو دوی عَلَیْهِ شُهَدَآءَ ج
پر دی کتاب شاهدان یعنی نګهبانان چے څوک ئې بدل نه کړی لکه ابن صوریا فَلَا تَخْشَوُا
النَّاسَ پس مه بیریږه له خلګو څخه په جاری کولو د احکامو د حق کښے وَاخْشَوْنِ او وه
بیریږه له ماپه بے فرمانی سره وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ اومه اخلے په آیاتو سره زما ثَمَنًا
قَلِیْلًا ط د مبلغ لږ په رشوت سره وَمَنْ لَّمْ یَحْکُمْ او هر هغه څوک چے حکم ئې و نه کړی
بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه شان چه رالیږلے دی خدای فَاُولٰٓئِکَ پس دا کسان چے دی
هُمُ الْکٰفِرُوْنَ ﴿۴۴﴾ هم دوی کافران دی وَکَتَبْنَا عَلَیْهِمْ او لیکلی وو موږ پر دوی بنی
اسرائیلو فِیْهَآ په دی تورات کښے اَنَّ النَّفْسَ چی وژلے دی شی سړی بِالنَّفْسِ په بدل
د سړی کښے چے که هغه ئې په ناحقه وژلے وی وَالْعَیْنَ او سترګه دی رنده کړه

شي په دی شان چې لنده یا غونده دی چاپېره ترسترګې کبنیږ. دی او اتښے ائینه دی ورته ونیسي نو رندہ به شي بِالْعَيْنِ په بدل د سترګې کبنے که تشه ئې رندہ کړی وی که پوچه وَ الْأَنْفَ او پزه دی پریکړه شے له تنډو وری بِالْأَنْفِ په بدل د تنډ وری کبنے نه له بیخه وَ الْأُذُنَ او غوږ دی پریکړه شے بِالْأُذُنِ په بدل د غوږ ږکبنے وَالسِّنَّ او غاښ دی وه ایستل شے بِالسِّنِّ لا په بدل د غاښ کبنی وَالْجُرُوْحَ او پرهرونه قِصَاصٌ ط په اندازه دے او که اندازه ئې نه شوه کیدلای نو په حکم د عادلانو سړو دی هغه اجرت د طبیب او دارو (دوا) دی ترجو ریدو پورې فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ پس هر څوک چې عفوه ئې وکړه د دی قصاص فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ط پس دا عفو کفاره ده دی بخښنه کونکی لره د تولو ګناهو لکه رسول علیه السلام ویلي دی مَنْ تصدق بدم فما دونه كان كفارة له من يوم ولدته امه یعني هر چا چې عفوه وکړه له خونه یا کم له خونه نو وی به دا عفوه تو بونکی د ګناهو ده ده له هغه ورځي څخه چې زیږولے دی دی مور چېلے وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ او هر څوک چې حکم ئې وه نه کړو بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه شان چې رالیږلی دی خدای په باب د قصاص کبنی فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان چې دی هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۵﴾ هم دوی ظالمان دی وَقَفَّيْنَا او راوه لیږل موږ عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ په دغه پیغمبرانو پسی بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ عیسٰے علیه السلام دی چې زوی دے بی بی مریمې مُصَدِّقًا لِّمَا په دی حال چې باور کونکی وو په هغه کتاب بَيْنَ يَدَيْهِ چې مخوا راغلے وو مِنَ التَّوْرٰىةِ ص چې عبارت دی له توراته وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ او ورکړی وو موږ ده ته انجیل فِيْهِ هُدًى چې په دی کبنے رهنمائی د توحید ته وَّنُوْرٌ لا او رڼا وه ولاړی د حق ته وَّمُصَدِّقًا لِّمَا او حق بلونکی وو دا انجیل د هغه کتاب بَيْنَ يَدَيْهِ چې مخوا راغلے وو مِنَ التَّوْرٰىةِ چې عبارت دی له تورات وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً او رهنمائی او پند ورکونکی دی لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۶﴾ پرهیزګارانو لره وَلْيَحْكُمْ او مېبا ید چې حکم د کوی اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ عالمان د انجیل بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه شان چې رالیږلی دی خدای فِيْهِ ط په دی انجیل کبنی او دا امر مخوا له نسخ ده وو وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ او هر څوک چې حکم

ئې ونه کړو بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه شان چې را لیږلې دی خدای فَاُولٰٓئِكَ پس دا کسان
چې دی هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾ هم دوی فاسقان دی وَاَنْزَلْنَآ او را لیږلې دی موږ۔
اِلَيْكَ الْكِتٰبَ تا ته کتاب یعنې قرآن بِالْحَقِّ په حق سره مُصَدِّقًا لِّمَا په دی حال کې چې
موافق دی له هغه سره بَيْنَ يَدَيْهِ چې مخوا راغلې دی مِنَ الْكِتٰبِ له جنسه د کتابه وَ
مُهَيْمِنًا عَلَيْهِ او نگهبان یعنې شاهد دی په هغه جنس د کتاب فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ پس حکم
کوه په مابین د دی اهل کتابو بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه شان چې را لیږلې دی خدای وَلَا
تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ او پیروی مه کوی د آرزوگانو د دوی او څنګ مه کوه عَمَّا جَآءَكَ
له هغه چې راغلې دی تا ته مِنَ الْحَقِّ ط له حق څخه لِكُلٍّ جَعَلْنَا هر یو لره مقرر کړی ده
موږ مِنْكُمْ شِرْعَةً له تاسې شریعت وَّمِنْهَاجًا ط او لاره واضحه وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ او که
اراده کړی وای خدای لَجَعَلَكُمْ هرائینه کړی به ئې وای تاسې اُمَّةً وَّاحِدَةً قوم یو
یعنې متفق پر یوه دین باندی وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ او لیکن رنګارنګ شریعتونه ئې را ولیږل
د پاره د دی چې واز مائی تاسې فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ په هغه رنګارنګ شریعتو سره چې
درکړی ئې دی تاسې ته مناسب له هری زمانې سره چې مطیع او عاصی سره بیل
کړی فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ط پس وړاندی کیږئ یو تر بله او جلتی (تلوار) کوی و کار د خیر
ته چې متابعت د شریعت دی. اِلَى اللّٰهِ خاص خدای ته مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا بیرته ورتله
ستاسو دی د ټولو فَيُنَبِّئُكُمْ پس خبر به کړی تاسې په قیامت کې بِمَا كُنْتُمْ په امر د دین
چې یاست تاسې فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٨﴾ چې په هغه کښې اختلاف کوی روایت دی چې۔
احبار د یهودو رسول علیه السلام له راغله په نیت د فریب او ورته وی ویل چې موږ
اشراف د خپل قوم یو نو که موږ ستا دین قبول کړو نو ټول به ئې قبول کړی اما
زموږ او د قوم سره جګړه ده که د وی دی راته پرې کړه نو موږ به پر تا ایمان راوړو
او ده قبول نکړی دا قول نو نازل شو وَاَنِ احْكُمْ او ته لیږلې ئې موږ چې حکم کوه
بَيْنَهُمْ په مابین د اهل کتابو کښې بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په هغه شان چې را لیږلی دی خدای

وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ او پیروی مه کوه د ارزوگانو د دوی وَاحْذَرْهُمْ او په ویره اوسه
له دوی څخه اَنْ يَّفْتِنُوْكَ له دې چې مبا دا واړوي تا عَنْۢ بَعْضِ مَآ له بعض هغه حکمه
اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ چې را لیږلے دی خدای تا ته فَاِنْ تَوَلَّوْا پس که شا کړه دوی دی حکم
ستا ته فَاعْلَمْ اَنَّمَا پس پوه سه چې بیشکه هم دا خبره ده يُرِيْدُ اللّٰهُ چې اراده لري
خدای اَنْ يُّصِيْبَهُمْ ددې چې ورسوي دوی عذاب ته په دنیا کښې بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ
په سبب د بعض گناهو د دوی وَاِنَّ كَثِيْرًا او بیشکه ډیر مِّنَ النَّاسِ له یهودو لَفٰسِقُوْنَ ﴿۴۹﴾
هر اٰئینه فاسقان دي روایت دی چې په زمانه د جاهلیت کښې د بنی نضیرو د مقتول
دیت به یو سل او څلویښت باره داوښ خرما مقرر وو او د بنی قریظه وو دا به او یا
باره وی بیا چې رسول علیه السلام راغلی نو ده برابر والے و وایه او دوی ورته وویل چې ته
هم د جاهلیت په شان حکم وکړه نو نازل شو اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ ایا پس حکم د جاهلیت
يَبْغُوْنَ غواړي دوی او په حکم د تورات او د قرآن نه راضي کیږي وَمَنْ اَحْسَنُ او
څوک دے ډیر ښه مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا له خدایه له جهته د حکمه یعنی هیڅوک نه دی لِّقَوْمٍ
يُّوْقِنُوْنَ ﴿۵۰﴾ په نزد د هغه قوم چې یقین لري پر خدای روایت دی چې عباده بن صامت رض
رسول علیه السلام ته وویل چې زما په یهودو کښې ډیر دوستان دی اما زه د خدای او د رسول
له جهته د هغو لو بیزاره شوی یم او عبدالله بن ابی وویل چې زه خو له زمانی د گردشه
ویریږم او له هیچا سره دوستی نه پریکوم نو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای قوله د
مؤمنانو لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ مه نیسی یهود وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ او نصرٰی دوستان
بَعْضُهُمْ بعض د دوی چې دی اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ دوستان د بعضو نورو دی ځکه چې
تا سره ته طول سره متفق دی وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ او هر څوک چې دوستی کوی له دوی
سره مِّنْكُمْ له تاسی څخه فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ پس بیشکه دی له قولی د دوی حساب
دی نو میبا ید چې هر څوک دی ځان ډیر ساتی د دوی له دوستی څخه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه
خدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾ لاره سمه نه ښائي هغه قوم ته چې ظلم

ع ۷ ۱۱

ئې کړې وې بخپل ځان په دوستۍ د کافرانو سره فَتَرَى الَّذِيْنَ پس وبه وینې ته هغه کسان
فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چې په زړونو د دوی کښې رنځ د نفاق دی یعنې ابن ابی او تابعان د ده
يُسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ چې سعی او جلتي کوي دوی په معاونت د دوی یهودو کښې پر مؤمنانو
يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰى وائي دوی په خپل زړه کښې چې بیرېږو موږ اَنْ تُصِيْبَنَا له دې چې وبه
رسیږي موږ ته له گردشه د زمانې دَآئِرَةٌ د کومه حادثه که اسلام مغلوب او کفر
غالب شي فَعَسَى اللّٰهُ پس بنا ئې چې خدای اَنْ يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ راولي فتح د رسول علیه السلام
پر دښمنانو خپلو یعنې فتح کی مکه یا مساکن د یهودو لکه خیبر او تیما او فدک شو اَوْ اَمْرٍ مِّنْ
عِنْدِهٖ یا بل حکم راولیږي له خپله جانبه لکه په قتل او په جلاوطنی د یهودو و یا په ښکاره
کولو د منافقانو فَيُصْبِحُوْا پس شي دا منافقان عَلٰى مَآ پر هغه شي اَسَرُّوْا چې پټ کړي دې
دوی فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ په زړه خپلو کښې چې دوستي ده له یهودو سره یا نفاق دی له رسول
سره نٰدِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ پښیمان وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا او وائي مؤمنان یو بل ته اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ
آیا دا هغه کسان دي اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ چې قسم کوي په خدای جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لا هو پر سخت
قسمونو خپل په دې اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ د چې بیشکه دوی هرآئینه له تاسې سره دي او اوس
معلومه شوه چې هغه قول دروغ وو حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ خراب شول ټول عملونه د
دوی فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ پس شو دوی زیان کاران په دنیا کښې په شرمندگۍ او
په آخرت کښې په دوام د عذاب يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اې ټولې د مؤمنانو مَنْ يَّرْتَدَّ
مِنْكُمْ هر څوک چې بیرته وگرځي له تاسې عَنْ دِيْنِهٖ له دین خپله فائده :- دا حادثه
مخکې تر وقوعه بیان شوې ده او هغه دا سې ده چې بیا دری طائفې د عرب په وخت
د وفات د رسول علیه السلام کښې مرتد شوي یو بنواسد قوم د طلیحه چې دعوی د پیغمبرۍ
ئې کړې وه او رسول علیه السلام حضرت خالد ور پسې لیږلې وو او شام ته تښتېدلی
وو او بیا ئې اسلام راوړ وو او بل بني مدلج دي د یمن قوم د فیروز دیلمي چې ده هم
دعوی د پیغمبرۍ کړې وه او تمام یمن ئې لاندې کړې وو بیا دی فیروز دیلمي چې

خورلے وو د نجاشی پہ شپہ د وفات د رسول علیہ السلام مرکړو او بل بنی حنیفہ دی قوم
د مسلمة الکذاب چې ده هم دعویٰ د پیغمبری کړے وه بیا دے پس له وفات د رسول
په خلافت د صدیق اکبر رضی اللہ عنہ کښې وحشی بن حرب چې قاتل د امیر حمزة رضی اللہ عنہ وو مړکړو او اته
طائفې نورے هم مرتدے شوے وې پس له وفات د رسول علیہ السلام او هغه قولے بیا
خدای په سزا ورسولے چې هغه فزاره او کندہ او غسان او غطفان او بنو بکر او بنو یربوع
او بنو سلیم او بعض بنی تمیم دی فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ پس ژر ردی چې راوبه ولی خدای
د دوی پر ځای بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ یو هسی قوم چې محبت لری خدای له دوی سره وَيُحِبُّونَهُ ۙ
او محبت لری دوی له ده سره او دا خلق یا د فارس یا د یمن دی أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ چې
متواضع عه او مهربان وی پر مؤمنانو أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ چې غالب او سخت دل وی پر
کافرانو باندی يُجَاهِدُونَ چې جهاد کوی یعنے سر او مال خیل بښیندی فِي سَبِيلِ اللَّهِ
په لاره د خدای کښې وَلَا يَخَافُونَ او نه ویریږی لَوْمَةَ لَائِمٍ له ملامتی څخه د هیڅ
ملامتے کونکی ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ دا مذکور قول فضل دی د خدای يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ ورکوی
ئې هر هغه چا ته چې اراده ئې وشی وَاللَّهُ او خدای وَاسِعٌ عَلِيمٌ (۵۴) د ډیر فضل
خاوند او دانا دی پر مستحقانو د فضل روایت دی چې عبد اللہ بن سلام رضی اللہ عنہ له خپلو
تابعانو سره رسول علیہ السلام لره راغی چې د واړه طائفې د یهود و له موږ څخه بیزاره شوی
په سبب د اسلام زموږ او د دوستی او پیوند د خپلولی ئې را څخه پری کړو نو نازل شو
إِنَّمَا بیشکه دا خبره ده وَلِيُّكُمُ اللَّهُ چې دوست او نگهبان ستاسے خدای دی وَرَسُولُهُ
او رسول د ده دے وَالَّذِينَ آمَنُوا او هغه کسان دی چې ایمان ئې راوړی دی یعنی اصحاب
بیا ابن سلام چې دا ایت واوریده نو وے ویل چې رضینا باللہ و برسوله و بالمؤمنین اولیاء
روایت دی چې علی کرم اللہ وجهه یوه ورځ په رکوع کښې وو چې یو سوال تری وکړو
او ده په لاس کښې گوتمۍ وه نو په عمل قلیل سره ئې وه ایسته او ور وائے چوله نو
نازل شو الَّذِينَ آفرین دی پر هغو کسانو او دا منصوب دی په مدح سره يُقِيمُونَ

عه عاجزی کونکی دی ۱۲ عه صفه اداءچے راضے یو موږ په پاك الله او په رسول د خدای او په مؤمنانو ۱۲

الصَّلٰوةَ چې برابر کوی لمونځ خپل سره د تولو حقوقو وَیُؤْتُوْنَ الزَّکٰوةَ او ورکوی د وی خیرات
وسائل ته وَهُمْ رٰکِعُوْنَ ﴿۵۵﴾ او حال دا چې د وی په رکوع کښې ولاړ وی او دا هلته که دا
ځان ته حکم شي او که له ما قبل سره پیوند شي نو دا الذین بدل دی له تیره الذین نه او
یا خبر دی د مبتدا ء محذوفی یعنی هم الذین وَمَنْ یَّتَوَلَّ اللّٰهَ او هر څوک چې دوستی کوي
د خدای سره وَرَسُوْلَهٗ او له رسول د ده سره وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او له هغو سره چې ایمان
ئې راوړی دی یعنی مهاجرین او انصار فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ پس بیشکه لښکر د خدای چې دی
هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۵۶﴾ هم دوی غالب دی روایت دی چې رفاعه بن زید او سوید بن ع ۸ ۱۲
حارث چې یهودی وو او اسلام ئې ظاهر کړی وو او پکښې منافقان وو او بعض مسلمانانو به دوستی
ورسره کوله نو نازل شو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اے قوله د مؤمنانو لَا تَتَّخِذُوا الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا
مه نیسی هغه کسان چې نیولې دی دوی دِیْنَکُمْ هُزُوًا دین ستاسې پوچی مسخری وَّلَعِبًا
او لوبې یعنی په ظاهر کښې ځانونه مسلمانان بولی او پکښې هم هغسې لا کافران دی مِّنَ الَّذِیْنَ
له هغه کسانو اُوْتُوا الْکِتٰبَ چې ورکړه شوی دی دوی لره کتاب مِنْ قَبْلِکُمْ مخکې له تاسې یعنی
یهود وَالْکُفَّارَ اَوْلِیَآءَ او مشرکان دوستان وَاتَّقُوا اللّٰهَ او بیریږی له خدا اِنْ کُنْتُمْ
مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۵۷﴾ که یاست تاسې مؤمنان په حقه سره ځکه چې مؤمن لره نه ښایئ چې دوستی
کوی له دښمن د دین خپل سره وَاِذَا نَادَیْتُمْ او په هغه وخت کې چې بانګ کوی تاسې او رابولی
خلق اِلَی الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا ولما نحه ته یعنی چې اذان کوی نو سازکی دوی دا لمونځ یا
دا اذان هُزُوًا وَّلَعِبًا ط پوچی مسخری او لوبې یعنی مسخری در پوری کوی ذٰلِکَ دا
مسخری د دوی په دی سبب دی بِاَنَّهُمْ چې بیشکه دوی قَوْمٌ لَّا یَعْقِلُوْنَ ﴿۵۸﴾ یوه تولی ده
چې هیڅ عقل نه لری روایت دی چې یهود و له رسول ﷺ نه پرسان وکړو چې تا پر چا ایمان
راوړی دی نو ده دا آیت تیر کړو چې امنا بالله وما انزل الینا ان تر مسلمون پوری ع
دوی نو مر د عیسٰی ع واوریدی نو وړ ته ئې وویل چې ستاسې له دینه بل ناکاره دین نه ته

ع یعنی ایمان راوړی دی موږ پر خدای او پر هغه چې رالیږلے ئې دی موږ ته او پر هغه چې
رالیږلے ئې دی موسٰی ع او عیسٰی ع ته ۱۲

نه بنکاری اوله تا سے څخه بے برخے هم راته نه بنکاری نه په دنیا او نه په آخرت کی نو نازل شو قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ ووایه اے یهودو هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ آیا عیب ګڼی له موږ او کینه کوی راسره یعنی نه کوی اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ مگر په دی سبب چه ایمان راوړی دی موږ په خدای وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا او په هغه چه رالیږل شوی دی وموږ ته چه قران دی وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ لا او په هغه چه رالیږل شوی دی مخکی تر موږ لکه تورات یا انجیل یا نور کتابونه شول وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ او بل په دے سبب چه زیات له تا سے فٰسِقُوْنَ ﴿۵۹﴾ فاسقان دی قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ ووایه ته چه آیا خبر کړم تا سے بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ په ډیر بد تردی عیب زموږ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ط له جهته د جزا په نزد د خدای او هغه ډیر بد چه دی مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ هغه څوک دی چه لعنت پرے کړی دی خدای وَغَضِبَ عَلَيْهِ او چه غضب شوی دی پر ده وَجَعَلَ اوګرځولی ئی دی مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ بعض له دوی چه اصحاب سبت دی بیزوګان وَالْخَنَازِيْرَ او بعض چه منکران له مائدی څخه دی خنزیران او دا د واړه مسخ په اصحٰب سبت کښے دی چه ځوانان ئے بیزوګان شول او زاړه ئی خنزیران شو وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ط او بل هغه څوک دی چی عبادت ئی کړی دی د خسی (ګیلګی) یا فرمان ئے منلی دی د کاهنانو یا د بل چا په معصیت د خدای کښی اُولٰٓئِكَ دا تولی د ملعونانو شَرٌّ مَّكَانًا ډیر بد دی له جهته د ځایه چه دوزخ دی وَّاَضَلُّ او ډیر ګمراه دی عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿۶۰﴾ له مینځه د سمی لاری چی هغه زسونکی ده جنت ته روایت دی چه ځولے د یهودو به رسول علیه السلام لره راغلے او ویل به ئی پر طریقه د نفاق سره چه موږ ایمان راوړے دی پر تا نو نازل شو وَاِذَا جَآءُوْكُمْ او په هغه وخت کی چه راشی دا منافقان د یهودو یا مطلق منافقان تا سے ته قَالُوْٓا اٰمَنَّا نو وائی چه ایمان راوړی دی موږ هم ستا سے په شان وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ او حال دا چه په تحقیق سره را۔

مه یعنی یاران د بنکار کولو د خالی په ورځ کښے یعنی چه دوی منع کړه شوی وو له بنکار څخه په دغه ورځ کښی او دوی به کاوی ۱۲ مه د خوانیچه (دسترخوان) چه پر عیسیٰ ع لا اسمانه راغلے وو او وروی ته ئی وویل چه د خیره کوی ئی مه او دوی د خیره کړه ۱۲

ننوتلی دی دوی تا سے ته په کفر سره وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ط او دوی په تحقیق سره وتلے
هم دی له تا سے په کفر سره یعنی کفر له دوی سره دی په وخت د ننوتو او د وتو کښے له
تا سے څخه وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا او خدای ښه خبر دار دے په هغه کفر او نفاق او کینه له
مؤمنانو سره کَانُوْا چه دی دوی یَکْتُمُوْنَ ﴿٦١﴾ چه پټوی ئے وَتَرٰی کَثِیْرًا مِّنْهُمْ او وینی
به ته ډیر له دی یهودو یا له منافقانو یُسَارِعُوْنَ فِی الْاِثْمِ چه جلتی کوی دوی په
حاصلولو د حرامو یا په ویلو د دروا غو کښی وَالْعُدْوَانِ او په ظلم وَاَکْلِهِمُ السُّحْتَ ط
او په خوړلے د دوی کښی حرام یعنی رشوت یا ربوا لَبِئْسَ مَا هر اینه بد دی هغه
کار کَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾ چه کوی ئې دوی لَوْلَا یَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِیُّوْنَ ولی نه منع کوی عالمان
وَالْاَحْبَارُ او زاهدان عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ له ویلو د دوی د درواغ وَاَکْلِهِمُ السُّحْتَ ط
او له خوراکه د دوی حرام یعنی داد رشوت او د ربوا لَبِئْسَ مَا هر اینه بد دی هغه کار
کَانُوْا یَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾ چه دی دا عالمان او زاهدان چه کوی ئې چی هغه سکوت دی له نهی
د منکر روایت دی چه مخوا له هجرته یهود ډیر غنیان او مالدار وو بیا چه رسول علیہ السلام
راغلی او دوی کینه او انکار ورسره بر پا یه کړی نو ډیر خوار شول او ویل به ئې چی اوس
موږ ته د خدای دلاسه هیڅ نه راتوئیږے ځکه روزی را باندی تنګه شو نو نازل شو
وَقَالَتِ الْیَهُوْدُ او وائی یهود یَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ط چه لاس د خدای تړلی دی او د اکنا یه
ده له بخله یعنی موږ ته هیڅ نه راکوی او روزی ئې را باندی تنګه کړے ده غُلَّتْ
اَیْدِیْهِمْ تړل شوی دوی همیشه لاسونه د دوی په بخل یا په فقر وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا م
او تړل شوی دوی له رحمته د خدای په سبب د دے خبری چه وائی دوی بَلْ یَدٰهُ
مَبْسُوْطَتٰنِ لا بلکه دواړه لاسونه د ده غځید لی دی یعنی جود لی ډیر او کرم ئې له حده
زیات دے او له بخله پاک دی او فضل ئې بی اداز که دی یُنْفِقُ کَیْفَ یَشَآءُ ط روزی
ورکوی هرچا لره هر رنګه چه اراده ئې وشی په حکمت سره بالغه وَلَیَزِیْدَنَّ کَثِیْرًا او هر
اینه زیاتوی خامخا ډیر او د اکثیرًا مفعول دی مقدم د یزیدن لپاره مِّنْهُمْ له

دی یهود وته مَآ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ هغه قرآن چې رالیږلے شوے دی تا ته اودا ئی فاعل
دی موخر مِنۡ رَّبِّكَ له ربه ستا طُغۡيَانًا وَّ كُفۡرًا ؕ له جهته دیاغی والی اودکفره یعنی
دوی لا نور هم زیاتیږی په کفر او سرکشئ کښے ځکه چې هر کله چې قرآن راشی دوی پرے ایمان نه راوړی نو دوی لا یاغیان او کافران وه او په اورید و ددے قرآن سره له ډیره بغضه او دکینی
دا یاغی توب او کفر ئے لا پسے زیاتیږے وَاَلۡقَيۡنَا او وا چولو موږ بَيۡنَهُمُ الۡعَدَاوَةَ په
مابین ددے یهودو کښے یعنی د بنی نضیر و او د بنی قریظه وو کښے دښمنی وَالۡبَغۡضَآءَ او
بغض اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ ؕ ترورځے دقیامت پورې نو نن رونه به ئی هیچیری سره یو کړے شی
كُلَّمَاۤ اَوۡقَدُوۡا هر کله چې بل کړی دوی نَارًا لِّلۡحَرۡبِ اور دپاره دجنګ له رسول سره
اَطۡفَاَهَا اللّٰهُ ۙ نو مړ کړی دا اور خدای په دی شان چې ددوی په مینځ کښی سره بی اتفاقی
واچوی نو هغه ځندی یا ته شی وَيَسۡعَوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ او ځغلی دوی په ځمکه کښے فَسَادًا ؕ له
دپاره دفسا داو دفتنی انګیزی وَاللّٰهُ او خدای لَا يُحِبُّ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿۶۴﴾ نه خوښوے
فسادکونکی وَلَوۡ اَنَّ اَهۡلَ الۡكِتٰبِ اوکه بیشکه دی اهل کتاب اٰمَنُوۡا ایمان راوړی وای
پر رسول علیه السلام وَاتَّقَوۡا او پرهیز ئے کړی وای له ګناهو یا له یهودیت او له نصرانیت نه
لَـكَفَّرۡنَا عَنۡهُمۡ نو هرائینه رژولی به وو موږ له دوی نه سَيِّاٰتِهِمۡ ګناهونه ددوی
وَلَاَدۡخَلۡنٰهُمۡ او هرائینه داخل کړی به وو موږ دوی په هغه جهان کی جَنّٰتِ النَّعِيۡمِ ﴿۶۵﴾
په هغه جنتو کښے چې ډک دی له هر قسم نعمتو نه وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اوکه بیشکه دوی اَقَامُوا
التَّوۡرٰىةَ پر پایه ئے لرلی وای احکام د تورات وَالۡاِنۡجِيۡلَ او دانجیل یعنی عمل ئے کولای
په احکامو د هغو ټولو (عه) له راتلو د رسول علیه السلام وَمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡهِمۡ او برپایه ئی لرلای
احکام دهغه کتاب چې رالیږل شوی دی دوی ته مِّنۡ رَّبِّهِمۡ له ربه ددوی په زمانه
د رسول علیه السلام کښے چې قرآن دی لَاَكَلُوۡا نو هرائینه خوړه لای به ئی مِنۡ فَوۡقِهِمۡ د پاسه د
سرو خپلو وَمِنۡ تَحۡتِ اَرۡجُلِهِمۡ ؕ او له لاندی د پښو خپلو یعنی میوی به ئے خوړی له ونو
او غلی به ئی خوړے له ځمکی دوارو پریمانه له ډیره بارانه مِنۡهُمۡ اُمَّةٌ مُّقۡتَصِدَةٌ ؕ
بعض له اهل کتابو یو ټولی ده انصاف داره میانه روه راستکاره چې هغه ابن

عه یعنی پر ځای پر لرلای ئی او کولای ئے ۱۲

سلام دی له خپلو ملګرو سره له یهودو څخه او اته څلوېښت تنه دی له نصارٰی وو
څخه وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ او زیات چې دی له دوی سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾ بد دی هغه کار ع ٩ ١٣
چې کوي يې دوی لکه کعب ابن اشرف شو سره د خپلو ملګرو يَٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ ای رسوله
نه ما بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ ورسوه و قولو خلګو ته هغه د رست پیغام چې رالیږل شوی دی
إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ط تا ته له ربه ستا یعنی څه احکام چې راغلی دی تا ته له ربه ستا
که د ځان او که د جهان په حق کښې دی هغه قول ورسوه او بیان يې و خلګو ته وکړه او
په دی کښې مه له چا ویریږه او مه شرمیږه او مه رعایت کوه وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ او که دا
دی ونه کړه یعنې قول دی ونه رسول فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ط پس نو له سره دی ونه رسا
پیغام د ده ځکه چې نه رسول د بعض احکامو بې فائدی کوي رسول د نورو او په
مقابله د اعداؤ د دین کښې هره خت ملا تړلې اوسه او له هیچا خوف مه کوه وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ
او خدای به ساتي تا مِنَ النَّاسِ ط له خلګو څخه یعنې له شره د کفارو اِنَّ اللَّهَ بیشکه چې
خدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾ نه ښيي و ډلې د کافرانو ته لاره د ضرر رسولو
تا ته روایت دی له انس بن مالک څخه چې چوکیداری د رسول علیه السلام به همیشه مونږ
کوله بیا دا ایت مبارک راغلی نو سرمبارک يې له قبې څخه را وایستی او بزغ يې وکړی چې
اے خلګو ورځئ له چوکیداری بی غمه شئ چې رب بخیله ذمه د ساتلو زما وکړه قُلْ
و وایه ته يَٰٓأَهْلَ الْكِتَٰبِ چې اے اهل کتابو لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ نه یاست تاسې په هیڅ شي له
دینه حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَىٰةَ تر هغو چې پر ځای کړی تاسې قوله احکامه د تورات وَالْإِنجِيلَ
او د انجیل وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم او د هغه چې رالیږل شوی دی و تاسې ته مِّن رَّبِّكُمْ له ربه
ستاسې چې قران دی او یو له اقامته ددی د رو سره وو ایمان راوړل دی پر رسول
نو څو چې تاسې پر ده ایمان نه دے راوړے تر هغه نو هیڅ قبول نه دی وَلَيَزِيدَنَّ او
هرا ئینه زیاتوی خامخا كَثِيرًا مِّنْهُم ډیرو له دی یهودو څخه مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ هغه
چې رالیږی شوی دی و تا ته مِن رَّبِّكَ له ربه ستا چې قران دی طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا

یا غی توب او کفر فَلَا تَأْسَ پس خفگان مه کوه عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۸﴾ پر دله د کافرانو
اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چې ایمان ئې ظاهر کړی دی تش په خولو او پکښې منافقان دی
وَالَّذِيْنَ هَادُوْا او هغه کسان چې یهودیان دی وَالصّٰبِـُٔوْنَ او لغزیدلي چې دی دا مبتداء
ده او خبر ئې محذوف دی چې كَذٰلِكَ دی یعنې د دوی هم دا سې حکم دی او ددې مرتبه تر
طولو وروسته ده چې خارج شې د اسم او د خبر څخه د اِنَّ او یا منصوب دی په عطف سره
او نصب ئې په فتحه سره د نون دی او استعمال ئې په یٰ سره هم جائز دی لکه په سورة بقرة
او حج کښې او په واو سره هم دی لکه په دې سورة کښې كذا في البیضاوي وَالنَّصٰرٰى او نصرانیان
مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ هر څوک له دې شلورو سره طائفو چې ایمان راوړی په صدق د زړه سره
پر خدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او پر ورځ د قیامت وَعَمِلَ صَالِحًا او عمل کوی د نیکو فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ
پس نشته هیڅ بیره پر دوی وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۹﴾ او نه به دوی خفه شي په وخت د جزاء کښې
لَقَدْ اَخَذْنَا هر آئینه په تحقیق اخیستی وو موږ په خوله د پیغمبرانو مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
عهد او پیمان له بني اسرآئیلو څخه د توحید او د ایمان پر محمد علیه السلام وَاَرْسَلْنَآ او لیږلي وو موږ
اِلَيْهِمْ رُسُلًا دوی ته پیغمبران چې وریاد کړی دا عهد او بیان کړی ورته او امر او نواهي
كُلَّمَا جَآءَهُمْ هر کله چې راغلی ودوی ته رَسُوْلٌ کوم پیغمبر بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ له په هر
هغه حکم له تکالیفو د شرع چې نه خوښولو هغه حکم نفسو د دوی فَرِيْقًا كَذَّبُوْا نو بعض
به ئې د رواغجن وبلل لکه عیسٰی او محمد علیهما السلام وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ﴿۷۰﴾ او بعض به ئې شهیدان
کړه لکه زکریا او یحیٰی علیهما السلام وَحَسِبُوْٓا او گمان کړی وو دوی اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ د دې
خبرې چې و به نه رسیږی دوی ته بلا او عذاب په تکذیب او قتل د دې انبیاؤ سره فَعَمُوْا
پس ړاندۀ شوه دوی له لیدو څخه د لاری د حق وَصَمُّوْا او کاڼه شوه دا وریدو څخه د خبرې
د حق ثُمَّ بیا پس له هغه توبه وه ایستلې دوی تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ نو قبوله کړه خدای توبه
د دوی ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا پس له هغه ړانده او کاڼه شوه كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ډیر له دوی څخه
له جهته د انکار کولو د دوی له رسول علیه السلام څخه وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ او خدای بینا دی بِمَا

يَعْمَلُوْنَ ⑦ پر هغه عملونو چه کوی ئې دوی لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ هر اٰینه په تحقیق سره کافران
دی هغه کسان قَالُوْٓا چه وائی دوی له ډیره جهله اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دی هُوَ الْمَسِيْحُ
ابْنُ مَرْيَمَ ط هم دغه مسیح دی زوی د بی بی مریمې ځکه بید اکول او ژوندی کول کوی
وَقَالَ الْمَسِيْحُ او ویل به مسیح يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے بنی اسراء یلو عبادت کوی
یوازی د هغه خدای رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ط چه رب دی زما او رب دی ستاسے نو ما ورسره مه شریکوی
په عبادت کښے ځکه چه زه هم ستاسے په شان مخلوق یم او عبادت خاص د خالق بائده دی بے
شرکته د بل چا ځکه چه اِنَّهٗ بیشکه شان دا دی مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ هر چا چه شریک ونیوی
په خدای پوری په عبادت کښی فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ پس په تحقیق سره حرام کړیدی خدای عَلَيْهِ
الْجَنَّةَ پر ده جنت وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ط او ځای دده اور دی یعنے دوزخ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ او
نشته هغه ظالمانو ته چه عبادت د بل چا کوی مِنْ اَنْصَارٍ ⑦٢ مددگار هیڅوك په دفعه د عذاب
کښی له دوی څخه لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ هر اٰینه په تحقیق سره کافران دی هغه کسان قَالُوْٓا
چه دوی وائی له ډیره حماقته اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دی ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ م دریم د دریو
خدایانو دے یعنی یو دی خدای دی او بل بی بی مریم ده او بل عیسےٰ دی وَمَا مِنْ اِلٰهٍ او حال
دا چه نشته بل ذات لائق د عبادت اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط مگر یوازی هم هغه خدای دے
چه موصوف دی په وحدانیت سره او پاك دی له شریکه وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا او که وانه
وښتل دوی عَمَّا يَقُوْلُوْنَ له هغه خبری څخه چه وائی یئے دوی لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ نو هر
اٰینه وبه رسیږی خامخا هغه کسانو ته كَفَرُوْا مِنْهُمْ چه کافران شوی دی له دوی څخه
عَذَابٌ اَلِيْمٌ ⑦٣ عذاب دردناك اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ آیا پس توبه نه کا بڼی دوی و خدای
ته له دی قوله د تثلیث وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ط او بخښنه نه غواړی له ده څخه د دی بد گفتار او
دا استفهام په معنیٰ د امر دی یعنے توبه دی وکاږی له دی تیرو څخه او بخښنه دی هم وغواړی
وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدای ډیر بخښونکی دی د تائبانو رَّحِيْمٌ ⑦٤ په یر مهربان دی پر طلبگارو بخښتو د
مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ نه دی مسیح چه زوی د بی بی مریمې دی اِلَّا رَسُوْلٌ ج مگر یو استاذی دے

ﮧ یعنی ملعمه نه شول ١٢ ﻋﻪ یعنی له دے خبرے ود رسے والی د خدا یانو ١٢

ز ما او خدای نه دی اگر که پلار نه لری او مری شوندی کوی قَدْ خَلَتْ په تحقیق سره تیر شویدی
مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ د مخکی ترده نور دیر پیغمبران لکه آدم چه هغه هم بے پلاره وو او بی موره
هم وو او موسیٰ چه وچ لرگی به ئی شوندی کاوی او دے خو لا بنی آدم شوندی کوی وَاُمُّهٗ
صِدِّيْقَةٌ ط او مور دده دیره راست گویه وه كَانَا و دواړه مور او زوی يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ چه
خوړ له به ئے طعام لکه دا نور مخلوق چه ئی خوری نو اطلاق د ربوبیت نه دی پرې اُنْظُرْ وگوره
كَيْفَ نُبَيِّنُ چه څرنگه بیانو نو موږ لَهُمُ الْاٰيٰتِ دوی ته دلائیل د توحید ثُمَّ انْظُرْ بیا وگوره
و دوی ته اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۷۵﴾ چه څرنگه چپ کړه شوی دی دوی له حق نه قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ
ووایه چه آیا عبادت کوی تاسے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ د هغه شی چه
اختیار نه لری د رسولو و تاسے ته یعنی عیسیٰؑ ضَرًّا وَّ لَا نَفْعًا ط د هیڅ قدر ضرر او نه د هیڅ قدر
نفع بیله اذنه د خدای وَاللّٰهُ او خدای چه دی هُوَ السَّمِيْعُ هم دی اوریدونکی دی د نا لایقو
خبرو الْعَلِيْمُ ﴿۷۶﴾ بنه دانا دی په فاسد و عقیدو قُلْ ووایه ودوی ته يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ اے اهل
کتابو لَا تَغْلُوْا فِىْ دِيْنِكُمْ مه تیریږی له خپله حده په دین خپل کښے غَيْرَ الْحَقِّ په ناحق او
هغه تیریدل دا دی چه نصاریٰ ئے له ډیره اعتقاده خدای بولی او یهود ئی له ډیرے
بی اعتقادی لایق د پیغمبری هم نه بولے وَلَا تَتَّبِعُوْۤا او پیروی مه کوی اَهْوَآءَ قَوْمٍ
د بی ځایه هواگانو د هسی قوم یا د پلرو خپلو په مقابله د شارع کښے قَدْ ضَلُّوْا چه په
تحقیق سره لغزیدلی وو دوی مِنْ قَبْلُ پخوا له ظهوره د اسلام وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا او بیا
۱۰ ع لغزولی وو دوی ډیر خلق وَضَلُّوْا او اوس هم لغزیدلی دی پس له ظهوره د اسلام ع ۱۰
۱۱ ۱۲ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿۷۷﴾ له مینځه د سمی لارے چه هغه لاره د اسلام ده لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۱۱ ۱۲
په لعنت کړه شوی دی هغه کسان چه کافران وو مِنْۢ بَنِىْۤ اِسْرَآءِيْلَ له بنی اسرائیلو څخه
عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ پر ژبه د داوٗدؑ چه هغه شپږ زره مخلوق وو د بنا رده آیله د سیند
پر غاړه هر کله چه بی فرمانی ئی وکړه په ښکار کولو د ماهیانو سره په ورځ د خالی کښے او
داوٗد علیه السلام ووئیل اللّٰهم العنهم واجعلهم اٰیة یعنی ای خدایه لعنت ئی کړه او عبرت

ئې کړه ترقیامته نو بیزوګان شوه او دا قصه به تمامه (پوره) په سورة اعراف کښې راشي وَ
عِیْسَى ابْنِ مَرْیَمَ د او په ژبه د عیسیٰ چې زوی دی د بی بی مریمې چې هغه ښځه نره مخلوق
وو پس له نزوله د مائدې کافران شوی وو او بیا عیسیٰ علیه السلام وویل اللّٰهم عذب من
کفر بعد اکل المآئدة عذابا لم تعذبه احدا من العٰلمین والعنهم کما لعنت اصحاب السبت
یعنې اے خدایه په عذاب کړې هغه څوک چې کافران شوی دی پس له خوړلو د مائدې څخه په داسے
عذاب سره چې بل څوک دی داسې نه وی په عذاب کړی او په لعنت ئې کړې لکه اصحاب سبت
چې دی په لعنت کړی وو نو خنازیر شوه ذٰلِكَ دا لعنت چې وو بِمَا عَصَوْا په سبب د دے
وو چې بې فرمانی ئې وکړه له امره د خدای وَّكَانُوْا او وو دوی یَعْتَدُوْنَ ﴿۷۸﴾ چې تیریدل به
د حدو د ماموره به لکه چې بخیلوا به كَانُوْا لَا یَتَنَاهَوْنَ وو دوی چې یو بل به ئې سره نه
منع کول عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ د له هغه بد عمله چې کاوو به دوی لَبِئْسَ مَا قسم دی چې بد
دی دا کار كَانُوْا چې وو دوی یَفْعَلُوْنَ ﴿۷۹﴾ چې کاوو به دوی تَرٰی وینې به ته كَثِیْرًا مِّنْهُمْ
ډیر له دوی څخه یَتَوَلَّوْنَ الَّذِیْنَ چې دوستي به کوی له هغه کسانو سره كَفَرُوْا چې کافران
دی یعنې مشرکانو سره لکه کعب بن اشرف چې پس له جنګه د بدر مکے ته ولاړ او مشرکان
ئې بیا راتیزول لَبِئْسَ مَا بیا قسم دی چې بد وو هغه عمل قَدَّمَتْ لَهُمْ چې مخوا لیږلے
وو دوی له اَنْفُسُهُمْ ځانو د دوی او جزاء د هغه عمل چې دا اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ دا وه
چې په غضب شو خدای پر دوی وَفِی الْعَذَابِ او په عذاب د دوزخ کښې هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۸۰﴾
دوی به همیشه وی وَلَوْ كَانُوْا او که وای دا یهود یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چې ایمان ئې راوړی
وای پر خدای د زړه په اخلاص سره وَالنَّبِیِّ او په پیغمبر خپل چې موسیٰ علیه السلام دی وَمَآ
اُنْزِلَ اِلَیْهِ او پر هغه کتاب چې رالیږل شوی دی ورته چې تورات دی مَا اتَّخَذُوْهُمْ
اَوْلِیَآءَ نو نه به ئې وو نیولی دا مشرکان دوستان وَلٰكِنَّ كَثِیْرًا مِّنْهُمْ او لیکن ډیر له دوی
چې دی فٰسِقُوْنَ ﴿۸۱﴾ فاسقان دی لَتَجِدَنَّ هرا ئینه پیدا به کې ته اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً
ډیر سخت له ټولو خلکو له جهته د دښمنۍ لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوا الْیَهُوْدَ له مؤمنانو سره یهود وا

ع یعنی له یو بل د هغه شی چې امر یې کړه شوی وو وه دوی ته په هغه سره

وَالَّذِیۡنَ اَشۡرَکُوۡا ۚ اوبل هغه کسان دی چې شرك ئې اختیار کړے دے روایت دی چې جعفر
بن ابی طالب له یو څو نورو اصحابو سره په هجرت تللی وو حبشو ته بیا رسول علیه السلام یو
کاغذ چیل ورو لیږی و نجاشی ته چې باچا وو د دوی او ده چه دا کاغذ ولوست نو جعفر ئې
را حاضر کړی او عالمان او عابدان د خپل مملکت ئې را جمعه کړه او ده ته ئې وویل چې ستا سے
قرآن ده ته ولوله نو ده سورة مریم ولوست او دوی ډیر وژړل او نجاشے او دوی ایمان
پر را وړی یا یو شپیته تنه یا یو اویا تنه له حبشو څخه راغلے وو رسول ته او ده سورة یٰسٓ
ور ته ولوست نو دوی ډیر وژړل او قبول ایمان ئې راوړ نو نازل شو وَلَتَجِدَنَّ او هر آئینه
مومی به ته اَقۡرَبَهُمۡ مَّوَدَّةً ډیر نژدی له ټولو خلګو له جهته د دوستی لِّلَّذِیۡنَ اٰمَنُوا الَّذِیۡنَ
له مؤمنانو سره هغه کسان قَالُوۡۤا اِنَّا نَصٰرٰی دي چې وائي دوی بیشکه موږ نصاری یو ذٰلِكَ
دا ډیره دوستی د دوی چې ده بِاَنَّ مِنۡهُمۡ په دی ده چې بعض له دوی څخه قِسِّیۡسِیۡنَ او
همدا رشتینی عالمان دی وَرُهۡبَانًا او عابدان دی وَّاَنَّهُمۡ او بل دا چې دوی لَا
یَسۡتَکۡبِرُوۡنَ ﴿۸۲﴾ گردن کشی او کبر نه کوی له قبولو د حق څخه وَاِذَا سَمِعُوۡا او په هغه
وخت کی چې واوری دوی له جعفر طیار څخه او یا پخپله له رسول څخه مَاۤ اُنۡزِلَ هغه
کلام چې راليږل شوی دی اِلَی الرَّسُوۡلِ ور رسول علیه السلام ته چې قرآن دی تَرٰۤی اَعۡیُنَهُمۡ
وینی به ته سترګی د دوی چې له جوشه د زړه تَفِیۡضُ مِنَ الدَّمۡعِ تو یوی اوبنکی لکه باران
مِمَّا عَرَفُوۡا له دی جهته چې ئې وپیژندلو مِنَ الۡحَقِّ ۚ له هغه حق چې له خدایه راغلے دی
یَقُوۡلُوۡنَ رَبَّنَاۤ وائی دوی چې اے ربه زموږ اٰمَنَّا ایمان راوړی دی موږ پر دی کلام
او پر دی پیغمبر ستا فَاکۡتُبۡنَا پس ولیکه موږ مَعَ الشّٰهِدِیۡنَ ﴿۸۳﴾ له شاهدانو سره یعنی
له هغه کسانو سره چې شاهدان دی په حقیقت د قرآن او د رسول یا دا چې شاهدان به شي
د پیغمبرانو پر تیرو امتو په ورځ د قیامت روایت دی چې نجاشے او ملګری د ده اهل
حبشو ډیر ملامت کړه چې تاسو ایمان راوړی پر هغه چاچې تاسو د سره لید لی نه دے
نو دوی په جواب کښی ور ته وویل وَمَا لَنَا او څه باعث دی پر موږ لَا نُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ څخه

النصف

عه یعنی رومبنی استونه ۱۲

به راوړو موږ ایمان پر خدای وَمَا جَآءَنَا او پر هغه رسول ؐ یا قرآن چې راغلی دی
موږ ته مِنَ الْحَقِّ لا له حق ځنه وَنَطْمَعُ او حال دا چې امید لرو موږ اَنْ يُّدْخِلَنَا
دده چې داخل کړی مونږ رَبُّنَا رب زموږ مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۴﴾ له ډلی دصالحانو
سره چې امت د نبی آخر الزمان دی په جنت کښې فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ پس جزا ورکړه دوی ته
خدای بِمَا قَالُوْا په سبب دده خبرې چې وکړه دوی په رسوخ ؑ د اعتقاد او په اخلاص
د زړه سره جَنّٰتٍ تَجْرِيْ دا سې باغونه چې بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی د ونو
یا د بنګلو د هغو ځلور سره قسمه ولې خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط چې همیشه به وی دوی په دی
باغو کښې وَذٰلِكَ او دا چې ده جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ جزا ده د نیکو کارانو وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
او هغه کسان چې کافران شویدی وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ او نسبت د دروغو کوی آیتو زموږ ته
ع ۱۱ اُولٰٓئِكَ دا کسان چې دی اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾ ملګری او اوسیدونکی د دوزخ دی روایت
دی چې یوه ورځ رسول علیه السلام اصحابو ته احوال د قیامت بیان کړه نو دوی په خپلو کښې اتفاق
وکړو چې پس له دی ورځی خوراك او د شپی خوب او استعمال د غوړیو او اختلاط د ښځو دې
پر موږ موقوف وی او د وباره به له دنیا لاس اخلو او خپل وطن به پریږدو او کند په غاړه
به ګرځو او هم پردی کار پی قسم وکړی سره بیا چې رسول علیه السلام په دی خبر شو نو دوی ته
یې وویل چې زه خو په دی کار و چې تا سو اختیار کړی دی ما مور نه یم نو کله روژه نیسم
او کله یې خوری کله بیدیږی او کله ولاړیږی کله ښځو ته ورځی او کله یوازی او سي ځکه
دا نفس هم حق لری نو بې نوائی مه پریږدی نه هم کله روژه نیسم او کله یې خورم
کله بیده یم او کله ولیښ کله یوازی یم او کله غبرګ فمن رغب عن سنتی فلیس منی
لو نازل شو يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای تو لی د مؤمنانو لَا تُحَرِّمُوْا مه حراموی پر ځان
طَيِّبٰتِ مَآ پاکیزه او لذتناکه د هغو شیانو اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ چه حلال کړی دی خدای
تاسې ته وَلَا تَعْتَدُوْا ط او تجاوز مه کوی له حدود د خدای چې دده حلال پر ځان
حراموی

عه یعنی په ټینګ والی د عقیدی سره ۱۲ عه یعنی دا کار طریقه او لاره زما ده پس هر
څوك چې وګرځی له لاری ځنه زما پس نه دی هغه له امتیانو څخه زما ۱۲

إِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ ﴿۸۷﴾ نه خوښوی تیریدونکی له حده وَكُلُوْا
مِمَّا اوخورئ له هغې روزئ رَزَقَكُمُ اللّٰهُ چې درکړې ده تاسې ته خدای حَلٰلًا طَیِّبًا ص
په دې حال کښې چې حلاله پاکه ده وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْٓ او بیریږئ له هغه خدایه اَنْتُمْ بِهٖ
مُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ چې تاسې پر ده ایمان راوړونکي یاست ربط آیت دې چې پس له نزوله ددې حکمه
دوی وویل چې یا رسول الله موږ خو قسم کړی دی نو هغه به څرنګه شی نو نازل شو لَا
یُؤَاخِذُکُمُ اللّٰهُ نه نیسی تاسې خدای بِاللَّغْوِ فِیْٓ اَیْمَانِکُمْ په ناپوهې سره په قسمو ستاسې
کښې او قسم لغو په نزد د امام اعظم رح دا دی چې څوك قسم وکړی پر یو کار په دې ګمان چې دا
کار همداسې دی او په واقعه کښې هغه کار ددې له اعتقاده مخالف وی او دوی هم قسم کړی
وو په تحریم د طیبا تو عه په دې ګمان چې دا قربت عه دی بیا چې نهی راغلې ددې تحریم نو معلوم
شو چې دا قربت نه وو او په دې نوع قسم سره مؤاخذه صه نشته په شرع کښې وَلٰکِنْ یُّؤَاخِذُکُمْ
ولیکن نیسی تاسې بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَیْمَانَ ج په هغه سره چې په قصد قلبي سره کړې وی تاسې
بیا که دا قسم مات کړې تاسې فَكَفَّارَتُهٗٓ پس کفارت ددې ماتولو چې ده پوله څلور کارو دې
چې هغه دا دی اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰکِیْنَ ورکول د طعام دی ولسو مسکینانو ته چې هغه په نزد د
امام اعظم رح نیم صاع غنم یا یو صاع اوربشی یا یو صاع دخرما وو دهر مسکین کیږی مِنْ
اَوْسَطِ مَا له میانه د هغه غلې تُطْعِمُوْنَ اَهْلِیْکُمْ چې طعام ورکوی تاسې عیالو خپلو ته یعنی
دوه وخته څکه چې دا میانه ده او اعلیٰ ئې درې وخته او ادنیٰ ئې یو وخت دی اَوْ کِسْوَتُهُمْ
یا جامه د لسو مساکینو ده چې ستر د عورت راولې او لموڅ په کیږی اَوْ تَحْرِیْرُ رَقَبَةٍ ط
یا ازادول د مریی دی که مؤمن وی که کافر او په دې دری سره وو کښې سری مخیّر
دی هر یو چې کوی فَمَنْ لَّمْ یَجِدْ پس هر څوك چې بیا پیدا نه کی له دې درې سره وو
کفارا تو څخه یو هم فَصِیَامُ ثَلٰثَةِ اَیَّامٍ ط پس کفارت د هغه روژې نیول دی
پی در پی ذٰلِكَ دا مذکور چې دی کَفَّارَةُ اَیْمَانِکُمْ کفارت دی د قسمو ستاسې

عه طیبا تو یعنی ښو ښو عمده وو عمده وو شیانو ۱۲ عه یعنی عبادت د نژدې پو لے دی ۱۲ صه
مؤاخذه یعنی نیول او ملامت کول ۱۲

اِذَا حَلَفْتُمْ ط یہ هغه وخت کی چی قسم وکړی تاسے او بیا ئی مات کړے وَاحْفَظُوْٓا

اَیْمَانَکُمْ ط اوو ساتئ قسمونه خپل له هر قسم نقصانه څخه یعنے اول خوښ یه وساتئ

دکولو څخه دقسمو او که ئی وکړی نو بیائے وساتئ له ماتولو څخه اما که یه ماتولو کښے ئی

خیر ونه وواوکه درڅخه مات شو نو بیائے وساتئ له ترك دکفارت څخه كَذٰلِكَ همدا سے

لکه چی داکفارت دیمین ئے درته بیان کړو یُبَیِّنُ اللّٰهُ بیا نوی خدای لَكُمْ اٰیٰتِهٖ تاسی ته

نبنی دشرا یعو خپلو لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾ بنا ئی چی تاسے شکر وکاږی یه دے بیان

روایت دی چی عتبان بن مالك دبعض اصحابو نارے وکړو چی نارے ئی وکړو او شراب

ئی پرو چیښل نو سعد بن ابی وقاص یو خو اشعار وویل چی ذم د انصار وکښے وواو

یو سړی له دی مجلسیا نو څخه سر د سعد ورمات کړو بیا چی واقعه رسول لره راغله او

عمر سوال وکړی چی اللّٰهم بین لنا فی الخمر بیانا شافیا نو نازل شو یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا

ای تولیه د مؤمنانو اِنَّمَا الْخَمْرُ بیشکه هم دا خبره ده شراب چی دی او رنور مُسْکِرَات

هم پکښی داخل دی وَالْمَیْسِرُ اوجواری (خار) چی دی وَالْاَنْصَابُ اوبتان چی دی چی

در ول شویدی د پاره د عبادت وَالْاَزْلَامُ او هغه غشی چی دی چی نیك او بد فال په

نیسی رِجْسٌ داخلو سرکه پلیت یعنی حرام دی مِّنْ عَمَلِ الشَّیْطٰنِ له عمله څخه د شیطان

دی فَاجْتَنِبُوْهُ پس ځان وساتئ له دی پلیتی یا له دی عمل څخه د شیطن لَعَلَّكُمْ

تُفْلِحُوْنَ ﴿۹۰﴾ بنا ئی چی تاسے خلاصی بیا پید اکی یه دی ځان ساتلو سره اِنَّمَا بیشکه هم

دا خبره ده یُرِیْدُ الشَّیْطٰنُ اراده لری شیطان اَنْ یُّوْقِعَ د دی چی واچوی بَیْنَكُمُ

الْعَدَاوَةَ یه مابین ستا سو کښے دښمنی وَالْبَغْضَآءَ او بعض او کینه فِی الْخَمْرِ وَالْمَیْسِرِ

په څښلو د شرابو او یه کولو د جواری کښے وَیَصُدَّكُمْ او وا ړوی تاسے عَنْ ذِکْرِ اللّٰهِ له یاده

۹۱ څخه دخدای وَعَنِ الصَّلٰوةِ او له لمانځه څخه فَهَلْ اَنْتُمْ پس ایا یاست تاسے مُّنْتَهُوْنَ

ـه یعنی چی طعام ئی وخو رلو او له و و ده خو رلو څخه فارغ شوه ۱۲ ـه یعنی اے خدایه بیان کړی

دموږ ته په باب د شرابو کښے بیان بسه یعنی حرام کړی دا پرموږ ۱۲ ـه مسکرات یعنے نشه

او سے سودی سړ وستو نکی شیان ۱۲

منعه کیدونکی او گرزیدونکی له دی بده کاره یعنې واورې ځندی **فائده** په دی د دوایتو کېنې لس کړته (خلی) منعه راغلې ده له شرابو اول چا چې له جواری (خمار) سره ئې کله کړه دویم دبت پرستې په شان ئې کړه دریم پلیت ئې وبلل څلورم له عمله د شیطانانو ئې کړل پنځم امر د اجتناب ئې ځندی وکړو شپږم دا چې خلاصې په اجتناب کښې ده اووم دا چې موجب د دښمنی او دبغض او دکینې دی اتم دا چې اړونکی دی له یاده د خدای نهم دا چې حصاکونکی دی له لمانځه څخه لسم دا چې صریح امروشو چې واورې ځندی بیا هر کله چې دا ایتونه راغله نوعمر ووېل چې انتهینا یاربه یعنې واوسېتو ځندی اے ربه وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ او ومنئ فرمان د خدای په اجتناب کښې له خمرو وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ او ومنئ فرمان د رسول هم په تولو او امرو او نواهیو کښې وَاحْذَرُوْا او وه بیرېږی له مخالفت څخه د دوی فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ پس که شا کړه تاسې او وگرزېدئ تاسې له او امرو او نواهیو د دوی فَاعْلَمُوْٓا پس پوه شئ اَنَّمَا چې بیشکه هم دا خبره ده عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾ چې پر رسول زموږ د رسول د پیغام دی فقط په ښه وجه سره **روایت** دی چې له نزوله د تحریم د خمرو وروسته بعض اصحابو له رسول علیه السلام څخه سوال وکړو چې زموږ هغه مسلمانان ورونه چې پخوا مړه دی په حال د شراب خوری کښې د هغو به څه حال وی نو نازل شو لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نشته پر هغه کسانو چې ایمان ئې راوړے دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه ئې کړے دی دنیکو جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا هیڅ وبال په هغه کښې چې خوړلی دی دوی پخوا له حرمته اِذَا مَا اتَّقَوْا په هغه وخت کی چې پرهیز وکړے له شرکه وَّاٰمَنُوْا او محکم وی پر ایمان وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه کوی دنیکو ثُمَّ اتَّقَوْا بیا پس له هغه پرهیز کوی له محرماتو وَّاٰمَنُوْا او ایمان راوړے پر تحریم د دے محرماتو ثُمَّ اتَّقَوْا بیا پس له هغه پرهیز کوی له شبهاتو وَّاَحْسَنُوْا او احسان کوی له خلگو سره وَاللّٰهُ او خدای يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۳﴾ خوښوی نیکوکاران **روایت** دی چې په کال د حدیبی به د ابنکار حیوانات له لښکرو د اصحابو سره

عه یعنې حکم ئې وکړو په ځان ساتلو ځندی ۱۲

گډه وي کړنه یدل اوله دوی څخه به نه ترهیدل اما دوی احرام د عمرې تړلے وونو
ګذارلے نه شو پرکولای او په دی به دوی وېرته هیریدل نو نازل شو يَاأَيُّهَا الَّذِينَ
آمَنُوا اے تولیه د مؤمنانو لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللَّهُ هرآینه ازمایي به تاسے خامخا خدای یعنی
له تاسے سره معامله دازمایونکو کوی بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ په یو شی له ښکاره په وخت
د احرام ستاسے کښی داسے ښکار تَنَالُهُ چې رسیږی بعض ته أَيْدِيكُمْ لاسونه ستاسے
یعنی هغوته چې واړه وی وَرِمَاحُكُمْ اوبعض ته نیزے ستاسے چې هغه غټ دی اودا
ابتلاء دپاره د دی ده لِيَعْلَمَ اللَّهُ چې ښکاره کړی او بیل کړے خدای مَنْ يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ
هغه څوک چې بیریږی له ده څخه له هغه چا څخه چې نه بیریږی له ده څخه پټ سالا فَمَنِ اعْتَدَىٰ
پس هرڅوک چې له حده تیرشو او ښکار لے وکړے په احرام کښے بَعْدَ ذَٰلِكَ پس له دی
ازمایښته فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۹۴﴾ پس د دے ده لره عذاب دردناک يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا
اے تولیه د مؤمنانو لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ مه قتلوی ښکار یعنی هرهغه حیوان چې له تاسے
ترهیدونکی وی که لے غوښه خوړل کیږی او که نه خوړل کیږی بیله تپوسه اوله غټ
کاره که اوله لړمه اوله مږکه اوله خوړونکی سپی چې د دی پنځوسره ووقتل روادی په احرام
کی هم او په یوه روایت کښی ماربدل د لړمه څخه دی اولیوه بدل د سپی څخه دی او هرچې
غوماښه او وړه او کمی او شمشتی او میږے دی عفوه دی په مذهب زموږ کی کذافی الاحمدی
وَأَنتُمْ حُرُمٌ ط او حال داچې تاسے په احرام کښے یاست وَمَن قَتَلَهُ او هرهغه څوک چې کوی
دا ښکار مِنكُم مُّتَعَمِّدًا له تاسے څخه په قصد سره یعنی چې یاد ئې وی داچې زه محرم یم
او قتل د صید پرما حرام دی فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا پس جزا واجب ده پر هغه په مثل د
هغه صید قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ چې قتل کړے وی ده له چارپایانو لکه پسونه یاوزی
(بزی) یا غوایان یا اوښان شو چې په فدیه د هغه صید کښے دی ورکړی يَحْكُمُ بِهِ
چې حکم کوی په هغه جزا ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ دوه تنه خاوندان د عدل یوهنده له تاسے
مسلمانانو څخه چې د واړه ووائی چې داد هغه قیمت دے هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ په دی

حال کښي چې هغه جزا د قربانۍ شي ږ سیدونکي وکعبې ته چې هلته ذبحه شي او قیمت شې
پر مساکینو أَوْ كَفَّارَةٌ یا کفاره د قتل دده پرده طَعَامُ مَسٰكِيْنَ طعام ورکول دي نادارانو
ته أَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ یا پر برابرۍ ددې طعام صِيَامًا ږ وژې نیول دي لِيَذُوْقَ د پاره
ددې چې وڅکي دا قاتل د صید په حال د احرام کښې وَبَالَ أَمْرِهٖ ط سختي د عمل خپل
حاصل دا چې وائي امام ږ موږ چې اول دي صید قیمت کړي بیا نو دی مخیر دی
په دې درو کارو کښي چې په دې مبلغ ئې اخلې اوکعبې ته ئې لیږي او که هدیه پر برابر د
او طعام په اخلی او هر مسکین ته په اندازه د کفارة یمین چې اوس ئې بیان تیر شو ور
کوي دي او که د هر مسکین د طعام پر ځای یوه ورځ ږ وژه نیسي عَفَا اللّٰهُ عفوه کړې
ده خدای عَمَّا سَلَفَ ط له هغه قتل چې مخوا شوی دی په جاهلیت کښې یا مخوا له دی تحریمه
وَمَنْ عَادَ او هر څوك چې بیرته وګرزیدې او ښکار ئې وکړي په حال د احرام کښې
فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ط پس انتقام به واخلې خدای له ده څخه وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ او خدای
ډیر غالب دی په حکم خپل کښي ذُو انْتِقَامٍ ﴿۹۵﴾ خاوند دانتقام اخستو دی أُحِلَّ لَكُمْ
حلال کړه شوید ې وتاسی ته صَيْدُ الْبَحْرِ ښکار د سیند که خوراکي وی او که نه وی
وَطَعَامُهٗ او خوراك ئې هم ږ وادی که خوراکي وی لکه ماهي مَتَاعًا لَّكُمْ د پاره د نفع
اخستو ستاسې وَلِلسَّيَّارَةِ عه او د پاره د کاروانیانو او د نورو مسافرو ستاسې چې
وچ ئې کړي د پاره د توښې د لارې وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ او حرام کړه شوی دی پر تاسې صَيْدُ
الْبَرِّ ښکار د وچې مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ط ترڅو چې یاست تاسې په احرام کښې وَاتَّقُوا اللّٰهَ
الَّذِيْٓ او وه بیرېږی له هغه خدای څخه إِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹۶﴾ چې هم وده ته بیا ټول
به جمعه ورو ستل کیږی جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ ګرزولې ده خدای
کعبه چې بیت حرام دی او دا وصف مادحه دکعبې دی قِيٰمًا لِّلنَّاسِ سبب دانتظام
دامورو د خلګو هم ددین لکه حج او عمرة او ږ ژیدل د ګناهوا وهم د دنیا لکه سوداګری
امان له قتله او له غاړ ته او له نوروا فاتو وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ او شهر حرام چې ذی

عه یعنی یوه کاسه اوربشې یا یوه کاسه خرما یا نیمه کاسه غنم و هر مسکین ته ۱۲ عه یعنی صفت کونکی ۱۲

الحجه ده هغه لیٔ هم سبب دانتظام کړی ده ځکه چې حج پکښی اداکیږی چې اعظم
دعباداتو دے یا مراد څلور سره میاشتې دی چې رجب اوذوالقعدة اوذوالحجه
اومحرم دی چې له قتل اوله غارته پکښی امان دی وَالْهَدْيَ اوهدی هم وَالْقَلَآئِدَ
اوقلاده داچارپایان هم یعنی داخلور سره لیٔ سبب د انتظام کړی دی ذٰلِكَ داتیر
بیان چې دی لِتَعْلَمُوْٓا دپاره ددے چې پوه شے تاسے اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه خدای يَعْلَمُ مَا
فِي السَّمٰوٰتِ اگاه دی پرهر هغه چې په اسمانونو کښې دی وَمَا فِي الْاَرْضِ او په هغه چې په
ځمکه کښې دی وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدای بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۹۷﴾ په هرهغه شی بنه عالم
دی هرحلال اوحرام لیٔ له حکمته خالی نه دے اِعْلَمُوْٓا پوه شی اَنَّ اللّٰهَ چې بیشکه
خدای شَدِيْدُ الْعِقَابِ سخت عذاب ورکونکی دی هغه چالره چې مُصِر[مه] وی پر محرماتو
وَاَنَّ اللّٰهَ اوبیشکه چې خدای غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۸﴾ ډیر بخښونکی مهربان دی پرهرهغه
چاچې ځان ساتی له محرماتو مَا عَلَى الرَّسُوْلِ نشته پر رسول زما اِلَّا الْبَلٰغُ مگر رسول
دپیغام مکلفانوته چې بیا ئے عذر پاته نشی وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اوخدای پوهیږی مَا تُبْدُوْنَ
په هغه چې ښکاره کوی ئے وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۹۹﴾ اوهغه چې پټوے ئے تاسے له وفاقه اوله نفاقه
اوله صدقه اوله کذبه قُلْ ورته ووایه دوی ته لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ نه برابریږی بد وَالطَّيِّبُ او
بنه سره یعنی حرام اوحلال اوپلیت اوپاك اوقلب (ردی) اوکهره (جید) په اموالوکښے اوهمدا سے
طالح اوصالح په اوکافراومسلم اوکاذب اوصادق په اشخاصوکښی بلکه داحکم عام دی په
هرڅه کښی جاری دی وَلَوْ اَعْجَبَكَ اواگر که تعجب راولے تاته كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ډیروالے
دخبیث ځکه چې اعتبار کره والے لره دی نه ډیروالی لره فَاتَّقُوا اللّٰهَ پس ووه بیریږی د
خدایه يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ای خاوند انو د صافو عقولو اوطیب غوره کوی پرخبیث اگر ۱۲ ع ۳
که لږ وی هم لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ ع بنائی چې تاسے خلاصے بیاپیداکی روایت دے
چې رسول علیه السلام یوه ورځ پرخطبه ولاړ وو اوطبع ئے ملاله وه له ډیرو بے فائده
پوښتنو اوله غضبه ئے وویل چې هرچا چې کومه پوښتنه وکړه نوجواب به ورلره

مه یعنی همیشه کونکی وی دحرامو شیانو ۱۲

ورکوم نوه سړے وویل چې اَیْنَ اَنَا یعنې چیرې به یم زه په ورځ د قیامت نوده په جواب
کې ورته وویل فی النار یعنې په اورکی به لې بیا بل وویل چې مَنْ اَبِیْ یعنې څوك دے
پلار زما نوده په جواب کښې وویل صداقة یعنې صداقه او حال د اچې دی د بل چا زوې
وو او دوی د واره خفه شوا وچا ویلی دی چې هرکله آیت د حج نازل شو نو سراقه بن
مالك وویل چې یا رسول الله دا به په هر کال وی او ده جواب ورنه کړی همدا سے درې
کرته (واره) بیا پس له دریم وار نې وویل چې نه بیائی ورته وویل چې که می ویلی وای چې
هو نو به هر کال به واجب شوے وو او بیا به ستا سے له لاسه نه وو پوره نو خو چې زه بند وم
نه کم تاسے نې مه کوی نو نازل شو آیَا یُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ای تولې د مؤمنانو لَا تَسْئَلُوْا
پو ښتنه مه کوی عَنْ اَشْیَآءَ له هغو شیانو اِنْ تُبْدَ لَکُمْ که ښکاره کړل شی تاسے ته جواب
د هغو تَسُؤْکُمْ نو خفه کوی تاسے هغه جواب وَاِنْ تَسْئَلُوْا عَنْهَا او که پرسان کوی تاسے
له دغه شیانو څخه حِیْنَ یُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ په دی موده کښې چې نازلیږی قرآن او د رواره د
وحی خلاصه وی تُبْدَ لَکُمْ نو ښکاره به کول شی وتاسے ته عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا عفوه وکړه
خدای له هغو څخه چې تیر شویدی له سوالو څخه نو پس له دی نور مه کوی وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِیْمٌ ﴿۱۰۱﴾
او خدای ډیر بخښونکی صابر دے قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ په تحقیق سوال کړے وو ستاسے د دے
سوال په شان یا د دے اشیاؤ په حذف د عَنْ سره هغه قوم مِّنْ قَبْلِکُمْ چې مخواتر
تاسے وو لکه سوال د او بنی یا د باد شاه یا د مآئدی له خپلو پیغمبرانو ثُمَّ اَصْبَحُوْا
بِهَا بیا پس له هغه شو په سبب د دی سوالو کٰفِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾ کافران یعنې پس له لید لود
معجزو به په شا لاړه نو به کافر شو روایت دی چې عادت د جاهلیت د خلکو داوو
چې اوښه به پنځه واره لنګه شوه او پنځم بچې به نې نر وو نو ددی غوږ به نې څیرے
کړی نو شل او بار ول او سپریدل او څښلو دل به لې پرمنعه کړه او ایله به نې کړه
او بحیره به لې بلله او چې څوك به ناروغه یا مسافر شو او وبه نې ویل چې که روغ شوم
یا په خیر کور ته ورسیدم نو داز ما اوښه دی سائبه وی بیا نو د بحیرے معامله به

هه لکه ثمود یا نو چې صالح ع ته و یلے وو چې دکا نی څخه را ته اوښه را او باسه او بنی اسرائیلو اقیه بر نسخه

ئے ورسرہ کوله او چې میږه به اوړه واره لنګه شوه او دا اوومه بچې که به نر وو نو به ئې حلال کړو او یوازې به نارینه وو وخوړل او که به ماده وه نو مدکینې به ئې ایله کړه او که به نر او ماده دواړه وه نو دا نر به ئې نه حلالولو او دې خور په وجه به ئې پریښوو او دا به ئې وصیله بلله ځکه چې ورور ئې له ځان سره وصل کړی او له ذبحې به ئې خلاص کړی او چې اوښ به لس اوښې بلاربې کړې نو د بحیرې په شان به ئې ایله کړی او حام به ئې بالی او ویل به ئې چې حمی ظهره یعنی و ئې ساتله شا خپله او ویل به ئې چې موږ دا کارونه په امر د خدای سره کوو نو نازل شو مَا جَعَلَ اللّٰهُ نه دی فرمایلی خدای مِنۡۢ بَحِیۡرَةٍ له هیڅ اوښې غوږ څیرې کړې وَّلَا سَآئِبَةٍ او نه له هیڅ اوښې په څراګاه کښې ایله کړې وَّلَا وَصِیۡلَةٍ او نه له هیڅ میږې چې له خپل ورور سره پیوسته شوې وي وَّلَا حَامٍ لا او نه هیڅ اوښ چې حمایت کونکی وي د شا خپلې وَّلٰكِنَّ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا او لیکن هغه کسان چې کافران دي لکه عمرو بن لحی او تابعان دده چې اول دا وضع ده کړیده يَفۡتَرُوۡنَ تړي له خپله ځانه عَلَى اللّٰهِ الۡكَذِبَ د پر خدای دروغ په نسبت د دې تحریم کوي وده ته وَاَكۡثَرُهُمۡ او زیات ددوی چې دي لَا يَعۡقِلُوۡنَ ۱۰۳ عقل نه لري چې بخپله حلال له حراموبیل کړي بلکه مقلدان دي د پلرو خپلو وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ او په هغه وخت کې چې وویل شي ودوی ته تَعَالَوۡا اِلٰى مَاۤ راشئ هغه حکم ته اَنۡزَلَ اللّٰهُ چې رالیږلې دی خدای له حلالو او له حرامو وَاِلَى الرَّسُوۡلِ او راشئ ورسول ته چې بیانونکی دی د هغه حکم قَالُوۡا نو وائې دوی حَسۡبُنَا بس دی مونږ مَا وَجَدۡنَا هغه حکم چې موندلی دی مونږ عَلَيۡهِ اٰبَآءَنَا ط پر هغه پلرو خپل یعنې رسول ته هیڅ حاجت نه لرو اَوَلَوۡ كَانَ آیا تقلید کوي دوی د پلرو خپلو اګرکه وي اٰبَآؤُهُمۡ پلرونه ددوی

(بقیه صفحه ۳۲۹) له خپل پیغمبر لکه شمعون یا یوشع وو باد شاه غوښتې د پاره د غزا کولو او چې طالوت باچاه شو نو بیا ئې غزا ونه کړه او د عیسی علیه السلام قوم دده خوانچه (سترخوان) طلب کړی وه ۱۲ عمه

عمه یعنی او به ورکول او خوړول د کښت او د زراعت او د چارپایانو او د سړیو او د نورو شیانو ۱۲ عمه یعنې ساتونکې وي ۱۲ لعه یعنی دا مقرر کول د دې تیرو شیانو مذکورو وو چې حرام دي او ده کړی وو ۱۲

از ابن کثیر منه

په دې حال لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا چې نه پوهیږي په هیڅ شي وَلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۴﴾ او نه لاره موي د حق لره دوی نو په تقلید کښې هیڅ نفعه نشته يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اے قوله د مؤمنانو عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لازم ده پر تاسي اصلاح او ساتنه د ځان خپل لَا يَضُرُّكُمْ هیڅ ضرر نه رسوي وتاسي ته مَّنْ ضَلَّ گمراه د هغه چاچې لغزیدلی وي اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ په هغه وخت کې چې سم اوسي په خپله پر لاري اما یو له سمونه ستاسي داده چې نهي کوی له منکره په قدر د طاقت خپل سره او داسي وانه وایاست چې گمراه د بل چا موږ ته هیڅ ضرر نه رسوی ځکه چې دا خو ستاسي خپله گمراهي شوه چې مانع نه سو است له منکره لکه چې په دې باب کښي بیت دی . بیت

که تالید چې راځي رو ند په کوهي بانا ری چپ گناه ده بزغ پروکړه لا د ورانډي

اِلَى اللّٰهِ خاص خدای ته مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا بیرته ورتله ستاسي دی د ټولو فَيُنَبِّئُكُمْ پس خبر به کړي تاسي په قیامت کې بِمَا كُنْتُمْ په هغه عملو چې واست تاسي تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ کول به تاسي هغه عملونه روایت دی چې بدیل نومي یو مهاجر وو ازاد کرده د عمرو بن عاص په سوداگري شام ته ولاړی له عدي او تمیم سره چې له نصارٰی وو وو ناگاه بدیل ناروغه شو نو خپل مال لے ټول په کاغذ کښې وکښي او دا کاغذ ئې خپل اسباب کښې پټ کښینوو ی او دوی ته ئې ووویل چې دا مال زما وعیال ته ورسوی نو دوی هغه اسباب خلاص کړه او یو جام د سپینو زرو لے ځندی وا خستی او باقي مال ئې د بدیل عیال ته ور کړی بیا چې دوی خلاص کړي او کاغذ ئې ولوست نو جام پکښي لیکلی وو او په اسباب کښې یافت نه شو نو جام ئې له دوی څخه طلب کړو او دوی پر منکر شو او دا جگړه رسول علیه السلام لره ور غله نو نازل شو يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ای قوله د مؤمنانو شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ شاهدی د وصیت چې ده یعني اشهاد چې دی ستاسي په مینځ کښې اِذَا حَضَرَ په هغه وخت کې چې حاضر شي اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ یو ه له تاسي ته نښې د مرګ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ په وخت د وصیت کښې دوه تنه دی او دا عبارت

په حذف د مضاف دی چه شهادت اثنان د ے یعنی شاهدی د دوو تنو د ه حُکه چه ۱۱
اثنان خبر د شهادة د ے او حمل د صرف ذات پر صرف وصف منعه دی ذَوَا عَدۡلٍ
مِّنۡکُمۡ دوه خاوندان د عدل او د انصاف له خپلوانو ستاسے یا له مسلمانانو اَوۡ اٰخَرٰنِ
یا نور دوه تنه دی وی مِنۡ غَیۡرِکُمۡ بیله خپلوانو ستاسے یعنی له بیګانه مسلمانانو یا
له ذمیانو او دا وروستی حکم اوس منسوخ دی حُکه چه شاهدی د ذمی پر مسلمان نه
ده روا په اجماع سره اِنۡ اَنۡتُمۡ که چیری تاسے ضَرَبۡتُمۡ فِی الۡاَرۡضِ سفر کری وی په
مُحکه کښی فَاَصَابَتۡکُمۡ پس ورسیږی وتاسے ته مُّصِیۡبَةُ الۡمَوۡتِ د غم د مرګ او
طریقه د دی شاهد ے داسی ده چه تَحۡبِسُوۡنَهُمَا حصار به کری تاسے دوی دواړه مِنۡۢ
بَعۡدِ الصَّلٰوةِ پس له لمانځه د ماځیګر حُکه چه داوخت د اجتماع د خلګو دی فَیُقۡسِمٰنِ
بِاللّٰهِ پس قسم د دی وکری په خدای اِنِ ارۡتَبۡتُمۡ که شکمند او ناوساه واست تاسے
پر دوی او شاهدی داسے وکی لَا نَشۡتَرِیۡ چه نه اخلو موږ بِهٖ ثَمَنًا په دی قسم مبلغ
د دنیا وَّلَوۡ کَانَ اګرکه وے دامشهود[ع] له ذَا قُرۡبٰى خاوند د قرابت یعنی خپلوان
وی وَلَا نَکۡتُمُ او نه پټوو موږ شَهَادَةَ اللّٰهِ شاهدی د خدای یعنی هغه شاهدی چه
خدای امر کړیدی په حفظ او په تعظیم د هغې اِنَّاۤ اِذًا بیشکه موږ چه یوکه پټه
کړو دا شاهدی لَّمِنَ الۡاٰثِمِیۡنَ ﴿۱۰۶﴾ هر آئینه له ګنهګارانو به شو روایت دی چه هر
کله دا حکم راغلی نو رسول علیه السلام عدی او تمیم لره پس تر لمانځه د ماځیګر پر منبر قسم
ورکړی چه موږ د بدیل مال نه دی اخستی او دا ز موږ قسم په رشتیا دی بیا څه
موده پس هغه جام په مکه کښی د دوی څخه ښکاره شو نو دوی وویل چه دا موږ له
بدیل څخه په بیعه اخیستی وو او بیا دا جګړه رسول علیه السلام لره ورغله نو نازل شو
فَاِنۡ عُثِرَ پس که اطلاع راغله عَلٰۤی اَنَّهُمَا پر دی چه هغه تیر شاهدان دواړه
اِسۡتَحَقَّاۤ اِثۡمًا لائق شو د ګناه په سبب د دروغو چه جام ورڅخه ښکاره شو فَاٰخَرٰنِ
پس نور دوه شاهدان غیر له هغو خائنانو څخه یَقُوۡمٰنِ مَقَامَهُمَا و دی دریږی پر

ع یعنی هغه څوک چه شاهدی ورباندی کیږی د پاره د هغه ۱۲

ځای د هغو تیرو خیانتگرو مِنَ الَّذِينَ اسْتَحَقَّ له هغه وارثانو د میت څخه چې
لائق وی عَلَيْهِمُ الْأَوْلَيَانِ پر دوی هغه دوه غوړه د دوی یعنې غوړه په شاهدی کېنې
د دوی له مینځه فَيُقْسِمَانِ بِاللَّهِ پس قسم دی وکړی دواړه وړوستی په خدای
پر دی باندی چې لَشَهَادَتُنَا هرآئینه دا شاهدی زموږ چې ده یعنې دا قسم زموږ
چې دی او دا حکم چې د اتیر لفظ د شهادة او دا مخکېنی هم دواړه په معنٰی د قسم دے
أَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا لائق ـــ تر دَه له شاهدی د هغو تیرو شاهدانو یعنې له قسمه
د هغو وَمَا اعْتَدَيْنَا زَطے او تجاوز نه دی کړی موږ له حقه څخه په دی قسم کېنې إِنَّا
إِذًا بیشکه موږ که تجاوز وکړو وکړو لَّمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿۱۰۷﴾ هرآئینه له ظالمانو څخه به یو بیا
عمرو بن عاص او مطلب بن ابی وداعه چې له اقرباؤ د بدیل وو پس له مانځه د ماخُپگر
په هم هغه شان قسم ئې وکړو د رسول علیه السلام په وړاندی بیا نو رسول ﷺ هغه جام له دوی
څخه واخستی او وارثانو د بدیل ته ئې ورکړے ذَٰلِكَ دا تیر حکم چې دی أَدْنَىٰ أَن يَأْتُوا
ډیر نژدی دی ووی ته چې راتله وکړی دا شاهدان بِالشَّهَادَةِ په شاهدی سره عَلَىٰ
وَجْهِهَا هم په هغه شان چې حق دی د دی شاهدی أَوْ يَخَافُوا آیا ډیر نژدی دی
دا تیر حکم دی ته چې وبیریږے دوی أَن تُرَدَّ أَيْمَانٌ له دی چې مبادا چې بیرته به رد
کړے شی قسمونه پرا ولیاؤ د میت یعنی بیا چې اولیاؤ د میت ته وویل شی چې تاسے
قسم وکړی بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ د پس له قسمو د وصیانو د میت نو قسم به وکړی دا اولیاء
په خیانت او په درواغو د دوی نو په عالم کېنی به شرمنده شی وَاتَّقُوا اللَّهَ او وه
بیریږے له خدایه او په درواغو قسم مه کوی وَاسْمَعُوا او واورۍ دا خبره د زړه
په غوږو وَاللَّهُ او خدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿۱۰۸﴾ نه بنیي توَلی د فاسقانو ع ۱۴ ۸ ۴
ته لاره د خیر او د جنت يَوْمَ یاد کړه هغه ورځ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ چې جمع به کړی خدای
ټول پیغمبران فَيَقُولُ پس وبه وائی دوی ته مَاذَا أُجِبْتُمْ څه جواب د رکړه
شوی وو تاسے ته په دنیا کېنې یعنی تاسی چې امتونه خپل ایمان او توحید ته رابللی وو

نو دوی به جواب کښی څه درته ووېل قَالُوا نو وبه وائی دوی لَا عِلْمَ لَنَا نشته دی
هیڅ قدر پوهه مونږ لره ستا د علم په مخکښې اِنَّكَ بیشکه ته چې ئې اَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ ﴿۱۰۹﴾
هم ته ئې ښه دانا په پټو نو د دوی انکار او اقرار تا ته ښه معلوم دی نو مونږ بیان ته
هیڅ حاجت نشته اِذْ قَالَ اللّٰهُ یاد کړی هغه چې وائی خدای په قیامت یٰعِیْسَی ابْنَ
مَرْیَمَ اذْکُرْ اے عیسٰی زوی د بی بی مریمې یاد کړه نِعْمَتِیْ عَلَیْكَ هغه نعمت زما
چې می توی کړی دی پر تا وَعَلٰی وَالِدَتِكَ او پر مور ستا هم چې پاکه کړی می وه او
غوره کړی می وه د خپلې زمانې پر ښځو او تا غوندې زوی می ورکړی و اِذْ اَیَّدْتُّكَ
یاد کړه هغه چې قوی کړی می وې ته بِرُوْحِ الْقُدُسِ قد په جبرائیل سره یا په هغه کلام
سره چې دین د په ژوندی کاوی یا مری دی په ژوندی کول تُکَلِّمُ النَّاسَ خبرې به دې
کولې د خلکو سره فِی الْمَهْدِ په ځانګوکی او دا دی معجزه وه وَکَهْلًا او په حال د کهولت
کښې چې د آسمانه بیا راکښته شې او دا دی هم معجزه ده وَاِذْ او یاد کړه هغه عَلَّمْتُكَ
الْکِتٰبَ چې دا ز ده کړه ما درته لیکل وَالْحِکْمَةَ او کلام راسخ هم وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِیْلَ
او تورات او انجیل هم یعنی حقایق او دقایق د دوی وَاِذْ تَخْلُقُ او بیا یاد کړه هغه
چې ساز به دی کړی مِنَ الطِّیْنِ له خټو څخه کَهَیْـَٔةِ الطَّیْرِ یو شکل په شان د مرغه
بِاِذْنِیْ په اذن زما سره فَتَنْفُخُ فِیْهَا پس پو به دی وکړی په هغه شکل کښې فَتَکُوْنُ طَیْرًا
پس شو به هغه شکل د خټو مرغه ژوندی بِاِذْنِیْ په فرمان زما سره وَتُبْرِئُ الْاَکْمَهَ
او روغول به دی ما د رزاده ړانده چې فی الحال به ئې سترګې پیدا شوې وَالْاَبْرَصَ او
روغاوی به دی برګ (پیس نیولی) د رنځ څخه د برګ والی (پیس) فی الحال بِاِذْنِیْ په فرمان
زما سره وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰی او بیا یاد کړه هغه چې راایستل به دی مړی د قبرو څخه
او بیرته به دی ژوندی کړه بِاِذْنِیْ په فرمان زما سره چې یو له هغو څخه سام بن
نوح و وچې پس له څلورو زرو کالو ئې ژوندی کړی وو وَاِذْ کَفَفْتُ او بیا یاد کړه
هغه چې حصار می کړه بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ عَنْكَ شره بنی اسرائیلو له تا څخه یعنی دیهود وچې

عه یعنی په وخت د وړو کوالے کښې ۱۲

ستا د قتل اختیار نی کړی وو اِذْ جِئْتَهُمْ په هغه وخت کی چه راغلے تہ بِالْبَیِّنٰتِ په
ښکاره معجزو سره لکه اوس چه بیرته ذکر شوی فَقَالَ الَّذِیْنَ پس وویل هغو کسانو
كَفَرُوْا مِنْهُمْ چه کافران وو له دی بنی اسرائیلو څخه اِنْ هٰذَآ نه دی دا قول خوارق
چه صادر یږی له عیسیٰ څخه اِلَّا سِحْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۱۱۰﴾ مګر جادو دی ښکاره وهرچاته وَ اِذْ
اَوْحَیْتُ او بیا یادکړی هغه چه الهام می وکړی اِلَی الْحَوَارِیّنَ دو بیانو ته چه قوم د
عیسیٰ وو اَنْ اٰمِنُوْا بِیْ دا چه ایمان راوړی پرما وَ بِرَسُوْلِیْ او پر رسول زما چه عیسیٰ
دی قَالُوْآ اٰمَنَّا وویل دوی چه ایمان راوړی دی موږ وَاشْهَدْ او شاهد اوسه ته
هم بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ پردی چه بیشکه موږ ګردن نهاده یو اِذْ قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ
یا دکړه ای رسوله هغه چه وویل دو بیانو یٰعِیْسَی ابْنَ مَرْیَمَ اے عیسیٰ زوی د
بی بی مریمی هَلْ یَسْتَطِیْعُ رَبُّكَ آیا توانیږی رب ستا اَنْ یُّنَزِّلَ عَلَیْنَا دا چه راولیږی او
راکښته کی پر موږ مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ خوانچه د طعام له اسمانه قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ
نو وویل عیسیٰ چه وډار یږی له خدایه او دا سے چپه سوالونه مه کوی اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۱۱۲﴾ که یاست تاسے باورکونکی پرخدای او پر نبوت زما قَالُوْا وویل دوے
چه زموږ هیڅ شك نشته په قدرت کا مله دده کښی نُرِیْدُ اراده لرو موږ په دی سوال
سره اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا دا دے چی وخوړو موږ له دی خوانچے څخه داسمان وَتَطْمَئِنَّ او
تسلی پیدا کړی په دی خوراك سره قُلُوْبُنَا زړونه زموږ ځکه چه علم مشاهده به ضم
شے له علم استدلالی سره وَنَعْلَمَ اَنْ او پوه شو موږ په دی قَدْ صَدَقْتَنَا چه په
تحقیق سره رښتیا ویلی وو تا موږ ته چه زه رسول یم په ظهور ددے معجزی سره
وَنَكُوْنَ عَلَیْهَا او شو موږ پر دی مائده مِنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿۱۱۳﴾ له شاهدانو هغو ته چی غائب
دی یا له لیدونکو او له اوریدونکو څخه شو بیا هرکله چه معلومه شوه چی دا سوال د دوی
له تعنته څخه نه دی بلکه د پاره د زیادت د علم او دیقین د ے نو قَالَ عِیْسَی ابْنُ مَرْیَمَ
اللّٰهُمَّ وویل عیسیٰ چه زوی دی د بی بی مریمی اے پروردګاره رَبَّنَآ اے ربه زموږ

عه یعنی خراب له عادته ۱۲ عه یعنی کا ږه او خراب ۱۲ عه یعنی په ستر ګو لیدل ۱۲

اَنْزِلْ عَلَیْنَا را کښته کړه پر موږ مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ خوانچه تیاره له اسمانه تَكُوْنُ لَنَا
چې شي دا مائده موږ لره یادا ورځ د نزول دده مائدې عِیْدًا اختر لِّاَوَّلِنَا د پاره
د مخکینیو زموږ وَاٰخِرِنَا او د وروستنیو زموږ وَاٰیَةً مِّنْكَ ج او بل دا چې شي نښه
د نبوت ستا له جانبه وَارْزُقْنَا او راکړه وموږ ته دا شی چې موږ له تا څخه غوښتی
دی وَاَنْتَ خَیْرُ الرّٰزِقِیْنَ ﴿۱۱۴﴾ او ته بهتر د روزی ورکونکو یې قَالَ اللّٰهُ وویل خدای
اِنِّیْ مُنَزِّلُهَا عَلَیْكُمْ ج بیشکه زه رالیږونکی یم ددی مائدی پر تاسې فَمَنْ یَّكْفُرْ
پس هر څوك چې کافر شي بَعْدُ مِنْكُمْ پس له راتلو دده مائدی څخه له تاسې فَاِنِّیْٓ
اُعَذِّبُهٗ پس بیشکه زه چې یم عذاب به ورکړم هغه ته عَذَابًا دا سې عذاب لَّآ
۱۵ اُعَذِّبُهٗٓ اے لا اعذب بہ یعنی دا په حذف د جار سره دی معنیٰ دا چې نه به معذب
کوم په هغه وخت سره اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۱۵﴾ هیڅوك له باقی مخلوق څخه روایت ع ۷ ۵
دی چې رب العزت په سبب دده دُعا یوه خوانچه له اسمانه راولیږله چې سور
دسترخوان پر پروت وو او دوی ورته کتل چې او رېځې راوړه او دوی په مخکښې
ئې کښینبوی او دا ورځ د یکشنبې وه ځکه هره یکشنبه د دوی اختر دی او عیسیٰ ع ور
پا څیده او اودس ئې لمونځ ئې وکړی او ډیرې وژړل او دعاوې ئې ډیری وکړې نو
دسترخوان ئې بیرته (حلوه) کړی ناګاه چې ګوری ماهی پکښې پروت دی په طبق کښې
وریت کړی بې پوسته بې اغزیو او غوړی څنډی څاڅی او سرته ئې مالګه او تکې
ته ئې سرکه پرته ده او چاپیره ورته رنګا رنګ سبزی پرته ده غیر له ګندنې او چاپیره
ورته پنځه ډوډۍ هم پرتې دی چې پر یوه خولنې او پر دویمه شات او پر دریمه غوړي
او پر څلرمه پنیر او پنځمه وچه ډوډۍ پرته وه او یونر راو دریې سوه کسو وخوړل
او هیڅ قدر کمندی کمه نه شوه او دا به تر څلو ینېتو ورځو پورې راتله او هر چا به خوړله
له صغار و له کبار و له فقراؤ له اغنیاؤ بیا بعض کسانو په دوی کښې وویل چې دا
جادو دی او هغه دریې سوه ۳۳ دیرش تنه وو قول څخه بیزو ګان او څخه خنزیران شول

او بیا پس تردد وو رځو قول مره شول وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ او یاد کړه هغه چې وبه وائي
خدای په قیامت یٰعِیۡسَی ابۡنَ مَرۡیَمَ اے عیسیٰ ځوی د بی بی مریمې ءَاَنۡتَ قُلۡتَ ایا تا
ویلي وو لِلنَّاسِ اتَّخِذُوۡنِیۡ وخلگو ته چې ونیسئ ما وَاُمِّیَ اِلٰـهَیۡنِ او مور زما دواړه
خدایان مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ بیله پروردگاره چې لائق د عبادت خاص هم دی دی قَالَ
سُبۡحٰنَکَ وبه وائي عیسیٰؑ چې پاکي ده تا لره له دی چې تا لره کوم شریك پیدا شي مَا یَکُوۡنُ
لِیۡۤ نه بنایي ما لره اَنۡ اَقُوۡلَ مَا دا چې ووایم زه هغه خبره لَیۡسَ لِیۡ ٭ بِحَقٍّ ؕ چې نه ده
ما لره لائقه اِنۡ کُنۡتُ که یم زه قُلۡتُهٗ چې کړې مې وي دا خبره فَقَدۡ عَلِمۡتَهٗ ؕ پس په
تحقیق سره به معلوم وي وتا ته هغه ویل زما تَعۡلَمُ مَا فِیۡ نَفۡسِیۡ دانا یې ته په هر هغه
شي چې د زړونو زما کښې دي وَلَاۤ اَعۡلَمُ مَا او نه پوهیږم زه په هیڅ شي فِیۡ نَفۡسِکَ ؕ چې
په ذات ستا کښې دی اِنَّکَ بیشکه ته چې یې اَنۡتَ عَلَّامُ الۡغُیُوۡبِ ﴿۱۱۶﴾ هم ته یې بنه دانا
په هغه اسرارو سره چې پټ دي له خلگو مَا قُلۡتُ لَهُمۡ نه دي ویلي ما دوی ته هیڅ اِلَّا
مَاۤ اَمَرۡتَنِیۡ بِهٖۤ مگر هغه څه چې تا امر کړیدی ما ته په هغه اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ چې هغه دا
خبره ده چې عبادت کوی د هسې خدای رَبِّیۡ وَرَبَّکُمۡ ۚ چې رب زما او رب ستاسې
دی وَکُنۡتُ عَلَیۡهِمۡ او وم زه پر دوی یعنې پر اقوالو او افعالو د دوی شَهِیۡدًا شاهد یا
نگهبان مَّا دُمۡتُ فِیۡهِمۡ ۚ تر څو چې وم زه په دوی کښې فَلَمَّا تَوَفَّیۡتَنِیۡ پس هر کله چې
قبض کړم تا زه په بیولو زما سره آسمان ته کُنۡتَ نو وې ته اَنۡتَ الرَّقِیۡبَ عَلَیۡهِمۡ ؕ هم ته
په خپله نگهبان یې پر دوی وَاَنۡتَ او ته چې یې عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ شَهِیۡدٌ ﴿۱۱۷﴾ پر هر شي حاضر
خبردار یې اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ که عذاب ورکړې ته دوی ته فَاِنَّهُمۡ عِبَادُکَ ۚ پس بیشکه
چې دوی بندگان ستا دي او مالك حقیقي لره چې هر تصرف کوي په ملك خپل کښې نو
هیڅ ځای د اعتراض نه دی وَاِنۡ تَغۡفِرۡ لَهُمۡ او که بخښنه وکړې ته دوی ته یعني هغه
چا ته چې ایمان یې راوړی وی فَاِنَّکَ پس بیشکه ته چې یې اَنۡتَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۱۱۸﴾
هم ته غالب قادر په عقاب او په ثواب یې او خاوند د ډیر حکمت یې په هر څه کښې قَالَ اللّٰهُ

٭ یعنی د لله په نړۍ کا زما حق نشی ۱۲

وبه وایي خدای په قیامت کی هٰذَا د اورځ د قیامت چې ده یَوۡمُ یَنۡفَعُ الصّٰدِقِیۡنَ دا
ورځ ده چې نفعه رسوی په دی کښې صادقانو ته صِدۡقُهُمۡ ط هغه صدق او راستی د
دوی چې په دنیا کښې ئې کړی وه لَهُمۡ جَنّٰتٌ مقرر دی د دی صادقانو لره باغونه تَجۡرِیۡ
چې بهیږی مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ لاندی د ونو دهغوی و لی خلور واړه قسمه خٰلِدِیۡنَ
فِیۡهَاۤ چې تل به وی دوی په دی باغو کښې اَبَدًا ط همیشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ راضی به وی
خدای د دوی څخه په سبب د صدق قلبی او د عبادا تو بدنیو د دوی سره وَرَضُوۡا عَنۡهُ ؕ
او راضی به وی دوی له ده څخه په سبب د جزاء انتهاء د ده سره ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِیۡمُ ﴿۱۱۹﴾
دا خلود او رضوان برے دی ډیرلوی چې باقی دی فائده :- رب العزت په اخر د سوت
کښې بیا د رواغ د نصارٰی وو او فساد د دعوٰی په حق د عیسٰیؑ او د مور ده کښې مگر
مقرر کړه څکه ئی وویل لِلّٰهِ خاص خدای لره ده مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ باچاهی
۱۶ دا سمانوا و د مځکی وَمَا فِیۡهِنَّ ط او د هغه چې په دی اسمانو او مځکو کښې دی او په دی باچا
ع ۵ کښی بل هیڅوک و هره شریك نه دی نه عیسٰیؑ او نه ئی مور وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۱۲۰﴾
او دے پر هر شی ښه قادر دی

رکوعها ﴿۲۰﴾ — سُورَةُ الْاَنْعَامِ مَكِّيَّةٌ — اٰیاتها ﴿۱۶۵﴾

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ ثنا د هغه خدای لره چې په قدرت کامله سره خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
پیدا کړی دی ده اسمانو نه بے نمونے وَالۡاَرۡضَ او مځکه ئی مادی وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ
او پیدا کړی ئے دی رنگارنگ تیرے وَالنُّوۡرَ ط او نور د واړه هم ده پیدا کړی
دی او قدیم نه دی لکه ثنو یه ئی وائی او یا مراد تری جهل او علم یا معصیت او طاعت
یا دوزخ او جنت دی ثُمَّ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا بیا هغه کسان چې کافران دی یعنی پس له دے
د لیلونو واضحو او پس له دی نښو د قدرت بالغه د دوی بِرَبِّهِمۡ یَعۡدِلُوۡنَ ﴿۱﴾ په رب
خپل پورے برابری کوی د بتانو یا عدول کوی له عبادته د ده و عبادت د غیر ته هُوَ

عه یعنی پخوانی نه دی چې ابتداء نه لری بلکه پخپل قوت سره ئی پیدا کړی دی ۱۲

الَّذِیۡ دی هغه پروردګار دی خَلَقَکُمۡ مِّنۡ طِیۡنٍ چې پیدا ئے کړلاست تاسو له خټوچې
آدم ئې څخه دی ساز (جوړ) کړے ثُمَّ قَضٰۤی اَجَلًا ؕ پس له هغه چې بیا ئے مقرر کړے اجل د
پاره د مرګ وَ اَجَلٌ مُّسَمًّی اوبل اجل چې دی هغه په نامه کړه شوی دی عِنۡدَهٗ هغه هم
دده څخه دی چې بل هیچا ته معلوم نه دی او هغه قیامرد قیامت دی ثُمَّ اَنۡتُمۡ بیا پس
له دی ایاتو او دلایلو تاسې چې یئ اے مشرکانو تَمۡتَرُوۡنَ ﴿۲﴾ شک راوړی په توحید
او په بعث کښې وَهُوَ او دا ذات چې دی موصوف په دی صفاتو مذکوره و اللّٰهُ الله
دے جل جلاله چې موجود مطلق او معبود برحق دے فِی السَّمٰوٰتِ وَفِی الۡاَرۡضِ ؕ په
اسمانو او په مځکه کښې یَعۡلَمُ سِرَّکُمۡ اګاه په پټ ستاسې وَجَهۡرَکُمۡ او په ښکاره ستاسې
وَیَعۡلَمُ مَا تَکۡسِبُوۡنَ ﴿۳﴾ او اګاه دے په هغه چې کوی ئے تاسې که خیر وی او که شر
وی وَمَا تَاۡتِیۡهِمۡ او نه راځی دی کفارو ته مِّنۡ اٰیَةٍ هیڅ ایت مِّنۡ اٰیٰتِ رَبِّهِمۡ له
ایتو څخه د رب دوی یعنی قران یا نور معجزے لکه شقّ د قمر چې شوا و قلعٌ د شجر چې شو
اِلَّا کَانُوۡا مګروی دوی عَنۡهَا مُعۡرِضِیۡنَ ﴿۴﴾ له هغه ایت څخه یا له معجزی څخه شنل کونکی
فَقَدۡ کَذَّبُوۡا پس په تحقیق نسبت د دروغو کړو دوی بِالۡحَقِّ و حق ته یعنی و قران ته لَمَّا
جَآءَهُمۡ ؕ هرکله چې راغلی و دوی ته فَسَوۡفَ یَاۡتِیۡهِمۡ پس ژر دی چې را به شی و دوی
ته یعنی ظاهر به شی اَنۡۢبٰٓؤُا مَا احوال د هغه څیز کَانُوۡا بِهٖ چې وو دوی چې په هغه
شی پورې یَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۵﴾ مسخری به ئې کولی او دا ظهور به هله وی چې پر دوی
عذاب راشی په دنیا یا په اخرت کښې او یا په غلبه د اسلام سره اَلَمۡ یَرَوۡا ایا نه وینی دوی
کَمۡ اَهۡلَکۡنَا چې څومره هلاک کړی دی موږ په قوت قاهره خپل سره مِنۡ قَبۡلِهِمۡ پخوا له دوی
مِّنۡ قَرۡنٍ له اهله د هغه زمانی او قرن او یا یا اتیا کلو ته و یل کیږی یا چې دیو کال له
پیدا لو بوهم باقی نه شی نو قرن پوره شی هسے اهل مَّکَّنّٰهُمۡ چې ډیره کړی وه
موږ دوی یا قوت او تصرف ورکړی وو موږ دوی ته فِی الۡاَرۡضِ په مځکه کښې مَا
لَمۡ نُمَکِّنۡ لَّکُمۡ هغه قسم تصرف چې نه دی درکړے موږ تاسې ته اے دمکی خلقو.

عه چا لاپیدل د سپوږمی ۱۲ عه له بیخه و یستل د ونو ۱۲

یعنی هغه لوی تنی او اوبڼ ده عمرونه او ډیر قوت او ډیر حشمت چې پخوانیو څخه وو لکه
عاد او ثمود او نور ډیر شو چې هغه تاسې سره نشته وَأَرْسَلْنَا السَّمَآءَ او لیږلی وو موږ
اسمان یعنی باران عَلَيْهِم مِّدْرَارًا پر دوی ډیر په شیبو پې درپې په وخت د احتیاج
ددوی کښې و باران ته وَجَعَلْنَا الْأَنْهٰرَ او روانې کړې دی موږ ولې تَجْرِي مِن تَحْتِهِمْ
چې بهیدلې به لاندې د دوی د باغو باد ما نیوا ما دوی بې فرمانی اختیار کړه له موږ څخه
فَأَهْلَكْنٰهُم پس هلاک کړه موږ دوی بِذُنُوبِهِمْ په سبب د ګناهو خپلو سره او د هغه
قوت او شوکت هیڅ نفعه ورونه رسیده وَأَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ او پیدا کړه موږ
پس له هلاکه د دوی قَرْنًا اٰخَرِينَ ﴿٦﴾ نور مخلوق پرځای د هغو نو مبا داچې
تاسې هم سره له دی قوت او شوکته هلاک کی او ستاسې پرځای نور مخلوق راولي روایت
دی چې نضربن حارث او نورو قریشو هم رسول ﷺ ته وویل چې موږ به پرتا ایمان نه
راوړو ترڅو چې څلور ملائکې له اسمانه رانشي او لیکلی کتاب دځانه سره رانه وړې
او شاهدی اداکی چې دا کتاب له خدایه دی او په هغه کښې دا لیکلی وی چې ته رسول
ئې د هغه نو نازل شو وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ او که رالیږلی وای موږ پرتا كِتٰبًا فِي قِرْطَاسٍ
کتاب لیکلی په کاغذ کښې فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ پس مسح کړې ئې وای دوی دا کتاب په لاسو
خپلو او په سترګو ئې هم لیدلی وای لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هرائینه ویلی به وو هغو کسانو
چې کافران دی إِنْ هٰذَا نه دی دا چې راغلی دی و موږ ته إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ مګر جادو
دی ښکاره وهرچا ته وَقَالُوا لَوْلَآ أُنزِلَ او وایې دوی چې ولې نه رالیږل شوه عَلَيْهِ
مَلَكٌ د پر ده ملائکه له اسمانه چې موږ ته ووائې چې دا پیغمبر دی وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا
او که رالیږلی وای موږ ملائکه لَّقُضِيَ الْأَمْرُ نو هرائینه فیصله شوی به وه مقدمه
او هلاک شوی به وو دوی ځکه چې دا پخوانی سنت جاری په د پروردګار دی چې پس
له معاینې بیا هلاک لازم دی ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ﴿٨﴾ بیا پس له نزوله د ملائکې به
مهلت ورنه کړی شي یو طرفة العین هم وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا او که ګرځولی وای موږ دا

رسول ملائکه یعنې رسول هم دا ملائکه وای نه بشر لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا نو گرځولی به
وو مونږ دا ملائکه سړے یعنې په شکل د بنی آدم به را لیږلای مونږ لکه چې جبرائیل
په شکل د وحیه کلبی به بنکاره کیدی ځکه چې بشر طاقت نه لری د لید لود ملائکی غیر
له انبیاؤ وَّ لَلَبَسْنَا عَلَیْهِمْ اوهرآئینه ګډ و ډ کړے به وو مونږ پردوی په هغه وخت مَّا
یَلْبِسُوْنَ ⑨ هغه چې ګډ و ډ کړی دی دوی اوس پرځان خپل لکه چې اوس دوی وائی
چې دا خوبشر دی ملائکه ولی نه راځی نوهغه به ئے هم داسے ویل په سبب د ظاهر صورت
اوته په دی مسخرو دوی مه خفه کیږه چې دا قدیمی لاره دده دوی ځکه چې وَلَقَدِ
اسْتُهْزِئَ اوهرآئینه په تحقیق سره مسخری کړه شوی وی بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ په هغه
پیغمبرانو پورې چې مخوالله تا وو فَحَاقَ پس چاپیره او محیط شو بِالَّذِیْنَ په هغه کسانو
پورې سَخِرُوْا مِنْهُمْ چې مسخری به کولے دوی په دی پیغمبرانو پورے مَّا کَانُوْا اجزاء
ع ۱۰ دهغه شی چې وو دوی بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ⑩ چې په هغه شی پورے مسخری به ئې کولې
قُلْ ووایه ودوی ته که قائلان نه یاست په هلاك دتیرو امّمو سِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ وګرځئ
په هغه قطعو د مځکی کښے چې دوی پکښے هلاك شوید لکه شام او روم او مصراو یمن او
داسے نور دیرشوه ثُمَّ انْظُرُوْا بیا وګورے په نظر د عبرت سره کَیْفَ کَانَ چې څرنګه وو
عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِیْنَ ⑪ خاتمه د تکذیب کونکو لکه قوم د نوح ؑ او عاد او ثمود او مؤتفکت
اوفرعونیان او داسے نور ډیرشوه قُلْ لِّمَنْ ووایه ودوی ته چا لره دی برطریقه د
مخلوقیت اود مملوکیت سره مَّا فِی السَّمٰوٰتِ هرهغه چې په اسمانونو کښے دی وَ الْاَرْضِ ط
او چې په مځکه کښے دی قُلْ لِّلّٰهِ ط بیا ووایه ته پخپله چې هغه قول خدای لره دی کَتَبَ
عَلٰی نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ط لازم کړیدی ده پرځان خپل رحمت له ډیره فضله او له ډیری
مهربانۍ ځکه عاصیانو ته عفو کوی او د تائبانو توبه قبلوی او کافران په کفرشرمنه
نیسی لکه حدیث قدسی کښی راغلے دی چې ان رحمتی غلبت علیٰ غضبی یعنې رحمت
زما هر کله غالب دی پر غضب زما لَیَجْمَعَنَّكُمْ قسم دی چې راټول به کړی تاسی

خامخا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ورځې د قيامت ته لَا رَيْبَ فِيهِ ط نشته هيڅ شك په راتلو ددې
ورځې كښې الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ هغه كسان چه زيان ئې رسولى دى وخپلو ځانو خپلو ته
په ضائع كولو د فطرت عه اصليه او د عقل سره فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ⑫ پس دوى ايمان نه
راوړي وَلَهُ مَا سَكَنَ او خاص د ده له دى هر هغه شي چې ارام كوى فِي اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ط
په شپه او ورځ كښې يعنى دادواړه مملوك دى د ده وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ⑬ او هم دے
دى اورېدونكى د هر څه او ښه دانا دى روايت دى چې يو ځلې د كفارو د قريشو
رسول ته وويل چې موږ پوهيږو چې ته دعوے د پيغمبرى ته ناداري اركړي ئې نو موږ
به له خپلو اشرافو تالره د ومره ډير مبلغ حوالكړو چې هيڅ حاجت دى باقے پاتے
نه شے اما په شرط د دے چې ته له دينه بيرته وګرځې او څمونږ دوستے اختيار كړى نو
نازل شو قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ ووايه دوى ته چې آيا بيله هغه خداى أَتَّخِذُ وَلِيًّا ونيسم
دوست بل څوك فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ چې پيدا كونكى د اسمانو دى وَالْأَرْضِ او د زمكې بې
نمونې وَهُوَ يُطْعِمُ او حال دا چې دى روزى وركوى تمام مخلوق ته وَلَا يُطْعَمُ ط او نه
وركول كيږى روزى ده ته قُلْ ووايه إِنِّي أُمِرْتُ چې بيشكه زه مامور شوي يم أَنْ
أَكُونَ په دى چې شم زه أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ اول د هر هغه چا چې ګردن ئې ايخى دى خداى ته
حكم چې پيغمبر په هر چا مقدم دى په قبول د دين كښې وَلَا تَكُونَنَّ او بل په دى مامور
يم چې له سره مه كيږه مِنَ الْمُشْرِكِينَ ⑭ له مشركانو څخه قُلْ إِنِّي أَخَافُ ووايه چې بيشكه
زه بيريږم إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي كه بے فرمانى وكړم زه له رب به خپله څخه عَذَابَ يَوْمٍ
عَظِيمٍ ⑮ له عذابه د هغې ورځې چې ډيره لويه ده چې ورځ د قيامت ده مَنْ يُصْرَفْ هغه
څوك چې چپ كړه شے د اعذاب عَنْهُ يَوْمَئِذٍ له ده څخه په دى ورځ فَقَدْ رَحِمَهُ ط پس
په تحقيق مهربانى كړے ده خداى پرده وَذَٰلِكَ او دا مهربانى چې ده الْفَوْزُ الْمُبِينُ ⑯
هم دا دى بريے ښكاره وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ او كه ر سوى تا ته خداى څه سختى لكه

عه يعنې په ضايع كولو د هغه ايمان چې په وخت د پيدا كولو كښې له دوى سره پيدا شوى وو لكه چې
په حديث كښې راغلى دى چې هر پيدا شوے مؤمن پيدا كيږى بيا مور او پلار ئې كافر كړى ۱۲

مرض یا فقر یا بله سختی فَلَا كَاشِفَ لَهٗۤ پس له سره نشته لیری کونکی دهغه سختے هیڅوك
اِلَّا هُوَ ؕ مگر هم دی دی وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ اوکه ورسوی تاته څه راحت لکه صحت
یا غنا یا بل څه فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۱۷﴾ پس دے په هر شئے بنه قادر دی یعنے هم په ضرر
او هم په نفعه وَهُوَ الْقَاهِرُ اودے غالب او توانا دی فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ د پاسه دی د بندګانو
خپلو په قدرت او په قهر او په غلبه کښی نه په مکان کښے وَهُوَ الْحَکِیْمُ الْخَبِیْرُ ﴿۱۸﴾ او دی
دی خاوند د حکمت چی خبردار دی په هر څه روایت دی چه قریشو رسول علیه السلام ته وویل
چه موږ ستا په باب کښی یهود او نصارٰی دواړه طائفی وپوښتلی نو دوی وویل چه دده
هیڅ احوال زموږ په کتابو کښی نشته نو اوس که ته شاهد لری پرخپله پیغمبری نو موږ ته
ئے هم وښیه نو نازل شو قُلْ ووایه ته په جواب کښی اَیُّ شَیْءٍ هغه کوم شی دی اَکْبَرُ
شَهَادَةً ؕ چه ډیر لوی دی د جهته د شاهدی یعنی په شاهدانو کښی د چا شاهدی ډیره
قوی ده قُلِ اللّٰهُ ؕ ته ووایه چه هغه خدای دی شَهِیْدٌۢ بَیْنِیْ وَبَیْنَکُمْ ۚ ته چه شاهد دی زما
او ستاسے په مینځ کښی وَ اُوْحِیَ اِلَیَّ او را لیږل شوی دی ما ته هٰذَا الْقُرْاٰنُ دا قران
لِاُنْذِرَکُمْ بِهٖ دپاره د دے چی وویروم تاسی په دی قران سره وَمَنْۢ اووبیروم هرهغه
څوك بَلَغَ ؕ اے بلغهٗ هو یعنی چه ورسیږی ورته دا قران له عربه ترعجمه له شرقه
ترغربه له شماله ترجنوبه له نزوله ترقیامته نو لیدل د قران هسی دی لکه لیدل د رسول
علیه السلام ځکه محمد بن کعب قرطبی ویلی دی چه مَنْ بلغه القران فکانما رأی النبی علیه السلام
اَئِنَّکُمْ لَتَشْهَدُوْنَ ایا بیشکه هر اینه تاسے شاهدی کوی اَنَّ مَعَ اللّٰهِ په دی چه بیشکه -
شته له خدای سره اٰلِهَةً اُخْرٰی ؕ خدایان نور یعنے بتان قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ عه ووایه چی زه
خو شاهدی نه کوم په دی قُلْ ووایه چه زه خود اسی شاهدی کوم چه اِنَّمَا هُوَ بیشکه
هم دا خبره ده چه دی اِلٰهٌ وَّاحِدٌ خدای دی یگانه بی شریکه وَّاِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ او بیشکه زه
بیزاره یم مِّمَّا تُشْرِکُوْنَ ﴿۱۹﴾ له هغو شیانو چه تاسے ئی شریکان کوی له ده سره په خدائے

عه یعنی قول دده د قدرت لاندی او تابع دده دی ۱۲ عـه معنیٰ دا چه هرچا ته ورسید لو قرآن پس
گویا که ده پخپله ولید لو پیغمبر د خدای صلے اللّٰه علیه واٰله وسلّم ۱۲

کښې که بتان دی او که نور څه دی اَلَّذِیْنَ هغه کسان که یهود که نصارٰی دی اٰتَیْنٰهُمُ
الْكِتٰبَ چې ورکړې دی موږ دوی ته کتاب یعنې تورات او انجیل یَعْرِفُوْنَهٗ پیژنی دوی
دا رسول ﷺ په هغه نښو سره چې په تورات او انجیل کښې بیان شوی دی كَمَا یَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ وقف لازم
لکه چې پیژنې دوی زامن خپل په نښو سره اَلَّذِیْنَ هغه کسان خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چې
زیان ئې رسولی دی ځانونو خپلو ته که مشرکان که اهل کتاب دی فَهُمْ پس دوی لَا ۲
یُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ ایمان نه راوړی وَمَنْ اَظْلَمُ او څوك دی ډیر ظالم مِمَّنِ افْتَرٰی له هغه ع ۱
چا چې وتړلے عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا پر خدای دروغ چې ملائکې لوڼې دی د خدای او بتان ۸
شفاعتګر دی زموږ وخدای ته اَوْ كَذَّبَ بِاٰیٰتِهٖ یا نسبت د دروغو کړی وآیتو ددهٔ ته
اِنَّهٗ بیشکه شان دا دی لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾ چې خلاصے به نه موی ظالمان یعنې کافران
وَیَوْمَ او یاد کړه هغه ورځ نَحْشُرُهُمْ جَمِیْعًا چې راجمع به کړو موږ دوی ټول یعنې هم
عابدان او هم معبودان ثُمَّ نَقُوْلُ پس له هغه به و وایو موږ پر طریقه د زجر سره
لِلَّذِیْنَ اَشْرَكُوْٓا هغه کسانو ته چې شرك ئې اختیار کړے یئ اَیْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِیْنَ
چې چیری دی او څه شو هغه خدایان ستاسے كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾ چې وی تاسی چې
ګنله به مو چې دوی شریکان دی نه ما سره په خدایی کښې یا شفاعتګر دی ستاسے
ماته ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ پس له هغه چې نه وی بیا عذرخواهی دد وی اِلَّآ اَنْ قَالُوْا
مګر دا به وی چې وائی به دوی وَاللّٰهِ رَبِّنَا قسم دی وی زموږ په خدای چې رب دی زموږ
مَا كُنَّا مُشْرِكِیْنَ ﴿۲۳﴾ چې نه وو موږ مشرکان او دا به دروغ وائی او قسم به هم پر خوری
په دې طمع چه ګوندی په دی انکار سره به له عذابه خلاص سے اُنْظُرْ كَیْفَ كَذَبُوْا
او وره ګوره چې څرنګه دروغ ئې وتړل عَلٰٓی اَنْفُسِهِمْ پر ځانونو خپلو په نفی د شرك له
ځانه وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورك شو له دوی مَّا كَانُوْا یَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ هغه چې وو دوی چې
تړل به ئې دروغ په خدای پورې په نیولو د شریکانو سره روایت دی چې یو تولی د
قریشو لکه ابوسفیان او ولید او عتبه او شیبه او نضر او نورو ملګرو یو دد وی قراءت

د رسول علیه السلام ته غوږ کښیښنووی نو دوی توله نظرته وویل چې دی څه وائی نونضر ورته وویل قسم دے چې زه هم نه پوهیږم خو شونډې رپوی او قصی کوی د پخوانیو زمانو لکه چې زۀ کله کله یې وتاسے ته کوم او دوی دا خبره ومنله نو نازل شو وَمِنۡهُمۡ او بعض له کفارو د مکې مَّنۡ يَّسۡتَمِعُ اِلَيۡكَ ۚ هغه څوك دی چې غوږ نیسی وتا ته په وخت د قراءت د قران کښے وَجَعَلۡنَا او اچولی دی موږ عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ پرزړود دوی اَكِنَّةً پردی اَنۡ يَّفۡقَهُوۡهُ له دی چې مبادا فهم نه کی دوی معنیٰ ددی[1] مقرو وَفِىۡۤ اٰذَانِهِمۡ وَقۡرًا ؕ او ایښی دی موږ په غوږو ددوی کښے دروند والی او کوڼوالی چې د حق خبره وانه وری وَاِنۡ يَّرَوۡا او که وويني دوی كُلَّ اٰيَةٍ هر قسم معجزه لاَّ يُؤۡمِنُوۡا بِهَا ؕ له تا څخه نو ایمان نه راوړی دوی په هغه معجزه او دا تکذیب ددوی په انتها کی دی (انتها ته رسیدلی دی) حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوۡكَ تر هغو پورې چې راشی دوی تالره يُجَادِلُوۡنَكَ چې جګړه کوی له تا سره يَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا وائی هغه کسان چې کافران دی اِنۡ هٰذَاۤ نه دی دا قران اِلَّاۤ اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۲۵﴾ مګر قصی دی د پخوانیو خلکو وَهُمۡ او دا مشرکان چې دی يَنۡهَوۡنَ عَنۡهُ منعه کوی خلك له رسول یا له قران یا له ایمان څخه پرده وَيَنۡـــَٔوۡنَ عَنۡهُ ۚ او پخپله هم لیرې کیږی له ده څخه چې ایمان نه پرراوړی وَاِنۡ يُّهۡلِكُوۡنَ او نه هلاکوی دوی په دے سره اِلَّاۤ اَنۡفُسَهُمۡ مګر ځانونه خپل وَمَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۲۶﴾ او دوی نه پوهیږے په دی چې ضرریې هم ودوی ته دی او چا دا ایت په حق د ابو طالب کښی ویلی دے چې دی هم قریش منعه کوی چې ضرر ورونه رسوی او هم پخپله ځندی لیرې کیږی چې ایمان نه پرراوړی وَلَوۡ تَرٰٓى او که وګوری ته او جواب د لَوۡ محذوف دے چې هغه دادی چې نو به وینی ته ډیر سخت حال اِذۡ وُقِفُوۡا عَلَى النَّارِ هغه چې ودرول شی دوی په اور د دوزخ باندی د پل صراط پرسر فَقَالُوۡا پس وبه وائی دوی يٰلَيۡتَنَا نُرَدُّ اے کاشکی که موږ بیول شوی وای بیرته و دنیا ته وَلَا نُكَذِّبَ او بیا تکذیب کړی نه وای موږ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا په ایتو د رب خپل پورې وَنَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۲۷﴾

[1] یعنی د معنیٰ د دغه شے ته چې لوستل کیږی پردوی باندے ۱۲

اوشوی وای موږ له قولی څخه د باوړ کونکو بَلْ داسی نه ده لکه دوی چی وائی هم په
هغه کفر به وی چی پخوا وو او دا ارمان به له دی جهته کوی بَدَا لَهُمْ چی ظاهر به شی
ودوی ته مَّا كَانُوْا هغه شی چی وو دوی يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ ط چی پټاوی به ئی پخواله دې
په دنیا کښې چی کفر او معاصے دی او اوس چی په شاهدی د جوارحو خپلو سره پرشو
نو ارمان درجوع کوی دنیاته دپاره دنیك عمل وَلَوْ رُدُّوْا او که بیرته بوتله شی و
دنیاته لَعَادُوْا نو هراَئینه به بیا راوګرځی لِمَا نُهُوْا عَنْهُ په هم هغه شی چی منع کړی
شوی وو له هغه څخه چی هغه کفر او معاصی دی وَاِنَّهُمْ او بیشکه دوی لَكٰذِبُوْنَ (۲۸) هر
ائینه دروغجن دی په دی دعوے دایمان کښې روایت دی چی هر کله دا ایتونه د
وعید او د عذاب د قیامت داکافرانو واوریدل نوله قیامت څخه مطلق منکر شوچی
قیامت اصلاً نشته نو نازل شو وَقَالُوْٓا او وائے داکفار اِنْ هِیَ نه دی دا ژوندون اِلَّا
حَيَاتُنَا الدُّنْيَا مگر هم دا ژوندون دے زموږ د نیوی وَمَا نَحْنُ او نه یو موږ بِمَبْعُوْثِيْنَ (۲۹)
بیا راپاڅید ونکی له قبرو څخه وَلَوْ تَرٰٓى او که ووینی ته اِذْ وُقِفُوْا په هغه وخت کی چی
ودرول شی دوی عَلٰى رَبِّهِمْ ط ورب خپل ته په موقف د عرض کښې قَالَ بیا به ووائی ورته
رب العزت اَلَيْسَ هٰذَا ایا نه دی دا بعث او نشر بِالْحَقِّ ط په حق سره قَالُوْا نو وائی به
دوی بَلٰى وَرَبِّنَا ط هو حق دی قسم دی زموږ په رب خپل قَالَ نو بیا به ووائی رب العزت ع ۱/۱
فَذُوْقُوا الْعَذَابَ پس وڅکی دا عذاب بِمَا كُنْتُمْ په سبب د دی چی واست تاسے تَكْفُرُوْنَ (۳۰) ۹
چی کافران شوی واست قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ په تحقیق سره زیانکاران دی هغه کسان كَذَّبُوْا
بِلِقَآءِ اللّٰهِ ط چی دروغ برلی دوی ملاقات له خدای سره پس له مرګه حَتّٰٓى اِذَا تر
هغو پورے جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ چی راشی ودوی ته قیامت بَغْتَةً ناڅاپه قَالُوْا او به
وائی دوی يٰحَسْرَتَنَا اے افسوس او پښیمانی زموږ عَلٰى مَا فَرَّطْنَا په هغه چی تقصیر
کړی دی موږ د هغه شی چی ایمان دی فِيْهَا لا په دنیا کښې یا په ساعت یعنی په قیامت
کښې چی تقصیر کړی دی موږ په شان دده او په ایمان راوړوکښې پر ده روایت دی

عه له جهته د بد بختی چی پردوی مقرره شوی ده په روز ازل کښې ۱۲

چه هرکله په ورځ د قیامت دا مخلوق ټول له د قبرو څخه راپورته سي نو د مؤمن وړخ ته به یو
شی راسی چه ډیر خوشرنګه او خوشبویه به وی او ورته وه به وایې چه زه ستا هغه نیک
عمل یم چه په دنیا کښې دربا ندی سپور ګرزیدم چه تکلیفونه دی پر ځان بار کړی وه
اوس راسه ته رابا ندی سپور سه اوایت د یوم نحشر المتقین الی الرحمٰن وفدا اشاره ده
ودی ته او د کافر وړخ ته به هم یو شی راسی چه ډیر بدرنګه به وی او بدبویه به وی او ورته
وبه وایې چه زه ستا هغه بدعمل یم چه په دنیا کښې به رابا ندی سپور ګرزیدی بې
عمله چه د مشقاتو او تکلیفو شرعیه څخه هیڅ خبر نه وی اوس راځه چه زه دربا ندی
سپور سم لکه چه وایې وَهُمْ او دوی چه دی یَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ وا به خلې او بار به
کړی پیټی د ګناهو خپلو عَلٰی ظُهُوْرِهِمْ ط پر شا ګانو خپلو باندی یعنی دا ګناهونه به د دوی
څخه هیڅ کله نه بیلیږی اَلَا سَآءَ وا اوری ! چه بد دی مَا یَزِرُوْنَ (۳۱) هغه درونه بار
د ګناهو چه به شا به یې دوی ګرزوی وَمَا الْحَیٰوةُ الدُّنْیَآ او نه دی دا ژوند د دنیا
اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ط مګر لوبې دی د هلکانو او بې فائدې کار دی د لیونیانو وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ
او خامخا ځای د استوګنې د هغه جهان چه دی خَیْرٌ لِّلَّذِیْنَ ډیر بهتره دی و هغو کسانو ته
یَتَّقُوْنَ ط چه پرهیزګاری کوی او بیریږی د خدای څخه اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ (۳۲) ایا نو تاسې دومره
فکر کوی چه په دی د واړو میونو کښې کومه مینه غوره (بهتره) ده روایت دی چه
ابو جهل ورسول علیه السلام ته وویل چه اې محمد صلی الله علیه وسلم موږ د تا څخه هیڅکله درواغ نه
نه دی اوریدلی او موږ تا راست ګویه (رښتیا وونکی) بولو لیکن دا د پیغمبری دعوه دی
نه منو ځکه چه دا درواغ ده نو نازل سو قَدْ نَعْلَمُ په تحقیق سره موږ پوهیږو اِنَّهٗ چه
بیشکه شان دا دی لَیَحْزُنُكَ الَّذِیْ خامخا خفه کوی تا هغه خبری یَقُوْلُوْنَ چه وایې
یې دوی په تکذیب ستا کښې فَاِنَّهُمْ نو بیشکه دوی چه دی لَا یُکَذِّبُوْنَكَ په واقعه کښې ستا تکذیب
نه کوی وَلٰکِنَّ الظّٰلِمِیْنَ او لیکن دا ظالمان بِاٰیٰتِ اللّٰهِ په ایتو د خدای یَجْحَدُوْنَ (۳۳) انکار او مسخری کوی وَلَقَدْ
کُذِّبَتْ او خامخا په تحقیق سره درواغجن بلل سوی دی رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ رسولان مخکې تر تا فَصَبَرُوْا نو

صبر به ئې کولو عَلٰی مَا كُذِّبُوْا په هغه چې دروغجن بلل شوي وو دوی وَاُوْذُوْا او
انواع د ضرر ور رسول شوي چې وو دوی حَتّٰى اَتٰهُمْ نَصْرُنَا ۚ تر هغه پورې
چې به را غلی ودوی ته مدد زموږ وَلَا مُبَدِّلَ او نشته هيڅوك اړونكی لِكَلِمٰتِ
اللّٰهِ ۚ وعدو د خدای ته له رسولانو خپلو سره وَلَقَدْ جَآءَكَ او په تحقیق سره راغلې
دي وتا ته مِنْ نَّبَاِی الْمُرْسَلِيْنَ (۳۴) له حاله د تیرو پیغمبرانو چې څه ډول سره خپل
قوم جنګونه او مقدمې کړي دي او اقسام د ازارونو ئې ور رسولي دي او دوی
پر صبر کړې دي او په آخر کښې بيا دوی پر غالب شوي دي وَاِنْ كَانَ او که وای
داسې حال كَبُرَ عَلَيْكَ چې سخت شوی وي پر تا اِعْرَاضُهُمْ ع ګرزول د دوی له دینه
د حق فَاِنِ اسْتَطَعْتَ پس که توان لري ته اَنْ تَبْتَغِيَ د دې خبري چې ولټوې ته نَفَقًا
فِي الْاَرْضِ کوم سورې په زمكه كښې اَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ یا کوم اندر پایه (ځينه) په اسمان
کښې يعنی اسمان ته فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ط پس راوړې دوی ته کومه داسې معجزه چې
دوی ایمان پر راوړي او جزا د ان محذوفه ده چې هغه دا ده نو ولټوه او ور له ئې
راوړه يعنی پر تا رسول د پیغام دی زما له طرفه فقط نو دا قدر حرص مه کوه پر ایمان
د دوی وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ او كه اراده وای د خدای د ایمان راوړلو د دوی لَجَمَعَهُمْ عَلَى
الْهُدٰى نو هرائینه را جمع کړي به وو ده دا ټول پر لار د هدایت او توفیق د ایمان به
ئې ور کړی وو فَلَا تَكُوْنَنَّ پس له سره مه كيږه ته مِنَ الْجٰهِلِيْنَ (۳۵) له نادانو څخه او
دا حُكه چې قبول د قول ستا تعلق لري په سمع پوره او دوی لکه مړي قوت سامعه
نه لري لکه چې وائی اِنَّمَا بیشکه هم دا خبره ده يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ چې قبلوي بلنه ستا
هغه کسان يَسْمَعُوْنَ ط چې اوري بلنه ستا په سمع د قبول سره او دوی ئې نه اوري
لکه مړي وَالْمَوْتٰى او مړي چې دي يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ را ولاړ به کړي دوی خدای په قيامت
ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ (۳۶) بيا خاص هم ده ته به ور وستل شي د پاره د حساب او د جزا
وَقَالُوْا او وائې دا کفار د قریشو لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ولې را کښته نه کړه شوه پر ده اٰيَةٌ مِّنْ

النصف — وقف غفران

عه يعنی هغه قومونه خدای ټول هلاك کړي دي ۱۲

ترتیب طی لوه معجزه له جانبه د رب دده دا سے معجزه چې غواړو ئے مونږ چې داکوه صفا
دی زر شي اودمکې محکه دی ارته شي اودا او بو ولې دی پکښې روانې شي قُلْ اِنَّ
اللّٰهَ قَادِرٌ ووایه ودوی ته چې بیشکه خدای قادر دی عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً پردی چې
را و لیږي دی معجزه لکه چې دوی ئې غواړي وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ اولیکن زیات د
دوی چې دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾ نه پوهیږي په دی سره چې د معجزي سره بیا عذاب
ترلې دی په شرط د عدم ایمان وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ او نشته هیڅ خوزیدونکی فِي الْاَرْضِ
په محکه کښې وَلَا طٰٓئِرٍ او نشته هیڅ الوتونکې په هوا کښې يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ چې الوزي
په دواړو وزرو وروخپلو اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ مګر واړه مخلوق دی په شان ستاسې
رنګارنګ په پیدا کید واو په مرګ او په ژوندکښې مَا فَرَّطْنَا نه دی پرایښی بلکه لیکلې
دی موږ فِي الْكِتٰبِ په کتاب کښې چې لوح محفوظ دی مِنْ شَيْءٍ هیڅ شي له مکونا تو
ږ موږ یا په قران کښې هیڅ شي له هغو چې دوی ورته محتاج کیږي ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ
پس له هغه دا تول امم رب خپل ته يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾ ورجمع به کړل شي دپاره د حساب
او دجزا وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا او هغه کسان چې دروغجن بولي بِاٰيٰتِنَا ایتونه زموږ صُمٌّ
وَّبُكْمٌ کانه دی اوګونګ دی له اوریدوا وله ویلو څخه دحق فِي الظُّلُمٰتِ په تیارو کو
دکفر او دجهل او دعنا دکښې پراته دی اوضلالت او هدایت دواړه درب په ارادة
سره دی مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ هرڅوک چې اراده وکړي خدای دګمراهي د ده يُضْلِلْهُ ګمراه کوئې
لعزوی او توفیق دهدایت څخه دی واخلي وَمَنْ يَّشَاْ او هرڅوک چې اراده وکړي خدای
دهدایت دده يَجْعَلْهُ ټول ثابت اومحکم کې دی عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۹﴾ پر سمه لاره
چې لاره د حق ده قُلْ ووایه دوی ته اَرَءَيْتَكُمْ په څرګنده بنکاره یږی تاسې ته او
والا پکښې زائد دی اِنْ اَتٰىكُمْ که راشي وتاسې ته عَذَابُ اللّٰهِ عذاب دخدای لکه
په نیو وکفار و چې به راتلی په دنیا کښې اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ یا راشي تاسې ته قیامت
او وحشت او عذاب دهغه وویلې تاسې اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ایا بیله خدایه بل څوک

به بولی تاسے چی دا عذاب او سختے در ته لیری کړی إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۰﴾ که یاست تاسے
رشتینی په دی دعوے کښی چې دا بتان خدایان دی بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُوْنَ بلکه یوازی هم
دی بولی تاسے په وخت د سختی کښی نه بتان فَيَكْشِفُ مَا پس دفع کوی دی له تاسو ته
هغه سختی تَدْعُوْنَ إِلَيْهِ چې بولی تاسے دی د هغه دپاره إِنْ شَاءَ که اراده وشی دده
دد فع وَتَنْسَوْنَ او هیروی تاسے په وخت د سختی کښے مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿۴۱﴾ هغه بتان چې
شریکوی ئې تاسے له ده سره په خدائی کښے وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا او هرآئینه په تحقیق سره لیږلے
وو موږ رسولان إِلٰى أُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ وقومو خپلو ته مخوا له تا او دوی ونه منل -
فَأَخَذْنٰهُمْ پس ونیول موږ دوی بِالْبَأْسَاءِ په سختی او په تنگی کښی وَالضَّرَّاءِ او
په آفتو او په رنځو لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۴۲﴾ بنائی چې دوی زاری وکړی ورب ته اوله
شرکه توبه کاړشے اما دوی په دی قسم عذابو پښیما نه شول فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُمْ پس
ولې چې راغلے ودوی ته بَأْسُنَا عذاب زموږ تَضَرَّعُوْا زاری ونه کړی دوی او که زاری
ئې کړی وای نو عذاب به ځندی لیری شوی وو وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ اولیکن سخت شوی
وو زړونه ددوی ځکه عبرت ئې وانه خیست پرے وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ او ښکلے دی
جهته چې بنایسته کړی وو ودوی ته شیطان مَا كَانُوْا هغه چې وو دوی يَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ چې
کاوی به ئې هغه کار یعنی شیطان د عُجب دروازه خلاصه کړه نو هلاک ابدے کښے ئې داخل کړه

بیت :- یو شیطان چې عُجب وکړ په لعنت شو ترابده
نور په عُجب کښے هیڅ له خیر نشته بیله بده

فَلَمَّا نَسُوْا پس هرکله چې هیر کړو دوی مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ هغه شی چې پند ورکړه شوی
وو ودوی ته په هغه سره چې سختی او آفت او رنځ وو فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ نو خلاصی کړلی موږ
پر دوی أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ دروازے د هر قسم نعمت لکه صحت او ارزانی او رنګا رنګ
میوی چې گوندی که دوی عبرت واخلے حَتّٰى إِذَا فَرِحُوْا تر هغو پورے چې خوشحاله شو دوی
بِمَا أُوْتُوْا په هغو شیانو چې ورکړه شوی وو ودوی ته له انواعو د نعمتو أَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً

نو وه نیول موږ دوی ناګاه فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾ پس ناڅاپه دوی ناامیده وو فَقُطِعَ
پس پریکړه شوا ورا واوړ ول شو دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ بیخ دهغو خلګو ظَلَمُوْا ط چي ظلم ئې
کړی وو په نه منلو د رسولا نو نو موږ سره او دا سې هلاك شول چې یو هم ژوندی پاته
نشو وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ او ثنا ده خدای لره په هلاکولو دا عداؤ د دوستانو خپلو رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾
چي رب دی د تمام عالمیانو قُلْ اَرَءَيْتُمْ ووایه چې ایا وینی تاسې اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ
که واخلې خدای اوریدل ستاسې چي کاڼه شې وَاَبْصَارَكُمْ او سترګی ستاسې چي ړانده شې
وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ او مهر ووهی پر زړو ستاسی چې هیڅ نه پوهیږی مَّنْ اِلٰهٌ نو
کوم دی بل خدای غَيْرُ اللّٰهِ بیله پروردګاره يَاْتِيْكُمْ بِهٖ چي راوړی تاسې له بیرته
هغه شی چې ده اخیستی وو یعنې غوږ او سترګی اُنْظُرْ وګوره ته كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ
چي څرنګه چوړ لوو موږ (تصرف کوو) ایتونه خپل چې کله خوف او کله رجا پکښې راليږو او
کله پند او کله نصیحت پکښې بیان کړو ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ پس له هغه بیا دوی
څنګ کوی له هغه ایا تو قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ ووایه دوی ته چې ایا څرنګه ښکاریږی تاسې
ته اِنْ اَتٰىكُمْ که راشې تاسې له عَذَابُ اللّٰهِ عذاب د خدای بَغْتَةً ناڅاپه دشپې
اَوْ جَهْرَةً یا ښکاره د ورځې یعنې په هرشان چې راشې هَلْ يُهْلَكُ ایا هلاك به کړل
شې په بل څوك هم یعنی هلاك به نه کړل شې اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۷﴾ مګر تولی د
ظالمانو وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ او نه لیږو موږ پیغمبران اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ مګر زیری
کونکی پر مؤمنانو د رضوان او د دیدار وَمُنْذِرِيْنَ ؏ او بیرونکی د کفارو له غضب
او له دوږخ او له حرمان عہ څخه فَمَنْ اٰمَنَ پس هرچا چې ایمان راوړی وَاَصْلَحَ او سازئ
کړی کار خپل په طاعت او په تقوی سره فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ پس نشته هیڅ ویره پر دوی
د خلود په عذاب کښې وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۴۸﴾ او نه به وی دوی چې به خفه کیږی په فوت
د ثواب وَالَّذِيْنَ او هغه کسان كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چې تکذیب کوی یعنې له منی ایتونه زموږ
يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ وبه رسیږی دوی ته عذاب بِمَا كَانُوْا په سبب د دی چې وو دوی

عہ یعنی له محروم کید لو د دوی له جنت څخه او له دیداره او له رضوانه ۱۲

يَفْسُقُونَ ﴿۴۹﴾ چې فسق ئې کولو چې هغه خروج دی له طاعته د خدای قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ
ووايه ودوی ته چې نه دا سې وايم زه وتا سې ته عِنْدِیْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ چې زما سره
خزانې د روزې د خدای دی چې هرڅه تاسې غواړی هم هغه زه درکړم وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ
او نه دا سې وايم چې زه پوهیږم په غیب په هر سوال چې تاسې وکړی زه به ئې بیله نزوله
د وحی جواب درکړم وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ او نه دا سې وايم وتاسې ته اِنِّیْ مَلَكٌ چې زه ملائکه
یم چې هرڅه چې تاسې راته ووایاست هغه په قوت ملکی سره ورکړم یعنې دا یو هم درته
نه وایم بلکه دا سې وایم چې زه هم بشر یم اِنْ اَتَّبِعُ پیروی نه کوم زه د هیڅ شی اِلَّا مَا
يُوْحٰٓى اِلَیَّ ط مگر د هغه شی چې وحی شوی وی وما ته د هغه قُلْ هَلْ يَسْتَوِی الْاَعْمٰى وَ ووايه
چې ایا برابریږی ړوند وَالْبَصِيْرُ ط او بینا یعنې نه برابریږی اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ایا پس تاسې ع ۵/۹/۱۱
فکر نه کوی چې حق له باطله څخه بیل کړی وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ او بیروه په دی وحی سره
هغه کسان يَخَافُوْنَ چې بیریږی اَنْ يُّحْشَرُوْٓا له دی چې تول جمع کړل شی او بیا ورو ستل
شی اِلٰى رَبِّهِمْ رب خپل ته یعنې هغه مسلمانان چې بیریږی له جهته د خپلو تقصیراتو
له وخته د حضور لَيْسَ لَهُمْ په دې حال کښې چې نشته دوی لره مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِیٌّ بیله
خدایه هیڅوک دوست وَّلَا شَفِيْعٌ او نه هیڅوک شفاعتگر په اخرت کښې لږ دوی بیروه
لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۵۱﴾ بنا ئې چې دوی پرهیز وکړی له گناهو څخه **روایت** دی چې شرانو
د قریشو رسول علیه السلام ته وویل چې ستا په مجلس کښې اکثره خواران او مریان دی لکه ابن
مسعود[رض] او بلال[رض] او مقداد[رض] او عمار[رض] او صهیب[رض] یا دا سې نور شوه لږکه دوی له ځانه لیری
کړی نو موږ به له تا سره کښینوا وولاړ به یو وگوندی ستا دین هم بیا قبول کړو او له دوی
سره یو ځای په کښینا ستو موږ شرمیږو او په مصلحت د عمر[رض] سره د ده زړه لره هم راغله
چې هم دا سې دی وشی چې د دوی احوال معلوم شی چې ایمان راوړی او که ئې نه راوړی
بیا اخر ئې پر دی فیصله سره وکړه چې یوه ورځ به موږ درسره او سو او یوه ورځ دی دوی
وی او بیا چې حضرت علی[رض] ئې را وباله او کاغذ ئې ولیکه لږ دا فقرآء له مجلسه ولاړ سو

اوکناره کښیناسته نو نازل شو وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ او مه شړه له مجلسه خپله هغه کسان -
يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ چې بولي دوی رب خپل په هر وخت کې بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ هم سهار او
هم ماښام یا لمونځونه کوي د سهار او د ماښګر يُرِيْدُوْنَ چې غواړي دوی په دې بللو
یا په دې لمانځه سره وَجْهَهٗ د دې خپله یا رضا د ده مَا عَلَيْكَ نشته پر تا مِنْ حِسَابِهِمْ له
حسابه د اعمالو د دوی مِّنْ شَيْءٍ هیڅ شے وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ او هم د اسې نشته له حسابه
د عمل ستا عَلَيْهِمْ پر دوی مِّنْ شَيْءٍ هیڅ شی فَتَطْرُدَهُمْ پس چې و شړې دوی له
مجلسه خپل څخه او د اجواب د نفی دے فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ پس شے به ته په دے
شړلو سره د ظالمانو څخه بیا چې دا آیت نازل شو نو رسول علیه السلام هغه کاغذ د لاسه څخه
وه غورځاوی بیا ورغلی او فقراؤ ته په غاړه شو وَكَذٰلِكَ او همدا سې لکه چې مخوا هم
ازمایلی وو موږ اغنیاء د امهو په فقراؤ د دوی فَتَنَّا بَعْضَهُمْ ازمایلي دي موږ بعض
د دوی چې اغنیاء دي بِبَعْضٍ په بعضو نورو چې فقراء دي د اسې چې فقراء مقدم کړي
دي موږ په ایمان راوړو کښې پر اغنیاؤ لِّيَقُوْلُوْٓا د پاره د دې چې و وائي دا اغنیاء اَهٰٓؤُلَآءِ
آیا دا خواران له نظره لویدلي چې دي مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ احسان بار کړی دی خدای پر دوی
مِّنْۢ بَيْنِنَا په مابین د موږ کښې او سره له دې چې موږ ډیر غټان او یا د خلکو او سنه
لائق د احسان اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ آیا نه دی خدای ډیر سنه پوه یعنی دی بِالشّٰكِرِيْنَ ﴿۵۳﴾
په شکر کونکو په نعمت د اسلام روایت دے چې یوه قولي د مؤمنانو رسول علیه السلام
له راغله چې له موږ څخه ډیر لوی گناهونه او ډیر غټې تقصیرات شوي دي نو څه موږ
د عذر خواهۍ او د مغفرت به هم څه شان وي او که به نه وي او رسول علیه السلام
هیڅ التفات ورته و نه کړو او دوی نا اُمیده خندی ولاړ شوه نو نازل شو وَاِذَا جَآءَكَ
الَّذِيْنَ او په هغه وخت کې چې راشي تا لره هغه کسان يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا چې ایمان راوړي
پر آیتونو د موږ یعنې پر قرآن فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ پس وو ایه ته چې سلام دی پر تاسې یعنې
زیری دی د سلامتۍ په دنیا کښې او د رحمت په عقبیٰ کښې او پس له سلامه بیا د اسې ورته

وو ایه کَتَبَ رَبُّکُمْ چې لیکلې دے یعنې لازم کړے دی رب ستا سے عَلٰی نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ لا پر ځان
خپل رحمت او بخشش او مهربانی یعنې دا سے وعده ئې کړیده د رحمت چې هیڅ خلاف پکښې نشته
او دا سې ئې ویلې دی اَنَّهٗ بیشکه شان دا دے مَنْ عَمِلَ مِنْکُمْ هر څوک چې عمل وکړی له
تا سے څخه سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ بدی په نا دانئ سره ثُمَّ تَابَ بیا توبه وکاږی مِنْۢ بَعْدِهٖ پس له
کولو د هغه عمل وَاَصْلَحَ او سازښت وکړی د کار خپل یعنې چې عزم وکړی د عدم رجوع
بیا دے گناه ته فَاَنَّهٗ پس بیشکه چې دے غَفُوْرٌ بخښونکی دی د تائبانو رَّحِیْمٌ ۵۴
مهربان دی پردوی چې وعده ئې د رحمت کړی ده **نظم** :-

که مَلَك دی په موږ بښکلی گناهونه — خو ملِك په ځان دی ښکلی عه رحمتونه
که گناه له موږه ډیره شے چا پیره — دی رحیم کریم غفور لری نومونه
او رحمت ئې په غضب باندی غالب دی — څه شو څه شوکه ئې د واړه دی وصفونه
څکه نیك په لسو بد په یو لیکل شے — په قرآن کښې دے راغلی آیتونه
په رشتینی عذر زر کبیرے تولی — بخښی دی په دی ناطق دی حدیثونه

اِذَا اعْتَذَرَ الصَّدِیْقُ اِلَیْكَ یَوْمًا — فَتَجَاوَزْ عَنْ مَعَاصِیْهِ الْکَثِیْرَةِ
چې عذر وکړے دوست تا ته یوه ورځ — پس تیر شه له گناهو د هغه څخه که ډیرې هم
فَاِنَّ الشَّافِعِیَّ رَوٰی حَدِیْثًا — بِاَسْنَادٍ صَحِیْحٍ عَنْ مُغِیْرَةٍ
بیشکه چې امام شافعی روایت کړی دی یو حدیث — په سند صحیح سره له مغیره څخه
بِاَنْ قَالَ النَّبِیُّ اللّٰهُ یَعْفُوْ — بِعُذْرٍ وَّاحِدٍ اَلْفًا کَبِیْرَةً
چې ویلی دے حضرت ۴ چې خدای عفوه کوی — په یو عذر سره زر کبیره گناهونه

وَکَذٰلِكَ او همدا سے لکه چې په دی سورة کښې موږ دلائل د توحید او د نبوت مفصل

عه څکه چې په دی قول د الله تعالی کتب را غلے دی چې ان رسلنا یکتبون ما تمکرون معنے دا چې په تحقیق سره رسولان زموږ یعنې ملائکې لیکی هغه چې تا سے څه حیله جوړوی ۱۲ عه څکه چې خدای تعالی فرمایلے دی کتب ربکم علی نفسه الرحمة یعنی مقرر کړیے دی الله تعالی پر ځان خپل باندی رحمت پر بندگانو باندے ۱۲ عه کما فی الحدیث القدسی ان رحمتی سبقت علی غضبی یعنی الله تعالی فرمایلے دی چې په تحقیق سره رحمت زما غلبه کړیده پر غضب زما باندی یعنې رحمت ئې غالب دی پر غضب ۱۲ عه قال الله تعالی من جآء بالحسنة فله عشر امثالها ومن جآء بالسیئة (الی قوله) لا یظلمون ۵ معنے دا چې هرچا چې راوړله په ورځ د قیامت نیکی پس شته د ده لره لس مثله ا وکرته جزاء د هغه نیکی او هر چا چې راوړه بدی پس سزا به نه ورکول کیږی مگر په یوه مثل او کرت د هغه او دوی به ظلم نه کول کیږی په کمولو د نیکی او په زیاتولو د بدی ۱۲

بیان کړی دی نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ په تفصیل سره بیانوو ایتونه په باب د مطیعانو او دعاصیانو
کښې چې حق ظاهر شي وَلِتَسْتَبِيْنَ او د پاره د دې چې ښکاره شي سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ لاره ع ٦/٥ ١٢
دگنا هگارانو یعنې چې حق له باطله بیل شي روایت دی چې هر کله چې قریشو رسول ته وویل
ودین د خپلو اباءو او اجدادو ته نو نازل شو قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ ووایه و دوی ته چې بیشکه زه
منع کړه شوی یم اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ له دی چې عبادت وکړم د هغو شیانو تَدْعُوْنَ چې
تاسې یې عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ط بیله خدایه یعنې دبتانو قُلْ لَّآ اَتَّبِعُ بیا ووایه چې نه
کومزه پیروی اَهْوَآءَكُمْ لا د ارزوگانو ستاسې ځکه چې قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا په تحقیق سره گمراه
شوی به یم زه په دې وخت کښې چې پیروی وکړم د هوا ستاسې وَّمَآ اَنَا او نه به یم زه
مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ له لاره موندونکو (بیاموندونکو) روایت دی چې نضر بن حارث او نورو
مشرانو د قریشو رسول ته وویل چې ته همیشه موږ د عذابه ځنی د خدای بیروی نو
اوس هر رنگه عذاب چې دی د لاسه کېږی موږ ته یې راو رسوه او بیا پس له دی موږ
مه بیروه نو نازل شو قُلْ اِنِّيْ ووایه دوی ته بیشکه زه چې یم عَلٰى بَيِّنَةٍ پر ښکاره حجت
او دلیل ولاړیم مِّنْ رَّبِّيْ له جانبه د رب خپل چې وحی او قران دی وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ط او
تاسې نه منی هغه دلیل مَا عِنْدِيْ نشته د ما ځنی مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ط هغه شی چې زر
یې غواړی تاسې یعنې عذاب اِنِ الْحُكْمُ نه دی حکم د تلوار او ملا رد هغه عذاب اِلَّا لِلّٰهِ ط
مگر خاص خدای له دی يَقُصُّ الْحَقَّ وائی دی حق یا حکم کوی حق وَهُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾
او حال دا چې دی بهتر د فیصله کونکو یا د بیانونکو دی قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِيْ بیا ووایه و دوی
ته چې که وای د ما ځنی مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ هغه شی چې په تلوار یې غواړی تاسې چې عذاب
دی لَقُضِيَ الْاَمْرُ نو هرا ئینه کوتاه شوی به وه مقدمه بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ط زما او ستاسې په
مینځ کښې یعنې ژر به می هلاک کړی واست چې مقدمه کوتاه شوی وای وَاللّٰهُ اَعْلَمُ
بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ او خدای ډیر دانا دی په ظالمانو او په وخت د عذاب و د دوی وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ
الْغَيْبِ او خاص هم د ده سره دی کلیگانې د خزانو د غیب یعنې د هر هغه شیانو چې له خلقو

پټ دی لکه اجل او خاتمه او ثواب او عقاب او نور داسې ډېر شیان شوه لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا
هُوَ ط نه دی معلومې هغه خزانې بل هیچا ته مګر یوازې هم وده ته نو جلتی (تلوار) او مدار
د عذاب هم دده په قدرت کښې دی وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ او دانا دی په هر هغه شی چې په
وچه کې دی لکه حیوانات او نباتات او دا نور شیان وَالْبَحْرِ ط او چې په دریاب کښې دی لکه
حیوانات او جواهرات او داسې نور شیان وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ او نه لوېږي هیڅ
پاڼه له ونې څخه اِلَّا يَعْلَمُهَا مګر چې دی په عالم او خبردار دی چې څو پاڼې څنډی
ولوېدې او څو پکښې پاتې شوی او دا مبالغه ده په احاطه د علم کښې پر جزئیاتو د عالم
باندی وَلَا حَبَّةٍ او نه لوېږي هیڅ دانه فِي ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ په تاریکو د مځکې کښې یعنې تخم
د هر قسم نه رغونې وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ او نه دی هیڅ لوند او نه هیڅ وچ اِلَّا فِي كِتٰبٍ
مُّبِيْنٍ ۝۵۹ مګر هغه ټول واضح لیکلی دی په کتاب مبین کښې چې لوح محفوظ دی وَهُوَ الَّذِيْ
او دې هغه خدای دی يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ چې قبضوی ارواح ستاسې او حصاروی ئې
په شپه کښې له تصرفه په خوب سره وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ او آګاه دی په هغه څه چې
کسب کوی تاسې بِالنَّهَارِ د ورځې ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ بیا راویښ کړی تاسې له خوبه په د
ورځ کښې لِيُقْضٰٓى اَجَلٌ مُّسَمًّى ج د پاره د دې چې پوره کړه شي هغه موده د مرګ چې
په نامه کړه شوی ده ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ بیا بېرته له مرګه خاص هم وده ته بېرته
ورتله ستاسې دی ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بیا پس له ورتلو آګاه به کړی تاسې په قیامت بِمَا كُنْتُمْ
په هغه عملو چې واست تاسې په دنیا کښې تَعْمَلُوْنَ ۝۶۰ چې ټول به تاسې د خیر یا د شر او آګاه ع ۷
کول به په دی شان وی چې جزاء د هغه به درکړی وَهُوَ الْقَاهِرُ او دی غالب دی فَوْقَ
عِبَادِهٖ پر بندګانو خپلو باندی وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ط او لېږي دی پر تاسې نګهبانان
له ملائکو چې کرام الکاتبین دی او لیکی نیک او بد عملونه ستاسې حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ تر هغه
پورې چې راشی اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ و یوه له تاسې څخه مرګ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا نو قبض کړی روح
دده استازی زموږ له ملائکو یعنې ملک الموت او نور اعوان دده چې ځوار لس تنه دی او ه

له دوی څخه ملائكة الرَّحمة دی او اوه نی ملائكة العذاب دی نو هر كله چې ملك الموت
روح د مؤمن قبض كړی نو ملائكو د رحمت ته ئی وركړی چې عليين ته ئی یوسی او د كافر روح
چې قبض كړی نو وملائكو د عذاب ته ئی وركړی چې سجين ته ئی یوسي وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾
او دا ملائكې هيڅ تقصير نه كوی په امتثال د امر كښې او یا هيڅ تاخير نه كوی په قبض د روح
كښې پس د پوره كيد و د اجل ثُمَّ رُدُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ بيا له مرګه پس به بوتلل شي بيرته خدای
ته د پاره د جزا د عمل خپل مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ د چې بادار د دوی دی او حق دی اَلَا لَهُ الْحُكْمُ
واوری چې خاص هم دهٔ لره دی حكم په دې ورځ د جزا كښې وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ ﴿٦٢﴾
او دی ډير جلت (ژر كونكی) دی د حساب ترټولو حسابګرو چې د ټولو مخلوقاتو حساب به كوتاه
كړی په قدر د لوشلو د یوی ميږ ې كښې قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ ووايه دوی ته چې څوك ساتي
تاسې مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ له تاريكو د دریاب څخه په شيه د سحاب او د غبار او د بخار كښې
مراد څندی سختې دی د وچې او د لوندی تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا په دی حال كښې چې بولی
تاسې په زاری سره هم په ښكاره وَّخُفْيَةً ج او هم په پټه او وايئ تاسې وائی چې لَئِنْ اَنْجٰىنَا
مِنْ هٰذِهٖ كه نی خلاص كړو دهٔ موږ له دی سختی او محنت څخه لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ نو
هرآئينه شو به موږ له شكر ګذارانو څخه پر دی نعمت د نجات قُلِ اللّٰهُ ووايه ورته چې خدای
يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا خلاصوی تاسې له دی ظلماتو څخه د بر او د بحر وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ او له بل هر غم
او خفګان څخه ثُمَّ اَنْتُمْ بيا پس له دی خلاصولو تاسې تُشْرِكُوْنَ ﴿٦٤﴾ بيا شرك ته رجوع كوی
قُلْ هُوَ الْقَادِرُ ووايه ورته چې دی قادر دی عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ پر دی چې راوه ليږی
پر تاسې عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ عذاب د پاسه ستاسې لكه پر قوم د لوط او پر اصحاب فيلو چې
د پاسه كاڼی پر اوريدلی وو اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ يا له لاندی تر پښو ستاسې لكه د فرعون
او د قارون په شان يا مراد له فوق څخه اوريدل د باران دی او له تحت څخه شنه كيدل
د غلې دی اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا يا چې خلط كړی سره تاسې فرقې فرقې چې هره فرقه بيله بيله
مدعي او ارزو ولری او مخالفت بيا موجب د قتال شي او يو بل ما بېنځو كښې سره قتل كړی

وَّ یُذِیْقَ بَعْضَکُمْ او وڅکی دی په بعضو ستاسې بَاْسَ بَعْضٍ ط سختۍ او سختۍ د بعضو
نورو اُنْظُرْ کَیْفَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ وګوره چې څرنګه اړوو راړوو موږ ایتونه خپل کله په
وعد او کله په وعید لَعَلَّهُمْ یَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾ بناۍ چې دوی پوه شي په وَکَذَّبَ بِهٖ قَوْمُکَ
او دروغ بولې دا قرآن یا دا عذاب قوم ستا یعنې قریش وَهُوَ الْحَقُّ ط او حال دا چې
دا قرآن یا عذاب حق دے چې شبه پکښې نشته قُلْ لَّسْتُ ووایه ورته چې نه یم زه
عَلَیْکُمْ بِوَکِیْلٍ ﴿۶۶﴾ پر تاسې نګهبان چې ستاسې کار ما ته مفوّض دی بلکه زه
منذر یم فقط لِکُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ ز هرې خبرې له یو قرارګاه دے چې په هغه کښې
واقع کیږي که وعده دی او که وعید دی وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۷﴾ او ژر دی چې عالمان
به شئ تاسې پر وَاِذَا رَاَیْتَ الَّذِیْنَ او په هغه وخت کښې وویني ته هغه کسان یَخُوْضُوْنَ
فِیْٓ اٰیٰتِنَا چې غوټه وهي یعنې پټ مجلس کوي په ایتونو زموږ کښې لکه قریشو چې به کول
فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ پس څنګ وکړه له دوی څخه او ورسره مه کښېنه او له ناست وې ځندی
ولاړ پریږده حَتّٰی یَخُوْضُوْا تر هغو پورې چې ننوزي یعنې مجلس واچوي فِیْ حَدِیْثٍ غَیْرِهٖ ؗ په
بله خبره کښې بیله قرآنه وَاِمَّا یُنْسِیَنَّکَ الشَّیْطٰنُ او که هیر کړي درڅخه دا اعراض شیطان
فَلَا تَقْعُدْ پس مه کښېنه بَعْدَ الذِّکْرٰی پس له یادیدو د نهي مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۶۸﴾ له
دې قومه ظالمانو سره وَمَا عَلَی الَّذِیْنَ او نشته پر هغو کسانو یَتَّقُوْنَ چې ځان ساتي
له خوضه د قرآن د پاره د مسخرو مِنْ حِسَابِهِمْ له حسابه د دې مسخري کوونکو مِّنْ شَیْءٍ هیڅ
شے له ګناه یعنې که متقیان ورسره کښېني پر ته له وخته د مسخرو نو خیر دی وَّلٰکِنْ ذِکْرٰی
او لیکن پند ورکول شته پر دې متقیانو بیا وچولي تریو کول بیا ځندی پا څیدل دی لَعَلَّهُمْ
یَتَّقُوْنَ ﴿۶۹﴾ بناۍ چې دا مسخري کوونکي ځان وساتي له دې کاره له جهته د شرم وَذَرِ
الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا او پریږده یعنې څنګ وکړه له هغه کسانو څخه چې نیولی ئې دی یعنې جوړ
کړی ئې دی له خپله ځانه دِیْنَهُمْ لَعِبًا وَّ لَهْوًا دین خپل لوبې او عبث بې فائدی لکه
عباده د بتانو او حرام بلل د بحیرو او سایبو یا دا سې د نورو اشیاؤ وَّغَرَّتْهُمُ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا

اوغرہ کړیدی دوی دی واړہ ژړندون ځکه منکرشوی دی له بعثه له حشرہ وَذَكِّرْ
بِهٖٓ او پند ورکړی په دی قرآن سرہ اَنْ تُبْسَلَ له دی چې مبادا ونه سپارل شی په هلاک
یا رسوا نه شی نَفْسٌ ۖ نفس دهرکافر بِمَا كَسَبَتْ ۖ ق په هغه عمل چې کړی دی دہ لَيْسَ
لَهَا نشته دی نفس لرہ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بیله خدایه وَلِيٌّ وَّ لَا شَفِيْعٌ ۚ کوم دوست
چې مدد ورسره وکړی او یه ژوری خلاص کړی اونه کوم شفاعتگر چې په زاری ئې
خلاص کړی وَاِنْ تَعْدِلْ اوکه فدیه ورکړی دا نفس دخپل سرہ چې ځان په خلاص
کړی كُلَّ عَدْلٍ هرقسم فدیه چې وی لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ۭ وا به نخستل شی له دی نفس
ځنې یعنې نه به داځندی قبول شی اونه به دی پدی له عذابه خلاص شی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
دامذکورین چې دین ئې لعب اولهو نیولی دی هغه کسان دی اُبْسِلُوْا چې سپارل شوی
دی پرملا تکود عذاب بِمَا كَسَبُوْا ۚ په سبب دهغه عملو چې کړی دی دوی لَهُمْ شَرَابٌ
مقرر دی دوی لرہ څښل په دوزخ کښې مِّنْ حَمِيْمٍ له اوبو خوټکید لو یه اور د دوزخ
چې ژړونه ئې جله بله کړی وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ اوعذاب ډیر دردناک بِمَا كَانُوْا په سبب
د دی چې وو دوی يَكْفُرُوْنَ ⑦ چې کفر ئې اختیار کړی وو روایت دی چې عبدالرحمٰن ع ۱۰ ۱۹
بن ابی بکر بچوا له ایمان راوړ و خپل عبادت د بتانو و بالی او پلار ئې رسول علیه السلام
ته حال ووایه نو نازل شو قُلْ ووایه اے رسوله! صدیق اکبر ته چې دی دی ووائی
خپل زوی ته اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ آیا وبولو موږ بیله خدایه یعنې عبادت وکړو مَا
لَا يَنْفَعُنَا د هغه شی چې نفع نه شی رسولے موږ ته که طاعت ئې وکړو وَلَا يَضُرُّنَا او
نه هیڅ ضرر رسولے شی که طاعت ئې ونه کړو وَنُرَدُّ او آیا بیرته وګرځو موږ عَلٰٓى
اَعْقَابِنَا پر پوندو خپلو یعنې بیا مرتد شو او شرک اختیار کړو بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ پس له
هغه چې وښوده را ته خدای لاره د اسلام او را خلاص ئې کړو له کفره او له دلالته
او که بیرته وګرځو نو حال زموږ به دا شی كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ لکه حال د
هغه چا چې هوا ګیر کړی وی دیوانو له مینځه د کاروان فِى الْاَرْضِ په هغه زمکه کښې چې

چول او بیابان وی او له کاروان څخه ئې رابیل کړی وی او له سمے لارے ئې ډیر لیرې
ایستلی وی حَيْرَانَ س په دې چې ډیر متحیر وی چې نه لار موی او نه یا رموی او نه سر
رشته د کار موی لَهٗٓ اَصْحٰبٌ وی ده لره ملګری مهربانه په دې کاروان کښے چې له ډیره
شفقته يَّدْعُوْنَهٗٓ ناری وهی وده ته او بولی ئے اِلَى الْهُدَى ے وسمی لاری ته او وائی
وائی ائْتِنَا ط چې راځه موږ ته او دیوان ئے وځان ته راکښوی او دی په دې مینځ کښے
حیران ولاړ وی فائدہ :- داچې کاروانی مثلاً مؤمنان دی او دیوان کفار دی او مرتد
هغه حیران دی چې دی دیوانو هواګیر کړی وی نو که بیا بیرته مؤمنانو ته راوګرځیدا
او تجدید د اسلام ئے وکړی نو خلاص شو او که له کفاره سره پاته شو نو خالد شو په
عذاب ابدی کښے قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ ووایه بیشکه دین د خدای چې دی اسلام دی
هُوَ الْهُدٰى ط هم داسم او برابر دین دی وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ او مامور شوی یو موږ په
دې چې غاړه کښیږدو لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾ ورب د تمام عالم ته وَاَنْ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ
او بل په دې مامور شوی یو چې قائم کړو لمونځ وَاتَّقُوْهُ ط او بیریږی له ده څخه په
ترک د لمانځه کښی وَهُوَ الَّذِيْٓ او دی هغه پروردګار دی اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۲﴾ چې هم
ده ته به ورجمع کړه شے په قیامت وَهُوَ الَّذِيْ او دی هغه دی خَلَقَ السَّمٰوٰتِ چې
پیدا کړی دی ده آسمانونه وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ط او ځمکه په حق سره چې دا مصنوعات
دلالت وکړی په وجود او په قدرت د صانع خپل باندی وَيَوْمَ يَقُوْلُ او یاد کړه هغه
ورځ چې وبه وائی رب العزت په ورځ د قیامت هر هغه شی ته چې اراده ئې وشی د
ایجاد د هغه شی كُنْ چې موجود شه فَيَكُوْنُ ۃ پس موجودیږی قَوْلُهُ الْحَقُّ ط وبل د
ده حق دی چې مخالفت څندی نه شی کید لای وَلَهُ الْمُلْكُ او خاص هم ده لره ده باچا
يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ ط په هغه ورځ چې به پو کول شے په شپیلی کښے عٰلِمُ الْغَيْبِ چې
دی خبردار دی په هر پټ وَالشَّهَادَةِ ط او په هر ښکاره وَهُوَ الْحَكِيْمُ او دی پُر حکمت
دی چې پیدا کول او فنا کول ئې دواړه په حکمت دی الْخَبِيْرُ ﴿۷۳﴾ ښه دانا دی په حساب

او په جزا وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ او یاد کړه ووی اهل د مکی ته هغه چې وویل ابراهیم
لِاَبِيْهِ اٰزَرَ پلار خپل ته چې آزر وو او دا ئې لقب وو او نوم ئې تارخ وو او معنیٰ د
آزر دده وی په ژبه بت پرست وو اَتَتَّخِذُ اٰيا نیسې ته اَصْنَامًا هغه بتان چې دی جځله
تورېلې دی اٰلِهَةً په خدایی سره اِنِّىْٓ اَرٰىكَ بیشکه زه وینم تا وَقَوْمَكَ او قوم ستا
فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۴﴾ په ښکاره گمراهی کښی یعنی د مکی خلکو ته دا قصه وکړه چې دوی
ځانونه د ابراهیم فرزندان بولی نو میباید چې په توحید کښی دی هم په هغه پسې
اقتداء وکړی وَكَذٰلِكَ او هم دا سې لکه چې قبح د شرك ورته ښوولی وه مونږ نُرِیٓ
اِبْرٰهِيْمَ ښیلو مونږ ابراهیم ته په سترگو د زړه مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ عجائب او غرائب
د اسمانو وَالْاَرْضِ او د ځمکی روایت دی چې حجابونه د اوو اسمانو د ابراهیم د مخه
رب العزت لیری کړه نو په دوی کښی چې څه عجائب غرائب وو هغه ئې تول ولیدل
او نظر ئې ولاړی پر عرش ولگیدی او بیائې د اوو ځمکو حجابونه هم لیری کړه نو په دوی
کښی چې څه عجائب او غرائب وو هغه ئې هم تول ولیدل او مونږ دا سې وکړه د پاره
ددی چې په دی سره استدلال وکړی دی په قدرت کامله زمونږ باندی وَلِيَكُوْنَ
او د پاره ددی چې شی دی مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ﴿۷۵﴾ د یقین کونکو نه عیاناً لکه چې وو بیاناً او
سره قصے د ابراهیم دادی روایت دی چې یو باچا د تمام روی زمین چې نوم ئې
نمرود بن کنعان وو او پایه تخت ئې شهر د بابل وو یو شپه ئې په خوب کښی ولیدل
چې د بابل له څنگه یو ستوری راوخوت او رڼا د شغلی د هغه رڼا د لمر او د سپوږمۍ
بیخی ورکه کړه نو له ډیره هیبته راویښ شو او د خپل مملکت کاهنان او حکیمان
ئې راجمع کړه د پاره د تعبیر او دوی ورته وویل چې په دی کال کښی به یو هلك پیدا
شی په بابل کښی چې ستا باچاهی به برهم او ترا و سه لا د پلار په پشت کښی دی
نو حکم ئې وکړو چې د بابل نارینه او ښځې سره بیلی کړی او چوکیداران ئې پرودرول
او آزر چې مقرب د باچا وو له چوکیدارانو یې د خپلی ښځې سره یو ځای شو او د ا

حامله شوه او صبا (سحار) ته کاهنانو ونمرود ته وویل چې ن شپه هغه هلک له پلاره څخه و
مورته ولاړی نو دے په غضب شو او پر امیدوارو ښځو ئې سری کښینول چې هلکان څنډی
وژنی او انجونی پریږدی او پر مورد ابراهیم علیه السلام باندی تر اخره هیڅ اثر د حمل ظاهر
نشو بیا چې وخت د لنګتوب ئې نژدې شو نو له بیری د نمرود ولاړه وصحرا ته او دی په
یوه غار کښې څندی پیدا شو بیا دې هم په هغه غار کښې پر یښووی او د غار خوله ئې
بند کړه او دا کورته څندی راغله او ازرته ئې وویل چې له بیری څخه د نمرود وصحرا ته
ولاړم هلته مر هلک راڅخه پیدا شو نو هلته مې دفن کړی او راغلم بیا بله ورځ چې ولاړه
د هلک دوی ګوتی په خوله کښې اچولی وی چې له یوی ګوتی څخه ئې شات او د بلی ګوتے
څخه ئے شیدی راتلے نو دیره خوشحاله شوه او بے غمه کورته راغله او دی به په
هفته کې د میاشتې قدر او په میاشت کې د کال قدر لوئیدی بیا چې د پنځلسو میاشتو
شو او پنځلس کلن قدر به ښکاره کیدی نو ازرته ئے حال ووایه چې ما د رواغ درته ویلی
وو هلک ژوندی دی بیا ازر ورته وویل چې کورته ئې راوله بیا چې له غاره ئې راوه
ایستی -- هلته ګلے د مال ګرزیدے نو ده له موره څخه پوښتنه وکړه چې دا څه شے دے
چې ددی نوم ئې ورو ه ښووی نو بیا ئې وویل چې د ا به خدای هم لری چې پیدا کړے
ئې دی او ورنړی هم ورکوی ځکه چې هر مخلوق لره خالق وی چې پروروښت ئې کوی
بیا ئې مورته وویل چې زما خدای څوک دی دی وویل چې زه یم بیا ئې ورته وویل چې
ستا خدای څوک دی دی وویل چې ستا پلار دی بیا ئې ورته وویل چې د هغه خدای څوک دے
دی وویل نمرود دی بیا ئې وویل چې د نمرود خدای څوک دی نو قهر ورته وکړی دے
چې داسی وراڼے خبری مه کوه او په هغه زمانه کښے به چا لمر ته سجدی کولی او چا سپوږمۍ
ته او چا ستورو ته لکه چې وائی فَلَمَّا جَنَّ پس هر کله چې تیاره واچوله عَلَيْهِ الَّيْلُ پر
ده باندی شپے رَاٰ كَوْكَبًا ج نو وی لیدل ستوری چې بلق ئے واهه یعنی زهره یا مشتری
قَالَ نو وویل ابراهیم هٰذَا رَبِّي ج چې دا زما رب دی په نزعم ستا سے فَلَمَّآ اَفَلَ پس

هرکله چې ولویدی او غائب شو قَالَ وویل ده لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِیْنَ ﴿۷۶﴾ چې نه خوښوم زه لویدونکی ځکه چې دا نخښه (نښه) د زوال ده او پروردګار له زوال نه پاك دی او دا شپه دخوارلسم وه نو ناګاه سپوږمۍ راوخته فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ پس هرکله چې ئې وه لیده سپوږمۍ بَازِغًا راختونکې روښانه قَالَ هٰذَا رَبِّیْ نو وویل ده چې دارب زما دی په زعم ستاسې سره فَلَمَّآ اَفَلَ پس هرکله چې دی هم غ په غروب شو قَالَ نو وویل ده لَئِنْ لَّمْ یَهْدِنِیْ رَبِّیْ هرا ئینه که هدایت کړے نه وای وماته رب زما د لارې د معرفت خپل لَاَ کُوْنَنَّ نو هرا ئینه وم به زه مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّیْنَ ﴿۷۷﴾ له قولې دګمراهانو ځنه بیا چې ښه سهار ته راننوتی شو نو شپه وچاوده او لمر راوخاتی او آفتاب پرستان ورته په سجده پریوا ته لګه چې والئ فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ پس هرکله چې ئې وه لیدی لمر بَازِغَةً راختونکے او تمام عالم روښانه کونکی قَالَ هٰذَا رَبِّیْ نو وویل ده چې دا رب زما دی په زعم ستاسې هٰذَآ اَکْبَرُ او دا ډیرلوی او ډیر روښانه دی له هغه دواړو نورو ځنه فَلَمَّآ اَفَلَتْ پس هرکله چې دی هم پرغروب شو قَالَ یٰقَوْمِ نو وویل ده اے قومه زما اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ بیشکه چې زه بیزاریم مِّمَّا تُشْرِکُوْنَ ﴿۷۸﴾ له هغه چې تاسې ئې شریکوی له خدایه سره په استحقاق دعبادت کښې اِنِّیْ وَجَّهْتُ بیشکه زه چې یم ګرزولی دی ما وَجْهِیَ لِلَّذِیْ مخ د زړه هغه خدای ته چې محض په قدرت خپل سره فَطَرَ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی ئې دی اسمانو نه وَالْاَرْضَ او ځمکه حَنِیْفًا په دی حال کښې چې زه مائیل یم له هغه قولو ادیانو چې باطل دی ودین د توحید ته وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ ﴿۷۹﴾ او نه یم زه له شریك نیونکو له خدای سره

روایت دی چې هرکله ابراهیم علیه السلام ښار لره راغلی نو مورئې د نمرود ودین ته وروستی چې مجلس ته حاضر شو نو یو بد شکله سړی ئې ولیدی چې پر تخت ناست دی او چاپیره ورته مریان لګه ګلونه او مینځې لګه شاپیرئ یا ئې صفونه ترلے ولاړې دی نو له موره ئې پوښتنه وکړه چې دا څوك دی مورئې وویل دا د هرچا خدای دی بیا ده وویل چې دا چاپیره ئې څوك دی دی ورته وویل چې دا ده پیدا کړی دی نو میسکے (خندا کونکی) شو او وی ویل

چې داځنګه خدای دی چې داخپل مخلوق ئې له ځانه څخه بنایسته پیدا کړی دی بایدا
داسې وه چې دی ترټولو بنایسته وو اَلْقِصَّةُ پس ابراهیم علیه السلام به همیشه مذمت
دبتانو کاوی اوددوی عابدانو به ئې بدویل نو قوم به ئې ورسره په جګړه شول که چې وائي
وَحَاجَّهٗ قَوْمُهٗ ط اوجګړه ورسره وکړه قوم خپل په توحید دخدای او په نفی دشریکانو
کښې قَالَ اَتُحَاجُّوْٓنِّیْ نو وویل ده چې آیا جګړه کوی تاسې له ماسره فِی اللّٰهِ په وحدانیت
دخدای کښې اوبیا غواړی چې پر ما غالب شی وَقَدْ هَدٰىنِ ط اوحال دا چې په تحقیق سره
لاردتوحید ښوولی ده ده وماته روایت دی چې ابراهیم علیه السّلام دیره جګړه وکړه
له قوم خپل سره نودوی ورته وویل چې زمونږ پرمعبودانو مسخری کوی نودوی به دې پرضرر
دروسوی اوده په جواب کښې ورته وویل چې وَلَآ اَخَافُ او نه بیریږم زه مَا تُشْرِکُوْنَ بِهٖٓ
له هغه بتانو چې شریکان کوی ئې تاسې دخدای سره اوداځکه چې دوی ضرر نشی رسولای
وماته اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ مګر که اراده وکړی رَبِّیْ شَيْئًا ط رب زما دکوم مکروه چې ددوی په
سبب ئې ماته ورسوی وَسِعَ رَبِّیْ کُلَّ شَیْءٍ عِلْمًا ط ای وسع علم ربی کل شیء یعنی رسیدلے
دی علم د رب زما وهرشی ته نوهیڅ ضررچاته نه رسیږی بیله علمه اوارادی دده اَفَلَا
تَتَذَکَّرُوْنَ (۸۰) آیا پند نه اخلئ اوعاجزله قادره نسی بیلولای تاسی وَکَیْفَ اَخَافُ اوځرنګه
به وه بیریږم زه مَآ اَشْرَکْتُمْ له هغه جمادانو چې شریکان جوړکړیدی تاسې له خپل
ځانه وَلَا تَخَافُوْنَ اوحال دا چې نه بیریږی تاسې اَنَّکُمْ له دی چې بیشکه تاسې اَشْرَکْتُمْ
بِاللّٰهِ شریک کړی دی تاسې له خدای سره مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ هغه شی چې نه دی رالیږلی ده په
شریکولو دهغه شی عَلَیْکُمْ سُلْطٰنًا ط پرتاسی کوم حجت یا کتاب فَاَیُّ الْفَرِیْقَیْنِ پس کوم
یوله دی دواړو طائفو چې موحدان او مشرکان دی اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ج لائق تردی په دی
امن سره له عذابه دخدای نودی جواب راکړی اِنْ کُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (۸۱) که یاست وقف لازم
تاسې چې پوهیږی په دی چې له چاسره ویره بایده ده او هرکله چې دوی سره ئې جواب
نه وه نو رب العزت ئې پخپله جواب ورکړی داسې چې اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هغه کسان چې ایمان

نیٔ را وړی دی وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا او ګډ کړی نه دی دوی اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ایمان خپل له شرک سره
اُولٰٓئِكَ دا کسان چې دی لَهُمُ الْاَمْنُ خاص همدوی لره دی امن له خلودۀ د نار
وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۸۲﴾ او هم دوی لاره موندونکی دی وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ او دا تیر شوی ع ۹ ۱۵
استدلالات حجت او دلیل زموږ وو اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ چې ورکړی وو موږ ابراهیمؑ
ته چې په هغه دی حجت سره دی غالب شو عَلٰی قَوْمِهٖ ط پر قوم خپل باندی نَرْفَعُ
دَرَجٰتٍ پورته کوو موږ له جهته د درجو مَّنْ نَّشَآءُ ط هر هغه څوک چې اراده وشي
زموږ په علم او په حکمت کښې اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چې دی حَكِيْمٌ حکم کونکی دی
پورته کولو او په کښته کولو د بندګانو خپلو کښی عَلِيْمٌ ﴿۸۳﴾ ښه دانا دی په مستحقانو
د رفع او د خفض وَوَهَبْنَا لَهٗٓ او ورکړی وو موږ وده ته اِسْحٰقَ اسحاق علیه السلام چې
زوی وو دده او پلار وو د ټولو پیغمبرانو د بنی اسرائیلو وَيَعْقُوْبَ ط او یعقوب[ع]
چې نوسے وو دده كُلًّا هَدَيْنَا ج دی ټولو ته سمه لاره ښوولی ده موږ وَنُوْحًا هَدَيْنَا
او نوح علیه السلام ته سمه لاره ښوولی وه موږ مِنْ قَبْلُ پخوا له ابراهیمؑ نه وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ
او هم دا سے بعضو نورو ته هم له اولاده د نوح علیه السلام سمه لاره ښوولی وه موږ
لکه دَاوٗدَ داود علیه السلام ته وَسُلَيْمٰنَ او سلیمان علیه السلام ته چې زوی دده وو او
دوی له اولاده د یهودا وو وَاَيُّوْبَ او ایوب علیه السلام ته چې زوی د اموص دی او له
اولاده د عیص بن اسحٰق وو وَيُوْسُفَ او یوسف علیه السلام ته چې زوی د یعقوب علیه السلام وو وَ
مُوْسٰی وَهٰرُوْنَ ط او دی دواړه وروڼو ته چې زامن وو د عمران او له اولاده د لاوی
بن یعقوب وو وَكَذٰلِكَ او هم دا سے لکه چې ابراهیمؑ ته جزا ورکړے وه موږ په رفع د
درجاتو سره نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۴﴾ جزا ورکوو نیکوکارانو ته په قدر د استحقاق د هغوی
وَزَكَرِيَّا او زکریا علیه السلام ته چې زوی د آذر بن مسلم وو او له اولاده د رحبعم بن
سلیمان وو وَيَحْيٰی او یحییٰ ته چې زوی وو دده وَعِيْسٰی او عیسیٰؑ ته چې زوی وو د
بی بی مریمې چې لور وه د عمران او له اولاده د سلیمان وو روایت دی هرکله چې عیسیٰؑ

عه یعنی له همیشه والی نه او رکښی یعنی نه او رکښی نه همیشه پاته کیږی ۱۲

له ذریت (اولاده) ئخنه د نوح شو په منطوق دنص سره^عه او حال دده چې نسب دده خوله
مور ئخنه دی نوامام حسین هم له اولاده د رسول علیه السلام شو بے شبهې وَإِلْيَاسَ ط او
الیاس ته چې په اصح داقوالو ‌ؤوی د بشر بن فنحاص بن عیرص بن هرون دی كُلٌّ مِّنَ
الصَّلِحِينَ ﴿٨٥﴾ دا ټول مذکورین له صالحانو ئخنه دی وَإِسْمٰعِيلَ او اسماعیل ته چې زوی د
ابراهیم دی وَالْيَسَعَ او یسع ته چې زوی دُ اخطوب وو او مشهور وو دے په ابن العجوز
سره وَيُونُسَ او یونس ته چې زوی د متی وو وَلُوطًا او لوط ته چې زوی د هاران ابن
آزر وو چې وروردی دا براهیم وَكُلًّا فَضَّلْنَا او دا ټول بهتر کړی وو موږ په نبوت سره
عَلَى الْعٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾ پر تمام عالمو له ملائکو له انسو له جنو وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ او بعضو ته له پلرو
ئخنه ددی پیغمبرانو ته سمه لار سره ښوولې وه موږ وَذُرِّيّٰتِهِمْ او بعضو ته له فرزندانو د
دوی هم وَإِخْوَانِهِمْ ج او بعضو ته له ورونړو ددوی هم وَاجْتَبَيْنٰهُمْ او غوره کړی وو دا
ټول پیغمبران موږ وَهَدَيْنٰهُمْ او برابر کړی وو موږ دوی إِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾ لاری
سمې ته چې لاره د رضوان ده ذٰلِكَ دا دین چې دغه پیغمبران پرېوان و وهُدَى اللّٰهِ دین د
خدای دی يَهْدِي بِهٖ چې پرسمه لار برابروی خدای په دی دین سره مَنْ يَّشَآءُ هر هغه
څوک چې اراده وشی دده د برابری د هغه مِنْ عِبَادِهٖ ط له بندگانو خپلو وَلَوْ أَشْرَكُوْا او که
شرك اختیار کړی وای دی پیغمبرانو سره له دی کماله او فضله لَحَبِطَ عَنْهُمْ نو هرآئینه
خراب شوی به وو له دوی ئخنه مَّا كَانُوْا هغه ټول عمل چې وو دوی يَعْمَلُوْنَ ﴿٨٨﴾ چې کړی
وو دوی ځکه چې کفر حبطه کونکی د تیرو ټولو اعمالو دی أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا ټولې د پیغمبرانو
هغه کسان دی اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ چې ورکړی وو موږ دوی ته کتاب وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ج او
حکم د پاره د فیصل د امورو او پیغمبری فَإِنْ يَّكْفُرْ بِهَا پس که کفر اختیار کا په د ے
کتاب او حکم او نبوت پورې هٰٓؤُلَآءِ دا معاندان د قریشو فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا نو په تحقیق
سره وکیلان او تیار کړی دی موږ د پاره دایمان راوړو په دی کتاب او حکم او نبوت
قَوْمًا یو داسے قوم لَّيْسُوْا بِهَا چې نه دی دوی په دی شیانو پورې بِكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾ نه

عه یعنی په بیان ددی آیت مذکور سره ۱۲

منو نکی چه پیغمبران او تابعان دد وی دی اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ دا تیر یاد شوی پیغمبران هغه دی
هَدَى اللّٰهُ چه لار ورته ښوولی ده خدای د خپل دین چه اسلام دی فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ
پس په طریقه دد وی پسی ته هم اقتداء وکړه ای رسوله! په ایمان او په توحید او په
اصولو د دین کښی نه په شرائعو کښی قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ ووایه کفارو ته چه نه غواړم زه له تاسی
څخه عَلَيْهِ اَجْرًا په دی پیغام رسولو سره څه مزدوری لکه چه نورو پیغمبرانو به نه غوښته
پر دعوت اِنْ هُوَ نه دی دا تبلیغ زما یا قران اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ (۹۰) مگر پند دی د پاره ع ۸ ۱۰ ۱۶
د تمامو عالمیانو له انس او جنو روایت دی چه مالك بن ضیف نومی یو سر حلقه وو
له احبارو د یهود و چه ډیر څرب وو رسول علیه السلام له ده راغلی له ډلی سره او ډیره جګړه
ئی وسره وکړه نو رسول ورته وویل چه ستا دی په هغه خدای قسم وی چه تورات
ئی پر موسی نازل کړی وو چی تا په تورات کښی لیدلی دی چی خدای له څرب حبره سره
بغض لری ده وویل هو په تورات کښی شته بیا رسول ورته وویل چه هغه څرب خو ته
ئی نو په غضب شو او وی ویل چه خدای پر هیڅ بشر له سره هیڅ کتاب نه دی رالیږلی
نو نازل شو وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ او تعظیم نه دی کړی دی یهود و د خدای حَقَّ قَدْرِهٖٓ حق
د تعظیم د ده یعنی چی د ده سره لائق وو اِذْ قَالُوْا چه وویل دوی مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ نه دی
رالیږلی خدای عَلٰى بَشَرٍ پر هیڅ بشر مِّنْ شَيْءٍ د هیڅ شی یعنی نه وحی او نه احکام د
شرع قُلْ ووایه وو دوی ته مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ نو چا رالیږلی دی هغه کتاب جَآءَ بِهٖ
مُوْسٰى چه راوړی موسی نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ په دی حال کښی چی روښنائی کونکی دی
او رهنمائی دی د پاره د خلکو تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ چه گرځوی تاسی دا کتاب پاڼی پاڼی بیلی
بیلی قطعی د پاره د دی چه پکښی خپل تصرف کول د رته ممکن شی په دی شان تُبْدُوْنَهَا چه
ښکاره کوی ځندی هغه قطعی چی اراده وشی ستاسی وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا او پټوی ځندی
ډیری قطعی لکه نعت د رسول او ایت د رجم او داسی نور هم وَعُلِّمْتُمْ او اګاه کړی
شوی یاست تاسی ای اهل کتابو په دی کتاب سره مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا په هغه احکامو چه نه

پوهیدا ست په هغو سره تاسې دا امر او نوا هیو د حلالو او د حرامو أَنتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ ط
نه تاسې او نه پلرونه ستاسې او هر کله چه دوی د دې جواب ورته و نکړي چه دا کتاب پر موسیٰ
چا را نازل کړی دی قُلِ اللّٰهُ لا نو ته ورته و وایه چه خدای را نازل کړی «رالیږلی» و و ثُمَّ
ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ نو بیا دوی پریږده په بحثل باطل کښې چه غوټې وهي يَلْعَبُوْنَ ⑨١ چه
لوبې کوي وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ او دا قرآن یو داسې کتاب دی چه را نازل کړی دی موږ
مُبٰرَكٌ چه ډیر برکتناکه دی او فائده مند دی مُصَدِّقُ الَّذِيْ رښتینې بلونکی دی د هر هغه
کتاب بَيْنَ يَدَيْهِ چه د ده تر مخه تیر سوي دي لکه تورات، انجیل، زبور یعنې دا قرآن موږ رالیږلی دی
د د روکارو د پاره اول د برکت د پاره دوهم د پاره د تصدیق د تیرو کتابو وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى او
د دې د پاره چه ته په ده سره و بیروی اصل د تولو قریو «کلو» چه مکه ده او ودی ته ام القریٰ
ځکه وایي چه نو «ناف» یعنې وسط د تولې روی زمین ده کذا فی المدارک وَمَنْ حَوْلَهَا ط او هغه خوک
چه چاپیره دي پر دې د مشرقه تر مغربه د شماله تر جنوبه وَالَّذِيْنَ او هر چه هغه کسان دي يُؤْمِنُوْنَ
بِالْاٰخِرَةِ چه ایمان راوړي پر ورځ د قیامت هغه چه دي يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ایمان راوړي پر دې قرآن
یا پر دې پیغمبر باندې وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ او حال دا چه دوی پر لمانځه خپل باندې يُحَافِظُوْنَ ⑨٢
هروخت فهمدا روی روایت دی چه هر کله مسیلمة الکذاب او اسود عنسی دعویٰ
د پیغمبری وکړه او د رسول علیه السلام پر زړه مبارك غبار پرېواتې او خاطر شریف یې په دې
دروغو ډیر خفه سو نو د پاره د اظهار د ظلم د دوی او د تسلی د خاطر د ده نازل سو وَمَنْ اَظْلَمُ
او څوك دی ډیر ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى تر هغه چا چه وتړي په ناحقه سره عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پر
خدای دروغ یعنې چه نروي پیغمبر کړی یم اَوْ قَالَ او یا وایي دی اُوْحِيَ اِلَيَّ چه وحی کړه سوې
دی وما ته وَلَمْ يُوْحَ اوحال دا چه وحی نه وی کړه سوې اِلَيْهِ شَيْءٌ و ده ته د هیڅ شی
روایت دی چه عبدالله بن سعید چه کاتب د وحی وو په هغه ورځ چه دا دری آیا ته
نازل سو چه ولقد خلقنا الانسان من سللة من طين او پر کالمذیل ولیکل بیا چه و دې کای ته دا
چه انشأنه خلقاً آخر نو ده دیره تعجب ځکه وویل فتبارك الله احسن الخالقين نو رسول علیه السلام

ورته وویل چي دا هم ولیکه چي وړیسی همدا سے نازل شوی دی نو عبد الله بیرته
مرتد شو او ویل ئے چي که دی پیغمبر وی په وحی سره خو زه ما هم دغه دی وحی راغلے
نو ده په باب کښی نازل شو وَمَنْ قَالَ او بل څوك دی ډیر ظالم ترهغه چاچی وائی
سَاُنْزِلُ ژر دی چي زه به هم نازل کړم مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ط په مثل د هغه کلام
چے رالیږلے دی خدای پاك وَلَوْ تَرٰٓی اوکه ووینی ته اِذِ الظّٰلِمُوْنَ هغه وخت چي راحصا
کړه شي دا ظالمان یعني هر هغه څوك چے دعویٰ ئي کړی ده دپیغمبری یا دوحی فِيْ غَمَرٰتِ
الْمَوْتِ په سکراتو او سختیو د مرګ کښے وَالْمَلٰٓئِكَةُ او ملائکة العذاب چي دی بَاسِطُوْٓا
اَيْدِيْهِمْ ج غځونکی به وی د لاسو خپلو پاره دقبض د روح یا د وهلو په متركو اتشینو
او وائی به ورته چے اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ط راکا بزی ارواح خپل له تنو یا خُلاص نه خپل دعذابه
تخته که ئ را ایستلای شے اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ نن ورځ چے ستاسے نن ورځ چے دمرګ ستاسے
ده جزا به درکول کیږی وتاسے ته عَذَابَ الْهُوْنِ په عذاب دخوارولو سره ترابد الابده
پورې بِمَا كُنْتُمْ په سبب ددی چے واست تاسے تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ چے ویل به مو پرخدا ے
غَيْرَ الْحَقِّ غیرله حق یعني دروغ چے دی شریك او ښځه او ولد لری وَكُنْتُمْ او واست تاسے
عَنْ اٰيٰتِهٖ له ایتو ده تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ چے ګردن کښے به موکوله او تعظیم او تامل به مو
پکښی نه کاوی وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا او هرائینه په تحقیق سره چے راغلاست تاسے مونږ له د
پاره دحساب او دجزا فُرَادٰی یوازی بیله ماله او بے فرزندا بی حشمته بی مرونډا بی یاره
بی مددګاره اود افرادی جمع د فرید ده لکه اسیرا او اُساری او را یغلی یاست تاسے په هغه
شان كَمَا خَلَقْنٰكُمْ لکه چے پیدا کړی وی مونږ اَوَّلَ مَرَّةٍ اول کرت له موره یوازی
بربنډ (لڅ) بے هیڅ وَّتَرَكْتُمْ او پریښنودو تاسے مَّا خَوَّلْنٰكُمْ هغه چے درکړی وو مونږ
وتاسے ته په دنیا کښی او ډیر فخر به کولو تاسے پرخلګو په هغه پریښولو ستاسے وَرَآءَ
ظُهُوْرِكُمْ ج وروسته د شاته او نه مو څکښی ولیږل او نه مو دځان سره راوړل وَمَا
نَرٰی مَعَكُمْ او نه وینو مونږ له تاسے سره شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ هغه شفاعتګر ستاسی

عه په متركو یعنی په ګورزو وددونځ ۱۲

زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ چې ویل به تاسې چې بیشکه دوی فِیْکُمْ شُرَکٰٓؤُاط په تاسې کښې شریکان
دی له خدای سره په تربیت ستاسې کښې او په استحقاق دعبادت کښې لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَیْنَکُمْ
هرآئینه په تحقیق سره پرې سو هغه پیوند چې ستاسې په مینځ کښې وو وَضَلَّ عَنْکُمْ
او ورک شو له تاسې څخه مَّا کُنْتُمْ هغه شی چې واست تاسې تَزْعُمُوْنَ ﴿۹۴﴾ چې ګڼل به ع ۱۷
تاسې چې دا شفعاء دی اِنَّ اللّٰهَ بې شکه خدای چې دی فَالِقُ الْحَبِّ چوونکی ددانی دتخم
دی چې دکی څنی راوباسی وَالنَّوٰیط او د زړی دی چې نهالګی څنی راوباسې یُخْرِجُ الْحَیَّ
راباسی ژوندی چې شین دکی دی مِنَ الْمَیِّتِ له مړی چې وچه دانه ده یا ولد له نطفې
یا مرغه له هګی یا مؤمن له کافره یا عالم له جاهله وَمُخْرِجُ الْمَیِّتِ اورا ایستونکی د مړی
دی چې دانه یا نطفه یا هګی ده مِنَ الْحَیِّط له ژوندی څخه چې شین دکی یا آدمی یا مرغه
دی او هر هغه چې دا قول کاروونکی ستاسی ئې په ستر ګو وینی کولای شې هغه په مړی
ژوندی کولو هم قادر دی نو تاسې له بعثه ولی انکار کوی ذٰلِکُمُ اللّٰهُ دا ژوندی کونکی
او مړ کونکی چې دی خدای دی چې لائق دعبادت دی نه بتان فَاَنّٰی تُؤْفَکُوْنَ ﴿۹۵﴾ پس کوم
طرف ته ګرزی تاسې له ده څخه فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ج چوونکی عہ او راایستونکی دی دصبح له ظلمت څخه
دشپې یعنې بیوونکی دتیری (تیاری) او را ایستونکی د رڼا دی وَجَعَلَ الَّیْلَ اوګرزولی ده
ده شپه سَکَنًا آرامګاه دخلګو چې ستومانی پکښې وباسې له هغه مشقاتو دورځې
وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ او همدا اسې ګرزولې دی ده لمر او سپوږمی حُسْبَانًا ط یعنې دحساب
دمیاشتو او دکلو چې پیدا کیږی دا دواړه له اختلافه ددوران ددوی ذٰلِکَ دا ګرزول
ددوی د پاره د حساب تَقْدِیْرُ الْعَزِیْزِ الْعَلِیْمِ ﴿۹۶﴾ اندازه ده د هغه خدای چې غالب او
دانا دی وَهُوَ الَّذِیْ او دی هغه خدای دی چې په قدرت کامله خپل سره جَعَلَ لَکُمُ النُّجُوْمَ
پیدا کړی دی ده تاسې ته ستوری لِتَهْتَدُوْا بِهَا د پاره ددې چې لاره بیا پیدا کړی تاسې په
دی ستورو سره فِیْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ په تاریکو دشپې په بیابان کښې وَالْبَحْرِط او په دریاب
کښې قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰیٰتِ په تحقیق سره روښانه کړی دی موږ نښې د قدرت خپل لِقَوْمٍ

عہ هر کله چې بیان ئې کړه قدرتي کاروونه له مځکې او دا ځکښي قدرتي کاروونه د اسمان بیانوی ۱۲

يَّعْلَمُوْنَ ﴿٩٧﴾ دپاره د هغه قوم چه پوهیږی او استدلال کولای شی وَهُوَ الَّذِیْٓ او
دی هغه خدای دی اَنْشَاَكُمْ چه پیدا کړی ئې یاست مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ له یوه شخصه
چه آدم دی فَمُسْتَقَرٌّ پس قرار ګاه مقرره ده تاسو ته په پشت د پلار کښې یا په سر
د ځمکې باندی وَّمُسْتَوْدَعٌ او ځای دامانت ایښوولو دی چه هغه رحم دی د مور
یا قبر دی او چاپه په عکس ویلې دی قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ په تحقیق مفصل بیان کړی دی
موږ نښی د وحدانیت خپل لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿٩٨﴾ د پاره د هغه قوم چه فهم لری وَهُوَ
الَّذِیْٓ او دی هغه خدای دی اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً چې راکښته کړی دی ده له اسمانه
اوبه فَاَخْرَجْنَا بِهٖ پس را ایستلی دی موږ په دی اوبو سره نَبَاتَ كُلِّ شَیْءٍ زرغونه د هر
شی دا ئے مجمل وو او مفصل ئې دادی چی فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ پس را وه ایسته موږ له دې
نبات نه خَضِرًا یو شین ډکی چه بیخ او ښاخ لری نُّخْرِجُ مِنْهُ چه بیارا باسو موږ له
دی شین ډکی حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ج دانی یو پر بل سپره یعنی وږی وَمِنَ النَّخْلِ او را باسو
د خرما و ونه مِنْ طَلْعِهَا له غنچې د دوی قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وږی نژدی و ځمکې ته یا یو بل
ته سره له ډیره باره او دا جمع د ه د قنو وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ او را باسو باغونه د انګورو
وَّالزَّيْتُوْنَ او را باسو زیتون وَالرُّمَّانَ او انار مُشْتَبِهًا په دی حال کښې چه بعضی و نی
د دی انارو په شان د نورو بعضو وی په ښانګو او په پاڼو کښې وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ط او مخالفے
وی سره په خوند کښی د میوے داسی چه یوه به خوږه وی او بله به ترووه وی یوه مایه او
بله خشکه او یوه به دانه داره وی او بله بې دانې اُنْظُرُوْٓا اِلٰى ثَمَرِهٖٓ وګوری میوی د هرې
یوی و نی ته اِذَآ اَثْمَرَ په هغه وخت کی چه په اول کښے میوه را وباسے نو څرنګه وره او
خامه او بې خونده شے وَيَنْعِهٖ ط او بیا وګوری وخت د رسید واو د پخید و د دی ته چه
څنګه خوشرنګه او خوشبویه او خوشخونده شی اِنَّ فِیْ ذٰلِكُمْ بیشکه په دی تیرو سوو
تولو کښی لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٩٩﴾ هرا ئینه رنګارنګ نښے دی د پاره د هغه قوم
چه باور کونکی دی په دی چه دی قادر او حکیم دی وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ او پیدا کړی دی دی

کفارو خدای لره شُرَكَآءَ الْجِنَّ شریکان چه جن دی یعنی شیطانان ځکه چی دوی وائی
چی خالق د هر خیر او د هر نافع شی خدای دی او خالق د هر شر او د هر مضر شی
شیطان دی وَخَلَقَهُمْ او حال دا چه پیدا کړی دی دغه شیطانان هم او دوی مخلوق
له خپل خالق سره شریک بولی وَخَرَقُوْا لَهٗ او ساز کړی (نیولی او جوړ کړی) دوی دده لره د خپل
ځانه بَنِيْنَ زامن لکه عزیرؑ او عیسیٰ علیهما السلام وَبَنٰتٍ او لوڼی لکه ملائکی بِغَيْرِ عِلْمٍ
بیله پوهی په دی گفتار خپل سره چه خطا دی که صواب سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى پاك دی خدای
۱۲ ع ۹ ۱۸ اوبلند شان دی عَمَّا يَصِفُوْنَ (۱۰۰) له هغه څخه چی دوی ور لره زوی او شریك بولی
بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ پیدا کونکی دی د اسمانو بی نمونی وَالْاَرْضِ ط او د ځمکی اَنّٰى يَكُوْنُ له کومه به
پیدا شی لَهٗ وَلَدٌ دده لره فرزند وَّلَمْ تَكُنْ او حال دا چه نشته لَّهٗ صَاحِبَةٌ ط دده لره ښځه
ځکه نشته چی د خالق او د مخلوق په مینځ کی هیڅ مجانست (مناسبت) نشته سره او بل دا چه
ولادت له خواصو څخه د اجسامو دی او دے پاك دی د جسمه څخه وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ج او
پیدا کړی دی ده هر شی او خالق خو بی پروا وی د خپل مخلوق څخه وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ (۱۰۱)
او دی پر هر شی بنه دانا دی ذٰلِكُمُ اللّٰهُ دا موصوف چی دی په دی تیرو صفاتو سره دغه
خدای دی چه لائق د عبادت هم دی دی رَبُّكُمْ ج چی رب ستاسے دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج
نشته هیڅ معبود لائق د عبادت مگر هم دی دی خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ چه پیدا کونکی د هر شی
دی فَاعْبُدُوْهُ ج پس عبادت کوی دده وَهُوَ او دی چه دی عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ (۱۰۲) پر
هر شی نگهبان او وکیل او متولی د امورو د عبادو دی لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ز نه
پیدا کولای او احاطه نشی کولای پر ده سترگی د هیچا وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ج او پیدا کوی
دی سترگی یعنی احاطه کوی علم دده پر خاوندانو د سترگو وَهُوَ اللَّطِيْفُ او دی لطیف دے
ځکه سترگی ئی نشی لید لای الْخَبِيْرُ (۱۰۳) بنه خبردار دی په اسرارو ځکه علم ئی پر هر
شی محیط دی نو په دی کښی لف نشر مرتب دی قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ په تحقیق سره
راغلی دی و تاسی ته ښکاره نښی مِّنْ رَّبِّكُمْ ج له جانبه د رب ستاسے فَمَنْ اَبْصَرَ پس

هر څوک چې ووینې حق او ایمان پرې راوړي فَلِنَفْسِهٖ ۚ پس هغه لۀ نفعه دخپل ځان ده وَ
مَنْ عَمِيَ او هر څوک چې روند شي او هغه بنکاره حجتونه نۀ وینه لیدل فَعَلَيْهَا ۚ پس پر
دۀ باردی ضرر دهغه روندوالے وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ اونه یم زۀ په تاسې بِحَفِيْظٍ ﴿۱۰۴﴾ نګهبان
چې اعمال ستاسې به ساتم او بیا تاسې لره جزا پردرکوم بلکه زۀ رسول یم او پرما تش تبلیغ
دی وَكَذٰلِكَ او همدا سې لکه چې داتیرآیتونه بیان کړی دی موږ په مقتضیٰ د حکمت بالغه
سره نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ بیانوو دا آیتونه دقران پس له دې هم کله له خوفه وړ جانه
او کله له وعده و وعید ته چې اوړیدونکی پند په واخلي وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ او چې دا ستے
ونه وائي اهل د مکې چې تا داله بل چا څخه زده کړی دی څکه چې دا قسم ګفتار مقلدو
د بشر نه دی وَلِنُبَيِّنَهٗ او چې بیان کړو موږ دا قران لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ د پاره دهغه
قوم چې پوهیږي چې دا کلام دخدای دی **روایت** دی چې یوه ورځ کفار د عربو له
رسول علیه السلام سره ناست وو او دی لۀ دخپلوا باؤ ودین ته وبلی نو نازل شو اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ
پیروی کوه اے رسوله دهغه قران چې رالیږلی شوی دی اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ وتا ته له ربه
ستا یعنې د توحید پر لاره ځکه چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ نشته لائق د عبادت بل هیڅوک مګر
یوازی هم دی دی وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ او څنګ وکړه د مشرکانو څخه او التفات
مه کوه ددوی اقوالو ته وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ او که اراده وای دخدای د ایمان ددوی مَآ
اَشْرَكُوْا ط نو شرک به نه وای اختیار کړی دوی وَمَا جَعَلْنٰكَ او نۀ یې مقرر کړی موږ ته
عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ پر دوی باندی نګهبان وَمَآ اَنْتَ او نۀ یې ته عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾ پر دوی
داسې وکیل چې ددوی کار پرتا سپارل شوی دی **روایت** دی چې هر کله آیت د
انکم وما تعبدون من دون الله حطب جهنم راغلے نو مشرکانو د قریشو ورسول
ته وویل چې تاسې زموږ وخدایانو ته رږول مه ورکوی او که منع نه شوی نو بیا
به موږ هم ستاسې د خدای زوړول وکړو نو نازل شو وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ او نۀ رږول
مه کوی ای مؤمنانو وهغه بتانو ته يَدْعُوْنَ چې بولی لۀ دا کفار په خدایانو سرۀ مِنْ

ع معنی دا چې بیشکه تاسې او هغه چې عبادت لۀ کوی تاسې خشاک (ازګی) یاست د دوږخ ۱۲

دُونِ اللّٰهِ بیله خدایه فَیَسُبُّوا اللّٰهَ پس نو ورول به وکړی دوی هم بیا وخدای ته عَدْوًا
بِغَیْرِ عِلْمٍ ط له بغضه او له ظلمه په ناپوهی سره چه دا نسبت پروردګار ته مناسب نه دی
او داځکه چه سبب د نورو رولو به وخدای ته تاسی شی كَذٰلِكَ او همدا سے لکه چی دا
کفارو ته بنایسته کړی دی مونږ عملونه د دوی زَیَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ بنایسته کړی دی
مونږ وهری قولی ته عَمَلَهُمْ ص کردار د دوی په نظر د دوی کښی که نیك دی په واقعه
کښی او که بد دی ثُمَّ اِلٰی رَبِّهِمْ پس له هغه بیا رب د دوی ته مَّرْجِعُهُمْ ورتله د
دوی دی فَیُنَبِّئُهُمْ پس خبر به کړی خدای دوی په وخت د عمل کښے بِمَا كَانُوْا په هغه
عمل سره چه وو دوی یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ چی کولو به ئی په دنیا کښی **روایت** دی چه مشرکانو
د قریشو رسول ته وویل چه ته همیشه ومونږ واپی چه موسے له تیرې شخه او به
راخوتکولی وی او عیسیٰ به مړی راژوندی کول نو ته هم ومونږ ته یو داسے معجزه
بنکاره که نو مونږ به هم پرتا ایمان راوړو نو رسول علیه السلام ورته وویل چی څرنگه
معجزه غواړی دوی ورته وویل چی دا کوه صفا ستا په دعا سره د سرو زرو شی اوغلیظ
(سخت) قسمونه یې وکړه چه که دا سره زر شی نو مونږ به ایمان راوړو بیا چی هر کله ده
اراده وکړه د دعا نو فی الحال جبرائیل راغلی چی رب العزت وایی چی دا کوه صفا به زره
اوس زر کړم اما که بیا یې ایمان نه راوړی نو بیخ به ئی راوکاږم ځکه چه دا زما سنت
جاریه ده نو رسول دعا موقوفه کړه لکه چی وائی وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ
او قسم کوی دوی په خدای سره جَهْدَ اَیْمَانِهِمْ ډیر سخت د قسمو خپلو لَئِنْ جَآءَتْهُمْ
اٰیَةٌ چه هر ایته که راغله ودوی ته هغه نښنه چی دوی یې غواړی لَّیُؤْمِنُنَّ بِهَا ط
نو هرائینه ایمان به راوړی دوی پر هغه نښنه باندی خامخا قُلْ اِنَّمَا الْاٰیٰتُ وو وایه
ودوی ته چی بیشکه هم دا خبره ده چی ایتونه چی دی عِنْدَ اللّٰهِ نو له د خدای سره دی
او په راوړلو سره یې هم قادر دی که ئی راوړی له او د ماسره نشته چی د رته ئی راوړم
وَمَا یُشْعِرُكُمْ لا او څه شی به ا ګاه کړی تاسے اے مؤمنانو او دا استفهام انکاری دی

یعني دا سے شی نشته اَنَّهَآ اِذَا جَآءَتْ چے دا معجزه چے دوی ئې غواړي په هغه وخت
کې چې راشي دا معجزه لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ هم دوی ایمان نه راوړي یعنې ماته دا معلومه ده
چے دوی په هیڅ شان ایمان نه راوړي او تاسی ته دا معلومه نه ده وَنُقَلِّبُ اَفْئِدَتَهُمْ او
چپه کوو موږ زړه ونه د دوی له قبلولو څخه دحق وَاَبْصَارَهُمْ او سترګی د دوی له لیدلو
څخه دحق نو پردی معجزه چے اوس ئې غواړي هم ایمان نه راوړي دوی کَمَا لَمْ یُؤْمِنُوْا
بِهٖٓ لکه چې ایمان یې نه دی راوړی په هغه معجزه چے ظاهره شویده اَوَّلَ مَرَّةٍ اول وار
۱۳ محکی تردی لکه شقّ عه د قمر یا دا سے نورې چې وی وَّنَذَرُهُمْ او پریږدو موږ دوی فِیْ
ع ۱۰ طُغْیَانِهِمْ په ګمراهۍ خپله کښی یَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ همیشه به متحیروی د جهته د ضلا لته
۱۹ وَلَوْ اَنَّنَا او که بیشکه موږ چے یو نَزَّلْنَآ اِلَیْهِمُ الْمَلٰٓئِکَةَ رالیږلے وای موږ ودی
کفار وته ملائکی لکه چې دوی ئې غواړي او وائې چے لولا اُنزل عه علینا الملٰئکة وَکَلَّمَهُمُ
الْمَوْتٰی او خبری هم ورسره کړی وای مړو لکه چې وائې فاتوا بابائنا الایة وَحَشَرْنَا عَلَیْهِمْ
اوجمع کړی وای موږ پردوی کُلَّ شَیْءٍ قُبُلًا هرشی چے په دنیا کښی وی مقولی تولی چے
شاهدی ئې ویلی وای پر وحدانیت زموږ او پر نبوت د رسول ﷺ مَّا کَانُوْا هم
به نه وای دوی لِیُؤْمِنُوْٓا چے ایمان ئې راوړي وای اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ مګر چې اراده
شوی وای د خدای د ایمان راوړو د دوی وَلٰکِنَّ اَکْثَرَهُمْ او لیکن زیات د دے
مسلمانانو چې دی یَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ نه پوهیږی په دی چې دوی ایمان نه راوړي اګرکه
دا معجزه ووینی هم وَکَذٰلِکَ او هم داسی لکه چې تاله موږ پیدا کړی دی دښمنان
د مشرکانو څخه جَعَلْنَا لِکُلِّ نَبِیٍّ پیدا کړی وو موږ هر نبي لره عَدُوًّا دښمن چې څوک
دی شَیٰطِیْنَ الْاِنْسِ ګردن کشان دانسو چې کفار دی وَالْجِنِّ او د پیریانو یُوْحِیْ بَعْضُهُمْ
چے وسوسه اچوی بعض د دوی چے له جنو څخه دی اِلٰی بَعْضٍ و بعضو نورو ته چے
له انسو څخه دی یا دا انسو انسو ته او جنو جنو ته زُخْرُفَ الْقَوْلِ هغه مزین کړی

عه معنیٰ دا چې ولی نشی نازل لولای پر موږ باندی ملائکی یعنی ملائکی دی نازلی شی ۱۲
عه چلودل د سپوږمی ۱۲

[illegible] غرور لره دپاره د فريب اودغره كولو او د زړه ... كولو د خلكو برمعا صيو
[illegible] او آرا ده كړى واى خداى دايمان د دوى، مَا فَعَلُوْهُ نو نه به ئې واى
[illegible] له پيغمبرانو سره فَذَرْهُمْ پس پريږده دوى وَ مَا يَفْتَرُوْنَ (١١٢) او
[illegible] دروغ چې جوړوى ئې دوى له خپله خانه ځنه وَلِتَصْغٰۤى اِلَيْهِ او بل دپاره ددې
چې ميل وكړى دى د دې واغوګفتارته اَفْئِدَةُ الَّذِيْنَ زړونه د هغه كسانو لَا
يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چې نه راوړى دوى ايمان پرورځ د قيامت وَلِيَرْضَوْهُ او
بل دپاره ددې چې غوره كړى داكفار دغه ګفتار د دروغو خپل ځان ته وَ
لِيَقْتَرِفُوْا او بل دپاره ددې چې وكړى دوى له ګناهو ځنه مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ (١١٣)
هغه چې دوى ئې كوونكى دى اووايه ووى ته اے رسوله چې اَفَغَيْرَ اللّٰهِ ايا
پس بيله خدايه اَبْتَغِىْ حَكَمًا غوارم زه حكم كونكى نه ما او ستاسې په مينځ كښې
چې حق او باطل سره جلا كړى وَّهُوَ الَّذِىْٓ اوحال داچې دى هغه خداى دى اَنْزَلَ
اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ چې راليږلى دى ده وتاسى ته كتاب يعنى قران مُفَصَّلًا ط په دى حال
كښى چې مفصل دى يعنى حق او باطل پكښې بنه بيان شوى دى وَالَّذِيْنَ او هرچې هغه
كسان دى اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ چې وركړى دى موږ ودوى ته كتاب لكه ابن سلام اوملګرى
دده يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ پوهيږى دوى په دى چې بيشكه داقران چې دى مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ
راليږل شويدى له ربه ځنه ستا بِالْحَقِّ په حق سره فَلَا تَكُوْنَنَّ پس مه كيږه ته
اے سامعه مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ (١١٤) له شك راوړونكو ځنه وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ اوتمام
شو ګفتار د رب ستا يعنى پوره شو له امره اوله نهى اوله وعده اوله وعيده صِدْقًا
له جهته د صدق كولو په وعده او په وعيد كښى وَّعَدْلًا ط اوله جهته د عدل په امر
او په نهى كښى لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ نشته هيڅوك تغير وركونكى اخبار واو احكامو
دده ته لكه يهود وچې واحكامو د تورات ته تغير وركړى وو ځكه چې ده پخپله ويلى دى
اناّنحن نزلنا الذكر وانا له لحفظون[عه] ط وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (١١٥) او دى اوريدونكى

عه معنے داچې خداى واى په تحقيق سره موږ نازل كړى دى دا قران او موږ چې يوساتونكى يو دده د تغيره ١٢

دی د بنګاره اقوالو دوی او بنه خبردار دی په پټو ددوی وَاِنْ تُطِعْ او که خبره و
منی ته اَكْثَرَ مَنْ فِي الْاَرْضِ د زیاتو له هغه خلګو چې په مځکه کښې دی یعنې د کفارو
ځکه چې اکثرهم دوی دی یُضِلُّوْكَ نو وابه ړوی تا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ط د لارې نه
د خدای اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ پیروی نه کوی دوی اِلَّا الظَّنَّ مګر د ګمان خپل چې هغه
دا دی چې پلرونه ئې موږ. قول پر حق وو وَاِنْ هُمْ او نه دی دوی اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۱۱۶﴾
مګر د رواغ تړی پر خدای په حلالو بللو د مرداری کښې او په حرام بللو د بحائرو او د
سوائبو او په نسبت د ولد او د شریك کښې اِنَّ رَبَّكَ بې شکه رب ستا چې دی هُوَ
اَعْلَمُ دی بنه دانا دی مَنْ يَّضِلُّ په هغه چا چې لغزیدلی وی عَنْ سَبِيْلِهٖ ج د لارې
ځنه دده وَهُوَ اَعْلَمُ او بیا دی بنه دانا دی بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۱۷﴾ په هدایت بیدا کونکو
باندی فَكُلُوْا مِمَّا پس خوری له هغه مذبوحی ځنه ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ چې یاد کړه
شوی وی پر هغه مذبوح باندی په وخت د ذبحې کښې نوم د خدای اِنْ كُنْتُمْ که یاست
تاسې بِاٰيٰتِهٖ په ایتو دده چې د حلالو او د حرامو په باب کښې دی مُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ ایمان را
وړونکی یعنی د خدای په حکم عمل کوی او د کفارو په ویلو عمل مه کوی چې دوی
داسې درته وائی چې دا بد کاردی چې تاسې خپلې وژلی بخپله خوری وَمَا لَكُمْ او څه
باعث دی پر تاسې اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا پر دی چې نه خوری د هغه مذبوحی ځنه ذُكِرَ اسْمُ
اللّٰهِ عَلَيْهِ چې یاد کړه شوی وی نوم د خدای پر هغه باندی په وخت د ذبحې کښې وَقَدْ
فَصَّلَ لَكُمْ او حال دا چې په تحقیق سره واضح بیان کړی دی خدای و تاسې ته مَا حَرَّمَ
عَلَيْكُمْ هغه شیان چې حرام کړی دی ده پر تاسې په سر ددی سورة کښې چې هغه دادی
حرمت علیکم المیتة والدم الایة اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ ط مګر هغه شی له دی
محرماتو ځنه چې ارکړه شوی یاست و هغه ته او ور ته محتاج کړه سو لاست نو هغه هم
حلال دی در ته اما په قدر د دفع د ضرورت وَاِنَّ كَثِيْرًا او بیشکه ډیر له خلګو چې دی
لَيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ هرائینه ګمراه کوی خلق په تحلیل د حرامو او په تحریم د حلالو سره

په اسر زوګانو خپلو بِغَیْرِ عِلْمٍ ط بیله پوهې یعنې بې حجته او دلیله په هغه باندې اِنَّ رَبَّكَ
بیشکه رب ستا چې دی هُوَ اَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِیْنَ (١١٩) دی ښه دانا دی په تیریدونکو له
حده خپله وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ او پریږدی دی ښکاره ګناه وَبَاطِنَهٗ ط او پټه له دی ګناه
یعنې لاس واخلئ له مطلق ګناه څخه که ښکاره وی او که پټه اِنَّ الَّذِیْنَ بې شکه هغه
کسان یَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ چې کسب کوی دګناه که ظاهره وی که باطنه یعنې پټه سَیُجْزَوْنَ
ژر ده چې جزا به ورکړه شی ودوی ته په قیامت کې بِمَا كَانُوْا په هغه ګناهونه چې وو
دوی په دنیا کښې یَقْتَرِفُوْنَ (١٢٠) کول به ئې داګناهونه وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا او مه خورئ
له هغه مړی لَمْ یُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ چې نه وی یادکړه شوی نوم د خدای عَلَیْهِ پر هغه
عَمَدًا په نزد دامام اعظمؒ او که سَهْوًا ترك سوی وه نو خوراك ئې روا دی وَاِنَّهٗ او
بیشکه خوراك د هغې چې نوم د خدای نه وی پر یاد سوی اما عمدًا لَفِسْقٌ ط هرائینه
فاسق توب دی وَاِنَّ الشَّیٰطِیْنَ او بیشکه شیطانان چې دی لَیُوْحُوْنَ اِلٰٓی اَوْلِیٰٓئِهِمْ
هرائینه وسوسې اچوی ودوستانو خپلو ته له کفارو څخه لِیُجَادِلُوْكُمْ ج دپاره ددی
چې جګړه وکړی له تاسی سره او دا ته ووایي چې دابد کوی چې د سړی دوژلی غوښه
خوری او دخدای دوژلی غوښه مه خوری وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ او که فرمان ومنی تاسې ع ١٤
ددوی په حلالولو د حرامو کښې اِنَّكُمْ نو بیشکه چې تاسې لَمُشْرِكُوْنَ (١٢١) هرائینه اوسې به ١١ ١
تاسې مشرکان په ترك د فرمان ددة سرة دپارة دغیر روایت دی چې په اول د
اسلام کښې رسول علیه السلام او ومؤمنانو ته به دعمرؓ او د ابوجهل دلاسه ډیر آزار رسیدی
نو بیا رسول علیه السلام سوال وکړی چې اې ربه دا دین داسلام قوی کړه په یوة ددوی دوو
سره چې عمر بن خطاب دی او ابوجهل دی نو دا دعا د عمرؓ په حق کښې قبوله شوه او ده اسلام
راوړی لکه چې وائي اَوَمَنْ كَانَ مَیْتًا آیا هر هغه څوك چې دی مړوی په کفر یا په جهل یا په
ضلالت سره فَاَحْیَیْنٰهُ پس ژوندکړو موږ دی په اسلام یا په علم یا په هدایت سره
وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا او ورکړو موږ ده له نور د یقین یا د حجت او دلیل چې په هغه سره دی

تمیز دحق کوی د باطله څخه یَمۡشِیۡ بِهٖ چې تلل کوی دی په دی نور سره فِی النَّاسِ په
خلګو کښې پرسمه لار د امثال د عمرؓ دی پس دا شان سړی چې وی هغه کله کیدا شي
یعنې نشي کیدای کَمَنۡ مَّثَلُهٗ په شان د هغه سړی چې حال د هغه داوی فِی الظُّلُمٰتِ چې
همیشه په تاریکو دکفر او دجهل او د ضلالت کښې پروت وی لَیۡسَ بِخَارِجٍ مِّنۡهَا چې نه
وی وتونکی له دی تاریکو څخه هیڅری کَذٰلِكَ همدا سې لکه چې ایمان ښنا ښایسته کړه شوی
دی په زړه د مؤمنانو کښې زُیِّنَ لِلۡکٰفِرِیۡنَ ښنا ښایسته کړه شوی دی و کافرانو ته مَا كَانُوۡا
هغه عمل چې دی دوی یَعۡمَلُوۡنَ ⑫ چې کوی ئې چې هغه عبادت دی دبتانو وَكَذٰلِكَ
او همدا سې لکه چې پیدا کړی دی موږ په مکه کښې اکابر مجرمان جَعَلۡنَا فِیۡ كُلِّ قَرۡیَةٍ
پیدا کړی دی موږ په هر ښار کښې اَکٰبِرَ مُجۡرِمِیۡهَا مشران عاصیان د هغې قریې چې پر
هغه خلګو ډیر جبر او تعدی کوی لِیَمۡکُرُوۡا فِیۡهَا ط د پاره د دی چې مکر او فریب وکړی په دې
قریه کې او خلق ارو ی دلاری څخه د خدای لکه دا کفار د مکې چې لاری ساتي په وخت د
حج کښې او هر څوک چې پوښتنه د رسول ﷺ څخه دی وکړی نو دوی ورته وائې چې ساحر او
شاعر او کاهن دی نو رب العزت د پاره د تسلی د حبیب خپل وائي چې وَمَا يَمۡکُرُوۡنَ او
مکر او فریب نه کوی دا کفار اِلَّا بِاَنۡفُسِهِمۡ مګر له خپلو ځانو سره ځکه چې وبال ئې بیا
هم ور دوی ته راجع دی وَمَا یَشۡعُرُوۡنَ ⑬ او دوی نه په پوهیږی روایت دی چې هر
کله ابو جهل او تابعانو دده وویل چې له بنی عبد مناف سره په هر څه کښې برابر یو او
او س دوی وائي چې په موږ کې یو پیغمبر پیدا شو یدی نو دا خبره به ئې موږ له سره ونه منو
ترڅو چې پر موږ هم وحی رانغلې نه وی نو نازل شو وَاِذَا جَآءَتۡهُمۡ اٰیَةٌ او چې راشي و
دوی ته کوم آیت د قرآن یا کومه معجزه په اثبات د نبوت د رسول ﷺ قَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡمِنَ نو
وائي دوی چې د سره به ایمان رانه وړو موږ پردی آیت یا معجزه حَتّٰی نُؤۡتٰی ترهغو
چې راکړه شي وموږ ته هم مِثۡلَ مَاۤ اُوۡتِیَ په شان د هغه چې ورکړه شوی دی رُسُلُ اللّٰهِ
رسولانو د خدای ته

مناجات:- اے سمیعہ هم بصیرہ اے قریبه هم مجیبه

اے رحیمه هم کریمه مهربانه ذوالنو دا ده

اے غافرہ هم غفورہ اے غفارہ د بدکارہ

اے وهابه ذوالمننه بے عوضه دی عطا ده

داموضع د اجابت دی چی دعا پکښی قبلیږی

څوک چی خواست کړی په دی میا کښے نوقبول ئی دعا ده

ځکه چی دوه اسم ذاته بے فاصله دی راغلے

نود اځای د عاجزی دے او بائد ډیرہ ژړا ده

دا عاصے چی سر تا پا یه مالامال دی په ګناهو

دائ ځکښی دی ژړی اوزاری ئی تا ته دا ده

چی دی غواړی نه شیان مغفرت یسی رضوان

او حیوة ابدی قلب سلیم سره له زاړه

بل دوام دی د شهود بل سعادت دی ددارینو

بل چے تیرشے ئی حسابه بل فردوس کښے شنه مثواده

که ته ډک ئی له ګناه بخشش غواړه له اله

امید وارئے د رحمت شه تل زاری کوه **مراده**

چا چی دی (مرادعلی) ته دعا وکړه له اخلاصه

رب دی دی ورسوی په دواړه کونه ترمراده

اَللّٰهُ اَعْلَمُ خدای ښه دانادی حَیْثُ یَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ ط په هغه ځای کی چی ایږدی هلته پیغام خپل سَیُصِیْبُ الَّذِیْنَ رسی چی وبه رسیږی وهغو کسانوته اَجْرَمُوْا چی مجرمان شوی دی په کفرسره صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ خواری اورسوائی په نزدد خدای په قیامت کښے وَعَذَابٌ شَدِیْدٌ اوعذاب سخت بِمَا کَانُوْا په سبب دد ی چی وو

د وی يَمْكُرُونَ ﴿۱۲۴﴾ چې مکر بازی او فریب به ئې کاوی د مؤمنانو سره فَمَن
يُّرِدِ اللّٰهُ پس هرڅوك چې اراده وكړی خدای اَنْ يَّهْدِيَهٗ د دې چې پرسمه
لاره برابر کړی دی يَشْرَحْ صَدْرَهٗ نو خلاصه او ارته کړی سینه دده او پراخ
کړی زړه دده لِلْاِسْلَامِ ج د پاره د اسلام قبلولو وَمَنْ يُّرِدْ او د هرچا چې
اراده ئې وكړی دی اَنْ يُّضِلَّهٗ د دې چې چپه او واړوی دی د ایمان د لاری
څخه يَجْعَلْ صَدْرَهٗ نو وګرځوی سینه او زړه دده ضَيِّقًا حَرَجًا تنګه او ډکه
د سختی څخه داسې چې ځان وشړی او حق ته غاړه نه ایږدی كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ ګویا
که دی خیژی په ډیر مشقت سره فِى السَّمَآءِ ط واسمان ته يعنې داسې تبنتی
او لیری کیږی له قبولو څخه د حق چې وائې اسمان ته ځنی وتښتته كَذٰلِكَ همداسې
لکه چې زړونه د کفارو ئې تنګ کړی دی له قبلولو څخه د حق يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ
مقرروی خدای رجس يعنې لعنت په دنیاکښې او عذاب په آخرت کښې عَلَى
الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ پر هغو کسانو چې ایمان نه راوړی وَهٰذَا او دا اسلام
چه دی صِرَاطُ رَبِّكَ لاره د رب ستاده چې دده غوره کړی ده مُسْتَقِيْمًا ط په
دی حال کښې چه ډیره سمه ده او هيڅ کوږ والی نه لری قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ په
تحقیق سره بیان کړی دی موږ آیتونه د قرآن لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ د پاره د
هغه قوم چې پند اخلي لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ مقرر ده دوی لره (پند اخستونکو لره) هغه
دار د سلام چې جنت دی عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد د رب ددوی د خیره د پاره ددوی
وَهُوَ وَلِيُّهُمْ او دی دوست او ناصر دی ددوی پر اعداؤ ددوی بِمَا كَانُوْا په سبب
د هغه عمل چې وو ددوی يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ چې کوله به ئې چه هغه تصديق وو د قرآن او
د رسول ﷺ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ج او یاده کړی هغه ورځ چه راجمع به کړی
خدای دوی ټول یعنې جن او انس بیا به ورته ووائی يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ ای ټولې د
جنو یعنې شیطانانو قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ په تحقیق سره تاسې ډیر تابع کړه دخپل

څان مِّنَ الۡاِنۡسِ له آدمیانو او انسانانو څخه وَقَالَ اَوۡلِيٰٓؤُهُمۡ او وبه وائي
دوستان ددې شیطانانو مِّنَ الۡاِنۡسِ دانسانانو څخه چه هغه ددوی ترفرمان
لاندې وو رَبَّنَا اسۡتَمۡتَعَ ای ربه زموږ نفعه واخیسته بَعۡضُنَا بعضو زموږ
چه انس دی بِبَعۡضٍ په بعضو نورو سره چه جن دی یا په عکس ددې سره اونفع د
انس داده چه دوی کوڅه دارو وګانو د نفس پرانستی ده او نفع د جنو د انسو څخه
داده چې دوی لئ مطیعان او فرمانبرداره شوی دی وَبَلَغۡنَآ اَجَلَنَا الَّذِیٓ او اورسیدلي
موږ وهغه اجل خپل ته اَجَّلۡتَ لَنَا ط چه مقرر کړیدی تا و موږ ته چه هغه
ورځ د قیامت ده او موږ نه منله نواوس به زموږ څه حال وي قَالَ النَّارُ
مَثۡوٰىكُمۡ نو وبه وائي خدای چه اور ددوږخ ځای د استوګنی ستاسې دی
خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَآ په دی حال کښی چه همیشه به اوسی تاسی په دی اور کښی اِلَّا مَا
شَآءَ اللّٰهُ ط مګر هغه چه اراده وشی دخدای او تاسې د سعیره څخه وزمهریر
ته بوزی اِنَّ رَبَّكَ حَكِيۡمٌ بیشکه رب ستا خاوند د حکمت دی په هغه معامله
کښی چه کوی لئ دی د اولیاؤ او اعداؤ خپلو سره عَلِيۡمٌ (۱۲۸) بنه دانا دی په
اعمالو ددوارو نو جزاء به ورکړی هریوه ته موافقه دعمل وَكَذٰلِكَ او هماسې
لکه چه کفار د جنو او دانسو موږ په دنیا کښی یو پر بل مسلط کړی وه نُوَلِّيۡ
مسلط به کړو موږ بَعۡضَ الظّٰلِمِيۡنَ بعض دظالمانو بَعۡضًا پر بعضو نورو باندې
یعنی په دوږخ کښی به لئ سره ایله کړو چې داخبره بنه ورته معلومه شی چه دلته
هیڅوك وبل ته نفع نه شی رسولای بِمَا كَانُوۡا په سبب د هغه عملو سره چه وه ۱۵
… وی په دنیا کښی يَكۡسِبُوۡنَ (۱۲۹) چه کول به لئ دکفر او د معاصیو څخه او بیا به په ع
ورځ د قیامت ورته وویل شی دپاره دقطع کولو د عذر ددوی يٰمَعۡشَرَ الۡجِنِّ
ای ټولی د پیریانو وَالۡاِنۡسِ او د انسانانو اَلَمۡ يَاۡتِكُمۡ آیا نه وو راغلی وتاسی
ته په دنیا کښی یعنی راغلی وه رُسُلٌ مِّنۡكُمۡ پیغمبران له تاسې څخه او اګر که

پیغمبران خود انسو ؤ انسانانو ، څخه وو اما هر کله چه داد واړه طائفی سره څکلی یادی شوی نو خطاب وو دواړو ته صحیح شو يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ چه لوستل به ئی پر تاسی اٰيٰتِيْ آیتونه د کتاب زما وَيُنْذِرُوْنَكُمْ او بیرولاست به ئی تاسی لِقَآءَ يَوْمِكُمْ د پیبنید لو څخه ددی ورځی ستاسے هٰذَا ا د چه هغه ورځ د قیامت ده قَالُوْا نو وبه وائی دوی په جواب کښی شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا چه شاهدی اداء کوو مونږ پر ځانو خپلو یعنی اعتراف کوو په کفر خپل سره او په دی سره چه لائقان د عذاب یو وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا او حال دا چه غره کړی وه دوی دی واړه ژوند او د قیامت ورځ ئی بیخی څنی هیره کړی وه او اوس چه محشر لره راغله نو په گناهو خپلو قائل سوه وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ او شاهدی ئی اداء کره پر خپلو ځانو باندی اَنَّهُمْ چه بیشکه دوی چه دی كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ وو دوی کافران ذٰلِكَ دا لیږل د رسولانو چه دی اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ دپاره ددی چه نه دی رب ستا مُهْلِكَ الْقُرٰى هلاکونکی د اهل ددی کلو او د ښارو بِظُلْمٍ په سبب د هغه ظلم چه کړی وی دوی وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ او حال دا چه اهل ددی کلو غافلان وی یعنی چه پیغمبر لا نه وی ور غلی او دوی ئی نه وی خبر کړی په وجود د خدای او په راتلو د قیامت سره چه بیا داسی و نه وائی ربنا لولا ارسلت الینا رسولا فنتبع اٰیتك ونكون من المؤمنین نو ځکه ددوی حجت پر خپل ځان نه پریږدو وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ او هر چا ته ددی مکلفینو مرتبې دی جلا جلا په ثواب او عذاب کښی مِّمَّا عَمِلُوْا له دجزاد هغو عملو چه دوی کړی دی وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ او نه دی رب ستا ناخبره عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ د هغو کار وچه کوی ئی دوی وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ او رب ستا بی پروا دی هم د عبادوا و هم د عبادته ددوی ذُو الرَّحْمَةِ خاوند د مهربانی دی پر دوی چه دوی ئی مکلف کړی دی دپاره د منافعوا بدیه وو خپلو نه دپاره د ښیو لو ددوی وسختی ته اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ که ئی اراده وشی نو به بوزی تاسی ای اهل مکه وو ؤ دمن خلکو ، یعنی تاسی به لیری

کړی له دی ځایه وَيَسْتَخْلِفْ او خلیفه ګان او جانشینان به کړی ستاسی مِنْۢ بَعْدِكُمْ پس د لیری کولو ستاسی مَّا يَشَآءُ هر څوک چه اراده ئې وشی د اوسولو دهغه دخپلو بندګانو څخه كَمَآ أَنشَأَكُم لکه چه پیدا کړی ئې یاست تاسی مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ ءَاخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ د اولاده د نورو خلکو چه اهل دکښتی وه د نوح علیه السلام او ستاسی په شان ګردن کښان (سرکښه) وه إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَءَاتٍ ۖ بیشکه هغه شی چه وعده کړه شوې ده تاسی سره هغه خامخا راتلونکی دی چه هغه قیامت او حساب او ثواب او عقاب دی وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾ او نه یاست تاسی عاجز کونکی د خدای چه له بعث او له حشره (راپاڅیدو) خپله به ئې منع کړی قُلْ ووایه ودی قریشو کفارو ته يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ ای قومه زما عمل کوی عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ په قدر د حال او په قدر د طاقت خپل یعنی هر څو چه ستاسی طاقت کیږی په خپل کفر او عداوت کلک اوسی إِنِّى عَامِلٌ ۖ بیشکه زه هم عمل کونکی یم په صبر او په استقامت سره پر اسلام باندی فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۙ پس ژر دی چه معلوم به کړی تاسی مَن تَكُونُ لَهُۥ هر هغه څوك چه ده لره به وی عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ښه خاتمه د هغه جهان إِنَّهُۥ بیشکه شان دادی لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿١٣٥﴾ چه پیدا به نه کړی ظالمان خلاصی د عذابه څخه یعنی کافران روایت دی چه عادت د مشرکانو د عربو به داوو چه فصل وغله او شروندی مالونه خپل به ئې توول سره برخی برخی کړه نو بعضی به ئې د خدای په نامه کړه او بعضی به ئې د بتانو په نامه کړه او د خدای برخه به ئې په فقیرانو او په میلمنو صرفوله او د بتانو برخه به ئې پرخادمانو د بت خانې ویشله او که چه به د خدای برخه نیمګړه شوه نو د بتانو برخی څخه به ئې پکښی نه اچوله او ویل به ئې چه دوی پخپله محتاج دی او چه د بتانو برخه به نیمګړه شوه نو د خدای د برخی څخه به ئې پکښی اچوله او ویل به ئې چه دی غنی دی ودی ته ئې هیڅ حاجت نشته لکه چه وائې وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ او مقرر وی دوی د پاره دخدای مِمَّا ذَرَأَ د هغه شی څخه چه

مه یعنی که او ناقصه او نیمګړی به شوه ۱۲

پیدا کړی دی ده مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ دکښت او د چارپایانو څخه نَصِيبًا برخه
او همداسی دیاره د بتانو هم برخه فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ پس وائی دوی چه دغه د خدای
برخه ده بِزَعْمِهِمْ په هغه زعم د دوی سره چه باطل دی وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا او دا
بله برخه د شریکانو زمونږ ده یعنی د هغو بتانو ده چه مونږ شریکان نیولی دی
د خدای سره فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ پس هغه برخه چه وی د شریکانو د دوی
فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ پس هغه نه رسیږی و خدای ته یعنی هغه مصارفو ته
چه دوی و خدای ته مقرر کړی دی یعنی نه ئی صرفوی وَمَا كَانَ لِلّٰهِ او هغه برخه
چه وی خدای لره فَهُوَ يَصِلُ پس هغه رسیږی اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ۗ و شریکانو ته
د دوی چه بتان دی یعنی په مصارفو د بتانو ئی خرڅوی که د هغو برخه کمه سی
سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ بد دی دا حکم چه کوی ئی دوی وَكَذٰلِكَ او همداسی لکه
چه شیطان دا قسمت د اموالو بنائسته کړی دی د دوی زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ بنایسته
کړی دی و ډیرو ته مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ له مشرکانو څخه قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ وژل د اولادو
خپلو شُرَكَآؤُهُمْ شریکانو د دوی چه شیطانان دي یا خادمان دی د بت خانی
او دا شرکاء فاعل دی د زین لِيُرْدُوْهُمْ د پاره د دی چه هلاک کړی دوی یعنی
ګمراه ئی کړی وَلِيَلْبِسُوْا او بل د پاره د دی چه ګډ و ډ کړی دا شیطان عَلَيْهِمْ
دِيْنَهُمْ ۗ پر دوی هغه دین د دوی چه د اسماعیل ؑ و رته راغلی وو او دوی را واړوی
و شرک ته وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ او که اراده سوی ولی د خدای د نه کولو د دی کار مَا فَعَلُوْهُ
نو نه به وو کړی دوی دا کار فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ نو پریږ ده دوی او هغه
دروغ چه دوی ئی وائی وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ او وائی دوی چه دا برخی زمونږ د خدای او نو
چه دی اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ چه چارپایان او کښت دی حِجْرٌ ۖ دا حرام دی پر هر چا
لَّا يَطْعَمُهَآ نو نه دی پی خوری او نه دی پی څیښی دا شیان اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ مګر
هر هغه څوک چه اراده وسی زمونږ د خوړلو یا د څښلو د هغه چه هغه خادمان

د بت خانی دی او بل مطلق نارینه دی غیر له ښځو څخه بِزَعۡمِهِمۡ محض په ګمان خپل
سره بیله حجته او بیله دلیله وَاَنۡعَامٌ حُرِّمَتۡ ظُهُوۡرُهَا او نور چارپایان دی
چه حرام کړه شوی دی شاګانی د دوی د سپریدو او بار و لو څخه لکه بحائر او
سوائب او حوام چه شول وَاَنۡعَامٌ او نور چارپایان لَّا یَذۡکُرُوۡنَ اسۡمَ اللّٰهِ
چه نه یادوی دوی نوم د خدای عَلَیۡهَا پرهغو په وخت د ذبح کبنی بلکه نوم د بتانو
پر یادوی دوی او دا قول کاروئه کوی افۡتِرَآءً عَلَیۡهِ ؕ پر طریقه د دروغ تړلو سره پر
خدای چه دا وموږ ته خدای ویلی دی سَیَجۡزِیۡهِمۡ ژر ردی چه جزا به ورکړی
ودوی ته بِمَا کَانُوۡا په سبب ددی چه وو دوی یَفۡتَرُوۡنَ ﴿۱۳۸﴾ چه دروغ ئی تړل
پر خدای وَقَالُوۡا او وائی دوی مَا فِیۡ بُطُوۡنِ هٰذِهِ الۡاَنۡعَامِ هرهغه څیز چه په
نسو ددی چارپایا نو کبنی دی یعنی د بحیری او د سائبې د بچو څخه خَالِصَةٌ
لِّذُکُوۡرِنَا هغه خالص د نارینو موږ دی یعنی یوازی ودوی ته حلال دی
وَمُحَرَّمٌ عَلٰۤی اَزۡوَاجِنَا ۚ او حرام کړه شوی دی دغه پر ښځو د موږ. اما که د موره
ژوندی سوی وه (پیدا سوی وه) وَاِنۡ یَّکُنۡ مَّیۡتَةً او که دا بچی ئی مړ وو یعنی له موره
مړ پیدا سوی وو فَهُمۡ فِیۡهِ شُرَکَآءُ ؕ نو بیا دوی په دی مردار کبنی سره شریکان
یعنی نارینه او ښځې به ئی په ګډه سره خوړی سَیَجۡزِیۡهِمۡ وَصۡفَهُمۡ ؕ ژر دی چه
جزاء به ورکړی خدای ودوی ته د دروغو تړلو پر خدای په تحریم او په تحلیل سره
ددی شیانو اِنَّهٗ حَکِیۡمٌ بیشکه دی صاحب حکمت دی په حکم د حلالو او د حرامو
کبنی عَلِیۡمٌ ﴿۱۳۹﴾ بنه دانا دی په مصالحو د بندګانو خپلو په حل او په حرمت کبنی
قَدۡ خَسِرَ الَّذِیۡنَ په تحقیق سره تاوان کړی دی هغو کسانو قَتَلُوۡۤا اَوۡلَادَهُمۡ
چه وژلی ئی دی اولادونه خپل سَفَهًۢا بِغَیۡرِ عِلۡمٍ د ډیره حماقته او جهله او
ناپوهی وَّحَرَّمُوۡا او حرام کړی دی دوی پر ځانو خپلو مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ هغه
شیان چه روزی ورکړی ده ودوی ته خدای یعنی بحائر او سوائب افۡتِرَآءً

عَلَى اللهِ ط په دروغ تړلو سره پر خدای قَدْ ضَلُّوْا به تحقیق سره گمراهان سوی دی
دوی وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ او نه دی دوی لار موندونکی وحق ته وَهُوَ الَّذِيْٓ ١٦
اودی هغه پروردګار دی اَنْشَاَ جَنّٰتٍ چه پیدا کړی دی ده و تاسی ته باغونه د
انګور و مَّعْرُوْشٰتٍ پر چتو سر بیره (سپرتاکان)، وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ او بعض نه سر بیره
سوی پر چتو بلکه هسی پر ځمکه پراته وی وَّالنَّخْلَ او خرما کانی ئې پیدا کړی دی وَالزَّرْعَ
او کښتونه رنګارنګ لکه غنم او اوربشی او جواری او وریجی او مټر او لوبیا او دال
او نور سبزی مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ په داسی حال کی چه مخالف دی هر یو د هغه بل څخه په رنګ
او په خوند او په بوی او په مقدار کښی وَالزَّيْتُوْنَ او زیتون ئې پیدا کړی دی
وَالرُّمَّانَ او انار ئې پیدا کړی دی مُتَشَابِهًا په داسی حال کښی چه بعض ونی د (خځی)
ئې په شان د بعضو نورو وی په ښانګو او په پاڼو کښی وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ط او بعض په
یو شان نه وی په خوند د میوی کښی ځکه چه یوه به خوږه او بله به تروه او بله به مایه
او بله به خشکه وی او یوه دانه داره او بله به بی دانه وی كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ خوری
د میوو څخه د هر یوه اِذَآ اَثْمَرَ په هغه وخت کی چه میوه وکړی اګر که خامه وی
وَاٰتُوْا حَقَّهٗ او ورکوی حق د دی میوی یعنی عشر په نزد د امام اعظم رحمه الله يَوْمَ حَصَادِهٖ ز
په ورځ د ریبلو د ده یعنی د شکولو د ونو څخه روایت دی چه ثابت بن قیس رض به
قریب پنځه سوه ونی د خرما و د رلودی د هغو ټولو میوه ئې خیرات کړه او عیال ته ئې
هیڅ پری نښووه نو نازل شو وَلَا تُسْرِفُوْا ط او اسراف مه کوی په ورکولو کښی چه
ټوله ورکړی او عیال ته هیڅ قدر پری نږدی اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ بیشکه خدا
نه خوښوی مسرفان وَمِنَ الْاَنْعَامِ او د چارپایانو څخه موږ دوه قسمه پیدا کړی دی
حَمُوْلَةً بعض بار وړونکی لکه اوښان او غویان او قچری (غاتری)، او خره وَّفَرْشًا ط
او بعضی غوږ یدونکی (پری ایستونکی)، پر ځمکه د پاره ځلالولو (ذبحه کولو)، لکه میږی (پسونه)،
او وزی او داسی نور سوه یا حوله کباړ د انعامو دی او فرش صغار د دوی دی ځکه

چه ځکې ته نژدې وي د فرش په شان كُلُوْا مِمَّا خورئ د هغو شيانو څخه رَزَقَكُمُ اللهُ
چه حلال کړي دي تاسي ته خدای او پرځان ئې مه حراموی د جاهلیت د خلګو په
شان وَلَا تَتَّبِعُوْا او پیروي مه کوی خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ط د قدمو د شیطان یعني د ده
پر لار مه ځئ په تحلیل او په تحریم کښې لکه د جاهلیت د خلګو په شان اِنَّهٗ لَكُمْ بے
شکه چه دی و تاسي ته عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ (۱۴۲) دښمن دی ښکاره روایت دی چه عوف
بن مالك رض و رسول ﷺ ته وویل چه زموږ پلرو چه هرڅه حرام کړي وه هغه تولو تا
حلال کړه نو رسول ﷺ وویل چه ستاسي د پلرو په خولونه حرامیږي بیا عوف رض وویل
چه دا خدای حرام کړي دي نو نازل شو ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ج اته قسمه دی سړه نراو ښځي
او اته سره ده حلال پیدا کړي دی که حموله دی او که فرش دی مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ ط
له میږ و څخه دوه دی یو نر چه پسه دی او یوه ښځه چه ګډه (میږه) ده وَمِنَ
الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ط له بزو څخه هم دوه دی چه یو نر چه اوزګړی (سیرلی) دی او یوه ښځه
ده چه بزه ده قُلْ ووایه ودوی ته ءٰٓالذَّكَرَيْنِ ایا د دواړه نران چه پسه او بزه دی
حَرَّمَ حرام کړي دي ده پر تاسي اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ او که دواړه ښځي ئې حرامي کړي
دي چې میږ او اوږه ده اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ او که ئې هغه حرام کړي دي چه مشتمل
وي پر هغه باندي اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ط رحمونه د دغو دواړو ښځو چه میږ او بزه ده
یعني بچیان د دي د واړو که نران وي او که ښځې نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ خبر کړي تاسي ما په
هغه معلوم شي د جانبه د خدای چه دلالت کوي په حرمت د دي شیانو اِنْ كُنْتُمْ
صٰدِقِيْنَ (۱۴۳) که یاست تاسي رشتیني په دي خبره کښي چه دا شیان خدای حرام
کړي دي وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ او د اوښانو څخه هم دوه دي یو نر چه اوښ دی او
یوه ښځه چه اوښه ده وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ط او د غوایانو څخه هم دوه دي یو نر چه
غویی دی او یوه ښځه چه غوا ده قُلْ ووایه ودوی ته ءٰٓالذَّكَرَيْنِ ایا د واړه نران
چه اوښ او غویی دی حَرَّمَ ده حرام کړیدي پر تاسي اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ او که هغه ئې

عه رحم چې نر اوان هم ورته وائي هغه پرده ده چې د مور په ګېډه کښې په هغې کښې اولاد وي ۱۲

حرام کړی دی چه اوښه او غواوه أَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ او که ئې هغه حرام کړیدی چه
مشتمل وی پر هغه باندی أَرْحَامُ الْأُنثَيَيْنِ ط رحمونه «زنا دالونه» د دغه دوا ړو ښځو
چه اوښه او غواوه یعنی بچیان د دی دواړو که نران وی او که ښځې وی أَمْ كُنتُمْ
شُهَدَاءَ یا واست تاسی حاضران اولید ونکی إِذْ وَصَّاكُمُ اللَّهُ بِهَٰذَا ۚ په هغه وخت
کښی چه وصیت کاوی و تاسی ته خدای په دغه تحریم د دی شیا نو فَمَنْ أَظْلَمُ نو بیا
څوک دی ډیر ظالم یعنی نشته مِمَّنِ افْتَرَىٰ تر هغه چا چه وتړی په ناحقه سره
عَلَى اللَّهِ كَذِبًا پر خدای د رواغ په تحلیل او په تحریم کښی لِيُضِلَّ النَّاسَ دپاره ددی
چه گمراه کړی خلق بِغَيْرِ عِلْمٍ ط بیله علمه «بیله وحی» إِنَّ اللَّهَ بیشکه چه خدای لَا يَهْدِي
ع ۱۷ الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿۱۴۴﴾ نه ښیی د حق ځلی لار و هغو ظالمانو ته چه ولاړ وی پردین د
جاهلیت روایت دی چه هر کله مشرکانو دا ایت واو ریدی نو تو لو ووېل چه دا
چارپایان خو څول حلال شول نو حرام په کښی کوم یو شو نو نازل شو قُل لَّا أَجِدُ ووایه
ودوی ته چه نه مومم بیلو کلا فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ په هغه کتاب کښی چه رالیږلی شوی دی وماته
مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ کوم شی حرام کړه شوی پر کوم خوړونکی يَطْعَمُهُ چه خوری ئې
إِلَّا أَن يَكُونَ مَيْتَةً مگر چه وی دا طعام مړا ره أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا یا وینه وی
توی کړه شوی یعنی د ذبح وینه وی نه د غوښو او نه اینه او توری أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ یا
غوښه د خنزیر وی فَإِنَّهُ رِجْسٌ نو بیشکه دا خنزیر نجس دی أَوْ فِسْقًا یا دا مذبوحه
ذبحه کړه شوی وی پر طریقه د فسق او هغه داده أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ ۚ چی بڼغ کړه شوی
وی په وخت د ذبحی کښی بیله نامه د خدای د بل چا پر هغه مذبوحه فَمَنِ اضْطُرَّ نو بیا
چه هر څوک اړ کړه شو و دی شیانو ته له جهته د مخمصی غَيْرَ بَاغٍ په دی حال کښی چه
ظالم نه وی دی پر بل چا چه مثل دده ع وی یعنی هغه هم مضطرب وو دده په شان
وَلَا عَادٍ او نه تیری کونکی «ډیر خوړونکی» وو تر حاجت خپل فَإِنَّ رَبَّكَ پس بیشکه رب ستا
غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۴۵﴾ بخښونکی او مهربان دی پر هر هغه چا چه په وخت د ضرورت کښی

ع یعنی بل څوک چه هغه هم دده په شان وبږی او اړ وی ۱۲

په قدر د حاجت وخوري وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا او پر هغو کسانو چه یهودیان دي
حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ حرام کړي وو موږ هر نوکداره لکه اوښان د رندګان او
مرغان تول او شترمرغ هم وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ او د غواوو او له میږو او له بزو
حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ حرام کړي وو موږ پر دوي شُحُومَهُمَا وازګي د دوي اماد پښتورګو
او د لري پرده او د کولمو پرده نه د کولمو وازګه إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا مګر هغه وازګه
چه اغوستي وي شاګانو د دوي او ار خو د دوي یعني چه د دوي پر شا یا پر اړخ پرته وي
هغه حلال ده أَوِ الْحَوَايَا یا هغه وازګه چه په کولمو پوري پیوند (مونښتي) وي او کولمي
په راغونډ ي سوي وي أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ یا هغه وازګه چه ګډه وي د هډو وکو
سره لکه وازګه د ورانه او د لکۍ او ماغځه هم د دوي په شان حلال وه حاصل دا
چه شپږ قسمه حیوانات دي په دوي کښي د ري قسمه چه اوښان او د رندګان او
مرغان دي چه نوکان لري دا مطلقاً پر حرام وه او دري قسمه نور چه غوایان او میږي
او بزي دي د دوي وازګي بیا شپږ قسمه دي بیا د دي شپږ و وازګه د پښتورګو او منځني
پرده د لري او د کلمو دا دواړه قسمه هم پر حرامه وه او څلور قسمه نور چه وازګه د شا
او د دواړو اړخو او ورنوا و د لکۍ او د کلمو ده دا څلور سره قسمه پر حلاله «ورته حلاله»
وه ذَٰلِكَ د دي شیانو په تحریم سره جَزَيْنَاهُمْ جزا ورکړي وه موږ و دي یهودو ته بِبَغْيِهِمْ
په سبب د ظلم د دوي وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿۱۴۶﴾ او بیشکه موږ چه یو رښتیني یو په اخبار د دي
تولو شیانو کښي فَإِنْ كَذَّبُوكَ نو بیا که تکذیب وکړي د وي ستا په هغه شي کښي چه موږ
وحي کړیدي وتا ته فَقُلْ رَبُّكُمْ پس ورته ووایه چه رب ستاسي چه دي ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ
خاوند د ارت رحمت دي ځکه چه وتاسي ته مهلت ورکوي سره د تکذیبه ستاسي وَلَا يُرَدُّ
بَأْسُهُ او نه سي ردیدلای «اګر زیږدلای» عذاب ده سره د داسي ډیره رحمته عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ ﴿۱۴۷﴾
د هغه تولي ډلي څخه چه مجرمان دي سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ژر دي چه و به وائي هغه کسان
چه مشرکان دي او دا اخبار دي له غیبه لَوْ شَاءَ اللَّهُ که اراده سوي وای د خدای مَا أَشْرَكْنَا
عـه

نو شرک به نه وو اختیار کړی موږ. وَلَآ اٰبَآؤُنَا او نه پلرونو موږ. وَلَا حَرَّمْنَا او نه به حرام
کړی وو موږ مِنْ شَیْءٍ ط هیڅ شی کَذٰلِکَ هم داسی لکه ستا قوم چه تکذیب ستا کوی
کَذَّبَ الَّذِیْنَ تکذیب به کاوی د خپلو رسولانو هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه پخوا تر دوی
تیر سوی دی حَتّٰی ذَاقُوْا بَاْسَنَا ط تر هغو پوری چه وبه ئے څکی عذاب زموږ. یعنی چه پر
نازل به سو قُلْ هَلْ عِنْدَکُمْ ووایه و دوی ته چه ایا سته ستاسی سره مِّنْ عِلْمٍ څه پوه
په کوم محکم او معلوم شی چه د دی وینا وو ستاسی حجت کیدای سی فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ط
چه بیا راوباسی هغه شی و موږ ته یعنی نسته بلکه اِنْ تَتَّبِعُوْنَ پیروی نه کوی تاسی د
هیڅ شی اِلَّا الظَّنَّ مگر د خپل گمان وَاِنْ اَنْتُمْ او تاسی نه یاست اِلَّا تَخْرُصُوْنَ (۱۴۸) مگر
داسی قوم چه دروغ وایاست قُلْ ووایه و دوی ته چه که تاسی حجت لری پر خپله وینا
فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ج نو بیا خدای لره خو داسی حجت سته چه د صحت منتهٰی ته رسیدلے
دی فَلَوْ شَآءَ که ده اراده سوی وای لَهَدٰکُمْ اَجْمَعِیْنَ (۱۴۹) نو خامخا به ئی و تاسی تولو ته
هدایت کړی وای قُلْ هَلُمَّ ورته ووایه چه راولی شُهَدَآءَکُمُ الَّذِیْنَ هغه شاهدان ستاسے
یَشْهَدُوْنَ چه شاهدی اداء کوی پر دی خبره اَنَّ اللّٰهَ چه بیشکه چه خدای حَرَّمَ هٰذَا ج
حرام کړی ئے دی دا کښت او دا انعام «چارپایان» چه تاسی ئی حرام بولی فَاِنْ شَهِدُوْا نو که شاهدے
وویله دوی فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ج نو بیا ته شاهدی مه اداکوه د دوی سره یعنی دا شاهدی
مه قبلوه د دوی ځکه چه په دروغو ده وَلَا تَتَّبِعْ او پیروی مه کوه اَهْوَآءَ الَّذِیْنَ د
ارزوگانو د هغه کسانو چه د ډیره عناده څخه کَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا تکذیب کوی د ایتونو موږ
په تحلیل او په تحریم کښی وَالَّذِیْنَ او د هغو کسانو پیروی مه کوه لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ
چه ایمان نه راوړی پر اخرت چه مشرکان دی وَهُمْ بِرَبِّهِمْ او حال دا چه دوی د
رب خپل سره یَعْدِلُوْنَ (۱۵۰) برابروی بتان په استحقاق د عبادت کښی قُلْ تَعَالَوْا ورته ۱۸ ع ۶ ۵
ووایه چه راسی ای حرام بلونکو د کښت او د انعامو د خپله ځانه څخه اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّکُمْ
چه ولولم «ووایم» او درته ظاهر کړم «ښکاره» هغه چه حرام کړی دی رب ستاسی عَلَیْکُمْ پر تاسی

أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا هغه دادی چه شریك مه نیسی دده سره هیڅ شی وَبِالْوَالِدَيْنِ
او دخپل مور او پلار سره احسان کوی إِحْسَانًا ج په احسان کولو سره نکته په دی ځایه کښې
په توحید پسی احسان د والدینو متصل راغلی دی ددی جهته لکه چه پرور دګار چه
موجد دی دده دوی هم موجدان دی دده اما حقیقةً هم داسی دوی دواړه موجدان
دی دده اما مجازاً کما لایخفیٰ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ اومه وژنی اولاد خپل مِنْ إِمْلَاقٍ ط
د فقر دویری څخه نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ مونږ روزی درکوو وتاسی ته وَإِيَّاهُمْ ج او دوی
ته هم نو هر کله چه روزی ئی پر مونږ ده نو تاسی ئی په ناحقه ولی وژنی وَلَا تَقْرَبُوا
الْفَوَاحِشَ اومه نژدی کیږی وناکاره کاروته مَا ظَهَرَ مِنْهَا هغه چه ښکاره وی له
دی فواحشو څخه وَمَا بَطَنَ ج او هغه چه پټ وی یا مراد له ما ظهر څخه فعل او له ما
بطن څخه نیت دی وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي اومه وژنی هغه شخص حَرَّمَ اللَّهُ چه
حرام کړیدی خدای قتل د هغه إِلَّا بِالْحَقِّ ط مګر په حق سره لکه قتل د قصاص یا د مرتد
یا رجم د زانی محصن چه سو ذٰلِكُمْ دا خلور نهی او یو امر چه دی وَصَّاكُمْ بِهِ امر کړی
دی خدای وتاسی ته په حفظ د دی مذکورو سره لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ (۱۵۱) بنا پر چه تاسی
عقل وچلوی په دی کښې چه دا امور په نزد د خدای ډیر لوی دی وَلَا تَقْرَبُوا اومه
نژدی کیږی مَالَ الْيَتِيمِ ومال ته دیتیم او په هغه کښې تصرف مه کوی إِلَّا بِالَّتِي
هِيَ أَحْسَنُ مګر په هغه وجه چه ډیره غوره وی دده په حق کښې نو تولو وجوهو یعنې
چه دده د مال ساتنه اونور یا تبدیل پکښې راځی حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ج تر هغو چه قوت
او بلوغ ته ورسیږی او بیا چه بالغ شی نو مال ئی پور وسپاری وَأَوْفُوا الْكَيْلَ او پوره
کوی پیمانه په مکیلا تو کښې وَالْمِيزَانَ او تول په موزونا تو کښې بِالْقِسْطِ ج په
برابری او په انصاف سره لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا نه مکلف کوو مونږ هیڅوك إِلَّا وُسْعَهَا ج
مګر په قدر د طاقت خپل یعنې پس له کوششه ستاسی په برابرولو د دواړو کښې
که څه زیات یا کم سی هغه عفوه دی وَإِذَا قُلْتُمْ او په هغه وخت چه خبره کوی

په مابین دد وو تنو کښې په طریقه د حکومت یاد شاهدی فَاعْدِلُوْا نو رښتیا وایاست
وَلَوْ كَانَ او اگر که وی دا مقول له یا مقول علیه په حکومت یا په شاهدی کښې ذَا قُرْبٰی
خاوند د خپلوی او قرابت د قایل سره همړدی میل نه کوی وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا او په عهد د
خدای سره وفا کوی او خیانت پکښې مه کوی یعنی هغه عهد چه په ورځ د میثاق تاسی کړی
دی یا په امر او نهی او وعد او وعید او نذر او یمین باندی ذٰلِكُمْ دا دری امره او یوه
نهی چه دی وَصّٰكُمْ بِهٖ امر کړی دی خدای تاسی ته په حفظ ددی مذکورو سره لَعَلَّكُمْ
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ بنا پې چه تاسی پند په واخلې په دی سره وَاَنَّ هٰذَا او بیشکه دا قول مذکور
چه دی په دی سورة کښې دد لائلو څخه د توحید او د اثبات د نبوت او د بیان د شریعت
صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا لاره زما ده په دی حال کښې چه سمه ده او برابره وړغلی ده و جنت
ته فَاتَّبِعُوْهُ پس پیروی کوی ددی لاری وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ او پیروی مه کوی د
نورو نگا رنګو لارو د هوا د نفس یاد مختلفو ادیانو لکه یهودیت او نصرانیت او مجوسیت
او د اسی نورو بدعتونو چه سوه فَتَفَرَّقَ بِكُمْ پس تا رېه تارا و لیری به کړی تاسے دا
متابعت عَنْ سَبِيْلِهٖ د لاری څخه دده چه هغه متابعت د وحی دی ذٰلِكُمْ دا متابعت
زما د لاری چه دی وَصّٰكُمْ بِهٖ امر کړی دی خدای و تاسی ته په حفظ سره ددی متابعت
لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ بنا پې چه تاسی ځان وساتی د ګمراهی څخه نقل دی د عبد الله بن مسعودؓ
څخه چه یوه ورځ رسول علیه السلام یو اوږد خط را کش کړی بیا ئې وماته و ویل چه هغه
سمه لاره د خدای داده بیا ئې د هغه خط پر اړخ نور خطونه کا ږواږه را کش کړل پر ښی
طرف او کیڼ طرف د هغه او وئې ویل چه دا هغه چپی لاری دی چه پر هره لار شیطان
ناست دی او نارې وهی و خلګو ته نو بیا ئې شاهد دا تیر آیت پر ولوستی ((ووايی)) فائده
او روایت دی د عبد الله بن عباسؓ څخه چه دا تیر دری آیتونه چه مشتمل دی پر لسو
احکامو دا د محکماتو څخه دی چه په هیڅ شریعت کښې نسخه ددی احکامو نه ده راغلی
ثُمَّ اٰتَيْنَا بیا ورکړی وو موږ مُوْسَى الْكِتٰبَ وموسیٰؑ ته کتاب تَمَامًا عَلَى الَّذِیْٓ د پاره

دپوره کولو د نعمت پر هغه چا باندی اَحۡسَنَ چه نیکه لاره ئی نیولی وی وَتَفۡصِیۡلًا او د
پاره د بیان لِّکُلِّ شَیۡءٍ د پاره د هر هغه شی چه په دین کښی احتیاج ورته پریوزی
وَّهُدًی وَّرَحۡمَةً او رهنمائی او رحمت لَّعَلَّهُمۡ بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ ښائی چه دوی په ملاقات ١٩
د رب خپل یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۵۴﴾ ایمان راوړی او باور وکی وَهٰذَا کِتٰبٌ او دا قرآن یو کتاب دے ع ٢ ٦
ـ لنهٗ مُبٰرَکٌ چه رالیږلی دی موږ چه ډیر برکتناک دی فَاتَّبِعُوۡهُ وَاتَّقُوۡا نو پیروی
کوی دده او ځان ساتی د مخالفته څخه لَعَلَّکُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۱۵۵﴾ ښائی چه پر تاسی باندی
رحم وکړه سی په سبب د دی متابعت سره او دا قرآن مو رالیږلی دی موږ د پاره د دی
اَنۡ تَقُوۡلُوۡۤا چه بیا ونه وایاست تاسی ټولی د عربو په ورځ د قیامت اِنَّمَاۤ اُنۡزِلَ الۡکِتٰبُ
بیشکه همدا خبره ده چه رالیږل سوی دی کتاب چه توراة او انجیل وو عَلٰی طَآئِفَتَیۡنِ
پر دوو طائفو چه یهود او نصارا دی وو مِنۡ قَبۡلِنَا مخکی تر موږ وَاِنۡ کُنَّا او بیشکه شان
دادی چه موږ وو دا اِنۡ مخفف دی له مثقله څخه عَنۡ دِرَاسَتِهِمۡ د لوستلو څخه د کتاب
د دوی لَغٰفِلِیۡنَ ﴿۱۵۶﴾ خامخا بی خبره وو یعنی په ژبه ئی نه پوهید و نو په لوستو ئی قادر
نه وو اَوۡ تَقُوۡلُوۡا یا داسی ونه وایاست لَوۡ اَنَّاۤ چه که وای موږ چه اُنۡزِلَ رالیږل سوی
وای عَلَیۡنَا الۡکِتٰبُ پر موږ کتاب لکه چه پر دوی راغلی وو لَکُنَّاۤ اَهۡدٰی مِنۡهُمۡ نو
خامخا وو به موږ ډیر سم او برابر پر لاره تر دوی ځکه چه فکرونه زموږ تیز دی فَقَدۡ
جَآءَکُمۡ بَیِّنَةٌ پس په تحقیق سره چه راغلی دی وتاسی ته ښکاره حجت مِّنۡ رَّبِّکُمۡ د ربه
ستاسی چه هغه قرآن دی چه هم ستاسی په ژبه راغلی دی وَهُدًی وَّرَحۡمَةٌ او
رهنمائی او رحمت دی د خدای پر مؤمنانو چه متابعت کوی دده فَمَنۡ اَظۡلَمُ نو څوک دی
ډیر ظالم مِمَّنۡ کَذَّبَ تر هغه چا چه نسبت د دروغو کوی بِاٰیٰتِ اللّٰهِ و آیتو ته د خدای
وروسته تر هغو چه صحت ئی ورته معلوم سوی وی وَصَدَفَ عَنۡهَا او مخ وگرځوی
د دی آیتو څخه سَنَجۡزِی الَّذِیۡنَ ژر دی چه جزاء به ورکړو موږ وهغو کسانو ته
یَصۡدِفُوۡنَ عَنۡ اٰیٰتِنَا چه مخ گرځوی د آیتو څخه زموږ سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ په هغه بدتر

د قتولوا قسامو د عذاب بِمَا كَانُوْا په سبب د دې چه دوی وه يَصْدِفُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ چه مخ ئې
گرزاوی د قرآنه او د احکامو ئخه د ده هَلْ يَنْظُرُوْنَ آيا انتظار کوی دا اهل د مکې يعنې
نه ئې کوی ورسته تر تکذیبه د پیغمبر او د قرآن اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ مگر د دې
خبرې چه راسی ورد وی ته ملائکې د مرګ یا د عذاب اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ یا راسی امر د رب
ستا چه عذاب یا قیامت دی اَوْ يَاْتِيَ یا راسی بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ط بعضې نښې د رب ستا
چه د قیامت د پاره ئې مقررې کړې دی لکه د لمر راختل د مغرب ئخه یا داسی نورې
نښې يَوْمَ يَاْتِيْ په هغه ورځ چه راسی بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ بعضې نښې د رب ستا روایت
دی چه هر کله لمر د مغرب د طرفه راوخیژی نو هغه شپه به داسی ډیره اوږده وی
چه متهجدان[عه] او باقی اهل اوراد به خوشوواره خپل اوراد پوره کی او د صبح صادق
اثر به لا هیڅ ښکاره سوی نه وی نو دوی به پوه سی چه ئخه نوی کار شروع سوی دی
او به زاری او په استغفار به زور راوړی ناگاه به د مغرب د طرفه به راښکاره او بې نوره
راوخیژی او قول خلق به ورته گوری او حیران به سی نو هر کله چه دا غټه علامه د قیامت
ښکاره سوه او غیب[عه] په عین بدل سو او اختیاری ایمان په اضطراری بدل سو په سبب
د دې لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا نه به رسوی فائده وهیچا ته ایمان راوړل دده اما داسی نفس
ته لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ چه نه وی دا نفس داسی چه ایمان ئې راوړی وی مِنْ قَبْلُ مخکی تر
ظهوره ”ښکاره کیدو“ د دې علامی اَوْ كَسَبَتْ یا کسب ئې نه وی کړی فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ط په
ایمان خپل کښې د خیر چه اخلاص دی یعنی لکه چه ورسته د راختلو د لمر د مغرب
د طرفه ایمان د کافر قبول نه وی همداسی اخلاص د منافق او توبه د عاصی هم
قبوله نه ده که ئې مخکښی توبه نه وی خنی کښلی قُلِ انْتَظِرُوْٓا ورته ووایه چه تاسې
هم منتظره اوسی ودی علامو ته اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ بیشکه مونږ هم منتظره
یو و دی علامو ته او هر کله چه بیا دا علامی ښکاره سی نو تاسی ته به افسوس لو

عه یعنی تهجد کوونکی د شپی ۱۲ عه یعنی لوستونکی د وظیفو ۱۲ عه یعنی غائب شی را ښکاره شی چه هغه راختل د لمر دی ځکه دا راختل د لمر غائب دی ۱۲


ومومنو ته به خوشحالي وي إِنَّ الَّذِينَ بيشكه هغه كسان فَرَّقُوا دِينَهُمْ چه تاريه تار
كړي دي دوي دين خپل چه پر بعضو پيغمبرانو او كتابو ايمان راوړي او پر بعضو ئې
نه راوړي وَكَانُوا شِيَعًا او سوه دوي فرقي فرقي لكه يهود چه يو آويا فرقي سوي
وه او نصاري چه دو آويا فرقي سوي وه لَسْتَ مِنْهُمْ ته نه ئې له دوي څخه يعني د
حسابه او د عقابه او د تفرقي څخه ددوي فِي شَيْءٍ ط په هيڅ شي كښي يعني ته به د دوي
داحوالو څخه نه پوښتل كيږې يا مراد ځني نهي دي د جنګه څخه د دوي سره نو بيا پردې
داحكم منسوخ دي په آيت د سيف سره إِنَّمَا أَمْرُهُمْ بيشكه هم دا خبره ده چه
كار د دوي إِلَى اللَّهِ وخداى ته مفوض «سپارل سوى» دى چه انتقام به د دنيا كښي ځني اخلي
او كه ئې واخرت ته پريږدي او كه توبه په كاږي ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بيا به آګاه «خبر»
كړي دوي په ورځ د قيامت بِمَا كَانُوا په هغو كارو چه دوي وه په دنيا كښي
يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾ چه كول به ئې مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ هر څوك چه راتله ئې وكړه په يوه
نيكي سره فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ج نو دي ده لره لس نيكي په مثل ددي وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ
او هر څوك چه راتله ئې وكړه په بدي سره فَلَا يُجْزَى نو جزا به نه ور كول كيږي و
دي بدكونكو ته إِلَّا مِثْلَهَا مگر په مثل د هم هغه بدي يعني يوه په يوه وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾
او هيڅ ظلم به و نه كړل سي پردي نيكو كارانو او بدكارانو په نقصان د ثواب سره يا په زياتي
دعقاب سره قُلْ ووايه و دي تاريه تاركيدونكو ته په دين كښي إِنَّنِي بيشكه زه چه يم
هَدَانِي رَبِّي برابر كړي يم زه رب خپل إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ۵ وسمي لاري ته دِينًا
قِيَمًا هغه دين ته چه پاينده او سم دي مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ چه هغه دين د ابراهيم دي
حَنِيفًا په داسي حال كښي چه سم او مائل «ميلان كونكى» و و د ټولو اديانو څخه و دين د حق
ته چه هغه توحيد د خداى دى وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ او نه و و دى د مشركانو
څخه قُلْ إِنَّ صَلَاتِي ووايه ته چه بيشكه لمونځ زما چه دى وَنُسُكِي او بل هر عبادت
يا قرباني يا حج زما چه دى وَمَحْيَايَ او ژوند زما چه دى يعني هغه اطاعت چه ما

عه يعني د فرقه فرقه او ټولي ټولي كيدو د دوي ۱۲

کړی دی په حال د حیوٰة کښې وَمَمَاتِيْ اومرګ زما چه دی یعني شی چه زه به پر
مرم چه ایمان او عمل صالح دی لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۲﴾ داټول خاص خدای لره دی
چه د ټمام جهان رب دی لَا شَرِيْكَ لَهٗ ۚ نشته هیڅوك شریك ده لره په دی ټیرو
عباداتو کښې زما وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ اوهم په دی خلوص سره مامور سوی یم زه
وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۶۳﴾ او زه اول د مسلمانانو یم ځکه چه اسلام د پیغمبر
مقدم (محکی) وی پر اسلام د امت باندی روایت دی چه یوه ورځ کفار رسول
علیه السلام ته راټول سوه او ډیری زاری او الحاح ئې ورته وکړی چه د خپلو پلرو دین مه
پریږده او بیرته د دوی ودین ته رجوع وکړه نو نازل سو قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ ووایه و
دوی ته چه آیا بیله خدایه اَبْغِيْ رَبًّا وغواړم او طلب کړم رب بل څوك ؟ وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ
شَيْءٍ ۚ او حال دا چه دی پیداکونکی او مربی «تربیت کونکی» د هر شی دی او مخلوق هیڅ کله
لائق د ربوبیت نه وی وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ اوکسب نه کوی هیڅ نفس د بدی اِلَّا عَلَيْهَا ۚ
مګرهم پرهغه دی وبال ئې روایت دی چه ولید بن مغیره به ودی نورو کفارو
ته ویل چه ای مشرانو د عربو زما متابعت کوی نوستاسو د ګناهو بار به زه پرځان
واخلم نو نازل سو وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اونه اخلی هیڅ اخستونکی وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ بار
د ګناهو د بل اوهرڅوك به خپل بار وړی ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ بیا نوخاص ورب ستاسی ته
مَّرْجِعُكُمْ بیرته ورتله ستاسی دی په قیامت فَيُنَبِّئُكُمْ بیا به خبرکړی تاسی بِمَا
كُنْتُمْ په هغه شي چه تاسي واست فِيْهِ په هغه شی کښې تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ چه اختلاف
به مو پیدکی کاوی وَهُوَ الَّذِيْ اودی هغه خدای دی جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ چه
ګرزولی ئې یاست تاسی خلیفګان د مځکی وروسته تر پیرانوانو او ملائکو یا تاسی امت
د رسول علیه السلام خلیفه ګان یاست د تیرو امتو وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ او پورته کړی دی
ده بعض د تاسی ځنی فَوْقَ بَعْضٍ سربیره پرنورو وبعضو دَرَجٰتٍ په مرتبو کښې چه

عه یعني هسې په دی اخلاص کولو د عبادت سره خاص خدای لره وماته امر کړه سوی دی ۱۲ سه الحاح یعني ډیر کوښښ ئې په سوال کولو کښې پر وکړی ۱۲

خوك عالمان کړی او خوك جاهلان او خوك باچاهان کړی او خوك غریبان خوك
ماړه کړی او خوك وږی لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ اٰتٰكُمْ ط دپاره ددی چه وه ازمایی تاسی
په هرهغه شی چه درکړی یې دی وتاسی ته لکه مال او جاه چه معلوم او بیل شی
شاکر او صابر د ناشکره او بی صبره څخه اِنَّ رَبَّكَ بیشکه ستارب چه دی سَرِيْعُ الْعِقَابِ زر
د یرزر روکونکی دی دعقوبت وهغه چاته چه بی صبره او ناشکره وی وَاِنَّهٗ او بیشکه
دی چه دی لَغَفُوْرٌ خامخا بخښونکی دی د شاکرانو رَّحِيْمٌ (۱۶۵) مهربان دی پر صابرانو



الٓمّٓصٓ (۱) تفاسیرو په دی کښی رنګا رنګ تاویلات کړی دی او یو څنی دادی چه
الف د انا او لام د لطیف او میم د ملك او صاد د صبور څخه دی یعنی انا اللطیف
الملك الصبور معنیٰ دا چه زه ډیر مهربانه او صابر باچا یم كِتٰبٌ دا کتاب یعنی سورة
دی او دا خبر د مبتداء محذوفی دی ای هو کتٰب اُنْزِلَ اِلَيْكَ چه رالیږل سوی دی
وتاته فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ نو نه دی راځی په سینه کښی ستا حَرَجٌ مِّنْهُ شك په دی
کښی یا تنګی دپیغام د رسولو څخه چه پر وړ وسته کی به ئ خولګ و نه منی نو ته ئ و
دوی ته ور سوه لِتُنْذِرَ بِهٖ دپاره ددی چه وه بیروی ته دوی په دی کتاب سره
وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ (۲) او چه پند ورکوی ته په پند ورکولو سره ومؤمنانو ته
اِتَّبِعُوْا پیروی کوی اے مکلفانو مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ د هغه شی چه رالیږل سوی دی وتا
ته مِّنْ رَّبِّكُمْ د جانبه د رب ستاسی چه قرآن دی په او امر او په نواهیو کښی
وَلَا تَتَّبِعُوْا او پیروی مه کوی مِنْ دُوْنِهٖ بیله دی قرآنه اَوْلِيَآءَ ط د نورو دوستانو
خپلو چه شیاطین دی د جن او د انس څکه چه دوی ګمراهان کړی تاسی او و
عبادت ته د بتانو به مو وا روی قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ (۳) لږ پند اخلی تاسی وَكَمْ
مِّنْ قَرْيَةٍ او ډیر دی داهل د کلو او د ښار و دکا فرانو او فاجرانو اَهْلَكْنٰهَا چه

راغلا
هلاك كړي دي موږ يعني چه اراده كړي ده موږ د هلاكولو ددوي فَجَآءَهَا نو بيا
ودي اهل دهغه بنارته بَاْسُنَا بَيَاتًا عذاب زموږ دشپي چه وخت دغفلت
اودخوب دي لكه قوم دلوط عليه السلام اَوْهُمْ قَآئِلُوْنَ ④ يا به دوي دغرمي
په خوب بيده وه لكه قوم د شعيب عليه السلام اودواړه وختونه ئي ځكه يادكړه
چه دا وختونه دراحت دي لوعذاب پكښي ډير سخت وي فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ نو
نه وو سوال اوزاري ددوي اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ په هغه وخت كښي چه رابه غلي ودوي
ته عذاب زموږ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا مگر دا به ووچه ويل به دوي اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ⑤
بيشكه چه موږ وو ظالمان پرخپلو ځانو چه تكذيب درسولانو به موكاوي فَلَنَسْئَلَنَّ
الَّذِيْنَ نو خامخا به پوښتنه كوو موږ په قيامت هغه كسان اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ چه رالېږل
سوي وه ودوي ته پيغمبران چه تاسي ددوي خبره منلي وه اوكه موږ وه منلي
وَلَنَسْئَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ⑥ اوخامخا به بيا و پوښتو رسولان هم د اداء د رسالته
اودتبليغه څخه داحكامو فَلَنَقُصَّنَّ اوبيا به خامخا بيان كړوو وبه لولو داقوال احوال
چه ددوي په ميان كښي سوي وه عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ پردوي په هغه خبرداري سره چه
هيڅكله نه جلاكيږي دموږ څخه وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ⑦ اونه وو موږ غائبان اوبې
خبره داقوالواو دافعالو څخه ددوي وَالْوَزْنُ او تول داعمالو دهرچا چه دي دپاره
دمعلومولو دسپك اودرانه يَوْمَئِذِ ۨالْحَقُّ په دغه ورځ دقيامت حق دي چه
كيږي به دپاره دقطع كولو دعذر فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ اوهرڅوك چه درانه وځا ته
اعمال حسنه دده فَاُولٰٓئِكَ نو بيا دغه كسان چه حسنات ئې درانه ختلي دي هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ⑧ هم دوي برياليٰ دي وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ اوهرڅوك چه سپك
وځا ته اعمال موږونه دده يعني دنظره لويدلي وه ځكه چه داحال دكافردي
اوايمان خودي نه لري اودتشو اعمالو هيله ايمانه ځاي څخه هيڅ اعتبار اوقدر
نسته نودا اعمال ئې يعني دنظره ولويدل ځكه موازين ئې سپك سوه كذا في المدارك

فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ پس دا هغه کسان دي خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چه زیان ئې رسولی
دي وځانو خپلو ته چه د سلامتې لاره ئې پرایښې ده او د عذاب لاره ئې نیولی ده
بِمَا كَانُوْا په سبب د دې چه دوی وه بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ﴿۹﴾ په ایتونو زمونږ پورې ئې
ظلم کاوه ځکه چه د دوی تصدیق بائد و واو دوی ئې تکذیب کاوی وَلَقَدْ
مَكَّنّٰكُمْ فِي الْاَرْضِ او خامخا په تحقیق سره قدرت د تصرف درکړی دی مونږ
تاسې ته په ځمکه کښې چه کورونه پکښې اچوی او غلې او باغونه پکښې کړی او نور
رنګارنګ تصرفات پکښې کوی وَجَعَلْنَا لَكُمْ او پیدا کړي دي مونږ وتاسې ته فِيْهَا
مَعَايِشَ ط په دې کښې اسباب د معاش هرقسم قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۰﴾ لږ شکر ع ۱۰
کابږئ تاسې دا مَا زائده دی او قليلًا مفعول مقدم دی د تشکرون وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ۸
او خامخا پیدا کړي یاست مونږ تاسې یعنې نیکه ستاسې چه اٰدم ؑ وو له خټو
ځنه ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ بیا صورت بندي وکړه مونږ ستاسې یعنې دده چه د هغو خټو
ځنه بیا بدن انسانی سازاوجوړ کړی مونږ په دې شکل مخصوص کې ثُمَّ قُلْنَا بیا
وویل مونږ ورسته تر هغه چه صورت بندي دده وسوه او څلوېښت کاله د
مکې او د طائف په مینځ کښې پروت وو بیا روح چه بیا ملائکو پرتخت واچوی او
جنت ته ئې یووړی او هلته روح پکښې د ننه کړه سو لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ق ط
وملائکو ته چه سجده وکړي وادم ؑ ته سجده د تعظیم او د تحیې فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط
نو سجده وکړه ټولو مګر ابلیس چه دی په سبب د عجب او د حسد لَمْ يَكُنْ مِّنَ
السّٰجِدِيْنَ ﴿۱۱﴾ دی نه وو د سجده کونکو ځنه قَالَ مَا مَنَعَكَ نو رب العزت ورته
وویل چه کوم شي منعه کړی ته اَلَّا تَسْجُدَ چه سجده دې ونکړه اِذْ اَمَرْتُكَ ط
په هغه وخت کې چه ما امر د سجدې درته وکړی قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ج نو وویل ابلیس
چه زه غوره یم تر ده نو سجده وذوئ ته لائقه نه ده او زه غوره «بهتر» یم تر ده چه
خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ پیدا کړی دې یم زه د اور ځنه او اور جوهر لطیف علوی او نورانی دی

وَخَلَقۡتَهٗ اودی دی پیدا کړی دی مِنۡ طِيۡنٍ ﴿۱۲﴾ دخټو نه او خته جسم کثیف سفلی
ظلمانی ده فائده داللعین دلته خطا وتلی دی چه پوازی پې علت مادی داده
ته کتلی دی چه خته ده او نور وری سره ووعللو «عنصر» ته ئې نظر نه دی کړی چه
بهتری دده ورته معلومه سوی وای پرخپل ځان چه علت صوری ته ئې په نفخت
فیه من روحی کښی اشاره ده او وعلت فاعلی ته ئې په لما خلقت بیا ئې کښی اشاره ده
او د علت غائی ته ئې په وعلم آدم الاسماء کلها کښی اشاره ده کذا فی البیضاوی قَالَ فَاهۡبِطۡ
مِنۡهَا رب العزت ورته وویل چه کښته سه د آسمانه یا د جنته څخه فَمَا يَكُوۡنُ لَكَ نو روا
نه دی وتاته اَنۡ تَتَكَبَّرَ فِيۡهَا داچه ته لوئی او بې فرمانی کوی په دی جنت کښی فَاخۡرُجۡ
نو ووزه د جنته څخه اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيۡنَ ﴿۱۳﴾ بیشکه چه ته د خوارانو څخه ئې قَالَ
اَنۡظِرۡنِيۡۤ بیا ابلیس وویل چه ماته مهلت راکړه او مه می وژنه اِلٰى يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ ﴿۱۴﴾
تر هغه ورځی پوری چه دا مخلوق بیرته ژوندی کیږی یعنی تر قیامته پوری قَالَ اِنَّكَ
وویل رب العزت بیشکه ته چه ئې مِنَ الۡمُنۡظَرِيۡنَ ﴿۱۵﴾ د مهلت ورکړه شوو څخه ئې تر
پوکولو د شپیلی پوری قَالَ بیا وویل ابلیس فَبِمَاۤ اَغۡوَيۡتَنِيۡ نو په سبب ددی چه
تا زه گمراه کړم ددی شخص «آدم» په وجه لَاَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ خامخا به کښینم ورته او اولاد
دده ته د پاره د اړولو صِرَاطَكَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ﴿۱۶﴾ پر هغه سمه لاره ستا باندی چه لاره
د اسلام ده د پاره د اړولو ددوی ددی لاری څخه ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمۡ بیا به خامخا
راځم ورته په هر وخت کی مِّنۡۢ بَيۡنِ اَيۡدِيۡهِمۡ د مخ لخوا ددوی یعنی د آخرت د
طرفه نو به ورته وایم چه بعث «راپاڅیدل» او حشر او قیامت او حساب او جنت او دوزخ
داهیڅ نسته وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ او د شا لخوا ددوی یعنی د دنیا د طرفه چه دا به ورته
ډیره بنایسته کړم وَعَنۡ اَيۡمَانِهِمۡ او د ښی لاسه «راسته طرفه» ددوی یعنی د حسناتو
د طرفه چه عجب او ریا به پکښی ور واچوم وَعَنۡ شَمَآئِلِهِمۡ او د کیڼ لاسه «چپه طرف»
ددوی چه سیئات «بدی» به ورته خوږه او بنایسته کړم وَلَا تَجِدُ اَكۡثَرَهُمۡ او بیا

به نه کی پیدا ښ يات ددوی شٰکِرِیۡنَ ﴿۱۷﴾ شکرکښونکی یعنی کافران به کړم چه ستا نعمت
به نه منی او منعم ته دی نه بولی قَالَ اخۡرُجۡ مِنۡهَا بیا وویل رب العزت چه ځه ووزه
د جنته ځنې مَذۡءُوۡمًا په داسی حال کښی چه عیب ناکه کړه سوی یې مَّدۡحُوۡرًا ط
لیری کړه سوی د رحمته دخدای لَمَنۡ قسم دی وی زما پخپل عزت او جلال سره هر
څوك تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ چه متابعت وکی ستا ددوی ځنې لَاَمۡلَئَنَّ جَهَنَّمَ نو خامخا به
ډك کړم دوزخ مِنۡكُمۡ د تاسی ځنې اودتابعانو ځنې اَجۡمَعِیۡنَ ﴿۱۸﴾ دټولو ځنې

که می شروع وه په تفسیر له فکره خامه
ته یې کړه قبوله ای غنی رب الانامه
ربع د قران سوله پرده ایت تمامه
غوارمه د تا ځنې رضوان او عفوه تامه

بیا وویل رب العزت وروسته تر ایستلو دده د جنته ځنې چه وَیٰۤاٰدَمُ اسۡکُنۡ اَنۡتَ
ای ادمه اوسه ته وَزَوۡجُكَ الۡجَنَّةَ او جوړه ستا چه بی بی حواده په دی جنت کښی
فَكُلَا نو خوری تاسی دواړه د میوو او د نورو نعمتو ځنې ددی جنت مِنۡ حَیۡثُ شِئۡتُمَا
د هرځای ځنې چه اراده وسی ستاسی او هرڅه چه خوری وَلَا تَقۡرَبَا او مه نژدې
کیږی هٰذِهِ الشَّجَرَةَ ودی درختی دغنمو یا دانگورو ته دخوړك دپاره او که دی
جنس د درختی ځنې خوړك وکړی فَتَكُوۡنَا مِنَ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۱۹﴾ نو به سی دواړه دظالمانو
ځنې پرخپلو ځانو باندی فَوَسۡوَسَ لَهُمَا الشَّیۡطٰنُ نو وسوسه وروا چوله ودوی ته
شیطان وروسته تر هغه چه بیا وجنت ته ننوتی په مصلحت دد رواځیانو "دروازه
ګوتکو" چه هغه مار او طاؤس دی لِیُبۡدِیَ لَهُمَا دپاره ددی چه ښکاره کړی ودوی ته
مَا وٗرِیَ عَنۡهُمَا هغه شی چه پټ کړه سوی وو ددوی دواړو ځنې مِنۡ سَوۡاٰتِهِمَا
د عورات غلیظه وو ځنې ددوی په دی بی فرمانی سره وَقَالَ او وویل ابلیس و
دوی دواړو ته مَا نَهٰكُمَا رَبُّكُمَا چه نه یاست منع کړی تاسی رب خپل عَنۡ هٰذِهِ

الشَّجَرَةِ دخوړك تخه ددی جنس وني اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَا مگر ددی دپاره چه نه سی تاسي اودا ځكه چه كراهت پكښې مقدردی يعني كراهتان تكونا مَلَكَيْنِ دواړه ملائكې په مرتبه يا په بنا يست يا په بې پروايې كښې دخوراك تخه اَوْ تَكُوْنَا يا چه نه سی تاسی دواړه مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿۲۰﴾ دهميشه اوسيدونكو په جنت كښې وَقَاسَمَهُمَاۤ اوډير سخت قسم يې ورته وكړي پردی چه اِنِّيْ لَكُمَا بيشكه چه زه وتاسی دواړو ته لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۱﴾ خامخا د نصيحت كونكو او د ډيره شفقته تخه درته وايم چه ددی ونې ميوه وخوری چه له مرګه تخه بچ خلاص شي نو آدمؑ په دی سره خطا وتې چه په خدایٰ سره به هيڅوك په درواغو قسم ونكړی او دده په قول سره ئې باور وكړی فَدَلّٰىهُمَا نو كښنته ئې كړه دواړه دپاره دخوراك دميوی ددی ونې اود لوړی مرتبې تخه يې وكښته ته راوغورځول بِغُرُوْرٍ ج په فريب اووسوسه سره په دی قسم سره فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ نو هركله چه دوی دواړو وڅكله وبغه ورڅخه څو ټيك ... ميوه د دی منهي عنه وني نو في الحال جا ئي «حال» څنې والوتې او دواړه بربنډ «لخ» سوه په عقوبت «سزا» ددی اكل اوخوړك سره لكه چه وايي بَدَتْ لَهُمَا نو ښكاره سوه ودوی ته سَوْاٰتُهُمَا عورتونه غليظه ددوی اوچاداسی ويلی دی چه ددوى جامی دنوكانو په شان وی مگر ډيرې نرمې اولطيفې اوسپينې وی نو هغه د نوربدن تخه ولاړی اودګوتو پرڅكواوسرو باته سوی چه هغه دانوكان دی دپاره ددی چه هروخت به ئې دا نعمت يادېږی اوپښيمانی به يې پر هغه بې فرمانی زياتېږی وَطَفِقَا او واخته سوه دواړه يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا چه سره پيوند ولی او تيلی اوانښتول به يې پر دواړو عورتوخپلو باندی مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ط دپاڼو تخه د درختوجنت روايت دی چه پر عورتو به ئې پاڼی ايښوولی اومنډی ځغستاوی به يې وهلی ويوه اوبل طرف ته نو اواز «بغ» پروسو چه آفرارًا مني يعني آيا ځغلې د پاره د تيښتې دماڅخه نوده وويل چه لا بل حياۤءً منك يارب يعني نه بلكه د

جهته د حیا د تا ځخه ای ربه زما بیا اواز وشو چه اے ادمه ایا هغه میوی چه ما درته مباح کړی وی د ټولو د رختو د جنت دا دی بس نه وی چه ددی ونی "رختی" منهي عنه ځخه دی هم میوه وخوړه ده په جواب کښی وویل چه بس ی وی خو شیطان په دی تیرایستم چه زما دا ګمان نه وو چه په خدای به څوك په دروا غو قسم اخلی بیا ئی واوریده چه زما دی قسم پخپل عزت او جلال وی چه ددی جنته به دی کښته کړم وځګی ته او هلته به بیا روزی نه سی پیداکولای، اګر په مشقت سره چه لاس به دی په سترګی وی بیا راکښته سوه او په کښته کړلو ما موره سوه نو کرل به ئی اواوږه کول به یې او اخښل به یې او څول به یې نو ددی انو عملو وروسته به قابل د خوراك سی وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ او اواز او وړغ ورته وکړی رب دد وی یعني دا سے یې ورته وویل اَلَمْ اَنْهَكُمَا چه ایا ما نه و ؤ ستاسی منعه کړی ناسی دواړه عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ د خورك ځخه د میوی ددی .رختی وَاَقُلْ لَّكُمَآ او نه مو وو ویلی وتاسی ته چه فهم کوی اِنَّ الشَّيْطٰنَ بیشکه شیطان چه دی لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ (۲۲) تاسی دواړو ته د ښمن دی ښکاره قَالَا نو وویل دوی پر طریقه د اعتراف او دعذر خواهی سره چه رَبَّنَآ ای زموږ ربه ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ستمنا ظلم کړی دی موږ پر ځانو خپلو په دی بی فرمانی سره وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْلَنَا او که بخښنه و نه کړی ته وموږ ته ددی ګناه زموږ وَتَرْحَمْنَا او مهربانی و نه کړی پر موږ لَنَكُوْنَنَّ نو خامخا سو به موږ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ (۲۳) د زیا ی کارانو ځخه قَالَ اهْبِطُوْا بیا و ویل رب العزت وادم او بی بی حوا او مار او طاؤس ته چه ځئ کښته سی تو له وځګی ته بَعْضُكُمْ به داسی حال کښی چه بعض د تاسی ځخه لِبَعْضٍ عَدُوٌّ به و بعضو نورو ته د ښمنان وی وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ او دی تاسی ته په ځمکه کښی مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ قرار ګاه او معاش اِلٰى حِيْنٍ (۲۴) تر یو وخته پورې چه هغه وخت د موت "مرګ" ستاسی دی قَالَ بیا وویل رب العزت فِيْهَا تَحْيَوْنَ چه په هم دی ځمکه کښی به ژوندن کوئ تاسې

وَفِيهَا تَمُوتُونَ او په هم دی کښې به مرئ او بنخيږئ به وَمِنْهَا او له دی ځمکې ځخه به
تُخْرَجُونَ ﴿۲۵﴾ بيا را ايستل كيږئ دپاره د حساب او د جزاء روايت دی چه عربو به
طواف دبيت الله شريفي لڅ لغړ کاوی او ويل به يې چه مونږ طواف نه کوو په هغه جامو
او کالو کښې چه مونږ ګناهونه پکښې کړی دی نو نازل شو يٰبَنِیٓ اٰدَمَ ای اولادی د آدمه
قَدْ اَنْزَلْنَا په تحقيق سره رالیږلی دی مونږ عَلَيْكُمْ لِبَاسًا پر تاسی داسی پوښاك
يُّوَارِیْ سَوْاٰتِكُمْ چه پټوی عورتونه ستاسی لکه قميص او پرتوګ وَرِيْشًا او
بل پوښاك دپاره د محض زينت لکه د انور پوښاکونه وَلِبَاسُ التَّقْوٰى او پوښاك د
پرهيزګاری چه دی چه خلاصے په راځی د عذابه ذٰلِكَ خَيْرٌ دا ډير غوره دی
ترټولو پوښاکو ذٰلِكَ دا راليږل د پوښاك چه دی مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ د نښنو د فضل او د
رحمت د خدای دی لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۲۶﴾ بنايي چه دوی پند واخلی او قدر د دی
نعمت وپيژنی يٰبَنِیٓ اٰدَمَ ای اولاده د آدمه لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ فريب دی، و نه
کړی په تاسی شيطان يعنی هميشه په ويره کښی اوسی چه د حق د لاری ځخه مو وا
نهړوی كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ لکه چه را ايستلی دی ده مور او پلار ستاسی مِّنَ الْجَنَّةِ د
جنت ځخه نو داسی لځيدل چه يَنْزِعُ عَنْهُمَا وکاږی د دوی د دواړو ځخه لِبَاسَهُمَا د
دوی پوښاك او کالی يعنی سبب د کښلوسو لِيُرِيَهُمَا دپاره د دی چه ووينې په دوی
سَوْاٰتِهِمَا عورت غليظه د دوی اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ بيشکه چه دی تاسی وينی هُوَ وَقَبِيْلُهٗ
هم دی او هم قبيله او لښکر د ده مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ د داسی طرفه ځخه چه تاسے
دوی نه وينې يعنی دوی لطيف دی نو تاسی يې نسی ليدلای او تاسی کثيف ياست
نو دوی تاسی ليدلای سی اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ بيشکه مونږ چه يو مونږ ګرځولی
دی شيطانان اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾ دوستان د هغو کسانو چه ايمان
نه راوړی وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً او په هغه وخت کی چه دا کفار يو بد کار و کړی
لکه بت پرستی يا د عورت لځول په طواف کښی قَالُوْا وَجَدْنَا نو دوی وايي چه

موږ پیدا کړی دی عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا پردی کار پلرونه خپل وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ؕ او خدای
هم امر کړی دی موږ ته په کولو ددی کار قُلْ اِنَّ اللّٰهَ ته ورته ووایه چه بیشکه
خدای لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ؕ امر نه کوی په بدو اقوالو او افعالو بلکه عادت یې دادی
چه امر کوی په نیکو کارو او په ښو خصالو اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ ایا په دروغو تړی او
وایاست تاسی پر خدای مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾ هغه خبری چه تاسی نه پوهیږی چه نسبت
کوی وده ته ددی فحشاء قُلْ اَمَرَ رَبِّیْ ته ورته ووایه چه امر کړی دی رب زما بِالْقِسْطِ ۟
په عدل سره چه نه افراط وی او نه تفریط وَاَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ او برابر کړی مخان خپل و
قبلی ته عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ په نزد د هری سجدی یا د هر ځای د سجدی یا د هر لمانځه یا معنیٰ
دا چه پر هر مسجد چه برابر سواست په وخت د لمانځه کښی نو په هم هغه مسجد کښی
یې اداء کوی او د خپل مسجد د پاره یې مه ځنډوی وَّادْعُوْهُ او بولی دی یعنی دده عبادت
کوی مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ۬ په داسی حال کښی چه خالص کوونکی اوسی ده لره د طاعت
خپل د ریا او عجبه «خودبینی» او د هر نقصانه څخه كَمَا بَدَاَكُمْ لکه چه اول وار یې پیدا کړی
یاست تَعُوْدُوْنَ ﴿۲۹﴾ بیا د وهم وار به هم داسې پیدا شې یعنی لکه چه په اول کښی
عاجزه نه وو دی د پیدا کولو څخه ستاسی او هم داسې د اعادی «بیا پیدا کولو» څخه عاجزه
نه دی فَرِيْقًا هَدٰى ویوی ډلی ته یې سمه لاره وښووله چه توفیق د ایمان یې ورکړی
وَفَرِيْقًا او بله ډله یې گمراه کړه چه د ایمان توفیق یې ورنکړی بلکه حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ؕ
لائقه او برابره سوه پر دوی باندی گمراهي اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ بیشکه دا گمراهان
چه دی دوی نیولی دی شیطانان اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ دوستان بیله خدایه چه
د دوی فرمانبرداره سویدی وَيَحْسَبُوْنَ او دوی گمان کوی ددی اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾
چه بیشکه دوی یې پر وان کړیدی پر سمه لاره او په واقعه کښی داسی نه ده
يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ ای اولادی د آدم خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ واخلی او واغوندی ښایست
خپل یعنی ښه پاکی مزینی جامی خپلی عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ په نزد د هر لمانځه څکه

بہایت ۱۲ مؤضِع القرآن ۱۲
چه هرلونځ مناجات دی د رب سره او تزئین او تعطر پکښی مستحب دی لکه نظائر د بنی
عامرو روایت دی چه بنی عامرو به په ورځو د حج کښی طعام نه خوارې مګر
قُوت لایموت یعنی د ومره چه په ژوندی به وه او غوړ به ئې هم نه خوارہ د پاره د
تعظیم د حج نو مسلمانانو هم د اسی عمل اختیار کړی نو نازل سو وَّكُلُوْا او خوری
هر قسم ماکولات «خوراک شیان» او غوړ هم په احرام کښی وَاشْرَبُوْا او چښی هر قسم
پاك مشروبات که او به وی او که شیدی وی او که نور څه وی وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ او تر حد
تجاوز مه کوی په خوراك د حراموسره یا په زیات خوراك سره تر حد د موړوالے
ع ٣ ٦ ١٠ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣١﴾ بیشکه چه خدای نه خوښوی اسراف کوونکی قُلْ مَنْ حَرَّمَ
ورته ووایه چه چا حرام کړیدی زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ هغه زینت د خدای چه د جامو
وی او یا د نور څه څخه وی اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ چه را ایستلی یې دی د خپلو بندګا د پاره
د نباتاتو څخه لکه پنبه او کتان او یا د حیواناتو څخه لکه وړ پښم یا وړی او یا د غرو
څخه لکه زغره وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ۭ او د پاکیزه شیانو د اقسامو څخه د روزی
که د خوراك دی لکه غوښی او وازګی د بحائرو او سوائبو او د وصائلو او که د څښلو
دی لکه شیدی د دوی یعنی دا یولا هم حرام نه دی قُلْ هِىَ ورته ووایه چه دا
زینت او طیبات چه دی لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا د پاره د هغو کسانو دی په اصل کښی چه
ایمان یې راوړی دی یعنی هم د دوی لپاره پیدا سوی دی فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په
دی واړه ژوند کښی هم اما د لته کفار هم ور سره شریك دی په طبع د دوی او
هر چه هغه نعمتونه دی چه هیچیری قطع نه لری هغه به مؤمنانو لره وی
خَالِصَةً یوازی بے شرکته يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ په ورځ د قیامت كَذٰلِكَ هم داسے
لکه چه موږ دا حکم مفصل بیان کړی نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ مفصل بیانوو باقی ټول
احکام د دین هم خصوصاً حلال او حرام لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣٢﴾ د هغه قوم د پاره
چه پوهیږی او فهمولای یې سی قُلْ اِنَّمَا ورته ووایه چه بیشکه هم دا

خبره ده حَرَّمَ رَبِّیَ الْفَوَاحِشَ چه حرام کړیدی رب زما ګناهونه کبیره چه موجب
دلوی عذاب دی مَا ظَهَرَ مِنْهَا هغه چه ښکاره دی دهغو څخه لکه کفریا ښکاره
زنا وَمَا بَطَنَ اوبل هغه چه پټ دی لکه نفاق یا پټه زنا وَالْاِثْمَ اوبله هغه
ګناه چه مقرر حد ورلره نسته لکه صغیره ګناوې وَالْبَغْیَ بِغَیْرِ الْحَقِّ اوبل ظلم
اوکبر په ناحقه اوبې موجبه وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ اوبل داچه شریك ونیسی په
خدای پورې مَا لَمْ یُنَزِّلْ بِهٖ هغه شي چه نه دی رالیږلے خدای په عبادت کولوسره
دهغه شي سُلْطٰنًا هیڅ دلیل اوحجت وَّاَنْ تَقُوْلُوْا اوبل داچه په دروغوسره ووایا
اودځانه څخه وتړی عَلَی اللّٰهِ پرخدای باندی مَا لَا تَعْلَمُوْنَ (۳۳) هغه خبری چه تاسی نه
پوهیږی وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ اوهری ټولی لره دکفارو یومقرر وخت دی دپاره
دراتلو دعذاب اودا وعید دی دمکی وکفاروته یا معنیٰ داچه هرچا لره یومقرر وخت
دی دپاره دمرګ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ نوپه هغه وخت کی چه راشی هغه وخت دوعدی
ددوی چه وخت دنزول دعذاب دی یا وعدهٔ دمرګ ده لَا یَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً نونه به
وروسته کیږی دهغه خپلی ټاکل شوی وعدی څخه یوساعت هم وَّلَا یَسْتَقْدِمُوْنَ (۳۴)
اونه به مخی ته کیږی یٰبَنِیْۤ اٰدَمَ ای اولادی دادمه اِمَّا یَاْتِیَنَّكُمْ که راغله وتاسی
ته اوداما زائده دی رُسُلٌ مِّنْكُمْ رسولان دتاسی څخه دبنی ادمو یَقُصُّوْنَ عَلَیْكُمْ
اٰیٰتِیْ لا چه لولی ''وایی'' پرتاسی ایتونه دکتاب زما یعنی احکام زما دشریعت فَمَنِ
اتَّقٰی نوهرڅوك چه پرهیز وکړی دشرکه څخه اودتکذیبه وَاَصْلَحَ اونیك یی کړی
عمل خپل فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ نوبیا نسته یو قسم بیره پردوی یعنی په امان به وی دهرهغه
شي څخه چه دوی ځنی بیریږی وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ (۳۵) اونه به وی دوی چه خفه کیږی
به یعنی هرڅه چه غواړی هغه به ورته رسیږی وَالَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا اوهغه
کسان چه تکذیب کوی د ایتونو زمونږ وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَاۤ اوکبراوسرکشی کوی د
ایمان راوړلو څخه پردی ایتو اُولٰٓىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ داکسان ملګری داور ددوزخ دی

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۳۶﴾ دوی به په دی اور کښی همیشه وی فَمَنْ اَظْلَمُ څوك دی
ډیر ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى ترهغه چاچه د خانه څخه وتړی عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پر خدای باندے
دروغ چه وائي خدای ښځه او زوی او شریك لری اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ط یانسبت د
دروغو کوی وایتوته دده اُولٰٓئِكَ دا مکذبان او مفتریان چه دی يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ
وبه رسیږی ودوی ته هغه مقرره برخه ددوی مِّنَ الْكِتٰبِ ط دهغه لیکل سوی څخه
چه ددوی په حق کښے دی د رزقه او د عمره او داجله یا هغه عذاب چه ددوی په حق
کښے لیکل سوی دی په لوح محفوظ کښی حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمْ ترهغو پوری چه راسے و
دوی ته رُسُلُنَا استاذی زموږ چه ملك الموت دی او اعوان ئې دی يَتَوَفَّوْنَهُمْ لا
چه قبضوی روحان ددوی قَالُوْٓا اَيْنَ مَا وبه وائي دا ملائکی ودوی ته چه څه سو
هغه بتان ستاسے دپاره دشرمنده کولو ددوی كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ چه واست به تاسے
چه بلل به موهمیشه او عبادت به موکاوی ددوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ط بیله خدایه قَالُوْا
نو وائي به دا کافران په جواب کښی ضَلُّوْا عَنَّا چه اوس ورك سوه دموږ څخه او
هیڅ مدد ئې نه راورسیدے وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ او شاهدی به اداکی دوی پر
خپلو ځانو باندی اَنَّهُمْ چه بیشکه دوی كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ وکافران قَالَ ادْخُلُوْا
نو خدای یا ملائکه به په قیامت ورته ووائي چه ننوزی فِيْٓ اُمَمٍ په هغه تولو
کښے یعنی دهغو کفارو سره قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ چه تیر سوی دی مخکی تر تاسے
مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ د پیریانانو او د انسانانو څخه یعنی تاسے هم ننوزی لکه د هغو
پخوانیو کفارو سره فِى النَّارِ ط په اور ددوزخ کښے كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ هر کله
به ننوزی یوه توله په دوزخ کښے لَّعَنَتْ اُخْتَهَا ط نو لعنت به وایئ پرخور خپله یعنی
پرهغو هم جنسانو خپلو چه دوی اقتداء ورپسی کړی وه لکه یهود وبه خپلو
پخوانیو یهودو پسی او نصاری وو خپلو نصاری وو پسی او مجوسیانو خپلو مجوسیانو
پسے او هم دا سے نور حَتّٰٓى اِذَا ادَّارَكُوْا ترهغو پوری چه یو د بل سره به بیا پیداکی

عه یعنی دروغ ویونکی وآیتو زمونږ ته ۱۲ عه یعنی جوړونکی د دروغو ۱۲ مولوی بلوری ۱۲

فِيْهَا جَمِيْعًا ۙ په هغه اورکښې تو له يعني چه تو له يکښې يوځای او جمعه سی قَالَتْ أُخْرٰىهُمْ نو وبه وايي هغه وروسته راتلونکی متابعان ددوی لِأُولٰىهُمْ په باب کی د مخکينيو او متبوعانو خپلو وخدای ته رَبَّنَا ای زموږ ربه هٰٓؤُلَآءِ دا مشران او متبوعان زموږ چه دی أَضَلُّوْنَا گمراهان کړي يې وو موږ فَاٰتِهِمْ نو ورکړې دوی لره عَذَابًا ضِعْفًا عذاب دوچنده ترموږ مِّنَ النَّارِ ۬ د اوره ځکه د دوږخ يوه برخه يې د خپلې گمراهۍ او بله برخه يې د گمراه کولو د نورو خلگو قَالَ نو وبه وايي رب لِكُلٍّ ضِعْفٌ عه چه و هرو لو ته دوچنده دی و متبوعانو ته يې د کفر او بل د اضلال او و تابعانو ته يې د کفر او بل د تقليد عه وَّلٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾ او ليکن نه پوهيږی تاسی وَقَالَتْ أُوْلٰىهُمْ او وبه وايي مخکيني او متبوعان ددوی لِأُخْرٰىهُمْ و وروستينو او تابعانو خپلو ته فَمَا كَانَ لَكُمْ نو نسته تاسی لره عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ پر موږ هيڅ قسم بهتري چه موجب د تخفيف د عذاب ستاسی سی بلکه موږ د واړه سره برابر يو په کفر کښې فَذُوْقُوا الْعَذَابَ نو وڅکی عذاب بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۳۹﴾ په سبب د هغه کار چه تاسی به کوله إِنَّ الَّذِيْنَ بيشکه هغه کسان كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چه تکذيب کوی د ايتو زموږ که قرآن دی او که نور دليلونه د قدرت دی وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا او کبر او سرکشي کوی د ايمان راوړلو پرهغو لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ خلاصه به نسي ودوی ته أَبْوَابُ السَّمَآءِ دروازې د اسمان د پاره د ختلو د اعمالو او د ارواحو د دوی بلکه سجين ته به بيول کيږی چه تراوومي ځمکې لاندی دی او وارواحو او اعمالو د مؤمنانو ته به خلاصې سي د پاره د بيولو و عليين ته چه د اوووم اسمان سر پيره دی وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ او داخل به نه سی دا مکذبان او متکبران جنت ته حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ ترهغو پورې چه ننوزی اوښ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ۭ په سپمه «په سوری» د ستنی کښې او دا کار خو محال او گران دی نو ددوی د خول «ننوتل» وجنت ته هم محال دی وَكَذٰلِكَ او په مثل د جزاد دی متکبرانو

۴ ع ۹ ۱۱

عه يعني د گمراه کولو د خلگو د لاری څخه د خدای ۱۲ عه يعني د تقليد «پيروي» کولو په کافرانو پسی بيله دليل شرعي ۱۲

نَجۡزِی الۡمُجۡرِمِیۡنَ (٤٠) جزا ورکو موږ مجرمانو ته یعنی کافرانو ته لَهُمۡ مِّنۡ جَهَنَّمَ مِهَادٌ
وی به دوی لره داوړه د دوزخ نه فرش چه دوی به پرکښینی وَمِنۡ فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٍ ط
او سربیره د دوی برا غوسته وی له هم دی اوړ نه وَكَذٰلِكَ او په مثل د جزا د دی
خلګو نَجۡزِی الظّٰلِمِیۡنَ (٤١) جزا ورکوو موږ وکافرانو ته وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا او هغه کسان چه ایمان
یی راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او عملونه یی کړی دی د نیکو لکه منل د کتاب او د رسول
او هر کله چه اعمال صالحه ډیر وو او کول د ټولو د طاقت بشری نه وتلی وه نو ځکه
یی داورسپی وویل چه لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا نه مکلف کوو او بار نه اچوو موږ پر هیچا اِلَّا وُسۡعَهَآ
مګر په قدر د طاقت د ده اُولٰٓئِكَ داکسان چه دی اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ ۚ ملګری د جنت دی
هُمۡ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ (٤٢) دوی به په دی جنت کښی همیشه وی وَنَزَعۡنَا مَا او لیری به کړو
موږ هغه شی فِیۡ صُدُوۡرِهِمۡ چه په درلو «سینو» د جنتیانو کښی به وی مِّنۡ غِلٍّ د
بغضه او د کینی او دلوړو ټولو سببو عداوت نه تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهِمُ الۡاَنۡهٰرُ ۚ چه
بهیږی به لاندی د مسکنو «کورو» د دوی ځلور سره قسمه ویلے وَقَالُوا الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ
او دوی به وایی چه ثنا ده هغه خدای لره هَدٰىنَا لِهٰذَا اقف چه برابر یی کړو موږ و
دی مقام ته وَمَا كُنَّا او نه وو موږ پخپله لِنَهۡتَدِیَ چه پیدا کړی وای موږ دا لاره
پخپل فکر سره لَوۡلَآ اَنۡ هَدٰىنَا اللّٰهُ ۚ که نه وای برابر کړی موږ خدای پر دی لاره او
و به وایی د پاره د شکرګذاری د نعمت د هدایت لَقَدۡ جَآءَتۡ خامخا په تحقیق سره
راغلے وه رُسُلُ رَبِّنَا بِالۡحَقِّ ۚ د استازی د رب زموږ په حق سره او موږ چه دا
سمه لاره پیدا کړه هم د دوی په ښوونه سره وَنُوۡدُوۡۤا او وږغ به ورته وسی اَنۡ
تِلۡكُمُ الۡجَنَّةُ داسے چه دی دا جنت چه دی اُوۡرِثۡتُمُوۡهَا درکړه سوی دی و تاسے ته
مفت لکه میراث چه مفت وی یا د کافرانو برخه جنت هم تاسے ته په میراث یانه
سو بِمَا كُنۡتُمۡ په سبب د هغو عملو چه واست تاسے تَعۡمَلُوۡنَ (٤٣) چه کول به تاسے په دنیا
کښے چه هغه استقامت وو او مواظبت وو پر اوامرو او اجتناب وو د نواهیو نه

وَنَادٰۤى اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ او ورغ به کړی جنتیان اَصۡحٰبَ النَّارِ ودوږخیانوته دپاره د
خفه کولو دوی اَنۡ قَدۡ وَجَدۡنَا داسے چه په تحقیق سره پیدا کړه موږ مَاوَعَدَنَا رَبُّنَا هر
هغه شی چه وعده کړی وو د موږ سره رب زموږ لکه رضوان اودیدار او جنت حَقًّا
په حقه سره بیله شکه او شبهی څخه فَهَلۡ وَجَدۡتُّمۡ نو آیا تاسو پیدا کړه او که نه مَّاوَعَدَ
رَبُّكُمۡ حَقًّا ط هر هغه شی چه وعده کړی وو تاسے سره رب ستاسی لکه غضب او دوږخ
او حرمان د دیدار څخه قَالُوۡا نَعَمۡ ج نو وبه وایي دوږخیان چه هو موږ هم پیدا کړه
هم هغسی لکه چه وعده را سره سوی وه فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ نو ورغ به وکړی یو رغ کونکی یعنی
اسرافیل بَيۡنَهُمۡ په مابین ددی جنتیانو او دوږخیانو کښے اَنۡ لَّعۡنَةُ اللّٰهِ داسی چه
لعنت دخدای دی عَلَى الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۴۴﴾ الَّذِيۡنَ پر هغو ظالمانو یعنی کافرانو يَصُدُّوۡنَ چه
اړوی خلک عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ د لاری څخه دخدای وَيَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا ج او لټوی دوی
په دی لاره کښے کوږوالے وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ كٰفِرُوۡنَ ﴿۴۵﴾ او دوی په راتلو د قیامت سره
منکر وو وَبَيۡنَهُمَا او وی به په مابین ددی جنت او دوږخ کی او یا د جنتیانو او دوږ
خیانو کے حِجَابٌ ج پرده چه هغه یوه قلعه به وی چه دد واړو طائفو په مینځ کښے به ودرول
شی لکه چه په سورة حدید کښی یي واضح بیان دی چه هغه دادی فضرب بینهم بسور
له باب باطنه فیه الرحمة وظاهره من قبله العذاب ط وَعَلَى الۡاَعۡرَافِ رِجَالٌ ج او په
اعراف ذلك الحجاب یعنی دا الف لام عوضی دی او اعراف جمع د عرف ده او عرف بر سر
"لوړسر" او کناره ته د هر شی وایي نو معنے یي داده چه وی به په کنګرو ددی قلعی باندی
سړی او خلک چه دوی به هم جنتیان وینی او هم دوږخیان يَّعۡرِفُوۡنَ كُلًّاۢ بِسِيۡمٰهُمۡ ج
چه پیژنی به دوی ټوله یعنی دواړه طائفے په نښو او علامو د دوی سره چه د جنتیانو
مخان به سپین وی او د دوږخیانو دا به تور وی وَنَادَوۡا اَصۡحٰبَ الۡجَنَّةِ او ورغ به
کړی اعرافیان و جنتیانو ته په هغه وخت کښے چه مخ وړواړوی اَنۡ سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ قف
داسے به ورته ووایي چه سلام دی وی پر تاسے لَمۡ يَدۡخُلُوۡهَا چه لا به نه وی

داخل سوی دا اعرافیان په جنت کښې وَهُمۡ یَطۡمَعُونَ ﴿۴۶﴾ او حال دا چه دوی به په طمع
د دخول کې وی وَإِذَا صُرِفَتۡ أَبۡصَٰرُهُمۡ او په هغه وخت کې چه وګرځول سی سترګې
د دوی تِلۡقَآءَ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ پر طرف د دوږخیانو او په هغوی پې نظر واقع سی
قَالُواْ رَبَّنَا نو دوی به ووایي له ډیره هیبته چه ای ربه زموږ لَا تَجۡعَلۡنَا چه
مه ګرځوه موږ مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿۴۷﴾ د ډلی د ظالمانو سره وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ع ٥ ٨ ١٢
ٱلۡأَعۡرَافِ او بیا به بږغ وکړي اعرافیان رِجَالٗا وهغو خلګو ته د دوزخیانو څخه
يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمۡ چه پېژني به یې دوی په نښو او علاموسره د دوی چه
هغه تور والے دی د مخانو دی قَالُواْ نو به وایې و دوږخیانو ته مَآ أَغۡنَىٰ چه
هیڅ قدر عذاب دفع نه کړي عَنكُمۡ جَمۡعُكُمۡ د تاسې څخه ډېر والے د سړو یا د مالو ستاسې
وَمَا كُنتُمۡ او نه هغه چه واست تاسو تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿۴۸﴾ سرکشی کونکی او ګردن کشان
د حق څخه یا متکبران پر خلګو بیا به دا اعرافیان ووایي أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ ایا دا په
جنت کښې هغه کسان دی او که نه دی یعنی دی أَقۡسَمۡتُمۡ چه قسم به کاوی تاسې
په دنیا کښې په دې چه لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ و به نه رسوی دوی خدای و رحمت
خپل ته یعنی هیڅکله به یې داخل نکړي په جنت کښې بیا به و وایي دوی و جنتیانو
ته ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ اوسې په دی جنت کښې او یا دا مقوله د رب العزت ده و اعرافیانو
ته چه رانوزی په جنت کښې لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمۡ نسته هیڅ بیره پر تاسې وَلَآ أَنتُمۡ
تَحۡزَنُونَ ﴿۴۹﴾ او نه به یاست تاسې چه خفه دی سې په دی جنت کښې روایت دی
چه هرکله اعرافیان داخل شي په جنت کښې نو د دوږخیانو به هم طمع پیدا
سی نو رب العزت ته به سوال وکړي چه زموږ خپلوان دی په جنت کښې نو اذن
"اجازه" راکړه چه یو څو خبری ورسره وکړو نو اذن به ورته وسې او د دوزخه
څخه به بږغ ورته وکړي لکه چه وایې وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ او ناري به وکړي
دوږخیان د دوږخه أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ و جنتیانو ته او ورته و به وایي أَنۡ أَفِيضُواْ

ف په دی کښې اشاره ده و دې ته چه کسل د دوی به و دوزخیانو ته د جنته د یعنی نه دی بلکه بې اختیاره به دی اجتماعیا

عَلَيْنَا دا سے چه راتوی کړی پر موږ مِنَ الْمَآءِ يو څه قدر داو بو څخه دجنت چه ږموږ تندا
په مانه سی اَوْمِمَّا یاد نور هغوا شیا مو څخه دا شربه وويا دا طعمه وورَزَقَكُمُ اللهُ
چه په رزق د رکړیدی وتا سے ته خدای قَالُوْآ نو وبه وایي جنتیان په جواب کښی اِنَّ
اللهَ حَرَّمَهُمَا چه بیشکه خدای حرام کړیدی دا د واړه چه شراب او طعام دجنت
دی عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا پر هغو کافرانو چه دوی نیولے دی دِيْنَهُمْ
لَهْوًا دین خپل هر عبث کار وَّلَعِبًا او هم لوبه لکه تحریم د بحائرو او د سوائبو او د
وسائلو او تحلیل د مرداری او لوبے او لا سونه تکول دا ختر په ورځو کښے چاپیره
د بیتی او دا تول به دوی کول وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا او مغرور کړی وه دوی
دی واړه ژوند او د ډیره غفلته څخه یې خدای او آخرت هیر کړی وه فَالْيَوْمَ نَنْسٰهُمْ
نو نن ورځ به موږ هیر کړو دوی یعنی په دوزخ کی به ئی پریږدو كَمَا نَسُوْا لکه چه هیر
کړی وو دوی لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا پیښیدل ددی ورځی خپلی چه دا ورځ د قیامت ده
دپاره د حساب وَمَا كَانُوْا او لکه چه وو دوی بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۵۱﴾ په آیتو زموږ به
یې انکار کاوی چه دا د خدای څخه نه دی وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ او خامخا په تحقیق سره
راوړی دی موږ و دی کفارو ته بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ یو کتاب یعنی قرآن چه په تفصیل
سره بیان کړی دی موږ عقائد او احکام او مواعیظ او قصص عَلٰى عِلْمٍ په علم
کامل خپل سره په وجود د تفصیل هُدًى وَّرَحْمَةً په دی حال کښے چه رهنمائی ده او
مهربانی ده لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی هَلْ يَنْظُرُوْنَ ایا
انتظار کوی دا کفار یعنے په کوی و هیڅ شی ته اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ مگر مآل او عاقبت ددی کتاب
ته چه دا اخبارات دده لکه وعد او وعید او ثواب او عقاب رشتیا دی او که درواغ
دی يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ په هغه ورځ چه راشی عاقبت د کار او موعود ددی کتاب
چه قیامت دی يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ نو به وائی هغه کسان چه هیر کړی ئی وو دا کتاب
او مخ یې ځنی گرځولی وه مِنْ قَبْلُ مخکی تر دی په دنیا کښے قَدْ جَآءَتْ په تحقیق سره

راغلي وو ومونږ ته رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ استاذی د رب زمونږ په حق سره اومونږ نن ده
منلي اودا ډیره لویه ګناه د مونږ څخه شوی وه فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ نو آیا شته مونږ
لره اوس شفاعت کوونکي فَيَشْفَعُوْا لَنَآ چه دوی شفاعت وکړی زمونږ دپاره اَوْ نُرَدُّ یا بیرته
واستول شو مونږ ودنیا ته فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِیْ بیا به عمل وکړو مونږ غیر د هغه عمل څخه
كُنَّا نَعْمَلُ ؕ چه وو مونږ په دنیا کښې چه کول به مو هغه عملونه چه بیا تکذیب او شرك
پرېږدو او تصدیق او توحید به اختیار کړو قَدْ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ په تحقیق سره زیان
رسولے دی دوی وځان خپلو ته وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورك سے د دوی څخه مَّا كَانُوْا هغه
ع ۶ ۱۳ چه وو دوی يَفْتَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ چه درواغ به یې ویل چه دا بتان زمونږ شفاعتګردی اِنَّ
رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ بیشکه چه رب ستاسے چه دی هغه خدای دی خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
چه پیدا کړی یې دی اسمانونه او مځکه فِیْ سِتَّةِ اَيَّامٍ په مقدار د شپږو ورځو او
شپو کښې مځکه چه هغه وخت لا شپه او ورځ نه وه یا مراد د ایام څخه ایام د اخرت دي
چه هره ورځ یې زر کاله د دنیا کیږی لیکن اول قول اصح دی ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ۟
بیا مستولے سو پر عرش یعنی جاری کوونکی د حکم او د قضا او د تصرف خپل سو پر عرش
او په درست محاط د ده کښې یا بیا یې قصد وکړی د پیدا کولو د عرش فائده منقول
دی د امام جعفر صادق او د حسن بصری او د امام اعظم او د امام مالك چه استوا
یې معلومه ده او کیفیت یې مجهول دی او ایمان پر واجب دی او انکار ځني کول کفر
دی او سوال ځنې کول بدعت دی يُغْشِی الَّيْلَ النَّهَارَ پټوی دی په تاریکی د شپې
سره رڼا د ورځې او همدا سے په رڼا د ورځې سره تیاره د شپې يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا ۙ
لټوی هر یو د دوی څخه هغه بل جلت ''زر'' بے فاصله یعنی متصل ورپسې راځي لکه
طالب وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ او پیدا کړیدی ده لمر او سپوږمی او ستوری
مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ؕ تابع کړه سوی دی تو له په فرمان د ده سره اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَاور ی
چه خاص هم ده لره دی پیدا کول د تمام عالم د ده څخه ماسیوا وَالْاَمْرُ ؕ او خاص

هم ده لره دی فرمان تَبٰرَكَ اللّٰهُ لوی دی خدای په وحدانیت دالوهیت خپل سره رَبُّ
الْعٰلَمِيْنَ ﴿۵۴﴾ چه رب د ټولو عالمیانو دی اُدْعُوْا رَبَّكُمْ بولے رب خپل هروخت تَضَرُّعًا
وَّخُفْيَةً ؕ په زاری او په پټه سره ځکه چه پټ دلیل دا خلاص دی اِنَّهٗ بیشکه دے
لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۵۵﴾ نه خوښوی د حد نه تیریدونکی په دعا کښے بلکه په هرڅه کښی یا
مراد غښتی رفع «پورته کول» د صوت ده یا مراد ډیراوږدول د دعا دی وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ
او فساد مه کوی په ځمکه کښی په کفر یا په ظلم سره بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وروسته تر آبادی
د دی په ایمان سره او په عدل سره وَادْعُوْهُ او بولے دی خَوْفًا وَّطَمَعًا ؕ د ویری د
عذاب او په طمع د ثواب اِنَّ رَحْمَتَ بیشکه چه رحمت د خدای چه دی قَرِيْبٌ مِّنَ
الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾ ډیر نژدی دی و نیکو کارانو ته وَهُوَ الَّذِيْ او دی هغه خدای دی يُرْسِلُ
الرِّيٰحَ چه رالیږلے یی دی څلور قسمه بادونه چه دبور، قبول، شمول او جنوب دی
بُشْرًا ۢ زیری کونکی بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ؕ په مخکښی د رحمت د ده یعنی مخکے تر راتلو د باران
حَتّٰٓى اِذَآ اَقَلَّتْ تر هغو پوری چه راواخلی دا بادونه سَحَابًا ثِقَالًا اوریځی درنی په اوبو
سره سُقْنٰهُ چه راکښو او بیایو موږ دا اوریځ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ دپاره د ژوندی کولو د
مړی ځمکے دیو کلی فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ نوراوه اوروو موږ په هغه مړه ځمکه او په ددے
اوریځی فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نوبیا را باسو موږ په دی او بو سره مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ د هر
قسم میوی څخه كَذٰلِكَ همدا شان لکه چه دا مړه ځمکه راژوندی کړه موږ په نبا تاتو
سره نُخْرِجُ الْمَوْتٰى ژوندی کوو موږ مړی او د قبرو څخه به یې راوباسو لَعَلَّكُمْ
تَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ بنایي چه تاسے په دی سره پند واخلی او د قیامت ژوندی کول پر
قیاس کړی وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ او ښه ځمکه خالی د تیږو او شګو څخه او لایق د کر
چه دی يَخْرُجُ نَبَاتُهٗ راوزی او نو غونډی شین ګیاوی او وابنه دده په آسانی
سره او ښایسته بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۚ په حکم د خدای د دغه بلد سره وَالَّذِيْ خَبُثَ او هغه ځمکه
چه ناپاکه خوره ناکه وی لَا يَخْرُجُ نه راوزی شین ګیاوی دده اِلَّا نَكِدًا ؕ مګر

لړ بې منفعته تمثیل زړه د مؤمن هغه متمینه ځمکه ده او د کافر زړه هغه ناپاکه
خوړه ناکه ځمکه ده او نصیحت او پند د قرآن باران دی چه وه اوریږی پر زړه
د مؤمن نو ښه خصال او اقوال او افعال او احوال ځنې صادر ږیږی او چه پر زړه
د کافر وه اوریږی نو د ا تخم د نصیحت پکښې خښا سے په سبب د ډیری خوړے
او د کار ښه ځنې نه صادر ږیږی كَذٰلِكَ همداسی لکه چه دا مثال موږ بیان کړی نُصَرِّفُ
الْاٰيٰتِ بیا نو موږ آیاتونه لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ (۵۸) د پاره د هغه قولی چه شکر گذاره ع ۵ ۱۴
دی د جهته د کفره او د عبرته په دی آیاتو چه هغه ځله د مؤمنا نو ده لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا
خامخا په تحقیق سره لیږلے وو موږ نوحؑ چه زوی وو د لمکؑ بن متوشلخ بن اخنوخ چه
نوم دی دادریسؑ اِلٰى قَوْمِهٖ و قوم خپل ته چه اکثرئے د اولاده ځنې د قابیل وو او بت
پرستی ئې کوله فَقَالَ نو وویل ده يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے قومه زما عبادت کوی
یوازی د خدای مَا لَكُمْ نشته تاسے لره مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط معبود هیڅوک بیله خدایه نو
تاسے هم بل څوك د ده سره مه شریکوی په عبادت کښې اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ بیشکه زه
یریږم پر تاسے عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ (۵۹) د نزوله د عذاب د هغې لوی ورځې چه ورځ
د طوفان یاد قیامت ده قَالَ الْمَلَاُ و ویل مشرانو مِنْ قَوْمِهٖۤ د قومه ځنې د ده اِنَّا
لَنَرٰىكَ بیشکه موږ خامخا وینو یا گڼو تا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ (۶۰) په ښکاره گمراهے کښې
چه موږ د پرو خدایا نو ځنې یو خدای ته بولے قَالَ يٰقَوْمِ و ویل نوحؑ چه
اے قومه زما لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ نشته په ما پوری گمراهے هیڅکله وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ
او لیکن زه استازی یم مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۶۱) د طرفه د پروردگار د تمام جهان اُبَلِّغُكُمْ
رِسٰلٰتِ رَبِّيْ چه رسوم و تاسے ته پیغامونه د رب خپل وَاَنْصَحُ لَكُمْ او نصیحت
کوم و تاسی ته محض د پاره د نفع ستاسے وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ او زه پوهیږم د خدایه
په هغه وحی سره چه راځی و ما ته مَا لَا تَعْلَمُوْنَ (۶۲) هغه چه تاسے نه پرې پوهیږے

ع لمکؑ په زور د لام او د میم سره او په سکون د کاف سره او دی زوی وو د متوشلخ په پیښ د میم او په زور د تا او د واو سره او په سکون د شین او په زیر د لام او جزم د خا سره ۱۲

هر کله چه قوم د نوح ؑ پخولنے ،،تخکینی،، عذاب د مکذبانو د انبیاؤ نه وواورید لے
ځکه چه پخواهیچیری نه وو واقع سوی او په وحے او په پیغام نه پوهید ل نو چه
لفظ د رسول ؑ یے واورید ی نو دیر تعجب یې وکړی ځکه دہ ورته و ویل اَوَعَجِبۡتُمۡ
ایا تعجب کوی تاسے اَنۡ جَآءَكُمۡ ددی څخه چه راغلے دی وتاسے ته ذِكۡرٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ
پیغام او وحے د طرفه د ربه ستاسے عَلٰی رَجُلٍ مِّنۡكُمۡ په ژبه دیو سړی له جنسه
ستاسے لِيُنۡذِرَكُمۡ د پاره ددی چه وویروی تاسے د عذابه په سبب د کفر او معصیت
وَلِتَتَّقُوۡا او بل د پاره ددی چه ځان وساتی تاسے د قهره او د غضبه د خدای وَلَعَلَّكُمۡ
تُرۡحَمُوۡنَ ﴿۶۳﴾ او بل ددی وجهی چه بنایې پر تاسے به رحم وکړه سے په سبب د پرهیز
کولو د شرك او معصیت څخه او بیا نوح ؑ نه نیم سوه کاله په دی دعوت کښے تیر کړه
اخری دا چه دوی دده دعوت نه کی قبول لکه چه وایې فَكَذَّبُوۡهُ نو د روا نجن و باے
دوی دی او دہ وخدای ته سوال وکړی چه رب لا تذر علی الارض من الکفرین
دیاراً نو پیغام ورته وسو چه کښتی سازه کړه زموږ په ښوونه سره بیا چه یے
جوړه کړه نو طوفان راغلے او دی د مؤمنانو سره پکښے سپور او دا مؤمنان
یو سل او شپیته تنه وو اتیا پکښی نارینه او اتیا ښځے وی یا نه تنه وه دری یې خپل
زامن وه چه سام او حام او یافث دی او شپږ تنه نور وه فَاَنۡجَيۡنٰهُ نو وساتی
موږ دی د غرقه څخه وَالَّذِيۡنَ مَعَهٗ او هغه کسان چه دده سره ملگری وه فِی الۡفُلۡكِ
په کښتی کښی وَاَغۡرَقۡنَا الَّذِيۡنَ او موږ غرق کړه په طوفان سره هغه کسان كَذَّبُوۡا
بِاٰيٰتِنَا ؕ چه تکذیب یې کاوی د ایاتو زموږ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا بے شکه چه دوی وه قَوۡمًا ع ۸ ۶
عَمِيۡنَ ﴿۶۴﴾ یوه ټولی چه ړانده وه د زړه په سترگو سره وَاِلٰی عَادٍ او لیږلی وو موږ ۱۵
وعادیانو ته اَخَاهُمۡ هُوۡدًا ؕ ورور د دوی یعنی یو د دوی څخه چه هود ؑ وه چه
زوی د عبد الله بن رباح بن خلود بن عاص بن ارم بن سام بن نوح ؑ قَالَ نو وویل
دہ يٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ اے قومه زما عبادت کوی یوازی د خدای مَا لَكُمۡ نسته

عہ یعنی ای زمار به مه پریږده په مځ د ځمکے د کافرانو د وسلے څخه یو کور یعنی څوک هلاک کړه ۱۲

تاسی لره مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط معبود هیڅوک بیله خدایه اوبتان مستحق دعبادت نه دے
اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۶۵﴾ ایا نو ځان نه ساتی تاسے د عذابه څخه د خدای قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ
وویل هغه مشرانو كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ چه کافران وو د قومه څخه دده فائدہ د
قومه څخه د هودؑ بعضو مشرانو ایمان راوړی وو ځکه یې دا الذین کفروا ورسره
راوړی او د قومه د نوحؑ یوه مشرهم ایمان نه وو راوړی نو ځکه یې هلته تش (خالی)
قال الملا وویلی وو اِنَّا لَنَرٰىكَ بیشکه چه موږ خامخا ګڼو تا سخ (نوتلی) فِيْ سَفَاهَةٍ
په بے عقلی کښے چه زموږ دین پریږدی او نوی دین اختیاروی وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ او بیشکه
چه موږ خامخا ګمان کوو پرتا مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۶۶﴾ یو له دروغجنو څخه قَالَ يٰقَوْمِ نو
وویل هودؑ چه اے زما قومه لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ نشته په ما کی بے عقلی او حماقت
وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ او لیکن زهٔ استاذی یم مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۷﴾ د طرفه څخه د پروردګار
د درست عالم اُبَلِّغُكُمْ چه زهٔ وتاسے ته رسوم رِسٰلٰتِ رَبِّيْ پیغامونه د خپل
رب وَاَنَا لَكُمْ او زهٔ چه یم وتاسی ته نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿۶۸﴾ نصیحت کونکی او امانت
ساتونکی یم بیله خیانته اَوَعَجِبْتُمْ ایا تعجب کوی تاسی اَنْ جَآءَكُمْ د دی څخه چه
راغلی دی تاسی ته ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ط پند د رب څخه ستاسے عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ
پر سړی یو د یو سړی ستاسی د جنسه څخه لِيُنْذِرَكُمْ ط د دی د پاره چه تاسی وه
بیروی د عذابه څخه د خدای وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ او یاد کړی هغه
چه کړی یې یاست تاسے خلیفګان او وسید ونکی په ځایو د دوی کښے د حضرموت
څخه بیا تر عمانه پورې مِنْ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وروسته تر قوم د نوحؑ یعنی وروسته
د غرقید و څخه د دوی وَّزَادَكُمْ او زیات کړی یې یاست تاسے دهٔ فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً
په پید اینبت کښے د جهته د قوته یا د قد او قامته چه لنډ سړی د دوی به شپیته
ګزه قد رکیدی او اوږد به یې سل ګزه وو فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ نو یاد کړے
نعمتونه د خدای پرتاسے باندی چه خلافت او اوږده قامتونه دی لَعَلَّكُمْ

تُفۡلِحُوۡنَ ﴿٦٩﴾ بنا یې چه تاسې خلاصې پیدا کړې قَالُوۡٓا نو ووېل عادیانو وهود ته
اَجِئۡتَنَا ایا ته راغلی یې وموږ ته لِنَعۡبُدَ اللّٰهَ وَحۡدَهٗ دپاره ددی چه مأموره
کړې موږ چه عبادت وکو یوازې دخدای وَنَذَرَ مَا او پرېږدو عبادت دهغه
چا کَانَ یَعۡبُدُ اٰبَآؤُنَا چه وو چه عبادت به یې کاوی دهغه پلرونو موږ
چه هغه بتان دی لو عبادت دبتانو خو موږ نه پرېږدو او ته چه موږ بیروی
دعذابه څخه فَاۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ نو راوړه وموږ ته هغه شی چه نه موږ په -
بیروی دعذابه څخه اِنۡ كُنۡتَ كه ته یې مِنَ الصّٰدِقِیۡنَ ﴿٧٠﴾ د رښتیا ویونکو څخه
په نازلیدو د عذاب کښې قَالَ نو وویل هود قَدۡ وَقَعَ عَلَیۡكُمۡ په تحقیق سره واجب یا واقع
سو پر تاسې مِّنۡ رَّبِّكُمۡ د جانبه څخه د رب ستاسې رِجۡسٌ وَّغَضَبٌ عذاب او قهر -
اَتُجَادِلُوۡنَنِیۡ ایا تاسې جګړه کوی د ماسره فِیۡۤ اَسۡمَآءٍ په هغو شیانو کښې چه تش
نومونه دی بیله مسمی چه هغه بتان دی څکه چه تاسې دوی الهه «معبودان» بولی
او په دوی کښې معنی د اُلوهیت نشته او بل دا چه هر یوه ددی بتانو ته تاسې بیل
بیل تصرفات پیدا کړی دی څکه یې په ساقیه او په حافظه او په رازقه او په
سالمه سره بولې په دی ګمان سره چه د استاسې باران او ساتنه په سفر کښې
او روزی او سلامتی د ا فالو څخه ددوی دی او سره ددی چه دا یو هم
پردی قادر نه دی لو خود خالی «تش» نومونه دی بیله مسمیا تو سَمَّیۡتُمُوۡهَاۤ
چه هغه نومونه هم تاسې پرا یښې دی اَنۡتُمۡ وَاٰبَآؤُكُمۡ بعضی تاسې پخپله پرایښې
دی او بعضی پلرو ستاسې مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا نه دی رالیږلې خدای په جواز د
عبادت د دوی سره مِنۡ سُلۡطٰنٍ هیڅ حجت او دلیل او هر کله چه تاسې د حق تر
بنکاره کیدو وروسته لا هم په هغه شان په عنادکې د وب رو ان یاست
فَانۡتَظِرُوۡۤا نو منتظره اوسی دعذاب ونزول ته اِنِّیۡ مَعَكُمۡ بیشکه زه هم د تاسې
زنسره زه منتظرانو څخه یم روایت دی چه عادیانو به عبادت د بتانو کاوی او
مِّنَ الۡمُنۡتَظِرِیۡنَ ﴿٧١﴾

ربُّ العزت هوډ ورته راولیږی او دوی ونه مانی نو دری کاله باران پرېند سو او قحطی چه پرخفه کړه او عادت دهغو خلګو دا وو هم د مسلمانانو او هم د کافرانو چه هرکله به سختی پر راغله نو هغه ځای ته به راغلل چه اوس بیته شریفه پکښی ده او د لته د سر شکو یوه ځای وو چه هلته به یې سوال وکړی نو هغه سختې به لیری سوه نو دوی هم یو د رې سرکرده ګان چه قیل بن عنتر او نعیم بن هزال او مرثد بن سعد چه دی پکښیؔ مسلمان وو دادری سره یې داویا تنو مشرانو سره ورولیږل او په هغه وخت کښی هلته حاکم معاویه نومی یو سړی وو چه د دوی خوریې کیدی نو دوی به یې د پر عزت او مهمانی کوله او په دی کښی یوه میاشت تیره شوه او معاویه پوه سو چه ددوی هغه مطلب هیرسویدی د ډیره عیشه او شرمه ځخه او ده هم مطلب نه سو ور یادولای نو ده د دوی لچنی وے چه یوه ورده اوبله جراده نومیده . وهغو ته یې وویل چه تاسے په وخت د رقص کښے خفګان او اضطراب د خپل قوم وریادکړی نو دوی د رقص په منځ کښے دا دوه بیتونه ور ته وویل .

الا یا قیل ویحک قم فهینم	لعل الله یسقینا عمّا ما
ویسقی ارض عادٍ انّ عادًا	قد امسوا مایبینون الکلاما

حاصل یې دادی چه اے قیله وَلاړسه سوال وکړه داوبو چه عادیان دی هلته د تندی ځخه مړه سوه نو حادثه ور په یاد سوه بیا چه وسوال ته وَلاړ سو نو مرثد ورته وویل چه تاسے پر خپل پیغمبر باندی ایمان نه دی راوړی نو هیڅکله به باران در باندی ونه سی نو دی یې دځانه سره نه پر یښووی او قیل راغلی نو سوال یې وکړی چه اللّٰهمّ عه اسق عادًا ماکنت تسقیهم نو دری قسمه اوریځ راپیدا سوه سپینه اوسره او توره بیا آواز وسو د اسمانه ځخه چه اے قیله یو قسم اوریځ په دی درو کښے غوره کړه نو ده توره غوره کړه چه

عه یعنی ای خدایه باران وکړی پر عادیانو لکه چه اول «مخکې» دی باران پر کاوی ۱۲ عبدالواحد

په هغه کښې او به ډیرې وې نو دا توره وریځ اوربخي غله د عاد یانو سره ته او دوی ډیر په
خوشحاله سوه ناګاه سخت باد پر را والوتے او اوه شپے او اته ورځې متصل پر
وچلیدی نو دوی ټول په هلاك سوه او هود د مؤمنانو سره په امان پاته سول
لکه چه وایې فَاَنۡجَیۡنٰهُ نو وه ساتی موږ هود وَالَّذِیۡنَ مَعَهٗ او هغه کسان هم
چه دده سره شریکان وو په دین کښې بِرَحۡمَةٍ مِّنَّا په هغه رحمت سره چه زموږ
د طرفه څخه وو پر دوی باندی وَقَطَعۡنَا او پریکړی موږ دَابِرَ الَّذِیۡنَ بنیاد د هغو
خلګو کَذَّبُوۡا بِاٰیٰتِنَا چه تکذیب یې کاوی د نښو «علامو» د قدرت زموږ وَمَا کَانُوۡا
مُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۷۲﴾ او نه وو دوی ایمان راوړونکی په وحدت د خدای او په رسالت د
رسول وَاِلٰی ثَمُوۡدَ او موږ لیږلے وو قبیلی د ثمود ته چه عرب وو او په نامه
د خپل نیکه بلل کیده چه هغه ثمود بن عابر بن ارم بن سام بن نوح وو او دوے
بت پرستے کوله نو پروردګار ورلره را ولیږی اَخَاهُمۡ صٰلِحًا م نسبی ورور چه
صالح دی چه زوی د عبید بن آسف بن ماسح بن عبید بن حاذر بن ثمود قَالَ
وویل صالح یٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ ای زما قومه عبادت کوی یوازی د خدای مَا
لَکُمۡ نسته تاسے لره مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ ط معبود هیڅوك بیله ده او نبات لائق د
عبادت نه دی قَدۡ جَآءَتۡکُمۡ بَیِّنَةٌ مِّنۡ رَّبِّکُمۡ ثبت دی چه هر کله صالح و دوی ته دعوت وکی نو دوی
یې تکذیب وکړی د جهته د غرور په ډیر قوت او مال او سړو او په لویو قدونو
خپلو او هلته یوه تیږه پرته وه چه نوم یې کاتبه وه د بناره څخه لیری وه نو
یو مشر د دوی چه نوم یې جندع بن عمرو وو هغه وویل چه که ددی تیږے
څخه یوه اوښه بختۍ رنګه لویه بېږه گیډه وریځ بلارېه راوباسی نو موږ پر تا باندی
ایمان راوړو نو ده دعا وکړه رکعاته لمونځ وکړی او و خدای ته یې سوال وکړی نو دا
تیږه سره و ښوریده او د لنګتوب په شان یې ناری وکړی او وچاودیده او هم
هغسے اوښه څنی راووته لکه دوی چه غوښتی وه پیادی او بچے فی الحال ناری

کړے او بچي ځنے پیدا سو دوی په قد رغټ وو نو هغه جندع د خپلو تابعانو سره ایمان
راوړی او بل چا «نږو» نه راوړی بیا به دا اوښه ډیچې سره ګرځیده وني او درختي به
ئې خوړلے او اوبه به یې پسی څښلی مګر سر به یې د کوهے «ځا» ځنه نه راپورته
کاوی چه ترڅو به یې دا اوبه ټولی تمامے کړی نه وای او تر او بو څښلو وروسته
به یې پښی سره وکښی «لیری کړی» او وبه د ریدله او هر چا به لوښله تر څو چه به
ټولو ځانونه په پوره کړه او لوښے به یې هم ټول په ډک کړه د بلے ورځی دپاره او په
دو بی کښے به سوری «سایه» دی ونیوله او دوی ښاروی «سپوږ» به ټوله وملرته
وتښتیدل او په ژمے کښی به لمر ځیکی دی ونیوی او دوی پسونه وسایه ته وه نو
دا کار پردوی ډیر سخت سو نو دا یې حلاله کړه او غوښه یې سره وه ویشلی او بچې
یې ځنے د تیږی وخواته وځغستل او صالح ورته وویل چه په بچی پسی یې ورسی
که لاس ته درغلے ګوندی عذاب در ځنه دفع سے او دا یې ځکه ورته وویل چه
دوی پردی حلا لو لو پښیمانه سوه نو هر کله چه دوی ورو رسیدل هغه وهغه
پخوانی تیږی ته ورغلی او دری ناری یې وکړی نو هغه تیږه وچاودیدل او دے
په ننوتے او دوی ترهغه وروسته دری ورځی پاته سول چه په اوله ورځ یې
مخان ژیړ سوه او په دوهمه ورځ سره سوه او په دریمه ورځ تور سوه او په څلرمه
ورځ د اسمانه ځنه یوه چغه پر وسوه نو ټول ړونه یې وچاودل او ټول هلاک سوه
لکه چه وایي قَدْ جَآءَتْكُمْ په تحقیق سره راغلے ده وتاسے ته بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ط
ښکاره معجزه د رب ځنه ستاسے چه دلالت کوی پر کمال د قدرت دده او په صحت
د رسالت زما چه هغه داده هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ دا د تیږے ځنه راوتلی اوښه
د خدای ده ځکه چه د تیږی ځنه یې بی سببه راایستلی ده لَكُمْ اٰيَةً چه تاسے ته
دلیل دی پر پیغمبری زما فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ نو تاسے دا اوښه پریږدی چه دا شنه
وابنه وخوری فِیْٓ اَرْضِ اللّٰهِ په ځمکه کښے د خدای وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ او مه

ورو ړی لاس ودی ته په نیت د بدی سره فَيَأْخُذَكُمْ نو وبه نیسی تاسے یعنی درباندی
رابه سی عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ عذاب دردناکه وَاذْكُرُوٓا او یاد کړی دا نعمت د خدای إِذْ
جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ هغه چه تاسے یی خلیفگان په ځکه کښے (کاست) مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وروسته تر
هلاکیدو د عاد یانو وَبَوَّأَكُمْ فِى الْأَرْضِ او ځای دا وسید ویے درکړی دی وتاسی
ته په ځکه د حجر کښے تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا چه نیسی یعنی جوړوی تاسے د نرمو او هوارو
ځایو څخه د دی ځکی قُصُورًا جگی بنگلی د دوبے د پاره چه ځ باد پکښے چلیږی وَتَنْحِتُونَ
الْجِبَالَ بُيُوتًا ۖ او کنی (تراشی) غرونه او کوټے پکښی جوړوی گرمے د ژمے د پاره فَاذْكُرُوٓا
ءَالَآءَ اللَّهِ نو یاد کړی دا نعمتونه د خدای چه په هواره کښے یی د بنگلو او په غرو کښے یے
د کند و قوت د رکړی دی وَلَا تَعْثَوْا فِى الْأَرْضِ او خرابے مه اختیا روی په ځکه کښے
د حجر مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾ په دا سے حال کښے چه اراده کونکی د فساد یاست بیا د وی د صالح
د جواب څخه څنګ وکړی او ونور و مؤمنانو ته یے ځ وروا ړمی تکه چه وایی قَالَ
الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا وویل هغو مشرانو چه کبرجن او سرکښه وه مِن قَوْمِهِۦ د قوم
څخه د صالح ؑ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا او هغو کسانو ته چه ضعیفان گڼل سوی وو لِمَنْ
ءَامَنَ مِنْهُمْ و هغه چاته چه ایمان یے راوړی وو د دی ضعیفانو څخه أَتَعْلَمُونَ
أَنَّ صَالِحًا ایا تاسے پوهیږے چه صالح چه دی مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦ ط رالیږل سوی د ے
د طرفه څخه د ربه چپله او دا یے د مسخرو پر طریقه وویل قَالُوٓا نو وویل د ی ضعیفانو
إِنَّا بِمَآ بیشکه چه موږ پر هغه شے أُرْسِلَ بِهِۦ چه دی رالیږل سوی دی په هغه شی
سره چه توحید او عبادت د خدای دی مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ ایمان راوړونکی یو قَالَ الَّذِينَ
اسْتَكْبَرُوٓا بیا هغو کسانو وویل چه سرکښه وو د ایمان راوړلو څخه پر خدای او پر
پیغمبر د ده إِنَّا بِالَّذِىٓ بیشکه موږ پر هغه شے ءَامَنتُم بِهِۦ چه تاسے پر هغه ایمان
راوړی دی كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ منکران یو فَعَقَرُوا النَّاقَةَ نو حلاله یے کړه هغه اوښه
او حلالونکی یے قذار بن سالف نومے یو سړی وه د ټولو په رضا (خوښه) سره وَعَتَوْا

اوس کښتې یې وکړه عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ د فرمانه څخه د رب خپل چه ورته ویلې یې وه
ولا تمسوها بسوٓءٍ وَقَالُوْا وویل دوی د مسخرو څخه یٰصٰلِحُ ائْتِنَا اے صالحه راوړه
وموږ ته بِمَا تَعِدُنَآ هغه شے چه د موږ سره یې وعده کوی چه راته ویلې دی مې
چه فیأخذکم عذاب الیم اوس هغه عذاب راوله اِنْ كُنْتَ که تې یې مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۷۷
د استازو څخه په حقه سره فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ نو دوی ونیوله زلزلې وروسته
تر اوریدلو د یوی لوی چغې فَاَصْبَحُوْا نو دوی سوله فِيْ دَارِهِمْ په مینه خپله کښې
جٰثِمِيْنَ ۷۸ قرار پراته بے حرکته بے تکلمه یعنے مړه وچ کلک فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ نو
مخ یې وګرزاوی د دوی څخه اوولاړی څنې په هغه وخت کښې چه اوښه یې حلاله
کړه او د عذاب دروازه یې پرانستل خلاصه کړه وَقَالَ يٰقَوْمِ او ووی ویل چه
اے زما قومه لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ قسم دی چه په تحقیق سره ما ورساوی و تاسے ته
رِسَالَةَ رَبِّيْ پیغام د خپل رب وَنَصَحْتُ لَكُمْ او ډیر نصیحت می درته وکړے
وَلٰكِنْ لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ ۷۹ او لیکن تاسے نصیحت کونکی نه خوښوی وَلُوْطًا
او یاد کړه اے پیغمبره و دوی ته قصه د لوط اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ چه ده وویل
و خپل قوم ته چه په بنار د سدوم کښې وه اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ آیا تاسے دا بدکار
کوی چه لواطت دی یعنے دا کار مه کوی مَا سَبَقَكُمْ بِهَا چه نه دی مخکی سوی پر
تاسے باندی په دے بدکار کولو سره مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۸۰ هیڅوک د ټولو خلګو
څخه اِنَّكُمْ بیشکه تاسے چه یاست لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ خامخا راځئ و سړیانو ته تاسے
شَهْوَةً دپاره د اشتها د لواطت مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ط بیله ښځو چه هغه و تاسے ته
حلالی دی نو تاسے د حق پر لار برابر نه یاست بَلْ اَنْتُمْ بلکه یاست تاسی قَوْمٌ
مُّسْرِفُوْنَ ۸۱ یو ټولی اسراف کونکی یاست په هر څه کښې وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ
او نه وو جواب د قوم دده په مقابله دده کښې اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا مګر دا وو چه وویل
بعضو خلګو د دی قوم د سدوم و بعضو ته اَخْرِجُوْهُمْ چه دوی وباسی یعنی

وشړی لوط ؑ دخپله عیاله سره اومؤمنان یې هم مِّنۡ قَرۡیَتِکُمۡ ج د دې خپل کلي څخه
چه سدوم دی اِنَّهُمۡ بیشکه دوی چه دي اُنَاسٌ یَّتَطَهَّرُوۡنَ ﴿۸۲﴾ داسې سړي دي
چه ځان پاک ساتي د دوا حشو څخه یعنې په دې عمل کښې د موږ سره ځان نه ګډوي
اوهرکله چه دوی ایمان رانه وړی او ددې بدکاره څخه هم بند نه سول نو عذاب
پرنازل سو لکه چه وایې فَاَنۡجَیۡنٰهُ وَاَهۡلَهٗۤ نو موږ خلاص کړی دی او عیال دده اِلَّا
امۡرَاَتَهٗ ۖ صلے مګر ښځه دده چه واعله نومیده اودا پته کافره وه کَانَتۡ مِنَ الۡغٰبِرِیۡنَ ﴿۸۳﴾
چه داوه دپاته کید ونکو سره یوازی په باطن کښې یا په ظاهر او باطن دواړو کښې وَاَمۡطَرۡنَا
عَلَیۡهِمۡ اوراوه اوراوی موږ پردی سد ومیالو باندی مَّطَرًا ط یو عجیبه قسم باران
چه ډبری د ګوګرد اورسره ګډې پراورېدلی فَانۡظُرۡ کَیۡفَ کَانَ نو وګوره چه څرنګه ۱۰
وو عَاقِبَةُ الۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۸۴﴾ ع آخره خاتمه دکافرانو وَاِلٰی مَدۡیَنَ اوراليږلی وو موږ ع ۱۲ ۱۷
واولاد دمدین ته چه زوی دابراهیم ؑ وو اَخَاهُمۡ شُعَیۡبًا ط ورورد دوی یعنې
یو د دوی چه شعیب ؑ وو چه زوی د مکیل بن یسخر بن مدین وو قَالَ یٰقَوۡمِ دده
وویل چه اې زما قومه اعۡبُدُوا اللّٰهَ یوازی دخدای عبادت کوی مَا لَکُمۡ نسته
تاسې لره مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرُهٗ ط هیڅوک معبود بیله ده څخه قَدۡ جَآءَتۡکُمۡ په تحقیق سره
راغلې ده وتاسې ته بَیِّنَةٌ مِّنۡ رَّبِّکُمۡ ښکاره معجزه اګرکه ذکر سوی نه ده په
قرآن کښې د جانبه درب ستاسې فَاَوۡفُوا الۡکَیۡلَ نو پوره ورکوی پیمانه وخلکو ته
وَالۡمِیۡزَانَ او تله هم یعنې هغه شیان چه تَلَل کوی یا پیمانه کوی پې وَلَا تَبۡخَسُوا
النَّاسَ او کم مه ورکوی وخلکو ته اَشۡیَآءَهُمۡ شیان ددوی او په وخت کې د
خرید اوفروخت خیانت مه کوی وَلَا تُفۡسِدُوۡا فِی الۡاَرۡضِ او فساد مه کوی په
مځکه کښې په کفراو خیانت سره بَعۡدَ اِصۡلَاحِهَا ط وروسته تر اصلاح کید ودې
په راليږلو د پیغمبرانو او دکتابو سره ذٰلِکُمۡ دا کار چه دی خَیۡرٌ لَّکُمۡ ډیر غوره «بهتره»
دی وتاسې ته اِنۡ کُنۡتُمۡ که تاسې یاست مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴿۸۵﴾ ایمان راوړونکی او دوی لکه

چه په پیمانه کښې خیانت کاوی او هم داسې به یې لاری وهلې نوځکه وایي وَلَا تَقْعُدُوْا
اومه کښینئ بِكُلِّ صِرَاطٍ پر هره لاره د پاره د خلګو د شکولو تُوْعِدُوْنَ چه بیره تیروی
پر لاروپانو باندی وَتَصُدُّوْنَ او اړوی عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ د لاری ځخه د خدای مَنْ
اٰمَنَ بِهٖ هغه څوك چه ایمان یې راوړی وی پر خدای او دوی به همیشه داسې کوله
چه هر څوك چه به شعیب ؑ ته راتلې هغه به دوی منع اړاوی وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ج
او لټوی دوی د خدای لاری ته کوږ والې یعنې وخلګو ته وایي چه دا لاره کږه او
خرابه ده نو تاسې کول پردی لار پکار نه دی وَاذْكُرُوْٓا او یاد کړی دا احسان د خدای
پر تاسې باندی اِذْ كُنْتُمْ قَلِیْلًا هغه چه تاسې لږ واست فَكَثَّرَكُمْ نو بیایي ډیر
کړلاست وَانْظُرُوْا او وګوری كَیْفَ كَانَ چه څرنګه وه عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِیْنَ ﴿۸۶﴾
اٰخره خاتمه د فساد کونکو لکه قوم د نوح ؑ او د هود ؑ او د صالح ؑ او د لوط ؑ وَاِنْ
كَانَ او که وه طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ یوه ډله د تاسې ځخه اٰمَنُوْا بِالَّذِیْٓ چه ایمان یې
راوړی وی پر هغه دین اُرْسِلْتُ بِهٖ چه رالیږل سوی یم زه په هغه دین سره
وَطَآئِفَةٌ لَّمْ یُؤْمِنُوْا او بله ډله وه د عناد کونکو ځخه چه ایمان یې نه وو راوړی
فَاصْبِرُوْا نو صبر کوی اے مؤمنانو پر ایذاء «ضرر رسولو» د عناد کونکو و تاسې ته حَتّٰی یَحْكُمَ
اللّٰهُ تر هغو چه حکم وکړی خدای بَیْنَنَا ج په مابین کښې زموږ د دواړو طائفو «ډلو»
وَهُوَ او دی چه دی خَیْرُ الْحٰكِمِیْنَ ﴿۸۷﴾ بهتره د ټولو حکم کونکو دی

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِیْنَ اسْتَكْبَرُوْا وویل هغو مشرانو چه د خدای د عبادت ځخه
یې سرکشی کوله مِنْ قَوْمِهٖ د قومه د شعیب ځخه لَنُخْرِجَنَّكَ یٰشُعَیْبُ خامخا به وباسو
تا اے شعیب ؑ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او هغه کسان هم چه ایمان یې راوړیدی مَعَكَ د
تا سره مِنْ قَرْیَتِنَآ د خپل کلی ځخه اَوْ لَتَعُوْدُنَّ یا به خامخا بیرته راګرزی تاسې فِیْ
مِلَّتِنَا ط په دین زموږ کښې چه کفر دی او و شعیب ؑ ته نسبت د عود تغلیبًا دی ځکه
چه دی خو اول هم پاك وو د شرك او کفر ځخه قَالَ نو وویل شعیب ؑ اَوَلَوْ كُنَّا اَیَا

که څه هم یو موږ کَرِهِيْنَ ﴿۸۸﴾ ناخوښه نو هم به تاسې موږ بیرته ګرځوی نو کفارو
ورته وویل چه هو بیا شعیب علیه السلام ورته وویل چه خدای لره خو شریک نشته
او که پر طریقه د فرض د محال سره موږ وواپو چه سته قَدِ افْتَرَيْنَا نو په تحقیق
سره چه د خپله ځانه به موږ تړلې وی عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا د رواغ پر خدای په ناحقه
سره اِنْ عُدْنَا که بیرته موږ وګرزو یعنې دا مؤمنان چه د ماسره دی چه ایمانه
څخه لاس واخلې او بیا داخل سې او ننوزی فِيْ مِلَّتِكُمْ په دین ستاسې کښې بَعْدَ
اِذْ وروسته تر هغه نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا چه خلاص کړی یو موږ خدای د دی دینه
څخه ستاسی وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ او نه ده مناسب او روا و موږ ته اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ دا چه
بیرته وګرزو او ننوزو به دی ملت د کفر کښې اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ مګر که اراده وکړه
د راګرزیدو زموږ خدای رَبُّنَا چه رب زموږ دی نو د هغه د حکم څخه خلاصون
نشته وَسِعَ رَبُّنَا رسید لی دی رب زموږ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا وهر شی ته د جهته د علم
یعنې علم دده محیط دی پر هر شی او موږ ددی د نکو را پے کشانو ،، ستنا سې څخه نه بیریږو
ځکه چه عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا خاص پر خدای باندی توکل کړی دی موږ بیا شعیب پر
طریقه د سوال وویل رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا اے ربه زموږ حکم وکړه په مابین کښې
زموږ وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ او په مابین کی د قوم زموږ په حقه سره وَاَنْتَ خَيْرُ
الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾ او ته بهتریې د تولو حکم کونکو وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ او وویل هغه
اشرافو د قبیلې كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ چه کافران وه دده د قومه څخه و مؤمنانو ته چه
لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا که متابعت وکړی تاسې د شعیب په دین کښې او خپل زوړ
دین د پلرو ستاسې مو پریښووی اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۹۰﴾ نو بیشکه تاسې به د غه
وخت کښې د زیانکارانو څخه یاست چه زوړ دین به پریږدی او نوی دین به اختیار
بیا هر کله چه په دیر نصیحت سره هم بند نه سول د کفرا و د خیانت څخه نو عذاب
پر راغلی لکه چه وایي فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ نو ونیول دوی زلزلې او جبرائیل

هم چیغه پروکړه فَاَصْبَحُوْا نو سول تول ه فِیْ دَارِهِمْ جٰثِمِیْنَ ﴿۹۱﴾ په مینو (کورو)
خپلو کښې قرار پراته بیله حرکته بیله تکلمه یعنې مړه وچ کلک اَلَّذِیْنَ كَذَّبُوْا شُعَیْبًا
هغه کسان چه تکذیب یې کړی وو د شعیبؑ دا سے هلاك او ورك سول تول ه چه
كَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا فِیْهَا ۚ گویا که دسره نه وه اوسیدلے په دغو کورو کښې اَلَّذِیْنَ كَذَّبُوْا
شُعَیْبًا بیا هغه کسان چه درواغجن یې بللی دی شعیبؑ كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۹۲﴾
وو دوی هم دوی زیانکاران په دنیا او په آخرت کښې چه دلته مردار سول او
هلته په نار سول او هر کله چه شعیبؑ د عذاب نبني ولیدی نو اراده د وتلو
یې وکړه لکه چه وایي فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ نو مخ یې وګرځاوی د دوی څخه وَقَالَ یٰقَوْمِ او
وې ویل چه ای قومه زما لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ قسم دی چه په تحقیق سره ور رسول ما
وتاسی ته رِسٰلٰتِ رَبِّیْ پیغامونه د رب خپل وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ او نصیحت می درته
وکړی فَكَیْفَ اٰسٰى نو او س څرنګه غمجن سم او ارمان وکړم عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِیْنَ ﴿۹۳﴾
په هلاکید لو د هغه قوم چه کافران وه هر کله چه د اقصې د هلاکید و د تیرامتو
بیان سوی د یاره د عبرت نو اوس رب العزت پر طریقه د عموم سره وقریشو ته
وایي وَمَاۤ اَرْسَلْنَا او نه وو رالیږلے موږ فِیْ قَرْیَةٍ په هیڅ کلی او ښار کښې
مِّنْ نَّبِیٍّ هیڅ پیغمبر چه دوی نه دی منلی اِلَّاۤ اَخَذْنَاۤ اَهْلَهَا مگر چه نیولی دي
موږ اهل د دی کلی یا ښار بِالْبَاْسَآءِ په سختیوا وتنگیو سره وَالضَّرَّآءِ او په
زحمتو او رنځو سره لَعَلَّهُمْ یَضَّرَّعُوْنَ ﴿۹۴﴾ ښایي چه دوی زاری وکړي او ښلو اخلی
او خپل پیغمبر و مني او هر کله چه په دی سختیو سره سم نه سوه نو راحت
می پر را وستی چه که په دی سره سم سی لکه چه وایي ثُمَّ بَدَّلْنَا بیا بدل کړه
موږ مَكَانَ السَّیِّئَةِ الْحَسَنَةَ پر ځای د بلا او د مرض او د شدت کښې سلامتي
او صحت او راحت حَتّٰى عَفَوْا تر هغو چه ډیر یې سو هم مال او هم یې رجال
نو کفر یې وکړي وَّقَالُوْا او وی ویل چه دا د زمانې عادت دی چه څوك پورته کوی

او څوك كښته كوی او د اېكفر او ایمان پوری نه دی او دی ته نه گوری چه قَدْ مَسَّ
په تحقیق سره رسید لی دی اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وپلرو زموږ ته هم سختی څواردی
وَالسَّرَّآءُ او خوشحالی نو بیا هر کله چه په کفر او په کفران کی لاو رسی کلك سره
فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً نو ونیول موږ دوی ناڅاپه او نا خبره وَّ هُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۹۵﴾
او دوی نه پوهیدل په دی چه پرموږ به عذاب راسی وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى او
كه خلگو ددی کلوچه موږ پیغمبران ورلیږلی وه یا خلك د مکی او د شاو خوا
کلو اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا ایمان یی راوړی وای پرځای دکفر او ځان یی د مخالفته څخه
دخپل پیغمبر ساتلی وای لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ نو خامخا به موږ خلاصی کړی وای پر
دوی باندی بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ دروازی د برکتو د طرفه څخه د اسمان د باران په
اورولو سره وَالْاَرْضِ او د ځمکی د طرفه څخه په شنه کیدلو سره د غلو او میوو
وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا او لیکن تکذیب اختیار کړی دوی زموږ د رسولانو فَاَخَذْنٰهُمْ نو
موږ ونیول دوی بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۶﴾ په سبب ددی چه د کفر کسب یی کاوی
او دگناهو اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى ایا نو په امان او بی غمه دی د اهل ددی
مکی او شاو خوا کلو وروسته تر هلاکولو ددی دومره خلگو اَنْ يَّاْتِيَهُمْ
بَاْسُنَا بَيَاتًا ددی څخه چه راسی دوی لره زموږ عذاب د شپی وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۹۷﴾
او حال دا چه دوی بیده وی په خوب اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى او که په امان
او بی غمه دی اهل ددی کلو اَنْ يَّاْتِيَهُمْ ددی څخه چه راشی دوی لره بَاْسُنَا ضُحًى
عذاب زموږ د څاښت پروخت وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۸﴾ او حال دا چه دوی په لوبو اخته
وی اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ ایا نو په امان سره دا اهل د تکذیب د ناڅاپه نیولو څخه
د خدای فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ نو نه په امان کیږی د ناگاه (نا بره) نیولو څخه د
خدای اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾ مگر ټولی د زیانکارانو په کفر او په نفاق سره
اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ ایا نه دی بیان کړی خدای هغو کسانو ته يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ چه

په میراث وړی ځمکه یعنې چه اوسی په دی ځمکه کښې مِنْۢ بَعْدِ اَهْلِهَآ وروسته
تر هلاکه داهل دهغې ځمکې اَنْ لَّوْ نَشَآءُ ددی چه که اراده وسی زموږ -
اَصَبْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ ج نو به ونیسو دوی په جزا دگناهو خپلو یعنې دوی به هم
یخوانوخلګو په شان هلاك کړو وَنَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ او مهر به ووهو پر
زړو ددوی فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ نو بیا به دوی نه اوری په سمع دفهم او دعبرت
سره تِلْكَ الْقُرٰى دا کلی او ښارونه ددی بیان سوو امتوچه دی لکه احقاف او حجر
او مؤتفکات یا دا سے نور نَقُصُّ عَلَيْكَ بیا نوو ئے اووایو یې وتاته موږ مِنْ اَنْۢبَآئِهَا ج
د بعضې اخبار وڅخه دهغو وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ او خامخا په تحقیق سره راغلے وه ودوی
ته رُسُلُهُمْ پیغمبران ددوی لکه نوح، هود، صالح، لوط، شعیب علیهم السلام بِالْبَيِّنٰتِ ج
په ښکاره معجزوسره فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا نو نه وه دوی داسے چه ایمان یې راوړی
وای بِمَا كَذَّبُوْا پر هغه شے چه دروا غجن یې باله مِنْ قَبْلُ ط ځکې تر راتلو د رسولانو
بلکه هم هغسې پر خپل کفر کلك ولاړ وه كَذٰلِكَ په مثل دمهر د دی مذکورینو "ذکر
سوو" يَطْبَعُ اللّٰهُ مهر وهے خدای عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۱﴾ پر زړو دکافرانو وَمَا
وَجَدْنَا او نه ده پیدا کړی موږ لِاَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ ج د زیاتو ددوی څخه وفا
پر عهد "وعده" چه په ورځ د میثاق یې کړی وه د موږ سره یا هغه عهد چه په وخت
د نازلید لو دعذاب به یې ویل چه لَئِنْ اَنجیتنا من هٰذه لنكونن من الشّٰكرين وَ
اِنْ او بیشکه شان دادی او دا ان مخفف دی د مثقله څخه وَجَدْنَآ اَكْثَرَهُمْ چه
موندلی "پیدا کړی" دی موږ زیات ددوی لَفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ خامخا فاسقان یعنې ماتونکی د
عهد ثُمَّ بَعَثْنَا بیا را وه لیږی موږ مِنْۢ بَعْدِهِمْ وروسته تر دی تیرو پیغمبرانو
مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ موسے د نو معجزوسره زموږ اِلٰى فِرْعَوْنَ و فرعون ته د مصر چه
نوم یې قابوس یا ولید بن معصب بن ریان وو او فرعون یې لقب وو وَمَلَا۟ئِهٖ او

ع یعنې ای خدایه که تا خلاص کړو موږ ددی عذاب څخه چه نازل سوی دی پر موږ باندې نو ضرور به موږ سو
وشکر کوونکي د نعمتو ستا یعنې مؤمنان به سو ۱۲

اکابرو د قوم د ده ته فَظَلَمُوْا بِهَا نو ظلم ئے وکړی پر هغو آیتو باندی یعنے په
کافران سو فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ نو وګوره چه څرنګه وه ددی انکاره وروسته ـ
عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٠٣﴾ اخره خاتمه د فساد کونکو چه اویا لکهه لښکر یې یوه
وار غرق سو په دریاب کښے وَقَالَ مُوْسٰى او ویل موسیٰؑ يٰفِرْعَوْنُ اے فرعونه
اِنِّیْ رَسُوْلٌ بیشکه زه استاذی یم مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠٤﴾ د طرفه د پروردګار
د تمام جهان وتا ته او قوم ستا ته بیا فرعون ورته وویل چه درواغ وایے څکه
ده ورته وویل چه حَقِيْقٌ زه لایق یم د رسالت یاددی چه رښتینے
ویلسم او رالیږل سوی یم عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ په دی شان چه نه وایم زه عَلَى اللّٰهِ
اِلَّا الْحَقَّ پر خدای مګر رښتیا قَدْ جِئْتُكُمْ په تحقیق سره زه راغلے یم وتاسے ته
بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ په ښکاره دلیل سره د جانبه څخه د رب ستاسے پخپل رسالت
یعنے داسے معجزه می راوړی ده چه شاهد ده پر رسالت زما باندی فَاَرْسِلْ مَعِیَ
نو ولیږه یا خوشی کړه د ما سره بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٠٥﴾ اولاد د یعقوبؑ چه بیرته خپل
وطن ته ولاړشی یعنے کنعان ته چه د دوئ څخه راغلی وه او بیا یې اولاد و نه فرعون
خپل مریان جوړ کړه د جهته د یوسفؑ بیا چه موسیٰؑ راغلے او دده او د یوسفؑ په
مینځ کښے څلور سوه کاله تیر سوی وه او فرعون ته یې وویل چه معجزه می درته
راوړی ده قَالَ نو فرعون وویل اِنْ كُنْتَ که ته یې جِئْتَ بِاٰيَةٍ چه راغلے یې د معجزی
سره فَاْتِ بِهَآ نو راحاضره کړه وما ته اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٠٦﴾ که چیری ته
یې د رښتیاویونکو څخه په دی دعویٰ کښے فَاَلْقٰى عَصَاهُ نو وغورځوله موسیٰؑ
لکړه خپله فَاِذَا هِیَ نو ناڅاپه دا لکړه وروسته تر غورځولو ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٠٧﴾
اژدها وه ښکاره بے شکه روایت دی چه هر کله یې لکړه وغورځوله نولوی
ښامار سو چه خوله یې وازه یې نولے وه او اتیا ګزه یې دد واړو ژامو مینځ وه
او وفرعون ته راروان سو نو دی څغلے وتښتیدی او دیری بیری څخه جلاب

غه یعنے د جلاب په شان دست دنس څخه ایله سو ۱۲

سو او پر هغو خلګو یې حمله وکړه نو ماته یې ګړه سوه او پخه ولېښت زړه مخلوق
په دی تیښته کښې مړه سوه او فرعون چیغې کړی چه ای موسیٰ دا ونیسه چه زړه
ایمان را وړم او بنی اسراءیل هم درسره لیږم چه موسیٰ علیه السلام لاس ور وا چاوی
نو بیرته لکړه سوه او فرعون را غلی بیا پر خپل ځای کښیناست او موسیٰ ته یې
وویل چه بله کومه معجزه هم لری ده وویل هو لرم یې او بنی لاس یې په ګریوان
کښې ننه ایستی او په چپه تخرګ کښې یې وه بیوی وَّ نَزَعَ یَدَهٗ او بیا یې را وه ایستې
خپل لاس د ګریوان څخه فَاِذَا هِیَ بَیۡضَآءُ نو ناڅاپه دا لاس چه وو تک سپین
وو په داسې عجیبه سپینوالې سره چه ډیر نورانی وی او مخلوق پر راجمع کیږی
او ډیر تعجب ورته کوی لِلنّٰظِرِیۡنَ ﴿۱۰۸﴾ تماشه بینانو ته روایت دی چه موسیٰ علیه السلام ۱۳ ع ۹ ۲
غنم رنګه وو او و فرعون ته یې اول خپل لاس وربنکاره کړی چه شعاع یې نه
درلودی او بیا چه یې په خپل ګریوان کښې د ننه کړی او بیرته یې را وه ایستې نو داسې
شعاع یې پیدا کړی وی چه د لمر پر شعاعو باندی ډیری غالبې سوی او د لمر رڼا یې
بیخې ورکه کړه د وهم وار یې بیا لاس په ګریوان کښې د ننه کړی او چه بیا یې را وه ایست
نو د پخوا په شان سوی وو نو بیا فرعون د خپل قوم مشران را ټول کړه د مصلحت
دپاره د موسیٰ په باره کښې نو دوی یو کار غوږ کی لکه چه وای قَالَ الۡمَلَاُ وویل مشرانو
مِنۡ قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ د قومه څخه د فرعون اِنَّ هٰذَا بیشکه چه دا موسیٰ چه دی لَسٰحِرٌ
عَلِیۡمٌ ﴿۱۰۹﴾ خامخا ډیر لوی جادوګر دی او داسې یې کی ماهر دی په دی باب د سحر کښې
چه لږ ګی بنا ما رکوی او لاس لمر کوی یُّرِیۡدُ اَنۡ یُّخۡرِجَکُمۡ دی اراده لری د دې چه تاسې
قبطیان و باسي مِّنۡ اَرۡضِکُمۡ ج د خپلې ځمکې څخه ستاسې چه مصر دی نو بیا چه فرعون
د دوی څخه دا خبره واوریده نو دوی ته یې وویل فَمَاذَا تَاۡمُرُوۡنَ ﴿۱۱۰﴾ نو تاسې وماته
څه امر کوی او څه تدبیر وایاست په دی باب کښې قَالُوۡۤا اَرۡجِهۡ وَاَخَاهُ نو دوی وویل
چه حصار (ابنده) کړی دی او ور ورور ده چه هارون دی یعنی و دواړو ته مهلت ورکړه

او وعده ورسره کېښېږده وَاَرۡسِلۡ فِي الۡمَدَآئِنِ او ولېږه وهغو ښارونو ته چه تابع
دمصر دي حٰشِرِيۡنَ ﴿۱۱۱﴾ محصلان راټولونکي دخلګو يَاۡتُوۡكَ چه دوي تا ته راولي
بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيۡمٍ ﴿۱۱۲﴾ هر جادوګر ډېر پوهنده په سحر کښې روايت دی چه په هيڅ زمانه
کښې به دا سې ډېر ساحران «جادوګران» نه وه لکه په زمانه د موسیٰ عليه السلام کښې او خصوصًا
په توابعو «اطرافو» د مصر کښې بې حده ډېر وه مګر په دوی ټولو کښې بيا دوه وروڼه وه
چه سابور او هازور نوميده هغه دواړه بې نظيره وه اوچه ودوی دواړو ته
پيغام د فرعون راغلے چه د ټولو تابعانو خپلو سره را حاضر سی نو دوی و خپلے مور ته
وويل چه مور د خپل پلار قبر ته بوزه چه هلته ورغله نو بېغ یې وکړی چه اے
پلاره! مور باچاد مصر بللی يو ځکه چه ورده ته دوه سړيان راغلی دی بيله لښکره
بيله اسلحی اوباچا یې تنګ کړی دی او یوه لکړه ورځخه ده چه دی یې وغورځوی
نو هغه ښامار سے او هر څه چه په مخه ورځی هغه ټوله وخوري او باچا مور د
دوي مخ ته وروله نو د قبر ځخه آواز وسوچه هر کله مصر ته ولاړسی نو پوښتنه وکړی
چه دوی بيده سے نو د الکړه ښامار وی او که نه وی که چيری د ا ښامار وی نو دا معجزه
ده او سحر نه دی او که نه وی نو دا سحر دی غاړه ورته کښېږدی نو بيا دا دواړه وروڼه
ددوولس يا اوياز رُو ساحرانو سره و مصر ته راغله لکه چه وايي وَجَآءَ السَّحَرَةُ
او راغله جادوګران فِرۡعَوۡنَ و فرعون ته نو بيا چه سره مخامخ سوه قَالُوۡۤا وويل ساحرانو
اِنَّ لَنَا لَاَجۡرًا بيشکه مور لره دی خامخا ډېر اجروی اِنۡ كُنَّا كه مور سو نَحۡنُ
الۡغٰلِبِيۡنَ ﴿۱۱۳﴾ هم دا مور غالبان پر موسیٰ باندی قَالَ نَعَمۡ نو فرعون ورته وويل چه
هو اجر دی وی وَاِنَّكُمۡ او بل دا دی هم وی چه تاسے به لَمِنَ الۡمُقَرَّبِيۡنَ ﴿۱۱۴﴾ خامخا
د نژدی کړه سوځخه به یاست وما ته ترهر چا چه ځکی به رانبوزی او وروسته به وز
قَالُوۡا يٰمُوۡسٰۤی نو بيا ساحرانو وويل چه اے موسیٰ اِمَّاۤ اَنۡ تُلۡقِيَ يا دا خبره ده چه
ته ستالکړه وغورځوه وَاِمَّاۤ اَنۡ نَّكُوۡنَ او يا دا خبره ده چه مور نَحۡنُ الۡمُلۡقِيۡنَ ﴿۱۱۵﴾

هم دا مونږ غورځونکی یو د پړو «رسیانو» او لکړو خپلو قَالَ اَلْقُوْا نو وویل موسیٰ
د ډیره کرمه او زړورتوب چه تاسې یې اول ورځوی فَلَمَّآ اَلْقَوْا پس هر کله چه دوی
وغورځولې پړی او لکړی سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ نو په سحر سره یې وتړلې سترګې د
خلګو چه د واقع څخه مخالف به یې لیدل یعنې دا پړی او لکړی به یې لوی لوی
ماران لیدلې چه منډی «ځغستاوی» به یې وهلې او یو پر بل به سره سپریدله
وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ او بیرول دوی دا خلک وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۱۶﴾ او دوی
راتله وکړه په لوی جادو سره وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى او وحی «پیغام» وکړی مونږ و
موسیٰ ته اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ چې دا سې چه وغورځوه لکړه خپله بیا چه ده وغورځوله
نو بنا مار سو چه خوله یې وازه نیولې وه فَاِذَا هِىَ تَلْقَفُ نو ناڅاپه دا چه وه وی
نغښتله او په یوه واری یې ترحلق تیر کړه مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ هغه چه د دروغ جوړ
کړی وه دوی وخلګو ته چه هغه څلوېښت خورواره پړی او لکړی یې ددی خلګو
په نظر کښې ماران کړی وه فَوَقَعَ الْحَقُّ نو پیدا او ثابت او واقع سو حق وَبَطَلَ مَا او
ورك او خراب او لاندی سو هغه عمل كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ چه وو دوی چه کوله یې
چه هغه سحر وو بیا نو ساحرانو په خپلو کښې سره وویل چه که دا سحر وی نو زمونږ
رسی او لکړی به پرتې وی او بیخی به ورکې سوی نه وای فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ نو مغلوبه
سو فرعون او ساحران په دی مقدمه کښې وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ او بیرته ولاړه
فرعون او قوم یې مصر ته خوار خسته مقهوره او شرمنده وَاُلْقِىَ السَّحَرَةُ او
واچول سول «وغورځول سوه» ساحران پرمخی سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ سجده کونکی وخدای ته قَالُوْٓا اٰمَنَّا
وویل تو لو چه ایمان راوړی دی مونږ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ پر رب د ټولو عالمیانو
دپاره د دفع د دې وهم چه فرعون به وایې چه دا یې زه یم بنوولی یم دوی ورته
رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ چه د موسیٰ او هارون رب دی نه فرعون قَالَ فِرْعَوْنُ

عــه یعنې قهر د خدای پر کړه سوی ۱۲ عــه یعنې فرعون به وایې چه رب د عالمیانو خوزه یم نو دی ساحرانو
پر ما ایمان راوړی دی نو دوے دپاره د دفع کولو د وهم د ده بیا ئې ورو ویل ۱۲

نو فرعون وساحرانو ته وویل اٰمَنْتُمْ بِهٖ تاسې ایمان راوړې پرخدای یا پر موسٰی
قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَکُمْ ۚ مخکې تر دې چه زه دده ایمان راوړلو اجازه درته وکړم
وتاسې ته اِنَّ هٰذَا لَمَکْرٌ بې شکه دا کارچه تاسې وکړې خامخا یو فریب دې
مَّکَرْتُمُوْهُ فِی الْمَدِیْنَةِ چه تاسې او موسٰی سره جوړ کړې دې په دې ښار د
مصر کښې په اتفاق سره لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ اَهْلَهَا ۚ ددې دپاره چه وباسې ددې
ښار څخه اهل ددې ښار چه قبطیان دی او دا وطن تاسې او بنی اسرائیلو ته
پاته سې فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ نو ژر دې چه معلوم به کړې تاسې چه زه د
تاسې سره څه کوم لَاُقَطِّعَنَّ اَیْدِیَکُمْ نو خامخا به پرې کړم لاسونه ستاسې
وَاَرْجُلَکُمْ مِّنْ خِلَافٍ او پښې ستاسې چه او مخالفه یعنې یو د ښې او بل د چپ طرفه
ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّکُمْ بیا به خامخا او بزانه او پانسی کړم تاسې په غرغره کښې اَجْمَعِیْنَ ﴿۱۲۴﴾
تو له د شرمنده کولو ستاسې دپاره او د عبرت اخستلو د نورو دپاره قَالُوْٓا اِنَّآ نو دوی
وویل چه بیشکه چه یو موږ اِلٰی رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ و رب خپل ته بیا ورتلونکې
یو په موت «مرگ» سره وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ او عیب نه بولې ته د موږ څخه اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا
مگر دا کار چه موږ ایمان راوړی دی بِاٰیٰتِ رَبِّنَا په آیتو د خپل رب سره لَمَّا جَآءَتْنَا
په هغه وخت کې چه راغله وموږ ته دا آیتونه بیا یې د فرعون څخه مخ وگرزاوی
او وخدای ته یې مخ کړې او وې ویل رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَیْنَا صَبْرًا ای زموږ ربه توی
کړه او وه اوړوه پرموږ باندې باران د صبر چه د فرعون په وعید او په تعذیب
کښې بې استقامته نه سو وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِیْنَ ﴿۱۲۶﴾ او مړه کړه موږ گردن نهاده وتاته ع ۱۴ ۱۸ ۴
وَقَالَ الْمَلَاُ او وویل مشرانو مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ د قومه څخه د فرعون وده ته
اَتَذَرُ مُوْسٰی وَقَوْمَهٗ ایا ته پرېږدې موسٰی او قوم دده لِیُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ
ددې دپاره چه فساد واچوي په مځکه کښې وَیَذَرَکَ او پرېږدي عبادت ستا وَاٰلِهَتَکَ
او د غه ستا خدایان چه وخلگو ته دې جوړ کړي دې وسیله ستا وقرب «نزدیکت» ته

عه یعنې په هغه ښان وسیله او واسطه دې دپاره د قربت او د نزدې کېدلو وتاته ۱۲

قَالَ نو فرعون وویل سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ ژر دی چه قتل "مړه" به کړو موږ زامن
د دوی چه نسل یې یخی قطع او ورك سی وَنَسْتَحْیٖ نِسَآءَهُمْ ج او ژوندی به پرېږدو
لو ڼی د دوی دخپل خدمت دپاره وَاِنَّا فَوْقَهُمْ او بیشکه موږ پر دوی قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾
غالبه یو او دوی مغلوبه دي بیا چه هر کله بني اسرائیلو دا دَ ځکي او پای کښی او
پیشرفت دفرعون واورېدی نو وارېې خطا سوا و موسیٰ ؑ ته یې وژړل نو ده دوا ده
او تسلی ورکړه لکه چه وایي قَالَ مُوْسٰی نو ویل موسیٰ ؑ لِقَوْمِهِ اسْتَعِیْنُوْا وقوم خپل
ته چه مدد او کومك غواړی بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ج د خدای څخه او صبر کوی پر جبر او
تعدی د فرعون باندی اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ قف بیشکه چه دا ځمکه خاص دخدای ده
میراث
یُوْرِثُهَا مَنْ یَّشَآءُ چه په یې ورکوی وهغه چا ته چه اراده یې وسی مِنْ عِبَادِهٖ ط
د بندگانو خپلو څخه او په دی کښې اشاره ده وهلاك ته دفرعون او خلافت د بني
اسرائیلو ته وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴿۱۲۸﴾ او ښه خاتمه چه ده یا نصرت یا جنت چه د
پرهیزگارانو لره دی قَالُوْٓا اُوْذِیْنَا نو بني اسرائیلو موسیٰ ؑ ته وویل چه ایذا "ضرر"
رسول سوی وو موږ ته او زهیر سوی وو د فرعون دلاسه مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِیَنَا مخکی
ترهغه چه ته راغلی وی موږ ته د مَدْیَنه څخه چه زموږ زامن به یې ستا د جهته
وژل وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ط او وروسته ترهغه چه ته راغلی و موږ ته چه اختیار د
وژلو را ته کوی نو موسیٰ ؑ پوه سو چه په تېره اشاره دوی و نه پوهیدل ځکه دا
وارېې تصریح ورته وکړه قَالَ نو موسیٰ ؑ ودوی ته وویل عَسٰی رَبُّکُمْ امید دی
د رب ستاسې څخه اَنْ یُّهْلِكَ عَدُوَّکُمْ چه هلاك کړی دښمن ستاسې چه فرعون
دی وَیَسْتَخْلِفَکُمْ فِی الْاَرْضِ او بیا خلیفگان سې تاسی په ځمکه کښې یا د مصر یا
د ارضِ مقدسی وروسته تر هلاکید د دوی فَیَنْظُرَ کَیْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ نو وگوری ۱۵ ع ۳ ۵
چه بیا تاسې څنگه عمل کوی یعنې چه شکر کاږی او که کفران او ناشکری کوی او طاعت
کوی او که عصیان او نافرمانی کوی وَلَقَدْ اَخَذْنَآ او خامخا په تحقیق سره چه موږ

ونیول آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ تابعان اوخادمان دفرعون په قحطي او په تنګی او په
وچ کالی سره چه اووه کاله پر قحط وه وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ او په کمولو دمیوو
سره لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ بناپی چه پند واخلي په دی سره او دکفر څخه واوړي
او دفرعون ځلور سوه کاله عمر وو په دی کښې دری سوه اوشل کاله چه ځکی
ترموسیٰ وه او دده دسره خفګان لیدلے نه وو فَاِذَا جَآءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ نو هر
کله چه به راغله ددوی ته فراخي او ارزانی قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ج نو دوی به وویل چه
دا زموږ دځیله بخته څخه ده دافراخي او موږ ددی لائقان یو وَاِنْ تُصِبْهُمْ
سَيِّئَةٌ اوکه ددوی ته کومه سختي اوتنګی ورسیږی لکه قحطي یا وبا
يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى نو دوی بد فالي ونیسي په موسیٰ سره وَمَنْ مَّعَهٗ ط او په هغه
چا سره چه دده سره وی د مؤمنانو څخه اوویل به یې چه وموږ ته دا سختي
اوبلا ټوله ددوی د جهته یاشامته راورسیدلی ده اَلَآ اِنَّمَا واوری چه بیشکه
همدا خبره ده طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ چه بد فالي اونیك فالي ددوی چه ده دخدای
څخه ده یعنی خیراوشر ددوی خاص دخدای څخه دی اوبل چا ته په دی کښې
هیڅ دخل نشته وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ اولیکن زیات ددوی نه
پوهیږی وَقَالُوْا او وویل به دی فرعونیانو وموسیٰ ته چه مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ هر
هغه شی چه ته راوړې وموږ ته هغه شے مِنْ اٰيَةٍ دکومی نښې یعنی معجزې
څخه لِّتَسْحَرَنَا بِهَا لا دپاره ددی چه ته جادو وکړې پرموږ په هغه شی سره
فَمَا نَحْنُ لَكَ نو موږ نه یو وتا ته په سبب ددی معجزې سره بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۲﴾ ایمان
راوړونکی فَاَرْسَلْنَا نو راولیږی موږ عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ پر دوی باندی پنځه
آفتونه وار پروار اول یې طوفان ووچه اووه شپې اوورځې پرله پسی -
باران پرا وریدی چه په کور و او په فصلو دقبطیانو کښنی دا سے اوبه -
ودریدلے چه په ولاړی به ترغاړی پوری رسیدلی نو دوی به شپه اوورځ

ولاړ وه او هلکان به یې پرلوړځای کېښنولی وه او د اسرائیلو کوټې «خونې»
به هم ورسره پیوسته «مونښتی» وې او په هغو کښې به یو ټکی «څاڅکی» او به هم
نه ننوتلی وَالْجَرَادَ او دویم یې ملخ وه چه دا هم یوه هفته پر مسلط وه
او د دوی فصلونه او باغونه یې ټوله وخوړه او د اسرائیلو په کورو یو هم
نه وه ننو تلے وَالْقُمَّلَ او دریم یې کوڼې او سپږې یا پیا ده ملخ وه چه په
طعام «خوړو» او په شراب «اوبو» او په کتغانو د دوی کښې به ورلویدل او پړ
کالیو او جامو به یې ګرز یدل او چیچل «خوړل» به یې او دا هم یوه هفته وه
وَالضَّفَادِعَ او څلرم یې چینګوښې وې او دا هم یوه هفته وې چه په جامو
او په طعام او په کټوو کښې او په خوابګاه «دبیدیلو» په ځایو کښې او د خبرو
کولو په وخت کښې به د دوی په خولو و تلې او ننوتلې وَالدَّمَ او پنځم یې وینې
وې چه د دوی او به ټیکې وینې سوې تر دی حده «اندازې» پورې چه که قبطي
او اسرائیلي به پریوه لوښي سره جمعه سوه نو په هم هغه یوه لوښي کښې به د
اسرائیلي وطرفته او به وې او د قبطي وطرفته به وینې وې او که د اسرائیلي
د خولې څخه به یې او به د ځان د پاره راوه ایستلې نو هغه به د ده په خوله
کښې وینې سوې اٰیٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ قف په دا سې حال کښې چه دا پنځه سره نښې
او علامې زموږ د قدرت وې جلا کړه سوې هره یوه د بلې څخه چه د هر دوو
ترمینځ به یوه میاشت مفاصله وه او هره یوه چه به پر راغله نو ډیري سختې
سختې وعدې به یې وکړې چه دا آفت را څخه لیرې کړې نو ایمان به پر راوړو
بیا چه به ځنې پورته سو نو وبه یې ویل چه ډیرلوی جادو وکړ یې فَاسْتَكْبَرُوا
نو کبر و کړی دوی او سرکشه سوه زموږ د فرمان «حکم او امر» څخه وَكَانُوا قَوْمًا
مُّجْرِمِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ او دوی ټولې د مجرمانو او معاندانو وه چه سره د بنکاره کیدو او
ظهوره د آیاتو هم ایمان نه راوړی وَلَمَّا وَقَعَ او هر کله چه به واقع سو عَلَيْهِمُ

الرِّجْزُ پردی فرعونیانو باندی قسم قسم ددی تیرو واقعاتو څخه قَالُوْا نو ودوی به ویل په طریقه د زاری سره يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ ای موسیٰ وغواړه زمونږ د پاره رب خپل بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ج په هغه شی سره چه درکړی او ساتلی یې دی د تا سره یعنی هغه چه وعده یې کړیده د تا سره چه ستا سوال به نه رد وی لَئِنْ كَشَفْتَ قسم دی که تا لیری کړی عَنَّا الرِّجْزَ د مونږ څخه دا عذاب لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ نو خامخا به پر تا ایمان راوړو وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ او خامخا به د تا سره و لیږو بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۳۴﴾ دا بنی اسرائیل چه بیرته یې ته بوزی وخپل وطن ته فَلَمَّا كَشَفْنَا نو هر کله چه مونږ لیری کړی عَنْهُمُ الرِّجْزَ د دوی څخه دا عذاب او مونږ مؤخر کړو اِلٰٓى اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ تر هغه نیټی پوری چه دوی وهغې نیټی ته رسید ونکی دی چه هغه زمانه د غرق یا د مرګ ده اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ نا ګاه دوی هغه عهد مات کړی فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ نو اراده د انتقام اخستو کړه مونږ د دوی سره فَاَغْرَقْنٰهُمْ نو مونږ غرق کړه دا او یا لاکهه مخلوق تول په یو وار فِى الْيَمِّ په سیند «دریاب» د قلزم کښې چه د مصر څخه وه بِاَنَّهُمْ په سبب د دی چه دوی چه وه كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا تکذیب به یې کاوی زمونږ د آیاتو وَكَانُوْا عَنْهَا او دوی وه د دی آیتو څخه یعنی د فکر و هلو څخه په دی آیتو کښې او وپند اخستو څخه په دوی سره غٰفِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ غافله یعنی بے فهمه او بی خبره وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ او مونږ میراث ورکړی وروسته تر هلاکیدو د فرعونیانو و هغه قوم ته كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ چه دوی ضعیفه او خوارا و ذلیله سوی وه او ورثنا دوه مفعوله غواړی اول یې القوم دی او دویم یې دا دی مَشَارِقَ الْاَرْضِ شرقی اطراف «مرشتیز طرفونه اوسیمی» د شام د ځکی وَمَغَارِبَهَا او غربی اطراف «لویدیځ سیمی» ددی الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا هغه ځکه د شام چه مونږ برکت اچولی دی په هغه ځکه کښی په ارزانی سره او په کثرت «ډیروالی» د غلو او اشجارو «ونو» او د

انهارو «ولو»، او دانبیاؤ حاصل داچه موږ میراث ورکړی وبنی اسرائیلوته د
فرعون تر هلاکیدو وروسته مشارق او مغارب د شام یعنی قوله شام وَتَمَّتْ
او تمامه سوه او د وفا حد ته ورسیده كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى هغه وعده د رب
ستا چه ډیره ښه ده عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لا پر بنی اسرائیلو باندی چه هغه وعده
دا قول وو عسٰى ربکم ان یهلك عدوکم ویستخلفکم فی الارض الآیة او بل دا
قول وو ونرید[عه] ان نمن علی الذین استضعفوا فی الارض الآیة بِمَا صَبَرُوْا په سبب
د دی سره چه دوی ډیر صبر وکړی پر ظلمو او سختیو د فرعون وَدَمَّرْنَا او خرابې
کړی موږ مَا كَانَ هغه سرایونه او کلاګانی او بنګلی تو لې چونه کچې يَصْنَعُ
فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ چه جوړی کړی وی فرعون او قوم دده وَمَا او خرابې کړی
موږ هغه پخې پخی ماڼی كَانُوْا چه دوی وه يَعْرِشُوْنَ (۱۳۷) چه لوړ ولې به یې
وَجَاوَزْنَا او تیر کړه موږ بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ بنی اسرائیل پر سیند د قلزم
په سلامتې سره په ورځ د عاشوری او فرعون د او یا لاکهه لښکره سره غرق
سو فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ نو راغله دا بنی اسرائیل پر یو داسې قوم د کفارو باندی
يَّعْكُفُوْنَ چه همیشه ثابت او قائم وه عَلٰٓى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ پر عبادت د هغو
بتانو چه دوی لره وه بیا چه بنی اسرائیلو دا بت پرستان ولیدل قَالُوْا نو
دوی وویل يٰمُوْسَى اجْعَلْ اے موسٰے جوړ کړه لَّنَآ اِلٰهًا وموږ ته هم یو
خدای یعنی بت چه موږ یې هم عبادت کوو كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ۗ لکه دوی لره
چه خدایان دی او عبادت یې کوی قَالَ اِنَّكُمْ وویل موسٰے چه بیشکه تاسې قَوْمٌ
تَجْهَلُوْنَ (۱۳۸) یو داسې قولې یاست چه ناپوهی کوی چه بیله خدایه څخه د بل چا
عبادت هم روا بولی اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ بیشکه دا بت پرستان چه دی مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ

عه معنیٰ دا چه موسیٰ وخپل قوم ته وویل چه نژدې دی او قریب دی رب ستاسې د دې ته چه هلاک او خراب کړی
دښمن ستاسې چه فرعونیان دی او تاسې به په ځمکه د مصر کښی خلیفګان کړی یعنی باچهان به مو کړی ۱۲ عه معنیٰ دا چه الله تعالیٰ وموسیٰ ته وویل
چه موږ دا دی خبری اراده لرو چه احسان او منت وکړو پر هغو کسانو چه عاجزان او ضعیفان سوی دي په ځمکه کښې یعنې چه بنی اسرائیل دی ۱۲ احمد الله

فِيْهِ هلاك كړه سوى دى هغه كار چه دوى په هغه كښې مشغول او اخته دى
يعنې خداى به يې ورك كړى وَبٰطِلٌ مَّا او خراب او ناكاره دى هغه عبادت دبتانو
كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۱۳۹) چه دى دوى چه داعبادت كوى قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ بيا موسى
وويل چه آيا بيله خدايه اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا وغواړم وتاسې ته بل معبود وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ
او حال دا چه ده غوره كړى ياست تاسې عَلَى الْعٰلَمِيْنَ (۱۴۰) پر تمامو مخلوقاتو د
خپلې زمانې په رنګارنګ انواعو د نعمتو وَاِذْ اَنْجَيْنٰكُمْ او هغه د ربه نعمت په ياد كړى
چه مونږ خلاص كړلاست مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ د تابعانو څخه د فرعون يَسُوْمُوْنَكُمْ
چه تاسې ته به يې رساوى سُوْٓءَ الْعَذَابِ ‌ء سخت عذاب يُقَتِّلُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ
چه ستاسې زامن به يې وژل وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ط او ژوندى به يې
پرېښودلې ستاسې ښځې وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ او په دى عذاب ستاسې كښې
لوى محنت وو يا په دى خلاصولو ستاسې كښې لوى نعمت وو مِّنْ رَّبِّكُمْ
۱۶ د جانبه څخه د رب ستاسى عَظِيْمٌ (۱۴۱) د يرلوى روايت دى چه موسى عليه
السلام وعده كړى وه د بنى اسرائيلو سره چه كه فرعون خداى هلاك كړى نو
زه به وتاسى ته كتاب راوړم بيا چه فرعون هلاك سو نو ده د ربه څخه
د كتاب سوال وكړى نو دى په ديرشو ورځو سره مأمور سو د ذوالقعدې
د مياشتې بيا چه دا ديرش ورځې ده پوره كړې نو د خپلې خولې سوړ بوى بد پرولګيدى
نو مسواك يې وواهه او وحى ورته وه سوه چه وتاته دا نه ده معلومه چه
د روژه دار د خولې سوړ بوى زما د پرخوښ دى د مشكو تر بوى نو بيا مأمور
سو چه لس ورځې نورې وه نيسه د دى سوړ بوى د پاره لكه چه وايې
وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى او وعده كړې وه مونږ د موسى سره د پاره د كتاب وركولو
ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً ديرش شپې او ورځې د ذوالقعدى او شپې څكه يادى سوى چه مياشت
د شپې ليدل كيږى وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ او بيا دا ديرش شپې مونږ پوره كړى په

لسو ذو الحجې سره فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهٖٓ نو پوره سوه وعده ګاه د رب دده اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ په څلوېښتو شپو سره د ورځو سره وَقَالَ مُوْسٰى او موسٰی علیه السلام وویل لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ وخپل ورور ته چه هارون ؒ وو اخْلُفْنِيْ چه زما خلیفه اوسه فِيْ قَوْمِيْ زما په دے قوم کښے او زه و کوه طور ته ځم د راوړلو د پاره او دکتاب د پاره وَاَصْلِحْ او کارسازے کوه په هر باب کښی د دوے وَلَا تَتَّبِعْ او ته پیروی مه کوه سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ د فسادکوونکو د لارے وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى او هر کله چه موسٰی راغلے لِمِيْقَاتِنَا پر هغه وعده ګاه "تاکلی وخت" زمون وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ او خبرے ورسره وکړے رب خپل په دے شان سره چه آواز به ورته اوریدل کیدے بیله جهته او بیله کومے واسطے د بل چا او محض دده په امر سره دا آواز پیدا کیدی چه پر کلام د رب به یے دلالت کاوی روایت دے چه هر کله موسٰی علیه السلام د راز و ځای ته ورغلے نو شاو خوا پر کوه طور یې لښت کړو په ملائکے راوګرزیدے او تورو تیاره سوه بیا یې چه دوه قدمه پردے کښینوه نو ملکیں عه او شیطان دده ځنی لیرے کړه سوه او ملائکے یې په هوا کښے ولیدلے او عرش هم ورته ښکاره سو او څلور ویشت زره یا اویا لکهه یا نه لاکهه څلور زره کلمی ورته وویل سوی او څلویښت شپی او ورځی راز ورسره وسو او هر کله چه دے په راز کښے مستغرق سو او محبت یې جوش وواهه او په دے کښے یې د دیدار "لیدو د خدای" طمعه پیدا سوه نو قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ نو موسٰی ؑ وویل چه اے زما ربه و ما ته ځان راښکاره کړه یعنې ماستا د خپلو لیدلو د پاره قابل کړه چه د سر په سترګو اَنْظُرْ اِلَيْكَ ۭ نظر او کاته وکړم و تا ته قَالَ نو رب ورته وویل لَنْ تَرٰىنِيْ چه د سره به ته و نه وینې ما په دی فانی سترګو سر ځکه چه

عه یعنې د پاره د پټو پټو خبرو کولو د خدای سره ۱۲ عـه یعنې هغه دوی ملائکی چه د سړی سره مقرری دی د پاره د عمل د لیکلو دده چه یوه یې پر راسته او بله ناسته دی اول نیکی لیکی او بله یې پر چپه او بده ناسته دی او بدی لیکې ۱۲ صه یعنی ابلیس لکه د هر سړی سره چه مقرر دی او دننه په زړه کښې یې ناست وی د وسوسو اچولو د پاره ۱۲ عبد الوحید

نږ یې باقې سترګو لیدل کیږ مراو هغه بیاخاص دی په جنت پورې وَلٰكِنِ
انْظُرْ او لیکن ته وګوره اِلَى الْجَبَلِ ودې غره ته چه نومیږي زبیر دی او په
تولو غرو کښې د مدین دیرجلب دی فَاِنِ اسْتَقَرَّ نو که دی کلک سوا وولاړ
پاته سو مَكَانَهٗ پرخپل ځای باندی نر ماد تجلی په وخت کښې فَسَوْفَ
تَرٰىنِيْ ۚ نو ژر ردی چه ته به هم ما ووینې او که دی سره د دومره
کلکوالي اولوی والی او غټوالی راته ټینګ نه سو نو ته هم طمع قطع کړه
فَلَمَّا تَجَلّٰى نو هر کله چه ظاهر «ښکاره» سو بلاکیف رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ رب دده
و هغه غره ته مګر ورسته تر هغه چه په ده کښې یې حیٰوة او علم او
دید پیداکړی جَعَلَهٗ دَكًّا نو نړ ری زړ ای کړی په دی تجلی سره وَخَرَّ مُوْسٰى
صَعِقًا ۚ او ولویدی او راپله سو موسٰی او بې سوده او بې هوښه سو د هیبته ځخه
او یوه ورځ او شپه بې هوښه پروت وو فَلَمَّآ اَفَاقَ نو هر کله چه بیا په هوښ کی
راغلی قَالَ سُبْحٰنَكَ نو موسٰی وویل چه پاکی ده تالره د هره نالایقه یا دلیدلو ځخه
په دنیاکښې تُبْتُ اِلَيْكَ توبه می وکښنه او رجوع می وکړه وتاته د داسې سوال ځخه
بیله ستنا د اذنه وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ او زه اول د مؤمنانو یم قَالَ يٰمُوْسٰٓى
بیارب وویل چه اې موسٰی خفګان مه کوه په منع ددی رؤیت سره نور نعمتونه
زما یاد کړی چه اِنِّى اصْطَفَيْتُكَ بیشکه چه زه چه یم غوره کړی می یې ته عَلَى
النَّاسِ پرخلګو باندی په خپله زمانه کښې بِرِسٰلٰتِىْ په پیغاموخپلو سره دپاره
در سولو وخلګو ته وَبِكَلَامِىْ ڮ او بل په خبرو کولو د تا سره بیله واسطې فَخُذْ
مَآ اٰتَيْتُكَ نو واخله او ونیسه هغه چه درکړی می دی وتاسې ته د رسالته
او د نجاته د ضلالته ځخه وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ او سه د شکرګذارانو ځخه
په دی عطا «کړه» سره وَكَتَبْنَا لَهٗ او لیکلی وه موږ ورده ته فِى الْاَلْوَاحِ په
هغو تختو د تیږو «ډبرو» یا د لرګو د سدرة المنتهیٰ ځخه یا د سرو یا قوتو یا د

شلونہ مرد وکښي چه اووه یا نه یالس تختې وې اوهره یوه لس یا دوولس
گزه وه چه کنودې حروف پکښې وه مِنۡ كُلِّ شَيۡءٍ مَّوۡعِظَةً د هرشي پند چه
احتیاج ورته وي د امره تخه ددین وَّتَفۡصِيلًا لِّكُلِّ شَيۡءٍ اوبیان شافي د
پاره د هرشي دا وامرو اونواهیو تخه اوبیا مونږ ورته وویل فَخُذۡهَا بِقُوَّةٍ
نو دا تختې واخله په ښه کوښښ اوعزم سره وَأۡمُرۡ قَوۡمَكَ اوامر وکړه پر
خپل قوم چه په صدق اوپه عزم سره يَأۡخُذُوا بِأَحۡسَنِهَا ط چه واخلې دوی
دیر عزره د هغو احکاموچه په دې الواحو «تختو» کښې دي لکه عفوه اوصبر
سومثلاً نه قصاص او یا نصرت یا فرض سوه سره د نفلو او نه یوازې فرض
یا عزیمت سونه رخصت سَأُورِيكُمۡ ژر دی چه د روبه ښیم وتاسې ته ای
بنی اسرائیلو دَارَ الۡفَٰسِقِينَ ﴿۱۴۵﴾ د یره گاه «سرای» ددې فاسقانو چه فرعون دی
اوقوم یې چه مینې یې په مصرکښې نږیدلی او خرابي پرتې دي یا دعاد یانو
اوثمود یانو دا په شام کښې سَأَصۡرِفُ ژر دی چه نږه به چپ اوبند کړم عَنۡ ءَايَٰتِيَ
الَّذِينَ د قبلولو تخه د ایتونو زما چه قران دی یا د فهمه د هغه دلائیلو دقدرت
خپل چه په اتفاق یا په انفس کښې می ایښې دي هغه کسان يَتَكَبَّرُونَ فِي
الۡأَرۡضِ چه تکبر کوي په ځمکه کښې بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ط په ناحقه سره ځکه چه په حق
سره تکبر یوازې خدای له دی وَإِن يَرَوۡا كُلَّ ءَايَةٍ اوکه ووینی دا متکبران هر
ایت د قران یا معجزه پرصدق د رسول لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَا ج نو دوی ایمان نه راوړي
پر هغه باندې د عناده تخه وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ اوکه ووینی دوی د هدایت
لاره لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ج نو نه نیسي دوی هغه لاره د رشد اوطریقه دیوون او
د تلو خپل وخدای او وجنت ته وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلۡغَيِّ اوکه دوی لاره دگمراهي
ووینی يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ط نو نیسي یې طریقه دیوون اود تلو خپل اوهم د هغه
پر مقتضی ځي ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ دا چپ کیدل اوگمراه کیدل د دوی په دې سبب سره

دی چه بیشکه دوی كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا نسبت دد رواغوکاوی وایاتو زمونږ ته وَكَانُوْا عَنْهَا
او دوی وه دد دی ایاتو څخه غٰفِلِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ غافلان او بې خبره د عناد په وجه نه د جهل
په وجه وَالَّذِيْنَ او هغه کسان كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چه تکذیب نی زمونږ د ایاتو کوی وَلِقَآءِ
الْاٰخِرَةِ او پرپیښید و داخرت یعنی چه پر اخرت پیښیږ و حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ط
خراب او باطل سوه هغه عملونه ددوی چه په دنیا کښی یې کړی وه هَلْ يُجْزَوْنَ
ایا جزا ورکول کیږی وددوی ته یعنی نه به ورکول کیږی اِلَّا مَا كَانُوْا امگر هم دهغه
قدر چه دوی وو يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ چه عمل به یې کاوی روایت دی چه هرکله
موسیٰ علیه السلام ما مور سو په ایستلو دبنی اسرائیلو سره د شپې د مصر څخه
دپاره د غرقولو دفرعون نو بنی اسرائیلو په بهانه د بنادی سره د قبطیانو څخه
ډیرن یورات واخسته بیا کله چه دوی د شپې وتښتید ل او فرعون د تو له لښکره
سره غرق سو بیا موسیٰ علیه السلام اختیار دکوه طور وکړی د مناجات دپاره او هٰرون
یې پر خپل قوم خلیفه کړی او بنی اسرائیلو په هغو زیوراتو کښې خرید او فروخت
شروع کړی نو هٰرون ع دا زیورات تو له سره راجمع کړه او د سامری سره یې
امانت کښېښوول اوده بیا ویلی کړه او د گیلگی قَالَبْ «قالب» یې جوړ کړی او په
هغه کښی یې واچول او د گیلگی شکل یې څنی راوه ایستی او د جبرائیل ع داس د
سُم «د پښو لاندی خاوری چه قدم یې پر ایښی وه» خاوره ورسره وه چه د گیلگی په خوله کښې یې
ورواچوله نو شروندی سو اود ډنگر په شان آواز یې وکړی نو سامری وبنی اسرائیلو
ته وویل چه دغه ستاسې او د موسیٰ خدای دی او دی کوه طور ته ولاړی نو دوی
تو له پرسجده ورته پریوا ته وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى او ونیوی په خدایی سره قوم
د موسیٰ مِنْۢ بَعْدِهٖ وروسته ترتلو دده وکوه طور ته مِنْ حُلِيِّهِمْ د هغو زیوراتو
څخه چه دوی د قبطیانو څخه غوښتی وه عِجْلًا جَسَدًا گیلگی د جثه دبدن یعنی په
شکل د گیلگی چه غوښی او وینی ئې درلودی یا تش بدن بیله روحه لَّهٗ خُوَارٌ ط
ظهر حجه بت هفتم بود از ثانی جسا و ... در که سال ضعر شکست یک و ست مراد

چه ده لره آواز و ولکه دگیلگی اَلَمۡ یَرَوۡا اَنَّهٗ آیا دوی دا نه لیدی چه بیشکه دا
گیلگی چه دی لَا یُکَلِّمُهُمۡ نه د دوی سره خبری کولای سی وَ لَا یَهۡدِیۡهِمۡ سَبِیۡلًاۘ
او نه ودوی ته کومه لار ور ښوولای سی چه دا دوی گمان وی چه دا خدای دی
اِتَّخَذُوۡهُ دوی دا گیلگی په خدایی سره ونیوی خوښه بیله حجته او بې دلیله وَکَانُوۡا
ظٰلِمِیۡنَ ﴿۱۴۸﴾ او حال دا چه دوی ظالمان وه په دې نیولو سره د گیلگی په خدایی سره
وَلَمَّا سُقِطَ اوهر کله چه وغورځول سو خفگان او پښیمانی فِیۡۤ اَیۡدِیۡهِمۡ په لاسو
د دوی کښې یعنې پر دې چل کار ډیر پښیمانه سوه وَرَاَوۡا اَنَّهُمۡ او پوه سوه په یقین
سره چه بیشکه دوی قَدۡ ضَلُّوۡا الا په تحقیق سره گمراه سوه قَالُوۡا نو دوی وویل د ډیر
پښیمانی څخه لَئِنۡ لَّمۡ یَرۡحَمۡنَا رَبُّنَا که چیری رحم او مهربانی ونه کړی پرموږ باندې
رب زموږ په قبول د توبې سره د موږ څخه وَ یَغۡفِرۡ لَنَا او بخښنه را ته ونه کړي
د دې گناه زموږ لَنَکُوۡنَنَّ مِنَ الۡخٰسِرِیۡنَ ﴿۱۴۹﴾ نو قسم دی چه هو به سو خاخا
د زیانکارانو څخه وَلَمَّا رَجَعَ مُوۡسٰۤی اوهر کله چه بیرته موسٰے راغلی د کوه طور
څخه اِلٰی قَوۡمِهٖ وخپل قوم ته غَضۡبَانَ اَسِفًا ۙ په داسې حال کښې چه ډیر په
غضب او ډیر افسوس کونکی وو په دې سبب سره چه دی هلته په مناجا
کښې پروردگار خبر کړی وو لکه چه په سورۃ طٰهٰ کښې راغلی دی چه انا قد
فتنا قومك من بعدك واضلهم السامري بیا چه کله وقوم ته راغلی قَالَ
نو موسٰےؑ وویل وخپل قوم ته بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُوۡنِیۡ بد کار دی دا عبادت د
گیلگی چه تاسې کړیدی مِنۡۢ بَعۡدِیۡ ۚ وروسته زما تر تللو کوه طور ته۔
اَعَجِلۡتُمۡ آیا تاسې تلوار وکړی په عبادت د گیلگی او تاسې پرېښوولی اَمۡرَ رَبِّکُمۡ ۚ
فرمان د خپل رب یعنې تاسې به انتظار او مدار کړی وای چه ما تورات راوړی
وای او امر د خدای څخنی درته معلوم سوی وای وَ اَلۡقَی الۡاَلۡوَاحَ او وغورځول
د لاسه څخه هغه تختې د ډیره غضبه څخه چه د کوه طور څخه راوړي وی

او تورات پر لیکل سوی وه نو هغه تختې چه بیان او تفصیل د هر شي پکښې وو نو هغه
په دی غور ځولو سره ماتې سوی او بیر ته واسمان ته ولاړې او هغه چه مواعظ او
احکام پکښې وه سلامتي پاته سوی وَاَخَذَ بِرَأْسِ اَخِيْهِ او خپل ورور ورېږي تر سر را
ونیوی چه هٰرون ؑ وو یعنې د سر تر ویښتانو يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ ط چه وځان ته یې راکشاوی
لیکن نه دا هانته بلکه د عتاب په چه دوی تاولې نه منع کول د دی کاره څخه قَالَ ابْنَ اُمَّ
نو هٰرون ؑ وویل چه اې زویه زما د مور او دا په اصل کښې اُمِّيْ دی بیا یَ څنی حذف
سوه د تخفیف د پاره او د میم کسره هم فتحه سوه اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ بیشکه
چه دی قوم ډیر سپك کتلی دی وما ته او ما هیڅ تقصیر نه دی کړی په منعه کولو کښې
د دوی مگر دوی زما په خوله هیڅ باور نه کاوی وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ ڮ او نژدې سوی وه
دوی ودی ته چه ما مړ کړی په سبب د ډیری منعې زما فَلَا تُشْمِتْ نو ته مه خوشحالوه
په ما باندی زما دښمنان وَلَا تَجْعَلْنِيْ او ما مه ملگری کوه مَعَ الْاَعْدَآءَ
الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ د دی ظالمانو د قوم سره قَالَ نو موسٰی ؑ وویل رَبِّ اغْفِرْ لِيْ
ای رب‌ه بخښنه وکړه وما ته د هغه تقصیر چه د ورور په حق کښې می کړی دی
وَلِاَخِيْ او ورور زما ته هم بخښنه وکړه که تقصیر یې کړی وی په منع کښې د دوی
وَاَدْخِلْنَا فِيْ رَحْمَتِكَ ڮ او موږ داخل کړه دواړه په رحمت خپل کښې یعنې د لته په عصمت
او هلته په جنت کښې وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ او ته ډیر مهربانه یې تر ټولو ع ۸/۴ ۸
مهربانانو اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ بیشکه هغه کسان چه گیلگی یې په خدایي
سره نیولې دی سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ ژر دی چه وبه رسیږی و دوی ته غضب مِّنْ
رَّبِّهِمْ د رب‌ه څخه د دوی او هغه غضب دا وو چه مامور سوه په خپل قتل سره وَذِلَّةٌ
او خواری فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ط په دی واړه او لنډ ژوند کښې چه هغه جلاوطنی یا
جزیه ده وَكَذٰلِكَ او همداسې یعنې د عابدانو «عبادت کونکو» د گیلگی په شان نَجْزِي
الْمُفْتَرِيْنَ ﴿۱۵۲﴾ موږ جزا ورکوو و ټولو د رواغ تړونکو ته وَالَّذِيْنَ او هغه کسان عَمِلُوا

السَّيِّاٰتِ چه دوی بدے وکړی یعنے کفر یا نور گناهونه وکړی که صغیره وی او که کبیره
وی ثُمَّ تَابُوْا بیا رجوع وکړی وخدای ته په توبه سره مِنْۢ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْٓا او روسته
تر کولو ددی سیئاتو او ایمان راوړی پر وحدانیت دخدای او پر رسالت د رسول
مگر داهلته که مراد د سیئاتو څخه شرک سی او که مراد څنی غیر د شرک که سی نو
د اٰمنوا معنیٰ داچه باور وکړی پر دی چه توبه د توابینو خدای قبلوی اِنَّ رَبَّكَ
بیشکه ستا رب چه دی مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ وروسته تر دی توبے خاما بخښونکے
دی د گناهو د دوی که څه هولوی وی لکه د گیلگی عبادت یا ډیروی لکه نور
شوخی د بنی اسرائیلو رَّحِيْمٌ ﴿۱۵۳﴾ مهربان دی پر دوی په قبلولو د توبے سره وَلَمَّا
سَكَتَ او هرکله چه قرار سوا و کښیناستی عَنْ مُّوْسَى الْغَضَبُ د موسیٰ څخه قهر
اَخَذَ الْاَلْوَاحَ نو بیا یې راواخیستی هغه تختی چه غورځولے یې وی وَفِيْ
نُسْخَتِهَا او په لیکل سوو د هغو تختو کښے هُدًى وَّرَحْمَةٌ رهنمایی وه وحق ته او
مهربانی وه یعنے پاکول وه د گناهو څخه لِّلَّذِيْنَ وهغو کسانو ته هُمْ لِرَبِّهِمْ چه
دوی د عذابه څخه درب خپل يَرْهَبُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ بیریږی روایت دی چه یوی طائفے
د بنی اسرائیلو وویل چه داهر څه چه په دی الواحو تختو کښے لیکلی دی دا
د موسیٰ کلام دی او د خدای د سره ورسره خبری کړی نه دی نو موسیٰ ماموره
سو چه یو څو تنه مشران د خپل قوم میقات لره د رسره راوله چه نږما خبری
وانچلهه واوری او شاهدان سی نو موسیٰ اویا تنه مشران د ځان سره کوه طور ته
بو تله بیا چه میقات ته ورغله نو او ریځ راغله او د موسیٰ او د دوی تر منځ
سوه نو دوی تو له پر سجده پر یوا ته او کلام د رب یې واوریدے بیا چه راز تمام
سوا و موسیٰ علیه السلام راو واتی نو دوی وویل چه موږ خبری واوریدے او متکلم
هیڅ وانه لیدی موږ به هلته باور وکړو چه خدای عیانا و نچلو سترگو وینو
ناگاه یو سخته زلزله راغله او تندره پر راغله او تول یې وسوځل لکه چه وائی

وَاخْتَارَ مُوْسٰی قَوْمَهٗ او موسیٰ غوره کړه دخپل قوم نه او د لته مِنْ پکښې محذوف
دی یعنې مِنْ قومه سَبْعِیْنَ رَجُلًا لِّمِیْقَاتِنَا ج او یا سړیان «اکسان» د پاره دوعده گاه
زموږ فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ نوهرکله چه دوی سختې زلزلې اوصاعقې ونیول
په سبب د هغه نالایقه سوال چه دوی کړی وو او دبیری نه د تهمت د بنی
اسرائیلو چه دوی تا مړه کړه قَالَ رَبِّ موسیٰ وویل چه اے زمار به لَوْشِئْتَ
اَهْلَكْتَهُمْ که ستا اراده سوی وای نوتا به دوی هلاک کړی وای مِّنْ قَبْلُ
وَاِيَّايَ ط نه مخکی تر راتلونه ماوکوه طور ته په سبب د عبادت د گیلگی اوزه به دې
هم هلاک کړی وای په سبب دقتل د قبطي اَتُهْلِكُنَا بِمَا ایا ته موږ هلاکوې
په هغه کار فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا ج چه کړیدی لیونیانو او بې عقلانو د موږ نه
چه دگیلگی عبادت دی او نالایقه سوال دی اِنْ هِیَ نه دی دا کار که دگیلگی
عبادت دی او که دا نالایقه سوال دی اِلَّا فِتْنَتُكَ ط مگر ازمایښت ستا دی
پر دوی دی راوستی تُضِلُّ بِهَا ته گمراه کوې په دی ازمایښت سره مَنْ
تَشَآءُ هر هغه څوک چه ستا اراده وسی د هغه دگمراهۍ وَتَهْدِیْ مَنْ تَشَآءُ ط او
سمه لار وربنیې «هدایت کوې» و هر هغه چا ته چه ستا اراده وسی د هغه د هدایت
اَنْتَ وَلِيُّنَا هم ته یې یار او باداری زموږ فَاغْفِرْ لَنَا نو بخښنه وکړه وموږ ته
د هر نالایقه کار چه د موږ نه صادر سوی وی وَارْحَمْنَا او مهربانی وکړه
پر موږ وَاَنْتَ خَیْرُ الْغٰفِرِیْنَ ﴿۱۵۵﴾ اوته بهتر او خیر یې د ټولو بخښونکو وَاكْتُبْ
لَنَا او وه لیکه موږ ته یعنې راته مقرر کړه فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا په دی جهان کښې
حَسَنَةً ښه حال چه هغه قبول د توبې دی یا توفیق د طاعت دی یا د حلالو
روزی ده یا صدق د مقال دی «رښتیني په دنیا او خیر وکښی» وَّفِی الْاٰخِرَةِ او په هغه
جهان کښې هم ښه حال راته مقرر کړې چه هغه مغفرت او رضوان او جنت
او دیدار دی اِنَّا هُدْنَآ اِلَیْكَ ط بیشکه چه موږ بیرته راجع او توبه گار سوی

یو وتا ته قَالَ عَذَابِیٓ نو رب وویل چه زما عذاب چه دی اُصِیبُ بِهٖ زه ئې رسوم داعذاب مَنْ اَشَآءُ وهر هغه چا ته چه اراده وسے زما دعذاب او لو د هغه وَرَحْمَتِیْ او زما رحمت چه دی وَسِعَتْ كُلَّ شَیْءٍ ط وهر شی ته رسیدلی دے په دنیا کښے فَسَاَكْتُبُهَا نو زر دی چه زه به دا رحمت مقرر کړم لِلَّذِیْنَ یَتَّقُوْنَ وهغو کسانو ته چه د شرک څخه ځان ساتی وَیُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ او دوی زکوٰة ورکوی وَالَّذِیْنَ هُمْ اووهغو کسانو ته چه دوی بِاٰیٰتِنَا پر ایتو زمونږ یُؤْمِنُوْنَ (۱۵۶) باور کوی فَائِدَة هر کله چه په دی ایت کښے یوازی زکوٰة ذکر شو بیله صلوٰته نو می اراده د بیان د ده د تولو احکامو وکړه چه عالِم په اسانه طریقه سره - مطلب څنی واخلی نو زکوٰة پر دوه قسمه دی یو د نقدینو چه سره او سپین زر دے او بل د پنځو قسمو سوائمو او دا ټوله په یو خوا بیا تو کښے په رموز سره بیان سوی دی چه هغه ابیات دا دی :- غنی اسمع زکوٰة نقد والحلب یعنی اے غنی دا رمزونه د زکوٰة واوره د دوو قسمو نقدینو چه هغه سره او سپین زر دی او بل دا پنځه قسمه محلوبات دی چه میږی او ږزی او غواوی او کامیښے او اوښان دی او دا احلب مصدر دی په معنیٰ د محلوب دی . كل نصف لِ فوق هٰذا دِلْ یِرٍّ فی الذهب - کاف په ابجد کښے شل دی او لام عبارت دی د مثقال څخه چه دینا ریے هم بولے یعنی په شلو مثقالو د ذهبو کښے چه دا یے نصاب دے نیم مثقال زکوٰة کیږی او تردی کښته ټوله عفوه دی بیا تردی پورته په هرو څلورو مثقالو کښی په وزن د لسو دانو دا وربشو زکوٰة کیږی غیر د هغه نیم مثقال څخه الیٰ غیرالنهایة او هر مثقال شل قیراطه دی او هر قیراط پنځه او ربشی دے رہُمْ هم فوق هٰذا مَمُّ مِرٍّ فی الدرم - رَ په ابجد کښی دوه سوه دے او میم عبارت دی له درهم څخه یعنی په دوه سوه درهمه کښی چه دا یے نصاب دی پنځه درهمه زکوٰة کیږی او تردی کښته ټوله عفوه دی او بیا تردی پورته په هرو څلویښتو

کښې درهم دی الخ مش قکاپ راج تدّ ثم قش قش فی الغنم یعنې هرچه په میږو او
په بزو کښې چه د هغه پنځو قسمو سوا نور څخه یو قسم دی په څلویښتو کښې چه د پسو
نصاب دی یو پسه زکوٰة دی که نوی او که بنځه او تر څلویښتو کښته توله عفوه
دی او بیا پر شپږ شلې «یوسل شل» چه یو زیادت سے دوه پسونه زکوٰة دی بیا تر دوه سوه
پورې بیا که یو زیادت سو نو دری پسونه زکوٰة دی بیا تر درې سوه او نهه نوی
پورې بیا چه څلور سوه ته ورسیږی نو په څلور سوه کښې څلور پسونه دی بیا
په هرو سلو کښې یو پسه زکوٰة دی الی غیر النهایة لع مَنّ سَعَبُ عَنَع کَنب صبع یاعُمر
یعنې هرچه په غواوو او گامیښو کښې زکوٰة دی هغه په دیرشو کښې چه نصاب یې
دی تبیع یا تبیعه ده او تر دی د دیرشو کښته توله عفوه دی او په څلویښتو
کښې مُسِنّ یا مُسِنّه ده او په شپیتو کښې دوی تبیعی دی او په اویا وو کښې یو
مسنه او یوه تبیعه ده او په اتیا وو کښې دوی مسنی دی او په نوی وو کښې
درې تبیعی دی او تبیعه هغه ده چه په دویم کال کښې داخله وی او مسنه
هغه ده چه په دریم کال کښې داخله وی فوق هذا لع منّ لع منٍ فی البقر
یعنې بیا تر دی شپږو قسمو پورته په هرو دیرشو کښې یو تبیع یا تبیعه ده او په هرو
څلویښتو کښې یو مسن او یا مسنة ده الی غیر النهایة هش یتِ یهج کذٍ کهض لونٍ
موق ساع یعنې هرچه په اوښانو کښې زکوٰة دی هغه په پنځو اوښانو کښې یو پسه
زکوٰة دی چه دا پنځه یې نصاب دی او په لسو کښې دوه پسونه دی او په پنځلسو
کښې درې پسونه دی او په شلو کښې څلور دی او په پنځه ویشتو کښې بنت مخاض
دی او په شپږ دیرشو کښې بنت لبون دی او په شپږ څلویښتو کښې حقه ده
او په یو شپیتو کښې جذعه ده بنت مخاض هغه جونګی دی چه په دویم کال
کښې داخل وی بنت لبون هغه دی چه په دریم کال کښې داخل وی او حقه
هغه ده چه په څلورم کال کښې داخله وی جذعه هغه ده چه په پنځم کال

کښې داخله وی عوّیب صاًتِبَ کطُ عفوگی یا نجاع یعنی په شپو بز او یا کښې دوی بنت لبونے دی او په یوَنوی کښې دوی حقے دی او تردی پورې ته نه ویشت عفوه دی او دالس قسمه ددی نه ویشتو سره شپږ شلی «یو کم شل» سوه او س په مخکښې استیناف دی هش یتِ یهج کدِّ کهض لق عفوحب یعنی تر هغو شپږ او شلو پورې ته بیا په اولو پنځو او بناو کښې یو پسه دی او په لسو کښې دوه دی او په پنځلسو کښې دری دی او په شلو کښې څلور دی او په پنځه ویشتو کښې بنت مخاض دے تر دغه ځایه پورې داول په شان دی او پورې ته تردی مخالف دی ځکه چه دلته په دیرشو کښې حقه ده اولس بیا عفوه دی او دا شپږ سره قسمه ددی لسو سره چه عفوه دی څلویښت سوه او دا بیا د هغو تیرو شپږو شلو سره یو سل او شپیته سوه او اوس مخکښې بیا دویم استیناف دے هش یتِ یهج کدِّ کهض لون موق بب یعنی تر هغو تیرو یو سل او شپیتو پورې ته بیا داول په شان په پنځو او بناو کښې یو پسه دی او په لسو کښې دوه دی او په پنځلسو کښې دری دی او په شلو کښې څلور دی او په پنځه ویشتو کښې بنت مخاض او په شپږ دیرشو کښې بنت لبون او په شپږ څلویښتو کښې حقه ده تر دغه ځایه پورې داول په شان دی او په پورې ته تردی کښې مخالف دے ځکه چه جذعه نشته کان عفوا فوق هٰذا اصارنق نق فی الابل یعنی هغه څلور چه مرموز دی په بب سره په آخر کښې د تیری مصرع هغه عفوه دی او بیا تردی یو سل او شپیتو پورې ته په هر پنځو سوو او بناو کښې یوه حقه ده الی غیر النهایة اوس احکام د زکوٰة تمام سوه دونك استیناف هٰذا مرتین ولا تمل یعنی دروا خله دا بیرته بیرته استیناف او گرزیدل او بیا د سره څخه نیول او شروع کول په دی صنف او قسم کښې دوه واره «دکرته» او و بلې خواته میل مه کوه فائده :- ددی زکوٰة ډیری خواص «خاصے» دی یو د هغو څخه دا دی چه

مزکی «زکوٰة ورکونکی» غنی «مالداره» کوی چه په اخلاص او بیله کوی چلی وي
اوبل دا سخاوت سماحت په پیداکیږی ځکه چه د مال بذل او بښندل دی چه
د زړه قطره ده اوبل دا چه داقبول داقرب دی چه عبادت بدنی دی
روایت دی چه هر کله یهودو او نصاریٰ وو داآیت واوریدی نو دوی وویل
چه داخو هم و موږ ته مقرر دی ځکه چه موږ د خدای پرآیت هم ایمان
راوړی دی او زکوٰة هم ورکوو نو دا طمع یې خدای ور قطع کړه او دا
رحمت یې هم په امتِ محمدی «علیٰ صاحبها الف تحیة وسلام» پوری مختص کړی نو یې
وویل چه هغه خوک چه نو دا رحمت ورته مقرر کوم خاص اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ
هغه کسان دی چه دوی پیروی کوی که یهود دی او که نصاریٰ دی او که
بل خوک دی د هغه چا چه هغه موصوف دی په دی لسو صفاتو سره الرَّسُوْلَ
اول دا چه دی مار لیږلی دی النَّبِيَّ دویم دا چه پیغمبر دی رسول یې وه
باله نسبت وخاق ته او نبی یې وباله نسبت وخنگوته الْاُمِّيَّ دریم دا چه دی
اُمّی یعنی ناخوانده ناتوښنده دی او دا یې معجزه او عین کمال دی چه بې
لوستلو او بې لیکلو دا سې لوی عالم دی الَّذِيْ څلورم دا چه هغه پیغمبر دی
يَجِدُوْنَهٗ چه دا مؤمنان د بنی اسرائیلو یې مومی او پیداکوی دی یعنی نوم او نور
صفتونه د ده مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ لیکل سوی د دوی سره فِي التَّوْرٰىةِ هم په
تورات کښې وَالْاِنْجِيْلِ زا وهم په انجیل کښې يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ پنځم دا
چه دوی ونیکی ته امر کوی چه هغه توحید دي وَيَنْهٰهُمْ او شپږم دا چه
دوی منع کوی عَنِ الْمُنْكَرِ د نا روا وخبرو چه هغه شرک دی وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ
او اووم دا چه حلالوی و دوی ته هغه پاکیزه شیان تو له چه د جاهلیت
خلکو حرام کړی وه لکه بحیره او سائبه او وصیله او حام او بله وازگه پر یهود
وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ او اتم دا چه حراموی پر دوی باندی ناکاره شیان

لکه خنزیر او مردار او وینه او دا سے نور خبیث شیان وَيَضَعُ عَنْهُمْ او نهم
داچه ایږدی یعنی لیری کوی دد وی ځنه اِصْرَهُمْ هغه سخت درونه بار دد وی
چه قتل وو د خپل ځان یا جلا وطنی وه په قبول د توبے کښی او بل قطع د «پړکول»
وه د هر هغه اندام چه گناه ځنی سوی وه او بل قطع د پلیت او مردار سوی ځای
وه د جامی ځنه او دا سے نور ډیر سخت کارونه سوه وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ او لسم داچه
لیری کوی ځنے هغه سخت طوقونه كَانَتْ عَلَيْهِمْ ؕ چه پراته وه په غاړه دد وی
کښے د موسیٰ ؑ د وخته ځنه تراوسه پوری لکه د قصاص لازمیدل بیله عفوی
او دیته په قتل عمد او د سهوی «خطا» د واړو کښے او بل سوځل د مال د غنیمت
او دا سے نور سخت احکام سوه فَالَّذِيْنَ نو هغه کسان چه دی له دوی ځنه اٰمَنُوْا
بِهٖ چه ایمان یی راوړی دی پردی پیغمبر وَعَزَّرُوْهُ او تعظیم کوی دده وَ
نَصَرُوْهُ او مدد گاری کوی دده سره پر اعداؤ «دښمنانو» وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ
اُنْزِلَ او دوی پیروی کوی د هغه نور یعنی چه قران دی چه راليږل سوی
دی مَعَهٗٓ ۙ دده سره اُولٰٓئِكَ داموصوف چه دی په دی صفاتو سره هُمُ
الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ هم دوی کامیاب او بریالی دی قُلْ ووایه ای رسوله پر طریقه ۱۹ ع ۶ ۹
د عموم سره يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ ای تولو خلگو اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ بیشکه چه زه راليږل
سوی د خدای یم اِلَيْكُمْ جَمِيْعَاۨ و تاسے تولو خلگو ته نه وبعضو ته لکه باقی
رسولان چه خاص وخپل قوم ته به راليږل کیدل الَّذِيْ هغه خدای لَهٗ مُلْكُ
السَّمٰوٰتِ چه خاص هم ده لره ده باد شاهی د اسمانو وَالْاَرْضِ ۚ او د مځکے لَآ
اِلٰهَ اِلَّا هُوَ نسته هیڅوك لائق د عبادت مگر هم دی دی يُحْيٖ وَيُمِيْتُ رچه
هم ژوندی کول کوی او هم وژل کوی فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ نو ایمان راوړی تاسے توله
پر خدای چه واحد لاشریك دی وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ او پر هغه راليږل
سوی دده چه پیغمبر ناخوانده او نانوییسنده دی هغه پیغمبر چه يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

ایمان راوړی پر خدای چه یو دی وَكَلِمٰتِهٖ او پر تولو کتابو دده وَاتَّبِعُوْهُ او پیروی
کوی دده لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ بنا پی چه تاسی سمه لار بیاموی (پیدا کړی) وَمِنْ
قَوْمِ مُوْسٰٓى او بعضی خلک دقوم څخه د موسیٰ چه ابن سلام او نور ملگری یی دی
اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ یو داسی ټولی ده چه دخدای لار وخلکو ته ورښیي په حق
او په رښتیا سره وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ او په هم دی سره عدل او انصاف کوی
دوی دخلکو په مابین کښی لکه چه دوی پخپله عمل په کوی وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَیْ
عَشْرَةَ او سره بیل او جلا کړه موږ دا بنی اسرائیل دوولس طائفو ته اَسْبَاطًا
اُمَمًا ط اولاده (لمسیان او نوسیان) دوولسو زامنو دیعقوب علیه السلام تولی تولی یعنی
دیعقوب علیه السلام اولاده موږ دوولس طائفی (ډلی) کړه هره تولی دبلی څخه جلا وَ
اَوْحَيْنَآ او موږ وحی وکړی اِلٰى مُوْسٰٓى و موسیٰ ته اِذِ اسْتَسْقٰهُ قَوْمُهٗٓ په هغه
وخت کښی چه او به وغوښتی دده څخه قوم دده چه موږ تږی سو دتیه په ځنگله
کښی نو موږ ورته وویل اَنِ اضْرِبْ داسی چه ووهه بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ج په لکړه -
خپله سره داتیږه (ډبره) چه پرتا یی بزغ کړی دی دتیه په لار کښی چه ما درسره
واخله چه په کار به دی سی او داتیږه په قدر دانسان دسر وه نو موسیٰ په لکړه
ووهله فَانْۢبَجَسَتْ نو راوخوټکیدی مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ط ددی تیږی څخه
دوولس چینی په شمار داسباطو (دوولسو ټولیو) قَدْ عَلِمَ په تحقیق سره معلوم کړی
كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ط هری تولی ددی اسباطو څخه ځپل او به خوړ (داوبو چینه ځای) چه
یو به د هغه بل وا وبو ته نه ورتلی وَظَلَّلْنَا او سوری او سایه کړه موږ عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ
پر دوی باندی اوریځ چه لمر یی خفه او په تکلیف نه کړی وَاَنْزَلْنَا او را او رول او
نازول به موږ هر سهار عَلَيْهِمُ الْمَنَّ پر دوی باندی ترنجبین چه ډیر خوږ دی وَ
السَّلْوٰى ط او مرزان کباب سوی دومره قدر چه دهر سړی به تر هغه بل سهاره -
پوری بس کیدل بیا موږ ورته وویل كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا چه خوری دهغو

پاکیزه و وشیانو څخه رزق درکړی دی او ذخیره څخه مه ساتئ وصبا ته چه هغه وخت به بیا نور درکوو او دوی ذخیره څخه کوله اوذخیره کوله به یې نوهغه پر بند اوقطع سوه وَمَا ظَلَمُوْنَا او دوی پر موږ ظلم نه وو کړی په دی ذخیره ساتلو کښې وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اولیکن دوی وه اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٠﴾ چه پر خپلو ځانو یې ظلم کاوی په نافرمانی سره وَاِذْ قِيْلَ او یادکړی هغه چه وویل سوه لَهُمُ اسْكُنُوْا وو دی بنی اسرائیلو ته چه تاسې اوسی وروسته تر جنګ د جبارینو سره هٰذِهِ الْقَرْيَةَ په دی بنار کښی د بیت المقدس وَكُلُوْا مِنْهَا او خوری د میوو او د غلو څخه ددی بنار حَيْثُ شِئْتُمْ د هره ځای څخه چه ستاسې اراده وسی وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ او داسې وایاست چه وشړه د موږ څخه ګناهونه زموږ دا یې معنیٰ ده وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا او ننوزی په دروازه کښې ددی بنار په داسې حال کښې چه سجده کوونکی یا ټیټیدونکی به یاست د تواضع په وجه نَّغْفِرْ لَكُمْ چه موږ وبخښو تاسې ته خَطِيْٓـٰٔتِكُمْ ټوله ګناهونه ستاسې سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٦١﴾ او زر دی چه موږ به زیات کړو ثواب اوجزا د نیکوکارانو فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ نو بدل کړی هغو کسانو ظَلَمُوْا مِنْهُمْ چه ظلم یې کړی وو پر خپلو ځانو ددی بنی اسرائیلو څخه قَوْلًا هغه لفظ د حِطَّةٌ چه مَاْمُوْرٌ بِهٖ وه غَيْرَ الَّذِيْ په بل لفظ سره غیر د هغه لفظ څخه قِيْلَ لَهُمْ چه ویل سوی وو ددوی ته یعنې د حِطَّةٌ پر ځای به یې حنطة وایې معنیٰ دا چه غنم غواړو او دا به یې د مسخرو څخه ویل فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ نو موږ راولیږی پر دغو لفظ بدلونکو باندی رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ ـ عذاب د اسمانه چه هغه تندر یا وبا وه بِمَا كَانُوْا په سبب ددی سره چه دوی وه يَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٢﴾ چه ظلم یې کاوی په تغیر د لفظ سره روایت دی چه ایله

ع ۲۰ ۵ ۱۰

نومې یو بنار وه د سیند پر غاړه چه د مدین او د کوه طور په مینځ کښې وو او په

عه یعنې چه ا امر کړه سوی وه په ویلو دده ۱۲ منه

دی بنا رکښې شپږ لکهه مخلوق وو د یهودو چه توله عاملان د تورات وه اود
خالی په ورځ به د ماهیانو ښکار پر حرام اوناروا وه او بیا په حکم د رب سره به په
دغه ورځ ماهیان داوبو پر سر ډیر ښکاره ګرزیدل او په نورو شپږ وورځو
کښې به یوهم نه وو نو بیا دوی هم د خدای سره ټګی اوچم وکړی او د سیند پر
غاړه یې لوی لوی ډنډونه جوړ کړه او د خالی په ورځ به یې ماهیان ورته
راواړول او مخه به یې پربنده کړه او بله ورځ به یې بیول لکه چه وایی
وَسْئَلْهُمْ او وپوښته ای رسوله دایهود عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي د حاله او د
قصې څخه د هغه ښار كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ چه په غاړه د سیند کښې وه اِذْ يَعْدُوْنَ
فِي السَّبْتِ چه تجاوز به یې کاوی د حکم څخه د خدای د خالی په ورځ چه دوی
مامور وه په ترک "پرېښودلو" د ښکار سره په دی ورځ کښې او دوی په واقعه کښې
ښکار به هم دی ورځ کاوی اِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ چه راتلل به ودوی ته د سیند
څخه ماهیان د دوی يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا په ورځ د خالی د دوی کښې ښکاره داوبو
پر مخ چه سر به یې جګ نیولے وه وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ او په هغه ورځ کښې چه
دوی به په تعظیم د خالی مشغول نه وه یعنې چه د خالی ورځ به نه وه او دوی به
د ښکار څخه هم منع نه وه لَا تَأْتِيهِمْ نو ماهیان به نه راوتل د سیند څخه
اودا یوه ابتلا وه چه خدای پر دوی راوستلې وه لکه چه وایی كَذٰلِكَ
نَبْلُوْهُمْ هم داسے موږ ازمایو دوی بِمَا كَانُوْا په سبب د دی چه دوی وه
يَفْسُقُوْنَ ⑯۳ چه فسق یې کړی وو په سبب د بې فرمانی روایت دی چه
دوی په باب د ښکار د ماهیانو کښې دری طائفې سوه یوه لکهه خلګو ښکار شروع
کړی په دی تیره چله اوچم سره او دوه لکهه یې مانع سوه د ښکار کولو څخه او دوه
لکهه ترمابین کښېناستل چه نه یې پخپله ښکار کاوی او نه یې نور څنې منع کول
بلکه ودی مانعینو ته به یې هم ویل چه د ځان اختیار یې خپل دی هر څه چه

عه یعنې د خدای د حکم څخه به یے تیری کاوی ۱۲

کوی تا سے يې ولے منعہ کوی لکه چه وا يې وَاِذْ قَالَتْ اوبيا دايهود وټوبنته د
هغه ځخه چه وويل اُمَّةٌ مِّنْهُمْ يوی طائفې دوی ځخه چه هغه مينځنۍ ډله وه و
دی مانغينو نه لِمَ تَعِظُوْنَ چه ولے پند ورکوی او نصيحت کوی قَوْمًا اِ ۨ للّٰهُ
مُهْلِكُهُمْ وهغو خلکو ته چه خدای ددوی هلاکونکی دی په دنيا کښے په سبب
د نافرمانۍ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ يا عذابونکی او عذاب ورکونکی دی ددوی ته په آخرت
کښے عَذَابًا شَدِيْدًا په سخت عذاب سره چه عذاب ددوږخ دی قَالُوْا نو دی ـ
مانغينو وويل چه ددوی ته نصيحت کوو مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ د پاره د حيل عذر
پيدا کولو ورب ستا سے ته او بل د پاره دا دا کولو د واجب چه امر بالمعروف او
نهی عن المنکر دی وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ او بل د پاره ددی چه بنا يې چه دوی
وبيريږی او ځان وساتي ددی گناه ځخه فَلَمَّا نَسُوْا نو هرکله چه دوی هيرکړی
يعنی نه يې کړی قبول مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ هغه نصيحت چه پند ورکړه سوی وو ددوی
ته په هغه سره اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ نو موږ وساتل هغه کسان چه منع کول
به يې دا نوږ د بنکار کولو ځخه د خالۍ ورځې عَنِ السُّوْٓءِ د هغه سخته عذا به ځخه وَ
اَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا او موږ ونيول هغه کسان چه ظلم يې کړی وو بعضو په
کولو د بنکار سره د خالي په ورځ کښے او بعضو په ترك ‹‹پرېښودلو›› د نهی عن المنکر
سره بِعَذَابٍ بَئِيْسٍ په سخت عذاب سره بِمَا كَانُوْا په سبب ددی سره چه دوی
وو د ډيره عناده ځخه يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۵﴾ چه فسق يې کاوی فَلَمَّا عَتَوْا نو هرکله چه
دوی سرکشی اختيار کړه عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ د هغه کاره ځخه چه منع سوی وه دوی
د هغه ځخه چه هغه د ماهيانو بنکار وو په دی ورځ کښے قُلْنَا لَهُمْ نو موږ و
دوی ته وويل كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ چه ترتهل سوی بيزوگيان سی نو بيا
دوی ټوله بيزوگيان سول او ترد درو ورځو پوری ژوندی ول او په څلرمه ورځ
ټوله مردار سوه وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ او ياد کړه هغه چه آگاهی وکړه رب ستا د دی

خبری لَيَبۡعَثَنَّ عَلَيۡهِمۡ چه قسم دی چه مسلط به کړم پر دی پهودو اِلٰى يَوۡمِ
الۡقِيٰمَةِ د قیامت تر ورځې پورې مَنۡ يَّسُوۡمُهُمۡ هغه څوك چه څکوی په دوی
یعنې ودوی ته رسوی سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ ؕ سخت عذاب لکه چه پس د سلیمانؑ
څخه اول بخت نصر پر مسلط کړه سو چه ددوی تولی ود انی یې ورخرابې
کړی او عیال اطفال یې تول په بند بوتله اودوی یې اکثره قتل کړه
او نوروی یې جزیه کښینبوده اوتر دوی نه وروسته به د مجوسیانو باچاهانو هیشه
جزیه څخه اخیسته د رسولؐ تر زمانې پورې بیا ده هم بعضي قتل کړه او پر
باقی پاتو یې جزیه کښینبوده چه تر قیامته به څنې اخیستل کیږی اِنَّ رَبَّكَ
بیشکه رب ستا چه دی لَسَرِيۡعُ الۡعِقَابِ ۖۚ خامخا ر ور کونکی دی د عذاب
ودی کفارو ته په دنیا کښې وَاِنَّهٗ لَغَفُوۡرٌ او بیشکه دی هرائینه ډیر بخښونکې
دی دهغه چا چه تو به و باسې او بخښنه غواړی رَّحِيۡمٌ ﴿۱۶۷﴾ مهربانه دی چه
تر شتینی توبې وروسته څوك پر تیره گناه نه نیسی وَقَطَّعۡنٰهُمۡ او تار په
تار کړه موږ دوی فِى الۡاَرۡضِ په ځمکه کښې اُمَمًا ۚ تولی تولی چه هیڅ ملك
څخه خالی نه دی مِنۡهُمُ الصّٰلِحُوۡنَ بعض ددوی صالحان دی لکه ابن سلام
او ملگری ده وَمِنۡهُمۡ او بعض ددوی څخه دُوۡنَ ذٰلِكَ نر اکښته دی د مرتبې
څخه د صلاح یعنې فاسقان دی او کافران دی وَبَلَوۡنٰهُمۡ بِالۡحَسَنٰتِ او وازمایل
موږ دوی هم په ښوسره لکه غنا او تندرستی او معاش او ارزانې وَالسَّيِّاٰتِ
او هم په بدو سره لکه فقر او مرض او تنگدستی او غمگینی او قیمتی او درد
او مرك لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۱۶۸﴾ بنایې چه دوی وخدای ته وگرځی او د بدو
څخه بیزاره سې اما دوی په هیڅ حال کښې وخدای ته راجع نه سوه بلکه چه مار
او خوشحاله به سوه نو ویل به یې چه اِنَّ اللّٰهَ فَقِيۡرٌ وَّنَحۡنُ اَغۡنِيَآءُ ؑ او چه وږی
او بد حاله به سوه نو به یې ویل .

ؑ یعنې په تحقیق سره خدای فقیر او نادار دے او موږ غنیان او مالداره یو ۱۲

چه يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ نو په هيڅ وجه سم نه سوه فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وروسته
تر دی مذکورینو "ذکرشوو" نور بد خليفګان راپیدا سوه وَّرِثُوا الْكِتٰبَ چه وارثان
د کتاب سوه چه تورات دی یعنی هغه علم د تورات چه د خپلو پلرو څخه ورته پاته
سوی وه يَأْخُذُوْنَ دوی اخلی عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى مبلغ د دی خسیسی دنیا
په رشوت او پټولو د نعت د رسول ﷺ او د نورو احکامو لکه رجم وَيَقُوْلُوْنَ او
دوی وایی تر دی اخیستو وروسته سَيُغْفَرُ لَنَا ژر دی چه بخښنه به وکړه سی
د دی کار وموږ ته ځکه چه وموږ ته د ورځی ګناهونه وماښام ته بخښل کیږی
او د شپی ګناهونه وصبا ته وَاِنْ يَّاْتِهِمْ او حال دا چه که راسی و دوی ته
عَرَضٌ مِّثْلُهٗ نور مبلغ د پخوانی "ځکینی" په مثل په حرامتیا کښی چه په رشوت
یا په نوره څه بی حاصل کړی يَاْخُذُوْهُ ط نو هغه هم واخلی او د اصراره څخه
نه بیریږی د مغفرت په امید اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ آیا نه وو اخستل سوی
پر دوی یعنی د دوی څخه مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ عهد په تورات کښی او هغه دا وو اَنْ
لَّا يَقُوْلُوْا اچه نه دی وایی عَلَى اللهِ پر خدای اِلَّا الْحَقَّ مګر رشتیا او دا چه
د ورځی ګناهونه مود شپی او د شپی ګناهونه مود ورځی بخښل کیږی دا د رواغ
ویل دی پر خدای وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ ط او لوستلی وه دوی هغه احکام چه په تورات
کښی وه او د احکم یی هم پکښی لید لی وو نو عمل یی ولی نه په کاوی وَالدَّارُ
الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ او خلاصی د هغه جهان ډیر غوره ده لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ط وهغو
کسانو ته چه　　د د رواغو او د حلال بللو څخه د حرامو ځان وساتی اَفَلَا
تَعْقِلُوْنَ ⑯٩ آیا نو تاسی عقل او فکر نه کوی ای یهودو چه نعمتونه د آخرت
غوره دی تر حرام مبلغ د دی دنیا وَالَّذِيْنَ او هغه کسان يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ
چه ساتی او پر ځای لری احکام د تورات کا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ط او ودروی او
قایم کړی دوی لمونځ خپل یعنی د تولو حقوقو سره یی اداء کوی اِنَّا لَا

مه یعنی د الله پاک لاس تړلی دی ورپسی تا ته څه نه ورکوی ۱۲

نُضِيعُ بیشکه موږ نه ضائع کوو اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ اجره نیکو کارانو وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ
او یاد کړه وه دی یهودو ته هغه چه موږ کوه طور را پورته کړی فَوْقَهُمْ
سر بیره پر سر د دوی كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ گویا چه دا کوه طور یو سایه وان دی
د دوی پر سر او په هوا ولاړ دی وَّظَنُّوْٓا اَنَّهٗ او دوی په یقین سره داو گڼل
چه بیشکه دا غر وَاقِعٌۢ بِهِمْ را لوید ونکی دی پر دوی که یې د تورات احکام قبول
نه کړه او موږ دوی ته وویل خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ چه واخلئ او قبول کړی هغه
احکام چه موږ درکړی دی وتاسو ته بِقُوَّةٍ په ښه کوښښ سره وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ
او یاد کړی هغه او امر او نواهي چه په دی کتاب کښې دی لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾
بنا یې چه تاسو ځانونه د نافرمانی څخه وساتی روایت دی چه یوه ورځ آدم
په وادی النعمان کښی و وچه یوه کنده ده د عرفات څخه چه پرورد گار د ده
د پښتئ لاملا څخه اوله اولاده ده راوه ایسته توله هغه چه تر قیامته پیدا
کیږی او د سوړ کومیږو یا نو په قد رجثی "بدلونه" یې ورکړی او حیوٰة "ژوند" او عقل
او نطق "خبری کول" یې پکښی کښیښوول او توله یې د خپل ربوبیت په هکله و
پوښتل نو تولو اقرار وکړی چه ته زموږ رب یې لکه چه وایی وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ
او یاد کړه ای رسوله هغه چه ستا رب واخیسته مِنْۢ بَنِيْٓ اٰدَمَ د اولاده څخه
د ادم اودی پخپله ذکراو یاد نه سو په سبب د دیر ظهور مِنْ ظُهُوْرِهِمْ د شا
گانو څخه د دوی ذُرِّيَّتَهُمْ او اولاد د دوی وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ او
شاهدان یې کړه توله پر خپلو ځانو باندی یا بعضی پر بعضو او ورته یې وویل
چه اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ایا نه یم ستاسو رب نه یم قَالُوْا بَلٰى نو تولو په جواب کښې
ورته وویل چه ولی نه یې بلکه ته زموږ رب یې بیا رب العزت او هغه ملائکو
چه حاضری وی تولو وویل چه شَهِدْنَا چه موږ شاهدان سو ستا سو
پر دی اقرار باندی اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ چه مبادا بیا تاسی ونه وایاست

په ورځ د قیامت اِنَّا کُنَّا بیشکه چه مونږ وو عَنۡ هٰذَا غٰفِلِیۡنَ (۱۷۲) د
دی اقرار څخه ناخبره اَوۡ تَقُوۡلُوۡۤا یا داسې ونه وایاست اِنَّمَاۤ اَشۡرَكَ
اٰبَآؤُنَا بیشکه هم دا خبره ده چه شرك اختیار کړی وو پلرونو مونږ
مِنۡ قَبۡلُ مخکی تر مونږ وَکُنَّا ذُرِّیَّةً او مونږ وو پیدا سوی اولاده مِّنۡۢ
بَعۡدِهِمۡ تردوی وروسته او بیا مونږ اقتدا وکړه په دوی پسې اَفَتُهۡلِکُنَا
آیا نو ته مونږ هلاکوی او عذاب راکوی بِمَا فَعَلَ الۡمُبۡطِلُوۡنَ (۱۷۳) په هغو
کار و سره چه کړی وه کږ رفتارانو وَکَذٰلِكَ او هم داسې لکه چه مونږ بیان
کړه قصه د میثاق نُفَصِّلُ الۡاٰیٰتِ په تفصیل سره بیانوو مونږ نښې د خپل
قدرت چه دوی فکر پکښې وکړی وَلَعَلَّهُمۡ یَرۡجِعُوۡنَ (۱۷۴) او بنایي چه دوی
راوګرځی د تقلید څخه او خپل فکر و چلوی روایت دی چه یو راهب وو د
جبارانو څخه د کنعان چه نوم یې بلعام بن باعورا وو چه موسیٰؑ کنعان ته په
نیت د جنګ ورغلی نو د جباران قوله بلعام ته ورغله چه ستا اسم اعظم
یاد دی نو پر موسیٰؑ باندی یې ووایه چه د مونږ څخه حصار «بند» سې مګر ده
غاړه ورته نه کښیښوده نو بیایې ډیر رشوت ورته راوړی او ده ښځې ته یې
ډیری زاری وکړی نو هغه ورپسې سوه او دی یې راضي کړی نو اسم اعظم
یې په موسیٰؑ پسی ولوست او د تیهه په ځمکه کښې یې خلویښت کاله حصار «بندی»
کړی او ده څخه ایمان سلب سو لکه چه وایي وَاتۡلُ عَلَیۡهِمۡ او ولوله «ووایه»
اې پیغمبره پردی یهودو یا پر خپل قوم باندی نَبَاَ الَّذِیۡۤ قصه او حال د هغه
شخص اٰتَیۡنٰهُ اٰیٰتِنَا چه مونږ ورکړی وه وده ته خپل آیتونه یعنی علم پر
آیتو او هغه شخص بلعام بن عورا امیه ابن ابی الصلت وو چه د بعضو پخوانیو
کتابو علم ورکړه سوی وه فَانۡسَلَخَ مِنۡهَا نو را ووا تی او بیزاره سو د هغو آیتو
څخه په سبب د کفر او اعراض سره فَاَتۡبَعَهُ الشَّیۡطٰنُ نو شیطان ورپسې سو

او د خپل ځان تابع یې کړی فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ نو د ګمراهانو څخه سو وَلَوْ شِئْنَا
او که زموږ اراده سوی وای لَرَفَعْنٰهُ بِهَا نو خامخا به موږ پورته کړی وای
په دی اٰیتو سره ومقام د ابرارو ته «او نیکانو ته»، وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ او لیکن دی چه وومیل
یې وکړی اِلَى الْاَرْضِ کښته ومځکی ته د ډیره خساسته څخه وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ
او پیروی یې وکړه د مقتضی د نفس خپل د رشوت په قبلولو سره او د خپلی ښځی د
قول په منلو سره فَمَثَلُهٗ نو مثال او حال دده چه دی په خساست کښې كَمَثَلِ
الْكَلْبِ د اسپی دی لکه حال د سپی اِنْ تَحْمِلْ چه که ته حمله وکړی عَلَيْهِ يَلْهَثْ
پر ده باندی نو ژبه به راوباسی او هو کیږی به «غاپی به» اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ یا
که یې پریږدی او هیڅ ورته ونه وایې نو هم ژبه راوباسی او غاپی او دا
ځکه چه ده هر کله چه موسٰی علیه السلام ته بښیری وکړی نو ژبه یې د اسپی را
وځړیدله او ویزا نه سوه چه پرنامه یې لګید له «پرته وه» او همیشه به لکه سپی
غپیدی ذٰلِكَ دا بیان چه سوه مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ حال دی د هغو کسانو او
خلګو چه د ډیره کبره او عناده څخه كَذَّبُوْا تکذیب کوی بِاٰيٰتِنَا د اٰیتو زموږ
چه هغه اهل د مکی دی چه د قراٰن اٰیتونه نه منی فَاقْصُصِ الْقَصَصَ نو بیان
کړه و دوی ته د اقصه لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ بنا یې چه دوی فکر وکړی چه
عاقبت د تکذیب د اسپی وی سَآءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ بد دی د جهته د مثاله
حال د هغه قوم كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چه تکذیب کوی زموږ د اٰیتو ور وسته تر علمه
په صدق د هغو وَاَنْفُسَهُمْ او پر ځانونو خپلو كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۷۷﴾ دی دوی
چه ظلم کوی مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ هر څوک چه خدای د خپله فضله څخه لاره وروښیی
فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ نو هغه سمه لار موندونکی «پیدا کوونکی» دی وَمَنْ يُّضْلِلْ او هر
څوک چه دی یې ګمراه کړی فَاُولٰٓئِكَ نو دا ګمراهان چه دی هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۷۸﴾
هم دوی زیانکاران دی وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ او خامخا په تحقیق سره موږ ده

د دوزخ د پاره پیدا کړی دی کَثِیۡرًا مِّنَ الۡجِنِّ وَالۡاِنۡسِ ؕ ډیر د پیریانو او انسانانو
څخه د پاره د اظهار «ښکاره کولو» د خپلو دواړو قسمو صفتو چه جلالی او جمالی دی
لَهُمۡ قُلُوۡبٌ ز چه دوی لره زړونه دی داسے بی فائدی چه لَّا یَفۡقَهُوۡنَ بِهَا ز هیڅ
تعقل او فکر په دی زړو سره نه سے کولای چه حق او باطل سره بیل او جلا کړی
وَلَهُمۡ اَعۡیُنٌ ز او دوی لره سترګی دی داسی بے معنیٰ چه لَّا یُبۡصِرُوۡنَ بِهَا ز هیڅ
نه سی لیدلای په دی سترګو سره چه د عبرت په نظر و مخلوق ته وګوری او دا بیا
وسیله کړی د خالق و وجود ته وَلَهُمۡ اٰذَانٌ ز او دوی لره غوږونه دی داسے
بے معنیٰ لَّا یَسۡمَعُوۡنَ بِهَا ؕ چه نه اوری په دی غوږو سره د حق کلام داسی
چه موجب او سبب د هدایت سی اُولٰٓئِکَ دا کسان چه دی کَالۡاَنۡعَامِ په شان
د چارپایانو دی په بے فکری او په اتباع «پیروی» د نفسانی شهواتو کښے او په بے
التفاتے کښے د هغو باقیه وو نعمتو د جنت بَلۡ هُمۡ اَضَلُّ ؕ بلکه دوی لا ډیر ګمراه
دی تر چارپایانو هم ځکه چه هغوی خو په دی مکلف نه دی او دوی پی د تکلیفه
سره کوی بے باکه اُولٰٓئِکَ هُمُ الۡغٰفِلُوۡنَ ﴿۱۷۹﴾ دا کسان چه دی هم دوی
غافلان دی چه پخپل غفلت کښی و منتهیٰ ته رسیدلی دی روایت دی
چه یوسړی په لمانځه کښے لفظ د الله وو ایه او بیا یے لفظ د رحمٰن هم وو ایه
او دا ابوجهل وا وریده نو یی وویل چه محمد صلی الله علیه وسلم خو وایی چه زه یو
خدای عبادت کوم نو دا سړی ولے دوه خدایان بولی نو نازل سو وَلِلّٰهِ الۡاَسۡمَآءُ
الۡحُسۡنٰی او خاص خدای لره دی ډیر نومونه تو له بنه بنه فَادۡعُوۡهُ بِهَا ص
نو دی بولی په دی نومو سره وَذَرُوا الَّذِیۡنَ او پریږدی پیروی د هغو کسانو
چه د ډیره جهله څخه یُلۡحِدُوۡنَ فِیۡۤ اَسۡمَآئِهٖ ؕ الحاد کوی په نومو کښے د ده
یعنے د خپله ځانه څخه یی نومونه جوړوی نو یهود یی ابوالمکارم او ابیض الوجه
بولی او نصاریٰ یی ابوالمسیح بولے او حکماء یی علة اُولیٰ بولی سَیُجۡزَوۡنَ ژر

دی چه جزا به ورکړه سي و دوی ته مَا كَانُوا د هغو كار و چه دوی و د -
يَعْمَلُونَ (١٨٠) چه کول به یې هغه کارونه او هر کله چه بیرته «عملی» بحث د
دوو خیانو تیر سوی وه نو اوس حال د جنتیانو بیانوی نو وایي وَمِمَّنْ خَلَقْنَا
او بعض د هغو خلگو څخه چه پید اکړی دی موږ د جنت د پاره أُمَّةٌ
يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ یو ټولی ده چه لار ښایي وخلگو ته د حق وَ بِهٖ
ع ١٠ / ١٢ يَعْدِلُوْنَ (١٨١) او په هم دی حق سره عدل او انصاف کوی په معاملاتو
خپلو کښی چه هغه مهاجرین او انصار او اتباع د دوی دی وَالَّذِيْنَ
او هغه کسان كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا چه تکذیب کوی زموږ د آیتو سَنَسْتَدْرِجُهُمْ
ژر دی چه موږ به ونیسو دوی ورو ورو مرتبه په مرتبه ترڅو چه
د هلاك و مرتبی ته یې ور ولو مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ (١٨٢) د داسي طرفه
څخه چه دوی نه پوهیږی یعنی ترڅو چه دوی ډیر طغیان کوی هومره
زه ډیر نعمتونه ورکوم ترهغو چه دی ډیر غره سي بیا ناگاه یې ونیسم
وَاُمْلِيْ لَهُمْ او مهلت ورکوم دوی ته ډیره موده بیا یې ناځاپه ونیسم
اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ (١٨٣) بیشکه چه زما نیول ډیر سخت دی اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا
آیا فکر نه کوی دا معاندان د دی، مَا بِصَاحِبِهِمْ چه نشته په ملگری کښی
د دوی یعنی په رسول ﷺ کښی مِّنْ جِنَّةٍ د هیڅ قسمه لیونتوب بلکه کامل
عقل هم دده دی چه مخکی تر نبوت تا سو ټولو محمد ﷺ امین باله اِنْ هُوَ نه دی
دی اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ (١٨٤) مگر ښکاره بیرونکی دی د عذابه څخه د خدای اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا
آیا نظر نه کوی په طریقه د استدلال سره فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ په دی پراخ لوی
ملك کښی د اسمانو چه د وولس برجونه او بې شماره ستوری دی رنگارنگ چه
څوك سیاره او څوك ثوابت دی او لمر او سپوږمی دی وَالْاَرْضِ او په پراخه
لوی مځکه کښی چه پکښی رنگارنگ ونی او سیندونه او غرونه او حیوانات او

خزندہ گان او پرندہ گان دی او رنگا رنگ بادونه او اوریځی او بارانونه دی
وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ او هر هغه چه خدای پیدا کړی دی هغه هم دوی نه وینی مِنْ
شَیْءٍ د هر شئ څخه چه کمال د قدرت د صانع ورته معلوم سی وَّاَنْ عَسٰٓی او
بل په دی کښی فکر نه کوی چه بنایی اَنْ یَّكُوْنَ چه وی داخبره قَدِ اقْتَرَبَ
اَجَلُهُمْ ۚ چه په تحقیق سره نژدی سوی وی د دوی د مرګ وخت چه د بدو
څخه توبه گار سے او پر نیکو حرص وکړی فَبِاَیِّ حَدِیْثٍۭ بَعْدَهٗ نو پر کومه خبره
تر دی قران وروسته یُؤْمِنُوْنَ (۱۸۵) دوی به ایمان راوړی مَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ
هر څوک چی خدای یې گمراه کړی او په قران سره پند نه واخلی فَلَا هَادِیَ لَهٗ
نو وده ته هیڅوک لار ښوونکی نسته وَیَذَرُهُمْ او خدای دوی پریږدے
فِیْ طُغْیَانِهِمْ یَعْمَهُوْنَ (۱۸۶) په خپله گمراهے کښی چه سرگردانه گرزی روایت
دی چه هرکله چه قریشو یا یهودو د رسول څخه پوښتنه وکړه چه موږ په قیامت
سره خبر کړی چه کله به وی او دا پوښتنه یې د معجزوه ځکه چه دوی یقین وو
چه دا بیله خدایه و بل هیچا ته معلوم نه دی نو نازل سو یَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ
دوی پوښتنه کوی د تا څخه د حاله د قیامت اَیَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ چه کله به وی ښکاره
کید ل د هغه قُلْ ورته ووایه اِنَّمَا عِلْمُهَا بیشکه هم دا خبره ده چه د هغه د راتلو
علم چه دی عِنْدَ رَبِّیْ ۚ د رب زما څخه دی چه هیڅ ملائکه او نبی یې نه دی
په مطلع کړی او خبر کړی لَا یُجَلِّیْهَا نه ښکاره کوی دا قیامت لِوَقْتِهَآ په وخت کښی
دا ظهار (ښکاره کولو) دده چه هغه هم ده ورته مقرر کړی دی اِلَّا هُوَ ۘ مگر هغه
هم دی ثَقُلَتْ درونه او سخت او لوی دی د هشت او خوف د دوی قیامت
فِی السَّمٰوٰتِ په اسمانو کښی پر ملائکو وَالْاَرْضِ ؕ او په ځمکه کښی پر ټولو حیواناتو
خصوصًا پر انسانانو او پیریانانو لَا تَاْتِیْكُمْ چه نه به راځی دا قیامت و تاسے ته
اِلَّا بَغْتَةً ؕ مگر ناځاپه چه هیڅ مقدمه نه لری لکه چه په سورة یٰسٓ کښی

راغلی دی چه تاخذهم وهم یخصمون ط فلا یستطیعون توصیة ولآ الیٰ اهلهم
یرجعون ط یَسْئَلُوْنَكَ دوی پوښتنه کوی د تا څخه د دی قیامت په دی زمانه عم سره
كَاَنَّكَ حَفِيٌّ چه گویا که چه ته مهربانه یې پر پوښتنه کونکی باندی او خوشحاله
کیږی په سوال کولو او په پوښتنه سره عَنْهَا ط د دی قیامت څخه او حال دا چه ته
په دی پوښتنه سره خفه کیږی قُلْ اِنَّمَا ورته ووایه چه بیشکه چه هم دا خبره
ده چه عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ علم د قیامت خاص د خدای سره دی نه د بل چا سره وَ
لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات خلك چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ نه پوهیږی په
دی چه دا بل چا ته معلوم نه دی قُلْ لَّآ اَمْلِكُ بیا ورته ووایه ودوی ته چه
زه واك نه لرم لِنَفْسِيْ نَفْعًا د خپل ځان دپاره هم نه د راکښولو د خیر وَّلَا ضَرًّا
او نه د دفعه کولو د شر اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ط مگر دهغه شی چه د خدای اراده وسی
وَلَوْ كُنْتُ او که زه وای اَعْلَمُ الْغَيْبَ چه پوهیدای د غیب په کارو بیله تعلیمه د خدای
لَاسْتَكْثَرْتُ نو خامخا به می ډیر راجمع کړی او ډیر کړی وای و ځان ته مِنَ الْخَيْرِ ۚ
خیر یعنی منفعت لکه صحت او فتح او غنیمت وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ ۚ او وما ته به هیڅکله
شر نه وای رارسیدلی لکه ضرر او فقر او تنگی او هزیمت اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ نه یم زه
مگر بیرونکی یم د عذاب څخه دمنکرانو وَّبَشِيْرٌ او زیری کونکی یم د جنت لِّقَوْمٍ ع ۲۳ ۱۲
يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ پر هغو خلکو چه ایمان راوړی روایت دی چه په قریشو کښی قصی
نومی یو سړی و و چه دی هم د رسول ﷺ نیکه وو او دی او ښځه یې دواړه عرب وه
نو دواړو وخدای ته زاری وکړی چه که دی وموږ ته ولد صالح راکړی نو پردی
نعمت به دی شکرگذاره سو نو بیا خدای څلور زامن ورکړه نو د اول نوم یې
عبد مناف او د دویم نوم یې عبد شمس او د دریم نوم یې عبد قصی او د څلرم
نوم یې عبد دار کښیښوی نو ځکه رب العزت واهل د مکی ته خطاب کړی دی

عه معنیٰ دا چه دا قیامت به دوی ته راسی ناڅاپه او دوی به جگړی کوی نو دوی به بیا طاقت نه لری د وصیت
کولو او نه به اهل وعیال خپل ته بیرته وگرزی ۱۲

چه دوی د هغه اولاد دی اوچاویلی دی چه دا قصه د آدم ؑ ده مگر هرکله چه نسبت
دداسے نالایقه اقوالو انبیاؤ ته مناسب نه وو نو صحیح هم دادی چه قصی ځنی مراد
دی لکه چه وایی هُوَ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ دی هغه پروردگار دی چه تاسی یی پیدا کړی
ـ یاست مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ دیوه تنه شخصه چه قصی یا آدم دی وَجَعَلَ مِنْهَا او
ورکړی وه ده ودی نفس ته دخپله قومه شخص چه قریش دی یا د خپله تنه شخصه چه
زَوْجَهَا ښځه د ده چه مورده د عبد مناف یا بی بی حواؑ ده لِیَسْکُنَ اِلَیْهَا ج د دی دپاره
چه آرام پیدا کړی او الفت ونیسی په دی پوری فَلَمَّا تَغَشّٰهَا نو هرکله یی چه جماعت کوروالی ۱۲
وکړی ددی سره حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِیْفًا نو دا حامله سوه په سپك حمل سره په اول کښے
ځکه چه تشه «خالی» نطفه وه فَمَرَّتْ بِهٖ ج نو دا به تیریدهٔ او را تیریدهٔ د دی حمل سره
یعنی سپکه سپکه به گرځیدهٔ ځکه چه باریے سپك وو فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ نو هرکله چه
دا درنه سوه په سبب د لویدلو سرح د حمل او د ولد په نس کښے دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا نو
دواړو وخدای ته سوال وکړی چه د دوی رب دی لَئِنْ اٰتَیْتَنَا صَالِحًا چه که دی
خاما وموږ ته ولد صالح راکړی یعنی په بدن روغ او سلامت یانا رینه لَنَکُوْنَنَّ نو
خاما به سو موږ مِنَ الشّٰکِرِیْنَ ﴿۸۹﴾ د شکر گذارانو شخه پر دی نعمت ستا فَلَمَّآ اٰتٰهُمَا
صَالِحًا نو هرکله چه خدای ودوی ته ورکړی فرزند «زوی» په تنه روغ نو دوی دواړو
یعنی قصی او ښځی یی اوکه مراد ځنی آدم او حواؑ وی نو دا کلام په حذف د اولاد
سره دی ای جَعَلَ اولادهما جَعَلَا لَهٗ شُرَکَآءَ وگرځول اودوی نیول وخدای
ته شریکان او دا ځکه چه آدمؑ او بی بی حواؑ دواړه بیزاره دی د شرکه شخه اومراد که
نفس آدم او حواء سی نو مراد به شرکاء سره شرکت په نامه کښی دی نه په عبادت
کښے ځکه عبدالله یی په عبد الحارث بدل کړی دی فِیْمَآ اٰتٰهُمَا ج په هغه کښی چه
خدای ودوی ته ورکړی وه چه د عبدالله او د عبدالرحمٰن او د عبدالرحیم پر ځای
دوی د عبد مناف او عبد شمس او عبد دار نومونه کښیښول فَتَعٰلَی اللّٰهُ نو بلند شان

عه یعنی پیدا کړی اولاد دا آدمؑ او د حواؑ ۱۲

او پاك دى خداى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ (۱۹۰) د دى شريكه څخه چه دوى يې پيداكوى دهغه
سره اَيُشْرِكُوْنَ ايا دوى شريك نيسى دده سره مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا هغه شى چه
هغه هيڅ نه سى پيداكولاى چه بتان دى وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ (۱۹۱) اوحال دا چه دغه
بتان پيداكول كيږى يعنې دوى پخپله د بل چا مخلوق دى نو بيا به څرنګه د بل چا
خالقان سى وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ اوطاقت نه لرى دا بتان لَهُمْ نَصْرًا د دى خپلو
عابدانو سره د مددګارى نه د نفعى رسولو او نه د ضرر دفعه كولو وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ
يَنْصُرُوْنَ (۱۹۲) او نه د خپلو ځانو سره مددګارى كولاى سى چه كه څوك يې ماتوى
او يا يې په نجاست لړى او دوى دى خپل ځان څنې خلاص كړى وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ
او كه تاسو وبولى اى مؤمنانو دا مشركان اِلَى الْهُدٰى ودين د اسلام ته يا كه
وبولى اے مشركانو دا بتان د پاره د هدايت خپل لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ط نو يسى در پسه
نه سى سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ برابره ده پر تاسے دا خبره اَدَعَوْتُمُوْهُمْ چه ايا تاسى
دوى وبولى اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ (۱۹۳) يا تاسى چپ اوسى اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ
بيشكه هغه كسان چه تاسے يې بولے مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بيله خدايه عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ
بندګان دى عه مملوك او مسخر دى په مثل ستاسے په مملوكيت او مسخريت كښى
فَادْعُوْهُمْ نو تاسو دوى وبولى او بيا فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ نو ميبايد چه ودى
منى دوى دا بلل ستاسے اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ (۱۹۴) كه تاسے رشتينى ياست په
دى خبره كښى چه دا خدايان دى اَلَهُمْ اَرْجُلٌ ايا دوى لره دا سے پښې سته
يَّمْشُوْنَ بِهَآ ز چه دوى په هغو سره تلګ كوى وخپلو مقاصدو ته اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ
او كه سته دوى لره دا سے لاسونه يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ ز چه نيول كوى په هغو
سره پخپلو حوائجو "حاجتو" كښى اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ او كه سته دوى لره دا سى
سترګى يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ ز چه ليدل كوى په هغو سره پخپلو مطالبو كښى اَمْ
لَهُمْ اٰذَانٌ او كه سته دوى لره دا سے غوږونه يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ط چه اوريدل كوى په

عه په تابع كيدلو كى وخداى پاك يعنې لكه چه تاسى تابع ياست دوى هم تابع او مسخر دى د خداى ۱۲

هغو سره په خپلو معاملاتو کښې قُلِ ادْعُوا اے رسوله ورته ووایه چه وبولی
شُرَكَاءَكُمْ هغه شریکان خپل چه د خدایه سره یې سم بولی او ټول نر ما په عداوت
کښې سره متفق یاست ثُمَّ كِيدُونِ بیا ورسته د هغه ټوله سره کوشش کونکی سے
په مکر بازی او په ضرر رسولو کښې وما ته هم تاسی او هم دا شریکان ستا سے
فَلَا تُنْظِرُونِ ﴿۱۹۵﴾ نو بیا تاسی هیڅ مهلت مه کوی اِنَّ وَلِیِّیَ اللّٰهُ الَّذِیْ بیشکه
متولی او ناصر زما چه دی په هر کار کښې هغه پروردګار دی نَزَّلَ الْكِتٰبَ ز چه
رالیږلی یې دی وما ته کتاب یعنی قران وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۹۶﴾ او دی د وسپته
او کارسازی کوی د صالحانو وَالَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ او هغه بتان چه تاسو یې بولے
مِنْ دُوْنِهٖ بیله خدایه لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ دی طاقت او توان نه لری د مدد کولو
د تاسی سره وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۷﴾ او نه د خپلو ځانو سره مدد کولای سی په
هغه وخت کښې چه څوک یې ماتوی وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ او که وبولی ای مؤمنانو تا سے
دا بتان اِلَى الْهُدٰى وسی لاری ته لَا يَسْمَعُوْا ط نو هیڅ نه اوری دوی وَتَرٰىهُمْ او
وینی به ته دوی اے رسوله يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ چه وتا ته به ګوری په غټو غټو سترګو
سره ځکه چه پشکل د ادمی "انسان" دی نو په غټو سترګو سره ګوری په ظاهر کښې وَ
هُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۹۸﴾ او حال دا چه دوی به هیڅ نه وینی ځکه چه نو رتبه سترګو
کښې نشته خُذِ الْعَفْوَ و نیسه ای زما حبیبه د عفو لار ددی مؤمنانو سره او
سختی ته یې مه نیسه چه د رځغه تار په تارنه سی وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ او امر کوه وهر
چا ته په نیکو اقوالو او افعالو او احوالو سره چه عقل یې بنه منی او شرعه یې
قبلوی وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾ او څنګ وکړه او اعراض وکړه د ناپوهانو لیونیانو
څخه روایت دی چه هر کله دا ایت نازل سو نو . رسول د جبرائیل څخه پوښتنه
وکړه چه ددی ایت حاصل څه دی نو هغه ورته وویل چه ته یې مأمور کړی
په دروکار وسره . . آول دا چه پیوند کوه د هغه چا سره چه د تا څخه پیوند

شکوی دوهغه داچه ورکول کوه وهغه چاته چه تا محروم کوی درېیم داچه
عفوه کوه وهغه چاته چه پرتا جبراو تعدی کوی او دغه درې سره په واقعه
کښې د مکارم الاخلاق اصول دی لکه چه وایې ۔

ځوک چه زېږد رله درکړي ورکوه ته ورله ثبات ▯ او که ځان له تا نه پرې کړي بیا ته سره ورته مات
او که تا کړي دې محروم ورکوه ته ورله زیات ▯ دا بنه خوی بېشر دی ته به مومې پرې نجات

وَاِمَّا يَنۡزَغَنَّكَ او که باعث او تیز کړي پرمعصیت تا مِنَ الشَّيۡطٰنِ نَزۡغٌ د
طرفه ځنې د شیطان کومه وسوسه په وخت کښې د غضب یا بل وخت فَاسۡتَعِذۡ بِاللّٰهِ ؕ
نو پناه وغواړه په خدای سره اِنَّهٗ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۰۰﴾ بیشکه چه دی اوریدونکی دی
د هر گفتار «وینا» پوهیدونکی دی په هر اسرار اِنَّ الَّذِيۡنَ اتَّقَوۡا بیشکه هغه کسان چه
بیرېږي دخدایه ځنې یا ځېل ځان د شرک او د معاصیو ځنې ساتي اِذَا مَسَّهُمۡ په
هر وخت کښې چه ودوی ته ورسیږي طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيۡطٰنِ کومه وسوسه د طرفه
ځنې د شیطان تَذَكَّرُوۡا نو یادوي امر او نهی د پروردگار فَاِذَا هُمۡ مُّبۡصِرُوۡنَ ﴿۲۰۱﴾
نو ناگاه دوی لیدونکي وي د حق او بیا په دی حق سره دفعه کړي هغه وسوسه د
شیطان وَاِخۡوَانُهُمۡ او ورونه ددی کفارو چه دی له شیطانانو ځنې يَمُدُّوۡنَهُمۡ
فِى الۡغَىِّ سرکشوي دوی داکفار او کلکوي یې په گمراهۍ کښې ثُمَّ لَا يُقۡصِرُوۡنَ ﴿۲۰۲﴾
بیا وروسته تر هغه نه اخلي دا شیطانان ددوی د بنګولو ځنې وَاِذَا او په هغه
وخت کې لَمۡ تَاۡتِهِمۡ بِاٰيَةٍ چه نه راوړې اې رسوله ودوی ته هغه قسم ایت
چه دوی یې غواړي قَالُوۡا نو دوی وایي لَوۡلَا اجۡتَبَيۡتَهَا ؕ چه ولې دی غوره نه کړې
دا سې ایت او دځانه ځنې دی جوړ نه کړې لکه نو رکله چه یې دځانه جوړوی او راته
راوړې یې قُلۡ اِنَّمَاۤ نو ورته ووایه چه بیشکه همدا خبره ده اَتَّبِعُ چه زه
پیروی کوم مَا يُوۡحٰٓى اِلَىَّ دهغه شي چه وحی کول کیږي وما ته مِنۡ رَّبِّىۡ ۚ
د طرفه ځنې د رب خپل او دځانه ځنې یې نه جوړوم هٰذَا بَصَآئِرُ دا قران چه

دی توله دلیلونه او حجتونه دی چه په دوی سره حق معلومیږی او معلوم کولای
پی سی مِنْ رَّبِّكُمْ د طرفه څخه د رب ستاسے وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ او رهنمائی او رحمت
دی لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی پر خدای او پر رسول
روایت دی چه یو انصاری به رسول ﷺ پسے په لمانځه کښی ولاړ وو او هر
څه به چه رسول لوستل په لمانځه کښی هغه به ده هم لوستل ور پسے نو نازل
سو وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ او په هغه وخت کښی چه قرآن لوستل کیږے
په لمانځه کښے یعنی امام یی لولے فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ نو غوږ کښیږدی ورته وَ
اَنْصِتُوْا او چپ ولاړ اوسی تاسے لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٢٠٤﴾ بنایی تاسی لره
چه رحم در باندی وکړل سی وَاذْكُرْ رَّبَّكَ او یاد کړه اے بنده
رب خپل فِیْ نَفْسِكَ په خپل زړه کښی تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً په زاری
او په بیره سره وَّدُوْنَ الْجَهْرِ او کم ترهسك اولوړ آواز مِنَ الْقَوْلِ د
گفتاره یعنی په نرم آواز سره چه فکر دی مشوش نه سی بِالْغُدُوِّ
وَالْاٰصَالِ هم سهار او هم ماښام یعنی هر وخت وَلَا تَكُنْ او مه کیږه
اے بنده مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ د غافلانو څخه د یادولو د خدای اِنَّ الَّذِيْنَ
بیشکه هغه کسان عِنْدَ رَبِّكَ چه ستا د رب په نزد دی یعنی ملائکی -
لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ گردن کشی نه کوی عَنْ عِبَادَتِهٖ د عبادته څخه دده
وَيُسَبِّحُوْنَهٗ او پاکی وایی توله
دده په هر وخت کښی وَلَهٗ
يَسْجُدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ او
خاص هم
وده ته سجده
کوی

رکوعها ۱۰ سورة الانفال مدنية آیاتها ۷۵

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روایت دی چه هرکله جنګ دبدروسواو اویاتنه دکفارو پکښې مردار
سوه اواویاتنه یې په بندخنې راغله اوغنیمت یې ډیرراوړی نوغازیان په
دې غنیمت کښې سره مختلف سوه داسې چه ځوانانو به ویل چه جنګ خومونږ
کړی دی نوداټوله مونږ اخلواوزړو به ویل چه مونږ هم درسره وونو
مونږ یې هم غواړو نوټوله رسول ؐ ته راغله چه ددی قسمت اختیاردچا
دی یوازی دمهاجرینو دی اوکه یوازی دانصارو دی اوکه ددواړو نو
نازل سو يَسْـَٔلُوْنَكَ پوښتنه کوی دوی دتاڅخه ای رسوله عَنِ الْاَنْفَالِ
دحکمه دغنیمتواوداجمع دنفل ده اوده ته نفل ځکه ویل کیږی چه هسی
یوه عطا ده محض دفضله دپروردګاره قُلِ الْاَنْفَالُ ورته ووایه ودوی
ته چه غنائم چه دی اوپه دوی کښې اختیاردتصرف چه دی لِلّٰهِ وَ
الرَّسُوْلِ خاص خدای لره دی اورسول ده لره چه قسمت به یې کوی
په هرشان چه ماموروسی فَاتَّقُوا اللّٰهَ نو ویریږی دخدایه څخه نزاع
اوجګړه مه کوی وَاَصْلِحُوْا اوجوړه اوبرابره کړی ذَاتَ بَيْنِكُمْ معامله
اوروزګار دخپل په اتفاق اوالفت اوپه محبت سره په خپل مینځ کښې وَ
اَطِيْعُوا اللّٰهَ اومنی دخدای فرمان وَرَسُوْلَهٗ اوده درسول په هرشی
کښې خصوصًا په باب دغنائمو کښې اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ① که تاسی ایمان
راوړونکی یاست پرخدای اوپررسول اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ بیشکه هم
داخبره ده چه خاص کامل مؤمنان هغه دی اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ چه یاد
کړه سی خدای ددوی په ورا ندی وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ نو ویریږی زړونه
ددوی دډیره هیبته څخه اودتصوره څخه دعظمت اودجلال ده

وَ اِذَا تُلِيَتْ او په هغه وخت کښې چه ولوستل سی عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ پر دوی باندی اٰیتونه ده یعنی قرآن زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا نو زیات کړی دا اٰیتونه ایمان ددوی یعنی ایمان پی جلوه پیدا کړی وَّ عَلٰى رَبِّهِمْ او پر خپل رب باندی يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۲﴾ تکیه کوی په هر کار کښې او بل چا ته تفویض نه کوی اَلَّذِيْنَ دا مؤمنان هغه کسان دی يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ چه برپا یې لری او اداکوی لمونځ خپل سره د تولو حقوقو دده وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او د هغه ماله څخه چه مونږ ورکړی دی دوی ته يُنْفِقُوْنَ ﴿۳﴾ دوی یې بندی پر عیال او پر فقراؤ او پر مساکینو او پر ساٸلانو اُولٰٓئِكَ داکسان چه اعمال د قلب او د جوارحو یې سره جمع کړی دی لکه خوف او توکل او صلوٰة او صدقه هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ هم دوی مؤمنان دی په حقه سره لَهُمْ دَرَجٰتٌ دوی لره درجی ... دی چه بعضی پر بعضو پورته دی په قدر د عملو سره عِنْدَ رَبِّهِمْ په نزد د رب خپل چه دا درجی د قرب یا د جنت دی وَمَغْفِرَةٌ او بخښنه ده ددوی ته د تقصیراتو وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۴﴾ او روزی ده پاکه او صافه روایت دی چه هر کله کاروان د قریشو د شام څخه راغلی د ډیره ماله سره او څلویښت سواره ورسره وه چه مشر یې ابو سفیان وو او حضرت جبرائیلؑ رسول علیه السلام په خبر کړی او ده واصحابو ته وویل نو دوی په دی سره ډیر خوشحاله سوه چه مال ډیر دی او خلک لږ دی بیا چه کله اصحاب د مدینی څخه راووته او کاروان ته دا خبر ورسیدی نو دوی ومکی ته قاصد ورولیږی چه ژر را رسیږی چه کاروان یې د رڅخه ووا هی او ابوجهل د تولو قریشو سره راغلی او د بدر پر خوا او کوهی یې وارول او کاروان یې د مسلمانانو پر څنګ تیر سو او ولاړی د دریاب پر غاړه او بیا جبرائیلؑ راغلی چه خدای وعده د رسره وکړه چه یوشی به د ذکرم یا کاروان یا قریش نو رسولؑ اصحاب رض و پوښتل چه ستاسی کوم یو خوښ دی نو دوی کاروان غوره او خوښ کړی نو دی ډیر په غضب سوا و صدیق او فاروق دوا ړو هم دده مصلحت غوره

کړی او بیا سعد بن عبادة وویل چه ته خپل فکر ته ګوره قسم دی چه که عدن
ابین ته ته تلې مونږ به هم تول د رسره ولاړ سو او دا انصار وڅخه به یو هم پاته
نه سی بیا مقداد وویل هرڅه چه رب درته فرمایلي دی هم هغه کوه او مونږ
ټول د رسره ملګري یو او مونږ بني اسرائیل نه یو چه درته وایو چه فاذهب
انت وربك فقاتلا انا ههنا قٰعدون بلکه مونږ داسې درته وایو چه اذهب انت
وربك فقاتلا انا معکما نور رسول خندل او خوشحاله سو بیا سعد بن معاذ ورته
وویل چه خپل کره کوه قسم په هغه خدای دی چه ته یې په حق سره رالیږلی یې
چه که ته ودریاب ته لویدی چه مونږ به ټول درسره ولویږو او یو به هم را څخه
پاته نه سی نو دی ډیر خوشحاله سو او وی ویل چه سیر وا علیٰ برکة الله او اوس
رب العزت وایي چه اختیار د غنا ئمو خاص د خدای او د رسول دی سره د خفګانه
د دوی او دا خفګان د دوی داسې دی کَمَآ اَخۡرَجَکَ لکه چه ته یې راوه ایستی
رَبُّکَ مِنۡۢ بَیۡتِکَ رب خپل ستا د خپله کوره چه په مدینه کښې وو بِالۡحَقِّ سره په حکمت
او په صواب سره وَاِنَّ فَرِیۡقًا او بیشکه یوه فرقه چه وه مِّنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ د مؤمنانو
څخه لَکٰرِهُوۡنَ ﴿۵﴾ خامخا خفه وه په دی وتلو ستا او د اکراهت او خفګان یې طبعي
وو د جهته د ناداری او د مخالفت د سفر یُجَادِلُوۡنَکَ فِی الۡحَقِّ دوی جګړه کوی د
تا سره په اختیار ولو او غوره کولو کښې د حق چه هغه جهاد دی یعنی ته یې جهاد
ته راکشوی او دوی د کاروان وطرفته زور کوی بَعۡدَ مَا تَبَیَّنَ وروسته تر هغه
چه ودوی ته ښکاره سوی ده ستا په اخبار سره چه نصرت هم د دوی لره دی
کَاَنَّمَا یُسَاقُوۡنَ ګویا که دوی بیول کیږی او شړل کیږی اِلَی الۡمَوۡتِ ومرګ ته وَ
هُمۡ یَنۡظُرُوۡنَ ﴿۶﴾ او حال دا چه دوی ګوری په سبب د لږ والي خپل ځکه چه دوی

عه یعنی چه بنی اسرائیلو و موسیٰ او هارون علیهما السلام ته وویل د غزا په وخت کښې چه ته ولاړ سه ته او رب ستا دی
هم ولاړ سی وجنګ ته او دواړه جنګ وکړی او مونږ پولته یو ۱۲ عه یعنی ځی او سیر کوی په تکیه کښې په برکت
د خدای سره ۱۲ عبد الواحد

دری سوه ۳۱۳ دیارلس یا پنځوس یا شلور شپیته وه او په درست لښکرکښی دوه
اسونه او شپږ نړغری اوا ته تورې وی وَاِذۡ یَعِدُکُمُ اللّٰهُ او یادکړی هغه چه وعده
وکړه د تاسے سره خدای اِحۡدَی الطَّآئِفَتَیۡنِ یوه د دی دو وطائفو څخه چه
کاروان او لښکر د کفارو دی اَنَّهَا لَکُمۡ چه بیشکه دا یوه طائفه ځنی تاسے
لره مقرره ده وَتَوَدُّوۡنَ او حال دا چه خوښه ګڼی تاسی دا خبره اَنَّ غَیۡرَ
ذَاتِ الشَّوۡکَةِ چه بیشکه هغه طائفه چه بے سیاسته او بی وسلی ده چه هغه
کاروان دی تَکُوۡنُ لَکُمۡ هم هغه دی وی تاسی لره ځکه چه هغے سره
شلو یښت سړی دی او کم چه لښکردی هغه نه نیم سوه خلق دی نو تاسے هغه
اسانه طائفه غواړی وَیُرِیۡدُ اللّٰهُ او اراده لری خدای اَنۡ یُّحِقَّ الۡحَقَّ د دی خبری
چه ثابت او پورته کړی حق بِکَلِمٰتِهٖ په هغو خپلوا یتو سره چه په باب د جنګ
کښی راغلی دی یا په باب د نصرت او د فتح د رسول کښی راغلی دی یا په هغو
کلماتو ازلیه وو سره چه په باب د قتل او د بند د دوی په لوح محفوظ کښی لیکلی
دی وَیَقۡطَعَ او چه پری کړی او راونړوی دَابِرَ الۡکٰفِرِیۡنَ ⑦ بیخ او بنیاد د کافرانو
لِیُحِقَّ الۡحَقَّ دپاره د دی چه ظاهر او معزز کړی دین د اسلام په نصرت سره
د مؤمنانو وَیُبۡطِلَ الۡبَاطِلَ او خوار او ضعیفه کړی کفر په قتل او په بند د
کافرانو سره وَلَوۡ کَرِهَ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ⑧ که څه هم بده بولی دا خبره او په خفه
کیږی کافران اِذۡ تَسۡتَغِیۡثُوۡنَ یا دکړی هغه وخت چه استغاثه به کول تاسے
رَبَّکُمۡ وخپل رب ته چه ټولو به ناری وهلی چه اَغِثۡنَا یَا غیاث المستغیثین
فَاسۡتَجَابَ لَکُمۡ نو واوریده او قبوله کړه خدای وتاسے ته د تاسے دعا
او دا ئے بی د رته وویل چه اَنِّیۡ مُمِدُّکُمۡ بیشکه زه مدد کوونکی یم د تاسی
سره بِاَلۡفٍ مِّنَ الۡمَلٰٓئِکَةِ په زرو کسانو د ملائکو سره مُرۡدِفِیۡنَ ⑨ یو په بل
پسی راتلونکی یا په مؤمنانو پسی راتلونکی د پاره د تقویت د دوی وَمَا

ع یعنی فریاد رسی وکړه زمونږ اے فریاد رسه د محتاجانو ۱۲

جَعَلَهُ اللّٰهُ او نه دی گرزولی داد ملائکو راتله خدای اِلَّا بُشْرٰی مگر زیری
د نصرت وَلِتَطْمَئِنَّ او بل د دی د پاره چه قرار او پرارام سی بِهٖ قُلُوْبُكُمْ په
دی امداد سره زړونه ستاسی د خوفه او د بیری څخه د قتل او د ذلته وَمَا النَّصْرُ
او نه ده یاری او مددگاری پر دښمن اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ مگر د خدای د طرفه
څخه ده نه د ملائکو اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ بیشکه چه خدای غالب دی پر مدد کولو د خپلو ع ۱
دوستانو سره حَكِیْمٌ ⑩ حکم کونکی دی په قهر د خپلو د ښمنانو روایت دی چه ۱۵
هر کله دواړه طائفې سره مخامخ سوی نو په دغه شپه اصحاب کرام ډیر خفه وه
ځکه چه په دوی خوشوکا رونه وسول یو دا چه دری چنده لښکر د ښمن پر اغلې
او بل دا چه او به او متهینه ځکه هغوځنی لاندی کړه او دوی　پر وچه او
شګه پر پواته نو د ډیره غمه څخه خوب نه ورتلې مگر پروردګار د خپلې مهربانی
څخه د خوب پریشانی پر راوسته دا ځد دو رځی په شان لکه چه وایي اِذْ یُغَشِّیْكُمُ
النُّعَاسَ یاد کړی هغه چه واچوله رب العزت پر تاسې پر کالی "پریشانی خوب" اَمَنَةً مِّنْهُ
د پاره د امن ستاسی د خپله جانبه څخه ځکه چه په خوب سره هم بیره ورکیږی او
هم صورت په ارامیږی وَیُنَزِّلُ عَلَیْكُمْ او راولی او رولی پر تاسې باندی مِّنَ السَّمَآءِ
مَآءً د طرفه د اسمانه څخه او به د پاره د څلوڅ کارو لِّیُطَهِّرَكُمْ بِهٖ یو د دی د پاره چه
تاسې پاک کړی په دی او بو سره د حدثه او د جنابته څخه وَیُذْهِبَ عَنْكُمْ او بل د دی
د پاره چه لیری کړی د تاسی څخه رِجْزَ الشَّیْطٰنِ وسوسه د شیطان چه درته
وایي چه تږی به سی او بې او دسه به لمونځونه کوی او په شکوکښی به ډوبیږې
تر ځنگنو پوری وَلِیَرْبِطَ عَلٰی قُلُوْبِكُمْ او بل د دی د پاره چه وتړی او واچوی
ستاسی په زړوکښی امید د خپلی مهربانی وَیُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ⑪ او چه کلک
کړی دی په دی او بو باران سره قدمونه ستاسی او د ښمن قدمونه ښوی سې
او ښوییږی په خټو او ځکړکښی په وخت د جنګ کښی اِذْ یُوْحِیْ رَبُّكَ یاد کړه اې

رسوله هغه چه وحی وکړی رب ستا اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ وهغو ملائکو ته چه په نصرت
د مؤمنانو راغلی وی اَنِّیْ مَعَكُمْ چه بیشکه زه د تا سره یم په نصرت کښی فَثَبِّتُوا
الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا نو د لیورې وکړی د مؤمنانو په وخت کښی د جنګ په ډیرولو سره
د لښکرو او سیاه د دوی یا په ښکاره بشارت سره سَاُلْقِیْ زر ردی چه زه به وغورځوم
فِیْ قُلُوْبِ الَّذِیْنَ په زړو کښی د هغو کسانو كَفَرُوا الرُّعْبَ چه کافران دی بیره
او هیبت فَاضْرِبُوْا نو وهئ اے ملائکو د اکفار په تورو سره فَوْقَ الْاَعْنَاقِ سر بیره
پر ګردنو "غاړو" وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ او وهئ د دی کفار وڅخه كُلَّ بَنَانٍ ⑫ و ړی ګوتی
یا واړه اطراف یعنی هم لاسونه او هم پښی ذٰلِكَ دا وهل د دوی د دی د پاره دی
بِاَنَّهُمْ چه بیشکه دوی شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مخالفت کوی د خدای او د رسول
څخه دده وَمَنْ یُّشَاقِقِ اللّٰهَ او هر څوک چه مخالفت کوی د خدای وَرَسُوْلَهٗ او د
رسوله دده فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه خدای شَدِیْدُ الْعِقَابِ ⑬ سخت عقوبت دی
د خپلو مخالفانو هم په آخرت کښی ذٰلِكُمْ دا ستاسے عقوبت دی اے مخالفانو به
د نیا کښے فَذُوْقُوْهُ نو څکئ تاسے وَاَنَّ لِلْكٰفِرِیْنَ او بیشکه چه مقرر دی کافرانو
ته په آخرت کښی عَذَابَ النَّارِ ⑭ عذاب د اور د دوزخ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا
اے مؤمنانو اِذَا لَقِیْتُمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا په هغه وخت کښی چه پیښ شئ مخامخ شئ
تاسے په جنګ کښی پر هغو کسانو چه کافران دی زَحْفًا په دی حال کښی چه دو
انبوه وی فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ⑮ نو مه ګرځوئ د دوی ته شاګانی خپلے
په نیت د تیښتی سره وَمَنْ یُّوَلِّهِمْ او هر څوک چه وګرځوی د دوی ته یَوْمَئِذٍ
دُبُرَهٗٓ په دغه ورځ د جنګ شا خپله اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ مګر په دا سے حال سره
چه جولان کونکی وی د پاره د تو د ولو د جنګ یا د پاره د چم کولو د دښمن ته چه په
تیښته پی غرم کړی او بیا پرا وګرزی نو دا منع نه دی اَوْ مُتَحَیِّزًا اِلٰى فِئَةٍ یا ځان
رسونکی وی وطرف د مؤمنانو په دی تیښته سره نو دا هم منع نه دی او هم

چا چه غیر دادی دوه حالو څخه تیښته وکړه فَقَدۡ بَآءَ نو په تحقیق سره اخته سو او راوګرځیدی بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ په قهر د خدای وَمَاۡوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ او ځای دده دوږخ دے وَبِئۡسَ الۡمَصِيۡرُ ⑯ او بد ځای دی دا دوږخ روایت دی چه هر کله جنګ د بدر تود سو او کفارو په یوه وار رش راوړی نو رسول علیه السلام وخدای ته په زاری سو او ویل یې اَللّٰهُمَّ انجزلی ما وعدتنی یعنی اے ربه ترسره کړه دماسره هغه وعده د نصرت چه دی راسره کړی وه نو جبرائیل راغلے او ورته وی ویل چه یوموټ شګی او خاوری درواخله او دوی وطرف ته یې وغورځوه بیا چه په جنګ سره ګډ سو نو ده یوموټ شګی او خاوری راواخیستی او د کفارو و خ ته یې ور وغورځولی او وی ویل چه شاهت الوجوه یعنی قبیح سو مخونه د دښمنانو او دا شګی او خاوری پروردګار یوړی او د کفارو په سترګو کښی یې ورواچولی او ماته په ګډه سوه ملائکو او مؤمنانو به نیول او وژل به یې چه او یا تنه یې څنی مړه کړل او اویا تنه یې څنی په بند راوستل نو بیا اصحابو په دی کار سره فخر کاوی او یوه به بل ته ویل چه فلانی ما وژلی دی او بل به ویل چه ما نیولی وه نو نازل سو فَلَمۡ تَقۡتُلُوۡهُمۡ نو نه دی وژلی تاسے داکفار پخپل قوت او بازو سره وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمۡ ۪ اولیکن خدای وژلی دی دوی په نصرت سره د ملائکو وَمَا رَمَيۡتَ او نه وه غورځولی تا اے رسوله هغه موټی دخاورو اِذۡ رَمَيۡتَ په هغه وخت کښی چه تا وغورځاوی وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ اولیکن هغه خدای غورځولی وه په واقعه کښی ځکه چه ستا د لاسه د تمام لښکر و سترګو ته نه سی رسیدلای وَلِيُبۡلِىَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ او د دی دپاره چه احسان او عطاء وکړی پروردګار پر مؤمنانو په دی کار سره مِنۡهُ بَلَآءً حَسَنًا ؕ د خپله جانبه څخه ښه عطا چه هغه نصرت او غنیمت دی اِنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ بیشکه چه خدای اوریدونکی دی د دوی دعا ستاسے عَلِيۡمٌ ⑰ پوه دی په نیتو ستاسے ځکه چه دعا ستاسے یې قبوله کړه ذٰلِكُمۡ دا تیره عطا خو ښه ده وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه خدای

چه دی مُوۡهِنُ كَيۡدِ الۡكٰفِرِيۡنَ ⑱ سُستونکی اوخرابونکی دی د مکراو حیلے د
کافرانو روایت دی چه هرکله ابوجهل سره د لښکره اراده د وتلو وکړه د مکی څخه
نو تو له وکعبی ته ولاړه او د کعبی په استانه پوړی او یزانه سوه او سوال یې وکړی
چه اے خدایه! موږ د محمدؐ سره جنګ اراده کړی ده نو هر څوك چی د دی دواړو
طائفو څخه پرحق دی او دین یې غوره وی او وتا ته ګران وی نو وهغې ته بری
ورکړه نو ځکه رب العزت واهل د مکی ته خطاب وکړی پرطریقه د تهکم سره
نو نازل سو اِنۡ تَسۡتَفۡتِحُوۡا اکه فتح او نصرت غواړې تاسے ای د مکی خلګو فَقَدۡ
جَآءَكُمُ الۡفَتۡحُ ۚ نو په تحقیق سره درغله هم هغه فتح چه تاسے د کعبی څخه
غوښتی وه یعنی فتح د هغې طائفې چه وما ته ګرانه ده وَاِنۡ تَنۡتَهُوۡا او که تاسے
واوړی د دی عناده او د دی جنګه څخه فَهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ ۚ نو دا او ښتل ډیر غوره
دی وتاسے ته وَاِنۡ تَعُوۡدُوۡا او که بیا عود وکړی «راوګرزی» تاسے وجنګ ته د
مؤمنانو سره نَعُدۡ ۚ نو موږ به هم بیا عود وکړو «راوبه ګرزو» و نصرت ته د دوی
وَلَنۡ تُغۡنِىَ عَنۡكُمۡ او دفعه به نکړی د تاسے څخه هیڅ فِئَتُكُمۡ شَيۡـًٔا دا لویه ډله
ع ۲ ۹ ۱۶ ستاسی هیڅ قدر د بلا وَّلَوۡ كَثُرَتۡ ۙ او اګر که ډیره وی وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ⑲
او بیشکه چه خدای د مؤمنانو سره دی په نصرت کښے يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا
اے مؤمنانو اَطِيۡعُوا اللّٰهَ فرمان ومنی د خدای وَرَسُوۡلَهٗ او د رسول د ده وَ
لَا تَوَلَّوۡا عَنۡهُ او مخ مه ګرزوی د ده څخه یعنی غاړه مه غړوی د ده د طاعته
څخه وَاَنۡتُمۡ تَسۡمَعُوۡنَ ⑳ او حال دا چه تاسے اوری په قرآن کښے چه دی زما
رسول دی وَلَا تَكُوۡنُوۡا او تاسے مه کیږی كَالَّذِيۡنَ په شان د هغو کسانو قَالُوۡا
سَمِعۡنَا چه دوی وایې چه موږ واوریدی وَهُمۡ لَا يَسۡمَعُوۡنَ ㉑ او حال
دا چه دوی یې نه اوری په هغه اوریدو سره چه نفعه پرواخلے لکه کافران
او منافقان نو ګویا چه د سره یې نه اوری اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ بیشکه بد تر

دگرزید ونکو چه دی پر تحکه باندی عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ په نزد د خدای هغه کانړه
دی داورید وتحه دحق الْبُكْمُ الَّذِيْنَ هغه گونگيان دی دویلو تحه دحق
هغه کسان لَا يَعْقِلُوْنَ (۲۲) چه هیڅ عقل نه لری وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ اوکه معلوم
وای وخدای ته فِيْهِمْ خَيْرًا په دوی کښی څه خیر چه هغه نفعه اخیستل ده
دقرآن پرا یتو باندی لَاَسْمَعَهُمْ نوخامخا به ئې د نفع اوریدل ورکړی وه وَلَوْ
اَسْمَعَهُمْ اوکه ئې دوی ته اوربولای وای اوحال داچه وده ته خو دوی معلوم
دی چه په دوی کښې خیرنشته لَتَوَلَّوْا نوخامخا به ئې شاکړی وه د ایمانه تحه وَهُمْ
مُّعْرِضُوْنَ (۲۳) اوحال داچه دوی څنلک کوئکی وی دحق د قبلولو تحه روایت دی
چه یوه ورځ رسول پر اُبی بن کعبؓ باندی تیرید اواُبی په لمانځه کښې وو نورسول
ږغ پر وکړی نوده لمونځ په تلوار سره تمام کړی اوور غلی نوده ورته وویل چه
جواب دی ولی رانه کړی اُبی وویل چه په لمانځه کښې وم بیا رسول ورته وویل چه
تا په قرآن کښې نه دی لیدلی چه يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا اے مؤمنانو ږغ
ورکوی لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ خدای لره اوهم رسول دده لره اِذَا دَعَاكُمْ په هر
هغه وخت کی چه تاسے رسول وبولے لِمَا يُحْيِيْكُمْ ددی دپاره چه ژوندی کړی
تاسے په علومو دین سره یاپه عقائد وصحیحه سره یا په شهادت سره یا په قرآن
سره چه داټول موجب دحیوٰة قلبی اودسعادت ابدی دی وَاعْلَمُوْٓا اوپوه سے
اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ چه بیشکه خدای پرده کیږی بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ په مابین کے
دسړی اود زړه دده کښې اودامبالغه ده په قرب کښې یعنی دی وهر بنده ته تر
څیل زړه هم نژدی دی په علم او په قدرت سره لکه چه وارد دی - وَنَحْن عه
اقرب الیه من حبل الورید وَاَنَّهٗٓ او بیشکه شان دادی چه تاسے اِلَيْهِ
تُحْشَرُوْنَ (۲۴) اوخاص به هم وده ته بیول کیږی په قیامت کښې نوجزا به

عه یعنی اللّٰہ پاک فرمائیلی دی چه موږ ډیر نژدی یو وبنده ځیل ته د غاړی او مری اوگردن تر رگ ۱۲

درکړی په قدرد طاعت اود اخلاص وَاتَّقُوْا فِتْنَةً او ځان وساتی د هغه
گناه څخه چه که د هغه عقوبت درسے لَا تُصِیْبَنَّ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا چه و به نه رسیږی
دا عقوبت وهغو کسانو ته چه ظلم یې کړی دی په کولو د هغه گناه سره مِنْكُمْ
خَآصَّةً د تاسے څخه یوازی یعنی د داسے گناه څخه ځان ډیر ساتی چه کونکی او
نه کونکی د واړه پکښے لاهو او تباه کیږی لکه سستی په جهاد کښے په وخت کښی
د ظهور د بد عتو او بے اتفاقی او مداهنت په امر بالمعروف او نهی عن المنکر
کښے وَاعْلَمُوْا او پوه سے اَنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۵﴾ چه بیشکه خدای سخت
عقوبت دی د هر هغه چا چه ضرر د ظلم یے و نورو ته متعدی کیږی وَاذْكُرُوْا
او یاد کړی اے مهاجرو اِذْ اَنْتُمْ قَلِیْلٌ هغه چه تاسی لږ واست مُّسْتَضْعَفُوْنَ
فِی الْاَرْضِ بے کسه او خواران د مکے په مځکه کښی د قریشو د لاسه یا ای عربو
چه بے کسه او خواران واست د فارس او روم د لاسه تَخَافُوْنَ بیریداست تاسے
اَنْ یَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ د دی څخه چه په منگولو کښے به و تښتوی تاسے خلک
د مرغانو په شان فَاٰوٰىكُمْ نو ځای یې درکړی و تاسے ته په مدینه کښی وَاَیَّدَكُمْ
بِنَصْرِهٖ او قوی او مضبوط یې کړلاست تاسے په خپله مدد گاری سره په ملاتړ سره
دا نصارو یاد ملائکو په بدر کښی وَرَزَقَكُمْ او روزی یې درکړه وتاسے ته مِّنَ
الطَّیِّبٰتِ په هغو پاکو غنیمتو سره چه پر نورو امتو باندی حرام وه لَعَلَّكُمْ
تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ بنا یې چه تاسے شکر اداکړی پر دی نعمتو باندی روایت دی چه
هر کله رسول ﷺ د خندق د جنگ څخه فارغ سو او بنی قریضه یې یو ویشت ورځے
حصار او بند کړه نو دوی امان وغوښتی او ویله یې چه موږ پر یږدی چه شام
ته ولاړسو او دوی د اخبره قبوله نه کړه نو دوی وویل چه موږ ته ابولبابه
راولیږه چه د دوی مصلحتی و ملګه چه عیال یې په دوی کښے پروت و وبیا
ابولبا به ورغلی نو دوی پوښتنه ځنی وکړه چه که موږ ورسو نو وتا ته څرنګه

ښکاره کیږی نو ده پرخپله غاړه گوته راکش کړه یعنی که ورغلاست نو قتل به می کړی
او پوه غه اشاره نے الحاله پښیمانه سوچه زه خو رسول ؐ امین کړی وَمر او ماخیانت
وکړی نو راغلی او د مسجد په ستنه (تنبه) پوری یے ځان وتاړی او د خوړلو او څښلو
څخه یې هم قسم وکړی نو او وه ورځې تړلی ولاړ ووا او ده یری لوږی څخه بی سده
سو نو را ولویدی او خدای یے توبه قبوله کړه او خلکو ورته راغله چه ځان ایله
کړه چه توبه دی قبوله سوه او ده بیا قسم وکړی چه تړلے به او سم چه تر څو
می رسول ؐ بخپله ایله نه کړی نو رسول ؐ راغلی او دی یے ایله او خلاص کړی نو
نازل سو یَاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا اے مؤمنانو لَا تَخُوۡنُوا اللّٰهَ تاسے خیانت مه کوی
دخدای سره وَالرَّسُوۡلَ او ده د رسول سره چه د دوی اسرار و خلکو ته
ښکاره کوی یا خیانت د فرضو او سنتو څخه مراد دی وَتَخُوۡنُوۡۤا اَمٰنٰتِکُمۡ او خیانت
مه کوی په هغه اماناتو خپلو کښے چه ستاسے په منځ کښے سره وی وَاَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۲۷﴾
او حال دا چه تاسے پوهیږی چه امانت ساتل واجب دی که قولی دی که فعلی
او مالی دی وَاعۡلَمُوۡۤا او پوه سی اَنَّمَاۤ اَمۡوَالُکُمۡ چه بیشکه مالونه ستاسے چه
دی وَاَوۡلَادُکُمۡ فِتۡنَةٌ ۙ او اولاد ستاسے فتنه دی یعنی سبب د واقع کیدلو
ستاسے دی په گناه او په عذاب کښی یا سبب د محنت دی چه خدای تاسے په
ازمایلو د دوی د ډیره محبته څخه خیانت مه کوی د ابولبابه په شان وَاَنَّ ۳
اللّٰهَ او بیشکه خدای چه دی عِنۡدَهٗۤ اَجۡرٌ عَظِیۡمٌ ﴿۲۸﴾ ع هم د ده سره ډیر لوی ع۹
اجر دی یَاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اے مؤمنانو اِنۡ تَتَّقُوا اللّٰهَ که تاسے د خدایه ۱۷
و بیریږی او پرهیزگاری اختیار کړی یَجۡعَلۡ لَّکُمۡ فُرۡقَانًا نو در به کړی
و تاسی ته هدایت چه په هغه سره به تاسے حق د باطل څخه بیلوی یا نجات د
دارینو یا نصرت پر اعداؤ (دښمنانو) یا خلاصے د شبهاتو څخه یا ظهور او شهرت
ستاسے په تمام عالم کښے وَیُکَفِّرۡ عَنۡکُمۡ او وبه رژوی د تاسے څخه سَیِّاٰتِکُمۡ

واړه گناهونه ستاسے وَيَغْفِرْ لَكُمْ ط او وبه بخښي وتاسے ته لوی گناهونه ستاسے یا په توبه سره ستاسے یا پخپل فضل سره وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿۲۹﴾ او خدای د لوی فضل خاوند دی روایت دی چه هرکله قریشو د انصارو د اسلام خبر واوریدی نو ټوله په دارالندوه کښی سره جمع سوه چه د دی خبری یو بند وبست وکړو نو ابلیس دیونړ وړسړی په صورت ورته راغلے چه زه د نجد څخه و مکی ته راغلے وم د لته ستاسے د حال او واقعی څخه اوس خبر سوم نو راغلم چه زه په تدبیر بنه پوهیږم نو یوه د دی مجلسیانو څخه وویل چه په یوه کوټه کښے یې واچوی او ټوله سوری یے پسی بند کړی غیر د یوه کوڅک څخه چه ترهغه به خواړه او او به ورکښته کوو ترڅو به دا سے بند پاته وی چه مړسے نو دی زوړ سړی وویل چه دا خراب فکر دی ځکه چه قوم به یې غیرت وکړی او خلاص به یې کړی بیا بل یوه وویل چه په اوښ کښے یې وتړی او د خپله ملکه څخه یې وباسے نو دی زاړه سړی وویل چه دا بے ځایه فکر دی ځکه چه په بل وطن کښے به خلک په چم او فریب سره خپل د ځان تابع کړی او بیا به پر تاسے جنګ وکړی بیا ابوجهل وویل چه د هری قبیلی یو یو سړی دی راسے او ټوله دی یې په یوه وار په توره قطرے قطرے "ټوټې ټوټې" کړی چه وینې یې په ټوله عربو کښے تار په تار سے او بنی هاشم یې د هیڅا څخه نه سی ګټلای نو دی زاړه سړی وویل چه افرین دا دیر بنه فکر دی نو جبرائیل په دی جرګه سره رسول خبر کړی او د هجرت امر یے ورته وکړے نو دی د صدیق اکبرؓ سره راووتے او پرخپل ځای یې علیؓ پری ایستی لکه چه وایې وَإِذْ يَمْكُرُ او یاد کړه اے رسوله هغه چه مکر او فریب وکړی بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا د تا سره هغه کسانو چه کافران وه لِيُثْبِتُوكَ د پاره د دی چه دوی تا بندیوان کړی أَوْ يَقْتُلُوكَ یا تا مړ کړی په توره سره أَوْ يُخْرِجُوكَ ط یا تا د مکی څخه وباسے او جلا وطنه دی کړی وَيَمْكُرُونَ او دوی د تا سره پټ فریب کوی وَيَمْكُرُ

عه کوڅک هغه سوری ته وائے چه د کوټی یا خولی په چت کښے وی ۱۲

اللّٰهُ ط اوجزاء د مکر ورکوی خدای و دوی ته وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمَاكِرِيْنَ ۞۳۰ او خدای
بهتره دجزاء ورکونکو دی و مکارانو ته روایت دی چه نضر بن حارث په سوداګری
تللی وو فارس ته او هلته یې د رستم او د اسفندیار قصی خرڅولې او بیا یې په عربی
ژبه کړی او کله چه مکی ته راغلی نو و قریشو ته یې وویل چه دا سے عجیبه ـ ے
راوړی ده چه د محمد ترقصو ډیر خوږی دی نو نازل سو وَاِذَا تُتْلٰى او په هغه
وخت کښی چه ولوستل سے عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا پر دوی یعنی پر نضر او دده پر تابعانو
باندی ایتونه زموږ یعنی د قرآن قَالُوْا قَدْ سَمِعْنَا نو دوی وایی چه په تحقیق سره
موږ واوریدی دا کلام لَوْ نَشَآءُ که زموږ اراده وسی لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ الا نو خامخا
به موږ هم ووایو په شان ددی کلام سره اودایی محض د کبره او عناده څخه ویل ځکه
چه په ایت د فاتوبسورة من مثله سره خپل عجز یې ښکاره او رته معلوم سوی وو اِنْ
هٰذَآ نه دی دا کلام اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۞۳۱ مګر د پخوانیو خلګو قصے دی او دا سے
قصی زما ډیری په یاد دی نو رسول ورته وویل چه دا خو د خدای کلام دی چه
و خپلو بندګانو ته یې رالیږلی دی بیا نضر چه دا خبره واوریده نو سوال یې
وکړی لکه چه رب العزت وایی وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ او یاد کړه هغه چه نضر او
تابعانو یې وویل چه اے پروردګاره اِنْ كَانَ هٰذَا که وی دا قرآن هُوَ
الْحَقَّ هم دی حق یعنی په رشتیا سره رالیږل سوی وی مِنْ عِنْدِكَ ستا د
جانبه فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا نو راوه اوروه پر موږ باندی حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ تیږی او
ډبری د اسمان څخه د اصحاب فیل په شان اَوِ ائْتِنَا یا راوړه یعنی راولیږه وموږ
ته بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۞۳۲ کوم بل قسم عذاب دردناک بیا پروردګار سبب د مهلت
او د توقف د قتلید و ددی دعا بیان کړی چه وَمَا كَانَ اللّٰهُ او خدای نه دی
لِيُعَذِّبَهُمْ چه دوی په عذاب کړی که څه هم دوی عذاب په تلوار سره او غوښتی د
غواړی وَاَنْتَ فِيْهِمْ ط او حال دا چه ته به ناست یې په دوی کښې ځکه چه تر

خو چه پیغمبر په قوم کښې ناست وی نو هغه قوم ته عذاب نه راځی وَمَا كَانَ
اللّٰهُ او بل داچه نه دی خدای مُعَذِّبَهُمْ عذابونکی ددې قوم وَهُمْ
يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۳۳﴾ او حال داچه دوی استغفار کوی یعنې په دوی کښې مستغفران
وی هغه ضعفاء د مؤمنانو چه په دوی کښې پاته سوی دی یا دوی پخپله همیشه
وایې اللّٰهُمَّ غفرانك نو ځکه عذاب نه پر راځي وَمَا لَهُمْ او څه دی دوی لره
او څه ځای دی ددی خبری اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ چه نه به دوی په عذابوی خدای
وَهُمْ يَصُدُّوْنَ او حال داچه دوی حصاروی «بندوی» رسول او مؤمنان
عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ د دخوله د مسجد حرام د پاره د طواف د بیتی بلکه د مکې څخه
هم او هر کله چه دوی به ویل چه موږ وکداران یو د مسجد حرام نو چه زموږ
خوښ سی هغه ورپرېږدو نو ځکه وایي وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ ؕ او
نه دی دوی متولیان ددی مسجد حرام اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ نه دی متولیان ددی مسجد
اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ مگر پرهیزگاران د شرکه څخه وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ اولیکن
زیاتره ددوی چه دی نه پوهیږی په دی سره چه داواکداری ددوی حق نه ده
وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ او نه ده دعا ددوی یا هغه فعل ددوی چه دوی یې د لمانځه
پر ځای کوی یا چه دوی یې لمونځ بولې هغه الات د لوبو عِنْدَ الْبَيْتِ په کعبه شریفه
کښې اِلَّا مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً ؕ مگر شپیلی وهل او لاسونه ټکول دی یعنې چه
رسول علیه السلام او مؤمنان پر لمانځه ودریږی نو دوی شپیلی ورته وهی
او لاسونه ټکوی چه لمونځ یې سره ګډ وډ سی نو رب العزت وایي چه هر کله
دا نیت او عمل ستاسې وو فَذُوْقُوا الْعَذَابَ نو وڅکی عذاب د قتل او د بند په
ورځ د بدر او اورا او نور قوم وڅکې په اخرت کښې بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ په
سبب ددی چه تاسې واست چه کفر مو اختیار کړی وو روایت دی چه
هر کله دا لښکر د قریشو د مکې څخه و بدر ته د جنګ په نیت روان سو نو

ع واپې چه اے خدایه موږ بخښنه غواړو ۱۳

دوی ه وولس ته مشران مقرر کړه دپاره دخرڅ ددی لښکر او هر یوه به هره ورځ
لس او ښان حلالول نو ځکه وایي إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بیشکه هغه کسان چه کافران دی
يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ ښندی او خرڅوی دوی خپل مالونه لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ
ددی دپاره چه خلک واړوی د خدای دلاری ځنه فَسَيُنفِقُونَهَا نو ژر دی چه دوی
به دا مالونه وښندی ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً بیا به دا نفقه او ښندل پر دوی
غم او پښیمانی سے چه مال یې ولاړی او مطلب یې ترسره نه سو ثُمَّ يُغْلَبُونَ ؕ بیا
به په آخرت کښي مغلوبه سي وَالَّذِينَ كَفَرُوا او هغه کسان چه کافران دی او پر
خپل کفر کلك ولاړ دی إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾ خاص به و دوږخ ته راټول
کیږی او راکښول کیږی او دا مغلوب کیدل ددی کفارو لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ ددی
دپاره دی چه بیل او جلا کړی خدای ناپاکه او پلیت چه کافر دی مِنَ الطَّيِّبِ د
پاك ځنه چه مؤمن دی وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ او بیا کښیږدی دا ناپاکه سره لاندی
باندی وخت پر وخت بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ بعضی دده پر بعضو نورو فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا
نو راجمع کړی دا خبیث ټول فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ؕ نو وغورځوی دا ټول په
مینځ کښي د دوږخ أُولَٰئِكَ دا ټول د خبیثانو یا د مالو د خرڅونکو چه ده په بدر ع ۴/۹
کښي هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٣٧﴾ هم دوی زیانکاران دی قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا ووایه ۱۸
وهغو کسانو ته چه کافران دی إِن يَنتَهُوا که واوړی او د کفره بند سی او د عداوت
او دښمنی ځنه د رسول ﷺ لاس واخلی يُغْفَرْ لَهُم نو وروبه بخښل سے مَّا قَدْ سَلَفَ ج
هغه بدی او عداوت چه په تحقیق سره تیر سوی دی وَإِن يَعُودُوا او که دوی بیا
عود وکړی «راوګرزی» وقتل او عداوت ته فَقَدْ مَضَتْ نو په تحقیق سره تیره سوی
ده سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ لار د پروردګار د پخوانیو خلکو په حق کښي چه د خپلو
پیغمبرانو سره به یې جنګونه او لښکر بازی کولی چه په آخر به بیخ کند سوه او
عذاب به پرنازل سوه او ټوله به هلاك سوه وَقَاتِلُوهُمْ او جنګونه کوی اے مؤمنانو

دکفارو سره حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ تر هغو پورې چه پرې وی زمین شرك
پاته نه سی وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ اوچه سی دین كُلُّهٗ لِلّٰهِ ټوله خاص خدای لره
او نور باطل ادیان «دینونه» ټوله ورك سی فَاِنِ انْتَهَوْا نو كه دكفره واوړی
او اسلام راوړی فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه خدای چه دی بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۳۹﴾
په هغو عملو چه دوی يې کوی بینا «لیدونکی» دی وَاِنْ تَوَلَّوْا او که دوی شاکړے
فَاعْلَمُوْا نو پوه سے اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ چه بیشکه خدای بادارستا سے دی
نِعْمَ الْمَوْلٰى بنه بادار دی وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۴۰﴾ او بنه مدد ګارد سے
وَاعْلَمُوْا او پوه سی اَنَّمَا غَنِمْتُمْ چه بیشکه هغه مال چه په لوټ کښی
تاسو دکفارو څخه راوړی دی مِّنْ شَيْءٍ د هغه څیزه څخه چه د شي اطلاق پر
کیږی هغه ټوله سره پنځه ځایه کړی او څلور برخی يې د مقاتلانو «جنګیانو» دی
او هغه پنځمه برخه يې بیا پنځه ځایه کړی لکه چه وایي فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ نو بیشکه
چه پنځمه برخه د هغی پنځی برخے څخه خدای لره ده وَلِلرَّسُوْلِ او دده رسول لره
ده او ذکر د خدای تبرکاً پکښی سوی دی وَلِذِي الْقُرْبٰى او دویمه ځنی د
رسول د خپلوانو ده خو بنی هاشمو او د بنی مطلبو لپاره ځکه چه دوی مددګار
او کومك ور سره کړی دی نه د بنی عبد شمس او بنی نوفل د پاره وَالْيَتٰمٰى او دریمه
ځنی د یتیمانو فقیرانو ده وَالْمَسٰكِيْنِ او څلرمه ځنی د ناداراتو محتاجانو ده چه
حیران وی وَابْنِ السَّبِيْلِ او پنځمه ځنی د مسافرانو ره روبانو ده مګر دا حکم
په زمانه کښی د حیوة د رسول ﷺ وه او بیا دده تر وفات ور وسته دا دوی
برخے چه یوه دده ده او بله د ذوی القربیٰ دده ده دغه دواړه به پردی نورو
درو طائفو ویشل کیږی دا امام اعظم په نزد بیا رب العزت وایي چه په دی
قسمت راضی سے ای مقاتلانو «جنګیانو» اِنْ كُنْتُمْ که تاسے یاست په دی شان
سره اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ چه ایمان راوړی تاسے پر خدای وَمَآ اَنْزَلْنَا او پر هغو۔

اینو یا ملائکو یا نصرت او فتح چه موږ رالیږلے وه عَلٰی عَبْدِنَا پرخپل بنده باندے چه رسول دی یَوْمَ الْفُرْقَانِ په هغه ورځ د بیلتانه او جلا کید و د حق د باطله څخه چه هغه ورځ د بدر ده یَوْمَ الْتَقَی الْجَمْعٰنِ ط په هغه ورځ چه دواړی طائفی د مؤمنانو او د کافرانو سره مخامخ سوی چه هغه د هجرت دوهمه سنه او د رمضان د میاشتی اووه لسمه نیټه وه وَاللّٰهُ او خدای چه دی عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۴۱﴾ پر هر شی باندی بنه قادر دی چه لږ خلك پر ډیرو خلکو غالب کړی اِذْ اَنْتُمْ یاد کړی هغه چه تاسے واست بِالْعُدْوَةِ الدُّنْیَا پر هغه غاړه د رود چه و مدینی ته نژدی وه وَهُمْ او دوی یعنی کفار چه وه بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰی پر هغه غاړه وه چه د مدینی څخه لیری وه وَالرَّکْبُ اَسْفَلَ مِنْکُمْ ط او سپاره خلك د کاروان تر تاسے لاندی وه چه هغه ابوسفیان وو د خپلو ملګرو سره او دری فرسخه د تاسے څخه لیری وه د دریاب پر غاړه باندی او حکمت هم په دی کښی وو چه خدایٔ تاسے او دوی ناڅاپه سره مخامخ کړی وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ او که چیری تاسے او دوی وعدہ سره کړی وای د جنګ او تاسے د دوی په کثرت سره مطلع سوی او خبر سوی واست لَاخْتَلَفْتُمْ فِی الْمِیْعٰدِ لا نو خامخا به تاسی د دوی سره مخالفت کړی وای په وعدہ کښے د دوی څخه د بیری په وجه ځکه تاسے لږ او بی وسلے واست او دوی ډیر او سره د وسلے وه وَلٰکِنْ لیکن خدای بے وعدے سره جمع کړلاست لِیَقْضِیَ اللّٰهُ اَمْرًا د دی د پاره چه خدای پوره او ترسره کړی هغه کار کَانَ مَفْعُوْلًا ۵ لا چه هغه کار په علم ازلی کښی لایق وو د دی چه هغه دی وکړه سے چه د اولیاؤ سره نصرت او پر اعداؤ خپلو قهر د ی لِّیَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ د دی د پاره چه هلاك سی وروسته د جنګه د بدر هر څوك چه هلاك کیږی یا کافر سے هر څوك چه کافر کیږی عَنْۢ بَیِّنَةٍ په ښکاره حجت سره وَّیَحْیٰی مَنْ حَیَّ او ژوندی کوی هر څوك چه ژوندی دی یا دی مسلمان سی هر څوك چه

مسلمان کیږی عَنْۢ بَيِّنَةٍؕ په ښکاره دلیل سره چه هغه د مؤمنانو غلبه ده سره د ډیره ضعفه "کمزوری" او د کفارو ذلت دی سره د ډیره قوته یعنی د بدر وروسته
به دهرچا کفر او اسلام سره ښکاره او په ډاګه وی بیله عذره وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ
او بیشکه خدای خامخا اوریدونکی دی دا قوالو د هرچا هم د مؤمنانو او هم
د کافرانو عَلِيْمٌ ﴿۴۲﴾ دانا دی د دوی په نیتو سره نو جزا به ورکړی مطابق
دده د نیت روایت دی چه رسول ﷺ په دغه شپه چه په دا صبا یې جنګ
کیږی خوب ولیدی چه کفار ډیر کم دی او تعبیر یې وکړ چه د ښمن به مغلوبه
او مونږ به غالبه سو نو مؤمنان په دی خوب او تعبیر سره ډیر خوشحاله او زړور سوه
ځکه وایی اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ یاد کړه اے رسوله هغه چه خدائ دوی وتاته وښوول
فِيْ مَنَامِكَ ستا په خوب کښی قَلِيْلًاؕ کم او لږ. د دی د پاره چه ته اصحاب په خبر
کړی او د دوی ډاډه او زړور سی او برابر ورسی وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا او که دوی
خدای وتاته ډیر ښوولی وای او بیا تا و دوی ته ویلی وای لَّفَشِلْتُمْ نو خامخا
به تاسے بی زړه سوی واست ای اصحابو وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ او خامخا به
تاسی په خپل مینځ کښی سره مخالف سوی واست د جنګ په کار کښی چه پر ور سو
او که څنی وتښتو وَلٰكِنَّ اللّٰهَ سَلَّمَؕ او لیکن خدای تاسے سلامت وساتلاست
د نزاع او د بے زړه کیدو څخه اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بیشکه دی چه دی دا نا دی بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۴۳﴾
پر هغه چه د خلګو په سینو کښی پراته دی که جرات او صبر وی او که جبن او
جزع وی وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ او یاد کړی اے اصحابو چه خدای وښوول وتاسے
ته د ښمنان ستاسی اِذِ الْتَقَيْتُمْ په هغه وخت کښی چه سره مخامخ سوا ست
فِيْٓ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا ستاسے په سترګو کښی لږ چه تاسی زړور پر ورسی او دا
نه نیم سوه کفار د دوی په نظر کښی خدای داسی کم کړی وه چه په وخت د جنګ

عه او دا او له عنزاده چه پیغمبر صلے اللہ علیہ وسلم ورته حاضر سوی وه دا روایت حضرت علی رضی اللہ عنہ کړی دی ۱۲

کبنی ابن مسعودؓ دخپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چه دا کفار به اویا تنه وی او هغه
وویل چه سل کسه را ته معلومیږی وَيُقَلِّلُكُمْ فِيٓ أَعْيُنِهِمْ او کم ښکاره کړاست
تاسې خدای د دوی په سترګو کبنی چه دوی هم زړه ور دربا ندی راسی تردی حده پوری
چه ابوجهل خپل لښکر ته وویل چه وسلې مه وړی لږ دی ښې لاس ورسی او
لاسونه او پښې یې وروتړی او راپی وړلې لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا ددی دپاره چه خدای
ترسره کړی هغه کار كَانَ مَفْعُولًا چه وو کیدونکی دده په علم کبنی وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ ع ۵
الْأُمُورُ ۴۴ او خاص وخدای ته بیرته راجع کیږی ټول کارونه يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
آمَنُوا ای مؤمنانو إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً په هغه وخت کبنی چه پیښ او ملاقی سې
پرټولی د کفارو د جنګ په نیت فَاثْبُتُوا نو کلک او ثابت سی او دسره تیښته مه
څنی کوی وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا او خدای ډیر یادوی په خوله او په زړه سره لَعَلَّكُمْ
تُفْلِحُونَ ۴۵ بنایی چه تاسې په برکت ددی یاد سره پر دښمن بری بیدا کړی وَأَطِيعُوا
اللَّهَ او دخدای فرمان ومنی وَرَسُولَهُ او دده د رسول دجهاد په کار کښې او په وخت
دجنګ کبني سره متفق او ثابت قدمه اوسی وَلَا تَنَازَعُوا او پخپل مینځ کبنی نزاع مه
سره کوی فَتَفْشَلُوا نو بې زړه به سی وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ او ولاړه به شی یعنی ورك
او ختم به سی قوت او دولت ستاسې وَاصْبِرُوا او صبر کوی په قتال کبنې إِنَّ اللَّهَ
مَعَ الصَّابِرِينَ ۴۶ بیشکه چه خدای د صابرانو سره دی په مدد او په نګهبانی کبنی
روایت دی چه هر کله قریش د مکی څخه د جنګ په نیت راووا ته او دجحفې څخه
قاصد ورته راغلی چه کاروان خلاص سو نو دوی د ګرزیدو او رجوع اراده وکړه
او ابوجهل وویل چه اوس بدر ته ورځو چه خپل قوت او دبدبه وخلګو ته ښکاره
کړو او هلته شراب وڅښو او کبابونه او وخوړو او په لارکبنی یو قوم وو چه بنی کنانه
بلل کیده چه د قریشو سره یې زړه بدی وه نو قریش څنې بیریدله او په بیره کبنی وه
چه ناګاه ابلیس سره د لښکره د شیطانانو د سراقه بن مالك په شکل راغلی چه

دبنی کنانه وومشرو اووقریشو ته یې وویل چه زه به تاسی دبنی کنانه څخه په
امن تیرکړم او بدرته ورسره ولاړی بیا چه جنګ جوړ سو او سراقه او
حارث بن هشام لاس ترلاسه سره نیولی او دقریشو سره روان وه او باته قصه
یې پخپله په قرآن کښی ده نو رب العزت و مؤمنانو ته وایي وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ
او مه کیږی ای مؤمنانو دهغو کسانو په شان خَرَجُوا مِن دِيَارِهِم چه دوی
دخپلو کورو څخه راووتل یعنې دمکی څخه بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ دپاره دفخر او
ښوونې اوښکاره کولو وخلګو ته دشوکت خپل وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ط
او خلك اړوی د خدای دلاری څخه وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿۴۷﴾ او خدای
اګاه او خبر دی پرهغو کارو باندی چه دوی یې کوی نو جزاء به ورکړی وَإِذْ زَيَّنَ
او یاد کړی هغه چه ښایسته کړه لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وه دوی ته شیطان
دسراقه په شکل کښی عملونه ددوی چه ورته ویې ویل چه دا ډیرښه کوی وَقَالَ
لَا غَالِبَ او وی ویل ودوی ته چه نسته هیڅوك غلبه کونکی لَكُمُ الْيَوْمَ پرتاسی
باندی نن ورځ مِنَ النَّاسِ دجهته دخلګو دډیرلښکرا و دقوت ستاسی څکه
چی تاسی ډیر قوت او شوکت لری وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ ج او بیشکه زه ستاسی ساتونکی
او فریادرس یم دکنانې دقوم څخه فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نو هرکله چه دواړو
فرقو او ډلو سره ولیدل دمسلمانانو او دکفارو او سراقه په دی وخت کښی
هشام ترلاس نیولی وو ناګاه دی سراقه چه په واقعه کښی ابلیس وو ملائکی
ولیدلی چه دمؤمنانو په نصرت سره راغلی وی نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ وشا ته
یې منډی کړی پرپوندو خپلو اود هشام څخه یې لاس راکش کړی نو هغه بدغ
پروکړی چه ای سراقه دا وخت دتیښتې نه دی چه موږ ته دی داو راکړی
او په بلا کښې دی ورکړو او ته ولاړی وَقَالَ او سراقه ورته وویل چه إِنِّي
بَرِيءٌ مِّنكُمْ بیشکه زه دتاسی څخه بیزاره یم إِنِّي أَرَىٰ بیشکه چه زه وینم

مَا لَا تَرَوْنَ هغه چه تاسې یې نه وینئ چه هغه د ملائکو لښکر دی اِنِّیٓ اَخَافُ اللّٰهَ ۶
بیشکه زه بیریږم[ع] د خدای څخه وَاللّٰهُ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۴۸﴾ او خدای سخت عقوبت دی ع۴
روایت دی چه هر کله هغه باقی «پاته» قریش بیرته ومکی ته راغله نو سراقه ته یې پیغام ۲
ور ولیږی چه موږ دی قول سپک کړو چه ته را څخه وتښتیدی نو هغه قسم ورته
وکړو چه زه هلته د سره حاضر سوی نه یم مګر اوس خبر سوی یم چه تاسی شکست
خوړلی دی او په شکست راغلی یاست نو تر دی وروسته ودوی ته معلومه سوه چه
دا شیطان راغلی وه د سراقه په صورت اِذْ یَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ یاد کړی هغه چه ویل
د مدینی منافقانو وَالَّذِیْنَ او هغو کسانو هم ویل فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه د دوی
په زړو کښی مرض او رنځ و و د ضعف ایمانی یا د شرك غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ چه مغروره کړی
دی دا مؤمنان دِیْنُهُمْ د دین خپل ځکه دا سی کم خلك پر دومره ډیر مخلوق باندی
ورځی نو پرورد ګار رد دوی په جواب کښی وایی وَمَنْ یَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ او هر چا
چه توکل وکړی پر خدای او خپل کار یې پر ده وسپاره فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ نو بیشکه
خدای غالب دی خپل متوکلان نه خوشی کوی حَکِیْمٌ ﴿۴۹﴾ پر حکمته او صاحب د
حکمت دی په هر کار کښی وَلَوْ تَرٰیٓ او که ته وینی ای رسوله! اِذْ یَتَوَفَّی الَّذِیْنَ
هغه چه قبض کوی ارواح د هغو کسانو کَفَرُوا الْمَلٰٓئِکَةُ چه کافران دی هغه
ملائکی یې ساه کاږی او اخلی چه اعوان د ملك الموت دی د بد رپه ورځ -
یَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ چه مخان د دوی وهی په اتشین ګرزو سره وَاَدْبَارَهُمْ او
شاګانی د دوی وَذُوْقُوْا او ور ته وایی چه وڅکی عَذَابَ الْحَرِیْقِ ﴿۵۰﴾ عذاب د سوځونکی
اور ذٰلِكَ بِمَا دا عذاب په سبب د هغو کارو دی قَدَّمَتْ اَیْدِیْکُمْ چه مخکی لیږلی
وو ستاسې لاسو وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه چه خدای لَیْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِیْدِ ﴿۵۱﴾ ظلم
کونکی نه دی پر خپلو بندګانو باندی بې ګناه بیا رب العزت وایی و رسول خپل

عه دا ېم ده د رواغ ویل ځکه چه د خدای څخه یې بیره نه وه ګرپه دی پوه سو چه قوت خومی نسته او نه یې زه منع کولای سم ۱۲

تہ د تسلی د پارہ چہ ستا حال د قریشو سرہ داسے دی كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ لکہ حال د
فرعون د تابعانو د موسیٰ سرہ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ او لکہ حال د هغو خلکو چہ
مخکے تر فرعونیانو وہ لکہ عاد او ثمود او داسے نور او عادت د هغو داو وچہ كَفَرُوْا
بِاٰيٰتِ اللّٰهِ کفر یې اختیار کړې وو د خدای په ایتو باندی یا په معجزو او یا په نښو
او علامو د توحید د خدای فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ نو خدای د وی ونیول بِذُنُوْبِهِمْ ؕ
په سبب د خپلو گناهو اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ بیشکه خدای ښتن «خاوند» د قوت دې
شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۵۲﴾ سخت عقوبت دی پر منکرانو باندی ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ داعقوبت
په دی سبب دی چہ بیشکہ خدای لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً نہ دی تغیر ورکونکے
وهغہ نعمت تہ اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ چہ پیرزو کړی دی «ورکړی دی دہ» و یو قوم تہ
حَتّٰى يُغَيِّرُوْا تر هغو پورې چہ تغیر ورکړی دوی پخپلہ مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ هغہ حال تہ
چہ په دوی پورې وی او داحال د قریشو دی چہ خپل حال یې په بد حال بدل
کړی وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ او بیشکہ خدای اورید ونکی دی د نالایقو اقوالو د مشرکانو
عَلِيْمٌ ﴿۵۳﴾ دانا او پوہ دی د دوی په فاسدو نیتو سرہ بیا خدای وایي چہ د قریشو
کار په تکذیب کښې داسے دی كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ لکہ عادت د فرعون د قوم چہ وہ
وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ او لکہ حال د هغو خلکو چہ تر دوی د مخہ وہ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ
رَبِّهِمْ چہ تکذیب یې وکړی د خپل رب د ایتو فَاَهْلَكْنٰهُمْ نو موږ دوی هلاک
کړہ بِذُنُوْبِهِمْ په سبب د خپلو گناهو وَاَغْرَقْنَاۤ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ او موږ غرق
کړہ تابعان د فرعون په بحرد قلزم کښې وَكُلٌّ او دا ټول چہ وہ یعنی هغہ غرق
سوی د قبطیا نو څخہ او هغہ قتل سوی د مشرکانو څخہ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵۴﴾ و و
دوی ظالمان پر خپلو ځانو باندی په سبب د کفر او د معاصیو سرہ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ
بیشکہ هغہ بدتر د گرزید ونکو چہ دی د مځکے پر مخ باندی عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ په
نزد د خدای هغہ کسان دی كَفَرُوْا چہ کافران سوی دی لکہ ابوجهل او نضر

او عتبه او داسے نور د قریشو ځنه او لکه کعب بن اشرف او حُیَیْ بن اخطب او
داسے نور د یهودو ځنه فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۵﴾ نو دوی ایمان نه راوړی اَلَّذِيْنَ
هغه کسان عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ چه تا د دوی ځنه عهد اخیستی وو چه هغه بنی قریظه
دی چه د رسول سره یې کړی وو چه د کفارو سره به موږ مد داو کومك نه کوو او بیا
یې په بدر کښی هغه عهد مات کړی بیا یې بیل عهد وکړی او د خندق په جنګ کښې
یې هغه هم مات کړی لکه چه وایي ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ بیا دوی ماتوی عهد
خپل فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ په هر وار کښې چه عهد وکړی وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۶﴾ او دوی
د عهد د ماتولو ځنه ځان نه ساتی فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ نو که بیا ته دوی پیدا کړې
فِي الْحَرْبِ په جنګ کښی فَشَرِّدْ بِهِمْ نو وترهوه «وبروه» په دوی سره یعنې د دوی
په قتل سره مَّنْ خَلْفَهُمْ هغه څوك چه تر دوی وروسته راځي یعنې په دوی
کښې داسے قتل وکړی چه زړپ «لحُكْ» یې تر قیامته پاته سے لَعَلَّهُمْ
يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۵۷﴾ بنا یې چه داوروسته راتلونکی خلق به دوی سره عبرت واخلي
وَاِمَّا تَخَافَنَّ او ته بیریدے مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً د هغه قومه ځنه چه عهد یې درسره
کړی وی د خیانت کولو یعنې د عهد د ماتولو په علامو سره فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ نو
ودوی ته دا د دوی عهد وروغوځوه عَلٰى سَوَآءٍ ط برابره لار په عداوت کښې
په داسے طریقه سره چه بیا وتا ته د عهد د ماتولو نسبت ونه سی او ته خیانت مه
کوه اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ خیانت کونکی نه خوښوی وَلَا ع ۱۰/۳
يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او ګمان دی نه کوی هغه کسان چه کافران دی د دی
خبری سَبَقُوْا ط چه دوی مخکے سوه او زموږ د عذاب ځنه خلاص سوه د دی
جهته ځنه چه اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ ﴿۵۹﴾ بیشکه چه دوی موږ د خپله عذابه
ځنه نه سے عاجزه کولای وَاَعِدُّوْا لَهُمْ او تیاروی اے مؤمنانو ودی ـ
ماتونکو ته د عهد یا ومطلق کفارو ته مَّا اسْتَطَعْتُمْ ترڅو چه توانیږی او

ے مخکے چه دوی په کفر کښے محکم دی ۱۲

طاقت لری مِّنْ قُوَّةٍ د قوت یعنی د جنګ د اسبابو څخه وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ او خصوصاً
د اسانو د تړلو څخه د جهاد د پاره تُرْهِبُونَ بِهٖ چه بیروی تاسې په دی تیار ولو سره عَدُوَّ
اللّٰهِ دښمن د خدای وَعَدُوَّكُمْ او هم دښمن ستاسې چه د مکې کفار دی
وَاٰخَرِيْنَ او نور کفار هم بیروی مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ چه د دوی څخه ما سیوا دی
لکه یهود یا منافقان یا فارس یا جن چه د اسود او از و څخه بیریږی لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ
تاسې دوی نه پیژنئ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ بلکه خدای دوی پیژنی وَمَا تُنْفِقُوْا او هغه
چه تاسې ورکوی مِنْ شَيْءٍ د یو شي څخه فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ د خدای په لار کښې يُوَفَّ
اِلَيْكُمْ پوره به د رکړه سې وتاسې ته جزاء د هغه وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ۞۶۰ او پر تاسې
به ظلم و نه کړه سې په دی جزاء ورکولو کښې نه په نه ر یا تولو سره د بدی او نه په
کمولو سره د نیکی وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ او که دی کفار و و صلحې ته میل وکړی
فَاجْنَحْ لَهَا نو ته هم میل وکړه و دی مصالحې ته وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ او توکل وکړه
پر خدای او د دوی د مکره او حیلې څخه مه بیریږی اِنَّهٗ بیشکه چه دی هُوَ
السَّمِيْعُ هم دی اوریدونکی دی د اقوالو د دوی الْعَلِيْمُ ۞۶۱ دانا دی په رښتیا
او درواغو سره د دوی وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا او که دوی اراده وکړی اَنْ يَّخْدَعُوْكَ د دې
چه فریب درکړی وتا ته په دی صلح سره فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ ای فالذی یتولی
کفایتك هو اللّٰه یعنی بیشکه هغه خوك چه متولی د کفایت ستا دی هغه خدای
دی هُوَ الَّذِيْٓ دی هغه پروردګار دی اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ چه پخپله مدد ګاری
سره یې ته قوی کړی چه ملا ټکی یې د بدر په جنګ کښې را ولیږلې وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ۞۶۲
او په مؤمنانو سره چه انصار دی یا په مطلق مؤمنانو سره وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ
او پیوند ددو ستې یې واچوی په مابین کښې د زړو د دوی د اوس او د خزرج
کښې وروسته تر هغه چه دریې سوه او شل کاله د دوی په مینځ کښې سره
عداوت او قتل وو او د واسې سخت عداوت وو لَوْ اَنْفَقْتَ که تا بښند لی او نفقه

کړی وای د پاره د دوی د صلح مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا هغه مال او متاع چه په
ځمکه کښی دی د مشرقه ترمغربه د شماله ترجنوبه مَّآ أَلَّفْتَ نو تا به نه وای اچولے
پیوند او محبت بَيْنَ قُلُوبِهِمْ په مابین کښی د دوی د زړو په سبب د غلبی د عداوت
وَلَٰكِنَّ اللَّهَ اولیکن خدای بخپل قدرت کامله سره أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ط دوستی
واچوله د دوی په مینځ کښی إِنَّهُ عَزِيزٌ بے شکه چه دی غالب دی هر څه چه
غواړی هغه کوی حَكِيمٌ ﴿٦٣﴾ پُرحکمت دی په هر کار کښی روایت دی چه هر
کله پرسول با ندی درویشت دیرشو سړو او شپږو ښځو اسلام راوړی بیا
تر دوی وروسته عمرؓ په اسلام مشرف سو او په ده سره څلویښت تنه
پوره سوه نو نازل سو يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره حَسْبُكَ اللَّهُ ستا بس او
کافی دی خدای وَمَنِ اتَّبَعَكَ او هغه څوک چه ستا پیروی یې کړی ده
مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٤﴾ د مؤمنانو څخه او دا آیت مخکے ترجنګ د بدر راغلے دی نو
مکی دی يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اے پیغمبره حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ تیز او کرم کړه
مؤمنان عَلَى الْقِتَالِ ط پر جنګ د کفارو إِن يَكُن مِّنكُمْ که وو د تاسے څخه
عِشْرُونَ صَابِرُونَ شل تنه صبر کونکے یا استقامت په جنګ کښی يَغْلِبُوا
مِائَتَيْنِ ج نو دا شل تنه «کسه» به غالب سے پر دوه سوه کفارو او دا امر دی
په واقعه کښی یعنی پوری د لسو تنو څخه نه تیښتی او دی به پر غالب وی په
شرط د صبر سره وَإِن يَكُن مِّنكُم او که وه د تاسے څخه مِّائَةٌ سل تنه
يَغْلِبُوا أَلْفًا نو غالب به سی په تائید ربانی سره پر زرو تنو باندی مِّنَ
الَّذِينَ كَفَرُوا د هغو کسانو چه کافران دی او دا غلبه ستاسے چه ده بِأَنَّهُمْ
په دی سبب سره ده چه بیشکه دوی قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾ دا سے قوم دی
چه نه پوهیږی یعنی دا سے جاهلان دی چه د خدایه او رسوله او قیامته
او ثوابه او عذابه څخه یعنی غافله دی نو هیڅ قدر استقامت نه لری . .

روایت دی چه هر کله دا آیت راغلے او دیوه مسلمان تیښته د لسو کفارو څخه ناروا سوه نو دا خبره پر اصحابو ډیره سخته سوه نو دا حکم منسوخ سو او بل حکم راغلے لکه چه وایي اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ او س خدای سپک کړی دا د روند بار د تاسے څخه وَعَلِمَ او پوه سو اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ط چه بیشکه په تاسے کښي سُستی ده یعنے ضعف بدنی دی فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ نو که وه د تاسے څخه مِّائَةٌ صَابِرَةٌ سل تنه صابران يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ نو پر دوه سوو کفارو به غالبه سے وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ او که د تاسے څخه زر تنه وی يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ نو پر دوه زرو کفارو به غالبه سی بِاِذْنِ اللّٰهِ ط د خدای په اذن او مددگاری سره وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ او خدای د صابرانو سره دی روایت دی چه هر کله په ورځ د بدر اویا تنه بندیان نیول سوی ول نو رسول علیه السلام د اصحابو څخه مصلحت وغوښتی چه دوی قتل کړو او که فدیه څني واخلو نو یو عمرؓ د مهاجرو څخه او یو سعید بن معاذؓ د انصارو څخه قتل غوره کړی چه د کفر تناوونه په یوه وار سره غوځ او پری سے او نورو ټولو تر صدیق اکبر پوری فدیه غوره کړه چه او س به مومنان په قوی سے او دوی به یا گوندی ایمان راوړی او رسولؑ د صدیق اکبر وقول ته میلان وکړی او فدیه به یې څني واخیسته نو ډیر عتاب راغلے او نازل سو مَا كَانَ لِنَبِيٍّ نه ده بائده نه بنایي و هیڅ پیغمبر ته چه اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ دا چه وي ده لره اَسْرٰى بندیان چه فدیه څني اخلے حَتّٰى يُثْخِنَ تر هغو چه چوکړ پیدا وباسی فِى الْاَرْضِ ط په ځمکه کښي په ډیر قهر او تندی او قتل سره چه یو وار کفر ذلیل او اسلام قوی سی تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ غواړی او غوره کوی تاسے متاع فانی د دی دنیا ځکه چه فدیه اخلے وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ط او خدای غواړی آخرت یعنی دا خواهش لری چه تاسے ته ثواب او جنت او نور نعمتونه چه باقی دی ورسوی وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ او خدای غالب دی چه و دوستانو خپلو


«پوره حکمت والا دی»
ته غلبه ورکوی پر دښمنانو باندی حَكِيمٌ ﴿٦٧﴾ پُرحکمته دی چه مناسب دی هم هغه
کوی لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ که نه وای دا حکم ازلی چه د جانبه څخه د خدای دی
سَبَقَ مخکی لیکل سوی په لوح محفوظ کښی چه وهغه چا ته به عذاب نه ورکوم
چه منع صریح «ښکاره منعه» ونه کړی یا په ناپوهی سره به څوک نه نیسم یا اهل بدرو
ته به عذاب نه ورکوم لَمَسَّكُمْ نو خامخا به وتاسی ته رسیدلی وو فِيمَآ اَخَذْتُمْ په
عوض د هغه فدیې کښی چه تاسی اخیستی ده عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾ عذاب ډیر لوی
روایت دی چه هرکله دا دعتاب آیتونه راغله نو رسول ؐ او صدیق اکبر ؓ
دواړه ناست وه ژړل یې بیا چه عمر ؓ راغلی نو د رسول ؐ یې پوښتنه وکړه
چه دا ژړا په کوم سبب سره ده نو هغه وویل چه عذاب راغلی دی د فدیې
داخیستلو په وجه اودغه دی نژدی ولاړی نو رحمت ېنولی ځکه مخ په وړاندی
نه راځی اوکه راغلی وای نو ماسیوا د عمره او د سعده به هیڅوک نه وای خلاص
سوی ځکه دوی قتل غوره کړی وو بیا تردی عتاب وروسته اصحابو وویل
چه مونږ دا د غنیمت مال د سره نه اخلو نو نازل سو فَكُلُوا مِمَّا غَنِمْتُمْ نو
او س خوری د هغه ماله څخه چه تاسی په غنیمت راوړی دی د کفارو څخه او
فدیه هم په کښی حساب ده حَلٰلًا طَيِّبًا ږ حلال پاك وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط او
د خدای څخه وبیریږی او باقی «نورنو» د ده د امر څخه مخالفت مه کوی اِنَّ اللّٰهَ
بیشکه چه خدای غَفُورٌ بخښونکی دی د گناهو ځکه یې وتاسی ته دا گناه
عفوه کړه رَّحِيمٌ ﴿٦٩﴾ مهربانه دی ځکه یې وتاسی ته دا غنیمت حلال کړی ع ٥
سره د دی چه پر تیرو امتو حرام وو روایت دی چه هرکله عباس ؓ د خپلو
دواړو وریرو سره چه یو عقیل بن ابی طالب او بل نوفل بن حارث دی
دواړه په بندیانو د بدر کښی راغلی وه او رسول ؐ د ده او د دواړو وریرو
فدیه هم د ده څخه طلب کړه نو ده وویل چه دومره مبلغ زه د کومه پیدا

کړم نو خوتا پخپله په مکه کښې لیدلې وم چه د یرنا داره وم نو رسول ورته وویل چه هغه همیانۍ څه سوی چه په وخت د راتلو کښې دی د فضل و مور ته ورکړی چه که زه راغلم خو ښه او که زه نه راغلم نو دا مال ته او څلورو ره زامن دی یې سره قسمت کړی بیا عباس ورته وویل چه ما خو په تو زښه کښې ورکړی وی نو ته چا په خبر کړی نو ده ووېل چه خدای خبر کړم نو ایمان یې راوړی او د دروسرو وو فدیه یې هم ورکړه لکه چه وایي یَاَیُّهَا النَّبِیُّ اے پیغمبره قُلْ لِّمَنْ ووایه وهغه چا ته فِیٓ اَیْدِیْکُمْ چه په لاس ستاسی کښې دی مِّنَ الْاَسْرٰٓی د بندیانو څخه اِنْ یَّعْلَمِ اللّٰهُ که معلوم کړی خدای فِیْ قُلُوْبِکُمْ خَیْرًا ستاسے په زړ وکښې خیر یعنے صحت دنیت او خلوص د ایمان یُؤْتِکُمْ خَیْرًا نو دربه کړی وتاسی ته ډیر غوره مِّمَّآ اُخِذَ مِنْکُمْ د هغه ماله څخه چه د تاسی څخه په فدیه کښې اخیستل سوی دی وَیَغْفِرْ لَکُمْ او بخښنه به وکړی وتاسے ته وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدای بخښونکی دی د هغه گناهو چه د شرك په زمانه کښې سوی وی رَّحِیْمٌ ﴿۷۰﴾ مهربانه دی چه توفیق ورکوی د اسلام فائدہ عباسؓ به وېل چه د ما سره خدای دوی وعدی کړی دی یوه غوره عوض وه د فدیې هغه خوېې ترسره کړه څکه چه نن ورځ زما شل مریان دی او هر یو شل زره اشرفی راولوه راچلوی په سوداگری سره او بل دا چه زه زمزم یې راکړی دی چه د تما مومالو څخه د عربو وما ته زیات دی او د بلی وعدی طمع هم څنی لرم چه مغفرت دی وَاِنْ یُّرِیْدُوْا او که اراده لری هغه بندیان چه اسلام یې راوړی دی خِیَانَتَكَ ستا د خیانت چه بیرته مرتد سی یا هغه فدیه د رنکړی چه دوی یې ضامنان سوی دی فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ نو په تحقیق سره دوی د خدای سره خیانت کړی وو مِنْ قَبْلُ مخکې تر دی کفر فَاَمْکَنَ مِنْهُمْ د نو انتقام یې واخیستی د دوی څخه د

بد رچه او یا یې ځنې مړه کړه او او یا یې ځنې بندیان کړه یعنې که یې بیا خیانت وکړي
نو بیا به تا پر مسلط کړو وَاللّٰهُ عَلِیمٌ او خدای بنه دانا دی په حال دخپلو
بندګانو حَکِیمٌ ﴿۷۱﴾ پرحکمت دی په ټولو نواهیو کښې او اوامرو کښې اِنَّ الَّذِیْنَ
اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی وَهَاجَرُوْا او بیا هجرت
یې هم کړی دی د خپل وطن څخه د خدای او د رسول د پاره وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ
او بیا یې جهاد کړی دی په خپلو مالو سره چه په خرڅ یا په وسله یا په بل
حاجت یې لګولی او مصرف کړی دی وَاَنْفُسِهِمْ او په خپلو ځانو سره چه په جنګ
ورګډه سوی دی فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ په لاره د خدای کښې چه هغه مهاجرین دي
وَالَّذِیْنَ اٰوَوْا او بل هغه کسان چه ځای یې ورکړی دی و مهاجرو ته وَّنَصَرُوْا
او مددګاری یې کړی ده د رسول سره چه هغه انصار دی اُولٰٓئِكَ دا دواړه
طایفې چه دی بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ بَعْضٍ ط بعض د دوی دوستان او متولیان
دي د بعضو نورو په میراث کښې او دا حکم په اول د اسلام کښې وو ځکه
مهاجرینو او انصارو به یو د بل سره میراث اخستی په سبب د هجرت او د
نصرت سره او نورو اقاربو به یې نه اخیسته بیا وروسته دا حکم منسوخ سو
د دی سورة په اٰخر اٰیت سره وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا او هرچه هغه کسان دی چه ایمان
یې راوړی دی وَلَمْ یُهَاجِرُوْا او هجرت یې نه دی د مکې څخه مَا لَکُمْ نسته تاسی لره
ای د مدینې مؤمنانو مِّنْ وَّلَایَتِهِمْ د میراث څخه د دوی مِّنْ شَیْءٍ هیڅ شی او
نه دوی لره هیڅ شی سته ستاسی د میراث څخه حَتّٰی یُهَاجِرُوْا تر هغو پوری
چه دوی هم هجرت وکړی او که یې هجرت وکړو نو وروسته تر هجرت به دوی
هم په میراث او په غنیمت کښې درسره شریک وی وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْکُمْ او
که دا مؤمنان طلب د نصرت وکړی چه هجرت یې نه دی کړی د تاسی څخه د جنګ
په وخت کښې د کفارو سره فِی الدِّیْنِ د دین په کار کښې فَعَلَیْکُمُ النَّصْرُ نو

واجب دی پر تاسی مدد کول د دوی سره اِلَّا عَلٰی قَوۡمٍۭ مگر لازم نه دی ورته
ستاسې په هغه قوم پسې د مشرکانو بَیۡنَكُمۡ وَبَیۡنَهُمۡ چه په مابین ستاسې
او د دوی کښې مِّیۡثَاقٌ ؕ عهد او پیمان وی سره نو په هغه وخت کښې د دوی
سره مدد مه کوی چه ستاسې هغه عهد مات نه سی وَاللّٰهُ او خدای بِمَا
تَعۡمَلُوۡنَ په هغه وفا او ماتولو د عهد سره چه تاسې یې کوی بَصِیۡرٌ ﴿۷۲﴾ ښه بینا
دی وَالَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا او هر چه هغه کسان چه کافران دی بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِیَآءُ بَعۡضٍ
بعضې د دوی دوستان دی د بعضو نورو په معاونت کښې یو د بل سره اِلَّا
تَفۡعَلُوۡهُ که تاسې ونه کړی تاسې دا دوستی او مددګاری په خپلو کښې تَكُنۡ فِتۡنَةٌ نو
لو فتنه به را پیدا سې یعنې موجب او سبب به یې را پورته سې فِی الۡاَرۡضِ په ځمکه کښې
وَفَسَادٌ كَبِیۡرٌ ﴿۷۳﴾ او لوی فساد به دین کښې ځکه چه بې اتفاقي ستاسې موجب
او سبب د کفر د غلبې او د اسلام ده د ذلت بیا بیان د جزا د هجرت او د نصرت کوی نو وایې
وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا او هر چه هغه کسان دی چه ایمان یې راوړی دی وَهَاجَرُوۡا
او هجرت یې کړی دی د خپل وطن څخه په خدای او په رسول پسې وَجٰهَدُوۡا
او جهاد یې کړی دی د کفارو سره فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ په لاره کښې د خدای وَ
الَّذِیۡنَ اٰوَوۡا او بل هغه کسان چه اسلام یې راوړی دی او بیا یې ځای ور
کړی دی و مهاجرو ته وَّنَصَرُوۡۤا او مدد ګاری یې کړی ده د رسول سره د
کفارو په جنګ کښې اُولٰٓئِكَ دا موصوف کسان چه دی په دې صفاتو سره هُمُ
الۡمُؤۡمِنُوۡنَ حَقًّا ؕ دوی مؤمنان دی په رښتیا سره لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ دوی لره
مقرره ده بخښنه د خدای څخه وَّرِزۡقٌ كَرِیۡمٌ ﴿۷۴﴾ او ښه پر یمانه روزي چه منت
او نقصان پکښې نه وی وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا او هر چه هغه کسان دی چه ایمان
یې راوړی دی مِنۡۢ بَعۡدُ وروسته د حدیبیې تر صلحه یا وروسته تر څو اول
مهاجرو مؤمنانو وَهَاجَرُوۡا او بیا یې هجرت هم وکړی وَجٰهَدُوۡا مَعَكُمۡ او

جهاد یې هم د تاسی سره کړی وی فَاُولٰٓئِكَ مِنۡكُمۡ ؕ نو دغه کسان د تاسی
څخه حساب دی د خدای په نزد وَاُولُوا الۡاَرۡحَامِ او د خپلوی خاوندان چه دی
یعنی اقرباء «قریبان» بَعۡضُهُمۡ اَوۡلٰى بِبَعۡضٍ بعضی د دوی غوره اولائق تر دی
تر بعضو نورو په میراث کښی د ایمان او د هجرت چه مخکښی ذکر سو یدی
یعنی تر دی وروسته میراث یو تر بله خپلوان سره اخلی او د مهاجرو او انصارو
یو تر بله میراث اخستل سره منسوخ دی فِیۡ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ دا حکم په لوح محفوظ ۱۰ ع ۶ ۲
کښی دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای بِكُلِّ شَیۡءٍ پر هر شی د میراثه څخه عَلِیۡمٌ ﴿۷۵﴾ ښه دانا دی



روایت دی چه هر کله مکه فتح سوه د هجرت په اتم کال او اسلام خدای غالب
کړی او رسول د بعضو نورو عربو سره عهد او پیمان کړی وو او بیا اکثرو عهد
مات کړی وو نو بیا د هجرت په نهم کال دا سورة براءة نازل سوا او په ترک
د تسمیې «په بسم الله نه راوړلو کښی په سر د دی سورة کښی» ډیر اقوال دی مګر قوی قول یې
دا دی چه تسمیه «بسم الله» د امان د پاره ده او دا سورة د پاره د پورته کولو د امان راغلی
دی نو ځکه فخر په او فاضحه او منکله او مسرده هم ورته وایې او بلل کیږی لکه شاطبی وایی
فمهما تصلها اوبدءت براءة لتنزیلها بالسیف لست مبسملا
او رسول په دغه کال صدیق اکبر امیر حاج کړی او ددی سورة د اول څخه
یې دیرش یا څلویښت ایتونه یې ورلره ورکړه چه دا ایتونه د حج د موسم وخلګو
ته وایه او بیا یو څو ورځی وروسته د جبرائیل علیه السلام په امر سره یې
حضرت علی رض پر خپله اوښه سپور کړی چه غضباء یې نوم وو او ورپسی
ویې لیږی چه دا ایتونه د هغه څخه واخله او ته یې وخلګو ته وایه او نور

عه یعنی هر کله چه دا سورة وصل کړی او یا شروع په دی سورة سره کوی چه براءة یې نوم دی نو بسم الله به نه وایاست
ځکه چه بسم الله د امان د پاره ده او دی د عذاب او غضب د پاره دی ۱۲ عبدالوحد عه یعنی د حج کونکو امیر ئی د خپل ځانه څخه مقرر کړی ۱۲

دحج د مناسکو تعلیم دی صدیق اکبر کوی بیا چه ورپسی راورسیدی دلاری
په منځ کښے او صدیق ورایه "دیری" اواز داوښی واوریدلو اووه درېدی
اووه یې ویل چه هٰذآ اَرغاء ناقة رسول الله صلی الله علیه وسلم. بیا چه نژدی راغلی نو
صدیق ورته وویل چه امیرًا او مامورًا یعنی امیر مقرر سوی یې او که مامور
ده وویل چه مامور یم یعنی مامور یم بیا چه ایام د حج "دحج ورځی" داخلے سوی
نو به هر ځای کښی به اول صدیق پر منبر وختی او دحج مناسک به یې بیان
کړه بیا به دی د منبر څخه راکښته سو او حضرت علی به وختی او دا آیتونه
به یې خلګو ته ولوستل چه بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ دا بیزاری ده د خدای څخه وَ
رَسُوْلِهٖٓ او د رسول څخه ده اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ وهغو کسانو ته چه عهد
او پیمان تاسی کړی دی د هغو سره مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱﴾ چه عبارت دی د
مشرکانو څخه او ودوی ته و وایه اے رسوله چه نه مونږ او ستاسی تیر
عهد و نه تو له سره مات دی او ددی وروسته ښکاره عداوت سو مګر
تاسے ته څه موده مهلت دی فَسِيْحُوْا فِى الْاَرْضِ نو به ځمکه کښی په امان سره
ګرځی بیغمه چه مومنان به هیڅ غرض نه درسره کوی اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ څلور میاشتے
چه شوال، ذی قعده، ذی الحجة، محرم دی په قول د هغه چا چه وایی چه دا سورة
په کوچنی اختر راغلی وو وَّاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ او پوه سی چه اے کفارو چه بیشکه تاسی
غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ لا نه یاست عاجزه کونکی د خدای د خپل عذاب څخه چه درکوی یې
او که څه موده مهلت یې درکړی وَاَنَّ اللّٰهَ او بیا پوه سی چه بیشکه خدای مُخْزِى
الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲﴾ شرمونکی او رسوا کونکی دی د کافرانو په دنیا کښے په قتل سره
او په عقبیٰ کښی په اور د دوږخ سره وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ او اګاهی ده د خدای د
جانبه وَرَسُوْلِهٖٓ او د طرفه ده د رسول اِلَى النَّاسِ وتولو خلګو ته يَوْمَ الْحَجِّ
الْاَكْبَرِ د حج اکبر په ورځ چه د عرفے ورځ ده چه په دی کښی هغه اعظم د افعالو
جلوی ۱۲ اوکارد ۱۲

عه یعنی اواز داوښے د رسول علیه السلام ۱۲

دحج دی چه هغه وقوف یا څرګدی چه په هغه کښی اتمام د افعالو دی نو ځکه اکبر
یې بللی دی یالوی دی په نسبت وعمری ته چه هغه حج اصغر بلل کیږی اَنَّ اللّٰهَ
بَرِیۡٓءٌ چه بیشکه چه خدای بیزاره دی مِّنَ الۡمُشۡرِکِیۡنَ ۙ دمشرکانو اودعهد
څخه ددوی وَرَسُوۡلُهٗ ؕ او رسول دده هم بیزاردی فَاِنۡ تُبۡتُمۡ نوکه توبه
وکښته تاسه اے مشرکانو دکفرا ودعذر څخه فَهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡ ۚ نو دا ډیره غوره
ده وتاسی ته تراصرارکولو پرکفر باندی وَاِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ اوکه تاسی شاکړه اوترك
دکفرمو ونه کړی یاد توبے کښلو څخه پرشاسواست فَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّكُمۡ نو
پوه سی چه بیشکه تاسی غَيۡرُ مُعۡجِزِى اللّٰهِ ؕ نه یاست عاجزه کونکی دخدای دځیل
عذاب څخه نه په تیښته سره او نه په مقاومت سره وَبَشِّرِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا او زیری
وکړه یعنی وبیروه هغه کسان چه کافران دی بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۟ ﴿۳﴾ په دردناکه
عذاب سره په اخرت کښی اوهرکله چه بنی ضمره اوبنی کنانه عهد نه وومات
کړی نوځکه وایی اِلَّا الَّذِيۡنَ مګرهغه کسان عٰهَدۡتُّمۡ مِّنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ چه تاسی عهد
کړی دی ددوی سره چه دمشرکانو څخه دی ثُمَّ لَمۡ يَنۡقُصُوۡكُمۡ شَيۡـًٔا بیا سه
نقصان نه دی کړی دتاسی سره په هغه عهدکښی دهیڅ شی وَّلَمۡ يُظَاهِرُوۡا او
ددوی سره یې یاری او مددګاری هم نه ده کړی عَلَيۡكُمۡ اَحَدًا پرتاسی دهیچا سره
ددښمنانو ستاسے څخه دجنګ په وخت کښی فَاَتِمُّوۡۤا اِلَيۡهِمۡ نو پوره اوترسره
کړی اے مؤمنانو ددوی ته عَهۡدَهُمۡ اِلٰى مُدَّتِهِمۡ ؕ عهد ددوی ترځپلی مودی
پوری چه هغه ددوی سره تاسی مقرره کړی ده اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای
يُحِبُّ الۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۴﴾ خوښوی ځان ساتونکی دبے وفایی څخه هرکله چه یې د
معاهدانو حکم بیان کړی نو اوس حکم دغیرمعاهدانو بیانوی اووایی فَاِذَا انۡسَلَخَ
الۡاَشۡهُرُ الۡحُـرُمُ نو هرکله چه تیری سوی هغه څلور حرامی میاشتی مذکوری
چه شوال، ذوالقعده، ذوالحجه او محرم دی اوشوال یې هم حرام وباله تغلیباً

فَاقۡتُلُوا الۡمُشۡرِكِيۡنَ نو وژنی مشرکان چه عهد يې مات کړی دی حَيۡثُ
وَجَدۡتُّمُوۡهُمۡ په هر ځای کښې چه تاسی دوی پیدا کړی که په حل کښے وی اوکه
په حرم کښې وی وَخُذُوۡهُمۡ او دوی نیسی او بندیانوی يې وَاحۡصُرُوۡهُمۡ او
د طواف څخه يې بند کړی وَاقۡعُدُوۡا لَهُمۡ او ودوی ته کښینئ او ورته ونیسی
كُلَّ مَرۡصَدٍ ۚ هره بندرګاه چه فراخ او بے غمه نه سی ګرزیدلای په وطنو
کښے فَاِنۡ تَابُوۡا نوکه دوی توبه وکښله د شرکه څخه او ایمان يې راوړی وَ
اَقَامُوا الصَّلٰوةَ او برپا یه کاوی يې لمونځ د تولو حقوقو سره وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ
او ورکاوی يې زکوٰة فَخَلُّوۡا سَبِيۡلَهُمۡ ؕ نو خوشی او خالی کړی لاره ددوی
یعنی هیڅ غرض مه ور سره لری او مه يې حصاروی "د طواف څخه"، اِنَّ اللّٰهَ
غَفُوۡرٌ بیشکه چه خدای بخښونکی دی د تیرو ګناهو ددوی رَّحِيۡمٌ ۵
مهربانه دی ځکښې په ثواب ورکړی وَاِنۡ اَحَدٌ او که یو کوم شخص مِّنَ
الۡمُشۡرِكِيۡنَ اسۡتَجَارَكَ د مشرکانو څخه کواندی توبے غواړی د تا څخه فَاَجِرۡهُ
نو امان ورکړه او کلاوندی يې کړه حَتّٰى يَسۡمَعَ ددی دپاره چه واوری
كَلٰمَ اللّٰهِ کلام دخدای چه قرآن دی او ایمان راوړی ثُمَّ اَبۡلِغۡهُ بیا دی
ورسوه که يې ایمان نه راوړی مَاۡمَنَهٗ ؕ وځای ته دامن دده یعنی وخپل کاله ته
ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ دا امان ددی په سبب دی چه بیشکه دوی قَوۡمٌ لَّا يَعۡلَمُوۡنَ ۶
یو داسی قوم دی چه نه پوهیږی چه ایمان او قرآن او شریعت څه شی دی
او چه امان ورکړی او دلته قرآن واوری نو شاید چه ایمان راوړی
كَيۡفَ يَكُوۡنُ څرنګه به وی یعنی نه به وی لِلۡمُشۡرِكِيۡنَ عَهۡدٌ مشرکانو لره عهد
او پیمان عِنۡدَ اللّٰهِ دخدای سره وَعِنۡدَ رَسُوۡلِهٖۤ او دده د رسول سره یعنی
ددی په طمع مه اوسی چه ددوی عهد به د خدای او د رسول سره وي
سره ددی عذره او عهد ماتولو ددوی اِلَّا الَّذِيۡنَ مګر هغه کسان عٰهَدۡتُّمۡ

چه تاسو عهد او پیمان کړی دی د دوی سره او بیایې مات کړی نه دی چه بنی
ضمره او بنی کنانه دی عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ج مسجد حرام سره یعنی حدیبیې
سره چه مکې ته نژدې پروت ځای دی فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ نو ترڅو چه دوی
پردی عهد ونا سی ته ولاړ وی فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ ط نو تاسی هم دوی ته
پر خپل عهد ولاړ اوسی اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ⑦ بیشکه چه خدای خوښوی
هغه ځان ساتونکی د بې وفایې څخه كَيْفَ څرنګه به وی دوی لره عهد او وفا
پر عهد وَاِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ او حال دا چه که یې پر تاسی لاس برسی
لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ نو نه به وساتی او نه به وګوری ستاسی په باب کښی اِلًّا
وَّلَا ذِمَّةً ط نه و قسم او نه و قرابت ته او نه و عهد ته او برید به دربا ندی وکړی
يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ هسی راضی کوی تاسی تش «خالی» په خپلو خولو سره
چه د ایمان راوړلو وعدی در سره کوی وَتَاْبٰى قُلُوْبُهُمْ ج او د دوی زړونه نه
منی دا خبری چه په خولو یې درته وایې وَاَكْثَرُهُمْ فٰسِقُوْنَ ⑧ او زیات د دوی
فاسقان دی روایت دی چه ابوسفیان یوه تولی د مشرکانو د رسول ﷺ و ع
ته راوستل د جنګ د پاره په طمع د څه قدر مبلغ پیسو لکه چه وایې اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ
اللّٰهِ اخلی او پیرودی او غوره کړی دی دوی د خدای پر آیتو چه قران دی ثَمَنًا
قَلِيْلًا لږ مبلغ «لږ قیمت» فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ط نو څنګ کوی دوی یا حصاروی «بندوی»
خلک د خدای د لاری څخه یعنی د دینه څخه یا د حج او عمری څخه اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا
بیشکه دوی چه دی بد کار دی هغه چه دوی دی يَعْمَلُوْنَ ⑨ چه دوی هغه
کوی او چاویلی دی چه دا په حق د یهود و کښی دی لَا يَرْقُبُوْنَ نه ساتی دا عهد
ماتونکی یا یهود فِىْ مُؤْمِنٍ په حق د هیڅ مؤمن کښی اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ط نه قسم
یا قرابت او نه عهد یعنی دوی نه وایې په حق د هیڅ مؤمن کښی چه دوی مې
خپلوان دی او نه دا سی وایې چه قسم یا عهد مې ور سره کړی دی وَاُولٰٓئِكَ

اوداکسان چه دی هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ⑩ هم دوی ترحد تیریدونکی په شرارت کښې
فَاِنْ تَابُوْا نو که دوی توبه وکښله ددی کفره وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ اولمونځ یې
دټولوحقوقو سره اداکړي وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ اوزکوٰة یې ورکړي فَاِخْوَانُكُمْ فِي
الدِّيْنِ ؕ نودوی ستاسی وروڼه دی په دین کښې نه په نسب کښې وَنُفَصِّلُ
الْاٰيٰتِ اوموږ په تفصیل سره دا اٰیتونه بیانو و لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ⑪ دهغه قوم
دپاره چه پوهیږي اوفکر پکښې کوي وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ اوکه دی مشرکانو
خپل قسمونه مات کړه مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وروسته ترعهد اوپیمان کولو ددوی
دتاسی سره وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ اوطعنې یې وکړي اوعیبونه یې لګول ستاسې
په دین کښې چه اسلام دی فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ نوقتل کړي سرکرده ګان دکفر
اِنَّهُمْ بیشکه دوی چه دی لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ د سره نشته قسمونه دوی لره یعنې
قسم یې د سره قسم نه دی ځکه چه په ماتولو یې هیڅ باك نه کوي لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ⑫
بنا یې چه دوی واوړي د دی شرکه ځنې یا د دی طعنې ځنې په دین کښې روایت
دی چه قریشو په حدیبیه کښې داسی مصلحت وکړي چه یوکرت اوواربه رسولؐ
بیرته د وچه مکی ته راسی دعمری دپاره اوبیا چه عمره یې لاڼه وی تمامه کړي چه
دمکی ځنې یې بیرته وباسوچه سیك سی اوسره ددی چه عهد ونه اوقسمونه
یې ورسره کړي وه لکه چه وایې اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا ایاقتال نه کوی تاسې اې
مؤمنانو دداسی قوم سره نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ چه مات کړي دی دوی هغه قسمونه
خپل چه د رسولؐ سره یې کړي وه چه ستا په حق کښې به دچا سره ملا ترڼه
کوو اوبیا بل حُلفاء به نه سره زهیروو اوړځوو اوبیا یې د بنی خزاعه سره
چه د رسولؐ حُلفاء وه جنګ وکړي وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ اواختیار اوقصد
کړي دی دوی په را ایستولو د رسولؐ دمکی ځنې په دارالندوه کښې په وخت
دهغه اول هجرت کښې یا به دی عمره کښې وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اوحال دا چه هم

عه نژم دی ډیری ځمری چه قوټی د پاره دمشورو او جرګو دجمع کیسه وجوړه کړی وه ۱۲

دوی شروع کړی ده په ما تولود عهد پر تاسی اَوَّلَ مَرَّةٍ ط اول وار اَتَخۡشَوۡنَهُمۡ ج
آیا تاسی د دوی څخه بیریږی فَاللّٰهُ اَحَقُّ نو خدای لایق تر دی اَنۡ تَخۡشَوۡهُ په
دی سره چه د ده څخه وبیریږی او دکفارو سره قتال وکړی اِنۡ کُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ⑬
که تاسی باورکونکی یاست پر عذاب دخدای په ترک «پریښولو» د مأموربه سره —
قَاتِلُوۡهُمۡ جنګ کوی د دوی سره یُعَذِّبۡهُمُ اللّٰهُ چه عذاب ورکړی خدای دوی
ته بِاَیۡدِیۡکُمۡ ستاسی په لاسو سره په قتل سره وَیُخۡزِهِمۡ او رسوا کړی او و
شرموی دوی په مقهوریت او په مغلوبیت سره وَیَنۡصُرۡکُمۡ عَلَیۡهِمۡ او ملاګاری
وکړی د تاسی سره پر دوی روایت دی چه بنی خزاعه یا یو بله تولی دیمنه څخه
مکی ته راغلی وه او اسلام یې راوړی وو او مشرکانو بیا ډیر خفه کړی وه بیا چه رسول
ته راغله او وده ته یې فریاد وکړی د مشرکانو د لاسه نو ده وویل چه ابشروا فان
النصر لقریب نو څکه وایې وَیَشۡفِ او روغ او نیغ کړی صُدُوۡرَ قَوۡمٍ مُّؤۡمِنِیۡنَ ⑭
زخمی سینې دهغه قوم چه مؤمنان دی یعنی بنی خزاعه یا یمنیان وَیُذۡهِبۡ او
لیری کړی او بوزی غَیۡظَ قُلُوۡبِهِمۡ ط قهر او خفګان د زړو د دوی چه دکفارو
دایذا «ضرر رسولو» څخه پیدا سوی وو وَیَتُوۡبُ اللّٰهُ او خدای توبه پیرزو کوی پخپل
فضل سره عَلٰی مَنۡ یَّشَآءُ ط پر هر هغه چا چه اراده یې وشی لکه دا بیا واقع سوه
چه ابوسفیان او عکرمه بن ابوجهل او سهیل بن عمرو او داسی نور وهم ایمان
راوړی وَاللّٰهُ عَلِیۡمٌ او خدای دانا دی په توبه سره د تائبانو حَکِیۡمٌ ⑮ حکم کونکی
دی په قبول سره د توبې اَمۡ حَسِبۡتُمۡ آیا ګمان کوی اے هغو مؤمنانو چه د
قتاله څخه بیریږی یا اے منافقانو اَنۡ تُتۡرَکُوۡا دا سے چه تاسی به پر هغه دی
حال چه یاست پری به ښوول سی وَلَمَّا یَعۡلَمِ اللّٰهُ الَّذِیۡنَ او حال دا چه د
سره لا خدای معلوم کړی نه دی هغه کسان جٰهَدُوۡا مِنۡکُمۡ چه جهاد کوی د تاسی
څخه وَلَمۡ یَتَّخِذُوۡا او نه دی نیولی دوی مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ غیر د الله څخه وَلَا

ع یعنی لیری قتول کړی او خوشحاله سی چه په تحقیق سره مدد زما دی دی ۱۲

رَسُوْلِهٖ او غیر د رسول څخه دده وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ او غیر د مؤمنانو څخه وَلِيْجَةًؕ
پټه دوستي یعنې خدای ستاسې په تشه دعوه د اسلام باندې اکتفاء نه کوي تر
څو چه مخلص او غیر مخلص سره بیل او جلا نه کړي وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ او خدای ښه
خبر دی بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ په هغو کارو سره چه تاسي یې کوی روایت دی
چه هر کله عباس د بدر په بندیانو کښې راغلی نو مؤمنانو ډیره ملامتیا پر
وویله او په تیره بیا علی چه څخو د رسول د تره زوی وی نو وتا ته څه بائده
وه دا شرك او قطع د رحم نو ده وویل چه تاسي زموږ بد ښکاره کوی او ښه
مو پټوی چه موږ آبادی کوو د مسجد حرام او وکعبې ته پوښن ورکوو او حاجیان
د زمزم په اوبو سره خړوبوو نو نازل سو مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ نه ښایي ومشرکانو
ته اَنْ يَّعْمُرُوْا دا چه دوی آباد دوی مَسٰجِدَ اللّٰهِ مسجدونه د خدای او په تیره
بیا مسجد حرام یا ذکر د مسجد حرام په دی وجه دی چه هغه امام او سر د ټولو
مسجدو دی نو گویا که دده آبادی د ټولو مساجدو آبادی ده شٰهِدِيْنَ په دی
حال کښې چه دوی شاهدی اداکونکي وی عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ پر خپلو ځانو باندی
بِالْكُفْرِؕ په کفر سره چه وبتانو ته سجدی کوی او رسول نه مني اُولٰٓئِكَ دا
مشرکان چه دی حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ خراب او باطل دی عملونه ددوی که
عمارت دی او که سقایت دی د شرك په وجه وَفِي النَّارِ او د دوزخ په
اور کښې هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ دوی به همیشه وی د دی شرك په سبب اِنَّمَا يَعْمُرُ
بیشکه دا خبره ده چه آبادوی مَسٰجِدَ اللّٰهِ مسجدونه د خدای مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ
هغه څوك چه ایمان یې راوړی وی پر خدای سره د رسوله وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ
او د قیامت پر ورځ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ او برپا یې کوی لمونځ د ټولو حقوقو سره
وَاٰتَى الزَّكٰوةَ او زکوٰة ورکوی وَلَمْ يَخْشَ او نه بیریږی د دین په کار کښې
د جهته د ویری غلی د اخلاص اِلَّا اللّٰهَ مگر یو د خدای څخه فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ

عه آبادول دکعبې ۱۲ عه خړوبول دحاجیانو ۱۲

نوبنايي چه چه کسان چه موصوف دي په دې صفتو سره اَنۡ يَّكُوۡنُوۡا چه وي دوی
مِنَ الۡمُهۡتَدِيۡنَ ⑱ دلارې پیداکونکو څخه وسعادت ته دداربنو روایت دی چه هر
کله ترَه اووسرا ره مفاخرة «یوتر بل فخر سره کول» سره وکړی عباس په عمارت اوسقایت
سره او علی په ایمان او جهاد سره نو دعلی دتصدیق دپاره نازل سو اَجَعَلۡتُمۡ
سِقَايَةَ الۡحَآجِّ ایا گرزولی اوکړی دی تاسې خروبول «اوبه ورکول» دحاجیانودلته
مضاف یکښی محذوف دی یعنی هغه څوك د زمزم اوبه ورکوی وحاجیانوته وَ
عِمَارَةَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ اوابادول دمسجدحرام یعنی هغه څوك چه ددی مسجد
ابادی کوی هغه داسی دی كَمَنۡ اٰمَنَ بِاللّٰهِ لکه هغه څوك چه ایمان یې راوړی
دی پرخدای وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ او پرورځ د قیامت وَجٰهَدَ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ او
جهادکوی د خدای په لاره کښی لَا يَسۡتَوٗنَ نه دی برابری سره دادواړه طایفی
عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ دخدای په نزد وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِي الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ⑲ اوخدای
سمه لاره نه ورښیی وهغو ته چه ظالمان دی دکفر په اختیارولو سره اَلَّذِيۡنَ
اٰمَنُوۡا هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی پرخدای او پرټولو وامروا ونواهیو
دده وَهَاجَرُوۡا او هجرت یې کړی دی دخپله وطنه په خدای او په رسول پسې
وَجٰهَدُوۡا اوجهاد یې کړی دی دمشرکانو سره فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ دخدای په
لاره کښی بِاَمۡوَالِهِمۡ پخپلو مالو سره چه په اسبابو دجنګ او په مجاهدینو یې
مصرف کړی اولګولی دی وَاَنۡفُسِهِمۡ ۙ او په خپلو ځانو
سره چه په جنګ کښی یې بازلی دی اَعۡظَمُ دَرَجَةً ډیرلوی دی په جهة دمرتبې
عِنۡدَ اللّٰهِ ؕ په نزد دخدای ترخاوندانو دعمارت اوسقایت وَاُولٰٓئِكَ او داکسان
چه موصوف دی په دې صفتو سره هُمُ الۡفَآئِزُوۡنَ ⑳ هم دوی بریالی دی په فوز «لاسته راوړلو» د
ابدی سره يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُمۡ زیری کوی پر دوی باندی رب ددوی بِرَحۡمَةٍ مِّنۡهُ
په رحمت اومهربانی سره دده جانبه څخه وَرِضۡوَانٍ وَّجَنّٰتٍ او په کامله رضامندی

وقف لازم

سره او په باغونو سره لهُمْ فِیْهَا چه وي به دوی لره په دې باغونو کښې نَعِیْمٌ مُّقِیْمٌ ﴿۲۱﴾ رنګارنګ نعمتونه دائمي بې له انقطاعه "بېدختمیدو" خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ط چه دوی به همیشه اوسېدونکي وي په دې باغونو کښې اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دی عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِیْمٌ ﴿۲۲﴾ هم دده سره لوی اجر دی روایت دی چه هر کله ورسول ﷺ ته د هجرت اجازه وسوه نو بعض اصحاب په ډیره خوشحالی او درزه په رغبت سره مدینې ته ولاړه او مال، عیال، اطفال او اباؤ او اقرباؤ ته یې دسره ونه کتل او بعضی بیا اقرباؤ او اباؤ او عیال او اطفالو خپلو په زاریو او په قسمونو سره بیا ته کړه نو نازل سو یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اې مؤمنانو لَا تَتَّخِذُوْۤا اٰبَآءَكُمْ مه نیسی خپل پلرونه وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِیَآءَ او وررونه خپل دوستان اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ که دوی کفر غوره کړی وه عَلَى الْاِیْمَانِ ط پر ایمان باندی یعنې د دوی به دوستی سره د هجرت څخه مه راګرزی او مه پاتیږی وَمَنْ یَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ او هر څوک چه دوستي وکړه ددوی سره د تاسې څخه فَاُولٰٓئِكَ نو دغه کسان چه دی هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۳﴾ هم دوی ظالمان دی روایت دی چه ددې آیت تر نازلیدو وروسته د هجرت پریښودونکو ویل چه مونږ او سړي پر بدیو څکه چه دا پلرونه او زامن او وررونه او ښځې او اقرباء او مالونه او سوداګری او میني "کورونه" خپل وچا ته پریږدو نو نازل سو قُلْ اِنْ كَانَ ته ورته ووایه ودې پریښودونکو ته چه که وی اٰبَآؤُكُمْ پلرونه ستاسې وَاَبْنَآؤُكُمْ او زامن ستاسې وَاِخْوَانُكُمْ او وررونه ستاسې وَاَزْوَاجُكُمْ او ښځې ستاسې وَعَشِیْرَتُكُمْ او خپلوان ستاسې وَاَمْوَالُ ا قْتَرَفْتُمُوْهَا او هغه مالونه چه تاسې ګټلي دی وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا او هغه سوداګری چه تاسې بیریږی د فوتیدو او ختمیدو او ستیریدو څخه د هغه د وخت

وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ او هغه میني او کورونه چې تاسې په نازیږئ او خوښوئ یې نو که
دا اته سره اَحَبَّ اِلَيْكُمْ ډیر محبوب او غوره وتاسې ته لیکن په محبت اختیاری سره
نه په طبعي سره مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ تر خدای او تر رسول دده وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ او
تر جهاد کولو د خدای په لار کښې فَتَرَبَّصُوْا نو منتظره اوسئ حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ
ترهغو پورې چه راولیږي خدای عذاب خپل دنیوی یا اخروی یا فتح د مکې وَ
اللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۴﴾ او خدای توفیق د هدایت نه ورکوی وهغه قوم ع ۳ ۸ ۹
ته چه فاسقان دي لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ خامخا په تحقیق سره مدد کړی دی خدای
د تاسې سره فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ په ډیرو ځایو کښې لکه د بدر جنګ او د بنی نضیر
او د بنی قریظه او د احزاب او د حدیبیې او د خیبر او د فتح د مکې او چا ویلی دی
چه په اتیا وُ ځایو کښې یې مددګاری کړی ده خدای د رسوله سره وَيَوْمَ حُنَيْنٍ او
او خاص کار په ورځ د جنګ د حنین چه یو ځای دی د مکې او د طایف په مینځ کښې
روایت دی چه د مکې تر فتح وروسته دوو - قبیلو د طایف چه ثقیف
او هوازن وو اراده د جنګ یې وکړه او څلور زره خلق جمع سو بیا چه رسول په
خبر سو نو د دوو لسو زرو اصحابو سره ورغلی چه سره مخامخ سوه نو اصحابي
د ډیره تعجبه څخه وویل چه لن نغلب الیوم من قلة یعنی د سره به مغلوبه نه سو
موږ نن ورځ د جهته د کموالي د دښمن نو ناګاه په اصحابو ماته کړه سوه لکه چه
وایي اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ په هغه وخت کښې چه تاسې ته تعجب راوستی كَثْرَتُكُمْ
ډیروالي خپل فَلَمْ تُغْنِ نو دفع نه کړی ډیروالي ستاسې عَنْكُمْ شَيْئًا د تاسې څخه هیڅ
شی د حملې څخه د دښمن وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ او تنګه سوه پر تاسې ځمکه په
سبب د تیښتې بِمَا رَحُبَتْ سره د داسې فراخه ده دی ثُمَّ وَلَّيْتُمْ بیا شاه کړه
تاسې و د دښمن ته مُّدْبِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ په داسې حال کښې چه ماته خوړونکي واست تا
روایت دی چه ټول لښکر په ماته ولاړی مګر رسول علیه السلام د څلورو

تنو سره ولاړ پاتـه سو چه عباس رضی الله عنه او علی رضی الله عنه او ابی سفیان بن ابی حارث رضی الله عنه او عبدالله بن
مسعود رضی الله عنه وه او د ښمن رشتاوی غلبه پر راوړه نو عباس ته یې وویل چه ودی خلکو
ته ور برغ کړه هغه هم په لوړ اواز سره نارے کړی چه یا اَصۡحٰبَ الشَّجَرَةِ نو تولو
نارے وهلے چه لبیک لبیک او بیرته سر راجمع سوه او ملائکی پر برکو «کرو»
اسانو سپرو وی په سپینو جامو «کالو» کښی او ده یو موټ شګی او خاوری را
واخیستی او د دښمن وطرفته یې ور وغورځولی او دایې وویل چه شاهت
الوجوه نو د هر کافر سترګی ځنی ډکی سوی او ماته یې وکړه سوه لکه چه وایی
ثُمَّ اَنۡزَلَ اللّٰهُ سَكِیۡنَتَهٗ بیا خدای دل ارامتیا را ولیږله چه موجبه د استقامت
د زړه و د مؤمنانو شے عَلٰی رَسُوۡلِهٖ پر رسول چل ځکه یوازی پر ځلور زره لښکر
باندی ودرتلی وَعَلَی الۡمُؤۡمِنِیۡنَ او پر مؤمنانو باندی هم ځکه چه په برغ د عباس رضی الله عنه
تولو بیرته راغله وَاَنۡزَلَ جُنُوۡدًا او لښکر د ملائکو یې را ولیږی چه پنځه یا اته
یا شپاړس زره به وو لَّمۡ تَرَوۡهَا چه تاسے دالښکری نه لیدلی او کفار و به لیدلی
چه سپینی جامی او سری پګړی «لنگوټی» چه شملی به یې ترشا او یزانه او ځړیدلی
او پر برکو «کرو» اسانو به سپری وی وَعَذَّبَ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا او عذاب یې ورکړی
وهغو کسانو ته چه کافران وه روایت دی چه کفار یې ډیر مړه کړه او شپږ زره
بنځی او هلکان او انجونی یې په بندخنی راوړی او ځلیرویشت زره اوښان
او تقریبًا خلوینبت زره میږی او بزی یې ځنی راوستی او ځلور زره اوقیے
یعنی جوالونه د پرش هنه سپین زر یې ځنی راوړل وَذٰلِكَ او داکاچه وسو۔
جَزَآءُ الۡكٰفِرِیۡنَ ﴿۲۶﴾ هم داد کافرانو جزاء ده ثُمَّ يَتُوۡبُ اللّٰهُ بیا د تو بې توفیق
ورکوی خدای او خدای مهربانی کوی مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ وروسته تر دی
جنګ د حنین عَلٰی مَنۡ يَّشَآءُ پر هر هغه چاچه اراده یې وسی د هدایت لکه چه

عه یعنی ای یارانو دونی «درختی» یعنی چه تاسی تر هغې لاندی د ماسره وعده کړی وه چه جنګ به کوو او
نور احکام به منو ۱۲

یه طائفه دثقیفو اود هوازنو څخه تردی جنګ وروسته راغله او اسلام یې راوړی وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدای بخښونکی دی دتائبانو رَّحِیْمٌ ﴿۲۷﴾ مهربانه دی چه ترړشتیني توبې وروسته څوك نه نیسي یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِنَّمَا الْمُشْرِکُوْنَ نَجَسٌ بیشکه چه هم داخبره ده چه مشرکان پلیت دی د خبث باطني په سبب سره چه عقیدے یې خرابې دی یا د نجاسا تو اوجنابا تو څخه ځانونه نه ساتي یا نجس‌العین دی لکه سپی فَلَا یَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ نو دوی دی نه نژدی کیږی ومسجدحرام ته یعنې حج او عمره دی نه کوی لکه پخوا په جاهلیت کښې چه به یې کول بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ج وروسته تردی کال ددوی چه دهجرت نهم کال دی او په نزد د امام اعظمؒ دا منع یې دحج او عمری څخه ده نه ددا خلید و څخه دهیڅ مسجد وَاِنْ خِفْتُمْ او که تاسی بیریدلاست عَیْلَةً د فقر څخه یعنی هغه سود اوسودا او کته چه به تاسی ددوی سره کوله په موسم کښې هغه به په منع ددوی سره قطع سی او تاسی به ناداره سي فَسَوْفَ یُغْنِیْکُمُ اللّٰهُ نو ژر دی چه خدای به تاسے بے پرواکړی مِنْ فَضْلِهٖٓ دخپله فضله اِنْ شَآءَ ط که یې اراده وسی اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌ بیشکه چه خدای دانا دی په احوالو ستاسی حَکِیْمٌ ﴿۲۸﴾ پُرحکمته دی هم په منع او هم په اعطاء کښې دا تیر کلام په مقاتله کښې وو دبت پرستانو سره او اوس امرکوی په مقاتله کښې د اهل کتابو سره نو وایې قَاتِلُوا الَّذِیْنَ تاسو وژنی هغه کسان لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چه ایمان نه راوړی پرخدای وَلَا بِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ او نه په ورځ د قیامت لکه چه بائده ده وَلَا یُحَرِّمُوْنَ او دوی حرام نه شمیری «نبول» مَا حَرَّمَ اللّٰهُ هغه چه خدای حرام کړی دی په قرآن کښې لکه خمر او خنزیر وَرَسُوْلُهٗ او رسول دده په سنت کښې وَلَا یَدِیْنُوْنَ اوخپل دین نه شمیری دِیْنَ الْحَقِّ دحق دین چه اسلام دی یعنی اعتقاد نه پرلری مِنَ الَّذِیْنَ دهغو کسانو څخه اُوْتُوا الْکِتٰبَ

عه یعنی کره مسجد ته ننوزی نو غیر دی اګر نه لری ۱۲

چه دوی ته کتاب ورکړه سوی دی یعنی تورات او انجیل نو ددوی سره مقاتله کوی
حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ ترهغو پوری چه دوی جزیه ورکړی عَنْ يَّدٍ پخپل لاس وَّهُمْ
صٰغِرُوْنَ ﴿۲۹﴾ او حال داچه خوار خسته حاله او ذلیله وی په دی شان چه پخپله
دی یې راوړی مگر سپاره به نه وی او په ولاړی دی یې وسپاری او هغه دی
ستاسے په مخ کښی په تاسو واخلے او بیا دی یو څوسوکان په څټ کښی ورکړل سی
دپاره د تذلیل او دا جزیه د امام اعظمؒ په نزد د تولو مشرکانو څخه دی اخیستل کیږی
غیر د مشرکانو څخه د عربو چه ددوی دپاره یا اسلام دی یا قتل نو دا جزیه پر غنی ((مالدار))
باندی په هر کال کښی اته څلویښت درهمه دی او پر متوسط سړی باندی څلیرویښت
دی او پر نادار ه کاسب باندی دوولس دی او پر بے کسبه نادار هیڅ نسته روایت
دی چه هرکله بخت نصر بیت المقدس وران کړی او تورات یې وسوائی او دکوم
چا چه په یاد وو هغه یې تول مړه کړه او حضرت عزیرؑ یې ګمکی ((کوچنی)) و بندته بوتلی
او وده تورات په یاد وو بیا چه هرکله راخلاص سو او خپل قوم ته راغلی نو دوی د
تورات دلیکلو طلب ځنی وکړی نو ده په پخوسره ووګوتو پوری قلمان و تړل او
تورات یې ورته ولیکی نو دی یهودو به ویل چه دی دخدای زوی دی ځکه چه تر
سلو کالو وروسته یې تورات وریاد کړی او عیسیٰؑ هم چه بر له ((بیسرنیولی)) او رانده
به یې سړوغول او مړی به یې ژوندی کول نو نصارا ری وو به ویل چه دی دخدای زوی
دی ځکه چه دخدای خاصی یکښی ظاهری ((ښکاره)) سوی دی لکه چه وایي وَقَالَتِ
الْيَهُوْدُ او وایی یهود عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ چه عزیرؑ د خدای زوی دی وَقَالَتِ
النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ط او نصاری وایی چه عیسیٰؑ دخدای زوی دی ذٰلِكَ
قَوْلُهُمْ دا قول یو بے هوده او مهمل گفتار دی چه دوی یې وایی بِاَفْوَاهِهِمْ ج
پخپلو خولو سره بے دلیله يُضَاهِئُوْنَ مشابه کوی دوی دا خپل گفتار قَوْلَ الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا د قول او گفتار سره دهغه کسانو چه کافران سوی دی مِنْ قَبْلُ ط مخکی تردوی

یعنی مشرکان چه ملائکی به بی د خدای لونی بللی او خدای ته به یی ابوالات عه
او ابوالعزٰی ویل قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ د خدای لعنت دی وی پر دوی اَنّٰی یُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۰﴾
چه دوی څرنګه دحق دلاری څخه چپ کړه سوی دی اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ او
دی اهل کتابو نیولی دی یعنی یهود وخپل عالمان وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا او نصاری
و و عابدان خپل په خدایانو سره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدای یعنی دوی حلال د
خدای حراموی او حرام د ده حلالوی ددی اربابانو په خولو سره وَالْمَسِیْحَ ابْنَ
مَرْیَمَ ۚ او عیسیٰ چه زوی د بی بی مریمی دی هغه هم په خدایی سره نیسی چه
د خدای زوی یی بولی وَمَآ اُمِرُوْٓا او دا عابدان یا معبودان نه دی ماموره
سوی په تیرو کتابو کښی په هیڅ شی سره اِلَّا لِیَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ مګر په دی
سره چه عبادت دی کوی د خدای چه معبود برحق دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ نسته
لایق د عبادت مګر هم دی دی سُبْحٰنَهٗ عَمَّا پاك دی د هر هغه چه د ده سره
یُشْرِکُوْنَ ﴿۳۱﴾ شریکان نیسی یُرِیْدُوْنَ دا یهود او نصارٰی اراده لری اَنْ یُّطْفِـُٔوْا نُوْرَ
اللّٰهِ د دی چه دوی مړه کړی مشعل «شعله» د نور د خدای چه قرآن یا نبوت دی بِاَفْوَاهِهِمْ
په پوکلو سره د خولو خپلو یعنی چه محوه یی کړی په خپل تکذیب سره وَیَاْبَی اللّٰهُ او نه خوښوی
خدای هیڅ اِلَّآ اَنْ یُّتِمَّ نُوْرَهٗ مګر دا چه تمام کړی «پوره کړی» رڼا د خپل دین چه له شرقه
ترغربه پرتو «شعلی او رڼاګی» واچوی او ظلمت د کفر ورك کړی وَلَوْ کَرِهَ الْکٰفِرُوْنَ ﴿۳۲﴾ او اګر
که بده منی «بده ګڼی» دا خبره کافران لکه چه په دی باب کښی ویل سوی دی.

رُباعی :- رب چه بل کړی غټ څراغ د بنه تدبیره
که چا پو کړی نو سوځی به خپله بریره
او داځکه چه د رب څراغ خو نه مری
او چه پو سی نو لمبه سی مستند یره

هُوَ الَّذِیْٓ دی هغه حکیم مطلق دی چه محض بخپله مهربانی سره اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ

عه یعنی خدای د لات او د عزٰی بتانو پلار دی ۱۲

راوړه لیږی ده استاذی چه محمدؐ دی بِالْهُدٰی په هدایت سره چه قرآن دی
وَدِیْنِ الْحَقِّ او په رښتینی دین سره چه اسلام دی او دا ارسال ددی دپاره
دی لِیُظْهِرَهٗ چه ظاهره او غالب کړی دا خپل دین عَلَی الدِّیْنِ کُلِّهٖ پر هر قسم
دین باندی اګرکه سماوی هم وی وَلَوْ کَرِهَ الْمُشْرِکُوْنَ (۳۳) که څه هم داکار
بدګڼی مشرکان یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو اِنَّ کَثِیْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ
بیشکه چه ډیر د یهودو د عالمانو څخه وَالرُّهْبَانِ او د نصاریٰ و و د عابدانو څخه
لَیَاْکُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ خامخا دوی خوری مالونه د خلګو بِالْبَاطِلِ په رشوت
سره وَیَصُدُّوْنَ او اړوی خلک عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ط د خدای د لاری یعنی د خدای د
دینه څخه وَالَّذِیْنَ او هغه کسان چه دی که اهل کتاب دی او که غیر دی یَکْنِزُوْنَ
الذَّهَبَ چه سره زر سره خزانه کوی وَالْفِضَّةَ او سپین زر وَلَا یُنْفِقُوْنَهَا او
نه یې ورکوی فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ لا د خدای په لار کښی یعنی چه زکوٰة نه ورکوی او
هر هغه مبلغ چه زکوٰة یې ورکول کیږی هغه کنز نه دی اګرکه ښخ وی لکه
حدیث دی چه مَا اُدِّیَ عه زکوٰته فلیس بکنز وان کان باطنًا وما بلغ ان یزکیٰ
فلم یزکٰ فهو کنز وان کان ظاهرًا فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ (۳۴) نو زیری
ورکړه پر دوی په عذاب دردناکه سره یَّوْمَ یُحْمٰی عَلَیْهَا په هغه ورځ چه بل به
کړل سی پر دی خزانو باندی اور یعنی دا به ویلی کړه سے فِیْ نَارِ جَهَنَّمَ په
اور د دوزخ کښی فَتُکْوٰی بِهَا نو داغ به کړل سی په هغو ویلو او شرفو او
مهرانو ویلی کړه سوو سره جِبَاهُهُمْ تندی ان د دوی وَجُنُوْبُهُمْ او اړخونه
د دوی وَظُهُوْرُهُمْ ط او شاګانی د دوی او دا ځکه چه اول به یې وفقیر ته
ع او تندی تریو کړه او بیا به یې څنګ ور وګرځاوی او بیا به یې ور ته شا

عه یعنی هر هغه مال او مبلغ چه زکوٰة د هغه ادا کړل سوی وی نو هغه ته کنز مذموم نه ویل کیږی که څه هم
پټ او ښخ وی په ځمکه کښی او هغه مال چه رسیدلی وی د زکوٰة و حد ته چه نصاب دی او بیا زکوٰة ځنی ورنه
کړل سی نو هغه بد کنز دی که څه هم ظاهر او ښکاره وی او پټ نه وی فافهم ۱۲ عبد الوحید

کړه او بیا به ورته وویل سی چه هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ دا هغه سره او سپین زر دے چه تاسي جمع کړي وو لِأَنْفُسِكُمْ دخپلو ځانو د پاره او اوس درته ضرر سو فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ نو وڅکي خوند دهغه مبلغ چه تاسي واست تَكْنِزُونَ ﴿۳۵﴾ چه تاسي ذخیره کړي وو فائدة :- هر کله چه کال پر دوه قسمه وو یو شمسی او بل قمری وو او شمسی پرقمری یوولس ورځی تقریبًا زیات وو او هم داسے میاشتی هم پر دوه قسمه دی یو شمسی دی لکه په دی بیتو کښی چه راغلی دی ـــ

یوحمل بل ثور بل جوزا پسی سرطان ، اسد
سنبله ، میزان ، عقرب ، قوس ، جدی ، دلو ، حوت
ویساك ، جیټ ، هاړ ، ساون ، بادرو ، اسو ، کتك
مګهر ، پوه ومناه ، پهګن چیتر است اے پرنمك

او بل چه دی قمری دی لکه چه په دی بیت کښی راغلے دی :

محرم پسی صفر خلور خویندی رجب کور ه
بیا برات روژه شوال دی ذوالقعدة ذوالحجه ورور

او اکثر احکام ددین داسلام پر قمری میاشتو بناء وه لکه صوم او حج او زکوٰة او عدت او داسی نور احکام سوه نو ځکه وايي اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ بیشکه شمارد میاشتو چه دی عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا دخدای په نزد دوولس میاشتي دی فِي كِتٰبِ اللّٰهِ د خدای په کتاب کښی یا په لوح محفوظ کښی يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ دهغه ورځی راهیسته چه ده څکه او اسمانو نه پیدا کړي دی مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ د هغو څخه څلور میاشتی حرامی دی چه یوه يې یوازی ده او دری يې پرلپسی دی چه ذوالقعدة او ذوالحجه او محرم دی ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ دا حساب سم روغ دی فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ نو تاسو ظلم مه کوی په دی څلورو یا په دی دوولسو میاشتو کښی اَنْفُسَكُمْ پر خپلو ځانو باندی په هتك د حرمت ددی څلورو میاشتو سره یا په ګناه کولو سره

په دی دوولسو میاشتو کښی او اکثره علماء وائی چه حرمت د مقاتلی په دی څلورو
میاشتو کښی منسوخ سوی دی په دی راتلونکی قطعه د هغه ی ایت سره چه هغه داده
وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ او مشرکان وژنی او جنگونه ورسره کوی كَآفَّةً توله په
دوولسو سره وو میاشتو کښی كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ لکه چه دوی د تاسی سره جنگونه کوی
او تاسی وژنی كَآفَّةً ط توله — وَاعْلَمُوْآ اَنَّ اللّٰهَ او پوه سی چه بیشکه خدای
مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۶﴾ د پرهیزگارانو سره دی په حفظ او په نصرت کښی روایت دی
چه هر کله پخوا عربو ... په جاهلیت کښی هم په دی څلورو حرامو میاشتو کښی
قتال او جنګ نه سره کاوی او حال دا چه د دوی معامله به همیشه د جنگه سره
وه او کله چه به د جنګ په مینځ کښی شهر حرام داخله سوه نو دوی به ډیر په خفه
سول نو بیا به یې یوه داسی حیله جوړه کړه چه دا د جنګ میاشت به یې حلاله کړه
او د دی په بدل کښی به یې بله میاشت حرامه کړه نو د دی میاشتو تخصیص یې
بیخی ورک کړی بلکه په کال کښی به یې څلور میاشتی پوره کولی نو نازل سو اِنَّمَا
النَّسِيْٓءُ بیشکه هم دا خبره ده چه وروسته کول د حرمت د دی میاشتو چه دی
وهغو نورو حلالو میاشتو ته زِيَادَةٌ فِى الْكُفْرِ زیاتیدل دی په کفر کښی ځکه
چه حلالول د خدای د حرامو او حرامول د حلالو د خدای کفر دی سر بیره پر
بل کفر يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا چه گمراه کول کیږی په دی عمل سره هغه کسان چه
کافران دی يُحِلُّوْنَهٗ حلالوی دوی دا حرامی میاشتی چه نسیا په کښی کوی عَامًا
په یوه کال کښی یعنی په هغه کال کښی چه و جنګ ته یې حاجت پیښ سی نو د دی
پر ځای بله میاشته حرامه کړی وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا او حراموی بیا هم دغه میاشته
حرامه په بل کال کښی چه و جنګ ته یې په کښی حاجت نه وی او دا کار کوی
لِّيُوَاطِئُوْا د دی دپاره چه برابر او پوره کړی دوی عِدَّةَ مَا شمار د هغه میاشتو
حَرَّمَ اللّٰهُ چه حرامی کړی دی خدای او تخصیص ته نظر نه کوی فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ

اللّٰہُ لوحلالوی هغه میاشتی چه خدای حرامی کړیدی دخپل حاجت دپاره او دتعین
رعایت نه کوی زُیِّنَ لَهُمۡ بناییسته کړه سوی دی ودوی ته یعنی شیطان ورته مزین
کړی دی سُوۡٓءُ اَعۡمَالِهِمۡ بدی دخپلو عملو وَاللّٰهُ لَا یَهۡدِی الۡقَوۡمَ الۡکٰفِرِیۡنَ ۳۷ ع ۱۱
او خدای توفیق نه ورکوی دکافرانو و ولی ته روایت دی چه هرکله دهجرت په نهم
کال د طایف دجنګ څخه راګرځیدوا وراتلو ورسته رسول د تبوک دغزا
اراده وکړه چه په روم کبنی دی او حال داوو چه ناداری ډیره وه او ګرمی ترحد
تیره وه او سفر ډیر لیری وه او دښمن ډیر غالبه وو نو داسفر پر دوی ډیر سخت
وو او دوی بے زړه وه نو نازل سو یٰٓاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ای مؤمنانو مَالَکُمۡ
څه باعث دی پر تاسی اِذَا قِیۡلَ په هغه وخت کبنی چه وویل سی لَکُمُ انۡفِرُوۡا
وتاسی ته چه ځی او ولاړ سی دجهاد دپاره په سفر فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ دخدای په لاره
کبنی دپاره دغزا ددوی اثَّاقَلۡتُمۡ نو درانه درانه اوړی او بلی خواته کیږی اومایل
کیږی کښته اِلَی الۡاَرۡضِ ومځکه ته ډیری کاهلی څخه اَرَضِیۡتُمۡ ایا تاسی راضی سوی
یاست بِالۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا په دی واړه "کوچنی" ژوند سره مِنَ الۡاٰخِرَۃِ تر ثواب داخرت
فَمَا مَتَاعُ الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا نو نه دی مال او متاع ددی واړه اولږ ژوند فِی الۡاٰخِرَۃِ په
مقابله کبنی داخرت اِلَّا قَلِیۡلٌ ۳۸ مګر ډیر کم دی اِلَّا تَنۡفِرُوۡا که چیری ولاړ نه
سی په دی جنګ یسی چه در ته وویل سوی دی یُعَذِّبۡکُمۡ نو خدای به تاسی ته
عذاب درکړی عَذَابًا اَلِیۡمًا لا دردناکه عذاب وَیَسۡتَبۡدِلۡ او په بدل کبنی به
راولی ستاسی پرځای قَوۡمًا غَیۡرَکُمۡ نور خلګ غیر د تاسی څخه چه هغه فرما
نبردار وی لکه اهل یمن یا اهل فارس وَلَا تَضُرُّوۡهُ او ضرر به ورده ته
ونه رسوی یا ورسول ته دده شَیۡـًٔا د هیڅ شی څکه چه دی بے
پروادی او رسول یې معصوم دی وَاللّٰهُ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ۳۹

او خدای پر هر شی قادر دی اِلَّا تَنۡصُرُوۡهُ که تاسی مدد د ورسره ونه کړی فَقَدۡ نَصَرَهُ
اللّٰهُ نو په تحقیق سره خدای پخوا لا مدد ور سره کړی وو نو بیا به هم مدد ورسره
وکړی اِذۡ اَخۡرَجَهُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا په هغه وخت کښی چه دی یې د مکی څخه راوه ایستی
هغو کسانو چه کافران وه او دا اخراج ودوی ته ځکه منسوب سو چه دوی اراده
د قتل ددوی وکړه او دا بیا سبب سو د اجازی د خروج دده نو ګویا که هم دوی
د مکی څخه پسی راوا خیستی ثَانِیَ اثۡنَیۡنِ په دی حال کښی چه دی د دوو تنو دویم وو
اِذۡ هُمَا فِی الۡغَارِ په هغه وخت کښی چه دوی دواړه په غار کښی وه چه رسول ؐ او صدیق
اکبر وو او په دی غربت کښی خدای مدد ورسره وکړی او بیان یې داسی دی روایت
دی چه دا د جبل ثور په سر کښی یو غار دی چه د مکی څخه د یمن و طرفته نیم ساعت
منزل لیری دی او رسول ؐ په غره " یعنی د ربیع الاول په اول کښی د پنجشنبی په
شپه د صدیق اکبر ؓ سره ودی غار ته راغلی او په داسی کفار وریپی راغله او
د رب په امر سره د غار په خوله کښی کوتری کښیناستی او هګی یې شربلی او غنو
او جولا ګیا نو هم د غار په خوله کښی تارونه وغځول او وا یې چول اوده مبارک وویل
اللّٰهُمَّ اعم ابصارهم یعنی ای ربه ددوی سترګی ړندی کړه بیا چه دوی د غار
په خوله کښی ودریدل نو صدیق ؓ وویل چه که یو ددوی څخه و خپل قدم ته وګوری
نو مونږ به ووینی ځکه چه د غار خوله واسمان ته ما ئله ده نو رسول ؐ یې تسلی وکړه
لکه چه وایی اِذۡ یَقُوۡلُ په هغه وخت کښی چه ده و وویل لِصَاحِبِهٖ وخپل ملګری
ته چه صدیق ؓ دی لَا تَحۡزَنۡ ته مه خفه کیږه اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا بیشکه چه خدای د
مونږ سره دی په عصمت کښی او په نصرت سره او دوی دری شپی او ورځی
په دی غار کښی وه فَاَنۡزَلَ اللّٰهُ نو خدای راولیږله سَکِیۡنَتَهٗ عَلَیۡهِ د ل ارامی
پرده یا پرصاحب دده وَاَیَّدَهٗ بِجُنُوۡدٍ او قوت یې ورکړی ورده ته د ملائکو په
داسی لښکرو سره لَّمۡ تَرَوۡهَا چه تاسی نه لیدلی یا مراد بد ر او احزاب او

حنین دی چه په هغو درو سره ووکبنی ملائکی راغلے وی وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ
اوخدای کړه او ویې گرځوله کلمه د هغوکسانو یعنی شرك یا دکفردعوت د هغو کسانو
كَفَرُوا السُّفْلٰى ؕ چه کافران دی ډیره کښته وَكَلِمَةُ اللّٰهِ او کلمه د خدای چه ده
یعنی توحید یا دعوت د اسلام هِيَ الْعُلْيَا ؕ هغه ډیره بلند شانه ده وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ
اوخدای غالب دی چه واهل توحید ته یې عزت ورکړی دی حَكِيْمٌ ﴿۴۰﴾ برحکمته
دی چه اهل شرك یې خوار کړی دی اِنْفِرُوْا ځی د تبوك په غزا پسی خِفَافًا وَّ
ثِقَالًا سپك او دړانه یا پیاده او سپاره یا روغ او رنځوران «رنځیان» یا ځوانان
او زاړه یا درویشان او ماړه یا بے اسلحے او اسلحه داران یا ډنگران او چاغان یا
مریان او اضیلان «خرئان» یا واده والا او جرگان «لونډان» وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ او غزا
کوی او جهاد کوی پخپلو مالو سره په توښه او په اسلحه سره وَاَنْفُسِكُمْ او پخپلو
ځانو سره چه ځان سُولوی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ د خدای په لار کښی ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ
دا تلل وغزا ته وتاسے ته ډیر غوره او خیر دی اِنْ كُنْتُمْ که تاسی یاست تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾
چه پخپل کټه او زیان «تاوان» پوهیږی لَوْ كَانَ که وی دا چه ته یې ورله بیایے
عَرَضًا قَرِيْبًا کوم متاع «سامان» واخیستو ته نژدی وَّسَفَرًا قَاصِدًا او سفروی میانه
او اسانه لَّاتَّبَعُوْكَ نو خامخا به دوی ستا پیروی کړی وای ددی مبلغ په طمع وَ
لٰكِنْ بَعُدَتْ او لیکن لیری سوی دی عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ؕ پردوی باندی هغه مسافت
چه په ډیر مشقت سره قطع کیږی وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ او ژر دی چه دوی به قسمونه
کوی په خدای سره یعنی کله چه بیا تاسی د تبوك څخه بیرته راسی نو دا پاته سوی
خلك او کوروبه به وتاسی ته قسمونه اخلی لَوِ اسْتَطَعْنَا که موږ طاقت وای د
سفر لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ نو خامخا به موږ د تاسی سره په دی سفر وتلی وو او دا
تول قسمونه په دروغو اخلی يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ دوی هلاکوی خپل ځانونه په
دروغجنو قسمو سره وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او خدای پوهیږی اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۴۲﴾ چه بیشکه

چه دوی خاما درواغجنان دی په دی قول کښی روایت دی چه هرکله بعضی
خلګو د تبوګ په غزاکښی د رسول ﷺ نه اذن او عذر د پاته کیدلو وغوښتی نوده ﷺ و
وحی ته انتظار ونه کړی او پخپل فکر سره یې اذن ورکړی نو عتاب راغلے مګرعفوه
یې مخکښی ذکر سوه د پاره د اظهار د لطف نو نازل سو عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ عفوه وکړه
خدای وتاته دا اذن ورکولو دوی ته لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ ولی تا اذن وکړی ودوی
ته د پاته کیدلو د غزا نه بیله مهلته بلکه مهلت او ځنډ به دی کړی وای په دی
اذن کښی حَتّٰى يَتَبَيَّنَ ترهغو پوری چه ښکاره سوی وای لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا
وتاته هغه کسان چه صادقان دی په دی عذر کښی چه وتاته یې بیان کړی ود
وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۴۳﴾ او تا معلوم کړی وای درواغجنان لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ اذن
نه غواړی د تا نه هغه کسان يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چه ایمان راوړی پرخدای د زړه
په اخلاص سره وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ او پرورځ د قیامت باندی اَنْ يُّجَاهِدُوْا د دی
خبری چه دوی جهاد وکړی بِاَمْوَالِهِمْ پخپلو مالو سره وَاَنْفُسِهِمْ ؕ او پخپلو
ځانو سره وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ او خدای دانا دی بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۴﴾ پر ځان ساتونکو باندی
د پاته کیدو نه اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ بیشکه هم دا خبره ده چه د تا نه د پاته کیدلو اذن
غواړی هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چه دوی ایمان نه راوړی پر خدای وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ
او د قیامت پرورځ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ او د دوی زړونه په شک کښی لویدلی دی
د دینه نه د اسلام فَهُمْ نو دوی فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴿۴۵﴾ په دی خپل شک
کښے سرګردانه او متحیر دی وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ او که د دوی اراده وای د وتلو
غزا ته لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً نو خامخا به دوی ورته د خروج ته اسباب د سفر تیار
کړی وای او د تاسی سره به وتلی وای وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ او لیکن وخدا
ته خوښ نه وه د رواندل او پورته کیدل د دوی وردی سفر ته فَثَبَّطَهُمْ نو دوی یې
موقوف کړه او سستی او کاهلی یې پروکماړله وَقِيْلَ اقْعُدُوْا او ورته وویل سوه

چه کښيني پخپلو کورو کښې مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿۴۶﴾ د کور کښينا ستونکو سره چه ړانده او
ګوډان او ښځې او هلکوان دی روایت دی چه هر کله د مسلمانانو لښکر د مدینې
څخه یو منزل د باندی واړ ووت نو عبدالله بن اُبَي هم د خپلې ډلې د منافقانو سره
راغلی او ددوی سره يې واړ وت بیا په داصباچه لښکر د هغه ځایه څخه مخ په وړاندې
کوچ سو نو دی د خپلو منافقانو سره بیرته و خپل کاله او ر کور ته راغلی بیا چه
رسول په دی خبر سو نو واصحابو ته يې وویل چه شکرو کاږی چه خدای ددی شره
څخه خلاص کړلاست نو ددی قول په تصدیق کښې نازل سو لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ که
وتلی وای دامنافقان په تاسی کښې په لښکر مَّا زَادُوْكُمْ نو دوی به وتاسی ته نه وو
زیات کړی اِلَّا خَبَالًا مګر شر او فساد وَّلَاْاَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ نو خامخا به ستاسی په
مینځ کښې جلت او ژر ګرځیدله په چغلي او په بې زړه کولو سره ستاسی او په ماته
ګډولو سره په تاسی يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ج چه لټوله او اچوله به يې ستاسی په مینځ
کښې فتنه او مخالفت او بیرولاست به يې درومیانو څخه وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ط او په
تاسی کښې سته جاسوسان ددوی چه ستاسی د کلي او جزئي احوال ور رسوی وَاللّٰهُ
عَلِيْمٌۢ او خدای دانا دی بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ په بیت د ظالمانو سره چه منافقان دی لَقَدِ
ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ نو خامخا په تحقیق سره دوی دافتنه شروع کړی وه چه هغه تار په
تار کول د لښکر او ستا پریشانی وه مِنْ قَبْلُ مخکی تردی په اُحد کښې چه پر لاری بیرته
وګرځیدله او بل د خندق په جنګ کښې چه ویل به يې یا اَهْلَ یثرب لامقام لکم فارجعوا
وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ او تړوله کارونه يې وتاته چپه کړله په مکر او په حیله او په
باطلو لو کښې ستا دین او مدام په هغې کښې ساعي او کوښښ کوونکی وو حَتّٰى جَآءَ
الْحَقُّ تر هغو پوری چه حق راغلی یعنی نصرت الهی وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ او ښکاره او
غالبه سو دین د خدای وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿۴۸﴾ او حال دا چه دوی ناراضه او خفه دی په
دی سره روایت دی چه هر کله رسول جندب بن قیس ته وویل چه ته نه ځې روم

ع یعنی منافقانو به ورته وویل چه اے اهل د مدینې تاسی ته دا قامت ځای نشته نو بیرته وګرځی ۱۲ ع یعنی راځه چه ولاړ سو ۱۲

ته چه بنایسته بنایسته مینځي را ولي نوده په جواب کښي ورته وویل چه قول خلك په
دی خبردی چه زه پرښځو ډیر عاشق یم نو پردی بیربیر م چه که ښځي وویڼم نو په
مبتلا شم او په فتنه کښي به واقع سم نو ما مه د رسره بیا یه او مبلغ او پیسي به درې
درکرم نو نازل سو وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعض د دوی منافقانو څخه هغه څوك دی يَّقُوْلُ
ائْذَنْ لِّيْ چه وایي چه وما ته د کور دپاته کید واذن وکړه وَلَا تَفْتِنِّيْ ؕ او ما په فتنه
کښي مه اچوه اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ؕ واوره چه په فتنه کښي لا ښخوا لویدلي دی
دوی چه منافقان سوي دی وَاِنَّ جَهَنَّمَ او بیشکه دوزخ چه دی لَمُحِيْطَةٌ
بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۹﴾ خامخا احاطه کونکی دی پر کافرانو باندی اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ که وتا ته
یو ښیګړه ور سیږي په کومه غزا کښي یعني بری یا غنیمت لکه په بدر کښي تَسُؤْهُمْ
نو دوی خفه کوی د ډیره حسده څخه وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ او که وتا ته خفګان ور
سیږي په کوم جنګ کښي یعني زخم یا مرګ لکه په اُحد کښي يَّقُوْلُوْا نو دوی وایي
قَدْ اَخَذْنَآ اَمْرَنَا چه په تحقیق سره موږ د احتیاط لاره نیولې ده مِنْ قَبْلُ مخکي لا
او ښخوا لا تردې حادثې «واقعې» چه ور حاضر نه سو وَيَتَوَلَّوْا او شا کړي او بیا ولاړ
سي د خپل مجلس څخه یا د رسول څخه وَّهُمْ فَرِحُوْنَ ﴿۵۰﴾ او حال دا چه دوی خوشحاله
وي قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ ودوی ته ووایه چه دسره به ومونږ ته ونه رسیږي اِلَّا
مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ مګر هم هغه څه چه خدای د مونږ سره لیکلي وی که هزیمت دی
او که غنیمت وی هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ دی یار او مددګار دی زمونږ وَعَلَى اللّٰهِ او خاص
پر خدای باندی فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾ نو مییاید چه توکل دی وکړی مؤمنان
قُلْ ووایه ودوی ته هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ چه ایا تاسی انتظار کوی ومونږ ته یعني
نه یې کوی اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ؕ مګر یوه د دوو نیکیو څخه چه یو شهادت دی
که مونږ مړه سو او بل نصرت دی که تاسی مړه کړو وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ او مونږ
هم انتظار کوو و تاسی ته د یوه شي د دوو بدیو څخه اَنْ يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ یو دا چه

وتاسی ته خدای ورسوی بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ یو قسم عذاب د خپله جانبه څخه لکه زلزله یا سخت اواز یا د څکی چاودل اَوْ بِاَیْدِیْنَا ۖ یا په لاسونو مونږ سره یعنی چه تاسی مړه کړی مونږ په لاسوسره اوزمونږ دلاسه فَتَرَبَّصُوْٓا نو انتظار کوی زمونږ په باب کښی د هر هغه شی چه تاسی یې خواهش لری اِنَّا مَعَكُمْ بیشکه مونږ هم د تاسی سره مُّتَرَبِّصُوْنَ ﴿۵۲﴾ انتظار کونکی یو د هر هغه شی چه خواهش یې لرو روایت دی چه هر کله هغه جدب بن قیس ویلی وه چه څکی ذکر سوی وو چه زه نسم درسره تللای مګر ولبنکر ته به دی د لاری تو بنه اوخرڅه د زکوم نو دهغه په جواب کښی نازل سو قُلْ اَنْفِقُوْا ته ورته ووایه وروی ته چه خپل مالونه لګوی په هرشان او طریقه چه یې لګوی طَوْعًا اَوْ كَرْهًا چه په خوښه او په رغبت یې لګوی او که په ناخوښه او بې رغبته یې لګوی لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ د سره به قبول نه کړل سی د تاسی څخه دا ورکول ددی جهته اِنَّكُمْ كُنْتُمْ چه بیشکه چه تاسی یاست قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۵۳﴾ یو ټولیه د فاسقانو یاست وَمَا مَنَعَهُمْ او نه دی منعه کړی دوی هیڅ شی اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ ددی څخه چه قبول کړه سی ددوی څخه نَفَقٰتُهُمْ دا بنندل دخپلو مالو اِلَّآ اَنَّهُمْ مګر هم دی خبری منعه کړی دی چه بیشکه دوی كَفَرُوْا بِاللّٰهِ کفر اختیار کړی دی په خدای پوری وَبِرَسُوْلِهٖ اوده په رسول پوری وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ او نه راځی دوی ولمانځه ته اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى مګر په داسی حال کښی چه سُست او ملامات وی وَلَا يُنْفِقُوْنَ او دوی نه بنندی مال د خدای په لار کښی اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿۵۴﴾ مګر په داسی حال کښی چه دوی ناخوښه وی فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ نو تعجب دی نه راولی وتاته دا دیر مالونه ددوی وَلَآ اَوْلَادُهُمْ او نه دا دیر اولاد ددوی اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ بیشکه هم دا خبره ده چه خدای اراده لری لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا ددی چه عذاب ورکړی ددوی ته په دی اموالو او اولادو ددوی سره فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا په دی ژوندون د دنیا کښی څکه چه په تولولو او په زیاتولو او په ساتلو سره او هداسی په لوبولو

داولاده و او په مړولو او په پوهو لوسره ددوی تمام عمر محنتونه او مشقتونه پر
ځان تیروی وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ او بیا د آخرت په ورځ به ددوی ارواح ددوی
د تنو ،، بدنو، څخه په ډیره سختی سره راوزی وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۵۵﴾ او حال دا چه دوی به
کافران وی یعنی پر کفر به ومری وَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ او قسمونه اخلی دوی وتاسی ته
په خدای سره اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ط چه بیشکه خاخا دوی ستاسی د تولی څخه دی یعنی
داهل اسلامو څخه دی وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ او حال داچه دوی ستاسی د ډلی څخه
نه دی دکفر باطنی په سبب سره وَلٰكِنَّهُمْ او لیکن دوی چه دی قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ ﴿۵۶﴾
یو داسی قوم دی چه د تاسی څخه بیریږی چه قتل یا بندیان به یې کړی لکه مشرکان
نو ځکه په خولو سره اسلام ظاهروی لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَاً که بیا دوی پیدا کړی یو ځای
د پناه لکه قلعه یا جزیره یاد غره سر اَوْ مَغٰرٰتٍ یا غارونه چه پکښی پټ سی اَوْ
مُدَّخَلًا یا یو بل سوری د پناه کیدلو لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ نو خامخا به یې مخ وهغه ته کړی
وو ستاسی د بیری څخه وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ﴿۵۷﴾ او حال داچه دوی به منډی وهی
لکه هغه س کبنه اس روایت دی چه هرکله ابوالجواظ منافق وویل چه تاسی
و دی خپل ملګری ته نه ګوری یعنی و رسول ته چه دغنیمت مال پر شپنو ویشی
او بیا داسی هم وایی چه نه انصاف او برابری کوم نو نازل سو وَمِنْهُمْ مَّنْ
او بعض د دی منافقانو څخه هغه څوک دی يَّلْمِزُكَ فِي الصَّدَقٰتِ ۚ چه بد وایی
پرتا په ویشلو د صدقاتو او د غنایمو کښی فَاِنْ اُعْطُوْا نو که ورکړه سی و دوی
ته مِنْهَا رَضُوْا د هغه غنیمته څخه دو نه قدر چه خواهش یې وی نو دوی راضی
سی په دی قسمت سره وَاِنْ لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَآ او که و دوی ته د دی غنیمته څخه
هغه قدر ورنه کړل شی چه د دوی مقتضی او خواهش وی اِذَا هُمْ يَسْخَطُوْنَ ﴿۵۸﴾
نو ناګاه دوی بیا په قهر وی وَلَوْ اَنَّهُمْ رَضُوْا او که بیشکه دوی خوښ کړی وای
مَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ هغه قدر چه خدای ودوی ته ورکړی وی وَرَسُوْلُهٗ دا او ده

عہ یعنی مشغول به وی د جداوالی دلاتو د دنیا او غافله به وی د نظر څخه په عاقبت کښی ۱۲ جامع البیان

رسول د غنیمته او د صدقې څخه وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ او دوی ویلي دي چه مونږ
ته خدای بس دی یعني فضل دده سَيُؤْتِيْنَا اللّٰهُ ژر دی چه خدای به ومونږ ته
راکړي مِنْ فَضْلِهٖ د خپله فضله څخه وَرَسُوْلُهٗ او دده رسول اِنَّآ اِلَى اللّٰهِ
بیشکه مونږ خاص و خدای ته رٰغِبُوْنَ ﴿۵۹﴾ جاروتونکي یو نو دا به ورته بهتره ع ۱۲
وه روایت دی چه هر کله منافقانو طعنه وویله پر قسمت د رسول باندې
نو پروردګار اراده وکړه د بیان د مصارفو چه هر چا ته معلومه سي چه قسمت
دده ډیر صحیح او بنه لایق وو نو نازل سو اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ بیشکه هم دا خبره
ده چه صدقې یعني زکوٰتونه چه دي لِلْفُقَرَآءِ اول وهغو ناداروته دي چه فی
الحال خو قوت او روزي لري وَالْمَسٰكِيْنِ او دویم هغو ناداروسوالګروته چه فی
الحال قوت هم نه لري وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا او دریم وهغو عاملانو ته چه مسلط او
مقرر دي پر دې صدقاتو او ګرزي په تحصیل او په جمع کولو د هغو کښي وَالْمُؤَلَّفَةِ
قُلُوْبُهُمْ او څلرم وهغو خلکو ته چه پیوند او ترلاسه کړه سوي دي زړونه د دوی
یعني چه تازه اسلام یې راوړی دی او اخلاص یې لا نه دی پیدا سوی یا هغه
اشراف دي چه اسلام یې لا نه دی راوړی مګر امید ورته کیږي او دا حصه د مؤلفة
القلوب دا سلام په ابتداء کښي وه او بیا چه اسلام قوي سو نو ساقطه سوه په اجماع
د اصحابو سره وَفِي الرِّقَابِ او پنځم په ګردن ازادی د هغو مکاتبانو کښي چه ناداره
وي یعني هغو ته دي ورکړه سي چه خپل ځانونه په ازاد کړي وَالْغٰرِمِيْنَ او شپږم
وهغو قرضدارانو ته دي چه ناداره وي چه د قرضه څخه ځان په خلاص کړي
وَفِي سَبِيْلِ اللّٰهِ او اووم د خدای په لار کښي یعني پر ناداروغازیانو صرفول دي
یا پر لاړو او پر پلو یا پر مسافرو په عامه لار کښي وَابْنِ السَّبِيْلِ د ادا تم پر
حاجت د رهروی «لاروی» مسافر کښي یعني و مسافر ته ورکول دی اګر که په
خپل کاله کښي مالداره وي مګر د کوره او د ماله څخه لیري تللی وي فائده

داصدقات ددی اتو اصنافو څخه . دامام اعظمؒ په نزد بیرون "وتلی" نه صرفیږی او هرچه په دوی کښی دی نو کله به و ټولو ته صرفیږی او کله به و بعضو ته او ددی ایت لزوم د ټولو څخه معلومیږی لکه داقول چه الخلافة لقریش فَرِیْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ دا مقرری دخدای دطرفه څخه لازمه کړه سوی ده وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ او خدای دانادی په مستحقانو حَکِیْمٌ ﴿۶۰﴾ حکم کوونکی دی په وجه احسن سره روایت دی چه منافقان به سره کناره اوکوښه سول او ورسولؐ ته به یې نالایقه نسبتونه کول نو یوه په دوی کښی وویل چه که دا زمونږ خبری و ده ته ورسیږی نو توله به مهوا سو نودی نوره ورته وویل چه دی اوریدونکی دی هرڅوك چه هرڅه ورته وایي دی باوریې کوی نو مونږ به هم قسمونه ورته وکړو چه مونږ هیڅ نه دی ویلي او دده تسلی به په وکړو نو نازل سو وَمِنْهُمُ الَّذِیْنَ او بعض ددی منافقانو څخه هغه څوك دی یُؤْذُوْنَ النَّبِیَّ چه ورسولؐ ته ازار سوی وَیَقُوْلُوْنَ او بیا داسی وایي هُوَ اُذُنٌ چه دی خبره اوریدونکی او قبلونکی دی قُلْ ورته ووایه ته چه اوریدونکی دی مګر دا خبره ده چه اُذُنُ خَیْرٍ لَّکُمْ اوریدونکی دخیر ستاسی دی نه دشر او داسی اوریدونکی دی چه یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ باور کوی او ایمان راوړی پرخدای په ټولو وامرو اونوا هیو کښی وَیُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِیْنَ او باورکوی دمؤمنانو پرخبرو په سبب دخلوص ددوی دنیتو وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِیْنَ او سبب درحمت دی دهغو کسانو دپاره اٰمَنُوْا مِنْکُمْ ؕ چه ایمان یې راوړی دی دتاسی څخه ښکاره یعنی پسه دروا غو او رشتیا و وستاسی پوهیږی مګر ومخلصانو ته دجهته داخلاص او ومنافقانو ته دجهته درفقه اونرمی بزغ نه کوی وَالَّذِیْنَ او هرچه هغه

ﻋﻪ یعنی دا حدیث دی چه پیغمبر دخدای فرمایلی دی چه خلافت په قریشو کښی دی نو دا نه ځلی معلومیږی چه په یوه واردی ټولو قریشو ته خلافت ولی بلکه دا معنی معلومه سوه چه د قریشو څخه دی خلافت په بل چا کیښی نه دی نو همدارنګه معنی مراده ده په مصارفو دغنیمت کښی ۱۲ اجبال الواحد

کسان دی یُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ چه د خدای د رسول ته ازار رسوے قولے
یا فعلے لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ (۶۱) مقرر دے دوے لره دردناکه عذاب په
اٰخرت کښی یَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ دوے قسمونه خوری په خدای سره لَکُمْ
وتاسے ته چه مومن منافقان نه یو لِیُرْضُوْکُمْ ، ددے دپاره چه تاسے
راضے کړے وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ خدای اورسول دده چه دے اَحَقُّ اَنْ یُّرْضُوْهُ
ډیر لایق دے ددی خبرے چه دا منافقان دی راضے کړے یعنے رسولؐ دا
ضمیر ځکه واحد دے چه دده رضا عین دخدائے رضا ده اِنْ کَانُوْا مُؤْمِنِیْنَ (۶۲)
که دوے مؤمنان وی په واقعه کښی هم لکه په خوله چه وائی اَلَمْ یَعْلَمُوْا
اَنَّهٗ آیا دوے نه پو هیږے چه بیشکه شان دادی مَنْ یُّحَادِدِ اللّٰهَ هرڅوک
چه مخالفت کوے د خدای وَرَسُوْلَهٗ اود رسوله څخه دده فَاَنَّ لَهٗ نو بیشکه
چه مقرر دے هغه لره نَارَ جَهَنَّمَ اور د دوزخ خَالِدًا فِیْهَا ط په داسے حال
کښے چه همیشه به دے په دے دوزخ کښے وسے ذٰلِكَ الْخِزْیُ الْعَظِیْمُ (۶۳)
داخلود "همیشه تب" لویه رسوایی ده روایت دے چه هرکله منافقانو د رسولؐ
په حق کښی ډیرے ورانے خبری او مسخرے کولے اوبیا به یے ویل چه ارمان دے
که مونږ چا سل متروکے ووهلے خودا سے ایت د اسمان څخه نه راغلے چه زمونږ د
رسوایی سبب وی نو نازل سو یَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ بیریږی دامنافقان اَنْ تُنَزَّلَ عَلَیْهِمْ
ددے څخه چه راوبه لیږل سے پر دے مؤمنانو باندی سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ یو سورت د
قرآن چه دامؤمنان خبر کړے بِمَا فِیْ قُلُوْبِهِمْ ط په هغه کفراو نفاق سره چه دد وی
په زړو کښے دے قُلِ اسْتَهْزِءُوْا ، نه ورته ووایه چه تاسے دا مسخری کوی او دا امر
د توبیخ دے اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُوْنَ (۶۴) ښکاره کونکے دی
دهغو خبرانو ستاسے چه تاسے یے د اظهار او ښکاره کولو څخه بیریږی د هغو روایت
دے چه هرکله د تبوك په لارکښے منافقانو په ځل مینځ کښے سره وویل چه های

هائ تاسی ودی سرې ته وګورئ چه د شام ښارونه او ماڼۍ یې یادېږي نو
اوس یې و فتح کولو ته روان سوي دي او بیا په دی خبره سره خدای د ی
اګاه او خبر کړی نو دوی یې راوبلل چه تاسی داسی خبری کولی نو دوی
وویل چه موږ ستا او د اصحابو په باب کښې هیڅ نه دي ویلي بلکه موږ هسې
توقې او مسخرې کولې د پاره د لارې د لنډولو یا د لارې د منزل لنډولو نو نازل
سو وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ او که ته د دوی څخه پوښتنه وکړې او وه یې پوښتې چه دا
تاسی څه ویل لَیَقُوْلُنَّ نو خامخا به دوی وایي اِنَّمَا كُنَّا بیشکه هم دا خبره
ده چه موږ وَنَخُوْضُ چه غوږتي به وهلې موږ په هر هر قسم خبرو کښې وَنَلْعَبُ
او موږ لوبې کولې په رنګارنګ مجلسو سره قُلْ اَبِاللّٰهِ و رته ووایه په طریقه د
قهر چه آیا په خدای پورې وَاٰیٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ او په اٰیتو دده او په رسول دده
پورې كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ⑥⑤ ولاست تاسی چه مسخرې به مو کولې لَا تَعْتَذِرُوْا
عذر مه کوئ اوس وموږ ته په دروغو سره ځکه چه ستاسی کفر اوس ښکاره
سو قَدْ كَفَرْتُمْ په تحقیق سره تاسی خپل کفر ظاهر او ښکاره کړی په طعنو سره
د رسول بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ط وروسته تر ایمان ښکاره کولو ستاسی اِنْ نَّعْفُ که
موږ عفوه وکړو عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ د یوی طائفی څخه د تاسی لکه مخشي بن حمیر
چه توبه یې وکښه او بیا یې د شهادت سوال وکړی او د یمامه په جنګ کښې شهید
سو نُعَذِّبْ طَآئِفَةً م نو عذاب به ورکړو و بلی طائفی ته موږ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا په سبب
د دی چه بیشکه دوی وه مُجْرِمِيْنَ ⑥⑥ ګنهکاران د جهته د اصرار په خپل نفاق
اَلْمُنٰفِقُوْنَ منافقان خلک چه دوی دری سوه تنه دي وَالْمُنٰفِقٰتُ او منافقانی
ښځې چه دی چه سل او اویا تنه دي بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ م بعض د دوی د بعضو
نورو څخه دي یعنی ټول سره یو شان دي په کفر و نفاق کښې او ټول له کار و نیز یې
د مؤمنانو څخه چپه دی لکه چه وایې يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ امر کوی دوی په بدکار

وقف لازم ع ۸

سره لکه کفر او معصیت او تکذیب د رسول وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ او منعه کوی د نیك
کار څخه لکه ایمان او طاعت او تصدیق د رسول وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ط او کلك او بند
نیسی لاسونه خپل د هر خیر او خیرات څخه او د دعا او مناجات څخه نَسُوا اللّٰهَ دوی
خدای هیر کړی دی او طاعت د ده فَنَسِيَهُمْ ط نو دوی ئی هم محروم کړی دی د خپله
فضله او رحمته څخه إِنَّ الْمُنٰفِقِينَ بیشکه منافقان چه دی که نارینه دی او که ښځې
هُمُ الْفٰسِقُونَ ﴿٦٧﴾ هم دوی فاسقان دی وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِينَ وعده کړی ده
خدای د نارینه وو منافقانو سره وَالْمُنٰفِقٰتِ او د منافقو ښځو سره وَالْكُفَّارَ او د کفارو
سره که نارینه وی او که ښځې نَارَ جَهَنَّمَ د اور د دوزخ خٰلِدِينَ فِيهَا ط دوی به همیشه وی
په دی دوزخ کښی هِيَ حَسْبُهُمْ ج دا دوزخ بس دی دوی لره د عذاب دپاره وَلَعَنَهُمُ
اللّٰهُ ج او دوی خدای د خپل رحمت څخه لیری کړی دی وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٦٨﴾ او مقرر دی
دوی لره دائمی عذاب بیله انقطاعه په اخرت کښی بیا رب العزت وائی چه تاسو یاست ای منافقانو
په دی شان كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لکه هغه کسان چه تر تاسو مخکی په تیره زمانه کښی وه كَانُوٓا أَشَدَّ
چه دوی ډیر سخت وه مِنْكُمْ قُوَّةً تر تاسی په بدنی قوت کښی وَّأَكْثَرَ أَمْوٰلًا وَّأَوْلٰدًا ط او ډیر زیات
وه د جهته د مال او د اولاده فَاسْتَمْتَعُوا بِخَلٰقِهِمْ نو دوی عیش وکړی په قدر د خپل نصیب د لذاتو څخه د
دنیا فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلٰقِكُمْ نو تاسی هم عیش وکړی په قدر د خپل نصیب د فانی دنیا څخه كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ
لکه عیش چه کړی وو هغه کسانو مِنْ قَبْلِكُمْ چه تر تاسو مخکی وه بِخَلٰقِهِمْ په قدر د خپل نصیب وَخُضْتُمْ
او غوټه سواست په شیننده د باطلو کښی كَالَّذِي خَاضُوٓا په مثل د هغه غوټی چه پخوانو خلکو وهلې
وه د باطلو په دریاب کښی یعنی لکه هغوی چه په باطله تللی وه تاسی هم د اسی په باطله ولاړلاست
أُولٰٓئِكَ دا خلق چه دی حَبِطَتْ أَعْمٰلُهُمْ خراب سوی دی د دوی عملونه فِي الدُّنْيَا هم په دنیا
کښی چه هغو مالو او او لادو هیڅ وفا ور سره ونه کړه وَالْاٰخِرَةِ ج او هم په اخرت کښی
چه پر هغو اعمالو ئی هیڅ فائده مرتب نه سوه وَأُولٰٓئِكَ او دا خلق چه دی هُمُ
الْخٰسِرُونَ ﴿٦٩﴾ هم دوی زیانکاران دی د هغه سره با به أَلَمْ يَأْتِهِمْ آیا

عه و ترینکے دی د دایرے څخه د کفر ۱۲ عسه چه و تمح کله او هیچیری به نه خلاصیږی ۱۲ صه ګړوند په خوشحالی سره ۱۲

نه دی راغلی وه دی منافقانو ته چه دا سی ډیر غږه دی نَبَاُ الَّذِیْنَ احوال د عذاب د
هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخکی تېر وی تیرسوی دی چه دا شپږ طائفی دی قَوْمِ نُوْحٍ
اول قوم د نوحؑ دی چه په طوفان سره غرق سو وَّعَادٍ او دویم عاد وو قوم د هودؑ چه
په باد صرصر سره هلاك سوه وَّثَمُوْدَ ۙ او دریم ثمود وو قوم د صالحؑ چه په زلزله سره
وَقَوْمِ اِبْرٰهِیْمَ او څلرم قوم دابراهیمؑ وو چه نمرودیې په غوما بنه سره او قوم او رعیت
یې په بل عذاب سره هلاك سو ، وَاَصْحٰبِ مَدْیَنَ او پنځم اهل مدین وو قوم د شعیبؑ
چه په اور هلاك سو وَالْمُؤْتَفِکٰتِ ط او شپږم مؤتفکت وه قوم د لوطؑ چه ښارونه
یې جبرائیلؑ پخپلو وزرو سره واخیسته او اسمان ته یې یوړل او ددی طرفه څخه تر
اسمانه پوری قرُت کالمی پراوړیدل او بیا یې دپاسه راچپه کړی او د هر څه سره په
مځکه کښی ښخ سوه اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ چه راغلی وو دوی ته رسولان ددوی
بِالْبَیِّنٰتِ ۚ په ښکاره معجزو سره فَمَا کَانَ اللّٰهُ نو نه وو خدای لِیَظْلِمَهُمْ چه
ظلم به یې کاوی پر دوی یعنی بے گناه به یې په عذاب ول وَلٰکِنْ کَانُوْٓا او لیکن
دوی وه اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ۝۷۰ چه پر خپلو ځانو به یې ظلم کاوی په کفر او په تکذیب
سره وَالْمُؤْمِنُوْنَ او مؤمنان خلك چه دی وَالْمُؤْمِنٰتُ او مؤمنی ښځی چه دی   ربع
بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ بَعْضٍ م بعضی ددوی دوستان دی د بعضو نورو په تراحمؑ
او په تناصر کښی یو د بل سره یَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ دوی امر کوی په نیکو کارو سره
لکه ایمان او طاعت وَیَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ او منع کوی دوی د بد و کارو څخه لکه کفر
او معاصی وَیُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ او ادا کوی لمونځ خپل د ټولو حقوقو سره وَیُؤْتُوْنَ
الزَّکٰوةَ او زکوٰة ورکوی وَیُطِیْعُوْنَ اللّٰهَ او فرمانبرداری کوی د خدای وَرَسُوْلَهٗ
او دده د رسول په هر څه کښی اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی سَیَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ ژر دی
چه خدای به پر دوی رحم وکړی اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ بیشکه خدای غالب دی خپل کړه کوی
حَکِیْمٌ ۝۷۱ پرحکمته دی نو لایق او نالایقه ورته معلوم دی وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِیْنَ

عه تراحم یو تر بله رحم سره کول او تناصر یو تر بله کومك او مدد سره کول ۱۲

وعدہ کړی دہ خدای د نارینه وو مومنانو سره وَالْمُؤْمِنٰتِ او د مؤمنو ښځو سره جَنّٰتٍ تَجْرِيْ د داسی باغوچه بهیږی به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی تر بنګلو یاد ونو دهغو ځلو رقسمه ولی او د لك به وی د هرقسم میوو ځنه خٰلِدِيْنَ فِيْهَا همیشه به وی دوی په دی باغوکښی وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً او بله وعده د مینو "کورو" پاکیزه وواو خوش رنګو ده په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د ملغلرو بنګلی به وی یاد زر بر جدویا د سرو یاقوتو فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ط د خلود "همیشه والی" او د اقامت په باغوکښی او عدن د یو ښار یا د یو نهر نوم دی په جنت کښی وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ او هغه رضامندی چه د خدای د جانبه ده مؤمنانو لره اَكْبَرُ ط هغه ډیره لویه ده هم تر جنتو او هم تر نعمتو ذٰلِكَ دا رضامندی چه ده هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (۷۲) هم دغه لوی بری دی.

ع ۹/۱۵

ځوك امان غواړی له اور ځوك جنت غواړی او حوری
زه له تا ځنه رضا غواړم چه رحیم یې هم غفوریے
دهرچا چه ته راضی سی اے قادرہ لا یزا لـــه
نو هر ځه دده سوه ته او خزانے یُری معموری

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اے زما پیغمبرہ جَاهِدِ الْكُفَّارَ جهاد کوہ د کفارو سرہ په توره سره وَالْمُنٰفِقِيْنَ او د منافقانو سره په حجت بازی او په اقامت د حدودو وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ط او سخت او کلك او سه پر دوی په جهاد کښی او نرمی مه ورسره کوه وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط او عاقبت د دوی دوزخ دی وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ (۷۳) او بد ځای دا ستوګنی دے دادوزخ روایت دی چه هرکله رسول ع دوی میاشتی په تبوك کښی پاته وواو وحی به هلته راتلی او دپاته کید ونکو منافقانو بدی به په کښی بیا نیدہ نو جلاس عه د قهره وویل که دا محمد ع زمونږ د پاته سوو مشرانو په حق کښی ځه وایی هغه رشتیا وایی نو مونږ به ترخرو بدتر سوا او عامر بن قیس عه وویل چه والله هغه خو له حق دی او ته ترخره بدتر یې بیا چه دا بحث رسول ع ته ورسیدی نو جلاس یې راحاضر

عه نوم د یو منافق دی ۱۲ عه نوم د یو مسلمان او صحابی دی ۱۲

کړی او هغه قسم وکړی چه ما وانه دی ویلی او عامر سوال وکړی چه اے رب به
دا سوال ښکاره کړی نو نازل شو يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ دوی قسمونه کوی په خدای سره
مَا قَالُوْا ط چه دا خبره یې اصلاً نه ده کړی وَلَقَدْ قَالُوْا او خامخا په تحقیق سره دوی
ویلی ده كَلِمَةَ الْكُفْرِ کلمه د کفر چه طعنه ده په دین کښې او شك دی په کلام د
سید المرسلین کښې وَكَفَرُوْا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ او کفر یې ښکاره کړی دی وروسته
تر ښکاره کولو د خپل اسلام وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا ج او اختیار د هغه کار یې کړی
دی چه وهغه ته ونه رسید له چه هغه قتل د رسول یا د عامر و یا تاج د باچاهی
ایښوول وه د ابن ابی پر سر باندی وَمَا نَقَمُوْا او دوی د رسول او د مؤمنا نو سره
کینه نه کوله اِلَّآ اَنْ اَغْنٰهُمُ اللّٰهُ مگر د دی جهته چه خدای دوی بے پرواکړه
وَرَسُوْلُهٗ او رسول دده مِنْ فَضْلِهٖ ج د خپل فضل او کرم څخه یعنی اهل د مدینے
پخوا نادار وه بیا چه دی راغی نو ځوله دده په برکت سره دارند (مالداره) شوه یا جلاس
څکه کینه کوی چه دده مولی چاوژلی و نو او رسول د هغه قاتله څخه دوولس
زره دراهم وده ته ځنی ور واخیسته او غنی شو فَاِنْ يَّتُوْبُوْا نو که دوی دده خپل
نفاق څخه توبه وکاږی يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ج نو دا توبه به د دوی ته غوره وی وَاِنْ
يَّتَوَلَّوْا او که دوی شا کړی د توبی څخه او پر خپل نفاق هم هغسی کلك وی يُعَذِّبْهُمُ
اللّٰهُ نو دوی به خدای په عذاب کړی عَذَابًا اَلِيْمًا لا په دردناکه عذاب سره فِى
الدُّنْيَا هم په دنیا کښې په قتل سره وَالْاٰخِرَةِ ج او هم په آخرت کښې په سوځلو
سره وَمَا لَهُمْ فِى الْاَرْضِ او نشته دوی لره په تمامه ځمکه کښې مِنْ وَّلِيٍّ یار
هیڅوك چه لاس یې ونیسی وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۷۴﴾ او نه مدد گاره هیڅوك چه د عذابه څخه
یې خلاص کړی نقل دی چه تر دی آیت وروسته جلاس توبه کاړ رسوا و د مخلصانو
څخه وګرزی دی روایت دی چه هر کله ثعلبه انصاری چه د پیرزا هد وو د رسول
ته وویل چه زه ډیر نادار یم نه خدای ته سوال وکړه چه وما ته مال راکړی

عه نوم د یو آفسر او لوی منافق دی ۱۲

نو دهٔ ورته وویل چه د مال حق ادا نه کړل سی نوهغه مال د رنه بنه نه دی نو ده
قسمونه ورته وکړه چه قول حقوق به یی ادا کړم نو ده دا دُعا ورته وکړه نو خدای دو
مره رمی ورکړی چه د مدینی چاپیره نه ځایه دی نو صحرا ته ولاړی او د جماعته
څخه محروم سو مګر د جمعی ولمانځهٔ ته به راتلی بیا څه موده ور وسته هغه هم پاته
سو بیا چه جامع د زکوٰة ورته راغلی نو ده وویل چه دا زکوٰة نه دی چه د ما څخه یی
غواړی بلکه جزیه ده ته اوس ولاړ سه چه زه فکر پکښی وکړم نو نازل سو وَمِنْهُمْ
مَّنْ او بعض د منافقانو څخه هغه څوك دی عٰهَدَ اللّٰهَ چه وعده یی وکړه د خدای سره
لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ نو خامخا که ومو ږ ته مال راکړی د خپلی مهربانی څخه لَنَصَّدَّقَنَّ
نو خامخا به خیراتونه ور کړو او زکوٰة به ځنی ورکړو وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ نو
خامخا به مو ږ د نیکانو څخه سو فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ نو هر کله چه خدای ودوی ته
ډیر مال ورکړی د خپل فضل وکرم څخه بَخِلُوْا بِهٖ نو دوی په هغه مال سره بخل اختیار
کړی او حق د خدای یی ځنی ورنه کړی وَتَوَلَّوْا او شا یی کړه وهغه خپل عهد ته وَّهُمْ
مُّعْرِضُوْنَ ﴿۷۶﴾ او حال دا چه دوی څنګ کوی دی امر څخه د خدای فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا نو
دی بخل ودوی ته په میراث کښی ثابت منافقت پریښووی فِيْ قُلُوْبِهِمْ د دوی په زړو
کښی چه هیڅ کله به لیری نه سی اِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ تر هغه ورځی پوری چه دوی ملاقی
کیږی د خدای سره یا د خپل عمل سره بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ په سبب د هغه چه مخالفت یی
کړی دی د خدای سره مَا وَعَدُوْهُ د هغه خبری چه دوی د هغی خبری وعده کړی وه
چه تصدیق او اصلاح وه وَبِمَا كَانُوْا او بل په سبب د دی چه دوی وه يَكْذِبُوْنَ ﴿۷۷﴾
چه د رواغ به یی ویل په هغه وعده کښی اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا آیا دا وعده خلافونکی نه
پوهیږی اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ په دی چه بیشکه خدای پوهیږی سِرَّهُمْ په پټ نیت
د نفاق او عهد ماتولو د دوی وَنَجْوٰىهُمْ او په پټو مجلسو سره د دوی د طعنی ویلو
په دین کښی او د جزیی بللو د زکوٰة وَاَنَّ اللّٰهَ او بل په دی سره نه پوهیږی چه بیشکه

عه یعنی جمع کونکی او راټولونکی د زکوٰة ۱۲

خدای عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿۷۸﴾ ډیرخبردار دی په ټولو سره روایت دی چه هرکله رسول ﷺ
دغازیانو د خرڅ د پاره باعث توب وکړی پر مؤمنانو باندی د تبوك په غزا کښی نوصدیق رضی الله عنه
هرڅه چه په کور کښی درلوده هغه یې ټوله ورکړه او عمر رضی الله عنه نیم مال ورکړی او عثمان رضی الله عنه
د ریے سوه اوښان د باروسره ورکړه او علی رضی الله عنه را شرفی ورکړی او عبد الرحمن رضی الله عنه څلور
زره دراهمه ورکړه او عاصم رضی الله عنه سل جواله دیرش منی دخرماوو ورکړه او ابوعقیل رضی الله عنه د شپے
مزدوری ورکړه او نیم من خرماوې یې راوړی او هم داسی هرچا د خپل توفیق مطابق مال
راوړی او منافقانو د دی متبرعانو عیب ګوي کولی او ویل به یې چه عبد الرحمن رضی الله عنه او عاصم رضی الله عنه
دا مال په ریا ورکړی دی او دابوعقیل و نیم من خرما ته دخدای او د رسول څه احتیاج
وو خو نوم یې کاوی نو نازل سو اَلَّذِيْنَ هغه منافقان يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ چه عیبګوي
کوی د متبرعانو په سبب د ډیرو ورکړو مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ د مؤمنانو څخه فِي الصَّدَقٰتِ په
اداکولو کښی د صدقاتو چه وعبد الرحمٰن او عاصم ته نسبت د ریاکوی وَالَّذِيْنَ او بل د
هغو نادارانو متبرعانو عیبګوي کوی لَا يَجِدُوْنَ چه هیڅ نه سے پیداکولای اِلَّا جُهْدَهُمْ
مګر په قدر د خپل طاقت چه دابوعقیل تبرع حَقِیْره بولی فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ د دوی نو
دا منافقان مسخری کوی په دوی پوری سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ د جزا به ورکړی خدای وو دوی ته
د دوی د مسخرو وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۷۹﴾ او دوی لره دردناکه عذاب مقرر دی په آخرت کښے
روایت دی چه هرکله عبد الله بن اُبی نارو غه سواو دده زوی چه هغه هم عبد الله
نومیدی او خالص مؤمن وو هغه و رسول ﷺ ته راغلی چه زما پلار ته د خدای څخه
بخښنه وغواړه نو ده بخښنه وغوښته نو نازل سو اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ بخښنه غواړې ته
ودی منافقانو ته او دا امر دی په معنیٰ دخبر اَوْلَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ یا بخښنه نه غواړې
ودوی ته اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ کله بخښنه وغواړې ته ودوی ته سَبْعِيْنَ مَرَّةً اویا واره
فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ نو ګرسره به بخښنه ونه کړی خدای ودوی ته یعنی که ته ډیره
بخښنه ورته غواړې نو هم به یې خدای ونه بخښی ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ دا نه بخښل په

دی سبب دی چه بیشکه دوی كَفَرُوْا بِاللّٰهِ کافران سوی دی په خدای سره وَرَسُوْلِهٖ ط
او په رسول دده سره اوکفار ولره بخښنه نشته وَاللّٰهُ او خدای لَا يَهْدِي الْقَوْمَ ع ۱۰
الْفٰسِقِيْنَ ﴿۸۰﴾ سمه لاره نه ښیي دفاسقانو و ډلی ته چه پرخپل فکر مصر وي فَرِحَ ۸
الْمُخَلَّفُوْنَ خوشحاله سوه هغه پاته سوی دغزا څخه دجهته دخپل نفاق بِمَقْعَدِهِمْ ۱۶
په خپلو کښینا ستو سره خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وروسته تر رسول دخدای وَكَرِهُوْٓا اَنْ
يُّجَاهِدُوْا او دا خبره بده ګڼی دوی چه جهاد وکړی بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ په
خپلو مالوا و په خپلو ځانو سره فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دخدای په لار کښی او خپل راحت یې غوره
کړی وَقَالُوْا او دوی ومؤمنانو ته وویل لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ط چه مه ځی دی غزا ته
په دی ګرمی کښی قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ ته ورته ووایه اور ددوزخ چه دی اَشَدُّ حَرًّا ط
ډیر سخت دی دجهته دګرمی د دی حرارت څخه لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۱﴾ که وای دوی
چه پوهیدلای په دی سره چه عاقبت ددوی دا دوزخ دی نو دا بی فرمانی به یې
نه کوله فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا نو میباید چه خاندی دی دوی ډیر کم «بر» وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ج
او میباید چه ژاړی دی دوی ډیر زیات او دا اخبار دی دامر په صیغه سره جَزَآءً
بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ دا جزاده په سبب دهغه نفاق چه دوی وه چه کاوی به یې فَاِنْ
رَّجَعَكَ اللّٰهُ نو که ته خدای راوستی ومدینی ته اِلٰى طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ وهغه ډلی
ته چه شاته پاته سوی وه ددی منافقانو څخه چه هغه دوولس تنه وه فَاسْتَاْذَنُوْكَ
نو بیا وغواړی له تا څخه اذن وغواړی لِلْخُرُوْجِ دپاره دوتلو و بلی غزا ته تر تبوک وروسته
فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا نو ته ودوی ته ووایه چه ګرسره مه وزی تردی وروسته او دا
نهی په صورت کی دخبر دی مَعِيَ اَبَدًا د ماسره وجنګ ته هیڅیری وَّلَنْ تُقَاتِلُوْا
او ګرسره مه وژنی مَعِيَ عَدُوًّا ط د ماسره دښمن اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ بیشکه چه تاسی
راضی سوی یاست بِالْقُعُوْدِ په کښینا ستو او په پاته کیدو سره اَوَّلَ مَرَّةٍ اول
وار یعنی د تبوک په غزا کښی فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخٰلِفِيْنَ ﴿۸۳﴾ نو ناست اوسی ددی پاتو

خلګو سره چه ښځې او هلکان دي روایت دي چه هر کله عبدالله بن اُبي په مرض د
مړګ رسول
موت کښې راو باله او ورته وې ویل چه د خدایه څخه بخښنه راته وغواړه او قمیص
دي هم راکړه چه کفن پې کړمه او جنازه ی هم ته پخپله وکړه بیا چه مړ شو نو ده
خپل قمیص ورکړي او جنازي ته پې هم ورغلی نو نازل سو وَلَا تُصَلِّ او جنازه مه
کوه عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ پر هیچا د دی منافقانو څخه مَّاتَ اَبَدًا چه مړ سي هیچیری وَّلَا
تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ د او هیچیری مه دریږه پر قبر دده "وقبرہ دده" یا د دفن دپاره یا د زیارت
یا د دعا یا د استغفار د پاره لکه چه پر نورو مړو دریږې اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بیشکه
چه دا منافقان کافران سوي دي بِاللّٰهِ په خدای سره چه مشرکان دي وَرَسُوْلِهٖ
او په رسول دده سره چه بې فرمانه دي وَمَاتُوْا وَهُمْ او مړه سوه او حال دا چه
دوی فٰسِقُوْنَ ﴿۸۴﴾ فاسقان دي دایمانه څخه وتلی دي وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ او تعجب
دې نه راولي و تا ته مالونه ددی منافقانو که څه هم ډیر وی وَاَوْلَادُهُمْ او نه اولاد
ددوی که څه هم قوي او روی دار ان وي اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ بیشکه هم دا خبره ده چه
اراده ولري خدای اَنْ يُّعَذِّبَهُمْ بِهَا ددی چه عذاب کړی دوی په دی اموالو او
اولاد سره فِى الدُّنْيَا په دنیا کښې په تولولو او ساتلو سره د مال او په تربیت او په
اصلاح سره د اولاد وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ او وزی ددوی دبدنه څخه ارواح د روحان ددوی په ډیر
غم سره وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ او حال دا چه دوی به کافران وي یعنی پر کفر به ومری
وَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ او په هغه وخت کښې چه یو سورة رالیږل سي یا بعض سورة
د قرآن او په هغه کښې د خدای حکم راسی اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ دا سي چه پر خدای ایمان
راوړی وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ او جهاد وکړی سره د رسوله دده اسْتَاْذَنَكَ نو
اذن غواړي د تا څخه د پاته کیدو اُولُوا الطَّوْلِ مِنْهُمْ هغه خاوندان د دولت
ددی منافقانو څخه وَقَالُوْا ذَرْنَا او وایې دوی چه مو بدپرېږدی نَكُنْ مَّعَ
الْقٰعِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ چه سوا او سو د کور کښېنیناستونکو سره رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا راضي

اوخوښ سوه دوی په دی سره چه دوی دی وی مَعَ الْخَوَالِفِ دپاته سوو ښځو سره
وَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ او مُهر و وهل سو د کفرا و نفاق د دوی پر زړو باندی فَهُمْ لَا
يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۷﴾ نو دوی نه پوهیږی په هغه اجر سره چه په جهاد کښی دی لٰكِنِ الرَّسُوْلُ
لیکن رسول چه دی وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ او هغه کسان چه ایمان یی راوړی دی
دده سره جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ جهاد یی وکړی په خپلو مالو سره وَاَنْفُسِهِمْ او په ځانو
سره وَاُولٰٓئِكَ او دا کسان چه دی لَهُمُ الْخَيْرٰتُ ز هم دوی لره دی ښیګړی د دواړو جهانو یعنی
نصرت او غنیمت دلته او جنت او کرامت هلته وَاُولٰٓئِكَ او دا کسان چه دی هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۸۸﴾
هم دوی بریالی دی او مقصود ته رسیدلی دی اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ خدای د دوی ته تیار کړی دی
جَنّٰتٍ تَجْرِيْ باغونه چه بهیږی مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندی تر ونو یا تر ونو د هغو څلورقسمه
ولی خٰلِدِيْنَ فِيْهَا دوی به همیشه وی په دی باغو کښی ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۸۹﴾ دا بر خور
داری او کامیابی ده لویه وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ او راغلل هغه خپل عذر بیانونکی په دراغو
سره په وخت د تلل کښی د تبوك غزا ته مِنَ الْاَعْرَابِ دا عرابو څخه یعنی د صحرائی قبیلو څخه
چه د مدینی پرشاوخوا وه یعنی اسد او غطفان چه زموږ مال کم دی او عیال مو ډیر
دی نو موږ ته دپاته کیدو اذن راکړه یا عامر بن طفیل وه چه ویل به یی چه بیرته به
بنی تمیم زموږ پر عیالو چپاو «لوټ مار» وکړی لِيُؤْذَنَ لَهُمْ د دوی دپاره چه ودوی ته اذن
وکړه سی د غزا څخه د پاته کیدو وَقَعَدَ الَّذِيْنَ او کښیناستل هغه کسان كَذَبُوا اللّٰهَ چه درواغ
یی ویلی وه وخدای ته وَرَسُوْلَهٗ او دده و رسول ته په دعوی د ایمان سره -
یعنی هغه منافقان داعرابو څخه چه نه غزا ته راغله او نه یی عذر روکړی -
سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ژر دی چه و به رسیږی و هغو کسانو ته چه کافران
سوی دی مِنْهُمْ د دوی اعرابو څخه عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۹۰﴾ دردناکه عذاب چه قتل دی
دلته یا حرق دی هلته لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ نسته پر عاجزانو نادارانو باندی وَ
لَا عَلَى الْمَرْضٰى او نه پر ناجوړانو باندی وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ او نه پر هغو کسانو باندی

لَا يَجِدُوْنَ چه دوی نه سی پیداکولای مَا يُنْفِقُوْنَ هغه مال چه دوی يې په
توښه یا په اسبابو د سفر ولګوی لکه جهینه او مزینه او بنی عذره یعنی نه سته پر
دروسره و وطا يُفو حَرَجٌ هیڅ وبال که دغزا څخه پاته سی اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ په هغه
وخت کښی چه نیك خواهی کوی او دخدای فرمان منی وَرَسُوْلِهٖ او دده د رسول او
نصحٌ اصلاح دفعل ده په اخلاص دنیت سره مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ نسته پر نیکو کارانو
باندی مِنْ سَبِيْلٍ ط هیڅ لار د وبال او د عتاب وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ او خدای بخښونکی دی د
هغه چا چه په عذر سره پاته کیږی رَّحِيْمٌ (۹۱) مهربانه دی چه معذورانو ته یې
د پاته کیدو اذن ورکړی دی وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ او بل وبال نسته پر هغو کسانو چه ده یې
ناداری څخه اِذَا مَآ اَتَوْكَ په هغه وخت کښی تا لره راغله چه هغه اووه تنه وه د انصارو
څخه۔ معقل او صخر او علیّه او ثعلبه او سالم او عبد الله بن کعب او عبد الله بن معقل۔
لِتَحْمِلَهُمْ د دی د پاره چه ته دوی پر مرکب سپاره کړی چه غزا ته در سره ولاړ سی
قُلْتَ لَآ اَجِدُ نو تا ودوی ته وویل چه زه هم نه سم پیداکولای مَآ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ مرکوم
داسی شی «مرکب» چه تاسی پر هغه باندی سپاره کړم تَوَلَّوْا وَّ اَعْيُنُهُمْ نو وګرځیده او شاېی کړه
روان سوه او حال دا چه سترګی د دوی تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ هواری بهیږی د اوښکو څخه
(۹۲) حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا د ډیره خفګانه څخه د دی جهته چه بیا نه سی پیداکولای دوی مَا يُنْفِقُوْنَ
هغه شی چه دوی يې ولګوی او صرف يې کړی په دی سفر کښی اِنَّمَا السَّبِيْلُ بیشکه هم
دا خبره ده چه عتاب او ملامتیا چه ده عَلَى الَّذِيْنَ خاص پر هغو کسانو ده يَسْتَاْذِنُوْنَكَ
چه اذن غواړی د تا څخه د پاته کیدلو وَهُمْ اَغْنِيَآءُ او حال دا چه دوی غنیان او
ماړه دی چه ټول اسباب يې تیار کړی رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا دوی راضی سوی دی په دی
سره چه ناست پاته سی مَعَ الْخَوَالِفِ د پاته سوو ښځو سره وَطَبَعَ اللّٰهُ او خدای مهر وهلی دی
عَلٰى قُلُوْبِهِمْ پر زړونو د دوی فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ (۹۳) نو دوی په ښه سوده «ګټه» او زیان «تاوان» نه پوهیږی

ع یعنی د نصح معنی دا ده چه په ښه نیت کار ونه کړی او په اخلاص يې کوی نه په زور او بیره لکه منافقان چه يې کوی ۱۲ عبد الواحد

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ عذرونه به کوی دامنافقان وتاسی ته دخپلو پاته کیدو
إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ط په هغه وخت کښی چه تاسی بیرته ودوی ته د تبوك څخه راوګرځئ
قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوا ته ودوی ته ووایه چه دا د دروغو عذرونه ومو ږ ته مه کوی لَنْ
نُّؤْمِنَ لَكُمْ کوم سره به مو ږ په تاسو باور ونه کړو په دی درواغجنو عذرو کښی ځکه
چه قَدْ نَبَّأَنَا اللّٰهُ په تحقیق سره مو ږ خبر کړی یو مِنْ أَخْبَارِكُمْ ط ستاسی داحوالو
او دنیا تو څخه چه په کومه وجه اوله کوم جهته دمو ږ سره نه ولاړ لاست وَسَيَرَى اللّٰهُ
عَمَلَكُمْ او ژر دی چه خدای به ستاسی عمل تردی وروسته ووینی وَرَسُولُهٗ او رسول
دده به هم ووینی چه دخپل نفاق څخه راګرزی او که نه راګرزی ثُمَّ تُرَدُّونَ بیا به په
ورځ د قیامت بیرته بوتلل سی إِلَىٰ عٰلِمِ الْغَيْبِ وهغه خدای ته چه په پټو دانا او عالم دی
وَالشَّهَادَةِ او په ښکاره وو سره یعنی چه ستاسی په ظاهر او باطن سره مطلع او خبر دی
فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٤﴾ نو آګاه او خبر به کړی تاسی په هغو کارو سره چه تاسی وا ست تعملون
چه کول به تاسی چه د نفاق پټول او د اخلاص ښکاره کول وو سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ ژر
دی چه دوی به وتاسی ته په خدای سره ... قسمونه کوی إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ په هغه
وخت کښی چه تاسی بیرته راسی ودوی ته د تبوك د سفر څخه او د ااخبار دی ځکی
تر وقوع لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ ط د دی دپاره چه تاسی د دوی څخه ځنډ وکړی چه عتاب او
سرزنش نو رکوی فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ ط نو ځنډ وکړی د دوی څخه ځکه چه إِنَّهُمْ رِجْسٌ ز
بیشکه چه ټوله سرتر نوکه عین پلیت دی داسی چه په پرنولو سره نه پاکیږی نو ستاسی
عتاب هیڅ فائده نه ورسوی وَّمَاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ ج او عاقبت د دوی ځای دوږخ دی
جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا د پاره د جزاء ورکولو پر هغو کار و چه دوی وه يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٥﴾ چه دوی
به کوله چه کفر او نفاق دی يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ دوی قسمونه کوی وتاسی ته لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ج
د دی دپاره چه تاسی د دی منافقانو څخه راضی سی لکه چه ابن أبی قسم وکړي ورسول ص
ته چه دا وار ا څخه راضی سه او بیا به په هیڅ سفر کښی د تا څخه مخالفت ونکړم فَإِنْ تَرْضَوْا

عَنْهُمْ نو که تاسی د دوی څخه راضی سی فَاِنَّ اللّٰهَ لَا یَرْضٰی نو بیشکه چه خدای ګرسره نه
راضی کیږی عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِیْنَ (۹۶) د فاسقانو د ټولی څخه اَلْاَعْرَابُ داصحرانشینان
چه دی یعنی بنی اسد او بنی تمیم او عطفان چه د مدینی چاپېره پراته دی اَشَدُّ کُفْرًا ډېر
سخت دی په کفر کښی د ښارو ترخلګو وَّ نِفَاقًا او په منافقت کښی په سبب د سخت والی
او د لیری والی د علماو او عالمانو څخه وَّ اَجْدَرُ اَلَّا یَعْلَمُوْا او ډېر لایق دی ددی سره
چه پوه به نه سی حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ په حدوا و پولو او په قدر د هغو احکامو چه
خدای رالیږلی دی عَلٰی رَسُوْلِهٖ ط پرخپل رسول باندی د فرائضو او سننو او نورو احکامو
شرعیه و څخه وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ او خدای دانا دی پر احوالو د دوی حَکِیْمٌ (۹۷) حکم کوونکی
دی د دوی په مهلت سره د حکمته وَمِنَ الْاَعْرَابِ او بعض د اعرابو څخه مَنْ یَّتَّخِذُ هغه
څوک دی چه نیسی او شمیری مَا یُنْفِقُ مَغْرَمًا هغه مبلغ او پیسی چه د خدای په لار کښی
یی لګوی یا څه صدقه چه ورکوی یی تاوان او بې ځایه زیان محض د تقیی د پاره[عـه] وَّ
یَتَرَبَّصُ بِکُمُ الدَّوَآئِرَ ط او هر کله یی و تاسی ته سترګی نیولی وی په طمع د ګردش د
زمانی چه ګوندی که در باندی چپه سی او دوی د دغه ورکولو څخه خلاص سی
عَلَیْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ط هم پر دوی دی یا پر دوی دی وی همیشه ګردش د سختی او د غم
وَاللّٰهُ سَمِیْعٌ او خدای اوریدونکی دی د دوی د اقوالو عَلِیْمٌ (۹۸) دانا دی په نیتونو د دوی
وَمِنَ الْاَعْرَابِ او بعض د اعرابو څخه مَنْ یُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ هغه څوک دی چه ایمان یی
راوړی دی پر خدای وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ او پر ورځ د قیامت وَیَتَّخِذُ مَا یُنْفِقُ او نیسی او
شمیری هغه مبلغ چه په جهاد کښی یی لګوی یا یی په صدقه کښی ورکوی قُرُبٰتٍ
عِنْدَ اللّٰهِ اسباب د نژدیکت د خدای سره وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ط او موجب د دعا د
پیغمبر ځکه چه دی همیشه متصدقانو ته دعا کوی اَلَآ اِنَّهَا واوری چه دا نفقات یا
صلوات چه دی قُرْبَةٌ لَّهُمْ ط موجب د نژدیکت دی د دوی وخدای ته سَیُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ

عـه یعنی هرڅه چه د خدای په لاره کښی ورکوی هغه محض د مال ساتلو د پاره دی د پیغمبر او د خدای څخه په خطا ډېره
سے ورکوی نه د اخلاص د پاره ۱۲ عـه یعنی خیرات کوونکی ۱۲

ثر ردی چه دوی به خدای داخل کړی فِیْ رَحْمَتِهٖ ؕ پخپل رحمت کښی اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ
بیشکه چه خدای د متصدقانو بخښونکی دی رَّحِیْمٌ ﴿۹۹﴾ مهربانه دی پر متقربانو باندی
وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ او په سرکښی اول ایمان راوړونکی چه دی د تولو مسلمانانو څخه
مِنَ الْمُهٰجِرِیْنَ د مهاجرو څخه او دوی هغه څوك دی چه دواړو قبلو ته یې لمونځ کړی
دی یا چه وبدر ته حاضر سوی دی یا چه په بیعة الرضوان کښی وه وَالْاَنْصَارِ او د انصارو
څخه او دوی هغه څوك دی چه اهل د عقبیٰ اولیٰ دی چه اووه تنه وه او اهل د عقبیٰ
ثانی دی چه اویا تنه وه او هغه چه د مصعب بن عمیر په لاس یې ایمان راوړی دی
څکی د بیعت څخه د عقبیٰ ثانی وَالَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُمْ او بل هغه کسان چه د دی سابقانو
متابعت یې کړی دی بِاِحْسَانٍ لا په نیکی سره چه ایمان او طاعت دی او دانو د مهاجرین
او انصار دی غیر د غه سابقینو څخه یا نور مسلمانان دی تر قیامته پوری رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ
راضی سو خدای د دوی څخه د طاعت په قبلولو سره وَرَضُوْا عَنْهُ او دوی هم د خدای
څخه راضی سوه چه د دین او د دنیا نعمتونه یې پر دوی باندی پیرزو وکړه وَاَعَدَّ لَهُمْ
او تیار کړی یې دی دوی لره په آخرت کښی جَنّٰتٍ تَجْرِیْ باغونه چه بهیږی تَحْتَهَا
الْاَنْهٰرُ لاندی تر ونو یا بنگلو د هغو څلور رقسمه ولی خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ؕ د تل به
وی په دی باغو کښی همیشه ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ﴿۱۰۰﴾ دا لوی بری دی وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ
او بعض د هغه چا څخه چه تر تاسی چاپیره پراته دی مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ؕ د
صحرا نشینانو منافقانو څخه چه هغه اسلم او اشجع او غفار او بعض د جهینو او د
مزینو دی وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِیْنَةِ ؕ او د مدینی د خلکو څخه هم یو قوم دی مَرَدُوْا
عَلَی النِّفَاقِ ۣ چه عادت یې نیولی دی پر منافقت او داسی ماهر دی په نفاق کښی
که څه هم ته دومره زیرك یې لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ نه سی معلومولای دوی نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ د هم
دامور دوی پیژنو او تا د دوی په اسرارو خبروو سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَیْنِ ژر ردی چه
دوی به دوه واره په عذاب کړو د لته په رسوایی سره او هلته د قبر په عذاب سره

سه یعنی چیل طمان نژدی کړنکی وخدای ته ۱۲

یا په زکوٰة او په جهاد سره ثُمَّ یُرَدُّوْنَ بیا به بیرته دوی بوتلل سی د قیامت په ورځ
اِلٰی عَذَابٍ عَظِیْمٍ ﴿۱۰۱﴾ و لوی عذاب ته چه د دوږخ اور دی **روایت** دی چه هر کله
لس تنه خاص مؤمنان د تبوك څخه پاته سوی وه بیله عذره بیا چه دوی خبر سوه
په ایتو د عتابﺑ د متخلفانو سره نو اووه کسانو خپل ځانونه د مسجد په ستنو پوری
وتړل او قسم یې وکړی چه غیر د رسول ؐ به په بل چا ځان ایله نه کړو بیا چه دیٔ
د غزا څخه راغلی او و مسجد ته ننوتی د دوکانه[عه] ادا کولو د پاره نو دوی یې تړلی ولاړ
ولید ل نو پوښتنه یې وکړه چه دوی ولی تړلی دی او چا داتوله حال ورته بیان
کړی نو ده ؐ هم قسم وکړی چه ترڅو امر نه دی راغلی نو زه به یې هم ایله نه کړم
نو نازل سو وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا او نور خلك دی غیر د هغو مذکورو منافقانو څخه چه
دوی قائله سوی دی بِذُنُوْبِهِمْ پخپلو گناهو سره خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا دوی گله کړی
دی نیك عمل چه پښیمانی ده پر پاته کیدلو د غزا څخه او اعتراف (اقرار ۱۲) دی وَّاٰخَرَ سَیِّئًا ط
او بل بد عمل وو چه هغه نه تلل وو و غزا ته عَسَی اللّٰهُ بنا یې چه خدای اَنْ یَّتُوْبَ
عَلَیْهِمْ ط داسی وکړی چه د دوی توبه قبوله کړی اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ بیشکه چه خدای
بخښونکی دی د تائبانو رَّحِیْمٌ ﴿۱۰۲﴾ مهربانی کونکی دی پر دوی **روایت** دی چه هر کله دا
ایت راغلی نو رسول ؐ دوی ایله او خلاص کړل نو دوی بیا وویل چه موږ د مالو محبت
په سبب د جهاد څخه محروم سو نو دا مال ته واخله او د خدای په لاره کښی یې ولگوه نو
ده ؐ ورته وویل چه زه ستاسی د مالو په اخیستلو سره مأمور نه یم نو نازل سو خُذْ
مِنْ اَمْوَالِهِمْ واخله ای رسوله د دوی د مالو څخه صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ خیرات یا
زکوٰة چه ته د دوی پاك کړی د گناهو څخه یا د مال د محبت څخه وَتُزَکِّیْهِمْ بِهَا او بیا
ته هم پاك کړی دوی په زیادت د حسناتو سره د دغه صدقی وَصَلِّ عَلَیْهِمْ ط او
مهربانی وکړه پر دوی باندی په طلب د مغفرت سره د ما څخه اِنَّ صَلٰوتَكَ بیشکه

عه په قهر کولو د مخالفت کونکو د غزا څخه ۱۲ عه یعنی دوه رکعاته لمونځ لکه وی ځکه چه دا دوه رکعاته لمونځ
په وخت کښی د راتلو د سفر څخه مستحب دی ۱۲

ستا دعا چه ده سَكَنٌ لَّهُمْ ط دل ارامی ده دوی لره وَاللّٰهُ سَمِيعٌ اوخدای اوریدونکے
دی ستا د دعا عَلِيمٌ ﴿۱۰۳﴾ دانا دی په لایق توب د دوی دعا ته اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا آیا دا تائبان
نه پوهیدل اَنَّ اللّٰهَ په دی سره چه بیشکه خدای هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ هم دی توبه
قبلوی عَنْ عِبَادِهٖ د خپلو بندګانو وَيَاْخُذُ الصَّدَقٰتِ او اخلی یا قبلوی صدقی ددوی
وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه چه خدای چه دی هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۴﴾ هم دی توبه قبلونکی
او مهربانه دی پر توبه ګارانو باندی وَقُلِ اعْمَلُوْا او ته و دوی ته ووایه چه تاسی عمل
کوی او خطاب وتائبانو ته دی د ثبات یا ونورو ته دی د توبے فَسَيَرَى اللّٰهُ نو ژر دے
چه و به وینی خدای عَمَلَكُمْ عمل ستاسی که خیروی او که شروی وَرَسُوْلُهٗ او
ده رسول به ئے هم وینی وَالْمُؤْمِنُوْنَ ط او مؤمنان به ئی هم وینی وَسَتُرَدُّوْنَ
او شرردی چه تاسی به بیرته په مرګ سره بوتلل سی اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وهغه خبردار ته
په پټو سره وَالشَّهَادَةِ او په ښکاره سره فَيُنَبِّئُكُمْ نو دی به تاسی خبر کړی بِمَا كُنْتُمْ
په هغو کارو سره چه تاسی واست تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ چه کول به مو تنبیه :- دا چه تیر
سوه دا احوال داوو تنوه د هغو لسو تنو څخه چه د تبوك څخه پاته سوی وه او هرچه -
هغه نور درے دی چه کعب او هلال او مراره دی هغو چل څانونه ونه تړل مګر
په عذر خواهی سره رسول ته راغله او ده قبول نه کړی او حکم ئی وکړی چه هیڅوك
دی خبرے او مجلس نه ورسره کوی نو ددوی په حق کښی نازل سو وَاٰخَرُوْنَ
او نور دی د متخلفانو څخه مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ چه مهلت ورکړه سوی دی د پاره
دامر د خدای د دوی په حق کښی اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ چه یا به په عذاب وی دوی که
اصرار اختیار کړی دوی پر ګناه وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ط او یا به توفیق د توبی ورکه
ددوی ته او مهربانی به وکړی پر دوی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ او خدای دانا دی د دوی په احوالو
حَكِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾ پُر حکمته دی چه دوی ئی ارکړه د توبی ته روایت دی چه یو سړی ابو عامر
نومیدی دا شل فو څخه د خزرج د و چه په تورات او انجیل کښی ډیر ماهر وو او همیشه به

عه یعنی سره د هغه جوړه وکړی ۱۲ عسه دوی راستنه ا ته کیسه وکړه ۱۲

پې د مدینې وخلکو ته د رسول ﷺ لخت بیا ناوې بیا چه دې پخپله مدینې ته راغلے او د خلکو څخه و
ده ته سوا ابوعامر د ډیره حسده د رسول ﷺ په ذم لاس پورې کړې او د بدر تر جنګه وروسته
بیا مکې ته وتښتیدې او په اُحد او په حُنین کښې هم د کفارو سره راغلې وو په جنګ کښې او بیا
وروهرته ولاړې ددې دپاره چه د هرقل څخه لښکر واخلی او پر مدینه باندې جنګ وکړې
او بیا د هغه ځایه څخه پې ومنافقانو ته خط راولیږې چه وماته د مسجد قبا پرڅنګ یو بل
مسجد جوړکړې چه نږه د رسم اود درس پکښې وکړم بیا چه دوې مسجد جوړکړې نو رسول ﷺ
ته راغلل چه موږ یو مسجد جوړکړې دې د ضعیفانو او مریضانو دپاره چه ځوې او د لته
نه سې راتللای خو اول ته لمونځ پکښې وکړه چه مبارک سې لو دۀ ورته وویل چه د تبوک
څخه راسم نو به لمونځ پکښې وکړم نو بیا چه د تبوک څخه راغلی نو دوې بیا په لار کښې ورته
راغله نو ده و لمانځه ته د ورتلو اراده وکړه نو نازل سو وَالَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا او هغه کسان
چه ینولې یعنې جوړکړې یې د خپله ځانه څخه مَسْجِدًا ضِرَارًا یو مسجد دپاره د ضرر رسولو
و مؤمنانو ته وَّکُفْرًا او دپاره د تقویت د هغه کفر چه دوې پخپلو زړو کښې پټ کړې دی
وَّتَفْرِیْقًاۢ او د بیلتون اچولو دپاره بَیْنَ الْمُؤْمِنِیْنَ په مابین کښې د مؤمنانو چه په مسجد
قبا کښې لمونځ کوی چه جمعه یې سره تار په تار سی وَاِرْصَادًا او دپاره د پټونې جوړولو
لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ د هغه چا دپاره چه د خدای سره یې جنګ جوړکړی دی وَرَسُوْلَهٗ
او دده د رسول سره مِنْ قَبْلُ د مخکې تر جوړولو ددې مسجد په اُحد او په حُنین کښې
چه هغه ابوعامر دی وَلَیَحْلِفُنَّ او خامخا دوې قسم کوی که څوك پوښتنه ځنې وکړې
چه تاسې دا مسجد ولې جوړکړی دی اِنْ اَرَدْنَا چه موږ ددې مسجد په جوړولو
سره اراده نه ده کړې اِلَّا الْحُسْنٰی د مګر نیکی چه ارتګا هی دۀ پرعاجزانو د لمانځه په
باب کښې وَاللّٰهُ یَشْهَدُ او خدای شاهدی اداکوی اِنَّهُمْ لَکٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ چه بیشکه
دوې خامخا دروا غجنان دی په دې قسمو کښې لَا تَقُمْ فِیْهِ اَبَدًا ط مه دریږه په
دې مسجد کښې هیڅکله د لمانځه دپاره نو بیا د رسول ﷺ اصحاب ورولیږل او هغه مسجد

یې خراب کړي او په هغه ځای کښې یې ویران جوړکړي لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ خاځا هغه مسجد چه اول تا دې یې ایښو سوی دی عَلَى التَّقْوٰى پر پرهیز ګاري باندې چه هغه مسجد قبا یا د رسول مسجد دی مِنْ اَوَّلِ یَوْمٍ د اولې ورځې څخه اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِیْهِ ډیر لایق دی د دې چه ته ودریږې په هغه مسجد کښې د لمانځه د پاره چه پر تقوىٰ جوړ سوی دی

اشعار

اے مذله منتقمه هم قهار ذوالجلاله
دا عاجزه بنده چه ستا دی دښمنانو کړی ملاله

که دینی که دنیوی دی د ده ز ړه یې کړی ملول
او که عرض یې ته وانه وری په ژړا و رسی چاله

ددی د وه فیه د څخه دښمنان یې کړه بے پایه
چه یې دی د شره خلاص سی لے قادره لایزاله

دوی اخته یې ځان صورت کړی چه یې دی د فکره وزی
او فارغ سی د تشویشه په نعمت دی سی خوشحاله

داسوال ! ئے مهربانه قبول کړی له مراده
د حضرت د پاکه رویه اے قیومه بے مثاله

فِیْهِ رِجَالٌ په دې مسجد کښې چه پر تقوىٰ بنا دی سړی دی داسی یُّحِبُّوْنَ اَنْ یَّتَطَهَّرُوْا چه دوی مینه لري پر دې چه دوی پاك کړي خپل ځانونه د ګناهو او د بد وخصلتو یا د جنابته چه په جنابت کښې نه بدیږي وَاللّٰهُ یُحِبُّ الْمُطَّهِّرِیْنَ ﴿١٠٨﴾ او خدای پاکی کونکی ځان خوښوی اَفَمَنْ اَسَّسَ بُنْیَانَهٗ ایا نو هغه څوك چه کښیږ دی تا دې د بنا د دین خپل عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ پر پرهیز ګاري او پر بیره د خدای څخه وَرِضْوَانٍ خَیْرٌ او پر طلب د رضامندی د ده د اډیر غوره دی اَمْ مَّنْ او که هغه څوك غوره دی اَسَّسَ بُنْیَانَهٗ چه ایښی یې وی تا دې د عاقبت د بنا د دین خپل عَلٰى شَفَا جُرُفٍ پر کناره د هغه رود

چه بیخ یې د سیلاب او بو وړی وی او سر بیره سر یې پرځای ولاړ وی هَارٍ چه
نړیدونکی وی عنقریب چه چاودنه پکښې سوی وی فَانْهَارَ بِهٖ نو ونړیږی دا بنا او ولویږی
دهغه بانی سره فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ط د دوږخ په اورکښې فَائِدَة دا مثال د دواړو طایفو
دی چه مؤمنان او منافقان دی چه مؤمنانو تادی دخپل دین د بنا پرپرهیزګاری
ایښې دی او پرطلب دخدای د رضامندی نوعاقبت یې جنت دی او کفارو او منا
فقانو پرسرکښې او بې فرمانی ایښې دی نو عاقبت یې دوږخ دی وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي
الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ اوخدای سمه لار نه ښیي د ظالمانو وړلی ته لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ
الَّذِيْ همیشه به وی مانۍ د نفاق د دوی بَنَوْا رِيْبَةً چه دوی بنا کړی ده موجب
د شك او د نفاق فِيْ قُلُوْبِهِمْ پخپلو زړوکښې اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ط مګر چه پارچې
پارچې سی زړونه د دوی وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ اوخدای دانا دی د دوی د بنا پر ایښولو چه
په کوم نیت وی حَكِيْمٌ ﴿۱۱۰﴾ پرحکمته دی په هرڅه کښې اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى بیشکه خدای ع ۱۳/۱۱/۲
رانیسی مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ د مؤمنانو سرونه د دوی وَاَمْوَالَهُمْ او مالونه د دوی
یعنی چه سرونه او مالونه خپل په جهاد کښې بښندی بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ط په دی چه بیشکه
دوی لره په عوض کښې جنت مقرر دی په دی شان يُقَاتِلُوْنَ چه دوی به د کفارو سره
جنګونه کوی فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دخدای په لارکښې فَيَقْتُلُوْنَ نو هرکله به دوی کفار
قتلوی وَيُقْتَلُوْنَ قف اوکله به د دوی قتل کیږی د هغو دلاسه وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وعده
کړی ده خدای د دوی سره په دی بیع او شراکښې وعده حقه یعنی رشتیا بې خلافه
بې شبهې او هداسی حکم وو فِي التَّوْرٰىةِ په تورات کښې وَالْاِنْجِيْلِ او په انجیل کښې
هم وَالْقُرْاٰنِ ط او په قرآن کی هم وَمَنْ اَوْفٰى او څوك دی ډیر وفا کونکی بِعَهْدِهٖ مِنَ
اللّٰهِ پر وعده خپله تر خدای څکه چه هیڅ کریم وعده خلافی نه خوښوی فَاسْتَبْشِرُوْا
نو ښاسی خوشحاله سی بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ په هغه خرید او فروخت سره خپل بَايَعْتُمْ بِهٖ ط

عه یعنی سره د هغه جورونکی ۱۲　عه سره د دی چه هم ده پیدا کړی دی ۱۲

چه تاسی عقد کړی دی په هغه سره وَذٰلِكَ او دابیعه چه ده هُوَالْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۱۱﴾ هم
دالویه برخورداری ده روایت دی چه هرکله رب العزت د مؤمنانو تیزول او باعث
کول پر جهاد باندی وکړه په تمثیل سره د بیع او شرا نو اوس بیا مدحه کوی په دی نو خصلتو
سره نو وایی چه دا ټکی ذکرسوی مؤمنان چه دی اَلتَّآئِبُوْنَ راګرځیدونکی دی د تولو معاصیو
څخه اَلْعٰبِدُوْنَ عبادت کونکی دی د زړه په اخلاص سره اَلْحٰمِدُوْنَ ثنا ویونکی دی د رب په هر
حال کښی اَلسَّآئِحُوْنَ تلونکی دی په جهاد یا په طلب پسی د علم اَلرّٰكِعُوْنَ رکوع کونکی دی
اَلسّٰجِدُوْنَ سجده کونکی دی پخپل لمانځه کښی اَلْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ امرکونکی دی وخلکو
ته په نیک کار سره چه ایمان او طاعت دی وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ او منعه کونکی دی د بد
کار څخه چه کفر او عصیان دی وَالْحٰفِظُوْنَ او ساتونکی او فهم کونکی دی لِحُدُوْدِ اللّٰهِ د
خدای د احکامو وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ او زیری وکړه پر مؤمنانو یعنی پر دغه موصوفینو په دغو
صفاتو سره او مُبَشِّرٌ بِهٖ محذوف دی د تعظیم دپاره یعنی زیری ورکړه د هغو شیانو چه نه
چا لیدلی وی او نه چا اوریدلی وی روایت دی چه هرکله ابوطالب په مرض موت سره
پریواتی نو رسول ورته وویل چه اوس کلمه ووایه چه زه وخدای ته د سفارش عذر جوړ
سی او هغه دا خبره قبوله نه کړه نو بیایی ورته وویل چه زه به تل د خدای څخه بخښنه درته غواړم
تر هغو پوری چه منعه نه وی راغلی نو بیایی پس د مرګه هم بخښنه ورلره غوښته نو اصحابو
وویل چه دی خپل تره ته بخښنه غواړی ابراهیم هم خپل پلار ته بخښنه غوښتی وه نو موږ
ولی خپلو پلرو ته بخښنه نه غواړو نو نازل سو مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ نه دی روا وپیغمبر ته وَالَّذِيْنَ
اٰمَنُوْٓا او نه وهغو کسانو ته چه ایمان یی راوړی دی اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ دا چه
بخښنه غواړی ومشرکانو ته وَلَوْ كَانُوْٓا اوکه څه هم دا مشرکان وی اُولِیْ قُرْبٰی خاوندان
د خپلوی مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ روسته تر هغه چه ښکاره سی وو وی ته اَنَّهُمْ چه بیشکه
دا مشرکان چه دی اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۳﴾ ملازمان د دوزخ دی یعنی پر کفر مړه دی وَمَا
كَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ او نه وه بخښنه غوښتل د ابراهیم لِاَبِيْهِ د خپل پلار دپاره

اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ مگر د پاره د وفا په هغه وعده سره وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ ۚ چه ده داوعده کړی
وه ددی پلار سره چه د مناظری په وخت کښی یې ورته ویلی وه چه سَاَسْتَغْفِرُلَكَ عه رَبِّی
ددی جهته چه پلار ورته ویلی وه چه زه به ایمان نه راوړم فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ نو هر
کله چه معلومه سوه ورته اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ چه بیشکه دی د خدای دښمن دی
تَبَرَّاَ مِنْهُ ۭ نو بیزاره سو ده څخه او بیا یې بخښنه ورته ونه غوښته اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ
بیشکه چه ابراهیمؑ وو لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۱۴﴾ خامخا ډیر اه کونکی صبرناکه وو یعنی ډیر
مهربانه اونرم دله وو تردی حده چه پلار ورته وویل لَاَرْجُمَنَّكَ عه واهجرنی ملیا
او ده په جواب کښی ورته وویل ساستغفرلك ربی بیا نو رب العزت عذر
خواهی کوی د تیر استغفار د رسولؐ او د مؤمنانو او وایی وَمَا كَانَ اللّٰهُ او نه دی
خدای لِيُضِلَّ قَوْمًا چه ولغز وی ”گمراه کړی“ هیڅ قوم بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ وروسته تر هغه
چه ودوی ته یې د اسلام لار وروښوولی ده حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ ترهغو پوری چه بیان
کړی ودوی ته مَّا يَتَّقُوْنَ ۭ هغه شی چه دوی ځان ځنی وساتی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه
خدای بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ پر هر شی دانا دی لومړیو او وروستیو احوالو څخه ددوی اِنَّ اللّٰهَ
بیشکه چه خدای چه دی لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ خاص هم ده لره باچاهی د اسمانو ده وَالْاَرْضِ ۭ
او د ځمکی يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۭ چه ژوندی کول او وژل کوی وَمَا لَكُمْ او نسته تاسی لره مِّنْ دُوْنِ
اللّٰهِ بیله خدایه مِنْ وَّلِيٍّ هیڅوك یار وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۱۶﴾ او نه هیڅوك مددگار لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ
خامخا په تحقیق سره خدای توبه قبوله کړه او مهربانی یې وکړه عَلَى النَّبِيِّ پر پیغمبر علیه السلام
باندی چه ومنافقانو ته یې د پاته کیدو اذن کړی وو وَالْمُهٰجِرِيْنَ او پر مهاجرو باندی
هم وَالْاَنْصَارِ او پر انصارو هم چه د غزا څخه یې نفرت کیدی مگر طبعی نه عنادی
الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ هغه مهاجر او انصار چه د رسولؐ پیروی یې کړی وه فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ

عه یعنی ابراهیمؑ دخپل پلار ته ویلی وه چه ژر دی چه زه به ستا د پاره دخپل رب څخه بخښنه وغواړم ۱۲ عه یعنی
پلار د مناظری په وخت کښی ورته وویل که ته چیری د مسلمانی د خبرو څخه راوانه وړی نو خامخا قسم دی چه سنگسار
به دی کړم او څه راڅخه ورک سه ډیر موده چه ودی نه وینم ۱۲

دتنگی او سختی په وخت کښی هم د مرکب په وجه چه پرلسو تنو به یو اوښ رسیدلی وو
اوهم د توښې په وجه چه دوو تنو به د خرما په یوه دانه ورځ تیروله اوهم داوبو په وجه چه
سره دقلت د مرکبه اوښ به یې حلال کړی او دهغه په رطوبا تو به یې شاعت تیراوی مِنْۢ
بَعْدِ مَا كَادَ وروسته تر هغه چه نژدی وو دی ته چه يَزِيْغُ مائل سی د ډیری سختی
په سبب سره وبیرته گرزیدلو ته د جهاد څخه یا د رسول د متابعت څخه قُلُوْبُ فَرِيْقٍ
مِّنْهُمْ زړونه دیوی ډلی د دوی څخه ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ؕ بیا خدای رجوع وکړه پر دوی
اِنَّهٗ بِهِمْ بیشکه چه دی پر دوی باندی رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۷﴾ ډیر مهربان او رحم کونکی دی
وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ او خصوصا پر هغو دروتنو باندی خُلِّفُوْا ؕ چه د تبوك څخه پاته سوی
وه او حکم الهی ته منتظر او حیران ناست وه او هیڅ به ترڅلو ییښتو و رځو پوری
التفات نه ورته کاوی بیا چلی ښځې هم ځنی منعه کړه سوی همدا سی تر ټل سوی به
گرزیدله حَتّٰۤى اِذَا ضَاقَتْ ترهغو پوری چه تنگه سوه عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ پر دوی باندی ځمکه په
سبب د بی التفاتی سره د خلگو دوی ته بِمَا رَحُبَتْ سره ددا سی فراخی ددی وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ
او بل تنگه سوه پر دوی اَنْفُسُهُمْ خپل ځانونه یعنی زړونه ددوی د ډیره غمه څخه وَظَنُّوْۤا اَنْ
لَّا مَلْجَاَ او دوی په یقین سره پوه سوه چه ځای د تیښتی نسته مِنَ اللّٰهِ دقهره څخه د
خدای اِلَّاۤ اِلَيْهِ ؕ مگر هم وده ته دی په طلب د مغفرت سره ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ بیا یې رجوع
وکړه پر دوی باندی په قبلولو د توبی سره وروسته تر پنځوسو ورځو لِيَتُوْبُوْا ؕ ددی د
پاره چه دوی داخل سی په توبې کښی د توابینو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دی هُوَ
١٤ ع ٨ ٣ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۱۸﴾ هم دی قبلونکی د توبې دی مهربانه دی پر تائبانو يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ای مؤمنانو د خدای څخه وبیرېږی او بیا داسی مخالفت مه کوی
وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ او اوسی همیشه د رشتینو سره په ایمان یا په عهد یا په نیت او
قول یا د خدای په دین یا په توبه کښی مَا كَانَ نه دی روا لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ د مدینی و
خلگو ته وَمَنْ حَوْلَهُمْ او وهغه چا ته چه چاپیره دی پر دوی مِّنَ الْاَعْرَابِ د صحرا

نشینا نو ځنې اَنْ یَّتَخَلَّفُوْا دا کار چه بیرته «شاته» پاتې سی دوی عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ د خدای
د رسول ځنې او مراد د دی نفی ځنې نهی دی[عه] وَلَا یَرْغَبُوْا او نه دا چه رغبت او مینه کوی
دوی بِاَنْفُسِهِمْ پر ځپلو ځانو عَنْ نَّفْسِهٖ ط د نفس ځنې د رسول ؐ یعنی دوی دی
دا سی نه کوی چه ځپل ځانونه دی پر ارام کړی او دوی په مشقت کښې پریږدی روایت
دی چه ابو خیثمه انصاری د غزا ځنې پاتې سوی وو بیا یو څو ورځې وروسته و باغ
ته راغلی او ښځې یې تر سوری «سایې» لاندی ځای ورته سم او آبپاشی کړی او ذَری «سبیله» یې پرواچوله
او تازه خرما او یخې اوبه «ګړې» ور ته کښینبوی چه ده ورته وکتل نو رسول علیه السلام یې په
یاد سو او وی ویل چه زه به په دی نعمتو کښې بې غمه ډوب ناست یم او رسول ؐ به د
اهاړه لمر په ګرمو باد و کښې روان وی نو هر څه یې پر دغه ځای پرینبوول او پسی
ولاړی ذٰلِکَ دا وجوب د متابعت او نهی د مخالفت ځنې چه دی بِاَنَّهُمْ په سبب د دی
سره دی چه بیشکه دوی چه دی لَا یُصِیْبُهُمْ ظَمَاٌ نه رسیږی و دوی ته هیڅ قدر تنده
وَّلَا نَصَبٌ او نه هیڅ قدر ستومانی وَّلَا مَخْمَصَةٌ او نه هیڅ قدر لوږه فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ د
خدای په لار کښې وَلَا یَطَئُوْنَ مَوْطِئًا او نه پایمالوی دوی یو ځای د ځایو ځنې د کفار
ځپلو پښو یا د آسانو په پښو سره یا د اوښانو په پښو سره یَّغِیْظُ الْکُفَّارَ چه په قهر کوی او
خفه کوی کفار وَلَا یَنَالُوْنَ او نه رسیږی و دوی ته مِنْ عَدُوٍّ نَّیْلًا د ځپله دښمنه ځنې
رسیدل د څه قدر خفګان د کوم قسم د خفګان لکه قتل یا جراحت یا بند یا هزیمت یا
داسی نور اِلَّا کُتِبَ لَهُمْ بِهٖ مګر چه لیکل کیږی به و دوی ته په هغه کار سره یعنی جلا
جلا پر هر یوه عَمَلٌ صَالِحٌ ط نیک عمل اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای لَا یُضِیْعُ اَجْرَ
الْمُحْسِنِیْنَ (۱۲۰) نه خرابوی اجر د نیکو کارانو وَلَا یُنْفِقُوْنَ او دوی نه ښندی نَفَقَةً
صَغِیْرَةً وړه ښنده[عه] یعنی لږ لکه پاتې سوی ناړې یا د اسرغل یا یو چاریلټ یا پاؤ
د خرما د ابو عقیل په شان وَّلَا کَبِیْرَةً او نه لویه یعنی ډیره د عثمان ؓ او د عبدالرحمن
په شان وَّلَا یَقْطَعُوْنَ وَادِیًا او نه قطع کوی دوی کومه کنده په کفارو پسی اِلَّا

عه یعنی مه وروسته کیږی د رسول ځنې ۱۲ عه یعنی دوی نه ورکوی یو شی د خدای په لار کښې ۱۲

كُتِبَ لَهُمْ مگرچه ليكل كيږي وودوى ته ثواب د هغه او داليكل چه دى لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ
ددى دپاره چه جزاء وركړى وودوى ته خداى اَحْسَنَ مَا كَانُوْا ډيره غوره د هغه كارو
چه دوى وه يَعْمَلُوْنَ (١٢١) چه كول به يې د خداى په لاركښي روايت دى چه هركله د
پانه سوو خلكو په حق كښى ډير عتاب راغلے نو مؤمنانو وويل چه كه ددى وروسته
بيا غزا پيښه سوه نو ټوله به ځوو غزاته نو نازل سو وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ اونه ښايى
اونه دى روا و مؤمنانو ته لِيَنْفِرُوْا كَآفَّةً ط دا چه ټوله غزاته روان سى فَلَوْلَا نَفَرَ
نو ولى داسى نه كوى چه غزاته ولاړسى مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ د هرى قبيلى څخه مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ
ددى مؤمنانو څخه يوه طائفه اونوردى كورپاته سى لِّيَتَفَقَّهُوْا فِى الدِّيْنِ ددى دپاره
چه ځان پوه كړى په دين كښى چه بيا يې په احكامو سره پخپله عمل كوى وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ او
ع ١٥ ٤ بل ددى دپاره چه دوى خپل قوم يعنى غازيان وه بيروى اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ په هغه وخت
كښى چه بيرته راوګرزى د غزا څخه وودوى ته لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ (١٢٢) ښايى چه دوى ځان
وساتى د هغه كار و څخه چه ځنى بيرول كيږى يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اے مؤمنانو قَاتِلُوا الَّذِيْنَ
جنګ كوى د هغو خلكو سره يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ چه نژدى او خرمه دى و تاسى ته د كفارو څخه
يعنى دا كفار وژنى الاقرب فالاقرب[عه] وَلْيَجِدُوْا او ميبايد چه دوى دى پيدا كړى فِيْكُمْ
غِلْظَةً ط په تاسى كښى اے مؤمنانو تندى او زيږوالى په قول كښى څخكى ترقتال او صبر
او شجاعت د جنګ په وخت كښى وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ او پوه سى چه بيشكه خداى مَعَ
نه الْمُتَّقِيْنَ (١٢٣) د پرهيزګارانو سره دى په حفظ او په اعانت كښى وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ
او په هغه وخت كښى چه راوليږل سى يو كوم سورت د قرآن فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ نو
بعض ددى منافقانو څخه هغه څوك دى چه وايي و هغه ضعيفانو د مؤمنانو ته پر
طريقه د انكار او د مسخرو سره اَيُّكُمْ زَادَتْهُ چه كوم يو دى د تاسى څخه چه وده ته زيات كړى
هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ط دى سورة ايمان يعنى كوم يو دى د تاسى څخه چه دى سورة د هغه ايمان

[عه] يعنى هغه چه قريب او نژدى دى يعنى ټوله كافران وژلى په هر ځاى كښى په وى ١٢

زیات کړی دی فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا نو هرچه هغه کسان دی چه ایمان یې راوړی دی فَزَادَتْهُمْ
اِیْمَانًا نو زیات کړه دوی ته سورة د جهته دا یمان یعنی زیات یې کړی ایمان د دوی وَّهُمْ
یَسْتَبْشِرُوْنَ (۱۲۴) او حال دا چه دوی زیری سره کوی او خوشحاله کیږی وَاَمَّا الَّذِیْنَ او هر
چه هغه کسان دی فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ چه د دوی په زړونو کښی رنځ د شك او د نفاق
دی د حسد او د حقد او د بغض دی فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا نو زیاتوی دا سورة دوی د
جهته د پلیتی چه هغه کفر دی یعنی د دوی کفر زیاتوی چه دی شان سره چه دا کفر
پیوسته سی اِلٰی رِجْسِهِمْ په هغه کفر سره د دوی چه پرمخوا ئینو سورتو باندی وو
وَمَاتُوْا او دوی مړه سوه وَهُمْ کٰفِرُوْنَ (۱۲۵) او حال دا چه دوی کافران وو اَوَلَا
یَرَوْنَ آیا دوی نه وینی اَنَّهُمْ یُفْتَنُوْنَ چه بیشکه دوی اخته کیږی په رنګارنګ افتو
سره لکه قحطی او مرض او داسی نور آفات فِیْ کُلِّ عَامٍ په هر کال کښی مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَیْنِ
یو وار یا دوه واره ثُمَّ لَا یَتُوْبُوْنَ بیا سره ددی دوی توبه نه وکاږی د نفاقه څخه وَلَا
هُمْ یَذَّکَّرُوْنَ (۱۲۶) و نه دوی په دی ابتلاء سره پند اخلی وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ او
په هغه وخت کښی چه راولیږل سی یو سورة د قرآن چه د دوی عیبونه پکښی بیان
سوی وی نَّظَرَ بَعْضُهُمْ نو ګوری به بعضی د دوی اِلٰی بَعْضٍ ط بعضو نورو ته او
یو تر بله به اشاری سره کوی په ستر ګو سره پر طریقه دا نکار او د مسخره سره او بیا به
پخپل مینځ کښی سره وایی هَلْ یَرٰىکُمْ مِّنْ اَحَدٍ آیا تاسی نه وینی کوم یو د دی مسلمانانو
څخه یعنی که د چا فکر وموږ ته نه وی نو موږ به د دی مجلس څخه ولاړ یږ و څکه چه د دی
خبر وطاقت موږ نه لرو او خندا هم دیره راځی خود شرمندګی څخه بیریږو نو که به
چا لیدل خو نا ست به وی او که به چا نه لیدل نو به د مجلس څخه ولاړیږی لکه چه وایی
ثُمَّ انْصَرَفُوْا ط نو بیا دوی ولاړ سی او د رسولؐ د مجلس څخه وګرځی صَرَفَ اللّٰهُ
قُلُوْبَهُمْ خدای د دوی زړونه د قرآن د فهمولو څخه یا د ایمان د قبلولو څخه یا د تولو
نیکیو څخه راګرځولی دی بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ په سبب د دی سره چه دوی یو داسی قوم دی

عه یعنی الله پاک به از مینت سره ۱۲

لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ چه پخپل سود او زیان نه پوهیږی لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ خامخا په
تحقیق سره وتاسی ته راغلی دی استاذی مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ستاسی د جنس څخه ای نبی
آدمو یاستاسی د نسب څخه اے قریشو یاستاسی دخپلی ژبی او قوم څخه ای عربو
عَزِیْزٌ عَلَیْهِ ډیر سخت او درونددی پر ده باندی مَا عَنِتُّمْ هرهغه کارچه په محنت
اومشقت کښی تاسی په لویږی حَرِیْصٌ عَلَیْكُمْ ډیر حرصناکه دی پر تاسی یعنی
ستاسی پر ایمان او پر صلاحیت باندی بِالْمُؤْمِنِیْنَ پر مؤمنانو باندی که تاسی څخه
دی او که د بخوا نیو امتو څخه دی رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲۸﴾ مهربانه او رحم کونکی دی فَاِنْ
تَوَلَّوْا نو که منافقان شاکړی او منعه وکړی دیاری او مددګاری او دفرمانبرداری
څخه ستاسی فَقُلْ حَسْبِیَ اللّٰهُ وَدْرَ نوته وایه وددی ته چه بس او کافی دی ما خدای
نوستاسی د شره څخه به می وساتی او ما به در باندی غالب کړی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط
نشته دعبادت لائق هیڅوك مګر یوازی هم دی دی عَلَیْهِ تَوَكَّلْتُ خاص هم پر ده
باندی ما اعتماد کړی دی وَهُوَ او حال داچه دی رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ ﴿۱۲۹﴾
څښتن «خاوند» دی د هغه عرش چه ډیرلوی دی

اٰیَاتُهَا ۱۰۹ سُوْرَةُ یُوْنُسَ مَكِّیَّةٌ رُكُوْعَاتُهَا ۱۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الٓرٰ علماؤ په دی کښی ډیر تاویلات کړی دی او یو دهغو څخه دادی چه الف دانا
او لام مرد الله او ر در رحمن څخه دی یعنی انا الله الرحمن معنیٰ داچه زه خدای یم
مهربانه تِلْكَ داپه راتلونکی او مخکښی چه ویل کیږی اٰیٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِیْمِ ﴿۱﴾ آیتونه
دهغه کتاب دی یعنی دقرآن چه پرحکمته دی روایت دی چه هرکله پر رسول
پیغمبری راغله نو مشرانو دقریشو وویل چه ډیر تعجب دی چه خدای بل څوك نه کی
پیدا غیر ده یتیمه څخه دابوطالب چه هغه یی رسول کړی وای نو نازل سو اَكَانَ
لِلنَّاسِ عَجَبًا آیا وه دی خلقوته عجبه ښکاره کیږی اَنْ اَوْحَیْنَآ داکار چه موږ

وحی وکړی اِلیٰ رَجُلٍ مِّنۡهُمۡ و یوه سړی ته د دوی د جنسه او قبیلې څخه اَنۡ اَنۡذِرِ
النَّاسَ ددی دپاره چه داره ما مخلوق نره ما د عذابه څخه و بیروه وَبَشِّرِ الَّذِیۡنَ
اٰمَنُوۡۤا اوزیری وکړه پرهغوکسانو چه ایمان یې راوړی دی اَنَّ لَهُمۡ چه بیشکه دوی
له مقرره ده قَدَمَ صِدۡقٍ لویه مرتبه د صدق قول او د نیت چېل عِنۡدَ رَبِّهِمۡ
په نزد دخپل پروردګار قَالَ الۡکٰفِرُوۡنَ نو کافران وایی د رسول ؐ ترراتلو وروسته
اِنَّ هٰذَا بیشکه دا سړی چه دی لَسٰحِرٌ مُّبِیۡنٌ ﴿۲﴾ خامخا ښکاره جادوګر دی اِنَّ رَبَّکُمُ
اللّٰهُ الَّذِیۡ بیشکه چه ستاسی پروردګار هغه خدای دی چه په خپل قدرت
کامله سره یې خَلَقَ السَّمٰوٰتِ پیدا کړی دی ده اسمانونه وَالۡاَرۡضَ او ځمکه فِیۡ سِتَّةِ
اَیَّامٍ په شپږو ورځوکښی چه اوله یې یکشنبه او آخره یې جمعه وه ثُمَّ اسۡتَوٰی
عَلَی الۡعَرۡشِ بیا دی پرعرش مستولی سو چه اعظم دی د مخلوقاتو یُدَبِّرُ الۡاَمۡرَ
دی تدبیرکوی دکائناتو د امورو په حکمت بالغه سره مَا مِنۡ شَفِیۡعٍ نشته هیڅوک
شفاعت کونکی دقیامت په ورځ اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ اِذۡنِهٖ ؕ مګر دده تراذن وروسته
ذٰلِکُمُ اللّٰهُ رَبُّکُمۡ دا پروردګار چه موصوف دی په دی صفاتو سره رب ستاسی دی
فَاعۡبُدُوۡهُ ؕ نو هم دده عبادت کوی اَفَلَا تَذَکَّرُوۡنَ ﴿۳﴾ آیا نو تاسی پند نه اخلی
اِلَیۡهِ مَرۡجِعُکُمۡ جَمِیۡعًا ؕ خاص هم وده ته ورتله ستاسی دی د ټولو ترمرګه وروسته
وَعۡدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ دا د خدای وعده ده په رښتیا سره اِنَّهٗ یَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ بیشکه چه
دی اول پیدا کوی دا مخلوق ثُمَّ یُعِیۡدُهٗ بیا به یې ژوندی کړي ترمرګه وروسته او دا بیا
ژوندی کول چه دی لِیَجۡزِیَ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ددی دپاره دی چه جزا ورکړی د
هغوکسانو ته چه ایمان یې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او د نیکو عملونه
یې کړی دی بِالۡقِسۡطِ ؕ په عدل سره وَالَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا او هرچه هغه کسان دی
چه کافران سوی دی لَهُمۡ شَرَابٌ مقرر دی دوی لره څښل مِّنۡ حَمِیۡمٍ د
هغه اوبو چه ایشیدلی وی د دوزخ په اور سره وَّعَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۴﴾ او بل

دردناکه عذاب دی بِمَا كَانُوْا په سبب د دې سره چه دوی وه یَكْفُرُوْنَ ④ چه کافران
سوی وه هُوَ الَّذِیْ دی هغه خدای دی جَعَلَ الشَّمْسَ ضِیَآءً چه ده گرځولی ده
دلمر تکیه د رڼا خاونده وَّالْقَمَرَ نُوْرًا او تکیه د سپوږمی ئې د نور خاونده گرځولې
ده پخپل قدرت کامله سره فَائِدَهٔ علماء وائي چه که رڼا بالذات «د خپله ځانه»
ځنې وه نو ضیاء ورته وئیل کیږی او که بالواسطه «د بل شي ځنې» وه نو نور بلل کیږی
نو ځکه رب العزت وشمس «لمر» ته نسبت د ضیاء وکړی او وقمر «سپوږمی» ته ئې د نور
نسبت وکړی چه د دی رڼا د لمر ځنې ده په همدغه وجه کله غټه سی او کله نرۍ
سی ځکه دا تکه توره او ډیره صافه کُرَّه ده لکه اینَنه «رهنداره» نو هر کله چې دا شمس «لمر»
او قمر «سپوږمی» دواړه د موږ ځنې و یوه طرف ته سی نو هغه نیم نوراني مخ او طرف ئې د موږ
ځنې پناه سی او دا قریب تر درو ورځو پوری وی نو ځکه خلق وائي چه
اوس میاشت ډوبه سوه او بیا چه یو څه قدر ځنې لیری سی نو نرۍ رابنکاره سی
او خلق وائي چه اوس میاشت راوخته نو بیا چه هرڅونه ځنې لیری کیږی نو
هغه نوراني مخ ئې و موږ ته زیات رابنکاره سی او چه منتهٰی د بُعد ته «آخره د لیرالی»
ورسیږی او موږ د دې او شمس «لمر» ترمینځ سو نو هغه نوراني مخ ئې موږ ته ټول رابنکاره
سی او هغه بدر بلل کیږی او بیا چه کرار کرار شمس «لمر» ته نژدی کیږی نو بیا بیا کرار کرار
نرۍ کیږی ترڅو چه بیا اته ویشتمه ورځ پیدا ته ډوبه سی لکه چه وائي وَقَدَّرَهٗ
مَنَازِلَ او په اندازه ئې کړی سیر د دی قمر په اته ویشتو منزلو کښی په اسمان کښی چه
نومونه ئې دا دی شرطین، بطین، ثریا، دبران، هقعه، هنعه، ذراع، نثره، طرفه
جبهه، زبره، صرفه، عوا، سماك، غفر، زبانا، اکلیل، قلب، شوله، نعایم، بلده
سعد ذابح، سعد بلع، سعد السعود، سعد اخبیه، فرغ مقدم، فرغ موخر رشا
او دا قمر د دی اته ویشتو منزلو ځنې په هریوه کښی یوه یوه شپه تیروی او دا
اندازه رب العزت وکړه لِتَعْلَمُوْا د دی د پاره چه تاسی معلوم کړی عَدَدَ د

السِّنِيْنَ شمار د کلو او میاشتی پخپله په کلو کښی پرتی دی نو ځکه هغه یې نه کړی یادی وَالْحِسَابَ ط او حساب د میاشتو او دورځو پخپلو معاملاتو کښی مَاخَلَقَ اللهُ نه دی پیدا کړی خدای ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ج دا مذکور تول مګر په حق سره نه عبث ځکه چه سررشته د روزګار او موجب د عبرت سی يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ په تفصیل سره بیانوی خدای نښی د خپل قدرت لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝۵ د داسی قوم د پاره چه پوهیږی او عبرت په اخلی اِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ بیشکه چه په مخالفت کید لوکښی د شپې وَالنَّهَارِ او د ورځی کښی د جهته د تلو او د راتلو یا د جهته د نقصان او د زیادة او یا د جهته د نور او د ظلمت وَمَا خَلَقَ اللهُ او په هغو شیانو کښی چه خدای پیدا کړی دی فِي السَّمٰوٰتِ په اسمانو کښې ملائکې او لمر او سپوږمۍ او ستوری او نور شیان وَالْاَرْضِ او په ځمکه کښی لکه بحار او اشجار او انهار او جبال او حیوانات او نور شیان لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝۶ خامخا نښی دی د هغه قوم د پاره چه ځان ساتی د شنو خاتمی څخه او دلائل دی پر وجود د صانع او پر کمال د علم او د قدرت د ده اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا چه اُمید نه لری زموږ د ملاقات یعنی چه منکر دی د حشره وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا او خوښ سوی دی په دی واړه ژوندون سره وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا او دل ارامی یې پیدا کړی ده په دی دنیا سره یعنی خپل همت یې ټول پر هم دی لذاتو د خوندو صرف کړی دی او د هغه باقی نعمتو او لذتو څخه غافل سوی دی وَالَّذِيْنَ هُمْ او بل هغه کسان چه دوی عَنْ اٰيٰتِنَا زموږ د کتاب د ایتو څخه یا زموږ د قدرت د دلائلو څخه غٰفِلُوْنَ ۝۷ ناخبره وه اُولٰٓئِكَ دا خلک چه په مخکښی یاد سوه مَاْوٰىهُمُ النَّارُ ځای د دوی دوزخ دی بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝۸ په سبب د هغو عملو سره چه وه دوی چه کول به یې اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بیشکه هغه کسان چه ایمان یې راوړی دی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او د نیکو عملو نه کوی

یَهۡدِیۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لار د جنت ته برابره کړی و دوی ته رب د دوی بِاِیۡمَانِهِمۡ ۚ په سبب
د نور د ایمان د دوی د قیامت په ورځ تَجۡرِیۡ چه بهیږی به مِنۡ تَحۡتِهِمُ الۡاَنۡهٰرُ
لاندې ترمینو «کورو» د دوی ځلو رقسمه ولی فِیۡ جَنّٰتِ النَّعِیۡمِ ⑨ په هغو باغونو
چه د نعمتو نه ډك وی دَعۡوٰىهُمۡ فِیۡهَا بلنه د دوی چه به وی خدای لره په د ے جنت کښې
دپاره دکوم مطلب یا د پاره د لذت په ذکرسره دده دابه وی چه دوی به وائي
سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ په پاکی سره تا یاد وو اے پروردگاره نور هر مطلب د دوی چه
وی په دی ویلو سره به هغه و دوی ته حاضر سی وَتَحِیَّتُهُمۡ فِیۡهَا سَلٰمٌ ۚ او پیشکشے
د دوی چه به وی په دی جنت کښې سلام به وی یا د دوی پخپل مینځ کښې سره
یا د ملائکو پر دوی با ندې وَاٰخِرُ دَعۡوٰىهُمۡ او خاتمه د بلنې د دوی چه دا اَنِ
ع الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ دابه وی چه دوی به وائي چه ثنا خدای لره ده رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ⑩ چه د
تمام جهان رب دی روایت دی چه هر کله مشرکانو په عذاب کښې ډیر تلوار
کاوی لکه نضر کافر چه ویل چه اے خدایه که دی په حق رسول دی نو پر موږ
د اسمان څخه کاڼی راوره اوروه یا بل یو سخت عذاب راولیږه نو نازل سو وَلَوۡ
یُعَجِّلُ اللّٰهُ او که خدای تلوار کړی وای لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسۡتِعۡجَالَهُمۡ بِالۡخَیۡرِ د
خلگو د پاره د شر په شان د دوی د تلوار په طلب د خیر کښې په قبلولو سره د دوی د بدے
دعا لَقُضِیَ اِلَیۡهِمۡ اَجَلُهُمۡ ؕ نو خامخا به رالیږل شوی وو دوی ته اجل د دوی
یعنې هلاك سوی به وه فَنَذَرُ الَّذِیۡنَ نو موږ پریږدو هغه کسان لَا یَرۡجُوۡنَ
لِقَآءَنَا چه دوی زموږ د ملاقات امید نه لری یعنې د قیامت څخه منکر دی
فِیۡ طُغۡیَانِهِمۡ په یاغیتوب یعنې پخپل شرك او ضلال کښې یَعۡمَهُوۡنَ ⑪ سر
گردانه به گرزی وَاِذَا مَسَّ الۡاِنۡسَانَ الضُّرُّ او په هغه وخت کښې چه وانسان
ته سختی یا مرض ورسیږی دَعَانَا لِجَنۡۢبِهٖۤ نو دی موږ پر اړخ پروت بولی د جهته
د مرض د زړه په اخلاص سره اَوۡ قَاعِدًا یا په ناسته سره اَوۡ قَآئِمًا ۚ یا په ولاړه

سره او مطلب ددی تردیده څخه تعمیم دا حوالودی یعنی په تولوا حوالودمرض کښې
به و موږ ته زاری کوی فَلَمَّا كَشَفْنَا نو هر کله چه موږ لیری کړو عَنْهُ ضُرَّهٗ دده
څخه هغه سختی او مرض دده مَرَّ نو دی څی تیرسی پرهم هغه زره لاره لکه
چه مخکښې تر دی مرض وو او داسی سی كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَا چه گویا که ده دسره -
موږ نه وو بللی اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ط و دفع ته دهغه ضرر او سختی چه ورده ته رسیدلی
وه یعنی هغه حال د محنت یخی هیر کړی كَذٰلِكَ زُيِّنَ هم داسی ښایسته کړه سوی دی
لِلْمُسْرِفِيْنَ واسراف کونکو ته په څیل کفر کښې مَا كَانُوْا هغه کفر او معصیت چه
دوی وه يَعْمَلُوْنَ ⑫ چه کول به یې وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ او خامخا په تحقیق سره
موږ هلاك کړی دی اهل د زمانو مِنْ قَبْلِكُمْ مخوا د مخکی د تاسی څخه ای د
مکی اهلو لَمَّا ظَلَمُوْا لا هرکله چه دوی ظلم وکړی په تکذیب د پیغمبرانو سره
وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ او حال دا چه ود وی ته رسولان راغلی وه بِالْبَيِّنٰتِ په
ښکاره معجزو سره وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا ط اودوی داسی نه وه چه ایمان به یې راوړی ا
که هلاك سوی نه وای او ژوندی یا ته سوی وای اودا په سبب د خذلان الٰهی سره
كَذٰلِكَ همداسی نَجْزِی الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ⑬ جزا به ورکوو موږ و هغه قولی ته د
مجرمانو د اهل د مکی چه تکذیب د رسول کوی ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ بیا موږ کړلاست
تاسی ای هغه خلکو چه رسول و تاسی ته رالیږل سوی دی خَلٰٓئِفَ فِى الْاَرْضِ
خلیفگان په مځکه کښې مِنْ بَعْدِهِمْ وروسته تر هغه قرنو (قومو) چه هلاك سوی
دی لِنَنْظُرَ ددی دپاره چه موږ وگورو په ښکاره سره وروسته تر موږ تر علم غیبی
كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ⑭ چه تاسی څرنگه معامله کوی د خپلو ب سره روایت دی
چه هر کله کفارو د قریشو د بتانو او دعا بدانو ذم یې په قران کښې واوریدی
نو رسول ته یې وویل چه موږ ته یو داسی ایت راوړه چه دا ذم نه وی پکښې یا
هم دا منزل که په دی شان چه پرځای د ایت د عذاب ایت د رحمت کښیږده

اوذم دبتانو او دعابدانو لپي ليري کړه څنې نو نازل سو وَ اِذَا تُتْلٰى او په هغه وخت
کښې ولوستل سي عَلَيْهِمْ ایا تُنَا پر دی کفارو د مکې زموږ ایتونه یعنی قرآن
بَيِّنٰتٍ « په داسې حال کښې چه واضح دی قَالَ الَّذِيْنَ نو وايي هغه کسان لَا
يَرْجُوْنَ لِقَآءَ نَا چه امید نه لري د ملاقات زموږ و رسول ته ائْتِ بِقُرْاٰنٍ چه
وموږ ته راوړه یو داسې قرآن غَيْرِ هٰذَآ چه ددی قرآن څخه غیر وي چه اوس یې
ته وموږ ته لولې « وایي » یعنی داسې قرآن چه پر موږ او زموږ پر خدایانو بد
نه وايي اَوْ بَدِّلْهُ ما یا هم دغه بدل کړه یعنی زموږ او دبتانو ذم څنې لیرې کړه
او دعذاب دایت پرځای ایت د رحمت ولیکه قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ ته ودوی ته
ووایه چه وما ته روا او بانده نه ده اَنْ اُبَدِّلَهٗ دا چه زه بدل کړم دا قرآن
په بل یوه باندی مِنْ تِلْقَآئِ نَفْسِيْ ، دخپله ځانه اِنْ اَتَّبِعُ زه متابعت نه کوم
اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ج مگر هم د هغه شیز چه رالیږل سوی دی وما ته بیله زیادته
او نقصانه اِنِّيْٓ اَخَافُ بیشکه چه زه بیریږم اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ که بې فرماني وکړم
زه دخپل رب په تبدیل سره عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ⑮ د عذابه څخه د هغه لوی ورځی
قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ بیا ته ورته ووایه چه که دخدای اراده وی مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ نو
ما به نه وای لوستلی دا قرآن پر تاسی وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ ز او نه به خدای تاسی اگاه کړی
واست په دی قرآن سره فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ نو په تحقیق سره زه په تاسی کښې اوسیدلی
وم عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ط د یو عمر چه هغه څلویښت کاله وو مخکی د قرآن ترنازلیدو
اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ⑯ ایا نو تاسی عقل نه لري چه که ما د ځانه څخه جوړ والی نو
پخوا به می جوړ کړی وای او زه به افتراء « د ځانه یو خبره په بل چاپوری ترل » په خدای پوری
ولی کوم ځکه چه فَمَنْ اَظْلَمُ نو څوک دی ډیر ظالم مِمَّنِ افْتَرٰى تر هغه چا چه
دځانه و تری عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا پر خدای د دروغ اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ط یا تکذیب وکړی
دده دایتو اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ⑰ بیشکه شان دادی چه د عذابه څخه

نه سی خلا صیدای کافران وَيَعْبُدُونَ او دا کفار عبادت کوی مِنْ دُونِ اللَّهِ غیر
دخلا یه مَا لَا يَضُرُّهُمْ دهغه بتانو چه ودوی ته هیڅ ضرر نه سی رسولای
چه عبادت یی ونه کړی وَلَا يَنْفَعُهُمْ او نه نفعه ورسولای سی که یی عبادت
وکړی وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ او دوی وایی چه دا بتان چه دی شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ
زمونږ شفاعت گر په نزد د خدای قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ ته ورته وو وایه چه ایا تاسی
خدای آگاه کوی بِمَا لَا يَعْلَمُ په هر هغه شي چه ورته معلوم نه دی فِي السَّمَاوَاتِ
په اسمانو کښی وَلَا فِي الْأَرْضِ ط او نه په مځکه کښی او انتفاد علم دجهته دانتفاء
د معلوم ده یعنی دی دسره شریك نه لری نو ځکه ورته معلوم نه دی سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى
پاك دی خدای او بلند شانه دی عَمَّا يُشْرِكُونَ ⑱ دهغه څخه چه دوی شریکان
ورسره پیداکوی وَمَا كَانَ النَّاسُ او نه وه داخلق إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً مگر
یوه ټولی متفقه پر یوه دین د اسلام لکه چخوا د عکی» ترقتل د هابیل یا ورو سته
ترطوفان او یا پر یوه دین د کفر لکه په وخت د بعثت د ابراهیمؑ کښی فَاخْتَلَفُوا ط
نو مختلف سوه سره په سبب د بعث د رسولانو چه بعضو ایمان راوړی او بعضی
پر کفر باندی مصر سوه وَلَوْلَا كَلِمَةٌ او که نه وای هغه گفت سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ
چه پخوا مقرر سوی دی په ازل کښی د رب ستا په تاخیرسره د عذاب تر
بیلتون «اجلا کیدو» پوری د محققانو د مبطلانو څخه لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ نو خامخا به حکم
کړه سوی وای د دوی په مابین کښی فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ⑲ په هغه شي کښی
چه په هغه کښی دوی اختلاف کوی وَيَقُولُونَ او دوی وایی لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ
ولی نه رالیږل کیږی پر ده آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ ج هغه قسم معجزه چه مونږ یی غواړو د
طرفه څخه د پروردگار د ده فَقُلْ نو ته ودوی ته په جواب کښی ووایه إِنَّمَا
الْغَيْبُ لِلَّهِ چه بیشکه هم داخبره ده چه علم غیب خاص خدای لره دی نو
شاید چه مصلحت به نه وی د دی ایت په رالیږلو کښی فَانْتَظِرُوا ج نو تاسی

انتظار کوی ونزول ته د هغه ایت چه تاسی يې غواړی اِنِّیْ مَعَكُمْ بیشکه چه زه هم دتاسی سره مِّنَ الْمُنْتَظِرِیْنَ ۲۰ د انتظار کوونکو څخه یم چه دتاسی سره به خدای څه کوی په عوض کښې ددی عناداوانکار روایت دی چه هر کله په قریشو کښی اووه کاله قحط وو چه تر له نژدی سوی وه وهلاك ته چه بیا باران پروسوا او رزانی سوه نو په ایتو پوری به یې مسخری کولی او د رسول سره به یې فریبونه (چمونه) کول نو نازل سو وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً او په هغه وخت کښې چه موږ وڅکو په دی خلگو دمکی سره رحمت خپل لکه صحت او فراخی مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ وروسته تر ډیری سختی لکه مرض او قحط مَسَّتْهُمْ چه ورو وی ته رسیدلی وی اِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ ناګاه دوی لره مکر یعنی طعنه وی فِیْٓ اٰیٰتِنَا ط په ایتو زموږ کښی او فریب وی په باب د رسول کښې قُلِ اللّٰهُ ته و دوی ته ووایه چه خدای دی اَسْرَعُ مَكْرًا ط ډیر جلت (تلواری) دی په د رکولو کښی د جزا د مکر ستاسی او په راليږلو سره د عذاب اِنَّ رُسُلَنَا بیشکه چه استاذی زموږ چه دی یعنی کرام الکاتبین[ع] یَكْتُبُوْنَ مَا تَمْكُرُوْنَ ۲۱ لیکی دوی هغه فریب چه تاسی يې کوی یعنی هر کله چه زموږ د ملائکو څخه ستاسی مکر پټ نه دی نو د موږ څخه به کله پټ وی نو انتقام به د رڅخه واخلو هُوَ الَّذِیْ دی هغه پروردګار دی یُسَیِّرُكُمْ چه تاسی ګرزوی فِی الْبَرِّ کله پر وچه یا پیاده په خپلو پښو او یا سپاره پر خرو او پر قچرو او پر اسانو او پر او ښانو او پر فیلانو وَالْبَحْرِ ط او کله په لنده یا په سیند وکښی په لامبو او په خیزو او په جاله او په بیړی او په دریاب کښی په جهاز او په غراب کښی حَتّٰٓی تر هغو پوری چه تاسی دا جهازونه ګرزوی چه څلور حادثی در پیښی سی اوداچه اِذَا كُنْتُمْ فِی الْفُلْكِ ج په هغه وخت کښی چه تاسی په جهازو کښی سپاره اوسی وَجَرَیْنَ بِهِمْ او دا جهازونه روان

عه یعنی هغه دوی ملائکی چه پر هر کس باندی مقرری دی د پاره د لیکلو د عملو دده چه نوم ئې کرام الکاتبین دی ۱۲

سے د هغه خلکو سره چه پکښی ناست دی فائدہ عہ په دی عدول کښی د خطاب نه
وغیبت ته دوه کاره دی یو دا چه په دی کښی مبالغه ده یعنی دا تلل په جهاز وکښی
لکه چه بند دی وغا طبینو ته هم دا سے وغائبینو ته هم دی او بل دا چه په دی کښی خفی
اشاره ده و دیری جلتی "تیزی" ته د جهاز یعنی چه کنتم ویل کیدے نو دوی په حد دخطاب کښی
وه سنبت و اهل ساحل ته او بیا فی الفلك جرین ته چه ویل کیدے نو دوی بیا د حد
څخه د خطاب وتلی وه نو څکه پرځای د بکم بهم وویل سو بِرِیۡحٍ طَیِّبَةٍ په هغه باد
سره چه ښه نرم وی او په مقتضے د جهاز برابر وی وَّفَرِحُوۡا بِهَا او دا د جهاز خلك
خوشحاله سے په دی باد مراد سره جَآءَتۡهَا نو ناگاه پردی جهاز وراسے یعنی راوالوزی
رِیۡحٌ عَاصِفٌ تند باد یعنی جکړ او مخالف چه تو له دریاب سره ښورروی او ودریم دا چه
وَّجَآءَهُمُ الۡمَوۡجُ او را سی دوی لره موج یعنی دریاب څپی مِنۡ كُلِّ مَكَانٍ د هره طرفه
څخه یعنی د مخ او د شا او د راسته طرفه او چپه طرفه او دریم دا چه وَّظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ
او دوی گمان وسے چه بیشکه دوی چه د ے اُحِیۡطَ بِهِمۡ لا چه پردوی احاطه وکړه
سوه یعنی هغه موجبات د هلاك تو له پرچا پیره سوه او څلرم دا چه دَعَوُا اللّٰهَ
دوی خدای و بولی د پاره د خلاصے د دی ا فا تو څخه مُخۡلِصِیۡنَ لَهُ الدِّیۡنَ ۚ په دا سے
حال کښی چه دوی خالص کونکی وی خدای لره د دین خپل او د ډیره خوفه څخه بیخی شرك
هیر کړی او وایی لَئِنۡ اَنۡجَیۡتَنَا که د ے موږ خلاص کړو مِنۡ هٰذِهٖ د دی عہ مهلکے څخه
لَنَكُوۡنَنَّ نو خا مخا به موږ سو مِنَ الشّٰكِرِیۡنَ ﴿۲۲﴾ د تو لی څخه د شکر گذارانو ستا پر دی نعمت
فَلَمَّاۤ اَنۡجٰىهُمۡ نو هر کله چه دوی خلاص کړی او وچه ته سے اِذَا هُمۡ یَبۡغُوۡنَ نو ناگاه
دوی فساد کوی فِی الۡاَرۡضِ په مځکه کښی بِغَیۡرِ الۡحَقِّ ؕ په ناحقه سره بیله موجبه د فساد
یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اسے خلکو اِنَّمَا بَغۡیُكُمۡ

عہ یعنی په دی کرم د خدای د خطاب نه څخه و غائب والے ته یعنی اول خدای وفرمایل چه تر هغو پوری
چه تا سے په کښتیو کښی سی او بیا یے وفرمایل چه دا کښتی روانه او جاری سی په دوی باندی او دا سے یی و نه ویل
چه جاری سی ذا کښتی په تا سے باندی ۱۲ عہ یعنی د دی ځای څخه د هلاکت ۱۲

بیشکه هم داخبره ده چه دافسا د ستاسی چه دی عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ۙ ستاسی پر ځپلو
ځانو دی ځکه چه وبال یې هم تاسی ته بیرته راجع کیږی او اوس یې کوی تاسی
مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ز داعیش ددی واړه ژوندون یو څو ورځی ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ
بیا خاص وموږ ته راتله ستاسی په قیامت کښی فَنُنَبِّئُكُمْ نو موږ به تاسی خبرکړو بِمَا
كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ په هغه عملو چه واست تاسی چه کول به مو اِنَّمَا بیشکه هم داخبره
ده مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مثال ددی واړه ژوند چه دی په ژر تیریدو او به ژر
شا کولو کښی داسی دی كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ په مثل داو بود باران دی چه رالیږلی کړی
وی موږ هغه او به مِنَ السَّمَآءِ د اسمان د طرفه څخه یعنی اوریږی فَاخْتَلَطَ بِهٖ نو
دیر ګنړوالی په سبب سره خلط او ګډ سی ددی او بو په سبب نَبَاتُ الْاَرْضِ هر زرغونه
د ځمکی مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ د هغه قسم څخه چه انسانان یې خوری لکه غلی او میری او
سبزی وَالْاَنْعَامُ ؕ او چه چارپایان یې خوری لکه د وبنو انواع او اقسام حَتّٰٓى تر هغو
پوری اِذَآ اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا چه ځمکه خپل زینت واخلی وَازَّيَّنَتْ او ډیر ښایسته
سی دا ځمکه په اقسامو د نباتاتو او په انواعو د شکلو یې او په اصنافو د رنګو یې لکه
ناوی چه په رنګا رنګ جامو او ګاڼو ښایسته سی وَظَنَّ اَهْلُهَآ او ګمان وکړی خاوندان
ددی ځمکی اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ ۙ چه بیشکه دوی قادر دی پر دی ځمکه یعنی د غلو
پر اخیستلو او د میو و پر توګو لو ددی اَتٰىهَآ اَمْرُنَا نو ناګاه دی ځمکی لره راسی زموږ فرمان
په خرابی سره ددی غلو او میوو لَيْلًا اَوْ نَهَارًا د شپی یا د ورځی فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا نو
موږ دا کښت وکرو ولکه ریبلی یا د بیخه ختلی كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ ؕ ګویا که د سره
زرغون سوی نه وه لا پرون په دی ځمکه کښی كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ همداسی په
تفصیل سره موږ بیانوو دلیلونه د خپل قدرت لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾ د هغه قوم د
دپاره چه په دی مثال کښی فکر کوی او عبرت په اخلی" تمثیل " همداسی حال دی
ددی دنیا لکه چه سړی په اول وارخ پړ زیاتید و او ختوسی نو داسړی دولت

او مبلغ پیدا کړی او واده به وکړی او اولاد به راوړی او بنګلی به واچوی او ځلګی به واخلی اوګلی اوړمی به جوړی او سازی کړی او سرته پایه به په نعمتونکښی پټ او ډوب سی اوددیره کبره څخه به خوتکیږی او خدای ته به ییخی شاکری ناګاه د اجل غشی راسی او دتخت څخه یې پرتخته پری باسی او مالونه یې وارثان سره وویشی او په تنګ قبرکښی یوازی پریوزی او دعذابو دروازی پر راخلاصی سی چه ترقیامته ددوزخ په لمبوکښی سوځی او په ګونړو به وهل کیږی او دهغه مالو به هیڅ خیر نه وررسیږی غیرد شره وَاللّٰهُ يَدۡعُوٓا او خدای خپل بندګان بولی اِلٰى دَارِ السَّلٰمِؕ وحویلی «سرای» ته دسلامتیا چه جنت دی وَيَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ او لاره برابروی وهغه چاته چه اراده یې وسی اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿۲۵﴾ وهغه سمی لاری ته چه برابره ورغلی ده ودارالسّلٰم ته چه اسلام یا سنت درسولؐ دی اما دادعوت عام دی په لښانه درسولؐ او هدایت خاص دی په توفیق د خدای پوری لِلَّذِيۡنَ مقرره ده هغه کسانوته اَحۡسَنُوا الۡحُسۡنٰى چه ښه کوی ښه جزاء ده یعنی چه ایمان راوړی پر خدای او پر رسول نو جزاء به یې جنت وی وَزِيَادَةٌ ؕ او زیاده به هم وی پر چه هغه یا دیدار یا مغفرت او رضوان یا محبت قلبی دی وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوۡهَهُمۡ او نه به پټوی مخونه ددوی قَتَرٌ تور ګرد او غبار وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ او نه خواری او رسوایی اُولٰٓئِكَ دا محسنان چه دی اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ ۚ اهل د جنت دی هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۶﴾ دوی به په دی جنت کښی همیشه وی وَالَّذِيۡنَ او هر چه هغه کسان دی كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ چه دبدیو کسب یې کړی دی لکه کفر او نفاق جَزَآءُ سَيِّئَةٍ م جزاد بدی چه ده بِمِثۡلِهَا لا په قدر د بدی ده نه زیاته وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٌ ؕ او دوی به خواری او رسوایی پټوی یعنی آثار د خواری به پوری ولاړوی مَا لَهُمۡ مِّنَ اللّٰهِ نه به وی دوی لره د خدای څخه یعنی دعذاب څخه دده مِنۡ عَاصِمٍ ۚ ساتونکی هیڅوک كَاَنَّمَآ اُغۡشِيَتۡ ګویا که پټ کړه سوی دی وُجُوۡهُهُمۡ مخان د

دوى قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ په قطعو د شپې مُظْلِمًا لږه داسې حال كښې چه تاريك
وى يعنى مخان به يې تك تورروى لكه توره شپه ددېره غمه څخه أُولَٰٓئِكَ دا
مُسيئان «بدكاران» چه دى كه كفاركه منافقان دى أَصْحَٰبُ النَّارِ اهل د دوزخ
دى هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿۲۷﴾ دوى به په دى دوزخ كښې هميشه وى وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ
جَمِيعًا او وه بيريږى د هغه ورځى څخه چه موږ به راټول ندى كړو دوى ټول
يعنى هم نيكان او هم بدان ثُمَّ نَقُولُ بيا به موږ ووايو لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا و
هغه كسانو ته چه شرك يې اختيار كړى وو مَكَانَكُمْ ځاى پر ځاى و دريږى أَنتُمْ
وَشُرَكَآؤُكُمْ تاسى او هم شريكان ستاسى چه بتان او كه غير دى نور كورى
چه نره د تاسى سره څه كوم فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ نو موږ به بيلتون «جلالى» وكړو په مابين
كښى د دى عابدانو او معبودانو نو اول به د اعابدان و پوښتو چه تاسو و لى د دوى
عبادت كاوى بيله اذن څخه نرما او دوى به ووايې چه وموږ ته هم دى معبودانو
ويلى وو چه زموږ عبادت كوى بيا به دامعبودان وپوښتو وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم او
وبه وايې شريكان د دوى مَّا كُنتُمْ چه نه واست تاسى إِيَّانَا تَعْبُدُونَ ﴿۲۸﴾ چه
نرموږ عبادت به موكاوى تاسى بلكه تاسى د ځپل هوا او نفس تابع واست هرڅه
چه هغه درته ويل تاسى به هم هغه كول فَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًۢا نو بس دى خداى شاهد
بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ په مابين كښى نرموږ او ستاسى إِن كُنَّا بيشكه چه موږ وو عَنْ
عِبَادَتِكُمْ د عبادت نه څخه ستاسى لَغَٰفِلِينَ ﴿۲۹﴾ خامخا بې خبره ځكه چه موږ نه سترگى
درلودى او نه غوږونه او نه عقل هُنَالِكَ تَبْلُوا په دغه ځاى كښى به بيا پيدا
كړى او وبه ځكى كُلُّ نَفْسٍ هر يو شخص مَّآ أَسْلَفَتْ جزا د هغه عمل چه ده پخوا
ليږلى وى كه نيك وى او كه بد وى وَرُدُّوٓا إِلَى اللَّهِ او بيرته به دوى بوتلل سى و
خداى ته او مخامخ به پر موقف د عرض ودرول سى په قيامت كښى د پاره د جزا د
عمل ځپل مَوْلَىٰهُمُ الْحَقِّ هغه چه بادار او واكدار د دوى دى په واقعه كښى

نه هغه بتان چه دوی پـه درواغو سره خدایان کړی وو وَضَلَّ عَنۡهُمۡ او ورك به شی
ع ۳ النصف ددوی څخه مَّا كَانُوۡا هغه شی چه دوی وه يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۳۰﴾ چه د رواغ به یې ویل
د شفاعت کولو د بتانو قُلۡ مَنۡ يَّرۡزُقُكُمۡ ته ووی ته و وایه چه هغه څوك دی
چه تاسی ته روزی درکوی مِّنَ السَّمَآءِ د اسمانه څخه چه باران راوروی وَ
الۡاَرۡضِ او د مځکی څخه چه دانه اووابنه راشنه کوی اَمَّنۡ يَّمۡلِكُ السَّمۡعَ یا هغه
څوك دی چه قادر وی پر پیدا کولو د غوږ واو بیا یې پرخپل حد ودراوی او بیا یې د آفاتو
څخه وساتی وَالۡاَبۡصَارَ او همداسی سترګی هم وَمَنۡ يُّخۡرِجُ الۡحَیَّ او هغه څوك دی
چه راباسی ژوندی لکه بچے او حیوان او کبنت او مؤمن او عالم مِنَ الۡمَيِّتِ د مړی
څخه لکه هګی او نطفه او دانه او کافر او جاهل وَيُخۡرِجُ الۡمَيِّتَ او راباسی مړی
مِنَ الۡحَیِّ د ژوندی څخه لکه داوروستی پنځه چه بیا یې راوباسی د هغه لومړیو پنځو
څخه وَمَنۡ يُّدَبِّرُ الۡاَمۡرَ او هغه څوك دی چه په سامان سره د تمام عالم کارونه کوی
فَسَيَقُوۡلُوۡنَ اللّٰهُ نو ژر دی چه دوی به و وایې چه هغه خدای دی چه دا کارونه
کوی او انکار به نه سی کولای ځکه چه د ډیره وضوحه به انکار نه سی کولای فَقُلۡ
نو ته ورته و وایه وروسته تر دی اقراره چه اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۳۱﴾ ایا نو تاسی نه بیریږی
د عذابه څخه دداسے خدای یعنی وه بیریږی او بتان مه ورسره شریکوی فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ
نو دا موصوف په دی صفاتو　مذکوره سره چه دی هغه خدای دی رَبُّكُمُ الۡحَقُّ چه
ستاسی رب دی لایق د عبادت دی په حق سره چه هیڅ شك پکښی نشته فَمَاذَا
بَعۡدَ الۡحَقِّ نو څه شی دی وروسته تر دی حق چه عبادت د خدای دی یعنی هیڅ شی
نشته اِلَّا الضَّلٰلُ مګر ګمراهی فَاَنّٰی تُصۡرَفُوۡنَ ﴿۳۲﴾ نو تاسی وکوم طرفته ګرزول کیږی
د حق څخه و باطل ته او د توحید څخه و شرك ته كَذٰلِكَ همداسی لکه چه ربوبیت لایق
دی و خدای ته حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لایق سو حکم د رب ستاسی یعنی لازم سو عذاب
دده عَلَى الَّذِيۡنَ فَسَقُوۡۤا پر هغو کسانو چه سنځ او پټ دی په کفر کښی اَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۳۳﴾

چه بیشکه دوی ایمان نه راوړی قُلْ ته ودوی ته ووایه هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ ایا سته
ددی شریکانوستاسی څخه چه دخدای سره یې شریکوی یعنی بتان مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ
هغه څوك چه داخلك په اول کښی پیداکوی ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ بیا وروسته ترمرګ یې
ژوندی کولای شي اوهرکله چه بعض کفارواعاده نه منله نوځکه رسولٌ ماموړ
سو دهغو طرفه چه قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ته ورته ووایه چه خدای پیداکوی
داخلك په اول کښی ثُمَّ يُعِيْدُهٗ بیا پس دمرګه به یې بیرته راژوندی کوی فَاَنّٰى
تُؤْفَكُوْنَ ﴿۳۴﴾ نو تاسې وکوم طرف ته اړول کیږی دسمی لاری څخه وچپی ته قُلْ بیا
ته ورته ووایه چه هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ ایا سته ددی شریکانوستاسی څخه مَّنْ
يَّهْدِيْٓ هغه څوك چه وخلکو ته لاره ورښیي په لیږلو سره درسولانو اودکتابو
اِلَى الْحَقِّ ؕ وجانب ته دحق چه دین داسلام دی قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ بیاهم ته ورته
ووایه چه خدای لاره ښیي وخلکو ته لِلْحَقِّ ؕ وطرفته دحق روایت دی چه هرکله
عادت دبُت پرستانو داوو چه کله به دیوه ځای څخه وبل ځای ته تلل نودابتان
به یې پر بارګیرو نزل لکه ګړکی او دځان سره به یې یوړه نوځکه رب العزت وایي
اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ ایا نو هغه څوك چه وبل ته لاروروښیي اِلَى الْحَقِّ دحق وجانب ته
اَحَقُّ اَنْ يُّتَّبَعَ دیرلائق دی ددی چه متابعت یې وکړل سی اَمَّنْ اوکه هغه څوك
دیرلائق دی لَّا يَهِدِّيْٓ چه پخپله هم لاره نه سی پیداکولای اودا په اصل کښی یهتدی
وو بیا ت دال سوه اودال په دال کښی مدغم سو اوه مکسوره سوه دپاره دالتقاء
دساکنینو نو يَهِدِّيْ سو اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ مګرچه بوتلل سی یعنی بل یې بوسی لکه
بتان فَمَا لَكُمْ ۟ نو څه کوم باعث دی پرتاسی سره ددومره عقله كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۵﴾
چه داڅرنګه حکم کوی چه محتاج الیه دخپل محتاج سره برابروی وَمَا يَتَّبِعُ او
متابعت نه کوی اَكْثَرُهُمْ زیات ددوی یعنی مشرکان یې اِلَّا ظَنًّا ؕ مګر دفاسدګان
اودخپل باطل خیال چه هغه دخپلو اباآو پیروی ده اِنَّ الظَّنَّ بیشکه ګمان چه دی

عه یعنے دبیرته ژوندی کیدو څخه منکروه ۱۲

لَا یُغْنِیْ نه بے پروا کوی هیڅوك مِنَ الْحَقِّ شَیْئًا ؕ د حقه څخه یعنی د علمه او د صاف
اعتقاده څخه هیڅ یعنی دا ګمان د مشرکانو چه دا بتان زمونږ شفاعتګر دی هیڅ نفع به
ورکوی ته ونه رسوی په دفع کولو د عذاب کښی اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌۢ بیشکه چه خدای دانا
دی بِمَا یَفْعَلُوْنَ ﴿۳۶﴾ پر هغه کار چه دوی یې کوی چه هغه تعظیم د بتانو دی او تحقیر
د رسولانو دی وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ او نه دی دا قرآن سره د داسی فصاحته
او بلاغته او اعجازه اَنْ یُّفْتَرٰی چه په دروغو جوړ کړه سی او بل څوك یې ووایي
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدایه یعنی داسی نه بنایي چه دا دی کلام د بشروی وَلٰكِنْ
تَصْدِیْقَ الَّذِیْ لیکن مصدق دی د هر هغه کتاب بَیْنَ یَدَیْهِ چه تیر سوی دی په
مخکښی دده او په صدق یې هر څوك قائل دی چه توراة او انجیل او زبور دی
او ددوی سره په اصولو د دین کښی مطابق دی نو ډیر تعجب دی چه هغه حق سو او دی
نه سو وَتَفْصِیْلَ الْكِتٰبِ او مفصل بیانونکی دی د هر هغه شي چه لیکلی سوی دی پر
تاسي دا او امرو او نواهیو څخه لَا رَیْبَ فِیْهِ نسته هیڅ شك په ده کښی ځکه چه راغلی
دی مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۳۷﴾ د پروردګاره څخه د تمامو عالمیانو خو کفار دا خبره نه منی
اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ بلکه دوی وایي چه دا کلام محمد صلی اللہ علیہ وسلم د ځانه جوړ کړیدی قُلْ
فَاْتُوْا نو ته ورودوی ته ووایه چه تاسی یې هم راوړی بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ یوا دنی سورة
د دی قرآن په شان په فصاحت کښی او بلاغت کښی که داسی بلیغ او فصیح کلام هر
څوك د ځانه جوړ ولای سی ځکه چه تاسی هم زما په شان عرب یاست بلکه ما
عربي د تاسي څخه زده کړی ده او که تاسی یوازی دا معارضه نه سی تر سره کولای نو
د نورو خلګو څخه مدد وغواړی وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ او راوبولی هر هغه څوك
چه ستاسی د لاسه کیږی و دی معارضی ته د معاونت د پاره مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د
خدایه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۳۸﴾ که تاسی رشتینی یاست په دی کښی چه دا کلام دی د
ځانه وایي او دوی بیا یو سورة هم راوړلای نه سو بَلْ كَذَّبُوْا بلکه دوی تکذیب

وکړی د دی قرآن دفعةً مخکښی تر تدبره او تفکره دده په معانیو کښی بِمَا لَمْ يُحِيطُوا
پر هغه قرآن چه د دوی افکارو لا احاطه نه وه کړی بِعِلْمِهٖ پر علم او کنه د هغه
وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهٗ ؕ او حال دا چه لا نه وه راغلی د سره دوی ته یعنی معنیٰ او
حقیقت د دی قرآن لا نه وه سربیره کَذٰلِكَ هداسی لکه ستا د زمانی کفار چه
تکذیب کوی كَذَّبَ الَّذِينَ تکذیب کړی وو دخپلوا نبیاؤ هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه
پخوا تر دوی وه فَانْظُرْ نو ته وګوره كَيْفَ كَانَ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الظّٰلِمِينَ ﴿۳۹﴾ اخره
خاتمه د ظالمانو وَمِنْهُمْ او بعض د دی مکذبانو څخه عه مَنْ يُؤْمِنُ بِهٖ هغه څوک
دی چه باور لري پر دی قرآن چه د خدای څخه حق راغلی دی مګر پټ په زړه کښی
او اظهار یې د ډیره عناده څخه نه کوی وَمِنْهُمْ او بعض نور د دوی څخه مَنْ لَّا
يُؤْمِنُ بِهٖ ؕ هغه څوک دی چه ایمان نه راوړی او باور نه پر لري د ډیره جهله او
ناپوهی څخه وَرَبُّكَ اَعْلَمُ او رب ستا ښه دانا دی بِالْمُفْسِدِينَ ﴿۴۰﴾ په حال د مفسدانو ع ۴ ۱۰ ۹
یا معنیٰ د دی آیت دا ده چه بعض ستا د قوم څخه به پر دی قرآن ایمان راوړی و روسته
تر دی او بعض به ایمان نه راوړی او پر کفر به مره سی وَاِنْ كَذَّبُوكَ او که دوی
ستا تکذیب وکړی او ته یې د ایمان راوړو څخه نا امیده سوی فَقُلْ لِّیْ عَمَلِیْ نو ته
ودوی ته ووایه چه ما لوه زما د عمل جزا ده وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۚ او تاسی لره جزا د
عمل ستاسی ده اَنْتُمْ بَرِيْٓـــُٔوْنَ تاسی بیزاره یاست مِمَّآ اَعْمَلُ د هغه کاره څخه
چه زه یې کوم وَاَنَا بَرِيْٓءٌ او زه هم بیزاره یم مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ د هغو کارو
څخه چه تاسی یې کوی یعنی یو د بل په عمل به نه نیول کیږی او څوک وایی چه دا
آیت په آیت د سیف سره منسوخ دی وَمِنْهُمْ مَّنْ او بعض د دی کفارو څخه هغه
کسان دی يَّسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ ؕ چه غوږ ونه نیسی و تا ته په هغه وخت کښی چه ته قرآن
لولی ”وایی“ او ویوچا ته تعلیم د شرائعو کوی محض د پاره د مسخرو او د زړه غوږ و نه یې

عه یعنی دوی به هم د هغوی په شان په عذاب کړه سی په دی آیت کښی تسلی ورکول دی پیغمبر لره او ویرول
دی کافر لره ۱۲ عه یعنی د ردواغ و یونکی د محمد او د قرآن ۱۲

یعنی کاڼه دی دا وریدو څخه دحق اَفَاَنۡتَ ایا نو ته تُسۡمِعُ الصُّمَّ اوریدل کوی و
مادرزاده کاڼه ته یعنی نه یې سی کولای وَلَوۡ كَانُوۡا او اګرکه دوی وی لَا یَعۡقِلُوۡنَ ﴿۴۲﴾
داسی چه عقل نه لری هیڅ قدر یعنی اګرکه سمعه یې نه وی اما عقل یې وی نو
استدلال به یې په زړګی سره کاوی او چه دواړه یې مفقود سوه نو بیخی داسے
سولکه دیوال وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ او بعض ددوی څخه هغه څوك دی یَّنۡظُرُ اِلَیۡكَ ؕ چه
وتا ته دسر په سترګو ګوري او نبی «علای» دنبوت او دلائل دصدق دړکښی
ویني مګر دډیره عناده څخه نه په قائلیږی ځکه چه دزړه سترګی یې بیخی ړندی
دی اَفَاَنۡتَ ایا نو ته تَهۡدِی الۡعُمۡیَ لاره ورښیې ومادرزاده ړانده ته یعنی نه
یې سی ښودلای وَلَوۡ كَانُوۡا اګرکه دوی وی لَا یُبۡصِرُوۡنَ ﴿۴۳﴾ داسی چه دزړه دیدهم
نه لری یعنی که څه هم بصر یې نه وی او بصیرت یې وای نو دزړه په فکر سره به یې
ادراك کولای او چه دواړه یې نه وه نو بیخی داسے سولکه خر اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه
خدای لَا یَظۡلِمُ النَّاسَ شَیۡـًٔا ظلم نه کوی پرخلګو هیڅ قدر په ورکولو دعقلو او
حواسو ددوی سره وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اولیکن خلق چه دی اَنۡفُسَهُمۡ یَظۡلِمُوۡنَ ﴿۴۴﴾
پرخپلو ځانو ظلم کوی چه اسباب دادراك دا ښنود قدرت چه هغه عقل او حس
دی هغه بے ځایه په ملاهیو کښی مستعملوی وَیَوۡمَ یَحۡشُرُهُمۡ او یادکړه هغه ورځ
چه راجمع به کړی داکفار او داعمر ددنیا او دقبر به ورته دډیره هیبته څخه تر هغې
ورځې ډیرکوتاه او لږ ښکاره سی لکه چه وای كَاَنۡ لَّمۡ یَلۡبَثُوۡۤا ګویا که دوی مدارنه
وو کړی په دنیا او په قبرکښی اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ مګر په قدر دیوه ساعت
دورځې یَتَعَارَفُوۡنَ بَیۡنَهُمۡ ؕ په داسی حال کښی چه دوی به په خپل مینځ کښی او
بل سره پیژنی اما دا معرفت به په وخت کی دخروج دقبرو څخه وی او بیا چه د
هول څخه دقیامت سختی پر ډیره سی نو دا تعارف به یې سره ورك سی قَدۡ خَسِرَ
الَّذِیۡنَ په تحقیق سره زیانکاران دی هغه کسان كَذَّبُوۡا بِلِقَآءِ اللّٰهِ چه نه منی

ملاقات د خدای یعنی د حشره او حساب نه ځکه منکر دی وَمَا كَانُوْا او دوی نه دی
مُهْتَدِيْنَ ﴿۴۵﴾ لاره موندونکی وَ اِمَّا نُرِيَنَّكَ او که خامخا مونږ در وښیو تا ته
بَعْضَ الَّذِیْ نَعِدُهُمْ بعض د هغه عذاب ځکه چه مونږ یې د دوی سره وعده کوو
یعنی ستا په ژوندکښی به عذاب پر راولو لکه په ورځ د بدر خو ښها اَوْنَتَوَفَّيَنَّكَ
یا خامخا تا وفات کړو مخکی تر عذاب ښودلو فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ نو خاص ومونږ ته
بیا راتله د دوی دی نو هلته به د دوی عذاب در ته وښیو ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ نو بیا خدای
شاهد دی وروسته تر عذاب ښوولو و تا ته یا وروسته تر وفات ستا عَلٰى مَا
يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۶﴾ پر هغو کار و چه دوی یې کوی نو جزا د عمل به ورلره ورکړی وَلِكُلِّ اُمَّةٍ
رَّسُوْلٌ ج او د هر امت لپاره د تیرو امتو ځکه به یو استاذی وو د خدای د طرفه چه
دوی به یې دین حق ته رابلل او په توحید به یې خبرول فَاِذَا جَآءَ رَسُوْلُهُمْ نو په هغه
وخت کښې چه و دوی ته به د دوی استاذی راغلی او دوی به و نه مانی قُضِىَ بَيْنَهُمْ
بِالْقِسْطِ نو حکم به وکړه سو په مابین کښی د دوی په عدل سره چه مکذبان به هلاك
سوه او رسول به د مؤمنانو سره په امان پاته سو وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾ او حال دا
چه دوی چه دی ظلم به پرونه کړه سی یعنی چه د رسول ثواب کم سی او پر مکذبانو تر
خپل استحقاق تیری وسی روایت دی چه هر کله کفارو د مکی ایت د اِمَّا نُرِيَنَّكَ وا
وریدی نو دوی وویل چه دا عذاب به کله وی چه دی همیشه مونږ په بیروی نو هغه
جلت راغلے چه مونږ ولیدی نو نازل سو وَيَقُوْلُوْنَ او دوی وایی پر طریقه د استبعاد
او د مسخره سره مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ چه کله به وی دا وعده د عذاب د راتلو او ولی نه راځی
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ که تاسی رشتینی یاست په دی کښی چه عذاب به راشی قُلْ
لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِىْ ته ورته ووایه چه زه د خپل ځان د پاره اختیار نه لرم ضَرًّا وَّ
لَا نَفْعًا نه د زیان او نه د ګټی نو هر کله چه د ځان واك هم نه لرم نو ستاسی په عذاب
کښی به څرنګه تلوار وکړای سم اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ط مګر د هغه شی چه د خدای اراده

وسی لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ؕ دهری طائفی د هلاك دپاره یو وخت مقرر دی اِذَا جَآءَ
اَجَلُهُمْ نو په هغه وخت کښی چه ددوی د عذاب وخت راغی فَلَا یَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً
نو دوی به نه وروسته کیږی تر هغه وخت خپل یو ساعت هم وَّلَا یَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ او نه به ځنی
مخته کیږی قُلْ اَرَءَیْتُمْ ووایه ته ورته چه آیا تاسی وینی نو ماهم خبر کړی اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ
چه که تاسی ته دده عذاب راسی چه تاسی یې په تلوار غواړی بَیَاتًا اَوْ نَهَارًا د شپی چه خوارږه
خوب بیده سی یا د ورځی چه پخپلو کار وسره مشغول یاست نو ډیر به پښیمانه سی په دی
ښه غوښتلو سره او هر کله چه حال داسی دی نو مَّاذَا یَسْتَعْجِلُ هغه کوم قسم عذاب دی
چه ... یې په تلوار غواړی مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۰﴾ د هغه عذابه ځنی یعنی هغه عذاب دا مجرمان
یعنی مشرکان او سره ددی چه غذابونه تول له سخت دی روایت دی چه هر کله دا آیت را
نازل سو نو کفار وویل چه مونږ په دی عذاب باور نه لرو او ژر یې غواړو د پاره د
مغایتی او بیا چه راغلی نو ایمان به راوړو نو نازل سو اَثُمَّ آیا نو وروسته تر ژر غوښتلو
ستاسی اِذَا مَا وَقَعَ په هغه وخت کښی چه عذاب راغی او تاسی ولیدی اٰمَنْتُمْ بِهٖ د نو ایمان
به راوړی او په دی عذاب به باور وکړی نو بیا به درته وویل سی آٰلْـٰٔنَ چه آیا تاسی وس
ایمان راوړی د عذاب تر نازلیدو وروسته وَقَدْ كُنْتُمْ او حال دا چه په تحقیق سره
تاسی واست بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ په دی عذاب سره یعنی په نازلیدو دده سره تاسی تلوار
کاوی په سبب سره د تکذیب او د مسخرو ثُمَّ قِیْلَ بیا به وویل سی لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا او هغه
کسانو ته چه پر خپلو ځانو یې ظلم کړی دی په شرك او په تکذیب سره ځکه چه د یاس
«ناامیده» ایمان قبول نه دی ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ ۚ چه وڅکی او وچښی هغه عذاب
چه دائم دی هَلْ تُجْزَوْنَ آیا جزا به درکول کیږی و تاسی ته یعنی نه به درکول کیږی
اِلَّا بِمَا مگر په سبب د هغه شرك او تکذیب سره كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۵۲﴾ چه تاسی واست
چه تمام عمر به موکول روایت دی چه هر کله یو یهودی د مدینی چه حُیَی ابن اخطب
نومیدی هغه پخوا «مکی» تر هجرت مکی ته راغلی وو په سوداگری پسی او هلته یې د رسول

'اوازه واوریده نوور لره راغلی نوور ته وېي ویل چه اے محمدؐ! ته چه دا دعوی کوی رشتیا وایې اوکه مسخری کوی او دا کلام چه ته یې لولې"وایې" واقعی وحی دی اوکه یې ته دځانه څخه جوړوی نو نازل سو وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ اوکه دوی د تاڅخه پوښتنه کوی اَحَقٌّ هُوَ چه آیا دا قرآن او دا دعوی د نبوت رشتیا دی اوکه هسے مسخری دی قُلْ اِيْ وَرَبِّيْٓ نو ته ورته ووایه چه هو زما دی پخپل رب سره قسم وی چه رشتیا دی او بل داچه اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؔ بیشکه چه دا قرآن یا دعوت یا عذاب چه موعود دی هغه خامخا په حق سره راتلونکی دی وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۳﴾ او تاسی نه یاست عاجزه کونکی دخدای د عذاب رالیږلو څخه وَلَوْ اَنَّ اوکه بیشکه چیری مملوك سی لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ د هرهغه شخص چه ظلم یې کړی دی پرخپل ځان په کفر او په شرك سره مَا فِي الْاَرْضِ هغه قوله مال او متاع چه په ځمکه کښی دی د شرق څخه ترغربه او د شمال څخه ترجنوبه او دی د عذاب څخه په خلاصیدای سی لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ نو خامخا به دا قوله مبلغ او مال په فدیه کښی ورکړی او ځان به په خلاص کړی د عذابه څخه وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ او پټکاره به کړی دوی پښیمانی یا به یې پټه کړی او دا ځکه چه دا لفظ د اسرّوا د اضدادو څخه دی نو اطلاق یې پردواړو درست "صحیح" دی لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ په هغه وخت کښی چه دوی عذاب ووینی وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ او حکم به وکړه سی په مابین کښی د دوی په عدل او په انصاف سره یعنی د ظالمانو او د مظلومانو یا د کافرانو او د مؤمنانو وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۵۴﴾ او حال داچه دوی چه دی هیڅ ظلم به پرونه کړه سی د عقاب په زیاتولو سره یا د ثواب په کمولو سره اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ واوری چه بیشکه خاص خدای لره دی پر طریقه د مملوکیت سره مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هرهغه چه په اسمانو کښی دی او په ځمکه کښی دی نو دی به څرنگه د چا څخه فدیه قبلوی چه دی غنی او بے پرواه دی د فدیې څخه د هرچا خصوصًا د کفارو او قادر دی پر ثواب او پر عقاب لکه چه وایې اَلَآ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ واوری چه بیشکه "دخدای وعده رشتیا ده په ثواب او په عقاب کښی و

لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ او زیات د دی کفار و چه دی لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ نه پوهیږی هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ دی ژوندی کول او وژل کوی او بل هیڅوك یې نه سی کولای وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۶﴾ او بیا هم وده ته بیرته بیول کیږی په قیامت د حساب او د جزا د پاره يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اے خلکو قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ په تحقیق سره راغلے دی تاسی ته پند مِّنْ رَّبِّكُمْ د جانبه د رب ستاسے وَشِفَآءٌ لِّمَا او شفا او دوا ده د پاره د هغو تولو امراضو فِي الصُّدُوْرِ لا چه د خلکو په زړو کښې دی لکه جهل او گمراهي او شك او نوری فاسدی عقیدے وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ او رهنمائی او مهربانی ده د خدای لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ د پاره د مؤمنانو یعنے دا قران راغلی دے د خدایه او جامع دی د تولو فوائدو چه هم پند دی او هم رڼاکښونکی دی د خلکو و توحید ته او امردی په هرخیر او مانع دی د هره شر قُلْ و وایه ته و دی مؤمنانو ته چه خوشحاله اوسی بِفَضْلِ اللّٰهِ په هغه فضل د خدای سره چه پر تاسی دی چه هغه قران یا معرفت یا خلود یا دیدار دی وَبِرَحْمَتِهٖ او په مهربانی دده سره چه پر تاسی ده چه هغه رسول یا توفیق یا عصمت یا نجات دی دا ورځ ځمه فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ط نو په دی رالیږل سوی دی میباید چه دوی خوشحاله سی ځکه چه هُوَ خَيْرٌ دا مذکور ډیر غوره دی مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾ د هغه اموالو فانیو ځمه چه دوی یې جمع کوی ځکه چه دی مال د دنیا ته هیڅ بقا نسته قُلْ ته و وایه و دے مشرکانو د عربو ته اَرَءَيْتُمْ ایا تاسے گوری مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ و هغه شی ته چه خدای و تاسی ته رالیږلی دی مِّنْ رِّزْقٍ د روزی ځمه لکه انواع د غلو او د چارپایانو فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ نو تاسی کړی دی بعض د هغه رزقه ځمه حَرَامًا وَّحَلٰلًا ط ځنی حرام او ځنی حلال لکه په سورة انعام کښې چه تیر سوه قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ ته ورته و وایه چه ایا خدای اذن کړی دی دده تحریم او تحلیل و تاسی ته اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۹﴾ او که پر خدای دروغ تړی چه دا وایاست چه ده اذن کړی دی وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ او څه گمان دی د هغو کسانو —

يَفْتَرُوْنَ چه دځانه تړي عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پرخدای باندې دروغ په دې تحریم د
حلالو او په تحلیل د حراموکښې يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط په ورځ د قیامت چه دې به څه ورسره
وکړي اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ خاوند د فضل دی پرخلګو په رالیږلو د رسولانو او دکتابو ووی ته وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ
اولیکن زیات ددوی چه دی لَا يَشْكُرُوْنَ ۝ شکر نه کاږي پر دې نعمت وَمَا
تَكُوْنُ اوته نه اوسی مشغول فِيْ شَاْنٍ په کوم کارکښې د خپلو کارو څخه وَّمَا تَتْلُوْا
مِنْهُ او ته نه ولولې «نه وایې» نه هیڅ ایت یا سورت ددی رالیږل سوی څخه دخدای
یعنې مِنْ قُرْاٰنٍ د قران څخه وَّلَا تَعْمَلُوْنَ او تاسی نه کوی اے انسانانو مِنْ عَمَلٍ
کوم کار د کارو څخه اِلَّا كُنَّا مګرمو بو عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا پرتاسی شاهدان نګهبانان
اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ط په هغه وخت کښې چه تاسی غوته وهی او اشتغال کوی په هغه
کارکښې وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ او نه لیری کیږی او نه پناه کیږی د عمل څخه د پروردګار
ستا مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ په قدر د ډیروا ړه میږی یا د پوځ د ګرد فِي الْاَرْضِ نه په
ځمکه کښې وَلَا فِي السَّمَآءِ او نه په اسمان کښې وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ او نه ډیر وړوکی
تردی ذرے وَلَآ اَكْبَرَ او نه ډیر غټ تردی اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝ مګر دا تول لیکلی
پراته دی په کتاب واضح کښې چه لوح محفوظ دی اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ واوری چه
بیشکه دوستان د خدای چه دی لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ نسته هیڅ بیره پردوی د رسیدو
څخه د کوم مکروه وددوی ته وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ او نه به دوی خفه کیږی د فوت څخه
د کوم مامول فائده : دا اولیاء هغه طائفه ده چه د ښمنان د خپل نفس دی
یا چه دوی ولیدل سی نو خدای یادسی یا چه ظاهریې پرشرع اراسته وی
او باطن یې په نور د معرفت منور وی یا چه یو د بل سره فِي اللّٰهِ دوستی لری
یا چه مؤمنان پرهیزګاران وی لکه چه خپله وایی اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا یعنې هغه
خلک دی دا اولیاء چه ایمان یې راوړی دی پر هغه چه د خدای څخه راغلی دی

وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾ او دوی دی چه ځان ساتی د شرك او د معاصیو څخه لَهُمُ
الْبُشْرٰى دوی لره زیری دی پراقسامو فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا هم په دی واړه ژوند
کښی په قرآن په لسانه د رسول ﷺ په رؤیای صالحه په مکاشفاتو په لسانه د ملائکو
په وخت کښی د مرګ وَفِي الْاٰخِرَةِ ط او په آخرت کښی چه ملائکی به ورته راځی
او سلام پراچوی او وایی او د فوز او د کرامة مبارکی به ورکوی لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ
اللّٰهِ ط نشته هیڅ بدلول کلماتو د خدای لره یعنی هیڅ خلاف نشته په وعده کښی
دده ذٰلِكَ دا زیری د دواړو جهانو چه دی هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۴﴾ دا بری دی
لوی ترادراك پورته وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ م او تا دی نه ملا له کوی اے رسوله
د ګفتار د دوی چه ما ته شریکان وایی او ستا تکذیب کوی او مصلحتونه د قتل
دی کوی اِنَّ الْعِزَّةَ ځکه چه بیشکه غلبه چه ده لِلّٰهِ جَمِيْعًا ط خدای لره ده ټوله
نو د تا سره به مددګاری وکړی او دین به غالبه کړی هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶۵﴾ دی
اوریدونکی دی د اقوالو د دوی او دانا دی پر احوالو د دوی اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ واوره
چه بیشکه خدای لره دی مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ هر هغه څوك چه په اسمانو کښی دی
لکه ملائکی وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ط او هر هغه څوك چه په ځمکه کښی دی لکه جن و انس
روایت دی چه هر کله دا درے سره طائفی چه هم اشراف دی د ممکناتو او هم
ذوی العقول دی او سره د دی چه هیڅوك د دی لائق د ربوبیت او د شرك نه
لری دده سره ځکه چه دوی ټول مخلوق او مملوك دی دده نو هغه بتان چه
بیعقله بے ادراکه دی هغه کله لائق دی د ربوبیت او د شرك وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ
او پیروی نه کوی هغه کسان يَدْعُوْنَ چه بولی او عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
شُرَكَآءَ ط غیر د خدایه د شریکانو پخپل ګمان نه په واقعه کښی بلکه اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ
دوی متابعت نه کوی په عبادت د دی شریکانو اِلَّا الظَّنَّ مګر د ګمان خپل چه
دا بتان یی د خدای سره شریکان مقرر کړی دی وَاِنْ هُمْ او نه دی دوی اِلَّا

وقف لازم

يَخْرُصُوْنَ ﴿۶۶﴾ مګر د رواغ واېي په دې نسبت د شرکت کښې هُوَ الَّذِيْ دی هغه
پروردګار دی جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ چه پیدا اکړی ده ده وتاسی ته شپه لِتَسْكُنُوْا
فِيْهِ د پاره د دې چه پرارامه سی تاسي په دې کښې او فارغ سی له مشقته د کارو
او ستوماني څخه و باسی په خوب سره وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ط او ده پیدا اکړی ده ورځ
روښانه چه څخه کارونه او معاشونه پکښې کوی اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه په دې پیدا
کولو د شپې او د ورځې او د ظلمت او د نور کښې لَاٰيٰتٍ خامخا ډېر دلیلونه دي پر توحید
او پر حکمت د صانع لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۷﴾ د پاره د هغه تولی چه د اقرآن د زړه په
غوږ و سره اوری قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وایې یوه طائفه د بنی مدلجو چه نیولی دی
خدای وَلَدًا زوی یعنی ملائکې یې په زوی نیولی دي سُبْحٰنَهٗ ط پاك دی دی د نیولو
د زوی څخه هُوَ الْغَنِيُّ ط دے بے پرواه دی چه هیچا ته په هیڅ وخت کښې د هیڅ شي
قدر احتیاج نه لری او ولد نیول د احتیاج څخه کیږی لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ خاص
ده لره دی هر هغه چه په اسمانو کښې دی وَمَا فِي الْاَرْضِ ط او هر هغه چه په زمکه کښې
دی په طریقه د مملوکیت سره نه په طریقه د فرزند سره اِنْ عِنْدَكُمْ نشته د تاسی سره
مِّنْ سُلْطٰنٍ بِهٰذَا ط هیڅ دلیل او حجت پر دی چه خدای زوی نیولی دے اَتَقُوْلُوْنَ
عَلَى اللّٰهِ ایا تاسی وایاست پر خدای باندی په دروغو سره مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ هغه
خبری چه تاسی نه پوهیږی قُلْ اِنَّ الَّذِيْنَ ته ورته ووایه چه بیشکه هغه کسان
يَفْتَرُوْنَ چه د ځانه تړی عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پر خدای دروغ چه نسبت د ولد او د
شریك ورته کوی لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿۶۹﴾ خلاص به نه سی د دوږخه څخه او جنت به په
سترګو و نه وینی مَتَاعٌ فِي الدُّنْيَا دوی لره پنځه ورځې معاش دی په دې دنیا
کښې ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ بیا خاص و موږ ته بېرته راتله د دوی دی وروسته تر
مرګه ثُمَّ نُذِيْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيْدَ بیا به موږ په دوی سخت عذاب وڅکوو بِمَا
كَانُوْا په سبب د دې سره چه دوی وه يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۰﴾ چه نه به یې منلو قرآن او هم ع ۷ ۱۰ ۱۲

رسول وَاتۡلُ عَلَيۡهِمۡ او ولوله و دی خپل قوم ته نَبَاَ نُوۡحٍ مرقصه د نوح؏ اِذۡ قَالَ
لِقَوۡمِهٖ هغه چه دی نوح؏ وویل و هغه مشرکانو ته د خپل قوم يٰقَوۡمِ اے زما قومه
اِنۡ كَانَ که چیری وی دا سے کار كَبُرَ عَلَيۡكُمۡ چه دیرلوی او سخت سوی دی پرتاسے
مَّقَامِىۡ زما اقامت په تاسی کښې ډیره موده او داځکه چه نه نیم سوه کاله یې و دوی ته دعوت
کړی وو او د دوی څخه یې ډیری جفاوی او سختی لیدلی وی وَتَذۡكِيۡرِىۡ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ او
هغه زما پند چه و تاسی ته یې درکوم په ښکاره ښنو د خدای پر وحدانیت دده او زما
پر تصدیق او بے موجبه می ازاروی فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلۡتُ نو ما خاص پر خدای توکل کړی
دی په دفعه کښې د شر ستاسی فَاَجۡمِعُوۡۤا اَمۡرَكُمۡ نو راغونډ او محکم کړی کار خپل او را
کرداو جمع کړی مشرکان خپل وَشُرَكَآءَكُمۡ او هغه شریکان خپل چه تاسی د خدای سره
مقرر کړی او شریک کړی دی یعنی خپل تول قوت سره راغونډ «یوځای» کړی ثُمَّ لَا يَكُنۡ
اَمۡرُكُمۡ بیا دی نه وی دا کار ستاسے زما په باب کښې عَلَيۡكُمۡ غُمَّةً پر تاسی پټ یعنی تول په
ښکاره ملا راپسی و تړی ثُمَّ اقۡضُوۡۤا اِلَىَّ بیا و ما ته هر قسم ضرر راورسوی چه ستاسے
زړه غواړی وَلَا تُنۡظِرُوۡنِ ﴿۷۱﴾ او و ما ته هیڅ قدر مهلت مه کوی فَاِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ نو
که تاسے زما و دی پند او نصیحت ته شا کړه فَمَا سَاَلۡتُكُمۡ نو ما د تاسے څخه نه دی غوښتے
د دی پیغام په رسولو سره مِّنۡ اَجۡرٍ هیڅ قدر مزدوری چه هغه به ستاسے په دی اعراض[عه]
د ما څخه پاته سی اِنۡ اَجۡرِىَ نه دی زما اجر ستاسے د دی بلنی اِلَّا عَلَى اللّٰهِ لا مگر پر
خدای دی وَاُمِرۡتُ اَنۡ اَكُوۡنَ او زه مامور سوی یم په دی سره چه زه او سم مِنَ
الۡمُسۡلِمِيۡنَ ﴿۷۲﴾ د تولی څخه د گردن نهادګانو[عه] و امر ته د خدای فَكَذَّبُوۡهُ نو دوی دده تکذیب
وکړی او پر خپل فکر لا پسی کلک سو نو د الزامه د حجت وروسته موږ طوفان پر
راوستی فَنَجَّيۡنٰهُ نو موږ دی د غرق څخه وساتے وَمَنۡ مَّعَهٗ او هغه څوک چه دده
سره وه فِى الۡفُلۡكِ په کښتی کښې چه انیا یا اته تنه وه وَجَعَلۡنٰهُمۡ خَلٰٓئِفَ او موږ
کړه دا د کښتی خلک خلیفګان د هغه غرق شوو خلګو څخه پر مځ د ځمکی وَاَغۡرَقۡنَا الَّذِيۡنَ

عه یعنے په دی مخ گرزولو ستاسی د ما څخه ۱۲ عه غاړه ایښوونکو ۱۲.

او موږ غرق کړه په طوفان سره هغه کسان كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ چه نه موږ د ښو تکذیب یې
کاوی په معجزو سره چه موږ نوحؑ ته ورکړی وی فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ نو وګوره چه څرنګه وو عَاقِبَةُ
الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۷۳﴾ اخره خاتمه د بیرولو سوو یعنی د هغو مشرکانو د قوم څخه د نوحؑ او دا قصه
د رسولؑ د تسلي د پاره او د کفارو د بیرولو د پاره ذکر سوی ده ثُمَّ بَعَثْنَا بیا موږ را ولیږل
مِنْۢ بَعْدِهٖ رُسُلًا وروسته تر نوحؑ نور رسولان اِلٰى قَوْمِهِمْ هر یو و خپل قوم ته لکه
هودؑ و هاد قوم ته او صالحؑ و ثمود قوم ته او ابراهیمؑ و اهل د بابل ته او شعیبؑ و اصحاب و دایکه
ته او مدین ته فَجَآءُوْهُمْ نو دا رسولان و خپلو قوموته را غله بِالْبَيِّنٰتِ په ښکاره معجزو
سره فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا نو دا امتونه نه وه د دی خبری چه ایمان راوړی پر رسولانو بِمَا
كَذَّبُوْا بِهٖ په سبب د دی چه تکذیب به دوی کاوی پر بعث د رسولانو مِنْ قَبْلُ د مخکی تر راتلو
د رسولانو یعنی د دوی به لا پخوا دا عادت وو په جاهلیت کښی د تکذیب نو چه رسولؑ به ور
لوه راغلے نو پر هم هغه پخوانی عادت به روان سوه او ایمان به یې نه راوړی كَذٰلِكَ هدا سے
لکه چه مهر وهلی وو موږ د دا امتو پر زړو نَطْبَعُ موږ مهر وهو عَلٰى قُلُوْبِ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۷۴﴾
پر زړو د تیریدونکو د خپل حد څخه په تکذیب کښی یعنی مکذبان د قریشو ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ
بَعْدِهِمْ بیا موږ را ولیږله تر دی رسولانو وروسته مُّوْسٰى وَهٰرُوْنَ موسٰے او هارون
علیهما السلام چه د عمران زامن وه اِلٰى فِرْعَوْنَ د مصر و فرعون ته چه نوم یې ولید یا
قابوس وو وَمَلَا۟ئِهٖ بِاٰيٰتِنَا او و اشرافو ته د قوم د ده په ښکاره معجزو سره نه موږ چه هغه
نه معجزی وی فَاسْتَكْبَرُوْا نو دوی لویې او ګردن کشی وکړه د هغه د امر څخه او فرمان یې
نه مانی وَكَانُوْا او دوی وه قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ قوم د عاصیانو پر ګناهو نه روروه نو ځکه
یې دا سے کار وکړی فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ نو هر کله چه دوی ته حق راغلے مِنْ عِنْدِنَا زموږ د
جانبه څخه چه موسٰےؑ وو او معجزی ورته ښکاره کړی قَالُوْٓا نو دوی به د ډیره عناده څخه وویل
اِنَّ هٰذَا بیشکه چه دا تا چه ښکاره کړی لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۷۶﴾ خامخا ښکاره جادو دی قَالَ
مُوْسٰٓى نو موسٰےؑ و دی قائلانو ته وویل اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ ایا تاسے و دی رشتینی معجزی ته

وایاست لَمَّا جَآءَ کُمۡ ؕ په هغه وخت کښي چه تاسے ته راغله چه دا معجزه نه ده او سحر دی
اَسِحۡرٌ هٰذَا ؕ آیا دا سحر دی وَلَا یُفۡلِحُ السّٰحِرُوۡنَ ﴿۷۷﴾ او حال دا چه بری آنه کی پیدا ساحران
قَالُوۡۤا نو دی فرعونیانو وموسٰے ته وویل اَجِئۡتَنَا لِتَلۡفِتَنَا آیا ته موږ ته ددی دپاره راغلے
یې چه موږ واړوی عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَیۡهِ د هغه کار څخه چه موږ پیدا کړی دی پر هغه کار
اٰبَآءَنَا خپل پلاران چه عبادت د فرعون دبتانو دی وَتَکُوۡنَ لَکُمَا الۡکِبۡرِیَآءُ او بل
ددی د پاره چه تاسے دواړو لره باچاهي سی فِی الۡاَرۡضِ ؕ په ملکه کښي وَمَا نَحۡنُ لَکُمَا او
موږ نه یو پر تاسے دواړو بِمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۷۸﴾ باور کونکی وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ائۡتُوۡنِیۡ او فرعون
وخپلو مقربانو ته وویل چه ما ته راولی بِکُلِّ سٰحِرٍ عَلِیۡمٍ ﴿۷۹﴾ هر هغه ساحر چه بنه ماهر
وی د سحر په فن کښے چه د موسٰے سره معارضه وکړی نو ساحران یې راجمع کړه لکه په
سورة اعراف کښي چه یې تفصیل تیر سوی دی فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ نو هر کله چه ساحران د
معارضے میدان ته راغله قَالَ لَهُمۡ مُّوۡسٰۤی نو موسٰے وروی ته وویل چه اَلۡقُوۡا مَاۤ وغورځوئ
هغه پری او لکړی اَنۡتُمۡ مُّلۡقُوۡنَ ﴿۸۰﴾ چه تاسے یې غورځونکی یاست فَلَمَّاۤ اَلۡقَوۡا نو هر کله
چه دوی دا پړے او لکړے وغورځولي او د خلکو سترګی یې په جادو وتړلے نو وتولو
ته به داسي ښکارېدل چه دا ماران دی منډے وهے قَالَ مُوۡسٰی نو موسٰے وروته وویل
مَا جِئۡتُمۡ بِهِ ۙ السِّحۡرُ ؕ هر هغه څه چه تاسے د معارضے میدان ته راوړے او حاضر کړی
دی هغه جادو دی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دی سَیُبۡطِلُهٗ ؕ ژر دی چه باطل او بے
فائدے به کړی اِنَّ اللّٰهَ لَا یُصۡلِحُ بیشکه چه خدای تقویت نه ورکوی عَمَلَ الۡمُفۡسِدِیۡنَ ﴿۸۱﴾
کار لره د مفسدانو وَیُحِقُّ اللّٰهُ الۡحَقَّ او بیا شړردی چه حق به خدای باقی او ثابت
کړی یعنی هغه ته ما راوړی دین بِکَلِمٰتِهٖ په قضا او حکم سره د خپلو کلمو وَلَوۡ کَرِهَ
الۡمُجۡرِمُوۡنَ ﴿۸۲﴾ که څه هم کافران په راضي نه وی روایت دی چه هر کله موسٰے د
مدین څخه مصر ته راغلے او بنی اسرائیل یې وخپل دین ته راوبلل نو زړو خلکو ایمان
پر راته وړی او بعضو ځوانانو ایمان پر راوړے مګر سره د ویرے بیری د فرعون

لکه چه وايي فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰۤی نو ایمان نه وو راوړے په اول کښې پر موسٰی باندے
اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ مگر کم عمره فرزندانو د قوم ځنه د موسٰی عَلٰی خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ
او هغه هم سره د بيرې د فرعون ځنه وَمَلَا۠ئِهِمْ او د خپلو مشرانو ځنه د دې جهته چه
موږ به داخپل مشران د بنی اسرائیلو د فرعون د بيرې ځنه بيرته کفر ته وا روی يا له قومه
د فرعون ځنه ځکه چه دده د قوم ځنه هم پنځو کسانو ايمان راوړی وو دوه نارینه وه
یو مؤمن د آل ځنه د فرعون وو او بل خزانچی دده وو او دریو ښځو یوه بی بی آسیه او
بله ښځه د خزانچی او بله هغه ښځه چه د فرعون ږیره یے ږ منځوله اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ط د
دې چه عذاب به ورکړی دا فرعون ودی ایمان راوړونکو ته یا ودی مشرانو ته
چه تا سے دا خپل کشران بیرته وکفرته راواړی وَاِنَّ فِرْعَوْنَ او بیشکه فرعون چه
وو لَعَالٍ فِی الْاَرْضِ ج خاخا جابر او متکبر وو د مصر په مځکه کښې وَاِنَّهٗ او بیشکه دے
چه وو لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۸۳﴾ خاخا د مسرفانو او سرکشانو ځنه وو تر دې حده چه
ده د خدایی دعویٰ وکړه وَقَالَ مُوْسٰی او موسٰی و مؤمنانو ته وویل د خپل قوم په
هغه وخت کښې چه په دوی کښې يې د خوف اثار وليدل يٰقَوْمِ اے زما قومه اِنْ
كُنْتُمْ که تا سے یاست اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ چه ایمان موراوړی وے پر خدای او پوهیږئ
چه خیر او شر ټول دده ځنه دی فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا نو خاص هم پر ده توکل وکړی او
هم پر ده ځان وسپاری اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ﴿۸۴﴾ که تا سے غاړه ایښونکی یاست وحکم
او قضا ته دده فَقَالُوْا نو دوی وویل عَلَی اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ج خاص پر خدای موږ توکل
کړی دی نو بیا د دوی سوال د نجات او د عصمت وکړی دا سے چه رَبَّنَا اے زموږ ربه
لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً موږ مه گرځوه ځای د فتنې ازمایې او د عذابولو لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۵﴾
د هغه قوم دپاره چه ظالمان دی یعنی پر موږ یې مسلط نه کړی چه پر موږ به عذابونه
تیروی وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ او موږ وساته پخپل رحمت سره مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾
د کافرانو د ټولی ځنه روایت دی چه هر کله د دی مؤمنانو د لمانځه او د نورو عبادت

دپاره مساجد او معابد جوړ کړه هم دخپلو کورونو په منځ کښې او هم په بازار وکښې
بیا چه فرعون په خبر سو نو هغه تولې ې وران کړه بیا موسیٰ مأموره سو چه دننه په
خپلو کورو کښې یې عبادت خانې جوړې کړې چه کافران په خبر نه سي لکه چه وایي
وَاَوْحَيْنَآ او مونږ پیغام وکړی اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ د موسیٰ او وروړته دده چه
هٰرُوْنَ وو اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا داسې چه تاسې جوړې کړی دواړه دخپل قوم دپاره
بِمِصْرَ بُيُوْتًا د مصر په ښار کښې دننه کوټې په کوروکښې چه لمونځ او نور عبادت
پکښې کوی وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ او وه گرځوی دا خپلې کوټې چه عبادت خانې دی قِبْلَةً
مساجد متوجه وطرفته دقبلې یعني کعبې ته او داحکم چه موسیٰ په اول کښې داسې
مامور سوی وه چه په لمانځه کښې مخ وقبلې «کعبې» ته کوی وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ط او اداکوی
لمونځ سره د تولو حقوقو په هغه مساجدو کښې وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۷﴾ او زیرے وکړه
اے موسیٰ پر مؤمنانو په نصرت سره د لته او په جنت سره هلته وَقَالَ مُوْسٰى او موسیٰ
وویل پر طریقه د تضرع رَبَّنَآ اِنَّكَ اے زمونږ ربه بیشکه ته چه اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ تا ور
کړی دی وفرعون ته وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً او هم ټولې د تابعانو دده ته ټول اسباب د زینت
لکه رنگارنگ نفیسی «ښی ښایستی» جامے او ډیر قیمت بها فرشونه او زرین لوښے او هم
داسے نور د کاله اسباب وَّاَمْوَالًا او هر قسم مالونه لکه نغدی بے شماره او انواع د سامانو
او اقسام د چارپایانو فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا لا په دے واړه ژوندون کښې رَبَّنَا اے زمونږ
ربه لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ج دالام دعاقبت دی نو معنیٰ دا چه عاقبت د دولت ددوی
داسو چه گمراه کوی بندگان ستا د لارې ستا لکه چه دوی گمراه دی یعنې ستا دعبادته
تښتیږي د فرعون عبادت ته اړوی رَبَّنَا اطْمِسْ اے ربه زمونږ د هلاکت نښې را
ولیږه عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ پر مالو ددوی نو دا نقود «نغدی» یې ټول تیږی کړه شوه که
دراهم وه که دنانیر او چاویلی دی چه باقی مالونه یې هم ټول تیږی سو وَاشْدُدْ
عَلٰى قُلُوْبِهِمْ او مهر د قسوت ووهه پر زړو ددوی چه سخت دِ له سي فَلَا يُؤْمِنُوْا

ع۱ یعني د زړو د سختی ۱۲

نو دوی ایمان نه راوړی حَتّٰى یَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ ﴿۸۸﴾ ترڅو چه دوی ووینی
دردناکه عذاب چه هغه غرق ووه په بحرقلزم کښی اودا ښی ځکه وویل چه دوه
ته معلومه سوی وه په وحی سره چه دوی ایمان نه راوړی قَالَ نو پرورد ګار
وویل قَدْ اُجِیْبَتْ دَّعْوَتُکُمَا په تحقیق سره قبوله سوه دا دعا ستاسی دواړو
ځکه یا دسوه چه موسٰیؑ دعا کوله او هٰرونؑ به آمین ووېل فَاسْتَقِیْمَا نو دواړه
کلك ولاړ اوسی پر دعوت اوپر تبلیغ خپل باندی او تلوار مه کوی په ښکاره کید و
کښی دا ثر ددی دعا چه په تاخیر کښی به حکمت وی او تردی وروسته بیا
خلوبښت کاله تیر سوه نو فرعون غرق سو وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ اودسره پیروی مه کوی
په تعجیل کښی ددی دعا چه ژر قبوله سوی وای سَبِیْلَ الَّذِیْنَ دلاری دهغو کسانو
لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾ چه نه پوهیږی په حکمت سره د تاخیر او شریږی غواړی روایت دی
چه هر کله پرورد ګار د غرق اراده د فرعون وکړه نو موسٰیؑ ته یې امر وکړی چه د
شپی د مصر څخه ووزه د ټولو بنی اسرائیلو سره بیا دی بحرقلزم ته ورغلی او فرعون
د خلیروبښت لاکهه لښکر سره ورپسی ورسیدی نو ده دریاب په لکړه وواهه او
دوولس کوڅې پکښی جوړی سوی او بنی اسرائیل پکښی تیر سوه په امان سره او
فرعون چه د خپل لښکره سره په دې کوڅو کښی راننوتی نو دریاب پرهوار او ګډ
سو او ټول پکښی غرق سوه لکه چه وایې وَجٰوَزْنَا او موږ تیر کړه بِبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ
الْبَحْرَ بنی اسرائیل د قلزم پر دریاب په خیر او په سلامتی سره فَاَتْبَعَهُمْ نو پسه دوی
پسی راورسیده فِرْعَوْنُ وَجُنُوْدُهٗ فرعون او دده لښکر بَغْیًا وَّعَدْوًا د پاره د
ظلم او دجفا پر بنی اسرائیلو حَتّٰٓى اِذَآ اَدْرَکَهُ الْغَرَقُ لا ترهغو پوری چه غرق
ورپسی ورسیدی چه په ډوبیدو سوه او دځانه څخه یې طمع قطع سوه قَالَ
اٰمَنْتُ نو ده وویل چه ما ایمان راوړی اَنَّهٗ پر دی چه بیشکه شان دا دی لَآ اِلٰهَ
اِلَّا الَّذِیْٓ چه نسته لایق د عبادت بل هیڅوك مګر یوازی هم هغه خدای دی

عه نوم دیوه دریاب دی ۱۲

اٰمَنَتْ بِهٖ چه ایمان راوړی دی پرهغه بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ بنی اسرائیلو په دعوت سره د موسٰیؑ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۹۰﴾ او زه د غاړه ایښودونکو د قولی ځنیم وامر ته دخدای روایت دی چه یوه ورځ جبرائیلؑ په جامه کښی د عرضیانو د فرعون و محکمی ته راغلی او عرض یې وکړی چه څه حکم دی دا سیر د هغه مریې په حق کښی چه د خپل مولٰی په نعمتو کښی لوی سوی وی او د تمامو مریانو خپلو ځنی یې په دی مرتبه کښی پورته کړی وی نو بیا ناګاه د خپل مولٰی ځنی یاغی سی او پخپله د عوٰی د مولٰی توب وکړی نو فرعون پخپل د ستخط سره ورته ولیکل چه یقول ابوالعباس[ع] ولید بن مصعب جزاء العبد الخارج علٰی سیده الکافر نعماء ه ان یغرق فی البحر. بیا د غرقید و په وخت کښی جبرائیلؑ هغه کاغذ وربنکاره کړی چه دا کار ستا سره هم ستا په فتوٰی سوی دی او بیا یې ورته وویل چه اٰلْـٰٔنَ ایا اوس ایمان راوړی وروسته تر هغه چه خپل اختیار د در ځنی ولاړی وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ او حال دا چه بې فرمانی به دی کوله مخکی تر دی او د رسولؑ فرمان دی نه مانی وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۹۱﴾ او ته د فساد کونکو ځنی وی

رباعیؒ هر غرض لره یو وخت وی مقرر د ذوالجلاله
چه که وړاندی سی یا وروسته نفع نه کړای لاله
لکه څوك چه سی ناجوړه دوا غواړی د طبیبه
او چه مړ شی وخت یې تیر سی فائده نسته بیا دواله

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ نو نن ورځ به تا و ساتو د حال ځنی ستا د لښکر چه دوی به په ډوب کښی دد ریاب پریږدو او تا به دا و بو په سر راپورته کړو او یا به تا دد ریاب د ډوب ځنی و وچی ته را و غورځو بِبَدَنِكَ تنشه تنه ستا بیله روحه یا بیله جامی یا بیله د هغه سر و زرو د زغری چه په غاړه دی وه او وا غورځول د فرعون پر وچه ځکه وه چه بنی اسرائیلو باور نه کاوی پردی چه دی مړ دی نو دریاب په دی سره مامور سو چه دی و دباندی وچی ځمکی ته و غورځوی

ع معنٰی دا په فرعون وایي چه جزا د هغه مریې چه پرخپل آمر کش سوی او دا د تلی وی د اسی مریې چه کافر یم وی نو د هغه جزا داده چه ډوب او غرق دی کړه سی په دریاب کښی ۱۲

چه دوی پسے پخپله ووینی او تسلی یې وسی حاصل دا چه تنه ستا به د او بو څخه راوباسو
لِتَكُونَ د دی دپاره چه ته سی لِمَنْ خَلْفَكَ وهر هغه چاته چه تر تا وروسته راځی تر
قیامته پوری یا و بنی اسرائیلو ته اٰیَةً د لویه نښه چه هر څوك عبرت په واخلی چه هر
بنده چه دخپل مولی څخه سرکشه وی او دعوی د اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى وکړی نو د غه یې جزاده
۹ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ اوبیشکه ډیرد خلګو چه دی عَنْ اٰيٰتِنَا زموږ د قدرت د نښو څخه
ع ۱۰ لَغٰفِلُوْنَ (۹۲) خامخا غافله دی چه نه فکر پکښی کوی او نه عبرت په اخلی وَلَقَدْ بَوَّاْنَا
۱۴ او خامخا په تحقیق سره موږ ډیره کړی وه بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ بنی اسرائیل مُبَوَّاَ صِدْقٍ په
داسے دیره گاه کښی چه لائق او مرغه او ښایسته وو چه مصر او شام وو وَّرَزَقْنٰهُمْ
او موږ ورکړی وه ورته روزی و رکړی وه مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۶ د پاکیزه وو لذتناکو شیانو څخه یا
مراد ځنې یهود د مدینې دی چه ودوی ته غوره ځایونه او ښه نعمتونه او پاکیزه لذتناکے
خرماوی هم لندی او هم وچی ورکړه سوی وی فَمَا اخْتَلَفُوْا نو اختلاف نه و وکړی دوی
پخپل دین کښی یا د رسول په شان کښی حَتّٰى ترهغو پوری جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ط چه ودوی
ته علم راغی پر احکامو د تورات یا پر نعت محمدی باندی او بیا یې په د واړو کښی تغیر وکړی
اِنَّ رَبَّكَ بیشکه ستا رب چه دی يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ حکم به وکړی په ما بین کښی د دوی يَوْمَ
الْقِيٰمَةِ د قیامت په ورځ فِيْمَا كَانُوْا په هغه شی کښی چه دوی وه فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ (۹۳)
په هغه کښی چه اختلاف به یې کاوی فَاِنْ كُنْتَ نو که ته یې فِيْ شَكٍّ په ګمان کښی مِّمَّآ
اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ د هغه قصو او احکامو څخه چه موږ و تا ته را لیږلے دی په قرآن کښی فرضًا
فَسْئَلِ الَّذِيْنَ نو وپوښته هغه کسان يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ چه دوی کتاب لولی مِنْ قَبْلِكَ ۶
مخکښی تر تا یعنی تورات او انجیل ځکه چه ستا حال په هغو کښی مفصل پروت دی بیا چه دا
حکم راغی نو رسول وویل چه لا اشك ولا اسأل یعنی نه می شك پکښی سته او نه
څوك پوښتم لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ خامخا په تحقیق سره و تا ته حق راغلی دی مِنْ رَّبِّكَ د

عه معنی دا چه فرعون وخپلو تابعانو ته بلکه وقولو خلګو ته وییلے وه چه زه ستاسی لوی رب یم یعنی د ابتانو طو له
خدایان دی او زه لوی خدای یم ۱۲

طرفه څخه د رب ستا فَلَا تَكُونَنَّ نو مه کیږه ته خامخا مِنَ الْمُمْتَرِينَ (۹۴) د شك کونکو څخه
وَلَا تَكُونَنَّ او مه کیږه ته خامخا مِنَ الَّذِينَ د هغو کسانو څخه كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ چه دوی
تکذیب کوی د ایتو د خدای یعنی د قران فَتَكُونَ مِنَ الْخَاسِرِينَ (۹۵) نو ته به سی د زیانکارانو
څخه که دی تکذیب وکړی او دا خطابونه په واقعه کښی وتولو امت ته دی إِنَّ الَّذِينَ بیشکه
هغه کسان حَقَّتْ عَلَيْهِمْ چه پر دوی واجبه سوی ده كَلِمَتُ رَبِّكَ گفتار د رب ستا یعنی
نوشته د لوح محفوظ چه دوی به پر کفر مری یا دا چه هٰؤُلَاءِ عه فِي النَّارِ وَلَا أُبَالِي یا دا چه
عه لاملئن جهنم منکم اجمعین حاصل دا چه هر کله چه دا قوله و یل سوی دی د دوی په
حق کښی نو لَا يُؤْمِنُونَ (۹۶) دوی د سره ایمان نه راوړی وَلَوْ جَاءَتْهُمْ او اگر که ودوی
ته راسی كُلُّ آيَةٍ هر هغه معجزه چه دوی یې غواړی ځکه چه سبب د ایمان په واقعه
کښی تعلق دی د ارادی د خدای او هغه د لته مفقود دی حَتَّىٰ تر هغو پوری يَرَوُا الْعَذَابَ
الْأَلِيمَ (۹۷) چه دوی ووینی دردناکه عذاب په وخت کښی د نزع عه د روح نو هلته به بیا
ایمان راوړی مگر فائده به نه لری یا په قیامت مگر نه به قبلیږی فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ نو
ولی نه وه اهل د کوم یوه ښار د ښارو څخه چه موږ هلاك کړی دی آمَنَتْ داسی چه ایمان
یې راوړی وای او د کفر څخه توبه گار سوی وای مخکی د عذاب تر لید واو د فرعون په شان
تاخیر یې نه وای کړی فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا نو نفع ورته رسولې وای ایمان خپل چه خدای
ځنی قبول کړی وای ځکه چه پخوا «مخکې» به وو تر معاینی «ترلیدلو» إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لیکن
یو قوم د یونس هدا سی وکړه چه لَمَّا آمَنُوا هر کله چه ایمان راوړی دوی مخکی د عذاب
تر نازلید و پر دوی بلکه په صرف عه لید وسره د علامو د عذاب دوړاية كَشَفْنَا عَنْهُمْ لیری
کړی موږ د دوی عَذَابَ الْخِزْيِ عذاب د شرمندگی او د رسوایی فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا
په دی ژوند کښی د دنیا وَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَىٰ حِينٍ (۹۸) او ژوندی پاته کړه موږ دوی تر یو

عه معنیٰ دا چه رب العزت فرمایلې دی په روز ازل کښی چه د عنی مخلوق می پیدا کړی دی د دوزخ د اور لپاره او هیڅ باك او خفگان می نسته ۱۲ عه معنیٰ دا چه ډك به کړم جهنم د تاسی څخه ۱۲ عه یعنی په وخت د زکندن کښی ۱۲

وخته پورې چه وخت د اجل دے او د اهلته که استثناء منقطع سی او که متصله سی نو د الولا به نافیه سی او معنیٰ به دا سے سی چه ایمان نه وړاوړی اهل د هیڅ قریے مګر یو قوم د یونس ؑ راوړے وو او قصه د یونس ؑ بجمله دا سے ده چه دی د نینوا بنار ته مبعوث سو چه یو بنار دے د ولایته ځمنه د موصل نو دوی ته یے ډیر څه موده دعوت وکړی دوی ایمان پر را نه وړی نو وعده د عذاب یې ورسره وکړه ورو وسته تر د رویا ځلو یښتو او دے ځنی ولاړه بیا چه هغه وعده راغله او میاشت د ذوالحجے وه چه یو تکه تور اوهیبتناکه اوریځ د پاسه پر راکښته سوه او د اور لمبی او غټ بخری په را اوریدو سوه نو پر دوی هیبت او بیره غالبه سوه او پوه سوه چه ده رشتیا ویلے وه نو په ده پسی یے ډیر کوښښ وکړی خو پید ا یے نه کړے نو ټوله نر او ښځے د اولا د وا و مالو سره و صحرا ته وواته او کندونه یے واغوستل او زامن یے د میند و ځنه بیل کړه د انسانانو او هم د چارپایانو "حیرانانو" حقوق یې پخپلو مینځو کښی ټوله سره ادا کړه او توبه یے په اخلاص سره وکښه او ټولو په زوره وویل چه امنا بما جآء به یونس او تر ځلو یښتو ورځو پورې یے داسی نارے وهلی او زاری به یے کولے بیا د عاشور په ورځ یے توبه قبوله سوه او عذاب ځنے پورته او لیری سو روایت دی چه هر کله رسولؑ د خپل قوم پر ایمان ډیر حرص کاوی تر دے حده چه په دی به یے طبیعت مبارک ډیر خفه وو نو نازل سو وَلَوْشَآءَ رَبُّكَ او که اراده سوی وای ستا د رب د مؤمنانو کولو د ټولو خلکو لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ نو ایمان به راوړی وو هر هغه چا چه په ځمکه کښی دی كُلُّهُمْ جَمِيْعًا د ټولو په یوه وارا فَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ ایا نو ته مجبوره کوی خلک بیله زما د ارا دی حَتّٰى يَكُوْنُوْا په دی سره چه دوی ټوله مُؤْمِنِيْنَ ۝۹۹ ایمان راوړونکی سی او دا ایت منسوخه سوی دے د قتال په ایت سره وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ او نه دی ممکن هیڅ شخص ته اَنْ تُؤْمِنَ دا چه ایمان راوړی اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ مګر په اراده او توفیق او په قضا سره د خدای وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ او اچوی "او رری" خدای خپل غضب عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝۱۰۰ پر هغو کسانو چه عقل و

فکر نه کوی په دلیلو او په ایتو کښې قُلِ انْظُرُوْا ته ورته ووایه وو دی مشرکانو ته چه وګوری
په نظر د عبرت او د استدلال سره مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ چه څه قسم عجائب او غرائب دی
په اسمانو کښې لکه د ملر او د سپوږمی تلل او اختلاف د شپې او د ورځې او د اسے نور ډیر
وَالْاَرْضِ ط او په ځمکه کښې لکه شنه کیدل د هر قسم غلے او د هر صنف میوی او د رنګارنګ
ګلانو او د ونو او د بوټو　لیعنی　چه تا سے څنی معلوم کړی قدرت کامله او حکمت بالغه د
خدای او استدلال معلوم کړی چه بیا ستاسے د پاره موجَب　سبب　د ایمان سی وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ او
نه دفعه کوی صرف لیدل د قدرت د علاموا و نښو وَالنُّذُرُ او اوریدل د کلام د بیرونکو
چه هغه رسولان دی عذاب او قهر د خدای عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ (۱۰۱) د هغه قوم څخه
چه په علم د خدای کښې داسے مقرر دی چه ایمان نه راوړی دوی فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ نو
آیا انتظار کوی دا مشرکان یعنی و هیڅ شی ته پے نه کوی اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ مګر هغه
حادثے او عذاب ته چه په شان د حادثو او د عذاب د هغو کسانو دی خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ط
چه تیر سوی دی مخکی تر دوی لکه عاد او ثمود او اصحاب دا یکے او د مؤتفکت قُلْ فَانْتَظِرُوْا
نو ته و دوی ته ووایه چه انتظار کوی و عذاب ته اِنِّيْ مَعَكُمْ بیشکه زه هم د تاسے سره مِّنَ
الْمُنْتَظِرِيْنَ (۱۰۲) د انتظار کونکو څخه یم ستاسے وهلاک ته او بیا چه عذاب به راغلے نو رسول
او مؤمنان به څنی خلاص سوه او کفار به هلاک سوه لکه چه وایې ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا بیا
چه موږ وساتل رسولان خپل د هغه عذاب څخه چه پر مکذبانو راغلے وو وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او
هغه کسان هم چه ایمان یے راوړی وو پر دی رسولانو كَذٰلِكَ ج هم داسے لکه دا رسولان
او مؤمنان چه ساتلی وه موږ حَقًّا عَلَيْنَا دا رشتینی وعده ده چه موږ پر ځان لازمه
کړے ده په وخت کښې د هلاک د مشرکانو نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ (۱۰۳) موږ به وساتو مؤمنان ع ۱۰ ۱۱ ۱۵
چه رسول ع او اصحاب د ده دی قُلْ ته ووایه اے رسوله واهل د مکی ته يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ
اے خلګو اِنْ كُنْتُمْ که تاسی یاست فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ په ګمان کښې زما د دین چه
صحیح دی او که نه دی نو بیان یے واورے چه هغه دادی فَلَآ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ نو عبادت

نه کوم نره د هغو تَعْبُدُوْنَ چه تاسے یې عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدا یه که بتان
دی که ملائکې دی وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِیْ ولیکن نره عبادت کوم د هغه خدای یَتَوَفّٰىكُمْ
چه تاسے وژنی چه هغه ابتداء د تعذیب ستاسے ده نو د هغه د احاصل دے د دین زما
نو تاسے عقل پکښے وکړی چه صحت یې درته معلوم سے وَاُمِرْتُ او نره ماموره سوی یم
اَنْ اَكُوْنَ په دے سره چه نره سم مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ﴿۱۰۴﴾ د مؤمنانو د تولی څخه وَاَنْ اَقِمْ
وَجْهَكَ او بل په دے سره ماموره سوی یم چه ودروم مخ خپل یعنې خالص او مستقیم
کړم خپل عمل لِلدِّیْنِ حَنِیْفًا ج دپاره د خپل دین په دا سے حال کښے چه مائل وی د ا
ستا مخ د تولو ادیانو څخه ودین د اسلام ته یا مستقیم لره خپل مخ په لمانځه کښے د قبلی
وطرف ته وَلَا تَكُوْنَنَّ او ته مه کیږه د سره مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ﴿۱۰۵﴾ د تولی څخه د مشرکانو
او دا خطاب په واقعه کښې وامت ته دی وَلَا تَدْعُ او مه بوله مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدا یه
مَا لَا یَنْفَعُكَ هغه شی چه نفعه نه رسوی وتا ته بلنه د هغه وَلَا یَضُرُّكَ ج او ضرر نه رسوی
وتا ته بلنه د هغه فَاِنْ فَعَلْتَ نو که تا دا سے وکړه یعنی د اشی دی وباله فَاِنَّكَ اِذًا نو بیشکه
چه ته په دغه وخت کښې چه داشے دی وباله مِّنَ الظّٰلِمِیْنَ﴿۱۰۶﴾ خامخا د ظالمانو څخه به یے
وَاِنْ یَّمْسَسْكَ اللّٰهُ او که خدای وتا ته ورسوی بِضُرٍّ کوم قسم خفگان لکه مرض
یا فقر یا نوره سختی فَلَا كَاشِفَ لَهٗ نو نسته هیڅوك لیری کوونکی د هغه اِلَّا هُوَ ج مگر هم دی
دی وَاِنْ یُّرِدْكَ او که د تا سره اراده وکړی بِخَیْرٍ د کوم قسم خوشحالی لکه صحت یا غنا
یا کوم بل راحت فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ ط نو نسته هیڅوك اړوونکی د مهربانی دده یُصِیْبُ
بِهٖ دی رسوی دا خیر مَنْ یَّشَآءُ هر هغه چا ته چه اراده یې وسی مِنْ عِبَادِهٖ ط د
خپلو بندگانو څخه وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ﴿۱۰۷﴾ او هم دے بخښونکی او مهربانه دی
قُلْ ته بیا ورته ووایه یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اے خلگو قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ په تحقیق سره تاسے
ته راغے حق یعنی قرآن یا رسول مِنْ رَّبِّكُمْ ج د جانبه څخه د رب ستا سے نو اوس
هیڅ عذر نه سو یا ته فَمَنِ اهْتَدٰى نو هر څوك چه لاره یې پیدا کړه وایمان او

طاعت ته فَإِنَّمَا يَهْتَدِي نو بیشکه هم داخبره ده چه لاره یې پیداکړه لِنَفْسِهِ د خپل ځان د پاره یعنې نفع یې هم وده ته راجع ده وَمَنْ ضَلَّ او هر څوک چه ګمراه سي په انکار او په تکذیب سره فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا نو بیشکه هم داخبره ده چه ګمراه کیږي خپل ځان ته یې او ضرر یې هم وده ته راجع دی وَمَا أَنَا او نه یم زه عَلَيْكُمْ بِوَكِيلٍ (۱۰۸) پر تاسې باندې نګهبان چه ستاسې دا مور ومتولی او سم بلکه زه محض بشیر او نذیریم وَاتَّبِعْ مَا او ته پیروي کوه د هغه شي يُوحَىٰ إِلَيْكَ چه رالیږل کیږي وتا ته یعنې ته پخپله هم عمل کوه او نوروته یې هم رسوه وَاصْبِرْ او صبر کوه پر تکذیب او پر ایذا د دوی حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ ترهغو پوري چه حکم وکړي خدای په نصرت او په غلبې سره ستا یا په قتل سره د دوښمنی او په جزیه سره د کتابی وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ (۱۰۹) او دی غوره د ټولو حکم کونکو دی

ع ۹ ۱۱ ۱۶

آیاتها ۱۲۳   سُورَةُ هُودٍ مَكِّيَّةٌ   رکوعاتها ۱۰

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

الٓر تفذ اکثرو علماوو ددی مقطعاتو په تاویل کښې سکوت کړی دی او بعضو بیا تاویلات پکښې کړي دي چه یو د هغو څخه دادې چه الف د اول څخه د أَنَا دی او لام د وسط څخه د الله دی او را د اخره څخه د بصیر ده یعنې أَنَا اللَّهُ الْبَصِيرُ معنی دا چه زه خدای یم چه نیک او بد وینم د هرچا نو مطابقه جزا به ورکړم كِتَابٌ دا یو کتاب دی أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ چه ایتونه یې محکم کړه سوي دي دده چه هیڅ خلل او نقصان نه سي پکښې راتللای ثُمَّ فُصِّلَتْ بیا یې فوائدې په تفصیل سره بیان سوي دي یعنې عقائد او احکام او مواعظ او اخبارات او دا ستحکام او تفصیل یې سوي دی مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ (۱) د جانبه څخه د هغه خدای چه پر حکمته او دانا دی په هر یو او بښکاره سره او دا سی وایي أَلَّا تَعْبُدُوا وا چه عبادت مه کوي د بل هیچا إِلَّا اللَّهَ ط مګر یوازي د خدای او ورته ووایه ای

رسوله اِنَّنِیۡ لَکُمۡ چه بیشکه زه وتاسی ته مِّنۡهُ نَذِیۡرٌ دطرفه ئخه دده بیرونکی
یم دانسوا و دجنو دعذابه ئخه یے په سبب دشرک او دطغیان سره وَّبَشِیۡرٌ ﴿۲﴾
او زیری کونکی یم دثواب او درضوان او دجنت او ددیدار په ایمان او په توحید سره
یعنے اول امردرته کوم په توحید سره او بیا دا سے درته وایم وَّاَنِ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّکُمۡ
چه بخښنه وغواړی دخپله ربه ئخه دتیروګناهو ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا اِلَیۡهِ بیا توبه وکاړی و
ده ته دګناه کولو ئخه پس ددے ئخه یا بخښنه وغواړی دتیره شرکه ئخه او رجوع وکړی
وده ته په طاعت سره یُّمَتِّعۡکُمۡ چه او به ږه شروند دزکړی سره دمعاشه مَّتَاعًا حَسَنًا
په غوره معاش سره یعنے صحت او امن او انواع دنعمتو اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی ترهغه
وخته پوری دمرلږ چه په نامه سوی دی وَّیُؤۡتِ اوچه دی ورکړی کُلَّ ذِیۡ فَضۡلٍ و
هرخاوند دفضل ته په دین کښی فَضۡلَهٗ د ثواب او جزا، دفضل دده هم په دنیا
او هم په آخرت کښی او خاوند دفضل هغه دی چه حسنات یے پرسیئاتو
باندی زیات وی وَاِنۡ تَوَلَّوۡا او که تاسے شاوګرځوی اے کفارو د اسلام بازما
دمتابعته ئخه او دا په اصل کښے تتولوادی بیا یوه تَ حُنی حذف سوی ده فَاِنِّیۡۤ
اَخَافُ عَلَیۡکُمۡ نو بیشکه زه پرتاسے بیریږم عَذَابَ یَوۡمٍ کَبِیۡرٍ ﴿۳﴾ دعذاب ئخه
دهغه ورځی چه لویه ده چه هغه دقیامت ورځ ده اِلَی اللّٰهِ مَرۡجِعُکُمۡ خاص
وخدای ته بیرته ورتله ستاسے دی وَهُوَ اودی عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۴﴾ پرهرشی
قادردی نوستاسے اعاده ورته اسانه ده اَلَاۤ اِنَّهُمۡ واوری بیشکه داکفارچه
دی چه داسے وایی چه که مو ږځانونه په جاموکښی ونغاړو او پردے پرځان
راکښته کړو او خپل زړه ونه پکښنی ولاکړو دعداوته ئخه دمحمدؐ نو دے به ئخه
په خبرسے یَثۡنُوۡنَ صُدُوۡرَهُمۡ دوه قته کوی دوی خپلی سینی او داکنایت دی
دشیانو پټولو ئخه په زړه کښی یعنی دوی دږسولؐ عداوت پټوی پخپلو زړو
کښے لِیَسۡتَخۡفُوۡا مِنۡهُ ط ددے دپاره چه داعداوت پټ کړی دخدای اَلَا بیا واوری

حِیۡنَ یَسۡتَغۡشُوۡنَ پہ ھغہ وخت کښې چہ دوی واغوندی ثِیَابَهُمۡ لا خپلے جامی او ځان پټ کښې و نغاړی دپارہ دخوب یا چہ قرآن وانہ وری یَعۡلَمُ مَا یُسِرُّوۡنَ دی پوهیږ پہ هغہ شی سره چہ دوی پی پټوی پہ خپلو سینو کښې وَمَا یُعۡلِنُوۡنَ ج او پہ هغہ شی سره چہ دوی یې ښکاره کوے اِنَّهٗ عَلِیۡمٌۢ بیشکه چہ دے دانا دی بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۵﴾ پہ ھغہ ټولو اسرارو سره چہ پہ درونو او سینو کښې پټ پراته دی

وَمَا مِنۡ دَآبَّةٍ او نشته هیڅ گرځیدونکې فِی الۡاَرۡضِ پہ ځمکه کښې اِلَّا عَلَی اللّٰهِ مگر چہ دہ پر خدائے باندی رِزۡقُهَا رزق دهغه اما تفضلاً نه وجوباً وَیَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا او پیژنې دی ځای داو سیدلو دده وَمُسۡتَوۡدَعَهَا او ځای دقبر دده یا قرارگاه دده و روسته ترشه وندون یې لکه ځمکه یا او به یا هوا او هدا سے ځکې تر شه وندون لکه صلب یا رحم یا هگی کُلٌّ داتوله چہ دواب دی سره دخپله رزقه او د دواړه قرارگاو د دوی فِیۡ کِتٰبٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۶﴾ پہ واضح کتاب کښې ... چہ لوح محفوظ دی لیکلی پراته دی روایت دی چہ هر کله قضاربانی او اراده صمدانی پہ ایجاد دعالم پوری متعلقه سوه دپاره دخپل معرفت لکه حدیث قدسی دے چہ کنت کنزاً عہ مخفیاً فاحببت ان اعرف فخلقت الخلق لاعرف نو نوری د حضرت ؐ پیدا کړی اول دخپله نوره ځخه لکه حدیث دی انا من نور الله عہ و الخلق من نوری بیا دا نور پہ جنبش سو نو یوه شته ملغلره ځنی پیدا سوه بیا پودے ملغلره نو بیا پردے ملغلره د قهرنظر وسو نو د ډیره هیبته ځخه دوه ځایه سوه نو دیوی ټوټې ځخه پی عرش عظیم جوړ کړی او پردویمه ټوټه بیا د قهرنظر وسو نو د ډیره خوفه ځخه اوبه سوه او د اعرش عظیم یې د اوبو پرشا کښېښنو وی بیا پي باد هم پیدا کړی او د غه او به یې د دغه باد پر شا

عہ معنیٰ دا چہ الله پاک فرمایلے دی چہ زه پټه خسزانه وم نو دا خبره می خوښه سوه چہ وپیژندل سم زه نو واخلق می پیدا کړه چہ زه وپیژندل سم ۱۲ عہ یعنی زه دخدای دنوره ځخه پیدا یم او خلق زما دنوره ځخه پیدا دی ۱۲

کبنیبنووی نو بیا دا او به په موج سوی او پرسر یې نزلې پیدا سواو ډیره لوړه هم ځنې پیدا سوه نو اول یې ډډے نزکه ځمکه جوړه کړه او غرونه او رونزی گانې دهرفریق او انهاراو اشجار یې پکښې کبنیبنوول بیا د دے لوړی ځمکه یې اسمانونه جوړکړه او لمراوسپوږمی او رنگارنګ ستوری یې پکښې کبنیبنول او د اموله ابادی په شپږ وورځو کښې سوی ده چه غیرد خالی ځمکه دی یعنے ماسیوا دشپنی دورځی ځمکه لکه چه وايې

اشعار ۱۱

داوله هیڅ شے نه وونه او به نه باد اونه نار
نه دا ځمکے اسمانونه لمرسپوږمے لیل ونهار
نه دا انس او جن نبات سیندونه غرونه ونے
مگر ذات بیجهات وو تل ثابت پر یوه قرار
بیا د رب اراده وسوه چه نزه وه پیژندل سم
نو پید اد حضرت نور په محبت کړے کردگار
ناگاه نور په جنبش سو ځنے ماخلره سوه پیدا
بیا د قهرنظر وسرنو دوه ځایه کړه قهار
دیوے قطعے یې جوړکړی هغه لوی عرش مجید
بیا یې باد پسے پید اکړے په قدرت سره بسیار
پردویمه قطعه باندی نظر د قهر وسو
د هیبت ځنه اوبه سوه او دخوفه تار په تار
بیا یې عرش پر اوبو کښینبود او اوبه پرشا دباد
بیا نو ځمکے اسمانونه عزم کړه پروردگار
بیا او به سوے په موج او زلې پراغے ډیر او تیر
رب ځنے جوړه کړله ځمکه او هم غرونه او اشجار
او په دغه موج و هلو ډیرے لوږے ځنے ولاړی
نو ځنے جوړ سوه اسمانونه پکښے ستوری بیشمار

منشأ د موجود اتو چه بیان کړله مراد
څوك چه یې وا وری سوال دی وکړی چه بخښی غفار

لکه چه وایي وَهُوَ الَّذِىۡ او دے هغه پروردګار دے خَلَقَ السَّمٰوٰتِ چه ده پیدا کړے دی اسمانونه وَالۡاَرۡضَ او ځمکه فِىۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ په مقدار د شپږ ورځو د دنیا کښې چه شروع یې دیکشنبې څخه وه او ختم یې په جمعه وه فَائِدَۃٌ: دا خلقت په شپږو ورځو کښې و خلګو ته تعلیم دی چه په خپلو امورو کښې مهلت کوی او بل دا چه وهر کار ته یوه ورځ مقرره وے او بل دا چه پرله پسے د شیانو پیدا کول د عالم مدبر او مرید چه پخپل اختیار سره تصرف کوے دے سببه دے چه دے پرخلقت په یوه لحظه کښې هم قادر دے مګر عرش او بادونه او اوبه ددی د مخه پیدا سوی دی چه هغه د عالم ابتداء ده وَّكَانَ عَرۡشُهٗ او حال دا چه وو عرش دده ځمکې تر پیدا کیدو د ځمکې او اسمانو عَلَى الۡمَآءِ پر اوبو باندے فَائِدَۃٌ: دا عرش او اسمانونه او ځمکه او نور په دے مینځ کښې چه هر څه پیدا دے هغه لذا انها خدای نه دی پیدا کړے بلکه ددے دپاره چه په دی کښې دده د قدرت دلائلو انواع او اقسام دے ځکه چه راغلی دی ربنا ما خلقت هٰذا باطلا او بل اما دے دوجود او اسباب د معاش او مقتضیات د عمل او موجبات د استدلال ستاسے دی نو ځکه یې دا تول پیدا کړه لِيَبۡلُوَكُمۡ ددے دپاره چه تاسی وازمایي اَيُّكُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ چه کوم یو د تاسے څخه ډیر ښه دی د جهته د عمل یعنې کوری چه په تاسے کښې څوك عاقل او شاکر او مطیع او متورع او عبرت اخستونکی دی په دے شیانو کښې چه تو به کښونکی سی او څوك ابله او کفورا و عاصے او بے باکه او سړوند او کوږ دی چه معاقب او په عذاب دی سے وَلَٮِٕنۡ قُلۡتَ او خاما خا که ته وخپل قوم ته ووایې اِنَّكُمۡ مَّبۡعُوۡثُوۡنَ چه بیشکه تاسے بیا شړوندی کید ونکی یاست مِنۡۢ بَعۡدِ الۡمَوۡتِ تر مرلو وروسته لَيَقُوۡلَنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا نو خا خا به وایې هغه کسان چه کافران دے اِنۡ هٰذَاۤ نه دے دا قران چه دا بیا شړوندون وایې اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۞

مګر ښکاره جادو دے وَلَئِنۡ اَخَّرۡنَا او که موږ وروسته کړو عَنۡهُمُ الۡعَذَابَ د
دوی څخه هغه عذاب چه موعود دے اِلٰۤى اُمَّةٍ مَّعۡدُوۡدَةٍ تر یو معلوم وخته پورې
لَّيَقُوۡلُنَّ مَا يَحۡبِسُهٗ ؕ نو دوی خامخا وایي د مسخرو څخه چه کوم شي دا عذاب بند کړی
دے او ولی نه راځي وموږ ته اَلَا يَوۡمَ يَاۡتِيۡهِمۡ واورئ په هغه ورځ چه دا عذاب
راسي ودوی ته لکه چه د بدر په ورځ راغلی وو لَيۡسَ مَصۡرُوۡفًا عَنۡهُمۡ نو نه به وي
دا عذاب دفعه کړه سوی د دوی څخه وَحَاقَ بِهِمۡ او چاپیره به سي پر دوی او دا صیغه
د تحقیق دپاره ده مَّا كَانُوۡا بِهٖ هغه شي چه وه دوی چه په هغه پورې به بي يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۸ ع ۱
مسخرې کولی اوثر ر به يې غوښتي وَلَئِنۡ اَذَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ او خامخا که موږ په انسان
سره وڅکو يعني ورکړو مِنَّا رَحۡمَةً رحمت دخپله جانبه څخه يعني صحت او امن او فراخي
ثُمَّ نَزَعۡنٰهَا مِنۡهُ ۚ بیا بیرته دا نعمت د ده څخه راتول کړو يعني څنې واپس خلو اِنَّهٗ لَيَـئُوۡسٌ كَفُوۡرٌ ۹
بیشکه چه دے خامخا نا امیده او ناشکره وي وَلَئِنۡ اَذَقۡنٰهُ نَعۡمَآءَ او خامخا که موږ په
ده وڅکو نعمت لکه صحت او فراخي بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ وروسته تر هغي سختي چه وه ده ته
رسیدلے وي لکه مرض او فقر لَيَقُوۡلَنَّ نو خامخا به دے وایي ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّىۡ ؕ
چه د ما څخه هغه سختي ولاړي چه نره به یې خفه کولم اِنَّهٗ لَفَرِحٌ بیشکه خامخا دی
ډیر خوشحاله او مغروره وي په دے نعمت سره فَخُوۡرٌ ۱۰ ډیر فخر کونکی وي پر خلکو
او وشکر څخه ددے نعمت غافله وي اِلَّا الَّذِيۡنَ صَبَرُوۡا مګر هغه کسان چه صبر کوي
پر سختي باندے دقوته دایمان او له رضا بالقضا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ او د نیکو عملونه
کوي يعني پر نعمت او نرحمت د وارو شاکران وي اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دي لَهُمۡ
مَّغۡفِرَةٌ مقرر دے دوی لره بخشش د ګناهو وَّاَجۡرٌ كَبِيۡرٌ ۱۱ او ډیر لوی اجر چه
ادنی یې جنت او اعلی یې د خدای دیدار دے .

مؤمنان په آخرت له خلد حوره سر تر پایه نعمتو کښي وي معموره
نه به یې درد نه بیمري مرګ او نه خفګان وي تل به وي په لذتو کښي مخمور

چه ناڅاپه به دید اړپړ اښکاره سے نو د خلد حور به پې ووزري دشعوره
رکوع
روایت دے چه هر کله به کفارو په رسول پورے سپکے خبرے او مسخری کولے
چه که دے واقعی رسول وے نو دا لوږے او تندے به یے نه تیرولی او دولت
او خزانه به ورله راغلے وه چه هم یے پخپله خوړلاے او هم یے و خلګو ته ورکولاے
د باچهانو په شان او یا به ملائکه ورسره راغلے وه چه دده تصدیق به یے کاوے نو
دے به په دی خبرو ډیر تنګ دله سوځکه چه ده به د رب کلام ورته وایی او دوے
به نه قبلولو بلکه پوری خندل به یے نو نازل سو فَلَعَلَّكَ نو بنایی چه ته تَارِكٌ پریښوونکی
یے او دا استفهام په معنیٰ د نهی دے یعنی مه پریږده بَعْضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ بعض دهغه
قرآن ځنځه چه وتاته رالیږل کیږے یعنی هغه ذمه د بتانو چه د مشرکانو درأیے ځنځه مخالف
دے وَضَائِقٌ بِهِ صَدْرُكَ او د هغه په ښکاره کولو سره ستا سینه تنګید ونکی ده أَن يَقُولُوا
ددے بیرے ځنځه چه دوی به وایی لَوْلَا أُنزِلَ چه ولی نه دے رالیږل سوی عَلَيْهِ كَنزٌ
پرده باندے خزانه چه وخلګو ته یے ورکوی چه تابعان یے ډیرسی أَوْ جَاءَ یا ولی نه
راځی مَعَهُ مَلَكٌ ط دده سره ملائکه د پاره د شاهدی پر نبوت دده نو ته د دوی په دے
خبرو سره خپل تبلیغ مه پریږده ځکه چه إِنَّمَا أَنتَ نَذِيرٌ ط بے شکه هم دا خبره ده چه
ته بیرونکی یے یعنی د تا ځنځه به دا انذار پوښتنه کیږے نه د دوی د اقوالوا و افعالو وَاللَّهُ عَلَىٰ
كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ (۱۲) او خدای پر هر شی شاهد او نګهبان دے أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ط بلکه
دا کافران وایی چه د ځانه ځنځه دروغ جوړوی او وایی چه وما ته وحی سوی دی د قرآن
قُلْ فَأْتُوا او ته ورته ووایه چه تاسے یې هم راوړی بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ لس سورتونه د
قرآن په شان په فصاحت او بلاغت کښے مُفْتَرَيَاتٍ د ځانه جوړکړه سوی ځکه چه قصے
او اخبار او اشعار ستاسے لا ډیر یاددی وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم او راوبولی هر هغه
څوک چه ستاسے د لاسه کیږی د مدد ګاری د پاره په دے معارضه کښی مِّن دُونِ اللَّهِ
غیر د خدای ځنځه إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (۱۳) که تاسی رشتینی یاست په دی کلام کښی چه دا

قرآن یے د خُانه جوړکړی دی فَإِلَّمْ یَسْتَجِیبُوا لَكُمْ نو كه دوی دا خبره قبوله نه کړه د
تا سره او داجمع د ضمیر د تعظیم دپاره ده یا رسول د مؤمنانو سره مراد دے
فَاعْلَمُوٓا نو پوه سی اَنَّمَآ اُنْزِلَ چه بیشکه هم دا خبره ده چه را لیږل سوی دی دا
قرآن بِعِلْمِ اللّٰهِ په هغه علم سره چه خاصه د خدای ده وَاَنْ او په دے هم پوه سے
چه لَّآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج نسته لایق د عبادت هیڅوك مگرهم دے دی فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۴﴾
نو آیا تاسے و اسلام ته غاړه ایښوونکی یاست وروسته تر دی حجت قاطعه نو غاړه
وږه ته کښیږدے مَنْ كَانَ هرڅوك چه وی د خپلی کم همتی څخه یُرِیْدُ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا چه
غواړی یوازے ددی دنیا ژوندون وَزِیْنَتَهَا او بنایست ددے په عوض دخپلو
نیکیو کښی نُوَفِّ اِلَیْهِمْ نو پوره به ورکړو موږ وددوی ته اَعْمَالَهُمْ فِیْهَا جزا ددوی
دعملو په هم دے دنیا کښی یعنے صحت او دولت اوفراخی د رزق او ډیرا ولاد به
ورکړو وَهُمْ فِیْهَا او حال داچه دوی به په دے دنیا کښے لَا یُبْخَسُوْنَ ﴿۱۵﴾ کم ورکړل
سوے به نه کیږے یعنی ددوی اجر به هیڅ نه سی ستنولای او مراد ځنے منافقان یا یهود
او نصارے یا ریا کاران دے اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ دا هغه کسان دی لَیْسَ لَهُمْ چه نسته
دوے لره فِی الْاٰخِرَةِ په هغه جهان کښی اِلَّا النَّارُ ﺻﻠﮯ مگر اور دے ځکه چه د
حسنات عوض یے په دنیا کښے اخیستی دے او سیئات یے پاته دے وَحَبِطَ مَا
صَنَعُوْا فِیْهَا او خراب سو هغه عمل چه دوی په دی دنیا کښے کړے وو ځکه چه په دے
دنیا کښے یے اجر پید آکړی او واخیستے او آخرت له خو دوی نه وو کړی وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا
او باطل دے هغه کار چه دوی وه یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ چه کاوی به یے اَفَمَنْ كَانَ آیا نو هغه
څوك چه وی دے یعنے دے تلل کوی عَلٰی بَیِّنَةٍ پر هغه واضح دلیل عقلی چه را غلے
وی ورده ته مِّنْ رَّبِّهٖ د جانبه څخه د رب دده چه د سے لاری ښوونه ورته کوی وَ
یَتْلُوْهُ او بیا په دے عقلی دلیل پسے را غلے دے شَاهِدٌ مِّنْهُ گواه ددے دلیل
د خدای د طرفه چه هغه قرآن دی وَمِنْ قَبْلِهٖ او مخکی تر دی قرآن كِتٰبُ مُوْسٰٓى کتاب د

موسیٰ وو یعنې تورات چه هغه هم شاهد وو پر صحت د دے دلیل اِمَامًا وَّرَحۡمَةً ؕ
په داسے حال کښې چه پیشوا وو په دین کښې او موجب د مهربانی وو پر منونکو
ده باندے حاصل داسے واپی چه پر ما باندی هغه شخص چه په دے صفاتو سره موصوف
دے دهغه چا په شان دے چه یوازی دنیا غواړی او اخرت ته یے بیخی شاوی
یعنې نه دے دهغه په شان اُولٰٓئِكَ داکسان چه پر دے دلیل سره وان دے يُؤۡمِنُوۡنَ
بِهٖ ؕ ایمان راوړی پردی قرٰان وَمَنۡ يَّكۡفُرۡ بِهٖ اوهرځوك چه په دی قرٰان کافر
سے مِنَ الۡاَحۡزَابِ د دی ټولیو څخه چه اهل مکه او ملګری ددوئے په عداوت د
رسول کښې فَالنَّارُ مَوۡعِدُهٗ ۚ نو ددوزخ اور وعدګاه دی دده چه بیشکه بے
شبهې به ورلره ورځی فَلَا تَكُ ته مه کیږه فِىۡ مِرۡيَةٍ مِّنۡهُ ق په شك کښې ددی قرٰان
یا ددے موعد څخه اِنَّهُ الۡحَـقُّ بیشکه چه داوعده رشتیا ده مِنۡ رَّبِّكَ دجانبه د
درب ستا وَلٰـكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ اولیکن ډیر یات خلك چه دی لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ⑰ باور
نکوے په دے خبره وَمَنۡ اَظۡلَمُ اوڅوك دی ډیرظالم مِمَّنِ افۡتَرٰى تر هغه چا
چه دغا نه څخه ترے عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ؕ پر خدای باندی دروغ چه نفی دی د وحے
یا اثبات دی دشریك دده سره اُولٰٓئِكَ يُعۡرَضُوۡنَ داکسان به د قیامت په ورځ و
د رول سے او عرض به کړه سے عَلٰى رَبِّهِمۡ پر خپل رب باندی وَيَقُوۡلُ الۡاَشۡهَادُ او
وبه وایی شاهدان یعنې کرام الکاتبین یا پیغمبران یا اعضاء هٰٓؤُلَۤاءِ الَّذِيۡنَ چه
داهغه کسان دے چه ډیره عناده څخه كَذَبُوۡا عَلٰى رَبِّهِمۡ ۚ دروغ یے تړلے دی
پر خپل رب باندی په نیولو د ولد او د شرك سره اَلَا لَعۡنَةُ اللّٰهِ واوری چه لعنت
د خدای دی وی عَلَى الظّٰلِمِيۡنَ ۙ⑱ الَّذِيۡنَ پر هغه ظالمانو یعنې کافرانو يَصُدُّوۡنَ
عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ چه اړوی خلك د لاری څخه د خدای یعنې دده ددینه څخه وَ
يَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا ؕ او ستایی دالاروخلکو ته په کوږ والی سره چه ورته وایی چه دا
لار ډیره چپه ده وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ او دوی په هغه جهان کښې هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ⑲ هم دوی بے

باوره دے أُولَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ داکسان نه دی مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ عاجزه کونکی د
خدای په مځکه کښې یعنې د عذاب لو ځنه په دنیا کښې که یې اراده وسے وَمَا كَانَ لَهُم او
نه به وی دوی لره مِّن دُونِ ٱللَّهِ غیر د خدای ځنه مِنۡ أَوۡلِيَآءَ م ددوستانو
ځنه هیڅوك چه عذاب دے ځنې دفعه کړی مګر خدای دوی پخپله پرایښی دی
وقیامت ته اوهلته بیا يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلۡعَذَابُ ط دوچنده به کړه سی ودوی ته
عذاب په قیامت کښې یعنې ډیر به پورے یات کړه سی ددی جهته چه مَا كَانُواْ نه وه
دوی په دنیا کښې يَسۡتَطِيعُونَ ٱلسَّمۡعَ چه طاقت یې وای داوریدلو یعنې دحق د
اوریدلو ځنه کانړه وه وَمَا كَانُواْ اودوی نه وه يُبۡصِرُونَ (۲۰) چه لیدلی یې وای
نښې دقدرت دجهته د ړوند والی أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ داهغه کسان دے خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
چه زیان یې رسولی دے وخپلو ځانو ته چه دخدای عبادت یې د بتانو په عبادت
بدل کړے وَضَلَّ عَنۡهُم اوورك سو ددوی ځنه مَّا كَانُواْ هغه چه دوی وه يَفۡتَرُونَ (۲۱)
چه دروغ به یې ویل په دنیا کښې چه دا بتان زموږ شفاعتګردے لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ
نشته هیڅ شبه په دی کښې چه بیشکه دوی فِي ٱلۡأٓخِرَةِ په هغه جهان کښې هُمُ
ٱلۡأَخۡسَرُونَ (۲۲) هم دوی زیانکاران دے إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بیشکه هغه کسان
چه ایمان یې راوړے دی وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ اوعملونه دنیکوکوی وَأَخۡبَتُوٓاْ
اوارام یې بیولے دی اود هرځنه یې ځان راشکولے دی إِلَىٰ رَبِّهِمۡ لا ویادګیری
اوعبادت ته د رب خپل أُولَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ ج داکسان اوسیدونکی دجنت دی
هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ (۲۳) دوے به په دی جنت کښې همیشه وے مَثَلُ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ مثال
اوحال ددے دواړو طائفو دکافرانو اودمؤمنانو چه دے كَٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡأَصَمِّ
دکفارو دادا سے دی لکه ړوند اوکوڼ یعنې داکفار ړند دہ او هم کانړه
دے چه نه د قدرت نښې وینی اونه کلام دحق اوری وَٱلۡبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِ ط اود
مؤمنانو دادا سے دی لکه لیدونکی اواوریدونکی یعنې دامؤمنان نښې د

وقف لازم

۲ قدرت وینی او کلام د حق اوری نو ځکه عبرت په اخلی هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًاؕ ایا دا دواړه
ع ۱۶ طائفې په دوه شان والی کښې سره برابرې دې یعنې نه دې سره برابرې اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾
۲ ایا نو تاسې په دې مثالو سره پند نه اخلئ او فکر نه پکښې کوئ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا او خامخا
په تحقیق سره موږ رالیږلې وو نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖۤ نوح خپل قوم ته او ورته یې وویل
اِنِّیْ لَكُمْ چه بیشکه زه وتاسې ته نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۵﴾ ښکاره بیروونکی یم چه عذاب او ثواب
دواړه درته بیانوم او دا درته وایم اَنْ لَّا تَعْبُدُوْۤا دا سې چه عبادت مه کوئ د هیچا اِلَّا اللّٰهَ ؕ
مګر یوازې د خدای اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَیْكُمْ بیشکه زه بیریږم پر تاسې که د بل چا عبادت وکړئ
عَذَابَ یَوْمٍ اَلِیْمٍ ﴿۲۶﴾ د عذابه ځینې د هغه ورځې چه دردناکه ده یعنې عذاب د هغې دردناکه
دې فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِیْنَ نو مشرانو وویل كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ چه کافران وه د قوم ځینې دده
مَا نَرٰىكَ چه موږ تا نه وینو اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا مګر یو سړی زموږ په شان وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ
او بیا موږ تا دا سې نه وینو چه متابعت کړې دې ستا بل هیچا اِلَّا الَّذِیْنَ مګر یوازې هم
هغه کسانو هُمْ اَرَاذِلُنَا چه دوی هغه کم پایه او خسیسان زموږ دې بَادِیَ الرَّاْیِ ۚ
چه سرسری فکره دې او عقل نه لري چه عاقبت ته د کار نظر وکړي وَمَا نَرٰى لَكُمْ او نه
وینو موږ تاسې لره یعنې تا او ستا تابعانو لره عَلَیْنَا مِنْ فَضْلٍ پر موږ باندې هیڅ قدر
بهتری چه ستا متابعت وکړو بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِیْنَ ﴿۲۷﴾ بلکه موږ پر تاسې د دروغجنو
ګمان کوو قَالَ یٰقَوْمِ وویل نوح چه اې زما قومه اَرَءَیْتُمْ ایا تاسې وینئ نو ما هم خبر
کړئ اِنْ كُنْتُ که زه یم عَلٰى بَیِّنَةٍ پر ښکاره دلیل ولاړ مِّنْ رَّبِّیْ د طرفه ځینې د
خپل رب چه زما د دعوی پر صحت شاهد دی وَاٰتٰىنِیْ رَحْمَةً او ده وما ته عطا راکړې
ده مِّنْ عِنْدِهٖ د خپله جانبه ځینې چه نبوة دې فَعُمِّیَتْ عَلَیْكُمْ ؕ نو پټ کړه سوی دی
پر تاسې دا دلیل اَنُلْزِمُكُمُوْهَا ایا موږ تاسې وقبلولو دې دلیل ته تړو وَاَنْتُمْ لَهَا
او حال دا چه تاسې و دې حجت ته كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾ غوښتونکی نه یاست او په خفه کیږئ
وَیٰقَوْمِ او اې زما قومه لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ مَالًا ؕ زه نه غواړم د تاسې ځینې پر دې

تبلیغ ئخه مبلغ چه پرتا سے یے اداء سخته ده نو ځکه د ما ئخه تبنتیږی اِنْ اَجْرِیَ نه دے
اجرزما اِلَّا عَلَی اللّٰهِ مگر پر خدای دی بیا یے قوم ورته وویل چه موږ په دی خوار او
شرمیږو چه ستا مجلسیان دی نو که موږ د رغوار ے نو دوی به د ځان ئخه شړی
اوده په جواب کښی ورته وویل وَمَآ اَنَا اوزه نه یم بِطَارِدِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا شړونکے
د هغو خلکو چه ایمان یے راوړی دی اِنَّهُمْ بیشکه چه دوی مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ ملاقات
کونکی دے د خپل رب سره او مقربان دده دی نوزه یے څرنگه وشړم وَلٰکِنِّیْٓ اَرٰىکُمْ
اولیکن زه تاسی وینم قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ (۲۹) دا سے قوم چه نا پوهی کوی وَیٰقَوْمِ ای زما قومه
مَنْ یَّنْصُرُنِیْ څوك به د ما سره مدد گاری وکړی چه و می ساتی مِنَ اللّٰهِ د خدای
ئخه یعنی د عذابه ئخه دده اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ط که زه دوی وشړم اَفَلَا تَذَکَّرُوْنَ (۳۰) ایا نو
تاسے پند نه اخلی بیا دوی ورته وویل چه د استا تابعان په باطن کښی ستا سره مخالف
دی نوده په جواب کښی ورته وویل وَلَآ اَقُوْلُ لَکُمْ اوزه وتاسے ته نه وایم عِنْدِیْ
خَزَآئِنُ اللّٰهِ چه د ما سره خزانی د علم د خدای دی وَلَآ اَعْلَمُ الْغَیْبَ اوزه نه پوهیږم
په غیب سره چه د خلکو په زړونو او زړه و خبر سم وَلَآ اَقُوْلُ اِنِّیْ مَلَكٌ وَّلَآ اَقُوْلُ لِلَّذِیْنَ
اوزه نه وایم داچه فرشته یم او نه دا سے وایم زه په حق کښی د هغو کسانو تَزْدَرِیْٓ
اَعْیُنُکُمْ چه په سپك نظر سره ورته گوری ستر گی ستاسے د مؤمنانو نادارانو ئخه لَنْ
یُّؤْتِیَهُمُ اللّٰهُ خَیْرًا ط چه د سره به خدای ودوی ته خیر ورنه کړی ځکه چه دوی اخرت
غوره کړی دی او هغه معاشونه و یرغوره دی د دنیا تر معاشو اَللّٰهُ اَعْلَمُ خدای بنه
پوهیږے بِمَا فِیْٓ اَنْفُسِهِمْ په هغه صدق او اخلاص سره چه د دوی په زړونو زړونو
کښی پروت دی اِنِّیْٓ اِذًا بیشکه چه زه یم په دغه وخت کښی چه داسی ووایم لَّمِنَ
الظّٰلِمِیْنَ (۳۱) خامخا به د ظالمانو ئخه سم قَالُوْا یٰنُوْحُ بیا دوی وویل چه اے نوحٔ قَدْ
جٰدَلْتَنَا په تحقیق سره د موږ سره دی جگړه وکړه فَاَکْثَرْتَ جِدَالَنَا نو تا ډیره کړه
دا جگړه زموږ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ نو ته و موږ ته راوړه هغه عذاب چه د موږ سره

یې وعده کوې اِنۡ كُنۡتَ مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ﴿۳۲﴾ كه ته یې د رشتینو څخه په دې وعید کښې
قَالَ نوح ورته وویل اِنَّمَا يَاۡتِيۡكُمۡ بیشکه همدا خبره ده چه راته به یې راولي وتاسې ته بِهِ
اللّٰهُ اِنۡ شَآءَ خدای هغه عذاب که یې اراده وشي اوس یا په قیامت کښې وَمَاۤ اَنۡتُمۡ
او نه یاست تاسې که دا عذاب راغلی بِمُعۡجِزِيۡنَ ﴿۳۳﴾ عاجزه کونکي د خدای که یې راوستې
وَلَا يَنۡفَعُكُمۡ نُصۡحِىۡۤ او صحیح نفع نه رسوي وتاسې ته نصیحت زما اِنۡ اَرَدۡتُّ که زه
اراده وکړم اَنۡ اَنۡصَحَ لَـكُمۡ د دې چه زه وتاسې ته نصیحت وکړم اِنۡ كَانَ اللّٰهُ يُرِيۡدُ
که خدای وي چه د دې اراده لري اَنۡ يُّغۡوِيَكُمۡ ؕ چه تاسې ګمراه کړي هُوَ رَبُّكُمۡ هغه دی
ستاسې رب دی هر هغه چه غواړي هغه کولای شي د تاسې سره وَاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۳۴﴾
او بیا بېرته هم ورته به بیول کیږئ وروسته تر مرګ په قیامت کښې اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ
افۡتَرٰٮهُ ؕ بلکه دوی وایي چه دې د ځان نه دروغ جوړ وي قُلۡ اِنِ افۡتَرَيۡتُهٗ
ته ورته ووایه که ما د ځان څخه دا وحی جوړه کړې وي په دروغو سره فَعَلَىَّ اِجۡرَامِىۡ
۳ ع ۱۱ ۳ نو یوازې په ما دې وبال د دې خپلې ګناه وَاَنَا بَرِىۡٓءٌ او زه بیزاره یم مِّمَّا تُجۡرِمُوۡنَ ﴿۳۵﴾
د هغه ګناه څخه چه تاسې یې کوئ چه ما مفتري بولي وَاُوۡحِىَ اِلٰى نُوۡحٍ او وحي وکړه سوې
ونوح ته اَنَّهٗ چه بیشکه شان دا دې لَنۡ يُّؤۡمِنَ چه ایمان به رانه وړي د سره تر دې
وروسته هیڅوک مِنۡ قَوۡمِكَ ستا د قوم څخه اِلَّا مَنۡ قَدۡ اٰمَنَ مګر هغه څوک چه په
تحقیق سره ایمان یې راوړې دی محکی تر دې فَلَا تَبۡتَئِسۡ نو مه د لګیره کیږه بِمَا
كَانُوۡا په هغه تکذیب او ایذا سره چه دوی دې يَفۡعَلُوۡنَ ﴿۳۶﴾ چه کوي او رسوي
یې وتا ته ځکه چه وخت د انتقام یې را نژدې سوی دی وَاصۡنَعِ الۡفُلۡكَ او
کښتی جوړه کړه بِاَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا زموږ په نګهبانې سره او زموږ په پیغام سره
د کوترې په شکل وَلَا تُخَاطِبۡنِىۡ او وما ته مخ مه راګرزوه د شفاعت د پاره فِى
الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا ۚ په حق کښې د هغو کسانو چه کافران سوي دي د پاره د دفع کولو
د عذاب د دوې څخه اِنَّهُمۡ مُّغۡرَقُوۡنَ ﴿۳۷﴾ چه بیشکه چه دوی غرقیدونکي دي

روایت دے چه هر کله نوح علیه السلام د کښتۍ په جوړولو سره مامور سو او ده لرګی
وغوښتل نو امر ورته وسو چه د ساج ونې وکره بیا چه ده وکرلې نو تر شلو کالو هغه
هم لوے سوی او ده دوی واره «کرچنی» هلکان هم بلوغ ته ورسیدل او د خپلو پلر و
تابع سو او باقی قول شند سوه نو بیا یې داونې پریکړے او په کښتۍ جوړولو یې شروع
وکړه لکه چه وایې وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ قف او ده به کښتۍ جوړوله وَكُلَّمَا مَرَّ او هر کله چه به
تیرید له عَلَيْهِ مَلَأٌ پرده یوه له د مشرکانو مِنْ قَوْمِهٖ د ده قوم څخه سَخِرُوْا مِنْهُ ط نو
پرده به یې مسخرے کولې چه اول پیغمبر وی او اوس نجار سوے او دا ځای د اوبو
څخه ډیر لیری وه نو دوی به ورته ویل چه اوبه به د کوم ځای کړے قَالَ نو نوح ووېل
اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا که تاسے په موږ پورے مسخرے کوئے فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ نو بیشکه
موږ به یې هم په تاسے پورې وکړو كَمَا تَسْخَرُوْنَ ﴿۳۸﴾ لکه چه تاسی اوس په موږ
پورے مسخرے کوی فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ لا نو ژر ده چه تاسی به معلوم کړے مَنْ
يَّاْتِيْهِ هغه څوک چه ورله راحٔی عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ داسے عذاب چه دے شرموی او
رسوا کوی یې چه غرق دے وَيَحِلُّ عَلَيْهِ او راکښته کیږے به پرده باندی عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۳۹﴾
دائم عذاب چه خرق دے په اخرت کښے بیا نوح د کښتۍ تر جوړیدو وروسته دانور
اسباب د ګذران «ژوند تیرولو» په دوه کاله کښی برابر کړه حَتّٰى تر هغو پورې اِذَا جَآءَ
اَمْرُنَا چه راسی د موږ امر راغلے وَفَارَ التَّنُّوْرُ لا او راوخوټیدے داوبو هغه تنور چه
بی بی حواء به پکښی ډوډیل کوله او د تیږی «ډبری» څخه وو او هغه بیا و نوح ته په میراث
کښی راغلے وو بیا چه عذاب شروع سو نو قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا موږ ورته وویل چه سپاره
کړه په دی کښتۍ کښی مِنْ كُلٍّ د هری نوعی څخه د حیوانانو چه نفعه پرا خیستل کیږی
زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ دوه دوه یعنے نر او ښځه او لفظ د اثنین محض تاکید دے وَاَهْلَكَ
اِلَّا مَنْ او خپل عیال دے هم سپور که مګر هغه څوک د دوی څخه مه سپروه سَبَقَ
عَلَيْهِ الْقَوْلُ چه لمړے «اول» سوی دی پر هغه باندی حکم د غرق چه کنعان او مور یې

ده چه راغله نومیده ځکه چه دواړه کافران وه وَمَنْ اٰمَنَ ط او بل هغه څوك هم
سپاره کړه چه ایمان یې راوړے دی ستا د قوم څخه وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗۤ او ایمان نه
وو راوړے د ده سره اِلَّا قَلِیْلٌ ﴿۴۰﴾ مګر لږ خلګو او د دوی په عدد کښې اقوال ډیر
دے اما آخری قول دا دے چه یو پنځله نوح و او یوه یې مسلمانه ښځه وه او درے
یې زامن وه سام، حام، یافث او درے د دوی ښځې وی نو دا ته سول او د قوم څخه
یې شپږ دیرش نارینه او شپږ دیرش یې ښځې وی او تول اتیا سوه وَقَالَ ارْكَبُوْا
فِیْهَا او نوح ع وویل تولو ته وویل چه سپاره سئ په دے کښتئ کښې چه طول یې
دری سوه یا ز را او دوه سوه ګزه وو او عرض یې پنځوس یا شپږ سوه ګزه وو او
ارتفاع یې دیرش ګزه او خانے یې درے وی په لاندی خانه کښې د مرغانو اقسام
وه او په مینځ کښې یې انواع د بهایمو او د سباعو وه او په سر کښې دوی پخپله وه
سره د خپلو اسبابو او خلوینت شپې او ورځې به د تول عالم څخه او به راختلې کیدی
او د تول اسمان څخه به هم را اوریدے چه تول روی زمین سره او به سوا او دا او به
دو نه پورته وختے چه په هغه اعظم د جبالو (پر هغه لوی غرو) چه دوه نیم فرسخه کیږی
پنځلس ګزه لوړی وختی او کښتئ د او به پر سر سوه او نوح وویل چه دا سے ویل کوی
بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا چه په نامه د خدای سره د دی روانول دے وَمُرْسٰىهَا ط او درول
د دے دی یعنے چه د روانولو اراده یې وکړے نو بسم الله وو وایه نو روانه به سی او
بیا چه د درولو اراده یې وکړے نو بسم الله هم ووایه نو و به دریږے اِنَّ رَبِّیْ بیشکه چه
رب زما لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۴۱﴾ خامخا بخښونکی او مهربانه دے پر مؤمنانو بانده چه
د غرقه څخه د طوفان یې خلاص کړی دی وَهِیَ تَجْرِیْ بِهِمْ او دا کښتئ به روانه
وه د دوی سره یعنی دوی به یې دا او بو پر سر ګرځوله فِیْ مَوْجٍ په موجو (څپو) کښې یعنے
په څپو او په خیزو د او بو کښې چه دا څپې په جګوالی کښې دا سے وی كَالْجِبَالِ تند لکه
غرونه وَنَادٰی نُوْحُ ۨ ابْنَهٗ او ناری کړے نوح وخپل زوی ته چه کنعان وو وَ

كَانَ فِي مَعْزِلٍ او حال دا چه دا كنعان وو پر څنګ د كښتۍ او یا بېزاره د خپل پلار
د دینه څخه او ده د مسلمانان پر کاوے څکه یے ورته وویل چه یٰبُنَیَّ ارْكَبْ مَّعَنَا اے زویکیه
زما راسه د مونږ سره په کښتۍ کښې سپور سه چه د غرقه څخه په امان سے وَلَا تَكُنْ او مه
کیږه ته مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۲﴾ د کافرانو سره چه غرق به سی قَالَ سَاٰوِيْٓ نو کنعان وویل زه ژر دی
چه زه به پناه ور وړم او هسك ،، پورته ،، به شم اِلٰى جَبَلٍ د کوم غره ته يَّعْصِمُنِيْ نو ما
به وساتے مِنَ الْمَآءِ ط د اوبو څخه چه پکښې غرق نسم قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ نو نوح وویل
چه نن ورځ دے هیڅوك ساتونکی نسته مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ د عذابه څخه د خدای اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ج
مګر یوازی هم هغه څوك ساتونکی دے چه همیشه پر خپلو بندګانو مهربانی کوی او دا
پلار او زوی لا سره په دے بحث کښې وه چه ناګاه اوبو جولان وکی وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ
او پرده سوه دوی دواړو په مینځ کښے د طوفان څپه فَكَانَ نو دا کنعان سو مِنَ
الْمُغْرَقِيْنَ ﴿۴۳﴾ د غرق سو د تولی څخه روایت دی چه هرکله نوح د رجب د میاشتے
پر لسمه نیټه د کوفے یا د هند یا د جزیرے څخه سپور سوی وو او شپږ میاشتی دا کښتی
پر اوبو ګرځیده او پر تمام روے زمین ،، پر قرار غ دځمکی ،، ګرځیده سره د ګرځوندی شی ،، یا ته نه سو غیر د
دے کښتۍ څخه بیا چه د رب اراده وسوه د طوفان د بس کولو نو امر یے وکړے لکه چه وایی
وَقِيْلَ او وویل سو یعنے پروردګار وځمکی ته وویل چه يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ ای
ځمکی بیرته د رجذب کړه خپلی اوبه وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ او اے آسمانه نور بس که مه
اوریږه وَغِيْضَ الْمَآءُ او کمی کړه سوی اوبه د مخه څخه د ځمکی وَقُضِيَ الْاَمْرُ او ترسره
کړه سوه هغه وعده چه رب العزة کړے وه د نوح سره د هلاك د قوم وَاسْتَوَتْ
او کښتۍ ودریده عَلَى الْجُوْدِيِّ پر جودی غره باندی چه د موصل څخه دی د عاشورے
په ورځ وَقِيْلَ بُعْدًا او وویل سو چه هلاك دی سی او رټلی دی یی ورك سی
لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ دوی دظالمانو وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ او نارغ وکړی یعنے سوال
وکړی نوح د خپل رب څخه فَقَالَ رَبِّ نو وی ویل چه اے زما ربه اِنَّ ابْنِيْ

بیشکه دا زما زوی چه کنعان وو مِنْ اَهْلِيْ زَ ما د اهل څخه وو او تا وعده کړې وه
چه ستا عیال به نه هلاکوم او دے خو هلاك سو وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ او بیشکه
ستا وعده رشتیني ده وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۴۵﴾ او ته حاکم عالم او عادل یې تر
تولو حکم کوونکی قَالَ يٰنُوْحُ اِنَّهٗ نو رب العزت وویل چه اے نوحؑ بیشکه دا کنعان
چه دے لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ نه دے حساب ستا د عیال له څخه چه اِنَّهٗ عَمَلٌ بیشکه
دے د هغه عمل خاوند دے او دا ځکه چه دا کلام په حذف د مضاف سره دی یعنے
ذُو عَمَلٍ غَيْرُ صَالِحٍ لَّكَ چه نیك نه دے ځکه چه پټ د تا څخه کافر وو فَلَا تَسْئَلْنِ نو
دوباره د ما څخه سوال مه کوه مَا لَيْسَ لَكَ د هغه شي چه تا لره نه وي بِهٖ عِلْمٌ ؕ د
پر هغه شي باندی پوه په دے چه د دی شي سوال روا دے او که نه دی اِنِّيْٓ
اَعِظُكَ بیشکه زه و تا ته پند درکوم او منع کوم دِی اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۴۶﴾
د دے چه د نادانانو څخه سے په نالایقو سوالو سره قَالَ رَبِّ نو نوحؑ وویل چه ای زما
رب اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ بیشکه زه پناه غواړم په تا پوری اَنْ اَسْئَلَكَ د دی چه زه
سوال وکړم د تا څخه مَا لَيْسَ لِيْ د هغه شي چه ما لره نشته بِهٖ عِلْمٌ ؕ پر هغه شي
باندی پوه یعنے په جواز د سوال د هغه وَاِلَّا تَغْفِرْ لِيْ او که بخښنه و نه کړی ته و ما ته
وَتَرْحَمْنِيْٓ او رحم و نه کړے پر ما باندی اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۴۷﴾ نو زه به سم د زیانکارانو
څخه قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بیا وویل سوه چه اے نوحؑ راکښته سه د کښتی څخه بِسَلٰمٍ
مِّنَّا سره د اسلامه یا سره د سلامتی د غرق څخه زموږ د طرفه او جانبه څخه وَبَرَكٰتٍ
عَلَيْكَ او سره د برکتو پر تا باندے یا د ډیروالي ستا په نسل کښے ځکه چه تر قیامته هم
دده اولاد روان دے دا سے چه عرب او فرس د سام اولاد دے او هند د حام د ه
او ترك د یافث د ه نو ځکه دے آدم ثانی بلل کیږے او د نورو مسلمانانو اولاده
نه ده پاته سوے وَعَلٰٓى اُمَمٍ او هم دا سے سلام او برکتونه دی وے پر هغو څو
طایفو چه وروسته تر دے به پیدا کیږے تر قیامته پوری مِّمَّنْ مَّعَكَ ؕ د

هغه چاچه د تا سره دی په کښتۍ کښې یعنی ستا زامن او مراد هغه طائفې د ے
چه مؤمنان دی وَأُمَمٌ او یو څو نورې طائفې به هم وی چه پیدا سوی وی د دی
زامنو څخه سَنُمَتِّعُهُمْ ژر د ے چه مونږ به دوی بهره من کړو په د نیا کښې په
فراخ رزق او په بنه عیش سره ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا بیا به ورسیږی و دوی ته زموږ
د جانبه څخه عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۴۸﴾ عذاب دردناکه مراد ځنې کفار دی تِلْكَ دا قصه د
نوحؑ چه ده مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ د بعضی اخبارو د غیب څخه ده نُوحِيهَا إِلَيْكَ چه
مونږ یې لیږو و تا ته اے رسوله په واسطه سره د جبرائیلؑ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا ته
نه وی داسې چه پوهیدے په دی قصه سره أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ نه ته او نه قوم ستا
مِن قَبْلِ هَٰذَا ۖ مخوا تر دے اخباره زموږ فَاصْبِرْ ۖ پس صبر کوه په رسولو د پیغام
سره او پر ایذا د قوم د نوحؑ په شان إِنَّ الْعَاقِبَةَ بیشکه بنه خاتمه چه ده
لِلْمُتَّقِينَ ﴿۴۹﴾ پرهیزګارانو لره ده وَإِلَىٰ عَادٍ او لیږلے وه مونږ و قوم ته د عاد ع ۴
أَخَاهُمْ هُودًا ۚ ورور د دوی یعنی د خپله خیله څخه «د خپلی نسبی څخه» یې هودؑ قَالَ ده
وویل يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ اے زما قومه یوازی د خدای عبادت کوی ځکه چه مَا
لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ نسته تاسی ته معبود هیڅوک غَيْرُهُ ۖ بیله ده څخه او تاسے شریکان ورلره
پیدا کوے إِنْ أَنتُمْ تاسے نه یاست إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿۵۰﴾ مګر د رواغ تړونکی پر خدائے
چه نسبت د شریکانو ده ته کوی يَا قَوْمِ اے زما قومه لَا أَسْأَلُكُمْ زه نه غواړم د
تاسے څخه عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ پر دی تبلیغ د رسالت څه اجرت إِنْ أَجْرِيَ نه دی اجر زما
إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي ۚ مګر پر هغه خدای چه زه یې پیدا کړی یم أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿۶۰﴾
آیا نو تاسے خپل عقل او فکر نه کوی چه حق د باطل څخه جلا کړی او رشتینی د دروغجنه
څخه روایت دی چه هر کله عادیانو دعوت د هودؑ قبول نه کړی نو دری کاله
باران پر بند سو او دوی هم تولد شند سوه او نسل یې قطعه سو او ډیر تنګ
سول په دے نو هودؑ ورته وویل چه استغفار وکړی او توبه وکاږی لکه چه

عه په مدد کولو سره په دنیا کښې په لوړو مرتبو ورکولو سره په آخرت کښې ۱۲

وایئ وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا او اے زما قومه بخښنه وغواړی رَبَّكُمْ د خپل رب څخه
د ایمان په راوړلو سره ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ بیا رجوع وکړئ ټوله ورته د بل چا د
عبادت څخه دده دپاره يُرْسِلِ السَّمَآءَ چه دی اسمان راولیږی عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا
پرتاسو به ډیر هاری سره یعنی په شیبو باران به دربانده راوه اوروی د
اسمانه څخه وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اوزیات به کړی تاسو د جهته د قوته اِلٰى قُوَّتِكُمْ
ستاسو په قوت پوری یعنی چه اولاد هم درلره ډیر کړی او دهغو قوت ستاسو
د قوت سره ضم سی نو پر دښمنانو به غالب سی وَلَا تَتَوَلَّوْا او شا مه کوی ماته
او دعوت زما ته مُجْرِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ په داسو حال کښی چه کلك یاست پر خپلو ګناهو بانده
قَالُوْا يٰهُوْدُ دوی وویل اے هوده مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ تا نه دی راوړی وموږ
ته یو داسو دلیل او حجت چه ستا د دعوې پر صحت دلالت وکړی سره ددې
چه ده معجزه ورښکاره کړې وه مگر په هغې ئې اکتفاء نه وه کړې وَمَا نَحْنُ او نه یو
موږ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا پریښودونکی د خپلو خدایانو یعنې د عبادت یې عَنْ قَوْلِكَ ستا
په ویلو سره چه لا ته وایې چه د بتانو عبادت پریږدی او یوازی د خدای عبادت
کوی وَمَا نَحْنُ او موږ نه یو لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ پرتا ایمان راوړونکی اِنْ نَّقُوْلُ نه
وایو موږ هیڅ اِلَّا اعْتَرٰىكَ مگر هم دا وایو چه رسولی دی وتا ته بَعْضُ اٰلِهَتِنَا
بِسُوْٓءٍ د بعضو زموږ د خدایانو څخه جنون یعنی زموږ و خدایانو ته دے نړدوی
کوله او نه دے منل نو ته یئ لیونے کړی نو ځکه داسو بړنی وایی قَالَ نو هود وویل
اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ چه بیشکه زه خدای شاهد کوم وَاشْهَدُوْٓا اَنِّيْ او تاسو هم
شاهدان اوسی پردی چه بیشکه زه بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ بیزاره یم د هغه
خدایانو څخه ستاسو چه دده سره یې شریکوی مِنْ دُوْنِهٖ غیر دده څخه فَكِيْدُوْنِيْ
نو د مکر حیلی او فریب خپل تمام کړئ زما په اهلاك کښی جَمِيْعًا ټوله یعنی
تاسو و خپلو خدایانو سره ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾ نو بیا وما ته هیڅ قدر انتظار

عه یعنی دلیونو په شان خبری کوی ۱۲

مه کوے او هرڅه چه ستاسے مقتضیٰ وی هغه قوله را باندے وکړی اِنِّیْ
تَوَکَّلْتُ عَلَی اللّٰهِ بیشکه ما تکیه او اعتماد کړے دی پر هغه خدای رَبِّیْ وَرَبِّکُمْ ط
چه هغه رب زما او ستاسے دے نو د تاسے څخه هیڅ نه بیریږم سره د دی قوت
او شوکته او کثرته ستاسے او د هغو خدایانو څخه می څه خوف «بیره» کیږے چه
جمادات دی مَا مِنْ دَآبَّةٍ نسته هیڅ ګرزیدونکی په عالم کښی اِلَّا هُوَ اٰخِذٌ م
مګر دے نیونکی دی بِنَاصِیَتِهَا ط په ویښتانو سره د تنډی د ده او دا کنایت دی د
ملك او قدرته او غلبی څخه پر تصرف د هر زنده سره اِنَّ رَبِّیْ بیشکه زما
رب چه دے عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ۵۶ پر حق برابر دی یا پر حقه لار سړی برابروی
فَاِنْ تَوَلَّوْا نو که تاسے وګرځئ او زما دعوت و نه منی فَقَدْ اَبْلَغْتُکُمْ نو په تحقیق
سره ما و تاسے ته ورسولو مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ هغه پیغام چه زه په هغه سره رالیږل
سوے وم اِلَیْکُمْ ط و تاسے ته چه هغه رابلل وه و توحید ته او هرکله چه تاسے نه
کړی قبول نو تاسے به خدای هلاك کړی وَیَسْتَخْلِفُ رَبِّیْ او خلیفه به کړی زما
رب یعنی ستاسے پر ځای به . راولی قَوْمًا غَیْرَکُمْ خلك ماسیوا د تاسی څخه
وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَیْئًا ط او تاسے به و ده ته ضرر و نه رسوی د هیڅ شی اِنَّ رَبِّیْ
بیشکه رب زما عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ حَفِیْظٌ ۵۷ پر هر شی نګهبان دے او هرکله
چه دے قوم په هیڅ شان و توحید ته غاړه کښینه ښووه نو عذاب پرراغلے
لکه چه وایی وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا او هرکله چه زموږ عذاب راغلے نَجَّیْنَا هُوْدًا
نو موږ وساتی د دے عذابه څخه هود ع وَّالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ او هغه کسان هم
چه د ده سره یې ایمان راوړے وو چه څلور زره خلك وو بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ج په
هغه مهربانی سره چه د موږ څخه وه پر عمل د دوی وَنَجَّیْنٰهُمْ او موږ دوی وساتل
مِّنْ عَذَابٍ غَلِیْظٍ ۵۸ د هغه سخت عذاب څخه چه هغه د دوزخ ګرم باد وو چه
په پزه به یې ننوتے او د بری څخه به یې راووتی او د دوی اندامونه به یې

متوتی متوتی کړه وَتِلْكَ عَادٌ ف اودا په قبرو کښې پراته اودا نزيد لی کنډوالی داحقاف
عاد دی جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ چه منکر سوی وه په ایاتو سره دخپل رب وَعَصَوْا
رُسُلَهٗ او بې فرمانی يې وکړه د رسولا نو دده اودا ځکه چه نه منل دیوه رسول
داسی دی لکه نه منل دټولو رسولا نو وَاتَّبَعُوْٓا او پیروی یې وکړه اَمْرَ كُلِّ
جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۵۹﴾ دفرمان دهرجبار معاند یعنی دخپلو مشرانو منتا بعت یې کولو
داسې مشران چه د ډیره عناده به یې خلق په قهراو جبر سره دخدای دلاری څخه
اړول وَاُتْبِعُوْا اووه لیږل سو په دوی پسی فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً په دنیا
کښې لعنت وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط او په ورځ دقیامت هم یعنی په دواړو جهانو کښې
لائق دلعنت سوه اَلَآ اِنَّ عَادًا واوری بیشکه عادیان چه دی كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ط
کافران سوی وه پخپل رب پوری اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ بیا واوری چه لیریوالی دی
۵ ع ۱۱ عاد یانو لره د رحمت څخه قَوْمِ هُوْدٍ ﴿۶۰﴾ چه قوم دهود وو وَاِلٰى ثَمُوْدَ اولیږلے
وو موږ ثمود ته اَخَاهُمْ صٰلِحًا م ورور ددوی یعنی دخپل خیله اودخپلے ښبی څخه
یې وه چه صالح وو قَالَ ده وویل يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ ای زما قومه عبادت کوی
یوازی دخدای ځکه چه مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ نسته تاسی لره معبود غَيْرُهٗ ط بیله ده
هُوَ اَنْشَاَكُمْ هم ده پیداکړی یاست تاسې مِّنَ الْاَرْضِ دمځکی څخه ځکه چه ادم م
او ستاسې د نطفی ماده دواړه دخاورو څخه دی وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا اواوږده
عمرونه اوښه وند اوبقایې درکړی ده وتاسې ته په دی مځکه کښی لکه چه صاحب
دمدارك ویلی دې چه ددوی عمرونه به ددرې سو څخه تر زرو کلو پوری وه
یا معنیٰ داچه تاسې يې ابادی کونکی پیداکړی یاست په دې مځکه کښی لکه عمارت
دامصارو اوحفر دانهارو اوغرس دا شجارو «اېښودل ددرختو» فَاسْتَغْفِرُوْهُ نو
بخښنه وغواړی دده څخه په راوړلو سره دایمان ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ط بیا رجوع
وکړی وده ته دعبادت څخه دبل چا اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ بیشکه رب زما نژدی دی

د جهته د رحمت وامید وارانو ته مُّجِيبٌ ﴿۶۱﴾ قبلونکی د ے د دُعا قَالُوا يٰصٰلِحُ دوی وویل
چه اے صالحؑ قَدْ كُنْتَ په تحقیق سره ته وی فِيْنَا مَرْجُوًّا په موږ کښې امید کړه سوی
یعنې په تاکښې به ښې د رُشد او د پختګی خلید لی وموږ ته قَبْلَ هٰذَآ مخکې تر دی
دعوے او اوس زموږ طمع د رخځه قطع سوه په دے دعوے سره اَتَنْهٰنَآ آیا ته
موږ منع کوی اَنْ نَّعْبُدَ د دی ځخه چه موږ عبادت کوو مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا د هغه بتانو
چه زموږ پلرونه یے عبادت کولو وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ او بیشکه موږ خامخا په شک
کښے لوید لی یو مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ د هغه توحید ځخه چه ته موږ وهغه ته بولی
مُرِيْبٍ ﴿۶۲﴾ دا سے شك چه په اضطراب او په بے ارا ی کښی سړی اچوی قَالَ
يٰقَوْمِ بیا صالحؑ وویل چه اے زما قومه اَرَءَيْتُمْ آیا تا سے وینی نو ما ته خبر کړی
اِنْ كُنْتُ چه زه یم عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ پر ښکاره دلیل د طرفه ځخه دخپل رب
وَاٰتٰنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً او ده راکړے دی وما ته دخپل فضل ځخه رحمت یعنې پیغمبری
فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ نو څوك د ے چه زما مددګاری به وکړی او ما به خلاص کړے
مِنَ اللّٰهِ دخدای ځخه یعنې دعذابه ځخه بِي اِنْ عَصَيْتُهٗ تن که زه بے فرمانی وکړم
د ده ځخه په رسولو د پیغام تبنی او عجیبه دا چه زه تاسے وخدای ته بولم او تاسے
ما وبتانو ته بولی فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ نو تاسے نه زیاتوی ماله غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ﴿۶۳﴾ هیڅ شی
غیر د زیانکاری ځخه وَيٰقَوْمِ او اے زما قومه هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ دا اوښه د خدای
ده چه ده پیدا کړے ده لَكُمْ اٰيَةً وتاسے لره په داسی حال کښی چه ده د قدرت
کامله نښه ده فَذَرُوْهَا نو دا پریږدی تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ چه خوراك کوی او
څری د خدای په ځمکه کښی یعنې روزی د خدای خوری او شیدی وتاسے ته درکوی
نو یے پریږدی وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ او لاس مه وروړی ودی ته په نیت د بدی
سره ځکه چه که تاسے ودی ته بد اختیار کړی فَيَاْخُذَكُمْ نو به تاسے وه نیسی
عَذَابٌ قَرِيْبٌ ﴿۶۴﴾ نژدی عذاب یعنې متصل په دی ازار ولو پسی فَعَقَرُوْهَا

نو دوی دا او بنه حلاله کړه دچا رشنبی په ورځ فَقَالَ تَمَتَّعُوْا نو صالح ورته
وویل چه ژوندی اوسی تر دی حلالولو وروسته فِیْ دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ اَیَّامٍ ط په
خپلو کورو کښی یا په دنیا کښی درے ورځی ذٰلِكَ وَعْدٌ دا وعده ده غَیْرُ مَكْذُوْبٍ ﴿۶۵﴾
چه هیڅ دروغ پکښی نسته نو بیا د خالی رشنبی په ورځ هلاك سوه لکه چه وائی
فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نو هر کله چه راسو زموږ دا عذاب راغلے نَجَّیْنَا صٰلِحًا نو موږ صالح
خلاص کړے وَّالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ او هغه کسان هم چه دده سره یے ایمان راوړے
وو ددی عذاب څخه بِرَحْمَةٍ مِّنَّا په هغه مهربانی سره چه زموږ د جانبه څخه وه نه په
خپل عمل سره وَمِنْ خِزْیِ یَوْمِئِذٍ ط او د شرمندگی څخه ددی ورځی یا د رسوائی څخه
د قیامت د ورځی اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دی هُوَ الْقَوِیُّ الْعَزِیْزُ ﴿۶۶﴾ هم دی
توانا دے پر نجات د مؤمنانو او غالب دی پر هلاك د کافرانو وَاَخَذَ الَّذِیْنَ او
ونیول هغه کسان ظَلَمُوا الصَّیْحَةُ چه ظلم یے کړی وو پر خپلو ځانو باندی په
کفر سره اواز د جبرائیل چه ډیر هیبتناك دی فَاَصْبَحُوْا فِیْ دِیَارِهِمْ نو تول پخپلو
کورو کښی سوه جٰثِمِیْنَ ﴿۶۷﴾ مړه پراته كَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا فِیْهَا ط گویا که دسره نه وه او
سیدلی په دی کورو کښی اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَاْ واوری بیشکه ثمود چه وه كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ط
کفر یے اختیار کړی وو په خپل رب پوری اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿۶۸﴾ بیا واوری چه
د رحمت څخه لیری والی دی ثمود لره وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ او خامخا په تحقیق سره
راغلی وی هغه ملائکی رالیږل سوی زموږ چه درے یا نهه یا دوولس وی
په شکل د زلمو او هلکانو د خوش تلله او سپین مخو اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی وابراهیم
ته په زیری سره د زوی یا په هلاك سره د قوم دلوط بیا چه وده ته حاضر سوه
قَالُوْا سَلٰمًا ط نو دوی وویل چه موږ پر تا سلام اچوو په سلام اچولو سره او
دی په دی پوه نه سو چه دا ملائکی دی قَالَ سَلٰمٌ نو ده وویل چه زما دی هم
سلام وی پر تاسے باندی فَمَا لَبِثَ اَنْ جَآءَ نو ده ځنډ و نه کړی او په تلوار

سره اورته راوړے بِعِجْلٍ حَنِيْذٍ ﴿۶۹﴾ کیلگی چاغ اوپرتوده تیږه کباب کړه سوی او
دوی لاس ورنه وړی فَلَمَّا رَآ اَيْدِيَهُمْ نو هرکله چه ولیدل لاسونه ددوی لَا
تَصِلُ اِلَيْهِ چه نه وررسېدل کیده ودی کباب ته نَكِرَهُمْ وَاَوْجَسَ نو نا آشنا ورته
ښکاره سوه او پټه یې په زړه کښې راوسته مِنْهُمْ خِيْفَةً له ددوی څخه بېره
ځکه چه په دوی کښې دا قاعده وه چه دهرچا به دبل چا سره دښمنی وه په
زړه کښې نو دهغه طعام به یې نه خواړی بیا چه دوی دده په بېره پوه سوه
قَالُوْا لَا تَخَفْ نو دوی وا براهیم ته وویل چه دموږ څخه مه بېرېږه اِنَّآ اُرْسِلْنَآ
چه بیشکه موږ را لیږل سوی یو اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ ﴿۷۰﴾ وقوم ته دلوط دهلاکولو دپاره
وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ او ښځه دده چه ساره بنت هارون وه پټه ولاړه وه دمجلس
داورېدو دپاره یا ښکاره ولاړه وه د خدمت دپاره فَضَحِكَتْ نو وخندل په
سبب دلیری کیدو دبېری یا دهلاکیدو ددښمن یا دتمثیل کیدو (په شکل کیدو) دملائکې
په بشری صورت سره یا دبے خبرے دده داسے نژدے عذاب څخه فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ ن
نو موږ زیری ورکړی دملائکو په ژبه سره په پیداکید وسره دزوی اسحاق نامے
وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ﴿۷۱﴾ او تر اسحٰق وروسته په پیداکیدلو دلمسی سره یعقوب
نامی چه دپښت څخه دا سحٰق دی او دا زیری پوازی پردی باندی ځکه وسو چه د
بی بی هاجرے زوی ووا وددی نه وو بیا چه دا بشارت یې واورېدی قَالَتْ يٰوَيْلَتٰىٓ
نو دے وویل چه اے دپر تعجب دی مالره ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ ایا زه به اولاد راوړم
قردی وروسته او حال داچه زه زړه یم دنوی کالو وَهٰذَا بَعْلِىْ شَيْخًا او دا ابراهیم
چه زما خاوند دے په داسے حال کښی دی چه زوړ دی دسلو یا دیوسل اوشلو
کالو دے اِنَّ هٰذَا بیشکه دا کار چه تاسے وایاست لَشَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿۷۲﴾ خا خا یو ډیر
عجیبه شی دی غاده قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ بیا ملائکو ودی ته وویل چه ایا ته تعجب کوے
مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ دخدای دکاره او سره ددے چه دده قدرت ته دا هیڅ عجیبه نه ده رَحْمَتُ

اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ رحمت دخدای او برکتونه دده دے وی عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ پر تاسے
باندی اے خاندانه د نبوت یا اے ابراهیمؑ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ﴿۷۳﴾ بیشکه چه دی ستایل
سوی دے په ډیره عطا سره اولوی دی چه بندګانو ته غټ نعمت ورکوی بیله سببه
فائده یوه برکتونه دخدای پر دوی داوو چه اویا زره پیغمبران یې دده د ملاتخه
پیدا کړه چه اول یې اسحقؑ او اخر یې عیسیٰؑ وو فَلَمَّا ذَهَبَ نو هرکله چه ولاړه
عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ دابراهیمؑ تخه یره او هیبت وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى او ده لره راغله
زیرے داولاد يُجَادِلُنَا نوجګړه یې شروع کړه د مونږ سره یعنی زمونږ د ملائکو سره
فِيْ قَوْمِ لُوْطٍ ﴿۷۴﴾ په حق کښی د قوم د لوطؑ او هغه جدال داسے وه چه هرکله
دوی وویل چه مونږ دا ښار هلاکوو نوده ورته وویل اګرچه پنځوس تنه مؤمنان هم
پکښی وی نو دوی وویل چه نه بیا ده ورته وویل که پنځه ویشت تنه وی هم نو دوی وویل چه نه
بیا ده ورته وویل که اتیا تنه وی نو هم نو دوی ورته وویل چه نه او همداسی لږ لږ
به یې کول چه په اخر کښی لوطؑ ته راغلی نوده ورته وویل چه لوطؑ هم نو دوی ورته وویل
چه نه نو تردی وروسته ده ورته وویل چه لوطؑ پکښی دی نو دوی ورته
وویل چه هغه به ځنی و باسو د خپل عیاله سره ما سیوا د ښځی تخه یې اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ
بیشکه ابراهیم چه وو لَحَلِيْمٌ خامخا ډیر صابر وو چه په انتقام کښی به یې د دښمنه
تخه تلوار نه کاوی اَوَّاهٌ ډیر آه کونکی وو دخدای دخوف تخه او د شفقته پر خلګو
مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾ بیا راګرځیدونکی وو وخدای ته یعنی ډیر نرم دله او دلسوزه وه نو دوی ته
یې وویل چه ددی قوم په عذاب کښی توقف وکړی چه ګوندی یو څوک ایمان ځنی
راوړی نو ملائکو ورته وویل يٰۤاِبْرٰهِيْمُ اے ابراهیمؑ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ا ه واوړه
ددی جګړے تخه اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ بیشکه شان دادی چه په تحقیق سره راغلی دی
ودی قوم ته اَمْرُ رَبِّكَ ج عذاب درب ستا وَاِنَّهُمْ او بیشکه دوی چه دی اٰتِيْهِمْ
را تلونکی دی ودوی ته عَذَابٌ عذاب غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿۷۶﴾ چه نه دے ګرځول سوے

په هیڅ شان نو دوی بیا د ابراهیم څخه رخصت سوا و مؤتفکات ته روان سوه او
د ابراهیم او د لوط د کلیو په ما بین کښې څلور فرسخه لار وه وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا
او هر کله چه راغلل استازي زمونږ لُوطًا ولوط ته او ده ددوی بنایست او
غوره والی لیدی او په دې سره پوه نه سو چه دا ملائکې دي سِيْٓءَ بِهِمْ
نو دی ډیر ولګیده خپه سو په دوی باندی چه دوی په شکل د بنایسته هلکانو
راغلی وی او دده قوم بچه بازان «لاهک بازان» وه نو دی بیریږی چه مبادا دغه زما قوم
ددی میلمنو ته ضرر ورسوی وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا او تنګه سوه د جهته ددوی
سینه دده تو قَالَ هٰذَا او ده وویل چه دا يَوْمٌ عَصِيْبٌ ﴿۷۷﴾ یوه ډیره سخته ورځ ده
روایت دی چه د مؤتفکاتو څلور ښارونه وه او په هر ښار کښې یو لاکه سړی
وه تول توریالی وه بیا چه هر کله دا ملائکې وسدوم ته راغلل چه یو ښار وو د
لوط او ده وخپل کور ته راروان کړه او قوم یې په لاره کښې و لیدل یا هغه کافره
ښځې دده خبر کړه چه زمونږ کره بنایسته ځلمي راغلی دي نو قوم یې د بدکاری په
نیت ورلره راغی لکه چه وایي وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ او راغلی ده لره قوم دده يُهْرَعُوْنَ
اِلَيْهِ ط چه منډې یې را وهلې وده ته د بدکاری د پاره وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا او مخکی تر دې
به هم دوی وه يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ط چه کول به یې بدکارونه لکه لواطت او دشپیلی
وهل او کوتر بازی او داسې نور کارونه قَالَ يٰقَوْمِ نو لوط وویل چه اې قومه
زما هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيْ دا منکوحې ستاسې چه دی لوڼی زما دی ځکه چه هر پیغمبر
دخپل قوم پلار دې یا مراد ځنی دده خپلې لوڼی وې ځکه چه دده دقوم دوه
مشران وه نو دوې ته یې ویلي وه چه دا زما دوا ړی لوڼی تاسی په نکاح واخلئ
چه په هغه وخت کښې د مسلمان او د کافر نکاح سره روا وه هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ دا ښځې
ډیری ښې دي وتاسې ته تر لواطت فَاتَّقُوا اللّٰهَ نو د خدای څخه وه بیریږی او دا
بدکار مه کوی وَلَا تُخْزُوْنِ فِيْ ضَيْفِيْ ط او ما مه شرموی په حق کښې زما د

میلمنو ځکه چه دا شرمول د میلمه شرمول دي کوربه دي اَلَيْسَ مِنْكُمْ ایا نشته
ستاسو څخه رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ﴿۷۸﴾ یو پوه سړے چه وتاسو ته نصیحت وکړي چه دا
بد کار بد دے نو هغه یې کوي قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ نو دوي وویل چه خامخا په تحقیق
سره ته پوهیږې یې ښځله چه مَا لَنَا نشته موږ لره فِيْ بَنٰتِكَ ستا په لوڼو کښي
مِنْ حَقٍّ هیڅ حاجت وَاِنَّكَ لَتَعْلَمُ او بیشکه چه ته هرائینه پوهیږې مَا نُرِيْدُ ﴿۷۹﴾
په هغه کار چه موږ یې اراده لرو چه لواطت دي قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ بیا لوط ووېل
چه کاشکې که د ما سره وای بِكُمْ قُوَّةً په دفع کولو ستاسو کښي د خپله ځانه څخه
زور نو تاسي به مي د خپله ځانه څخه دفع کړي ولاست اَوْ اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ﴿۸۰﴾
یا مي پناه نیولای سو په زور او رپوري چه ډیر سخت وای چه زه يې د تاسو
څخه خلاص کړی وای روایت دے چه هر کله دا قوم د لوط د روازی ته راغلی نو
ده دروازه ورته بنده کړه او دباندې یې د دوی سره مباحثه کوله چه ناګاه دوی
دیوال سوری کړي یا سر بیره راوختل نو دی ډیر مضطرب سو بیا چه دده دا
خفګان ملائکو ولیدی قَالُوْا يٰلُوْطُ نو دوی ووېل چه اے لوط اِنَّا رُسُلُ
رَبِّكَ بیشکه موږ استازي یو د رب ستا نو ته خوشحاله اوسه چه لَنْ يَّصِلُوْٓا
اِلَيْكَ چه دسره به دوی ونه سیږی وتا ته په ضرر سره بیا جبرائیل د متولو
پرسترګو خپل وزر ومښلول نو قوله ړانده سوه او د هغه کوره وتښتید ل
چه دا میلمانه جادوګر دے بیا جبرائیل وده ته ووېل فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ نو ته بوزه
خپل عیال د دے بنار څخه وبل طرف ته بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ په یوه حصه کښي د شپې
وَلَا يَلْتَفِتْ او شا ته دي نه ګورے مِنْكُمْ اَحَدٌ د تاسو څخه هیڅوک ځکه چه که
وګوري نو هغه عذاب به هم د د لره راشي اِلَّا امْرَاَتَكَ مګر هغه ښځه ستا
چه کافره ده نو هغه مه د رسره بیایه یا به هغه وشا ته وګوري اِنَّهٗ بیشکه
شان دا دی مُصِيْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ چه رسید ونکی دے ودي ته هغه عذاب

چه ودوی ته رسیږی بیالوط د دوی تنګدلی څخه ووېل چه پر دوی به عذاب کله راځی نوجبرائیل ووېل اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ط بیشکه وعده د نزول دعذاب پر دوی باندی صبح صادق دی بیالوط ووېل چه کا شکی تردی وخت لا ژر وای نوجبرائیل په جواب کښی ورته ووېل اَلَیْسَ الصُّبْحُ بِقَرِیْبٍ ﴿۸۱﴾ ایا صبح صادق نه دے نژدی یعنی نژدی دی فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نوهرکله چه راغلی نوښ زموږ عذاب راغلی نوښ موږ په فرمان سره جبرائیل څلور وزره تردے بنار ولاندی کړه او دهغه سره یې پورته یووړه چه دچرګانو اذانونه او دسپو غپا داسمان خلګو واوریده بیایې راچپه کړه لکه چه وایي جَعَلْنَا عَالِیَهَا نوموږ وګرځاوی پورته طرف ددی سَافِلَهَا کښته طرف ته ددوی یعنی پورته یې کښته اوکښته یې پورته سو وَاَمْطَرْنَا عَلَیْهَا اوموږ وه اوروول پردی بنار و ترچپه کید وروسته حِجَارَةً مِّنْ سِجِّیْلٍ ۵ تیږی «ډبری» دقرتکانو یادسجین یعنی د دوږخ څخه بیا دا تَنْ یې په لام سره بدل سوی دے مَّنْضُوْدٍ ﴿۸۲﴾ پې درپې «پرلپسی» مُّسَوَّمَةً په داسے حال کښې چه نښه کړه سوی وی «علامه داره سری وی» په تور و نکوسره یا په کرښو سره یادهر سړی نوم پرلیکل سوے وو عِنْدَ رَبِّكَ په نزد درب ستا دپاره دعذاب د دوی

روایت دی چه داتیږی وی غټه به یې دخم قدروه او وړه به یې دمنګی قدر وه اودهرچا نوم به پرلیکلی وه هم په هغه سړی پسی به ګرزیدله نوکه به په کاله کښی به وو نوهم هلته به پرولویده اوکه به په سفرتللی وه نوهلته به ورپسی ورتله تردی حده پورې چه یو ددوی څخه په حرم دمکې کښی ننوتلی وو او ترڅلو ېښتو ورځو پورې هلته وو او داتیږه سربیره په هوا ورته ولاړه وه ترڅو چه دی دحرم څخه را ووالی نو داپرې راولویده وَمَا هِیَ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ اودانه دی داتیږی یا دا د مؤتفکا توبنارو ددی ظالمانو څخه یعنی دمکې دکفارو څخه بِبَعِیْدٍ ﴿۸۳﴾ لیری ځکه چه دوی همیشه شام ع ۵
ته په سوداګری پسی ځی اوهغه ځای په لارکښی دے یا معنی داچه داتیږی د دی کفارو

عه یعنی داسجیل په اصل کښی سجین وو خوداان «ن» بیا په لام بدل سوی دی ۱۲

دمکی شخه لیږلے نه دی ځکه چه دوی هم لائق نه دے وَاِلٰی مَدْیَنَ او موږ ورلیږلی
وو وښاسر یا واولاده مدین ته اَخَاهُمْ شُعَیْبًا ط وروردوی یعنی ددوی دچله خیله
"پښی" شخه شعیبؑ قَالَ نوده وویل یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ اے زما قومه یوازی دخدا ے
عبادت کوی مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ ځکه چه نشته تاسے ته هیڅوك لایق دعبادت غَیْرُهٗ ط
بیله خدای شخه وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْیَالَ او مه کموی پیمانه وَالْمِیْزَانَ او تله یعنی هر
شی چه خلگو ته ورکوی په پیمانه یا په تله سره نونقصان مه پکښی کوی اِنِّیْٓ اَرٰىكُمْ
بِخَیْرٍ بیشکه چه زه تاسے وینم ماړه پټ په دولت یعنے دانقصان تاسے داحتیاجه
شخه نه کوی بلکه دخساسته یےکوی وَّاِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْكُمْ او بیشکه زه بیریږم پر
تاسے په سبب ددے خیانت سره عَذَابَ یَوْمٍ مُّحِیْطٍ ﴿۸۴﴾ دعذاب شخه دهغے ورځی چه
احاطه کونکی ده سختی اوالم د هغے پر مجرمانو باندی وَیٰقَوْمِ اواے زما قومه اَوْفُوا
الْمِكْیَالَ پوره ورکوی پیمانه وَالْمِیْزَانَ بِالْقِسْطِ او تله هم په انصاف او عدل سره
وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ او مه کموی وخلگو ته اَشْیَآءَهُمْ شیان یعنے مالونه ددوی وَلَا
تَعْثَوْا فِی الْاَرْضِ او خرابی مه کوی په ځمکه کښی مُفْسِدِیْنَ ﴿۸۵﴾ په داسے حال کښی چه
فساد کونکی یاست بَقِیَّتُ اللّٰهِ باقی پاته کړے دخدای چه هغه حلال وے ستاسی
په حق کښے تر حرام پرینبولو وروسته خَیْرٌ لَّكُمْ هغه ډیر غوره دی تاسے لره تر دی خیانت
او سود اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ۚ که تاسے مؤمنان او باور کونکی یاست زما په خبره سره وَمَآ
اَنَا عَلَیْكُمْ بِحَفِیْظٍ ﴿۸۶﴾ پر تاسے نگهبان چه د بد وا و د عذاب شخه به تاسے ساتم بلکه
تاسے ته رسول ناصح یم او دا ځکه چه بعض رسولان به په جنگ سره مامور وه
لکه موسیٰؑ او داؤدؑ او سلیمانؑ او بعض په تش نصیحت سره مامور سوی وه بیله
جنگه لکه دا نورا و شعیبؑ هم نه وو مامور قَالُوْا یٰشُعَیْبُ نو قوم دده وویل چه
اے شعیبهؑ ! اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ آیا دا ډیر لمونځ کول ستا امر کوی تا اَنْ نَّتْرُكَ
ددے چه موږ پریږدو مَا یَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ هغه چه عبادت به کاوی د هغو پلرو

زموږ اَوۡ اَنۡ نَّفۡعَلَ یا د دے چه موږ وکړو فِیۡۤ اَمۡوَالِنَا پخپلو مالو کښې
مخالف تصرف د خپلو پلرو څخه مَا نَشٰٓؤُا ط هغه چه زموږ اراده وشي د نقصان
اود کیله اودوزنه اود پریکولو د اطرافو د دراهمو اود دنانیرو اِنَّكَ لَاَنۡتَ الۡحَلِيۡمُ
الرَّشِيۡدُ ﴿۸۷﴾ خامخا هم ته صابر او پرلار سم یې اودا یې پرعکس ویل یعنې بې صبره او
گمراه یې نعوذ بالله منها یا پخپل زعم یا زموږ په نزد چه د حلیم اود رشید معامله
نه را سره کوی قَالَ يٰقَوۡمِ بیا شعیبؑ وویل چه اے زما قومه اَرَءَيۡتُمۡ ایا تاسے وینئ
نو ما هم خبر کړی اِنۡ كُنۡتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ که زه یم پر ښکاره دلیل مِّنۡ رَّبِّىۡ د جانبه
څخه د خپل رب وَرَزَقَنِىۡ مِنۡهُ اوده راکړی وی وما ته د خپله جانبه څخه رِزۡقًا
حَسَنًا ط بنایسته روزی یعنې نبوت او رسالت یا حلال مال بیله د نورو وهلو
نو ایا وما ته دا روا دی چه خیانت پکښې وکړم وَمَاۤ اُرِيۡدُ اونه زه اراده نه لرم
اَنۡ اُخَالِفَكُمۡ د دے چه زه د تاسے څخه مخالفت وکړم او راسم اِلٰى مَاۤ اَنۡهٰكُمۡ
عَنۡهُ ط هغه کار ته چه تاسے د هغه کار څخه منع کوم یعنې تاسے د دے د پاره څخنې
منع کوم چه وما ته را پاته سي بلکه زه اول پخپله څخنی منع سوی یم اِنۡ اُرِيۡدُ زه
اراده نه لرم اِلَّا الۡاِصۡلَاحَ مگر د اصلاح او د سازگاری ستاسے مَا اسۡتَطَعۡتُ ط
ترڅو چی زما طاقت وی وَمَا تَوۡفِيۡقِىۡۤ اونه دی زما توفیق ستاسے په کارسازی
کښې اِلَّا بِاللّٰهِ ط مگر په مددگاری د خدای سره دی عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ خاص هم پر
ده ما توکل کړے دی وَاِلَيۡهِ اُنِيۡبُ ﴿۸۸﴾ اوهم وده ته زه رجوع کوم په هرڅه کښې
وَيٰقَوۡمِ او اے زما قومه لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِىۡۤ کته د دے نه کوی وتاسی ته د ښمنی
او مخالفت زما خامخا اَنۡ يُّصِيۡبَكُمۡ دا چه وتاسے ته ورسیږی مِّثۡلُ مَاۤ اَصَابَ
په شان د هغه عذاب چه رسیدلی وو هغکی تر تاسے قَوۡمَ نُوۡحٍ وقوم ته د نوحؑ
چه هغه غرق وو اَوۡ قَوۡمَ هُوۡدٍ یا وقوم ته د هودؑ چه هغه تند باد وو اَوۡ قَوۡمَ
صٰلِحٍ ط یا وقوم ته د صالحؑ چه هغه زلزله وه نو میباید چه د دوی څخه تاسے

بیری یئ ۱۲
عبرت واخلی اوکه په هغوسره عبرت نه سی اخستلای په سبب د بُعد د زمانے
نو وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ اونه دے قوم د لوط مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ (۸۹) د تاسے څخه لیری نه په
زمانه کښی او نه په مکان کښی نو په هغو خوخامخا عبرت واخلی وَاسْتَغْفِرُوْا
رَبَّكُمْ او بخښنه وغواړی د خپله رب څخه د ایمان په راوړلو سره ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ
بیا رجوع وکړے وده ته په خصوص او په خلوص د عبادت سره اِنَّ رَبِّيْ بیشکه
چه رب زما رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ (۹۰) مهربانه دی پر بخښنه غوښتونکو باندی دوست
دے د تائبانو قَالُوْا يٰشُعَيْبُ نو دوی په جواب کښے وویل چه اے شعیبه مَا
نَفْقَهُ موږ نه پوهیږ وکَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ په صحت د ډیرو د هغه خبرو چه ته یې
وموږ ته وایې لکه لزوم د توحید او منعه د تطفیف [عه] څخه وَاِنَّا لَنَرٰىكَ اوبیشکه موږ
خامخا تا وینو فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ په موږ کښی ضعیفه او ناتوانه وَلَوْلَا رَهْطُكَ او که
نه وای قوم ستا چه د موږ سره په دین کښی شریك دے یعنی عزت او رعایت د
دوی که موږ نه کولای لَرَجَمْنٰكَ ز نو خامخا به موږ ته سنگسار کړے وای وَمَآ اَنْتَ
عَلَيْنَا او ته نه یې پر موږ باندے بِعَزِيْزٍ (۹۱) هیڅ قدر گران او عزتناك چه ستا چل
عزت د رجم څخه مانع سے قَالَ يٰقَوْمِ نو ده وو چه اے زما قومه اَرَهْطِيْٓ ایا د ازما
خپلوان چه دے اَعَزُّ عَلَيْكُمْ ډیر عزیز او خوږ دی پر تاسے مِّنَ اللّٰهِ ؕ د خدائے
څخه وَاتَّخَذْتُمُوْهُ او تاسے دا امر د خدای نیولی دی وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ وروسته تر
شا گانو خپلو دا سے لکه یو شی هیر کړه سوی د ډیری بے التفاتے څخه و شا ته غورځول
سوی اِنَّ رَبِّيْ بیشکه چه رب زما بِمَا تَعْمَلُوْنَ پر هغو کارو باندے چه تاسے یې
کوی مُحِيْطٌ (۹۲) احاطه کونکی دے خبرداره دی چه یو شی هم څنی پټ نه دے نو
د هغو لو جزا به درکړے وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا او اے زما قومه عمل کوی عَلٰى مَكَانَتِكُمْ
پر ځای یا په جهت یا پر مرتبه خپله د شرك او زما د دښمنی یعنے هر څه چه ستاسو نه
کښی تاسی نیولی دی پر هم هغه ملك ولاړ اوسی اِنِّيْ عَامِلٌ ؕ بیشکه چه زه هم

عه په پیمانه کښی لږ کمراے کول ۱۲

عمل کونکی یم او کلك ولاړ یم پر خپله مرتبه په نصرت سره د خپل رب سَوۡفَ
تَعۡلَمُوۡنَ لا شر ردے چه معلوم بهٔ کړی تاسے مَنۡ یَّاۡتِیۡهِ هغه څوك چه ورته راسے
عَذَابٌ یُّخۡزِیۡهِ داسے عذاب چه دے به وشرموی وَمَنۡ هُوَ کَاذِبٌ ما او هغه څوك
چه دے دروا غجن دے وَارۡتَقِبُوۡۤا او انتظار کوی د هغه شی چه ما درته ویلی دے
اِنِّیۡ مَعَکُمۡ رَقِیۡبٌ ﴿۹۳﴾ بیشکه چه زه هم د تاسے سره انتظار کونکی یم وَلَمَّا جَآءَ
اَمۡرُنَا او هر کله چه زمونږ عذاب راغلے نَجَّیۡنَا شُعَیۡبًا نو مونږ خلاص کړی د هغه
عذابه څخه شعیبٌ وَّالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ او هغه کسان هم چه ایمان یے راوړے
وو د ده سره بِرَحۡمَةٍ مِّنَّا په هغه مهربانی سره چه زمونږ د جانبه څخه وه وَاَخَذَتِ
الَّذِیۡنَ او ونیول هغه کسان ظَلَمُوا الصَّیۡحَةُ چه ظلم یے کړے وو په کفر سره
اواز د جبرائیل چه مُوتَوا جمیعاً وو فَاَصۡبَحُوۡا فِیۡ دِیَارِهِمۡ نو دوی ټول سوه په
خپلو کورو کښی جٰثِمِیۡنَ ﴿۹۴﴾ مړه پر مخکه پراته کَاَنۡ لَّمۡ یَغۡنَوۡا فِیۡهَا ما چه گویا که د
سره دوی په دے کورو کښی اوسیدلی نه وه اَلَا بُعۡدًا لِّمَدۡیَنَ واوری چه لیری
والے دی د رحمت څخه او هلاك دی وقوم ته د مدین کَمَا بَعِدَتۡ ثَمُوۡدُ ﴿۹۵﴾
ع ۸ ۴ ۱۸
لکه هلاك او ملعون سوی چه وقوم د ثمود وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰی او خامخا
په تحقیق سره مونږ رالیږلے وو موسےٰ بِاٰیٰتِنَا په معجزو سره زمونږ چی
دلالت یے کاوہ پر صحت د نبوت د ده وَسُلۡطٰنٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۹۶﴾ او په ښکاره دلیل سره
چه هغه لکړه وه اِلٰی فِرۡعَوۡنَ وَمَلَا۠ئِهٖ و فرعون او و مشرانو ته د قوم د ده فَاتَّبَعُوۡۤا
اَمۡرَ فِرۡعَوۡنَ ج نو پیروی وکړه دوی مشرانو د فرعون د فرمان په نه منلو سره
د موسےٰ وَمَاۤ اَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ او نه وو فرمان د فرعون بِرَشِیۡدٍ ﴿۹۷﴾ پر سمه لاره
برابرونکی یَقۡدُمُ قَوۡمَهٗ مخکښی به سے دا فرعون د خپل قوم یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ په ورځ
د قیامت لکه په دنیا کښه چه دے مخکښے او قوم ورپسی وه فَاَوۡرَدَهُمُ النَّارَ
نو دوی به راداخل کړی د دوزخ په اور کښی وَبِئۡسَ الۡوِرۡدُ الۡمَوۡرُوۡدُ ﴿۹۸﴾

او بد ځای دے دا چه ددوی ور تلـه ور له سوی دی یعنے دوزخ وَاُتْبِعُوْا
او متبوع سو یعنے و لیږل سو په دوی پسی فِیْ هٰذِهٖ لَعْنَةً په دے دنیا
کښے لعنت وَیَوْمَ الْقِیٰمَةِ ؕ او په ورځ د قیامت هم بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ (۹۹)
بده عطاده دا لعنت دداریښو چه ورکړه سوی دی ودوی ته ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْقُرٰی
دا بیرته «بخکے» ذکر سوی دا احوالو ځنه دهغه کلیو دی چه په سبب دخپل ظلم
هلاك سوی دی نَقُصُّهٗ عَلَیْكَ چه قصے یے موږ وتا ته تیروو مِنْهَا قَآئِمٌ چه
بعض دهغه قرنو لا هم هغسی کنډوالے ولاړ دے لکه دعادیانو او ثمودیانو وَّ
حَصِیْدٌ (۱۰۰) او بعضے دهغو ځنه ریبل سوی دی یعنے هیڅ قدر نښے یی نه دی
پاته سوے لکه قوم دنوح وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ او موږ پر دوی ظلم نه وو کړی په
هلاکولو کښی وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ او لیکن دوی ظلم کړے وو پر خپلو ځانو
باندی په سبب دکفر او عناد سره فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ نو د دوی ځنه هیڅ شی دفع نه کړی
اٰلِهَتُهُمُ الَّتِیْ هغو باطلو خدایانو ددوی یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ چه دوی
به بلل غیر دخدای ځنه او د هغو عبادت به یے کاوی دډیره حماقته ځنه مِنْ
شَیْءٍ هیڅ شی لَّمَّا جَآءَ په هغه وخت کښی چه راغلے اَمْرُ رَبِّكَ د عذاب د رب
ستا وَمَا زَادُوْهُمْ او هیڅ زیات نه کړے دغه خدایانو یے ودوی ته غَیْرَ
تَتْبِیْبٍ (۱۰۱) بیله زیانکاری او هلاکه وَكَذٰلِكَ او هم ددغه نیولو په شان دی
اَخْذُ رَبِّكَ نیول درب ستا اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰی په هغه وخت کښی چه ونیسی
اهل ددے قرنو وَهِیَ ظَالِمَةٌ ؕ او حال دا چه اهل یے ظالم وے اِنَّ اَخْذَهٗ بیشکه
نیول دده چه دے اَلِیْمٌ شَدِیْدٌ (۱۰۲) دردناکه او سخت دے اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ بیشکه چه
په دے قصوکښی لَاٰیَةً لِّمَنْ خَافَ خامخا ډیر عبرت دی دپاره دهغه چا چه بیریږے
عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ؕ دعذابه ځنه دهغه جهان ذٰلِكَ یَوْمٌ دا دقیامت ورځ یو داسے
ورځ ده مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ چه جمع به کړه سی په دی کښے ټول خلك وَذٰلِكَ

عه یعنے په دوه ونیولو ځنه ټول خلاصیدای نه سی ۱۲

يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ﴿۱۰۳﴾ او دا یوه ورځ ده چه حاضر به کړه سي پکښې اهل د اسمانو او
د مځکې وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ او مونږ دا ورځ نه وروسته کوو یعنې اظهار يې إِلَّا لِأَجَلٍ
مَّعْدُوْدٍ ﴿۱۰۴﴾ مګر د پاره د يوې ټاکل شوې هغه مودې چه شمېرل سوې ده يَوْمَ يَاْتِ
په هغه ورځ کښې چه دا مشهود راسي لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ چه به نه غږ به نه کوی هیڅوك
إِلَّا بِإِذْنِهٖ ۚ مګر ددهٔ په اذن سره فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ نو د موقف د خلګو ځنې به بدبخته
وی وَّسَعِيْدٌ ﴿۱۰۵﴾ او نيك بخته به وی فائده ا- د نيك بخته ځنې علامې دی، نرم زړه
شرم ناکه، ژړا کونکی، لنډ اميده، ځ يې پر دنيا او د بد بخته هم ځنې علامې
دی سخت دله، بې حيا، وچې سترګې، دراز اميده، ځ يې پر دنيا رباعی

ځنې رب کړه په ازل کښې سعيدان ځونه سپين
او دځينو يې کړه تورا وشقي بنګلي پرجبين

هم يې ځوك په عدل چل سره اصحاب کړه دشمال
هم يې ځوك په موج دفضل ځنې اصحاب کړه ديمين

فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا نو هر چه هغه کسان دي چه بد بخته وی فَفِی النَّارِ نو په اور
د دوږخ کښې به وي لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وی به دوی لره په دې اور کښې کله سخت
آواز وَّشَهِيْقٌ ﴿۱۰۶﴾ او کله نرم آواز په مثال دخره خٰلِدِيْنَ فِيْهَا په دا سې حال
کښې چه دوی به په دی اور کښې هميشه وی مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ ترڅو چه
دا اسمان ولاړ وی وَالْاَرْضُ او مځکه إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ط مګر هغه وخت چه
اراده وسی درب ستا چه دا وره يې نه مهريږ ته بونږی إِنَّ رَبَّكَ بيشکه رب
ستا چه دی فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۰۷﴾ په کمال سره کونکی دی د هر هغه کار چه
اراده يې وسی د اقسامو ځنې د تعذيب وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا او هر چه هغه
کسان چه نيك بختان کړه سوی دی فَفِی الْجَنَّةِ نو په جنت کښې به وي

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا په دا سې حال کښې چه هميشه به وي دوی په دی جنت کښې مَا

ع يعنې ترڅو چه يې وخت نه دی راغلی تر هلو به قيامت نه سي ۱۲

دَامَتِ السَّمٰوٰتُ ترڅو چه دا اسمانونه ولاړ وي وَالْاَرْضُ او مځکه دواړه دا خرت
حاصل دا چه اسمانونه او مځکه د آخرت هم شته چه هغه به نه فنا کیږي او
دلیل ورباندې دا آیت دے یوم تبدل الارض غیر الارض والسموات کذا فی المدارک
اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ مګر هغه وخت چه ستا د رب اراده وسي چه د خلود څخه
د نعمتونو نه بې دیدار ته بوزي سره د رضوانه عَطَآءً غَیْرَ مَجْذُوْذٍ ﴿۱۰۸﴾ په داسې حال
کښې چه دا داسې عطا ده چه قطع او انتها نه لري فَلَا تَكُ فِیْ مِرْیَةٍ نو ته
مه کیږه په شك کښې مِّمَّا یَعْبُدُ هٰۤؤُلَآءِ ؕ د دې څخه چه دا عبادت د بتانو چه
دے چه دا مشرکان یې کوي دا عین ضلالت او ګمراهي ده بیشکه مَا یَعْبُدُوْنَ
دوی عبادت نه کوي د دې بتانو اِلَّا كَمَا یَعْبُدُ مګر داسې یې کوي لکه عبادت به
یې کاوه اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ پلرو ددوی مخوا پر باطله وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ او بیشکه ۹
چه مونږ خامخا پوره ورکونکی یو دوی ته نَصِیْبَهُمْ غَیْرَ مَنْقُوْصٍ ﴿۱۰۹﴾ برخه د ع ۱۲
۹ دوی بیله نقصانه وَلَقَدْ اٰتَیْنَا او خامخا په تحقیق سره مونږ ورکړې وو موسیٰ
الْكِتٰبَ و موسیٰ ته کتاب چه تورات وو فَاخْتُلِفَ فِیْهِ ؕ نو اختلاف وکړه سو په
دے تورات کښې چه بعضو وه مانی او بعضو نه مانی لکه چه په قرآن کښې
ستا قوم اختلاف کړې دی وَلَوْلَا كَلِمَةٌ او که نه وای حکم سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ
چه لومړې سویدی د جانبه څخه د رب ستا په تاخیر د عذاب سره تر قیامته
پورې لَقُضِیَ بَیْنَهُمْ ؕ نو خامخا به حکم کړه سوی وو په مابین کښې د دوی
یعني نو عذاب به را غلی وو چه محقق یې د مبطله څخه جلا کړی وای وَ
اِنَّهُمْ لَفِیْ شَكٍّ او بیشکه دا قوم ستا خامخا په داسې شك کښې پر اته دی
مِّنْهُ د دے قرآن یا د دے عذابه څخه مُرِیْبٍ ﴿۱۱۰﴾ چه په اضطراب کښې
اچونکی دے وَاِنَّ كُلًّا او بیشکه دا قول چه د ے یعني مومنان او کافران
لَمَّا دا په اصل کښې لَمَنْ مَا وو بیا دا ‹‹نون›› میم سو نو د رے میمه جمع سو

نو لمۀ ئے نخنی حذف شو لو لمّا سوا و د الام قسمیه دے یعنے لَمِنَ الَّذِیْنَ معنیٰ دا چه
قسم دے چه دوی د هغه طائفی ځخه دے لَيُوَفِّيَنَّهُمْ چه خامخا به ورسوی ووئی
قولو ته رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ ؕ ستا رب جزا د عملو ددوی که ایمان وبے که کفر وو
إِنَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿۱۱۱﴾ بیشکه چه دے په هغو کارو سره چه تاسے یې کوی
اګاه دے فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ نو مستقیم اوسه په هغه شان چه مامور سوی
یې وَمَنْ تَابَ مَعَكَ او هغه څوك چه راګرزیدلی دے د شرك ځخه وایمان ته
د تا سره هغه دی هم مستقیم سے وَلَا تَطْغَوْا ؕ او تر هغه حد مه تیریږئ چه درته ویل
سوی دی إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿۱۱۲﴾ بیشکه چه دے په هغه کار وچه تاسے یې کوے
بینا دے وَلَا تَرْكَنُوا او څنګ مه نژدی کوی إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا او هغه کسانو ته چه
ظالمان دے فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ نو تاسے به وسوځی د دوزخ اور وَمَا لَكُمْ مِنْ
دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ او نسته تاسے لره غیر د خدایه ځخه د دوستانو ځخه هیڅوك
چه عذاب د ځخه دفعه کړی ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ ﴿۱۱۳﴾ بیا به هیڅ مدد د د رسره و نه سے
روایت دے چه هر کله عمرو بن غذیه به خرماوی خرخولے چه یوه بنا ئسته
د خرماوود را نیولو د پاره ورغله نوده ورته وویل چه د ننه په کوټه کښی بنه
او غوره خرماوی دے بیا چه دا ننوته نو ده ځخه نخنی وا خیسته او فی الحاله
پښیمانه سو او په ژړا رسول ته راغلے او دا حال یې ورته بیان کړی نو نازل
سو وَأَقِمِ الصَّلَاةَ او برپا یه او قائم لره لمونځ طَرَفَيِ النَّهَارِ په دوا ړو طرفو
کښے دورځی د سهار په اول طرف کښے او د ماپښین او د ما خیګر په اخر کښے وَزُلَفًا
مِنَ اللَّيْلِ ؕ او په هغه نژ دے ساعتو کښے د شپی وورځی ته چه ما بنام او ماخستن
دے إِنَّ الْحَسَنَاتِ بیشکه نیکی چه دی يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ؕ محوه کوی بدی
ذَٰلِكَ دا فرمان او وعده چه دی ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ ﴿۱۱۴﴾ پند دے پند قبلو نکو لره
وَاصْبِرْ او صبر کوه په کولو سره د او امرو او په منع کیدلو سره د نواهیو ځخه فَإِنَّ

اللہ نو بیشکه خدای چه دی لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۱۵﴾ نه ضایع کوی اجر د
دنیکو کارانو فَلَوْلَا كَانَ نو ولی نه وو دا لولا دلته په معنیٰ د نفی دی یعنی نه
وو مِنَ الْقُرُونِ د اهل دهغه زمانو مِنْ قَبْلِكُمْ چه پخوا وه تر تاسه أُولُو بَقِيَّةٍ
خاوندان دفکر او دعقل يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ چه منعه کول یې مفسدان د فساد
کولو څخه فِي الْأَرْضِ په مځکه کښی چه عذاب نه وای پر راغلی إِلَّا قَلِيلًا مگر کم
وه مِمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ج دهغه خلکو څخه چه موږ خلاص کړی وه د عذاب څخه
د اهله څخه دهغه تیرو قریو د جهته څخه د نهی د دوی د منکر څخه وَاتَّبَعَ الَّذِينَ
ظَلَمُوا او پیروی وکړه هغو کسانو چه کافران وه مَا أُتْرِفُوا فِيهِ دهغه شی چه
نازپروره کړه سوی وه دوی په هغه کښی چه مقتضا طبعی او شهوت نفسانی
د دوی وو وَكَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿۱۱۶﴾ او دوی کافران وه حاصل دا چه واوره ای
امت مرحومه چه سبب د هلاکت د تیرو امموچه مذکور دی په دی
سورت کښی او یځکن سوی دی هغه څلور شیان وه یو کفر، بل ظلم، بل اشتغال
په مقتضیاتو د نفس بل ترک د نهی د منکر څخه نو میبایدچه تاسی ځان وساتی
د دی څلورو سره وو څخه مستحق د یځکنی نه سی وَمَا كَانَ او نه دی رَبُّكَ رب
ستا اراده کونکی لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ د دی چه هلاک کړی دا مخلوق د دی
قریو په کفر سره وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿۱۱۷﴾ او حال دا چه اهل د دی قریو منصفان
وی په خپلو مابینځو کښی یعنی یوازی په کفر سره یې نه هلاکوی تر څو چه ظلم ور
سره نه سی وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ او که اراده سوی وای ستا د رب لَجَعَلَ النَّاسَ
أُمَّةً وَاحِدَةً نو خامخا به یې دا ټول خلق یوه ټولی پر ایمان او پر طاعت
متفق گرځولی وای په اختیار سره لیکن اراده یې نه ده کړی د اتفاق د دوی
نو متفق به نه سی وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿۱۱۸﴾ او همیشه به وی دوی مخالف
یو د بله سره په کفر او په ایمان کښی إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ ط مگر هغه څوک چه

رحم پروکړی ستا رب او داختلاف څخه پې وساتی نو دوی به متفق سی
سره په دین د حق کښی وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ط او د پاره د دغه اختلاف لی داخلاف
پیدا کړی دے یا د پاره د رحمت پې دا مرحومین پیدا کړے دی وَتَمَّتْ كَلِمَةُ
رَبِّكَ او ترسره سوه ویل د رب ستا یعنې هغه خبره چه ملائکو ته ده کړی
وه چه هغه داده لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ چه خاخا به زه دادوږخ ډک کړم مِنَ الْجِنَّةِ
وَالنَّاسِ د پیریانا نو او د انسانا نو څخه اَجْمَعِيْنَ (۱۱۹) د ټولو څخه وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ
او دا ټول اخبار چه موږ پې پرتا لولو "وایو" اے رسوله مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ
داخبار او داحوالو څخه د تیرو رسولانو مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ چه هغه دے
چه موږ کلکوو او قوی کوو په هغه سره زړه ستا په زیادت د یقین سره یعنی
فائده په قصو د رسولانو کښی داده چه ستا زړه ډاډه شی وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ
الْحَقُّ او راغلے تا ته په دے سورة یا په دے اخبار کښی هغه چه حق دے وَ
مَوْعِظَةٌ وَّذِكْرٰى او پند او یادګیری ده لِلْمُؤْمِنِيْنَ (۱۲۰) و مؤمنانو ته
وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ اعْمَلُوْا او وایه اے رسوله و هغو کسانو ته چه
ایمان نه راوړی چه عمل کوی عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ط پر ځای یا پر جهت یا پر مرتبه
خپله د شرکه او زړه ماد دښمنی یعنی هر څه چه تاسے په زړه کښی نیولی دی پر هم
هغه کلک ولاړ اوسی اِنَّا عٰمِلُوْنَ (۱۲۱) بیشکه چه موږ هم عمل کوونکی او کلک
یو پر خپله مرتبه د نصرت د خپل رب وَانْتَظِرُوْا ج او انتظار کوی تاسے و موږ
ته د ګردشه د زمانی اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ (۱۲۲) چه بیشکه موږ هم انتظار کوونکی
یو و تاسی ته د نزول د عذاب وَلِلّٰهِ او خاص خدائے لره دے غَيْبُ السَّمٰوٰتِ علم پر
پټو د اسمانو وَالْاَرْضِ او د ځمکی وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ او خاص هم وده ته بیرته کار
ګرزول کیږی كُلُّهٗ ټول له که ستا دی او که د دوی دے فَاعْبُدْهُ نو ته د ده عبادت
کوه چه مرجع د ټولو هم دی دی وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ط او توکل وکړه پر ده باندی

ع ۱۰ ۱۴ ۱۰ وَمَا رَبُّكَ اونہ دے رب ستا بِغَافِلٍ بے خبرہ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ دھغو
کار ونه چه تاسے يې کوئ

ایاتها ۱۱۱ سُوْرَةُ يُوْسُفَ مَكِّيَّةٌ رکوعاتها ۱۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓرٰ تِلْكَ دا دے مقطعات حال په سورة هود کښې بيان سوى دے چه چا
سکوت پکښې کړى دے اوچا تاويلات پکښې کړى دى چه يو د هغو څخه دا دے
چه دغه حروف د اسماؤ څخه د پروردګار دى مثلاً الف د الله څخه دى او ل د
لطيف څخه دى او ر د رحيم څخه ده نو په دى نو موسره يے قسم کړے دى او جواب
د قسم دا دے تِلْكَ دا ځکښې «د آيتونکى» آيتونه چه لوستل کيږى اٰيٰتُ الْكِتٰبِ
الْمُبِيْنِ ﴿۱﴾ آيتونه د هغه سورت دى چه ښکاره دى معانى او اعجاز يے
وهغه چاته چه تدبر او تفکر پکښې کوى يا واضح بيانونکى د هغه قصے دى ځکه
چه يهودوو ولى وو مشرکانو ته چه تاسے محمد و پوښتى چه اولاد د يعقوب
د شام څخه ولى مصر ته راغلى وه او قصه د يوسف ؑ څرنګه وه نو نازل سوا اِنَّآ
اَنْزَلْنٰهُ بيشکه چه موږ را ليږلى وو دا کتاب يعنى سورة قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا په دا
حال کښې چه لوستل سوى دى په عربى ژبه سره لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲﴾
بنايى چه تاسے يې معنىٰ وفهموى ځکه چه ستاسے خپله ژبه ده روايت
دى چه هر کله اصحابو د رسول ؑ څخه د دا سے قصے سوال وکړى چه مشتمله وى
پر عشق او پر محبت باندى او خالى وى دا وامرو او د نوا هيو او د وعده او
د وعيدو څخه نو نازل سو نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ موږ لولو «وايو» وتا ته اَحْسَنَ الْقَصَصِ
هغه قصه چه ډيره ښايسته ده تر ټولو قصو ځکه چه ښنتن «نماونه» يے
ښايسته دى او مشتمله ده پر ډير و عجائبو او غرائبو عبرتو باندى بِمَآ اَوْحَيْنَآ
اِلَيْكَ په وحى د موږ سره وتا ته هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ دا دى لوستل سوى سورة

وَاِنْ كُنْتَ اوبیشکه چه ته وې مِنْ قَبْلِهٖ مخوا «مخکې» تر نزوله ددې سورت لَمِنَ
الْغٰفِلِيْنَ ③ خامخا د ناخبرو څخه په دې قصه اِذْ قَالَ يُوْسُفُ لِاَبِيْهِ یادکړه
هغه چه یوسف وخپل پلار ته وویل چه یعقوب دی او دې په دغه وخت
کښې د دولسو کالو وه او په شپه دجمعې د پلار پر څنګ بیده سو چه ناګاه
په هیبت سره راپورته سو او پلار یې پوښتنه ځنې وکړه چه څه سبب دی
نوده ورته وویل يٰۤاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اې پلاره زما بیشکه چه ما ولیدل په
خوب کښې اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا یوولس ستوري وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ او لمر او سپوږمۍ
رَاَيْتُهُمْ ما دوی ولیدل لِيْ سٰجِدِيْنَ ④ ما ته سجده کونکي په دې شان سره چه
زه پر یوه هسک «جګ» غره ناست یم او چاپیره یې انهار «ویالې» او اشجار «درختې» دي
ناګاه داحوال د اسمان څخه راکښته سول او ما ته پر سجده پریواته او ددې
خوب او د تعبیر د وقوع «پېښېدو» په مابین کښې څلوېښت یا اتیا کاله وه قَالَ يٰبُنَيَّ نو
یعقوب وویل چه اې زما زویکیه لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ مه وایه دا خوب دې
او مه یې ښکاره کوه عَلٰۤى اِخْوَتِكَ وورونو خپلو ته فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ۱۲ نو
حیله به جوړه کړي و هلاك ستا ته حیله سازي په وسوسه شیطاني سره اِنَّ
الشَّيْطٰنَ لِلْاِنْسَانِ بیشکه چه شیطان انسان لره عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ⑤ ښکاره دښمن
دې نو مبادا چه دوی به په زړه کښې ستا سره کینه پیدا کړي وَكَذٰلِكَ او په
شان ددغه غوره والي چه دا ستا خوب دلالت پر کوي يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ غوره
به کړي تا رب ستا وَيُعَلِّمُكَ او ښوونه به وکړي وتا ته مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ
د تعبیر د خوبو یا د بیان د کتب منزله وو او د احادیثو د انبیاؤ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ
عَلَيْكَ او پوره به کړي خپل نعمت پر تا یعنې دا تعبیر و نه به دي پوره کړي په نبوت
سره یا دا نعمتونه د دنیا د اخرت په نعمتو سره وَعَلٰۤى اٰلِ يَعْقُوْبَ او پر نورو
فرزندانو د یعقوب هم كَمَاۤ اَتَمَّهَا عَلٰۤى اَبَوَيْكَ لکه چه پوره کړې وه دا
اولاده ۱۲

نعمت پر دواړو پلرو ستا ے مِنْ قَبْلُ مخکی تر دی اِبْرٰهِيْمَ چه یو ابراهیمؑ
وو چه رسالت او خلت او نجات یې داور څخه د نمرود ورکړی وو وَاِسْحٰقَ
او بل اسحقؑ وو چه یعقوبؑ یې سره د دا ے اسباط څنی پیدا کړی اِنَّ رَبَّكَ
بیشکه رب ستا عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۞۶ دانا دی پر مستحقانو د اجتباء پر حکمته دی ع ۱ ۱۱
چه هر کار ځپل مناسب سره بیانوی لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ او خامخا په تحقیق سره
چه وو په قصه د یوسفؑ کښی وَاِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ او د وروڼو د ده کښی ښکارندی
علامات او دلالات پر قدرت او حکمت د خدای لِّلسَّآئِلِيْنَ ۞۷ د پوښتنه کونکو
د دی قصی د پاره یا د یهودو د پاره چه د رسولؐ څخه فی پوښتنه کړی وه فائدہ
د یعقوبؑ متوله نر من دوولس وه بیا شپږ د دوی څخه چه یهودا، روئیل،
شمعون، لاوی، یالون، یشجر دی دوی د یوی مور وو چه لیّا نومیده او
د یعقوبؑ خپله ترور زئ وه او دوه نور چه بنیامین او یوسفؑ وه دوی
د بلی مور څخه وه چه راحیل نومیده او د لیّا خور وه چه د لیّا تر وفات
وروسته یې په نکاح کړی وه او څلور نور وه چه یادان، نفتالی، جادا،
شردی دوی د دوو سریتو څخه وه چه زلفه او بلهه نومیده اِذْ قَالُوْا یاد کړی
هغه چه وویل دوی لسو وروڼو یو بل ته لَيُوْسُفُ وَاَخُوْهُ او خامخا یوسفؑ
او ورور د ده چه بنیامین دے اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا ډیر ګران دی زموږ و
پلار ته تر موږ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ط او حال دا چه موږ لویه ډله او یو قوتناکه
ټولی یو او دوی دواړه تر موږ واړه او هم ضعیفه او هم بیکاره دی نو
لایقه او مناسبه دا ے وه چه د موږ سره یې تر دوی محبت زیات وی
لیکن اِنَّ اَبَانَا بیشکه چه زموږ پلار لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنِۨ ۞۸ صلے خامخا په لویه
سرګردانۍ کښی لوید لے دی او تدبیر د نیوی څنی خطا سوی دی چه
دواړه یې په څنګ کښی نیولی دی او موږ یې وشاته غورځولی یو

روایت دی چه هرکله شیطان دا خبری ددوی څخه واوریدی نو په صورت د یو سپین ږیری ورته راغلی او ورته یې وویل چه یوسف اوس اختیار د ده لری چه تاسې خپل مریان کړی نو دوی ورته وویل چه اوس یې څه تدبیر وکړو نو ده هم او بعضو ددوی هم داسې وویل چه اقْتُلُوا يُوسُفَ مړکړی یوسف او دا قائل یا دان یا شمعون وو اَوِ اطْرَحُوهُ أَرْضًا یا دی و داسې ځکې ته وغورځوی چه دا بادی څخه لیری وی او لیوان یې کښی د یروی يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ چه مخ د پلار خپل درته خالی سی یعنی چه دے تاسی د پلار د مخې څخه لیری کړی نو د پلار مخ به یخی هم وتاسې ته سی وَتَكُونُوا مِنْ بَعْدِهِ او سی به تاسې وروسته تر قتل یا طرح د یوسف قَوْمًا صٰلِحِينَ ⑨ یو تولی د صالحانو یعنې توبه کښئ نو کی وخدای ته یا صلح کونکی د خپل پلار سره قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ نو وویل یو ویونکی ددوی څخه چه یهودا یا روئیل وو لَا تَقْتُلُوا يُوسُفَ مه وژنی یوسف چه د بې ګناه وژل عظیمه ګناه ده وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ او وی غورځوی په یخ د کوهي کښې يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ چه بیا یې واخلی بعض تیریدونکی پرلاره چه دیر لیری وطن ته یې یوسی او تاسې یخی خنی خلاص سی إِنْ كُنتُمْ فَاعِلِينَ ⑩ که تاسې کونکی یاست ددی کار په مصلحت سره زما بیا پر هم دی قولو اتفاق وکړ او پلار له راغله او فریب یې ورو ړاندی کړی چه اے بابا! وخت د پسرلی دی او قوله صحرا ګلزار ده او زموږ اراده د ښکار ده او زموږ ورور یوسف چه دے کوچنی هلک دی زړه به یې تماشے او خوشحالی غواړی نو د موږ سره یې ولیږه چه ورځ په خوشحالی تیره کړو او ما ښام به بیرته کوره راسو نو ده منع وکړه چه زما یو ساعت بیله ده نه تیریږی لکه چه وائی قَالُوا يَا أَبَانَا نو دوی وویل اے زموږ پلاره مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا څه باعث دی پر تا او

څه تقصیر درې لید لی دے د موږ څخه چه ته په موږ سره اعتبار نه کوې
عَلٰى يُوسُفَ په حق د یوسف کښې او صحرا ته یې د موږ سره نه لیږې وَاِنَّا
لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ (١١) او حال دا چه بیشکه موږ ده لره خامخا نصیحت گر او
خیرخواهان او مهربانه یو اَرْسِلْهُ دے ولیږه مَعَنَا غَدًا د موږ سره
صباورځ صحرا ته يَّرْتَعْ چه فراخه میوه وخوري او معاش وکړي وَيَلْعَبْ
او لوبې وکړي په ښکار او په غشي ویشتلو سره وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ (١٢) او
بیشکه چه موږ ده لره خامخا نګهبانان یو او د هر ضرر او آسیب څخه
به یې ساتو قَالَ اِنِّیْ نو یعقوب ووېل چه بیشکه زه چه یم لَيَحْزُنُنِیْٓ خامخا
ما خفه کوي اوس اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ دا چه دی تاسې د ما څخه بوزئ نو یو خو
دا کار سخت دے چه زه مفارقت نشم قبلولای وَاَخَافُ او بل دا چه زه
بیریږم اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ د دے چه دے به لیوه وخوري ځکه چه هلته
لیوان ډیر دے وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ (١٣) او حال دا چه تاسې به د ده څخه
ناخبره یاست په سبب د اشتغال په ښکار او په تماشه سره قَالُوْا بیا دوی
ووېل لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ خامخا که دے لیوه وخوړي وَنَحْنُ عُصْبَةٌ او
حال دا چه موږ داسې لویه قوتناکه ډله یو اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ (١٤) او بیشکه
موږ په دغه وخت کښې خامخا د زیانکارانو څخه یو الغرض آخر یې د لاسه کړې
او غاړه یې ورته کښینبوول نو رخصت یې کړې ورسره او دوی پر اوږه سپور
کړې او ځنې روان سوه لکه چه وایي فَلَمَّا ذَهَبُوْا نو هر کله چه دوی بوتلو بِهٖ
یوسف او د پلار څخه یې غائب کړې نو هر څه چې د دوی د لاسه کیدل هغه یې
توله په وکړه د انواعو د تعذیب څخه چه دا فقیر یې د بیان څخه عاجزه دی
وَاَجْمَعُوْٓا او اتفاق یې سره وکړي اَنْ يَّجْعَلُوْهُ پرد ی چه دے وغورځوي
فِیْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ د کوهي په بیخ کښې او دا کوهی د کنعان څخه درې فرسخه

عه یعنی د شیطان او د لیوانو ډیرانو ١٢

لیرے وو او او یا گزه یا څه زیات شو رو و نو یوسفؑ یې د کوهي په غاړه ودراوی او قمیص یې ځني وکښی او لاسونه یې ور و تړل او په ملاکښی یې پړی ور واچاوی او د کنعانه څخه لږ دی کوهي پورې هر څو نزدی چه ده بې کولی دوی تولو ته یوه هم ځنی چا نه قبلوله او هغه به لا موجب د زیات د تعذیب دده سوی ترد ے حده چه مرګ ته یې نژدی کړی وو آمّا یهودا ځنی خلاص کړی او بیا به یې وو وی ته ناری کړی چه د خدای په جهت دا قمیص می په غاړه کښی واچوی چه صورت می پټ سی نو دوی به ورته په جواب کښی وویل چه لمر او سپوږ می او یوولس ستوري و ته ور ناری کړه چه سجده یې د رته کوله نو اوس به قمیص هم درته راوړی الغرض په کوهي کښې یې کښته کړی بیا چه مینځ ته یې ورسیدی نو پړی یې غوڅ «پری» کړی او پر جبرائیلؑ د سدرة المنتهیٰ څخه امر وسو چه ژر ځه او په هوا یې ونیسه نو ده هم په هوا و نیوی او په دی کوهي کښی یوه تیږه «ډبره» تر او بو جګه اولوړه وه پر هغه یې کښیناوی او دیوسفؑ په غاړه یو تعویذ وو چه په هغه کښی یو قمیص وو د جنت د حریرو څخه چه ابراهیمؑ ته راغلے وو په هغه وخت کښی چه نمرود و اور ته غورځاوی او د ده ډیرې بربنډ او لڅ کړی او هغه بیا دده ته په میراث راغلے وو هغه جبرائیلؑ راوه ایستی او ده ته یې ور په غاړه کړی او د رب العزت څخه وحی هم ورته راغلی لکه چه وایي وَأَوۡحَیۡنَآ إِلَیۡهِ او موږ وده ته وحی وکړی په هغه کوهي او ښاه کښی چه هیڅ غم مه کوه چه تابه د دے کوهي څخه موږ وباسو او بیا د باچاهي پر تخت به د دے کښینو او د او روڼو به د رته کښینو په ډیره خواری او عاجزی سره او بیا لَتُنَبِّئَنَّهُم خامخا به ته دوی ا ګاه کوی بِأَمۡرِهِمۡ هَٰذَا په هغه کار د دوی سره چه د تاسره یې کړی دی چه هغه دا دے وَهُمۡ لَا یَشۡعُرُونَ ﴿١٥﴾ او حال دا چه دوی به نه

عه یعنے سبب د زیاتوا لے د عذاب د یے لو دده وو ۱۲

پوهیږے په دے سره چه ته یوسف ؑ یے وَجَآءُوْٓ اَبَاهُمْ او دوی راغله وخپل
پلار ته عِشَآءً یَّبْكُوْنَ ⑯ ماخوستن (نماز خفتن) چه په درواغو یے ژړل چه
پلار یے دا اواز واوریدی نو وه بیریدی او ورغلے چه ولے ژاړی او یوسف
چیری دی قَالُوْا یٰٓاَبَانَآ نو دوی وویل چه اے زموږ پلاره اِنَّا ذَهَبْنَا
نَسْتَبِقُ بیشکه چه موږ وصحراته ولاړو چه یو تر بله به سره منډه کیدلو په منډو
او په غشی ویشتو کښی وَتَرَكْنَا یُوْسُفَ او موږ یوسف ؑ یوازی پریښوی عِنْدَ
مَتَاعِنَا زموږ د سامان او د اسبابو سره فَاَكَلَهُ الذِّئْبُ ۚ نو دی لیوه وه
خواړی وَمَآ اَنْتَ او ته نه یے بِمُؤْمِنٍ لَّنَا باور کونکی پر موږ باندی به دے
خبره کښی وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِیْنَ ⑰ که څه هم موږ رشتینی سو وَجَآءُوْ عَلٰى
قَمِیْصِهٖ او دوی راوړه پر قمیص دده باندی بِدَمٍ كَذِبٍ ؕ وینه په درواغو
سره داسے چه یو اوزکړی یی ذبح کړی وو او دده قمیص یے د هغه په وینو
لړلے ووچه دا خبره یعقوب ؑ د دوی څخه واوریده نو ډیریے وژړل بیا چه
قمیص یے په وینو لړلے وه لیدی چه روغ وو او هیڅ ځای پکښے څیرے
سوی نه وو نو ودوی ته یے وویل چه عجبه انصاف دا ره لیوه ووچه د
قمیص سره یے هیڅ غرض نه دے کړے او یوسف ؑ یے په احتیاط سره څنے
ایستلی او کښلی دی او خوړلی یے دی قَالَ نو یعقوب ؑ ودوی ته وویل چه دا
متوله درواغ دے بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ بلکه تاسے ته بنایسته کړے دی اَنْفُسُكُمْ
اَمْرًا ؕ ستاسو نفسونو خپلو یعنی زړه وستاسے کوم یو لوی او ډیر بدکار اختیار کړیدے
فَصَبْرٌ جَمِیْلٌ ؕ نو زما کار ښه صبر دے چه بندا ته پکښی شکایت نه وی
وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ او خدای چه دی مد د غوښتل سوی دی یعنی هم د
ده څخه مدد غوارم عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ⑱ په هغه کارکښی چه تاسی یی بیانوی
د هلاکه د یوسف ؑ او دے په هغه کوهے کښی درے ورځی وو په تخلرمه ورځ

عه یعنی هلاکت د یوسف ۱۲ منه

خدائے بیا د خروج سبب ورته پیدا کړی لکه چه وائی وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ
او راغلے کاروان د مدینه څخه چه مصر ته تلل مګر لاره یے خطا کړی وه نو
پرچول بیابان راغله او دد ے کوهی پوښتنه یے وار ول فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ
نو دوی خپل او به راوړونکی چه نوم یے مالک څوی د زجرخزاعی وو
ور ولیږی فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ ط نو ده ورو ځړول څوړلاغه داوبو ودی څا ته
داوبو پاره او یوسف ته وحی وسوی چه ابوکه ونیسه بیا چه مالک بوکه
پورته راکش کړه نو ډیره درنه وه نو قَالَ يَٰبُشْرَىٰ مالک په لوړ اواز سره
وویل چه اے خلګونه یرے یا اے زما اغا یا اے زما مربیه چه نوم دے
بُشری دی هله راسه دا بوکه راسره وکاږه چه هَٰذَا غُلَامٌ ط دغه دے
هلک چه په بوکه کښی ناست دی نو دکوهی څخه یے راوه ایستی وَأَسَرُّوهُ
بِضَاعَةً ط او پټ یے کړے دلوړه کاروانه څخه په حال کښی دکید ودده مال
دسوداګری یعنی دد ے دپاره چه خرڅ به یے کړو یا خپلو ورونو دده حال د
ده دکاروانیانو څخه پټ کړی او یوسف ته یئ بخپله شر به وویل چه مونږ
ستا په حق کښی هرڅه چه وددوی ته وویل ته چپ اوسه اوکه دی بوغ
وکړی نو مرګ به د ے کړو او کاروانیانو ته یے وویل چه دا زمونږ مریی
دے بے فرمانه او تښتید ونکی دی که یے تاسے اخلی دربا ندی خرچ به یے
کړو وَاللَّهُ عَلِيمٌ م او خدای اګاه «خبر» وو بِمَا يَعْمَلُونَ ⑲ په هغو کارو
سره چه دوے د خپله پلاره او ورور سره کول هغه انواع «قسمونه» د بی ادبی
او د بے رحمی وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ او دے یے خرڅ کړی په کم اولږ قیمت
یا په ناکره «ناچلنده» سره دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ ج چه هغه په شمار یو څو دراهم
وه چه شل دراهم وه چه مجموعه یے قریب دشپږ نیمو روپو په قدر وه ع ۲ ع ۱۴
وَكَانُوا فِيهِ او وو دا ورونه په باب د یوسف کښی مِنَ الزَّاهِدِينَ ⑳ ۱۲

عه ځکه چه دوی به هر ورځ دوه څهرا خستل ۱۲ جامع البیان

د بے رغبتانو یا دا کاروانیان بے رغبته وه د جهته بے فرمانے او د تیښتی دده
تنبیه :- دهغه وخته څخه چه د دے مالك رانیوی بیا ترهغه وخته پورې
چه په مصرکښی یې خرڅ کړی په د دے مابین کښی ډیر عجائب او غرائب تیر
سوی د ے مګر دلته اوس تلو په متابعت د کلام ربے پکار دی نوالغرض
یوسف یې ومصرته راوستی او خرڅ یې کړی وَقَالَ الَّذِی اشْتَرٰىهُ او هغه
سړی وویل چه رانیوی یې مِنْ مِّصْرَ د اهل د مصر څخه چه نوم یې عزیز وو
چه وزیرا و خزانچی او کل اختیار د باچا وو چه ریان بن ولید وه نو د ے
عزیز وویل لِامْرَاَتِهٖٓ وخپلی ښځی ته چه نوم یې زُلیخا وه په ضمه سره د
اول او په فتحه سره د ثانی اَکْرِمِیْ مَثْوٰىهُ چه په عزت لره ځای ددی مړی
یعنی بنه موړ او پټ او خوشحاله یې ساته عَسٰٓى اَنْ یَّنْفَعَنَآ بنایي چه د ے
وموږ ته ګټه ورسوی په کار او بار او په معاملا تو د روزګار کښی اَوْنَتَّخِذَهٗ
وَلَدًا ط یا به موږ د ے په فرزند سره ونیسو چه دوا په اولاد نه لرو وَکَذٰلِكَ او
همداسی لکه چه موږ عزیز پرده مهربانه کړی وو مَکَّنَّا لِیُوْسُفَ ځای او ارامځاه
ورکړی وه موږ ویوسف ته فِی الْاَرْضِ ز په ځمکه کښی د مصر او موږ دی باچا
کړی وو چه باچاهانه تصرفات یې پکښی کول یود پاره د دا دخواهی وَلِنُعَلِّمَهٗ
او بل د پاره دد ے چه زده کړو موږ ده ته مِنْ تَاْوِیْلِ الْاَحَادِیْثِ ط د تعبیره
څخه د خوبونو یا د معانیو څخه دخدای د کتاب وَاللّٰهُ غَالِبٌ او خدای غالب د ے
عَلٰٓى اَمْرِهٖ پر خپل کار باندی چه حکم یې هیڅوك نه سی ردولای په هر باب
کښی یا په وارې د یوسف په باب کښی وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات خلك
چه دی لَا یَعْلَمُوْنَ (۲۱) په د ے نه پوهیږی وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗٓ او هرکله چه
یوسف وخپل قوت ته ورسیدی یعنی چه دا تلسو یا دیویشتو کالو سو
اٰتَیْنٰهُ حُکْمًا نو موږ ده ته حکمت ورکړی یعنی علم سره د عمله یا حکم په ما

بین کښې دخلګو وَّعِلْمًا ط او پوه په تعبیر و وَکَذٰلِكَ او همداسې نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ (۲۲)
جزا ورکوو موږ ونیکو کارانو ته وَرَاوَدَتْهُ الَّتِیْ او طلب وکړي د یوسف نه هغه ښځې هُوَ فِیْ بَیْتِهَا چه د دے دهغې په کور کښې ووېعنې زُلیخا عَنْ نَّفْسِهٖ
دنفس ښځه دده یعنې خپل مراد یې ځنې طلب کړي چه د ما سره جفت سه او دے
یې د ننه په او مه کوټه کښې ننوېستي د هغوا وو کوټو چه دی د هم دې مطلب
دپاره جوړی کړي وي هره یوه د بلې ښځه د ننه وه وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ او دے
کلکې پورې کړي «بندې کړي» دا اوه سره دروازې دد دے کوټو او بیا یې
قلف او ځنځیر هم کړی وَقَالَتْ هَیْتَ لَكَ ط او بیا یې ورته وویل چه جلب راځه
یا شرخ که وماته او دا هیت لك اسم فعل دی د تَعَالَ یا دَاَقْبِلْ په معنیٰ
دراسه بیا چه یوسف دا حال ولیدی قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ نو ده وویل چه
پناه غوارم په خدای پورې دد دے بدکار ښځه په پناه بیولوسره اِنَّهٗ رَبِّیْٓ
چه بیشکه دی رب زما دی اَحْسَنَ مَثْوَایَ ط چه بلند کړے یې ده مرتبه
زما چخپل دربار کښې نو زه هم دده امر ښځه مخالفت نه کوم یا معنیٰ دا
چه عزیز زما خښتن دے او ډېره نیکی یې هم راسره کړیده چه وتاته
یې ویلی دی چه اکْرِمِیْ مَثْوٰیهُ نو زه هم دده په حرم کښې خیانت نه کوم
چه کفران د نعمت کیږی اِنَّهٗ بیشکه شان دا دے لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ (۲۳)
چه نه سي پیدا کولای خلاصون هغه ظالمان چه د نیکی پرځای بدکوی یازناکاران
وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ج او خامخا په تحقیق سره دِی اراده وکړه یعنې زلیخا د یوسف
سره اختلاط کاوی د عزم پرطریقه وَهَمَّ بِهَا او ده هم ددی سره اراده و
کړه نه پرطریقه د عزم بلکه هسې په مجرد میل طبعی سره سره د منع اختیار
او دا میل دا ختیاره ښځه و تلی دی نو ځکه بنده نه دی په ماخوذه بلکه ده
د خپل نفس سره په دے مقام کښې د یراستقامت او ډېره مجاهده

کړیدۀ مخکه دے د مدح مستحق سوی دی اوهرچه دا عبارت دی لَوْلَاۤ
اَنْ رَّاٰ کہ دہ نہ وای لیدلی بُرْهَانَ رَبِّهٖ ط دلیل قاطع دخپل رب نو ددے
عبارت جواب محذوف دے چه هغه دادے لکان ما کان یعنی نو سوی به
وای هغه کارچه سوی به وو بیا په دے برهان کښی ډیر اقوال دی چه
جبرائیلؑ یے ولیدی یا یے خپل پلار روه لیدی چه ولاړ دی او دحیرته څخه
خپلے گوتی چیچی یا اواز وسو چه فهم کړه چه ته پیغمبر یے او دا کار د پیغمبرانو
نه دے مگر اصح دادی چه هغه برهان محض عصمت الٰهی وو وَكَذٰلِكَ هم
داسی موږ دہ ته حکمت الٰهی ورکړی وو لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْۤءَ ددی دپاره
چه موږ دده څخه بدی چپه کړو یعنی خیانت دعزیز په حرم کښی وَالْفَحْشَآءَ
اوناکاره فعل چه زنا ده اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۲۴﴾ بیشکه چه دی زموږ
دخاصو بندگانو څخه وو یعنی دهرنالائقه کار څخه پاك وه روایت دی چه
هرکله یوسفؑ پوه سوچه په هیڅ شان می نه پریږدی نو ځنی منډہ یے کړه
او دی هم ورپسی منډہ کړه اوچه دے به وهری دروازی ته وررسیدئے
هغه به دخدای په حکم سره پخپله خلاصه سوه او هداسی دواړو منډی
سره وهلی تراووهمی دروازی پوری لکه چه وائی وَاسْتَبَقَا الْبَابَ اویوتربله
سره مخکی کیدل ودروازی ته یوسفؑ دپاره دځان خلاصولو او زلیخا دپاره
دراینولو چه ناگاه وروررسیده نولاس یے دده وگریوان ته وروا چولو
وَقَدَّتْ قَمِيْصَهٗ اودے څیری کړی په دی راکشولو سره قمیص دیوسفؑ
مِنْ دُبُرٍ دطرفه څخه دشا وَّاَلْفَيَا سَيِّدَهَا اومخامخ سوه دوی دواړه د
زلیخا دخاوند سره چه عزیز وو لَدَا الْبَابِ ط دوروستی دروازی سره
چه دے دبیرون څخه راغلے اودوی د دننه څخه ورغله بیا چه عزیز دواړه
ساه وهونکی او زیر رنگی ولیدله نو گمان یے وسوچه سره اخته دی نو

پوښتنه یې وکړه چه داولی نو زُلیخا دخپلی بیری څخه په جواب کښی تلوار
وکړی نو قَالَتْ مَا جَزَآءُ دی وویل چه نه ده جزا مَنْ دهغه چا اَرَادَ بِاَهْلِكَ
سُوْٓءًا چه اراده اوکړی ستا دعیال «کورواله» سره دبدی اِلَّآ اَنْ یُّسْجَنَ مګرداچه
په زندان کښی دی واچول سی اَوْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۲۵﴾ یا سخت او دردناکه عذاب
دی ورکړل سی چه بیا داسی کارونکړی بیا چه یوسف پوه سو چه اوس مې
زندان ته بیایی نو قَالَ ده وویل هِیَ رَاوَدَتْنِیْ چه هم طلب دې کړید مې
دما څخه عَنْ نَّفْسِیْ د نفس زما یعنی خپل مراد یې را څخه وغوښت اوما دا
خبره قبوله نکړه بیا عزیز وویل چه دا درواغ او رشتیا به زه څرنګه معلوم
کړم نو یوسف وویل چه په دی کاله «کور» ددی ویاد خلور ومیاشتو هلك دی
هغه زما شاهد دی نو عزیز د دی خبری څخه استبعادوکړی «یعنی د اخبره لیری وبلل»
مګر هلك یې وپوښتی لکه چه وایی وَشَهِدَ شَاهِدٌ او شاهدی ادا کړه یو
شاهد مِّنْ اَهْلِهَا د خپلخانی او داهله څخه ددی چه دا دی عزیزه وګوره اِنْ کَانَ
قَمِیْصُهٗ که وو قمیص دده یعنی ګریوان یې قُدَّ مِنْ قُبُلٍ که څیری کړه سوی
وو دمخ د طرفه فَصَدَقَتْ نو رشتیا ویلی دی زلیخا وَهُوَ مِنَ الْکٰذِبِیْنَ ﴿۲۶﴾
نو دې د درواغ ویونکو څخه دی ځکه چه دې به ور ورلاندی سوی وی
او دې به ترګریوان نیولی وی او بیرته تمولیږی پوری وهلی وی نو ګریوان به یې
دمخ دخوا څیرې سوی وی وَاِنْ کَانَ قَمِیْصُهٗ او که قمیص دده وو قُدَّ
مِنْ دُبُرٍ چه څیرې کړه سوی وی د شا لخوا فَکَذَبَتْ نو درواغ ویلی دی
زلیخا وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ﴿۲۷﴾ او دې د رشتیا ویونکی څخه دی ځکه چه ده
به تیښته کړی وی او دې به ترګریوان را نیولی وی نو ګریوان به یې د شا لخوا
څیری سوی وی فَلَمَّا رَاٰ قَمِیْصَهٗ نو هرکله چه عزیز وه لیدی قمیص دده
قُدَّ مِنْ دُبُرٍ چه څیری وو د شا لخوا قَالَ نو ده د ډیره غضبه څخه وویل

عه یعنی شاته به یې پوری وهلی وی ۱۲

إِنَّهُ مِن كَيْدِكُنَّ ؕ بیشکه دا کار د مکره او د فریبه ستاسو د ښځو د ے
إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ بیشکه چه مکر او فریب ستاسو ډیر لوئ د ے نو سړے
شُو رتیرباسی بیا عزیز و یوسف ته پر طریقه د عذر خواهی سره و ویل يُوسُفُ
أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا سکته ا ے یوسفه ته اعراض او څنګ وکړه ددی خبری ځنې او
بل چا ته یې مه وایه بیا یې و زلیخا ته و ویل چه وَاسْتَغْفِرِي لِذَنْۢبِكِ ۖ او
اے زلیخا ته بخښنه و غواړه د خدای ځنې د خپلې ګناه چه خپل ګنهګار ځان
دی پاك کړې او پاك سړی د ے ګنهګار کړی إِنَّكِ كُنتِ بیشکه چه ته یې
مِنَ الْخَاطِئِينَ ﴿٢٩﴾ د خطاکارانو ځنې روایت د ے چه اګر که «کرشیم»
۳
ع
۹
۱۳
عزیز پر یوسف باندی د پټولو د پر تاکید کړی وو مګر دا سے خبری کله
پټی پاته کیږ ے نو دا خبره د مصر د ښځو په خولو کښی کښیوته او د زلیخا د
بدنامی آوازخپور سو لکه چه وایی وَقَالَ نِسْوَةٌ او وویل یو څو ښځو د
باچا د خواصو خلګو چه یوه د حاجب «حرکیدار او پایپره دار» او بله د ساقی، بله د
اشپز، بله د میرا خور، بله د زندانی وه فِي الْمَدِينَةِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ په ښار
د مصر کښی چه ښځه د عزیز د مصر چه ده تُرَاوِدُ فَتَاهَا طلب کوی د خپله
مریي ځنې عَن نَّفْسِهِ ۚ د نفسه ځنې د ده چه خپل مراد ځنې غواړی قَدْ
شَغَفَهَا حُبًّا ۖ په تحقیق سره داخل سوی دی د زړه په پرده کښی د دے
محبت د یوسف إِنَّا لَنَرَاهَا بیشکه چه موږ خامخا دا ښځه وینو فِي ضَلَالٍ
مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ په ښکاره ګمراهی او خطایی کښی چه خپل ځښتن «خاوند، میړه» لری
او بیا زړخریدی مریي پسی ګرځی فَلَمَّا سَمِعَتْ نو هر کله چه زلیخا واوریدی
بِمَكْرِهِنَّ دا مکر یعنی پټه خبره د دوی چه زلیخا پر خپل مریي عاشقه ده
او دے ځنی تبنتی أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ نو پوځوك یې وهغوی ته ور ولیږ ے
نو غلولیبنت ښځې راغلی پنځه پکښی هم هغه ښځې او پنځه دیرش نوری وو سره

راغلے وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَـًٔا او تیار یے کړی د یاره ددوی د عزت تکیه گاه
د قیمتی بالبنتانو څخه چه تکیه پرو کړی وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ او بیا دے
ورکړی و هری یوی ته ددے ځلو لیښتو بنځو څخه سِكِّیْنًا قلم تراش د پاره د
پریکولو د نارنجانو او دغو ښو او ددوی ځکه چه هغوی به دوی به لاسو
نه ما تو له نو بیا یے یوسف ته دننه قیمتی جامی ور واغوستلی وَّقَالَتِ اخْرُجْ
او ورته وی ویل چه د باندی راوځه او راښکاره سه عَلَیْهِنَّ ج پر دوے
باندے نو دی راووتے فَلَمَّا رَاَیْنَهٗۤ نو هر کله چه دوی ولیدی یوسف اَكْبَرْنَهٗ
نو دیر عظیم الشان یے پیدا کړی هم په جمال او هم په کمال کښی او د دیره حیرته
څخه یے چل ځان بیخے هیر سو وَقَطَّعْنَ اَیْدِیَهُنَّ او غوڅ (پری) یی کره لاسونه
چل په قلم تراش سره وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ او دوی تو لو وویل د دیره تعجبه څخه
چه پاکی ده خدای لره چه داسے شی یے پیدا کړی دی مَا هٰذَا بَشَرًا ط نه دی
دا مریی انسان اِنْ هٰذَاۤ نه دے دا شخص اِلَّا مَلَكٌ كَرِیْمٌ (۳۱) مگر ملائکه ده
مقربه وخدای ته ځکه چه دا جمال او دا کمال سره له داسے عصمته د شان
څخه د بشر نه دے بیا چه زلیخا دا بنځے ولیدی چه د دیره حیرته ځان او
جهان ځنی ورک سو قَالَتْ نو دی ودغو بنځو ته وویل فَذٰلِكُنَّ الَّذِیْ نو دا
هغه شخص دے لُمْتُنَّنِیْ فِیْهِ ط چه ملامتیا به تاسے و یله پر ما باندی په
محبت کښی دده نو اوس پوه سواست په دے چه ما کښی هیڅ ملامتیا نسته
وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ او خامخا په تحقیق سره ما دده څخه طلب کړی دی عَنْ نَّفْسِهٖ
د نفس څخه دده چه زما مدعیٰ وکره فَاسْتَعْصَمَ ط نو ځان یے وساتی او زما
مطلب یے پوره نه کړی وَلَئِنْ لَّمْ یَفْعَلْ او خامخا که دی ونه کړی مَاۤ اٰمُرُهٗ
هغه کار چه زه ورته وایم لَیُسْجَنَنَّ نو خامخا به په زندان کښی کره سی وَلَیَكُوْنًا
مِّنَ الصّٰغِرِیْنَ (۳۲) او خامخا به د خوارانو او د لیلانو څخه سی نو بیا چه

یوسفؑ ددی دازجراو تهدید واوریدے قَالَ نو ده د ډیره اضطرابه څخه
وویل رَبِّ السِّجْنُ چه اے زما ربه بندی خانه چه ده اَحَبُّ اِلَیَّ ډیره
خوښه ده زما مِمَّا یَدْعُوْنَنِیْٓ اِلَیْهِ ترهغه کار چه دا ښځی ما وهغه
کارته بولی چه ددوی فرمانبرداری ده وَاِلَّا تَصْرِفْ عَنِّیْ اوکه ته و نه
ګرزوی پخپل فضل د ما څخه کَیْدَهُنَّ مکراوفریب ددوی نوزه عاجزه بنده
یم اَصْبُ اِلَیْهِنَّ نوزه به ودوی ته میل وکړم وَاَکُنْ مِّنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿٣٣﴾ او
زه به سم په سبب ددے میل سره د نادانانو څخه فَاسْتَجَابَ لَهٗ رَبُّهٗ نوقبوله
کړه ده لره رب دده دا دعا فَصَرَفَ عَنْهُ کَیْدَهُنَّ ط نوجب یے کړی د ده څخه
دا مکراوفریب ددوی اِنَّهٗ بیشکه دی چه دی هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿٣٤﴾ هم
دی اوریدونکی د دعا دسائلانو دی دانا دی په حال د هرچا ثُمَّ بَدَا
لَهُمْ بیا څه موده وروسته و دوی ته یو بل مصلحت ښکاره سو یعنی عزیز
اوعیال دده ته مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰیٰتِ وروسته ترهغه چه دوی دیوسف
دپاکی نښی هم ولیدی لکه شاهد ے دهلک اوڅیریوالے دقمیص دشالخوا
او پریکول دلاسو په قلم تراشو سره اوهغه مصلحت دا وو لَیَسْجُنُنَّهٗ چه
دوی بندی کړی یوسفؑ په زندان کښی واچوی حَتّٰی حِیْنٍ ﴿٣٥﴾ تر یو وخته پورے ع ٤ ٦ ١٤
ددے دپاره چه په خلکو کښی یے نوم ولاړسی چه زُلیخا پاکه وه او خائن
هم دے وو او دے هم عبرت واخلی نو یوسفؑ یے په زندان کښی
واچولو وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ اوننوتل دده سره په زندان کښی فَتَیٰنِ ط
دوه مریان د باچا درباریان یو ساقی او بل اشپز دده په تهمت سره د
زهرو او په زندان کښی دوی ولیده چه بند یانو به یوسفؑ ته خوبونه
ویل او ده به تعبیرونه ورکول نو دوی دواړو هم دازما یښت لپاره د
خانه خوبونه په دروا غوړته جوړکړه لکه چه وایی قَالَ اَحَدُهُمَآ

وویل یوه ددوی دوو ځخه چه ساقي وو اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ بیشکه زه چه یم وینم
خپل ځان په خوب کښې اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ چه رانبستیځم انګور د شرابو لپاره وَ
قَالَ الْاٰخَرُ او وویل هغه بل چه اشپز وو اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ بیشکه چه زه وینم
خپل ځان اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ چه زه وړم پر سر خپل خُبْزًا ډوډۍ
تَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ ۭ چه خوري مرغان د هغه ډوډۍ ځخه نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ
خبر کړه موږ په تعبیر سره د هر یوه خوب اِنَّا نَرٰىكَ بیشکه چه موږ ناوینو
مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۶﴾ د نیکو کارانو ځخه چه د بندیانو سره ډیر احسان کوے
نو یوسف په تعبیر کښې جلتي «تلوار» ونه کړه ځکه چه اشپز ته یکښې نقصان
وه اَمّا وعده یې ورته کښیښوه لکه چه وایي قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا وویل یوسف چه
لا نه به وی راغلي تاسے دواړو له طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهٖٓ طعام چه روزي هر کول
کیږي په هغه تاسے ته اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا مګر چه زه به تاسي دواړه خبر کړم بِتَاْوِيْلِهٖ
په تعبیر سره د هغه خوب یا په احوال سره د هغه طعام چې تاسي ته به راځي چه
کوم قسم طعام به وی او رنګ او خوند به یې څرنګه وی قَبْلَ اَنْ يَّاْتِيَكُمَا ۭ مخکې
تر هغه چه تاسي دواړو ته راځي ذٰلِكُمَا دا تعبیر یا دا طعام نو دوی ورته
وویل چه موږ د کاهنانو ځخه هم داسي خبري اوریدلي دي ورته وویل
چه دا کهانت نه دے بلکه دا زما معجزه ده مِمَّا عَلَّمَنِيْ رَبِّيْ ۭ د هغه بابه
چه ما ته زما رب ښودلي دي اِنِّيْ تَرَكْتُ بیشکه چه ما پرې ایښی دے
مِلَّةَ قَوْمٍ دین د هغه خلکو لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ چه ایمان نه راوړي پر خدا
وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ او حال دا چه دوی په قیامت پورې هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾
هم دوی نا باوره دي وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَاۗءِيْٓ او پیروي کړې ده ما د
دین د خپلو پلرو اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ۭ چه د ادری سره دی او دا
اظهار یې ددی د پاره وکړے چه د دوی رغبت په سبب د هغو سره د ده

ودین ته پیدا سے مَا كَانَ لَنَآ موږ لره نه ده بائده اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ
شَيْءٍ دا چه موږ شریك ونیسو د خدا ے سره هیڅوك ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ
دا توحید د فضله ځځه د خدا ے دی عَلَيْنَا پر موږ باندی په وحی سره
چه وموږ ته ئے کړی دی وَعَلَى النَّاسِ او پر خلګو باندی هم چه موږ
یے د اګاهی دپاره ور ته راليږلے يو وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات
خلك چه دے لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۸﴾ شکر نه کا بیا ے پر رالیږلو د دے پیغمبرانو باندے
يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اے دواړو ملګرو د بندے خانی ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ ایا هر
قسم خدایان ستاسے چه بعضی د تیږو او بعضی د لرګیو او بعضے د سپینو زرو
ځځه تاسے جوړ کړے دی خَيْرٌ دا غوره دی اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾ او که
هغه خدا ے غوره دے چه یوازی دے شریك نه لرے په الوهیت کښی غالب
دے په هرسره چه هیڅوك مقابله نه سے ورسره کولا ے مَا تَعْبُدُوْنَ تاسے عبادت
نه کوی مِنْ دُوْنِهٖٓ غیر د خدا یے اِلَّآ اَسْمَآءً مګر د تشو نومو ځکه چه په مسمیاتو
کښے یې هیڅ نښته او بیا هم هغه مسمیات سَمَّيْتُمُوْهَآ په نامه کړید ے
هم تاسے د خپله ځانه ځځه بیله حجتہ بیله برهانه اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ تاسے او
پلرونه ستاسی مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ چه نه دے رالیږلے خدای د سره بِهَا
مِنْ سُلْطٰنٍ ط پر عبادت کولو د دوی هیڅ دلیل اِنِ الْحُكْمُ نه دی اختیار
د هیڅ شی اِلَّا لِلّٰهِ ط مګر خاص خدا ے لره دی اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا فرمان یے
کړی دے دد ے چه عبادت مه کوی د بل هیڅا اِلَّآ اِيَّاهُ ط مګر هم دده
ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ دا هغه دین دے چه سم او حق دی او نبکا ره دی وَلٰكِنَّ
اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات خلك چه دے لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۰﴾ نه پوهیږی
د حق په لار يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ اے دواړو ما ملګرو د بندے خانے

عه که بتان دی او که نور څه دی ۱۲ عه یعنے د خبرولو د دوی په احکامو د دین ۱۲ عه خاوندان د دی نومو ۱۲

اَمَّا اَحَدُکُمَا هر چه یو د تاسے دوارو چه هغه ساقی دے فَیَسْقِیْ رَبَّهٗ خَمْرًا
نو هغه به چښی څپل باچا سره شراب یعنی بیرته به پرخپله مرتبه وورین سے
وَاَمَّا الْاٰخَرُ او هر چه هغه بل دے چه اشپز دے فَیُصْلَبُ نو هغه ورنده
یعنے په دار به سی فَتَاْکُلُ الطَّیْرُ نو خوری به مرغان غوښی مِنْ رَّاْسِهٖ ط
د ده د سره څخه بیا دوی ورته وویل چه موږ د رواغ ویلی وو خوب مے
نه وه لیدلی نو ده ورته وویل چه قُضِیَ الْاَمْرُ الَّذِیْ اوس مقرر او ثابت
کړه سو هغه تعبیر د خوبو ستاسے فِیْهِ تَسْتَفْتِیٰنِ (۴۱) چه په هغه کښی تاسے
فتوٰے او تعبیر غوښتی د ما څخه اوس چه هر څه ما ویلی دی هم هغه به وسے
وَقَالَ لِلَّذِیْ او یوسف وهغه سړی ته وویل ظَنَّ اَنَّهٗ نَاجٍ چه دی پوهیدے
چه دے خلاصیدونکے دی هم د زندانه څخه او هم د قتل څخه مِّنْهُمَا اذْکُرْنِیْ
د دوے دوارو څخه چه ساقی وو هغه ته یے وویل چه ما یاد کړه په هغه وخت
کښی چه ته پرخپله مرتبه ودریدلے عِنْدَ رَبِّکَ نزد د خپل باداړ څخه یعنے زما
پاکی ورته ظاهره (اښکاره) کړه چه د بنده می وباسے بیا څو ورځی وروسته
باچا ته معلومه سوه چه خیانتگر یوازی اشپز وو نو دریمے ورځی وروسته
یے دواړه طلب کړه او اشپز یے په دار کړے او ساقی یے بیا پرخپل منصب
ودراوی او بیا چه هر کله ساقی په خپل معاش کښی کښیوتی فَاَنْسٰهُ الشَّیْطٰنُ
ع ۵ / ۷ / ۱۵ نو شیطان څخه هیر کړے ذِکْرَ رَبِّهٖ یاد ول د یوسف وخپل باداړ ته فَلَبِثَ
فِی السِّجْنِ نو پاته سو دی په هغه بندے خانه کښی بِضْعَ سِنِیْنَ (۴۲) او وه
کاله د جمهورو په نزد او بضع د درو او د نو تر ما بین عدد و ته وایل کیږی
او حدیث شریف دے چه رَحِمَ اللّٰهُ اخی یوسف لولم یقل اذکرنی عند
ربك لما لبث فی السجن بضعًا وَقَالَ الْمَلِكُ او باچا وویل وروسته

عه مهربانه دی سی خدای زما پر ورور یوسف علیه الصلوٰة والسلام باندی که ده نه وای ویلے چه ما د خپل باداړ
ته وریاد کړه نو په بندی خانه کښی به اوه کاله نه وو پاته سوی ۱۲

تراوتوکالو اِنِّیٓ اَرٰی چه بیشکه ما ولیدله په خوب کښې سَبْعَ بَقَرٰتٍ
سِمَانٍ اووه غواوې چاغې چه دوچه سینده څخه راوولی یَّاْکُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ
چه وخوړے دا ځربی «چاغې» اووه نورو خوارو «ډنګرو» وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ او
بیا اووه شنه وږی می ولیدلو وَّاُخَرَ یٰبِسٰتٍ ط او نور اووه می ولیده وچ
چه داوچ وږی پرهغو شنو راچاپیره سوه اوهغه یے هم وچ کړه یٰٓاَیُّهَا الْمَلَاُ
اے ډلے د معتبرانو او وکانو اَفْتُوْنِیْ فتوی یعنے تعبیر راکړی تو له وماته
فِیْ رُءْیَایَ په دے خوب کښې زما اِنْ كُنْتُمْ که تاسے یاست لِلرُّءْیَا
تَعْبُرُوْنَ ﴿۴۳﴾ چه د خوب تعبیر کولای سی قَالُوْٓا نو وویل دی معتبرانو
اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ج چه دا خوشی باطل خیالونه دی د خوبو وَمَا نَحْنُ او
موږ نه یو بِتَاْوِیْلِ الْاَحْلَامِ په تعبیرو د خوشی باطلو خیالو بِعٰلِمِیْنَ ﴿۴۴﴾ پوهیدونکے
بلکه موږ تعبیر د رشتینو خوبو کوو وَقَالَ الَّذِیْ او وویل هغه سړي نَجَا مِنْهُمَا
چه خلاص سوی وو د مرګه څخه د هغو دواړو مریانو د بندی خانی چه
ساقی وو وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ او یاد یے سو تعبیر ویل د یوسف ترډیرے
مودے وروسته نو هغه وویل اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِیْلِهٖ چه زه به تاسے خبر
کړم په تعبیر د دے خوب فَاَرْسِلُوْنِ ﴿۴۵﴾ نو تاسے ما ولیږی و بندیخانے
ته هلته یوه پرسنه معبّر[1] دے نو دوی ولیږی بیا چه ورغلی نو ورته ویے
ویل یُوْسُفُ اے یوسفه اَیُّهَا الصِّدِّیْقُ اے ډیره راست ګویه اَفْتِنَا
فتوا ے یعنی موږ ته تعبیر راکړه فِیْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ په اووه غواوو کښې سِمَانٍ
چه چاغے وی یَّاْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ چه وخوړلی دا اووه چاغے اووه
نورو خوارو وَّسَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ او بل په اووه شنو وږو کښې وَّاُخَرَ
یٰبِسٰتٍ لا او اووه نورو وچ وږی چه داوچ پرهغو شنو چاپیره سوا و هغه
یے هم وچ کړه په دی تعبیر کښې هلته ټوله مخلوق حیران دی نو ته یے تعبیر

[1] یعنے تعبیر کوونکی او د خوبو د معنے بیانونکی ۱۲

را ته و وایه چه لَّعَلِّیٓ اَرۡجِعُ اِلَی النَّاسِ بنایلی چه زه ورسم بیرته هغه
خلګوته چه باچا او تابعان یې دی لَعَلَّهُمۡ یَعۡلَمُوۡنَ (۴۶) بنایلی چه دوی
معلوم کړې دا تعبیر یا علم او شرف ستا قَالَ تَزۡرَعُوۡنَ وویل یوسف
چه کری به تاسه یا امردې په صورت داخبار یعنې وکری تاسې هرقسم
غله سَبۡعَ سِنِیۡنَ دَاَبًا اووه کاله په هم هغه پخوانی عادت خپل چه هغه
اووه غواوی چاغی اشارت دی و دغه اووه آبادو کلو ته فَمَا حَصَدۡتُّمۡ نو
هر هغه چه تاسې ددې غلو څخه وریبل فَذَرُوۡهُ فِیۡ سُنۡۢبُلِهٖۤ نو پرین دې
تاسې هغه ریبل شوې غله پخپلو وږو کښې یعنې مه یې غوبل کوی او مه یې بادوی
اِلَّا قَلِیۡلًا مګر لږ په قدر د حاجت مِّمَّا تَاۡکُلُوۡنَ (۴۷) د هغه غلې چه تاسې یې
خوری نو هغه قدر څنی پاک کړی ثُمَّ یَاۡتِیۡ مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِکَ بیا به راسی وروسته
تردی اووکلو سَبۡعٌ شِدَادٌ نو را اووه کلونه سخت چه اووه خواری «وچګری»
غواوی اشارت دی و دغو خوارو کلوته یَّاۡکُلۡنَ چه و به خوری اهل ددی اووه
سختو کلو مَا قَدَّمۡتُمۡ لَهُنَّ هغه غلې چه پخوا «مخکی» تاسې ذخیره کړی دی د قحط
کلو دپاره اِلَّا قَلِیۡلًا مِّمَّا تُحۡصِنُوۡنَ (۴۸) مګر لږ د هغه غلې چه تاسې یې تخم ته
ساتی ثُمَّ یَاۡتِیۡ مِنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِکَ عَامٌ بیا به راسې وروسته تردی قحطو
کلو یو کال چه پخلسم کال به وی فِیۡهِ یُغَاثُ النَّاسُ چه په هغه کال کښی به
د خلګو فریاد واوریدل سې یا به پردوی باران وکړل سی وَفِیۡهِ یَعۡصِرُوۡنَ (۴۹) ع ۷ ۱۶
او په هغه کال کښی به ونښتیځی دا خلق هغه شیان د نښتیځلو لکه انګور
او داسې نور د یرشیا بیا ساقی چه باچا ته راغلی او تعبیر یې ورته بیان کړی
نو د یری یې خوښ سوا او ددې خبری اقتضاء یې وسوه چه زه یې پخپله
څنی واورم نو را وی غوښتی لکه چه وایی وَقَالَ الۡمَلِکُ ائۡتُوۡنِیۡ بِهٖ او
باچا وویل چه ما ته یوسف راولی فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوۡلُ نو هر کله چه استاذی

دباچا راغلے قَالَ ارْجِعْ نو یوسف ورته ووییل چه بیرته ولاړ سه اِلٰى رَبِّكَ
فَسْئَلْهُ وخپل باداره نو ته سوال وکړه وباچا ته چه دَے دِی زما د حال
تحقیق وکړے چه مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِیْ څه حال وو د هغو ښځو قَطَّعْنَ اَیْدِیَهُنَّ ط
چه هغوے خپل لاسونه د زلیخا په مجلس کښی پریکړی وو او د دے نوم ږي. د
دیره ادب اوکړه ورسره وانه خستی اِنَّ رَبِّیْ بیشکه زمارب چه دی بِكَیْدِهِنَّ
عَلِیْمٌ ۵۰ د دوی په مکرسره دانا دے نو بیا باچا دا ټولے ښځی راحاضری کړی د زلیخا
سره دپاره د تحقیق قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ نو باچا ودوی ته ووییل چه ستاسے څه حال
وو اِذْ رَاوَدْتُّنَّ یُوْسُفَ په هغه وخت کښی چه تاسے د یوسف څخه وغوښتی عَنْ
نَّفْسِهٖ ط د ده د نفس څخه یعنے تاسے چه خپل مراد څخه وغوښتی نو ده بیا څه درسره
وکړه قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ نو دوے ټولو ووییل چه پاکی ده خدای لره چه یوسف یے
دا سے پاك پیدا کړے دی مَا عَلِمْنَا عَلَیْهِ موږ نه یو پوهیدلی پر ده مِنْ سُوْٓءٍ ط د هیڅ
قدر بدی نه دلږ ے او نه دډیرے او زلیخا هم په دی پوه سوه چه فائده سر تر سره
په راستی کښی ده نو دے هم اقرار وکړے لکه چه وایی قَالَتِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ
الْـٰٔنَ و ووییل ښځے د عزیز یعنے زلیخا چه اوس حَصْحَصَ الْحَقُّ ز ظاهر سو رشتیا
اَنَا رَاوَدْتُّهٗ چه هم دا ما طلب وکړی د ده څخه عَنْ نَّفْسِهٖ د ده د نفس څخه یعنی ما
وصال غوښتی د ده څخه وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِیْنَ ۵۱ او بیشکه د ے خامخا د رشتیا
ویونکو څخه وو په هغه قول کښے چه یے عزیز ته ویلي وو چه دا راپسی ده بیا باچا
پیغام ورولیږ ے چه ښځے پخپله گناه قائلی سوی نو اوس راسه چه په تعزیر لی کړو
ورته بیا یوسف ورته ووییل چه دا تحقیق می د تعزیر د پاره نه دی کړی بلکه ذٰلِكَ دا
تحقیق چه می وکړے لِیَعْلَمَ اَنِّیْ د دے د پاره چه عزیز په دے پوه سی چه بیشکه مَا لَمْ
اَخُنْهُ بِالْغَیْبِ خیانت نه و وکړی ما دده په پټه او حرمت د عیال احق د تربیت د ده ی ساتلی
وو وَاَنَّ اللّٰهَ او بیشکه چه خدا لَا یَهْدِیْ کَیْدَ الْخَآئِنِیْنَ ۵۲ پر لا رنه برابر و مکر د خیانت گرانو

وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِیۡ او زه نه پاکوم خپل ځان یعنې داسې نه وایم چه
ما خیانت دا خپل ځان څخه ساتلې دے بلکه محض په عصمت الهي سره دی او
داسې هم نه وایم چه زما نفس د میله څخه پاک دے ځکه چه اِنَّ النَّفۡسَ بیشکه
نفس چه دے لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوۡٓءِ خامخا ډیر امرکوونکی دی په بدۍ سره په هر وخت کښې
اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیۡ ط لیکن په هغه وخت کښې نه دے چه مهربانی وکړی رب زما
په خپل عصمت سره اِنَّ رَبِّیۡ غَفُوۡرٌ بیشکه چه زما رب بخښونکی دے د هغه
ارادې چه وفعل ته نه وی تللی رَّحِیۡمٌ (۵۳) مهربانه دے چه په عصمت ساتنه کوی او
څوک داسې وائی چه دا درے سره آیتونه حکایت دی د زلیخا د قوله او مستثنی ځنې
نفس د یوسفؑ دی بیا وروسته ترظهوره (ښکاره کیدو ۱۲) د استقامت او د عفت (یعنې داسې ۱۲) د باچا محبت
ورسره زیات سو نو بیا یې څوک ور پسې راولیږل لکه چه وائی وَقَالَ الۡمَلِکُ
ائۡتُوۡنِیۡ بِهٖۤ او باچا وویل چه یوسف ما لره راولی اَسۡتَخۡلِصۡهُ چه خالص یې
کړم لِنَفۡسِیۡ د خپل ځان دپاره روایت دے چه هر کله چه د باچا استاذے
ورلره راغلے سره د اویا حاجبانو او اویا مرکبو او انواع د لباسونو د باچاهانو د
د زندانه څخه راووتی (سپرېدو حیوانان ۱۲) او غسل یې وکړی او هغه جامے یې واغوستې او راروان سو
نو باچا یې مخ ته راغلے او په ډیر عزت او حرمت یې خپل ځای ته راوستی فَلَمَّا کَلَّمَهٗ نو
هر کله چه یې مجلس ورسره وکړی قَالَ نو باچا ورته وویل اِنَّکَ الۡیَوۡمَ لَدَیۡنَا چه
بیشکه چه ته ننورځ زمونږ څخه مَکِیۡنٌ خاوند د عزت او دلوی مرتبې یې اَمِیۡنٌ (۵۴)
امانتگرے یې په هر باب کښې ځکه چه په هیڅ باب کښې خیانت نه دی د څخه لیدل
سوی روایت دی چه هر کله یوسفؑ ورته وویل چه اوس تالره اسے بائده ده
چه په دے او و کلو کښې غلې جمع کړې بیا چه د قحطی کلونه راغله نو د اطرافو څخه به
خلک راځی او دا غلے به د دوی څخه رانیسی نو دے آخزانی به جمع کړې چه بل هیڅ نه وی جمع
کړے نو باچا ورته وویل چه دا سرښته به څوک وکړی قَالَ اجۡعَلۡنِیۡ نو یوسف

وویل چه ما مقرر کړه عَلٰى خَزَآئِنِ الْاَرْضِ ج پر خزانو د ملکی اِنِّیْ حَفِیْظٌ بیشکه چه زه
بنه ساتونکی یم د مال عَلِیْمٌ ﴿۵۵﴾ بنه پوه یم په وجوه د تصرفاتو نو بیا باچا تاج او خپل
مُهر او خپل توره او د سرو زرو تخت چه درست په ملغلرو او په یاقوتو جوړ سوی
ورلره ورکړے او خپل کار یے هم تر له پر و سپارے وَكَذٰلِكَ او په مثل د دے تمکین مَكَّنَّا
لِیُوْسُفَ عزت یا د استوګنی ځای موږ ورکړی وو یوسف ته فِی الْاَرْضِ ج په ځمکه
کښنے د مصر چه طول او عرض یے هر یو څلویښت فرسخه وو يَتَبَوَّاُ مِنْهَا چه ځای
د استوګنی به یے تیاراوی د دی ځمکے څخه د مصر حَيْثُ يَشَآءُ ط په هر ځای کښنی
چه اراده یے وسی او هیڅوک یے مانع نه وو نُصِيْبُ بِرَحْمَتِنَا موږ رسوو خپل
رحمت مَنْ نَّشَآءُ هر هغه چا ته چه زموږ اراده وسی وَلَا نُضِيْعُ او موږ نه
خرابوو اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾ اجر د نیکوکارانو وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ او خامخا اجر د هغه
جهان چه دے خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ډیر غوره دے هغو کسانو ته چه ایمان یے
راوړے دی یعنے مطلق مؤمنانو ته تر قیامته پوری که یوسفؑ وی او که بل څوک وی
ع ٨ وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۷﴾ او وه دوی چه ځان به یے ساتے د شرکه او د فواحشو څخه
روایت دے چه بیا یوسفؑ خلق تر له د غلو په کرلو سره مامور کړه او انبار
خانی یے ډیر جوړی کړے او په دے اوو کلو کښنی چه هر څونه غلے به کیدلی هغه
به یے تولی په انبار خانو (گودامو) کښنی ساتلی ایښا سره د وږو مگر په قدر د
خوراک او ضرورت به یے و خلګو ته ورکولے بیا تر اوو کلو وروسته قحط راغله په
تمام جهان کښنی په مصر او په شام او په نورو وطنو کښنی او خلق لوږی وارخطا
کړه ځکه چه اووه کاله پرلپسی قحط وه نو اول کال به یے په نقد و غله رانیوله
او دویم کال یے په ګینو (زیورات) او دریم کال یے په مینځو او مریانو او څلرم کال یے په
چارپایانو او پنځم کال په ځمکو او شپږم کال یے په زامنو خپلو او اووم کال یے
پخپلو سرو بیا یے تر له ازاد کړه او هغه مالونه یے هم بیرته ورلره ورکړه بیا

چه دا قحطی کنعان ته ورغله او د یوسف ورونه کوز وارخطا کړه نو د پلار ه
څخه یې اجازه وغوښته چه عزیز د مصر ډیر سخی او غریب نوازه دی چه ولاړ
سو او غله څنی راوړو نو اجازه یې ورکړه مگر بنیامین یې د خپل خدمت د
د پاره څنګه راوګرزاوی نو دوی لس اوښان د خپل ځان او یو د بنیامین د مبلغ
سره د ځان سره واخسته او مصر ته راغله لکه چه وایی وَجَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ
او راغله ورونه د یوسف د کنعان څخه فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ نو را ننوتل بر یوسف باندے
فَعَرَفَهُمْ نو ده دوی وپیژندل وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۸﴾ او دوی یوسف لره
ناپیژندونکی وه د حجاب په سبب یا د ډیری مودے په سبب چه په دے مابین
کښی څلویښت کاله تیر سوی وه روایت دے چه هر کله دوی د یوسف سره
په عبرانی ژبه غږیدل نو ده پوښتنه څنی وکړه چه تاسے څوک یاست او د څه
کار د پاره راغلی یاست نو دوے وویل چه د شام یو او غلے ته راغلی یو بیا ده ورته
وویل چه جاسوسان خو نه یاست؟ نو دوی وویل معاذ الله چه موږ د پیغمبر
زامن یو بیا ده ورته وویل چه د هغه څو زامن دے دوی وویل چه دولس
وه امّا یو څنی ځنګل «ځنګل» لیوه خوړلی دے او د هغه یو سکه ورور دَه هغه پلار
د ځان سره د خپل خدمت د پاره ساتلے دی او س موږ لس تنه راغلے یو بیا ده
ورته وویل چه دا خبره که رشتیا وے نو که بیا راتلاست نو هغه هم د ر سره
راولے لکه چه وایي وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ او هر کله چه یوسف تیار کړی دوی لره
بِجَهَازِهِمْ اسباب د سفر د دوی او هر یوه ته یې یو اوښ د غنمو بار و ر
کړے نو دوے وویل چه نه موږ د هغه ورور بنیامین چه پاته سوی دے
اوښ بار نه سو تش پاته سو قَالَ ائْتُوْنِيْ نو یوسف وویل چه ما لره راولی بِاَخٍ
لَّكُمْ مِّنْ اَبِيْكُمْ هغه یو ورور ستاسے چه د پلار د طرفه ستاسے ورور دے
یعنی علاتی دے نه اعیانی چه د هغه اوښ هم د ربار کړم چه نه په شمار د سره

غله ورکوم نه په شمار د او بنا ئوا لَا تَرَوْنَ اَنِّىٓ آیا تاسې نه وینی چه بیشکه
زه اُوْفِی الْکَیْلَ پوره ورکوم پیمانه او حق د هیچا نه ستنوم وَ اَنَا خَیْرُ
الْمُنْزِلِیْنَ ﴿۵۹﴾ او زه غوره د عذر ونکو میلمنویم یعنې میلمانه په ډیر عزت
او اکرام سره عذروم فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِیْ بِهٖ نو که تاسې نه راوستې ما لره دغه
خپل علاتی ورور فَلَا کَیْلَ لَکُمْ عِنْدِیْ نو له ما سره نشته تاسې لره پیمانه
د ما څخه وَلَا تَقْرَبُوْنِ ﴿۶۰﴾ او مه را نژدې کیږئ ما ته قَالُوْا دوی وویل
سَنُرَاوِدُ عَنْهُ اَبَاهُ ژر ردے چه . . موږ به دے په ډیر و زاری سره د ده
د پلار څخه وغواړو وَاِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ او بیشکه چه موږ خامخا د دے کار
کونکی یو وَقَالَ او یوسف وویل لِفِتْیٰنِهِ اجْعَلُوْا وهغه مریانو پیمانه گرو
خپلو ته چه تاسې کیښږدئ دے بِضَاعَتَهُمْ هغه مبلغ د دوی چه د غلې د پاره یې
راوړی وو فِیْ رِحَالِهِمْ په بارو کښې د دوے پټ لَعَلَّهُمْ یَعْرِفُوْنَهَآ بنایې
چه دوی دا خپل بضاعت وپیژنې اِذَا انْقَلَبُوْٓا په هغه وخت کښې چه بیرته ورسي
اِلٰٓى اَهْلِهِمْ وخپل عیال ته لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۶۲﴾ بنایې چه دوی بیا راسې د جهته
د دیانتداری د سپارلو د دے مبلغ او بیا ورور هم د ځان سره راولې فَلَمَّا
رَجَعُوْٓا نو هرکله چه دوی بیرته راغله اِلٰٓى اَبِیْهِمْ وخپل پلار ته قَالُوْا
یٰٓاَبَانَا نو دوی وویل چه اے زموږ پلاره مُنِعَ مِنَّا الْکَیْلُ منعه کړے شوه د
موږ څخه پیمانه یعنې باچا را ته ویلې دی چه که بل وار بنیامین نه وو در سره
راغلی نو پیمانه به درنه کړم فَاَرْسِلْ مَعَنَآ اَخَانَا نو ته د موږ سره ولیږه دا
ورور زموږ نَکْتَلْ چه پیمانه واخلو هم خپله هم د ده وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۶۳﴾
او بیشکه چه موږ ده لره خامخا ساتونکی یو او سود هره آفته څخه قَالَ نو یعقوب
وویل هَلْ اٰمَنُکُمْ عَلَیْهِ چه آیا امینان به کړم تاسې پر دی بنیامین یعنی
امینان به مو نه کړم پر اِلَّا کَمَآ اَمِنْتُکُمْ مگر په هغه شان لکه چه امینان

کړی می واست عَلٰٓی اَخِیْهِ پر هغه بل ورور د ده چه یوسف وو مِنْ قَبْلُ ط مخکی تر دے
نوزه او س ستاسے په حفظ هیڅ باور نه لرم فَاللّٰهُ خَیْرٌ حٰفِظًا س نو خدای دے یر
غوره دے په دا سے حال کښے چه ساتونکے دی وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ (۶۴) او دے
ډیر مهربانه دے د ټولو مهربانانو وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ او هر کله چه دوے
خپل بار ونه خلاص کړه وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ نو دوی پکښے پیدا کړی مبلغ خپل
رُدَّتْ اِلَیْهِمْ ط چه بیرته را لیږل سوی وو دوی ته قَالُوْا یٰٓاَبَانَا نو دوی وویل
چه اے زموږ پلاره مَا نَبْغِیْ ط دد دے احسانه به زیات مو رڅه غواړو
چه هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا دغه دے هغه مبلغ چه موږ غله په راینولی وه رُدَّتْ اِلَیْنَا ه
چه بیرته وموږ ته را لیږل سوے دی نو میبا ید چه بیا ولاړ سو ورد ی خوش
اخلاقه باچا ته وَنَمِیْرُ اَهْلَنَا او غله به را وړو وخپل عیال ته وَنَحْفَظُ او ساتو
او نگهبانی به کوو اَخَانَا د خپل ورور وَنَزْدَادُ کَیْلَ بَعِیْرٍ ط او زیات به کړو یو بار دا
او بن د بنیامین په بیولو سره ذٰلِكَ دا یو بار دا وه او بن چه دے کَیْلٌ یَّسِیْرٌ (۶۵)
کیل دے لږ اسانه چه باچا به نه په ستو مانه کیږی قَالَ بیا یعقوبؑ وویل لَنْ اُرْسِلَهٗ
مَعَكُمْ دسره به یې ونه لیږم دتاسے سره حَتّٰی تُؤْتُوْنِ ترهغو پوری چه تاسے
ما ته راکړے مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ عهد دخدای پر دے خبره چه لَتَاْتُنَّنِیْ بِهٖٓ خامخا
به دے بیرته وما ته راولے اِلَّآ اَنْ یُّحَاطَ بِكُمْ ج مگر که عذاب در باندے راچاپیره
سوا و ټول هلاک سواست فَلَمَّآ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ نو هر کله چه دوی وخپل
پلار ته عهد او پیمان خپل ورکړی په دے شان سره چه ټولو وویل چه زموږ
دے په رب د محمد صلی اللہ علیہ وسلم قسم وی چه د بنیامین په باب کښی به هیڅ تنگی نه کوو
قَالَ اللّٰهُ نو بیا یعقوبؑ وویل چه خدای چه دے عَلٰی مَا نَقُوْلُ وَكِیْلٌ (۶۶) په هغه عهد
او پیمان چه موږ یې سره وایو نگهبان او گواه دے وَقَالَ یٰبَنِیَّ او بیا یعقوبؑ
وویل د ډیره شفقته څخه چه اے زما زامنو لَا تَدْخُلُوْا چه مه ننوزی و

بنارته د مصر مِنۡۢ بَابٍ وَّاحِدٍ د یوې دروازې څخه چه نظر وانه خلې وَّادۡخُلُوۡا
مِنۡ اَبۡوَابٍ او ننوزئ دوه دوه یا درې د دروازو مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ بیلو بیلو او د
مصر خوارلس دروازې وې وَمَاۤ اُغۡنِیۡ عَنۡكُمۡ او نه شم دفع کولای د
تاسې څخه مِّنَ اللّٰهِ د قضا څخه د خدای مِنۡ شَیۡءٍ ؕ هیڅ شی اِنِ الۡحُكۡمُ اِلَّا
لِلّٰهِ ؕ نه دی اختیار مگر خاص خدای لره دی هرچه اراده یې وی هغه کوی
عَلَیۡهِ تَوَكَّلۡتُ ۚ خاص هم پر ده باندې ما توکل کړې دی وَعَلَیۡهِ او هم پر ده باندې
فَلۡیَتَوَكَّلِ الۡمُتَوَكِّلُوۡنَ ﴿۶۷﴾ دې نو توکل دی وکړې توکل کونکی وَلَمَّا دَخَلُوۡا او
هرکله چه دوی ومصر ته ننوا ته مِنۡ حَیۡثُ د هغه طرفه څخه اَمَرَهُمۡ اَبُوۡهُمۡ چه
دوې امر کړې وه پلار د دوی د بیلو دروازو د ننوتلو مَا كَانَ نه وه دا فکر د
یعقوبؑ یُغۡنِیۡ عَنۡهُمۡ چه دفع کاوه یې د دوی څخه مِّنَ اللّٰهِ د هغه قضا څخه
د خدای چه پر دوی مقرره وه مِنۡ شَیۡءٍ هیڅ شی اِلَّا حَاجَةً لیکن دا یو حاجت
وه فِیۡ نَفۡسِ یَعۡقُوۡبَ په زړه کښې د یعقوب علیه السلام چه هغه شفقت وو پر
اولاد قَضٰىهَا ؕ چه هغه یې ترسره کړې چه وصیت د افتراق وو وَاِنَّهٗ لَذُوۡ عِلۡمٍ
او بیشکه چه دی خاخاوند د لوهی وو لِّمَا عَلَّمۡنٰهُ په سبب د دې سره چه
مونږ دې پوه کړې ځکه یې ویل چه زه هیڅ نه شم دفعه کولای وَلٰكِنَّ اَكۡثَرَ ع ۸ ۱۱ ۲
النَّاسِ او لیکن زیات خلک چه دې لَا یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۶۸﴾ نه پوهیږي چه تقدیر پر
تدبیر هرکله غالب دې روایت دې چه هرکله ورورونه د بنیامین سره و
مصر ته راغله او د یوسفؑ ومجلس ته حاضر سوه او دې پر تخت ناست وو نو
ودوی ته یې وویل چه تاسې څوک یاست دوی وویل چه مونږ هغه یو کنعانیان
چه تا مأمور کړې وو په راوستلو سره د خپل علاتي ورور هغه دادې
مونږ د ځانه سره راوستلی دې بیا دوې یې د ځانه سره کښینول او شپږ

ع یعنې ورته ویلې یې وه چه د بیلې بیلې دروازې څخه ځلا ځلا ځئ او تو له پر یوه دروازه مه ورځئ ۱۲

سترخوانونه د طعام ورلره راوړه او ورته وی ویل چه دوه دوه تنه کښینی نو
ټوله سره کښیناستل او بنیامین یوازے پاتے سو نو وے ژړل که نن ما ورور
یوسف ژوندے وای نو اوس به د ماسره ناست وو نو دے یوسف د ځان
سره کښیناوی او ورته ویے ویل په پرده کښی چه دا دی نه ده خوښه
چه زه د یوسف پرځای ستا ورور سم نو بنیامین ورته ویل چه ستا په
شان ورور به څوك پیدا کړے خوارمان چه د یعقوب علیه السلام او دراحیل د
پشت څخه نه یے نو په دے خبره یوسف بے طاقته سو او حجاب یی د خپله
ځانه څخه لیرے کړے او ورته ترغاړه سو چه یوسف خو هم دا زه یم لکه چه وایی
وَلَمَّا دَخَلُوا عَلٰی یُوسُفَ اوهر کله چه ورونه راننواته پر یوسف اٰوٰٓی اِلَیْهِ
اَخَاهُ نو را نژدے یے کړے وخپل ځان ته خپل ورور چه بنیامین وو قَالَ نو یوسف
ورته وویل اِنِّیٓ بیشکه زه چه یم اَنَا اَخُوكَ هم دا زه ستا ورور یم چه نوم
یے یوسف وو فَلَا تَبْتَئِسْ نو ته مه خفه کیږه بِمَا کَانُوا په هغه کار چه وو دوی
یَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾ چه کول یے پخوا د موږ سره مگر خبردار چه دوے په دی اګاه نه
کړے روایت دی چه بنیامین ورته وویل چه زه خو بیا د تاڅخه بیلیږم
نو یوسف وویل چه پلار پخوالا هم زما د جهته غمزده دے او په دے به یی
لاغم زیات سی مگر په یوه بهانه به دے ځنی راوګرزوم لکه چه وایی فَلَمَّا
جَهَّزَهُمْ نو هر کله چه یوسف دوی لره تیار کړے بِجَهَازِهِمْ اسباب د سفر د
دوی جَعَلَ السِّقَایَةَ نو ده کښیښووی خپل د اوبو څښلو جام چه د زرو یا د زبر
جد وو سره د جواهرو بیا چه غله ډیره عزیزه سوه نو هغه یے پیمانه کړه
فِیْ رَحْلِ اَخِیْهِ په بارکښیے د خپل ورور پټ د هرجا بیا چه کاروان د ښار
څخه ولاړے ته ورواتے نو ایلچیان ور پسے ورغله ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ نو بیا یے غږ
وکړے جارچی چه اَیَّتُهَا الْعِیْرُ اے کاروانیانو وه ریښتیا اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ﴿۷۰﴾

بیشکه تاسې خانخا غله یاست یعنی د جهته د پټولوستاسې یوسفؑ لره دخپله
پلاره څخه قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَیْهِمْ نو وویل ورونړو د یوسفؑ او حال دا چه
دوی مخ راګرځولی وو ورته ایلچیانو ته مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ چه هغه څه شی
ورک دی تاسې لتوی قَالُوْا نَفْقِدُ نو ایلچیانو وویل چه موږ لتوو صُوَاعَ الْمَلِكِ
پیمانه د باچا وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ او مقرر دی هر هغه چالره چه داپیمانه راوړی
حِمْلُ بَعِیْرٍ بار د یوه اوښ د غلې څخه وَّاَنَا بِهٖ زَعِیْمٌ ﴿۷۲﴾ او زه دددې اوښ بار
د غلې ضامن یم چه ورکوم به یې و پیداکوونکي ته د پیمانې قَالُوْا تَاللّٰهِ نو وویل
ورورونړو د یوسفؑ چه قسم دی په خدای لَقَدْ عَلِمْتُمْ نو خامخا په تحقیق سره
تاسې پوهیږئ په مَّا جِئْنَا چه موږ نه یو راغلي د کنعان نه څخه لِنُفْسِدَ فِی الْاَرْضِ د
دې د پاره چه فساد وکړو په ځمکه کښې د مصر او که فساد وکړو نو وای نو د
خپلو او بنا نو خولې به مو نه تړلې چه د چامال و نه خوری په لارکښې وَمَا كُنَّا
سٰرِقِیْنَ ﴿۷۳﴾ او موږ غله نه یو او که وای نو د کنعان نه به مو بیرته هغه مبلغ نه
وای راوړی چه زموږ په بار وکښې بیرته کنعان ته تللی وه قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗ
بیا ایلچیانو وویل چه څه جزا به وي د هغه پیمانې که وختله په تاسې کښې اِنْ
كُنْتُمْ كٰذِبِیْنَ ﴿۷۴﴾ که تاسې دروا غجن سواست قَالُوْا جَزَآؤُهٗ نو ورورونړو بیا
وویل چه جزا د دې غلا چه ده مَنْ وُّجِدَ فِیْ رَحْلِهٖ هم هغه څوك دی چه
پیدا سوی وي داپیمانه د هغه په بار کښې فَهُوَ جَزَآؤُهٗ نو هم دی ددی
غلا جزا دی یعنی جزا یې دادہ چه د هغه غلا په جرم کښې دی هم دی د
هغه مال د خاوند مریی کړه سی كَذٰلِكَ نَجْزِی الظّٰلِمِیْنَ ﴿۷۵﴾ هم دا سی موږ جزا
ورکوو غلو ظالمانو لره یعنی زموږ د پلار دین هم دا سی دی چه غل د مال
د مالك مریی کیږی نو بیرته یې توله بوتله او په د بار کښې یې باروته څخه
وارول فَبَدَاَ بِاَوْعِیَتِهِمْ نو شروع وکړه جارچي یا ده پخپله په خلاصولو

سره د بار و دودوے قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ مخکے تر بار د خپل ورور د بار ه د نفی د تهمت
ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا بیا یې راوه ایسته دا سقایه مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ د
باره څخه د خپل ورور كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ همدا سے حکمت بنو ولے وه مونږ و
یوسفؑ ته مَا كَانَ نه وو دے چې ولیا لِيَاْخُذَ اَخَاهُ په دے شان سره چه و نیسی خپل
ورور ته مونږ بے بنو ولے فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ د باچا په دین کښی ځکه چه دین د
باچا وهل او په عذابول او وه چنده مال ځنے اخیستل وه د غله څخه نه مریی
کول نو ده په حکم دد ے دین سره نه سو ځنے راگرځولای اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ
لیکن د خدا ے اراده وسوه د راگرځولو یې نو ځکه یې دا سے حکمت ور و بنو دے
نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مونږ پورته کو و د جهت د مراتبو په علم او په حکمت کښی مَنْ نَّشَآءُ
هر هغه خوك چه ته مونږ اراده و سے وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ (۷۶) او سر بیره
پر هر لوړ پوه باندے بل پوه په بندگا نو کښے په مرتبه کښی دے یا د ټولو عالمانو
پوسرہ یو علیم دے چه دا ټول تر لاندے دی چه پروردگار دے قَالُوْٓا اِنْ يَّسْرِقْ
نو ورو ټو یې وویل چه که بنیا مین غلا و کړه نو په دے کښی هیڅ تعجب نسته
ځکه ددوے په کهول او کور کښے غلا روانه ده ځکه چه فَقَدْ سَرَقَ نو په تحقیق
سره چه همدا سے غلا کړے وه اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ یو اعیانی ورور دده مخکی تر دے
یعنی یوسفؑ او هغه دا سے وو چه د ے بُت خانے نه راغلے وو او د کفارو یو کوچنے
بُت وو د سرو زرو وه هغه یې په خاوره وکښی ځنے بنخ کړی وه یا چه مور
یې وفات سوه نو دے به خپله ترور سا یتے نو یوه ورځ یوه سائل سوال وکړے
او دا په کور کښے نه وه او ده پر خپل سر دد ے چرګ وهغه سائل ته ورکړی

عه حاصل دا چه خدای دالی که مونږ یوسفؑ بنوونه نه وا یے کړی ددی چه ته ددوی څخه پوښتنه
وکړه چه ددوی په دین کښی د غله جزا څه شی وه او بیا یې ددوی بیان ورته وکړی لو که چیرے وا بنوونه خدا ے
نه وای ورته کړی نو دا بنیامین به یې نه وو راگرزولی ځکه چه ددوی په دین کښی د غله جزا راگرزول نه وه بلکه وهل وو۔

یا د دے یو کمربند وه چه دخپله پلار ځخه ورپاته سوی وو بیا چه یعقوبؑ
د ے وخپل کور ته بیو ے نو دا په د ے ډیره خفه کید له نو د بیولو په وخت کښی
د ے کمربند پټ پر ملا وروتاړے بیایې اوازه کړه چه زما کمربند ننته
نو بیا چه یې یوسفؑ تلاشے کړے نو دده په ملا پورے تړلی وه نو په د ے
حکمت سره یې د پلار ځخه بیرته وخپل کور ته بو تلے فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي
نَفْسِهِ نو دا خبره ددوے یوسفؑ پټه پخپل زړه اوسینه کښے وساتله وَلَمْ
يُبْدِهَا لَهُمْ ؕ او ددوے ته یې نه کړه ښکاره قَالَ أَنتُمْ او ده پټ پخپل
زړه کښی وویل چه تاسی شَرٌّ مَّكَانًا ؕ ډیر بد یاست دجهته ځخه دمرتبے
چه ورور دمور وپلار ځخه پټ کړید ے وَاللَّهُ أَعْلَمُ او خدای ښه پوهیږ ے
بِمَا تَصِفُونَ ﴿۷۷﴾ په هغه درواغو یا خبرو چه تاسے یې وایاست روایت دی
چه هر کله یوسفؑ دخپلو سرپو په لاس کښی بنیامین ورکړے نو وروڼو
یې اول ډیر کوشش وکړے دده په خلاصے کښی مگر قبول نه سوه بیا روئیل
په غضب سو او ویې ویل چه یا ے داور ورداپریږده او یا به یوه چیغه وکاږم
چه د مصر حاملے ښځے به تو له بچی واچوی نو یوسفؑ خپل زوی ته وویل چه
ورسه دخپل اکا وشا ته دے ودریږه او هر کله چه پلا غضب سو نو پرشاېي
پټ لاس راکش "راتیر" کړه چه غضب یې پور ته کید لای نه سی بیا چه روئیل
پرجوش راغلے او ده لاس پرې راکش کړی نو دد ے ځخه هم عاجزه سو بیا تو له ورته
په زار ے سوه لکه چه قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ بیا د یوسف علیہ السلام ورونو وویل
چه اے عزیزه إِنَّ لَهُ أَبًا بیشکه چه دده یو پلار د ے شَيْخًا كَبِيرًا زوړ
او معتبر" دویر عمر" او هغه دده سره الفت نیولی د ے د یوسفؑ تر هلاک
ورو سته فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ ؕ نو یو دموږ ځخه دده پرځای ونیسه
او دے پریږده إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿۷۸﴾ بیشکه چه موږ تا وینو دنیکو

کار او نو څخه قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ نو یوسف ووئیل چه زه پناه غواړم په خدای سره په
غو بنستلو سره اَنْ نَّاْخُذَ دده څخه چه موږ ونیسو بے گناه اِلَّا مَنْ
وَّجَدْنَا مگر هغه څوك به نیسو چه موږ پیدا کړے دی مَتَاعَنَا
عِنْدَهٗۤ ۙ مال خپل د هغه سره او که د هغه پرځای بل څوك ونیسو اِنَّاۤ اِذًا
لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ نو بیشکه چه موږ به دغه وخت کښی خامخا د ظالمانو څخه
سو ستاسے په مذهب سره ځکه چه دے خو موږ ستاسے په حکم نیولی
دے فَلَمَّا اسْتَیْـَٔسُوْا مِنْهُ نو هر کله چه دوے نا اُمیده سوه د یوسف څخه چه په
هیڅ شان سره ورور نه را سره پریږدے خَلَصُوْا نَجِیًّا ؕ نو د مصریانو
څخه سره راگوښه سوه په داسے حال کښے چه پخپل منځ کښے سره مصلحت او
مشوره کونکے وه قَالَ کَبِیْرُهُمْ نو دوی هغه مشر ووئیل په عمر کښی چه روئیل
وه یا په عقل کښے چه یهودا وه اَلَمْ تَعْلَمُوْۤا اَنَّ اَبَاکُمْ آیا تاسے په دی نه
پوهیږے چه بیشکه چه پلار ستاسے قَدْ اَخَذَ عَلَیْکُمْ په تحقیق سره اخیستی ېی ده
پرتاسے یعنی دتاسے څخه مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ شغه سخته وعده دقولو عهد و څخه د خدای د
بنیامین په حفظ "ساتلو" سره او سرداسے حادثه پیښه سوه وَمِنْ قَبْلُ او مخکی تردے
مَا فَرَّطْتُّمْ فِیْ یُوْسُفَ ۚ تاسے تقصیر کړی وه د یوسف په باب کښی د الفظ د مـا
زائده دے فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ نو زه به گرسره دده مخکی څخه جلا نه سم یعنی
همیشه به هم دلته او سم حَتّٰی یَاْذَنَ لِیْۤ اَبِیْۤ تر هغو پوری چه پلار اذن او اجازه
را ته کوے چه دی می وخپل ځان ته ور وغواړی اَوْ یَحْکُمَ اللّٰهُ لِیْ ۚ یا خدای پرما د
خروج "وتلو" یا موت "مرگ" یا دوی سره د قتال "جنگ" حکم وکړی وَهُوَ خَیْرُ الْحٰکِمِیْنَ ﴿۸۰﴾
او دے بهتره دټولو حکم کونکو دے اِرْجِعُوْۤا اِلٰۤی اَبِیْکُمْ تاسے بیرته وگرزی او ولاړ
سے وخپل پلار ته فَقُوْلُوْا یٰۤاَبَانَاۤ نو ورته ووایاست چه اے زموږ پلاره اِنَّ
ابْنَکَ سَرَقَ ۚ چه بیشکه چه ستا زوے غلا وکړه وَمَا شَهِدْنَاۤ

او نه ده لودے موږ شاهد ے اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا مګر په هغه کار چه معلوم سوی
دے وموږ ته چه پیمانه د باچا زموږ په ځکښنی دده د باره څخه راووته وَمَا
كُنَّا او نه وو موږ لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۱﴾ د پټ کار نګهبانان چه دا پیمانه ده پټه
کړې وه او که بل چا دده په بارکښی ایښی وه وَسْئَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ او تپوس وکړه
و پوښته خلق د هغه کلی كُنَّا فِيْهَا چه موږ وو په هغه کښی یعنی مصریان
وَالْعِيْرَ الَّتِيْٓ او هغه کاروان هم وپوښته اَقْبَلْنَا فِيْهَا ؕ چه موږ په هغه
کاروان کښې ځ راکړے وو و خپل کورا و کاله ته چه د مصر څخه کنعان ته راتلو
وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۸۲﴾ او بیشکه چه موږ خامخا په دے کښی رشتینی یو او بیا
دوی په حکم د روبیل یا د یهودا سره کنعان ته راغله او دا حال یې و پلار
ته و ویلو قَالَ نو ده و ویل چه دا سے نه ده لکه چه تاسے وایاست بَلْ سَوَّلَتْ
لَكُمْ بلکه بیا ښا یسته کړی دی و تاسے ته اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ ځا نو ستاسے کوم
کار او که داسی نه وی نو باچا په دے څه خبر وو چه په غلا سره هم هغه
مریی کیږی فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ نو ما ته هغه صبر په کار دے چه هیچا ته به
څه نه وایم عَسَى اللّٰهُ امید دے چه خدای اَنْ يَّاْتِيَنِيْ چه ما لره به راولی
بِهِمْ جَمِيْعًا ؕ دوی ټول یعنی یوسف او بنیامین او هغه ورور یې چه په
مصر کښی ورسره پاته سوی دی اِنَّهٗ بیشکه خدای چه دی هُوَ الْعَلِيْمُ
الْحَكِيْمُ ﴿۸۳﴾ هم دے دانا دی په حال سره زما پر حکمته دی چه هیڅ کار یې
د حکمته څخه خالی نه دے وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ او مخ یې وګرځاوی دده نه زامنو
څخه وَقَالَ يٰۤاَسَفٰى او و یل به یې چه اے زما افسوسه او غمه[ع] عَلٰى يُوْسُفَ
پر فراق د یوسف وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ او تکی سپینی سوے دواړه سترګی د
ده مِنَ الْحُزْنِ د غمه څخه فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۸۴﴾ نو دے ډک وو د قهره څخه

ع پیغمبر علیه السلام د جبرائیل څخه پوښتنه وکړه چه یعقوب علیه السلام څومره غمجن وو او څومره اجر ورکول کیږی نو ده و ویل چه اویا شهیدو په قدر غمجن وو او د سلو شهیدانو قدر جزا ورکړه سوه ۱۲

په واقعه کښې د جهته د اولاده او په ظاهر کښې د خپل قهر زغمونکی وو او سترګې یې ځکه سپینې او بې نوره سوی وی چه په ما بین کښې د فراق او د وصال دده د یوسف سره اتیا کاله تیر سوی وه بیا چه دوی د خپل پلار اضطراب ولیدی قَالُوْا تَاللّٰهِ نو دوی وویل چه قسم په خدای دی تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ همیشه به اوسی ته چه یا دوی به یوسف په ډیرو زاریو او فریاد سره حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا تر هغو پورې چه ته قریب الموت «مرګ ته نژدی» سی د ډیره غمه اَوْ تَكُوْنَ یا ته سی مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ﴿۸۵﴾ دهیلاک کیدونکو څخه قَالَ نو یعقوب وویل اِنَّمَاۤ اَشْكُوْا بَثِّيْ بیشکه چه همدا خبره ده چه شکایت اوشرا کوم زه د خپل غم وَحُزْنِيْۤ اِلَى اللّٰهِ او د خفګان خپل پواز ی وخدای ته نه تاسی او بل چاته وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ او زه پوهیږم د رحمته څخه د خدای مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ پر هغو کار و چه تاسې نه په پوهیږی لکه حیات «ژوندتیا» د یوسف او دا ځکه چه ده ملك الموت په خوب کښې پوښتلی وه د حاله د یوسف هغه ورته ویلی وه چه ژوندی دی یا یې ددی څخه معلومه کړې وه چه و رو نو لا سجده نه ده ورته کړی نو مړ نه دے او دا جدائي د یوسف د خپله پلاره څخه اتیا کاله دده وجهی وه چه یعقوب علیه السلام یوه میښه را نیولی وه د وَلَدَه «اولاده» سره بیا یې هغه ولد ځنې خرڅ کړی او دے ډیر وریسی ژړل تر څو چه دواړه سترګی یې ړندی سوی کذا فی المدارك يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا اے زمانه زامنو ولاړ سی فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ نو پوښتنه کوی د حاله څخه د یوسف وَاَخِيْهِ او د حاله څخه د ورور دده وَلَا تَا۟يْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ او مه نا امیده کیږے د رحمته څخه د خدای اِنَّهٗ بیشکه شان دادی لَا يَا۟يْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ چه نه نا امیده کیږی د رحمته څخه د خدای اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۷﴾ مګر ټولی د کافرانو نو بیا دریم وار د خپل پلاره څخه رخصت شول او مصر ته راغله

فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ نو هر كله چه داننوا ته ور ورونه یې پر یوسف باندې قَالُوْا
يَاۤ اَيُّهَا الْعَزِيْزُ نو دوی وویل چه اے عزيزه مَسَّنَا وَاَهْلَنَا الضُّرُّ رسيدلے
ده موږ ته او عيال زموږ ته سختي او لوږه وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ او
راغلي يو موږ په يو څو نا كاره پيسو سره چه هيڅوك يې نه قبلوي فَاَوْفِ لَنَا
الْكَيْلَ نو پوره راكړه موږ ته پيمانه وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ط او خيرات وكړه پر
موږ دا دے پيسو په قبلولو سره اِنَّ اللّٰهَ بيشكه چه خداى يَجْزِى الْمُتَصَدِّقِيْنَ ﴿۸۸﴾
جزا وركوے خيرات وركونكو ته بيا هر كله چه يوسف د دوى دا ډيرې زارى او
عاجزى وه ليده نو رحم پرغالبه سو او طاقت د پټولو يې پاته نه سو نو
قَالَ وے ويل وورونو ته چه هَلْ عَلِمْتُمْ ايا تاسے پوهيږئ مَّا فَعَلْتُمْ
بِيُوْسُفَ په قباحت د هغه كار سره چه تاسے د يوسف سره كړے وَاَخِيْهِ
او د ده د ورور سره چه خوار خسته او ترټلى به موسياتى اِذْ اَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ ﴿۸۹﴾
په هغه وخت كښې چه تاسے ناپوهه واست يعنے بے التفات ته د قباحت د دې فعل
يا د عقوق څخه د پلار خپل او دا يې پر طريقه د نصيحت ورته وويل نه پر
طريقه د شرمولو او راكښولو او دے ويلو سره يې پرده د هغه څخه ليرى كړه
او دوى وپيژندلو قَالُوْۤا ءَاِنَّكَ دوى وويل آيا بيشكه ته چه يې لَاَنْتَ يُوْسُفُ
خامخا هم ته يوسف يې او دا استفهام د تقريري يعنے هم ته يې يقينًا قَالَ اَنَا
يُوْسُفُ نو ده وويل چه رښتيا هم دا زه يوسف يم وَهٰذَاۤ اَخِىْ او دا
مى ورور دے بنيامين قَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا ط په تحقيق سره منت او احسان
بار كړيدى پر موږ باندے خداى چه ترا تيا كالوو ر وستهه يې سره يو ځاى
كړو اِنَّهٗ بيشكه شان دا دے مَنْ يَّتَّقِ هر څوك چه د خداى څخه بيره كوى
وَيَصْبِرْ او صبر وكړى د معاصيو څخه يا پر طاعاتو باندے فَاِنَّ اللّٰهَ نو بيشكه
چه خداى لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۰﴾ نه ځرابوى اجر د نيكوكارانو

بیا چه ورور ولیدې یوسف ؑ وپیژندلو نو هیبت او خجالت پر غالبه سو قَالُوا
تَاللّٰهِ نو دوی وویل چه قسم په خدای دے چه لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا خامخا
په تحقیق سره ته خدا ے غوره کړی یې پر مونږ باندے وَاِنْ كُنَّا او بیشکه
چه مونږ وو لَخٰطِئِيْنَ ﴿۹۱﴾ خامخا گنهگاران په هغه کارکښې چه مونږ کړے
وو قَالَ نو یوسف ؑ وویل ودوی ته چه لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ط نشته هیڅ
مشقت او سرزنش پر تاسے باندی نن ورځ زما د جانبه څخه يَغْفِرُ اللّٰهُ
لَكُمْ ز بخښنه دے وکړے خدای تاسے ته چه پر خپله گناه قائله سوا ست وَ
هُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۹۲﴾ او دے ډیر مهربانه دے تر ټولو مهربانانو بیا
یې د پلار حال د دوی څخه وپوښتی چه څرنگه دے دوی وویل چه د ډیری
ژړا څخه یې سترگی نابینا «ړندی» سوی دی نو ده ورته وویل چه اِذْهَبُوْا
بِقَمِيْصِيْ هٰذَا یوسی دا قمیص زما چه جبرائیل د جنت څخه راوړی وو و
ابراهیم ؑ ته فَاَلْقُوْهُ نو دا قمیص واچوی عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ زما د پلار پر مخ
يَاْتِ بَصِيْرًا ۚ چه بیرته بینا سے وَاْتُوْنِيْ او را سے تاسی ما له ټول یعنې ع ۱۰ ۱۴ ۴
تاسی سره د پلاره بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۳﴾ د ټول عیال سره ځکه چه ډیره
موده غمونه او مشقتونه در باندی تیر سوی دے نو راسی چه اوس معاش
وگوری وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيْرُ او هر کله چه بیا د مصر څخه راووتی او راجلا سو
کاروان او باد صبا د پروردگار څخه اذن «اجازه» وغوښته د زیری رسولو و
کنعان ته او اذن ورته وسو نو د قمیص بوی یې راوخستی او تر یعقوب ؑ
پوری اتیا ۸۰ فرسخه لار وه نو دا بوی یې هلته ورووړی او د یعقوب ؑ په
پزه یې ورولگاوی «ومښلوی» نو که چه وایي قَالَ اَبُوْهُمْ نو وویل پلار د دوی و هغه
چا ته چه هلته هغه وخت حاضر وه اِنِّيْ لَاَجِدُ بیشکه چه زه خامخا پیدا
کوم رِيْحَ يُوْسُفَ بوی د یوسف ؑ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿۹۴﴾ که نسبت د کم عقل

تاسے وما تہ نہ کوے او دا سے نہ راتہ وایاست چہ اوس زور سوی دی نو پرتہ
بدغیر ی قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ نو هغوحاضرو وویل چہ بیشکہ تہ هم هغسی لا
پروت یے لَفِیْ ضَلٰلِكَ الْقَدِیْمِ ﴿۹۵﴾ خاخا پہ هم هغہ پخوانی زړه سرگردانی
کښی او د ډیره محبتہ څخہ یے هروخت یاد وی او لا پہ طمع د ملاقات
هم یے فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِیْرُ نو هر کلہ چہ زیری کونکی راغلی قمیص پہ لاس
کښی چہ یهودا وو اَلْقٰىهُ عَلٰى وَجْهِهٖ نو دا قمیص یے وغورځاوی پرمخ د
یعقوبؑ فَارْتَدَّ بَصِیْرًا ج نو بیرتہ بینا سو نو قَالَ نو ده وویل هغوخلکو تہ
چہ ملامتیا یے پرویلے وه اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ج چہ ایا ما نہ وه ویلی و تاسی تہ
اِنِّیْٓ اَعْلَمُ چہ بیشکہ زه پوهیږم مِنَ اللّٰهِ د ښوونی څخہ د خدای مَا لَا
تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ هغہ چہ تاسے نہ پوهیږے نو بیا یے ورونہ پہ اتفاق سره
راغلہ پہ ډیره عاجزی او زاری سره قَالُوْا نو دوی وویل یٰٓاَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا
چہ اے زمونږ پلاره بخښنہ وغواړه د خدای څخہ مونږ لره ذُنُوْبَنَا د گناهو
زمونږ اِنَّا كُنَّا بیشکہ چہ مونږ یو خٰطِـِٕیْنَ ﴿۹۷﴾ گنهگاران ستا او د یوسفؑ
پہ حق کښی او س مونږ توبہ وکښلہ قَالَ نو یعقوبؑ ودوی تہ وویل سَوْفَ
اَسْتَغْفِرُ ژر دے چہ زه بہ بخښنہ وغواړم لَكُمْ رَبِّیْ ط و تاسی تہ د خپلہ ربہ
څخہ ورو ستہ تر دے د جمعی پہ سهارکښے یا ورو ستہ تر عفوے د یوسفؑ یا
ورو ستہ تر ورتلو مصرتہ چہ ټولہ پہ جمع سره وخدای تہ سوال وکړو
اِنَّهٗ بیشکہ دے چہ دی هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴿۹۸﴾ هم دی بخښونکی دے
د تائبانو مهربانہ دے پردوی روایت دی چہ هر کلہ یعقوبؑ مصرتہ
رانژدے سو نو یوسفؑ او ریّان باچا د ټولہ لښکره سره او اهل د مصر هم
ټولہ ومخ تہ ورلره راغلہ او یعقوبؑ پہ لوېښ ورتہ ناست وو د دے
مخلوق تماشا یے کولہ ناگاه جبرائیل ورتہ راغلے چہ پورتہ وگوره چہ د مخکے

ځکه تر اسمانه پورې تلوله ملائکې دي چه خوشحالي اوستاسې د ملاقات
تماشې ته راغلي دي بيا چه نظر يې پرپلار ولگيدي نو داس ځکه راكښته سو
اول يې د پلار تعظيم اوتكريم وكړې او بيا هغه دواړو ياته چه د پلار دخيلخانې
ځکه يې وه او د كنعانه ځکه دده سره راغلې وه دهغوئ تلو سره يې طريقه دعزت
او د حرمت اداكړه او بيا دې راغلې چه د مصر په ځنګ كښې دده يوه
بنګله وه نو ځكې دې راغلې اوهلته كښته سو بيا دوى هم ورغله لكه
چه وائي فَلَمَّا دَخَلُوا عَلٰى يُوسُفَ نو هركله چه دوى راننوا ته پر يوسف
په هغه بنګله كښې اٰوٰى اِلَيْهِ نو را نژدې يې كړله وځپل ځان ته او
هركلې يې وكړى اَبَوَيْهِ د مور او د پلار خپل سره او اګركه دا يې مور
نه وه بلكه تروړ يې وه مګر عرب تروړ ته هم مور وائي لكه چه پلار
وائي وتره ته وَقَالَ ادْخُلُوا مِصْرَ او يوسف ورته وويل چه راننوځئ
د مصر و ښار ته اِنْ شَاءَ اللّٰهُ كه د خداى اراده وي اٰمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ په داسې
حال كښې چه په امن اوسئ د تحطى بلكه د هرې سختى اومشقته ځكه وَ
رَفَعَ اَبَوَيْهِ او پورته يې وخيژول پلار او تروړ خپل دواړه د تعظيمه
عَلَى الْعَرْشِ پر تخت خپل وَخَرُّوْا لَهٗ او پريوتل دا دياركس سره وده ته
چه پلار او تروړ او يوولس وروڼه يې وه سُجَّدًا اه په داسې حال كښې
چه سجده كونكى وه وده ته او سجده د تحيه اود اكرام په هغه وخت كښې
داسې وه لكه اوس قيامه او مصافحه او ذلك سومچول نن ورځ يعنې
حرام نه وه يا و خداى ته پر سجده پريواته د پاره داداء كولو د شكرد د
ملاقات وَقَالَ يٰاَبَتِ او يوسف وويل چه اې زما پلاره هٰذَا تَاْوِيْلُ
رُءْيَاىَ د اتعبير دې د هغه خوب زما چه ليدلى مې وو مِنْ قَبْلُ زيخوا
په هلكتوب كښې قَدْ جَعَلَهَا په تحقيق سره وكرزاوى دا خوب رَبِّيْ


حَقًّا ؕ د رب زما رشتینی وَقَدۡ اَحۡسَنَ بِیۡۤ او په تحقیق سره ډیره نیکی کړی ده د ما سره رب زما اِذۡ اَخۡرَجَنِیۡ مِنَ السِّجۡنِ داچه رااېستلی یم زه د بندی خانی څخه او بیا یې پر تخت کښینولم او کوم رشا، یې یادنه کړی چه ورونه بیایې په ځجل سی وَجَآءَ بِکُمۡ مِّنَ الۡبَدۡوِ او تاسې یې راوستاست د کوهستانه څخه و هواری ته او بیا یې متوله سره یوځای کړو مِنۡۢ بَعۡدِ اَنۡ وروسته تر هغه چه نَّزَغَ الشَّیۡطٰنُ غوته کړشیطان او مخالفت یې واچاوی بَیۡنِیۡ وَبَیۡنَ اِخۡوَتِیۡ ؕ په مابین کښی زما او د ورونو زما اِنَّ رَبِّیۡ بیشکه رب زما چه دی لَطِیۡفٌ لِّمَا یَشَآءُ ؕ مهربانی کوونکی دی پر هر هغه چاچه اراده یې وسی اِنَّهٗ بیشکه دی چه دی هُوَ الۡعَلِیۡمُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۱۰۰﴾ هم دی دانا دی په تد بیر د هر کار سره پر حکمته دی په تعین د مواضعو کښی روایت دی چه هر کله تر دی ملاقات وروسته دوه ویشت کاله تیرسوه نو یعقوب وفات سو او دوه ترو فات وروسته چه درویشت کاله نور تیر سول نو یوسف پلار په خوب ولید چه ورته وایی چه ای یوسفه و دیدن ته دی ډیر مشتاق یم راځه راسه نو بیا چه راوپېښ سو خپل ورونه یې راوبلل او وصیت یې ورته وکړی او یهودا یې ولی عهد کړی او پر خپل ځای یې کښیناوی او خپل ذامن یې پروسپارل نو بیا یې د خپل رب سره مناجات وکړې چه رَبِّ ای زما ربه قَدۡ اٰتَیۡتَنِیۡ په تحقیق سره چه را کړی دی دی مالره مِنَ الۡمُلۡکِ د باچاهی او د تصرف څخه وَعَلَّمۡتَنِیۡ او را ښوولی دی دی وماته مِنۡ تَاۡوِیۡلِ الۡاَحَادِیۡثِ ۚ بعض د تعبیر څخه د خوبو یا د بیانه څخه د کتابو فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۟ ته ای پیدا کوونکی د اسمانو او د ځمکی بې نمونې اَنۡتَ وَلِیّٖ هم ته یې دوست زما او واکدار ه د کاری یې فِی الدُّنۡیَا وَالۡاٰخِرَۃِ ۚ هم په دنیا او هم په اخرت کښی تَوَفَّنِیۡ مُسۡلِمًا

ماوفات کړه په داسې حال کښې چه وتا ته غاړه ایښوونکې اوسم وَاَلۡحِقۡنِیۡ
بِالصّٰلِحِیۡنَ ﴿۱۰۱﴾ او ته ما ورسوې او پیوست مې کړې په ټولې د صالحانو پورې
یا پخیلو پلرو پورې چه صالحان دي ذٰلِكَ داقصه دیوسف چه ده مِنۡ
اَنۡۢبَآءِ الۡغَیۡبِ د اخبارو څخه د غیب ده چه د اعمارو د پاره ده نُوۡحِیۡهِ اِلَیۡكَ
را لیږو یې مونږ وتا ته اے رسوله وَمَا كُنۡتَ لَدَیۡهِمۡ او ته نه وې د زامنو
سره د یعقوب اِذۡ اَجۡمَعُوۡۤا اَمۡرَهُمۡ په هغه وخت کښې چه دوی راټول کړې
فکرخپل په غورځولو د یوسف په کوهي کښې وَهُمۡ یَمۡكُرُوۡنَ ﴿۱۰۲﴾ او حال دا
چه دوی مکر او فریب کاوی د یوسف سره یعنې دا اخبار دے محض د غیبه
څخه چه وتا ته حاصل سوې دي خاص پر طریقه د وحي سره ځکه چه نه ته
هلته حاضر وې چه د یعقوب زامنو خپل ورور په کوهي کښې غورځولو
او نه بل چا داقصه درته کړیده وَمَاۤ اَكۡثَرُ النَّاسِ او نه دي زیات خلک
یا اهل د مکې وَلَوۡ حَرَصۡتَ که څه هم ته حرص وکړې پر ایمان راوړلو د دوي
بِمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۰۳﴾ ایمان راوړونکي د جهته د عناده وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَیۡهِ او
ته نه غواړې د دوي څخه په دے پیغام رسولو سره زما یا په بیانولو سره د دي
قصو د قران مِنۡ اَجۡرٍ څه مزدوري لکه دا نور قصه خوانان چه یې غواړي ۱۱
اِنۡ هُوَ نه دے دا قران اِلَّا ذِكۡرٌ مگر پند دی د طرفه څخه د خداي لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۱۰۴﴾ ع ۱۱ ۵
د پاره د ټولو مخلوقاتو نه خاص د اهل مکې د پاره وَكَاَیِّنۡ مِّنۡ اٰیَةٍ او ډیرې
دے د نښو څخه چه دلالت کوي پر وجود د صانع او پر قدرت کامله د ده
فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ هم په اسمانو او هم په مځکه کښې او دا معاندان
یَمُرُّوۡنَ عَلَیۡهَا هروخت چه تیریږي پر هغه او په سترگو یې هم وینې وَهُمۡ
عَنۡهَا مُعۡرِضُوۡنَ ﴿۱۰۵﴾ او حال دا چه دوی د هغه نښې څخه څنګ کونکي دي همیشه

ع یعنې د پاره د عاجزه کولو د کافرانو د جر ړولو څخه د قران په مثل سره د دي قران ۱۲ اعمه چه نه فکر
پکښې کوي او نه نصیحت په اخلي ۱۲

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ او ایمان نه راوړی زیات د دی اهل د مکی یا عام مشرکان
بِاللهِ إِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾ پر خدای مگر چه دوی لا په دے وخت کښی هم
شریك نیونکی وی له خدای سره د بل شی ځکه چه دا سے هم والی چه رب
زموږ خدای دی او بیا داسے هم والی چه ملائکی یے لوڼی د ے أَفَأَمِنُوا
أَنْ تَأْتِيَهُمْ ایا نو په امان سول دا مشرکان د د ے ځنی چه راسی دوی لره
غَاشِيَةٌ عقوبت احاطه کونکی پر دوی مِّنْ عَذَابِ اللهِ د عذاب ځنی د خدای
أَوْ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً یا د دی ځنی چه راسی دوی لره قیامت ناګاه
وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٠٧﴾ او دوی هیڅ په خبر نه وی او هیڅ تیاری یی ورته
نه وی کړی قُلْ هَٰذِهِ ته ووایه اے رسوله چه دا بلنه چه ده
وایمان او توحید ته سَبِيلِي لار زما ده او پر همدی لار زه همیشه روان
یم أَدْعُوا إِلَى اللهِ تعالیٰ چه زه بولم تو له خلق و خدای ته عَلَىٰ بَصِيرَةٍ پر
بینایی یعنی پر ښکاره حجت أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي هم زه او هم هر هغه څوك
چه زما پیروی کوی وَسُبْحَانَ اللهِ او پاکی ده خدای لره د هغه شریکانو ځنی
چه تاسے یی ور سره بولی وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾ او زه نه یم د شریك
نیونکو ځنی په خدای پوری روایت دی چه هر کله چه کفارو به ویل
چه د خدای سره خو ملائکی ډیری دے نو هغه یے ولی نه رالیږلی چه
ته یے رالیږلی نو نازل سو وَمَا أَرْسَلْنَا او موږ به نه رالیږ له مِنْ
قَبْلِكَ مخکی تر تا په رسالت سره إِلَّا رِجَالًا مگر سړی بنی آدم نه ملائکی
او نه جن او نه ښځی نُوحِي إِلَيْهِمْ چه وحی به وکړی موږ و دوی ته
مِّنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ د اهله ځنی د ښارو او د کلو نه د بدوانو او د بانډو
ځنی أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ ایا دا کافران نه گرځی په ځمکه کښی فَيَنْظُرُوا
نو چه دوی وګوری په نظر د عبرت سره كَيْفَ كَانَ چه څرنګه وو

عَاقِبَةُ الَّذِينَ اخره خاتمه د هغو درواغجنو مِن قَبْلِهِمْ ط چه مخکی تیر سوی
دی تردوی چه د هغوی د حاله تخه عبرت واخلی او د تکذیبه تخه د قرآن او د
پیغمبرانو واوری وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ او خامخا حویلی د هغه جهان چه ده یعنی جنت
او نعمتونه د هغه خَيْرٌ لِّلَّذِينَ اتَّقَوْا ډیر غوره دی هغو کسانو ته چه
ځان ساتی د شرکه او د بی فرمانی تخه اَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿۱۰۹﴾ ایا نو تاسی عقل نه
کوی چه دا بهتر دی او که هغه تیرو امتو ته به مونږ مهلت ورکاوی په هغه
طغیان او تکذیب خپل کښی حَتّٰى اِذَا اسْتَيْئَسَ الرُّسُلُ تر هغو پوری چه نا
امیده به سوه رسولان د ایمان راوړلو تخه ددوی وَظَنُّوْا اَنَّهُمْ او گمان به
وکړی رسولانو چه بیشکه دوی قَدْ كُذِبُوْا په تحقیق سره درواغجن کړه سوه دوی
جَآءَهُمْ نَصْرُنَا لا ناگاه به راغلی دوی ته مدد زمونږ یعنی عذاب به راغلی
پر قوم ددوی فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَآءُ ط نو وبه ساتلی سوه دی عذابه تخه هغه
خوک چه زمونږ اراده به وه د هغه د ساتلو یعنی پیغمبران او تابعان د دوی
وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا او نه سی گرزولای عذاب زمونږ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ د
قولی تخه د کافرانو په هغه وخت کښی چه یو وار پر راسی لَقَدْ كَانَ فِيْ
قَصَصِهِمْ خامخا په تحقیق سره چه دی په دی قصو د پیغمبرانو او د امتو کښی
یا د یوسف او د ورونو د ده کښی عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ط ډیر لوی پند دی
خاوندانو د خالص عقل ره مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى نه دی دا قرآن دا
گفتار چه درواغ ویل سوی دی لکه د اکفار چه ویلی وائی وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ
او لیکن مصدق او موافق دی د هغه شی سره بَيْنَ يَدَيْهِ چه تر ده مخکی تیر سوی دی
د کتابو تخه د خدای په راستی کښی وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ او بیانونکی د هر هغه شی دی چه احتیاج
ور ته پیښیږی په کار و دین او د دنیا کښی وَّهُدًى وَّرَحْمَةً او رهنمائی د هر لوره او مهربانی
ع ۱۲ ۶ د ه لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی پر خدای او پر رسول باندی



الٓمّٓرٰ تف په دے حروفو کښې هم متاخرینو تاویلات کړے دی او یو د هغو
څخه دادے چه انا الله العلیم البصیر یعنې زه خدای یم چه هم پوهیږم په هر
څه او هم یې وینم تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ط داچه دی ایتونه دی د دے سورة یاد
دے قران وَالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ او هغه قران چه رالیږل سوی دی وتا ته
مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ د جانبه څخه د رب ستا دی هغه رشتیا دے او هیڅ شك
پکښې نشته وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١ او لیکن زیات خلك ایمان
نه پر راوړی اَللّٰهُ الَّذِيْ خدای هغه قادر مطلق دی رَفَعَ السَّمٰوٰتِ چه لوړ
پیدا کړی دی ده اسمانونه بیا یې دروی دے بِغَيْرِ عَمَدٍ بیله ستنې چه پر
تکیه سوی وی تَرَوْنَهَا چه تاسے یې وینې پخپله یا یې دروی دے بغیر د هغه
قسم ستنې چه ښکاره کیږې وتاسے ته ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ بیا متوجه سو
وعرش ته په توجه د حفظ او د تدبیر سره وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ط او مسخر
کړی دی ده لمر او سپوږمی د پاره د مصالحو د عباد و او د منافعو د بلادو
كُلٌّ يَّجْرِيْ دا ټول روان دی لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ط تر هغه معین وخت پوری چه
قیام د قیامت دے يُدَبِّرُ الْاَمْرَ تدبیر د هر کار کوی د ملکوت څخه لکه ایجاد
او اعدام او اعزاز او اذلال او احیاء او اماتت او داسے نور يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ
دے په تفصیل سره ایتونه بیا نوے یا پیدا کوی دلیلونه د خپل قدرت یو په بل
پسې لَعَلَّكُمْ بِلِقَاۤءِ رَبِّكُمْ بنایې چه تاسے په ملاقات د خپل رب سره
تُوْقِنُوْنَ ۝٢ یقین راوړی پر د . . . بے حال . چه هر څوك چه قادر دے
دی په اول کښې پر ایجاد د عالم هغه قادر دی پر اعاده هم وَهُوَ الَّذِيْ
او دے هغه پروردګار دے مَدَّ الْاَرْضَ چه غوړولی ده ده مځکه پر سره د

او بو او بیا نسور ید له لوډ رنه یې کړه وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ او پیدا یې کړه
په دې ځمکه کښې میخونه محکم ولاړ پرځای چه غرونه دی وَأَنْهٰرًا ط او ولې
یې هم پکښې پیدا کړی دی دا وبو وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ او د هر قسم میوو څخه
جَعَلَ فِيهَا ــ پیدا کړی یې دی په ځمکه کښې زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ دوه دوه جوړې
لکه سره او سپین یا ژېړ او تور یا خواږه او تروه یا غټ او واړه يُغْشِي الَّيْلَ
النَّهَارَ ط اغوندی شپه په ورځ لکه قمیص نو په اول کښې رڼا وی بیا تیاره
سی إِنَّ فِي ذٰلِكَ بیشکه چه په دی قسم تقلیبا تو کښې د عالم لَاٰيٰتٍ ښامخا
رنګارنګ نښې دی دلالت کونکی پر وجود د صانع علیم حکیم باندی لِّقَوْمٍ
يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۳﴾ د هغه قوم د پاره چه فکر کوی په دی تقلیبا تو کښې وَفِي الْأَرْضِ
قِطَعٌ او په ځمکه کښې هم قطعې دی مُّتَجٰوِرٰتٌ خنګ پر خنګ بعض د بعض
سره پیوسته یا بعض مهینه او بعض شګلنه او بعض خوره ناکی او بعض بې
خوره ناکی او بعض قابله د کښت نه دو نو او بعض پر عکس وَّجَنّٰتٌ مِّنْ أَعْنَابٍ
او نور باغونه دی په ځمکه کښې د انګورو وَّزَرْعٌ او کښت دی وَّنَخِيلٌ او
خرما ګانی دی چه بعض ځنی صِنْوَانٌ غنچې وی د خرما ګانو څخه د یوه بیخ څخه
ډیری پورته سوی وی وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ او بعض ځنی غنچې نه وې بلکه د یوه بیخ
څخه به یوه خرما پورته سوی وی يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ قف چه اوبه کیږی هر
یو د دی دا ړو قسمو څخه په یو او بو سره وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا او غوره کوو
موږ بعض د دوی څخه عَلٰى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ ط پر بعضو نورو میوو باندې
د جهته د رنګ او د خوند او د بوی إِنَّ فِي ذٰلِكَ بیشکه چه په دی ذکر
سوو کښې لَاٰيٰتٍ ښامخا ښکاره دلیلونه دی لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۴﴾ د هغه قوم
د پاره چه عقل لری وَإِنْ تَعْجَبْ او که ته تعجب کوی اې رسوله د انکاره
څخه د دوی د بعث څخه فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ نو ډیر عجیبه دی دا قول د دوی

یعنې په واقعه کښې ځای د تعجب دا قول د دوی دے چه ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ایا
په هغه وخت کښې چه مونږ خاورې سو یعنې وروسته تر هغه چه مړه سو
او بیا خاورې سو مونږ ءَاِنَّا لَفِیْ خَلْقٍ جَدِیْدٍ ؕ ایا سو به مونږ خامخا په نوی
پیدا ایښت کښې یعنې بیا به ژوندي سو او سره د دے چه دوی پے خالق د
آسمانو او د ځمکې هم بولي اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ دا هغه کسان دي كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ ۚ
چه کافران سوي دي په خپل رب سره ځکه چه دوی د ده د قدرت څخه پر بعث
منکر دي وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِیْٓ اَعْنَاقِهِمْ ۚ او بیا دوی هغه ګمراهان دے
چه د ګمراهۍ طوقونه د دوی په ګردنو کښې پراته دے چه بیا پے وخلاصي ته
لار نسته یا په قیامت کښې به ا تشین طوقونه ورته په غاړه سي وَاُولٰٓئِكَ
او بیا دا عاقبت خرابه چه دے اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ او سیدونکي د اور دي هُمْ
فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ۵ دوی به په دې اور کښې همیشه وي روایت دي چه هر کله
به کفارو رسول ته ویل چه هغه عذاب چه ته مونږ په بیروې هغه ولې ژر
نه راځي نو نازل سو وَیَسْتَعْجِلُوْنَكَ او دوی پر تا تلوار کوي بِالسَّیِّئَةِ په
غوښتلو سره د هغه عذاب او عقوبت چه مقرر دي دوی لره قَبْلَ الْحَسَنَةِ
مخکې تر عافیت وَقَدْ خَلَتْ او حال دا چه ډیر سوي او تیر سوي دي مِنْ قَبْلِهِمُ
الْمَثُلٰتُ ؕ د مخکې تر دوی عقوبات پر تیرو مکذبانو باندې لکه خَسْف او مسخ
او صَیْحَه او رجفه او طوفان او ریح «باد» وَاِنَّ رَبَّكَ او بیشکه چه رب ستا
لَذُوْ مَغْفِرَةٍ خامخا خاوند د بخښنې دي لِّلنَّاسِ وخلګو ته یعنې کفارو ته که
ایمان راوړي عَلٰی ظُلْمِهِمْ ۚ سره د هغه ظلمه یعنې کفره د دوی چه بخوا ئے
کړے وي ځکه چه ایمان محوه کونکي دے د تیرو بے فرمانیو وَاِنَّ رَبَّكَ او

عنه: خَسْف د و پیدل په ځمکه کښې لکه قارون چه خسف سوی وو مَسْخ بدلول او مسخ کول د صورت
په بل شکل سره لکه د اصحاب سبت صَیْحَه لکه اواز د جبرائیل پر ثمودیانو رَجْفَه یعنې زلزله او ښوېدل د ځمکې
طوفان یعنې سیلاب او ډیرې څپې دا او بو لکه پر فرعون او قوم د ده باندې رِیْح یعنې ډیر تند باد لکه پر عادیانو ۱۲

بیشکه چه رب ستا لَشَدِیۡدُ الۡعِقَابِ ⑥ خامخا سخت دی عقوبت دده که دا کفار
پرخپل کفر کلك وی یا معنیٰ دابخښونکی د مؤمنانو دے په توبه او استغفار
سره او په عذابونکی دکافرانو دے په انکار او په استکبار سره وَیَقُوۡلُ الَّذِیۡنَ
کَفَرُوۡا او وائي هغه کسان چه کافران دے لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ عَلَیۡهِ ولی نه نازلیږے
پردے محمدؐ باندے اٰیَةٌ مِّنۡ رَّبِّهٖ ط یو داسے معجزه چه مونږ یے ځنی غواړو د
جانبه څخه د رب خپل نو رب العزت ورته وویل چه اِنَّمَاۤ اَنۡتَ مُنۡذِرٌ بیشکه هم
داخبره ده چه ته بیرونکی یے او نور د تو لوا مورو تفویض وخدای ته دے ع ۱
وَلِکُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ⑦ او د هری طایفی او د هر قوم دپاره یو رهنما مقرر دے
یعنی هر پیغمبر پخپله زمانه کښی دخپل قوم بلونکی وود توحید ولاری ته
اَللّٰهُ یَعۡلَمُ خدای پوهیږے یعنی تر تولد مخکی لاورته معلوم دے مَا تَحۡمِلُ کُلُّ
اُنۡثٰی هر هغه چه باراخلی هره ښځه چه ددی په نس کښی نر دے او که ښځه
سپین دے او که تور دے ښایسته دی او که بدرنګه او ږد دی او که لنډ دے
او هداسے نور وَمَا تَغِیۡضُ الۡاَرۡحَامُ او په هغه هم پوهیږے چه رحمونه یے
کموی یعنی خدای یے په رحم کښی کموی وَمَا تَزۡدَادُ ط او په هغه هم پوهیږی
چه زیاتوی یے ارحام مراد ددے کمولو او زیاتولو څخه یا شمار دی دولد ځکه
چه دیوه ولد څخه ترڅلورو پوری په نس کښے جمع کیږے او یا دحمل موده مراد
ده ځکه چه د شپږ و میاشتو څخه تر دووکالو پوری په نس کښی پاته کیږی او
دا دواړه په نزد دامام اعظمؒ دی او یا بدن دے دولد ځکه چه کله یے اعضاء
تر متعارف کم وی او کله تر زیات وی وَکُلُّ شَیۡءٍ او هر شی چه دے عِنۡدَهٗ
بِمِقۡدَارٍ ⑧ و ده سره په اندازه دے چه نه تر هغه کمیږے او نه تر زیاتیږی
عٰلِمُ الۡغَیۡبِ دانا دے په هر پټ وَالشَّهَادَةِ او په هر ښکاره الۡکَبِیۡرُ الۡمُتَعَالِ ⑨
چه بلند شانه دی تر هر چا په قدرت کښی سَوَآءٌ مِّنۡکُمۡ برابر دی ترتاسے

نسبت د علم دده ته مَّنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ هر هغه څوك چه خبره پټوي په زړه کښې
وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ او هر هغه څوك چه وېل چا ته يې ښکاره کوي وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۢ
بِالَّيْلِ او هر هغه څوك چه پټوونکی د چل عمل وي په شپه کښې وَسَارِبٌۢ
بِالنَّهَارِ ⑩ او هر هغه څوك چه ښکاره کونکی وي د چل عمل په ورځ کښې
يعنې هيڅ قول او فعل چه پټ وي او که ښکاره هغه دده څخه مخفي نه دی ځکه
چه لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مقرر دي خدای لره د هغه چا دپاره چه چل قول او فعل پټوي
د هر چا څخه څو لې د ملائکو چه پې د رپې راځي دده وساتنې ته مِّنْۢ بَيْنِ
يَدَيْهِ دده د مخ د طرفه وَمِنْ خَلْفِهٖ او دده د شا د طرفه يَحْفَظُوْنَهٗ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ
چه ساتي يې د خدای د عذاب څخه د بخښنې په غوښتلو سره که دده څخه ګناه وسی
يا په فرمان د خدای سره او دا ملائکې کرام الکاتبين بل کېږي ځکه چه دوی
ليکي هر څه چه د بندګانو څخه صادريږي اِنَّ اللّٰهَ بيشکه چه خدا لَا يُغَيِّرُ
مَا بِقَوْمٍ تغير نه ورکوي وهغه نعمت او عافيت ته چه د کومې طايفې سره وي
حَتّٰى يُغَيِّرُوْا تر هغو پورې چه تغير ورکړي دوی مَا بِاَنْفُسِهِمْ د وهغه حال
ته چه په دوی پورې وي يعنې خوچه اخلاق حميده او طاعات چل په اخلاق
قبيحه وو او په معاصيو سره بدل نه کړي وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ او په هغه وخت
کښې چه اراده وکړي خدای بِقَوْمٍ سُوْٓءًا پر کومې طائفې د عذاب نو فَلَا مَرَدَّ
لَهٗ نو نشته ګرځيدل د هغه وَمَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ او نه به وي دوی لره غير
د خدای څخه مِنْ وَّالٍ ⑪ هيڅوك متولي د کار د دوی چه دا عذاب ځنې دفع
کړي هُوَ الَّذِيْ دی هغه خدای دی يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ چه ښيي دی تاسو
ته دا سې برښنا چه دوه جهته لري خَوْفًا د پاره د ويرې د تندري يا د
باران څخه او خاص هغه چا ته چه مسافر يا بې کوټې وي يا هغه ملك ته
چه اوبه وي وَّطَمَعًا او بل د پاره د باران د اميد هغه چا ته چه ورته محتاج

وے وَّ یُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿۱۲﴾ اورا پورته کوے دے اوریځی په اوبو درنے
په هواکښې په خپل قدرت کامله سره وَ یُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ او تسبیح وایی
رعد سره د ثنا دده یعنې هغه ملائکه چه رعد یې نوم دی او پرا ورېځو
مسلط دی وَالْمَلٰٓئِکَۃُ مِنْ خِیْفَتِهٖ ج او نورې ملائکې هم تسبیح وایی دخدائے
د ویرے او دهیبته څخه دده رِوَایت دے چه هرکله عامر او اربد دهجرت
په نهم کال ورسول ته راغلل د قتل په نیت او جګړه یې ورسره برپا یه
کړه په وحدانیت او په بعث کښې لوډے په مطلب سره د دوی پوه سو او وی
ویل چه اَللّٰهُمَّ اکْفِنِیْهِمَا بِمَا شِئْتَ یعنې اے خدایه دفعه کړے دما څخه دا
دواړه په هرڅه چه ستا اراده وسی نو پر اربد تندره ولویدله او پـه
عامر پچو ولګیدی او دواړه مړه سو لکه چه وایی وَیُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ
او رالیږے دے صاعقے فَیُصِیْبُ بِهَا نو رسوے دی دا صاعقے یعنې تندرے
مَنْ یَّشَآءُ وهرهغه چاته چه اراده یې وسی وَهُمْ یُجَادِلُوْنَ فِی اللّٰهِ
او حال دا چه دوی جګړے کوے په حق د خدائے کښې دجهته د قدرته د
ده پرا عادہ د مخلوق وَهُوَ شَدِیْدُ الْمِحَالِ ﴿۱۳﴾ او حال دا چه دے سخت
پرعبث بعد الموت
عقوبت دے پر مجادلانو لَهٗ دَعْوَۃُ الْحَقِّ ط خاص هم ده لره ده بلنه
د حق چه کلمه طیبه ده یا خاص ده عبادت کول دے یا بلنه ده خاص
دده عبادت ته وَالَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ او هغه خدایان چه دا کفار یې بولی
یا هغه کفار چه دا خدایان بولے مِنْ دُوْنِهٖ غیر د خدایه لَا یَسْتَجِیْبُوْنَ
اجابت نه کوی او سوال نه قبلوی لَهُمْ بِشَیْءٍ دوی لره په هیڅ شی کښې د
مطالبو څخه ددوی اِلَّا کَبَاسِطِ کَفَّیْهِ مګر داسے قبلول لکه هغه څوک چه
دواړه ورغوی خپلو اِلَی الْمَآءِ او بو ته خپاره کړی. بیله رسی او بیله بوکی
لِیَبْلُغَ فَاهُ ددے دپاره چه راورسیږے دا اوبه وخولے ته دده وَمَا

عه دا دواړه دکافرانو نومونه دی ۱۲

هُوَ بِبَالِغِهٖ ط او حال دا چه نه دے دا او به رسید ونکی دده وخولے ته په تشه دعا بیله رسی او بیله بوکے څکه چه دا او به جماد دے او جماد په بلنه نه راځی بے اسبابه او نه په بلنه پوهیږی ے همدا سے دا بتان هم جمادات دی نو په بلنه هیڅ نه پوهیږی وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ او نه ده بلنه ددے کافرانو اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ⑭ مگر په گمراهی او ناامیدی او بطلان کښے ده یعنی هیڅ قدر فائده نه ده پرمرتبه وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ او خاص خدائے ته سجده کوے مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ هرهغه څوك چه په اسمانو او مځکه کښے دی په سجده د تعبد او د انقیاد سره طَوْعًا څوك په خوښه لکه ملایکے او مؤمنان وَّ كَرْهًا او څوك په ناخوښے سره لکه منافقان او کافران د سختی په وخت کښے وَظِلٰلُهُمْ او سورے ددوے هم سجده کوی په طبع د خپل اصل سره بِالْغُدُوِّ په وخت د صبا ”سحار“ کښی د مغرب و طرف ته وَالْاٰصَالِ ⑮ او په وخت د بیگاه ”ماښام“ کښے د مشرق وطرف ته قُلْ مَنْ ته ووایه ددوی ته چه څوك دے رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط پیداکونکی د اسمانو او د مځکی قُلِ اللّٰهُ ط بیا هم ته ووایه چه خدای دے مځکی ترویلو ددوے څکه چه غیر ددے څخه بل جواب نشته نو بیا ملامتی پروا چوه داسے چه قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ ته ددوی ته ووایه چه ایا تاسے نیولے دی مِّنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ غیر دده څخه دوستان او معبودان چه بتان دی لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ چه اختیار نه لری دوی د خپلو ځانو دپاره هم نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ط نه د نفع او نه د ضرر دفع کولو او څوك چه د خپل ځان واك هم نه لری نو هغه به بل ته څه نفع ورسوے قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى ته ددوی ته ووایه چه ایا برابریږی روند چه بت پرسته دی وَالْبَصِيْرُ ط او بینا چه خدای پرسته دی یعنے نه برابریږی سره اَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمٰتُ او که برابریږی تیارے چه شرك او انکار

دے وَالنُّوْرُ ۚ اور ناچہ توحید او معرفت دے اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ بلکہ
سازکړے دی دوی خدا لرہ شریکان خَلَقُوْا كَخَلْقِهٖ چہ پیداکول کوی دوی
پہ مثل د پیداکولو د خدای فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ نو ګډ کړہ سوی دی
پر دوی او نہ یے سی سرہ بیلولای چہ مخلوق د خدائے کوم دے او د شرکاؤ
دا کوم دے حاصل دا چہ دوی د خدائے سرہ دا سے شریکان نہ دی پیدا
کړے چہ هغہ هم دد ۂ پہ شان پیداکول کوے چہ د دوی دا سے اشتباہ پیدا
سے چہ هر کلہ دوی هم د خدائے پہ شان خالقان سوہ د هغہ پہ شان د عبادت
لائقان هم سوہ قُلِ اللّٰهُ تہ و دوی تہ و. وایہ چہ خدائے خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ پیداکونکے
د هر شی دے او پہ دے خالقیت کښی هیڅوک ورسرہ شریک نہ دے چہ پہ
معبودیت کښی هم ورسرہ شریک سی بلکہ یوازے هم دے دی وَّهُوَ الْوَاحِدُ
الْقَهَّارُ ⑯ او دے یگانہ دے پخپل ربوبیت کښی او پر هر چا غالب دی اَنْزَلَ
مِنَ السَّمَآءِ مَآءً رالیږلے دی دہ د اسمان د طرفہ اوبہ فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌ ۢ نو
وبهیږے پہ دے اوبو سرہ کندی و هر طرف تہ بِقَدَرِهَا پہ خپلہ اندازہ سرہ چہ
لوی یا وړے یا ارتے یا تنګی وی فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ نو پر سر را وختی دے سیلاب
زَبَدًا رَّابِيًا ۭ راپورتہ سوے دا وبو پر سر وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ او بعض د هغو
شیا نو څخہ چہ داخلیٔ پہ هغہ شی سرہ لمبی بلوے یعنے ویلی کوی یے لکہ زر
او مس او ژیړ او قلعی او جست او اُسپینہ فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ پہ اور کښے د
پارہ د طلب د ګیڼی اَوْ مَتَاعٍ یا لوښے او نورا سباب د معاش لکہ توړے او
چړے او چاقوګان او بیاتی ګانی او تبی او نغرے او هر کارے او توپکان او
بیلچی او دا سے نور د یر شیان سوہ زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ۭ زلۀ او خیرے دی پہ شان
د زلۀ او د خیرے د او بو كَذٰلِكَ پہ مثل د دے مذکور سرہ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ
مثالونہ تړی خدائے د حق وَالْبَاطِلَ ۭ او باطل فَاَمَّا الزَّبَدُ نو هر چہ زلۀ او

خیرے دے داو یا دکیفو یا د نورو اسبابو پرسر فَيَذْهَبُ جُفَآءً ج نو ولاړ سی
په دا سے حال کښے چه د نظر ساقط او بے اعتباره وي وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ
او هرچه هغه شی دے چه وخلکو ته نفع رسوي لکه صافی اوبه او پارچے چه
ویلی یئے کړے بیله غیشه فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ط نو هغه ولاړه پاته سے په محکه کښے
چه خلك نفعه پروا خلے كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ﴿۱۷﴾ همدا سے خدای تر سے
مثالونه حاصل دا چه لکه او به او د زره پرچے او د مسو او دا سے نور واشیا نو پرچے
چه نافع او مفید دے وخلکو ته همدا سے گفتار د حق چه د قران آیتونه دے هغه
هم نافع او مفید دے او لکه چه زلے او خیرے بے منفعته او سریع الزواله دی
همدا سے قول باطل او هواجس د نفس یعنے خواهشات دنفس او وساوس د
شیطان هم بے منفعته او سریع الزواله دے لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا مقرر دے
هغو کسانو لره چه فرمان منی لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى ط د خپل رب جنت او دیدار او
رضوان دے وَالَّذِيْنَ او هر هغه کسان لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ چه د خدا ے فرمان نه منے
او ایمان پرده نه راوړی لَوْ اَنَّ لَهُمْ که وے بیشکه دوی لره مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا
هغه مبلغ چه په محکه کښے دے ټوله د نقدو د جنسه او د متاع د جنسه او د شرقه
تحته ترغربه او د شماله تحته ترجنوبه وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ او په مثل د دے مذکورونو ر
هم وے ددہ سره او دا ټوله بیا په تصرف کښے د کافرانو سے د قیامت په ورځ
لَافْتَدَوْا بِهٖ ط نو خامخا به دا ټوله په فدیه د خپل ځان کښی ورکړے چه دعذابه
تحته په خلاص سے اُولٰٓئِكَ لَهُمْ دا کسان چه دے مقرر دے دوی لره سُوْٓءُ
الْحِسَابِ لا بد حساب یعنے سخت چه نه به یے نیکی قبلیږے او نه به یئے بدے محوه
کیږی وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط او ځای د استوګنی ددوے دوږخ دے وَبِئْسَ
الْمِهَادُ ﴿۱۸﴾ او بد ځای دے دا دوږخ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ آیا نو هغه څوك چه
پوهیږے اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ چه بیشکه هغه قران چه درا لیږل سوی دے

ع ۲ / ۸

وتا ته مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ د طرفه ځخه د رب ستا هغه حق دے كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ط هغه دا سے
دے لکه هغه څوك چه دزړه په سترګو ړوند وے یعنے نه دے دهغه په شان اِنَّمَا
يَتَذَكَّرُ بیشکه هم خبره ده چه پند اخلی په دے قران سره اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۹﴾
خاوندان د خالص عقل خالی د وهم اود معارضی اود مجادلی ځخه الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ
هغه کسان چه وفاکوے بِعَهْدِ اللّٰهِ په هغه عهد سره د خدائے چه په ورځ دمیثاق
یے ځنی اخیستی وه وَلَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ﴿۲۰﴾ او دوے نه ماتوی هغه عهد وَ
الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ او بل هغه کسان چه پیوندوی مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖ هغه شی چه خدائے
امر کړی دی په هغه سره اَنْ يُّوْصَلَ داسے چه پیوند دے کړه سی یعنی صله
رحمی او بل پیوند د خپلولی او بل پیوند د رسول او د نورو مؤمنانو سره د جهته
دایمان چه اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ وارد دے اود اپیوند په شفقت او په احسان
او په نصرت اود سلام په اچولو سره او د مریض په پوښتنه سره او د ضرر په
نه رسولو سره او په هم دی کښی بیا داخل دے رعایت دحقوقو دخادمانو او
دګاونډیانو اود ملګرو د سفر او د سبق او د مجلس وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ او بیریږی
دوے د خپل رب ځخه یعنی د عذابه ځخه یے وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ الْحِسَابِ ﴿۲۱﴾ او
بیریږی د سختی ځخه د حساب دقیامت وَالَّذِيْنَ او بل هغه کسان صَبَرُوا ابْتِغَآءَ
وَجْهِ رَبِّهِمْ چه صبر کوے د پاره د طلب د رضا مندئ د خپل رب پر مصیبتو او د
مال پر هلاکیدو او پر سختیو د تکلیفو د شرع یا پر جهاد وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ او بر
پا یه لرے لمونځ خپل وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ او ورکوی د خدائے په لار کښی بعض
د هغه حلال مال ځخه چه مونږ ورکړی دی ته ورکړے دی سِرًّا وَّعَلَانِيَةً هم په پته
او هم په ښکاره وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ او دفعه کوے دوی بدی په نیکی
سره که څوك بده خبره ورته وکړے نو دوی ښه کوی او که څوك ظلم پر وکړی

عه معنیٰ د چه خدای فرمایلی دی چه خبره داده بلہ نه ده چه مؤمنان سره ورونه دی یعنی دا مؤمنان څو له که
نسبی ورونه نه دی مګر اسلامی ورونه خو ټول دی ۱۲

نو دوی عفوه ورته کوے او که څوک قطع ځنی وکړی نو دوی وصل ورسره کوی او
که یے څوک محروم کړی دوی هغوے ته ورکړه کوے او که ګناه ځنی وسی نو
توبه وکا بڼے او که معصیت ځنی وسی نو طاعت ورپسی وکړی او که چیری
دکفارو څخه ماته وکړے نو بیرته ورته راشی او که دچا څخه کوم منکروو ینی نو
هغه ځنی بندوے نو دا اته کارونه چه دے خلاصونکی دے دا توسره وودروازو
دجنت لکه چه وایی اُولٰٓئِكَ داکونکی ددے اتو کارو چه دی لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۲﴾
مقرردی دوی لره ښه عاقبت دهغه جهان چه هغه جَنّٰتُ عَدْنٍ باغونه دے
د خزانه يَدْخُلُوْنَهَا چه دوے به په هغو کښے ننوزی او بیا به همیشه پکښے وی
وَمَنْ صَلَحَ او بل به هغه څوک په ننوزے چه صالح وے یعنے ایمان یے راوړی
وی مِنْ اٰبَآئِهِمْ ددوی دپلرو څخه وَاَزْوَاجِهِمْ او ددوی د ښځو څخه وَذُرِّيّٰتِهِمْ
او ددوے داولاد وڅخه وَالْمَلٰٓئِكَةُ او ملائکی چه دے یَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ را
ننوزی به پر ددوے باندے په مقدار دهری شپی او ورځی کښے د ایامو «دخلیرے» ددنیا
څخه درے واره سره دپیشکشو او د زیری د رضوان مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴿۲۳﴾ د هرے
دروازے څخه ددربار ددوی او بیا به وددوی ته وایی سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ سلام
دی پر تاسے یعنی زیرے ددوام دسلامتی بِمَا صَبَرْتُمْ په سبب ددی سره چه
تاسے صبر کړی وو د نفس د شهوتو څخه پر او امرو د خدای فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ۲۴
نو ښه دے عاقبت دهغه جهان چه تاسے موندلے دی چه رضوان او خلود د
جنت او و دیدار دے.

نظم

څوک چه دفع د بدی کا په نیکی سره اے یاره
یعنی کړی دے تل ترتله په دنیا کښی اسے کاره
د بدے پرځای نیکی کا او د ظلم پرځای عفوه
او د قطعے پرځای وصل کا د خدای رضا د پاره

اوکه سی ځنی معصیت نوژر طاعت و رسیی کا
اوکه څوك یې کړے محروم نودے ورکړے بے شماره
اوکه سی ځنی گناه نودے توبه وکا بے ژر
اوکه وویني منکر نوکوی منعه د بد کاره
اوس که مات سی په کوم جنګ کښے دکفارو دلښکره
نو بیا بیرته سی راستون او نه بیریږی د کذاره
څوك چه دا ته افعال کا اته دروازی دجنت دے
پری به پرانزی خالق ددے عمل د اختیاره
همت ورکړی اے الله تل ددے اتو کارو
ودے مراد ته چه عاصے دی اے رحیم هم غفاره

وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ او هرچه هغه کسان دے چه دوی ماتوی عَهْدَ اللّٰهِ هغه عهد دخدای چه ددوی څخه یې اخیستے وو مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وروسته تر محکم کولو هغه عهد په اقرار او په قبول سره وَيَقْطَعُوْنَ او دوی پری کوی مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ هغه شی چه امر کړی دے خدای په هغه سره اَنْ يُّوْصَلَ دا سے چه پیوند دے کړه سے وَيُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ ۙ او فساد کوی دوی په ځمکه کښی په کفر او په ظلم سره اُولٰٓئِكَ دا کسان چه دی لَهُمُ اللَّعْنَةُ مقرر دی دوے لره لعنت یعنی دخدای درحمت څخه لیریوالے وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿۲۵﴾ او دی دوی لره بد عاقبت ددنیا او عذاب ددوزخ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ او خدای فراخوی روزی لِمَنْ يَّشَآءُ هغه چا ته چه اراده یې وسی وَيَقْدِرُ ۭ او تنګوی یې پر هغه چا چه اراده یې وسی وَفَرِحُوْا او خوشحاله سوی دی دا اهل د مکې بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ په دے واړه ژوند او په متاع ددے سره وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا او نه دے دا ملکی ژوندون فِى الْاٰخِرَةِ په څنګ د هغه جهان کښی اِلَّا مَتَاعٌ ﴿۲۶﴾ مګر ع ۸

لری شی دے لکه د مسافر توښه یاد کاله اسباب وَ يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا او وائی
هغه کسان چه کافران دے لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ ولی نه دے رالیږلے سوی پرده
محمد صلی الله علیه وسلم باندے اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ط هغه قسم ایت چه موږ یې غواړو د
طرفه څخه د رب دده قُلْ اِنَّ اللّٰهَ ته ووای ته ووایه چه بیشکه خدای يُضِلُّ
مَنْ يَّشَآءُ گمراه کوے هرهغه څوک چه اراده یې وسی چه خوځ ساخته
ایت غواړی وړسته تر ظهوره د معجزو وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ اولاره ښیي دے
وخپل ځان ته غیرذکید لو د ایت مَنْ اَنَابَ ﴿۲۷﴾ وهر هغه چا ته چه رجوع کړی وځی
ته او دا رجوع کونکی چه دے وحق ته اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اهغه کسان دی چه ایمان یې
راوړیدے وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ او ارام کوی زړونه ددوی بِذِكْرِ اللّٰهِ ط په یاد ﴿۲۸﴾
کیری سره دخدای اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ واوره چه په یادولو سره دخدائے تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ
ارام نیسی زړونه دمؤمنانو اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هغه کسان چه ایمان یې راوړیدے
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ او د نیکو عملونه کوی طُوْبٰى لَهُمْ خوشحالی ده دوی لره وَ
حُسْنُ مَاٰبٍ ﴿۲۹﴾ او ښه مرجع ده چه جنت دے كَذٰلِكَ همداسے لکه مخکی ترتا
چه موږ رسولان رالیږلے وه اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ لیږلے یې موږ ته په یو دا
تولی کښی قَدْ خَلَتْ چه په تحقیق سره تیرسوی دے مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ مخکی تردے
نوری ډیری تولی د نوح دزمانی څخه د عیسیٰ ترزمانی پوری نو دا ستا قوم
اخردے دتولو امتو او ته اخر او خاتم یې دتولو انبیاؤ او ته راغلی یې ودے
خپل قوم ته لِتَتْلُوَا۠ عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ ددے دپاره چه ته ولولے پردوے باندی هغه
قرآن اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ چه درلیږلے دی موږ وتا ته وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ اوحال
دا چه دوے کفراختیاروی بِالرَّحْمٰنِ ط په خدای پورے چه پولوم یې رحمٰن
دی چه رحمت یې ډیرعام دے چه هرچاته راغلے دے قُلْ هُوَ رَبِّيْ ته و
دوے ته ووایه چه دی زمارب دی لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ج نشته بل هیڅوک لائق

عه یعنی دلمانځه څخه جوړه کړی معجزه دپیغمبر څخه غواړی ۱۲

دعبادت مگر یوازی هم دے دی عَلَیۡهِ تَوَکَّلۡتُ هم پرده ی توکل کړی دے
بچیل نصرت کښی پرتا سے وَاِلَیۡهِ مَتَابِ ﴿۳۰﴾ اوهم وده ته بیا ورتله زما دے
روایت دے چه هرکله بعض قریشو رسول علیه السلام ته وویل چه که ته زمونږ
متابعت غواړے نو په دے قرآن سره مونږ ته درے کارونه راوکړه یو داچه
داغرونه چه ترمکے چاپیره پراته دے داتوله په لیری کړه چه وطن را ته
فراخ سی اوبل داچه دمکے مځکی په څیرے کړه اوچینی ځنی راوه بهوه چه
داوطن ابی سی او مونږ غلے پکښی وکړواو بل زمونږ پلرونه په راژوندی کړه
چه ومونږ ته ووایې چه دا رشتیا پیغمبر دے نونازل سو وَلَوۡ اَنَّ قُرۡاٰنًا او
که چیرے یو داسے کتاب وی په دے جهان کښی سُیِّرَتۡ بِهِ الۡجِبَالُ چه
روانیږے په ده سره غرونه دځیلو ځایو څخه په وخت کښے دلوستلو دهغه کتاب
اَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ الۡاَرۡضُ یا څیرید له په ده سره مځکه په وخت دقرأت کښی اَوۡ
کُلِّمَ بِهِ الۡمَوۡتٰی ط یا بږغیدلا په برکت دقرأت دهغه سره مړی نو خا مخا هغه
هم داقرآن وو دپاره دکیدو دده په اقصی مرتبه کښی دتذکیر اودتخویف
اودانذار مگر که څه هم داقرآن لیاقت ددے تولوکارو لرے لیکن ظهور
ددے یې دتا څخه غواړے بَلۡ لِّلّٰهِ الۡاَمۡرُ جَمِیۡعًا ط بلکه خاص خدا ے لره دے
اختیار ددی تصرفاتو تولو نو هرکله چه یې اراده وسی نو بنکاره به یې کړی
اَفَلَمۡ یَایۡـَٔسِ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا آیا نه دے نا امیده سوے هغه کسان چه ایمان یې
راوړے دی دایمان راوړلو څخه ددغو خلکو چه داقسم معجزه غواړی اوسره
ددے چه وی ته معلوم ده اَنۡ لَّوۡ یَشَآءُ اللّٰهُ دا خبره چه که دخدای اراده
سوے وای لَهَدَی النَّاسَ جَمِیۡعًا ط نو خا مخا به یې سمه لاره ښوولې وای ددے
تولو خلکو ته وَلَا یَزَالُ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا اوهمیشه به وی هغه کسان چه کافران
دے تُصِیۡبُهُمۡ بِمَا صَنَعُوۡا چه رسیږے به ورته په سبب دهغه تکذیب

او عناد سره چه دوی کړې دی قَارِعَةٌ هغه عذاب چه مېده کونکی او بیخ
کبنونکی دے ددوی اَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا یا وارېږی او ډېره سی داقارعه نژدے په ځلکو
کښے مِّنْ دَارِهِمْ دمېښو ددوی چه د اور بڅرے ورته راالوزی او ددوی همیشه
ځنی په بېره کښے وی او دا هلته که مراد د کفارو ځنی عام وی او که یوازی مراد
قریش وی نو تَحُلُّ خطاب دے ورسول ته یعنی واوږی ته او ډېره سے نژدے و
دوی ته چه مدام چاپې پرکوی او سرې او مالونه یې ځنې راولی او همیشه به په
عذاب اخته وی حَتّٰى يَأْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ ط تر هغو پورے چه راسے وعده دخدا ے
چه موت یا فتح دمکی ده اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدا ے لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿۳۱﴾ هیڅیرے ع ۵ ۱۰
نه خلافوے خپله وعده بیا تسلی کوی د رسول په دی شان سره چه دا تکذیب
او عناد او مسخرے یوازے په تا پورے نه کیږی بلکه دا یو سنت عه جاریه دے پخوانے
نو څکه وایی وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ او خامخا په تحقیق سره چه مسخری کړه سوی دے
بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ په رسولانو پورے مخکی تر تا لکه دا ستا قوم چه یې په تا پورے
کوے فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا نو مهلت به می ورکړی و هغو کسانو ته چه کافران
دے څه موده یعنی په خوشحالی او پخپل معاش کښے به می پرېښوول ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ
بیا می ناګاه په عقوبت سره ونیول فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿۳۲﴾ نو څرنګه به وو عقوبت
زما یعنی ډېر به سخت وو أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ ایا نو هغه ځوک چه دے نګهبان وے
عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ پر هر شخص که صالح دے که طالح بِمَا كَسَبَتْ په هغه عمل سره چه
دا شخص یې کوی نیکی وی که بدی او بیا ددے دوارو په عوض کښے یې جزا هم ورته
مقرره کړی وی دے د هغه چا سره برابر کیږی چه دا سے نه وی یعنی خدا ے خو
هیڅکله د بتانو سره نه برابریږی وَجَعَلُوا لِلّٰهِ شُرَكَاءَ ط او پیدا کوی دا کفار د
خدا ے سره شریکان په خدایی کښے چه بتان دے قُلْ سَمُّوهُمْ ط ووایه ورته چه
نوم و نه د ځانه پر اېږدے بیله حجته اَمْ تُنَبِّئُونَهُ بلکه دے تاسے اګاه کوی بِمَا

عه رارو انه طریقه ۱۲

لَا یَعۡلَمُ په هغو شیانو سره چه ده ته معلوم نه دی فِی الۡاَرۡضِ په ځمکه کښې یعنې د
دسره شریکان نه لري اوکه وای نو ده ته به معلوم وای اَمۡ بِظَاهِرٍ مِّنَ الۡقَوۡلِ ط
یا یې مسمی کوې په تش ظاهر د گفتار یعنې هسې ظاهر و دې نوم ته گوري چه
داد خدای شریکان دي او و معنی ته یې نظر نه کوې چه دوی یو هم د خدای
کار نه سي کولای لکه حبشي چه په کافور سره بلل کیږي محض د جهت د تور والي
بیله اعتبار د بوې بَلۡ زُیِّنَ بلکه ښائسته کړه سوی دی لِلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا مَکۡرُهُمۡ
وهغو کسانو ته چه کافران سوي دي فریب او درواغ خپل وَصُدُّوۡا عَنِ السَّبِیۡلِ ط او
چپ کړه سوي دي دوې د سمې لارې څخه وَمَنۡ یُّضۡلِلِ اللّٰهُ او هر هغه څوک چه گمراه
یې کړې خدای فَمَا لَهٗ مِنۡ هَادٍ (۳۳) نو نه به وې ده لره سمه لار ښوونکی هیڅوک لَهُمۡ
عَذَابٌ مقرر دی دوی لره عذاب فِی الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا په دې واره ژوند
کښې په قتل او په بند او قحط او په رنځ او په نورو رنگا رنگ غمو سره وَلَعَذَابُ
الۡاٰخِرَةِ او خامخا عذاب د هغه جهان چه دی اَشَقُّ ډیر سخت دی وَمَا لَهُمۡ
مِّنَ اللّٰهِ او نه به وې دوې لره ... د عذاب څخه د خدای مِنۡ وَّاقٍ (۳۴) هیڅوک
سا تونکی مَثَلُ الۡجَنَّةِ الَّتِیۡ صفت او حال د هغه جنت چه دی وُعِدَ الۡمُتَّقُوۡنَ ط
چه وعده کړه سوې دی په هغه سره پرهیزگاران چه پکښې نوزې بهیږي تَجۡرِیۡ
مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ د چه بهیږي همیشه لاندې تر باغو یا د میوو (کورو) د هغه
خلور قسمه ویالې اُکُلُهَا دَآئِمٌ میوه د هغو باغو چه ده همیشه به وي چه خزان
به هیڅکله نه پر راځي په خلاف د میوو د دنیا وَّظِلُّهَا او سوري د هغو باغو به هم
همیشه وي په مثل د میوو او هیڅ تغیر به نه لري په خلاف د سوري تِلۡکَ دا
جنت چه ځکې ذکر سو عُقۡبَی الَّذِیۡنَ اتَّقَوۡا عاقبة او منتهی کښېنه ځای د استوگنې
د هغو کسانو دي چه پرهیز کوي د مخالفت څخه د شرع وَّعُقۡبَی الۡکٰفِرِیۡنَ
النَّارُ (۳۵) او عاقبت کښېنه ځای د استوگنې د کافرانو دوږخ او ور دی وَ

اَلَّذِیْنَ اوهرچه هغه کسان دے اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ چه مونږ ورکړے دے وروی
ته کتاب او بیا په اسلام هم راورے دی که یهود دی لکه ابن سلام او ملګری
یے او که نصارئ دے لکه نجاشی او ملګری یے یَفْرَحُوْنَ خوشحاله کیږے دوی
بِمَآ اُنْزِلَ اِلَیْكَ په هغه قرآن چه راليږل سویدی وتاته وَمِنَ الْاَحْزَابِ او د
ټولیو څخه دوغه اهل کتابو مَنْ یُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ؕ هغه څوك دے چه نه مني بعض
دے قرآن یعنی هغه بعض چه مخالف دی دوے دشریعته څخه او هغه منکر
لکه کعب بن اشرف او حیّٰ بن احطب او نور اتباع یے دا د یهود و څخه او سید او
نور اتباع یے داد نصارٰی وو څخه قُلْ ته ووایه اِنَّمَآ اُمِرْتُ چه
بیشکه هم دا خبره ده چه زه مأموره سوی یم اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ په دے چه زه
دے عبادت کوم یوازے دخدائے وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ ؕ او شریک دی نه نیسم دده
سره بل هیڅوك په عبادت کښی لکه تاسے چه عزیرؑ او مسیحؑ دواړه په خدائی سره
نیولی وه اِلَیْهِ اَدْعُوْا خاص هم هغه خدای ته بولم ټوله عالم وَاِلَیْهِ مَاٰبِ ﴿۳۶﴾ او
خاص هم وده ته بیا ورتله زما دے وَكَذٰلِكَ او هداسی لکه چه نورو پیغمبرانو
ته مخوا کتابونه لیږلے وو مونږ په ژبه د قوم د هریو دوی اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِیًّا
رالیږلے دی مونږ دا قرآن تا ته کتاب حکم کونکی په مابین کښی د حق او د باطل
په ژبه د عربی سره چه دوی فهم د معنے څخه کولای سی بے کلفته یا د حكمًا معنیٰ
ساتل سوی د تغیر او د تبدیله څخه وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ او خامخا که ته
پیروے وکړی د ارزوګانو ددے مشرکانو چه تا دخپلو پلرو و دین ته بولی
بَعْدَ مَا جَآءَكَ وروسته تر هغه چه تا ته راغله مِنَ الْعِلْمِ ۙ د پوهی پر بطلان
د دین د دوی مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ نو نه به وی تا لره دعذابه څخه د خدای مِنْ وَّلِیٍّ
یار هیڅوك چه نفعه و تاته ورسوی وَّلَا وَاقٍ ﴿۳۷﴾ او نه ساتونکی ستا هیڅوك د
عذابه څخه روایت دے چه هرکله یهودو ویل چه دا څرنګه پیغمبر دی چه

ع ۹
۱۱

خپل همت یې قوله وښځو او نکاح نه صرف کړې دي او که دې په رښتیا پیغمبر وې
نو خپل نبوت سره به مشغول وو او د دنیا و معاش ته به یې مخ نه وو نو نازل سو
وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا او خامخا په تحقیق سره موږ لیږلي وه رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ ډیر پیغمبران
مخکې تر تا وَجَعَلْنَا لَهُمْ او ورکړې وې موږ و هغوی ته اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ښځې
او اولادونه وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ او نه ده بانده او نه ده روا هیڅ رسول ته یعنې د طاقت
څخه یې وتلې ده اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ داکا رچه دې کومه داسې معجزه را وړي چه قوم
یې غواړي اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ مګر په اذن یا په تقدیر سره د خدای لِكُلِّ اَجَلٍ
كِتَابٌ ۳۸ د هر حکم د پاره یو معین وخت لیکل سوی دی نو هر کله چه هغه وخت
راسي نو دي ظاهره سي يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ محوه کوي خدای هر هغه چه اراده
یې وسي د هغه د نسخ وَيُثْبِتُ ۚ او مقرره وي د هغه په عوض کښې بل شي چه د
ده حکمت بالغه یې غواړي یعنې محوه کوي سیئات د تائبانو یا قوت د ځوانانو
یا بعض احکام شرعیه د قران په مصلحت الوقت سره او ثابتوي د هغه په عوض
کښې حسنات یا ضعف یا نور احکام شرعیه وَعِنْدَهٗۤ اُمُّ الْكِتٰبِ ۳۹ او د ده سره دی
اصل د هر کتاب چه لوح محفوظ دی ځکه چه هیڅ کائن نسته مګر چه په هغه
کښې لیکل سوی دی وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ او که خامخا موږ و تا ته و ښیو بَعْضَ الَّذِيْ
نَعِدُهُمْ بعض د هغه عذابه څخه چه موږ د دې کفارو سره وعده کړیده اَوْ
نَتَوَفَّيَنَّكَ یا موږ تا وفات کړو مخکې تر ښیو د هغه عذاب فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ
نو بیشکه هم داخبره ده چه پر تا رسول او بیانول د احکامو دي وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ۴۰
او پر موږ بانده دی حساب او جزا ورکول و دوی ته اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا اَیا دا
اهل د مکې نه وینې چه بیشکه موږ نَاْتِي الْاَرْضَ راځو و ځمکې ته د کفارو نَنْقُصُهَا
چه موږ ورځ په ورځ دا ځمکه کموو مِنْ اَطْرَافِهَا د طرفو او د چا پیره کنارو
څخه د دې په غلبه او په تصرف سره د مسلمانانو وَاللّٰهُ يَحْكُمُ او خدای حکم کوي

په غلبه او په اقبال د اسلام سره او په مغلوبیت او په شکست د کفر سره لَا مُعَقِّبَ
لِحُكْمِهٖ ؕ نشته هیڅوک حصار ونکی، وروسته کونکی" د حکم د ده وَهُوَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۴۱﴾
او دے ژر حساب کونکی دے نو په آخرت کښې ژر حساب ورسره وکړی وَقَدْ
مَكَرَ الَّذِيْنَ او په تحقیق سره مکر کړی وه هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه تښکی وه ستا د
زمانې د کفار وڅخه یعنې مخوانیو کفار، و به هم داسے مکرونه او فریبونه کول څخلو
پیغمبرانو لوری فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِيْعًا ؕ نو خاص د خدائے سره جزا د ټولو مکرو دده دے
يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ دے پوهیږی په هر هغه کار سره چه کوی یے كُلُّ نَفْسٍ ؕ هر شخص
که خیروی او که شر او بیا د هغه جزا ورته تیاروی وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ او ژر دے
چه معلوم به کړے دا کفار په قیامت کښې لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۴۲﴾ چه چا لره وی غوره
خاتمه د هغه جهان وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا او وائی هغه کسان چه کافران دی
لَسْتَ مُرْسَلًا ؕ چه ته نه یې رالیږل سوے په نبوت سره د دعوت د پاره قُلْ كَفٰى
بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ؕ ته و دوی ته ووایه چه بس دے خدائے شاهد بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ په
ماین کښې زما او ستاسے پردے چه زه پیغمبریم وَمَنْ عِنْدَهٗ ؕ او بل هغه
ع ۶ خوک هم شاهد دے چه د هغه سره عِلْمُ الْكِتٰبِ ﴿۴۳﴾ علم د قران دے چه اهل دے
۱۲ بلاغت او فصاحت دے د مؤمنانو څخه یا علم د تورات دی چه عبدالله بن سلام د
او ملګری دده دے یا علم د لوح محفوظ دے چه جبرائیل ؑ دے ځکه چه دے وحی
د لوح محفوظ څخه اخلی .

رکوعها ۷	سورة ابراهيم مكية	اياتها ۵۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓرٰ قٰف الف و اول څخه د اَنَا او لام د وسط څخه د الله او رٰ د اخر څخه د خبیر دے
اَنَا اللّٰهُ الْخَبِيْرُ یعنی زه خدائے یم په هر څه خبردار چه دا قران كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ دیو
کتاب دے چه موږ رالیږلے دے اِلَيْكَ و تا ته لِتُخْرِجَ النَّاسَ د دے د پاره چه

ته را وباسې داخلق په دې کتاب سره مِنَ الظُّلُمٰتِ د اقسامو څخه د تاریکو چه کفر او
نفاق او شك او بدعت دی اِلَى النُّوْرِ ۵ ورنا دایمان او داخلاص ته بِاِذْنِ رَبِّهِمْ په
توفیق سره د رب دوی اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ ① ولاری ته د هغه خدای چه هغه
غالب ستایل سوی دی او هغه لاره دین د اسلام دی اللّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ یعنی لار د
هغه خدای چه خاص هم ده لره دی پرطریقه د مخلوقیت او مملوکیت سره مَا فِی
السَّمٰوٰتِ هر هغه چه په اسمانو کښې دی د علویاتو څخه وَمَا فِی الْاَرْضِ ط او هر هغه چه
په مځکه کښې دی د سفلیاتو څخه وَوَیْلٌ لِّلْكٰفِرِیْنَ او افسوس دی هغه کافرانو لره چه قران
نه مني مِنْ عَذَابٍ شَدِیْدِ ② د هغه عذابه سخته څخه چه ودوی ته به ورسیږي
الَّذِیْنَ هغه کافران چه ډیره حاقته څخه یَسْتَحِبُّوْنَ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا خوښوی او
غوره کوی دا ژوند د دنیا عَلَى الْاٰخِرَةِ پر هغه جهان وَیَصُدُّوْنَ او خلق اړوی
عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ د خدای د لاری څخه یعنی د دین او د متابعته څخه د رسول وَیَبْغُوْنَهَا
عِوَجًا او لټوی دی لاری ته د خدای کوږ والی یعنی دا سی وایی چه دا لار چپه
تللې ده د مقصوده څخه اُولٰٓئِكَ دا کسان چه شوی موصوف دی په دی صفاتو سره
فِیْ ضَلٰلٍ بَعِیْدٍ ③ په ډیر لیری گمراهی کښې دی د حق څخه وَمَا اَرْسَلْنَا او نه دی
لیږلی موږ مِنْ رَّسُوْلٍ هیڅ رسول اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ مگر په ژبه سره د خپل قوم
لِیُبَیِّنَ لَهُمْ ط د دی دپاره چه بیان کړی وخلقو ته د خدای اوامر او نواهي او بیا
دوی په پوه سی فَیُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ یَّشَآءُ نو بیا خدای گمراه کوی هر هغه څوك
چه اراده یې وسی د هغه د گمراهی یعنی توفیق د ایمان ورلره ور نه کړی وَ
یَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ ط او هدایت کوی و هر هغه چاته چه اراده یې د هغه د هدایت
وسی یعنی توفیق د ایمان ورلره ور کړی وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ④ او دی پرحکمته
او غالب دی وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا او خامخا په تحقیق سره موږ لیږلی وو مُوْسٰى
بِاٰیٰتِنَآ مُوْسٰى په بښکاره معجزو څخه سره لکه عصا او ید بیضاء او موږ دا سی
نکره ۱۳　بیپن لاس ۱۳

ورته وویل اَنۡ اَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ داسې چې راوباسه خپل قوم یعنې بني اسرائیل مِنَ
الظُّلُمٰتِ د تاریکو څخه د جهالت او ضلالت اِلَى النُّوۡرِ ۙ و رڼا ته د علم او د یقین
یا قبطیان چې مبعوث یې ته ورته د انواعو د کفر څخه یې راوباسه ورته د
ایمان وَذَكِّرۡهُمۡ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ؕ او ته پند ورکړه ورته په هغو سختو ورځو
سره د خدای چې د فرعون لاسه پر دوی تېرې سوي دي یا چې په هغه ورځو کښې
تېر کفار په عذاب کړه سوي دي لکه قوم د نوحؑ او عاد او ثمود او مؤتفکات او داسې
نور ډېر اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ بیشکه چې په دې تېرو یاد سوو کښې لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ ښکاره
رنګارنګ نښې د قدرت دي د پاره د هر هغه ډېر صبر کوونکي پر زحمتو
باندې شَكُوۡرٍ ﴿۵﴾ ډېر شکر کوونکي پر نعمتو باندې وَاِذۡ قَالَ او یاد کړه هغه چې وویل
مُوۡسٰى لِقَوۡمِهِ اذۡكُرُوۡا موسیٰ خپل قوم ته یعنې و بني اسرائیلو ته چې یاد کړې
نِعۡمَةَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ هغه نعمت د خدای چې ده پر تاسې پېرزو کړی وه پر اِذۡ اَنۡجٰىكُمۡ
هغه چې ده تاسې خلاص کړلاست مِّنۡ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ د عملې څخه د فرعون يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ چې
خفه کولاست به یې تاسې سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ په بد عذاب سره چې مریان کړي یې واست
او ډېر سخت کارونه به یې درباندې کول وَيُذَبِّحُوۡنَ اَبۡنَآءَكُمۡ او حلالول به یې
زامن ستاسې وَيَسۡتَحۡيُوۡنَ نِسَآءَكُمۡ ؕ او ژوندې به یې پرېښوولې ښځې ستاسې
١ ع ۶ د خپل خدمت د پاره وَفِىۡ ذٰلِكُمۡ او په دې دوارو کښې بَلَآءٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ عَظِيۡمٌ ﴿۶﴾
۳ ازمایښت وه په تاسې باندې د طرفه څخه د رب ستاسې ډېر لوی وَاِذۡ تَاَذَّنَ او
یاد کړې اې بني اسرائیلو هغه چې اګاهي ورکړه رَبُّكُمۡ رب ستاسې چې لَئِنۡ شَكَرۡتُمۡ
خامخا که تاسې شکر وکښئ پر تېرو نعمتونو مابندې لَاَزِيۡدَنَّكُمۡ نو خامخا به په نعمتو
کښې زیاتوالی درباندې وکړم یعنې نور به هم ورپسې درکړم وَلَئِنۡ كَفَرۡتُمۡ
او که بې قدري وکړه تاسې د تېرو نعمتو اِنَّ عَذَابِىۡ لَشَدِيۡدٌ ﴿۷﴾ نو بیشکه عذاب
زما خامخا ډېر سخت دی یعنې هغه به هم درڅخه واخلم بیرته وَقَالَ مُوۡسٰٓى او

موسیٰ وویل چه اے زما قومه اِنْ تَكْفُرُوْٓا که کافران سے یا بے قدری وکړی تاسے
اَنْتُمْ وَمَنْ هم تاسے او هم هر هغه څوک فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا لا چه په مځکه کښے دی د
پیریانانو او د انسانانو ټول فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه خدائے چه دے لَغَنِيٌّ نو خامخا
بے پرواه دے د عبادت او د شکره ټول ستاسے حَمِيْدٌ ⑧ ستایلے سوید ے
بیله ستایلو ستاسے ځکه چه په تسبیح او حمد دده سره ټول مخلوقات مشغوله دے
اَلَمْ يَاْتِكُمْ آیا نه دے راغلے و تاسے ته او دا مقوله یا د موسیٰ ده و خپل قوم ته او یا
د پروردګار ده د رسولؐ د زمانے واهل ته نَبَؤُا الَّذِيْنَ حال او قصه د هغو
کسانو مِنْ قَبْلِكُمْ چه تیر سوید ے مخکی تر تاسے قَوْمِ نُوْحٍ چه قوم د نوحؑ وو وَّعَادٍ
وَّثَمُوْدَ ۛ او عادیان او ثمودیان وه وَالَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ ۛ او نور هغه کسان چه
تردے د روسره طائفو وروسته تیر سوی دے لَا يَعْلَمُهُمْ نه پوهیږے په شمار
دوے د جهته د ډیروالے هیڅوک اِلَّا اللّٰهُ ط مګر یو خدائے لکه د ابن عباس رضی ټول چه
نقل دے چه د عدنان او د ابراهیم په مینځ کښے دیرش قرنه تیر سوی دی او دا بیا
غیر د خدا یه وبل هیچا ته معلوم نه دے جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ چه راغلے وو و دوی
ته پیغمبران ددوے بِالْبَيِّنٰتِ په ښکاره نښو چه هغه معجزات یا کتب الهیه وو فَرَدُّوْٓا
اَيْدِيَهُمْ نو دے کفارو ور کړه خپل لاسونه یعنے ننه به یے ایستی خپلے ګوتے فِيْٓ
اَفْوَاهِهِمْ په خپلو خولو کښی د ډیره غضبه یا د ډیره تعجبه یا په ښوولو د رسولانو
کښے د پاره د چپ کولو د دوی وَقَالُوْٓا اِنَّا او دوی وویل چه بیشکه موږ كَفَرْنَا نه دی
منلے او کفر اختیار کړے دی موږ بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ په هغه شی سره چه تاسے را
لیږل سوی یاست په هغه شی سره په خپل زعم سره وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ او بیشکه چه
موږ په شک کښی خامخا پراته یو مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ د هغه شی ټول چه تاسی موږ
و هغه شی ته بولی چه توحید او ایمان دے مُرِيْبٍ ⑨ داسے شک چه مضطراب کونکی
دے زموږ قَالَتْ رُسُلُهُمْ بیا ددوی رسولانو ورته وویل چه موږ خو تاسی

وخدائے تہ بولو اَفِی اللّٰہِ شَکٌّ آیا پہ وجود د خدائے کښی څه شک دے سره د
اوریدلو د دومره دلیلو پر وجود د ده یعنے شک نشته او داسے خدائے فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ؕ چه پیدا کونکی د اسمانو او د ځمکو دے بے نمونے یَدْعُوْکُمْ تاسے بولے
وایمان ته زموږ په ژبه سره لِیَغْفِرَ لَکُمْ د دے دپاره چه وبخښی وتاسے ته مِّنْ
ذُنُوْبِکُمْ بعض د ګناهو ستاسے څخه یعنے هغه چه خالص حقوق د خدای دی یا هغه
چه ځکی تر ایمان دے وَیُؤَخِّرَکُمْ او چه مهلت درکړے وتاسے ته او عذاب راونه
لیږے اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی ؕ تر هغه وخته پورے چه په نامه کړه شوی دے چه آخر
د عمر دے قَالُوْۤا اِنْ اَنْتُمْ نو دے کفار و وویل چه تاسے نه یاست اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ؕ
مګر انسانان زموږ په شان او که تاسے په رښتیا رسولان وای نو د موږ څخه
به غوره واست بلکه تُرِیْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا اراده لری تاسے د دے چه موږ
واړوی عَمَّا کَانَ د هغه بتانو څخه چه پخواوه تر دے یَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا چه عبادت به کاوه
د هغو پلرونو زموږ فَاْتُوْنَا نو راوړے وموږ ته بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ⑩ یو ښکاره دلیل د
خپلے دعوے پر صحت باندے یا پر استحقاق د فضیلت خپل پر موږ باندے یعنے موږ
ستاسے په معجزو باندے باور نه کوو بلکه هغه معجزه راوړے چه موږ یے غواړو
قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ نو بیا وویے ته وویل رسولانو د دوے اِنْ نَّحْنُ چه واقعه داده
چه موږ نه یو اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ مګر انسانان یو ستاسے په شان وَلٰکِنَّ اللّٰهَ یَمُنُّ
اولیکن خدائے منت او احسان بار وے په ایمان او په نبوت سره عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ پر هغه
چا چه اراده یے وسی مِنْ عِبَادِهٖ ؕ د خپلو بندګانو څخه لکه چه پر موږ
یے احسان کړے دی وَمَا کَانَ لَنَآ او نه بنایی موږ لره او نه زموږ د لاسه کیږی
اَنْ نَّاْتِیَکُمْ بِسُلْطٰنٍ دا چه موږ تاسے ته راوړو هغه دلیل یا معجزه چه تاسے
یے غواړے اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ مګر په اذن د خدائے سره وَعَلَی اللّٰهِ او خاص پر
خدای فَلْیَتَوَکَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ⑪ نو میباید چه توکل دے وکړے مؤمنان وَمَا

لَنَآ اوڅه عذر دے موږ لره اَلَّا نَتَوَکَّلَ عَلَی اللّٰہِ دا دے چه توکل به موږ نه کوو
پر خدائے وَقَدۡ ھَدٰىنَا سُبُلَنَا ط او حال دا چه ده ښوولے دے موږ ته سمې لارې
د موږ چه هم وده ته برابرے ورغلے دی وَلَنَصۡبِرَنَّ اوقسم دے چه موږ به
خامخا صبر وکړو عَلٰی مَآ اٰذَیۡتُمُوۡنَا ط پر هغه سختیو چه تاسه یې را سوی وموږ
ته د ضرر څخه وَعَلَی اللّٰہِ او خاص پر خدائے باید فَلۡیَتَوَکَّلِ الۡمُتَوَکِّلُوۡنَ ⑫ نو میتیا یلي ع ۱۴
چه توکل دے کوي توکل کوونکي وَقَالَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا او وویل هغو کسانو چه کافران
وه لِرُسُلِهِمۡ وخپلو رسولانو ته لَنُخۡرِجَنَّکُمۡ چه خامخا به موږ تاسه و باسو مِّنۡ
اَرۡضِنَاۤ د دے خپلې مځکې څخه اَوۡ لَتَعُوۡدُنَّ یا به خامخا بیرته را وګرځئ او راننه
به وزئ فِیۡ مِلَّتِنَا ط زموږ په دین کښے او مراد د دے عَوده څخه یا صیرورت او
یا خطاب دی وهغه چا ته د خپل قوم څخه چه تغلیبًا یې ایمان راوړی وو
فَاَوۡحٰۤی اِلَیۡهِمۡ رَبُّهُمۡ نو وحی وکړے ودوی ته خپل رب لَنُهۡلِکَنَّ الظّٰلِمِیۡنَ ⑬ چه
خامخا به موږ دا ظالمان موږ هلاک کړو یعنی کافران وَلَنُسۡکِنَنَّکُمُ الۡاَرۡضَ او
خامخا به موږ تاسه ډیر کړو په دغه مځکه او میشته کښے د دوی مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ ط وروسته
د دوے تر هلاکته ذٰلِکَ دا هلاکول دکفارو او ډیره کول او استول د مؤمنانو
د دوے په میشته کښی حق دے او عبرت دے لِمَنۡ خَافَ مَقَامِیۡ د هغه چا پاره
چه بیریږے د دریدلو څخه زما د حکم په موقف ګاه کښے د قیامت په ورځ وَ
خَافَ وَعِیۡدِ ⑭ او بیریږے زما د عذاب څخه وَاسۡتَفۡتَحُوۡا او فتح یعنے نصرت
وغوښتی دے رسولانو پر دښمنانو باندے نو نصرت وسو ورسره نو مؤمنان
پر ایمان پاته سول وَخَابَ کُلُّ جَبَّارٍ عَنِیۡدٍ ⑮ او خراب او ناامیده بے برخې پاته
سو هرګرذن چه په عناد کښے ډیر ښخ سوی وی مِّنۡ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ چه وروسته
یې دوزخ دے یعنے وړاندی یې دحشر په ورځ کښے چه دوے به پکښی سوځی
وَیُسۡقٰی مِنۡ مَّآءٍ صَدِیۡدٍ ⑯ او و به چیښل سی په ده سره په زور سره هغه اوبه

چه دده به خیالونو دوینو او نورو څخه جوړی سوی وي او بیا داسې او به یتجرعه چه غوړپ غوړپ به یې اخلی او هغه هم په ډېر مشقت او کلفت سره ولا یکاد یسیغه او نژدې دې به نه وي وړی حال ته چه په یوه واریې وچیښی دډېر تریخ والي او دډېرې بد بویې څخه ویاتیه الموت او رابه سي ورته مرګ یعنې موجبات د مرګ د مختلفو سختیو څخه من کل مکان د هرې جانبه یا د هر طرفه څخه دخپلو اعضاوو حتې د ګوتو او ویښتانو د تمام بدن پورې وما هو بمیت او حال دا چه دی به مړ کیدونکی نه وي ځکه چه که مړ سي خو پرا رامه به سي و من ورآئه او په مخ کښې د ده به عذاب غلیظ ﴿۱۷﴾ ډېر سخت عذاب وي مثل الذین حال د هغو کسانو کفروا بربهم چه کفر یې اختیار کړی دی په خپل رب سره او دا مبتداء ده چه خبر یې محذوف دی چه هغه فیما یتلی علیکم دی یعنې په هغه کښې دی چه په تاسې باندې ورته بیا نیږي چه هغه دا دی اعمالهم چه هغه عملونه دده چه په ظاهر کښې نیک ښکاره کیږي لکه صله رحمی او د میلمه عزت او د بندې خلاصول او د مریبي ازادول او دا سې نور ډیر نو مثال ددې سرې او بېخه عملو ځکه چه ایمان ورسره نسته داسې دی کرماد اشتدت لکه ایرې چه پر سپین میدان پرتې وي چه ناګاه راوالوزي ډیر سخت به الریح باد پر هغه ایرو فی یوم عاصف په هغه ورځ کښې چه باد پکښې ډیر سخت او تند وي نو فائده ددې مثال دا سوه چه لا یقدرون نه به قادر ریږي دوې په ورځ د قیامت سره مما کسبوا د هغه عملو څخه چه دوې په دنیا کښې کړي وي یعنې د هغه پر ثواب علی شیء په هیڅ شی ځکه چه ایمان ورسره نه وو ذلک دا ګمان د دوې چه دې چه موږ نیکی کړې وه هو الضلل البعید ﴿۱۸﴾ دا هغه ګمراهي ده چه ډیره لیرې ده د لارې څخه د حق الم تر ان الله آیا نه وینې یا نه پوهیږې ته اې بنده چه بیشکه خدای خلق السموت پیدا کړي دي اسمانونه والارض بالحق او ځمکه په حق سره ان یشا یذهبکم

که یې اراده وسه تا سه به بوزی اے دمکې اهله او ودے ځاے ځخه به مولیرے
کړے وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ⑲ او نور نوے خلق به راولے ستاسو پر ځای چه دخدائے
او د رسول وامرته کوردن نهاده وے وَمَا ذٰلِكَ او نه دے دا بیول ستاسو او را
وستل د نورو عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ ⑳ پر خدای سخت حکم چه دے قادر مطلق دے
وَبَرَزُوا لِلّٰهِ جَمِيعًا او بنکاره به سے دوے په قیامت کښې دپاره دحکم د خدائے
تولہ نا رینه او ښځې او مسلمانان او کافران یعنے توله به دقبر وځخه راوونری وحساب
ته او دا لفظ ماضی دپاره د تحقیق دوقوع دے فَقَالَ الضُّعَفٰٓؤُا نو وبه وایې
هغه عاجزان تابعان کم فکره لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا هغه کسانو ته چه کبرئې کاوے
یعنے هغه چه متکبران او اشراف او مشران وه په کفرکښې اِنَّا كُنَّا چه بیشکه موږ یو
په دنیا کښې لَكُمْ تَبَعًا ستاسو پیروان په بے فرمانے کښې د خدائے او په تکذیب
کښې د رسولانو فَهَلْ اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا نو ایا تاسو یاست دفعه کونکی دموږ ځخه
مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ دعذابه ځخه دخدای مِنْ شَيْءٍ ځخه قدر قَالُوْا نو دا متکبران به
په جواب کښې ورته ووایې چه لَوْ هَدٰىنَا اللّٰهُ که لاره ښودلای وای وموږ ته
خدای دخلاصے دعذابه ځخه لَهَدَيْنٰكُمْ نو موږ به هم ښودلے وای وتاسو ته هغه
لاره مګر پر موږ پخپله دخلاصے او دشفاعت لاره مسدوده ده روایت دے
چه هرکله دوی په دوزخ کښې دیرتنګ سی نومصلحت به سره وکړے چه راځئ
چه شور او زاری وکړو نوکندی خلاص سو نو پنځه سوه کاله به شور او فریاد
کوے مګرهیځ فریاد به فائده ونه کړے بیا به سره ووایې چه اوس راځئ چه صبر
اختیار کړو نو پنځه سوه کاله به بیا چپ وی او دا به هم هیڅ فائده ونه کړی بیا
به ووایې چه سَوَآءٌ عَلَيْنَآ برابر دے پرموږ دا دواړه کار چه اَجَزِعْنَآ اَمْ صَبَرْنَا
ع ۳ ۱۵ ایا چه شور او فریاد وکړو یا چه صبر وکړو موږ مَا لَنَا مِنْ مَّحِيْصٍ ㉑ نسته موږ لره

عه یعنی دپاره دیښتیا او یقینی راتلو او واقع کیدلو ۱۲ عه یعنی تیا سے پسی به روان به وو په بې فرمانی کښې ۱۲

په یوه کښی هم هیڅ ځاے د خلاصے او د تیښتی روایت دی چه هرکله د قیامت په ورځ د تمام مخلوق حساب پرځای او ترسره سو او جنتیان په جنت کښے او دوزخیان په دوزخ کښی ننوا ته او بیا یې د وتلو څخه بیخی طمعه قطعه سی نو دوزخیان به ټوله پرشیطان ملامتی ووایي چه مو ږ ټوله دے دوزخ ته راوستو نو دے به داور پرمنبر وخیژی او خطبه به ووایې وروی ته لکه چه وايي وَقَالَ الشَّيْطٰنُ او وبه وايي شیطان په قیامت کښی لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ هرکله چه حساب د مخلوق کوتاه سو چه اے دوزخیا نو ملامتیا ویو نکو پر ما باندی اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ بیشکه چه خدای وعده کړی وه د تاسے سره په دنیا کښی وَعْدَ الْحَقِّ وعده د حق چه هیڅ شك پکښی نه وو چه هغه وعده داوه چه ترمرګه ورو ستہ به بیاژوندی سی او جزا د عملو خپلو به بیا درکړه سی وَوَعَدْتُكُمْ او ما وعده درسره کړے وه چه قیامت او حساب او جزا دا یو هم نسته او که وه نو بتان به تاسی په شفاعت سره خلاص کړی فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ نو ما مخالفت د تاسے سره وکړی ځکه چه هغه نه ما وعدا دد رواغوه وَمَا كَانَ لِيَ او نه وه ما لره عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ پر تاسی هیڅ قدر تسلط او غلبه چه تاسے ی په زور رسره کافران کړے واست اِلَّآ اَنْ دَعَوْتُكُمْ مګر دا قدر وه چه ما تاسے وګمراهی ته راوبللاست نو فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ نو تاسے زر زر ما دا دعوت ومانی او نه ما دبلنی وعاقبت ته تاسے هیڅ نظر ونه کړی فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ نو تاسے ملامتیا مه وایاست پر ما باندی ځکه چه زه خو ستاسی دښمن وم او دښمن په داسے فریبو هیڅوك نه ملامتوے او پر دښمن دبله سره هر څومره بد چه په طاقت کښے یې وی کوی یې وَلُوْمُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ او ملامتیا وایاست پرخپلو ځانو باندے چه د خپل دښمن په فرمان پسی تللی واست او در رب د فرمان ته مو شا کړے وه چه درته ویلی یې وه چه وَلَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ نو اوس نن ورځ مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ نه زه یم فریاد رس او

خلاصونکی ستاسے دعذابه څخه وَمَآ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ط او تاسے هم نه یاست فریادرس
او خلاصونکی زما دعذابه څخه اِنِّي كَفَرْتُ بیشکه چه زه نن ورځ کافر یعنے منکریم او
بیزاره یم بِمَآ اَشْرَكْتُمُوْنِ پـه هغه سره چه شریکولم به زه تاسے دخدا ے سره په فرمان
برداری کښی مِنْ قَبْلُ ط مخوا تردے په دنیاکښی نوزه ظالم وم په دے سره چه تاسی
مود خدای څخه ار ولاست اوتاسے ظالمان واست په دے سره چه په ماپسی راتللا
اوقاعده داده چه اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بیشکه ظالمان یعنی مشرکان چه دی لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۲۲
مقرردے دوے لره دردناکه عذاب وَاُدْخِلَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا او داخل به کره سی هغه
کسان چه ایمان یے راوړی دے پرخدا ے او پر رسول باندے وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اوکول
به یے نیک کارونه جَنّٰتٍ تَجْرِيْ په داسے باغوکښی چه همیشه بهیږے مِنْ تَحْتِهَا
الْاَنْهٰرُ لاندی دمیتو یا لاندے ترونو دهغو څلورقسمه ویلے خٰلِدِيْنَ فِيْهَا په دا
حال کښی چه دوی به همیشه وے په دے باغوکښی چه ملائکی به یے ورته راننه باسے
بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ط په اذن او امر سره ددوی درب تَحِيَّتُهُمْ بیشکشی ددوی چه دوی
په وخت کښی دملاقات دبعضو دبعضو نوروسره یا دملائکو ددوی سره فِيْهَا سَلٰمٌ ۲۳
په دے جنتو کښی لفظ دسلام به وی چه دلالت کوی پرسلامتی ددوی باندے دهره
افته او دهرخفگان څخه اَلَمْ تَرَ ایا نه وینی ته اے بنده كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا چه
څرنگه ترلی دی خدا ے یو عجیبه مثال كَلِمَةً طَيِّبَةً چه ده کرز ولی ده هغه کلمه چه
پاکیزه ده كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ په شان دهغه ونے چه هغه هم پاکیزه ده چه خرماده
اَصْلُهَا ثَابِتٌ چه بیخ دهغی بنخ تللی وی په محکه کښی چه هیڅ احتمال یے دنزیدو
نه وی وَّفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ۲۴ او څانگی یے پورته و اسمان ته ختلی وی چه هیڅ
احتمال یے دماتیدو نه وے تُؤْتِيْٓ اُكُلَهَا چه ورکوے داونه خپل میوه وخلکوته
كُلَّ حِيْنٍ په هرهغه وخت کښی چه خدا ے ورلره مقرر کړی دی چه هغه شپږمیاشتی
دی بِاِذْنِ رَبِّهَا ط په فرمان دخپل خالق سره چه په اول کښی بسر او په وسط

کېنې رطب او په اخر کښې تنړ ورکوي هرچا ته وَيَضْرِبُ اللهُ الْاَمْثَالَ او ترې
خدای دا سې مثالونه لِلنَّاسِ وخلګو ته لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۞۲۵ بنا پې چه دوی پند په
واخلي ځکه چه په دې صورت بندي او تشبيه سره معقول را نژدې کېږي ومحسوس
ته حاصل دا چه هغه کلمه طيبه کلمه د توحيد ده چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ
ده چه بيخ يې تصديق قلبي دې او ښاخونه يې اقرار لساني دې او ميوې يې عملونه
د جوارحو دې ځکه چه غرض د ونې څخه ميوې دي لته غرض عمل دې په عبادت
سره ځکه په دې باب کښې وارد دې چه وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون
وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيْثَةٍ او مثال د هغه خبرې چه ناپاکه وي كَشَجَرَةٍ خَبِيْثَةِ په شان
د هغه ونې ناکاره دې اجْتُثَّتْ چه را نړول کېږي په ادنې اشارت سره مِنْ فَوْقِ
الْاَرْضِ د سره څخه د مځکې چه هغه بوټې دې د مرغوني يا هغه بې بيخه بوټي دي
چه هر کله هغه پر کومه ونه واچول سي نو اول هغه ونه وچه کړي او بيا دا هم ور
پسې وچه سي ځکه چه دا خو خپل بيخ د سره نه لرې او که مرغونې و دې
بيخونې سرسري دي مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ ۞۲۶ چه نه وي دې شجرې خبيثې لره هيڅ
قدر ثبات او استحکام حاصل دا چه هغه کلمه خبيثه کلمه د کفر ده يا د بلنې د
عبادت د بتانو ته او دا بيا بې بيخه ده ځکه چه هيڅ اصل ور لره نشته او نه دا سې
څانګې لري چه پورته معرض د قبول ته لاړې سي او نه په نړه کښې قرار نيسي ځکه
چه بې حجته بې دليله خبره ده يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا محکم کوي خدای هغه کسان چه
ايمان يې راوړې دې بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ په محکم ګفتار سره چه کلمه طيبه ده فِي الْحَيٰوةِ
الدُّنْيَا هم په دې واره ژوند کښې يعنې په وخت د سختۍ او د ابتلاء کښې يا تر اخره
د نفس کلک پر ولاړ وي لکه زکريا او يحيىٰ او شمعون د انبياوو او اصحاب د اخدود
د مؤمنانو سوله وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ او هم په اول منزل د اخرت کښې چه قبر دی يعنې

عه يعنې خدای ويلي دي چه نه دي پيدا کړي ما د اقول پيرانان او انسانان مګر د عبادت چل د پاره ۱۲ عه مکه بغنشه
چه اکثره پر بيره وغوږيدلي وي او په فارسي کښې ورته افيمون ويل کېږي ۱۲

جواب د منکر او نکیر به په اخسن وجه وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ قف او لغزوی او بنکوی
خدای ظالمان چه نه په دنیا کښې توفیق د قول ثابت ورکوی او نه په قبر کښې د سازجواب
توفیق ورکوی وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴿۲۷﴾ او خدای هرهغه کوی چه اراده یې وسی ع ۱۶
لکه تثبیت د مؤمن او اضلال د کافر او په یوه کښې هم ځای د اعتراض پرنسته
اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ ایا ته نه گوری وهغه کفار و د قریشو ته بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ چه وی بدله
کړی دی نعمت د خدای چه سکونت د حرم او رجوع د تمام روی زمین او فراخی د
رزق او بعثت د ختم الانبیاء دی او د اسی نور و پر رسول كُفْرًا په کفران او په
ناشکری کښې د کفر په اختیار ولو او د رسول او د مؤمنانو په ایستلو سره د خپله
وطنه ځکه نو اکثره نعمتونه ځنی مسلوب سول چه اوه کاله متصل قحط پر راغله او
رسول هم مدینی ته ځنی ولاړی او د بدر په جنګ کښې اکثره مړه سول وَاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ
او داخل او کښته کړی دوی خپل قوم چه د دوی متابعت یې کړی دی په کفر کښې
دَارَ الْبَوَارِ ﴿۲۸﴾ جَهَنَّمَ ط په دار د هلاک کښې چه هغه دوزخ دی يَصْلَوْنَهَا چه داخل
به سی دوی په هغه کښې وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿۲۹﴾ او بده قرارگاه ده دا دوزخ وَجَعَلُوْا
لِلّٰهِ اَنْدَادًا او پیدا کړی دی دوی خدای ته شریکان هم په نامه او هم په عبادت
کښې چه الهه یې بولی او عبادت یې هم کوی لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ط د دوی دپاره
چه خلق واړوی او گمراه یې کړی د ده د لاری ځکه چه توحید دی قُلْ تَمَتَّعُوْا
ته ورته ووایه ای رسوله چه معاش کوی او خپل عمر تیروی په لذاتو د نفس او په
عبادت کښې د بتانو فَاِنَّ مَصِيْرَكُمْ نو بیشکه عاقبت و رتله ستاسی چه دی اِلَى
النَّارِ ﴿۳۰﴾ دوزخ و اور ته دی قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ته ووایه ای رسوله
زما و هغه بندگانو ته چه ایمان یې راوړی دی يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ چه دوی دی قایمولی
کوی د تولو حقوقو سره وَيُنْفِقُوْا او ورکړه دی کوی د خدای په لار کښې او په
دی تیرو واړو فعلو کښې لام د امر محذوف دی په وجه د دلالت د قُلْ

مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ د هغه ماله څخه چه مونږ ورکړي دي سِرًّا وَّعَلَانِيَةً په پټه سره که مستحب
وه او په ښکاره سره که فرض یا واجب وه مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ مخکې تر هغه چه راسي هغه ورځ يَوْمٌ
لَّا بَيْعٌ فِيْهِ چه نشته خرید او فروخت په هغه ورځ کښې چه ګنهګار یو شي ورکړي او خپل
ځان په خلاص کړي وَلَا خِلٰلٌ ﴿۳۱﴾ او نه دوستي او یاري پکښې سته چه عاصي به څوک په
دوستي سره خلاص کړي اَللّٰهُ الَّذِيْ خدای هغه حکیم مطلق دی چه په خپل قدرت کامله
سره يې خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا کړیدي ده اسمانونه او مځکه وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً
او راکښته کړي دي ده د طرفه څخه د اسمان او به یعنې باران فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ نو ده
راایستلي دي په دې او بو سره رنګارنګ میوې څخه رِزْقًا لَّكُمْ روزي تاسې لره وَسَخَّرَ لَكُمُ
الْفُلْكَ او مسخر کړیده و تاسې ته ده کښتي لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ج د دې د پاره چه روانیږي
په دریاب کښې په فرمان سره دده و هر طرفته چه ستاسې خواهش وي وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾
او مسخر کړیدي ده و تاسې ته د او بو ولې چه تصرف پکښې کوي او نفعه پرا خلې وَسَخَّرَ لَكُمُ
الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ او مسخر کړیدي ده و تاسې ته لمر او سپوږمۍ د واړه د رڼا او لوړه منافعو
د پاره دَآئِبَيْنِ ج په دا سې حال کښې چه په د یر تلوار هر وخت تلل کوي بیله تقصیره وَسَخَّرَ
لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾ او مسخر کړي ده د ه تاسې ته شپه د خوب او د راحت د پاره
او ورځ د کسب او د معاش د پاره وَاٰتٰكُمْ او ده درکړي دي و تاسې ته مِّنْ كُلِّ مَا
سَاَلْتُمُوْهُ ط بعض د هر هغه شي څخه چه تاسې غوښتي دي د ده څخه په لسانه د قال
یا د حال سره یعنې هغه بعض چه تاسې ورته محتاج یاست او مصلحت هم په در کولو
کښې وه وَاِنْ تَعُدُّوْا او که تاسې د اغواړي چه وشمیرئ نِعْمَتَ اللّٰهِ هغه نعمت د
خدای چه محض يې په خپل فضل او کرم سره پرتاسې پیرزو کړیدي لَا تُحْصُوْهَا ط نو
هیڅکله به يې شمار نه کړې او نه به يې طاقت د شمیرلو و لري ځکه چه نعمتونه يې
ع ۵ ۱۴ غیر متناهي دي اِنَّ الْاِنْسَانَ بیشکه انسان چه دی لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾ خامخا دیر
ظالم او ناشکره دی چه په سختۍ کښې فریاد کوي او په وسعت کښې بخل کوي -
ابراهیم ۱۲　تنګی ۱۲

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِیْمُ او یاد کړی هغه چه ابراهیمؑ په مناجات کښی وویل رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا
الْبَلَدَ چه اے ربه زما دا دمکی ښار کړه اٰمِنًا په امان د هره خوفه او مکروه څخه
وَّاجْنُبْنِیْ وَبَنِیَّ او لیرے ولره ما او زما من زما بچیل فضل او کرم سره اَنْ نَّعْبُدَ
الْاَصْنَامَ ﴿۳۵﴾ د دی څخه چه مونږ د بتانو عبادت وکړو رَبِّ اِنَّهُنَّ اے زما ربه
بیشکه دا بتان چه دے اَضْلَلْنَ کَثِیْرًا الغړولی دی دوی ډیر مِّنَ النَّاسِ د خلکو څخه
یعنی دګمراهئ د ډیرو خلکو سبب سوی دی فَمَنْ تَبِعَنِیْ نو هر څوک چه په دین
کښی زما پیروی کوی فَاِنَّهٗ مِنِّیْ ج نو بیشکه چه هغه د اهل څخه د ملت زما دے
وَمَنْ عَصَانِیْ او هر هغه څوك چه بے فرمانے وکړے زما په شرك سره فَاِنَّكَ
غَفُوْرٌ نو بیشکه چه ته بخښونکی یے رَّحِیْمٌ ﴿۳۶﴾ مهربانه یے که ایمان راوړی او
توبه وکاږے روایت دی چه بی بی هاجره د بی بی سارے مینځه وه چه یو
بادشاه په پرولی کښی ورکړی وه او دی بیا ابراهیمؑ ته وروبخښله او اسماعیلؑ
څنی پیدا سوه نو بی بی سارے ته غیرت ورغلی نو وابراهیمؑ ته یے وویل چه دا
هاجره د زویه سره یوداسے وطن ته بوزه چه هلته غله او اوبه او ابادی د
سره یکښی نه وی او بیا یے هلته پریږده نودے په دی کار کښی حیران سو چه
ناګاه جبرائیلؑ وحی ورته راوړی چه هر رنګ بی بی سارے درته وویل هم هغسے
وکړه نو ابراهیمؑ بی بی هاجره او اسمعیلؑ دواړه د ځانه سره سپاره کړه او د
شام د ځمکی څخه د مکی وحرم ته راغلی او هلته یے دواړه کښته کړه بیله تو بنے
بیله ملګری او رب ته یے سوال وکړے چه رَبَّنَآ اِنِّیْٓ اے زما ربه بیشکه چه ما
اَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّیَّتِیْ ډیره کړی ده(اسکونت می ورکړی دی) بعض د خپله اولاده څخه
چه اسمٰعیلؑ او اولاده د ده ده بِوَادٍ غَیْرِ ذِیْ زَرْعٍ په هغه دره کښی چه هلته ناوه
ده د مکی چه هغه ناوه ځای د کښت کرلو نه ده په سبب د بے اوبی سره عِنْدَ بَیْتِكَ
الْمُحَرَّمِ لا په څنګ کښی د بیتی ستا چه حرام کړه سوی دے په ده کښے جنګ او

ښکاره کول او د دښمنانو نه پټول یا چه طوفان ځنی بند کړه سوی وه نو ځکه بیت عتیق بلل کیږي یا چه ډیر عظیم الشان دے او دلته مراد د بیت ځنې هغه ځای دی چه د آدم په زمانه کښې هلته یو بیت وو چه مسمّی په بیت المعمور سره وو او بیا د طوفان په وخت کښې ملائکو هغه واسمان ته یووړی او دا ځکه چه په وخت کښې د ابراهیم د سوال د سره هلته بیت نه وو بلکه یو خالی میدان پروت وو رَبَّنَا اے زمونږ ربه دلته دوی ډیر کړه وَاَسْتُرُهُ لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ د دے د پاره چه دوی برپا یه کوی خپل لمونځ او نور عبادت هم کوی ونا ته فَاجْعَلْ نو را وګرځوه او مائل کړه د محبت په کشش سره اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ زړونه د بعضے خلګو تَهْوِيْ اِلَيْهِمْ چه دوی د ډیره محبته ځغله راځغلی د هر طرف ځنې نو رب دده دا سوال قبول کړے او اثر یے بیاد اسے ښکاره سو چه بی بی هاجرې اسماعیل پر ځکه اینبے وه او ده مبارکی پوندے پر ځکه وهلے لکه چه دا د هغلکانو عادت دی نو ناګاه تر پوند ولاندے یے اوبه راوخوټکیدلی او په هغه نزدے کښې یوه قبیله وه چه جُرهم بلل کیده هغو د دے اوبو پر برابری په هوا مرغان ولیده نو دا او بو په اُمید ور ته راغله ځکه چه مرغان بیله او بونه وے نو ناګاه یے یوه ښځه ولیده چه د چینی پر سر ناسته وه او هلک ورسره وه نو دوی ور ته وویل چه ته موږ ته اوبه راکوه او موږ به وتا ته غله درکوو نو دا راضی سوه او دوی هم هلته ورته واړول او کور ونه جوړ سول او د هر طرفه ځنې خلک ورته راماتسول نو لوی ښار ځنی جوړ سو او که ابراهیم مِنْ تبعیضیه نه وای ویلی او خالی اَفْئِدَةَ النَّاس یے ویلے وای نو محققانو ویلے دی چه فارس، روم، ترک، هند او نور وطنونه به هم ور ته راغلے وای او بل یے دا سوال وکړی وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ او روزی ورکړه وا هل ته ددے ښار انواع د میوو لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ ۳۷ هیله یے چه دوی شکر وکا یدے پر دے نعمت ستا چه په داسے وچ ځای کښی به رنګارنګ

میوے پیدا کوی لوڈا سوال یې هم قبول سو او دهره طرفه څخه به هر قسم میوې ورته
راتلې تر دے حده پورے چه د پسرلی او د دوبي او د منی او د ژمی میوې به پکښې
پیدا کیدلې رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعۡلَمُ اے زموږ ربه بیشکه چه ته پوهیږې
مَا نُخۡفِیۡ وَمَا نُعۡلِنُ ط په هر هغه چه موږ یې پټوو او په هر هغه چه موږ یې ښکاره
کوو یعنې زموږ پټ او ښکاره قوله و تا ته معلوم دی وَمَا یَخۡفٰی عَلَی اللّٰهِ او پټ نه
دے پر خدائے مِنۡ شَیۡءٍ هیڅ شی فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ (۳۸) نه په مځکه کښې او
نه په اسمان کښې او دا کلام یا د خدائے دی دپاره د تصدیق د ابراهیمؑ او یا هم دده دی
اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ ثنا ده هغه خدائے لره چه محض پخپل فضل سره وَهَبَ لِیۡ ده ما ته
راکړیدی عَلَی الۡکِبَرِ اِسۡمٰعِیۡلَ وَاِسۡحٰقَ ط په دے موده کښې د زړوالے دا دوا ړه زامن
یو اسماعیلؑ چه تر نوی کالو وروسته پیدا سویدی او بل اسحٰقؑ چه تر یوسل او دوولسو ۱۱۲
کالو وروسته پیدا سویدی اِنَّ رَبِّیۡ لَسَمِیۡعُ الدُّعَآءِ (۳۹) بیشکه چه زما رب خامخا
ښه اورېدونکی او قبلونکی دد عادے او سمع په معنے د قبول سره راځی لکه په سَمِعَ [عه]
اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَهٗ کښې رَبِّ اجۡعَلۡنِیۡ اے زما ربه ما کړے مُقِیۡمَ الصَّلٰوةِ همیشه
اداکونکی د لمانځه سره د ټولو حقوقو د هغه وَمِنۡ ذُرِّیَّتِیۡ ق او بعض د اولاده څخه
زما هم کلك ولړے پر لمانځه او بعض یې ځکه وویل چه دا خبره ورته معلومه
سوی وه چه کفار به هم پکښې وي رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ (۴۰) اے زموږ ربه مهربانی
وکړه او زما هره دُعا قبوله کړه رَبَّنَا اغۡفِرۡ لِیۡ اے زموږ ربه بخښنه وکړے
وما ته وَلِوَالِدَیَّ او زما و مور او پلار ته هم او دا سوال مخکی د نهی د مغفرت
ع ۶ ۱۸ سویدی او یا مراد څښتن آدم او بی بی حوا ده وَلِلۡمُؤۡمِنِیۡنَ او نورو ټولو مؤمنانو ته
هم یَوۡمَ یَقُوۡمُ الۡحِسَابُ (۴۱) په هغه ورځ چه برپا به کیږي به حساب د مخلوقاتو
چه هغه ورځ د قیامت ده وَلَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰهَ او ته ګمان مه کوه اے رسوله خامخا
پر خدائے غَافِلًا عَمَّا یَعۡمَلُ الظّٰلِمُوۡنَ ط بے خبره د هغه کارو څخه چه ظالمان یې

عه یعنی خدای قبولوی هغه چا لره چه حمد وایی ده لره ۱۲

کوے یعنی جزا به ورکوے ده هرے ذرے ذرے اِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ بیشکه همدا (۴۲)
خبره ده چه خدائے ددوے عذاب وروسته کوی وهغه ورځی ته تَشْخَصُ فِيهِ الْاَبْصَارُ
چه ردی به راووزی د ډیره هیبته څخه په هغه ورځ کښے سترګی د مشاهدے څخه د
ډیرو سختیو مُهْطِعِيْنَ په داسے حال کښی چه تلوار کوونکی به وی دا خلق د اسرافیل
په اواز سره چه دوے به وحشرګاه ته بولی مُقْنِعِىْ رُءُوْسِهِمْ چه جګ نیوونکی به وی
د خپلو سرو د بلونکی وطرفته لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ چه نه به راګرزی د دوی وطرفته بیرته
طَرْفُهُمْ ج سترګی ددوے یعنی سر پولای به یے نه سی چه بیرته وَاَفْـِٕدَتُهُمْ خان ته
راوګرزوی او د ډیره دهشتنه څخه به وازے راختلے وی وَاَفْـِٕدَتُهُمْ هَوَآءٌ (۴۳)
او زړونه ددوے به د فهمه څخه خالی وی په دغه ورځ کښے چه په هیڅ به نه پوهیږے
د ډیره حیرته او د هشته څخه یا به د حق څخه خالی وی بلکه د هره خیره څخه وَاَنْذِرِ
النَّاسَ او وه بیروه اے رسوله دا د مکی خلق يَوْمَ يَاْتِيْهِمُ الْعَذَابُ د هغه
ورځی څخه چه دوی لره به عذاب پکښی راسی چه د قیامت یا د مرګ ورځ ده
فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا نو وبه وائی هغه کسان چه ظلم یے کړیدے په شرک او په
تکذیب سره رَبَّنَآ اَخِّرْنَآ اے زموږ ربه موږ وروسته کړه یعنی مهلت را لره
راکړه اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ لا تر نژدے وخته پوری یعنی موږ بیرته یووار و دنیا ته بوزه
او لږ وخت عذاب هم را څخه وګرزوه نُّجِبْ دَعْوَتَكَ چه موږ ستا بلنه ومنو یعنی
هغه چه ستا استاذو و توحید او عبادت ته بللو وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ط او موږ ستا د
رسولانو پیروی وکړو نو بیا به ملائکی په جواب کښی ورته ووائی اَوَلَمْ تَكُوْنُوْآ
ایا تاسی نه واست هغه کسان چه د ډیرے مبالغی څخه به اَقْسَمْتُمْ مِّنْ قَبْلُ تاسے قسم
کاوے مخکی تردے په دنیا کښے پردے چه تاسی به همیشه په همدے د نیا کښے اوسی
مَا لَكُمْ مِّنْ زَوَالٍ (۴۴) او تاسی ته به هیڅ زوال نه وی نه په مرګ او نه په بیا
ژوندون سره وَّسَكَنْتُمْ او سره ددے چه تاسے اوسیدلی واست فِىْ مَسٰكِنِ

اَلَّذِیْنَ د هغو کسانو په میښو کښې ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ چه ظلم یې کړې وو پر خپلو
ځانو باندې په کفر او په معاصیو سره لکه عاد او ثمود او داسې نور د یر وَتَبَیَّنَ
لَكُمْ او ښکاره سوې وه وتاسې ته دا خبره كَیْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ چه څرنګه معامله
کړې وه موږ د دوی سره یعنې تاسو خپلو سترګو د هغه عذابو اثار لیدله چه په
هم د غه میښو کښې به پر دوې نازل سوی وه وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ ۴۵ او بیا
ترلې او ویلې هم وه موږ وتاسې ته مثالونه دا حوالو د دوی ورسره د دوی تر هلاکته
وَقَدْ مَكَرُوْا او په تحقیق سره مکر او فریب به وکړې د دوی مَكْرَهُمْ مکر او فریب
خپل په تقویت د کفر او په ابطال د اسلام کښې وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ ط او حال دا
چه د خدای په نزد ده جزا د مکر د دوی وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ او اګر که وو یا بیشکه چه
وو دا مکر او فریب د دوی داسې غټ لِتَزُوْلَ مِنْهُ الْجِبَالُ ۴۶ چه دا وه لوړې
په دې مکر سره غرونه د خپل ځایه څخه یعنې د ده په سبب سره فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ نو
ته ګمان مه کوه د سره پر خدای مُخْلِفَ وَعْدِهٖ د خلافونکی د وعدې خپلې رُسُلَهٗ ط
د خپلو رسولانو سره د نصرت او د غلبې د دوی اِنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ بیشکه چه خدای
غالب دی ذُو انْتِقَامٍ ۴۷ څښتن د انتقام اخستو دې یعنې د خپلو دوستانو انتقام
به واخلې د دښمنانو څخه یَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ په هغه ورځ کښې چه بدله به کړه سي
دا مځکه غَیْرَ الْاَرْضِ په غیر د دې پخوانۍ مځکې یعنې په بل شکل به کړه سي د غرو
په لیرې کولو سره او د انهارو او اشجارو په لیرې کولو سره او د لوړوا وژورو په هوا
رولو سره وَالسَّمٰوٰتُ او اسمانونه به هم بدل کړه سي په کسوف د شمس او په خسوف
د قمر او په ټوټې ټوټې کیدو او په دروازې دروازې کیدو سره د ده یا مځکه به د
سپینو زرو او اسمانونه به د سرو زرو سي وَبَرَزُوْا او ښکاره به سي دا ټول
خلک یعنې راوبه وزي د خپلو قبرو څخه لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ۴۸ وهغه خدای ته
چه واحد لاشریک او قهر کونکی دې وَتَرَى الْمُجْرِمِیْنَ او ته به داګنهکاران

یعنې مشرکان ووینې یَوۡمَئِذٍ مُّقَرَّنِیۡنَ په دغه ورځ کښې سره جمع کړه شوي او تړلے
سوے یا پخپل ما بینځ کښې یا د خپله شیطانانو سره هر یو چه هغه لغزونکی وو د
ده فِی الۡاَصۡفَادِ ﴿۴۹﴾ په زولنو او په طوقو کښې سَرَابِیۡلُهُمۡ مِّنۡ قَطِرَانٍ قمیصان د
دوے به د تورو تیلو څخه وي چه ډیر بد بویه دے او سره بښناکه او ژر د اور اخیستونکے
دے او د اور تیل به د دوے په ټولو اندامو پورې وروموږلے او د دوے به د
قمیص په شان کښې پټ سي او دا هغه ډیر سخت قسم د عذاب و دے وَتَغۡشٰی او پټ
به کړے وُجُوۡهَهُمُ النَّارُ ﴿۵۰﴾ مخان د دوے اور یعنې پوره محیط او چاپیره به سي لِیَجۡزِیَ
اللّٰهُ دا تعلق لرے په بَرَزُوۡا پورې یعنی راښکاره به سي دوی د قبرو څخه د دې د پاره
چه جزا ورکړے خدائے کُلَّ نَفۡسٍ وهر شخص ته مَّا کَسَبَتۡ د دهغه عمل چه ده په دنیا
کښې کړے وه اِنَّ اللّٰهَ سَرِیۡعُ الۡحِسَابِ ﴿۵۱﴾ بیشکه چه خدائے ډیر زر کونکی دی د
حساب هٰذَا دا قرآن یا دا وعظ او نصیحت چه په دے سورة کښې دی بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ
کفایت دے وخلګو ته یعنې دوی ته بس دے په باب کښې د پند او د نصیحت چه
پند پسے واخلي وَلِیُنۡذَرُوۡا بِهٖ او بل دا دے د پاره چه دوے وبیرول سي په دې
قرآن یا وعظ سره وَلِیَعۡلَمُوۡۤا او بل دا دے د پاره چه دوی پوه سي په فکر کولو سره
په دلائلو کښې د قدرت په سبب د دے اندازے سره چه اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ هم دا
خبره ده چه دا چه دے خدائے دے یوازے بے شریکه وَلِیَذَّکَّرَ او بل د دے د پاره
ع ۷/۱۱ ۱۹ چه پند واخلي اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ﴿۵۲﴾ خاوندان د خالص عقل چه پر اوامرو او نواهیو کلک دي

رکوعها	سُورَةُ الحِجرِ مَکِّیَّة	اٰیاتها
۶		۹۹

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الٓرٰ اقف په دے کښې هم متأخرینو هر رنګه تأویلات کړی دي لکه چه مخکی په څلورو
سورتو کښې بیان سوي دے تِلۡکَ اٰیٰتُ الۡکِتٰبِ دا چه نازلیږي دا ایتونه دي د
سورة وَقُرۡاٰنٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۱﴾ او د هغه قرآن چه واضح بیانوونکی د حق او د باطل

دے او تنکیر د قرآن د تعظیم دپاره دے او یا کتاب او قرآن دواړه یو شی دی
مگر په دے دو ونو موسره بل شوے دی ددے دپاره چه هر یو دلالت وکړے
پر جلا جلا معنیٰ باندے رُبَمَا ډیر واره یَوَدُّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا دوست او خوښ
ګڼی او آرزو وکوی هغه کسان چه کافران دے ددے خبرے لَوْ کَانُوْا مُسْلِمِیْنَ ②
چه کاشکی دوے مسلمانان وائے او دا په وخت کښی د عزت او د نصرت د مسلمانانو یا
په وخت کښی د نزع یا په قبر کښی یا په ورځ د قیامت کښی چه د مسلمانانو درجات عالیه
ووینی یا چه مسلمانان د دوزخ نه راوه ایستلے شی او په دوی پسے د دوزخ دروازے
پورے کړے شی ذَرْهُمْ یَاْکُلُوْا دوی پریږده چه خوری او دا امر د اهانت دی یعنے
د دوے نه طمع قطعه کړے او هم ددے نه پسے ایله کړه چه خوراک کوی وَیَتَمَتَّعُوْا او
معاش کوی په مال او په عیال سره په دے فانی دنیا کښی وَیُلْهِهِمُ الْاَمَلُ او دوی مشغول
کړے طول امل د ایمان راوړلو او د توبے پیدا کولو نه د آخرت دپاره یعنے اوږد امید
د ډیر عمر او د ښه معاش او د کثرت د مال او د اولاد فَسَوْفَ یَعْلَمُوْنَ ③ نو ژر دے
چه دوے به عاقبت د خپل کار او کفتار معلوم کړے وَمَآ اَهْلَکْنَا او نه دی
هلاک کړے موږ مِنْ قَرْیَةٍ شیئ کلی یعنے اهل د هغه اِلَّا وَلَهَا کِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ④
مگر د هغه د هلاک دپاره یو وخت مقرر لیکل شوی دی په لوح محفوظ کښے مَا تَسْبِقُ
چه نه لومړے کیږے او مخکی کیږے مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا هیڅ قوم د خپل هلاک
⑤ د وخت نه یعنے په هم هغه وخت هلاکیږے نه مخته او نه وروسته وَمَا یَسْتَاْخِرُوْنَ
او نه مخی وروسته کیږے وَقَالُوْا او دا کفار وائی یٰاَیُّهَا الَّذِیْ اے هغه شخصه نُزِّلَ
عَلَیْهِ الذِّکْرُ چه رالیږل شوے پر هغه قرآن اِنَّکَ لَمَجْنُوْنٌ ⑥ بیشکه چه ته خامخا لیونی
یې او دا وئیل یے پر طریقه د مسخروه ځکه چه اعتقاد د نزول د قرآن او نسبت د
جنون نه سی سره یو ځای کیدا لَوْمَا تَاْتِیْنَا بِالْمَلٰٓئِکَةِ ولی نه راولی ته موږ
ته ملائکی دپاره د تعذیب زموږ ستا په تکذیب سره اِنْ کُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِیْنَ ⑦

کہ تہ یے د رشتینو نخہ پہ دے دعوے کبنی یا معنیٰ دا چہ ملائکی راولہ چہ شاهدی
اداکوی زمونږ پہ مخکبنی ستا پوری رسالت باندے نو رب العزت پہ جواب کبنی ورتہ
وایی چہ مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ مونږ نہ راليږو ملائکی اِلَّا بِالْحَقِّ مگر پہ حق
سرہ یعنے پہ حکمت سرہ یا مراد د حق نہ وحی یا عذاب دی وَمَا كَانُوْٓا او دوی بہ نہ
وی اِذًا مُّنْظَرِيْنَ ⑧ پہ دغہ وخت کبنے چہ ملائکی پہ اصلی صورت سرہ راولیږو
چہ مهلت دی ورکړے شی یعنے نو بیا بہ فی الحال عذاب ورتہ راشی اِنَّا بیشکہ چہ
مونږ یو نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ ھم دا مونږ رالیږلے دے دا قرآن او دا د دوی د ھغہ
تیرانکار رد دی ځکہ چہ اول یے پہ دے وجهوسرہ تاکید سوے دے چہ یو اِنَّا
او بل نَحْنُ او بل تقدیم د ضمیر دے چہ د تخصیص مفید دے او بیا یے پہ دے قول
سرہ تاکید سوید ے چہ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ⑨ او بیشکہ چہ مونږ خامخا دی
قرآن لرہ نگهبانان یو د زیادتہ نہ او د نقصانہ نہ او د تبدیلہ نہ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا
او خامخا چہ پہ تحقیق سرہ رسولان رالیږلے وہ مونږ مِنْ قَبْلِكَ مخکبنی تر تا فِيْ
شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ⑩ د پخوانیو خلکو پہ تو لیو کبنے وَمَا يَاْتِيْهِمْ او وو دے تہ بہ نہ راتلے
مِّنْ رَّسُوْلٍ هیڅ رسول اِلَّا كَانُوْا بِهٖ مگر دوی بہ وہ د دیرہ کبرہ نہ او عنادہ نہ
پہ ھغہ رسول پوری يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑪ مسخرے بہ یے کولے یعنے دا مسخرے پوازی
پہ تا پورے نہ کیږی بلکہ دا پخوانی لاره دہ كَذٰلِكَ ھم دا سے لکہ چہ مونږ اچولی وہ
کفر او استهزاء د پخوانیو پہ زړو کبنی نَسْلُكُهٗ مونږ دا کفر او استهزاء اچوو فِيْ
قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ⑫ پہ زړو کبنے د کفارو ستا د زمانی لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ چہ ایمان نہ
راوړی پہ دے قرآن وَقَدْ خَلَتْ او پہ تحقیق سرہ تیرہ سویدہ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ⑬ ھغہ لارہ
ترلے د خدائے پہ ھلاك د پخوانو کبنے او دا وعید دے د مکی و اهل تہ د جهتہ د تکذیبہ د دوی
وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ او کہ مونږ خلاص کړی وای پہ دے معجزہ غوښتونکو باندے
پخپلہ مقتضے سرہ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ یو دروازہ د اسمان د طرفہ نہ فَظَلُّوْا فِيْهِ

نو لګید لے وی دوی په دے دروازه کښے يَعْرُجُوْنَ ⑭ چه دوی ختلی وی پورته
واسمان ته او عجائب او غرائب یے پکښی لید لی وای لَقَالُوْٓا نو خامخا به دوی د ډیره عناده
څخه ویل اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بیشکه چه هغه اخبره ده چه زموږ ستر ګی ترلی سوی دی
ولید لو څخه دوا قعی امر بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ⑮ بیشکه چه موږ یوه قولی یو ع ۱ ۵
چه په موږ جادو کړه سوی دی یعنی محمدؐ په موږ جادو کړے دی لکه چه دا دده عادت
دے وَلَقَدْ جَعَلْنَا او خامخا موږ پیدا کړی دی فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا په اسمان کښی
دوولس برجونه چه یو تر بله سره مخالف دے هم په اشکالو او هم په صفاتو او هم په
خواصو کښی وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ⑯ او بیا دے موږ ښایسته کړی دی د لید ونکو دپاره
په عجیبه رنګا رنګ شکلو سره او یا دا اسمان په دے برجو او په نور وستورو سره
چه دا لیدو نکی عبرت په واخلی او استدلال په کوے پر قدرت او پر کمال د حکمت د
صانع باندے وَحَفِظْنٰهَا او دا اسمان موږ ساتلے دے مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ⑰
د هر ملعون یا په ستورو ویشتل سوے شیطان څخه اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ لیکن
هغه شیطان چه اراده وکړے د پټ په غلا اختلو اسمان ته چه هلته د ملائکو یوه خبره
واوری او بیا د رواغ د ځانه په ګډ کړے او وکاهنانو ته یے ور سوی فَاَتْبَعَهٗ نو د
اسمان د طرفه ورپسی راخطاسی شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ⑱ لمبه داور بنکاره چه هر
څوک یے وويني دده د پاره چه واسمان ته ور نه سے او په احوالو یے مطلع نه سے
روایت دے دابن عباسؓ څخه چه شیطانان د آدمؑ د زمانے څخه د عیسیٰؑ تر وخته
پورے تلل او د لوح محفوظ د اخبارو څخه به یے د ملائکو څخه اوریدل او و
کاهنانو ته به یے راوړل بیا چه عیسیٰؑ متولد شو نو د سر بیره دریے اسمانو څخه
بند سوه او په لاندے څلورو اسمانو کښی به ګرځید له بیا چه رسولؐ پیدا سو نو د
اوو سره اسمانو څخه منع سوه او په لښتو سره وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا او مځکه چه ده
غځولے او غوړولے ده موږ وهر جانب ته پر سره او بو د هغه ځا یه څخه چه اوس

کعبه پر ولاړه ده وَالْقَيْنَا او غورځولے یعنے پیدا کړیدے مونږ فِيْهَا رَوَاسِيَ په دے ځمکه
کښے میخونه بیخ ولاړ چه غرونه دے وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا اونږ رغونه کړه مونږ په دے
ځمکه کښی مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ⑲ د هر شی نه اندازه کړه سوے په میزان
د حکمت سره یا موزون په معنیٰ د مستحسن دے یعنے ښه مشتمل پر کُلی منافعو لکه
ولی او کښنت وَجَعَلْنَا لَكُمْ او پیدا کړیدے مونږ وتاسے ته فِيْهَا مَعَايِشَ په دی ځمکه
کښے اسباب د معاش د هر قسم مطعوماتو او ملبوساتو نه وَمَنْ لَّسْتُمْ او بل هغه
خوك مونږ پیدا کړیدے په دے ځمکه کښی چه تاسے نه یاست لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ ⑳ وهغه
چاته روزے ورکونکے چه هغه عیال او مریان او چارپایان او لوږند ه سرستا
دے چه تاسے د دے ګمان کوی چه وردوے ته روزی مونږ ورکوو او حال دا چه
خدائے پے ورکوے نه تاسے وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ او نسته هیڅ شی په جهان کښی چه
بندګان ورته محتاج کیږے اِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ نه مګر چه سته د مونږ سره خزانے
د هغه یعنی نه مونږ ته تصرف لاندے دے او مونږ د هغه پر پیدا کولو په هر ساعت کښے
قادر یو بے مداره او بے مشقته نو ګویا داسے سوه چه خزانے پی د مونږ سره تیاری
پرتے دے وَمَا نُنَزِّلُهٗۤ او سره د دے بیا یے نه رالیږو و بندګانو ته اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ㉑
مګر په هغه اندازه سره چه مونږ مقرره کړیده په مقتضی سره د خپل حکمت بالغه
وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ او مونږ رالیږلے دے بادونه بلاربوونکے د اوریځو او
دا هلته که لواقح په معنیٰ د ملقحات سے یا داسے بادونه چه داپخپله بلارب دی
نه بلاربونکے د اوریځو ځکه چه د دے بادو دا ابدازے او ریځی پخپله د رونه کښی
راخیستی وے لکه او ښه چه خپل بچی په نس کښے ګرځوے او مقابل یے عقیم دی
لکه په دے ایت کښے چه وارسلنا علیهم الریح العقیم فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً نو
رالیږلے دے مونږ د طرفه نه د اسمان د هغه اوریځو او به یعنے باران فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ
نو وڅکولے مونږ په تاسے سره هغه اوبه وَمَآ اَنْتُمْ او تاسے نه یاست لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ ㉒

ع اوراولیږے مونږ پردے کفارو هغه باد و شنډونکے یا چه شنډ وو

دے او بولره خزانہ کونکی یعنی سا تونکے پہ سیندو او پہ چینو او پہ حوضو او پہ کوهینا نو
"ښا ہ نو" کښے بلکہ موږ یې درلره سا تو وَإِنَّا لَنَحْنُ او بیشکہ موږ چہ یو خامخا هم
داموږ نُحْيِ وَنُمِيتُ هم ژوندی کول کوو او هم وژل کوو وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ۲۳ او
بیا هم داموږ بہ وارثان یو یعنے باقی پاتہ کیدونکی وروستہ تر هلاکہ د عالم
وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ او خامخا پہ تحقیق سرہ معلوم دے وموږ تہ
لومړی ستاسے څخہ پہ اسلام یا پہ جهاد یا پہ طاعت یا پہ جماعت یا پہ تولد یا پہ موت
کښے وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ۲۴ او خامخا پہ تحقیق سرہ هم ا سے معلوم دے وموږ
تہ وروستی ستاسے پہ دے تیرو شیانو کښے وَإِنَّ رَبَّكَ او بیشکہ رب ستا چہ دے
هُوَ يَحْشُرُهُمْ هم دے بہ راجمع کوی دوی پہ قیامت او پہ محشرگاہ کښے إِنَّهُ حَكِيْمٌ ع ۲
عَلِيْمٌ ۲۵ بیشکہ چہ دے پرحکمتہ دانا دے پہ هر یو او بنکارہ سرہ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ۱
الْإِنْسَانَ او خامخا پہ تحقیق سرہ پیدا کړے وو موږ انسان یعنے آدم مِنْ صَلْصَالٍ ۲
د خامی وچے خټی څخہ چہ ترنګهار کوے د کودرے پہ شان او هغہ صلصال بیا
جوړ سوی وو مِنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ۲۶ د تورے لای خساکرہ سوے څخہ یا صورت ترل
سوے څخہ پہ دے شان چہ د ترلے ځکی د سرہ څخہ یې ګرد راتول کړے نو داخاورے
بیا پہ اوبو سرہ واخښول سوے بیا داختہ خلوینت ورځے خمیرہ کړہ سوہ نو تورے
لای سوہ بیا دالای صاف کړہ سو نو سُلا لہ سوہ بیا د دے سُلالے څخہ قالب
جوړ کړہ سو بیا وچ کړہ سو نو صلصال سو او بیا ئے صلصال کښی روح داخل
کړہ سو نو انسان سو وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ او جان چہ د پیریانو نیکہ وو موږ
پیدا کړے وو دے مِنْ قَبْلُ ځکی تر آدمؑ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ۲۷ د هغہ اور څخہ
چہ لوګے "دود" نہ لری او دا اور د دے دُنیا پہ حرارت کښے او یا نیمہ برخہ دہ
د هغہ اور څخہ چہ جان ځنی پیدا سوی دی وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ او یاد کړہ

عہ حاصل دا چہ دا د دے دنیا اور د هغہ اور څخہ چہ د پیریانو نیکہ ځنی پیدا سوی دی دری نیم شلے برخہ کم دی پہ ګرم والے کښی ۱۲

هغه چه ستا رب وملائکو ته وویل اِنِّیْ خَالِقٌۢ بَشَرًا چه بیشکه زه پیدا کونکے یم دیو
بشر د مخکی دخلافت دپاره مِّنْ صَلْصَالٍ د وچ خام کودری څخه چه جوړ سویدی
هغه کودرے مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿۲۸﴾ د تورلای خساکره سوی څخه یا له مصور څخه فَاِذَا
سَوَّیْتُهٗ نو په هغه وخت کښے چه مادے برابر کړے یعنے دده د بدن خلقت می پوره
کړے او تیار می کړے دپاره د نفخ د روح وَنَفَخْتُ فِیْهِ مِنْ رُّوْحِیْ او پو می کړی په
دغه بدن کښے د خپله روحه څخه او دے په ژوندے سو یعنے د هغه روحه څخه چه ما
پیدا کړے دے او دا اضافت ځان ته د تخصیص او د تعظیم دپاره دے فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِیْنَ ﴿۲۹﴾
نو پریوزی وده ته په دا سے حال کښے چه سجده کونکے اوسے فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ نو سجده
وکړه ملائکو كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿۳۰﴾ ټولو دوے تمام په یوه وار اِلَّآ اِبْلِیْسَ مګر ابلیس
چه ده یره کبره څخه اَبٰٓى اَنْ یَّكُوْنَ سرکشی یې وکړه او منع یې راوړه ددی څخه چه
دے سی مَعَ السّٰجِدِیْنَ ﴿۳۱﴾ د سجده کونکو سره وا د مړته قَالَ نو پروردګار وویل
یٰٓاِبْلِیْسُ مَا لَكَ چه اے ابلیسه پر تا څه باعث وو او په دے کښی دی کوم غرض وو
اَلَّا تَكُوْنَ چه ته نه سوے مَعَ السّٰجِدِیْنَ ﴿۳۲﴾ د سجده کونکو سره قَالَ لَمْ اَكُنْ نو ابلیس
وویل چه زه نه یم لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ ددے کار چه سجده وکړم ودا سے بشر ته
خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ چه تا پیدا کړیدے د وچ خام کودری څخه هغه جوړ سوی
مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿۳۳﴾ د تورلای خساکره سوے بوی ناکه څخه یعنے دے دی خسیس
عنصر څخه پیدا کړیدے چه هغه خاوره ده او زه دے د شریف عنصره څخه پیدا
کړے یم چه هغه اور دے نو روحانی لطیف به څرنګه کښته کیږے وجسمانی
کثیف ته نو دغه ملعون احمق ظاهر ته د آدم نظر وکړے چه خاوره ده او و
دے ته یې فکر و نه کړے چه خزانے مدام په خاوره کښے ښیخ "ړوتي" وے او پل
یې د نفخت فیه من روحی ته هم ونه کتل قَالَ بیا رب العزت وړته وویل
وروسته تردے منع د سجدے څخه چه فَاخْرُجْ مِنْهَا نو ته ووځه ددې جنت

ځخه یا د اسمان ځخه یا د تولی ځخه د ملائکو فَاِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾ نو بیشکه چه ته ترټل
سوی یې د رحمته او د خیره او د کرامته وَّاِنَّ عَلَيۡكَ اللَّعۡنَةَ او بیشکه چه پر تا
لعنت دے یعنے دا ترټل او لیرېوالے د رحمت ځخه اِلٰى يَوۡمِ الدِّيۡنِ ﴿٣٥﴾ د جزا
تو ورځے پورے بیا چه ورځ د جزا راغله نو دا سے عذاب به درکړه سے چه دا
لعنت به دے پکښې هیر سے بیخي قَالَ رَبِّ نو ابلیس وویل چه اے زمارب فَاَنۡظِرۡنِىۡۤ
نو مهلت راکړه و ماته یعنے مه می وژنه اِلٰى يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ ﴿٣٦﴾ ترهغه ورځے پوری
چه داخلق بیا ژوندي کیږي ځکه چه د بعث د نفخے «د راپاخید و تر شپیلی» وروسته
بیا د تقلینو د پاره اصلًا مرګ نسته او بیله مرګه دخول نسته نه په جنت او نه
په دوږخ کښے نو د مرګه او د دوږخه به بیخې خلاص سم قَالَ فَاِنَّكَ بیا رب العزت وویل
چه بیشکه چه ته مِنَ الۡمُنۡظَرِيۡنَ ﴿٣٧﴾ د مهلت ورکړه سو ځخه یې لیکن اِلٰى يَوۡمِ الۡوَقۡتِ
الۡمَعۡلُوۡمِ ﴿٣٨﴾ ترهغه ورځے د معلوم وخت پورے چه نفخه د صعقے ده او منتهیٰ ده
دایامو د تکلیف ځخه ترهغه بعث پورے چه ته یې غوارے قَالَ رَبِّ نو ابلیس وویل
چه اے زمارب بِمَاۤ اَغۡوَيۡتَنِىۡ قسم دے په دی ګمراه کولو سره ستا چه زه دے
ګمراه کړم نکته :- ابلیس د لته او په سورة اعراف کښے قسم وکړے په صفت
فعلیه سره د خدائے چه اغواده او په سورة صٓ کښے یې په صفت ذاتیه سره دده
چه عزت دے لکه چه یې ویلے دی فبعزتك لاغوینهم اجمعین او فقهاء د عراق
وایي چه قسم په افعالو سره قسم نه دے لیکن اصح دا ده چه بنا د ایمان پر عرف
ده نو قسم سرا وچا ویلے دے چه دا بٓ سببیه ده یعنے په سبب د دے ګمراهے
سره لَاُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ خامخا به بنایسته کړم ورته انسانانو ته ګناهونه یعنے معاصی
به په نظر کښے ورته بنایسته ښکاره کړم فِى الۡاَرۡضِ په دے ځمکه کښے یعنے په د
دنیا کښے چه دا د غرور دے وَلَاُغۡوِيَنَّهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَ ﴿٣٩﴾ او خامخا به دوی ګمراهان

عه دا علت د سوال د شیطان دی ۱۲ عه یعنی په کل د اسرافیل په شپیلی کبی ۱۲ عه په کل د اسرافیل په شپیلی کښی ۱۲
صه یعنے دا هم قسم دی می دی په عزت سره ستا اے خدایه چه ګمراه به کړم دا ټوله مخلوق ۱۲

کړم د ځانه سره ترقیامته پورې قوله اِلَّا عِبَادَكَ مګر هغه بندګان ستا مِنْهُمُ
الْمُخْلَصِيْنَ ۞۴۰ د دوی ځنې چه خالص کړه سوي دي د شائبې ځنې د شرك جلي او خفي
او زما مکر او فریب به په دوی کښې هیڅ اثر نه کوي قَالَ هٰذَا بیا رب العزت وویل
چه دا اخلاص چه دی په ایمان کښې صِرَاطٌ عَلَيَّ یوه لاره ده د حق عظیم چه
پرما ده ساتنه د هغې لارې یا دا علیّ په معنی دا لیّ دی یعنې هغه لاره چه وما
ته برابره راغلې ده مُسْتَقِيْمٌ ۞۴۱ چه سمه ده او هیڅ کږې پکښې نسته اِنَّ عِبَادِيْ
بیشکه خاص بندګان زما چه دي لَيْسَ لَكَ نسته تا لره عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ پر دوی
باندې هیڅ تسلط او غلبه په ګمراه کولو کښې اِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مګر هغه څوك چه ستا
پیروي یې وکړه مِنَ الْغٰوِيْنَ ۞۴۲ د هغه ګمراهانو ځنې چه ستا تسلط او غلبه پر
چلیږي وَاِنَّ جَهَنَّمَ او بیشکه دوزخ چه دی لَمَوْعِدُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۞۴۳ خاص ځا
وعدګاه دی ستا د دې قوم تابعانو لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ ط چه دی دې دوزخ
لره اووه دروازې لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ د هرې دروازې د پاره دې ګمراهانو
ځنې چه د ابلیس تابعان دي جُزْءٌ مَّقْسُوْمٌ ۞۴۴ برخه ده قسمت کړه سوې فائده ع ۳
دا اووه ابواب چه دي اووه طبقات دي دا وړ چه اووو طائفو لره مقرر دي
او هرې طائفې لره بیله بیله طبقه مقرره ده دا سې چه جهنم عاصیانو موحدانو
لره دی او لظی یهودو لره او حطمه نصاراوو لره او سعیر صابیانو لره او
سقر مجوسیانو لره او جحیم مشرکانو لره او هاویه چه تر ټولو لاندې او ډیره
سخته ده هغه منافقانو لره ده اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ بیشکه پرهیزګاران چه دي یعنې
ځانساتونکي د ابلیس د متابعت ځنې په کفر او په معاصیو کښې فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۞۴۵
په باغو او په چینو کښې به وي او ورته به ویل شي چه اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ننوزئ
په دې باغو کښې په سلام د خدای سره یا د ملائکو سره یا په سلامتي سره د هر
آفت ځنې اٰمِنِيْنَ ۞۴۶ په دا سې حال کښې چه په امان سره او سئ د خرڅېدو او د زواله

وَنَزَعْنَا او لیرے بہ کړو مونږ مَا فِیْ صُدُوْرِهِمْ هرهغه چه د دوئ په زړونو کښے وے
مِنْ غِلٍّ هغه کینه چه د دوے به په دنیا کښے سره وه په خپل مینځ کښے او یا به یو د بل
په درجو کینه نه کوے په جنت کښی اِخْوَانًا په دا سے حال کښے چه سره وروڼه به وی
یعنے دا سے دوستی او محبت به یو تر بله سره لری لکه وروڼه چه یے سره لرے او
دوے به ناست وے عَلٰی سُرُرٍ پر تختو باندے د زړو چه په جواهرو به ښایسته
سوے او نقش سوے وی مُّتَقٰبِلِیْنَ ﴿۴۷﴾ چه مخامخ به وے همیشه سره په خپل مینځ کښے
ځکه چه دوے وهری خوا ته ځی نو پر تختو به سپاره وے یو و بل ته به هیڅ پړے شا
نه کوے لَا یَمَسُّهُمْ فِیْهَا نَصَبٌ نه به رسیږی و دوئ ته په دے جنت کښے هیڅ قدر
سختی او مشقت ځکه چه هغه ځای صرف د معاش او راحت دے وَّمَا هُمْ او دوی به نه
وی مِّنْهَا بِمُخْرَجِیْنَ ﴿۴۸﴾ د دے جنت څخه هیڅکله ایستل سوئ بلکه همیشه به پکښے
وے روایت دے چه رسول علیه السلام یوه ورځ و مسجد حرام ته ننواتے نو
ناګاه یے یوه ډلے دا صحابو ولیده چه سره خندل یے او ناست وه نو ده ورته
وویل چه مالیٰ اراکم تضحکون یعنے دا کوم سبب دے چه زه تاسے په خندا وینم
او ځنی تیر سو نو دوے د عتاب سرزنش ګمان وکړے او خفه سول او دے لا و ځای ته
نه وو رسیدلے چه بیرته راوګرزیدے او وے ویل چه جبرائیل راغلی او پیغام یے
راوړے چه زما بندګان ولے نا امیده کوی او نازل سو نَبِّئْ عِبَادِیْٓ اَنِّیْٓ
اګاه او خبر کړه اے رسوله بندګان زما په دے سره چه بیشکه زه چه یم اَنَا الْغَفُوْرُ
الرَّحِیْمُ ﴿۴۹﴾ هم زه بخښونکی مهربانه یم د هرهغه چا چه د ما څخه بخښنه غوارے
او تائب سے وَاَنَّ او بل په دے سره یے هم خبر کړه چه بیشکه عَذَابِیْ زما عذاب
هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِیْمُ ﴿۵۰﴾ هم دا دردناکه عذاب دے نکته ۱- ذات یے موصوف
کړے په مغفرت او په رحم سره او په عذاب یے موصوف نه کړے په دے کښی اشاره
ده وغلبی ته د رحم پر غضب باندے بیا پردے عذاب شا هد تیروی نو وایے

وَنَبِّئۡهُمۡ او بیا اګاه او خبر که دوی عَنۡ ضَيۡفِ اِبۡرٰهِيۡمَ ﴿۵۱﴾ د میلمنو ځنې د
ابراهیمؑ چه جبرائیلؑ وو د دوولسو ملائکو سره چه وده ته د زیرے دولد پرده باندے
راغلے وو او بل د پاره د هلاکولو د قوم د لوطؑ اِذۡ دَخَلُوۡا عَلَيۡهِ چه بے وخته او بے اذنه
راننوتل پرده باندے فَقَالُوۡا سَلٰمًا ؕ نو دوے وویل چه سلام اچوو موږ پرتا
باندے په سلام اچولو سره قَالَ اِنَّا مِنۡكُمۡ وَجِلُوۡنَ ﴿۵۲﴾ ابراهیمؑ وویل چه بیشکه
موږ د تاسے ځنې بیریدونکی یو او دا بیره یې د جهته د دے وه چه بے وخته او
بے اذنه راننوتلے وه او بیا یې خوراك ونه کړے بیا چه ملائکو دا خبری ځنې واو
ریدلے نو قَالُوۡا لَا تَوۡجَلۡ دوے ورته وویل چه مه بیریږه د موږ ځنې ځکه
چه اِنَّا نُبَشِّرُكَ بیشکه چه موږ زیرے کوو پرتا بِغُلٰمٍ عَلِيۡمٍ ﴿۵۳﴾ په زوئ پوهنده دانا
سره تر بلوغ ورورسته چه اسحٰقؑ به یې نوم وے قَالَ اَبَشَّرۡتُمُوۡنِىۡ بیا ابراهیم وویل
چه ایا تاسے پرما زیرے کوے عَلٰٓى اَنۡ مَّسَّنِىَ الۡكِبَرُ سره د دے چه وماته زوړوالے
رسیدلے دے فَبِمَ تُبَشِّرُوۡنَ ﴿۵۴﴾ نو په کومه عجیبه وجه سره تاسے پر ما زیری کوئ
قَالُوۡا بَشَّرۡنٰكَ بِالۡحَقِّ نو دوے وویل چه موږ زیرے کړیدے پرتا په رشتیا سره بې شکه
او بے شبهې فَلَا تَكُنۡ نو ته مه کیږه مِّنَ الۡقٰنِطِيۡنَ ﴿۵۵﴾ د نا امیدانو ځنې قَالَ نو ابراهیمؑ
وویل چه اګر که دا کار د عادت نه ځنې وتلے دے مګر زه نا امیده نه یم وَمَنۡ يَّقۡنَطُ او هغه
څوك دے چه نا اُمید کیږے به مِنۡ رَّحۡمَةِ رَبِّهٖۤ د رحمت ځنې د خپل رب اِلَّا الضَّآلُّوۡنَ ﴿۵۶﴾
مګر ګمراهان یا کافران قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ بیا ابراهیمؑ وویل چه ستاسے څه مطلب دے
اَيُّهَا الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۵۷﴾ اے رالیږل سوو د خدای او دا یو بنستنه یې ځکه ځنې وکړه چه
یوازے زیرے وی خو یو هم کافی وو قَالُوۡۤا اِنَّاۤ اُرۡسِلۡنَاۤ نو دوی وویل چه بیشکه موږ
رالیږل سوے یو اِلٰى قَوۡمٍ مُّجۡرِمِيۡنَ ﴿۵۸﴾ و هغه قوم ته چه کافران دے چه قوم د لوطؑ
دے د هلاکولو د پاره د هغو اِلَّاۤ اٰلَ لُوۡطٍ ؕ مګر عیال د لوطؑ چه دے اِنَّا لَمُنَجُّوۡهُمۡ
اَجۡمَعِيۡنَ ﴿۵۹﴾ بیشکه چه موږ د دوے سا تونکی یو د ټولو د عذابه ځنې اِلَّا امۡرَاَتَهٗ مګر

بنځه دده قَدَّرْنَا لا اِنَّهَا حکم کړیدے موږ په امر د خدائے پرد ے چه بیشکه دا ښځه چه
دده لَمِنَ الْغٰبِرِیْنَ ﴿۶۰﴾ خامخا د بېرته پاته کیدونکو څخه ده فَلَمَّا جَآءَ نو هر کله چه راغله ع ۱۶ ۴
اٰلَ لُوْطِ اِۨلْمُرْسَلُوْنَ ﴿۶۱﴾ وخانواده ے ته د لوط را لیږل سوی د خدائے یعنے ملائکی قَالَ
اِنَّكُمْ نو لوط ووېل چه بیشکه تاسې قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾ یوه ټولی نا اشنا یاست
قَالُوْا بیا دوی ووېل چه موږ نا اشنا او بیګانه نه یو بَلْ جِئْنٰكَ بلکه ملائکی یو
چه تا لره راغلي یو بِمَا كَانُوْا په هغه عذاب سره چه دوے به وو د ډیره جهله او
عنا ده څخه فِیْهِ یَمْتَرُوْنَ ﴿۶۳﴾ چه په هغه عذاب کښی به یې شك راوړی وَاٰتَیْنٰكَ
بِالْحَقِّ او راوړے دی موږ تا لره حق یعنے هغه عذاب چه حق دے وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۶۴﴾
او بیشکه چه موږ خامخا د رشتینو څخه یو په دے خبره کښے فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ نو وباسه
ته عیال خپل ددے ښاره څخه بِقِطْعٍ مِّنَ الَّیْلِ په یوه حصه کښی د شپې وَاتَّبِعْ
اَدْبَارَهُمْ او ته هم ځه په دوے پسی چه ددوے په احوالو سره خبردار یې وَلَا
یَلْتَفِتْ او وشاته دے نه ګوری مِنْكُمْ اَحَدٌ د تاسې څخه هیڅوك چه عذاب به ووینی
او هیبت به یې واخلی وَّامْضُوْا حَیْثُ تُؤْمَرُوْنَ ﴿۶۵﴾ او ځی وهغه ځای ته چه امر
درته کول کیږی ے چه شام یا مصر دے وَقَضَیْنَآ اِلَیْهِ او حکم یا وحی کړے وی
موږ وده ته ذٰلِكَ الْاَمْرَ د هغه کار چه تفسیر یې دا دے چه اَنَّ دَابِرَ هٰۤؤُلَآءِ بیشکه
چه بیخ ددے خلګو مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِیْنَ ﴿۶۶﴾ پریکړ سوی او لو کړه سوی په دا
حال کښے چه دوے په صبا کښی داخلیږ ے بیا چه هر کله دا ملائکی راغلي په شکل
سره د ښایستو هلکانو نو د لوط قوم هغه کا فرے ښځے په خبر کړے وَجَآءَ اَهْلُ
الْمَدِیْنَةِ او د سدوم خلك راغل چه د هغه ښار نوم وه د لوط وکاله او کورته
یَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۶۷﴾ چه زیرے یې کاوی یوه پر بل باندے د فاحشی په طمع سره قَالَ
اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ ضَیْفِیْ نو لوط ووېل چه بے شکه دا میلمانه زما دے فَلَا تَفْضَحُوْنِ ﴿۶۸﴾
نو ما مه رسوا کوی په فضیحت سره ددوی وَاتَّقُوا اللّٰهَ او وخدائے څخه وبیریږئ

مه هم په چل سبا رکیږی د عذاب د پاره ۱۲ ..... رسوا ای ۱۲

او فاحشه مه کوی وَ لَا تُخۡزُوۡنِ ﴿۶۹﴾ او ما د میلمنو په غم کښې مه شرموی قَالُوۡۤا
اَوَ لَمۡ نَنۡهَكَ بیا دوی ولوط ته ووېل آیا مونږ ته نه وی منع کړی عَنِ
الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۷۰﴾ د خلګو څخه چه مه مانع کیږه نه مونږ د هیچا څخه یا هیڅوک د دوی
څخه مه میلمه کوه قَالَ هٰۤؤُلَآءِ بَنٰتِیۡۤ نو لوط ووېل چه دغه دی لوڼی زما
یعنی ښځی ستاسی او دا ځکه چه هر پیغمبر د خپل قوم په منزله د پلار دی یا یې
خپلې لوڼی ورته ښودلې لیکن په شرط د اسلام یا په هغه دین کښې نکاح د کافر د
د مسلمانې سره روا وه اِنۡ کُنۡتُمۡ فٰعِلِیۡنَ ﴿۷۱﴾ که تاسې کونکی یاست دوی کار چه زه
درته وایم لَعَمۡرُكَ اِنَّهُمۡ قسم دی په عمر ستا ای رسوله چه بیشکه دوی لَفِیۡ
سَكۡرَتِهِمۡ خامخا په خپله مستی یا ګمراهی کښې ـ د ډېره غفلته څخه یَعۡمَهُوۡنَ ﴿۷۲﴾
حیران او سرګردان وو فَاَخَذَتۡهُمُ الصَّیۡحَةُ نو ونیول او لاندې کړه دوی اواز
هولناک او مهلک مُشۡرِقِیۡنَ ﴿۷۳﴾ په داسی حال کښې چه دوی داخلېدل په وخت
د اشراق کښې په دی شان سره چه جبرائیل خپل وزر د دوی تر ښارو لاندې
کړی او تر اسمانه پورې یې یوړې بیا یې رانسکور کړی لکه چه وایی فَجَعَلۡنَا
عَالِیَهَا نو مونږ وګرځاوه سر بېره طرف د دی ښارو سَافِلَهَا لاندې طرف د
هغو یعنی لاندې یې د پاندې ـ او د پاندې یې لاندې شو ـ وَ اَمۡطَرۡنَا عَلَیۡهِمۡ
او ووروله مونږ پر دوی باندې حِجَارَةً مِّنۡ سِجِّیۡلٍ ﴿۷۴﴾ تیږی د ګټو نو څخه چه
پرهره یوه به د خپل مرجوم نوم لیکلی وو اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ بیشکه چه په دی هلاکولو
کښې د لوط د قوم لَاٰیٰتٍ لِّلۡمُتَوَسِّمِیۡنَ ﴿۷۵﴾ خامخا ډېری نښې دی د عبرت اخستلو
د پاره د زیرکانو چه تامل او فکر کښې وکړی او بیا عبرت په واخلی وَ اِنَّهَا او بیشکه دا
نښې چه دی دوی ښارو لَبِسَبِیۡلٍ مُّقِیۡمٍ ﴿۷۶﴾ خامخا په چلنده لار کښې دی چه شپه
او ورځ قافلې پر تیریږی او حال یې وینی اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ بیشکه چه په دی کښې
یا د وشو و کار و کښې لَاٰیَةً لِّلۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۷۷﴾ خامخا غټه نښه ده د قدرت ربانی د پاره

مه یعنی بهتاکر اور ہلاکر گئے ۱۲

د مؤمنانو وَاِنْ كَانَ او بیشکه چه وه اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ اصحب د ایکه یعنې قوم د شعیبؑ
لَظٰلِمِيْنَ ﴿۷۸﴾ خامخا ظالمان د کفر په سبب سره فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ م نو انتقام واخستے
موږ د دوے نه وَاِنَّهُمَا او بیشکه دا ښارونه د قوم د لوطؑ او د شعیبؑ چه د دے ۵
لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۹﴾ خامخا په لویه او ښکاره لار کښې دی هر څوك پرې تیریږی او د شپے ع ۱۵
اوورځے یې ګورے وَلَقَدْ كَذَّبَ او خامخا په تحقیق سره تکذیب کړے وه اَصْحٰبُ ۵
الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۸۰﴾ اصحابو د حجر د رسولانو یعنې قوم د صالحؑ او هر کله چه تکذیب
دیوه رسول تکذیب د ټولو وه نو ځکه جمع یاده سوه او حجر یو کندہ ده په مابین
کښې د شام او مدینې او اصحاب ثمود دے وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا او ورکړے وے موږ دوی
ته معجزے چه خروج د ناقے و و د تیږے نه او بیا فی الحال لنګیدل وه د دے او
بیا دوه سره شیدے ورکول وه چه د تمامو ثمودیانو به بس کیدلے او پورته کیدل
دا او بوه د کوهے د دے په وار کښې فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۸۱﴾ نو دوی و و د دے معجزے
نه مخ ګرځونکی وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ او دوے و و چه کندل او تو ږل به یې مِنَ الْجِبَالِ
بُيُوْتًا د غرو نه کوټی اٰمِنِيْنَ ﴿۸۲﴾ په دا سے حال کښې چه په امان به و و دوے د نړیدو
نه د دے کوټو او د سوځے کولو نه د غلو فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ نو دوے راونیول او لا نده
کړل مُهلك اواز مُصْبِحِيْنَ ﴿۸۳﴾ په دا سے حال کښې چه دوے داخلیدل په وخت د صبا
کښې د یکشنبې په ورځ د جبرائیل په چیغه سره فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ نو دفعه نه کړے د
دوے نه هیڅ عذاب مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۴﴾ هغه چه دوی وه چه کسب یې کاوه د هغه
لکه مال او متاع او کلکی محکمې مېنې یعنې دا یوې هم پکار نه سوې وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضَ او موږ نه دے پیدا کړے دا اسمانونه او ځمکه وَمَا بَيْنَهُمَآ او هر هغه چه
په مابین کښې د دے دواړو دے اِلَّا بِالْحَقِّ ط مګر په رښتیا سره او په حکمت سره
وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ او بیشکه قیامت چه دے خامخا راتلونکے دے نو ستا
انتقام به خدائے د مکذبانو نه ستا و اخلی فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿۸۵﴾ نو تیر سه

او عفوه وکړه ورد وے ته په ښه عفوه سره یعنې د خپلو حقوقو انتقام مه خلې اخـله
او چا ویلې دے چه دا حکم منسوخ سوے دے په آیت د سیف سره اِنَّ رَبَّكَ بیشکه
رب ستا چه دے هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِیْمُ ﴿۸۶﴾ هم دے پید اکوںکی دی ستا سه او دانا
دے په حال ستا سه که ته یې او که دوے دی روایت دے چه هرکله یوه ورځ ومکے
ته اووه کاروانه د قریشو را ننوتل سره دا قسامو د د رختو او غلو نو اصحابو وویل
چه که دا مالونه زموږ څخه واے نو دا تو له به موږ د خداے په لار کښې ورکړے
واے او یاد رسول ﷺ په خاطر مبارك کښې دا سه راوګرځ یده چه مؤمنان دا سه ډیر
وږے دی او کافران دا سے ډیر ماړه دے او دوے خبرے ډیر خفګان ور وستی
نو نازل سو وَلَقَدْ اٰتَیْنٰكَ او خامخا موږ درکړے دے تا لره سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِیْ
اووه آیتونه د هغه سورت چه غبرګ دے چه فاتحه ده او دا ځکه چه دا په هر لمانځه
کښې دوه واره لوستل کیږي او یا دا چه دوه واره نازل سوي یو وار په مکه
کښې او بل وار په مدینه کښې وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِیْمَ ﴿۸۷﴾ او بل موږ درکړے دی هغه
قرآن چه عظیم الشان دے او دا عطف د عام دے لَا تَمُدَّنَّ عَیْنَیْكَ مه پوره ته
کوه او وازے مه نیسه ته سترګې خپلې اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ وهغه شی ته چه په معاش کړیدے
موږ په هغه سره اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ اصناف د دوے لکه یهود او نصاریٰ او مجوس او مشرکان
یعنې دا مالونو ته له نسبت و هغه شی ته چه وتا ته درکړه سوے دی ډیر حقیر دے نو
ته وهغه ته د سره میلان مه کوه وَلَا تَحْزَنْ عَلَیْهِمْ او ته خفګان مه کوه پر دے
مؤمنانو یعنې پرنادارے د دوے وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ او کښته کړه خپل وزر یعنی
نرمی او تواضع او خوش خوئي کوه لِلْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۸۸﴾ د مؤمنانو سره وَقُلْ اِنِّیْۤ او ووایه
ته و دے اصنافو ته د کفارو چه بیشکه زه چه یم اَنَا النَّذِیْرُ الْمُبِیْنُ ﴿۸۹﴾ هم دا زه
یم ښکاره بیرونکے ستا سه دا سے چه خداے ویلی دے چه که ایمان نه راوړي دوی
نو دا سه عذاب به موږ پرنازل کړو کَمَاۤ اَنْزَلْنَا لکه چه رالیږلے وو موږ عذاب

عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿۹۰﴾ الَّذِيْنَ پرهغو دوولسوتنوقسمت کونکو باندے جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ ﴿۹۱﴾
چه کړے وو دوے قرآن پارچے پارچے یعنی چا به په سحر بالے اوچا په شعراوچا
په کهانت اوچا په دروغ اوچا په قصو د پخوانیو او دا دوولس تنه وه چه ولید
بن مغیره مقرر کړے وه د حج په موسم کښے چه په دوولسو لارو کښی به کښیناستل
اوحاجیان به یې بدراه کول د ایمان لاور لوځنه پر رسولؐ باندے اوورته ویل
به یې چه ساحراوشاعراوکاهن دے اوقرآن به یې په سحراوشعرسره باله بیا دا
ټوله د بدر په ورځ په بدرنګی سره هلاك سول فَوَرَبِّكَ نو قسم دے په رب ستا
لَنَسْئَلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۲﴾ چه خامخا به مونږ داټول وپوښتو عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾
د هغه قسمت یانسبت د سحر ځنه چه دوے وه چه کاوے به یې روایت دی چه
رسولؐ به ترېعث وروسته درے کاله داخلاف وتوحید ته پټ لابلل د خوفه ځنه د
کفارو بیا تردروکالو وروسته نازل سو فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ نو ښکاره اوبه جهر
کړه اے رسوله هغه اوامراونواهے چه ته په مأموره کیږے وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۴﴾
او څنګ وکړه د مشرکانو او د دوے دویلوته هیڅ قدر التفات مه کوه اِنَّا بیشکه
مونږ چه یو كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ﴿۹۵﴾ الَّذِيْنَ کفایت کړیدی اوبس سوی یومونږ
ستاد طرفه د هغو ټوکسانو مسخری کونکو په تا پورے چه ولیدبن مغیره اوعاص بن
وائل اواسود بن عبد المطلب اواسود بن یغوث اوحارث بن قیس دے چه هریو
بیا په ناکاره مرض ګرفتار کړه خدائے اومردار سول يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ چه دوی
پیداکوے اوشریك نیسی د خدائے سره چه معبود برحق دے اِلٰهًا اٰخَرَ ج بل خدائے
په باطل سره فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ نو ژر دے چه دوے به معلوم کړی عاقبت د دے
خپل کار دجزا په وخت کښے وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ اوخامخا په تحقیق سره مونږ پوهیږو
چه بیشکه ته چه یې يَضِيْقُ صَدْرُكَ تنګی راوړی سینه ستا بِمَا يَقُوْلُوْنَ ﴿۹۷﴾ په
سبب سره د هغو خبرو چه دا کفار یې وایي یعنے چه خدای لره شریك بولے

اوقرآن ته شعروایي او په تا پورې مسخرې کوي فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ نو مدام تسبیح
وایه د حمد سره د خپل رب وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِیْنَ ﴿۹۸﴾ او اوسه مدام د سجده کونکو
څخه یعني په ذکر او په لمانځه مدام مشغول اوسه چه را آکښل د بار د بلا در ته آسان
سی په مشاهده د خپل محبوب کښې وَاعْبُدْ رَبَّكَ او عبادت د خپل رب کوه حَتّٰى تر هغه
وخته پورې یَاْتِیَكَ الْیَقِیْنُ ﴿۹۹﴾ چه راځي تا لره مرګ حاصل دا چه ژوندي اوسې د عبادت نه لاس مه اخله ع ۱۰/۲۲

ایاتها ۱۲۸	سُوْرَةُ النَّحْلِ مَكِّیَّةٌ	رکوعاتها ۱۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

روایت دے چه هر کله به معاندانو پر طریقه د تکذیب او د مسخرو سره ورسول ته
ویل چه هغه قیامت او عذاب چه ته موږ هیشه په بیرې وې هغه اوس ولې نه راځي شر یې
راوله چه موږ یې وګورو نو نازل سو اَتٰى اَمْرُ اللّٰهِ راغلی فرمان د خدای په قیام د قیامت
یا په عذاب سره د کفارو یعني وخت د ظهور یې رانژدې سو فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ نو په
تلوار سره یې مه غواړئ ځکه تر خپل وخت نو بیا به دوې ویل چه اول به عذاب نه
وې او که وي نو زموږ خدایان خو سته موږ به ځنې خلاص کړي نو ځکه وائي چه
سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۱﴾ پاکي ده ده لره او بلند شان دی د هغه څخه چه
دوې په ده پورې شریکان نیسي یُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ رالیږي لیږي دے ملایکې بِالرُّوْحِ
په وحي یا په قرآن سره او ودې دواړو ته ځکه روح ویل کیږي چه هر یو د دین په
حق کښې داسې دي لکه روح د بدن په حق کښې او یا هغه ژوند چه په جهل سره
مړه دي هغه په دوې سره ژوندي کیږي مِنْ اَمْرِهٖ په خپل امر سره عَلٰى مَنْ یَّشَآءُ
پر هغه چا چه اراده یې وسي د هغه د پیغمبر کولو مِنْ عِبَادِهٖٓ د خپلو بندګانو څخه او
بیا وایي و پیغمبرانو ته اَنْ اَنْذِرُوْٓا داسې چه بیرې ورکړئ دا خلك د عذاب څخه او بیا یې په دې
سره هم آګاه کړي چه اَنَّهٗ بیشکه شان دادے لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا چه نسته لایق د عبادت
هیڅوك مګر هم دا زه یم چه خالق او رازق یم د تمامو مخلوقاتو فَاتَّقُوْنِ ﴿۲﴾ نو د

ماتخه و بیریږی او دبل چا عبادت مه کوی خَلَقَ السَّمٰوٰتِ ده پیدا کړی دی اسمانونه
وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ط او ځمکه په حق سره تَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِکُوْنَ ③ بلند شان دے د هغه ځنه
چه دوی شریکان ورپوری نیسی روایت دے چه هر کله اُبی بن خلف یو وروست
هډوکی د بنی ادم ورسول ته راوړے او ورته وے ویل چه دا به بیرته ژوندی
شروندے کړی نو نازل سو خَلَقَ الْاِنْسَانَ ده پیدا کړیدے بنی ادم مِنْ نُّطْفَةٍ د منی
ځنه چه نه حس لری او نه فهم او نه تشکل قبلوی او نه صنع د جهته د نرمی او ددے
سره ده بیا یو عجیبه شکل ځنی جوړ کړی او ادراک او فکر او عقل او فهم یے پکښے
کښینولے فَاِذَا هُوَ نو ناگاه دے چه وو خَصِیْمٌ مُّبِیْنٌ ④ جګړه کونکی وو ښکاره وَ
الْاَنْعَامَ او دا اته قسمه چارپایان خَلَقَهَا ج لَکُمْ ده تاسے له پیدا کړے دے او بیا
دا لفظ د لَکُمْ د ما بعد سره تعلق لری یعنی سته تاسے له فِیْهَا دِفْءٌ په دے
انعامو کښی اسباب دګرمی ساتلو یعنی ځنه لکه شړے او کوټ او جرابے او
داسے نور ډیر شیان وَّمَنَافِعُ او نورے ډیرے نفعے دی لکه لنکیدل او سپریدل
او کرایه کول او لوشل او سودا گرے کول او داسے نور ډیر کارونه سوه وَمِنْهَا
تَاْکُلُوْنَ ⑤ او د هغه چارپایانو ځنه تاسے خوری لکه غوښه او وازګه او غوړی
او کوچ او مستی او شیدے او شلمبی او قرت او پنیر او پوڅه او خرڅے وَلَکُمْ فِیْهَا
جَمَالٌ او سته تاسے له په دے چارپایانو کښے زیب او زینت حِیْنَ تُرِیْحُوْنَ په هغه
وخت کښے چه تاسے یے بیرته راولے د څرولو ځنه د ورځی په اخر کښے وَحِیْنَ تَسْرَحُوْنَ ⑥
او په هغه وخت کښے چه د کوره ځنه یے تاسے د څرولو د پاره وباسے د ورځی په اول کښے
او وراتلل یے مقدم کړه «بیځے کړه» پر تللو باندے ددے وجهی چه د صحرا ځنه مړه ګیډی
او ډکی غولانځی کور ته راځی نو په دے کښے تر تللو زینت ډیر دے وَتَحْمِلُ اَثْقَالَکُمْ
او وړے دا چارپایان درانه بارونه ستاسے اِلٰی بَلَدٍ هغه ښار ته لَّمْ تَکُوْنُوْا بٰلِغِیْهِ
چه تاسے نه سے کیدلاے رسیدونکی هغه ښار ته ددے بار وسره اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ط

مکر په کلفت او په مشقت د ابدانو سره او یا مراد د اثقالو څخه خپل ابدان دے
او خطاب واهل د مکے ته دے چه تاسے خو مدام د شامه او د یمنه او د نورو
اوطانو څخه غلے او نور هر څه اسباب پر او بنا نو راوړے او که دا نه وے نو دا څیزونه
به تاسے په ډیر مشقت راوړے واے اِنَّ رَبَّكُمْ بیشکه ستاسے رب چه دے
لَرَءُوْفٌ خامخا مهربانه دے چه دا یے پیدا کړیدی ستاسے و نفعے ته رَّحِيْمٌ ۝۷
رحم کونکے دے چه پر تاسے یے مشقت کم کړیدی وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ او
ده پیدا کړے دی اسان او قچرے او خره لِتَرْكَبُوْهَا ددے د پاره چه تاسے پر دوے
سپریږے وَزِيْنَةً ط او ښایست کوے په دوے سره په ښایست کولو سره وَيَخْلُقُ
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝۸ او پیدا کوے دے هغه شیان چه و تاسے ته معلوم نه دے لکه خزندګان
او پرندګان او مواشے او نور مخلوقات د جنت او د دوزخ وَعَلَى اللّٰهِ او پر خدائے دی
یکن فضلًا نه وجوبًا قَصْدُ السَّبِيْلِ بیا نول د میانه لارے چه رسونکی ده وحق ته
وَمِنْهَا جَآئِرٌ ط او بعض د دے څخه چه خلاف پروان دے چپه او کږه تللے ده د
مقصود څخه لکه د کفر او د شرك او د هوا او د بدعت لار وَلَوْ شَآءَ او که اراده
سوے واے دده لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝۹ نو خامخا به یے سمه لار و تاسے ټولو ته ښولے
واے یعنے توفیق د ایمان راولو به یے و ټولو ته د رکړے واے هُوَ الَّذِيْٓ دے هغه
قادر مطلق دے اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً چه ده رالیږلے دے د طرفه څخه د اسمان د اوړے
او به لَكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ چه دے تاسے لره ددے او بو څخه څښل او یا د الَكُمْ د هغه
تیرا نزل سره تعلق نیسی وَّمِنْهُ شَجَرٌ او د هغه او بو څخه ونه هم ده او مراد د دے
ونے څخه هغه وابنه دے چه د ښکر یے خورے فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ۝۱۰ چه په هغه ګیاه
کښے تاسے خپل د ښکر څروے يُنْۢبِتُ لَكُمْ دے و تاسے ته زرغونه کوے بِهِ الزَّرْعَ
په دے او بو سره کښت د پاره د روزی ستاسے وَالزَّيْتُوْنَ وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ
او زیتون او خرما ګانے او د انګورو تاکونه وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ط او بعض د هر

قسم میوو څخه او من تبعیضیه ئے ځکه راوړے چه ټول میوے په دنیا کښے نه دے
پیدا کیدا ے غیر د جنت څخه إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً بیشکه چه په دے زرغونه کولو کښے
د دغو تیرو شیانو خامخا لویه نښه ده پر حکمت او پر قدرت الٰهی باندے
لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ⑪ د هغه قوم د پاره چه فکر کوے وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ او ده مسخر
کړیدئ تاسے له شپه یعنی د پاره د نفعے اخستلو ستاسے چه خوب او ارام پکښے
کوے وَالنَّهَارَ لا او ورځ چه معاش او کسب پکښی کوے وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ط او
لمر او سپوږمے دواړه هم چه په ورځ او په شپه کښے تاسے ته رڼا کوے او کښتونه
او میوے په پخیږے او حساب د میاشتو او د کلو څخه معلومیږ وَالنُّجُومُ او
ستورے چه دے مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ ط مسخر کړه شوے دی ټول په فرمان دده سره
چه متصرف مطلق دے إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ بیشکه چه په دے تصرفاتو کښے خامخا
ډیرے نښے دے د وحدانیت د صانع حکیم لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ⑫ د هغه قوم د پاره چه
عقل چلوے په احوال دده مذکوراتو کښے وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ او نور هغه
شیان چه تاسے ته ئے په ځکه کښے پیدا کړے دے یعنی هغه ئے هم مسخر کړیدئ د نفع
ستاسے د پاره لکه حیوانات او اشجار او اثمار او مطاعم او مشارب او ملابس او
مراکب او مناکح چه ستاسے حاجت ورته پیښیږ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهُ ط په داسے حال کښے
چه د هغه رنګونه او شکلونه او قسمونه سره مخالف دے إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً بیشکه
چه په دے مخلوق کښے خامخا غټه نښه ده پر وحدانیت او پر قدرت د حکیم مطلق
باندے لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ⑬ د هغه قوم د پاره چه پند په اخلے وَهُوَ الَّذِي او
دے هغه قادر مطلق دے سَخَّرَ الْبَحْرَ چه مسخر کړیدے ده سیند او دریاب چه هم
بیړی او جهازونه د چلو منافعو د پاره پکښے کرزوے او بل د ماهیانو ښکار پکښی
کوے لِتَأْكُلُوا مِنْهُ دده د پاره چه تاسی وخوری دده سیند او دریاب څخه یعنی
د ښکار څخه دده لَحْمًا طَرِيًّا تازه غوښه وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ او بل دده د پاره

چه تاسې راوباسئ ددې دریاب څخه په غوټه وهلو سره حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَاجٍ گیڼې
لکه ملغلرې او مرجان چه استعمالوئ یې تاسې یعنې ښځې ستاسې دپاره د ځان ښایسته
کولو تاسې ته نوگویا چه تاسې یې پخپله اغوندئ وَتَرَى الْفُلْكَ او بل دا چه ته به
دابیړۍ او جهازونه وینې مَوَاخِرَ فِيهِ روان په دې دریاب کښې چه څیرې پخپله
سینه سره دا او به ددې دپاره چه تاسې پورې باسئ و بعض مطالبو ته ستاسې
وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ او بل ددې دپاره چه تاسې لټوئ د فضله دده یعنې چه په دې
بیړیو کښې او جهازو کښې تاسې سپریږئ د ډیر مال سره وسوداگرۍ ته او د خدای څخه
گټه پکښې غواړئ چه موجب د فراخۍ د رزق دې وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ⑭ او بل دا چه
بنایي و تاسې ته چه شکر و کاږئ پردې نعمتو د خدای چه پر تاسې یې پیرزو کړیدې
وَاَلْقٰى فِى الْاَرْضِ او ده غورځولې دي یعنې پیدا کړې یې دي په دې ځمکه کښې رَوَاسِىَ
میخونه کلك یعنې غرونه په هغه وخت کښې چه دا خدای پیدا کړه کره پر سر دا وبو
او امکان دا و سیدلې و رباندې نه و ځکه چه شرقیده اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ ددې دپاره
چه قرار و د ریږي پر ځای چه تاسې نه شړقوئ وَاَنْهٰرًا او سیندونه او ولې یې
پکښې پیدا کړې لکه نیل او فرات او دجله او جیحون او سیحون او دا سې نور ډیر
سره وَسُبُلًا او لارې یې پکښې پیدا کړې د هر ځای څخه و بل ځای ته لَعَلَّكُمْ
تَهْتَدُوْنَ ⑮ بنایي چه تاسې لار پیدا کړئ و خپلو منازلو ته او مقاصدو ته وَعَلٰمٰتٍ ط
او نښې یې پیدا کړې دي د پاره د لارې و هونکو چه لار په معلومه کړی لکه منارې او غرونه
او ځنگلونه او دا سې نور ډیر سول وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ⑯ او په ستورو سره
دا قریش لاره پیدا کوي د شپې په سیند و او په داگو کښې په هغه وخت کښې چه په
سوداگرۍ پسې ځي لکه قطب او کوپ او نور هم او پیروني او تلې او دا سې نور
اَفَمَنْ يَّخْلُقُ آیا نو هغه څوك چه دا قول مخلوق پیدا کوي چه ځکې ذکر سوه كَمَنْ
لَّا يَخْلُقُ ط دا سې دي لکه هغه څوك چه صحیح شی نه سي پیدا کولای لکه دوې خدایان

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ⑰ ایا نو تاسے پند نه اخلئ چه خالق بیل او جلا کړے د غیر خالق څخه
وَاِنْ تَعُدُّوْا او که تاسے ددے اراده وکړے چه وشمیری نِعْمَةَ اللّٰهِ هغه نعمتونه د
خدا ے چه پر تاسے یے پیرزو کړیدی لَا تُحْصُوْهَا نو هیڅکله به یے و نه شمیرئ او هر
کله چه نعمتونه نه سی شمیرلے نو شکر به یے څنګه ادا کړے سره د قصوره اِنَّ
اللّٰهَ بیشکه چه خدا لَغَفُوْرٌ خاخا بخښونکے دے و مقصرانو ته د شکر دده رَّحِيْمٌ⑱
مهربان دے چه په دے تقصیر سره نعمت نه څنې بندوي وَاللّٰهُ يَعْلَمُ او خدا ے
پوهیږی مَا تُسِرُّوْنَ په هغه عقائدو سره چه تاسے یې پټوے وَمَا تُعْلِنُوْنَ⑲ او
په هغه اعمالو سره چه تاسے یې ښکاره کوے وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ او هر چه هغه باطل
خدایان دے چه دا د مکے اهل یې په خدایی سره بولے او سجدے ورته کوے مِنْ
دُوْنِ اللّٰهِ غیر د خدا یه لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا دوی نه سی پیدا کولای هیڅ شی وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ⑳
او حال دا چه دوے لا هم پیدا کړه سویدی او هر څوك چه هم مخلوق او هم ممکن او هم
محتاجه وی هغه کله لائق کیدلے سے ددے چه شریك سی د هغه چا چه هم خالق او
هم واجب الوجود او هم غنی وی بلکه دوے سره ددے مخلوقیت اَمْوَاتٌ مره دے
غَيْرُ اَحْيَآءٍ نه ژوندی څکه چه نه څه وینی او نه څه وایی او نه څه اوری وَمَا
يَشْعُرُوْنَ او نه په دے پوهیږی اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ㉑ چه کله به دوے را و پا څیږی سے ع۲ ۱۲ ۸
یعنے عابدان یې او څوك چه نه حیوۃ لری او نه شعور لرے دا سے چه په احوالو د
خپلو عابدانو واقف سے هغه کله لائق د معبودیت وے نو په دے تیرو خبرو
سره دا ثابته سوه چه لائق د معبودیت بل هیڅوك نه دے نو اِلٰهُكُمْ معبود
ستاسے چه دے اِلٰهٌ وَّاحِدٌ یګانه خدا ے دی یعنے یوازے بی شریکه فَالَّذِيْنَ
نو هر چه هغه کسان دے لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه باور نه لرے پر راتلو د قیامت
قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ زړونه ددوی نا اشنا او منکر دی د وحدانیت څخه د خدا وَّهُمْ
مُّسْتَكْبِرُوْنَ㉒ او دوی کبر او سرکشی کونکے دے د متابعت څخه د رسول یا د ایمان

د قبلولو ځنې لَا جَرَمَ رښتيا او واقعي دا خبره ده چه اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ بيشكه خدای
پوهيږي مَا يُسِرُّوْنَ په هغه مكر او فريب د رسول سره چه دوی يې پټوي وَمَا
يُعْلِنُوْنَ او په هغه جنګ او جګړه سره چه ښكاره كوي يې دوی د هغه سره اِنَّهٗ
بيشكه چه خدای لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ نه خوښوي متكبران او سركشان د
وحدانيت ځنې د خدای او د تصديق ځنې د رسول وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ او په هغه وخت
كښې چه دوی متكبرانو ته وويل شي مَّاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ دا څه شی را ليږلی دی
رب ستاسې پر رسول باندې قَالُوْٓا نو دوی وايې په جواب كښې چه اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾
خوشې قصې دي د پخوانيو خلكو نو رب العزت وايې چه دا ويل كوي دوی لِيَحْمِلُوْٓا
اَوْزَارَهُمْ د دې د پاره چه دوی په شا واخلي پيټي د خپلو ګناهو كَامِلَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ
د قيامت په ورځ پوره وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ او همدا شان واخلي پيټي د ګناهو د هغو
كسانو يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ چه ګمراه كړي يې دي په ناپوهې سره اَلَا سَآءَ واورئ
چه بد دی مَا يَزِرُوْنَ ﴿۲۵﴾ هغه خيل او پر پيټي چه په شا يې دوی اخلي روايت ع ۴ ۹
دی چه نمرود په بابل كښې پنځه زره ګزه يا دوه فرسخه ماڼۍ هسكه كړې وه چه اسمان
ته وخيژم او له خدای سره مقدمه كوم ناګاه خدای باد را وليږه او دا ماڼۍ يې
د بيخه را وغورځوله او قوم يې ټوله تر لاندې سوا و هلاك سوا و پرده خدای
غوماشه مسلطه كړه چه د پزې ځنې يې و مغزو ته ننوته او هلته بيا نيم وچ سوا و هغه
شروندی نيم يې څلور سوه كاله په مغزو كښې وواو دده ماغزه به يې خوړل او په دې
مړه كښې به يې سر هميشه چه پوم شی ټكول كيدی نو هلته به يې ساعت تيريدی او بيا به
ويره به خوندې سره يې هلاك كړې لكه چه وايې قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ په تحقيق سره مكر
كړی وو هغه كسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخكې تير سوي دي تر دې اهل د مكې په اراده كښې
د تكذيب د خپلو پيغمبرانو لكه نمرود يا ن كَاَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ نو را غلی خدای يعنې حكم
دده وا بادي ته د مينو د دوی د خرابولو د پاره مِّنَ الْقَوَاعِدِ د طرف ځنې د تهدا بود
بنيادي

دیوالو فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ نو راولویده پر دوی باندې بام د دوی د کورونو مِنْ فَوْقِهِمْ د
پاسه پر سرو د دوی وَاَتٰهُمُ الْعَذَابُ او راغلی دوی لره عذاب مِنْ حَيْثُ د
داسې طرفه څخه لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ چه دوی نه پوهیدل یعنې کښته د ځمکې د خواچه
اباده یې ټولې خرابې سولې ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ بیا د قیامت په ورځ يُخْزِيْهِمْ وبه
یې شرموي یا به یې په عذاب کړي په اور سره لکه چه په دنیا کښې یې په عذاب
کړي وه د ماهیو او د نورو میښو په نزول سره او د غوماشې په مسلط کولو سره
وَيَقُوْلُ او وبه وایي ورته خدای اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ چه چیرې دي یعنې او س څه
سول هغه زما شریکان ستاسې په زعم سره كُنْتُمْ تُشَآقُّوْنَ چه تاسې واست په
دنیا کښې چه مخالفت به موکاوه د رسول او د مؤمنانو سره فِيْهِمْ ط په باب د دې
شریکانو کښې قَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ نو وبه وایي هغه کسان چه علم ورلره ورکړه
سوی دی چه انبیاء او علماء دي چه دوی به یې وتوحید ته بلل یا ملائکې اِنَّ الْخِزْيَ
الْيَوْمَ چه بیشکه رسوایي او خواري چه د نن ورځ وَالسُّوْٓءَ او بدي یعنې عذاب چه د ی
عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۷﴾ الَّذِيْنَ پر هغه کافرانو دي تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ چه وفاتوي دوی
یعنې قبضوي ارواح د دوی ملائکې ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ص په داسې حال کښې چه ظلم
کوونکي وي دوی پر خپلو ځانو باندې په کفر سره او بیا چه مرګ و وینی فَاَلْقَوُا السَّلَمَ
نو دوی به راواړاندې کړي صلح او اقرار به وکړي په وحدانیت او ربوبیت سره او
انکار به وکړي د هرې بدۍ څخه نو وبه وایي مَا كُنَّا نَعْمَلُ نه وو موږ چه عمل به موکاوه
مِنْ سُوْٓءٍ ط د هیڅ قسم بدۍ نه د کفر او نه د ظلم چه شرک وو او نه د معصیت نو رب العزت
به ورته ووایي بَلٰٓى چه ولې نه کاوه بلکه کاوه تاسې کفر او معصیت او او س د رواغ
وایاست اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بیشکه چه خدای ښه دانا دی بِمَا كُنْتُمْ په هغه کار و سره
چه تاسې واست په دنیا کښې تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾ چه کړل به موکار فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ نو ننوزئ
او س د دوزخ په دروازو کښې یا په هغه د رکاتو د دوزخ کښې چه تیار کړه سوي دي وتاسې ته

خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ط په دا سې حال کښې چه همیشه اوسې به هغه کښې فَلَبِئْسَ نو خامخا بد دے
مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِیْنَ ﴿۲۹﴾ ځای د استوګنې د متکبرانو دا دوزخ وَقِیْلَ او چه وویل شے
لِلَّذِیْنَ اتَّقَوْا وهغو کسانو ته چه ځان یې ساتلے دے د شرکه څخه چه مؤمنان دے
مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ چه دا څه شی دے چه رب ستاسو رالیږلے دے قَالُوْا خَیْرًا ط نو
دوے وایي چه خیر زموږ رب یې رالیږلے دے یعنې قرآن چه جامع دے د ټولو انواعو
د خیراو د برکت او د نیکی هم صورةً اوهم معنیً هم په دنیا اوهم په آخرت کښې
لِلَّذِیْنَ اَحْسَنُوْا مقرر دے هغو کسانو لره چه نیکي یې کړیده هم قولي اوهم فعلي او
هم مالي یا چه ویلې یې ده کلمه د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا په
دے دنیا کښې حَسَنَةٌ ط نیکي د طرفه څخه د خدای په عوض کښې د نیکې د دوی او نیکي د
خدای په امان کیدل دے د سر او د مال د دوی او عزت او نصرت او فتح ده پر اعداؤ
باندې وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ او خامخا هغه جهان چه دے یعنې هغه ثواب اوجزا یې
چه ورکول کیږي دوی ته به هغه خَیْرٌ ط ډیر غوره دے تر جزاء د دے دنیا وَلَنِعْمَ دَارُ
الْمُتَّقِیْنَ ﴿۳۰﴾ او خامخا ښه دے ځای د استوګنې د پرهیزګارانو جنت او هغه دار د
متقیانو چه دے جَنّٰتُ عَدْنٍ باغونه د اقامت به وي یَدْخُلُوْنَهَا چه داخل به سی
دوی په هغه باغو کښې تَجْرِیْ چه بهیږي به مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لاندې د ونو یا د مینو
د دوی څخه سره د ښه وي لَهُمْ فِیْهَا چه وي به دوی لره په دے باغو کښې مَا یَشَآءُوْنَ ط
هر هغه شی چه اراده یې وکړي دوی د انواعو د مشتهیاتو او د هغو شیانو په دوی چه خوښ وي او تکبیر یې
كَذٰلِكَ په شان د دغه جزا یَجْزِی اللّٰهُ الْمُتَّقِیْنَ ﴿۳۱﴾ الَّذِیْنَ جزا ورکوي خدای هغه متقیانو
ته تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ چه قبضوي یې روح ملائکې طَیِّبِیْنَ لا پاک د ظلم څخه پر خپل
ځان په کفر او په معاصیو سره یا خوشحاله د ملایکو په زیره یَقُوْلُوْنَ چه وایي به
دا ملایکې و دوی ته په وخت د نزع د روح کښې سَلٰمٌ عَلَیْكُمْ لا چه سلام دې وي د خدای
پر تاسو او بیا په آخرت کښې به ورته وایي چه اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ ننوځئ په دې جنت

کښې چه تا سو له مقرر سوې دی بِمَا كُنْتُمْ په سبب د هغو نيکوسره چه واست
تا سو په دنيا کښې تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۲﴾ چه کوله به مو هَلْ يَنْظُرُوْنَ ايا انتظار کوي دا کفار
يعني نه یې کوي د هيڅ شی اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ مگر دوې خبره چه راشي دوي ته
ملائکې د پاره دقبض کولو د روحانو اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ رَبِّكَ ط يا چه راسي ورته فرمان د
رب ستا يعني عذاب بيخکن يا قيامت كَذٰلِكَ په مثل ددغه شرك او تكذيب ددوي
فَعَلَ الَّذِيْنَ فعل کړی وو هغه کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه تردوې مخکې تيرسوي وه لکه عاد
او ثمود او مؤتفکات او دا سې نور ديرسوه نو هغو ته ورسيده هر هغه چه ورسيده
وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ او ظلم نه وو کړې ـــ پر دوې خداې دا چه هلاك يې کړه
وَلٰكِنْ كَانُوْٓا او ليکن دوي وه اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ چه پر خپلو ځانو به يې ظلم کاوه په
کفر او په معاصيوسره فَاَصَابَهُمْ نو ورسيده دوې ته سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا جزا د هغه
بدیو چه دوه کړې وی وَحَاقَ بِهِمْ مَّا او نازل يعني محيط سو پر دوي هغه موعود عذاب
۴ ع ۹ ۱۰ كَانُوْا بِهٖ چه دوې وه چه په هغه عذاب پورې يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۴﴾ مسخرې به يې کولې
وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا او ويل به هغه کسانو چه شرك يې اختيار کړې وو لَوْ شَآءَ اللّٰهُ
که د خدای اراده وای مَا عَبَدْنَا نو عبادت به نه وو کړې مونږ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ
غير دده د هيڅ شی نَّحْنُ وَلَآ اٰبَآؤُنَا نه مونږ او نه پلرونه مونږ وَلَا حَرَّمْنَا او نه به
وا حرام کړې مونږ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ط بيله حکمته دده هيڅ شی نه بحيره او نه
سائبه او نه وصيله او نه حام كَذٰلِكَ په مثل د کړو د ارو د مکې د خلګو فَعَلَ الَّذِيْنَ کار
کړې وو هغو کسانو مِنْ قَبْلِهِمْ چه مخکې تردوې تيرسوي وو چه شرك او تكذيب او تحريم
د حلال او تحليل د حرام به يې کاوه فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ ايا سته پر رسولانو يعني هيڅ
و ربانده نسته اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۵﴾ مگر دا چه پيغام رسول دې چه حق لاره ښيي و
سړي ته وَلَقَدْ بَعَثْنَا او خامخا په تحقيق سره ليږلې وه مونږ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا
په هره قولې د ځوانيو کښې يو پيغمبر لکه ته چه ودوي ته راغلې يې او هر رسول به مامور وه

دو په دے سره چه وچل قوم ته ووایه اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ دا چه عبادت کوے یواځے د خدائے
وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ اوځان ساتئ دعبادت څخه د طاغوت چه شیطان دے فَمِنْهُمْ
مَّنْ نو بعضے د دوے څخه هغه څوك وو هَدَى اللّٰهُ چه خدائے سمه لار ورو ښوولہ
اود ایمان توفیق یې ورکړے وَمِنْهُمْ مَّنْ اوبعض د دوی څخه هغه څوك وو حَقَّتْ
عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ط چه واجب شوه پر هغه ګمراهي په خذلان الهی سره فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ
نو وګرځئ اے مشرکانو په ځمکه کښے فَانْظُرُوْا نو وګورئ په نظر د عبرت سره كَيْفَ
كَانَ چه څرنګه وو عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ (۳۶) خاتمه د تکذیب کونکو د عاد یانو او ثمودیانو
او د اسے نور ویرانَ تَحْرِصْ که ته ډیر حرص او کوشش وکړے اے زما رسوله عَلٰى
هُدٰىهُمْ پر لار د موندلو د دے مشرکانو فَاِنَّ اللّٰهَ نو بیشکه چه خدائے لَا يَهْدِيْ مَنْ
يُّضِلُّ سمه لار نه ښیي هغه چا ته چه ګمراه کوے یې وَمَا لَهُمْ او نه به وي د دے
ګمراهانو ته مِّنْ نّٰصِرِيْنَ (۳۷) هیڅوك د مدد ګارانو او یارانو څخه روایت دے چه د یوه
مسلمان پر یوه کافر باندے قرض وو نو دے مسلمان د قرض غوښتو په وخت کښی
په یوه کار پورے وویل چه قسم دے په هغه خدائے چه پس د مرګه یې د ملاقات اُمید
واریم نو دے کافر ورته وویل چه ته پس د مرګه لا د ژوند اُمید لرے نو ده وویل چه
هو لرم یې نو بیا دے کافر ډیر سخت قسمونه وکړل چه پس د مرګه به بیا هیڅوك ژوندے
نه شي نو نازل شو وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ او دوی قسمونه کوے په خدائے سره جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لا
په هغه سختو غلیظو قسمو خپلو سره لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ چه ژوندے به نه کړے خدائے بیا
مَنْ يَّمُوْتُ ط هغه څوك چه یو وار مړ شي نو رب العزت وایی چه بَلٰى ولی به ژوندی
نه کړے بلکه ژوندے به یې کړے ځکه چه خدائے د دے دویم ژوند وعده کړیده وَعْدًا
عَلَيْهِ په وعدہ کولو سره دا سے وعده چه لازم کړیده په ځان ترسره کول د دے وعدے
حَقًّا وعده رښتینی چه هیڅ شك پکښے نشته وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ او لیکن زیات
خلك چه دي لَا يَعْلَمُوْنَ (۳۸) دوی نه پوهیږي په دے سره او دا خلك چه بیا ژوندے

کوے بہ یے خدائے غرض ځنی دادے لِیُبَیِّنَ لَهُمُ الَّذِي یودۓ دپاره چه بیان او
ښکاره کړے خدائے ورته هغه بعث او حشر یَخْتَلِفُونَ فِیهِ چه دۓ په هغه کښې اختلاف
کوے وَلِیَعْلَمَ الَّذِینَ كَفَرُوٓا او بل ددے دپاره چه خدائے معلوم کړے هغه کسان چه
کافران سوے دی أَنَّهُمْ دا خبره چه بیشکه دوے كَانُوا كَٰذِبِینَ ﴿۳۹﴾ وه دوے درواغجن
په دے انکار کښې د قیامت د راتلو او دا بعث او حشر هیڅ سخت نه دے پر موږ ځکه
چه إِنَّمَا قَوْلُنَا بیشکه هم دا خبره ده چه ویل زموږ چه دے لِشَيْءٍ ویوه شي ته د
شیانو إِذَآ أَرَدْنَٰهُ په هغه وخت چه موږ د هغه د پیدا کولو اراده وکړو أَن نَّقُولَ لَهُ
كُن هم دا قدر ده چه موږ وهغه شی ته ووایو چه موجود سه فَیَكُونُ ﴿۴۰﴾ نو هغه فی ع ۵ ۹ ۱۱
الحاله موجود سے روایت دے چه ومدینی ته تر هجرت د مخه د کفارو د لاسه پر
اصحابو ډیره سختی راغله نو بعضے ځنی وحبشو ته ولاړل او هلته په ډیر غربت غربت
کښې وو نو پروردګار د فراخے وعده ورسره وکړه نو نازل سو وَالَّذِینَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ
او هغه کسان چه وطن یے پرایښے دی په اداکولو سره د حق د خدائے چه راضے سی
مِنۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا او وروسته تر هغه چه ظلم پر وکړه سو لَنُبَوِّئَنَّهُمْ خامخا به موږ
ځای ورکړو ودوے ته فِي الدُّنْیَا په دنیا کښې حَسَنَةً ښه ځای دا استوګنے چه
مدینه منوره ده وَلَأَجْرُ الْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ او خامخا د هغه جهان اجر چه دۓ ډیر لوی
او غوره دے د دنیا تر اجره لَوْ كَانُوا یَعْلَمُونَ ﴿۴۱﴾ که داکفار وائے چه پوهیدلای چه
ومهاجرو ته خدائے په دواړو جهانو کښې غوره برخه ورکړه نو دوے به هم ورسره
موافقت کړے وو په ایمان او په هجرت کښې یا که ودوے مهاجرو ته خپل اجر معلوم
سوے وو نو لا ډیر کوښښ او صبر به یے کاوه الَّذِینَ صَبَرُوا آفرین دی پر هغو
کسانو چه صبر یے کړیدۓ د خپل وطن ځنی او د کفارو پر ایذاء باندے وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ او
خاص پر خپل رب یَتَوَكَّلُونَ ﴿۴۲﴾ توکل کوے په هر شی کښې روایت دے چه هر کله
قریشو و ویل چه خدائے لوئے تر دے کار چه رسول د ده بشر وے بلکه ملایکه به

بې رالیږلې وه که یې د ارسال اراده وای نو د پاره دَرَد د قول د دوی نازل سو وَمَآ
اَرۡسَلۡنَا او نه وه رالیږلې موږ مِنۡ قَبۡلِكَ مخکې تر تا اِلَّا رِجَالًا مګر سړي ستا په
شان د انسانانو څخه نُّوۡحِیۡۤ اِلَیۡهِمۡ چه پیغام به وکړې موږ و دوی ته یعنې زموږ
څخوانۍ عادت همدا سې جاري دی چه رسول بنی آدم رالیږو نه ملائکه فَسۡـَٔلُوۡۤا
اَهۡلَ الذِّكۡرِ نو وپوښتی تاسې اهل کتاب یعنې عالمان د دوی اِنۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۳﴾
که یاست تاسې چه نه پوهیږئ چه څخوانی رسولان به تول آدمیان وه
اود ارسولان رالیږلې وه موږ بِالۡبَیِّنٰتِ وَالزُّبُرِ په ښکاره معجزو او په کتابو سره
وَاَنۡزَلۡنَاۤ اِلَیۡكَ الذِّكۡرَ او رالیږلې دې موږ و تا ته پند چه قرآن دے لِتُبَیِّنَ لِلنَّاسِ
یو د دې د پاره چه ته وخلګو ته بیان کړې مَا نُزِّلَ اِلَیۡهِمۡ هغه چه رالیږل سوي دي و دوی
ته په دې قرآن کښې د اوامر او د نواهي و څخه وَلَعَلَّهُمۡ یَتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۴۴﴾ او بل د دې نصف
د پاره چه ښایې چه دوی فکر وکړي چه دا کلام د مخلوق نه دے اَفَاَمِنَ الَّذِیۡنَ آیا نو په
امان سول هغه کسان مَكَرُوا السَّیِّاٰتِ چه مکرونه او فریبونه د بدۍ کړیدي د پاره د
هلاکولو د پیغمبر انو اَنۡ یَّخۡسِفَ اللّٰهُ د دې څخه چه خدای وچوي خدای بِهِمُ
الۡاَرۡضَ پر دوی مځکه د قارون په شان اَوۡ یَاۡتِیَهُمُ الۡعَذَابُ یا د دې څخه چه راسي
ورلره عذاب د خدای مِنۡ حَیۡثُ لَا یَشۡعُرُوۡنَ ﴿۴۵﴾ د داسې طرفه څخه چه دوی نه پوهیږي
او نه یې د هغه طرفه د راتلو طمع وي د لوط د قوم په شان اَوۡ یَاۡخُذَهُمۡ یا د دې
څخه چه خدای یې ونیسي فِیۡ تَقَلُّبِهِمۡ په وخت کښې د ګرځیدلو د دوی د سوداګرۍ
د پاره دیوه ښاره څخه و بل ښار ته یا په وخت کښې د اوښتلو دیوه اړخ څخه و بل اړخ
ته فَمَا هُمۡ بِمُعۡجِزِیۡنَ ﴿۴۶﴾ نو نه دي دوی عاجزه کوونکي د خدای د عذاب د
رالیږلو څخه په یوه وخت کښې هم دی د رو وختو څخه اَوۡ یَاۡخُذَهُمۡ یا د دې څخه
چه خدای دوی ونیسي عَلٰی تَخَوُّفٍ دا علی تَنَقُّص یعنې په وړو وړو کمولو سره
دوی په دې شان سره چه یوه ورځ یې باغ د هغې بله ورځ یې مځکه

بله ورځ یې زنده سر بله ورځ یې خپل ځان مقابل د تیر ایت چه من حیث لا
یشعرون ده فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ نو بیشکه چه رب ستاسې خامخا مهربانه دے
چه صبر کوے وخپلو بندگانو ته رَّحِيمٌ ﴿۴۷﴾ رحم کونکے دے پر دوے چه د عذاب
په لیږلو سره تلوار نه کوے پردوے أَوَلَمْ يَرَوْا ایا نه گوری داکفار إِلَىٰ مَا خَلَقَ
اللَّهُ وهر هغه تنه داره ته چه خدائے پیدا کړید مِن شَيْءٍ د یو شی څخه چه حیوان
اوکه نبات اوکه جماد دی يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ چه گردگرزی او اړخ پر اړخ اوړی سیوری
د هغه عَنِ الْيَمِينِ د ښی طرفه څخه وَالشَّمَائِلِ او چپو طرفو څخه سُجَّدًا لِّلَّهِ په داسی
حال کښے چه سجده کونکی دے داسیوری وخدائے ته وَهُمْ دَاخِرُونَ ﴿۴۸﴾ اوحال دا چه دغه
شیان خوار ذلیل متواضع وی وحکم ته د خدائے وَلِلَّهِ يَسْجُدُ او خاص وخدائے ته
سجده کوے مَا فِي السَّمَاوَاتِ هر هغه چه په اسمانو کښے دی وَمَا فِي الْأَرْضِ او هر هغه
چه په مځکه کښے دے مِن دَابَّةٍ وَالْمَلَائِكَةُ د گرزیدونکو څخه پر مځکه او ملایکی هم
یعنے دا ټول سجده کوے وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿۴۹﴾ او حال دا چه دوی کبر لو سرکشے
نه کوے د ده څخه فائده :- صاحب د تبیان ویلے دی چه سجده پر دوه قسمه ده یوه
سجده د عبادت ده او هغه دا ده چه تندی اینبو دلو سره وی پر مځکه بالذات او دا سجده خاص
د ذوی العقولو ده او بله سجده محض د تسخیر داه و د تذلل داه و د خضوع ده بیله اینبودلو
د تندی او دا سجده د غیر ذوی العقول ده يَخَافُونَ رَبَّهُم بیریږی دا ملایکی د خپله
رب څخه مِّن فَوْقِهِمْ د فوق خپل یعنے د دے څخه بیریږی چه د پاسه په عذاب
راولیږی یا څنی بیریږی په داسے حال کښے چه د دے پر د پاسه او سر بیره د ے
په تهر او غلبه کښے وَيَفْعَلُونَ او دوی کوے مَا يُؤْمَرُونَ ﴿۵۰﴾ هر هغه کار چه په
مأموره کیږے که ذکر وے او که نور عبادت وے وَقَالَ اللَّهُ او خدائے ویلی دی
لَا تَتَّخِذُوا إِلَٰهَيْنِ اثْنَيْنِ چه مه نیسی دوه خدایان او لفظ د اثنین محض د
تاکید د پاره دے إِنَّمَا هُوَ بیشکه هم دا خبره ده چه خدائے چه دے إِلَٰهٌ وَاحِدٌ

معبود یگانه دے بے شریکه یعنی د الوهیت سره وحدت لازم دے ځکه چه دا حکم په
اَدِلّه واضحه (بنکاره دلیلو سره) ثابت شوے دے چه الوهیت شرکت نه قبلوی لکه شاعر چه ویلی دے

رباعی :- أربا واحدًا ام الف رب   ادین اذا تقسمت الامور
عه ترکت اللّٰت والعزّٰی جمیعًا   کذالك یفعل الرجل البصیر

فَاِيَّایَ نو خاص د ما څخه فَارْهَبُوْنِ ﴿۵۱﴾ نو را څخه وبیریږئ او دا التفات د غیبته
څخه وتکلم ته د مبالغې د پاره دے په بیرولو کښې وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ او خاص هم
د ده لره دے هر هغه چه په اسمانو کښې دے وَالْاَرْضِ او چه په ځمکه کښې دی په طریقه
د مملوکیت سره وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا او خاص هم د ده لره دے طاعت او عبادت واجب
او لازم چه هم دے معبود دے یوازے اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾ آیا نو غیر د خدائے
څخه د بل چا څخه بیریږئ تاسے او سره د دے چه ضارّ (ضرر رسونکے) او نافع (نفع رسونکے) هم دے لکه پخپله چه
وائی وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ او هر هغه چه د تاسے څخه دے د یو قسم نعمت یعنی چه تاسے ته
رسیدلی دی پټ یا ښکاره لوے یا کوچنے دینی یا دنیوی یا علمی یا عملی داخلی یا خارجی
جلبی یا سلبی فَمِنَ اللّٰهِ نو دا ټوله د جانبه څخه د خدائے دی ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ
نو د هغه څخه چه بیا وتاسے ته ورسیږی یو نوع سختی لکه مرض یا ناداری یا قحطی یا
غرق یا حرق یا یوه بله سختی وی فَاِلَيْهِ تَجْئَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ نو خاص هم وده ته فریاد او
زاری کوئ ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ نو وروسته تر هغه بیا هغه وخت چه دا
سختی لرې کړے د تاسے څخه اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ ناګاه یوه ډله د تاسے څخه چه هغه
کفار دے بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ د رب خپل سره شریکوی بل څوك په عبادت کښې او
یا په لیرے کولو کښې د سختئ او په راوستلو کښې د نعمت لِيَكْفُرُوْا بِمَا اٰتَيْنٰهُمْ د دے
د پاره چه کفران او بے قدرے وکړی دوی په هغه شی پورے چه ور کړے وو موږ
دوی ته که نعمت وو او که کشف د زحمت وو فَتَمَتَّعُوْا اَلْتُّز معاش کوئ په دنیا کښې

عه آیا دیو رب عبادت کوم یا د زرو   کاروونه چه تویش سی نو ما ور وره
عزّی به پریږدم هم لات ور سره   د بینا ؤ د غه کار دے زما ور وره

یو خو ورځ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ نو ژر دی چه تاسو به معلوم کړی عاقبت د خپل کار
وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ او مقرروي دا کفار د هغه بتانو د پاره چه په هیڅ نه پوهیږی
څکه چه جمادات دی یا چه د وی خپله نه پوهیږی په احوال او عاقبت د دی بتانو او
بی ځایه اعتقاد پر کوی چه دوی به وموږ ته نفعه ورسوی او ضرر به را څخه دفعه
کوی او بیا به په قیامت نه موږ شفاعت هم وکړی نو هغه بتانو ته دوی مقرروی
نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ط برخه د هغه کبنتو او چارپایانو چه موږ ورکړی دی ودوی ته
لکه چه په سورة انعام کښې دده قصه قوله بیان تیر سویدی تَاللّٰهِ قسم دی په خدای
لَتُسْئَلُنَّ چه خامخا به تاسی وپوښتل سی په قیامت کښې عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۶﴾ د هغه
څخه چه تاسی دروغ تړی په خدای پوری په دی ویلو سره چه دا بتان نه موږ خدایان
دی او په دی برخه مقرری ولو سره موږ وو دوی ته نژدیکت کوو چه بیا نه موږ شفاعت
وکړی وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ او بل دا چه دوی وخدای ته لوڼی پیدا کوی لکه خزاعوو
او کنانوو به ویله چه ملائکې د خدای لوڼی دی سُبْحٰنَهٗ پاك دی دی د دی څخه
چه لوڼی ولری وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۵۷﴾ او دوی لره دی یعنی د وی خوښوی ځانو
لره هغه شی چه اشتها ددوی ورته کیږی چه زامن دی وَاِذَا بُشِّرَ او په هغه
وخت کښې چه زیری ورسی اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى پریوه د دوی د لور په پیداکید لو
سره یعنی وکوم کافر ته چه څوك ووایی چه لور در دی پیدا سوه ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا
نو وګرزی مخ دده تك تور د ډیره غمه او شرمندګی څخه د خپل قوم په مخ کښې
وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۵۸﴾ او حال دا چه دی ډك وی د قهره پر خپله ښځه چه لور دی
ولی راوړه يَتَوَارٰى پټیږی او پر ځنك ګرزی مِنَ الْقَوْمِ د خپل قوم څخه مِنْ سُوْٓءِ
مَا بُشِّرَ بِهٖ ط له بدی او له خفګانه څخه د هغه شی چه زیری سویدی پر ده د هغه شی
چه لوروه او دی حیران وی په دی د وو کارو کښې چه اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ آیا
دی وساتی دا مولود سره د خواری او ذلته اَمْ يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ط او که یبی پټ کړی

دے په خاوره وکښې یعنی چه ژوندې ښخه کړے اَلَاسَآءَ واورے چه بد دے
مَا یَحۡکُمُوۡنَ (۵۹) هغه چه حکم کوے دا مشرکان چه نسبت دولادت دی وخدائے
ته لِلَّذِیۡنَ دے هغو کسانو لره لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ چه باور نه لرے په هغه جهان
مَثَلُ السَّوۡءِ بد صفت چه حاجت والي دخدائے وښځے او اولادته او دځان په
حق کښې دزامنو ساتل او د لوڼو په مخکه کښے ژوندۍ ښخول غواړی وَلِلّٰهِ الۡمَثَلُ
الۡاَعۡلٰی او خدائے لره دے ښه صفت بلند شان دے چه وجوب ذاتی او غناء
مطلق دے او پاکی د هم دښځے او هم د اولاده وَهُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ (۶۰) او دے
غالب او قادر دے په هلاك دکفارو حکم کوونکی دے په مهلت ددوی ترمعلومه
وخته پورے وَلَوۡ یُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ او که نیولای خدائے داخلق بِظُلۡمِهِمۡ
په ظلم یعنې په کفر او په معاصیو سره ددوے مَّا تَرَكَ عَلَیۡهَا نو نه به یے وو پرې ایښے
پرځ ددی مځکے مِنۡ دَآبَّةٍ هیڅ گرځیدونکی بلکه قوله به یے په یوه وار هلاك کړے
وای په وجه دخپل ظلم وَّلٰكِنۡ یُّؤَخِّرُهُمۡ او لیکن مهلت ورکوے ودوے ته اِلٰۤی
اَجَلٍ مُّسَمًّی ترهغه وخته پورے چه په نامه کړه سویدے دعذاب دپاره یا دمرګ
دپاره فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمۡ نو په هغه وخت کښے چه راغله هغه وعدګاه دعذاب یا
دمرګ ددوے لَا یَسۡتَاۡخِرُوۡنَ سَاعَةً نو نه به وروسته کیږے دوے ترهغه
وخته یو ساعت هم وَّلَا یَسۡتَقۡدِمُوۡنَ (۶۱) او نه به ځنی مخ ته کیږے وَیَجۡعَلُوۡنَ لِلّٰهِ
او پیدا کوے دوے وخدائے ته او منسوبه کوے ورته مَا یَكۡرَهُوۡنَ هغه شی چه دوی
یے وخپل ځان ته نه خوښوے او نفرت ځنے کوے یعنی خدای لره هم لوڼی او شریکان
پیدا کوے او خپل ځان ته نه لوڼی او نه شریکان خوښوے په مشری کښے وَتَصِفُ
اَلۡسِنَتُهُمُ الۡكَذِبَ او سره له دے چه ددوی ژبی دروغ وائی چه دادی اَنَّ لَهُمُ
الۡحُسۡنٰی چه بیشکه ودوے ته به لوړه مرتبه دخدائے شته وے که دوے بیا
ژوندے سی یا به جنت وے نو رب العزت وائی چه دوے دا قوله دروغ وایے

بلکه لَا جَرَمَ حق او واقعي داده چه اَنَّ لَهُمُ النَّارَ بیشکه دوی لره مقرر دے اور د
دوزخ وَاَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ ﴿۶۲﴾ او بیا بیشکه چه دوے ژر بیول سوی به وی یا پر
اینبي او هیر کړه سوی به وی په هغه اور کښی او بیا د رسول د تسلی د پاره وایی
تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ قسم په خدای چه خامخا په تحقیق سره را لیږلی وه مونږ پیغمبران
اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ وهغه ټولیو ته چه تیر سوی دی مخکے تر تا فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ نو
بنایسته کړی وه ودوے ته شیطان اَعْمَالَهُمْ هغه بدعملونه د دوی نو کلک به پر
ولاړ وو فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ نو دا شیطان دوست د دوی دی نن ورځ وَلَهُمْ عَذَابٌ
اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ او مقرر دے دوی لره دردناکه عذاب وَمَآ اَنْزَلْنَا اونه دے را لیږلے مونږ
عَلَيْكَ الْكِتٰبَ پر تا دا کتاب یعنی قران اِلَّا لِتُبَيِّنَ مگر د دے د پاره چه بیان او ښکاره
کړے ته لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ودوی ته هغه شی چه دوی اختلاف کړی په هغه
کښے چه توحید او قیامت دے وَهُدًى وَّرَحْمَةً او رهنمایی او رحمت دی دا قران.
لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۶۴﴾ د هغه قوم د پاره چه ایمان راوړي وَاللّٰهُ اَنْزَلَ او خدای را
لیږلے دے مِنَ السَّمَآءِ مَآءً د اسمان د طرفه څخه یعنی د اوریځی څخه اوبه فَاَحْيَا
بِهِ الْاَرْضَ نو ژوندی کړے یعنے شنه یے کړے په دی اوبو سره د ا ځمکه بَعْدَ مَوْتِهَا
وروسته ترمړلو د دے یعنے وچوالے د دے اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په د دے
شنه کولو کښے تر وچوالے وروسته لَاٰيَةً خامخا ډیره لویه نښه ده پر قدرت کامله
۸ ع ۵ ۱۴ زمونږ باندے لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۵﴾ د هغه قوم د پاره چه اوریدله د زړه په غوږ
سره کوے او بیا عبرت هم په اخلی روایت دے د اطباؤ (طبیبانو) څخه هر کله حیوان
یوه غذا په خوله کړے (وخوری) نو د دے وخته څخه تر هغه وخته پورے چه د اجزء کیږی د
د غه حیوان څخه څلور هضمه ور ته راځی اول هضم یے د خولے څخه تر معدی
پورے د اسے چه په خوله کښے یے واړوے او بیا یی په غاښو میده کړے او بیا و
معدے ته ورسی او هلته د حرارت غریزی په واسطه سره جوش وخوره نو بیا

طبیعه ۱۲

نرم او کلک سره بیل شی نو هضم اول دلته تمام سی او کلک یې چه فضله ده د دے
هضم غائط یا خوشایی یا خرشنه یا پوچی سی او طبیعت یے دفعه کړی (ورکړی) وکلمو ته
داخراج دپاره او دویم یے دمعدے ځخه تر اینے (ینڅو ترا) پورے داسے دی دالعاب چه
کیلوس بلل کیږی ے بیا دمعدے ځخه دهغو رګو په واسطه چه ماساریقا نومیږی اینے ته
ولاړ سی او هلته جوش وخوری نو دا بیا کیموس بلل کیږی او په دے کیموس کښے
بیا څلور خلطه پیدا سے د قدرے ماشیه ځخه او هغه څلور خلطه صفراء او سوداء او
بلغم او وینه دے صفراء ترخی ته ولاړه سی او سوداء توری ته نو هضم ثانی (دویم) دلته
تمام سی او هغه رطوبت چه دهغه قدر دحاجت ځخه زیات سی په دی کښی چه
فضله ده دے هضم ده هغه بولے سی او طبیعت یے دفعه کړے وپښتورګو ته او هغه یے
بیا دفعه کړے ومثانے ته داخراج دپاره او دریم یے داینے ځخه دے تر اخره پورے د
عروقو (رګو) داسے چه او وینه او بلغم سره خلط (ګډ) په رګو کښے رواں سی لکه اوبه په لښتی کښے
سره دیو ځخه قدر صفرا د یخولو دپاره او یو ځخه قدره او بوره نرمولو دپاره ده دے دوو خلطو
نو هضم ثالث دلته تمام سے او هغه خیرے چه فضله ده دے نو طبیعت یے وپوستکے
ته دفعه کړے داخراج دپاره او څلورم هضم یے دعروقو (رګو) ځخه دی تر منتهی (اخر)
پورے د تولو اعضاؤ د بدن داسے چه دلوګه ځخه تر سره پورے دا مخلوط د وینو
او د بلغم راکشوے او په تولو اعضاؤ کښے یے خپور کړے نو چه غوښے ته ولاړ سی نو
هلته غوښه سی او چه هډوکی ته ولاړ سی هلته هډوکی سی او چه مغزو ته ولاړ سی
نو هلته ماغزه سی نو هضم رابع دلته تمام سی او هغه سرهری چه فضله ده د دے
هضم نو طبیعت یے دفعه کړے وماغ ته او دے دماغ ځخه یے بیا دفعه کړے په
هغو وو رګو کښے چه تر غوږو وو روسته کښته تللی دے د ملا د بندو و معزو ته
بیا یے دوے معزو ځخه دفعه کړے په هغه رګو کښے چه پر انثیین (خایه) لګید لے دی دانثیینو
ته او هلته بیا منی سی او ذخیره سی دپاره دابقاء د نوعے مګر دا هلته که

او دا پاته کیدو د انسانیت ۱۲

حیوان نر وو اوکه بنځه وه نو په هغې کښې اخلاط زیات وی ترڅو دغذا د دے
په سبب د غلبې د برودت او رطوبت په مزاج د دے کښې بیا که دا بنځه حامله
وه نو هغې ته زیاته تری اورطوبت ورسی دپاره د غذا د جنین او بیا چه دا جنین
پیدا سے نو هغه رطوبت غولا نزی ،،وتیازہ، ته ورسی او هلته بیا سپین سے ځکه
چه دا غولا نزے سپینی پلے دے نو دا هم رنلږ ځنی واخلے لکه چه وایے وَاِنَّ
لَکُمْ او بیشکه چه دے تاسے لره فِی الْاَنْعَامِ لَعِبْرَۃً د په دے چارپایانو کښے خاځا
دیرلوے عبرت دے چه موجب دے د عبور یعنی د تیریدلو د جهله ځخه وعلم ته
اوهغه دادے نُسْقِیْکُمْ مِّمَّا چه وڅکوو موږ په تاسے دهغه شی ځخه فِیْ بُطُوْنِهٖ
چه په نسو کښی دیوے نوعے د دے چارپایانو ځچه هغه لنګی دے مِنْۢ بَیْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ
په مابین کښے د خوشیواو وینو لَّبَنًا خَالِصًا شیدی صافی او پاکی دخوشیودبوی
ځخه اود وینو د رنګه ځخه سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِیْنَ ﴿۶۶﴾ بنسوی تیریدونکے ترحلق او خوندور
دپاره د چیبنونکو وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِیْلِ او د هغو میوو ځخه دخرما گانو هم وَالْاَعْنَابِ
اود میوو ځخه د تا کوهم هدا سے چیبنو موږ په تاسے سره په دے شان سره چه
تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ جوړوی تاسے د دے میوو ځخه یعنے دلعاب ځخه د دے سَکَرًا
سکراو سکراو بو دخرما گانو ته وایے او دا بیا هلته حکم دخمر وواخلے چه جوش
وخورے او بنه تینګښت سی اوبے سُدئے پیداکړے اوکه داپکښی نه وه ،،یعنی بےسُدے
نه راولے ،، نو حلال دے په اتفاق سره حاصل دا چه جوړوی ځنی تاسی هغه
سکرچه بے سده کونکے دی لکه خمر وَرِزْقًا حَسَنًا او بل روزی بنایسته لکه
سرکه او خرما او دا سی نور دیرسوه او بیا په دے ایت کښی دوه احتماله دی
یو دا چه دا حکم پخوا له تحریمه دخمره وه او اوس منسوخ سوئے او بل دا چه دا
ایت جامع دے دعتاب او داحسان اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ بیشکه چه په دے میوو
کښے که لندی وی اوکه وچې اوکه بیا نور څه ځنی سوی وی لکه سرکه یا داسی بل

شي لَاٰيَةً خا مخا د يره لويه نښه ده پرحکمت بالغه باندې لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ د هغه قوم دپاره چه عقل پکښې چلوي او نظر د تامل پکښې کوي وَاَوْحٰى رَبُّكَ او الهام وکړو رب ستا اِلَى النَّحْلِ د شاتو و چمو چې ته يعنې د دوي په زړه کښې يې واچول اَنِ اتَّخِذِيْ دا خبره چه و نيسي او جوړوي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا د غرو ځنې يعنې په سوريو او په چاودو د هغو کښې خالي چه پز شپز کونجه برابرې خانې لره چه هيڅ قدر کوږ والې پکښې نه وي وَّمِنَ الشَّجَرِ او د ونو ځنې يعنې په ونو کښې يې هم جوړوې دا هلته که مالك تا سې لره نه وو وَمِمَّا يَعْرِشُوْنَ ﴿۶۸﴾ او د هغو ځايو ځنې چه خلکو لوړې لوړې مينې اچولې وي دا هلته که تا سې مالك د رلودې ثُمَّ كُلِيْ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ نو بيا خوري د هر قسمه ميوو ځنې که خوږه وې او که ترخه وي يعنې غوټۍ او گلونه يې او بيا چه دا وخوري نو فَاسْلُكِيْ نو ځي او تلل کوي سُبُلَ رَبِّكِ پهلاړو د خپل رب کښې يعنې پر هغه لارو چه د ه درته ښوولې دي په باب کښې د شاتو جوړولو يا معنی دا چه هر کله غوټۍ او گلونه وخوري په يوه ليرو طن کښې نو بيا برابرې راځي وخپلو ځالو ته پر هغو لارو چه رب درته ښولې دي او وبل طرفته مه ته ځي ذُلُلًا په دا سې حال کښې چه ذليلې او اسانه دي دا لارې يا چه تا سې ذليلې او منقادې اوسې وامرته د خدای چه هغه امر دا سې دي چه دوي هر کله دا غوټۍ او گلونه وخوري او په نسو کښې يې دا قوله سره خوږې او به سې سربينا که نو بيا هغه او به بيرته قې کړې د پاره د ژمي د توښې لکه چه وايي يَخْرُجُ مِنْۢ بُطُوْنِهَا راوزي د نسو ځنې د دوي شَرَابٌ او به د چښلو يعنې شات مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ چه سره مختلف وي رنگونه د دې شاتو په دې شان سره چه د ځوانانو دا سپين وي او د ميانه وو دا ژيړ وي او د زړو دا سره وي او يا دا چه اختلاف د رنگو يې د جهته د فصلو يا د خوړاکو د دوي وي فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ط چه ده په دې شاتو کښې شفا د خلکو دپاره اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بيشکه چه په دې چيو کښې او په شاتو کښې لَاٰيَةً

خامخا ډیره لویه نښه ده پر قدرت او پر حکمت زما لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾ د هغه
قوم د پاره چه فکر کوي په عجائبو او غرائبو د دې چیچیو او شاتو کښې وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ
او خدای پیدا کړې یاست تاسې یعني د عدم څخه یې وجود ته راوه ایستلاست
ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ بیا به تاسې په خپل اجل سره وژني وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ او بعض ذ تاسې
څخه هغه څوک دې چه رد کول کیږي إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ وهغه خوار شوند ته یعني د
کمال زوړ والي وحد ته چه هغه پنځه اویا او یا اتیا یا نوي دې لِكَيْ لَا يَعْلَمَ د دې
د پاره چه نه پوهیږي دې په سبب د زوړ والي سره بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا تر پوهې
وروسته د ځواني په حال کښې په هیڅ شي لکه چه څو د طفولیت په حال کښې په
هیڅ نه پوهیدې إِنَّ اللَّهَ بیشکه چه خدای عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾ دانا توانا دې پر هر څه ع ٥ ٩ ١٥
چه خواهش یې وسي روایت دې چه هر کله به مشرکانو احرام وتاړی نو تلبیه
به یې داسې ویله چه لبیك لاشریك الاشریکاً هولك یعنې د رغلم نسته بل شریك تا
لره مګر یو هغه چه ستا شریك دې نو د پاره د رد د دې قول د دوې نازل سو
وَاللَّهُ فَضَّلَ او خدای غوره کړیدې بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ بعض ستاسې پر بعضو نورو
باندې فِي الرِّزْقِ په روزي کښې یعني د دنیا په مال کښې چه څوك امیره او
څوك یې وږې کړه او څوك یې باداران او څوك یې نوکران کړه سره د دې چه
حواله دیوه نیکه لمسیان دې فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا نو نه دې هغه کسان چه غوره کړه
سوي دې بِرَادِّي رِزْقِهِمْ رد کونکي یعنې ورکونکي د خپل مال عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ
پر هغه چا چه مالکان سوي دي لاسونه د دوې یعنې تاسې خو خپلو مریانو ته روزي
ورکوي او په باقي مال کښې یې نه شریکوي د ځان سره څکه چه که یې شریکان کړي
فَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ نو دا څښتنان او مریان په دې مال کښې سره برابر سي او فرق
به پاته نه سي په مابین کښې د څښتن او د مریي کښې هر کله چه تاسې د خپلو مریانو
سره شرکت نه خوښوی د دنیا په مال کښې نو بتان د خدای سره څنګه شریکوي په

دربوبيت کښې اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ ايا نو په دے نعمت د خدائے چه دا سے واضح مثال او دليل يې ورته وړاندې کړو دے يَجْحَدُونَ ﴿٧١﴾ دوی انکار کوے وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ او خدا پيدا کړيدې وتاسے ته مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا د خپله جنسه ښځه ستاسے يعنې چه ستاسے زړونه ورسره په ارام شي وَّجَعَلَ لَكُمْ او بيا يې پيدا کړه وتاسے ته مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ د ښځو ښځه ستاسے بَنِيْنَ وَحَفَدَةً - زامن او لونې يا لمسيان او نږومان وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ او روزي يې درکړه بعضي د پاکيزه وو او لذتناکه «خوندورو» شيانو يا د حلالو او بعض يې حکه ووئيل چه دا ټول هسې نو مونه دى د اخرت اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ ايا نو په باطل سره باور کوے او ايمان راوړي دا مشرکان چه هغه شفاعت او نفعه ده د بتانو وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ او په نعمت سره د خدا چه اسلام دے هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٢﴾ دوے باور نه کوے او ايمان نه راوړے يا باطل هغه دے چه شيطان پرحرام کړيدے لکه بحيرے او سائبه او وصيلے سره او نعمت هغه دے چه خدا پرحلال کړی دی يا باطل شيطان دے او نعمت رسول دے وَيَعْبُدُوْنَ او دوے عبادت کوی مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ بيله خدايه مَا لَا يَمْلِكُ د هغه شي چه هيڅ اختيار نه لرے لَهُمْ رِزْقًا د دوے د پاره د روزۍ ورکولو مِّنَ السَّمٰوٰتِ هم دا سما نوڅخه په اوره ولو سره وَالْاَرْضِ او هم د ځمکے څخه په زرغونولو سره او هر کله چه بتان دا يو هم نه شي کولای نو دوی اختيار نه لرے د روزے ورکولو و خپلو عابدانو ته شَيْئًا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٧٣﴾ د هيڅ شي او نه طاقت لرے که څه هم اختيار ورته ورکړه سے حکه چه جمادات دی فَلَا تَضْرِبُوْا اے لَا تَجْعَلُوْا يعنې مه پيدا کوے لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ و خدای ته مثلونه يعنې شريکان په الوهيت کښې چه بتان دے اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ او خدائے پوهيږي په فساد د گفتار ستاسے وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٧٤﴾ او تاسے نه پوهيږے او که پوهيدا ے نو دا کار به مو نه کاوی بيا رب العزت د دوئ د پوهولو د پاره دوه مثالونه ترلی او وئيلے دے په معبود حق او باطل پورے اول يې دا دے چه وائي ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا ترى خدای يو مثال عَبْدًا

مَّمْلُوْكًا چه مریې وي زرخریك او نه مكاتب وي او نه ماذون لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ چه قادر نه وي پر هیڅ شي د نفعې او د ضرر وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ او بل هغه څوك وي چه موږ ور كړې وي ده لره مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا د خپله جانبه څخه روزي یعنې بنه مال د يرې شركت د بل چا چه تصرف یې هم ده وي فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ نو دی وركړه كوي د هغه ماله څخه سِرًّا وَّجَهْرًا ط هم په پټه او هم په ښكاره سره یعنې په هرشان چه زړه یې غواړي هغسي یې وركوي هَلْ يَسْتَوٗنَ ط ایا سره برابر دي دوی یعنې برابر نه دي نو هركله چه مملوك عاجزه د مالك قادر متصرف سره نه سي برابریدلای نو عاجزه بتان چه تر تولو مخلوقا تو عاجزتر دي كله برابریدلای سي د قادر مطلق سره اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ط ثنا ټوله خدای لره ده چه مالك د ټولو نعمتو دی بَلْ اَكْثَرُهُمْ بلكه زیات د دې مشركانو یعنې ټوله یې لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ نه پوهیږي د حكم یې نسبت و غیرته كوي او دوهم مثال داده چه وایي وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا او بیا خدای بل مثال ته ري رَّجُلَيْنِ چه دوه سړیان وي اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ چه یو دوی دواړو څخه گونگ ما در زادی «چه مور زیږولی وي گونگی» چه بخپله هم په هیڅ نه پوهیږي او بل هم نه سي پوه كولای لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ چه نه قادریږي «قدرت نه لري» پر هیڅ كار او تدبیر د بې عقلۍ په سبب سره وَّهُوَ كَلٌّ او حال دا چه د غم پیټی وي د دواړو او دوی چه بار وي عَلٰى مَوْلٰىهُ لا پر خپل متولي «متصرف» باندې او هغه متولي یې بخپل كار كښې حیران وي حكه چه اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ وهر طرفته چه دی مولی ولیږي لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ط نو نه ور لره راوړي خیر یعنې هغه كار یې د رسره نه كړي او دې وخپل مدعا ته ونه رسوي هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ لا ایا برابریږي دغه گونگی بې خیره وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ لا او هغه څوك چه فرمایش كوي وخلكو ته په عدل او په انصاف سره حكه چه سلیم الحواسه، فصیح اللسان، فهیم، رشید، دیندار او جامع د

۱۰ ع ۹ ۱۶ غوټلو فضائلو او مکارمو وے وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿۷۶﴾ او حال دا چه دے پخپله هم
روان دے پر سمه لار چه ټول ورسره ښه دي او مقصود ته رسونکے ده او مقصودته روایت دے چه هر کله د قریشو
کفارو د مسخرو پر طریقه د پر تلوار کاوه د قیامت په راتلو کښې نو نازل سو وَلِلّٰهِ غَيْبُ
السَّمٰوٰتِ او خاص خدای لره دے علم پر پټو د اسمانونو وَالْاَرْضِ او د ځمکے وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ
او نه دے امر یعنی قیام د قیامت د جهت د تلوار دا سانی اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ مگر په مثل د
رپولو د سترگے اَوْ هُوَ اَقْرَبُ بلکه هغه قیام ډیر نژدے دی تر دے رپولو هم ځکه
چه دا د ده کار دے چه یو ځای کول دے د دوارو څیزو مواد بیا یے سره لیرے کول دی
او هغه یو کار دے نو دا ممکن دے چه هغه دے په زمانه د نیم رپ کښې واقع سی ځکه چه
اِنَّ اللّٰهَ بیشکه چه خدای عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۷۷﴾ پر هر شی توانا دے که بعث دی که
حشر بیا وایے چه ولی استدلال نه کوے د قدرت څخه د مبتدا پر قدرت د معاد او نه
گورے چه وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ او خدای راوه ایستلی تاسے مِّنْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ د نسو
څخه د خپلو میندو لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا لا چه نه پوهیدا ست په هیڅ شی سره یعنی نه په جلب
د نفعی او نه په سلب د ضرر وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ او درکړے یے دی تاسے ته غوږونه
وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْئِدَةَ لا او سترگی او زړونه یعنے اسباب د پوهے یے حواله درکړی
دے چه بنکار د مسموعاتو او د مبصراتو او د معقولاتو په کوے د پاره د دے چه
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ بنایے چه تاسے شکر وکاږئ پر دے نعمتونو باندے اَلَمْ يَرَوْا
ایا نه گورے دا (د میان «انسانان» پر طریقه د استدلال پر قدرت الٰهی باندے
اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ و مرغانو ته چه مسخر کړه سوی الوتو ته په وزرو سره فِيْ
جَوِّ السَّمَآءِ ط په هوا د اسمان کښې لوړ او لیرے د ځمکی څخه مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ط
چه نه یے ساتی په دے هوا کښې مگر خدای او که ده نه وے ساتلے نو دا ثقل بدنی
خو مقتضی د لوید و د دے پر ځمکه اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ بیشکه چه په دے تسخیر کښې لَاٰيٰتٍ
خاخا ډیرے لوے نښی دے د قدرت کامله لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾ د هغه قوم د

پاڼه چه ایمان راوړي مخکه چه ستر ګی هم دوے لرے وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ او خدائے پیدا کړی
دے تاسے لره مِّنْ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا د کورونو ستاسے څخه ځای د استوګنی لکه د بردو او
خښتو او د ختو کوټی وَجَعَلَ لَكُمْ او پیدا کړي یے دی تاسے لره مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ
د پوستو څخه د چارپایانو بُيُوتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا نورے کوټی چه سپکی یے پیدا کوی
تاسے په پورته کولو او د ځان سره ګرځولو کښے چه کړ دی دی يَوْمَ ظَعْنِكُمْ په ورځ
د کوچ او د سفر ستاسے کښی وَيَوْمَ اِقَامَتِكُمْ لا او په ورځ کښی د اړولو ستاسی
په منزل ګاه کښی وَمِنْ اَصْوَافِهَا او د وړیو څخه د میږو وَاَوْبَارِهَا او د وړیو څخه
د اوښانو وَاَشْعَارِهَا او د اوجغنو څخه د بزو یے پیدا کړیدی تاسے لره اَثَاثًا رختونه
او پوښاکونه او کمبلی او نور ډیر اسبابونه وَّمَتَاعًا او بل هر هغه شی چه فائده
پراخیستل کیږے لکه خرید او فروخت په هغو کښی اِلٰى حِيْنٍ (۸۰) تر یوه وخته پورے
چه تاسے مری یا دوی مری وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ او خدائے پیدا کړیدے تاسے لره مِّمَّا خَلَقَ
د هغو شیانو څخه چه ده پیدا کړیدے لکه ونے او دیوالونه او بامونه او غرونه او اوریځے
او داسے نور ډیر شیان ظِلٰلًا سیورے چه لمره او د ګرمی څخه ځان په ساتے وَجَعَلَ لَكُمْ
او ده پیدا کړیدے تاسے ته مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا د غرو څخه غارونه د پټیدلو د پاره وَّجَعَلَ
لَكُمْ او پیدا کړیدے ده تاسے لره سَرَابِيْلَ قمیصونه او نورے د پنبه و جامی او د
وړیو او د کتانو او د نورو شیانو تَقِيْكُمُ الْحَرَّ چه تاسے د ضرر څخه د ګرمی او د یخنے
لیکن ذائے نه کړه یاد د پاره د اکتفاء «بس والے» په یوه د دوو ضدینو سره یا به د دوی
احتیاج د ګرمے و دفعے ته ډیر دوا وستر د عورت او زینت هم پکښے داخل دے وَ
سَرَابِيْلَ او بل قسم قمیصان دے د اوسپنی یعنے زغرے تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ط چه تاسی
ساتی د ضرر څخه د جنګ ستاسی یعنے د دښمن د وسلو څخه د جنګ په وخت
کښے كَذٰلِكَ هدا سے لکه دا تیر نعمتونه چه یے پر تاسے تمام کړیدی يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ
عَلَيْكُمْ پوره کوی خپل نعمت پر تاسے لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ (۸۱) بنا یے

سه ځان په ساتے ۲

چه تاسے اسلام راوړی او یا غاړه کښیږدئ فَاِنْ تَوَلَّوْا نو که دوی شاګرځوی اسلام څخه
فَاِنَّمَا نو بیشکه هم دا خبره ده عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۸۲﴾ چه دے پرتا ښکاره پیغام
رسول يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ پیژنی دا مشرکان نعمت د خدائے یعنی په خولو سره
وائی چه دا د خدایه دے ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا بیا منکر سی ځنی په وخت د فعل کښے ځکه چه
عبادت د بل چاکوے غیر د منعم یا په سختی کښے یے منی او په اسانی کښے یی نه
ع ۱۱ / ۱۷ منی یا په خوله یے منی او په زړه یے نه منی وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۳﴾ او زیات
یعنے ټوله کافران دے وَيَوْمَ نَبْعَثُ او وه بیروه دوے د هغی ورځے چه راولاړ
به کړو موږ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا د هرے ټولی څخه شاهد پر ایمان او پر کفر د دوی
یعنی پیغمبر د هر اُمت ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ بیا به نه ورکول کیږے اذن د عذرخواهے
یا د رجوع کولو بیرته د دنیا ته لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هغه کسانو ته چه کافران دی وَلَا هُمْ
يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۸۴﴾ او نه به وی دوی چه اذن د راضی کولو د رب به ورته وسی په
نیك عمل سره ځکه چه پس تر مرګه بیا تکلیف نسته وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ او په هغه وخت
کښے چه وینی هغه کسان ظَلَمُوا الْعَذَابَ چه ظلم یعنے شرك یے کړی دے عذاب
د دوزخ او بیا یکښی وغورځول سی نو تخفیف «سپکوالے» د عذاب به وغواړے
د مالکه څخه فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ نو نه به سپك کیږے د هغوے څخه عذاب وَلَا هُمْ
يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۵﴾ او نه به ودوی ته مهلت ورکول کیږے وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا او
په هغه وخت کښی چه وه وینی هغه کسان چه شرك یے اختیار کړی وو شُرَكَآءَهُمْ
شریکان خپل یعنی بتان قَالُوْا رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ نو دوی به ووائی اے زموږ ربه دا چه
دے شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ هغه شریکان زموږ دے كُنَّا نَدْعُوْا چه موږ وو به دنیا
کښے چه بلل به موږ په خدایی سره او ددوے عبادت به موکاوے مِنْ دُوْنِكَ ع بیله
تا فَاَلْقَوْا اِلَيْهِمُ الْقَوْلَ نو وبه غورځوے دا بتان ودوی ته خبره یعنی دا بتان
به خدای ګویا کړے او ودے مشرکانو ته به ووائی اِنَّكُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۸۶﴾ چه بیشکه

تا سے خاندا درواغجنان یاست ځکه چه تا سے په واقعه کښې نړ موږ عبادت
نه کولو بلکه په هواء خپل نفس پسې روان واست نو پردوی به حجت لازم سی او
د یزشرمنده او خجل سی وَاَلْقَوْا اِلَى اللّٰهِ او بیا به د غورځوي دوی وخدای ته
يَوْمَئِذِ ن السَّلَمَ په دغه ورځ یعنی بیا به صلح او اعتراف وړاندے کړے اما یو به
هم فائده ورونه رسی وَضَلَّ عَنْهُمْ او ورك یعنی باطل به سی دد وی ځنه مَا كَانُوْا
يَفْتَرُوْنَ ﴿۸۷﴾ هر هغه چه وه دوے چه درواغ به یې تړل پر خدا ے چه دا بتان
د خدا ے شریکان دے او دوے به د موږ سره مدگاری کوی او شفاعت زموږ
به کوی اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هر چه هغه کسان دے چه پخپله هم کافران سویدے وَصَدُّوْا
عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ او نور خلق هم اړوے دلاری ځنه د خدا ے یعنی د ایمان ځنه
زِدْنٰهُمْ عَذَابًا زیات به کړو موږ و دوے ته یو عذاب چه د ضد بر خه ده فَوْقَ
الْعَذَابِ سربیره پر بل عذاب چه د خپل کفر برخه یې ده بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ ﴿۸۸﴾
په سبب ددے سره چه دوے وه چه فساد به یې کاوے چه خلق به یې د اسلام
ځنه منعه کول وَيَوْمَ نَبْعَثُ او یاد کړه اے رسوله هغه ورځ چه راولاړ به کړو
موږ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا په هره قولی کښې شاهد عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ پردوے
یعنی ددوے پر اقوالو او افعالو باندے دا سے پیغمبر چه دے د خپلو ځانو ځنه دوي
یعنی د خپله قومه ځنه یې وَجِئْنَا بِكَ او راوبه ولو موږ تاهم شَهِيْدًا عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ
شاهد پردے د له ستا ددے د پاره چه ته شاهد ے اداکړے پر تصدیق د مؤمنانو
او پر تکذیب د مشرکانو وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ او راليږلے دی موږ پرتا دا
قرآن تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ واضح بیان د هر شی دا مورو ځنه ددین فائده:-
اصول ددین څلور دے چه کتاب او سنت او اجماع او قیاس دے او بیا نو نکے
ددے قولو هم دے دی ځکه چه هر چه منطوق دده دے هغه خو پخپله ظاهر
دے او هر چه په سنت سره ثابت سوے دے نو هغه هم په هدے کښې داخل دے

په دے ایت سره چه وما اٰتٰکم الرسول فخذوه وما نهٰکم عنه فانتهوا او هرچه په
اجماع سره ثابت سوی دے هغه هم په هدے کښے داخل دے په دی ایت سره
وَمَن یتبع غیر سبیل المؤمنین نوله ما تولےٰ ونصله جهنم وسآءت مصیرا او
هرچه قیاس دے هغه هم و هدے د دو سره دوته راجع دے نو داخبره ثابته سوه
چه دے تبیان دے د هر شی وَّهُدًی او رهنمائی ده و حق ته وَّرَحۡمَةً او مهربانی
ده پر هر هغه چا چه ایمان پر راوړے وَّبُشۡرٰی لِلۡمُسۡلِمِیۡنَ (۸۹) او زیرے د جنت ع ۱۳ ۱۸
دے د پاره د مسلمانانو اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدائے چه دے فائده:- علماؤ د دین
متین ویلے دے چه دا ایت جامع دے د هر خیر او د شر دا سے چه د رے پکښی
او امر دے او درے نواهے دے او بیا هر یو مشتمل دے پر انواعو د مواعظو
حکم یے په آخر د هرے خطبے کښی واعظان وائی نو هغه درے او امر دا دے
چه یَاۡمُرُ بِالۡعَدۡلِ امر کوے دی په عدل سره یعنے په میانه تلۓ سره په هر څه کښی
اعم تر دے چه اعتقادیات وی لکه توحید سو چه دے متوسط دے په مابین کښی
د تعطیل او د تشریک کښی یا قولیات وے لکه قول په کسب سو چه دے متوسط
دے په مابین د جبر او د قدر کښے یا عملیات وی لکه تعبد سو په ادا د واجباتو سره
چه دے متوسط دے په مابین د بطالت او د ترهب کښی یا خلقیات وی لکه سخاوت
سو چه دے متوسط دے په مابین د بخل او د تبذیر کښی او بل شجاعت دے چه
دے متوسط دے په مابین د جبن او د تهور کښے وَالۡاِحۡسَانِ او بل امر کوے په
احسان کولو سره په طاعاتو کښی یا د جهته د کمیت لکه تطوع سو په نوافلو سره
او یا د جهته د کیفیته لکه عبادت په حضور سره د زړه وَاِیۡتَآئِ ذِی الۡقُرۡبٰی

عه معنے دا چه هر هغه شی چه تاسی ته یے رسول درکوی نو هغه اخلے او هر شی چه تا سے ځنی منعه کوی رسول نو تا سے
ځنی منعه کیږ دے یعنی په هر شی سره چه امر در ته کوی نو هغه کوی او چه تا سے ځنی منعه کوی نو هغه مه کوی ۱۲ عه
یعنی هر هغه څوک چه پیروی کوی پر لاری د مؤمنانو د بلے لارے نو مونږ به وگرزوو دی هغه شی ته چه دی ور ته
گرزیدلے دی یعنی هوا د نفس ته او زر دے چه بیا به یے داخل کړو په جهنم کښی او بدځای دی دا جهنم د جهته د گرزیدو ۱۲

او بل امر کوے په ورکولو سره وخپلوا نو ته د هر هغه شي چه د دوی احتياج ورته وي
او هغه د رے نواهے دا دے چه وَيَنْهٰى او د ے منعه کوے د هغو کارو څخه چه
عقل او شرع يې د واړه بد بولے لکه چه وايې چه منعه کوے د ے عَنِ الْفَحْشَاءِ
يو د هغه کاره څخه چه موجب يې افراط د قوت شهوانی وی لکه زنا يا لواطت
يا د اسے نور وَالْمُنْكَرِ او بل د هغه بد و کارو څخه چه موجب يې افراط د قوت غضبي
وے لکه قتل يا ضرب يا شتم يا اخيستل د مال بيله حقه وَالْبَغْيِ ۚ او د هغه بد و
کارو څخه چه موجب يې افراط د قوت وهمي لکه پر خلگو ځان پورته کول په استعلا
او په استيلاء او په تکبر او په تخير سره يَعِظُكُمْ پند درکوی تاسے ته په دے او امرو
او نواهيو سره لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٩٠﴾ بنا يې چه تاسے په دے سره پند واخلئ وَاَوْفُوْا
بِعَهْدِ اللّٰهِ او وفا کوے په عهد سره د خدائے اِذَا عٰهَدْتُّمْ په هغه وخت کښے چه
تاسے عهد وکړے چه هغه عهد د ميثاق د ورځي دے يا عهد د بيعة الرضوان دی يا
عهد د ايمان بالله دے يا هغه عهد دے چه يو ے طائفے د رسول سره کړی وو بيا چه ضعف
د اسلام او قوت د کفر يې وليد نو شيطان د عهد ماتولو وسوسه ورواچول وَلَا
تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ او مه ماتوی قسمونه خپل يعني عهدونه بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا وروسته
تر محکم کولو د هغو په قسمو سره وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ او حال دا چه په تحقيق سره خدائے
گرځولی دے تاسے عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ۭ پر خپلو ځانو شاهد او نگهبان اِنَّ اللّٰهَ بيشکه چه
خدائے يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٩١﴾ پو هيږے په هغه سره چه تاسے يې کوے يعني چه عهد
او سوگند ما تو ے روايت دے چه پخوا په عربو کښي يوه ربطه سعد نومي يوه ليونی
ښځه وه او مينځې يې هم د رلودے نو دا به پخپله هم کښينا سته او مينځے به يې هم
کښينولے وځر خوته او ترغرمو به يې تارونه وريشل او بيا ترغرے وروسته
به يې ترما بنا مه پورے هغه تارونه او مه کول او غورول چه بيخی به يې د ماليت
ښځه وه ايستل نو حکم د رب العزت وايي چه وَلَا تَكُوْنُوْا او مه کيږئ تاسے په

ماتولو کبنی د عهد او د میثاق خپل کالتی نقضت غزلها د هغه ښځې په شان چه خپل وړیشل سوی او غځول سوے به یې بیرته او مه کول او غوړول من بعد قوة وروسته تر قوت پیدا کولو د دے تار و په تاو ولو او پیچلو سره انکاثا ٹوٹے ټوټے بے تاوه بیخے د کاره وتلے یعنی تاسے هم هغه عهد چه په قسمو سره قوی کړے وی نو بیرته یې ماتوی چه دا کار د عاقل سړه نه ښایي تتخذون ایمانکم چه تاسی یسی خپل عهدونه او پیمانونه دخلا بینکم مکر او فریب او مفسده او خیانت پخپل مابین کښې سره چه یو بل سره غولوے او سره تیر باسے په دی عهدو سره ان تکون امة په سبب د دے چه سی یو ه قوله یعنے د قریشو هے اربی من امة ط هغه ډیر زیات تر هغه بلې قولی چه مؤمنان دے په سړ او مال کبنی انما بیشکه هدا خبره ده چه یبلوکم الله به ط ازمایي خدای تاسی په دے عهد سره چه وفا په کوی او که یې نه په کوی ولیبینن لکم او خامخا به خدائے وتاسے ته بیان کړی یوم القیمة د قیامت په ورځ ما کنتم هغه بعث او جزا چه تاسے واست فیه تختلفون (۹۲) چه په هغه کبنی به مو اختلاف سره کاوی نو بیا به په هغه وخت کښې جزا د خپلو عملو تاسے ورینی ولو شاء الله او که د خدائے اراده وای لجعلکم امة واحدة نو خامخا به یې تاسے گوزولے واست یو ه قولی متفقه پر دین د اسلام ولکن یضل من یشاء او لیکن گمراه کوے دی هر هغه څوک چه اراده یې وسی و یهدی من یشاء ط او دحق پر لاره برابروے د هر هغه څوک چه اراده یې وسی ولتسئلن عما او خامخا به تاسے وپوښتل سے د هغو عملو څخه کنتم تعملون (۹۳) چه تاسے واست به د دنیا کښې چه کول به مو ولا تتخذوا ایمانکم او تاسے مه نیسی عهدونه او پیمانونه خپل دخلا بینکم مکر او غدر پخپل مابین کښې او که تاسی دا کار وکړے فتزل قدم نو وبه ښکیږے قدم ستاسے د اسلام د لارے څخه بعد ثبوتها وروسته تر کلکیدو د هغه وتذوقوا السوء او و به څکی تاسے محنت او خوارے په دے دنیا کښې بما صددتم په سبب سره د او بښتلو او وتلو ستاسے عن سبیل الله ج د خدا ے د لارے څخه یعنی د

وفا پر عهد خپل باندی وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۹۴﴾ او بیا به تاسے لره وے لوی عذاب په
اٰخرت کښی روایت دے چه هر کله هغه طائفے مذکورے ته د ضعفاؤ د اهل
اسلام قریشو وویل چه که بیا را وګرځید است نو موږ ودین ته او د رسول ﷺ
سره مو هغه عهد مات کړے نو ډیر مبلغ به د رکړو نو نازل سو وَلَا تَشْتَرُوا بِعَهْدِ
اللّٰهِ او مه اخلئ په عهد د خدائے او په بیعت د رسول ﷺ بانده ثَمَنًا قَلِيلًا ط مبلغ
کم چه لږ مال به وا خلئ او خدای او رسول ﷺ به پریږدئ إِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ بیشکه
هغه چه خدائے سره دے یعنے نصرت او غنیمت په دنیا کښے او ثواب په اٰخرت
کښے هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ هغه ډیر غوره دے تاسے ته إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۵﴾ که
تاسے یاست چه پوهیږئ په سود او زیان سره او هغه حکم غوره دے چه مَا
عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ هغه مال د دنیا چه د تاسی سره دے هغه به تیر او فناسی وَمَا
عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ط او هغه خزانے د رحمت د خدائے سره دے هغه همیشه باقی دے
چه فنا نه لرے وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ او خامخا به جزا ورکړو موږ و هغو کسانو لره صَبَرُوٓا
چه صبر یے کړی دی پر ایذاء د مشرکانو او پر فقر او پر فاقه او پر تکلیفو د اسلام
یا پر هغه عهد خپل اَجْرَهُمْ اجر د محبت د دوے بِاَحْسَنِ مَا په ډیره ښه وجه
سره یعنے ډیر زیات د هغه کاره كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ چه دوی وه چه کاوی به یے
هغه عمل چه نیک دے لکه لمونځ او روژه او زکوٰة او حج او صدقه او دا سے نور
ډیر سوه مَنْ عَمِلَ صَالِحًا هر څوک چه وکړے نیک عمل مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى د سړی یا
د ښځے څخه وَهُوَ مُؤْمِنٌ او حال دا چه دے مؤمن وے چه عمل بے ایمانه هیڅ
مصرف نه لرے فَلَنُحْيِيَنَّهٗ نو خامخا به موږ ژوندی ورکړو ده ته په دنیا کښے
حَيٰوةً طَيِّبَةً ج پاکیزه ژوند یعنے حلاله روزی یا د طاعت حلاوت یا قناعت
پر موجود یا عمل صالح یا ښه خاتمه یا رضا بالقضاء وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ او
خامخا به موږ جزا ورکړو دوی ته اجر د محبت د دوی بِاَحْسَنِ مَا په ډیره

بنه وجه سره یعنی زیات تر هغه عمل كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ (۹۷) چه دوی وو چه کولو به یې
هغه عمل فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ نو هغه وخت چه اراده وکړې ته د قرآن د ویلو
فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ نو غواړه تر دے شروع کولو پناه ونیسه په خدائے پورے مِنَ
الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ (۹۸) د هغه شیطان څخه چه تر ټل سوی دے یعنی اول دوایه
چه اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط اِنَّهٗ بیشکه دا شیطان چه دی لَيْسَ لَهٗ
سُلْطٰنٌ نشته ده لره هیڅ قدر تسلط او غلبه عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا پر هغو کسانو چه
ایمان یې راوړے دے برحق وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ (۹۹) او پر رب خپل توکل کوي
په دفعه د وسوسو کښې اِنَّمَا سُلْطٰنُهٗ بیشکه هم دا خبره ده چه تسلط د ده عَلَى
ع ۱۳ الَّذِيْنَ پر هغو کسانو دے يَتَوَلَّوْنَهٗ چه ده سره دوستی کوے وَالَّذِيْنَ او بل هغه
۱۱ کسان دے هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ (۱۰۰) چه دوے په خدائے پورے یا په سبب د تسلط
۱۹ د شیطان شریک پیدا کوونکي دے روایت دے چه هر کله به کوم آیت منسوخه
سو په مقتضیٰ د حکمت بالغه سره نو کفار به د مکې به ویل چه محمد صلی الله علیه وسلم پر خپلو
ملګرو مسخرے کوے چه یوه ورځ به یې په یوه کار مامور کړے بیا بله ورځ یې د
هغه کار څخه منعه کړے او په بل کار سره یې مأمور کړے مخالف د هغه غوانے
او مخکښې څخه او د ځانه څخه ورته دروغ جوړوی نو نازل سو وَاِذَا بَدَّلْنَآ اٰيَةً او په
هغه وخت کښې چه موږ بدل راولیږو یو ناسخ آیت مَّكَانَ اٰيَةٍ لا پر ځای د بل منسوخ
آیت د مصلحت الوقت د پاره وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ او حال دا چه خدائے بنه پوه دے بِمَا
يُنَزِّلُ په هغو سره چه رالیږے ناسخ په مقتضے سره د حال قَالُوْٓا اِنَّمَآ نو دوے وايي
چه بیشکه همدا خبره ده اَنْتَ مُفْتَرٍ ط چه ته دروغ تړونکی یې په خدای پورے
چه د خپله ځانه څخه یې جوړوے او بیا یې نسبت وهغه ته کوے او په واقعه کښې
دا سے نه ده لکه چه دوی وايي بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ (۱۰۱) بلکه زیات د دوے نه پوهیږ
په حکمت سره د نسخ قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ ته دوے ته ووایه چه راوړے دا قرآن

هغه روح چه پاکیزه دے چه جبرائیلؑ دے اوزه یې دځانه ځنه نه جوړوم بلکه
هغه راوړے دے مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ د طرفه ځنه د رب ستا په حق سره
لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دپاره د دے چه محکم کړے په دے نسخ سره هغه کسان
چه ایمان یې راوړے دی پرد غه خپل ایمان باندې وَهُدًى اورهنمایي دے وَبُشْرٰى
لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ اوزیرے د جنت دے د مسلمانانو دپاره روایت دی چه دعامر
حضرمے یو مرېي وو چه جبر نومیده یا دوه وه چه یو جبر او بل یسار نومیده چه په
مکه کښے به یې ښمشیر ګرے کوله او تورات به یې هم وایه او رسولﷺ به کله کله پر
هغه لاړ تیریده او دا تورات به یې د دوے ځنه اوریدی او په بل روایت کښی دے چه
د حویطب بن عبد العزٰی یو نصرانی مرېي وو عایش یا یعیش نومیده چه اسلام یې
راوړے وو او د شپې به رسولﷺ ته راتلے د پاره د زده کولو د قران نو دے کفارو
وویل چه دے د هغو دوارو یا عایش خبری زده کړے او بیا یې وموږ ته وایي نو
نازل سو وَلَقَدْ نَعْلَمُ او خامخا په تحقیق سره موږ پوهیږ و اَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ چه بیشکه
دوی چه دے دوی وایي اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ چه بیشکه همداخبره ده چه ښوونه
ورته کوے انسان چه جبر یا عایش دے او په واقعه کښے دا سے نه ده ځکه چه
لِسَانُ الَّذِيْ ژبه د هغه چا چه ده يُلْحِدُوْنَ اِلَيْهِ چه نسبت د ښوونے کوی دوی
وهغه ته چه دے تعلیم ورته کوے اَعْجَمِيٌّ کږکیچن او عجمي دے چه فصاحت د سره
نه لرے وَهٰذَا لِسَانٌ او دا قران چه دے ژبه ده عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۳﴾ واضح او فصیح عربي
چه تمام عرب خصوصًا قریش سره د دا سے فصاحت او بلاغت خپله دیوادنی سورة
مقابله ورسره نه سي کولای او تیا نسبت ددا سے کږکیچن ته کوی نو دا خبره بنکاره
درواغ ده اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لا چه ایمان نه راوړي
پر ایتو د خدا ے چه قران دے او نه وایي چه دا د خدایه دے لَا يَهْدِيْهِمُ اللّٰهُ نه
ورښيي خداے ودوے ته لاره د نجات او د جنت وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾ او مقرر

دے دوے لره دردناکه عذاب په آخرت کښې د جهته د نه منلو د قرآن او په
نسبت د افتراء و رسول ته (دروواغ تړلو ۱۲) اوس دوے چه مفتریان هم دوی دی لکه چه
وائی اِنَّمَا بیشکه هذا خبره ده یَفْتَرِی الْکَذِبَ الَّذِیْنَ چه دروواغ تړی هغه کسان
لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ۚ چه ایمان نه راوړی په آیتونو د خدائے چه قرآن دے
وَاُولٰٓئِكَ او دا کسان چه دے هُمُ الْکٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ هم دوے درواغجن دی روایت
دے چه هرکله عمار رضی او پلار یې یاسر رضی او مور یې سمیه رضی دا درے واړه قریشو
په زوره مرتدکول او دوے دا خبره نه قبلوله نو اول یې سمیه رضی دد دواوښانو
په مابین کښې ونړانه کړه (وتړل ۱۲) او په عورت غلیظه به یې په نیزوو وهله چه تا د پاره
د دفع د شهوت اسلام راوړے دی او شهیده یې کړه او بیا یاسر رضی یې هم په همدے
شان شهید کړے او دا دواړه اول د قتیلینو (وژل سوو ۱۲) دے په اسلام کښې بیا یې وعمار ته
هم وویل چه کلمه د کفر ووایه نو ده له ویرے شخه وویله او دا خبره و رسول ته ورسیده
چه عمار رضی بیرته مرتد سو نو رسول وویل چه دا سے نه ده بلکه عمار رضی د سر ترقدمه
قول د ك سو د ایمان شخه او ایمان خلط سو د غوښو او د وینو سره د ده بیا چه یې
پرینبوی نو رسول ته راغے او ورته وې ژړل نو ده ته یې اوښکې پاکولے او ورته ویل
یې چه ولے ژاړی که یې بیا درته وویل نو بیا هم هغه الفاظ ورته ووایه چه مخوا
یې درباندویلی وه نو په تصدیق د دے کښې نازل سو مَنْ کَفَرَ بِاللّٰهِ هرڅوك چه
کافر سے په خدائے پوری مِنْۢ بَعْدِ اِیْمَانِهٖٓ وروسته تر ایمان راوړلو د ده لکه ابن خطل
او طعمه او داسے نور هغه مستحق دے د قهر الٰهی اِلَّا مَنْ اُکْرِهَ مگر مستحق (عه) د عذاب
نه دے هغه څوك چه جبر پرکړه سوے وی یعنی چه کلمه د کفر په زور ورسره یې ویل
سوے وی وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ (مرام ۱۲) او حال دا چه زړه د ده ارام نیونکی وو بِالْاِیْمَانِ په
ایمان پورے او عقیده یې برځای وه لکه عمار رضی وَلٰکِنْ مَّنْ شَرَحَ او لیکن هغه
څوك چه پرانستلے وی ده بِالْکُفْرِ صَدْرًا په کفر سره سینه خپله یعنی د کفر ته خپله

عه یعنی لائق د عذاب او د قهر د خدای نه دی ۱۲

فراخه
سینه اُرته کړی او بیرته د کفر معتقد سوی وی فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ نو
دے پر دوی غضب د طرفه څخه د خدای وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۰۶﴾ او دے دوی لره
لوی عذاب د گناه چه ارتداد دے ذٰلِكَ دا لوی عذاب چه دے بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا
الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا په سبب د دے چه دوے دوست او غوره کړی دی دوی دا کمکی "کرجنی"
ژوند عَلَى الْاٰخِرَةِ لا پر نعمتو د هغه جهان وَاَنَّ اللّٰهَ او بل په دے چه بیشکه خدای
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِينَ ﴿۱۰۷﴾ نه ښیي لار دا ستقامت او د ایمان وقوم ته د کافرانو اُولٰٓئِكَ
الَّذِينَ دا هغه کسان دے طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوبِهِمْ چه مهر وهلی دے خدای پر زړونو د دوی
نو حق هیڅ اثر نه کښی کوی وَسَمْعِهِمْ او پر غوږو د دوی نو د حق خبره نه اوری وَاَبْصَارِهِمْ
او پر سترگو د دوی نو اثار د قدرت نه وینی وَاُولٰٓئِكَ او دا تولی چه دی هُمُ الْغٰفِلُونَ ﴿۱۰۸﴾
هم دوے نا خبره او جاهلان دے د حق څخه لَا جَرَمَ دا خبره واقعی ده او شبه نسته
پکښی چه اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ بیشکه دوے چه دی په هغه جهان کښی هُمُ الْخٰسِرُونَ ﴿۱۰۹﴾
هم دوے زیانکاران دے ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ بیا وروسته تر دے بیشکه رب ستا چه دی لِلَّذِينَ
هٰجَرُوا د هغو کسانو د پاره چه هجرت یے کړی دی د خپله وطنه څخه چه مکه ده
لعزتنا ره
مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا او وروسته تر هغه چه مفتون سوی دے یعنی عذابونه یے کش کړیدی
د کفارو د لاسه ثُمَّ جٰهَدُوا بیا یے جهاد هم کړیدی تر هجرت وروسته د مشرکانو سره
وَصَبَرُوا او صبر یے کړیدی پر جهاد اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دی مِنْ بَعْدِهَا
وروسته تر دے هجرته او جهاده او تر صبره لَغَفُورٌ خامخا بخښونکی دے د تیرو ۱۴
گناهو د دوے رَّحِيمٌ ﴿۱۱۰﴾ مهربان دے چه توفیق ورکړی د دوی ته ځکښی تر ع ۱۰
طاعت يَوْمَ تَاْتِي یاد کړه هغه ورځ چه رابه سی كُلُّ نَفْسٍ هر شخص تُجَادِلُ عَنْ ۲۰
نَّفْسِهَا چه جگړه به کوی د خپل ځان سره یعنی چه هر شخص به پر خپل ځان
ملامتیا وایي که عاصی وو نو په خپل عصیان به یے ملامتوی او که مطیع وو نو
په نقصان د طاعت سره یا هر څوک به د خپل ځان په خلاصی وی او نفسی

عه بیرته د کفر ته گرزیدل ۱۲

نفسی نارے بہ وھی وَ تُوَفّٰی کُلُّ نَفْسٍ او پورہ بہ ورکرہ سی وھر شخص تہ مَا عَمِلَتْ
جزاد ھغہ عمل چہ دہ کریدی وَھُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ (۱۱۱) او حال دا چہ پر دوی باندی بہ
ظلم ونہ کرہ سی دا جر یہ کمولوسرہ وَضَرَبَ اللّٰہُ او تری خدائے مَثَلًا قَرْیَۃً یو مثال
پہ یوہ بنارسرہ پورے دا چہ د ... ھغہ د اھل سرہ دہ ډیر احسانونہ کری وی او ھغو بیا پہ
سبب دد ے نعمتو سرہ طغیان اختیار کری وے او بیا خدائے پرا فاتو سرہ مبتلا کری
وے یا یئے پہ مکہ پوری تری "یعنی وال" کَانَتْ اٰمِنَۃً چہ دوی وہ پہ امان کبنی د ھرہ
آفتہ شخہ لکہ قتل یا چپاؤ یا قحطے یا نور آفات مُّطْمَئِنَّۃً د ل ارام او اسودہ یَّاْتِیْھَا
رِزْقُھَا چہ راتلہ بہ ورتہ روزی ددے رَغَدًا مِّنْ کُلِّ مَکَانٍ فراخہ ډیرہ د ھر ځایہ
شخہ د نوا حیو شخہ فَکَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰہِ نو بے قدرے او کفران یئے اختیار کری پہ
نعمتو پوری د خدائے او شکر گذاری یئے ونہ کرہ فَاَذَاقَھَا اللّٰہُ نو وڅکی خدائے
پہ دے باندے لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ پوښاک د لوږے او د ویرے یعنی او وہ کالہ یوہ
قحطے او بل ویرہ د مؤمنا نو دا سے پرچا پیرہ سوہ لکہ پوښاک چہ پر سړی چاپیرہ وے
دا سے چہ د ډیرے لوږے بہ یئے مرداری خوړلے او د ډیرے ویرے بہ د کوره شخہ نہ سوہ
وتلای بِمَا کَانُوْا یَصْنَعُوْنَ (۱۱۲) پہ سبب د ھغو عملو چہ دوے وہ چہ کول بہ یئے ھغہ
عملونہ وَلَقَدْ جَآءَھُمْ او خامخا پہ تحقیق سرہ راغلے وو دوی تہ رَسُوْلٌ مِّنْھُمْ رسول
ددوی د خپل قوم شخہ یعنی محمد صلی اللہ علیہ وسلم فَکَذَّبُوْہُ نو تکذیب وکری دوی د ھغہ
فَاَخَذَھُمُ الْعَذَابُ نو ونیول دوی عذاب یعنی قحطے او ویرے وَھُمْ ظٰلِمُوْنَ (۱۱۳) او
حال دا چہ دوے ظالمان وہ پہ شرک او پہ تکذیب سرہ روایت دے چہ ھرکلہ
قحطی او بړه دہ سوہ د مکی پر خلکو نو د قریشو ښځو ورسول تہ یو څوک ورولیږے
چہ کہ سړی موږ نارینہ وو د تا سرہ دښمنی کری وی نو ښځی موږ او ودے ھلکوا نو
شہ گناہ دہ چہ ټول د لوږے شخہ ھلاکیږی نو رسولؐ غلہ وروليږلہ او پر
ھغوئی تقسیم کرہ او نازل سو فَکُلُوْا مِمَّا رَزَقَکُمُ اللّٰہُ نو خورے د ھغہ

نور یشل ۱۲

طعام شخه چه خدائ د رسول په لاس د رکړی دی وتاسې ته حَلٰلًا طَيِّبًاص حلال
پاکیزه پرځای د هغو حراموخبیثو چه دارې اوغلاوې به مو کولی او پردې مالونه به
موخواړه وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ او قدردانی کوې د نعمت د خدائ اِنْ كُنْتُمْ که
تاسې یاست اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ (۱۱۴) چه هم دده عبادت کوې اوفرمان یې منئ نو بیا
خپل محرمات به شماری چه اِنَّمَا حَرَّمَ بیشکه هدا خبره ده چه حرامه کړیدۀ خدائ
عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ پرتاسې مرداره وَالدَّمَ او هغه وینه چه بهیږې وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ
اوغوښه د خنزیر او هدا سې نور شیان چه خوراکی دې وَمَآ اُهِلَّ او بل هغه مذبوحه
چه ۱ واز ایستل سوی وی لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ د پاره دغیرد خدای پرهغه مذبوحه ...
دذبحې په وخت کښې یعنې چه په وخت دذبح کولو کښې نوم دبتانو پریاد سوی دې
فَمَنِ اضْطُرَّ نو هرڅوك چه محتاج کړه سو و خوراك ته دیوه شی د دې محرماتو
شخه دجهته دمخمصې "دډیری لوږی،، غَيْرَ بَاغٍ چه نه طالب دلذت وی وَّلَا عَادٍ او
نه د زیادت دقدرد ضرورت فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ نو بیشکه چه خدائ بخښونکی دی
دګناه د مُضطر "دمحتاج" رَّحِيْمٌ (۱۱۵) مهربان دې چه رخصت یې ورکړی دی او بیا دوې
منعه کوی دهغه تحریم او تحلیل شخه چه دوی دخپل نفس په هوا سره کړی دی نوواییی
وَلَا تَقُوْلُوْا او مه وایاست لِمَا تَصِفُ د دې جهته چه وایی اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ
ژبې ستاسې درواغ چه هغه دا دی هٰذَا حَلٰلٌ چه دا حلال دی یعنی هغه
بچې چه دبحیرې په نس او د سائبې په نس کښې دې هغه حلال دې نرموبر
نارینه وو باندې وَّهٰذَا حَرَامٌ او دا حرام دې یعنې دا بچی یې پرښځو زموږ او
دا حکم تاسې کوی لِّتَفْتَرُوْا د دې دپاره چه وتړې عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پر خدائ
باندې درواغ چه دا وموږ ته د ۱۵ مرکړی دی اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان
يَفْتَرُوْنَ چه دوې تړی عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ پر خدائ باندې د رواغ لَا يُفْلِحُوْنَ (۱۱۶)
نجات او خلاصې به پیدا نه کړی دعذاب شخه د دوږخ د قیامت په ورځ او هغه شی چه

دوے د هغه د پاره پر خدائے درواغ تړی مَتَاعٌ قَلِيلٌ هغه لږ نفعه ده چه
ژر به ختمه او قطعه سی وَّلَهُمْ او بیا به وے دوے لره په آخرت کښی عَذَابٌ
اَلِيمٌ ﴿١١٧﴾ دردناکه عذاب په سبب دد غو درواغو سره وَعَلَى الَّذِينَ او پر هغو
کسانو باندے هَادُوْا چه یهودیان دے حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ حرام کړی وه
موږ هغه شی چه بیان کړے او واضح کړی دی موږ پر تا مِنْ قَبْلُ مخکی تر دے
په سورة انعام کښی یعنے چه موږ ویلے وه وَعَلَى الَّذِينَ هادوا حرمنا كل
ذے ظفر الاٰية وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ او موږ پر دوے ظلم نه وو کړے په دی حرامولو
کښے وَلٰكِنْ كَانُوْٓا او لیکن دوی وه اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿١١٨﴾ چه پر خپلو ځانو
به یې ظلم کاوه په بے فرمانی سره جهرًا عمدًا (په ښکاره او په قصد سره) ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ
بیا بیشکه رب ستا چه دے لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوْٓءَ هغو کسانو لره چه دوی گناه
وکړه بِجَهَالَةٍ په ناپوهی سره دغلبے د شهوته او د هوا ځکه نه د سرکشی او دعناد
ځکه د مولٰے لکه چه ویلے یې دی. رباعی :-

الٰهیؑ ما عصیتك مِن عنادٍ ولٰکن شِقوَتی بلغت مداها
صرفت العمر فی لهوٍ ولعبٍ فاٰهًا ثمَّ اٰها ثمَّ اٰها

ثُمَّ تَابُوْا بیا توبه وکاږی دوی او و خدائے ته رجوع وکړے مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وروسته
تر کولو د هغه بد عمل وَاَصْلَحُوْٓا او خپله کارسازی یې وکړه یعنی جبیره یې
وکړه د هغه بد عمل اِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دے مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ پس ١٥
تر دے توبے کښلو بخښونکے دی د تیرو گناهو رَّحِيْمٌ ﴿١١٩﴾ مهربانه دی چه د بندگانو ع ٩
توبے قبلوے اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً بیشکه ابراهیمؑ چه وو یوازی په ځان کښے ٢١
یو امت وو د امت ځکه په سبب سره د کمال دده په ټولو صفاتو کښے د خیر په شان د لوړ کښے

عہ خدایه نه ده کړے ما بے فرمانی د تا ځکه په دشمنی سره لیکن بدبختی می رسیدلی وه و نهایت ته
صرف کړی می دی عمر په عبثو او په لوبو نو افسوس دی بیا افسوس دی بیا افسوس دے

رباعی

دا عجبه نه ده د خدایه چه قادر دی پر هر شی
چه دے جمعه پرکبنه کړے په قدرت په یوه سړی کبنی
او دا هم نه ده عجبه د ده د زوره او قوته
چه دے ځای کړی دریاب قول په یوه کړی کبنی

قَانِتًا لِّلّٰهِ فرمانبرداره د خدای یعنی بنه ولاړ پر امر د ده حَنِیْفًا ط مائل د تولو باطلو ادیانو څخه وحق دین ته وَلَمْ یَكُ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۱۲۰﴾ او دے نه وو د مشرکانو څخه لکه قریش چه وائی شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ ط قدردان وه د نعمتو د ده اِجْتَبٰهُ غوره کړی وه خدای دی په نبوت سره وَهَدٰىهُ او برابر کړی یے وه اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴿۱۲۱﴾ وسمی لارے ته چه د توحید او د اسلام لاره ده وَاٰتَیْنٰهُ او موږ ورکړی وه و ده ته فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً ط په دے دنیا کبنی نیکی لکه ذکر جمیل یا محبت د ده د خلکو په زړو کبنے یا نیك اولاد یا ابوّت د رسول وَاِنَّهٗ فِی الْاٰخِرَةِ او بیشکه چه دے په هغه جهان کبنی لَمِنَ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۱۲۲﴾ خامخا د صالحانو جنتیانو څخه به وی ثُمَّ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ بیا اوس موږ وتا ته وحی وکړی اَنِ اتَّبِعْ دا دے چه پیروے وکړی ته په توحید کبنی مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ط د دین د ابراهیم چه مائل وو د تولو باطلوا دیانو څخه وحق دین ته وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۱۲۳﴾ او نه وو دے د مشرکانو څخه لکه قریش چه وائی چه موږ د چل نیکه په دین یو روایت دے چه موسیٰ و بنی اسرائیلو ته وویل چه خدای امر کړیدے چه ورځ د جمعی خاص وعبادت ته فارغه کړی او بل کاره پکبنے کوی نو بعضو دا امر قبول کړی او نوریا تو وویل چه موږ د خالی ورځ کوو څکه چه خدا ے فارغه سوی دے په دے کبنی د عالم د پیدا کولو څخه نو دی اختلاف په وجه سره خدا ے هم تعظیم د خالی پر دوے فرض کړے لکه چه وائیے اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ بیشکه هدا خبره ده چه مقرر سوی یعنی فرض کړه سوی دے تعظیم د خالی عَلَى الَّذِیْنَ اخْتَلَفُوْا فِیْهِ ط پر هغه کسانو چه اختلاف یې کړی

دے په دے ورځ کښې او تعظیم یې داوه چه غیر د عبادته دے خوښ بل هیڅ کار نه پکښې کوي تر دے حده چه موسیٰ په دغه ورځ یو خوښ ولید ے چه اسباب یې په شا کړي دے او یو ځای ته یې وړے نوامر یې وکړو چه گردن یې ووهے "سر یې پرې کړي" او و مرغانو ته یې ورواچوي چه ویې خوري وَإِنَّ رَبَّكَ او بیشکه رب ستا چه دی لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ خامخا حکم به وکړي په مابین کښې د دوے يَوْمَ الْقِيَامَةِ د قیامت په ورځ فِيمَا كَانُوا په هغه شي کښې چه دوي وه فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۱۲۴﴾ چه په هغه کښې یې اختلاف کاوي چه هغه ورځ د عباده وه ادْعُ ته بوله اے رسوله دا خلق إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ و لاري ته د خپل رب چه توحید او اسلام دے بِالْحِكْمَةِ په محکمه خبره سره و خواصو ته یعني په هغه دلیل سره چه حق په ثابتیږے او په ذهن کښې کښیني او شك او شبهه په ورکیږے وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ او په ښه پند سره و عوامو ته یعني په رهبت او په رغبت او انذار او بشارت او په حکایا تو نافعه وو سره وَجَادِلْهُم بِالَّتِي او جگړه یعني مباحثه کوه د دے معاندانو سره په هغه طریقه هِيَ أَحْسَنُ ط چه هغه ډیره ښه وي یعني په نرمي سره په نرمو خبرو او په فراخ او ورین تندے سره او په داسي عبارا تو سره چه زړونه ولیښوي او عقلونه صافوي او و نفسو ته پند ورکوي إِنَّ رَبَّكَ بیشکه رب ستا چه دی هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ دے ښه دانا او پوه دے په هغه چا سره چه گمراه سوي وي عَن سَبِيلِهِ د لاري شخه د ده چه اسلام دے وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿۱۲۵﴾ او بیا دی ښه دانا دی په لار پیدا کونکو باندے روایت دی چه مشرکانو د احد په ورځ امیر حمزةؓ چه د رسولﷺ تره وه مثله کړي وه چه د ده شي یې ور شیرلے وه او عضو مخصوص یې ځني پرېکړي وه او په خوله کښې یې ورکړي وه نو ده ﷺ قسم وکړی چه که می لاس ورورسیګ هوا ویا تنه به

ستا په عوض کبنی مثله کوم نو نازل سو وَاِنْ عَاقَبْتُمْ او که تاسی ویوچاته عذاب په عوض کبنی د عذاب د بل چا فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا نو عذاب ورکوی په مثل د هغه سره عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ط چه عذاب در کړه سوی وی وتاسی ته په هغه عقوبت سره نه زیات تر هغه وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ او خامخا که تاسی صبر وکړی یعنی عفوه وکړی او د عقوبت څخه یعنی تیر سی لَهُوَ خَیْرٌ لِّلصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۲۶﴾ نو خامخا دا خو ډیر بهتر دی وصابرانو ته تر انتقام اخیستلو بیا یې ورسول ته وویل چه ته خو په صبر سره مأمور یې لکه چه وایي وَاصْبِرْ او صبر وکړه ته او انتقام د سره مه اخله وَمَا صَبْرُكَ او نه دی صبر ستا اِلَّا بِاللّٰهِ مګر په توفیق د خدای سره دی وَلَا تَحْزَنْ عَلَیْهِمْ او مه دلګیره کیږه په دی کافرانو باندی چه ولی ایمان نه راوړی یا په دی مؤمنانو باندی چه دا سی کار په وسو وَلَا تَكُ فِیْ ضَیْقٍ او ته مه کیږه په تنګدلی کبنی یعنی مه تنګوه زړه خپل مِّمَّا یَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ د هغه مکره او فریبه څخه چه دوی یې په تاکوی اِنَّ اللّٰهَ بیشکه خدای چه دی مَعَ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا د هغو کسانو سره دی چه ځان د کفر او معصیته څخه ساتی وَّالَّذِیْنَ او د هغو کسانو سره دی هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ چه دوی نیکوکاران دی

ع ۱۶ / ۹ / ۲۲

آیاتها ۱۱۱ — سُورَةُ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ مَکِّیَّةٌ — رکوعاتها ۱۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

روایت دی چه رسول علیه السلام یوکال تر هجرت د مخه د دوشنبي په شپه د کعبي په څنګ کبني یا د بی بی اُمّ هانیؓ په کاله کبنی وو په ربیع الاول یا په ربیع الاخر یا په رمضان یا په شعبان کبنی مګر مشهور د رجب اووه ویشتمه ده او دیره حصه د شپي تیره وه چه جبرائیلؑ ورلره را غلی د براقه سره او دی یې ومسجد اقصی ته د بیت المقدس بوتلی لکه چه وایي

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ پاکی ده هغه پروردګار لره اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ چه ده بیولی
دے خپل بنده چه محمد صلے اللہ علیہ وسلم دے لَیۡلًا د شپی یعنے په یوه حصه کښے
د شپی مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ د مسجد حرام څخه یا یے د مینځه څخه یا یے د ځنګه
څخه اِلَی الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِیۡ و هغه مسجد اقصٰے ته بٰرَکۡنَا حَوۡلَهٗ چه موږ
برکت اچولی دے پرشا وخوا ده چه ملك د شام دے چه هم د دین برکت پکښے
دے ځکه چه هم مَهۡبَط د وحی او هم مَعۡبَد د انبیاؤ دے او هم د دنیا برکت پکښے
دے ځکه چه ارزانی د غلو او فراخی د عیش او پریمانی د میوو او انبوه ”ډیروالی“
د درختو او ولو دے په هغه کښی نو دے موږ وداسے عجیبه وطن ته بوتلی
لِنُرِیَهٗ مِنۡ اٰیٰتِنَا ط د دے د پاره چه هلته موږ وده ته و ښیو بعضی د دلائلو
څخه د خپل قدرت چه یو د هغو څخه د ده تلل دے په یوه کمه حصه کښی د شپی
و هغه ځای ته چه د څلویښتو ورځو مزل دے اِنَّهٗ بیشکه دے چه دی هُوَ السَّمِیۡعُ
همدی اوریدونکی دے د اقوالو د ده د مکذبانو الۡبَصِیۡرُ ﴿۱﴾ بینا او لیدونکی دی په
احوالو د مصدقانو وَاٰتَیۡنَا مُوۡسَی الۡکِتٰبَ او ورکړے وو موږ و موسیٰؑ ته کتاب
یعنی تورات وَجَعَلۡنٰهُ او ګرزولے وو موږ دا کتاب یا موسیٰؑ هُدًی رهنمائی عه (لارښوونکے)
لِّبَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ د یعقوبؑ د اولادے د پاره او موږ وویل دوی ته اَلَّا تَتَّخِذُوۡا
داسی چه مه نیسی مِنۡ دُوۡنِیۡ وَکِیۡلًا ﴿۲﴾ بیله ما څخه بل وکیل یعنے متولی او متصرف د
کارو ستاسے ذُرِّیَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا اے اولاده د هغه چا چه موږ سپور کړی په
کښتی کښی مَعَ نُوۡحٍ ط د نوحؑ سره مراد ځنی سام بن نوح دے چه بنی اسرائیل
د هغه د اولاد ے څخه دے اِنَّهٗ کَانَ بیشکه دے چه وو عَبۡدًا شَکُوۡرًا ﴿۳﴾ ډیر
شاکره بنده وو چه پر هر حال به ده شکر کښے که به په سختی کښی وو او که به په
راحت کښی وو نو پکار ده چه تاسی هم اقتدا پسی وکړے وَقَضَیۡنَاۤ او پیغام

عه ځای ورا کښته کیدلو او ساتلو د وحی دی ۱۲ عه یعنی ځای د عبادت د پیغمبرانو ۱۲

کړی وو موږ اِلٰی بَنِیٓ اِسۡرَآءِیۡلَ دیعقوبؑ واولاده ته فِی الۡکِتٰبِ په تورات کښی به دے شان سره چه تاسے چه یاست لَتُفۡسِدُنَّ فِی الۡاَرۡضِ خامخا به فساد وکړے په ځمکه کښی د شام مَرَّتَیۡنِ دوه واره چه اول فساد یے مخالفت وود احکامو ځینے د تورات او قتل یاحبس وو د ارمیاء علیه السلام او دویم فساد یے قتل وو د زکریا او دیحیی او بل دعیسیٰ دقتل اراده وه وَ لَتَعۡلُنَّ او بیا به خامخا لویئي او سرکشي اختیار کړے نه موږ دطاعت ځینے یا به ظلم او کبرا ختیار کړی پر مخلوقاتو باندے خامخا عُلُوًّا کَبِیۡرًا ④ لویئي ډیره زیاته فَاِذَا جَآءَ نو هر کله او په هغه وخت کښی چه راغله وَعۡدُ اُوۡلٰىهُمَا وعده داول وار د هغو دوارو ځینے بَعَثۡنَا عَلَیۡکُمۡ نو مسلط کړل موږ پر تاسے عِبَادًا لَّنَآ یو قسم بندګان چه موږ لره وو یعنی چه مخلوق زموږ وو نه مطیع "فرمانبرداره" اُولِیۡ بَاۡسٍ شَدِیۡدٍ چه خاوندان د ډیر سخت جنګ وه چه هغه بخت نصر یا جالوت یا سجاریب وو سره د خپلو لښکرو فَجَاسُوۡا خِلٰلَ الدِّیَارِ ط نو ګرد وګرزیدل دوی ستاسے دکورو په مینځ کښے دپاره دتالاکولو او دقتل او دبند ستاسے وَکَانَ وَعۡدًا مَّفۡعُوۡلًا ⑤ او وو دا کاریو وعده کید ونکے او مقرره سوی خامخا بیا چه هر کله په ننوتل نو اول یے د دوی علماء قتل کړه او تورات یے وسوازی او مسجد اقصیٰ یے وران وی او اویا زره خلق یے بندیان بوتله ثُمَّ رَدَدۡنَا بیا بیرته راوګرزاوی او درکړی موږ لَکُمُ الۡکَرَّةَ عَلَیۡهِمۡ و تاسی ته دولت او غلبه پر دوی وروسته تر هغه چی تاسے توبه ګاره سواست د هغه خپل فسا ځینے او بندیان هم بیرته ورته راغله او طالوت ستاسے با چاسو او جالوت د داودؑ په لاس مړ دارسو وَاَمۡدَدۡنٰکُمۡ او موږ د تاسی سره مدد ګاری وکړه بِاَمۡوَالٍ په ډرکولو سره د هر قسم مالونو وَّبَنِیۡنَ او په ډیره ولوسره د زامنو ستاسے وَجَعَلۡنٰکُمۡ او موږ تاسے کړلاست اَکۡثَرَ نَفِیۡرًا ⑥ ډیر زیات دجهته د ملاتړه اِنۡ اَحۡسَنۡتُمۡ که تاسے نیکی وکړه اَحۡسَنۡتُمۡ

لِاَنْفُسِکُمْ تاسو نیکی به وکړی د خپلو ځانو دپاره ځکه چه نفعه یې هم وتاسی ته راجع ده وَاِنْ اَسَاْتُمْ فَلَهَا ط او که بدی وکړی نو هغه به هم بار دوی پر هم دغه نفسو ستاسی باندے ځکه چه د هغه ضرر هم و دغه نفسو ستاسے ته راجع دے فَاِذَا جَآءَ نو په هغه وخت کښی چه راغله وَعْدُ الْاٰخِرَةِ وعده د هغه اخیری وار د هغو دواړو وار و ځمنه نو ظطوس رومی مونږ راوه لیږی وتاسی ته د لښکر سره لِیَسُوْٓءٗا وُجُوْهَکُمْ ددے دپاره چه دوی بدکړی مخان ستاسی یعنی دغم اثار ستاسے په مخا نو کښی ښکاره کړے وَلِیَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ او ولی ددے دپاره چه دوے ننوزی و مسجد ته یعنے وبیت الْمَقْدس ته کَمَا دَخَلُوْهُ اَوَّلَ مَرَّةٍ لکه چه و هغه ته اول وار ننوتلے وه یعنے لکه چه بخوابخت نصر راغلے وو او مسجد یې خراب کړی وه او هدا ارکم به ظرطوس راسے او مسجد به خراب کړے وَلِیُتَبِّرُوْا او ولی ددی دپاره چه دوی هلاک او خراب کړے مَا عَلَوْا هر هغه شی چه دوی پر بالادسته او غالبه سی تَتْبِیْرًا ﴿۷﴾ په هلاکولو سره او په خرابولو سره او ددی دواړو فساد په مینځ کښی دوه سوه اولس کاله وه روایت دی چه ددوی باچا یوه ورځ د قربانی وځای ته راغلے نو ناګاه یې وینه ولیدله چه د ځکی ځمنه جوش وهی لکه چینه نو دوی ته یې وویله چه د ادځه شی وینه ده نو دوی وویل چه یوه قربانی د مونږ ځمنه قبوله سوی نه وه دا د هغی وینه ده نو ده ورته وویل چه دا تاسی درواغ راته وویل او په زرهاو وخلق یې ځنی قتل کړه او وینه بیا هم ونه دریده نو بیا یې ودوی ته وویل چه که تاسے رشتیا راته ونه ویل نو ټوله به قتل کړم نو دوی ورته وویل چه دا د یحییٰ علیه السلام وینه ده چه دلته شهید سویګے نو باچا وویل چه اے یحییٰؑ ! خدای ته معلوم دے هغه عذاب چه ستا د جهته دی وقوم ته ورسیګے نو او س دے ودی وینو ته ووایه چه په اذن د خدای سره ودریږی محکی تر هغه چه دا ټوله قوم دے ترتیغ تیروم "یعنی وژنم"

نو داوینه ودریده عَسٰی رَبُّكُمْ اَنْ یَّرْحَمَكُمْ ج نژدې ده چه رب ستاسی به که توبه وکاږی وروسته
تردی دویم عقوبته اَنْ یَّرْحَمَكُمْ ج دا چه رحم به وکړے پرتاسی باندے اوهغه
بخوانی نعمتونه به بیا درکړے وَاِنْ عُدْتُّمْ اوکه بیا درېم وار راوګرزیداست
زموږ وبے فرمانئ ته عُدْنَا م نوموږ به هم راوګرزو و په عقوبت ستاسی وقف لازم
سره او دوے درېم وار بیا عود «راګرزیده وبے فرمانئ ته» وکړے په تکذیب د رسول ﷺ
نو پردوے هم بیا عَوْد «راګرزیده» وشو په قتل سره او په جلاوطنی او په جزیه او په
خوارے سره لکه چه وعده ورسره شوے وه ٨ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِیْنَ حَصِیْرًا
اوکړے دی موږ دوږخ د کافرانو د پاره بندی خانه اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ بیشکه دا
قرآن چه دے یَهْدِیْ لِلَّتِیْ برابروے عاملان خپل وهغې لارې ته هِیَ اَقْوَمُ
چه هغه ډېره سمه او محکمه ده چه توحید د خدائے او باور پر رسول ﷺ او عمل
په حق لو او امرو او نواهیو دے وَیُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِیْنَ الَّذِیْنَ او زیرے کوے پر هغو
مؤمنانو یَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ چه دوے عملونه کوی د نیکو اَنَّ لَهُمْ د دے چه بیشکه
دوے لره دے اَجْرًا كَبِیْرًا ٩ لوے اجر چه جنت دے وَّاَنَّ الَّذِیْنَ او دا سے وائیے
چه بیشکه هغه کسان چه دے لَا یُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ چه دوی ایمان نه راوړی پر
آخرت باندے یعنی پرشروند باندے اَعْتَدْنَا لَهُمْ موږ تیار کړی دے ودوے ع ۱۰ ۱
ته عَذَابًا اَلِیْمًا ١٠ دردناکه عذاب وَیَدْعُ الْاِنْسَانُ او دعا کوے انسان یعنی
نضر بن حارث د غضب په وخت کښې د استهزاء او توکو په طریقه سره او سوال
کوے وخدائے ته بِالشَّرِّ د شر په غوښتو سره یعنی د عذاب په غوښتو سره چه وائیے
امطر علینا حجارة من السماء او ائتنا بعذاب الیم دُعَآءَهٗ بِالْخَیْرِ ط په مثل
سره د سوال دده وخدائ ته په غوښتو د خیر سره د سختی په وخت کښې وَ
كَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ١١ او انسان تلوارکونکی دی په غوښتو کښې د خیر او شر
دواړو بیله تامله او دا سوال د نضر بیا قبول شو چه د بدر په ورځ یې ګردن

ـه ده او زده پرموږ باندی کاڼی د اسمان څخه او بیا راوړه درد ناکه عذاب ۱۲

دوه هلسو وَجَعَلۡنَا الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ او ګرځولي دي موږ شپه او ورځ دواړه
اٰيَتَيۡنِ نښې «علامې» د قدرت کامله خپل فَمَحَوۡنَاۤ اٰيَةَ الَّيۡلِ نو بيا موږ محوه کړه
نښه او علامه د شپې او دا اضافت بيانيه ده يعنې شپه پخپله د لمر په رڼا
سره وَجَعَلۡنَاۤ اٰيَةَ النَّهَارِ او موږ ګرځولي ده نښه د ورځې مُبۡصِرَةً
روښانه چه هر څه پکښې ښکاره کيږي لِّتَبۡتَغُوۡا د دې د پاره چه تاسې په
رڼا کښې د دې طلبوئ فَضۡلًا مِّنۡ رَّبِّكُمۡ زيا توالے د خپل معاش د خپل رب
څخه يعنې کسب او سودا ګري پکښې کوئ وَلِتَعۡلَمُوۡا او بل د دې د پاره چه تاسې
معلوم کړئ په دې حرکاتو شمسيه وو او قمريه وو سره عَدَدَ السِّنِيۡنَ شمار د کلو
وَالۡحِسَابَ ط او بل حساب د تواريخو او د مودو او د وختو او د اعمالو عمرو وَكُلَّ
شَيۡءٍ او هر هغه شي چه ستاسې احتياج ورته پيښيږي که امور د دين وي او
که د دنياوي فَصَّلۡنٰهُ تَفۡصِيۡلًا ⑫ هغه موږ بيان کړي دي په واضح بيان لوسره
وَكُلَّ اِنۡسَانٍ او هر سړے که مسلمان وي او که کافر وي اَلۡزَمۡنٰهُ طٰٓئِرَهٗ لازمه
کړي ده موږ د ده سره هغه اعمال نامه چه په قيامت به والوزي او دې به يې
ونيسي فِىۡ عُنُقِهٖ ط په ګردن کښې د ده وَنُخۡرِجُ لَهٗ او موږ به راوباسو د ده د پاره
يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ كِتٰبًا په ورځ د قيامت کښې يو دفتر مکتوب چه د ده د اعمالو -
صحيفه ده يَّلۡقٰهُ مَنۡشُوۡرًا ⑬ چه دے به يې وينې خلاصه او غوړيدلے او بيا به
وهر سړي ته وويل سي چه اِقۡرَاۡ كِتٰبَكَ ط ولوله او ووايه دا خپله عمل نامه
كَفٰى بِنَفۡسِكَ الۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيۡبًا ⑭ بس دے هدا ځان ستا نن ورځ
پرتا حساب کونکے د نيکو او د بدو ستا مَنِ اهۡتَدٰى هر څوک چه سمه لار يې
ونيوله فَاِنَّمَا يَهۡتَدِىۡ نو بيشکه هدا خبره ده چه دے پر لار سميږي
لِنَفۡسِهٖ ج د خپل ځان د پاره ځکه چه دا تلل پر سمه لار هم د دې ومطلب ته
رسوي وَمَنۡ ضَلَّ او هر څوک چه ګمراه سو فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَا ط نو بيشکه

چہ هغه خبره ده چہ گمراه کیږي پرخپل ځان باندے ځکه چہ گمراهي د ده هم
دے هلاکوی وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اونه اخلی هیڅ اخیستونکے وِزْرَ اُخْرٰی بار
دگناهو دبل چا لکه ولید بن مغیرة ونور وکفارو ته وویل چہ که زما تابعان
سواست نوستاسے دگناهو بار به زه پرځان واخلم وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ او نه
یو موږ عذاب ورکونکے هیڅ طائفی لره حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾ ترهغو پورې چہ
موږ راوه لیږو ورسول چہ د توحید لا روړ ته بیان کړے او عذر ورته جوړ
سی وَاِذَآ اَرَدْنَآ او په هغه وخت کښي چہ موږ اراده وکړو اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً
چہ هلاکو یو بنار اَمَرْنَا نو مأمورئ کړو په طاعت سره د شیطان یا دیرکړو
یا امیران کړو موږ مُتْرَفِيْهَا مشران او غنیان د هغه بنار فَفَسَقُوْا فِيْهَا نو دوی
فسق او فجور وکړي په دے بنار کښي فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ نو لازم سي پر دے
بنار «قریه» باندے هغه کلمه دعذاب چہ په ازل کښي ورته مقرر وه فَدَمَّرْنٰهَا
تَدْمِيْرًا ﴿۱۶﴾ نو بیخ او بنیاد یے راوکاږو او هلاک یے کړو په سختو هلاکولو سره
وَكَمْ اَهْلَكْنَا او ډیر موږ هلاک کړي دي مِنَ الْقُرُوْنِ دا هله څخه دیرو
قرنو او قرن څلویښت یا اتیا ارشپږ. شلے کالو ته وایي مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ له وروسته
تروفات د نوح لکه عادیان او ثمودیان او مؤتفکات او داسي نور ډیر سوه
وَكَفٰى بِرَبِّكَ او بس دے رب ستا بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًا ۢ په گناهو دخپلو بندگانو
که څه هم دوے یے په سینو کښي پټوي بَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ بینا دے که څه هم دوی پردے
پرا چوے مَنْ كَانَ هرڅوك چہ دے وی يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ چہ فقط دا جهان
غواړي یعنی لذتونه او نعمتونه یے چہ لاس په لاس اوښ ردے عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا
نو موږ به ژر ورکړو هغه ته په دے دنیا کښي مَا نَشَآءُ هغه قدر چہ زموږ
اراده دے اقسامو څخه د نعمتوا او دا هم بیا لِمَنْ نُّرِيْدُ وهرهغه چاته دد ـــے
طالبانو څخه د دنیا چہ زموږ اراده وشي ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ج بیا به تیار

کړه موږ ورته جهنم په آخرت کښې يَصْلٰهَا چه سوځی به دے په دغه دوزخ
کښې مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۱۸﴾ غضب کړه سوی او لیری کړه سوی د رحمت څخه د خدای
وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ او هرڅوک چه هغه جهان غواړی یعنی جنت وَسَعٰى لَهَا
سَعْيَهَا او بیا سعی هم کوے ورته د آخرت د پاره هغه چه لایق دے د سعی په
کولو سره د نیکو اعمالو وَهُوَ مُؤْمِنٌ او حال دا چه دے بیا مؤمن هم وی خالص
یعنی خالی د شائبی څخه د شرک او د تکذیب فَاُولٰٓئِكَ نو دغه کسان چه دی چه
دا درے سره کارونه پکښې وی چه طلب د آخرت دی او سعی لائق او خالص
ایمان دے كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾ ده دوی سعی د دوی مقبوله د خدا ے څخه
كُلًّا دا تنوین عوضی دے یعنی وهریوه ته د دوے دواړو طائفو څخه چه طالبان
د دنیا دے او طالبان د عقبیٰ دی نُّمِدُّ موږ ورکول کوو هٰٓؤُلَآءِ هم ورته
اولیٰ طائفی ته په قدر د کفایت د دوی وَهٰٓؤُلَآءِ او هم دے ورته دویمی
طائفے ته په قدر د همت د دوے یعنی یوه طائفه هم محرومه نه پریږدو بلکه
دواړو ته ورکول کوو مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ط د داده او ورکولو څخه د رب ستا وَمَا
كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ او نه دے ورکول د رب ستا په دنیا کښې مَحْظُوْرًا ﴿۲۰﴾
منعه کړه سوے نه د مؤمن څخه او نه د کافر څخه اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا وګوره د
عبرت په نظر سره چه موږ څرنګه غوره کړی دی بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ط بعضے
د دے بنی آدم څخه پر بعضو نورو باندے په دنیا کښې په حکمت بالغه سره
په صحت په اعتدال په ناداری په مال په قبحه په جمال په فرحت په ملال
په بے کمالی په هدایت په ضلال په بُعد په وصال کښې او داسے نور وَلَلْاٰخِرَةُ
او خامخا آخرت چه دے اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ ډیر لوی دے د جهته څخه د مرتبو
وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿۲۱﴾ او ډیر لوے دے د جهته څخه د فضله نکته: هغه
چه مخکښے ذکر سوے وه هغه تفاوت دنیوی وه او هرچه تفاوت اُخروی دے د

هغه دیوزیات دے ځکه چه په جنت کښی تفاوت په درجو سره دے اوهره درجه د هغه بلی ځخه دومره جګه ده لکه اسمان د ځمکی ځخه او په دوزخ کښی تفاوت په درکاتو سره دے اوهره درکه د بلے ځخه دومره کښته وي لکه ځمکه داسمانه ځخه لَا تَجۡعَلۡ مَعَ اللّٰهِ مه پیدا کوه اے بنده د خدای سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدای او که دے پیدا کړی فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومًا نو ته به سی غضب کړه سوے
ع ١٢
مَّخۡذُولًا ⑳ محروم د قوله خیر ځخه وَقَضٰی رَبُّكَ اوحکم کړی دے رب ستا اے رسوله پر مکلفا نو قطعًا جزمًا اَلَّا تَعۡبُدُوٓا په دے سره چه عبادت مه کوے د بل هیچا اِلَّآ اِیَّاهُ مګر یوازے هم دده بے شرکته د بل چا وَبِالۡوَالِدَیۡنِ او بیا بے ورپسی دا حکم کړی دی چه احسان کوے د مور او پلار خپل سره ... اِحۡسَانًا په احسان کولو سره نکته :- احسان دوالدینو بے پیوست کړی پخپل عبادت پوری بے فاصله ځکه چه دے اودوے علت دے د وجود دولد مګردے حقیقي اودوے مجازی او په دے کښی بل هیڅوك ور سره شریك نه دے فقط اِمَّا یَبۡلُغَنَّ که خامخا ورسیدی او دا اِنۡ شرطیه دے او چه مَا پر زائد سوی دے د پاره د تاکید بے پر فعل داخل سوے دی اوچه یوازی اِنۡ وے بیانه ما نو دنون تاکید پرفعل داخلول نه دی روا عِنۡدَكَ الۡکِبَرَ ستا سره د زوړوالی وحد ته اووخدمت ته محتاج سی او بل هیڅوك یې د خدمت نه وے اَحَدُهُمَآ یو ددوی یعنی یا پلار او یا مور اَوۡ کِلٰهُمَا یا دواړه یعنی اے بنده که ستا په مخ کښی د رے کارونه وسوله :- ستاد مور او پلار سره یودا چه زاړه سو بل دا چه محتاج سوه وخدمت ته بل دا چه ستا ځخه ماسیوا بل هیڅوك د خدمت نه وو نو پر تا پنځه کاره ونه لازم دی لکه چه وایی فَلَا تَقُلۡ نو ترمه وایه لَّهُمَآ اُفٍّ ودوی دواړو ته کلمه د اُف اوداِ یو لفظ دی چه هر کله یوځوك په یوه کار د سنړی یا ستوما نه سی نو وایي یې یعنی مه د

دد وے پہ خدمت کښے ستو مانی ښکارہ کوہ او مہ یے پہ صحبت او مجلس سرہ ملا لہ "ستړی اوخفہ" کیږہ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا او مہ یے ترټہ او مہ سخت جواب ورسرہ کوہ وَقُلۡ لَّهُمَا او وایہ ددوے دواړو تہ قَوۡلًا كَرِيۡمًا ﴿٢٣﴾ نرمہ خبرہ پہ ادب سرہ یعنی خبرہ داسی ورسرہ اړوہ لکہ عاجزہ گنهکار مریي چہ یے د خپلہ قاهر او تند خویہ مولٰے سرہ اړوی وَاخۡفِضۡ لَهُمَا او کښتہ کړہ ددوے دواړو دپارہ جَنَاحَ الذُّلِّ وزر د تذلل او د تواضع او تکبر او ترافع "ځان لوړے" ورسرہ مہ کوہ مِنَ الرَّحۡمَةِ د ډیرے مهربانۍ ځنی ځکہ چہ پہ اول کښے تہ محتاجہ وی او دوے بہ ستا تربیت کاوے سرہ د شفقتہ نو اوس چہ دوے محتاجہ سوی دی نو تہ یے خدمت کوہ سرہ د تذلله او ددوے دپارہ مدام وما تہ سوال کوہ وَقُلۡ او تہ وایہ رَّبِّ ارۡحَمۡهُمَا چہ اے زمار بہ مهربانے او بخښنہ وکړہ ددوے دواړو تہ او د تولو غمو ځنی یے وساتہ كَمَا رَبَّيٰنِيۡ لکہ چہ دوے دواړو زما تربیت کړے دوا او د تولو غمو ځنی یے ساتلے وم صَغِيۡرًا ﴿٢٤﴾ پہ هغہ حال کښی چہ زہ کوچنے وم او خپل ځان می پخپلہ نہ سو ساتلاے حدیث شریف دے چہ رضاء اللّٰه عہ فی رضاء الوالدین و سخطہ فی سخطهما او بل حدیث شریف دے چہ ایاکم وعقوق عہ الوالدین فان الجنۃ توجد ریحها من مسیرۃ الف عامٍ ولا یجد ریحها عاق او روایت دے چہ یفعل صہ البار ما شآء ان یفعل فلن یدخل النار ویفعل العاق ما شآء ان یفعل فلن یدخل الجنۃ کذا فی المدارک رَبُّكُمۡ اَعۡلَمُ رب ستاسے بنہ دانا دے بِمَا فِيۡ نُفُوۡسِكُمۡ پہ هر هغہ شی چہ ستاسے پہ سینو کښے

عہ معنیٰ دا چہ رضا د اللّٰه پاک پہ رضا کیدلو د مور او پلار سرہ دہ او پہ غضب کیدل د اللّٰه پاک پہ خفگان سرہ د مور او پلار دے ١٢ عہ معنیٰ دا چہ ځان وساتی د عاق والے ځنی د مور او پلار ځکہ چہ د جنت بوی نیکو کارو زر کالہ د مخہ پیدا کوی او د مور او پلار سرہ جفا کارہ بہ د جنت بوی پیدا نہ کړی ١٢ صہ کوی دی نیکی کوئکی د مور او پلار سرہ هر ځہ چہ خوښہ یے سی نو هیڅکلہ بہ دا ور تہ داخل نہ سی او کوی دی جفا کار د مور او پلار سرہ هر ځہ چہ خوښہ یے سی او هیڅکلہ بہ وجنت تہ داخل نہ سی ١٢

دمور او پلار سره ۲ ... جفا ۱۲
پراته دے که وفاده د والدینو سره او که عقوق دی د دوے اِنْ تَكُونُوْا صٰلِحِيْنَ
که تاسے اوسی صالحان یعنی بنه کونکے دخپل پلار او مور سره فَاِنَّهٗ كَانَ
نو بیشکه چه خدای دے لِلْاَوَّابِيْنَ د توبه کبنونکو د پاره د عقوق څخه د مور او
پلار یا دهرے گناه څخه چه د دوے څخه سوی وی غَفُوْرًا ﴿۲۵﴾ دیر بخښونکی دے
روایت دے چه هرکله کفار و د مکی به خپل مالونه دریا او د شاباسی دپاره
دخلگو بے مصرفه لگول په دے شان او طریقه سره چه دیوه میلمه دپاره به یے
دیر اوبنان حلال کړه او چه ځای به دلگولو راغلی لکه پرحقدارانو نو هلته به
یے نه لگاوے نو دپاره دامر په اداکولو د حقوقو سره او د منع کولو څخه داسراف نو
نازل سو وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى او ورکوه اے بنده و قریبانو ته حَقَّهٗ حق د ده یعنی
نفقه د ده که محرم وو او نادار ه وو په نزد د امام اعظمؒ وَالْمِسْكِيْنَ او و مطلق
ناداره ته وَابْنَ السَّبِيْلِ او ورهروے او مسافر ته هم حق د ده د زکوٰة څخه وَلَا تُبَذِّرْ
تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾ او اسراف مه کوه په اسراف کولو سره یعنی بے ځایه یے مه بښنده اِنَّ
الْمُبَذِّرِيْنَ بیشکه اسراف کونکے چه دے كَانُوْٓا دوے دی اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ط
ورونه د شیطانانو په اتلاف د مال کښی وَكَانَ الشَّيْطٰنُ او دے شیطان لِرَبِّهٖ
كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾ رب خپل لره منکر د ده د نعمتو څخه روایت دے چه هرکله فقراءو
داصحابو لکه بلالؓ یا صهیبؓ یا خبابؓ چه د رسولؐ څخه به یے د اسی شی وغوښتی
چه هغه به د ده سره نه وو نو ده به د دوے ته د دیری حیا څخه خُله ور وگرزاوی نو
نازل سو وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ او که تا اعراض کاوے او د اعبارت هم د تیرا ما یبلغن
پشان دے په تولو احکاموکښی عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ د دے محتاجانو د اصحابو
یا د هغه تیرو د روسره وو طائفو څخه د پاره د انتظار د روزے مِّنْ رَّبِّكَ د
جانب څخه د خپل رب تَرْجُوْهَا چه ته د هغه روزی امید لرے یعنی که اعراض
دے کاوے د دوے څخه یو وخت د دے دپاره چه که د رب د طرفه څخه ما ته

څه راغله نو دا سوال د دوے به هغه وخت ادا کړم فَقُلْ لَّهُمْ نو ته و دوے ته ـ فی الحال وو وایه قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ﴿۲۸﴾ نرمه خبره یا د عایا وعده دا حسان نو بیا د دے ایت تر نازلید و ورسته چه به هرچا سوال ځنې وکړی چه د ده سره به هغه شي حاضر نه وو نو ورته و به یې ویل چه رزقنا الله وایاکم روایت دی چه یوه ورځ یو هلك راغلے ورسول ته چه مورمی د تا څخه قمیص غواړی نو ده ۳ ورته وویل چه یو ساعت وروسته راسه نو هرکله چه هغه بیا راغلے چه زما مورستا د غاړی قمیص غواړے نو ده قمیص د غاړی څخه راوکښی او ور یې کړے او دی د ننه کښېناستی بیا چه بلال اذان وکړے نو دے د جهته دلوڅ والے څخه نه راوواتے نو نازل سو وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ او ته مه نیسه لاس خپل مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ کلك نیولے لکه چه تړلی وی په خپل گردن پوری او دا کنایه ده د امساك[عه] څخه یعنی امساك مه کوه وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ او مه یې غځوه په ټنې ډیر غځولو سره یعنی اسراف هم مه کوه فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا نو ته به سی ملامت کړه سوی هم وخدائے ته او هم و مخلوق ته چه خپل ځان دی ولی داسی حیران کاوی مَّحْسُوْرًا ﴿۲۹﴾ پښېما نه په د و مره ورکولو سره. رباعی

راسه مه کوه امساك چه لاس دی پروت وی په گردن کښې
دانا کاره کاردے وروره په مذهب د عاقلانو
او اسراف ترهغه زیات دے په بدی کښې
چه تل ناست به یې تش لاس او ملامت د ناقلانو

بلکه لاره داعتدال ونیسه چه نه پکښې تقتیر او نه تبذیر[سه] نقصان او زیادت، یو د دے جهته چه خیر الامور اوسطها او بل د دے جهته چه اِنَّ رَبَّكَ بیشکه چه رب ستا يَبْسُطُ الرِّزْقَ فراخوی روزی لِمَنْ يَّشَاءُ د هغه چا د پاره چه اراده یې وسی وَيَقْدِرُ او تنگوی یې پر هغه چا چه اقتضایې وسی اِنَّهٗ

عه لاس ہندول او چاته څخه نه ورکول ۱۲ سه بهترد کار دمیانه وی ۱۲

بیشکه چه دے کَانَ بِعِبَادِهٖ دے پر مصالحو دخپلو بندګانو باندی خَبِیْرًا بَصِیْرًا (۳۰) ع ۸/۳
دانا او بینا وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَکُمْ او تاسے مه وژنی اولاد خپل خَشْیَۃَ اِمْلَاقٍ
د بیرے څخه د فقر چه که اولاد ډیر سی نو رزق به راباندی تنګه کړی نَحْنُ
نَرْزُقُهُمْ ځکه چه مونږ ورکوو دوی ته روزی ورکوو وَاِیَّاکُمْ ط او بلکه لا او تاسے
ته هم نو ددوی د روزے غم د سره مه خوری اِنَّ قَتْلَهُمْ بیشکه قتل ددوی
چه دی کَانَ خِطْاً کَبِیْرًا (۳۱) دے یو لوے خطا کار ځکه چه یو خو پکښی قطع (عه)
د خپل نسل ده او بل ددے نوعی ورکول دے وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓی او تاسے مه
نژدے کیږے زنا ته فضل تردے چه مباشرت (زنا) ورسره وکړے یعنی ددواعیو
او بلونکو څخه یے ځان وساتے لکه لمس «لاس وروړل»، یا قبله «مچه»، خیښن یا داسے
نور او که نهی «منع کول»، د نفس زنا څخه وای نو ولا تزنوا به یے ویلی وائے
اِنَّهٗ کَانَ بیشکه دا زنا چه ده فَاحِشَۃً ط داسے بدکار دے چه نه یے شرع او
نه یے عقل خوښوے وَسَآءَ سَبِیْلًا (۳۲) او بد دے داعمل د جهته (عه) د روښه ځکه
چه دا په واقعه کښی غصب دے د بضعی (ونیمی و شرمګاه ۱۲) چه هغه بیا مفضی کیږی یو د نسب
وختمید وته (په زور اخیستل ۱۲) او بل دډیر و فتنو و راپورته کید وته وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِیْ
او تاسے مه وژنی هغه نفس یعنی هغه مؤمن او ذمی (عه) او معاهد حَرَّمَ اللّٰهُ
چه خدائے حرام کړیدے قتل د هغه اِلَّا بِالْحَقِّ ط مګر په حق سره چه د قتل (چه وعده ورسره سوی وی ۱۲)
مستحق سی په کفر سره تر ایمان راوړلو وروسته یا په زنا سره تر احصان
«واده کولو»، وروسته یا په قتل سره د معصوم مؤمن عمدًا «په قصد سره»، وَمَنْ
قُتِلَ مَظْلُوْمًا او هر څوک چه قتل کړه سو په داسے حال کښی چه ظلم پر
کړه سوے وه یعنی پر ناحقه مړوی فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِیِّهٖ نو په تحقیق سره
مونږ ورکړیدے وارث ته د هغه سُلْطٰنًا تسلط او غلبه او قوت پر قاتل
چه مړیے کړے فَلَا یُسْرِفْ فِّی الْقَتْلِ ط نو اسراف دی بیا نه کوی دا وارث

عه یعنی ختمیدل د خپل نسل ۱۲ عه کمرن لارے ۱۲ عه کافر چه دامن نو مه یه اخیستل سوی وی ۱۲

په وژنه لوګښې چه د قتل شخه ما سیوا اِن قاتل نه خولے مرکړے یا دیوه پر ځای دوه مړه کړے اِنَّهٗ بیشکه دے چه دی کَانَ مَنۡصُوۡرًا ﴿۳۳﴾ دے مدد کړه سوی دے اود ضمیر د اِنَّهٗ درے احتماله لری که اول مقتول ته راجع وی نو معنیٰ دا چه دے منصور دے هم په دنیا کښے چه بل پر قتل کیږے او هم په آخرت کښې چه ثواب ورکول کیږے او که ولی ته راجع سی نو معنیٰ دا چه دے منصور دی چه د قصاص اختیار وده ته ورکړه سویدے او که هغه دویم مقتول ته راجع سے چه په اسراف سره بے وژلے دے نو معنیٰ دا چه دے منصور دے چه بیا به بل پر مړ کیږے وَلَا تَقۡرَبُوۡا مَالَ الۡيَتِيۡمِ او مه نژدے کیږے د یتیم و مال ته فضل تر دے چه تصرف پکښې وکړے اِلَّا بِالَّتِىۡ مګر په هغه طریقه سره هِىَ اَحۡسَنُ چه هغه ډیره ښه وی یعنی چه په هغه کښې ساتل بلکه زیاتول د مال دده وی او دا معامله بیا تا سے کوی حَتّٰى يَبۡلُغَ اَشُدَّهٗ ترهغو پوری چه دی د بلوغ و حد ته ورسیږے او آثار او علامی د رشد پکښې ښکاره سی وَاَوۡفُوۡا بِالۡعَهۡدِ او وفا کوی په هغه وعده سره چه خدائے د تا سے سره کړې ده دا او امر او د نواهیو یا په هغه وعده سره چه تا سے یے سره کوی په خپل مینځ کښے اِنَّ الۡعَهۡدَ بیشکه عهد چه دے كَانَ مَسۡـُٔوۡلًا ﴿۳۴﴾ دے دا عهد پوښتل سوے د عاهد شخه یا د اعاهد پوښتیدل سوی دے د عهد شخه د چه د وفا (پوره کولو) شخه او د غیر وفا (نه پوره کولو شخه) په تقدیر سره د عَنۡهُ وَاَوۡفُوا الۡكَيۡلَ او پوره کړے پیمانه اِذَا كِلۡتُمۡ په هغه وخت کښې چه څه پیمانه کوی و چا ته او نقصان مه پکښې کوے وَزِنُوۡا بِالۡقِسۡطَاسِ الۡمُسۡتَقِيۡمِ ؕ او تول کوے په تله او ترازو سم او برابر سره یعنے هغه تول یا په ترازو سره چه قلغی پکښې نه وی ذٰلِكَ خَيۡرٌ دا پوره کول د پیمانے او د تول ډیر غوره دے په دنیا کښے وَّاَحۡسَنُ تَاۡوِيۡلًا ﴿۳۵﴾ او ډیر ښه دے د جهته د عاقبته وَلَا تَقۡفُ مَا او پیروے مه کوه

د هغه کار لَیۡسَ لَکَ بِهٖ عِلۡمٌ ؕ چه نه وے وتا ته په هغه سره پوهه یعنی ترڅو چه دے پخپله لیدلے یا اوریدلے نه وے ترهغو پورے یے مه وایه چه ما اوریدلے یا لیدلے دے یا مراد شاهدی ده په دروا غوسره اِنَّ السَّمۡعَ بیشکه غوږ چه دے وَالۡبَصَرَ او سترګه چه ده وَالۡفُؤَادَ او زړه چه دے کُلُّ اُولٰٓئِکَ هر یو ددی دروسره وو چه دے کَانَ عَنۡهُ وی به دے دخپله ځانه یا دخپله صاحبه څخه مَسۡـُٔوۡلًا ﴿۳۶﴾ پوښتید ل سوی چه صاحب ستاسے به په تاسی سره څه کار کاوی په دنیا کښے یا چه تاسی ولی ګناه کوله وَلَا تَمۡشِ او ته تلل مه کوه فِی الۡاَرۡضِ مَرَحًا ۚ په ځمکه کښی په خیال او په تکبرسره اِنَّکَ لَنۡ تَخۡرِقَ الۡاَرۡضَ بیشکه چه ته به د سره ځمکه څیرے نه کړے په دربولوسره دخپلوپښو د ډیره تکبره څخه وَلَنۡ تَبۡلُغَ الۡجِبَالَ طُوۡلًا ﴿۳۷﴾ او د سره به ته نه ورسیږے دغرووسره وته دجهته څخه داوږد والی یعنی ولوړسرته به یے ونه رسیږے په ډیروجګید وسره دډیرے نخروکولوسره کُلُّ ذٰلِکَ دا ټوله چه ځ ته ذکرسوه چه یوولس امره دے او څوارلس نهی وی دولا تجعل څخه را په دیخوا کَانَ سَیِّئُهٗ ده بدی د هغه عِنۡدَ رَبِّکَ مَکۡرُوۡهًا ﴿۳۸﴾ په نزد د رب ستا ناخوښه او مبغوضه ذٰلِکَ دا هر څه چه ځ ته ذکرسول داحکامو څخه مِمَّاۤ اَوۡحٰۤی اِلَیۡکَ د هغه قسمه څخه دے چه رالیږلے دی وتا ته رَبُّکَ رب ستا مِنَ الۡحِکۡمَةِ ؕ دحکمت علمی څخه چه معرفت دحق په حاصلیږے او دعملی څخه هم چه بنه اعمال په معلومیږے وَلَا تَجۡعَلۡ او مه پیدا کوه مَعَ اللّٰهِ د خدائے سره اِلٰهًا اٰخَرَ بل خدائے او که دے پیدا کړے فَتُلۡقٰی فِیۡ جَهَنَّمَ نو وبه غورځول سی ته په دوږخ کښی مَلُوۡمًا په داسے حال کښی چه ملامت کړه سوے به او سی ته هم د مؤمنانو او هم د ملائکو مَّدۡحُوۡرًا ﴿۳۹﴾ ترټل سوی د درګاه څخه د رب اَفَاَصۡفٰکُمۡ رَبُّکُمۡ ایا نو غوره کړی یاست تاسی خپل رب

ع یعنی څوک چه نه ځمکه څیرلای سی او نه دغرو سره برابریدلای سی نو کبرا ولولی ولی کوی
دخاورو پیدا کړی یئ رب پاک راسه افتاد په عاشقی کښی سه بے باک

بِالْبَنِیْنَ پہ ځامنوسرہ چہ تاسی تہ یې ځامن درکړی دی وَاتَّخَذَ او دہ خپل
ځان تہ نیولی دی مِنَ الْمَلٰٓئِکَۃِ اِنَاثًا د ملائکو څخہ ښځې یعنی لوڼی اِنَّکُمْ بیشکہ
تاسې چہ یاست لَتَقُوْلُوْنَ خامخا تاسی وایاست قَوْلًا عَظِیْمًا ﴿۴۰﴾ ډیرہ لوئی خبرہ ع ۱۰ ۴
ځکہ چہ اول اولاد ورتہ ثابتوی چہ دا اولاد د جسم د خاصو څخہ دی دویم
بیا ھغہ قسم اولاد چہ تاسی پہ شرمیږې چہ ھغہ لوڼی دے وَلَقَدْ صَرَّفْنَا
او خامخا پہ تحقیق سرہ مونږ مکررہ کړے او بیان کړی دہ پہ څو څو وارہ سرہ
خپلہ پاکی د او لادہ څخہ فِیْ ھٰذَا الْقُرْاٰنِ پہ دے قرآن کښی لِیَذَّکَّرُوْا
د دے د پارہ چہ دوی پند پہ واخلی وَمَا یَزِیْدُھُمْ او نہ زیاتوی و دوی تہ
دا تکرار اِلَّا نُفُوْرًا ﴿۴۱﴾ مگر تیښتہ او لیرے کیدل د حق څخہ قُلْ لَّوْ کَانَ
تہ و دوی تہ ووایہ چہ کہ وی مَعَہٗٓ اٰلِھَۃٌ د رب العٰلمین سرہ نور خدایان ھم
کَمَا یَقُوْلُوْنَ لکہ دا مشرکان چہ وائی اِذًا لَّابْتَغَوْا نو خامخا بہ دے خدایانو
طلب کړی وای اِلٰی ذِی الْعَرْشِ و خاوند د عرش او ومالک تہ د ملک
سَبِیْلًا ﴿۴۲﴾ لارہ د ورتلو لکہ چہ دا عادت دی د باچاھانو چہ پہ خپل مقابل
کښے ھمیشہ مقدمہ وروړے سُبْحٰنَہٗ وَتَعٰلٰی پاک دی خدائے او بلند شانہ
دے عَمَّا یَقُوْلُوْنَ د ھغہ څخہ چہ دوے یې وائی عُلُوًّا کَبِیْرًا ﴿۴۳﴾ پہ لویہ بلند شانی
سرہ رَوَایت دے چہ یوہ ورځ د رسول ﷺ پہ لاس کښی یو وچ لرګی وہ چہ
ناگاہ یې تسبیح وویل پہ دا سے جلځ او لوړ اواز سرہ چہ حاضرو څولو وا
وریدہ نو دوے د ډیرہ تعجبہ څخہ وویل چہ یارسول اللہ! دا وچ لرګی
څنګہ تسبیح وائی نو نازل سو تُسَبِّحُ لَہُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ تسبیح وائی دہ
لرہ اووہ سرہ اسمانونہ وَالْاَرْضُ او ځمکہ ھم وَمَنْ فِیْھِنَّ دا او ھر ھغہ څوک
ھم چہ پہ دوے کښی دی د ملائکو او د پیرانانو او د انسانانو څخہ وَاِنْ مِّنْ
شَیْءٍ او نستہ ھیڅ شی د مخلوقاتو څخہ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِہٖ مگر چہ تسبیح وائی

دخدای دده دثناسرہ پیوسته مگرذی ږوحیږی په ژبه اولسانه سره وایي اوټول
یې په لسانه دحال سره وایي لکه چه حدیث دی چه ما اصطید حوت فی البحرولا
طآئر یطیرالا بما یضیع من تسبیح الله کذافی المدارک وَلٰکِنۡ لَّا تَفۡقَهُوۡنَ اولیکن
تاسی نه پوهیږۍ تَسۡبِیۡحَهُمۡ ط په تسبیح ویلوسرہ ددوی دپاره داختلاف د
لغاتو اِنَّهٗ بیشکه چه دے کَانَ حَلِیۡمًا صبا بردے په جهل دبندگانوسره غَفُوۡرًا ﴿۴۴﴾
بخښونکی دے دمؤمنانو دگناهو روایت دے چه هرکله ابوجهل او ده
ملگرو دا اراده وکړه چه تردے وروسته به ورسول ته دقرآن دقرائت
په وخت کښې ضرر رسوو نوبیا دقرائت په وخت کښې به دے خدا ے دکفارو
دسترگو غائب کړی لکه چه وایي وَاِذَا قَرَاۡتَ الۡقُرۡاٰنَ او په هغه وخت کښې
چه ته قرآن وایې جَعَلۡنَا بَیۡنَکَ نوموږ پیدا کوو په مابین ستا وَبَیۡنَ الَّذِیۡنَ
او په مابین کښې دهغوکسانو لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ چه ایمان نه راوړی په
راتلوسره دقیامت حِجَابًا مَّسۡتُوۡرًا ﴿۴۵﴾ پرده پټه دسترگوځنه ددوی چه
نه وینی تا روایت دے چه دابی لهب ښځې وروسته ترنزوله دسورۃ
تبت یوه لویه تیږه راواخیسته چه رسول په وولی او ده په کوټه کښې
دصدیق قرآن لوست نو دے ښځې دصدیق ځنه پوښتنه وکړه چه ملگری
دے چیری دے چه دهغه هجواوبد ویلوانتقام ځنی واخلم چه په ما پوری
یې شاعری جوړی کړی دی چه وایي حمالة الحطب فی جیدها حبل من مسد
بیا رسول وصدیق ته وویل چه ته یې وپوښته چه په دے کوټه کښې بې
له ماځنه بل څوک سته که نشته ؟ بیا چه دایې وپوښتل نو دے قسم
وکړے چه بیله تا هیڅوک نشته پکښې وَجَعَلۡنَا عَلٰی قُلُوۡبِهِمۡ او واچولے دے
موږ پرزړو ددوے اَکِنَّةً اَنۡ یَّفۡقَهُوۡهُ پردے ددی دپاره چه دوی

عه معنے دا چه نه سی ښکار کولای ماهی په دریاب کښې او نه مرغۍ چه الوزی په وزرو سره مگر په سبب دضائع کولو او غافل کیدو دده دذکر ځنه دالله نه یعنے چه هرکله دذکره دخدائے غافل سی نو ځه غضب پرنازل سی ۱۲

و نه فهموی دا قرآن او دا پرده یې په مابین کښې حائلی سی وَ فِیۤ اٰذَانِهِمْ
او په غوږو کښې دووی ایږدو موږ وَ قْرًا کوڼوالی چه قرآن وا نه وري وَ اِذَا
ذَکَرْتَ رَبَّکَ او په هغه وخت کښې چه یاد کړی ته خپل رب فِی الْقُرْاٰنِ په قرآن کښې
وَحْدَهٗ یوازې بې له الهه دووی وَلَّوْا عَلٰۤی اَدْبَارِهِمْ نو بېرته وګرزي دوی پرشاو
خپلو نُفُوْرًا ﴿۴۶﴾ په دا سې حال کښې چه دوی ترهيد ونکی وي داو ريد لو څخه د توحيد
روایت دی چه نضربن حارث وویل چه زه نه پوهیږم چه محمد دا څه وایی نو
ابوسفیان وویل چه بعض خبرې یې رشتیا بسکاره کیږي او ابوجهل وویل چه
مجنون دی او ابولهب وویل چه کاهن او حویطب وویل چه شاعر دی نو نازل
سو نَحْنُ اَعْلَمُ موږ بنه پوهیږو بِمَا یَسْتَمِعُوْنَ بِهٖۤ په هغه کار چه دوی اوريد ل
کوی د قرآن دهغه مطلب د پاره چه طعنې او مسخری دی یعنی بائده خو داسی وه
چه دا قرآن یې په نیت دا تعاظ "پند اخیستلو" اوريدلای لیکن دوی د مسخرو او طعنو
د پاره اوري اِذْ یَسْتَمِعُوْنَ اِلَیْکَ په هغه وخت کښې چه دوی وتا ته غوږ نیسی وَ
اِذْ هُمْ نَجْوٰۤی او په هغه وخت کښې چه دوی سره ګوښه وی نو څوک یې سحر او
څوک یې شعر او څوک یې کهانت بولی اِذْ یَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ په هغه وخت کښې چه
وایی ظالمان یعنی مشرکان وا صحابو ته اِنْ تَتَّبِعُوْنَ چه پیروی نه کوی تاسې اِلَّا
رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ﴿۴۷﴾ مګر د داسې سړي چه جادو په کړه سوی دی یا جادوګر دی
اُنْظُرْ کَیْفَ ضَرَبُوْا لَکَ الْاَمْثَالَ وګوره چه دوی په تا پوري څنګه مثالونه وایی
چه څوک دی ساحر او څوک دی شاعر او څوک دی مجنون بولی فَضَلُّوْا نو ګمراه
او څپ سوه دوی د حق د لاری څخه فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ سَبِیْلًا ﴿۴۸﴾ نو طاقت نه لری
دوی د پیدا کولو د حق د لاری وَقَالُوْۤا ءَاِذَا کُنَّا او دوی وایی چه ایا په هغه وخت
کښې چه موږ سو ترمړلو وروسته عِظَامًا وَّرُفَاتًا تش هډوکی او خاوری
میده سوی ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ایا بیشکه چه موږ به بیا خامخا را ولاړ او ژوندي

کړه سو خَلْقًا جَدِيْدًا (۴۹) په نوی پيدا کولو سره يعنی وچه خاوره به بيا خرنګه لند
غوښه سی او دا محال دے قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً ته ووے ته ووايه چه ډبرې او
تيږے سی که کيدا سے اَوْحَدِيْدًا (۵۰) يا اوسپنه سی اَوْخَلْقًا يا بل قسم مخلوق
سی مِّمَّا يَكْبُرُ ا د هغه قسمه څخه چه ډير لوے ښکاريږي فِیْ صُدُوْرِكُمْ ط په سينو
ستاسی کښی لکه غر يا مځکه يا اسمان يا يو بل شی چه احياء «ژوندی کول» يے
ډير سخت وے فَسَيَقُوْلُوْنَ نوژر دے چه دوے به ووايي چه مَنْ يُّعِيْدُنَا ط هغه
څوك دے چه بيرته به مونږ را ولی اوژوندے به کړی مونږ ترمرګه وروسته قُلِ
الَّذِیْ ته ورته ووايه چه هغه څوك به مو بيرته ژوندی کړی فَطَرَكُمْ اَوَّلَ
مَرَّةٍ چه پيدا کړی يئ ياست اول وار د خاورو څخه فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ نوژر دے
چه دوے به وښوروے ستا وخواته رُءُوْسَهُمْ خپل سرونه د ډيرے استهزاء او
تعجبه څخه وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ ط او دوی به درته وايي چه دا بعث او حشر به کله وی
(۵۱) قُلْ عَسٰى نوته ورته ووايه چه بنايئ او دا عسٰی د وجوب د پاره دے اَنْ يَّكُوْنَ قَرِيْبًا
چه دا بعث نژدے وی څکه چه دا مخکښي دے يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ په هغه ورځ چه خدا
تاسے وبولی يا اسرافيلؑ په دويمه نفخه «دويم وار په شپيلی کښی پو کول» د پاره د راپورته کولو د
قبرو څخه فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ نوجواب به ورکوے تاسے وخدائے يا و اسرافيلؑ ته په
داسی حال کښی چه تاسے به ثنا ويونکی ياست د رب لکه چه روايت دے چه دوی به د
قبرو څخه راولاړيږے او د خپلو سرو څخه به خاوری څنډی او وائی به چه سُبْحٰنَكَ
اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَظُنُّوْنَ او ګمان به کوی تاسے د ډيره هيبته څخه اِنْ لَّبِثْتُمْ چه
مدار او د رنګ نه دے کړی تاسے په دنيا او يا په قبرو کښی اِلَّا قَلِيْلًا (۵۲) مګر لږ روايت ع ۵ ۱۲ ۵
دے چه هر کله ايذاء «ضرر رسول» د مشرکانو ډيرسو پر اصحابو باندے نو دوی د رسول
اجازه د جنك وغوښته نو ده ورته ووويل چه زه په دی سره نه يم مأمور سوی
نو نازل سو وَقُلْ لِّعِبَادِیْ او ته ووايه اے رسوله زما وبندګانو ته يعنی و مؤمنانو

عه يعنی راتلونکی دے اور راتلونکی خو نژدی وی ۱۲

ته يَقُولُوا الَّتِیْ چه دوے دی وایئ ومشرکانو ته هغه خبره هِیَ اَحْسَنُ ط چه هغه ډیره
ښه یعنې نرمه وے لکه یهدیکم الله چه سوا وخیږ۔ه خبره دی نه ورته کوے ځکه
چه اِنَّ الشَّیْطٰنَ بیشکه شیطان چه دے یَنْزَغُ بَیْنَهُمْ ط د دښمنی اچوی اوشرپورته
کوی دوی په مینځ کښے نو دا بیا ولوے فساد ته مفضی سی اِنَّ الشَّیْطٰنَ کَانَ بیشکه
چه شیطان دے لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِیْنًا (۵۳) وانسان ته ښکاره دښمن چه د سړی
په ښیګړه سره خوښ نه دے رَبُّکُمْ اَعْلَمُ بِکُمْ ط رب ستاسے دانا دے په حال ستاسے
یعنی په شروندیو مشرکانو تصریح مه کوی چه دوے اهل نار دے بلکه داسے ورته وایا
اِنْ یَّشَاْ یَرْحَمْکُمْ چه که یے اراده وسی نو رحم به در باندی وکړی په هدایت او په توفیق
سره اَوْ اِنْ یَّشَاْ یُعَذِّبْکُمْ ط یا که یے اراده وسی نو تاسے به په عذاب کړی په خذلان
سره وَمَآ اَرْسَلْنٰکَ اوموږ ته نه یے دالیږلے عَلَیْهِمْ وَکِیْلًا (۵۴) پر دوے نګهبان روایت
دے چه هرکله قریشو وویل چه دا خبره ډیره بعیده او نالایقه ده چه یتیم د ابو
طالب پیغمبرا و یو څوکسه وږے او بربنه اولږه به دده تابع سی نو نازل سو وَرَبُّکَ
اَعْلَمُ اورب ستا ښه دانا دے بِمَنْ فِی السَّمٰوٰتِ په هرهغه چا چه په اسمانو کښے دی
وَالْاَرْضِ ط او په ځمکه کښی دی او په ټولو احوالو د دوے سره نو د نبوت د پاره هغه
څوك چه دده اراده وسی غوره کوی یے وَلَقَدْ فَضَّلْنَا او خامخا په تحقیق سره موږ
غوره کړیدی بَعْضَ النَّبِیّٖنَ عَلٰی بَعْضٍ بعضے پیغمبران پر بعضو نورو باندی په
کمالاتو نفسیا تو سره نه په ډیر مال او په ډیرو تابعانو سره او په دے کښی اشارت دے
د بهترے ته د رسول ﷺ پر نورو انبیاؤ باندے وَاٰتَیْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا (۵۵) اوموږ ورکړی
وو۔ و داؤد ته کتاب چه نوم یے زبور وو نو د هغه مرتبه په دی کتاب سره وه نه
په پاچاهۍ سره او دا هم دلالت کوی پر بهترے د رسول ﷺ چه دے خاتم الانبیاء دے
او دده امت خیرالامم « بهتره دامتو» دے او دا قوله د دے ایت څخه معلومیږي چه

عه خپلای موږ پلاره برابر کړه ۱۲ عه رسو نکی سی ۱۲
عه په ښکرلو سره ۱۲ عه د نبیانو لمتر و نکے ۱۲

وَلَقَد کتبنا فی الزبور من بعد الذکر ان الارض یرثها عبادی الصّٰلحون عہ او مراد د
دے صالحانو څخه رسول اوامت دده دے روایت دے چه هرکله قریش په
اوږده قحطے سره مبتلا سوه اولوږے او سختئے زور پرو کړے نو د پاره د الزام
ددوے نازل سو قُلِ ادْعُوا الَّذِیْنَ نو ته ووایه اے رسوله ودے کفارو ته چه تاسی
راوه بولے هغه کسان زَعَمْتُمْ چه تاسی گمان کوے چه دوے خدایان دی مِنْ
دُوْنِهٖ غیر د خدای څخه هرڅوك چه دے چه دا سختئے او بلا د تاسی څخه لیرې
کړے فَلَا یَمْلِکُوْنَ نو دوے اختیار نه لرے کَشْفَ الضُّرِّ عَنْکُمْ د لیرے کولو د
سختئے او د بلا د تاسے څخه لکه مرض یا فقر یا قحطے وَلَا تَحْوِیْلًا (۵۶) او نه د تغیر ور
کولو یا د بیولو ددے قبیلی څخه ولے ته روایت دے چه بنی ملیحو به د ملائکو
او بنی خزاعه وو به د پیریانانو عبادت کاوے او دے پیریانو بیا ایمان راوړے
او دا عابدان یے هم هغسی په کفر کښے پاته سوه نو نازل سو اُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ دا ددوی
معبودان هغه څوك دے که ملائکے دے او که پیریان دے یَدْعُوْنَ اے یدعونہم
یعنے چه دوے یے په خدایانو سره بولے او دا اولٰئك مبتدا ده او دا جمله د الذین یے
صفت دے او خبر یے دا دے چه یَبْتَغُوْنَ دوے طلبوے یعنے دا معبودان یے اِلٰی
رَبِّهِمُ الْوَسِیْلَةَ وخپل رب ته یوه وسیله یعنے یو طاعت او عبادت او یا بل د خیر کار
چه په هغه سره ودته نژدے سی اَیُّهُمْ اَقْرَبُ هغه ددوی چه ډیر نژدے دی و
درگاه ته د رب او دا ای موصوله دے او دا اقرب یے صله ده مگر سره د مبتدا،
او مفضل علیه او عائده حکه چه دا په اصل کښے هو اقرب منهم دی وَیَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ او
اُمید لرے دا معبودان که ملائکے دے او که پیریانان دی دده د رحمت وَیَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ او
دوے بیریږی دده د عذابه څخه حاصل کلام دا چه هرکله چه هغه معبودان ددوی هم و خدا
ته محتاج دے نو یه کار دی چه دوی خپله په طریقه اولے سره هم دده و درگاه ته شی او وسرځ

عہ او خاص تحقیق سره مونږ لیکلی وه په زبور کښے وروسته تر لیکلو په تورات کښے چه تحقیق دا په زمانه کښے ځمکه په میراث
سره ولسطے ۱۲

راجع وے او وعذا ب یئے هم هروخت په بیره کبنی وے ځکه چه اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ بیشکه چه عذاب د رب ستا چه دے كَانَ مَحْذُوْرًا ﴿۵۷﴾ حذر کره سوی دے یعنی دا عذاب دے کار لائق دے چه هرڅوك په هروخت کبنی او په هرځای کبنی ځنې په بیره کبنی سے وَاِنْ مِّنْ قَرْیَةٍ او نسته هیڅ ښار پرمخ د مځکی اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا مگرچه موږ د هغه هلاکونکے یو یعنے د هغه د اهل په مرلئ او په فنا سرع که مؤمنان وه او که صالحان وه قَبْلَ یَوْمِ الْقِیٰمَةِ مخکی د قیامت ترورځے اَوْ مُعَذِّبُوْهَا یا عذابونکی یو د هغه په قتل او په قحطے او په نورو قسمونو دبلا عَذَابًا شَدِیْدًا اما په سخت عذاب سره که کافران او فاسقان وه روایت دے د مقاتل څخه چه دے وایی ما د ضحاك په کتابو کبنی لیدلے دے دوے ایت په تفسیر کبنے چه مکه به د حبشو د لاسه خرابه سی او مدینه به په لوږه سرع او بصره په عراق سره او کوفه د ترکو د لاسه او غرونه په تندره او په زلزله سره او بلخ په شکست او ماته سرع او بد خشان د بعضو خلگو د لاسه او ترمذ په وبا سره او صنعا تروا شیجره پوری په قتل عام سره او سمرقند او فرغانه او شاش او اسبیجاب او خوارزم د اپڅه سره په قتل عام سره د بنوقنطورع وود لاسه او بخارا په قحطی او په لوږه او مروه په سپرو سره او هرات په مارانو سرع چه پروه به اوریږے او دوی به ټوله وخوری او نیشاپور په تنا او بریښنا او په تیاره سره او ری ئ په قتل سرع د طبرانو او دیلمانو په وجه ددوے د غلبی او ارمنیه او اذربایجان د اسانو په سمونو سره او په لښکرو او په زلزلو او په تندرع سره او همدان په بارانو او حلوان په دا سے باد سره چه د شپی به په خوب کبنی پرلړوالوز او سهارته به ټوله خنزیران او بیزوگیان سوی وے او سجستان په سخت باداو په شکست او ماته سرع او کرمان او اصفهان او فارس په د ښمن سرع کذافی المدارك كَانَ ذٰلِكَ دے دا حکم فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۵۸﴾ په لوح محفوظ کبنی لیکل سوے روایت دے چه قریشو د رسول څخه معجزه وغوښته چه دا کوه صفا ‹‹صفا غرونه››

دے د سرو نز روسی او د اشاو خوا غو نه دے د مکې ځخه تو له ورلے سی چه وطن
تو له هوار د اوسی او بیا ولے پکښی نروانے کړه سی چه کښت اوکرهنه پکښی
کیږے او باغونه پکښی کښینیوول سی نو دا معجزه پروردګار ورته بنسکاره نه کړه
اونازل سو وَمَا مَنَعَنَآ او هیڅ شی موږ نه یو منعه کړے اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ ددے
ځخه چه موږ دا معجزے چه د څانه ځخه جوړی سوے د قریشو دے راوه لیږ و اِلَّآ
اَنْ كَذَّبَ مګر یو کار چه تکذیب کړی وو بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ط په هغه خو ساخته معجزه
خپلو سره ځکنیو کفارو یعنی هغه تیرو سوو امتو به معجزے وغوښتلی او موږ به
ورته بنسکاره کړے او بیا به یے دوی تکذیب وکړے نو موږ به یے بیخ راوکیښی
نواوس دا معجزے که و قریشو ته هم نسکاره کړو اوسره ددے چه موږ ته دا هم
معلومه ده چه دوے ایمان نه پر راوړے نو پکار ده چه بیخکن "بیخ کښ سوی" کړو
دوے او حکم ازلی نز موږ دا سے دی چه دوی دے بیخکن نه سی ځکه چه ددوے
د نسل ځخه به موږ مؤمنان پیدا کړو او یوا مت د هغو مکذ بانو امتو ځخه ثمو د
وه لکه چه وایی وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ از موږ ورکړی وه د ثمود و قوم ته اوښه
چه صالح د دوے په طلب سره د تیږے ځخه راایستلی وه مُبْصِرَةً بنکاره معجزه
فَظَلَمُوْا بِهَا ط نو دوی ظلم وکړی پر خپلو ځانو په سبب د ګوډولو سره چه اول یے
پښی په توره سره په ولاړے ځنی پری کړی بیا چه پریوته نو حلال یے کړه نو
دوے تو له هلاک سوه وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ او موږ نه دا لیږ و دا خود ساخته
معجزے ددوی اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾ مګر د پاره د بیرولو ددوے د عذابه ځخه د اخرت
وَاِذْ قُلْنَا لَكَ او یاد کړه هغه چه موږ وتا ته وویل یعنی چه موږ وعده درسره وکړه
چه ته هیڅ خفګان مه کوه ځکه چه اِنَّ رَبَّكَ بیشکه چه رب ستا چه دے اَحَاطَ
بِالنَّاسِ احاطه کړیده علم او قدرت دده پر خلګو یعنے په قریشو چه تول دده
په قبضه کښی دے نو ستا انتقام به ځنی واخلے او هغه وعده چه رب و رسره

کړی وه هغه داده چه آیت بخوا راغلی وه چه سیهزم الجمع ویولون الدبر او بل
دا وو چه قل للذین کفروا ستغلبون الایة او بیا هغه انتقام د بدر په ورځ ځنې
واخیستل سو چه او یا تنه ځنې قتل سوه او او یا تنه ځنې بندیان سوه وَمَا جَعَلْنَا
الرُّءْيَا الَّتِيٓ او موږ نه دے کړی ولے هغه خوب اَرَيْنٰكَ چه موږ وتاته ښوولے
وه د بدر د واقعې په باب کښې چه د جنګ ترمخه دے واصحابو ته د هر یوه ځای د
قتل بیل بیل او جلا جلا په ګوته ور ښوولے نو دا خوب نه وه اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ
مګر ازمایښت د خلګو د پاره یعنے د قریشو او دا ځکه چه هر کله دا خبره وروی
ته ورسیده نو خندل به یې او مسخرے به یې کولے او ویل به یې چه دا به کله وی
وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ او هماسے موږ نه ده ګرځولے هغه ونه لعنت کړه سوے فِي
الْقُرْاٰنِ ط په قران کښې مګر د خلګو د پاره ازمایښت ځکه دوے وارید لہ د زقوم
په باب کښې چه انها شجرة تخرج في اصل الجحيم نو ابوجهل او نورو قریشو به
ویل چه ډیر تعجب دے چه محمد دا سے هم وایې چه د دوږخ اور د ډبرے او تیږے سوځی
او بیا دا سے هم وایې چه په دوږخ کښې ونے او درختی شنه کیږے او دوے ډیره
حماقت وه دے ته نه ګوری چه هغه قادر مطلق دی چه د سمندر نومی چینجی وینته
د تبی په اور کښې او کولی د شترمرغ چه د اور سکروټی خورے د سوځلو ځخه ساتے
نو هغه پر دے هم قادر دے وَنُخَوِّفُهُمْ لا او موږ دوی بیروو په رنګارنګ عذابو
ع ۶ ۸ ۶ سره فَمَا يَزِيْدُهُمْ نو نه زیاتوے دوی لره دا بیرول زموږ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ﴿۶۰﴾
مګر یاغیتوب او سرکشی لویه یعنی هر څو چه موږ یې بیروو نو هغوی نه دوے
سرکشی او یاغیتوب لا سی زیاتوی او هر کله چه دا طغیان او تکبر د دوی په
وجه سره د غلبے دابلیس وه چه سره متمردان او متکبران وی نو ځکه یې د ده
قصه ورپسی راوړه لکه چه وایې وَاِذْ قُلْنَا او یاد کړه هغه چه موږ وویل

عه ژر دی چه ماته به ور کړه سی د کفارو ډلے ته او شاوی به و ګرزوی ۱۲ عه دوایه د کفارو ته چه
عاجزه به کړه سی ۱۲ سه دایوه درخته ده چه رازی د دوږخ په بیخ کښی ۱۲ صه سرکشانو ۱۲

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا او ملائکو ته چه سجده وکړے لِاٰدَمَ وادم ته دده د پاره فَسَجَدُوْٓا
اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط نو ټولو سجده وکړه مګر یو ابلیس چه ده سجده ونه کړه بیا چه رب دده
څخه پوښتنه وکړه چه ولی سجده ونه کړه قَالَ ءَاَسْجُدُ نو ده وویل چه ایا زه به
سجده کوم یعنی نه به یے کوم لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا ﴿۶۱﴾ هغه چا ته چه تا د خټو څخه
پیدا کړی دے نو بیا پروردگار دے د خپل درګاه څخه وتراټی او د لعنت داغ یے پر
کښیښنوو قَالَ اَرَءَيْتَكَ نو بیا ابلیس وویل چه ما خبر کړه د حاله څخه هٰذَا الَّذِیْ
كَرَّمْتَ عَلَیَّ زه چه دغه شخص چه تا پر ما لوی کړی او بهتر کړید ے دا په کوم سبب سره دے
سره دوے چه دے د خاورو دے او زه د اور ه یم لَئِنْ اَخَّرْتَنِ قسم دی که دی زه
ورو سته کړم اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ د قیامت تر ورځی پوری یعنی که دے مړ نه کړم او
ژوندے دی پریښږدوم لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗ نو خامخا به زه د بیخه راوکاږم اولاده د
ده یعنی دا سے به یے وبنکوم چه بیا به ټول په عذاب لو سره بیخکنی اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۶۲﴾
مګر لږ چه تا محض په خپل عصمت او حمایت سره دا څخه وساتل قَالَ اذْهَبْ نو رب
العزت ورته وویل چه ځه په دے مهم کار پسی دے او دا خلپ وځان ته را اړوه
فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ نو هر څوك چه د دوی څخه ستا پیروی وکړی او ستا فرمان
ومنی فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ نو بیشکه چه دوزخ ستاسے جزاده یعنی ستا او د
تابعانو "پیروانو ستا" جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿۶۳﴾ پوره جزا وَاسْتَفْزِزْ او وچیږوه یعنی د
ځایه څخه یے بے ځایه کړه او وه یے بنکوه مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ هر هغه څوك د
دوے څخه چه طاقت او وسع دی کیږے بِصَوْتِكَ په خپل اواز سره یعنی په بللو
سره وفساد ته یا په اواز سره د سرود شیانو لکه باجے او رباب او سورنا او د
نورو ځکه چه دا هر یو ناروا اوازدے د شیطان وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ او را ټول او راجمع
کړه پردوے باندی د ګمراه کولو او بنکولو د پاره بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ په اسانو یعنی
سپرو خپلو سره او په پیاده وو خپلو سره او ټوله لښکر دے پسی راوږغوه

وَشَارِكْهُمْ فِي الْاَمْوَالِ او ته شریك سه د دوی سره هم په مالو کښی چه باعث یې کړه هم په راجمع کولو سره په نا روا سره لکه په غلا او په ربوٰا او په خمار او په سوال او د زکوٰة په نه ورکولو او په فاسدو او باطلو عقد وسره (سودا او ورشوه ۱۲) او هم بیا په صرفولو سره په نا روا او کښی لکه په د مالونو او په پټو یارانو او په بې مصرفه بناؤ او په ریا او په ناموس او د اسی نور وَالْاَوْلَادِ او هم په اولاد کښې دا سې چه په زنا یې راوړې یا عبد العزٰی او عبد الشمس او عبدالدار او یاد اسې بل نوم پرکښیږدی وَعِدْهُمْ ط او تیر یې باسه په باطلو وعدو او په دروا غجنو خبرو سره لکه د بتانو شفاعت او د توبې تاخیر او جرءت او دلاوری پر گناهو او انکار کول د بعثه (بیا راژوندی کیدو) او (خیزول ۱۲) دحشره او دجنته او د دوزخه او دحسابه څخه وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ او وعده نکوي د دوی سره شیطان اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۶۴﴾ مگر په مکر او په فریب سره دا سې چه خطا په صورت د صواب کښی ورښکاره کړي اِنَّ عِبَادِيْ بیشکه چه خالص بندگان زما چه دي لَيْسَ لَكَ نسته تا لره عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ط پردوی هیڅ قسم تسلط او قدرت او غلبه وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ﴿۶۵﴾ او بس دی رب ستا نگهبان د خپلو بندگانو د ښکولو او لغزولو څخه د شیطان رَبُّكُمُ الَّذِيْ رب ستا سې هغه قادر مطلق دی يُزْجِيْ لَكُمُ الْفُلْكَ چه روانوي تاسې لره کښتئ او اگوتونه فِي الْبَحْرِ په سیند او په دریاب کښی پخپل قدرت کامله سره لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ ط د دې د پاره چه تاسي طلب کړي د ده د فضله څخه یعني د روزي یاد سوده (گټه ۱۲) یاد هغه اسبابو څخه چه سیوا د پوري د تو څخه تر دریاب و لاس ته نه راځي اِنَّهٗ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿۶۶﴾ بیشکه چه خدای پر تاسي ډیر مهربانه دی وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ او په هغه وخت کښی چه و تاسي ته یوه سختي ورسیږي په دریاب کښی یعني د غرقید و بیره وي ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ نو ورك سي او ستاسي د فکره څخه و وزي هغه څوك چه تاسي یې د حاجت په وخت کښی بولی او عبادت یې هم کوي اِلَّا اِيَّاهُ ج مگر یوازي خدای چه په هغه

وخت کښې بیا هم دے بولي او زاري ورته کوي فَلَمَّا نَجّٰىكُمْ نو هر کله چه بیا دے
تاسي خلاص کړے د غرق څخه او تاسے ورسوي اِلَى الْبَرِّ وچے ته او د غرق څخه
په امان سي اَعْرَضْتُمْ ط نو تاسي څنګ اداعراض وکړے د توحید څخه او بیرته
وخپلو خدایانو ته وګرځے وَكَانَ الْاِنْسَانُ كَفُوْرًا ﴿۶۷﴾ و انسان ناشکره دی
پر نعمتو د خپل رب اَفَاَمِنْتُمْ ایا نو تاسي په امان سواست چه دا بو څخه وچے
ته راووتلاست او بے غمه سواست یعنے بیغمه کیږے اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمْ د دے څخه
چه وچوی دے په تاسي سره جَانِبَ الْبَرِّ یو طرف د وچې ځمکې او تاسے پکښې کښته کړي
لکه قارون اَوْ يُرْسِلَ یا د دے څخه بیغمه سواست چه دے راولیږے عَلَيْكُمْ حَاصِبًا
پر تاسي داسي سخت باد چه سنګریزې ولي او اوروی او د ډبرو باران درباندے
وکړي ثُمَّ لَا تَجِدُوْا نو بیا به تاسے نه کړي پیدا لَكُمْ وَكِيْلًا ﴿۶۸﴾ وخپل ځان ته نګهبان
چه د دے خسفه څخه تاسي وساتي اَمْ اَمِنْتُمْ او که په امان او بیغمه سواست تاسے
اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ د دے څخه چه تاسے په دی دریاب کښې راننه باسي تَارَةً اُخْرٰى
بیا دویم وار یعني چه بیا ستاسے حاجت پیدا کړي ودریاب ته او تاسي په کښتی کښې
سپاره سي فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ نو نابېره پر تاسے راولیږے قَاصِفًا مِّنَ الرِّيْحِ ماتونکے
دهرشي سخت باد څخه فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ لا نو تاسے غرق کړي په سبب د
کفراو شرك ستاسے ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ نو بیا به تاسے پیدا نه کړے وخپل ځان ته
عَلَيْنَا بِهٖ تَبِيْعًا ﴿۶۹﴾ پر موږ باندے په سبب د دے غرقولو ستاسي راپسي راتلونکے
هیڅوك د پاره د انتقام اخیستلو ستاسے حاصل دا چه تاسے همیشه خپل خدایان
بولي مګر په وچه کښې بیا چه واوبو ته سے نو هغه قول درڅخه هیرسي غیر د
خدای څخه او بیا چه وچې ته راووزے نو بیا هم هغه خپل خدایان بولي او سره
د دے چه خدائے خو په وچه کښې هم قادر دے لکه په اوبو کښې نو تاسے چا بیغمه
کړي یاست چه تاسي ژوندے په ځمکه کښې ډوب کړي یا تاسے په کښتی کښې

سپارۂ کړی او دا کښتۍ په باد سره توپانی کړے چه تاسے غرق سی او بیا د خپل انتقام اخیستو د پارۂ به هم څوك پیدا نه کړے وَلَقَدْ كَرَّمْنَا او خامخا په تحقیق سره موږ ډیر عزت ورکړیدے بَنِيٓ اٰدَمَ د اولاد ته دَ اٰدم وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ او موږ دوے سپارۂ کړیدی په وچه کښې پر چارپایانو باندی وَالْبَحْرِ او په دریاب کښې په کښتیو او اګوټو کښے وَرَزَقْنٰهُمْ او روزی ورکړیده موږ دوی ته مِّنَ الطَّيِّبٰتِ د پاکیزه وو طعامو څخه وَفَضَّلْنٰهُمْ او موږ دوے غوره کړیدے عَلٰى كَثِيْرٍ پر ډیرو باندے مِّمَّنْ خَلَقْنَا د هغه چا څخه چه موږ پیدا کړی دی تَفْضِيْلًا ﴿۷۰﴾ ع په غوره کولو سره او مراد دوے کثیر څخه قول دے فَائِدَہ :- یوه وجه د غوره والی یې داده چه قوله عالم یې دده د پارۂ پیدا کړی دے او دے یې خپل ځان ته پیدا کړیدے او بله وجه داده چه په ملائکو کښې عقل دی بیله شهوته او په بهائمو (چارپایانو) کښې شهوت دے بیله عقله او په انسان کښې دواړه دے نو پر هر چا چه شهوت غالب وو هغه بدتر دے تر بهائمو او په هر چا کښې چه عقل غالب وو هغه و خدای تعالیٰ ته ډیر ګران دے تر ملائکو څکه چه په حدیث شریف کښې راغلے دی چه المؤمن اکرم علی الله من الملئكة كذا في المدارك يَوْمَ نَدْعُوْا یاد کړے هغه ورځ چه موږ به وه بولو كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمْ ۚ هرهٔ قولیه دا نسانانو د خپل پیشوا په نامه سره یعنی نبی یا بل پیشوا یا کتاب یا دین یا عمل نامه لکه یا امت محمد او یا اتباع فلان او یا اهل الکتب او یا هل دین المجوسية او اهل سجل الخير او یا دا امام جمع د اُمّ دے لکه خفاف جمع د خف ده یعنی بولو به یې د خپلو میندو په نوموسره لکه یا ابن فلانة او په دے کښې لوی حکمت دی چه یو اجلال د عیسیٰ دے او بل اظهار د شرافت د حسنینو دے او بل ستر د حال د ولد زنا دے فَمَنْ اُوْتِيَ نو هر څوك چه ووده ته ورکړه سوه كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ عمل نامه دده په ښی لاس کښے فَاُولٰٓئِكَ نو دا د ښی لاس خاوندان چه دے يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ وایي به دوے خپلے عمل نامے په ډیره

خوشحالی او په شوق سره په سبب سره د هغه خپلو نیکیو چه دوی به پی پکښی وینی
وَلَا یُظْلَمُوْنَ فَتِیْلًا (۷۱) او ظلم به ونه کړه سی پر دوی په قدر د پلیتی د خیرے
په گوتو کښی دا جر په کمولو سره او دا صحاب شمال «چه عمل نامے یے په چپه لاس کښی وی»
حال یے نه کړے ذکر چه کفار دے د پاره داکتفا په دے قول سره چه وَمَنْ کَانَ او
هر څوک چه دی وی فِیْ هٰذِهٖۤ اَعْمٰی په دے دنیا کښی د زړه په سترگو سره ړند
چه خپل خیر او شر نه وینی فَهُوَ فِی الْاٰخِرَةِ اَعْمٰی نو هغه څوک به په آخرت
کښے هم ړوند وے چه د خپلے خلاصی لار به نه وینی وَاَضَلُّ سَبِیْلًا (۷۲) او تر ړانده
به لا هم ډیر گمراه وے د جهته څخه د لاری د ورکوالے روایت دے چه هر کله
ثقیفو رسول ته وویل چه موږ به پرتا ایمان نه راوړو تر هغو پوری چه یو څو
کار ونه را سره ونه کړے چه سبب ز موږ د فخر سے پر تو لو عربو باندے یو دا چه
موږ یو کال نور هم پریږده چه بت پرستی وکړو او بل دا چه دا څکه د طائف
هم حرم کړه د مکی په شان او بل زکوٰة او جهاد هم پر موږ موقوف لره او بل
رکوع او سجده هم په لمانځه کښی را ته عفوه کړه او که عربو پوښتنه د رڅخه وکړه
چه ولی دے داسی وکړه نو ته ورته وو وایه چه خدائے داسی را ته ویلی دے نو نازل
سو وَاِنْ کَادُوْا یعنی بیشکه شان دا دے چه ثقیف نژدے سوی وه لَیَفْتِنُوْنَكَ
د دے کار ته چه دوی خا مخا تا واړوی عَنِ الَّذِیْۤ د هغه امر او نهي او وعد او وعید څخه
اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ چه موږ وتا ته رالیږلے دی لِتَفْتَرِیَ عَلَیْنَا غَیْرَهٗ ۖۗ د دے د پاره چه
ته و تړے په دروا غو سره پر موږ باندے ماسیوا نه موږ د هغه را لیږل سو څخه
یعنی چه ته وو ایے چه دا خدائے را ته ویلے دی وَاِذًا او په دغه وخت کښی چه
ته داسے وو ایے لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِیْلًا (۷۳) نو خا مخا به دوی تا خاص یار ونیسی وَ
لَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ او که نه وای داسے کار چه محکم کړے نه وای موږ ته پر حق باندے
په خپل عصمت سره لَقَدْ کِدْتَّ نو خا مخا په تحقیق سره ته نژدے سوی وی

ودے تہ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ چہ تہ میل وکړے د دوے وارن واو خواهش تہ د دوے شَيْئًا
قَلِيْلًا ﴿۷۴﴾ لږ میل اوکہ دے لږ قدر میل وکړی وو دے تہ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ نو پہ دغہ وخت
کښې بہ موږ خامخا یہ تا سره وڅکو ضِعْفَ الْحَيٰوةِ عذاب د دے ژوند یعني پہ
دنیا کښې وَضِعْفَ الْمَمَاتِ او عذاب د مرلږ یعنی پہ اٰخرت کښې ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ نو
بیا بہ تہ نہ کړے پیدا د ځان د پاره عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿۷۵﴾ پر موږ باندے مددګار چہ تا د
دے عذاب نہ خلاص کړے روایت دے چہ هر کله قریش د رسول پہ ایستلو کښے
ډیر کوښښ کونکی سوه نو دا سے مصلحت یې سره وکړی چہ ډیر سختہ دښمنی
ورسره بر پا یہ او ترسره کړو چہ دا وطن پرتلو سی او و تښتي نو نازل سو وَاِنْ
كَادُوْا او بیشکه شان دادے چہ خواهش لرے د اقریش لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ
د دے چہ خامخا دوی تا ولاړ کړی او ودے باسی د مکې د ځمکې څخہ لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا
د دے د پاره چہ دوے تا د دی مکې د ځمکې څخہ پہ فریب او بخیل عداوت سره وباسی
وَاِذًا او پہ دغہ وخت کښې چہ دوی تا ځنې وباسی لَّا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ نو مدار
او درنګہ بہ و نہ کړے دوی ستا تر ایستلو وروستہ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۷۶﴾ مګر لږ موده
او بیا هم دا سے وسوه چہ تر هجرت وروستہ لږ موده تیره سوه چہ د بدر پہ جنګ
کښې وو وژل سوه سُنَّةَ مَنْ دا مصدر دی د فعل محذوف ای سننا ذٰلك سنة من یعنے
دا یوه لار ټرلے ده موږ لار ترل د هغہ چا د پاره قَدْ اَرْسَلْنَا چہ پہ تحقیق سره
استولے وه موږ قَبْلَكَ مخکې تر تا مِنْ رُّسُلِنَا د رسولانو څخہ زموږ او هغہ
٨ ع ٧ ٨ دامتو هلاکول وه د رسولانو پہ تکذیب سره وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا او تہ بہ پیدا نہ
کړی ودے لاری تہ زموږ تَحْوِيْلًا ﴿۷۷﴾ هیڅ تغیر او تبدیل اَقِمِ الصَّلٰوةَ بر پا یہ
لره لمونځ او ودے اٰیت څخہ پنځہ سره لمونځونہ را خیژی او معلومیږی لکہ چہ بیانیږی
لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ وروستہ تر زوالہ د لمر اِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ تر تاریکی پوری د شپے
نو پہ دے کښې څلور لمونځونہ راغلہ دوه نهاری "ورځنی" چہ ماپښین او ماښام

دے او دوہ لیلے ”شپے“، دے چہ ماښام او ماخوستن دے وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ط او پل ادا کوہ دسہار لمونځ او دا لمونځ یے پہ قرآن سرہ مسمّی ”نامدارہ“ کړے ځکہ چہ اوږد قراءت پکښې ویل کیږی کذا فی المدارک اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ بیشکہ دسہار لمونځ چہ دے کَانَ مَشْهُوْدًا ﴿۷۸﴾ لیدل سویدے یعنی د ملائکو دوارہ ډلی یے وینی هم د شپی ملائکے او هم د ورځے ملائکی او د شپی ملائکی یے دخپل دفتر پہ آخر کښې لیکی او د ورځے ملائکے یے دخپل دفتر پہ اول کښې لیکی نو پہ دے لمانځہ کښې ډیر اهتمام کول پکار دی ځکہ چہ هم یے شاهدان ډیر دے او هم پہ دوہ دفترہ کښے لیکل کیږی فائدہ :- دا لمونځ د نور ولمنځو ځنې ځکہ بیل او جلا کړہ سوچہ دا نہ خالص لیلی دے ”نہ خاص پہ شپہ کښې دی“ او نہ خالص نہاری دے ”نہ خالص پہ ورځ کښې دی“ بلکہ چہ دلمر ډکی و بنکارہ کیدو تہ وکتل سے نو لیلی دی ”نو پہ شپہ کښې دی“، ځکہ چہ دلمر ډکی پہ کښې بنکارہ نہ دہ او کہ دصبح صادق و راختو تہ وکتل سی نو نہاری دی ”نو پہ ورځ کښې دی“ نو ځکہ دوارہ ډلی د ملائکو پر جمع کیږی وَمِنَ الَّيْلِ او پہ یوہ حصہ کښے د شپی فَتَهَجَّدْ بِهٖ نو بیداری کوہ دقرآن پہ ویلو سرہ پہ لمانځہ کښې نَافِلَةً لَّكَ دا زیات عبادت دے تا لرہ خاص پر هغو لمنځو باندے یعنی دا تهجد یوازی پر تا فرض دے عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ بنایئ دا چہ تا ودروی رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴿۷۹﴾ رب ستا پہ هغہ مقام کښې چہ ستایل سویدے چہ پہ اصح د روایاتو کښے هغہ مقام د شفاعت دی وَقُلْ رَّبِّ او تہ ووایہ چہ اے زما ربہ اَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ ننہ باسہ ما پہ قبر کښې پہ ننہ ایستو سرہ چہ د گناہ ځنې پاک یم وَّاَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ او بیا ما ځنی راوباسہ پہ غورہ او بہترہ ایستو سرہ چہ د الله د طرفہ ځنې مکرم یم او دا مدخل او مخرج دوارہ مصدر میمی دے یعنی ادخال او اخراج صدق او یا می ننہ باسہ پہ مدینہ کښې د کرامت سرہ او د مکی ځنې می راوباسہ د سلامتیا سرہ یا پہ هر کار کښې یا پہ هر ځای کښې پہ احسنہ او نعمہ وجہ سرہ او بیا م داسے

بے لوبا سره د هرکاره یا د هرځایه په اکرام او په اسلمه وجه سره وَاجْعَل لِّيْ
او راکره ما ته مِنْ لَّدُنْكَ دخپله جانبه څخه دی سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴿۸۰﴾ حجت او
قوت مددګار ړے کوم چه د اسلام سره پرکفر باندے وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ او ته
ووایه چه حق راغلے یعنی اسلام یا قرآن وَزَهَقَ الْبَاطِلُ او ولاړے باطل
یعنے شرک یا شیطان اِنَّ الْبَاطِلَ بیشکه باطل چه دے کَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾ تلونکے
دے بے بقا او ورکیدونکے دے وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ او را لیږو موږ وتا ته
د قرآن څخه مَا هُوَ شِفَآءٌ هغه شی چه هغه شفاء دی د مرضو ظاهره او
باطنه و څخه او دا مِنْ یا بیانیه دے او مراد ځنې ټول قرآن دے او یا تبعیضیه
دے مراد ځنې بعض د قرآن دے لکه فاتحه "الحمد لله" یا د شفا آیت یا دا سی نور
وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۱۷ ورحمت دے د مؤمنانو د پاره چه نفعه پرا خلے وَلَا
يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اونه زیاتوی د اقرآن ظالمانو یعنی کافرانو ته هیڅ اِلَّا
خَسَارًا ﴿۸۲﴾ مګر زیان کاری او هلاک په سبب د کفر او د تکذیب د دوی وَاِذَآ
اَنْعَمْنَا او په هغه وخت کښی چه موږ خپل نعمتونه راتوی کړو عَلَى الْاِنْسَانِ
پر انسان باندے لکه صحت او پراخی د رزق او بیغمی او دا سے نور اَعْرَضَ نو دے
مخ وګرځوی دیاد څخه د خدائے وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ او ځنې لیرے سی په اړخ ګرځولو
سره د ویره کبره څخه وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ او په هغه وخت کښی چه یو څه قدر سختے
ورورسیږی لکه فقر یا بیره یا رنځ یا دا سی نور کَانَ يَئُوْسًا ﴿۸۳﴾ نو دی ژر
نا امیده سی قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ ته ورته ووایه چه هر څوك عمل کوی عَلٰى شَاكِلَتِهٖ
پر هغه طریقه چه د ده د حاله سره مناسبه وی د خیر او د شر او د هدایت او د
ضلالت څخه فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ نو رب ستاسی ډیر دانا دے بِمَنْ هُوَ پر هغه چا ۹
چه دے اَهْدٰى سَبِيْلًا ﴿۸۴﴾ سم او برابر دے د جهته د لاری رَوایت دی چه ع
هر کله قریشو دوه سړے و مدینی ته ورولیږل د رسول د حال د تفتیش ۹

د پاره دیهودو څخه چه پیغمبر دے او که نه دے نو هغوی ته وویل چه پوښتنه
څنی وکړی د اصحاب کهف او ذی القرنین دقصے او ددے چه روح څه شی دے
که یے دتولو جواب درکړے نو هم پیغمبر نه دے او که یے دتولو جواب نه کړے
در نو هم پیغمبر نه دے او که د بعضو جواب یے درکړے او د بعضو جواب یے در
نه کړے نو پیغمبر دے بیا چه دوے پوښتنه څنی وکړه نو د دوو جواب راغلے او دیو
روح په جواب کښی نازل سو وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ط او دوے دتا څخه پوښتنه
کوی د هغه روح د کیفیت څخه چه موجب او سبب د حیوٰۃ او د تدبیر انسانی دے
قُلِ الرُّوحُ ته ودوے ته ووایه اے رسوله چه روح یوشی دے مِنْ أَمْرِ رَبِّي د
امره څخه د رب زما یعنی د هغو مبدعاتو څخه چه بیله مادے څخه پیدا سوی محض
په امر د کُنْ او علم پر روح د رب خاصه ده وَمَآ أُوتِيتُم او نه ده درکړه سوے
وتاسے ته حصه مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۸۵﴾ د علو څخه مگر لږ نسبت د خدائے وعلم ته
بیا رب العزت اراده وکړه د بیانولو د نعمت د وحی نو یے وویل چه وَلَئِن شِئْنَا او که
زمونږ اراده وسی لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي نو خامخا به مونږ بیرته یوسو هغه شی
أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ چه مونږ وتاته رالیږلے دی یعنی که زمونږ اراده وسی نو د اقران
به بیرته محو کړو هم د خلگو د سینو څخه او هم د مصاحفو څخه چه هیڅ اثر یے
پاته نه سی ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بیا به ته نه کړے پیدا د خپل ځان د پاره وروسته دده
تر محوه کیدو بِهِ عَلَيْنَا وَكِيلًا ﴿۸۶﴾ پر مونږ کوم وکیل چه پر مونږ اعتماد لری د بیرته
راوړلو دے قرآن مَسْطُور او محفوظ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ط لیکن دا رحمت دی
د طرفه څخه د رب ستا چه درته پرایښی یے دے او نه یے محوه کوی إِنَّ فَضْلَهُ
بیشکه چه فضل دده كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا ﴿۸۷﴾ دے پرتا ډیر لوی چه ته یے دتولو انسانانو
سردار کړی او خاتم دانبیا ویے کړی او بل یے بیرغ د حمد او مقام محمود یے هم
وتا ته درکړے دی او بل یے داقران درکړیدے او بیا ترقیامته پورے یے ستا

په امت کښې باقي پراېښې دے چه هر کله نضر بن حارث وویل چه لو نشاء لقلنا مثل هذا یعنې که اراده سوے وای زمونږ نو مونږ به هم ددے قرآن په شان ویل کړي وای نو دده په جواب کښې نازل سو قُلْ ته ووایه اے رسوله په جواب کښې لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ نو خامخا که داټول انسانان سره راټول سي وَالْجِنُّ او پیرانان عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا پر دے چه دوی راوړي بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په شان ددے قرآن سره په فصاحت او په بلاغت او په حسن د نظم کښې لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ نو دوے به نه راوړے په شان سره دده په دے ټیرو صفتو کښې وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ او که څه هم سي بعض ددوے لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا (۸۸) د بعضو نورو سره پښتي او مددګاره وَلَقَدْ صَرَّفْنَا او خامخا په تحقیق سره بیان کړے او مکرر کړي دے مونږ لِلنَّاسِ وخلګو ته فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ په دے قرآن کښې مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ز د هر قسم معنیٰ چه په شان د مثل دے په حسن او په غرابت کښې فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ نو غاړه کښېښوه نه یا تو خلګو او واضح نه سول په هیڅ اِلَّا كُفُوْرًا (۸۹) مګر په انکار او په ناشکرے سره روایت دے چه هر کله اعجاز د قرآن ظاهر سو او معاندان د قریشو په مقابلے څخه عاجزه سول نو ده ورے وار خطا یې څخه چه څه به یې خولے ته راتلل هغه به یې ویل لکه چه وایي وَقَالُوْا او دوی وایي لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ چه دسره به ایمان پر تا را نه وړو او غاړه به درته کښېنږدو حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا تر هغو پورے چه ته ومونږ ته راوخو ټکوے مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا (۹۰) د مکے د ځمکی څخه چینه چه تل ډکه وے داوبو څخه او دسره نه وچیږے اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ یا چه پیدا سي و تا ته یو باغ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ دخرما کانو او دانګورو څخه فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ نو بیا ته روانے کړے ولے خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا (۹۱) په منځ کښې ددے باغ په روانولو سره اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ یا چه ته اسمان راوغورځوے كَمَا زَعَمْتَ لکه چه ته وایې اِن نشا نسقط علیهم کسفا من السماء عَلَيْنَا كِسَفًا پر مونږ ټوټے ټوټے

اَوْ تَاْتِیَ بِاللّٰهِ یا ته راولے خدای وَالْمَلٰٓئِکَةِ قَبِیْلًا ﴿۹۲﴾ او ملایکے هم مخامخ یا شاهدان
پوصحت د رسالت ستا اَوْ یَکُوْنَ لَكَ بَیْتٌ یا چه پیدا سی وتا ته یوکوته مِّنْ
زُخْرُفٍ د سرو زرو چه ته پکښی کښینی اَوْ تَرْقٰی فِی السَّمَآءِ ؕ یا چه ته پورته
ولاړ سی په اسمان کښی وَلَنْ نُّؤْمِنَ او د سره به مونږ ایمان رانه وړ د لِرُقِیِّكَ په
تښ ختو ستا و اسمان ته حَتّٰی تُنَزِّلَ عَلَیْنَا تر هغو پورے چه ته راکښته کړے
پر مونږ کِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ؕ یو کتاب چه مونږ یے وایو او ستا تصدیق وے پکښے قُلْ
ته و دوی ته ووایه د دیره تعجب څخه سُبْحَانَ رَبِّیْ پاکی ده زما رب لوه دد ے
څخه چه څوك په پر ده حکم جاری کړے او یا دده په با چا هے کښی بل څوك
ورسره شریك سی هَلْ کُنْتُ ایا زه یم یعنی نه یم اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿۹۳﴾ ع ۱۰ ۹ ۱۰
مگر یو سړے رالیږ لے سوے د نورو رسولانو په شان وَمَا مَنَعَ النَّاسَ او
نه وه منعه کړے دا خلك یعنے اهل د مکے اَنْ یُّؤْمِنُوْٓا د د ے چه دوے ایمان راوړی
اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓی په هغه وخت کښی چه و دوی ته را غلے د حق بیان د رسول
په ژبه سره اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا مگر د ے منعه کړی وه چه دوے به ویل اَبَعَثَ اللّٰهُ
ایا خدای رالیږ لے دی بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿۹۴﴾ انسان رسول او ملایکه یے ولے نه
رالیږله قُلْ لَّوْ کَانَ فِی الْاَرْضِ و دوے ته ووایه چه که وے په ځمکه کښے مَلٰٓئِکَةٌ
ملائکے د انسانانو پر ځای یَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّیْنَ چه دوے گرزید لاے په ځمکه کښے
په ارامه سره د انسانانو په شان لَنَزَّلْنَا عَلَیْهِمْ نو خامخا به مونږ رالیږ لے وه پر
دوے باند ے مِّنَ السَّمَآءِ د اسمانه څخه مَلَکًا رَّسُوْلًا ﴿۹۵﴾ ملائکه استاذی ځکه چه
تناسب او تجانس «هم جنس الے» د ے په تعلیم او تعلم کښه نو خامخا هر کله چه په ځمکه
کښے انسانان او سید ل نو ځکه رسول هم انسان ورته را غلے قُلْ کَفٰی بِاللّٰهِ
بیا ته و وړے ته ووایه چه بس د ے خدای شَهِیْدًا ۢ بَیْنِیْ وَبَیْنَکُمْ ؕ شاهد په
ما بین کښی زما او ستا سی او شاهدی د خدای ښکاره کول د معجزو د ے

پرلاس د رسول اِنَّهٗ بیشکه چه خدای کَانَ بِعِبَادِهٖ د خپلو بندګانو په حال
خَبِیْرًا ۢ بَصِیْرًا ۝٩٦ اګاه او خبردار په پټو د دوی بینا او لیدونکے دی پر ښکاره و
د دوی وَمَنْ یَّهْدِ اللّٰهُ او هر هغه څوک چه خدای لار ورښیي فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ
نو هغه برابره لار پیدا کونکے دے وَمَنْ یُّضْلِلْ او هر هغه څوک چه دی یې ګمراه
کړے فَلَنْ تَجِدَ نو د سره به ته نه کړے پیدا لَهُمْ اَوْلِیَآءَ دوے لره دوستان مدد
کونکے مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بیله خدایه وَنَحْشُرُهُمْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ او موږ به دوے راجمع
کړو د قیامت په ورځ پراته عَلٰی وُجُوْهِهِمْ پر مخانو خپلو باندے عُمْیًا وَّبُكْمًا
وَّصُمًّا ؕ ړانده او ګونګیان او کاڼه په سبب د خپلو اعمالو مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ د
ځای د دوے دوزخ دے كُلَّمَا خَبَتْ هر کله چه کښیني او تیته سي لمبه یې
زِدْنٰهُمْ سَعِیْرًا ۝٩٧ نو موږ به د دوے د پاره زیات کړو تیز اور ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ
دا عذاب د دوے جزا ده بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰیٰتِنَا په سبب سره د دے چه دوے
کافران سویدي موږ په ایاتو سره وَقَالُوْۤا او دوے به ویل ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا
وَّرُفَاتًا ایا چه موږ خاورے او زړیدلے هډوکی سو ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ایا
نو موږ به بیا راپاڅولے سو خَلْقًا جَدِیْدًا ۝٩٨ په نوی پیدایښت سره اَوَلَمْ
یَرَوْا ایا دوے نه وینی اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ چه بیشکه هغه خدای چه په قدرت
کامله سره یې خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ پیدا کړی دے ده اسمانونه او ځمکه سره
د دومره غټوالے او لویي د دوی قَادِرٌ عَلٰۤی اَنْ یَّخْلُقَ هغه قادر دے
پر دے چه پیدا کړی مِثْلَهُمْ مثل د دوے یعني دوی به بیا په هغه شان
پیدا کړي تر مرګ وروسته وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا او مقرره کړی ده ده دوے
لره یوه موده لَا رَیْبَ فِیْهِ ؕ چه هیڅ شك په هغه کښی نشته فَاَبَی الظّٰلِمُوْنَ
نو غاړه نه کښیښوده ظالمانو سره د دلایلو "دلیلو" د واضح کیدلو اِلَّا كُفُوْرًا ۝٩٩
مګر په انکار کولو سره د بعث او د حشر څخه قُلْ ته ووایه دے کفارو ته ووایه لو

ترمرګه وروسته راپورته کول ۲

اَنۡتُمۡ تَمۡلِکُوۡنَ چه که تاسی مالکان او واکداران سی خَزَآئِنَ رَحۡمَۃِ رَبِّیۡۤ د خزانو
ځمه د روزی د رب زما یا د نورو نعمتو اِذًا لَّاَمۡسَکۡتُمۡ نو په دے وخت کښی
به هم خامخا تاسی بخل کوی خَشۡیَۃَ الۡاِنۡفَاقِ ؕ د ویرے ځمه د فقر وَکَانَ الۡاِنۡسَانُ ع ۷/۱۱
قَتُوۡرًا ﴿۱۰۰﴾ او بخیل انسان جمع کونکی دی وَ لَقَدۡ اٰتَیۡنَا مُوۡسٰی او خامخا په تحقیق
سره ورکړی دی موږ و موسیٰ ته تِسۡعَ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ نهه معجزی ښکاره چه هغه
عصا "لکړه" او ید بیضاء "سپین لاس" او جراد "ملخان" او قمل "سپږی" او ضفادع "چنګښی"
او دم "وینی" او حجر او بحر او پورته کول د کوه طور او بعضو پوځای د دی د روستنیو
درو طوفان او قحط او نقص د ثمراتو "کیدل د میوو" ویلی دی فَسۡـَٔلۡ نو ته و
پوښته اے رسوله بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ یعنی عالمان د دوی د دے نه آیا تو په باره کښی یاد
هغے واقعے ځمه چه د موسیٰ او د فرعون په مینځ کښی تیره سوی وه اِذۡ جَآءَهُمۡ په هغه
وخت کښی چه موسیٰ و دوے ته راغلے فَقَالَ لَهٗ فِرۡعَوۡنُ نو فرعون و دوی ته وویل
اِنِّیۡ لَاَظُنُّکَ بیشکه چه زه خامخا پرتا ګمان کوم یٰمُوۡسٰی مَسۡحُوۡرًا ﴿۱۰۱﴾ اے موسیٰ
جادو کړه سوی او بځایه کړه سوے د عقل قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ بیا موسیٰ په جواب کښی
ورته وویل چه خامخا په تحقیق سره ته پخپله زړه کښی پوهیږے که څه هم تلفظ
نه په کوی مَاۤ اَنۡزَلَ هٰۤؤُلَآءِ چه نه دے رالیږلے دا نهه معجزے اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ
مګر رب د اسمانو وَالۡاَرۡضِ بَصَآئِرَ ۚ او د ځمکی ښکاره واضح چه هر یو یے زما
پر صدق دلالت کوی وَ اِنِّیۡ لَاَظُنُّکَ بیشکه چه زه خامخا پرتا ګمان کوم یٰفِرۡعَوۡنُ
مَثۡبُوۡرًا ﴿۱۰۲﴾ اے فرعونه د هلاک سوی یا د مغلوب یا د کم عقل فَاَرَادَ اَنۡ
یَّسۡتَفِزَّهُمۡ نو اراده وکړه فرعون د دے چه ولاړ کړے او لیرے کړی موسیٰ او
قوم د ده مِّنَ الۡاَرۡضِ د ځمکی ځمه د مصر فَاَغۡرَقۡنٰهُ وَمَنۡ مَّعَهٗ نو موږ غرق
کړے دی او نور هغه څوک چه د ده سره وه جَمِیۡعًا ﴿۱۰۳﴾ قوله وَّقُلۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهٖ
او موږ وویل وروسته تر غرقیدو د ده لِبَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ اسۡکُنُوا الۡاَرۡضَ و

بنی اسرائیلو ته چه اوس اوسی په دے ځمکه کښې د مصر چه دوے تاسی ځنې
ایستلاست فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ نو په هغه وخت کښې چه راغلو وعده د
اٰخرت یعنی د قیامت جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا (۱۰۴) نو تاسے به راولو سره گډ وډ یعنے دواړه
ډلی سبطیان او قبطیان چه حق وحقدار ته ورسوو وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ او په حق
او په راستی سره را لیږلے دے موږ دا قرآن وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ط او په حق او په
راستی سره کښته سوی او نازل سوی دی یعنے ابتداء او انتهاء یې دواړه د شیطان
د تصرفه ځنی محفوظ دی وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ او نه یې را لیږلے موږ ته اِلَّا مُبَشِّرًا مگر
زیری کونکے پر فرمانبرداړو باندے د جنت وَّنَذِيْرًا (۱۰۵) او بیرو ونکے د گنهکارانو
د دوږخه ځنی وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ او دا قرآن تار په تار موږ را لیږلے دی یعنی آیت
آیت او سورت سورت لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ دوے د پاره چه ته یې پر خلگو وایې
عَلٰى مُكْثٍ په ځنډ او په مهلت سره چه حفظ او یاد ول یې پر دوی آسانه وی
وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا (۱۰۶) او موږ دا قرآن را لیږلے دی را لیږلو سره په حسب د حوادثو
یعنے هر وخت چه کومه حادثه او واقعه پیښه سویده نو په قدر د دفعه کولو د هغه
حادثے یوه ټوټه او حصه ځنی راغلې ده او په درویشتو کالو کښې تمام سویدے
قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ ته و دوے ته ووایه چه پر دے قرآن ایمان راوړی اَوْلَا تُؤْمِنُوْا ط
یا ایمان نه پر راوړے یعنے اختیار ری تاسی ته د رکړی دے نو چه نعمتونه اخلی
او که عذابونه اِنَّ الَّذِيْنَ بیشکه هغه کسان اُوْتُوا الْعِلْمَ چه علم ورکړه سوی دی
مِنْ قَبْلِهٖٓ ځنی ترنازل لیدلو دے قرآن لکه ابن سلام د خپلو ملگرو سره د یهود واو
نجاشی د خپلو ملگرو سره د نصارٰی و اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ په هغه وخت کښې چه ووئیل
سی او ووه لوستل سی پر دوے دا قرآن يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ نو نسکوره پریوزی دوی
پر خپلو زنگنو پر ځمکه باندے پر خپلو تندیا نو سره سُجَّدًا (۱۰۷) په دے حال کښې
چه سجده کونکے وی د تعظیم د پاره د امر د خدای یا د پاره د پر ځای کولو د

هغه وعدو... چه دوے په تورات او په انجیل کښی لیدلے وی دنبی علیه السلام درا تللو او د قران دنازلیدو وَيَقُولُونَ او دوی وایی سُبۡحٰنَ رَبِّنَآ پاکی ده زمونږ رب لره د مخالفت کولو څخه د خلی وعدے اِنۡ كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا بیشکه چه ده وعده درب زمونږ لَمَفۡعُولًا ﴿١٠٨﴾ خامخا واقع کید ونکے ده وَيَخِرُّونَ لِلۡاَذۡقَانِ او نسکور "پرمخ" پریوزے پرخپلو تندیا نو باندی او تکرار د خرّ عه دوو حالو د پاره دے چه یو سجده ده او بله بکاء "ژړا" ده لکه چه وایی يَبۡكُونَ چه دوی ژاړی د خدای دبیری څخه وَ يَزِيدُهُمۡ خُشُوعًا ﴿١٠٩﴾ السجدة او زیا توے وددوی ته اوریدل ددی قران تواضع او شکستگی "ماتیدل" د نفس روایت دے چه هر کله مشرکانو د رسول علیه السلام څخه واورید له چه یا الله یا رحمٰن نو دوے وویل چه دے خو یو خپله مونږ ددو خدایانو څخه منعه کوی او دے پخپله دوه بولے نو نازل سو قُلِ ادۡعُوا اللّٰهَ ته وددوے ته ووایه چه خدای د الله په نامه سره بولے اَوِ ادۡعُوا الرَّحۡمٰنَ ط یایې د رحمٰن په نامه سره بولی اَيًّا مَّا تَدۡعُوۡا په هر یو چه یې بولے یعنی که په الله سره وے او که په رحمٰن سره وې او که په نورو نومو سره وے خو چه دے بولی فَلَهُ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰىۚ نو ده لره ښه ښه نومونه دی

عه یعنی د یخرون لفظ
د وه واره راوړل ددوو
حالو د پاره دے

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ او په جهر سره (په نوره) مه وایه قرائت په لمانځه کښې چه
مشرکان به مسخرې درپورې کوي وَلَا تُخَافِتْ بِهَا او دا سې کرار یې او پټ یې
هم مه وایه دا قرائت چه مقتدیان دې هم نه اوري وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ او طلب وه
د جهر او د مخافت په مینځ سَبِيلًا ﴿۱۱۰﴾ میانه لاره وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ او دا
و وایه چه ثنا هغه خدای لره ده لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا چه ده اولاد نه دے نیولے
لکه یهود او نصارا چه وایې وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ او نشته ده لره شَرِيْكٌ فِى الْمُلْكِ
شریک په باچاهۍ کښې لکه مشرکان چه وایي وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ او نشته ده لره
وَلِىٌّ مِّنَ الذُّلِّ یو دوست د جهته د عاجزۍ چه مددګاري ورسره وکړې وَكَبِّرْهُ
ع ۱۲ ۱۱ ۱۲ او ده لویي وایه هر وخت کښې تَكْبِيْرًا ﴿۱۱۱﴾ په لویي ویلو سره:

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ○

خاتمه تصنیف و اختتام تفسیر تیسیر [illegible] از جانب مصنف رحمه الله

صد هزاران حمد گویم از خداوند نصیر
آن خداوندے که محض از فضل خود توفیق داد
من ز بیضاوی مدارک احمدی هم از ذخیر
ختم شد در ماه کم نه سال تصنیفش بخیر
سال صاعز ظهر شنبه پنجم ماه صیام
خامه حب ذات و رضوان مغفرت قلب سلیم

آنکه آسان میکند بر بندگانش هر عسیر
بهرم از تصنیف اول جلد تفسیر یسیر
داز جلالین و حسینی اخذ دی کردم چو شیر
خالقا این سعی را با لطف خویش از من پذیر
دارم از وهاب امید عطاهای کثیر
هم حیوة جاودان اخلاص و صدق مستنیر

۱۰-۹-۲۰۰۹

گرچه تو بس شرما رو روسیاه ای مداد
اور حیم است و کریم و دل نواز هر حقیر

مستر گھر لاہور
۱۰-۳-۲۰۰۹